مظاهر حق

د مشکوٰة المصابيح پښتو شرحه

تاليف

نواب محمد قطب الدين

ترتيب

مولانا عبدالله جاويد غازي پوري (فاضل دارالعلوم ديوبند)

اتم جلد ۸

۱. حديثونه د اعراب سره
۲. تحت لفظي ترجمه
۳. حديثونو تخريج
۴. دلغاتو حل

كتاب الادب
كتاب الرقاق
كتاب الفتن

رک بازار کندهار

مظاهر حق جدید

د مشکوه المصابیح پښتو شرحه

اتم جلد



تالیف

علامه نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمة الله علیه

تزئین اوترتیب

مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دارالعلوم دیوبند)

ځانګړتیاوي

۱: حدیثونه د اعراب سره.

۲: تحت لفظي ترجمه.

۳: د حدیثونو تخریج.

٤: د لغاتو حل .

مباحث

کتاب الاداب

کتاب الرقاق

کتاب الفتن

صداقت کتب خانه

بسم الله الرحمن الرحيم

(د مشکٰوة المصابيح پښتو شرحه)

مظاهر حق

تاليف: نواب محمدقطب الدين خان دهلوي رحمه الله

ترتيب او تزئين: مولاناعبدالله جاويد غازي پوري (فاضل ديوبند)

خپرندوی: صداقت خپرندويه ټولنه

پښتو ژباړه: محمد رسول سعيد

تصحيح کوونکي: بسم الله رحيمي، مولوي عبدالکريم کريمي، مولوي عبدالجبار

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ش - ۲۰۱٤ ع.

پنځم چاپ: ۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

د خپرونو لړ: ۱۸۳

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځايونه:

صداقت خپرندويه ټولنه-کندهار

اوله ناحيه، نوی سړک- کريم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه- ارګ بازار- قلم او کتاب مارکېټ ۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴ .

کابل: صداقت خپرندويه ټولنه،کوټه سنګي مينه يار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی**. **هلمند** :تاج منور خپرندويه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه ګدام. **جلال آباد:** مومند خپرندويه ټولنه.ننګرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتيکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د مظاهر حق اتم جلد فهرست

بَابُ الْمُفَاخَرَةِ وَالْعَصَبِيَّةِ

(د فخر او تعصب بيان)

د فخر يا فخارة معنی د فخر کولو ده يعني په خپل حسب، نسب، کورنۍ، قبيلې، قوم، ډلي، علم، اخلاقو يا شتمنۍ وغيره باندي ناز کول او فخر کول، د تفاخر معنی ده يو پر بل باندي فخر کول، د مفاخرت معنی ده په فخر کي د يو بل برابري کول، او د افتخار او تفخر معنی ده يو د بل په مقابله کي زيا تېدل.

مفاخرت يعني د فخر او ناز اظهار کول که چيري د حق په معامله کي وي او د يو ديني مصلحت له کبله وي او د اسلام پر دښمنانو باندي خپل برتري، شان او شوکت او د خپل قوت د اظهار په توګه وي نو جائز ده، همدارنګه مفاخرت د صحابه کرامو او سلفو څخه منقول دی او که د مفاخرت تعلق د ناحقه معاملې سره وي او د نفسانيت او غرور په توګه وي نو بد دی او په عامه اصطلاح کي د مفاخرت استعمال په دغه معنی کي زيات کيږي.

د عصبيت معنی ده د عصبي يا متعصب کېدل يعني د خپل مذهب يا قوت او سختۍ د اظهار لپاره جدل او خصومت کول، عصبه هغه سړي ته ويل کيږي چي د خپل غوره والي او يا د خپل قوم حمايت کوي يا د خپل قوم او ډلي د وقار لپاره په غصه سي، تعصب هم که چيري د حق په معامله کي وي او د ظلم او تعدي سره نه وي نو مستحسن (ښه) دی او که چيري د تعصب تعلق د حق خبري نه منلو، ظلم او تعدي اختيارولو او د خپل قوت بې ځايه اظهار کول وي نو بد دی، په عامه توګه د تعصب اطلاق پر خپل خبري، خيال او د خپل قوم په حق کي د ناروا سختۍ اختيارولو او پر نورو باندي ظلم او تېری کول دي لکه څرنګه چي په دغه باب کي د نقل کېدونکو حديثونو څخه به معلوم سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

غوره کس

﴿۴٦٧٦﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّ النَّاسِ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي څوک بزرګ

أَكْرَمُ قَالَ أَكْرَمُهُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَاهُمْ قَالُوا لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ قَالَ

او مكرم دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د الله ﷻ په نزد بزرگ او برتر كس هغه دئ چي د الله ﷻ څخه بيريږي، صحابه كرامو وويل: زموږ د سوال مطلب دا نه دئ بلكه موږ د حسب او نسب په اړه د انسان شرافت پوښتو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

فَأَكْرَمُ النَّاسِ يُوسُفُ نَبِيُّ اللَّهِ ابْنُ نَبِيِّ اللَّهِ ابْنِ نَبِيِّ اللَّهِ ابْنِ خَلِيلِ اللَّهِ قَالُوا

په انسانانو كي بزرگ او شريف حضرت يوسف عليه السلام دئ چي د الله ﷻ د نبي (يعقوب عليه السلام) زوى د الله ﷻ د نبي د اسحاق عليه السلام لمسى او د الله ﷻ د نبي د حضرت ابراهيم عليه السلام كړوسى دئ، صحابه كرامو وويل:

لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ قَالَ فَعَنْ مَعَادِنِ الْعَرَبِ تَسْأَلُونِي قَالُوا نَعَمْ قَالَ فَخِيَارُكُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُكُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقُهُوا. متفق عليه.

زموږ د سوال مقصد دا هم نه وو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ايا تاسو د عربو د خاندان او قبيلو په اړه زما څخه پوښتنه كوئ؟ صحابه كرامو وويل: هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: څوك چي د جاهليت په زمانه كي غوره وو هغه په اسلام كي هم غوره دئ په شرط د دې چي هغه فقيه يعني عقلمند او پوه وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۳۶۲، رقم: ۴۶۸۹، ومسلم ۴\۱۸۴۶، رقم: ۱۶۸- ۲۳۷۸.

تشريح: د رسول الله ﷺ د آخري جواب مطلب دا وو چي د جاهليت په زمانه كي د كومو خلكو په ذات او شخصيت كي داسي امتيازي صفات او ځانگړتياوي وې چي د هغه په وجه هغوئ د نورو خلكو په نسبت زيات غوره او ځرگند وه او د هغه صفاتو او ځانگړتياوو په وجه هغوئ تر ټولو غوره گڼل كېدل، هغه خلك د خپلو خپلو ځانگړتياوو په وجه د اسلام په زمانه كي هم معزز او مكرم گرځول كيږي په شرط د دې چي هغوئ د ايمان او اسلام په قبلولو سره د دين علم او د شريعت احكام او مسائل تر لاسه كړي وي، فرق دا دى چي د جاهليت په زمانه كي پر هغوئ د كفر سايه، د معصيت تاريكي او د جهل گرد خپور سوى وو او د خواهش نفس په دام كي راگير سوي وه او په دې اعتبار سره د هغوئ د ذاتي شرافت او صفاتو څه حيثيت نه وو مگر اوس د ايمان او اسلام پاكۍ او د عبادت او علم دين نور د هغوئ ذات او شخصيت پاك كړى

دی د هغوئ ژوند یې ځلانده کړی دی او هغوئ یې د حق پیروان ګرځولي دي ، ددې ځخه معلومه سوه چې د معادن ځخه مراد د خلکو خپل ذوات او شخصیات دي چې ښه صفات او غوره ځانګړتیاوو سره متصف وي لکه ځرنګه چې په کتاب العلم کي دا روایت نقل سوی دی چې : الناس معادن كمعادن الذهب والفضة..الخ، یعني د خلکو هم کانونه وي لکه ځرنګه چې د سرو او سپینو زرو کانونه وي، نو کومه کورنۍ او افراد چې د خپل ځانګړتیاوو په اعتبار د جاهلیت په زمانه کي تر ټولو غوره شمېرل کېدل نو د اسلام په زمانه کي هم هغوئ تر ټولو غوره دي په شرط ددې چې هغوئ د دین علم تر لاسه کړي .

د یوسف علیه السلام مقام

﴿۴۶۷۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَرِيمُ ابْنُ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ځخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کریم ابن کریم ابن کریم یوسف بن یعقوب علیه السلام بن اسحاق علیه السلام بن ابراهیم علیه السلام دئ ، بخاري.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴۱۹\٦، رقم: ۳۳۹۰.

تشریح: مطلب دادی چې د کورنۍ شرافت او عظمت او نسبي غوره والي کومي ځانګړتیاوي چې حضرت یوسف علیه السلام ته تر لاسه وي هغه بل چا ته تر لاسه نه دي، تر ټولو لوی شرف د دوئ ځخه پرته بل چا ته تر لاسه نسو چې نو موړی خپله نبي وو، پلار یې هم نبي وو او د هغه نیکه هم نبي وو، د هغه ور نېکه نبي وو، ددغه ځانګړتیا ځخه پرته د هغه حسن و جمال، عدل او انصاف، علم او پوهه او حکومت چې کوم صفتونه وه د هغو په اعتبار د هغه ذاتي مکرمت ته تر ټولو غوره مقام تر لاسه دی.

د رسول ﷺ مېړانه

﴿۴۶۷۸﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ فِي يَوْمِ حُنَيْنٍ كَانَ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ

د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه ځخه روایت دئ چې د حنین په ورځ ابو سفیان د رسول الله ﷺ د

الْحَارِثِ آخِذًا بِعِنَانِ بَغْلَتِهِ يعني بغلة رسول الله صلى الله عليه وسلم فَلَمَّا

2

غاتري واگي ونيولې او كله چي مشركان د ځلورو خواوو څخه پر رسول الله ﷺ چاپېره سول نو

غَشِيَهُ الْمُشْرِكُونَ نَزَلَ فَجَعَلَ يَقُولُ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ قَالَ فَمَا رُئِيَ مِنَ النَّاسِ يَوْمَئِذٍ أَشَدُّ مِنْهُ. متفق عليه.

رسول الله ﷺ د غاتري څخه را كښته سو او دا يې ويل زه نبي يم په دې كي دروا غ نه سته او زه د عبدالمطلب زوی (يعني اولاد) يم، د راوي بيان دئ په دغه ورځ د رسول الله ﷺ څخه زيات زړه ور هيڅوک نه دی ليدل سوی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٦٤، رقم: ٣٠٤٢، ومسلم ٣\١٤٠٠، رقم: ٧٨- ١٧٧٦.

تشريح: دغه حديث د رسول الله ﷺ پر بې مثاله مېړاني دلالت كوي چي په يو داسي جگړه كي چي هلته د هوازن او غطفان د قبيلو سره د عربو نورو ډېرو جگړه مارو قبيلو هم ملگرتيا كړې وه هغوئ خپل بې پايه حربي قوت او انفرادي طاقت په ذريعه پر اسلامي لښكر باندي په دومره سختۍ حمله وكړه چي د ماتي صورت ظاهرېدونكی وو، نبي كريم ﷺ پر غاتري باندي په سپرېدو سره د مجاهدينو سره اوږه پر اوږه وجنگېدی او خپلي غاتري ته يې په پونده وركولو سره د كفارو پر لښكر حمله كول او بيا كله چي د دين دښمنانو رسول الله ﷺ د هري خوا څخه راگير كړ او غاتري ته د وړاندي تللو لار تر لاسه نه سوه نو رسول الله ﷺ راكښته سو او پر پښو يې د دښمن پر لښكر په مېړانه حمله وكړه او الله تعالى كفارو ته ماته وركړه او د رسول الله ﷺ يې فتح په برخه كړه.

كه څه هم رسول الله ﷺ په حسب، نسب او كورنۍ شان باندي د فخر كولو او نازېدو څخه منع فرمايلې ده مگر د رسول الله ﷺ د رجز په توگه فرمايل چي زه د عبدالمطلب فرمانبردار زوی يم، دا داسي اظهار د فخر نه دی چي منع دی ځكه هغه فخر منع دی چي د جاهليت د زمانې مطابق د بې ځايه اظهار دنامه، تعصب او غرور په توگه وي، حال دا چي د رسول الله ﷺ ذكر سوی فخر د دين د طاقت او شان زياتولو او د كفارو په مقابله كي خپل رعب او دبدبې ظاهرولو لپاره وو، او داسي فخر جائز دی، ددې څخه پرته يوه خبره دا هم وه چي د جاهليت په زمانه كي ځينو عربو لكه كاهنانو او اهل كتابو به د رسول الله ﷺ د نبوت ظاهرېدو څخه مخكي د بعثت خبر وركوی او د نبي اخر زمان كومي نښې او علامې چي به يې ښودلې په هغو كي به يوه نښه دا هم وه چي هغه پيغمبر به د عبدالمطلب د اولاد څخه وي.

غوره انسان

﴿۴۶۷۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ اې په مخلوقاتو کي غوره ! رسول الله ﷺ ورته وفرمايل په مخلوقاتو کي غوره انسان حضرت ابراهيم علیه السلام وو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۸۳۹\۴، رقم: ۱۵۰- ۲۳۶۹.

تشريح: دلته يو سوال پيدا کيږي چي کله د صحيح حديثو څخه دا ثابته ده چي رسول الله ﷺ د ټولو نبيانو سردار او تر ټول مخلوق غوره دی نو خير البرية يعني په ټول مخلوق کي غوره مصداق حضرت ابراهيم عليه السلام څرنګه سو؟ ددې درې جوابه دي: يو دا چي د حقيقت په اعتبار په ټول مخلوق کي تر ټولو غوره د رسول الله ﷺ ذات دی، د تواضع او انکساری له مخي او د ابراهيم علیه السلام ددغه حيثيت په لحاظ کولو سره چي هغه خليل الله او د رسول الله ﷺ جد اعلی (مشر نيکه) دی هغه يې د خير البرية مصداق وګرځوی، لکه څرنګه چي په عامه توګه ليدل کيږي چي يو شريف النفس او خليق انسان خپله تر ټولو زيات مستحق کېدو سربېره ډېر وخت بل چا ته پر ځان ترجيح ورکوي او د هغه تعظيم کوي، دوهم دا چي په ذکر سوي روايت کي د نبي کريم ﷺ ، حضرت ابراهيم علیه السلام د خيرالبرية مصداق ګرځول د هغه زمانې واقعه ده کله چي تر هغه وخته پوري دا وحي نازل سوي نه وي چي رسول الله ﷺ د آدم علیه السلام په اولاده کي تر ټولو غوره دی، دريم دا چي د ذکر سوي ارشاد مطلب دا وو چي حضرت ابراهيم علیه السلام په خپل زمانه کي تر ټول مخلوق غوره وو، او رسول الله ﷺ دا خبره په زيات ارزښت سره د بيانولو له کبله دغه الفاظ وفرمايل.

د رسول ﷺ عاجزي

﴿۴۶۸۰﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ فَقُولُوا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ. متفق عليه

د حضرت عمر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو زما په تعريف کي زياتي

مه کوئ لکه چي د پر تعريف د عيسى علیہ السلام نصارا وو کوی ، زه خو د الله ﷻ بنده يم تاسو ما ته د الله ﷻ بنده او د هغه رسول وایاست . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٧٨، رقم: ٣٤٤٥، ومسلم٣\١٣١٧، رقم: ٥- ١٦٩١.

تشريح: عبوديت او بندګي چي تر ټولو لوړه درجه ده دا د رسول الله ﷺ خاص صفت دی چي حقيقي بنده د رسول الله ﷺ ذات دی او په عبوديت کي رسول الله ﷺ تر ټولو کامل دی نو د رسول الله ﷺ د مدح او تعريف حال او د لوړتيا بيان د همدغه صفت په څرګندولو کي دی نه دا چي د رسول الله ﷺ د ذات منقبت او د تعريف په داسي الفاظو بيان او د هغه صفاتو په ذريعه وکړل سي چي د هغه څخه د رسول الله ﷺ مقام عبوديت تر شا پاته سي او هغه حد راسي چي د هغه څخه د معبود صفات پېل کيږي .

فخر مه کوئ

﴿۴۶۸۱﴾: وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ أَوْحَى إِلَيَّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتَّى لَا يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ وَلَا يَبْغِيْ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ. رواه مسلم.

د حضرت عياض بن حمار مجاشعي رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى زه د وحي په ذريعه خبردار کړم چي عاجزي اختيار کړه دو مره چي هيڅوک پر چا فخر ونه کړي او نه څوک پر چا ظلم او زياتي وکړي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۹۷، رقم: ۶۴- ۲۸۶۵.

تشريح: دغه حديث پر دې خبره دلالت کوي چي داسي فخر چي د غرور او تکبر په توګه وي حرام دی .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جاهليت فخر

﴿۴۶۸۲﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ

د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خلک دي په خپلو پلرونو

يَفْتَخِرُونَ بِآبَائِهِمُ الَّذِينَ مَاتُوا إِنَّمَا هُمْ فَحْمُ جَهَنَّمَ أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى

او نيکونو فخر کول پرېږدي او پر هغه پلرونو او نيکونو باندي چي مړه سوه او د دوږخ سکاره سول کنه نو د الله ﷻ په نزد به د نجاست د هغه څخه زيات ذليل سي

اللهِ مِنَ الْجُعَلِ الَّذِي يُدَهْدِهُ الْخِرَاءَ بِأَنْفِهِ إِنَّ اللهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ

چي نجاست د خپلي پزي سره راباسي ، الله تعالى ستاسو څخه د کبر او پر پلرونو او نيکونو

الْجَاهِلِيَّةِ وَفَخْرَهَا بِالْآبَاءِ إِنَّمَا هُوَ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ النَّاسُ كُلُّهُمْ بَنُو

آدَمَ وَآدَمُ خُلِقَ مِنْ تُرَابٍ. رواه الترمذي وابوداؤد.

باندي د فخر کولو علت بيولی دی اوس يا خو متقي يعني پرهيزګار مؤمن دئ يا فاجر، بدبخت او بدکاره کيدل د ذلت سبب دئ ټول انسانان د آدم عليه السلام اولاد دي او آدم عليه السلام د خاورو څخه پيدا کړل سوی دئ . ترمذي او ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۳۹، رقم: ۱۱۶، والترمذي ۵\۶۹۰، رقم: ۳۹۵۵.

تشريح: هغوئ د دوږخ سکاره سي: مطلب دادی که چيري پلار او نېکه مشرک او کافر وي نو هغوئ به يقينا دوږخ ته ځي او که هغوئ کافر او مشرک نه وي نو د هغوئ په اړه هم دا کيدای سي چي په يو وجه د هغوئ خاتمه پر خېر نه وي سوی او هغوئ د دغه دنيا څخه د ايمان څخه پرته رخصت سوي وي او هغوئ په دوږخ کي اچول سوي وي نو په دغه صورت کي هم څرګند ده چي کوم خلک د دوږخ په اور کي په سوځېدو سره د سکارو په ډول سوځلي او تور سوي دي د هغوئ په اړه غرور کول او په هغوئ فخر کول د ناپوهۍ خبره ده .

خلاصه دا چي کوم خلک د جاهليت په زمانه کي په مړه سوو پلار او نېکه تکبر کوي او د خپل کورنۍ په دنياوي لويي باندي فخر او غرور کوي نو هغوئ ته رسول الله ﷺ د مردارۍ د چينجي سره تشبيه ورکړې ده ، په خپل پلار او نېکه باندي د هغوئ فخر کول يې داسي کار ګرځولی دی لکه د مردارۍ چينجی چي د خپل بدن څخه مرداري خارجوي ، ددې څخه معلومه سوه چي محض د خپل لويي څرګندولو او پر خلکو باندي د خپل ناروا ارزښت لپاره په خپل پلار او نېکه باندي غرور کول او د فخر اظهار کول ډېر سخت د نفرت وړ کار دی ، يو چا ښو مره ښه ويلي دي:

دوش دیدم که ابلهي مي گفت پدر من وزیر خان بودست
باوجودیکه نیست معلومم خود گرفتم که آنچنان بودست
هیچ کس دیده که گهه خوردست کین بعهد قدیم نان بودست

تعریف

﴿۴۶۸۳﴾: وَعَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ الشِّخِّيْرِ قَالَ انْطَلَقْتُ فِيْ وَفْدِ بَنِيْ

د حضرت مطرف بن عبد الله بن شخیر ﷺ څخه روایت دئ چي د بني عامر په وفد کي زه رسول

عَامِرٍ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا أَنْتَ سَيِّدُنَا فَقَالَ السَّيِّدُ

الله ﷺ ته ورغلم، زموږ وفد رسول الله ﷺ ته وویل: تاسو زموږ بادار یاست، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: بادار

اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قُلْنَا وَأَفْضَلُنَا فَضْلًا وَأَعْظَمُنَا طَوْلًا فَقَالَ قُوْلُوْا قَوْلَكُمْ أَوْ بَعْضِ قَوْلِكُمْ وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ . رواه ابوداؤد

الله تعالی دئ، موږ وویل: تاسو په موږ تولو غوره یاست، د غوره والي او بخښښ په اعتبار زموږ بزرګ یاست، رسول الله ﷺ وفرمایل دا خبره کوئ او ددې څخه کمه خو شیطان دي تاسو خپل وکیل جوړ نه کړي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۱۵۴، رقم: ۴۸۰۶.

تشریح: د جَرِيّ معنی د وکیل ده چي د خپل موکل قائم مقام وي، نو د (لا یستجرینکم الشیطان) مطلب دادی چي تاسو زما تعریف په داسي الفاظو مه کوئ چي د هغه څخه دا معلومه سي چي شیطان تاسو خپل وکیل ګرځولی یاست او تاسو د هغه د وکالت په توګه بې فکره څه چي غواړئ هغه وایاست، نو هغه خلک په سخته ګمراهۍ کي اخته دي چي د رسول الله ﷺ په تعریف کي د حد څخه تجاوز کوي او نبي ﷺ دومره لوړوي ګواکي بنده ته د خدای ﷻ درجه ورکوي لکه د مروج مولود په قصائدو نقلیه وو کي داسي الفاظ بیان او مختاره کیږي چي په هغه سره د پروردګار په شان کي ډېره بې ادبي کیږي.

په ځینو روایتو کي په (یستجرینکم) کي د یاء پر ځای همزه ده، په دغه صورت کي د جري

پر ځای جرات وي او معنی به یې دا وي چې شیطان دي تاسو زما په تعریف کې داسي بې باکه نه کړي چې غلط او د حقیقت څخه خلاف څه ویل چې غواړئ هغه بې فکر وایاست.

سردار خو الله ﷻ دی: مطلب دادی چې هغه ذات چې د مخلوق د ټولو چارو حقیقي مالک دی او هغه ذات چې پر هر یوه باندي د حکمرانۍ وړ دی او د هغه په قدرت کي ټول نظم او تصرف دی یوازي د الله تعالی ذات دی نه بل څوک.

علماؤ لیکلي دي چې د رسول الله ﷺ د هغه دلي له خوا خپل ځان ته د سردار ویلو منع کول په دې وجه نه وه چې هغه خلکو د رسول الله ﷺ سرداري او سیادت ثابت کړی وو ځکه چې رسول الله ﷺ بېله شکه د ټولو انسانانو سردار دی بلکه د رسول الله ﷺ د منع وجه دا وه چې هغه خلکو رسول الله ﷺ د سید او سردار په لفظ په داسي انداز مخاطب کړی وو لکه څرنګه چې د یو قوم او قبیلې سردار او مشر مخاطب کیږي، حال دا چې هغه خلکو ته پکار وه چې هغوئ رسول الله ﷺ د نبي یا رسول د الفاظو په ذریعه مخاطب کړی وای چې د بشریت تر ټولو لوړه مرتبه ده.

کرم د تقوا نوم دئ

﴿۴۶۸۴﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَسَبُ الْمَالُ وَالْكَرَمُ التَّقْوٰى. رواه الترمذي وابن ماجة.

حضرت حسن رضی الله عنه د حضرت سمرة رضی الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: حسب (فضیلت او عظمت) د مال او کرم د تقوا نوم دئ. ترمذي او ابن ماجه.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۳۶۳، رقم: ۳۲۷۱، وابن ماجه ۲\۱۴۱۰، رقم: ۴۲۱۹.

تشریح: حسب: هغه فضائلو او عاداتو ته وایي چې په یو انسان کي وي نو صاحب حسب انسان د خپل ځان او خپل پلار او نېکه خصائل او فضائل شمیري او د هغه په ذریعه خپل حیثیت زیاتوي، کرم د خیر صفات چې دي د هغو اطلاق پر ټولو ښېګڼو او شرف باندي کیږي، د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی چې د خلکو په نزد اصل حسب او نسب شتمني ده چې کوم څوک شتمن او خان وي نو هغه حسب والا او د فضیلت خاوند ګڼل کیږي او د هغه عزت کیږي که د چا سره مال او شتمني نه وي نو د ټولو په نظر کي کم وي حال دا چې د الله تعالی په نزد اصل فضیلت په تقوا او پرهیزګارۍ کي دی ځکه چې بېله تقوا هیڅ فضیلت هم اعتبار نه لري، د الله

ﷺ په نظر کي کريم يعني بزرګ او شريف هغه څوک دی چي پرهيزګار وي لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي دي : (ان اکرمکم عند الله اتقاکم)، بېله شکه په تاسو کي زيات تقوا داره د الله تعالی په نزد هغه څوک دی چي په تاسو کي زيات پرهيزګاره وي.

د جاهليت نسب

﴿۴۶۸۵﴾: وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ تَعَزّٰى بِعَزَاءِ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَعِضُّوْهُ بِهَنِ أَبِيْهِ وَلاَ تَكْنُوْا . رواه في شرح السنة.

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل کوم سړی چي د جاهليت په نسب باندي فخر کوي هغه ته ووايast چي د خپل پلار په شرمګاه غاښ ولګوه او په کنايه کي ورته مه وايast. شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۱۲۰، رقم: ۳۵۴۱.

تشريح: هَنٌ يا هَنّ هر هغه قبيح او بد شي ته وايي چي په څرګنده يې نوم نه اخيستل کيږي، ددغه لفظ اطلاق پر شرمګاه باندي هم کيږي، يعني که چيري د شرمګاه نوم اخيستل وي نو ددغه مقصد لپاره د هن لفظ استعماليږي نو رسول الله ﷺ وفرمايل که يو سړی په خپل پلار او نيکه باندي فخر کوي چي د جاهليت په زمانه کي تېر سوي وي نو هغه ته په څرګنده د پلار بښکنځل وکړه او د هغه د پلار د شرمګاه په ذکر کولو سره د اشارې او کنايې څخه کار مه اخله بلکه د هغه صريح نوم واخله يعني د هغه سره د ادبي خبرو کولو اړتيا نسته په څرګنده ورته ووايه چي اوس ولاړ سه د خپل پلار شرمګاه وګوره او ددغه ارشاد مطلب د پلار، نيکه او کورني شتمنۍ او عزت باندي فخر کونکو څخه د سخت نفرت اظهار او هغوئ ته سخت خبرداری ورکول مقصد دی چي يو سړی په خپل پلار او نيکه باندي په فخر او مباهات اخته نه سي.

ځيني حضرات د : من تعزی بعزا الجاهلية...الخ: مطلب دا بيان کړی دی چي کوم څوک د جاهليت د زمانې رسمونه او عادتونه اختياروي لکه نوحه (ماتم او وېر) وېښتان شکول، جامې څېرل او داسي نورو په ذريعه ماتم کوي نو هغه ته په څرګنده د پلار بښکنځل وکړه، يا کوم څوک چي د جاهليت د زمانې په ډول خلکو ته بد او رد وايي نو هغوئ ته پېغور ورکوئ او هغوئ ته بښکنځل کوئ نو د هغه په وړاندي د هغه د پلار خرابي په کنايه او اشاره نه بلکه په څرګنده بيان

كړئ يعني داسي ورته وواياست چي ستا پلار به د بتانو عبادت كوى ، د فسق او فجور ژوند يې اختيار كړى وو ، په زنا، شرابو او نورو بديو كي اخته وو كه د هغه په مخكي داسي خبره وكړل سي نو بيا به هغه هيڅا ته بد نه وايي او د چا بې عزتي به هيڅكله نه كوي .

﴿۴۶۸۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عُقْبَةَ عَنْ أَبِي عُقْبَةَ وَكَانَ مَوْلًى مِنْ

حضرت عبدالرحمن بن ابي عقبه د ابي عقبه څخه روايت كوي چي آزاد سوى غلام وو او دى

أَهْلِ فَارِسَ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُحُدًا فَضَرَبْتُ

مولى د اهل د فارس وو روايت دئ چي زه د احد په غزا كي د رسول الله ﷺ سره شريک وم او په

رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَقُلْتُ خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْفَارِسِيُّ فَالْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ هَلَّا قُلْتَ خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْأَنْصَارِيُّ . رواه ابوداؤد.

مشركانو كي مي يو سړى په توره يا نيزه ووهئ او هغه ته مي وويل واخله يو وار زما څخه هم واخله (يعني زما دلاسه هم يو وار وخوره) او زه يو فارسي غلام يم ، رسول الله ﷺ زما په لور وكتل او وه يې فرمايل : تا داسي ولي نه وويل چي يو وار زما د لوري هم وخوره او زه يو انصاري غلام يم . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۴۲، رقم: ۵۱۲۳.

تشريح: د رسول الله ﷺ د خبرداري مطلب دا وو كه چيري تا خپل نسبت فارسي ته په كولو سره چي هغوئ مجوسيان دي ، ددې پر ځاى انصاري ته كړى واى چي ډېر زړه ور او د الله ﷻ د دين مرسته كونكي دي نو زيات به ښه واى ، او له دې كبله هم موزون وو چي مولى القوم منهم، (يعني د يو قوم د غلام شمېر د هغه قوم څخه كيږي)، ددې په موجب ستا تعلق هم د دوئ سره دى.

د مولى دوه ډولونه دي، يو مولى عتاقه، هغه غلام ته وايي چي هغه مالک ازاد كړى وي او دوهم دا چي هغه خلک چي د هغوئ وطني تعلق د غير عرب سيمو او هيوادو سره وي او اسلام يې قبول كړى وي او په هجرت كولو سره مدينې منورې ته راتلل، نو هغوئ به خپل ځان د مهاجرينو او انصارو په اختيار كي وركوى او د هغوئ د ښه او بد مالک او متصرف به هغوئ وه، داسي خلكو ته مولى موالات ويل كيږي، حضرت ابو عقبه ﷛ چي د هغه اصل نوم راشد وو ، همدارنګه مولى (غلام) وو چي هغه اصلا د فارس اوسيدونكى وو او كله چي هغه اسلام

قبول کړ او د خپل هیواد فارس څخه په هجرت کولو سره مدینې منورې ته راغلی نو د یو انصاري په روزنه کي وو ، د حدیث راوي عبدالرحمن رضي الله عنه د نومورې (ابو عقبه رضي الله عنه) زوی دی او د هغه شمېر د ثقه تابعینو څخه دی .

د قوم بې ځایه حمایت کول

﴿۴۶۸۷﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الْحَقِّ فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي ردى فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوک چي په ناحقه د خپل قوم مرسته کوي هغه د هغه اوښ په ډول دئ چي په څاه کي ولوېږي بیا د هغه لکۍ ونیسي او راکاږي يې . ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۳۴۱\۵، رقم: ۵۱۱۸.

تشریح: مطلب دادی چي څرنګه یو اوښ په څاه کي په لوېدو سره هلاکیږي همدارنګه هغه سړی په څاه کي په لوېدو سره په روحاني توګه تباه کیږي او د هغه د را ایستلو هیڅ لار نه وي کوم چي په ناحقه معامله کي یا په یو داسي معامله کي چي د هغه حق کېدل مشتبه وي د خپل قوم او جماعت حمایت او مرستي په ذریعه خپل ځان د لوړولو هڅه کوي .

ځیني حضرات وایي چي رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذریعه قوم او ډلي د هلاکېدونکي اوښ مشابه ګرځولی دی ځکه چي کومه ډله د حق په پرېښودو سره باطل اختیار کړي نو هغه ګویا هلاکیدونکي شمېرل کیږي او کوم څوک چي د هغه قوم او ډلي حمایت کوي نو هغه ته يې د هغه اوښ د لکۍ سره تشبیه ورکړې ده لکه څرنګه چي یو اوښ په څاه کي ولوېږي هغه د لکۍ په نیولو سره راکښل هغه د هلاکېدو څخه نسي ساتلای ، همدارنګه کوم قوم او ډله چي د باطل کېدو په وجه د هلاکت کندي ته لوېدلې وي نو د هغه هغه حمایتي او مرسته کونکي د هلاکت د کندې څخه خلاصون نسي ورکولای .

عصبیت څه شي دئ

﴿۴۶۸۸﴾: وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا الْعَصَبِيَّةُ قَالَ أَنْ تُعِينَ قَوْمَكَ عَلَى الظُّلْمِ. رواه ابوداؤد.

د واثله بن اسقع ﷛ څخه روايت دئ چي ما وويل : اې د الله رسوله ! عصبيت څه شی دئ ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : عصبيت دادئ چي ته په ظلم د خپل قوم حمايت وكړې . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۴۱، رقم: ۵۱۱۹.

تشريح: ددې څخه معلومه سوه كه چيري د حق په معامله يعني د حق په يوه فيصله كي د خپل قوم او دلي حمايت او رعايت وكړل سي نو دا ښه كار دی لكه څرنګه چي په راتلونكي حديث كي فرمايل سوي دي.

د قوم حمايت كول پر يږدئ

﴿۴۶۸۹﴾: وَعَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ خَيْرُكُمُ الْمُدَافِعُ عَنْ عَشِيرَتِهِ مَا لَمْ يَأْثَمْ . رواه ابوداؤد.

د حضرت سراقه بن مالک بن جعشم ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ په مخكي خطبه وويل چي په تاسو كي غوره سړی هغه دئ چي د خپل قوم د لوري څخه (د ظلم) مدافعت وكړي تر څو پوري چي په دغه مدافعت كي د ګناه مرتكب نه وي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۴۱، رقم: ۵۱۲۰.

تشريح: كه چيري دا سوال پيدا سي چي كوم څوک د ظلم او زياتي دفع كوي نو هغه خپله د ظلم مرتكب څرنګه كيږي؟ ددې جواب دادی چي د مثال په توګه يو سړی چي هغه د ظلم څخه زباني هدايت او خبرداری او د افهام و تفهيم په ذريعه منع كيدای سي مګر يو سړی د هغه ظلم د دفع لپاره خپله ژبه ذريعه ګرځولو پر ځای خپل لاسونه ذريعه وګرځوي چي ظلم كونكی ووهي او څرګنده ده چي دا رواه نه دي يا هغه ظلم د دفع كولو لپاره لږ وهل كافي وي ، كه يو سړی ډېر زيات وهل وكړي يا يې ووژني نو د هغه دغه كار ته بالكل ناواجب ويل كيږي، خلاصه دا چي د يو ظالمانه كار د منع كولو لپاره داسي اقدام كول چي د ضرورت څخه زيات او د واجبي حد څخه متجاوز وي نو د ظلم هغه مدافعت خپله ظلم ګرځي .

د عصبيت بدوالی

﴿۴۶۹۰﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ وَلَيْسَ مِنَّا

مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جبیر بن مطعم رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه څوک زموږ څخه نه دئ چي خلکو ته د عصبیت دعوت ورکوي او هغه څوک زموږ څخه نه دئ چي د عصبیت پر بنیاد جګړه کوي او هغه څوک زموږ څخه نه دئ چي د عصبیت په حالت کي مړ سي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۳۴۳، رقم: ۵۱۲۱.

تشریح: مطلب دادی چي په عصبیت کي اخته کېدل یعني د هغه سړي او قوم ملګرتیا کوي چي پر باطل وي په هر حال کي بد او منع کاردی، په شرط د دې چي د هغه عصبیت تعلق د دین سره نه وي بلکه محض د ظلم او تعدی په توګه وي.

مینه سړی ړوند او کوڼ کوي

﴿۴۶۹۱﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِي وَيُصِمُّ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د یو شي سره ستا مینه کول تا ړوند او کوڼ جوړوي. ابوداؤد

تخریج: سنن ابي داود ۵\۳۴۶، رقم: ۵۱۳۰.

تشریح: د دغه ارشاد په ذریعه دا حقیقت څرګند سوی دی چي د میني لیوتتوب انسان ړوند او کوڼ کوي چي هغه د میني د غلبې په وجه د خپل محبوب شي د عیب نه د لېدو صلاحیت لري او نه د اورېدو، که چیري په محبوب کي یو خرابي ویني نو هغه هم بنه ګڼي او که د هغه څخه یو خرابه خبره واوري نو هغه هم بنه ګڼي، یا دا مراد دی چي مینه انسان د محبوب څخه پرته د شي څخه ړوند او کوڼ کوي چي هغه د جمال د یار څخه پرته بل هیڅ شي ته نه ګوري او نه د محبوب څخه پرته بله خبره اورېدل خوښوي.

په دغه باب کي دغه حدیث نقل کول پر دې دلالت کوي چي دغه ارشاد د هغه چا په اړه فرمایل سوی دی چي د چا په مینه کي مغلوب وي، په باطل او ناروا کارو کي د هغه حمایت او مرسته کوي چي هغه حق نه ویني او نه یې اوري بلکه محض د میني په وجه د ناحق او باطل ملګری او مرسته کونکی جوړېږي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

عصبيت څه شي دئ

﴿۴۶۹۲﴾: عَنْ عُبَادَةَ بْنُ كَثِيرِ الشَّامِيِّ مِنْ أَهْلِ فِلَسْطِينَ عَنِ امْرَأَةٍ مِنْهُمْ

حضرت عبادة بن كثير شامي د خپل قوم د يوې ښځې څخه چې د هغې نوم فسيله وو نقل كوي

يُقَالُ لَهَا فُسَيْلَةُ انها قَالَتْ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

چې د فسيله بيان دئ ما د خپل پلار څخه دا اوريدلي دي چې ما رسول الله ﷺ ته وويل: اې د الله

وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَمِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يُحِبَّ الرَّجُلُ قَوْمَهُ قَالَ لَا

رسوله! د يو سړي خپل قوم عزيز او محبوب ګڼل په عصبيت كي داخل دي؟ رسول الله ﷺ

وَلَكِنْ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ ينصر الرَّجُلُ قَوْمَهُ عَلَى الظُّلْمِ. رواه احمد وابن ماجة

وفرمايل: نه، مګر دا خبره په عصبيت كي داخله ده چې يو سړى په ظلم كي د خپل قوم حمايت او مرسته وكړي. احمد او ابن ماجه.

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۱۰۷، وابن ماجه ۲\۱۳۰۲، رقم: ۳۹۴۹.

تشريح: په دغه ارشاد كي د عصبيت پر مفهوم باندي په ډېر ساده انداز كي رڼا اچول سوې ده او دا خبره څرګنده سوې ده چې د خپل ډلي او قوم جائز ملګرتيا كول او د هغه فطري او قانوني حقوقو تر لاسه كولو او ساتني لپاره داسي هڅه كول چې د نورو حقوقو او مفاداتو باندي تاوان ونه لوېږي نو دا د عصبيت په معنى كي داخل نه دى، هو كه چيري د خپل قوم او ډلي داسي مرسته وكړل سي چې پر نورو باندي د ظلم جذبات ظاهرېږي يا د خپل ډلي او قوم په هڅه كي ظلم او زياتى وي او د هغه هڅه يو قانوني جواز نه وي نو هغه ته عصبيت ويل كيږي او د شريعت په نظر كي به د هغه ملګرتيا او معاونت هيڅ حقيقت نه لري.

په خپل نسب مه نازېږه

﴿۴۶۹۳﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

د حضرت عقبه بن عامر جهني رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

أَنْسَابُكُمْ هٰذِهٖ لَيْسَتْ بِمَسَبَّةٍ عَلٰى أَحَدٍ كُلُّكُمْ بَنُو آدَمَ طَفُّ الصَّاعِ لَمْ تَمْلَئُوهُ

ستاسو نسب يو داسي شی نه دئ چي تاسو د هغه په سبب چا ته بد ووايا ست (يعني خپل ځان شريف وګڼئ او نور خلک ذليل وګڼئ) تاسو ټول د آدم عليه السلام اولاد ياست ، په شان د برابرۍ د کاسې له بلي کاسې سره چي تاسي يې ډکه نه کړئ

لَيْسَ لِأَحَدٍ عَلٰى أَحَدٍ فَضْلٌ إِلَّا بِدِينٍ أَوْ تَقْوٰى وَكَفٰى بِالرَّجُلِ أَنْ يَكُونَ بَذِيًّا فَاحِشًا بَخِيلًا. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

چا ته پر چا فضيلت نسته يوازي ددين او تقوا په سبب فضيلت کيدلای سي د يو سړي د بدۍ لپاره دومره خبره کافي ده چي هغه اوږد ژبی ،پالتو خبري کونکی او بخيل وي . احمد او بيهقي په شعب الايمان کي

تخريج: مسند الامام احمد ۱۴\۱۴۵، رقم: ۵۱۴۶.

تشريح: د صاع څخه مراد پېمانه ده ، د ارشاد خلاصه داده چي څرنګه يو صاع يعني پيمانه د دوهمي پيماني سره برابر وي يا د دواړو په مينځ کي چي کوم شيان وي هغه يو ډول وي همدارنګه ټول انسانان د يوه پلار آدم عليه السلام د پلار کېدو په حيثيت کي برابر دي او هيڅ انسان ته پر بل انسان باندي د نسب په اعتبار هيڅ فوقيت او غوره والی نسته .

د تقوا څخه مراد د شرک خفي او شرک جلي څخه ځان ساتل دي او د لويو او کوچنيو ګناهو څخه پرهېز کول دي، ددغه ارشاد مطلب دادی چي انسان د انسان کېدو په حيثيت سره يو پر بل هيڅ فضيلت نه لري بلکه انساني خلقت او نفساني تقاضو په اعتبار ټول انسانان د تاوان او خسران پر مقام دي مګر کوم انسان چي د ايمان او اسلام دولت لري او د هغه سره د تقوا کمال او دين دارۍ هم وي نو هغوئ نه يوازي دا چي د آخرت د تاوان څخه خوندي وي بلکه د انسانيت د اعلی مظهر کېدو په وجه پر نورو خلکو باندي فضيلت هم لري نو دغه حقيقت ته په دغه آيت کريمه کي هم ارشاد فرمايل سوی دی : (والعصر ان الانسان لفي خسر الا الذين آمنوا وعملو الصالحات) قسم دي په زمانه سره چي انسان په لوی تاوان کي دی ، پرته د هغه خلکو څخه چي ايمان يې راوړی دی او نېک کارونه کوي .

شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه د طيبي رحمة الله عليه په حواله سره د دغه حديث مطلب بيان کړی دی چي د طف صاع معنی د هغه پيمانې ده چي پوره ډکه وي نو انسان ته په طف صاع سره

تشبیه ورکول دا حقیقت څرګندوي چي ستاسو د ټولو انسانانو پلار آدم ﷺ دی او آدم ﷺ د خاورو څخه پیدا سوی دی ځکه نو تاسو ټول د خپل نسب په اعتبار په تاوان او د کمال درجې ته په نه رسېدو کي د یو بل بالکل نژدې او برابر یاست چي هر انسان د خپل طبعي جبلت په وجه په تاوان او خساره کي اخته دی مګر هغه انسان د تاوان او خسارې څخه خوندي دی چي د ایمان او اسلام حامل او د تقوا پر مرتبه فائزوي.

خلاصه دا چي یوازي تقوا او پوره دینداري یو داسي وصف دی چي یو انسان معزز او مکرم ګرځوي کوم څوک چي مؤمن، متقي او پرهیزګار وي نو هغه انسان د فضیلت حامل کېدای سي او ددغه وصف څخه پرته د نسب په وجه انسان غوره کیدای نه سي او نه محض په کورني شان او شوکت سره یو انسان ته پر نورو انسانانو باندي لوړوالی ورکول کیږي.

===========

بَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ

(د نیکۍ او خپلوۍ پاللو بیان)

بِرّ: د باء په زېر سره دی او معنی یې د نېکۍ او احسان ده، په عامه توګه ددغه لفظ اطلاق پر هغه نېکۍ او خیر باندي کیږي چي د هغه تعلق د مور او پلار د طاعت او فرمانبرداري او د هغوئ سره د ښه چلن کولو سره وي ځکه د لغت په کتابو کي لیکلي دي چي د بر معنی د مور او پلار د فرمانبرداري او اطاعت کولو ده، په ذکر سوي عنوان کي هم ددغه لفظ دا معنی مراد ده، څرګنده دي وي چي ددغه لفظ ضد عقوق دی چي د هغه معنی د مور او پلار نافرماني کول دي او د هغوئ سره د سرکښۍ او تکلیف رسولو چلن کول دي، د صله لغوي معنی د یو ځای کولو او د پېوند لګولو ده مګر په عامه اصطلاحه کي ددغه لفظ معنی د خپل قریبانو او دوستانو سره د ښه چلن کولو او هغوئ ته د ورکړي ده نو په عنوان کي ددغه لفظ دغه معنی مراد ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د مور حقوق

﴿۴۶۹۴﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ

د حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي یو سړي وویل: ای د الله رسوله! زما د ښه چلن

صَحَابَتِيْ قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ أُمُّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ أُمُّكَ

لپاره څوک زیات مناسب دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ستا مور، هغه بیا وویل: بیا څوک ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ستا مور، هغه بیا وویل: بیا څوک ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ستا مور،

قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ اَبُوْكَ وفي رواية قال أُمُّكَ ثُمَّ أُمُّكَ ثُمَّ أُمُّكَ ثُمَّ اَبَاكَ ثُمَّ أَدْنَاكَ أَدْنَاكَ. متفق عليه.

هغه بیا وویل: بیا څوک ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ستا پلار ، او په یوه روایت کې داسې دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ستامور، ستا مور، ستا مور ، بیا ستا پلار بیا ستا نږدې خپلوان ، بیا ستا نږدې خپلوان. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۰۱، رقم: ۵۹۷۱، ومسلم ۴\۱۹۷۴، رقم: ۱– ۲۵۴۸.

تشریح: ددغه نړۍ د ټولني اصلاح او کامیابي په اصل کې د یو بل حقوق ، د تعلق ساتل او د یو بل سره د ښه چلن کولو باندې منحصر ده ، د شریعت اسلامي تقاضا داده چې انسان دې په دنیا کې د یو بل سره کوم تعلق او قرابت ولري او هغه تعلق او قرابت کې چې د مراتبو فرق دی د حقوقو په ادا کولو کې او په معاملاتو کې ددې لحاظ ضروري دی ، څرګنده ده چې د قرابت په اعتبار د مور قرابت تر ټولو زیات دی او د هغې تعلق تر ټولو زیات نږدې دی ، نو د یو انسان د احسان او ښه چلن او خدمت تر ټولو زیات چې کوم ذات کیداې سي هغه مور ده ، د مور څخه وروسته پلار دی او بیا نور قریبان دی مګر په دغه قرابت کې هم د تعلق او قرابت درجې ډیرې او نږدې وي هغو مره به هغه مقدم ګڼل کیږي ، په ذکر سوي حدیث کې دا قاعده بیان سوې ده.

ځینو حضراتو ددغه حدیث د الفاظو څخه یوه مسئله اخذ کړې ده چې پر یو سړي باندې د مور او پلار سره د ښه چلن او ښېګڼې کولو کوم حقوقو عائد کیږي په هغو کې د مور برخه د پلار څخه درې چنده زیاته ده ځکه چې هغه د زوی بار پورته کول ، د ولادت تکلیف او د تي ورکولو محنت زغمي .

د فقهي په کتابو کې لیکلي دي چې پر اولاد باندې د مور حق تر پلار زیات دی او د هغه سره ښه چلن او ښېګڼه او د هغې خدمت زیات واجب او ضروري دی او که داسې صورت وي

چي په هغه کي په يوه وخت کي د دواړو د حقوقو ادا کول مشکل سي د مثال په توګه د مور او 3
پلار په مينځ کي په يو وجه خنډ راسي ، نو که چيري هلک د مور د حقوقو رعايت کوي نو پلار
ناراضه کيږي او که د پلار د حقوقو لحاظ ساتي نو مور ناراضه کيږي نو په داسي صورت کي
درميانه لار اختيارول پکار دي چي په تعظيم او احترام کي دي پلار ته فوقيت ورکړل سي او په
خدمت او مالي مرسته کي دي مور ته فوقيت ورکړل سي .

د مور او پلار د حقوقو فهرست ډېر اوږد دی بلکه که چيري د هغوئ مرتبې او درجې ته وکتل
سي نو حقيقت دا دی که چيري اولاد خپل ټول ژوند د هغوئ د حقوقو په ادا کولو کي صرف کړي
نو بيا هم د خپلي ذمه دارۍ څخه خلاصيدای نسي مګر شريعت يو څو شيان بيان کړي دي چي د
هغو زيات ارزښت دی او د هغو لحاظ کول په هر حال ضروري دی د مثال په توګه تر ټولو
مخکي شی دادی چي د هغوئ د جائز خواهشاتو پوره کول او د هغوئ فرمانبرداري لازم وګڼل
سي او د هغوئ رضا او خوشحالي د خپل ځان لپاره يو لوی سعادت وګڼي، د خپل توان سره د
هغوئ په اړتياوو او راحت کي د خپل مال او سامان مصرفول پکار دي او د هغوئ سره داسي
چلن کول پکار دي چي د هغوئ د شان سره سم وي، اولاد دي د هغوئ په مخکي تواضع او
انکساري اختيار وي او د هغوئ په مخکي کي د نرمۍ رويه اختيار وي او تر څو چي کيدای سي
د هغوئ خدمت دي کوي تر دې چي هغوئ راضي او خوشحاله وي، د هغوئ په فرمانبرداري
کي دي هيڅ کوتاهي نه کوي مګر اطاعت او فرمانبرداري په هغو کارو کي پکار ده چي مباح
وي ، د هغوئ سره بايد د بې ادبۍ رويه اختيار نه کړل سي او نه تکبر ورسره وکړي که څه هم
هغوئ مشرک وي ، د خبرو کولو په وخت کي خپل اواز د هغوئ د اواز څخه پورته کول نه دي
پکار او نه د هغوئ په نامه اخيستلو سره د هغوئ مخاطب کول پکار دي ، په يو کار کي بايد د
هغوئ څخه مخته والی ونسي او نه د هغوئ په مقابله کي د خپل ځان ښکاره کولو هڅه وسي ،
همدارنګه ددې خبري خيال ساتل پکار دي که چيري مور او پلار غير شرعي کارونه کوي نو د
هغوئ په مخکي کي د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د فريضې ادا کولو پر وخت هم د
هغوئ احترام وکړل سي او د نرمۍ رويه ورسره اختيار کړل سي ، که په يو ځل وينا باندي هغوئ
منع نسي نو بايد پټه خوله سي او د هغوئ په اړه دي استغفار کوي ، دا خبره د قرآن کريم د هغه
آيت څخه اخذ سوې ده چي د حضرت ابراهيم عليه السلام له خوا د خپل پلار د نصيحت او موعظت
يادونه ده .

3

د مور او پلار خدمت

﴿۴۶۹۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَغِمَ أَنْفُهُ رَغِمَ أَنْفُهُ رَغِمَ أَنْفُهُ قِيلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه چا پزه دي په خاورو لړلې وي، د هغه چا پزه دي په خاورو لړلې وي، د هغه چا پزه دي په خاورو لړلې وي، (يعني هغه دي ذليل او خوار وي) پوښتنه وسول اې دالله رسوله! د چا پزه؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د هغه چا چي په خپل مور او پلار کي يې يو يا دواړه په سپين ږيرتوب کي تر لاسه کړل او بيا په جنت کي داخل نه سي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۹۷۸، رقم: ۹- ۲۵۵۱.

د مشرکي مور سره هم ښه چلن

﴿۴۶۹۶﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ أُمِّي قَدِمَتْ عَلَيَّ وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُهَا قَالَ نَعَمْ صِلِيهَا. متفق عليه.

د حضرت اسماء بنت ابي بکر (رض) څخه روايت دئ چي زما مور زما کور ته راغلل (يعني دمکې څخه مدينې ته) او هغه مشرکه وه، او دا د هغه وخت پېښه ده چي د قريشو سره د حديبيې صلح سوې وه، ما وويل: اې دالله رسوله! زما مور ما ته راغلې ده او هغه د اسلام څخه بيزاره ده، ايا زه د هغې سره خپلوي وپالم (ښه چلن وکړم)؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل هو وه يې پاله د هغې سره ښه چلن وکړه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۳۳، رقم: ۲۶۲۰، ومسلم ۲\۶۹۶، رقم: ۵۰- ۱۰۰۳.

جلد نمبر 8

د کافرانو سره صله رحمي

﴿۴۶۹۷﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ آلَ أَبِي فُلَانَ لَيْسُوا لِيْ بِأَوْلِيَاءَ إِنَّمَا وَلِيِّيَ اللَّهُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنْ لَهُمْ رَحِمٌ أَبُلُّهَا بِبَلَاهَا. متفق عليه.

د حضرت عمرو بن عاص ﷺ څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چي د ابو فلان اولاد (یعني د ابو لهب، ابوسفیان یا نور) زما دوستان نه دي، بلکه زما دوست الله تعالی دئ او نیک بخت مؤمن، مگر ددغه خلکو سره زما خپلولي ده زه یې د هغوئ سره کوم (یعني دهغوئ سره چي کوم چلن کوم د خپلوۍ له کبله یې کوم). بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۱۹، رقم: ۵۹۹۰، ومسلم ۱\۱۹۷، رقم: ۳۶۶- ۲۱۵.

د لغاتو حل: ببلالها: ای بصلتها والاحسان الیها (بنبگنه)

تشریح: د (ابو فلان اولاد) په اړه علماؤ لیکلي دي چي رسول الله ﷺ په خپل ارشاد کي صریح نوم اخیستی وو مگر راوي د ارشاد بیانولو په وخت کي د هغه نوم صریح ذکر نه کړ بلکه لفظ د ابو فلان په ذریعه یې اشاره وکړه او د صریح نه ذکر کولو وجه دا معلومیږي چي راوي په کومه موقع کي دغه ارشاد بیان کړ هغه وخت د هغه نوم صراحتا ذکر کولو سره د یو فتنې بېره وه، د بخاري او مسلم په اصل نسخو کي هم لفظ د ابي څخه وروسته خالي ځای پرېښودل سوی دی او یو نوم په صراحت سره ذکر سوی نه دی او ددې علت هم هغه دی، پاته سوه دا خبره چي رسول الله ﷺ په خپل ارشاد کي کوم نوم په صراحت سره فرمایلي وو، نو محققینو ویلي دي چي هغه ابولهب دی او ځینو حضراتو ابوسفیان یا حکم ابن ابي العاص بیان کړی دی مگر صحیح خبره داده چي د رسول الله ﷺ د ارشاد تعلق د یو خاص فرد سره نه دی بلکه د رسول الله ﷺ مراد په عامه توګه د خپل قبیلې او کورنۍ افراد دي لکه اهل قریش یا بنو هاشم یا د رسول الله ﷺ د اکاګانو زامنان،

زما دوست نه دی ...الخ: ددغه جملې څخه د رسول الله ﷺ مراد دا څرګندول وو چي د خپلي کورنۍ د خلکو سره زما مالي مرسته او هغوئ ته ورکړه په دې وجه نه ده چي هغوئ زما ډېر خوښ دي یا زما د هغوئ سره زیات روحاني او باطني تعلق دی بلکه هغوئ زما قریبان دي ځکه زه د قرابت حق ادا کولو لپاره د هغوئ مالي مرسته کوم، تر څو چي د باطني او روحاني

تعلق او میني سوال دی نو زما تعلق او زیاته مینه د هغه چا سره ده چي مؤمن صالح وي که څه هم هغه زما قریب وي یا قریب نه وي، زما دوست الله ﷻ دی یا نېک بخته مؤمنان، د نیک بخته څخه ټول صالح مسلمانان مراد دي که څه هم ځینو حضراتو ابوبکر رضي الله عنه او ځینو حضرت علي رضي الله عنه مراد اخیستی دی.

حرام عملونه

﴿۴۶۹۸﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوقَ الْأُمَّهَاتِ وَوَأْدَ الْبَنَاتِ وَمَنَعَ وَهَاتِ وَكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ. متفق عليه.

د حضرت مغیرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی پر تاسو د مور نافرماني او تکلیف رسول، انجوني ژوندی ښخول او بخل حرام کړي دي او قیل وقال (یعني بې ګټي بحثونه او مباحثه) زیات سوالونه کول او مال ضائع کول يې مکروه ګرځولي دي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۶۸، رقم: ۲۴۰۸، ومسلم ۳\۱۳۴۱، رقم: ۱۲- ۵۹۳.

د لغاتو حل: ومنع هات: عبر بهما عن البخل والسوال (بخل او فقر کول)

تشريح: په خاصه توګه د مور یادونه ځکه سوې ده چي پر اولاد باندي د مور حقوق تر پلار زیات وي لکه څرنګه چي مخکي تېر سوي دي چي د مور حق د پلار تر حق درې چنده زیات دی یا ددغه خاصوالي وجه داده چي مور په طبعي توګه د پلار څخه زیاته حساسه او د کمزوري زړه والا وي، پلار خو د اولاد لوی تکلیف هم زغملای سي، مګر مور د خپل اولاد په معمولي خبره هم ناراضه کیږي، که چیري اولاد د هغې د حقوقو په ادا کولو کي لږ غفلت او کوتاهي وکړي نو د هغې زړه سمدستي متاثره کیږي او هغه سخت تکلیف محسوس کوي، دا بېله خبره ده چي د اولاد د کوتاهیو څخه چي څومره مور عفوه کوي هغومره پلار نه کوي او ددې سبب هم د مور د زړه کمزوري کېدل دي.

د منع معنی د بندولو یا محروم کولو ده او ددې څخه مراد بخل دی، (هات) په اصل کي د (ات) په معنی دی چي ایتا صیغه امر ده او د هغه معنی ده راکړه، دلته دغه لفظ د غوښتلو او سوال کولو یعني د یو چا په مخکي د لاس غزولو په مفهوم کي استعمال سوی دی، علماؤ

ليكلي دي چي منع د هات څخه مراد دادی چي په خپل مال باندي د نورو خلكو چي كوم حق واجب وي نو هغه نه ادا كوي او دنورو د مال څخه هغه شي اخلي چي د هغه لپاره حلال نه دی، ځيني حضرات وايي چي نه يوازي په مال كي منع وهات حرام ګرځولی سوی دی بلكه د هر ډول حقوقو نه ادا كول حرام دي كه د هغو تعلق د مال سره وي يا د افعالو سره وي او كه د اقوالو سره وي يا د اخلاقو سره وي، همدارنګه د يو داسي شي غوښتنه كول چي پر نورو باندي هيڅ ډول حق واجب نه وي او نور خلک د يو داسي شي په وركولو كي په تكليف كول چي پر هغه واجب نه دی نو دا حرام دی.

(قيل وقال) : دا يوه محاوره ده چي زموږ په ژبه كي هم همدارنګه استعماليږي، ددغه جملې اطلاق په عامه توګه پر بې ګټې بحث او حجت باندي كيږي، دلته په حديث كي هم د قيل وقال مكروه ګرځولو مطلب د بې ګټې او پالتو خبرو كولو څخه منع كول دي لكه څرنګه چي په عامه توګه كيږي، چي كله بې فكره خلک په خپلو كي يو ځای كښيني نو آخوا دېخوا خبرو كي اخته سي د خبرو هيڅ مقصد نه وي او نه يې ديني او دنيوي ګټه وي، د هغوئ د خبرو موضوع غلطي واقعې بيانول او د درواغ اقوال بيانول وي ، څوک وايي چي فلاني سړي داسي ويلي دي او څوک وايي چي فلاني سړي داسي ويلي دي .

خلاصه دا چي په پالتو او بې ګټو خبرو كي په بوختيا سره خپل قيمتي وخت ضائع كوي ، ددې څخه معلومه سوه چي د قيل وقال منع په هغه صورت كي ده كله چي هغه بحث او خبرو مقصد د يو مسئلې او معاملې تحقيق نه وي مګر كه چيري د يوې معاملې تحقيق او نورو نيكو مقصدو لپاره په خبرو كي اخته سي او د خلكو اقوال بيان كړل سي نو پر دغه خبرو باندي د ذكر سوي منع اطلا ق نه كيږي، ځينو حضراتو د قيل وقال څخه مراد ډيري زياتي خبري كول ليكلي دي او دا يې څرګنده كړې ده چي ډيري زياتي خبري كول پر زړه غفلت خپروي ، په بې حسی او لا پرواهی كي اخته كول او د وخت ضائع كول دي .

كثرة السوال: يعني د سوال د زياتوب څو معناوي بيان سوي دي ، يوه معنی يې داده چي د نورو خلكو د احوالو او معاملو ډېر زيات تجسس وكړل سي، دوهم دا چي د خپل علم غوره والي څرګندولو لپاره يا د يو بې ګټې بحث په وجه ډېر زيات علمي سوالونه كول يا پر يو خبره باندي ډېري زياتي پوښتني كول دي، او دريم دا چي ددغه منع مخاطب په خاصه توګه صحابه كرام وه چي هغوئ ته دا هدايت سوی وو چي هغوئ په ديني احكامو او مسائلو كي د رسول الله ﷺ څخه زيات سوالونه نه كوي او نه دي دلته او هلته د معاملاتو په باره كي پوښتني او ګرويږني

كوي، ځكه چي د سوالو د زياتوالي په وجه نه يوازي دا چي د رسول الله ﷺ طبيعت ته ناراضګي وي بلكه زياتي پوښتني كول په احكامو او مسائلو كي د سختوالي او زياتو پابنديو سبب هم جوړيداى سي، لكه چي په قرآن كريم كي فرمايل سوي دي: (لا تسئلوا عن اشياء ...الخ).

(اضاعة المال): يعني د مال ضائع كولو څخه مراد دادى چي خپل مال او روپۍ په اسراف كي مصرف كړل سي يا په په داسي ځاى كي خرڅ كړل سي چي د هغه كار د الله تعالى د رضا سره هيڅ تعلق نه وي لكه يو سړى خپل ټول مال يا د هغه يوه برخه يو بل چا ته وركړي مګر د هغه خپلوان او قريبان محروم پاته سي چي نه يوازي د خپل تعلق د وجي بلكه دخپل احتياج او ضرورت په وجه هم د هغه پر مال باندي خپل حق لري، يا يو سړى خپل مال او اسباب او دولت په اوبو كي واچوي يا په اور كي يې وسوځي يا يو داسي فاسق ته يې وركړي چي هغه يې د ګناه او معصيت په كارو كي مصرفوي.

د بل مور او پلار ته ښكنځل كول

﴿۴۶۹۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَهَلْ يَشْتِمُ الرَّجُلُ

خپل پلار ته ښكنځل كول د كبيره ګناهو څخه دي، صحابه كرامو وويل: اې دالله رسوله! ايا سړى خپل مور او پلار ته ښكنځل كولاى سي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، څوك چي دبل چا مور او پلار ته ښكنځل كوي او هغه

وَالِدَيْهِ قَالَ نَعَمْ يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَسُبُّ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّهُ.

متفق عليه.

دده مور او پلار ته ښكنځل كوي (نو داسي ده لكه خپل مور او پلار ته چي يې په خپله ښكنځل وكړه). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۰۳، رقم: ۵۹۷۳، ومسلم ۱\۹۲، رقم: ۱۴۶-۹۰.

تشريح: د دغه حديث څخه دا خبره څرګنده سوه چي خپل مور او پلار ته ښكنځل كول او هغوئ ته بد او رد ويل ګناه كبيره ده مګر كوم څوك چي د بل چا مور او پلار ته ښكنځل وكړ

ي نو هغه خپل مور او پلار ته د ښکنځل کولو او هغوئ ته د بد او رد ويلو سبب جوړيږي ، نو هغه هم لويه ګناه ده، ځکه که چيري هغه د هغه مور او پلار ته ښکنځل ونه کړي نو هغه سړی به هم دده مور او پلار ته ښکنځل نه کوي، مور او پلار ته ښکنځل کول په عقوق يعني د مور او پلار په نافرمانۍ او سرکښۍ کي داخل دي چي حرام کار دي .

د ذکر سوي حديث څخه دا مسئله هم راووتل که چيري يو سړی د يو چا د فسق او ګناه سبب جوړ سي نو د هغه شمېر به هم د هغه په فسق او معصيت کي د کونکي په حيثيت سره وي او هغه به هم ګناه کار وي.

د پلار د خپلوانو سره ښه کول

﴿۴۷۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ صِلَةَ الرَّجُلِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ . رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غوره نيکي د يو سړي د خپل پلار د مرګ څخه وروسته د هغه د قريبانو سره احسان او ښه چلن کول دي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۴\۱۹۷۹، رقم: ۱۳- ۲۵۵۲،

تشريح: مطلب دادی که چيري پلار مړ سوی وي يا يو ځای ته په سفر تللی وي نو د هغه د ملګرو او قريبانو سره ښه چلن کول ګويا د خپل پلار سره ښه چلن کول دي او د هغه دغه معامله د خپل پلار په نه شتون کي وي ځکه هغه به غوره نيکي کونکی شمېرل کيږي .

په حديث شريف کي يوازي د پلار د قريبانو ذکر کول دې ته اشاره ده چي د مور د دوستانو سره ښه چلن کول به په درجه اولی غوره نيکي وي .

د قريبانو سره د صله رحمۍ ګټه

﴿۴۷۰۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي دا غواړي چي د هغه په روزي کي پراخي راسي او په مرګ کي يې ځنډ راسي نو هغه ته پکار ده چي د خپل قريبانو سره خپلوي پالي (ښه چلن کوي)، بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٤١٥، رقم: ٥٩٨٦، ومسلم ٤\١٩٨٢، رقم: ٢١- ٢٥٥٧.

د لغاتو حل: النسء: التاخير (مُنذ)

تشريح: اثر په اصل كي د پښو هغه نښنو ته وايي چي د تللو په وخت كي پر مځكي لګيږي، او هغه نښنه د ژوند علامه وي، چي كوم سړى مړ سو نو د هغه د قدم نښي پر مځكه نه پاته كيږي په دې اعتبار سره په عربو كي مدت عمر ته اثر ويل كيږي.

د حديث دغه جمله چي د هغه په رزق كي پراخي او د هغه په مرګ كي د زنډ كېدو متعلق دا سوال پيدا كيږي چي د اسلامي عقيدې سره سم د رزق تعلق د تقدير سره دى ، د كوم چا په مقدار كي چي څومره رزق ليكل سوى دى هغه ته هغومره وركول كيږي په هغه كي نه كمي كيږي او نه زياتوب، همدارنګه د مرګ وخت هم ټاكل سوى دى د كوم چا د مرګ چي كوم وخت ټاكل سوى وي د هغه څخه يوه لحظه مخكي او وروسته نه سي كيداى ، لكه څرنګه چي په قرآن كريم كي فرمايل سوي دي : (فاذا جاء اجلهم لا يستاخرون ساعة ولا يستقدمون) ، يعني كله چي د هغه وخت ختم سي نو هغه وخت نه يوه لحظه وروسته كيږي او نه مخته كيږي.

ددغه څرګنده عقيدې په رڼا كي د حديث د ذكر سوي جملې معنى به څه وي؟ ددې جواب دادى چي په رزق كي د پراختيا او دعمر د اوږدوالي څخه مراد په رزق كي بركت محسوس كول، شپې او ورځي په خوشحالي او سكون سره تېرول ، د عمر په زيات وخت كي د عبادت او طاعت توفيق تر لاسه كېدل او د زړه نورانيت او د باطن پاكوالي په برخه كېدل دي، يا د عمر د اوږدوالي څخه مراد په دنيا كي د نېک نامه پاته كېدل دي يا دا چي د عمر د اوږدوالي څخه مراد صالح اولاد مراد دى چي د خپل مور او پلار د مرګ څخه وروسته د هغوئ په حق كي د مغفرت دعاء كوي او دهغوئ نيک نامي پاته ساتي ځكه ويل سوي دي چي د اولاد پاته كېدل د مړي لپاره دوهم وار پېدا كېدل دي يعني د اولاد خاوند د مرګ څخه وروسته هم د هغه د اولاد په صورت كي خپل وجود باقي لري.

كه چيري په زياته توجه وكتل سي نو معلومه به سي چي د رزق او عمر په اړه د ذكر سوي عقيدې او حديث د مفهوم په مينځ كي داسي تضاد نسته چي دهغه د ليري كولو لپاره تاويلات اختيار كړل سي ځكه چي دا يو حقيقت دى چي الله تعالى د قريبانو سره د ښه چلن كول او احسان كول د رزق د پراختيا او د عمر د اوږدوالي سبب ګرځولى دى ، كله چي هغه د هر شي لپاره يو سبب پيدا كړى دى نو هغه څوک چي په رزق كي بركت او په عمر كي اوږدوالي غواړي نو هغه

ته د قريبانو د حقوقو د ادا كېدو توفيق وركوي او دا خبره داسي نه ده چي د هغه څخه په تقدير الهي كي د تغير نوم وركړل سي .

د صله رحمي اهميت

﴿۴۷۰۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلَقَ اللَّهُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى مخلوقات پيدا

الْخَلْقَ فَلَمَّا فَرَغَ مِنْهُ قَامَتِ الرَّحِمُ فَأَخَذَتْ بِحَقْوِ الرَّحْمَنِ فَقَالَ لَهُ مَهْ

كړل كله چي ددې څخه فارغ سو نو رَحِم (خپلوي) ودرېدل او د رحمان (الله تعالى) ملا يې ونيول، الله تعالى پوښتنه وكړه قرار (پرځاى) سه څه غواړې ؟

قَالَتْ هَذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيعَةِ قَالَ أَلَا تَرْضَيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ قَالَتْ بَلَى يَا رَبِّ قَالَ فَذَاكِ. متفق عليه.

رحم وويل: دا ځاى د هغه سړي د قراريدو ځاى دئ چي ستا په ذريعه د قطع رحم څخه پناه غواړي (يعني زه ستا په مخكي ولاړ يم او ستا په ذريعه ددې امر څخه پناه غواړم چي څوک ما قطع كړي او د خپلوى عزت قائم ونه ساتي) الله تعالى ورته وفرمايل : ايا ته په دې راضي يې چي څوک تا قائم وساتي نو د هغه سره زه احسان او ښه چلن وكړم او پرېږدم هغه چي ته يې پرې ايښى يې ، رحم وويل: هو زه په دې راضي يم، نو الله تعالى ورته وفرمايل : ښه دئ . دا (ستاسره) وعده ده. . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸/ ۵۸۰، رقم: ۴۸۳۰، ومسلم ۱۴/ ۱۹۸۰، رقم: ۱۶- ۲۵۵۴.

د لغاتو حل: بحقوي الرحمن: المراد الاستغاثة والاستعانة. (فرياد كول او مرسته غوښتل)

تشريح: كله چي د هغه څخه فارغ سو :مطلب دادى كله چي هغه مخلوقات پيدا كړل كه څه هم په ظاهري توگه په دغه دواړو جملو كي فرق نسته مگر په دې كي يوه نكته داده چي په لغوي توگه د فراغت حقيقي مفهوم د خپل تحقيق لپاره مخكي د اشتغال متقاضي وي يعني د فراغت مفهوم پر هغه صورت باندي صادقيږي كله چي په يو كاركي بوختيا وي او د هغه كار څخه پرته د نورو كارو څخه يې منع كوي ځكه ويل كيږي چي كله د هغه څخه فارغ سو ، دلته فراغت په خپل حقيقي مفهوم كي استعمال سوى نه دى ځكه چي الله تعالى ددې څخه پاک دى چي هغه يو

كار د بل كار څخه منع كړي لكه څرنګه چي په يوه دعاء كي داسي راغلي دي : سبحان من لا يشغله شان عن شان .

حقو، هغه ځاى ته وايي چيري چي پرتوګانړ تړل كيږي او د پرتوګانړ د تړلو صورت داوي چي د هغه د واړو سرونو يو ځاى كولو سره تړل كيږي ، په دې اعتبار سره دلته ددغه لفظ د تثنيې په استعمال سره بحقوق الرحمن وفرمايل سول، يعني هغه ځاى چيري چي د پرتوګانړ دواړي څوكي تړل كيږي ، د حقو لفظ اطلاق د پرتوګانړ د تړلو پر ځاى او د ملا په ډول شيانو څخه پاك دى ځكه دا خبره بايد په ذهن كي وي چي دغه جمله پر حقيقي معنى محمول نه ده بلكه د عربو د يو خاص اداء مظهر دى او دلته چي د كومي خبري بيانول مقصد دي هغه د دوئ د كلام په مثالي صورت كي څرګند سوى دى .

د عربو دا عادت وو چي كله به يې يو سړي ته پناه وركول يا د هغه مرسته به يې كول او د خپلي پناه او مرستي غوښتلو اړتيا به يې په زيات تاكيد او ارزښت سره ظاهرول غوښتل نو د چا مرسته يا پناه چي به پكار وه د هغه د پرتوګانړ پر ځاى به يې دواړه لاسونه وهل چي هغه ته متوجه سي او په دې پوښتنه مجبور سي چي ستا مقصد څه دى او زما څخه څه غواړې ، نو د قرابت قطع كولو څخه د الله تعالى د پناه غوښتلو مفهوم د استعارې په توګه د ذكر سوي عبارت په ذريعه بيان سوى دى، كنه نو په لغوي توګه دلته د حقو حقيقي معنى مراد نه ده او نه د هغه د نيولو دغه مفهوم د ى كوم چي د يو انسان د نيولو وي، لكه څرنګه چي د عربو په نزد كله چي د يو چا په اړه ويل كيږي چي يداه مبسوطتان يعني د هغه دواړه لاسونه خلاص دي نو ددې څخه مراد د هغه ډېر سخاوت دى كه څه هم هغه په حقيقت كي د لاسو خاوند وي يا په خلقي توګه د هغه لاسونه نه وي او كه څه هم هغه داسي ذات وي چي د هغه لپاره د لاسونو وجود محال وي لكه د الله تعالى ذات .

خلاصه دا چي دا ډول كلام په عربو كي د محاورې په توګه ډېر استعماليږي چي د هغه الفاظ پر خپل حقيقي مفهوم ادا كولو پر ځاى بل مفهوم ته اشاره كوي او د قرآن كريم نزول او د احاديثو صدور د عربو د كلام مطابق سوى دى ځكه قران او حديث په داسي مقام كي چيري چي دا ډول جملې راځي او پر هغه د متشابهاتو اطلاق كيږي د هغه تاويل او وضاحت لپاره دا خبره يو لوى بنيادي حيثيت لري ، دا هم بايد په ذهن كي وي چي رحم يعني قرابت ذات او جسم خو نه دى چي هغه پر خپلو پښو باندي ودريږي او د الله تعالى څخه د پناه طلبګار سي بلكه په حقيقت كي هغه يوه معنى ده نو د هغه لپاره د دريدو او پناه غوښتلو الفاظ استعمالول د تشبيه او

تمثیل په توګه کیدای سي چي د هغه شخه دا خبره څرګندول مراد دي چي رحم د یو داسي چا په ډول دی چي دربږي او د الله تعالی عزت او عظمت او دهغه د لويي د لمن په نیولو سره د پناه غوښتونکی سي.

همدا ډول خبره نووي رحمة الله علیه هم بیان کړې ده، هغه ویلي دي چي رحم ذات یا جسم نه دی بلکه د معاني شخه یوه معنی ده چي د یو ذات او جسم په ډول نه دربدلای سي او نه د هغه شخه کلام صادربدلای سي نو په دې اړه د ذکر سوي ارشاد مراد په اصل کي د رحم یعني قرابت ارزښت ظاهرول، د قرابت کولو فضیلت بیانول او د قرابت قطع کولو بدي بیانول دي ځکه چي قرابت ساتل في الجمله واجب دی او د هغه ماتول ګناه کبیره ده.

که څه هم د صله رحم درجات متعین سوي دي چي په هغو کي ځینو ته زیات ارزښت تر لاسه دی او تر ټولو غوره درجه ترک مهاجرت یعني ملاقات او تعلق اختیارول دي ځکه چي د صله رحم یوه ذریعه کلام او ملاقات هم دی که څه هم محض د سلام تر حد پوري وي.

څرګنده دي وي چي د صله رحم د درجو په مینځ کي د تفاوت او اختلاف بنیاد د مواقعو او حالاتو پر مختلف کېدو باندي دی، ځینو صورتونه داسي وي چي په هغه کي د قرابت د تعلق رعایت او د قریبانو سره د نېک چلن کولو زیات ارزښت او ضرورت وي او په ځینو صورتو کي د هغه ارزښت او ضرورت زیات نه وي، ددې شخه پرته په ځینو وختو کي د قدرت او توان فقدان وي په دې اعتبار سره د صلې حکم عائد کیږي چي په ځینو صورتو کي زیات اهم وي او په ځینو کي مستحب دي، که یو څوک د قرابت ساتلو حق په جزوي توګه ادا کړي او هغه یې په پوره توګه ادا نه کړلای سي نو هغه ته به د قرابت ماتونکی نه ویل کیږي مګر که یو سړی که د قریبانو په داسي حقوقو پوره کولو کي کوتاهي وکړي چي پر پوره کول یې قادر وي او هغه حق پوره کول د هغه لپاره مناسب هم وي نو هغه سړي ته به د قرابت ساتونکی نه ویل کیږي مګر که چیري یو سړی د قرابت په حقوقو کي د داسي حقوقو په پوره کولو کي کوتاهي وکړي چي د هغه پر پوره کولو قادر وي او هغه حق پوره کول د هغه لپاره مناسب هم وي نو داسي کس ته به د قرابت پالونکی ویل کیږي.

رحم د رحمان شخه دئ

﴿۴۷۰۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرَّحِمَ شَجْنَةٌ

مِنَ الرَّحْمَنِ فَقَالَ اللّٰهُ مَنْ وَصَلَكِ وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَكِ قَطَعْتُهُ . رواه البخاري

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د رَحِم لفظ د رحمان څخه اخيستل سوی دئ او الله تعالی رحم ته فرمايلي دي څوک چي تا يو ځای کوي زه به هغه يو ځای کوم او څوک چي تا پرې کوي زه به هغه پرېکړم. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۱۷، رقم: ۵۹۸۸.

د لغاتو حل: الشجنة: عروق الشجر المشتكبة، والمعنى انها اثر من آثار رحمة الله مشتكبة.

تشريح: لفظ د رحم د رحمان څخه اخيستل سوی دی ، ددې وضاحت په يو بل حديث کي داسي دی چي الله تعالی وفرمايل: ما رحم يعني قرابت پيدا کړ او د هغه د نامه لفظ يعني رحم مي د خپل نامه يعني رحمان د لفظ څخه را وايست، دا هم کيدای سي چي په حديث کي دغه دواړه لفظونه يعني رحم او رحمان معنی مراد وي ، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي د رحم قرابت چي د هغه د حق لحاظ کول واجب دي د رحمان د رحمت يو ښاخ دی ، ځينو شارحينو د لغت د کتابو په حوالې ليکلي دي چي شُجنَه په اصل کي د درختي هغه ريښو او څانگو ته وايي چي د خپل تني سره پيوست وي ، په حديث کي ددغه لفظ په ذريعه دا ښودل مقصد دي چي رحم د رحمان څخه اخيستل سوی دی يا داسي به ووايو چي د رحم لفظ د رحمت څخه مشتق دی چي د هغه څخه د رحمان لفظ وتلی دی لکه څرنگه چي د درختي ريښې د خپل تنې سره يو ځای وي همدارنگه رحم د رحمان سره يو ځای دی .

ځينو حضراتو د شجنه لفظ په اړه دا ويلي دي چي ددغه لفظ په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي د رحم په لفظ کي چي کوم حروف دي هغه د الله تعالی په اسم رحمان کي هم موجود دي او د رحم او رحمان اصل يو دي، يعني رحمة، ځکه رحم او رحمن د يو بل څخه بېل کېدای نسي لکه څرنگه چي د يوې درختي څانگي د هغه د تني څخه بېلېدای نسي ، په دې توگه د حديث معنی به دا وي چي رحم يعني قرابت په اصل کي د الله تعالی د رحمت د اثارو څخه يو آثر دی او د هغه سره مربوط دی نو د صله رحم حقوق يعني د قريبانو سره ښه چلن کولو ذمه داري د خپل ځان قطع کونکي ، خپل ځان درحمت الهي څخه قطع کونکی دی، او قرابت ساتونکی يعني د قريبانو سره د نېک چلن کونکی د الله تعالی د رحمت سره خپل ځان جوړونکی دی لکه څرنگه چي په حديث کي فرمايل سوي دي .

لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ وَلَا يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللَّهِ ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ. رواه مسلم.

ورته وفرمايل: كه ته داسي كوې لكه څرنګه چي تا وويل داسي مثال لري لكه ته چي د دوئ په خولو كي تودې ايرې اچوې نو ستا سره به هميشه د الله ﷻ مرسته وي تر څو پوري چي ته پر دې صفت قائم يې د هغوئ تكليفونه او شر به در څخه دفع كوي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۹۸۲\۴، رقم: ۲۲-۲۵۵۸.

د لغاتو حل: الملّ: اى الرماد الحار الذي يدفن فيه الخبز.

تشريح: د ايرو اچولو څخه مراد دادى چي ستا هغه قريب ستا د نېک چلن قدردان نه دى او ستا د نيكى شكريه نه ادا كوي ځكه ته چي هغوئ ته څه وركوې نو هغه د هغوئ په حق كي د حرام مال حكم لري او ستا وركړل سوي شيان د هغوئ په نس كي د اور په ډول دي، يعني رسول الله ﷺ د هغه قريبانو هغه ګناه ته د ګرمو ايرو سره تشبيه وركړه چي د هغه شيانو په خوړلو سره هغوئ ته لاحق كيږي.

ځينو حضراتو دا مراد بيان كړى دى چي ته د هغوئ د خراب چلن د هغوئ سره د احسان او نېک چلن په كولو سره هغوئ خپله د هغوئ د نفس په وړاندي ذليل او خوار كړې لكه څرنګه چي يو سړى ګرمي ايرې په خوله كي واچوي او هغه نس ته دننه كړي نو د هغه نفس پر هغه لعنت وايي، ځينو شارحينو دا بيان كړى دى چي د هغوئ سره ستا احسان د هغوئ په حق كي ګرمي ايرې دي چي هغوئ سوځي او هلاكوي يې او ځينو حضراتو دا ويلي دي چي ستا احسان د هغوئ مخ توروي لكه څرنګه چي ايرې د يو چا د مخ په سوځلو سره تور كړي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د مور او پلار سره ښه سلوک

﴿۴۷۰۸﴾: عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ لَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ ولا يزيد في العمر الا البر وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ. رواه ابن ماجة.

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ تقدیر پرته د دعاء څخه بل هیڅ شی نه سي بدلولای او د نیکۍ څخه پرته بل هیڅ شی عمر نه سی زیاتولای او د گناه په وجه انسان د روزي څخه محروم کیدلای سي چي د هغه ارتکاب یې وکړ (یعني هغه گناه یې وکړل). ابن ماجه

تخریج: سنن ابن ماجه ۱\۳۵، رقم: ۹۰.

تشریح: د تقدیر څخه مراد تقدیر معلق دی نه قضاء مبرم چي د بدلون وړ نه وي، نو الله تعالی چي دعاء د کوم تقدیر د بدلولو سبب گرځولې ده هغه تقدیر معلق دی او دا خبره بذات خود تقدیر الهي ده یعني الله تعالی دا مقدر کړی دی که بنده دعاء وغواړي نو د هغه مصیبت به لیري کړل سي نو د عالم ټول اسباب او وسائل د قضاء او قدر الهي سربېره دا حکم لري لکه څرنگه چي د شفاء تر لاسه کولو لپاره علاج او دواء، یا جنت او دوزخ ته د تللو لپاره د بندگانو اعمال او داسي نور، ځینو حضراتو دا تاویل کړی دی چي د بنده په دعاء او تدبیر کي بوخت کېدل د تقدیر فیصله قبلول اسانه کوي او د قسمت په لیک د هغه زړه مطمئن کوي یعني کله چي بنده په یو مشکل کي ولوېږي یا د یو تکلیف سره په مخامخ کېدو سره په دعاء کولو کي بوخت سي او بیا په پای کي وویني چي اوس دعاء او تدبیر کار نه کوي او دتقدیر لیکل نه بدلیږي نو هغه د قسمت په وړاندي ولوېږي او پر خپل تقدیر راضي سي، د هغه نتیجه داسي چي د تقدیر هغه فیصله د هغه لپاره اسانه سي او د هغه د زړه څخه بار لیري سي، ددې پر خلاف د هغه د تقدیر فیصله که ناڅاپه د هغه مخته راسي او کیدونکې خبره ناڅاپه پر هغه نازله سي چي نه خو هغه ته په دعاء کي د بوختیا موقع تر لاسه سي او نه پر تدبیر باندي د عمل کولو مهلت تر لاسه سي نو د تقدیر هغه فیصله ډېره سخته سي، په دې اعتبار سره وفرمایل سول چي دعاء تقدیر بدلوي.

شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمایي: زما په نزد ددغه ارشاد مطلب دا هم کیدای سي چي رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذریعه د دعاء تاثیر او د دعاء ارزښت او فضیلت د مبالغې په توگه بیان کړی دی او مراد دادی چي قضا او قدر یو شی نسي بدلولای مگر که یو شی ددې درجې وي چي هغه تقدیر بدل کړي نو هغه به دعاء وي، په دې اعتبار سره ویل کیږي چي دغه ارشاد د هغه حدیث په ډول دی چي په هغه کي فرمایل سوي دي که چیري یو شي پر تقدیر باندي سبقت وړونکی وي نو هغه بد نظر وي.

د عمر د اوږدوالي څخه مراد خیر او برکت دی او د ژوند ښه کارونه، د کامیابۍ پر لاره او د الله تعالی د رضا پر لاره تلل دي لکه څرنګه چي په مخکي فصل کي په وضاحت سره بیان سوی دی.

د حدیث په آخري برخه کي یو سوال پیدا کیږي، هغه دا چي په دنیا کي د داسي خلکو کثرت دی چي د خپل فسق او فجور او تر دې چي د خپل کفر او شرک سربېره د الله تعالی د نېکو بندګانو او کامل مؤمنانو په مقابله کي ښه خوراک او څښناک کوي او د زیات رزق خاوندان وي، نو بیا ددې خبري معنی به څه وي چي انسان د خپلو ګناهو په وجه د رزق څخه محروم کیږي؟ نو ددغه سوال د جواب لپاره ځینو حضراتو دا تاویل کړی دی چي په حدیث کي د رزق څخه مراد د آخرت رزق دی یعني ثواب، او په دې کي شک نسته چي د ګناه او معصیت کول په هغه رزق یعني د آخرت په ثواب کي تاوا ن او د هغه څخه د محرومۍ مطلب د هغه شیانو څخه محروم کېدل دي چي د هغه څخه پرته د مال او شتمنۍ او د رزق د وسعت سربېره انسان ته طمانیت او خوشحالي او روحاني عظمت نه ورکول کیږي لکه د رضاء الهي حصول، د ژوند بې فکري او په سکون سره تېرېدل، د زړه او دماغ اطمینان د وخت په ښه کارونو کي مصرفول، د رزق طیب او پاک کېدل او د روح او باطن د هر ډول خیرنتوب او ظلمت څخه پاک کېدل، دا هغه اوصاف دي چي د انسان ژوند ته د حیات طیبه درجه ورکوي لکه څرنګه چي په قرآن کریم کي فرمایل سوي دي: (من عمل صالحا من ذکر او انثی وهو مؤمن فلنحیینه حیوة طیبة) یعني چا چي نیک کار وکړ که سړی وي یا ښځه او هغه ایمان لري نو موږ به هغه ته ښه ژوند ورکړو.

ددې پر خلاف فاسقان او فاجران چي د هغوئ د ژوند شپه او ورځ د دنیا د حرص او هوس او د ګناه او معصیت د ظلمت څخه ډکه وي د هغوئ د وخت زیاته برخه د مال او شتمنۍ په پیدا کولو کي تیریږي د هغوئ زړه د مال د تاوان او بربادۍ په بېره کي هر وخت متفکر او پریشانه وي او مختلفو خطرو او ندېښنو هغوئ د ژوند د سکون او اطمینان څخه محروم کړي وي، ددې څخه پرته د الله ﷻ د عبادت او طاعت د نورانیت او د هغه د رحمت څخه محرومي هغوئ په داسي تیارو کي اچولي وي چي هغوئ په ظاهره ډېر خوشحال او د اسبابو د مالک کېدو سربېره یو سخت او مشکل ژوند تېروي لکه چي الله پاک فرمایي: (من اعرض عن ذکري فان له معیشة ضنکا) یعني څوک چي زما د ذکر څخه مخ واړوي نو د هغه لپاره به ژوند تنګ کړل سي.

پر دې باندي ګناه کار مؤمن هم قیاس کیدای سي که څه هم هغه په ظاهري توګه مال او شتمني لري مګر په روحاني او باطني توګه د هغه ژوند سخت خو نه وي مګر که چیري په هغه کي د ایمان رڼا په پوره توګه موجود وي نو د ګناه او معصیت بېره د هغه پر زړه په هر حال خپره

وي او د هغه گناه په وجه په عذاب کي د اخته کېدو په بېره کي يقينا هغه اخته وي او په خپل دنياوي ژوند کي که هر څومره مطمئن وي مگر هغه د اطمينان او سکون څخه محروم وي.

خلاصه دا چي د رزق مطلب محض په نس ډکولو سره د انسان د زړه اطمينان او سکون، روحاني طمانيت او بشاشت او د ژوند د وختونو بامقصد تېرولو سره هم دی او دغه شيان يوازي هغه بندگانو ته په برخه کيږي کوم چي د صالح عقائدو او پاکو اعمالو حامل وي.

ځيني حضرات وايي چي د ذکر سوي ارشاد تعلق محض د هغه مؤمنانو سره دی چي د نفس په فريب کي په راتلو سره په گناه او معصيت کي اخته کيږي، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي پر کومو بندگانو باندي د الله ﷻ رحمت متوجه کيږي او هغه غواړي چي هغوئ د گناه او معصيت څخه پاک له دنيا څخه پورته کړي نو هغوئ په فقر او لوږه کي اخته کوي او د هغوئ هغه فقر او لوږه په دنيا کي د هغوئ د گناهو کفاره کيږي يا هغوئ په يو داسي مصيبت او پريشاني کي اخته وي چي هغوئ ته خبرداري تر لاسه کيږي او هغوئ د توفيق الهي په وجه د خپلو گناهو څخه د زړه په صدق سره توبه کوي.

خلاصه دا چي کوم مؤمن گناه وکړي او د الله تعالی له خوا لطف خفي د هغه شامل حال وي نو هغه د فقر او لوږي يا بل تکليف په ذريعه د هغه گناه څخه پاکيږي او که خدای مه کړه هغه ددې هم مستحق نه سي چي د الله تعالی لطف او کرم د فقر او لوږي يا بل مصيبت په ذريعه د هغه گناهونه ختم کړي نو بيا هغه پر خپل حال باندي تر پايه پوري په گناهو کي اخته وي او په دغه حالت کي له دنيا څخه ولاړ سي او په آخرت کي به سزا تر لاسه کړي، نعوذ باالله من ذالک.

د مور او پلار سره د نيکۍ ثواب

﴿۴۷۰۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلْتُ

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه په جنت کي داخل سوم

الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ فِيْهَا قِرَاءَةً فَقُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالُوْا حَارِثَةُ بْنُ النُّعْمَانِ كَذٰلِكُمُ

نو هلته ما د قرآن ويلو آواز واوريدئ ما پوښتنه وکړه چي دا څوک دئ، ملائکو راته وويل: حارثه بن نعمان دئ. (د دې په اوريدو سره) د صحابه کرامو په زړه کي دا خيال پيدا سو چي حارثه ته دا درجه څنگه په برخه سوه، رسول الله ﷺ د سبب بيانولو سره وفرمايل: دا ثواب دئ

الْبِرُّ كَذٰلِكُمُ الْبِرُّ وَكَانَ أَبَرَّ النَّاسِ بِأُمِّهِ. رواه في شرح السنة والبيهقي في

شعب الإيمان وفي رواية قال نمت فرأيتني في الجنة بدل دخلت الجنة.

(د مور او پلار سره) د نیکی کولو ، دا ثواب دئ (د مور او پلار سره) دنیکی کولو او حارثه بن نعمان د مور سره ډیر ښه چلن کونکی وو . شرح السنه او بیهقي، او دده په یو روایت کي دي چي نبي کریم ﷺ ویلي دي چي زه بیده سوم نو ځان مي په جنت کي ولیدی په بدل د داخلیدلو جنت ته.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۷، رقم: ۳۴۱۸، والبيهقي في شعب الايمان ۶\۱۸۴، رقم: ۷۸۵۱.

د پلار رضا او ناراضګي

﴿۴۷۱۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله جل جلاله رضا مندي د پلار په رضامندی کي ده او د الله جل جلاله ناراضګي د پلار په ناراضګی کي ده ، ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۷۴، رقم: ۱۸۹۹.

تشريح: دغه حکم د مور هم دی بلکه مور ددې زیاته ور ده ، خلاصه دا که چیري تاسو د خپل خدمت او طاعت او ښه چلن په ذریعه مور او پلار خوشحاله وساتئ نو ستاسو پروردګار به هم ستاسو څخه خوشحاله وي او که تاسو د نافرمانی او سرکښی په ذریعه مور او پلار ناراضه کړئ نو ستاسو پروردګار به هم ستاسو څخه ناراضه وي .

پلار د جنت د دروازو څخه دئ

﴿۴۷۱۱﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ لِيَ امْرَأَةً وَإِنَّ أُمِّي تَأْمُرُنِي

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه ته یو سړی راغلئ او وه یې ویل زما مور غواړي

بِطَلَاقِهَا فقال له أَبُو الدَّرْدَاءِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

چي زه خپل ښځي ته طلاق ورکړم؟ ابو درداء هغه ته وویل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي

الْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ فَإِنْ شِئْتَ فَحَافِظْ عَلَى الْبَابِ أَوْ ضَيِّعْ. رواه

التر مذي وابن ماجة.

چي پلار د جنت د غوره دروازو څخه دئ که ته غواړې ددې دروازې ساتنه وکړې او که غواړې دا دروازه ضائع کړې. ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۷۵، رقم: ۱۹۰۰، وابن ماجه ۱\۶۷۵، رقم: ۲۰۸۹.

تشريح: حضرت ابو درداء رضي الله عنه د حديث بيانولو څخه وروسته د خپل دغه قول (نو تاته اختيار دی..الخ) په ذريعه پر هغه سړي څرګنده کړه که چيري ته د خپل مور د خواهش سره سم خپلي ښځي ته طلاق ورکړې نو ددې مطلب به دا وي چي تا دهغې د رضا تر لاسه کولو لپاره په جنت کي د داخلېدو لپاره غوره دروازه اختيار کړې ده کنه نو ته به ددغه دروازې پرېښودونکی ګڼل کېږې.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ارشاد کي که څه هم د پلار ذکر دی مګر ابو درداء رضي الله عنه دا مسئله اخذ کړه چي کله د پلار په حق کي داسي فرمايل سوي دي نو مور خوبه په درجه اولی ددغه ارشاد محمول ګرځول کيږي يا دا چي لفظ د والد څخه يوازې پلار مراد نه دی بلکه جنس يعني پيدا کېدونکی مراد دی او دا خبره زياته مناسب ده ځکه چي د پيدا کونکي په مفهوم کي پلار او مور دواړه داخل دي.

د مور او پلار سره ښه کول

﴿۴۷۱۲﴾: وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ أَبَرُّ قَالَ أُمَّكَ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ أُمَّكَ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ أُمَّكَ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبَاكَ ثُمَّ الْأَقْرَبَ فَالْأَقْرَبَ. رواه الترمذي وابوداؤد.

حضرت بهز بن حکيم رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي ما وويل: اې د الله رسوله! زه د چا سره نيکي وکړم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل د خپلي مور سره، ما وويل: بيا د چا سره؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: د خپلي مور سره، ما بيا پوښتنه وکړه بيا د چا سره؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل د خپلي مور سره، ما بيا پوښتنه وکړه: بيا د چا سره؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل د خپل پلار سره، بيا د نژدې خپلوانو سره بيا هغو ته د نژدې خپلوانو سره. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۵۱، رقم: ۵۱۳۹، والترمذي ۴\۲۷۳، رقم: ۱۸۹۷.

﴿۴۷۱۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ
د حضرت عبد الرحمن بن عوف رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي
وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللهُ تبارك وتعالى اَنَا اللهُ وَ أَنَا الرَّحْمَنُ خَلَقْتُ الرَّحِمَ وَ
چي الله تعالى فرمايي : زه الله يم ، رحمان يم ما رحم (خپلوي) پيدا کړه او رحم مي د خپل رحمان
شَقَقْتُ لَهَا مِنْ اسْمِي فَمَنْ وَصَلَهَا وَصَلْتُهُ وَمَنْ قَطَعَهَا بَتَتُّهُ. رواه ابوداؤد.
نوم څخه را وايستئ ، کوم څوک چي خپلوي يو ځای کوي هغه به د خپل رحمت سره يو ځای کړم او څوک چي خپلوي ماتوي هغه به د خپل رحمت څخه ليري کړم . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۲\۳۲۲، رقم: ۱۶۹۴.

د لغاتو حل: بتته: اى قطعته من رحمتي الخاصة.

تشريح: زه الله يم : يعني زه واجب الوجود يم چي زما ذات د خپل وجود او خپل حکم او فيصلې په نفاذ کي د چا محتاج نه دی ، دغه جمله په اصل کي د مخکي ارشاد د ارزښت څرګندولو لپاره د تمهيد په توګه ده او په هغه تمهيد کي يې مخکي د اسم خاص ذکر وکړ او بيا د خپل صفت رحمان ذکر يې وکړ چي د هغه لفظي ماده اشتقاق هغه ده کوم چي د رحم ده .

﴿۴۷۱۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لاَ تَنْزِلُ الرَّحْمَةَ عَلَى قَوْمٍ فِيهِمْ قَاطِعُ رَحِمٍ .رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت عبد الله بن ابي اوفى رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي فرمايل يې : پر هغه قوم د الله تعالى رحمت نه نازليږي چي په هغوئ کي خپلوي ماتونکي وي . بيهقي په شعب الايمان کي .

تخريج: لم نجده عند البيهقي.

تشريح: د قوم څخه مراد ټول قوم نه دی بلکه محض هغه خلک مراد دي چي د قرابت ماتونکي مرسته او ملګرتيا کوي يا هغوئ د خپلو قريبانو سره د بد چلن او قرابت ماتولو څخه منع نه

كوي . دا هم كيداى سي چي د رحمت څخه باران مراد وي يعني په كومه سيمه كي چي د قرابت ماتونكى وي نو د قرابت ماتولو په وجه هغه قوم يا سيمه د باران څخه محروم كيږي .

خطرناكه گناه

﴿۴۷۱۵﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ ذَنْبٍ أَحرى أَنْ يُعَجِّلَ اللَّهُ لِصَاحِبِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا مَعَ مَا يَدَّخِرُ لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْبَغْيِ وَقَطِيعَةِ الرَّحِمِ . رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابوبكرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅ گناه ددې ور نه ده چي الله تعالى د هغه كونكي ته ډير ژر په دنيا كي د هغه بدله وركړي او په آخرت كي هم عذاب د هغه لپاره جمع كړي مگر دوه گناهونه ددې ور دي او هغه دادي چي ظلم (بغاوت) كول او دويم د خپلوۍ پريكول . ترمذي او ابوداؤد .

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۷۳، رقم: ۲۵۱۱، سنن ابي داود ۵\ ۲۰۸، رقم: ۴۹۰۲.

تشريح: ددغه حديث څخه څرگنديږي چي د خپل هيواد د مشر او حكومت پر خلاف سركشي كول او د قرابت ماتول يعني د خپلو قريبانو سره بد چلن كول او دهغوئ د حقوقو نه ادا كول ډيره سخته گناه ده ، فرمايل سوي دي چي ددغه دواړو گناهو كونكي ته محض په آخرت كي عذاب نه وركول كيږي بلكه الله تعالى به هغوئ ته په سزا وركولو كي تلوار كوي په دې توگه چي هغوئ به په دنيا كي هم د خپلو گناهو سزا خوري ، يعني داسي خلك نه په دنيا كي ارام تر لاسه كولاى سي او نه په آخرت كي، دلته به هم سزا تر لاسه كوي كه په هر صورت كي وي او هلته به هم په عذاب كي اخته وي ځكه چي دغه دواړي گناوي داسي دي چي د هغو اثرات يوازي ديني ژوند ته تاوان نه رسوي بلكه په دنيا كي هم خراب نتائج مرتب كوي ، د حكومت پر خلاف په سركښۍ كولو سره د ټول هيواد نظم او نظام بربادېږي ، ټول قوم په مختلفو مصيبتو كي اخته كيږي او تر ټولو لوى تاوان دا وي چي قومي او ملي توانايي د ناڅاپه انتشار ښكار كيږي چي په هغه سره دښمن ته د غالب كېدو موقع تر لاسه كيږي، همدارنگه د قرابت په ماتولو سره په خپلو كي نفرت او عداوت پيدا كيږي او په زړو كي خيرنتوب پيدا كيږي ،

ددې نتيجه به دا وي چي هغه قريبانو چي په خپلو كي د ميني په ذريعه د يو بل په غم او درد كي اخته كېدل نو هغوئ د جگړو او انتشار په وجه په سخت جسماني او روحاني پريشانيو كي

اخته کيږي ، د دغه ګناهو کونکو ته په دنيا کي زيات وخت نه ورکول کيږي بلکه د الله تعالی له خوا د هغوئ د سزا فيصله ژر صادريږي چي هغوئ مخکي خو په دنيا کي د خپلو کړو نو سزا تر لاسه کوي او د نورو لپاره د عبرت سامان جوړيږي او بيا په آخرت کي هم په عذاب کي اخته کيږي او دا خبره څرګنده ده چي په دنيا کي هم سزا تر لاسه کول او په آخرت کي هم په عذاب کي اخته کېدل محض د دغه ګناهو سره خاص نه دي ، کېداى سي چي نور ګناهونه هم داسي وي ، مګر په دې کي شک نسته چي دغه دواړه ګناهونه ډېر سخت دي .

﴿۴۷۱۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ وَلَا عَاقٌّ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ. رواه النسائي والدارمي.

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي به هغه څوک نه داخليږي چي زيات احسان اچونکی وي او نه هغه سړی چي د مور او پلار نافرماني کونکی وي او نه شرابي . نسائي او دارمي .

تخريج: سنن النسائي ۵\ ۸۰، رقم: ۲۵۶۲، والدارمي ۲\ ۱۵۳، رقم: ۲۰۹۴.

تشريح: منان په اصل کي د منة څخه مشتق دی چي معنی يې داده : چا ته چي څه ورکړل سي يا د چا سره چي نيکي وکړل سي او بيا پر هغه احسان واچول سي ، دغه عادت ډېر بد دی ، په قرآن کريم کي راغلي دي: (لا تبطلوا صدقاتكم بالمن والاذى) ، په احسان اچولو او تکليف ورکولو سره خپل خيراتونه مه ضائع کوئ .

ځينو حضراتو د منان لفظ په اړه ويلي دي چي دغه لفظ د من څخه مشتق دی چي د هغه معنی د پرېکولو ده نو د منان معنی دا سوه چي هغه سړی چي قرابت مات کړي .

د عاق څخه مراد هغه سړی دی چي مور او پلار او نورو قريبانو ته بېله يو شرعي وجه تکليف ورسوي ، يا د عاق اطلاق په خاصه توګه پر هغه چا باندي کيږي چي مور او پلار يا د دواړو څخه يوه ته تکليف ورکړي .

په جنت کي د نه داخلېدو څخه مراد دادی چي داسي خلک به د الله تعالی د هغه نيک او صالحو بندګانو سره په جنت کي نه داخليږي کوم چي د آخرت د حساب او کتاب په ورځ خلاصون تر لاسه کونکي وي او بېله بنديزه به په جنت کي داخل کړل سي، يا دا مراد دی چي دغه خلک به د عذاب څخه پرته په جنت کي نه داخليږي يعني مخکي به د خپلو ګناهو سزا

خوري او بيا به جنت ته داخليږي مگر که الله تعالی وغواړي نو بېله عذاب به يې په جنت کي داخل کړي ځکه چي هغه دا وعده کړې ده چي : (و يغفر ما دون ذلک لمن يشاء) او ددې څخه پرته چا ته چي وغواړي بخښني يې.

د خپلوانو سره ښه چلن

﴿۴۷۱۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوا

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل نسبونه تاسو يوازي

مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ

دومره زده کړئ چي په هغه سره تاسو د خپل خپلوانو سره صله رحمي وکړلای سئ ځکه چي د خپلوانو سره صله رحمي کول په

مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ مَنْسَأَةٌ فِي الْأَثَرِ. رواه الترمذي وقال هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

خپلوانو کي د مينې باعث، په مال کي د زياتوب او برکت سبب او د عمر د اوږدوالي سبب دئ. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۳۰۹\۴، رقم: ۱۹۷۹.

د لغاتو حل: منساة: اى تاخير. (مُنجد)

تشريح: مطلب دادی چي تاسو د خپل پلار، نيکونو، ميندو، اناگانو او د هغوئ د اولاد او نورو قريبانو سره قرابت کوئ، دهغوئ په نومو ځان خبر کړئ او دهغوئ د حالاتو څخه خبردار اوسئ، ذوي الارحام و پېژنئ چي دهغوئ سره ښه چلن کول ستاسو ذمه داري ده او دا پېژندل ضروري او گټور دي.

خاله د مور په درجه کي

﴿۴۷۱۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَصَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا فَهَلْ لِي من تَوْبَةٌ قَالَ هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ قَالَ لَا قَالَ هَلْ لَكَ مِنْ خَالَةٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَبِرَّهَا. رواه الترمذي.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چې يو سړي د نبي كريم ﷺ په خدمت كې ووېل چې اې دالله رسوله ! ما يوه لويه ګناه كړې ده ايا زما توبه قبليدلاى سي ؟ رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وكړه ايا ستا مور ژوندۍ ده ؟ هغه ووېل :يا، رسول الله ﷺ بيا پوښتنه وكړه ايا ستا خاله ژوندۍ ده ؟ هغه ووېل: هو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د هغې سره ښه چلن كوه . ترمذي.

تخريج: لم نجده عند الترمذي.

تشريح: ددغه حديث څخه څرګنده سوه چې د قريبانو سره ښه چلن د ګناهو د كفارې ذريعه ده كه څه هم هغه لوى ګناهونه وي، دا هم كيداى سي چې رسول الله ﷺ ته د وحي په ذريعه ښودل سوي وي چې ښه چلن كول د كبيره ګناهو كفاره كېدل د هغه چا سره خاص دي نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل چې ته د خپلي خاله سره ښه چلن كوه نو ستا ګناه به وبخښل سي يا دا چې د هغه سړي څخه كومه ګناه سوې وه هغه كبيره نه وه بلكه په حقيقت كې صغيره ګناه وه مګر د هغه سړي د خپل ټينګ ايمان او احتياط په وجه هغه ګناه لويه وګڼل ، ددغه حديث څخه دا هم معلومه سوه چې خاله د مور درجه لري .

د مور او پلار د وفات وروسته نيكي

﴿۴۷۱۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُسَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابو اسيد ساعدي رضي الله عنه څخه روايت دئ چې موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چې د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلَمَةَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَلْ بَقِيَ مِنْ بِرِّ

قبيله بنو سلمه يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سو او عرض يې وكړ اې دالله رسوله ! د مور او پلار سره د ښه چلن كولو زما لپاره څه پاته دي

أَبَوَيَّ شَيْءٌ أَبَرُّهُمَا بِهِ بَعْدَ مَوْتِهِمَا قَالَ نَعَمْ الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا وَالْاِسْتِغْفَارُ لَهُمَا

چې زه يې د وفات څخه وروسته د هغوئ سره وكړم ؟ ايا د هغوئ د وفات څخه وروسته يو داسي صورت سته چې د هغوئ سره ښه چلن وكړم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هو، د هغوئ لپاره دعاء كوه ، استغفار كوه

وَإِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِي لَا تُوصَلُ إِلَّا بِهِمَا وَإِكْرَامُ صَدِيقِهِمَا. رواه ابوداؤد وابن ماجة.

او د هغوئ وصیت پوره کوه او د هغوئ د خپلوانو سره ښه چلن کوه چي د هغوئ د خپلوانو سره ښه چلن کول د هغوئ د خپلوی په سبب وي او د مور او پلار د دوستانو عزت کوه . ابوداؤد او ابن ماجه.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۴۲، رقم: ۵۱۴۲، وابن ماجه ۲\۱۲۰۸، رقم: ۳۶۶۴.

د رضعي مور بي بي حليمې احترام

﴿۴۷۲۰﴾: وَعَنْ اَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ

د حضرت ابو طفیل رضي الله عنه څخه روایت دئ چي په جعرانه نامي ځای کي ما رسول الله ﷺ په

لَحْمًا بِالْجِعِرَّانَةِ إِذْ أَقْبَلَتْ امْرَأَةٌ حَتَّى دَنَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

غوښو ويشلو وليدئ ، ناڅاپه يوه ښځه راغلل او رسول الله ﷺ ته نژدې ورغلل ، رسول الله ﷺ

فَبَسَطَ لَهَا رِدَاءَهُ فَجَلَسَتْ عَلَيْهِ فَقُلْتُ مَنْ هِيَ فَقَالُوا هِيَ أُمُّهُ الَّتِي أَرْضَعَتْهُ.

رواه ابوداؤد

د هغې لپاره څادر وغوړوئ او پر هغه څادر یې کښېنول ، ما پوښتنه وکړه : دا څوک ده ؟ خلکو راته وويل : دا د رسول الله ﷺ هغه مور بي بي ده چي رسول الله ﷺ ته یې په ورکتوب کي تی ورکړی وو . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۵۳، رقم: ۵۱۴۴.

تشريح: په حديث کي چي د کومي ښځي يادونه سوې ده هغه حليمه بي بي ده چي هغې ته د رسول الله ﷺ د رضاعي (تی ورکونکي) مور شرف حاصل دی، رسول الله ﷺ ته ددغه بي بي څخه پرته بلي بي بي په پيل کي تر څو ورځو پوري تی ورکړی وو چي د هغې نوم ثوبيه وو چي د ابولهب مينځه وه ، د دواړو د اسلام په اړه د علماؤ اختلاف دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

درې کسان په غار کي

﴿۴۷۲۱﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دري کسان روان وه چي

يَتَمَاشَوْنَ أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ فَمَالُوا إِلَى غَارٍ فِي الْجَبَلِ فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ

باران ونیول ، هغوئ د یو غره په غار ننوتل ، په دغه وخت کي د غار خولې ته

صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ انْظُرُوا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوهَا

یوه لویه ډبره راغلل چي د غار خوله یې بنده کړه، دري سره کسانو یو بل ته وویل پر خپلو نیکو عملونو نظر واچوئ کوم چي مو کړي وي

لِلَّهِ صَالِحَةً فَادْعُوا اللَّهَ بِهَا لَعَلَّهُ يُفَرِّجُهَا فَقَالَ أَحَدُهُمُ اللَّهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِي وَالِدَانِ

خاص د الله جل جلاله لپاره او د هغه عمل په واسطه د الله جل جلاله څخه دعاء وغواړئ، امید دئ چي الله تعالی دا ډبره زموږ څخه لیري کړي نو په هغوئ کي اول نفر وویل : اې الله ! زما مور او پلار

شَيْخَانِ كَبِيرَانِ وَلِي صِبْيَةٌ صِغَارٌ كُنْتُ أَرْعَى عَلَيْهِمْ فَإِذَا رُحْتُ عَلَيْهِمْ فَحَلَبْتُ

ډیر سپین بږیري وه او زما یو څو کوچنیان بچیان وه ما به پسونه پیول چي د هغو شیدې په دوئ تږلو وچېښم کله چي به ماښام سو نو کور ته به راغلم شیدې به مي ولوېشلې

بَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ أَسْقِيهِمَا قَبْلَ وَلَدِي وَإِنَّهُ قَدْ نَاءَ بِيَ الشَّجَرُ فَمَا أَتَيْتُ حَتَّى

لومړی به مي مور او پلار ته ورکړې بیا خپلو کوچنیانو ته ، یوه ورځ داسي وسوه چي د پسو په پیولو پیولو سره زه ډیر لیري ولاړم او پر وخت کور ته نه راورسیدم تر څو چي

أَمْسَيْتُ فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ أَحْلُبُ فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ فَقُمْتُ

ماښام سو (کله چي کور ته راغلم) نو وینم چي مور او پلار مي دواړه بیده سوي دي ما د مخکي په ډول شیدې ولوېشلې بیا د شیدو لوښی مي واخیست

عِنْدَ رُءُوسِهِمَا أَكْرَهُ أَنْ أُوقِظَهُمَا وَأَكْرَهُ أَنْ أَبْدَأَ بِالصِّبْيَةِ قَبْلَهُمَا وَالصِّبْيَةُ

مور او پلار ته ورغلم د هغوئ سر ته ودریدم د هغوئ راویښول راته بد معلوم سول او دا هم راته بد ښکاریدل چي کوچنیانو ته د مور او پلار څخه مخکي شیدې ورکړم کوچنیان

يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمَيَّ فَلَمْ يَزَلْ ذٰلِكَ دَأْبِي وَدَأْبُهُمْ حَتّٰى طَلَعَ الْفَجْرُ فَإِنْ كُنْتَ

زما د پښو سره دلوږي څخه لغړېدل او زه شيدې په لاس كې ولاړ وم تر دې چې سهار سو ،

تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ فَفَرَجَ

اې الله تا ته معلومه ده كه ما دا كار خاص ستا د رضا لپاره كړى وي نو دا ډبره دومره ليرې كړې چې موږ آسمان وليدلاى سو ، نو الله پاک هغه ډبره د غار د خولې څخه دومره آخوا كړل

اللهُ لَهُمْ فُرْجَةً الله لهم يَرَوْنَ مِنْهَا السَّمَاءَ وَقَالَ الثَّانِي اللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَتْ لِي ابْنَةُ

چې هغوئ اسمان ليدلاى سو (۲) : دويم سړي وويل : اې الله ! زما د عمه يوه لور وه

عَمٍّ أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ فَطَلَبْتُ إِلَيْهَا نَفْسَهَا فَأَبَتْ حَتّٰى آتِيَهَا

زما د هغې سره ډيره مينه وه داسې مينه لكه څرنګه چې د سړي د ښځې سره كيدلاى سي ما هغې ته د جماع خواهش څرګند كړ هغې وويل تر څو پورې چې

بِمِائَةِ دِينَارٍ فَسَعَيْتُ حَتّٰى جَمَعْتُ مِائَةَ دِينَارٍ فَلَقِيتُهَا بِهَا فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ

سل ديناره را نه كړې داسې نه سي كيدلاى ، ما كوښښ وكړ سل ديناره مې جمع كړل او د هغو دينارو سره راورسيدم ، كله چې زه كښينستم

رِجْلَيْهَا قَالَتْ يَا عَبْدَ اللهِ اتَّقِ اللهَ وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ فَقُمْتُ عَنْهَا اللّٰهُمَّ فَإِنْ

د هغې د دواړو پښو په منځ كې (يعني د جماع لپاره) نو هغې راته وويل اې د الله ﷻ بنده د الله څخه وبيرېږه او مُهر مه ماتوه (يعني پيغلتوب مې مه ضائع كوه) زه د الله ﷻ د بيرې څخه سمدستي ولاړ سوم (يعني د هغې سره مې جماع ونه كړل) اې الله ! كه چيرې

كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي قَدْ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا فَفَرَجَ لَهُمْ فُرْجَةً

ستا په نزد زما دا كار خاص ستا د رضا لپاره وو نو دا ډبره يو څه ليرې كړې ، نو الله تعالى هغه ډبره لږ نوره هم ليرې كړه .

وَقَالَ الْآخَرُ اللّٰهُمَّ إِنِّي كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ فَلَمَّا قَضَى عَمَلَهُ قَالَ

(۳) دریم کس وویل اې الله! ما یو سړی د یوې پیمانې وریجو په بدله کي په مزدورۍ ولګوئ، کله چي هغه سړي خپل کار ختم کړ ما مزدوري ورکول

أَعْطِنِي حَقِّي فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَقَّهُ فَتَرَكَهُ وَرَغِبَ عَنْهُ فَلَمْ أَزَلْ أَزْرَعُهُ حَتَّى جَمَعْتُ

خو هغه پرېښودل او بیا هغه د خپل حق اخیستو په لور توجه ونه کړل ما د هغه د مزدورۍ په وریجو سره کښت پیل کړ تر څو چي د هغه د وریجو په قیمت سره

مِنْهُ بَقَرًا وَرَاعِيهَا فَجَاءَنِي فَقَالَ اتَّقِ اللهَ وَلَا تَظْلِمْنِي وَأَعْطِنِي حَقِّي فَقُلْتُ اذْهَبْ

ما ډیر غوایان او غوبه (د غوایانو شپانه) جمع کړل ددې څخه وروسته هغه مزدور ما ته راغلئ او وه یې ویل: د الله ﷻ څخه وبیرېږه پر ما ظلم مه کوه زما حق ما ته راکړه ما ورته وویل:

إِلَى ذَلِكَ الْبَقَرِ وَرَاعِيهَا فَقَالَ اتَّقِ اللهَ وَلَا تَهْزَأْ بِي فَقُلْتُ إِنِّي لَا أَهْزَأُ بِكَ فَخُذْ

دا غوایان او غوبه (د غوایانو چوپان) بوځه دا ستا حق دئ، هغه راته وویل د الله ﷻ څخه و بیرېږه او مسخرې راسره مه کوه، ما ورته وویل زه مسخرې نه درسره کوم

ذَلِكَ الْبَقَرَ وَرَاعِيهَا فَأَخَذَهُ فَانْطَلَقَ بِهَا فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَافْرُجْ مَا بَقِيَ فَفَرَجَ اللهُ عَنْهُمْ. متفق عليه.

دا غوایان او غوبه د ځان سره بوځه، هغه ټول یو ځای کړل او د ځان سره یې بوتلل، اې الله ﷻ! زما دا عمل که ستا په نزد ستا د رضا لپاره وو نو دا ډبره لیري کړې نو الله تعالی هغه ډبره لیري کړه او لاره ورته خلاصه سوه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٠٥-٥٠٦، رقم: ٣٤٦٥، ومسلم ١٤\٢٠٩٩، رقم: ١٠٠- ٢٧٤٣.

د لغاتو حل: ناي بي الشجر: اى بعد بي طلب المرعى. يتضاغون: اي يضجون ويصيحون من الجوع. الفرق: مكيال يسع ستتة عشر رطلا.

تشريح: کله چي هغه زوی زما په پښو کي ولګېدل ...الخ: ددې څخه معلومېږي چي دغه پېښه د کوم قوم سره متعلق وه د هغوئ په شریعت کي د مور او پلار حق د اولاد پر نفقې او حق باندې مقدم وو ځکه نو هغه سړي خپل مور او پلار ته د شیدو ورکولو څخه مخکي خپلو بچیانو ته شیدې ورکول خوښ نه کړل حال دا چي هغوئ د لوږې څخه ژړل مګر د ځینو حضراتو د قول

سره سم كيداى سي چي هغه سړي خپلو كوچنيانو ته د ضرورت په اندازه شيدې وركړي وي مگر هغوئ په دغه اندازه شېدو مطمئن سوي نه وي او د نورو شېدو ښبنلو لپاره يې ژړل.

فرق، په مدينه منوره كي د يو پيمانې نوم دى چي په هغه كي شپاړس رطل يعني تقريبا اته سيره غله راځي، دغه پيمانه به په عامه توگه د غلې او نورو شيانو د اندازه كولو لپاره استعمالېدل، د غويانو د خادمانو څخه مراد هغه غلامان دي چي د كرني، د څارويو د څرولو او ساتني باندي مامور وه، په حديث كي د هغه وريجو د كښت څخه د تر لاسه كيدونكي مال په توگه يوازي د غوايانو او خادمانو ذكر د اكثر او اغلب په توگه دى چي هغه سړي وريجي په خپل كښت كي كرلو سره ډېر څه تر لاسه كړه تر دې چي په هغه سره ډېر مال جمع سو لكه غويان، اوښان، پسونه او داسي نور.

ددغه حديث څخه مختلف مسائل اخذ كيږي، يوه دا خبره معلومه سوه چي د سخت مصيبت په وخت كي د خپل نېک عمل وسيله جوړول او د الله ﷻ څخه غوښتل مستحب دي لكه څرنگه چي الله تعالى د هغه درو كسانو دعاء قبوله كړه او د رسول الله ﷺ دغه پېښه د مدح، تعريف او فضيلت په توگه د صحابه كرامو په مخكي بيانول ددې دليل دى، او كه چيري دا مستحب نه وي نو ددې د جائز كېدو هيڅ شكه او شبه نسته.

دوهمه خبره دا معلومه سوه چي د مور او پلار سره ښه چلن كول او هغوئ ته پر اولاد باندي ترجيح وركول، هغوئ ته د تكليف وركولو څخه ځان ساتل او په هر صورت كي د هغوئ د ارام او سكون خيال ساتل لويه خبره ده. دريمه خبره دا معلومه سوه چي كوم څوک بېده وي او هغه سړى د احترام او تعظيم وړ وي نو د هغه د خوب څخه راپورته كول مكروه دي، پرته د هغه صورت څخه كله چي هغه لمونځ نه وي كړى او د فرض لمانځه وخت ختميږي.

څلورمه خبره دا معلومه سوه چي د خوب راحت د خوراک او څښاک څخه زيات خوندور دى چي دخوب خوند د لوږي په حالت كي هم غالبه وي.

پنځمه خبره دا معلومه سوه چي عفت او د نفس د حرامو كارو څخه ساتل په خاصه توگه په هغه صورت كي كله چي هيڅ ډول خنډ نه وي ډېره غوره خبره ده او د انساني كردار د عظمت دليل دى، د نفس خواهش په خاصه توگه جنسي خواهش چي د نورو ټولو خواهشاتو په مقابله كي ډېر زيات غالب او سركښ دى چي انسان د سختو حالاتو سره مخامخ كوي كه چيري يو سړى د هغه په مخكي كي بې بسه سي نو عقل او د حرام او حلال په مينځ كي د تميز كولو صلاحيت ختميږي نو د جنسي خواهش دومره سختي غلبې په صورت كي چي د پوره كولو په

لاره کي خنډ هم نه وي د يو سړي پر عين موقع باندي نفس وژل او د حرام کار څخه منع کېدل د يو مثالي عظمت مظهر دی.

شپږمه خبره دا معلومه سوه چي د بل چا په مال کي د هغه د اجازې څخه پرته تصرف کول جائز دی، په شرط ددې چي وروسته هغه ته اجازه ورکړل سي لکه څرنګه چي د امام ابو حنيفة رحمة الله عليه مذهب دی چي د فضولي تصرف جائز کېږي او دغه جواز د مالک پر اجازې موقوف دی که چيري مالک اجازه ورکړي نو هغه تصرف نافذ العمل ګرځي.

اوومه خبره دا معلومه سوه چي نېک عهد او اقرار، د امانت ادا کول او ښه معامله کول نه يوازي دا چي غوره شی دی بلکه د انسان د آفاتو او مصيبتو څخه د خلاصون باعث دی.

اتمه خبره دا معلومه سوه چي کله بنده په يو مصيبت او آفت کي اخته سي نو د هغه لپاره دعاء کول غوره دي ځکه چي هغه دعاء قبلېږي او بنده ته د هغه آفت او مصيبت څخه د خلاصون ذريعه جوړېږي.

نهمه خبره دا معلومه سوه چي د الله تعالی د نېکو او صالحو بندګانو په ذريعه د داسي شيانو ظاهرېدل چي د عام انسانئ عادت خلاف وي و هغه ته کرامات ويل کېږي، پر حق دي او د کراماتو په صداقت کي څه شبه کول نه دي پکار لکه څرنګه چي د اهل سنت والجماعت مذهب دی.

جنت د مور او پلار تر قدمو لاندي

﴿۴۷۲۲﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ جَاهِمَةَ اَنَّ جَاهِمَةَ جَاءَ إِلَى النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د معاويه بن جاهمه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي جاهمه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کي وويل: اې

وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَدْتُ الْغَزْوَ وقد جئت أَسْتَشِيرُكَ فَقَالَ هَلْ لَكَ

دالله رسوله! زما جهاد ته د تللو اراده ده زه ستاسو څخه د مشورې اخيستلو لپاره راغلی يم، رسول الله صلى الله عليه وسلم پوښتنه وکړه ايا ستا

مِنْ أُمٍّ قَالَ نَعَمْ فَقَالَ الْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا. رواه احمد والنسائي

مور سته؟ (يعني ژوندی ده) هغه وويل: هو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل د خپل مور خدمت کوه جنت د مور تر قدمو لاندي دئ. احمد، بيهقي او نسائي.

تخريج: مسند الامام احمد ۳\۴۲۹، والنسائي ۶\۱۱، رقم: ۳۱۰۴، والبيهقي في الشعب ۶\۱۷۸.

تشريح: جنت د مور په قدمو كي دى: مطلب دادى چي ته جهاد ته د تللو پر ځاى د مور په قدمو كي په پرېوتلو سره د هغې اطاعت او خدمت كول زيات ضروري وګڼه ځكه چي دمور اطاعت او خدمت جنت ته د تللو ذريعه ده ، يعني ددغه جملې په ذريعه د هغه تواضع، انكسارۍ او عاجزۍ بيانول مقصد دي چي د هغه حكم اولاد ته وركړل سوى دى لكه څرنګه چي د الله تعالى ارشاد دى : (وحفض لهما جناح الذل من الرحمة) : او د مور او پلار په مخكي د شفقت څخه په عاجزۍ سر كښته كړه .

د پلار د حكم احترام كوه

﴿۴۷۲۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَتْ تَحْتِي امْرَأَةٌ أُحِبُّهَا وَكَانَ عُمَرُ يَكْرَهُهَا

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دئ چي زما په نكاح كي يوه ښځه وه چي زما ورسره ډيره مينه وه او زما پلار حضرت عمر ﷛ به د هغې څخه نفرت كوئ ،

فَقَالَ لِي طَلِّقْهَا فَأَبَيْتُ فَأَتَى عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ لِي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلِّقْهَا. رواه الترمذي وابوداؤد.

يوه ورځ زما پلار راته وويل: ته دې ښځي ته طلاق وركړه ، ما انكار وكړ ، حضرت عمر ﷛ د رسول الله ﷺ په مخكي پېښه بيان كړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل: دې ښځي ته طلاق وركړه . ترمذي او ابوداؤد

تخريج: سنن الترمذي ۳\ ۴۹۴، رقم: ۱۱۸۹، وابوداود ۵\ ۳۵۰، رقم: 5138.

تشريح: د رسول الله ﷺ ، ابن عمر ﷛ ته دا فرمايل چي هغه ښځي ته طلاق وركړه ، دغه وينا يا خو د استحباب په توګه وه يا كيداى سي چي هغه ښځي ته د طلاق وركولو يو بل شرعي عذر هم وو چي د هغه په وجه ابن عمر ﷛ ته د هغه ښځي څخه د بېلوالي اختيارول ضروري سوى وو ، نو بيا به ويل كيږي چي د رسول الله ﷺ مذكوره ارشاد د وجوب په توګه وو .

د مور او پلار اهميت

﴿۴۷۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا حَقُّ الْوَالِدَيْنِ عَلَى وَلَدِهِمَا قَالَ هُمَا جَنَّتُكَ وَنَارُكَ . رواه ابن ماجة.

د ابو امامه رضی الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي وويل: اې دالله رسوله! د مور او پلار پر اولاد څه حق دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: مور او پلار د اولاد لپاره جنت هم دي او دوږخ هم. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۲۰۸، رقم: ۳۶۶۲.

تشريح: د دغه ارشاد په ذريعه په ډېر بليغ انداز كي د مور او پلار ارزښت او د هغوئ د عظمت شان ظاهر سوی دی چي هغه ستا لپاره د جنت لار هم اسانه كولای سي او تا د دوږخ مستوجب هم جوړولای سي نو وفرمايل سول چي پر اولاد باندي د مور او پلار حق دادی چي د هغوئ د رضا او خوشحالۍ په هر صورت لحاظ وساتل سي چي جنت د تللو ذريعه ده او د هغوئ د نافرمانۍ څخه پرهيز وكړل سي چي دوږخ ته د تللو باعث دی، خلاصه دا كه چيري د اطاعت او خدمت په ذريعه مور او پلار خوشحاله وساتي نو جنت ته به ځي او كه د نافرمانۍ او بې پرواهۍ په ذريعه مور او پلار ناراضه سي نو په دوږخ كي به واچول سي.

د مور او پلار د مرګ وروسته د ثواب رسولو ذريعه

﴿۴۷۲۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَمُوتُ وَالِدَاهُ أَوْ أَحَدُهُمَا وَإِنَّهُ لَهُمَا لَعَاقٌّ فَلَا يَزَالُ يَدْعُو لَهُمَا وَيَسْتَغْفِرُ لَهُمَا حَتّٰى يَكْتُبُهُ اللّٰهُ بَارًّا. رواه البيهقي.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي د يو بنده مور او پلار يا په هغوئ كي يو مړ كيږي په داسي حال كي چي د هغوئ نافرمانه وي او بيا د هغوئ د مرګ څخه وروسته د هغوئ نافرمانه زوی د مور او پلار لپاره دعاء او استغفار كوي نو الله تعالی هغه په نيكو خلكو كي ليكي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب: ۶\۲۰۲، رقم: ۷۹۰۲.

تشريح: د حديث خلاصه داده چي د مور او پلار د مرګ څخه وروسته د اولاد د هغوئ لپاره دعاء، استغفار او ايصال ثواب دومره ګټور دی كه چيري مور او پلار د اولاد څخه د ناراضګۍ په حالت كي له دنيا څخه رخصت سوي وي نو الله تعالی به د هغوئ ناراضګي ختم كړي او د اولاد نوم به په هغه خلكو وشمېري كوم چي د مور او پلار سره نيكي كوي او د هغوئ د رضا او خوشحالۍ غوښتونكي وي.

د مور او پلار فرمانبرداري

﴿۴۷۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

أَصْبَحَ مطيعا للهِ فِيْ وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوْحَانِ مِنَ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ

په داسي حال کي سهار کړي چي هغه د مور او پلار په حق کي د الله جل جلاله د احکامو اطاعت کوي (يعني د مور او پلار حقوق ادا کوي) نو هغه په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه لپاره د جنت دوې دروازې خلاصيږي

وَاحِدًا فَوَاحِدًا وَمَنْ أَمْسٰى عَاصِيًا للهِ فِيْ وَالِدَيْهِ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوْحَانِ

او څوک چي په داسي حال کي سهار کړي چي د مور او پلار په حق کي د الله جل جلاله نافرمانه وي نو هغه په داسي حال کي سهار کوي چي د هغه لپاره د دوږخ دوې دروازې خلاصيږي

مِنَ النَّارِ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا قَالَ رَجُلٌ وَإِنْ ظَلَمَاهُ قَالَ وَإِنْ ظَلَمَاهُ وَإِنْ ظَلَمَاهُ وَإِنْ ظَلَمَاهُ. رواه البيهقي.

او که يو وو نو يوه دروازه به ورته خلاصه سي . يو سړي وويل: که څه هم چي مور او پلار يې ظلم پر کوي ، پر دې خبره رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که څه هم چي پر هغه ظلم کوي که څه هم چي پر هغه ظلم کوي که څه هم چي پر هغه ظلم کوي . بيهقي

تخريج: البيهقي في الشعب: ۱۶\۲۰۲، رقم: ۷۹۱۶.

تشريح: د حديث څخه معلومه سوه چي د مور او پلار اطاعت او فرمانبرداري کول او د هغوئ د نافرماني څخه ځان ساتل د الله تعالى حکم دی ځکه د هغوئ اطاعت او فرمانبرداري يا د هغوئ نافرماني په حقيقت کي د الله تعالى اطاعت او فرمانبرداري د هغه نافرماني کول دي.

که څه هم مور او پلار پر هغه ظلم وکړي: د رسول الله ﷺ دغه جمله درې ځله فرمايل د مور او پلار د اطاعت او فرمانبردارۍ د اهميت ظاهرولو او دهغوئ د حقوقو د ادا کولو تاکيد زيات بيانولو په وجه وو، بيا هم څرګنده دي وي چي د ظلم څخه مراد هغه ظلم دی چي د هغه تعلق د دنياوي معاملاتو سره وي نه د ديني امورو سره ځکه چي د مور او پلار داسي اطاعت او

فرمانبرداري جائز نه ده چي په هغه سره د دين مخالفت او د شرعي احكامو خلاف ورزي كيږي.

مور او پلار ته د رحمت په نظر كتل

﴿۴۲۷﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَامِنْ وَّلَدٍ بَارٍّ يَنْظُرُ إِلَى وَالِدَيْهِ نَظَرَ رَحْمَةٍ إِلاَّ كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ نَظْرَةٍ حَجَّةً مَّبْرُوْرَةً قَالُوْا وَإِنْ نَظَرَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ قَالَ نَعَمْ اَللهُ أَكْبَرُ وَأَطْيَبُ. رواه البيهقي.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم زوى چي د مور يا پلار ته د رحمت او شفقت په نظر وګوري الله تعالى د هغه په حساب كي د هر نظر په بدله كي د يو قبول سوي حج ثواب ليكي، صحابه كرامو وويل: كه څه هم چي د ورځي سل واره ورته وګوري؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هو، الله تعالى لوى او پاک دئ. بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب: ٦\٢٠٢، رقم: ٧٨٥٩.

د مور او پلار نافرمان

﴿۴۲۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ الذُّنُوْبِ يَغْفِرُ اللهُ مِنْهَا مَا شَاءَ إِلاَّ عُقُوْقَ الْوَالِدَيْنِ فَإِنَّهُ يُعَجِّلُ لِصَاحِبِهِ فِي الْحَيَاةِ قَبْلَ الْمَمَاتِ. رواه البيهقي.

د حضرت ابوبكرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هره ګناه الله تعالى بخښي يعني په هغه كي چي څومره الله تعالى غواړي مګر د مور او پلار د نافرمانۍ ګناه نه بخښي بلكه الله تعالى د هغه سزا په دنيا كي د مرګ څخه مخكي هغه ته وركوي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب: ٦\٢٠٢، رقم: ٧٨٩٠.

تشريح: مطلب دادى چي كوم څوک د مور او پلار د نافرمانۍ ګناه كوي نو هغه ته به ددغه ګناه سزا د مرګ څخه مخكي په دغه دنيا كي وركول كيږي، او دا هم كيداى سي چي ددغه دنيا د ژوند تعلق د مور او پلار سره وي يعني مور او پلار د خپل اولاد له خوا د نافرمانۍ تكليف زغمي چي هغوئ په خپل ژوند كي هغه اولاد د خپلي ګناه د نافرمانۍ سزا خوړل ويني بيا هم

په دواړو صورتو کي د آخرت عذاب پاته دی چي نافرمانه اولاد به محض په دغه دنیا کي سزا نه تر لاسه کوي بلکه په آخرت کي به هم د عذاب وړوي.

ددغه حدیث په اړه یو بل احتمال هم دی هغه دا چي د مور او پلار د حقوقو په ذکر سوي حکم کي ټول حقوق العباد شامل دي یعني څرنګه چي د مور او پلار د حقوقو نه ادا کونکی اولاد د هغه ګناه سزا په دغه دنیا کي تر لاسه کوي همدارنګه هر هغه څوک هم په دغه دنیا کي سزا تر لاسه کوي کوم چي د بندګانو حقوق تر پښو لاندي کوي، نو د وخت د حکومت پر خلاف بېله یو شرعي او قانوني وجه د بغاوت کونکي او په ناحقه د ظلم کونکي په اړه د ذکر سوي وعید څخه دا ثابتیږي، خلاصه دا چي د ذکر سوي ارشاد په ذریعه د مور او پلار د حقوقو ارزښت څرګند سوی دی او د هغوئ د نافرماني کونکي ګناه په سخت انداز کي بیان سوې ده.

د مشر ورور حق

﴿۴۷۲۹﴾: وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقُّ كَبِيْرِ الْإِخْوَةِ عَلٰى صَغِيْرِهِمْ حَقَّ الْوَالِدِ عَلٰى وَلَدِهِ. روى البيهقي الأحاديث الخمسة في شعب الإيمان.

د حضرت سعید بن العاص رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د مشر ورور حق پر کشر ورور داسي دئ لکه د پلار حق پر زوی باندي. بیهقي دا پنځه تیر سوي حدیثونه په شعب الایمان کي روایت کړي دي.

تخريج: البيهقي في الشعب: ٦\٢٠٢، رقم: ٧٩٢٩.

==========

بَابُ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ عَلَى الْخَلْقِ

(د الله جل جلاله پر مخلوق د شفقت او رحمت بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

پر مخلوق رحم

﴿۴۷۳۰﴾: عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ. متفق عليه.

د حضرت جرير بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی پر هغه چا رحم نه کوي څوک چي پر خلکو رحم نه کوي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۳۵۸، رقم: ۷۳۷۶، ومسلم ۴\۱۸۰۹، رقم: ۶۶ – ۲۳۱۹.

کوچنيان مچول

﴿۴۷۳۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا أَتُقَبِّلُونَ صِبْيَانَكُمْ فَمَا نُقَبِّلُهُمْ فَقَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَ أَمْلِكُ إِنْ نَزَعَ اللّٰهُ مِنْ قَلْبِكَ الرَّحْمَةَ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي يو صحرائي در سول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو (او وه يې ليدل چي رسول الله ﷺ به د صحابه کرامو د کوچنيانو سره مينه کول او هغوئ به يې مچول) نو هغه رسول الله ﷺ ته وويل تاسو کوچنيان مچوئ موږ خو کوچنيان نه مچوو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا زه پردې قادر يم چي ستا د زړه څخه الله تعالی کوم رحمت ايستلی دئ زه هغه بيرته ستا په زړه کي واچوم ؟ بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۲۶، رقم: ۵۹۹۸، ومسلم ۴\۱۸۰۸، رقم: ۶۴ – ۲۳۱۷.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا دی چي کله الله تعالی ستا زړه د رحمت او شفقت څخه خالي کړی دی نو دا زما د وس خبره نه ده چي ستا په زړه کي رحمت او شفقت پيدا کړم ، دا

معنی په هغه صورت کي ده کله چي لفظ د ان په الف سره وي لکه څرنګه چي اکثرو راويانو نقل کړی دی او که چيري الف په زېر سره وي يعني اِن ، نو دا معنی به وي چي زه څه کولای سم که الله تعالی ستا د زړه څخه د رحم جذبه ايستلې ده ، په دواړو صورتو کي د روايت مفهوم يو دی ، فرق محض د اعراب په وجه دی د حديث مقصد د بې رحمۍ او سخت زړه والي خلاف د نفرت اظهار او دا ډول خلک په سختۍ سره خبرداره کول دي، په دغه ارشاد کي دې ته هم اشاره ده چي په زړونو کي د رحم او شفقت جذبه د الله تعالی يو غوره ورکړه ده او د هغه پيدا کړده ده، که هغه د چا د زړه څخه د رحم او شفقت او ميني جذبه وباسي نو بيا د چا د وس خبره نه ده چي هغه سړي ته د دغه جذبې دولت ورکړي .

د لونو د روزلو فضيلت

《۴۷۳۲》: وَعَنْهَا قَالَتْ جَاءَتْنِي اِمْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لها تَسْئَلُنِي فَلَمْ تَجِدْ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت چي يوه ښځه ما ته راغلل چي د هغې سره دوې لونې هم وي هغې زما څخه سوال وکړ ،

عِنْدِي غَيْرَ تَمْرَةٍ واحدة فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَأْكُلْ

زما سره په دغه وخت کي يوازي يوه خرما وه هغه مې ورکړه ، هغې ښځي خرما نيمه نيمه پر دواړو لونو وويشل او خپله يې هيڅ نه وخوړل ،

مِنْهَا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ ابْتُلِيَ

بيا هغه ولاړه سوه او د باندي روانه سوه ، د هغه څخه وروسته رسول الله ﷺ تشريف راوړ ما ورته پېښه بيان کړه ، رسول لله ﷺ وفرمايل : څوک چي

مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ فَأَحْسَنَ اِلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ. متفق عليه.

په دې انجونو سره په ازموينه کي اخته سي او هغه د دغه لونو سره احسان او ښه چلن وکړي نو دا لونې به د هغه لپاره د دوږخ د اور ته پرده وي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۲۶، رقم: ۵۹۹۵، ومسلم ۴\۲۰۲۷، رقم: ۱۴۷- ۲۶۲۹.

تشريح: يعني هغه لونې او د هغوئ سره نيکي به د هغه سړي او دوږخ د اور په مينځ کي حائل سي چي هغه سړی به د هغه لونو په وجه د دوږخ د اور څخه خوندي سي او د لونو سره د ښه چلن

دغه فضیلت په دې وجه دی چي د هلکانو په نسبت انجوني د خپل مور او پلار سره د میني، محبت او د هغوئ سره د ښه چلن او احسان زیاتي مستحقي وي.

په دې اړه د علماؤ اختلاف دی چي د ابتلاء او ازمائش محمول محض د انجونو پیدا کېدل دي یا په داسي حالت کي اخته کېدل دي چي د لوڼو په وجه پریشاني او سختي مخته راسي او پر هغه د صبر او تحمل کولو صورت پېښ سي، په لومړي صورت کي یعني د ابتلاء او ازمائش تعلق د انجونو د پیدائش سره زیات صحیح دی، په دغه صورت کي به ویل کیږي چي کوم خلک د انجونو په پیدا کېدو کي د زړه په تنګۍ کي اخته کیږئ نو هغوئ د دغه حقیقت څخه بالکل ناخبره دي چي انجوني د الله تعالی یو لوی رحمت دی، د هغوئ روزنه او د هغوئ سره د میني چلن کول یو ډېر لوی اخروي سعادت دی، په دې اړه د علماؤ اختلاف دی چي احسان او ښه چلن څخه مراد هغه نفقه ده کوم چي پر پلار باندي واجب ده یا د واجب نفقې څخه پرته نور ښه چلن کول مراد دي، راجح قول دادی چي دغه دویمه معنی زیات صحیح ده او څرګنده دي وي چي د ذکر سوي احسان او چلن شرط دادی چي د شریعت موافق وي.

علماؤ دا هم لیکلي دي چي صحیح خبره داده چي د لوڼو سره د احسان او ښه چلن ذکر سوی اجر په هغه صورت کي تر لاسه کیږي کله چي د هغه احسان او ښه چلن لړۍ جاري وي تر دې چي هغه لوڼي او خویندي د خپل واده کېدو په وجه یا په یو بل صورت کي د پلار د کفالت او د هغه د احسان څخه بې نیازه سي.

د لوڼو د روزني ثواب

﴿۴۷۳۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ كذا وَضَمَّ أَصَابِعَهُ. رواه مسلم

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د دوو لوڼو روزنه وکړي تر څو چي هغه بالغي سي (یعني واده سي او د خپل خاوند کور ته ورسیږي) نو هغه سړی او زه به د قیامت په ورځ داسي یو ځای یو لکه څرنګه چي زما دا ګوتي دي (یعني د شهادت او منځنۍ ګوته) او دواړي ګوتي یې په خپل منځ کي یو ځای کړي وښودلې. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۴\۲۰۲۷، رقم: ۱۴۹- ۲۶۳۱.

تشریح: رسول الله ﷺ د خپل او هغه کسانو په مینځ کي د کمال قرب او اتصال څرګندولو

لپاره د شهادت ګوته او منځنۍ ګوتې په يو ځای کولو سره وښودل چې څرنګه تاسو دغه دوې ګوتې د يو بل سره يو ځای وينئ همدا رنګه د قيامت په ورځ به زه او هغه سړی يو بل ته نژدې يو او په محشر کې به موږ يو ځای يو يا هغه به زما سره په جنت کې داخليږي.

د کونډې او مسکين د خدمت ثواب

﴿۴۷۳۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالسَّاعِيْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ و احسبه قال كَالْقَائِمِ لاَ يَفْتُرُ وَكَالصَّائِمِ لاَيُفْطِرُ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کونډې او مسکين حال پوښتونکي د الله تعالی په لار کې د کوښښ کونکی په ډول دئ (يعني د هغه ثواب د جهاد او حج برابر دئ) د راوي بيان چې زما خيال دئ چې رسول الله ﷺ دا هم وفرمايل: د کونډې او مسکين خبر اخيستونکی د هغه شپه ړنونکی په ډول دئ چې په عبادت او شپې ړنولو کې کوتاهي نه کوي او د هغه روژه نيونکي په ډول دئ چې د ورځې روژه نه ماتوي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۳۷، رقم: ۶۰۰۷، ومسلم ۴\۲۲۸۶، رقم: ۴۱- ۲۹۸۲.

تشريح: فقير او محتاج هم په دغه حکم کې داخل دی بلکه د ځينو حضراتو په نزد هغه ته پر مسکين باندې ترجيح تر لاسه ده او زما ګمان دی چې هغوئ دا بيان هم وکړ، د دغه الفاظو نسبت حضرت عبد الله ابن سلمه قعنبي رحمه الله ته کيږي چې د بخاري او مسلم شيخ او د دغه حديث راوي دی چې هغه د امام مالک رحمه الله څخه روايت کړی دی، د دې خبرې وضاحت امام بخاري رحمه الله کړی دی، په هر حال د دغه الفاظو په ذريعه د عبد الله ابن سلمه رضی الله عنه مطلب دا دی چې زما ګمان دی چې د دغه حديث راوي امام مالک رحمه الله دغه الفاظ: کالقائم لا يفتر ..الخ، نقل کړي وه مګر د بخاري مذکوره صراحت که مخته نه وي نو د مصابيح او مشکوة ظاهري الفاظو څخه دا مفهوم کيږي چې دغه جمله: او زما ګمان دی چې ...الخ، د حضرت ابو هريره رضی الله عنه جمله ده، او د ابو هريره رضی الله عنه د دغه جملې په ذريعه دا بيانول غواړي چې زما د ګمان سره سم د رسول الله ﷺ کالقائم لا ...الخ، الفاظ هم فرمايلي دي، يا دا هم ويل کيدای سي چې په دغه وخت کې حضرت ابو هريره رضی الله عنه خپل دا شک ظاهر کړی وي چې رسول الله ﷺ يا خو: کالساعي في سبيل الله، الفاظ فرمايلي وي او يا: کالقائم لا يفتر ...الخ، الفاظ يې فرمايلي وي، د دې

تائید د جامع صغیر د هغه روایت څخه هم کیږي کوم چي احمد، شیخینو، ترمذي، نسائي او ابن ماجه څخه نقل سوي دي ا او د هغه الفاظ داسي دي چي : الساعي علي الارملة والمساکین کالمجاهد في سبیل الله او القائم اللیل الصائم النهار.

د یتیم روزنه

﴿۴۷۳۵﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ له ولغيره فِي الْجَنَّةِ هٰكَذَا او اشار بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا. رواه البخاري.

د حضرت سهل بن سعد رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه او د یتیم پالونکی که هغه یتیم یې خپل وي یا پردی په جنت کي به زما سره داسي وي (د دې فرمایلو سره یې د شهادت او منځنۍ ګوته وښودلې) او د دواړو ګوتو په منځ کي یې لږ ډول پراخي وه. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۹\۴۳۹، رقم: ۵۳۰۴.

تشریح: هغه یتیم که دده وي یا دبل چا وي، یعني دا خبره څرګنده سوې ده چي د مطلق یتیم د کفالت دغه فضیلت دی هغه یتیم که د هغه خپل قریب وي لکه خور، وراره وغیره، یا بل څوک وي، رسول الله ﷺ د شهادت د ګوتي او درمیاني ګوتي په ذریعه په اشاره کولو سره څرګنده کړه چي په جنت کي به زما او د یتیم د روزونکي په مینځ کي دومره نژدې علاقه وي لکه څرنګه چي ددغه دواړو ګوتو په مینځ کي ده او رسول الله ﷺ د دواړو ګوتو د پراختیا په ذریعه دې ته هم اشاره وفرمایل چي مرتبه نبوت چي تر ټولو اعلی درجه ده د هغه او د سخاوت او مروت مرتبې په مینځ کي دومره زیاته فاصله نسته.

مؤمنان د یوه بدن په ډول

﴿۴۷۳۶﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ الواحد إِذَا اشْتَكٰى عُضْوًا تَدَاعٰى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمّٰى. متفق عليه.

د حضرت نعمان بن بشیر رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ته به مؤمنان په خپل

منځ کي داسي رحم کونکي، محبت کونکي او مهرباني کونکي ويني لکه يو بدن، هر کله چي د بدن يو اندام درد کوي نو د بدن ټول اندامونه په هغه درد کي شريک وي او په بيداري او تبه کي ټول بدن شريک وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۳۸، رقم: ۶۰۱۱، ومسلم ۴\۱۹۹۹، رقم: ۶۶ – ۲۵۸۶.

تشريح: د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ د مؤمن صفت اتحاد ته اشاره فرمايلې ده، که چيري يو جذبه او تعلق داسي کيداى سي چي د دنيا ټول انسانان د رنګ، نسل، ژبي او تهذيب اختلاف او تفاوت او ذات و قبائل او د علاقې د بېلوالي څخه په خلاصون سره انساني وروروَلي او اتحاد يوه لړۍ راتلاى سي نو هغه يوازي د ايمان او اسلام تعلق دى، مؤمنان چي چيري هم وي، په کوم رنګ او نسل چي وي د هغوئ په ژبه او ټولنه کي که هر څومره اختلاف وي مګر د انسان او مؤمن کېدو په حيثيت هغوئ يو دي او د يوې وروروَلۍ سره تعلق لري د هغوئ په مينځ کي هيڅ انساني لوړوالى او کښته والى نسته د هيڅ کمي او لوړۍ، نفرت او حقارت نسته، هغوئ چي د کومي عقيدې حامل او د نظريې حيات منونکي دي،

دهغه حقيقت په دغه ارشاد کي ظاهر سوى دى او ټولو مسلمانانو ته د يوه بدن سره تشبيه ورکړل سوې ده چي څرنګه د بدن يو اندام درد کوي نو ټول بدن د هغه درد څخه متاثره کيږي او محض په يوه اندام کي د تکليف په وجه ټول بدن په تکليف کي وي، همدارنګه مسلمانانو ته پکار ده چي يو بدن جوړ سي او ټول ملت اسلامي د يوه بدن په ډول سي که چيري يو مسلمان ته تکليف ورسيږي يا په يو مصيبت کي اخته سي نو ټول مسلمانان د هغه په غم او درد کي شريک وي او ټول په يو ځاى کېدو سره د هغه تکليف او مصيبت ليري کړي، دغه مفهوم شيخ سعد رحمة الله عليه په دغه نظم کي بيا کړى دى:

بني آدم اعضائـي يکديګرند — که در آفرينش زيک ګوهراند
چو عضوي بدرد آورد روزګار — دګر عضو ها را نماند قـرار

﴿۴۷۳۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُونَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ إِنْ اشْتَكَى عَيْنُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ وَإِنْ اشْتَكَى رَأْسُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ. رواه مسلم.

د حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ټول مؤمنان په ډول د يو سړي دي (يعني د يوه سړي د اندامو په ډول دي) هر کله چي د هغه سترګه خوږ سي نو ټول

بدن يې درد کوي او که پر سريې درد وي نو ټول بدن يې هغه درد محسوس وي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۰۰۰، رقم: ۶۷ – ۲۵۸۶.

﴿۴۷۳۸﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا ثُمَّ شَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ . متفق عليه.

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان د مسلمان لپاره د يو سراى په ډول دي چې د سراى يوه برخه دويمه برخه ټينګوي ، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ د يوه لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کې دننه کړې او وه يې ښودل چې ټول مسلمانان داسې سره يو ځاى دي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۴۹، رقم: ۶۰۲۶، ومسلم ۴\۱۹۹۹، رقم: ۶۵ – ۲۵۸۵.

تشريح: مخکې خو رسول الله ﷺ مسلمانانو ته د يوه مکان سره تشبيه ورکړه چې د هغه ټول اجزاء او ټولې برخې د يو بل سره ټينګې وي او بيا دا حقيقت رسول الله ﷺ په مثالي صورت کې د خپل يوه لاس ګوتې د دوهم لاس په ګوتو کې په اچولو سره وښودل، چې ټول مسلمانان دغه ډول د يو بل سره متحد دي او د يو بل سره د مينې، محبت او موانست او مرستې په زنځير کې منسلک وي نو ټول ملت اسلامي به ټينګ ا و مضبوط وي مګر څرګنده دي وي چې د مسلمانانو هغه اتحاد او يووالى مطلوب او مستحسن دى چې د هغه بنياد د حق او حلال پر معاملاتو باندې وي ، حرام او مکروه او د ګناه موجب اتحاد او اتفاق غير مطلوب دى .

دا ړ کس سفارش کول ښه کار دى

﴿۴۷۳۹﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَتَاهُ السَّائِلُ أَوْ صَاحِبُ الْحَاجَةِ قَالَ اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا وَيَقْضِي اللَّهُ عَلَى لِسَانِ رَسُولِهِ مَا شَاءَ . متفق عليه.

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چې نبي کريم ﷺ ته به يو سوال کونکى يا اړ کس راغلئ نو رسول الله ﷺ به صحابه کرامو ته وويل : دده سفارش وکړئ د سفارش ثواب به درته ترلاسه سي او (داسي خو) الله تعالى د خپل رسول د ژبې څخه چې کوم حکم غواړي جاري

كوي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۴۴۸، رقم: ۷۴۷۶، ومسلم ۴\۲۰۲۶، رقم: ۱۴۵- ۲۶۲۷.

تشريح: د يو چا سفارش كول گويا د هغه سره همدردي كول او دهغه مرسته كول دي ځكه رسول الله ﷺ صحابه كرامو ته حكم وكړ چي تاسو د خلكو سفارش كوئ كه څه هم ستاسو سفارش قبول كړل سي كه يا، د يو چا كار كېدل يا نه كېدل د تقدير الهي مطابق دي نو تاسو په دې فكر سره چي كيداى سي زما سفارش قبول نه سي ، د سفارش كولو څخه پرهيز مه كوئ او د هغه ثواب د لاسه مه باسئ.

څرګنده دي وي چي د سفارش حكم د هغه امورو او معاملاتو سره متعلق دى چي پر يو ناجائز او حرام مقصد باندي مبني نه وي او كه يو سړى په يوه داسي معامله كي ماخوذ وي چي حد يعني شريعت له خوا ټاكل سوې سزا لازموي نو په دغه صورت كي به سفارش كول جائز نه وي كله چي هغه معامله د وخت امام ته رسيدلې وي او كه هغه معامله رسيدلې نه وي نو بيا سفارش كيداى سي ، مګر په تعزيري معاملاتو كي په هر صورت سفارش كول جائز دى او دغه ټول تفصيل د هغه صورت سره متعلق دى كله چي هغه سړى موذي او شرير نه وي ، د چا سفارش كول چي مقصد وي او د شرير سړي سفارش په هيڅ صورت كي جائز نه دى .

د ظالم او مظلوم مرسته

﴿۴۷۴۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اَنْصُرُهُ مَظْلُومًا فَكَيْفَ انْصُرُهُ ظَالِمًا قَالَ تَمْنَعُهُ مِنَ الظُّلْمِ فذالك نَصْرُ اياه. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د (خپل) مسلمان ورور مرسته كوه كه څه هم هغه ظالم وي يا مظلوم، يو سړي وويل اې د الله رسوله ! د مظلوم خو زه مرسته كوم مگر د ظالم څرنگه مرسته وكړم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هغه د ظلم څخه منع كړه ستاد هغه د ظلم څخه منع كول د هغه مرسته كول دي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۳۲۳، رقم: ۶۹۵۲، ومسلم ۴\۱۹۹۶، رقم: ۵۸- ۲۵۸۰.

مسلمان د مسلمان ورور دی

﴿۴۷۴۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان

أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللّٰهُ فِي

د مسلمان ورور دئ ، نه دي يو پر بل ظلم كوي او نه دي هغه په هلاكت كي غورځوي ، او كوم سړی چي د يو مسلمان ورور په اړتيا كي مرسته وكړي الله تعالى به

حَاجَتِهِ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . متفق عليه.

د هغه اړتيا پوره كړي او څوك چي د يو مسلمان غم او مصيبت او مشكل ليري كړي الله تعالى به د هغه مصيبت او غم ليري كړي ، او څوك چي د يو مسلمان (ورور) عيب پټ كړي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى د هغه پر عيب پرده واچوي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۹۷، رقم: ۲۴۴۲، ومسلم ۴\۱۹۹۶، رقم: ۵۸- ۲۵۸۰.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي د مسلمان ستر پټونكی يا د هغه عيب پټونكی چي په دنيا كي كوم عيبونه او ګناوي كړي وي د قيامت په ورځ به الله تعالى د هغه د عيبو او ګناهو پرده وكړي په دې توګه چي هغه به د اهل مؤقف په وړاندي ظاهر نه كړي د هغه محاسبه او مؤاخذه به ونه كړي او د عمل نامې د وړاندي كولو په وخت كي به د هغه ذكر په پټه توګه وي.

علماؤ ليكلي دي چي د كومو مسلمانانو د عيبو پټول مستحب او ښه دي هغه ددې درجې مسلمانان وي چي هغوئ ته د عزت او حياء خاوندان ويل كيږي يعني هغه مسلمان چي د هغوئ ظاهري ژوند پاك ګڼل كيږي او د چا عيبونه چي پټ وي كه چيري د بشريت په تقاضا د هغوئ څخه يو ګناه وسي نو هغوئ يې د حياء په پرده كي پټوي ، پاته سو هغه مسلمان چي د حياء پرده لوڅوي چي د هغه ايذاء رسول او فتنې ښكاره كوي او په ډاګه ګناه كولو كي شرم نه كوي ، د هغوئ معامله بېله ده چي نه يوازي د هغوئ پر ګناه او عيبو باندي رد واجب دی بلكه د ګناه څخه منع كول او خبرداری وركول هم لازم دی كه چيري هغوئ د خبرداري سربېره منع نسي نو د

هغوئ په اړه حاكم ته اطلاع وركول پكار دي چي هغوئ په دين كي د فتنې څخه منع كړي همدارنګه د حديثو پر راويانو او مؤرخينو باندي جرح او قدح او پر حكومتي چارواكو او شاهدانو د تحقيق او پلټنې او د ظالمانو د حالاتو د ظهار لپاره هم جائز بلكه واجب او لازم دی ځكه چي په دغه صورتو كي د دين او علم ساتنه او د خلكو دحقوقو ساتنه مقصد وي ځكه چي د ذكر سوو خلكو حالات او عيبونه بيانول د هغوئ د عيبو په څرګندولو كي داخل نه دي كوم چي منع كړ څول سوي دي.

مسلمان ذليل نه ګڼل

﴿۴۷۴۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان

أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ التَّقْوَى هَاهُنَا وَيُشِيرُ إِلَى

د مسلمان ورور دی يو مسلمان دي پر بل مسلمان ظلم نه كوي نه دي هغه رسوا كوي او نه دي يې ذليل او حقير ګڼي، تقوا په دې كي ده، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ

صَدْرِهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ. رواه مسلم.

درې واره د خپل سينې په لور اشاره وكړل بيا يې وفرمايل: د انسان لپاره دومره بدي كافي ده چي هغه خپل مسلمان ورور حقير او ذليل وګڼي، د مسلمان ټول ژوند او ټوله شيان پر مسلمان حرام دي يعني د مسلمان وينه، د مسلمان مال، او د مسلمان عزت. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۹۸۶\۴، رقم: ۳۲- ۲۵۶۴.

تشريح: هغه دي ذليل او حقير نه ګڼي: مطلب دادی چي هيڅ مسلمان دي د بل مسلمان ورور د عيب په ښكاره كولو سره او د هغه د خرابۍ په بيانولو سره نه رسوا كوي او نه دي د هغه سره سخت كلامي كوي او د هيڅ يو غريب او فقير مسلمان بې ادبي دي نه كوي، چا ته څه معلومه ده چي يو مسلمان كه څه هم غريب او محتاج وي د الله ﷻ په وړاندي د هغه مقام څه دی او د انجام په اعتبار هغه د كومي درجې دی دغه حقيقت بايد په هيڅ صورت كي هېر نه كړل سي چي كوم څوك پر لااله الاالله محمد رسول الله، باندي ايمان لري او د الله ﷻ د رسول امتي وي هغه عزت

والا دی او د تکریم ور دی، ځکه الله تعالی فرمایلي دي : (ولله العزة ولرسوله و للمؤمنين ولكن المنافقين لا يعلمون) ، نو د يو مؤمن عزت ايماني په هيڅ حال کي مجروح کول نه دي پکار او په خاصه توګه هغه مؤمن چي د هغه د مخ څخه د دين علم او د عبادت نور ځليږي د هغه تعظيم او عزت په طريقه اولی ډېر ضروري دی ، زيات خلک او په خاصه توګه هغه شتمن خلک چي د نفس په ظلمت او غفلت کي اخته وي په عامه توګه د فقيرانو او مسکينانو په وبال کي اخته وي ځکه چي هغوئ کمزوري او ذليل ګڼي او د هغوئ سره د سپکتيا معامله کوي او د نتيجې په توګه د مؤمن د ذليل او حقير کولو عذاب خپل سر اخلي، هغوئ په دې نه پوهېږي چي الله تعالی هغه خلک په دنيا کي هم په ثروت سره نازوي او په آخرت کي هم خلاصون ورکوي کوم چي د داسي مسکينانو او غريبانو سره د ميني چلن کوي ، همدا وجه ده چي رسول الله ﷺ به د مسکينانو او غريبانو د ميني تر لاسه کولو لپاره دعاء غوښتل او رسول الله ﷺ ته د الله تعالی له خوا دا حکم ورکړل سوی وو چي د فقيرانو او مسکينانو سره دي ناسته ولاړه اختيار کړي لکه څرنګه چي په سورة کهف کي راغلي دي .

پرهيزګاري په دې کي ده: مطلب دادی چي متقي يعني هغه څوک چي د شرک او ګناهو څخه پرهيز کوي هغه په هيڅ حالت کي هم حقير او سپک ګڼل نه دي پکار ، يا دا مراد دی چي د تقوا مصدر په اصل کي سينه يعني زړه دی او هغه يو داسي صفت دی چي د باطن هدايت او نورانيت څخه پيدا کيږي، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي ددغه الفاظو مقصد د ماقبل جملې تاکيد او تقويت دی او مطلب به دا وي چي کوم شی يو انسان معزز او عزتمند کوي هغه تقوا ده او کله چي د تقوا تعلق د باطن سره دی او د هغه ځای زړه دی چي يو پټ شی دی چي انسان يې څرګندولای نسي نو بيا يو مسلمان ته څرنګه حقير او ذليل ويل کيدای سي حال دا چي د هغه حقيقت معلوم نه دی ، يوه خبره دا هم ده چي د تقوا په ويلو سره دې ته اشاره سوې ده چي د چا په زړه کي تقوا وي هغه دي هيڅ مسلمان حقير او ذليل نه ګڼي ځکه چي هيڅ متقي مسلمان ذليل کونکی نسي کيدای دغه مراد که څه هم ځينو علماؤ ليکلی دی مګر لومړی معنی زياته صحيح او مناسب ده .

د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي هيڅ مسلمان دي داسي کار نه کوي او نه دي د خپلي ژبي څخه داسي الفاظ باسي چي په هغه سره د يو مسلمان ورور هلاکول وي يا د هغه مال ضائع سي يا د هغه عزت ته تاوان ورسيږي .

حديث د خپلو الفاظو د اختصار په وجه لنډ مګر د مفهوم او معنی په توګه جوامع الکلم

دی چي د الله تعالی له خوا رسول الله ﷺ ته خاصه ورکړه ده .

جنتي او دوږخي

﴿۴۷۴۳﴾: وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عیاض بن حمار رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

أَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ ذُو سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ وَرَجُلٌ رَحِيمٌ رَقِيقُ

دري ډوله خلک جنتیان دي : (۱) یو هغه حاکم چي عدل او انصاف کونکی او احسان کونکی وي او هغه ته د ښیګڼو توفیق ورکړل سوی وي (۲) دویم هغه کس چي مهربانه وي

الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِي قُرْبَى وَمُسْلِمٍ وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ وَأَهْلُ النَّارِ خَمْسَةٌ

او د خپلوانو او مسلمانانو لپاره نرم دله وي یعني پر خپل او پردیو دواړو باندي مهربانه وي . (۳) دریم هغه کس چي د حرامو شیانو څخه ځان ژغورونکی وي ، د سوال کولو څخه پرهیز کوي د اهل او عیال په اړه پر الله تعالی باور کونکی وي ، او پنځه ډوله خلک دوږخیان دي :

الضَّعِيفُ الَّذِي لَا زَبْرَ لَهُ الَّذِينَ هُمْ فِيكُمْ تَبَعٌ لَا يَبْغُونَ أَهْلًا وَلَا مَالًا

(۱) یو هغه کمزور عقله چي د هغه کمزوري هغه د نامناسبه کارونو څخه منع نه کړي او دا سړي د هغه خلکو څخه دئ کوم چي ستاسو تابع او خادمان دي هغه تابع او خادم چي د ښځي او مال پروا نه لري (یعني د خپلو بدو کارونو په سبب د خپل ښځي څخه بې پروا وي او په حرام کار کي خوشحاله وي او نه یې د مال پروا سته چي حرام او حلال هر څه چي د نس ډکولو لپاره ورته تر لاسه سي هغه بس ګڼي ،

وَالْخَائِنُ الَّذِي لَا يَخْفَى لَهُ طَمَعٌ وَإِنْ دَقَّ إِلَّا خَانَهُ وَرَجُلٌ لَا يُصْبِحُ وَلَا يُمْسِي

(۲) : دویم هغه سړی چي خیانت کونکي او بد دیانته وي او د هغه طمع هغه پر آرامه ناستي ته نه پریږدي او هغه دهر پټ شي په لټه کي وي چي هغه تر لاسه کړي او په هغه کي بد دیانتي وکړي که څه هم چي هغه یو ډیر معمولي شی وي . (۳) : دریم هغه کس چي سهار او ماښام ستا

إِلَّا وَهُوَ يُخَادِعُكَ عَنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ وَذَكَرَ الْبُخْلَ أَوِ الْكَذِبَ وَالشِّنْظِيرُ

الْفَحَّاشُ. رواه مسلم.

په کورنۍ او مال کي د چم کولو په فکر کي وي ، دديْ څخه وروسته رسول الله ﷺ د بخيل، دروغجن او فحش ويونکي ذکر وکړ يعني پاته دوه کسان دادي چي يو په هغو کي بخيل يا درواغجن وي او دويم بد خلق او بد ويونکی وي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۱۹۷، رقم: ۶۳ - ۲۸۶۵.

د لغاتو حل: زبر: ای لا رای له ولا عقل کاملا يعقله ويمنعه عن ارتکاب مالا ينبغي .

تشريح: په (رجل رحيم رقيق القلب) کي د رحيم څخه مراد صفت فعليه او د رقيق څخه مراد صفت قلبيه دی ، د صفت فعليه مطلب دادی چي هغه صفت خپل خارجي وجود هم ساتي او پر نورو باندي دهغه اثرات هم څرګند سي، حال دا چي د صفت قلبيه تعلق محض د هغه صفت باطني وجود سره وي که هغه په عملي او خارجي توګه سره د هغه اظهار وي يا نه وي .

لفظ د بخل او کذب د مصدر قائم مقام فاعل دی ، د وذکر البخل والکذب ..الخ، په ذريعه راوي دا بيان کړی دی چي رسول الله ﷺ د دوږخيانو کوم ډولونه بيان کړي دي په هغو کي د بخيل او کاذب ذکر هم وفرمايي او د پوره عبارت مطلب به دا وي چي رسول الله ﷺ د دوږخيانو د ذکر سوو ډولو د بيانولو څخه وروسته وفرمايل چي د دوږخيانو نور ډولونه بخيل او کاذب دي . پاته سوه دا خبره چي راوي د ذکر البخيل والکاذب د ويلو پر ځای ذکر البخل والکذب ولي ووايه، نو دديْ وجه داده چي په دغه ځای کي رسول الله ﷺ کوم ارشاد فرمايلي وه هغه الفاظ بعينه راوي ته په ياد نه وه مګر په صحيح توګه سره دا ورته ياد وه چي رسول الله ﷺ د پاته دوو ډولو په اړه کوم الفاظ فرمايلي وه په هغو کي د بخل او کذب ذکر ضرور وو که څه هم رسول الله ﷺ د والبخيل والکاذب فرمايلي وه يا نور الفاظ ، په اکثرو روايتو کي د البخل والکذب په مينځ کي د واو پر ځای او دی يعني البخل او الکذب دی، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي دلته راوي ته شک واقع سوی دی چي رسول الله ﷺ يا خو البخل وفرمايه او يا الکذب، يعني راوي دا بيانول غواړي چي رسول الله ﷺ د دوږخيانو د درو ډولونو بيانولو څخه وروسته د څلورم ډول په توګه يا خو بخيل بيان کړی دي او يا کاذب، او صحيح خبره همداده چي دلته د او حرف دی چي د راوي شک ظاهروي او په کومو روايتو کي چي واو دی په هغه کي هم واو د حرف او په معنی کي دی او لفظ و الشنظير هم مرفوع ګرځول صحيح دی او د هغه عطف پر رجل باندي کيږي ، او ځينو حضراتو منصوب ګرځولی دی .

دمؤمن لپاره هغه خوښول چي ځان ته يې خوښوې

﴿۴۷۴۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم په خداى چي د هغه په واک کي زما ساه ده بنده تر هغه وخته پوري پوره مؤمن کيدلاى نه سي تر څو پوري چي د خپل مسلمان ورور لپاره هم هغه شى خوښ نه کړي کوم چي د ځان لپاره خوښوي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۵٦، رقم: ۱۳. ومسلم ۱\٦۸، رقم: ۷۲– ۴۵.

تشريح: مطلب دادى چي د يو مسلمان ايمان به تر هغه وخته پوري كامل نه وي تر څو چي هغه د خپل مسلمان ورور لپاره هغه شى خوښ نه كړي كوم چي د ځان لپاره خوښوي . د شي څخه مراد د دنيا او آخرت خير دى لكه څرنګه چي په يوه روايت كي من الخير لفظ په صريح توګه منقول سوى دى ، پاته سوه دا خبره چي د دنيا او آخرت د خير او ښېګڼو تعلق د كومو شيانو سره دى نو د اخرت خير دادى چي نيک اعمال او د ښه احوالو سعادت په برخه سي او خاتمه بالخير وي ، د قبر د سختيو ، د قيامت د ورځي د پوښتنو او د دوږخ د عذاب څخه خلاصون تر لاسه سي، د خپلو نيكو اعمالو په سبب او د الله تعالى په فضل سره په جنت كي اعلى درجې تر لاسه كړي او د الله تعالى او د هغه د رسول رضا تر لاسه كړي، همدارنګه د دنيا خير دادى چي د عزت او خوشحالۍ ژوند يې په برخه سي ، مال ، اسباب او راحت تر لاسه كړي ، نېكه ښځه او صالح اولاد يې په برخه سي او دغه ټول شيان د آخرت وسيلي دي چي مسلمان د دنيا او آخرت دغه نعمتونه او خيرونه د ځان لپاره غواړي نو هغه ته پكار دي چي هغه دغه دنياوي او اخروي نعمتونه د ټولو مسلمانانو لپاره هم وغواړي او دا د ايمان كمال هم دى او د ديني اخوت تقاضا هم ده .

كه چيري دا وويل سي چي كوم مسلمانان محض د شيطان په فريب او نفساني حرص په وجه د ځان لپاره مال او د دنيا عزت غوښتونكي وي او د هغه مال په نتيجه كي په ګناه ، فتنو ، فساد او ظلم كي اخته سي نو هغه به ددغه مال خواهش د بل لپاره څرنګه كولاى سي ؟ ددې جواب دادى چي كوم مال او عزت د دين تاوان او د آخرت د عذاب باعث وي نو هغه د خير او ښېګڼي په زمره كي شامل نه دى نو هر مسلمان ته پكار ده چي هغه داسي مال او عزت نه د ځان لپاره خوښ كړي او نه د بل مسلمان لپاره، مګر بيا هم دا خيال ساتل پكار دي چي مال او عزت

پر خپل ځای خراب شی نه دی او نه دا په هر حالت کي خرابی ته د رسید و سبب جوړیږي بلکه ددې تعلق سره د بدی یا نیکی دار او مدار خپله د انسان ذهن او مزاج او د هغه پر طبعي خاصیت باندي وي ، یو سړی داسي وي چي هغه محض د مال او دولت په وجه د نیکی لوی درجې ته ورسیږي که د یو سړي لپاره مال او دولت د آخرت د ثواب سبب جوړیږي لکه د مال او دولت په ذریعه حج کول او د فقیرانو مرسته کوي او د عزت او شان په ذریعه عدل او نصاف کول او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ذمه داري پوره کول، ددې پر خلاف دغه مال او دولت که چیري د بل چا لپاره د دین د گټو پر ځای د تاوان سبب وي لکه د هغه مال او عزت په ذریعه فسق او فجور کول ، فتنه او فساد کول نو د اول الذکر سړي مال او عزت د خپل ځان لپاره خوښول او د بل چا لپاره نه خوښول به صحیح وي ځکه چي د هغه مال عزت ته به د هغه په حق کي خیر نه ویل کیږي .

همسايه ته تكليف نه وركول

﴿۴۷۴۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ قِيلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الَّذِي لَا يَؤْمن جَارُهُ بَوَائِقَهُ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قسم په خدای هغه سړی ایماندار نه دئ ، قسم په خدای هغه سړی ایماندار نه دئ ، قسم په خدای هغه سړی ایماندار نه دئ ، پوښتنه وسول اې د الله رسوله ! څوک ایماندار نه دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه څوک چي د هغه د شر څخه د هغه همسایگان په آمان کي نه وي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۴۳، رقم: ۶۰۱۶،

د لغاتو حل: بوائقه: ای شروره (د هغه د شر څخه)

د همسایه سره ښه سلوک

﴿۴۷۴۶﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څوک به جنت ته نه ځي

چي د هغه همسايه د هغه د شر او فساد څخه خوندي نه وي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ١١\٦٨، رقم: ٧٣-٤٦.

﴿۴۲۴۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا زَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ. متفق عليه.

د حضرت عائشې او ابن عمر (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جبرائيل عليه السلام به هميشه ما ته د همسايګانو د حقوقو ادا كولو هدايت كاوه تر دي چي ما دا خيال وكړ چي جبرائيل عليه السلام به همسايګان وارثان وګرځوي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٤٤١، رقم: ٦٠١٤، ومسلم ۴\٢٠٢٥، رقم: ١٤٠- ٢٦٢۴.

تشريح: ددغه حديث څخه د همسايه حقوق يعني د همسايه سره د احسان، ښه چلن كولو، د هغه سره په غم او درد كي د ګډون كولو او هيڅ ډول تكليف كي نه وركولو ارزښت ثرګندوي، حضرت جبرائيل عليه السلام په دي اړه د الله تعالى له خوا رسول الله ﷺ ته په پابندي سره حكم وركوى د هغه څخه رسول الله ﷺ ته دا خيال پيدا سو چي جبرائيل عليه السلام كيداى سي د وحي سره نازل سي او خپل همسايګان د يو بل وارث وګرځوي .

په غوږ كي پټي خبري كول

﴿۴۲۴۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ مِنْ أَجْلِ أَنْ يُحْزِنَهُ . متفق عليه.

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه تاسو دري كسان يو ځاى ياست نو دوه كسان دي په خپل منځ كي په غوږ كي (پټي) خبري نه كوي تر څو پوري چي ډير كسان يو ځاى نه سئ (يعني هر كله چي ډير كسان يو ځاى سي نو بيا د دوو كسانو په خپل منځ كي پټي خبري منع نه دي) او دا له دې كبله چي داسي غوږ كي خبره كولو سره دريم كس خفه نه سي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٨٢، رقم: ٦٢٩٠، ومسلم ۴\١٧١٨، رقم: ٢٧- ٢١٨۴.

د لغاتو حل: يتناجى: لايتكلما بالسر. (پټې خبرې دې نه کوي)

تشريح: مطلب دادی که چيرې درې کسان د مثال په توګه يو ځای ناست وي نو په هغوئ کې د دوو کسانو لپاره دا جائز نه دي چې هغوئ په غوږ کې خبرې وکړي چې دريم سړی د هغوئ خبره نه اوري مګر که چيرې څلور کسان يو ځای ناست وي او په هغوئ کې دوه کسان په خپلو کې پټې خبرې کوي نو د هغوئ دواړو پر پټو خبرو باندې د منع اطلاق نه کيږي.

امام نووي رحمة الله عليه وايي: د دريم سړي په شتون کې د دوو کسانو په خپلو کې پټې خبرې کول او همدارنګه د څلورو کسانو په شتون کې د درو کسانو په خپلو کې پټې خبرو کولو ذکر سوي منع د نهي تحريمي په توګه ده نو که چيرې دوه کسان وي يا درې او څلور کسان وي يا يوه ډله وي نو د هغوئ لپاره دا حرام دي چې هغوئ د يوه سړي په پرېښودو سره پاته ټول کسان په خپلو کې پټې خبرې کول پيل کړي مګر که چيرې د هغه يوه سړي د اجازې څخه وروسته پټې خبرې کوي نو څه پرواه نسته، د حضرت ابن عمر رضي الله عنه، امام مالک رحمة الله عليه، شوافع او جمهورو علماؤ دا مذهب دی او ددغه حکم تعلق د هر ځای او هرې زمانې سره دی که په سفر کې وي او که په حضر کې وي.

دين د خير خواهۍ نوم دئ

﴿۴۷۴۹﴾: وَعَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدِّينُ النَّصِيحَةُ ثَلاثًا قُلْنَا لِمَنْ قَالَ لِلّٰهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ. رواه مسلم.

د حضرت تميم داري رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دين د خير خواهۍ او نصيحت نوم دئ، رسول الله صلى الله عليه وسلم دا الفاظ درې واره وفرمايل، موږ پوښتنه وکړه (اې د الله رسوله!) دا خيرخواهي او نصيحت د چا لپاره دئ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د الله لپاره، د الله د کتاب لپاره، د الله د رسول لپاره، د مسلمانانو د امامانو لپاره او د عامو مسلمانانو لپاره. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۷۴، رقم: ۹۵-۵۵.

تشريح: د الله جل جلاله په حق کې د خيرخواهۍ مطلب دادی چې د الله تعالى پر ذات او صفاتو باندې ايمان راوړي د هغه د وحدانيت او حاکميت اعتقاد ولري، په صفاتو کې د بل چا شريکولو څخه پرهيز وکړي د هغه عبادت په اخلاص سره وکړي د هغه د اوامرو او نواهي

اطاعت وکړي د هغه د نعمتونو اقرار او اعتراف وکړي او د هغه د نېکو او فرمانبردارو بندګانو سره مينه ولري او د بدو او سرکښانو بندګانو څخه نفرت کوي .

د الله ﷻ د کتاب په حق کي د خيرخواهۍ مطلب دادی چي په دې خبره عقيده ولري چي دغه کتاب د الله تعالی له خوا نازل سوی دی، په دغه کتاب کي چي څه ليکلي دي په هغه په هر حالت کي عمل وکړي ، په تجويد ، ترتيل او غور سره يې تلاوت وکړي او د هغه په تعظيم او احترام کي کوتاهي ونه کړي .

د الله د رسول په حق کي د خيرخواهۍ مطلب دادی چي ددې خبري په زړه سره تصديق وکړي چي هغه رسول او پيغمبر دی، دهغه په نبوت ايمان راوړي چي هغه د الله تعالی له خوا کوم پيغام او احکام راوړي دي هغه قبول کړي او د هغه اطاعت وکړي هغه د خپل ځان ، اولاد ، مور او پلار او ټولو خلکو څخه زيات محبوب او ګران وګڼي او د کورنۍ او صحابه کرامو سره يې مينه وکړي او په سنتو يې عمل وکړي .

د مسلمانانو د امامانو په حق کي خيرخواهي داده چي کوم څوک د اسلامي حکومت مشر وي د هغه سره وفاداري وکړي ، د احکامو او قوانينو په بې ځايه خلاف ورزي کولو سره د حکومت په نظم کي خلل پيدا نه کړي ، په ښو خبرو کي د هغوئ پيروي وکړي او په خرابو خبرو کي د اطاعت څخه پرهيز وکړي که هغوئ د اسلام او عوامو د حقوقو په ادا کولو کي د غفلت او کوتاهۍ ښکار وي نو هغوئ دي په مناسب او جائز طريقه سره خبردار کړي او دهغوئ خلاف دي د بغاوت بېرغ نه پورته کوي که څه هم هغوئ ظلم کوي ، علماء چي د مسلمانانو ديني او علمي رهنمايان دي دهغوئ عزت او احترام دي کوي ، په شرعي احکامو او ديني مسئلو کي چي هغوئ د قرآن او سنت مطابق څه وايي، هغه دي قبول کړي او په هغه دي عمل کوي ، د هغوئ د نېکو خبرو او نېکو اعمالو پيروي دي کوي .

د ټولو مسلمانانو په حق کي دخيرخواهۍ مطلب دادی چي د هغوئ ديني او دنياوي خير دي غواړي هغوئ ته دي ددين تبليغ کوي ، هغوئ دي د تاوان څخه وساتي او د هر ډول تاوان رسولو څخه دي ځان وساتي، څرګنده دي وي چي دغه حديث هم د جوامع الکلم څخه دی ، ددغه حديث مختصر الفاظ په حقيقت کي د دين د ټولو خېرو او سعادتو حاوي دی او ټول علوم اولين او اخرين په دغه حديث کي درج دي .

د مسلمانانو خیر اخواهي

﴿۴۷۵۰﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بن عبدالله قَالَ بَايَعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ. متفق عليه.

د حضرت جرير رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ پر لاس ددې خبرو بيعت وکړ يعني دلمانځه د ادا کولو، د زکوة ورکولو او د هر مسلمان د خير خواهۍ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۳۱۲، رقم: ۲۷۱۵، ومسلم ۱۴\۷۵، رقم: ۹۷-۵۶.

تشريح: د الله جل جلاله د ټول عبادات او طاعت تعلق د دوو شيانو سره دی، يو حقوق الله او بل حقوق العباد، حضرت جرير رضي الله عنه په حقوق الله کي په خاصه توګه د هغه عبادت ذکر وکړ چي په ټولو بدني عبادتو کي د شهادتينو څخه وروسته تر ټولو غوره دي او د اسلام په ارکانو کي له مهمو رکنو څخه دي يعني لمونځ او زکوة، کوم چي د روژې او حج تعلق دی نو کيدای سي چي کله حضرت جرير رضي الله عنه بيعت کړی وي تر هغه وخته پوري پر مسلمانانو باندي دغه دواړه (روژه او حج) فرض سوي نه وي، همدارنګه د حقوق العباد په اړه يې هغه شی ذکر کړ چي د هغه په دائره کي د بندګانو ټول حقوق راځي يعني خيرخواهي.

د حضرت جرير رضي الله عنه يوه واقعه دلته بيانول ډېر مناسب ده او د هغه څخه د نوموړي د ذکر سوي بيعت يوه عملي نمونه مخته راځي، نقل سوي دي چي يو وار حضرت جرير رضي الله عنه يو آس د درو سوو درهمو په عوض کي رانيوی، بيا هغه پلورونکي ته وويل: ستا د آس خو درې سوه درهمه څخه زيات قيمت دی ايا ته ددغه قيمت څلور سوه درهمه اخلې؟ هغه وويل: اې ابن عبدالله! دا ستا خوښه ده، هغه وويل: دغه آس خو د څلور سوه درهمه څخه د زيات قيمت معلوميږي ايا ته ددې قيمت پنځه سوه درهمه اخيستل خوښوې؟ هغه په همدارنګه د سل سل درهمو په زياتولو سره د هغه آس قيمت اته سوه درهمه ادا کړ، خلکو د آس د قيمت زياتولو سبب و پوښتنی نو هغه وفرمايل: اصل خبره داده چي ما د رسول الله ﷺ سره دا بيعت کړی وو چي د هر مسلمان خيرخواهي به کوم کله چي ما وليدل چي د هغه آس خاوند هغه قيمت نه غواړي چي په حقيقت کي کېدل پکار دي نو ما د خيرخواهۍ په وجه هغه ته زيات قيمت ورکړ.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د بد بخته زړه د رحم او شفقت څخه خالي

﴿۴۷۵۱﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَاتُنْزَعُ الرَّحْمَةُ اِلَّا مِنْ شَقِيٍّ.. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د حضرتً ابو القاسم الصادق المصدوق ﷺ څخه دا واوريدل چي رحمت او رحم د چا د زړه څخه نه سي ايستل كيدلاى مگر د بد بخته د زړه څخه. احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الأمام احمد ۲\ ۴۴۲، والترمذي ۴\ ۲۸۵، رقم ۱۹۲۳.

تشريح: د صادق معنى د رېښتوني ده او د مصدوق معنى د هغه چا ده چي خلكو رېښتونى منلى وي يا د هغه د رېښتوني خبر الله جل جلاله وركړى وي ، دغه دواړه لقبونه د رسول الله ﷺ صفتونه دي ، رسول الله ﷺ نه يوازي دا چي رېښتونى منل سوى دى بلكه الله تعالى د رسول الله ﷺ د رېښتون كېدو خبر وركړى دى چي فرمايي : (وما ينطق عن الهوى) .

د بدبخته څخه مراد كافر يا فاجر دى ، ددغه ارشاد مطلب دادى چي كافر د خپل كفر او فاسق د خپل فسق په وجه په خپل زړه دومره سخت كړى وي چي په هغه كي هغه انساني جذبه هم ختم سي چي يو انسان پر بل انسان باندي رحم او شفقت كولو ته مائل كوي .

پر مځكه والا رحم وكړه

﴿۴۷۵۲﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا من في الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ. رواه ابوداؤد والترمذي

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د الله جل جلاله پر مخلوق رحم او شفقت كوي ، رحمان جل جلاله به پر هغوئ رحم او شفقت كوي ، تاسو پر مځكه والا رحم او شفقت كوئ آسمان والا به پر تاسو رحم وكړي . ابو داؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۳۱، رقم: ۴۹۴۱، والترمذي ۴\ ۲۸۵، رقم: ۱۹۲۴.

تشريح: د مځکي په اوسيدونکو کي ټول ساه لرونکي شيان داخل دي که هغه حيوانان وي يا انسانان، او انسان که نېک وي يا بد وي مګر پر بدو خلکو باندي د رحم او شفقت کولو صورت دادی چي هغوئ د بدی څخه منع کړل سي لکه څرنګه چي د هغه حديث څخه معلوميږي چي د خپل ورور مرسته کوئ که څه هم هغه ظالم وي يا مظلوم، په تشريح کي ښودل سوي دي چي د ظالم مرسته داده چي هغه د ظلم څخه منع کړل سي او پر مځکي والا باندي د رحم او شفقت کولو مراد دادی چي پر هغه خلکو باندي رحم او شفقت کوه کوم چي ددې وړ وي.

کوم چي په اسمان کي دي: مراد د الله ﷻ ذات دی چي د هغه کمال قدرت او د هغه پاچاهي په اسمان کي ده يا ددې څخه مراد ملائکي دي، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي تاسو پر مځکه والا باندي رحم او شفقت کوئ چي په اسمان کي اوسيدونکي يعني د ملائکو رحم به پر تاسو باندي وي او ستاسو په حق کي د هغوئ رحم دادی چي هغوئ ستاسو دښمنانو او ضرر رسونکو مخلوق لکه جنات او شياطن او شرير انسانانو څخه ستاسو ساتنه کوي او د الله تعالی په دربار کي ستاسو لپاره دعاء، استغفار او د رحمت طلب کوي.

پر کشرانو رحم او د مشرانو عزت

﴿۴۷۵۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَلَمْ يُوَقِّرْ كَبِيرَنَا وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک زموږ څخه نه دئ چي زموږ پر کشرانو رحم ونه کړي او زموږ د مشرانو عزت ونه کړي، دنيکی حکم ور نه کړي او د بدی څخه منع ونه کړي. ترمذي ويلي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴ ۲۸۴، رقم: ۱۹۲۱.

﴿۴۷۵۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا من اجل سنه إِلَّا قَيَّضَ اللّٰهُ لَهُ عند سنه مَنْ يُكْرِمُهُ. رواه الترمذي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم ځوان چي د يو سپين ږيري

سړي د هغه د سپين ږيرتوب له كبله د هغه عزت وكړي الله تعالى به د هغه د سپين ږيرتوب په وخت كي يو داسي سړي وټاكي چي د هغه عزت به كوي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۲۷، رقم: ۲۰۲۲.

تشريح: د دغه حديث په ذريعه دا حقيقت څرګند سوى دى چي كوم ځوک د نورو تعظيم او خدمت كوي نو د هغه تعظم او خدمت هم كيږي او كوم خلک چي د خپلو برزګانو تعظيم او خدمت نه كوي او د خپلو سپين ږيرو سپكاوى كوي نو هغوئ به په خپل سپين ږيرتوب كي د خپلو كشرانو له خوا د دغه سپكاوي سره مخامخ كيږي .

په دغه ارشاد كي دې ته هم اشاره ده چي د هغه ځوان عمر اوږديږي چي د خپلو سپين ږيرو تعظيم او خدمت كوي .

نقل سوي دي چي يو بزرګ د مصر په ښار كي اوسېدى ، د هغه يو مريد وو چي په خراسان كي اوسيدى ، يو وار هغه مريد د خپل شيخ سره د اوسېدو لپاره مصر ته راوسېدى او هلته تر زيات وخت پوري د شيخ په خدمت كي وو او په هغه ورځو كي د نورو بزرګانو يو ډله د هغه شيخ زيارت ته راتلل ، نو شيخ هغه مريد ته اشاره وكړه چي د هغه بزرګانو د سپرلۍ حيوانان سنبال كړه هغه د حيوانانو څارني ته ورغلى مګر په زړه كي يې دا وسوسه پيدا سوه چي زه د دومره ليري ځخه په راتلو سره د شيخ خدمت ته راغلى وم د هغه نتيجه دا سوه ، په هر حال كله چي هغه بزرګان د شيخ ځخه رخصت سول او هغه مريد د پير په خدمت كي حاضر سو نو شيخ ورته وويل : اې زويه! هغه وخت چي ما ته د هغه بزرګانو دسپرلۍ د حيوانانو پر ساتني وټاكلې نو دهغه په وجه كيداى سي ستا په زړه كي وسوسه پيدا سوې وي مګر دومره خبره ياد ساته چي ستا د دغه خدمت به تا ته ډېر اجر تر لاسه سي او ډېر ژر به دي الله تعالى دغه درجې ته ورسوي چي ستا خدمت ته به لوى لوى بزرګان راځي او بيا به د الله تعالى له خوا ستا داسي خلک ټاكل كيږي چي دهغه راتلونكو خدمت به كوي، ويل كيږي چي هغه شيخ څه فرمايلي وه هغه صحيح ثابت سول او د هغه سړي ملاقات لپاره به د راتلونكو لوى لوى بزرګانو د زياتوب په وجه تل د هغه پر دروازه د غاترو او اسانو رش وو .

خپله د دغه حديث راوي حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د خدمت په اړه د دين او دنيا په لوى اجر او انعام سره ونازول سو ، كله چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوى وو هغه وخت د هغه عمر لس كاله وو او تر ځو چي رسول الله ﷺ دغه دنيا ته تشريف راوړى نو دهغه د ژوند ټول وخت د رسول الله ﷺ په خدمت كي صرف كيدى ، الله تعالى هغه ته يو لوى

نعمت دا ورکړی وو چې د هغه عمر ډېر اوږد سو هغه تقريبا تر يوسل او درو کالو پوري ژوندی وو ، الله تعالى د مال او شتمنۍ په دولت سره هم نازولی وو او ډېر اولادونه يې هم ورکړی وه، ويل کيږي چې د هغه سل زامن وه .

عالم، حافظ او عادل پاچا

﴿۴۷۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان مِنْ

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِجْلَالِ اللَّهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِي فِيهِ

د سپين ږيري مسلمان عزت کول د قرآن ويونکي حافظ يا مفسر يا قرآن ويونکي عزت کول چې هغه د قرآن په الفاظو او معنى کي زياتي نه کوي

ولاالْجَافِي عَنْهُ وَإِكْرَامَ السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ. رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

او د عادل پاچا تعظيم کول هم يو ډول د الله تعالى د تعظيم څخه دئ. ابو داؤد او بيهقي په شعب الايمان کي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۱۷۴، رقم: ۴۸۴۳، والبيهقي في شعب الايمان ۷\ ۴۶۰، رقم: ۱۰۹۸۶.

تشريح: د دغه حديث په ذريعه د ذکر سوو خلکو د تعظيم او توقير ارزښت ظاهر سوی دی، مطلب دادی چې د دغه خلکو په شان کي بې ادبي کول د الله تعالى د تعظيم خلاف عمل دی ، د حامل قرآن يعني حافظ، مفسر او قرآن ويونکي تعظيم په دې سره مشروط سوی دی چې نه خو غلو کوونکی وي او نه د قرآن ويلو او ښودلو پرېښودونکی وي، بلکه د ميانه روۍ اختيارونکی وي لکه څرنګه چې په ټولو عباداتو کي د رسول الله ﷺ عادت وو، د غُلو نه کولو څخه مراد دادی چې د ريا کونکو په ډول د قرآنکريم د الفاظو تجويد او ښه قرائت په صورت کي د حد څخه تجاوز نه کوي ، تلاوت په دومره تيزي سره نه کوي چې نه خو الفاظ صحيح ادا سي او نه معنى په پوهه کي راسي ، د قرآن کريم په الفاظو او حروفو کي د تحريف په ذريعه خيانت ونه کړي او نه غلط تاويلات او د فاسدو عقائدو او نظرياتو په ذريعه د هغه په معنى او مفهوم کي حذف ، اضافه او ترميم و تبديل وکړي لکه څرنګه چې د فاسد ذهن او فکر د خلکو

طريقه ده ، او نه د قرآن كريم او هداياتو په باره كي شكونه، شبهې او وسوسې پيدا كړي، همدارنگه د قرآن كريم څخه وروسته نسي ، ددې مطلب دادی چي د قرآن كريم تلاوت ترک نه كړي او د تجويد او ادابو څخه مخ نه واړوي او قرآن كريم چي كوم احكام او مسائل بيان كړي دي په هغه عمل كولو څخه تېښته ونه كړي .

ځينو حضراتو غالي (په قرآن كي غلوه كونكی) هغه څوک گرځولی دی چي د تعليم او تدريس، تبليغ او اصلاح، ذكر او فكر او عبادت څخه بالكل په بې پرواه كېدو سره يوازي په تلاوت كي بوخت وي همدارنگه جافي (د قرآن كريم څخه ليري كيدونكی) هغه سړی گرځول سوی دی چي د تلاوت څخه بالكل بې پروا او تښتېدونكی وي ، د عادل پاچا څخه مراد هغه حاكم او مشر دی چي په حقيقي معنی كي د عدل پيروان وي او پر خپلو عوامو باندي ظلم نه كوي او د هغه هيڅ فيصله او عمل د عدل او انصاف خلاف نه وي او دا د عدل اعلی درجه ده، د عدل ادنا درجه داده چي د هغه عدل د هغه پر ظلم باندي غالب وي ، ددې پر خلاف كه چيري د هغه ظلم د هغه پر عدل باندي غالب وي نو هغه ته به عادل نه وايو او داسي پاچا او حاكم څخه ليري كېدل افضل دي ، څرگنده دي وي چي ددغه وخت د اكثرو حاكمانو او مشرانو احوال د هغوئ د حكومتي كاروايي او نظم په لېدو سره هغوئ ته د ادنا درجې عادل ويل هم ډېر مشكل دي د هغوئ له خوا چي پر خپلو عوامو باندي كوم قوانين نافذ كيږي او په كومه توگه چي د هغوئ كاركونكي د عوامو سره چلن كوي كه هغه د حقيقت په هنداره كي وكتل سي نو عدل او انصاف به نسكور او د ظلم غلبه به معلومه سي، همدا وجه ده چي ځينو علماؤ ويلي دي چي كوم څوک په اوس زمانه كي يو پاچا يا حاكم ته عادل وايي نو هغه به د كفر په حد كي داخل سي كه څه هم هر پاچا او حاكم ته د يو ډول عدل څخه بالكل خالي نسي ويل كيدای، په اصل كي ددغه قول بنياد يوه باريكه نكته ده اوّ هغه دا چي د يو سړي عدل كول او د يو سړي عادل كېدل ددغه دواړو په مينځ كي فرق دی،

كه دا وويل سي چي زيد عدل كوي نو د هغه د وينا مطلب دا نه دی چي زيد عادل دی ځكه چي د عدل كولو اطلاق پر هغه چا باندي هم كيدای سي چي كله نا كله عدل كوي او د عادل اطلاق يوازي پر هغه چا باندي كيږي چي د عدل په صفت سره تل موصوف وي، كه چيري داسي وويل سي چي زيد لمونځ كونكی دی نو ددې مطلب دادی چي زيد په پابندي سره د هر وخت لمونځ كوي او هيڅكله لمونځ نه پرېږدي او كه داسي وويل سي چي زيد لمونځ كوي نو ددې مفهوم بل څه دی او هغه دا چي زيد هم لمونځ كوي كه څه هم په پابندی سره يې نه كوي بلكه كله

ناكله يې كوي نو لفظ د عادل چي كوم وسيع او اهم مفهوم ادا كوي د هغه پر بنياد باندي ددغه لفظ اطلاق نه خو ددغه زمانې پر پاچا او حاكم باندي كيداى سي او نه ددغه زمانې پاچا او حاكم ته د عادل ويلو اجازه سته.

په ذكر سوي حديث كي د درو ډولو كسانو د عزت او تعظيم كولو حكم دى او په شرح السنه كي د حضرت طاوس رحمة الله عليه څخه نقل سوي دي چي دا سنت دي چي تاسو د څلورو كسانو تعظيم او احترام وكړئ، يو د عالم، دوهم د سپين ږيري، دريم د پاچا او څلورم د پلار، ملاعلي قاري رحمة الله عليه ددغه وينا څخه وروسته ليكلي دي چي د پلار په حكم كي مور هم داخل ده او د عالم څخه مراد باعمله عالم دي، لكه څرنګه چي په ذكر سوي حديث كي د پلار د نه ذكر كېدو وجه داده چي اول خو د پلار معامله بالكل څرګنده ده او هر څوك پوهيږي چي د پلار تعظيم كول ضروري دي دوهم دا چي د تعظيم او احترام وړ ګرځولو زيات ضرورت د هغه چا دى چي پردى وي او د هغوئ سره نژدې تعلق نه وي ځكه چي د قرابت تعلق په خپله يو انسان د بل انسان پر عزت او احترام باندي مائل كوي، كه چيري پلار سپين ږيرى وي د قران كريم حافظ او باعمله عالم هم وي او پاچا هم وي او هغه پاچا او حاكم كېدل كه د خپل ظاهري منصب په اعتبار وي او كه په باطني او روحاني توګه وي نو په دغه صورت كي هغه سړي ته د خپل پلار ډېر عزت كول پكار دي ځكه چي د هغه په ذات كي هغه خصوصيات جمع وي د تعظيم او توقير واجب كړي.

په دغه حديث كي د ذكر سوو كسانو عزت د الله تعالى د تعظيم څخه ګرځول سوى دى حال دا چي د يوه روايت سره سم دغه تعظيم او توقير رسول الله ﷺ خپله د خپل تعظيم او توقير برابر ګرځولى دى نو خطيب رحمة الله عليه په خپل جامع كي د حضرت انس رضي الله عنه څخه نقل كړي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (ان من اجلالي توقير الشيخ من امتي) يعني د هغه سپين ږيرى عزت كول چي زما د امت څخه دى، زما عزت كول دي.

د يتيم سره ښه چلن كول

﴿۴۷۵۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمانانو په كورونو

كي غوره كور هغه دئ چي په هغه كي يتيم وي او د هغه سره احسان او ښه چلن كيږي او د مسلمانانو په كورونو كي بد ترين كور هغه دئ چي په هغه كي يتيم وي او د هغه سره خراب چلن كيږي . ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۲۱۲، رقم: ۳۶۷۹

تشريح: د يتيم سره د بد چلن كولو مطلب دادی چي د هغه د كور افراد د هغه د ژوند په اړتياوو كي غفلت او كوتاهي كوي ، د هغه سره داسي چلن كوي چي په هغه سره دده د خپل كمۍ او بې چاركۍ احساس وي او هغه ناحقه وهل كيږي او تكليف وركول كيږي ، مگر د هغه د تعليم او روزني په توګه وهل او سزا وركول په خراب چلن كي داخل نه دي بلكه هغه په احسان او ښه چلن كي داخل دی .

﴿۴۷۵۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ أَمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَسَحَ

د حضرت ابوامامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

رَأْسَ يَتِيْمٍ لَمْ يَمْسَحْهُ إِلاَّ لِلّٰهِ كَانَ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ تَمُرُّ عَلَيْهَا يَدُهُ حَسَنَاتٌ

د الله جل جلاله د رضا لپاره د يو يتيم پر سر لاس تېر كړي نو د يتيم پر سر د هر وريښته په عوض كي چي پر هغو د هغه لاس تېر سي نيكي ليكل كيږي

وَّمَنْ أَحْسَنَ إِلٰى يَتِيْمَةٍ أَوْ يَتِيْمٍ عِنْدَهُ كُنْتُ أَنَا وَهُوَ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ وَقَرَنَ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ . رواه أحمد والترمذي وقال : هذا حديث غريب .

او څوک چي د هغه يتيم كوچني سره چي د هغه په روزنه كي وي احسان كوي نو هغه به (زما سره) په جنت كي داسي وي لكه څرنګه چي دا (زما) دوې ګوتي يو ځای دي، رسول الله ﷺ خپلي ګوتي مباركي يو ځای كړي وښودلې . احمد او ترمذي ، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۲۶۵، والترمذي ۴\ ۲۸۳، رقم: ۱۹۱۸.

تشريح: لفظ د تمر كه چيري د تاء په زور او د ميم په پېښ سره وي يعني د مؤنث صيغه وي نو ژباړه يې هغه ده كوم چي پورته نقل سوې ده او كه چيري دغه لفظ د ياء په پېښ او د ميم په زېر سره وي يعني يمر په صيغه د مذكر نو په دغه صورت كي به معنی دا وي : (د هر وېښته په

عوض کي چي) پر هغه باندي يو سړي خپل لاس راتېر کړي، د مطلب په اعتبار په دواړو کي فرق نسته، د حسناتو په اړه علماؤ ليکلي دي چي نيکي د کميت او کيفيت په اعتبار مختلفي درجې لري او دا فرق د ښه نيت پر مدار مبني دی.

ښه چلن کوئ: مطلب دادی چي د هغه سره د شفقت او مهرباني چلن کوئ، د هغه تعليم او روزني ته توجه کوي، کله چي هغه بالغ سي نو د هغه نکاح کوئ او که د هغه مال او نور شيان در سره وي نو د هغه ساتنه کوئ.

په څرګنده دا معلوميږي چي په يتيمة او يتيم کي حرف د او د تنويع لپاره دی مګر صحيح خبره داده چي دغه حرف شک ظاهروي يعني دلته راوي ته دا شک واقع سوی دی چي رسول الله ﷺ د يتيمه لفظ وفرمايه او که د يتيم، په حديث کي د يتيم د روزنې او د هغه سره د ښه چلن کولو په اړه چي د کومو الفاظو په ذريعه تحسين فرمايل سوی دی په هغه کي د يو سړي لپاره د حسن خاتمې زيری دی.

﴿۴۷۵۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي

آوٰى يَتِيمًا إِلٰى طَعَامِهِ وَشَرَابِهِ أَوْجَبَ اللّٰهُ لَهُ الْجَنَّةَ اَلْبَتَّةَ إِلَّا أَنْ يَّعْمَلَ ذَنْبًا لَا

په خوراک او څښاک کي يتيم ته برخه ورکړي نو د هغه لپاره الله تعالی جنت واجب کړي، يقينا تر څو پوري چي هغه داسي ګناه ونه کړي

يُغْفَرُ وَمَنْ عَالَ ثَلَاثَ بَنَاتٍ أَوْ مِثْلَهُنَّ مِنَ الْأَخَوَاتِ فَأَدَّبَهُنَّ وَرَحِمَهُنَّ حَتّٰى

چي د بخښلو وړ نه وي او څوک چي د درو لوڼو يا درو خويندو روزنه وکړي هغوئ ته ادب وښيي پر هغوئ رحم او شفقت وکړي تر څو چي

يُغْنِيَهُنَّ اللّٰهُ أَوْجَبَ اللّٰهُ لَهُ الْجَنَّةَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ او اثْنَتَيْنِ؟ قَالَ

الله تعالی هغوئ بې پروا کړي (يعني هغوئ بالغي سي او نکاح يې وسي او د خاوند کور ته ولاړي سي) نو د داسي کس لپاره الله تعالی جنت واجب کوي، يو سړي وويل: اې د الله رسوله! او د دوو لوڼو يا خويندو د روزني څومره ثواب دئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

او اثْنَتَيْنِ حَتّٰى لو قَالُوا أَوْ وَاحِدَةً لَقَالَ وَاحِدَةً وَمَنْ أَذْهَبَ اللهُ بِكَرِيْمَتَيْهِ

د دوو هم دغه ثواب دئ . كه صحابه كرامو د يوې لور يا خور د روزنې په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کړې وای نو د يوې په اړه به يې هم داسي فرمايلي وای ، او رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا څخه چي الله تعالى دوه محبوب شيان واخلي (يعني دوې ستر گي)

وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا كَرِيْمَتَاهُ قَالَ عَيْنَاهُ . رواه في شرح السنة.

نو د هغه لپاره جنت واجب سو ، پوښتنه وسول اې دالله رسوله ! دوه محبوب شيان كوم دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : دوې ستر گي . شرح السنه

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\ ۴۴ ، رقم: ۳۴۵۷.

تشريح: كومي گناوي چي د بخښلو وړ نه وي: ددې څخه مراد شرک او حقوق العباد دي ، د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادی كه چيري يو څوک داسي گناه وكړي چي د توبې او استغفار څخه پرته نه سي معافېدلای نو هغه د جنت وړ نه سي كيدای ، په دې كي دې ته اشاره ده چي هغه ټول گناهونه چي د هغو تعلق د الله ﷻ د حق سره وي بخښل كيږي مگر د شرک گناه نه بخښل كيږي .

كه چيري صحابه كرامو د لور يا خور په اړه پوښتنه كړې وای : دغه خبره د راجح او مختار مذهب په رڼا كي بالكل څرگنده ده چي په هغه كي دا منل سوې ده چي د احكام شرعيه نفاذ د رسول الله ﷺ پر صواب ديد باندي دی چي رسول الله ﷺ څرنگه غواړي هغه نافذ كړي او څوک چي غواړي مقيد او مستثنی كړي مگر كوم حضرات چي دا قول نه مني هغوئ د ذكر سوي عبارت دا تاويل كوي چي رسول الله ﷺ د صحابه كرامو په ذكر سوي جواب كي چي كومه خبره وفرمايل هغه د وحي الهي پر بنياد وه چي پوښتنه كونكو د خپل سوال په ذريعه دا خواهش كړی وو چي كوم ثواب د درو لوڼو يا درو خويندو پر روزنه باندي وركول كيږي ، كاش چي هغه ثواب د دوو لوڼو يا دوو خويندو د روزنې په صورت كي هم تر لاسه كېدای ، نو الله تعالى د هغوئ د دغه خواهش سره سم وحي نازل كړې او رسول الله ﷺ هغه بيان كړې ، لكه څرنگه چي په نورو ډېرو حديثو كي هم داسي صورت منقول دی .

د اولاد ښه تربيت

﴿۴۷۵۹﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ له مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وناصح الراوي ليس عند اصحاب الحديث بالقوي.

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د انسان خپل اولاد ته د ادب يوه خبره ښودل د يو ه صاع غلي او خيرات كولو څخه غوره دي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ او ناصح راوي د محدثينو په نزد قوي نه دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۹۷، رقم: ۱۹۵۱،

تشريح: د ادب څخه شرعي روزنه او تاديب مراد دی، ددغه حديث څخه دا معلومه سوه چي د شريعت په نظر كي د كوچنيانو د تعليم او روزني ډېر زيات ارزښت دی نو دا د مور او پلار ذمه داري ده چي هغوئ خپل اولاد د صحيح تعليم او روزني څخه برخمن كړي او صحيح تعليم او روزنه هغه دي كوم چي ديني تعليم او روزنه ده چي ديني تعليم، اسلامي اخلاق او شرعي ادابو باندي مشتمل دي.

د ترمذي د قول مطلب دادی چي دغه حديث ضعيف دی مګر څرګنده دي وي چي د اعمالو په فضائلو كي پر ضعيف حديث باندي عمل كول جائز دي لكه څرنګه چي د حدثينو متفقه فيصله ده.

﴿۴۷۶۰﴾: وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدَ مِنْ نَحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هذا عندي حديث مرسل.

حضرت ايوب بن موسى رحمه الله د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پلار خپل زوی ته تر نيک ادب ښودلو غوره هيڅ شی نه سي وركولای. ترمذي او بيهقي، د ترمذي په نزد دا حديث مرسل دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۹۸، رقم: ۱۹۵۲. والبيهقي في شعب الايمان ۶\۳۹۹، رقم: ۸۶۵۲.

د لغاتو حل: نحل: اى اعطى (ورکړه)

تشريح: مطلب دادى چي د پلار له خوا د خپل زوى لپاره تر ټولو زيات قيمتي او تر ټولو زيات ګټور شى صحيح تعليم او نيک تاديب دى.

﴿۴۷۶۱﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت عوف بن مالک اشجعي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ أَنَا وَامْرَأَةٌ سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ كَهَاتَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوْمَأَ يَزِيدُ بابن

زه او د تورو پيکيانو والا ښځه به د قيامت په ورځ داسي وي، يزيد بن زريع ددې حديث يو

زريع الوسطى وَالسَّبَّابَةِ امْرَأَةٌ آمَتْ مِنْ زَوْجِهَا ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ حَبَسَتْ نَفْسَهَا عَلَى يَتَامَاهَا حَتَّى بَانُوا أَوْ مَاتُوا. رواه ابوداؤد.

راوي منځنۍ ګوته او د شهادت ګوتي ته اشاره کولو سره وښودل لکه څرنګه چي دا دوې ګوتي نژدې دي، داسي به رسول الله ﷺ او هغه ښځه د قيامت په ورځ نژدې نژدې وي، د تورو پيکيانو والا ښځي تشريح کول يې وښودل چي ددې څخه مراد هغه ښځه ده چي د هغې خاوند مړ سوى وي يا هغه طلاق ورکړى وي هغه منصب او ښکلا ولري مګر هغې د يتيمانو د روزني په خيال دويمه نکاح نه وي کړې او خپل خواهشات يې منع کړي وي تر څو چي د هغې کوچنيان ځوانان سي او دهغې څخه بيل سي (يعني چي بې حاجته سي ځيني په بلوغ قوت عقل او کاروبار خپل کي). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۵۶، رقم: ۵۱۴۹.

د لغاتو حل: سفعاء: اى متغيرة لون الخدين (د مخ رنګ يې بدل سوى.)

تشريح: مطلب دادى چي د کومي ښځي خاوند د کوچنيانو په پرېښودو سره مړ سي، يا کومي ښځي ته چي خاوند طلاق ورکړى وي او هغه ښځه محض د خپل يتيمانو لپاره د بل چا سره نکاح ونه کړي بلکه د خپل حسن، جمال او عزت سربېره د خپلو جذباتو په وژلو سره د ازدواجي ژوند د خوشحاليو څخه ليري سوې وي او د خپلو کوچنيانو په روزنه کي تر هغه وخته پوري خپل ځان زهيروي تر څو چي د هغوئ په روزنه کي د خپلي ځوانۍ ورځي قربان کړي او خپل حسن او جمال د هغوئ لپاره برباد کړي نو رسول الله ﷺ د داسي ښځي په اړه وفرمايل چي هغه به د

قيامت په ورځ ما ته دومره نژدې وي لکه څرنګه چې دغه دوې ګوتې يو بل ته نژدې دي، ددې څخه معلومه سوه چې کومې ښځې د خاوند د وفات يا طلاق په وجه کونډې سوې وي نو هغوئ ته صبر او استقامت اختيارول، د خپلو کوچنيانو د غوره مستقبل لپاره بله نکاح نه کول او د هغه کوچنيانو ښه روزنه کول ډېر فضيلت لري .

﴿۴۷۶۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ أُنْثَى فَلَمْ يَئِدْهَا وَلَمْ يُهِنْهَا وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ عَلَيْهَا يَعْنِي الذُّكُورَ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د کوم چا چې يوه لور وي او هغه (د جاهليت د زمانې په ډول) ژوندۍ ښخه کړې نه وي نه يې هغه ذليله او خوراه ساتلې وي (د مال او جائيداد په حق کې يې) هلکانو ته پر هغې غوره والى نه وي ورکړى نو الله تعالى به هغه په جنت کې داخل کړي . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۵۴، رقم: ۵۱۴۶.

تشريح: د ولد اطلاق پر زوى او لور دواړو باندې کيږي ځکه ابن عباس رضي الله عنه ددغه الفاظو يعني الذکور په ذريعه دا وضاحت وکړ چې په دغه حديث کې د ولد څخه د رسول الله ﷺ مراد زوى دى

څوک غيبت کولو ته مه پرېږدئ

﴿۴۷۶۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اغْتِيبَ عِنْدَهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا په مخکې چې د يو

أَخُوهُ الْمُسْلِمُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ فَنَصَرَهُ نَصَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَإِنْ

مسلمان ورور غيبت وکړل سي او هغه د هغه مسلمان ورور په مرسته کولو قادر سو او د هغه مرسته يې هم وکړه (يعني د غيبت څخه يې منع کړى) نو الله تعالى به په دنيا او آخرت دواړو کې د هغه مرسته وکړي،

لَمْ يَنْصُرْهُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ أَدْرَكَهُ اللَّهُ بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ . رواه في

شرح السنة.

او كه د هغه مرسته يې نه وكړل او د هغه په مرسته كولو قادر هم وو نو الله تعالى به مؤاخذه كوي په دنيا او آخرت كي به بدله څيني واخلي. شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۰۷\۱۳، رقم: ۳۴۳۰.

تشريح: مطلب دادى كه چيري د يو چا په مخكي د هغه د مسلمان ورور غيبت كيږي او د هغه د عيبونو په بيانولو سره د هغه عزت ته تاوان رسوي نو كه چيري هغه پر دې قادر وي چي د خپل مسلمان ورور حيثيت ته چي كوم تاوان رسيدلى وي د هغه د ختمولو هڅه دي وكړي ځكه چي داسي كول نه يوازي د يو مسلمان ورور مرسته ده بلكه خپل ځان په دنيا او آخرت كي د الله تعالى د مرستي او نصرت مستحق ګرځول دي او كه چيري يو څوك ددغه ذمه دارۍ د پوره كولو څخه منع كوي نو هغه دي پوه سي چي د قدرت لاس به د هغه ګرېوان ونسي او هغه به په دنيا كي او آخرت كي د الهي مؤاخذې سره مخامخ كيږي.

﴿۴۷۶۴﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدٍ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ذَبَّ عَنْ لَحْمِ أَخِيْهِ بِالْمَغِيْبَةِ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُّعْتِقَهُ مِنَ النَّارِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د خپل مسلمان ورور غائبانه د غوښو خوړلو څخه يعني غيبت كولو څخه منع كړي نو پر الله ﷻ د هغه دا حق دئ چي هغه د دوږخ د اور څخه آزاد كړي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۱۲\۶، رقم: ۷۶۴۳.

تشريح: د غيبت كول د كنايې په توګه په غوښو خوړلو سره تعبير سوى دى، يعني كوم څوك چي د چا غيبت كوي نو ګويا د هغه غوښه خوري، په قرآن كريم كي د غيبت خرابي په دغه الفاظو كي بيان سوې ده: (ايحب احدكم ان ياكل لحم اخيه ميتا): ايا په تاسو كي يو څوك د خپل مړه ورور غوښه خوړل خوښوي.

غيبت كولو ته د غوښو د خوړلو سره د تشبيه وركولو سبب دادى چي غيبت كول په اصل كي د هغه بې عزتي كول دي او عزت تر ځان هم زيات خوږ وي نو كوم څوك چي د خپل مسلمان

ورور د غیبت په ذریعه د هغه بې عزتي وکړه نو هغه ګویا هغه هلاک کړ او د هغه غوښه یې وخوړل.

په څرګنده دا خبره صحیح معلومیږي چي د بالمغیبة تعلق د ژبي سره دی او غیبت یعني د عدم موجودګی په مفهوم کي دا هم کیدای سي چي د بالمغیبة تعلق د بلحم اخیه سره وي او د مفهوم په اعتبار غیبت تر شا د یو چا د بد بیانولو په معنی کي دی، په دغه صورت کي به عبارت داسي وي: من ذب عن اکل لحم اخیه بالمغیبة، یعني کوم څوک چي د خپل مسلمان ورور د غیبت په ذریعه د هغه د غوښو خوړلو څخه منعه کړي ...الخ، مګر د حدیث خلاصه په دواړو صورتو کي یوه ده هغه دا چي خلک د یو بل د غیبت څخه منع کول دي.

د دوږخ د اور څخه ازاد کړي: مطلب دادی چي هغه سړی به په پېل کي د دوږخ د اور څخه خلاصون تر لاسه کړي، یا دا که چیري هغه سړی د خپلو ګناهو په سبب په دوږخ کي داخل کړل سي نو د عذاب پوره کولو څخه پرته به را وایستل سي.

﴿۴۷۶۵﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو درداء رضی الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي کوم

يَقُوْلُ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَرُدُّ عَنْ عِرْضِ أَخِيْهِ إِلاَّ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يَّرُدَّ عَنْهُ

مسلمان یو څوک د یو مسلمان ورور د بې عزتی څخه منع کړي (یعني چي څوک غیبت د یو مسلمان کوي او دوئ یې ځیني منع کړي) نو پر الله تعالی د هغه حق دئ چي هغه

نَارَ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ تَلاَ هٰذِهِ الْآيَةَ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ.

رواه في شرح السنة.

د دوږخ د اور څخه وساتي یا د قیامت په ورځ د دوږخ اور د هغه څخه منع کړي، نو بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ: (کان حقا علینا..) او پر موږ باندي د مؤمنانو مرسته واجب ده. شرح السنة

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۱۰۶، رقم: ۳۴۲۸.

﴿۴۷۶۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا مِنْ امْرِئٍ مسلم

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم مسلمان چي د خپل

يَخْذُلُ امْرَأً مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ ينتهكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ وَيُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ

مسلمان وروړ پر هغه موقع مرسته ونه کړي کوم ځای چي د هغه بې عزتي کیږي نو الله تعالی به

إِلَّا خَذَلَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ وَمَا مِنْ امْرِئٍ مسلم يَنْصُرُ

پر هغه موقع د هغه مرسته ونه کړي په کوم ځای کي چي هغه د الله تعالی مرسته خوښوي (يعني په دنيا او آخرت کي)

مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ يُنْتَقَصُ مِنْ عِرْضِهِ وَيُنْتَهَكُ فِيهِ مِنْ حُرْمَتِهِ إِلَّا نَصَرَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فيه نُصْرَتَهُ. رواه ابوداؤد.

او کوم مسلمان چي د خپل مسلمان وروړ پر هغه موقع مرسته وکړي په کوم ځای کي چي د هغه بې حرمتي کیږي نو الله تعالی به پر هغه موقع دهغه مرسته وکړي په کوم ځای کي چي د هغه مرسته خوښوي. (يعني ورته ضرورت يې وي). ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۹۷\۵، رقم: ۴۸۸۴.

﴿۴۷۶۷﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَأَى عَوْرَةً فَسَتَرَهَا كَانَ كَمَنْ أَحْيَا مَوْءُودَةً. رواه احمد والترمذي.

د حضرت عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د يو مسلمان يو عيب ووينې او هغه پټ کړي نو د هغه ثواب د هغه سړي برابر وي چي هغه ژوندۍ ښخ کړې انجلۍ وژغوري. احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الامام احمد ۱۴۷\۱۴، رقم: ۱۹۳۰،

تشريح: د يو چا عيب پټول د ژوندۍ ښخ سوې انجلۍ د ژغورني سره د تشبيه ورکولو وجه علماؤ دا ليکلې ده چي د يو چا معيوبه خبره ښکاره سي نو د شرم څخه هغه د مړه په ډول سي او دا خواهش کوي چي کاش زه مړ وای خو زما عيب چا ته ښکاره سوی نه وای او دغه رسوايي مي لېدلې نه وای، که يو څوک د يو چا عيب پټوي نو هغه گويا د هغه شرمندګۍ دفع کوي چي د هغه لپاره د مرګ برابر ده، په دې اعتبار سره د يو چا عيب پټول هغه ته د ژوند بخښلو برابر دی

لکه څرنګه چي ژوندی انجلۍ ښخ کړل سي او بيا يو سړی هغه انجلۍ په عين وخت کي د قبر څخه راوکاږي کله چي هغه آخري ساه اخلي او بيا ژوند تر لاسه کړي.

مسلمان د بل مسلمان هنداره ده

﴿۴۷۶۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَدَكُمْ مِرْآةُ أَخِيهِ فَإِنْ رَأَى بِهِ أَذًى فَلْيُمِطْ عَنْهُ. رواه الترمذي و ضعفه وفي رواية له ولابي داؤد المؤمن مرآة المؤمن والمؤمن اخو المؤمن يكف عنه ضيعته ويحوطه من ورائه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي هر څوک د خپل مسلمان ورور هنداره ده، که په هغه کي يو خرابي ويني نو هغه دي ځيني ليري کړي، ترمذي او د ترمذي او ابوداؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي مسلمان د مسلمان هنداره ده او مسلمان د مسلمان ورور دئ د هغه څخه دي هغه شی ليري او دفع کړي چي په هغه کي د هغه هلاکت پټ وي او د هغه حق د هغه په نه شتون کي هم خوندي ساتي.

تخريج: سنن الترمذي ۲۸۷\۴، رقم: ۱۹۲۹، وابوداود ۲۱۷\۵، رقم: ۴۹۱۸.

تشريح: مطلب دادی چي څرنګه هنداري ته کتونکی په هنداره کي خپل عيب او خرابي ويني همدارنګه يو مسلمان د بل مسلمان په حق کي دومره حساس او خيرخواه وي که چيري يو مسلمان په خپل مسلمان ورور کي يو عيب ويني يا هغه مسلمان ورور په يو بدکار کي ويني نو هغه دي سمدستي خبر کړي او د هغه عيب تاوان او هلاکت دي ورته بيان کړي او دغه خبرول دي په پټه کوي چي نور خلک په خبر نسي تر څو چي د خلکو په نظر کي رسوا او ذليل نسي، لکه څرنګه چي هنداره خپل ليدونکی د هغه د عيب څخه دا خبروي چي بل چا ته نه معلوميږي نو هغه مسلمان ته هم پکار دي چي کله يو مسلمان هغه په يو عيب خبر کړي نو هغه بايد سمدستي د هغه عيب څخه خپل ځان پاک کړي لکه څرنګه چي يو څوک په هنداره کي پر خپل مخ باندي د يو داغ په ليدو سره سمدستي هغه پاکوي او د مخ د پاکوالي هڅه کوي، خلاصه دا چي د مسلمانانو د يو بل سره کوم قلبي او روحاني تعلق دی د هغه تقاضا داده چي يو مسلمان بل مسلمان په يو عيب کي ويني نو په دې احساس سره چي زما دغه ورور په تاوان کي دی او دده

تاوان زما تاوان دی نو هغه د تاوان څخه د ژغورلو هڅه وکړي ځکه چي دا خيرخواهي د يو بل سره د همدردۍ او د ايمان او اسلام منشاء ده ، دغه ارشاد چي يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، ددې تقاضا داده چي همدردي د ملت د فلاح او کاميابۍ او ديني او دنياوي سعادتونو چينه ده ، مولانا روم رحمة الله عليه ويلي دي چي صوفيان تر هغه وخته پوري په خير او نيکي وي تر څو چي د يو بل د احوالو د اصلاح هڅه کوي او کله چي هغوئ د يو بل څخه بې پروا سي نو هلاک به سي.

د حديث د آخري الفاظو : (ويحوط من ورائه) مطلب دادی چي دا د ايماني ورورګلوۍ مظهر دی چي يو مسلمان د بل مسلمان په نه شتون کي د هغه د عزت ،ځان او مال ساتنه خپل ذمه داري وګڼي . نو يو مسلمان نه يوازي دا چي خپله د يو مسلمان غيبت نه کوي بلکه که چيري بل څوک د هغه غيبت کوي نو د هغه ترديد کوي او ددې هڅه کوي چي د هغه په وړاندي د يو مسلمان ځاني او مالي حيثيت ته تاوان ونه رسېږي .

تهمت ويل

﴿۴۷۶۹﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت معاذبن انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

حَمَى مُؤْمِنًا مِنْ مُنَافِقٍ بَعَثَ اللهُ مَلَكًا يَحْمِي لَحْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ نَارِ

يو مسلمان د يو منافق د شر څخه وژغوري الله تعالی به د هغه مرستي ته يوه ملائکه راوليږي چي هغه به د قيامت په ورځ

جَهَنَّمَ وَمَنْ رَمَى مُسْلِمًا بِشَيْءٍ يُرِيدُ به شَيْنَهُ حَبَسَهُ اللهُ عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ . رواه ابوداؤد.

د دوږخ د اور څخه ساتي او کوم سړی چي پر يو مسلمان داسي تهمت ولګوي چي پر هغه عيب لګوي او عيب لګول د هغه مقصد وي نو الله تعالی به هغه د دوږخ پر پل بندي کړي (يعني پر پل صراط) تر څو چي د هغه سزا پوره سي يا هغه مدعی راضي کړي . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۹۶۱۵، رقم: ۴۸۸۳.

تشريح: دلته د منافق څخه مراد غيبت کونکی دی، غيبت کونکي ته منافق ځکه ويل سوي دي چي غيبت کونکی هيځکله يو چا ته مخامخ بد نه وايي که چيري د هغه په مخ کي وي نو په

زړه كي د بدۍ ساتلو سربېره د هغه د خيرخواهۍ څرګندونه کوي او د هغه تر شا د هغه غيبت کوي چي دا د منافق کار دی چي په ظاهره يو رقم وي او په باطن کي بل رقم وي.

د حديث آخري الفاظ : (حتى يخرج مما قال) مطلب دادی چي تر څو پوري هغه سړی تهمت ويونکی راضي نه کړي يا د شفاعت په ذريعه او يا د ګناه په اندازه د عذاب زغملو په ذريعه د ګناه څخه پاک سي نو تر هغه وخته د هغه خلاصون ممکن نه دی.

غوره ملګری او همسايه

﴿۴۷۷۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ الْأَصْحَابِ عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهِ وَخَيْرُ الْجِيرَانِ عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهِ. رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله جل جلاله په نزد په دوستانو کي غوره دوست هغه دئ چي د خپل دوست خير خواه وي او غوره همسايه د الله تعالى په نزد هغه دئ چي د خپل همسايه خير خواه وي . ترمذي، دارمي او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۹۴، رقم: ۱۹۴۴، والدارمي ۲\ ۲۸۴، رقم: ۲۴۳۷.

تشريح: کوم څوک چي دخپلو قريبانو او همسايګانو سره ښه چلن او احسان کوي او په هر حالت کي د هغوئ خيرخواه وي نو هغه نه يوازي غوره قريب او همسايه ګرځول کيږي بلکه هغه ته د الله تعالى له دربار څخه ډېر ثواب هم ورکول کيږي.

د نيکۍ او بدۍ معلومول

﴿۴۷۷۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي نبي کريم ﷺ ته وويل:

يارسول الله كَيْفَ لِي أَنْ أَعْلَمَ إِذَا أَحْسَنْتُ او اذا أَسَأْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

اې دالله رسوله ! زه دا خبره څنګه معلومه کړم چي دا کار ما نيک کړی دئ يا بد ؟ نبي کريم ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعْتَ جِيرَانَكَ يَقُولُونَ قَدْ أَحْسَنْتَ فَقَدْ أَحْسَنْتَ وَإِذَا

سَمِعْتَهُمْ يَقُولُونَ قَدْ أَسَأْتَ فَقَدْ أَسَأْتَ. رواه ابن ماجة.

ورته وفرمايل: كله چي ته د يو كار په اړه د همسايگانو څخه دا واورې چي تا ښه كار وكړ نو هغه ستا ښه كار دئ او هر كله چي ته د همسايگانو څخه دا واورې چي تا خراب كار وكړ نو هغه ستا خراب كار دئ. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۴۱۲، رقم: ۴۲۲۳.

تشريح: كله چي ته د خپلو همسايگانو څخه دا واورې: دلته د همسايگانو څخه ټول همسايگان مراد دي ځكه چي دوه يا څلور همسايگان پر غلط كار باندي متفق كېداى سي مگر په عامه توگه د ټولو همسايگانو پر يو ناروا فيصله او غلطه خبره باندي متفق كېدل ممكن نه دي، شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه ويلي دي چي ددغه حديث تعلق د هغه صورت سره دى كله چي د هغه همسايگان اهل حق، او انصاف داره او پوهان وي او هغوئ د هغه سړي سره نه زياته مينه او تعلق لري او نه ډېره دښمني ورسره لري. دغه حديث د حضرت علي رضي الله عنه ددغه عارفانه كلام تائيد كوي: (السنة الخلق اقلام الخلق) يعني د مخلوق ژبه د الله تعالى قلم دى يا دغه مفهوم زموږ په سيمه كي ددغه محاورې (د خلكو ژبه د خداى جل جلاله نقاره ده) په ذريعه ادا كيږي، يو شاعر څو مره ښه ويلي دي:

برا كہے جسے عالم اسے برا سمجھو　　زبان خلق كو نقارہ خدا سمجھو

ژباړه: كوم چي عالم ورته بد ووايي هغه بد وگڼه، د خلكو ژبه د خداى جل جلاله نغاره وگڼه.

د مرتبې سره سم چلن كوه

﴿۴۷۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ. رواه ابوداؤد

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: خلك د هغوئ په مرتبه كي ولرئ. (يعني د كومي مرتبې سړي چي وي د هغه سره هم هغسي چلن كوئ) ابوداؤد..

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۱۷۳، رقم: ۴۸۴۲.

تشريح: د چا چي كوم حيثيت وي او د چا چي كومه مرتبه او درجه وي د هغه سره د هغه د درجې او مرتبې مطابق چلن او تعظيم كوه، دا نه چي د هر چا سره يو ډول چلن وكړل سي، يو

سړي شريف او عزتمند وي او يو سړی ذليل او بد وي كه چيري د دواړو سره يو ډول چلن وكړل سي نو څرګنده ده چي نامناسب به وي، ځكه په تعظيم او تكريم كي د هر چا سره داسي چلن كوه چي نه خو تكليف رسونكی او د شكايت پيدا كېدو باعث وي او نه د ددرجې او مرتبې نامناسب وي ، ددې څخه معلومه سوه چي د خادم او مخدوم سره د برابرۍ چلن كول نه دی پكار بلكه په دواړو كي هر يوه د هغه درجه وركول پكار دي او دا خبره د قرآن كريم ددغه آيت څخه هم ثابتيږي چي : (ورفعنا بعضهم درجات) .

په احياء العلوم كي نقل سوي دي چي يوه ورځ بي بي عائشه رضي الله عنها ناسته وه خوراک يې كوی، يو فقير د هغې مخته تېر سو ، بي بي عائشې رضي الله عنها د ډوډۍ يوه ټوټه يې ور واستول، ددې څخه وروسته يو سپور سړی هلته تېر سو نو بي بي عائشې رضي الله عنها پيغام وركړ چي خوراک حاضر دی تشريف راوړئ او ډوډۍ وخورئ . په ناستو كسانو كي يوه سړي د بي بي عائشې رضي الله عنها ددغه مختلف چلن په اړه پوښتنه وكړه ، هغې ورته وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي هر چا ته د هغه درجه وركوئ، هغه فقير خو د ډوډۍ په يوې ټوټې خوشحاله سو مگر كه چيري د هغه سپاره سړي سره مي داسي چلن كړی وای كوم چي د فقير سره مي وكړ نو هغه به تكليف محسوس كړی وای او د هغه سپكاوی به سوی وای .

ددغه حديث څخه معلومه سوه چي علماء د تفاصيل انبياء او تفصيل خلفاء وغيره قائل دي ، د هغوئ قول صحيح دی او دغه حديث د هغوئ په اړه د هدايت چينه ده، كه ځيني خلک د اميرانو، شتمنو او سردارانو د عزت او اكرام ددغه حديث په ذريعه ثابتولو هڅه وكړي نو د هغوئ دغه هڅه به د گمراهۍ برابر وي ځكه علماء خو د علم او فضل په اعتبار پر يو بل فضيلت وركوي او په دغه فضيلت كي د يو چا سپكاوی هيڅكله مقصد نه وي، حال دا چي شتمن خلک د غريبو او مسكينانو سره د سپكاوي او نفرت چلن كوي كه څه هم يو غريب سړی لوی عالم وي او اميرانو او شتمن كسانو تعظيم او عزت كوي كه څه هم هغه لوی فاسق وي . كه داسي شتمن خلک ددغه حديث څخه استدلال كول پيل كړي نو ددې څخه پرته نور څه ويل كيدای سي چي يوې خوا ته هغه علماء دي چي په دغه حديث كي په استدلال كي الله تعالى كامياب كړل او بلي خوا ته هغه بدبخته شتمن خلک دي چي هغوئ يې گمراه كړي دي (كل اناس مشربهم وفهم كل فرق بدينهم يضل به كثيرا و يهدي به كثيرا) .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

رښتيا ويل امانت ادا کول

﴿۴۷۳﴾: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي قُرَادٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ

د حضرت عبدالرحمن بن ابي قراد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يوه ورځ رسول الله ﷺ اودس وکړاو

يَوْمًا فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَتَمَسَّحُوْنَ بِوَضُوْئِهِ فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

صحابه کرامو د اوداسه اوبه پر خپل بدن موږلې ، (ددې په ليدو سره) رسول الله ﷺ ورته

وَسَلَّمَ مَا يَحْمِلُكُمْ عَلٰى هٰذَا قَالُوْا حُبُّ اللهِ وَرَسُوْلِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وفرمايل : کوم شي تاسو پر دې اماده کړي ياست ، صحابه کرامو وويل: الله جل جلاله او د الله د رسول ميني، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُّحِبَّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ أَوْيُحِبُّهُ اللهُ وَرَسُوْلُهُ فَلْيَصْدُقْ حَدِيْثَهُ

د چا چي دا خبره خوښه وي چي هغه الله جل جلاله او د الله جل جلاله د رسول سره مينه وساتي نو هغه ته پکار

إِذَا حَدَّثَ وَلْيُؤَدِّ أَمَانَتَهُ إِذَا اؤْتُمِنَ وَلْيُحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَهُ. رواه البيهقي.

ده چي هغه په خپلو خبرو کي رښتيا وايي ، که هغه سره امانت کښېښودل سي نو په سمه طريقه سره امانت ادا کړي او د همسايګانو د همسايتوب ښه حق ادا کړي . بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۲\۲۰۲، رقم: ۱۵۳۳.

تشريح: د اوداسه د اوبو څخه مراد د اکثرو علماؤ په نزد هغه اوبه دي چي د اوداسه کولو څخه وروسته په لوښي کي پاته سوي وي او ځينو حضراتو ويلي دي چي ددې څخه مراد هغه اوبه دي چي د اوداسه کولو په وخت کي د رسول الله ﷺ د اندامو مبارکو څخه توئيدلې .

او يحبه الله ورسوله: دلته د او حرف د تنويع لپاره دی، څرګنده دي وي چي يوه درجه خو د بنده د الله جل جلاله او رسول ﷺ سره مينه کول دي ، او دوهمه درجه د الله جل جلاله او رسول ﷺ د بنده سره مينه کول دي، څرګنده ده چي دوهمه درجه تر لومړۍ درجې لوړه ده مګر په حقيقت کي دواړي درجې د يوې بلې لپاره لازم او ملزوم دي په دې توګه چي هر يو خپل دوست ګرځول يا دا چي

حرف د او په اصل كي د لفظ بل په معنى كي استعمال سوى وي په دغه صورت كي به معنى دا وي چي كوم څوک دا خوښوي چي د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه لري بلكه كوم څوک چي خوښوي چي الله او د هغه رسول سره مينه كوي نو هغه ته پكار دي چي ...الخ. دغه قول زيات صحيح معلوميږي ، دا هم كېداى سي چي د او حرف د راوي شک ظاهروي يعني رسول الله ﷺ يا دا فرمايلي وه چي كوم څوک د الله ﷻ او د هغه د رسول سره مينه كول غواړي يا يې دا فرمايلي دي چي كوم څوک دا خوښوي نو الله تعالى او د هغه رسول د هغه سره مينه كوي.

په هر حال د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاصه داده چي د الله ﷻ او د هغه د رسول د ميني دعوه د داسي خبرو په ذريعه چي پر نفس باندي سخت نه وي هيڅ حيثيت نه لري بلكه د دغه دعوې د ثبوت لپاره ضروري ده چي الله ﷻ او د هغه رسول د كومو شيانو اختيارولو حكم كړى دى هغه اختيار كړل سي او د كومو شيانو څخه يې چي منع كړې ده د هغه څخه ځان وساتل سي، په خاصه توګه پر هغه احكامو باندي په زياته توجه سره عمل وكړل سي چي د هغو تعلق د خلكو د حقوقو او معاملاتو سره وي او حقوقو او معاملات هم هغه چي هغه اكثر واقع كيږي لكه رښتيا ويل، امانت ادا كول، د همسايګانو سره ښه چلن كول او داسي نور.

احتمال دى چي رسول الله ﷺ كيداى سي هغه صحابه كرام د ذكر سوو شيانو د حقوقو په ادا كولو كي كمزوري ليدلي وي ځكه نو په خاصه توګه رسول الله ﷺ د دغه شيانو ذكر وفرمايه.

وږى همسايه

﴿۴۷۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِيْ يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي هغه څوک پوره مؤمن نه دئ چي خپله په ماړه نس خوراک وكړي او د څنګ همسايه يې وږى وي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٣\٢٢٥، رقم: ٣٣٨٩.

تشريح: څرګنده ده چي هغه مسلمان د كمال ايمان درجې ته څرنګه رسيدلاى سي چي خپله په ماړه نس بېده سي او د هغه همسايه وږى وي، د يو كامل مسلمان په اړه دا تصور هم نسي كيداى چي هغه په دې پوهيږي چي د هغه فلانى همسايه محتاج، مفلس او سخت وږى دى او

هغه په خپل خوراک کي شريک نه کړي.

د هغه د اړخ څخه: د دغه جملې په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي کوم څوک د خپل همسايه د حالاتو څخه بې خبره او بې پروا وي نو د هغه څخه لوی غافل او بې پرواه بل څوک کيدای سي.

جنت او دوږخ ته تلونکي ښځي

﴿۴۷۷۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ فُلَانَةَ تُذْكَرُ مِنْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي وويل: اې د الله رسوله! فلانۍ ښځه په

كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَصِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا غَيْرَ أَنَّهَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ هِيَ

لمونځ کولو، روژو نيولو او خيرات کولو کي شهرت لري مگر په خپله ژبه سره همسايگانو ته تکليف رسوي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه به

فِي النَّارِ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ فَإِنَّ فُلَانَةَ يذكر قِلَّةِ صِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا وَصَلَاتِهَا

دوږخ ته ځي، هغه سړي وويل: اې د الله رسوله! فلانۍ ښځه د هغې په اړه ويل کيږي چي روژې کمې نيسي، خيرات هم ډير کم کوي او لمونځ هم کم کوي

وَإِنَّهَا تَصَدَّقُ بِالْأَثْوَارِ مِنَ الْأَقِطِ وَلَا تُؤْذِي بِلِسَانِهَا جِيرَانَهَا قَالَ هِيَ فِي الْجَنَّةِ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

او هغه يوازې د پنير يو څو ټوټې د الله جل جلاله په لار کي ورکوي مگر په خپله ژبه سره همسايگانو ته تکليف نه ورکوي، رسول الله ﷺ وفرمايل هغه به جنت ته ځي. احمد او بيهقي

تخريج: مسند الامام احمد ٢\٤٤٠، والبيهقي في الشعب ٧\٧٩، رقم: ٩٥٤٦.

د لغاتو حل: الاثوار: جمع ثور وهو قطعة من الاقط. الاقط: هو لبن مجفف يابس (وچي شېدې)

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاصه داده چي په اصل کي د دين مدار پر کوم شي دي هغه د فرضو ادا کول او د گناهو څخه ځان ساتل دي يعني د انسان آخروي کاميابي او خلاصون محض پر دې منحصر دی چي هغه په ديني فرضونو او واجباتو باندي عمل وکړي او د گناهو څخه ځان وساتي، گناه او معصيت که د ترک فرض او واجب په صورت کي وي او که د بدو

عملو په شكل كي وي ، ددغه خبري څخه هيڅ نه تر لاسه كيږي چي نفلي عبادات او طاعات اختيار كړل سي او اصول يعني واجبات ضائع كړل سي لكه څرنګه چي اكثر عالمان او صالحان په دغه كمزورۍ كي اخته دي، نو علماء خو هغه شيان ترک كوي چي په هغه عمل كول واجب دی او صالحان د هغه علم نه تر لاسه كوي چي د هغه تر لاسه كول واجب دی ګويا دغه دواړي طبقې د ترک واجب ګناه كار دی ، مګر هغه مشائخ او صوفيان چي د علم او عمل دواړو عامل وي د هغوئ په واجباتو باندي عمل كولو ته چي كومه درجه وركوي هغه درجه د ترک واجباتو د معصيت څخه پرهيز ته هم وركوي بلكه د هغوئ په نزد د پرهيز اهميت مقدم دی او هغوئ د حكماء طب دا اصول اختياروي چي څرنګه طبيبانو مريض ته پرهيز مخكي كوي او دواء وروسته وركوي همدارنګه هغه مشائخ او صوفيان هم لومړی منزل توبه ګرځوي او حقيقت هم دادی چي څرنګه مريض د مضرو شيانو څخه پرهيز نه كوي نو په لكونو دواياني د هغه لپاره بې ګټي دي همدارنګه يو مسلمان چي د ګناه او معصيت څخه ځان نه ساتي نو هغه په لكونو عبادت وكړي او په نفلو او ذكرو كي اخته وي نو هغه ته څه ګټه نه رسيږي ، په كلمه توحيد كي دغه حقيقت ته اشاره ده چي مخكي نفي ده او بيا اثبات دی او دا چي پر صفات ثبوتيه باندي صفات سلبيه مقدم دی ځكه چي د صفات ثبوتيه حصول لازميږي مګر د صفات ثبوتيه څخه مخكي د صفات سلبيه حصول نه لازميږي .

غوره مسلمان

﴿۴۷۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ عَلٰى نَاسٍ جُلُوسٍ

د حضرت ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي صحابه كرام ناست وه چي رسول الله ﷺ ولاړ سو او

فَقَالَ اَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ قَالَ فَسَكَتُوا فَقَالَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ

وه يې فرمايل : ايا زه ستاسو غوره خلک د بدترينو خلكو څخه بيل كړي وښيم، د ابو هريرة رضی الله عنه بيان دئ چي ددې په اوريدو سره ټول صحابه كرام پټه خوله سول او چا هيڅ ونه ويل ، تر دې چي رسول الله ﷺ درې واره دا الفاظ وفرمايل ،

مَرَّاتٍ فَقَالَ رَجُلٌ بَلٰى يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَخْبِرْنَا بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا فَقَالَ خَيْرُكُمْ

بيا يو سړي وويل: هو ، اې د الله رسوله ! زموږ غوره كسان د بدترينو كسانو څخه راته وښياست، رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي غوره كسان هغه دي

مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ وَشَرُّكُمْ مَنْ لَا يُرْجَى خَيْرُهُ وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ . رواه الترمذي و البيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

چي د هغه د نيکۍ خلک اميدوار وي او د هغه د شر څخه خلک په امان وي او بدترين خلک هغه دي چي د هغه د نيکۍ خلک اميدوار نه وي او د هغه د شر څخه خلک په امان نه وي .، ترمذي او بيهقي په شعب الايمان کي او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دئ

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۵۷، رقم: ۲۲۶۳، والبيهقي في الشعب ۷\۵۳۹، رقم: ۱۱۲۶۸.

تشريح: د غوره او بد پېژندنه هغه ده چي په حديث کي وفرمايل سول، پاته سو هغه سړی چي نه خلک د خير اميد ځيني کوي مګر د هغه د شر څخه خوندي نه وي يا هغه سړی چي د هغه د شر څخه خلک خوندي وي مګر د هغه څخه د خير اميد نه لري نو داسي سړی په مېنځ کي دی چي نه غوره ورته ويل کيږي او نه بد .

کامل مؤمن او مسلمان

﴿۴۷۷۷﴾: وَعَنِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى ستاسو په

قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَخْلَاقَكُمْ كَمَا قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَرْزَاقَكُمْ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يُعْطِي

منځ کي اخلاق داسي ويشلي دي لکه څرنګه چي ستاسو په منځ کي رزق ويشلی دئ ، الله تعالى هغه چا ته دنيا ورکوي

الدُّنْيَا مَنْ يُحِبُّ وَمَنْ لَا يُحِبُّ وَلَا يُعْطِي الدِّينَ إِلَّا مَنْ أَحَبَّ فَمَنْ أَعْطَاهُ

څوک چي د خدای جل جلاله خوښ وي او هغه چا ته هم دنيا ورکوي چي د خدای جل جلاله خوښ نه وي (کافر)، او دين يوازي هغه چا ته ورکوي چي د خدای جل جلاله خوښ وي، چا ته چي الله تعالى دين

اللّٰهُ الدِّينَ فَقَدْ أَحَبَّهُ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُسْلِمُ عَبْدٌ حَتَّى يَسْلَمَ قَلْبُهُ

وَلِسَانُهُ وَلَا يُؤْمِنُ حَتَّى يَأْمَنَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ. رواه احمد والبيهقي

ورکړی دئ الله تعالى هغه خوښوي، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واک کي زما ساه ده بنده تر هغه وخته پوري پوره مسلمان کيدلای نه سي تر څو پوري چي د هغه زړه او ژبه مسلمانه نه وي او بنده تر هغه وخته پوري (پوره) مؤمن کيدلای نه سي تر څو پوري چي د هغه همسايه د هغه د بدو څخه په امان نه وي. احمد او بيهقي

تخريج: مسند الامام احمد ۱\۳۸۷، والبيهقي في الشعب ۴\۳۹۵، رقم: ۵۵۲۴.

تشريح: د زړه اسلام دادی چي هغه د باطل عقائدو او نظرياتو څخه پاک وساتل سي او د ژبي اسلام دادی چي هغه د بې ګټو خبرو څخه خوندي وساتل سي مګر صحيح خبره داده چي د زړه او ژبي د مسلمانېدو څخه مراد هغه تصديق او اقرار دی چي پر هغه د ايمان بنياد دی او د هغه په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي د ظاهر او باطن يو کېدل د کمال ايمان او اسلام دليل دی او د زړه او ژبي د ايمان او اسلام مدار دی ځکه په خاصه توګه د دغه دواړو ذکر وسو.

د مسلمان سره مينه

﴿۴۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ مُأْلَفٌ وَلَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان مينه ناک وي او په هغه چا کي خير نسته چي د مسلمان سره مينه او الفت نه لري او مسلمان د هغه سره مينه او محبت نه لري. احمد او بيهقي په شعب الايمان کي.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۴۰۰، والبيهقي في الشعب ۶\۲۷۰، رقم: ۸۱۱۹.

د لغاتو حل: مالف: اى يالف ويؤلف.

تشريح: لفظ د مالف مصدر ميمي دی او د فاعل او مفعول دواړو په معنى کي استعمال سوی دی ګويا د دغه لفظ د مفهوم په اعتبار داسي دی: يالف ويولف، يعني د مؤمن شان دادی چي هغه د نورو سره الفت کوي او نور خلک د هغه سره الفت کوي، په يوه روايت کي داسي نقل سوي دي او دلته هم د حديث آخري الفاظ ددې خبري تائيد کوي مګر طيبي رحمه الله وايي: کيدای سي چي د دغه لفظ د مالف مصدر د مبالغې په توګه وي لکه چي ويل کيږي رجل عدل، په دغه صورت کي به معنى دا وي چي مؤمن الفت کونکی دی يا دا چي مالف اسم مکان دی لکه

څرنګه چي په ژباړه کي دی، په دغه صورت کي دې ته اشاره کول مقصد دي چي مسلمانان په خپلو کي د يو بل سره محبت او الفت کونکي وي که هغوئ په خپلو کي د الفت او محبت روح ختم کړي نو بيا په هغوئ کي به تفرقه ولويږي او هغوئ به د انتشار ښکار سي، الله ﷻ د دغه آيت کريمه (کنتم اعداء فالف بين قلوبکم...) په ذريعه الفت او موانست د مسلمانانو لپاره يو ستر نعمت ګرځولی دی او په قرآن کريم دغه مضمون څو ځايه بيان سوی دی.

د مسلمان اړتيا پوره کول

﴿۴۷۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَضٰى لِأَحَدٍ مِّنْ أُمَّتِيْ حَاجَةً يُرِيْدُ أَنْ يَّسُرَّهُ بِهَا فَقَدْ سَرَّنِيْ وَمَنْ سَرَّنِيْ فَقَدْ سَرَّ اللّٰهَ وَمَنْ سَرَّ اللّٰهَ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ. رواه البيهقي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي زما په امت کي د چا (ديني يا دنيوي) اړتيا پوره کړي او د هغه څخه د هغه مقصد د هغه خوښي وي نو هغه زه خوشحاله کړم او چا چي زه خوشحاله کړم نو هغه الله ﷻ خوشحاله کړي او چا چي الله خوشحاله کړ الله تعالی به هغه په جنت کي داخل کړي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب: ۱۱۵/۱۶، رقم: ۷۶۵۲.

تشريح: د مسلمان د حاجت پوره کولو فضيلت د جامع صغير په روايت کي چي خطيب رحمه الله د حضرت انس رضي الله عنه څخه نقل کړی دی داسي بيان سوی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د خپل مسلمان وروريو حاجت او ضرورت پوره کړ نو هغه ته د حج او عمره کونکي د ثواب په ډول ثواب ورکول کيږي.

د مسلمان مرسته کوئ

﴿۴۸۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَغَاثَ مَلْهُوْفًا كَتَبَ اللّٰهُ ثَلَاثًا وَّسَبْعِيْنَ مَغْفِرَةً وَّاحِدَةً فِيْهَا صَلَاحُ أَمْرِهِ كُلِّهِ وَثِنْتَانِ وَسَبْعُوْنَ لَهُ دَرَجَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البيهقي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د يو مظلوم فرياد واوري الله تعالی د هغه لپاره دري اويا بخښښونه ليکي په هغو کي يو بخښښ دادئ چي د هغه

د ټولو کارونو د اصلاح ضامن دئ او دواويا بخښښونه به دقيامت په ورځ د هغه د درجاتو لوړولو سبب وي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ۱۱\۱۲۰، رقم: ۷۶۷۰.

مخلوق د الله ﷻ کورنۍ ده

﴿۴۷۸۱﴾: وَعَنْهُ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْخَلْقُ عِيَالُ اللهِ فَأَحَبُّ الْخَلْقِ إِلَى اللهِ مَنْ أَحْسَنَ إِلٰى عِيَالِهِ . روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان

د حضرت انس او عبدالله (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مخلوق د الله تعالى کورنۍ ده او په مخلوق کي غوره هغه دئ چي د الله تعالى د کورنۍ سره احسان وکړي. بيهقي پورتني درې حديثونه په شعب الايمان کي روايت کړي دي.

تخريج: البيهقي في الشعب ۱\۴۳، رقم: ۷۴۴۶.

تشريح: د عيال معنى د متعلقينو ده او د يو سړي د متعلقينو اطلاق پر هغه افرادو باندي کيږي چي د هغوئ روزنه، خوراک، څښاک او د ژوند نوري اړتياوي د هغه پر ذمه وي، نو په دغه معنى کي د عيال نسبت پرته د الله ﷻ طرف ته مجازي وي، او الله ﷻ ته حقيقي وي ځکه چي رزاق مطلق په حقيقت کي الله ﷻ دی لکه څرنګه چي خلاق مطلق د هغه ذات دی، د الله ﷻ ارشاد دی: (وما من دابة في الارض الا على الله رزقها): په ځمکه کي داسي تلونکی شی نسته چي د هغه رزق د الله ﷻ پر ذمه نه وي.

د همسايه د حقوقو پوښتنه

﴿۴۷۸۲﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلُ خَصْمَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ جَارَانِ. رواه احمد.

د عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (د بندګانو په معاملاتو کي) تر ټولو لومړۍ چي کومه معامله وړاندي کيږي هغه به د دوو همسايګانو جګړه وي. احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۱۵۱۱۴.

تشريح: مطلب دادی چي د قيامت په ورځ به د اهل دوږخ څخه وروسته د حقوقو د نه ادا کولو په اړه چي کومه معامله تر ټولو مخکي وړاندي کيږي هغه به د دوو همسايګانو وي چي په خپلو کي د يو بل د تکليف رسولو يا د حقوقو په ادا کولو کي د کوتاهۍ سره مخ سوي وي، څرګنده دي وي چي په يوه روايت کي داسي فرمايل سوي دي چي د قيامت په ورځ به تر ټولو مخکي د لمانځه په اړه محاسبه کيږي او په يوه روايت کي دا هم نقل سوي دي چي د قيامت په ورځ به تر ټولو مخکي د وژني محاسبه وي ، او د ذکر سوي روايت څخه دا معلوميږي چي د قيامت په ورځ به تر ټولو مخکي د دوو همسايګانو د دښمنۍ معامله وي ، نو په دغه روايتو کي په ښکاره تضاد معلوميږي ځکه علماؤ ددغه ټولو روايتو په مينځ کي دا تطبيق کړی دی چي د حقوقو الله په اړه تر ټولو مخکي د وژني فيصله کيږي ځکه چي د يو چا ناحقه وينه تويول ډېره لويه ګناه ده ، پاته سو ذکر سوی حديث نو د لفظ خصمين په ذريعه دا خبره څرګنديږي ،

دغه حديث د دواړو ډلو د يو بل خلاف دعوې کولو سره مقيد دی يعني کوم خلک چي داسي وي چي په هغوئ کي هر يوه د بل د حقوقو په ادا کولو کي کوتاهي کړې وي او د هغه په وجه هر يو ګناه کار سوی وي نو په داسي خلکو کي چي کوم دوه کسان تر ټولو مخکي وړاندي کيږي او د يو بل خلاف دعوه کوي نو هغه به دوه همسايګان وي او دهغوئ فيصله به وسي او که چيري دا فرض کړل سي چي د حقوقو په ادا کولو کي د کوتاهۍ تعلق د دواړو ډلو سره نه وي بلکه د يوه سره وي نو په دغه صورت کي به ويل کيږي چي پر دواړو ډلو باندي د خصمين اطلاق د تقليب په توګه دی لکه چي د قرآن کريم دغه الفاظ (جزاء سيئة سيئة مثلها) ، ددې مثال دی، خلاصه دا چي په ذکر سوو روايتو کي چي د کومو معاملو ذکر سوی دی په هر يوه کي اوليت اضافي دی چي د هغه په وجه تضاد نه لازميږي .

د سخت زړه درملنه

﴿۴۷۸۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًا شَكَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْوَةَ قَلْبِهِ فَقَالَ امْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ وَأَطْعِمْ الْمِسْكِينَ. رواه احمد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي رسول الله ﷺ ته د خپل زړه د سخت والي شکايت وکړ ، رسول الله ﷺ ددې په علاج کي ورته وفرمايل د يتيم پر سر لاس تيروه او په

غريبانو باندي خوراک خوره . احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۲٦۳.

د کونډې لور ساتنه

﴿۴۷۸۴﴾: وَعَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى أَفْضَلِ الصَّدَقَةِ ابْنَتُكَ مَرْدُودَةً إِلَيْكَ لَيْسَ لَهَا كَاسِبٌ غَيْرُكَ. رواه ابن ماجة.

د حضرت سراقة بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا تاسو د غوره صدقې څخه خبر نه کړم؟ (هغه داده چي) د خپلي هغه لور سره ښه چلن کوئ کومه چي ستا په لور بیرته درکړل سوې ده (یعني طلاقه سوې ده یا کونډه سوې ده) او ستا څخه پرته د هغې هیڅ یو ساتونکی نه وي. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۲۰۹، رقم: ۲٦٦۷.

============

بَابُ الْحُبِّ فِي اللّٰهِ وَمِنَ اللّٰهِ

(د الله جل جلاله سره مینه او د الله جل جلاله لپاره د میني کولو بیان)

د الله جل جلاله سره د میني معنی داده چي د معبود سره د عبودیت کوم تعلق قائم کړل سي او د پروردګار د ذات سره چي کومه مینه وکړل سي په هغه کي ریاء او د نفساني خواهشاتو امیزش نه وي بلکه هغه مینه او تعلق محض د الله جل جلاله د رضا تر لاسه کولو لپاره وي.

د الله جل جلاله لپاره د میني مطلب دادی چي د یو بنده سره د تعلق او میني کوم تعلق چي قائم کړل سي هغه محض د الله جل جلاله لپاره وي او د الله جل جلاله په لاره کي یو دنیاوي غرض نه وي یعني د یو بنده سره د زړه مینه او دوستي وکړل سي او یوازي دده لپاره وکړل سي چي د هغه بنده سره د میني او تعلق درلودل یوازي د الله جل جلاله د رضا تر لاسه کېدل وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

روز ازل

﴿۴۷۸۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَرْوَاحُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ فَمَا تَعَارَفَ مِنْهَا ائْتَلَفَ وَمَا تَنَاكَرَ مِنْهَا اخْتَلَفَ. رواه البخاري و رواه مسلم عن ابي هريرة.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: روحونه (په بدنو کي د ننوتلو څخه مخکي) د یو مجتمع لښکر په ډول وه (بیا هغوئ په بدنونو کي د ننه ایستلو لپاره بیل بیل کړل سول) نو کوم روحونه چي په بدنونو کي د ننه وتلو څخه مخکیپه خپل منځ کي اشنا وه (اوس هم هغه) په خپل منځ کي اشنا دي او په خپل منځ کي مینه لري او کوم روحونه چي هغه وخت په خپل منځ کي نا اشنا وه هغه اوس هم اختلاف لري. بخاري، او د مسلم د ابوهريرة رضی الله عنه څخه روایت کړی دئ.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۳۶۹، رقم: ۳۳۳۶.

تشريح: د جمهورو علماؤ قول دادی چي په دنیا کي تر اوسه پوري څومره اجسام پیدا سوي دي یا تر قیامته پوري پیدا کیږي د هغوئ ټول روحونه د خپل بدني وجود څخه ډېر مخکي پیدا سوي دي چي په عالم ارواح کي جمع دي او په دنیا کي چي کله د یو روح جسم پیدا کیږي نو هغه روح هغه بدن ته واستول سي، د خلقت په ابتداء کي او په اذل کي چي الله تعالی د خپل ربوبیت عهد او اقرار کولو لپاره د پوره کائناتو روحونه د مېږیانو په صورت کي جمع کړل نو هغه وخت موجود روحونو په خپلو کي د یو بل سره متعارف کړل سول او د کومو روحونو په مینځ کي چي د صفات مناسبت او موانست او مینه پیدا سول یا کوم روحونه چي په خپلو کي نامانوس پاته سول او د کومو روحونو په مینځ کي چي اختلاف پاته سو نو هغوئ په دنیا کي خپلو بدنو ته د را تلو څخه وروسته په هم هغه مناسبت او میني او صفاتو سره مناسبت او مشابهت لري لکه کوم خلک چي نیک بخته وي هغوئ نېک او ښه خلکو سره مینه او تعلق لري یا کوم خلک چي په دغه دنیا کي په خپلو کي د یو بل سره اختلاف لري لکه نېک خلک چي د خرابو خلکو څخه پرهیز کوي او خراب خلک د نېکو خلکو سره اختلاف لري نو هغوئ په اصل کي د خپلو روحونو

د ازلي اتحاد او اختلاف مظهر دي چي د ازل په ورځ کي په کومو روحو کي مينه وه د هغوئ په مينځ کي په دغه دنيا کي هم مينه او محبت دی او په کومو روحو کي چي هلته اختلاف او عناد وو هغوئ دلته هم اختلاف او عناد لري.

د روحونو په مينځ کي چي د ازل په ورځ کوم تعارف او تعلق پيدا سوی وو د هغه ظهور په دغه دنيا کي د الهام الهي په سبب کيږي په دې توګه کله چي هغه روحونه په دغه دنيا کي خپلو بدنو ته راسي نو الله تعالى د هغوئ د ازل د ورځي د ميني په سبب دلته په دنيا کي هم دهغوئ په زړونو کي تعلق او مينه اچوي.

د الله تعالى د بنده سره مينه

﴿۴۷۸۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى چي د يو بنده

إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ قَالَ فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ

سره مينه کوي نو جبرائيل عليه السلام ته وايي زه د فلاني بنده سره مينه کوم ته هم د هغه سره مينه کوه ويلي دي رسول الله ﷺ نو چي جبرائيل عليه السلام د هغه سره مينه کوي

ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ

نو په آسمان کي اعلان کوي چي الله تعالى د فلاني بنده سره مينه کوي تاسو هم د هغه سره مينه کوئ نو آسمان والا هم د هغه سره مينه کول راواخلي

ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ إِنِّي

بيا ددغه بنده لپاره په مځکه کي قبوليت کښېښودل سي (يعني د مځکي خلک هم ورسره مينه راواخلي) او هر کله چي د الله تعالى د يو بنده سره بدي سي نو جبرائيل عليه السلام ته وايي

أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ قَالَ فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ

چي د فلاني بنده سره زه بغض لرم ته هم ورسره بغض ساته، نو جبرائيل عليه السلام هم ورسره بغض ساتي او په آسمان والاوو کي اعلان کوي چي

اللَّهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ قَالَ فَيُبْغِضُونَهُ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ. رواه مسلم.

الله تعالى د فلاني بنده سره بغض لري تاسو هم ورسره بغض ساتئ نو آسمان والا هم ورسره بغض ساتي او بيا د هغه لپاره په مځکه کي هم بغض کښېښودل سي (يعني د مځکي خلک هم د هغه سره بغض ساتي) مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۴/۲۰۳۰، رقم: ۱۵۷- ۲۶۳۷.

تشريح: د الله ﷻ د يو چا سره د مينې مطلب په اصل کي د هغه بنده په حق کي د الله تعالى له لوري د خير، هدايت او کاميابۍ باران کېدل او پر هغه د رحمت نزول دی، همدارنګه د الله تعالى د يو چا څخه نفرت کول د هغه سرې په عذاب کي د اخته کولو اراده څرګندول دي ، ددې څخه د حق هدايت توفيق د يو بنده په حق کي د هغه محبت پر دوو صورتو باندي محمول کيدای سي يو خو دا چي هغوئ د هغه بنده په حق کي استغفار کوي د هغه روح او تعريف کوي او د هغه لپاره د الله تعالى په دربار کي دعاء کوي .

دوهم دا چي د مينې هغه ظاهري معنى مراد وي چي په عامه توګه مفهوم کيږي يعني د هغوئ زړونه هغه بنده ته مائل کيږي او د هغه سره د ليدني شوق لري .

ملا علي قاري رحمه الله وايي: دوهم صورت يعني د مينې پر ظاهري معنى محمول کول زيات صحيح دي ، کله چي يو لفظ د هغه پر حقيقي معنى محمول کول صحيح وي نو بيا د مجازي معنى مراد اخيستل نامناسب وي، ددې څخه پرته مينه د هغه پر حقيقي معنى باندي د محمول کولو په صورت کي اوله معنى يعني د هغه بنده په حق کي د جبرائيل عليه السلام او ملائکو دعاء او استغفار په ضمني توګه متحقق کيږي .

د الله ﷻ د رضا لپاره مينه

﴿۴۷۸۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي . رواه مسلم.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى به د قيامت په ورځ وفرمايي : هغه خلک چيري دي چي زما د رضا تر لاسه کولو لپاره به يې په خپل منځ کي مينه کول ، نن ورځ زه د خپل سايې لاندي ځاى ورکوم او نن زما د سايې څخه پرته بله سايه نسته . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۱۹۸۸، رقم: ۳۷-۲۵۶۶.

تشريح: د الله جل جلاله د سايې څخه مراد يا خو د عرش سايه ده لکه څرنګه چي په ځينو حديثو کي په څرګنده ذکر سوي دي، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي د الله تعالى له خوا د سايې وضاحت د هغه د سايې د عظمت او تکريم څرګندولو لپاره دى ، يا د سايې څخه مراد د الله جل جلاله رحمت او حفاظت دى لکه څرنګه چي فرمايل سوي دي : (السلطان ظل الله في الارض) يعني پاچا په مځکه کي د الله جل جلاله سايه وي، يا دا چي د سايې په ذريعه د قيامت په ورځ هغه راحتونه او نعمتونه تعبير سوي دي چي پر دغه خلکو باندي به د الله تعالى له خوا څرګند سي ، په عربي کي د ظل لفظ د راحت او نعمت په مفهوم کي هم استعماليږي لکه څرنګه چي خوشحاله او د راحت څخه ډک ژوند ته عيش ظليل ويل کيږي .

حب في الله

﴿۴۷۸۸﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا زَارَ أَخًا لَهُ فِي قَرْيَةٍ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړي د خپل (مسلمان) ورور سره چي د يو بل کلي وو د ملاقات اراده وکړل

أُخْرَى فَأَرْصَدَ اللَّهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكًا قَالَ أَيْنَ تُرِيدُ قَالَ أُرِيدُ أَخًا لِي فِي

الله تعالى د هغه په لار کي د هغه په انتظار کي يوه ملائکه کښېنول ، ملائکي پوښتنه وکړه چيري دي د تلو اراده ده ؟ هغه ورته وويل :

هَذِهِ الْقَرْيَةِ قَالَ هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا قَالَ لَا غَيْرَ أَنِّي أَحْبَبْتُهُ فِي اللَّهِ

په هغه کلي کي د خپل ورور د ملاقات اراده لرم، ملائکي ورته وويل ايا ستا پر هغه د نعمت څه حق سته چي د هغه اخيستلو لپاره ورځې ؟ هغه ورته وويل:يا ، زه د هغه سره يوازي د الله جل جلاله د

عَزَّ وَجَلَّ قَالَ فَإِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ

فِيهِ .رواه مسلم.

رضا لپاره مينه كوم، ملائكي ورته وويل : زه الله تعالى تا ته راليږلې يم او تا ته دا زيرى دئ چي الله تعالى هم ستا سره داسي مينه لري لكه څرنگه چي ته د الله ﷻ د رضا لپاره د هغه سره مينه لرې . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم : ۴\۱۹۸۸، رقم: ۳۸- ۲۵۶۷.

د لغاتو حل: مدرجته: اى في طريقه. تربها : اى تقوم باصلاحها واتمامها.

تشريح:په دغه حديث كي د الله ﷻ لپاره دميني كولو فضيلت څرگنديږي چي دغه خبره د الهي ميني د تر لاسه كولو ذريعه ده او ددې څخه د صالحانو د ملاقات لپاره هغوئ ته د ورتللو فضيلت هم څرگنديږي ، ددې څخه پرته دغه حديث پر دې خبره هم دلالت كوي چي الله تعالى كله خپل نېكو بندگانو ته ملائكي استوي چي د هغوئ سره هم كلامه كيږي مگر زياته صحيح خبره داده چي دغه شى د مخكنيو امتو سره خاص وو ځكه چي اوس د نبوت دروازه بنده سوې ده او د انسانانو سره د ملائكو د راتگ لړۍ بنده سوې ده .

څوک چي د چا سره مينه كوي د هغه څخه به وي

﴿۴۷۸۹﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمْ يَلْحَقْ بِهِمْ فَقَالَ الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ . متفق عليه.

د حضرت ابن مسعود ﷛ څخه روايت دئ چي يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او وه يې ويل اې دالله رسوله ! د هغه چا په اړه تاسو څه فرماياست چي د يو قوم (يعني د عالمانو يا صالحانو د ټولۍ) سره مينه ساتي مگر د هغه خلكو سره يې ملاقات نه وي كړى ، يا دهغوئ صحبت ورته تر لاسه سوى نه وي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه به د هغو خلكو سره وي چي د چا سره يې محبت وي (يعني د كومو كسانو سره چي مينه لري په هغوئ كي به شامل وي) بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۵۷، رقم: ۶۱۶۹، ومسلم ۴\۲۰۳۴، رقم: ۱۶۵- ۲۶۴۰.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادى چي كوم څوک د يو عالم او بزرگ سره مينه لري

نو هغه په آخرت كي د هغه عالم او بزرګ سره وي ، که څه هم کامله مينه چي د هغه اعتبار كيږي ، هغه ده چي اتباع او موافقت ته يې ورسوي مګر محض مخلصانه مينه د معيت ذريعه جوړيدای سي ، په دې كي د هغه خلكو لپاره زيری دی چي د عالمانو او صالحانو سره مينه او دوستي كوي چي هغه خلک به انشاء الله د قيامت په ورځ د هغه عالمانو او بزرګانو سره راپاڅي، او په آخرت كي به د هغوئ د ملګرتيا دولت تر لاسه كوي ، ملا علي قاري رحمه الله ليكلي دي چي د حديث ظاهري مفهوم پر عموميت باندي دلالت كوي يعني په دغه ارشاد كي په عامه توګه دا نكته بيان سوې ده چي كوم څوک د چا سره مينه كوي د هغه حشر به د هغه سره وي، د مولانا علي قاري رحمه الله ددغه خبري تائيد ددغه حديث (المرء على دين خليله) څخه هم كيږي چي مخته به راسي . په دغه صورت كي به ويل كيږي چي كوم خلک د عالمانو او صالحانو سره مينه او دوستي كوي نو د هغوئ لپاره په حديث كي د خاتمې بالخير او اخروي كاميابۍ زيری دی او كوم خلک چي د بدو خلكو او فاسقانو سره دوستي او مينه كوي نو د هغوئ لپاره په دغه حديث كي سخت وعيد او خبرداری دی .

(۴۷۹۰): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلاً قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ وَيْلَكَ وَمَا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي وويل : اې دالله رسوله ! قيامت به كله وي ؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : پر تا افسوس دئ

أَعْدَدْتَ لَهَا قَالَ مَا أَعْدَدْتُ لَهَا إِلاَّ أَنِّي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ قَالَ أَنْتَ مَعَ مَنْ

تا دقيامت لپاره څه تياري كړې ده ؟ هغه وويل: ما خو څه تياري نه ده كړې مګر د الله جل جلاله او د الله د رسول سره مينه لرم، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل : ته به د هغه چا سره يې د چا سره چي ته

أَحْبَبْتَ قَالَ أَنَسٌ فَمَا رَأَيْتُ الْمُسْلِمِينَ فَرِحُوا بِشَيْءٍ بَعْدَ الْإِسْلاَمِ فَرَحَهُمْ بِهَا . متفق عليه.

مينه لرې ، د انس رضي الله عنه بيان دئ چي د اسلام څخه وروسته ما مسلمانان په هيڅ يو خبره دومره خوشحاله نه دي ليدلي څومره چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دغه وينا سره خلک خوشحاله سوي وه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٠\٥٥٣، رقم: ٦١٦٧، ومسلم ١٤\٢٠٣٢، رقم: ١٦١- ٢٦٣٨٩.

تشريح: د هغه په تياری کي يې يوازي د الله ﷻ او د هغه د رسول د ميني ذکر وکړ، ددې څخه پرته نور بدني، قلبي او مالي عبادت يې ذکر نه کړل چي د هغه څخه د هغه ژوند يقينا خالي نه وو، ددې وجه يو خو اظهار عجز او انکساري او د خپلي مرتبې اخفاء وه چي د يو مخلص مؤمن شان دی، دوهمه وجه داده چي د الله ﷻ او د هغه د رسول سره مينه اصل شی دی او ټول عبادات ددغه محبت څانګي او لازمي اثر دی، د کوم سړي زړه چي د الله ﷻ او د هغه د رسول په مينه اباد وي نو عبادت او طاعت خپله د هغه عادت جوړيږي، ددې څخه پرته يوازي د ميني ذکر کولو يوه وجه دا هم ده چي مينه بذات خود تر ټولو اعلی مرتبه ده ځکه چي کوم څوک د الله ﷻ سره مينه کوي نو الله ﷻ هم د هغه سره مينه کوي لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمايي: (يحبهم ويحبونه) او په بل ځای کي فرمايي: (ان کنتم تحبون الله فاتبعوني يحببکم الله)، نو څرګنده ده چي کوم بنده ته د ميني دولت په برخه سي نو د هغه په دنيوي او اخروي کاميابی کي هيڅ شکه نسته.

ته به د هغه چا سره يې د چا سره چي مينه کوې: مطلب دادی چي کوم څوک د يو چا سره دومره تعلق ولري چي د هغه مينه پر نورو ټولو شيانو غالب سي نو هغه د خپل محبوب سره منسلک او ملحق سي او د هغه شمېر د محبوب په خلکو کي کېدل شروع سي او د محبت صادقه يا عشق حقيقي علامه داده چي هغه کار کوي د کوم چي محبوب حکم ورکړي يا څه چي د محبوب د رضا باعث وي، او د هر هغه شي څخه ځان ساتي کوم چي د محبوب د مرضی خلاف وي نو که چيري ته د الله ﷻ د ميني دعوه کوې نو په خپل عقيده، قول او فعل سره دا دعوه ثابته کړه په دې توګه چي د فرضونو او واجباتو ادا کول کوه، الله ﷻ چي په کومو کارو راضي کيږئ هغه تل کوه او هغه چي د کومو شيانو څخه منع کړې ده هغه ته نژدې هم مه ورځه، دغه خبره مشهوري صوفي بي بي رابعه بصري رحمة الله عليها په دغه الفاظو کي کړې ده:

تعصي الاله وانت تظهر حبه هذا لعمري في القياس بديع
لو کان حبک صادقا لاطعته ان المحب لمن يحب مطيع

ژباړه: تا د الله ﷻ نافرماني اختيار کړې ده حال دا چي ته د هغه د ميني دعوه کوې، زما دي په خپل روح يا عمر قسم وي چي دغه شی په قياس کي هم نسي راتلای، که ستا مينه ريښتونې وي نو يقينا تا به د هغه اطاعت کوی ځکه چي محبت کونکی د خپل محبوب فرمانبردار وي.

د رسول الله ﷺ د ارشاد په اورېدو سره د مسلمانانو خوشحاله کېدل په دې وجه وه چي مخکي د هغوئ په ذهن کي دا خبره وه چي په جنت کي د رسول الله ﷺ يو ځای والی محض د

رسول الله ﷺ سره د میني او د متابعت په وجه نه تر لاسه کیږي بلکه د دغه سعادت تر لاسه کولو لپاره په زیات عبادت کي بوخت کېدل او مجاهده اختیارول ضروري دي، کله چي رسول الله ﷺ ذکر سوې خبره وفرمایل نو صحابه کرام ډېر زیات خوشحال سول، ددې تائید د هغه روایت څخه هم کیږي کوم چي علامه عماد الدین ابن کثیر رحمة الله علیه په خپل تفسیر کي نقل کړی دی، بي بي عائشه رضي الله عنها بیان کوي چي یوه ورځ د نبي کریم ﷺ په خدمت کي یو صحابي حاضر سو، هغه وویل: اې دالله رسوله! تاسو ما ته د خپل ځان، خپل کورنۍ او خپلو بچیانو څخه زیات محبوب یاست، زه په خپل کور کي یم مګر ستاسو په فکر کي ډوب یم، کله چي تاسو ډېر را یادسئ نو ستاسو په خدمت کي حاضر سم او ستاسو په لیدنه سره ډاډ تر لاسه کوم، کله چي ما ته د خپل مرګ خیال راسي او ددې دنیا څخه ستاسو د رخصت کېدو تصور او فکر کوم چي تاسو جنت ته ولاړ سئ نو په جنت کي به په لوړه درجه کي د انبیاؤ سره یاست او که چیري الله جل جلاله زه هم په جنت کي داخل کړم نو زما سره بېره ده چي زه به ستاسو د زیارت څخه محروم سم، رسول الله ﷺ د هغه صحابي دا خبره واورېدل مګر څه جواب یې ور نه کړ چي د غه آیت نازل سو:

وَمَن يُطِعِ اللهَ وَالرَّسُولَ فَأُوْلَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاء وَالصَّالِحِينَ

ژباړه: څوک چي د الله جل جلاله او د هغه د رسول اطاعت وکړي نو هغه به په جنت کي د هغه خلکو سره وي چي پر هغوئ الله جل جلاله خپل انعامونه نازل کړي دي یعني انبیاء، صدیقین، شهیدان او صالحین.

پاته سوه دا خبره چي دلته د معیت څخه څه مراد دی؟ د معیت څخه دا مراد نه دی چي د محبت کونکي او محبوب دواړو په مینځ کي د کیدونکي ملاقات چي کوم کیفیت په یو حدیث کي بیان سوی دی د هغه خلاصه داده چي د لوړ درجو والا به هغه خلکو ته راځي کوم چي په لاندي درجو کي وي او بیا ټول به د جنت په باغو کي یو ځای کیږي او هلته به د یو بل سره لیدنه کوي، او د لوړو درجو والا به د هغه شیانو ذکر کوي چي هغوئ ته په د انعام په توګه الله جل جلاله ورکړي وي او د الله تعالی پر انعامو به د هغه حمد او ثناء وایي، بیا د کښتنو درجو والا به د هغوئ خاطر او تواضع کوي او په منډه منډه به هر شی ورته راوړي او هغوئ ته به یې ورکوي د کوم چي هغوئ خواهش او غوښتنه وکړي همدارنګه به هغوئ ټول د جنت په باغو کي خوند اخلي او خوشحاله به وي.

څرګنده دي وي چي د متابعت او ضروري احکامو مختلف مدارج دي نو د کومي درجې

احکام چي ضروري وي د هغه درجو محبت به شمېرل کېږي او د کومي درجې مينه يا د کومي درجې بنه چلن چي وي د هغه درجې معيت او ملاقات به يې په برخه کېږي .

د نېک او بد ملګري مثال

﴿۴۷۹۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْجَلِيْسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ كحامل المسك ونافع الكير فحامل المسك السوء كحامل الْمِسْكِ ونافخ الكِيرِ لَا يَعْدَمُكَ مِنْ صَاحِبِ الْمِسْكِ إِمَّا تَشْتَرِيهِ أَوْ تَجِدُ رِيحَهُ وَكِيرُ الْحَدَّادِ يُحْرِقُ ثَوْبَكَ أَوْ تَجِدُ مِنْهُ رِيحًا خَبِيثَةً. متفق عليه.

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نيک او بد ملګری د مشک خرڅونکي او پښ په ډول دئ ، مشک خرڅونکی به يا مفت مشک درکړي يا به يې څيني رانيسي او که نور هيڅ نه وي نو کم از کم د هغه خوشبوئي به ضرور ستا زړه او دماغ خوشحاله کړي او پښ به يا ستا جامې وسوځي يا د به د هغه څخه بد بوئي تر لاسه کړې . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹\۶۶۰، رقم: ۵۵۳۴، ومسلم ۴\۲۰۲۶، رقم: ۱۴۶ - ۲۶۳۸.

تشريح: د نېکو خلکو مينه او ملګرتيا او د خرابو خلکو مينه او ملګرتيا په مينځ کي چي کوم فرق دی هغه د ذکر سوي مثال په ذريعه څرګند سوی دی او څرنګه چي ملا علي قاري رحمه الله عليه ليکلي دي چي ددغه ارشاد مراد ددې خبري تاکيد او خبرداری دی چي د نېکو خلکو سره مينه او تعلق کوه د هغوئ ملګرتيا اختيار کړه او د خرابو خلکو د ميني او ملګرتيا څخه ځان وساته او په دې کي دغه حقيقت ته هم اشاره ده چي د نېکو خلکو يعني عالمانو او صالحانو ملګرتيا په دنيا او آخرت کي د ګټي تر لاسه کولو سبب دی او د خرابو خلکو يعني فاسقانو ملګرتيا او ناسته ولاړه په دنيا او اخرت کي د تاوان ذريعه ده .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د الله جل جلاله لپاره په خپل منځ کي د ميني کولو فضيلت

﴿۴۷۹۲﴾: عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي

يَقُولُ قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى وَجَبَتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَحَابِّينَ فِيَّ وَالْمُتَجَالِسِينَ فِيَّ

الله تعالى فرمايي : كوم كسان چي زما د رضا او خوښۍ لپاره په خپل منځ كي مينه كوي د هغوئ سره زما مينه كول ضروري ده او كوم خلك چي زما د رضا لپاره په خپل منځ كي كښيني

وَالْمُتَزَاوِرِينَ فِيَّ وَالْمُتَبَاذِلِينَ فِيَّ .رواه مالك و في رواية الترمذي قَالَ يَقُولُ

او زما تعريف كوي او د يو بل سره ملاقات كوي او خپل مال مصرف كوي نو د هغوئ سره هم زما مينه كول واجب دي. مالك ، د ترمذي په روايت كي دا الفاظ دي چي الله تعالى فرمايي :

اللهُ عَزَّ وَجَلَّ الْمُتَحَابُّونَ فِي جَلَالِي لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ يَغْبِطُهُمُ النَّبِيُّونَ وَالشُّهَدَاءُ.

زما د عظمت او جلال په سبب كوم خلك چي په خپل منځ كي مينه ساتي د هغوئ لپاره به (په آخرت كي) د نور منبروي او انبياء او شهداء به يې د هغه منبر ډېر صفت كوي

تخريج: موطا الامام مالک ۲\۹۵۳، رقم: ۱۶، والترمذي ۴\۵۱۵، رقم: ۲۳۹۰.

تشريح: چي انبياء او شهيدان به د هغه صفت كوي: دلته دا سوال پيدا كيږي چي دا خبره څرنګه صحيح كيداى سي ځكه چي انبياء على الاطلاق تر ټولو خلكو افضل او غوره دي او شهيدان د الله جل جلاله په لاره كي د سر او مال په قربانولو سره عظيم فضيلت لري نو د دغه دواړو كسانو د داسي خلكو د اجر او انعام صفت كول څرنګه مناسب كيداى سي چي د هغوئ مذكوره عمل ډېر اسان دي، ددې څخه پرته ددې خبري څخه د انبياء او شهيدانو په مقابله كي د ذكر سوو خلكو زيات غوره كېدل لازميږي ځكه قصد د هغه چا كيږي چي مفضول وي او په چا چي قصد كيږي هغه فاضل وي ؟ ددې جواب علماؤ پر اجر او انعام باندي د خوښۍ اظهار كول وركړى دى دوهم جواب دادى چي د حديث ذكر سوې جمله په اصل كي پر فرض او تقدير باندي مبني ده يعني مطلب دادى چي دغه خلكو ته چي كومه مرتبه تر لاسه وي د هغه ارزښت او فضيلت پر دې قياس كيداى سي، يعني كه چيري انبياء او شهيدانو ته د يو د رتبې صفت كوي نو دا به د هغه خلكو مرتبه وي ،

او دريم جواب چي په داسي ځايو كي په عامه توګه وركول كيږي دادى چي كله داسي هم

كيږي چي په مفضول كي يو داسي خاص صفت او فضيلت وي چي په فاضل كي نه وي او سره ددې چي فاضل په خپل ځان كي كوم فضائل او صفتونه لري د هغه په مقابله كي د مفضول د هغه صفت او فضيلت اهميت نه وي مگر د فاضل خواهش وي چي هغه ته هغه صفت او ښه والی تر لاسه سي كوم چي په مفضول كي دی ، د مثال په توگه داسي پوه سئ چي د زيد سره زر ښائسته غلامان دي او په هغوئ كي د ښكلا ماسوا نور صفتونه هم وي او دده په مقابله كي د بكر سره يوازي يو غلام وي چي ډېر نيک او هوښيار وي ، څرگنده ده چي زيد د خپلو غلامانو د شمېر او اهميت په اعتبار د بكر په مقابله كي زيات فضيلت لري او هغه ته ددې خبري هيڅ ضرورت نسته چي هغه د بكر په غلام قصد وكړي مگر ددې سربېره د هغه دا خواهش وي چي د بكر سره كوم غلام دی هغه ډول غلام ما ته هم حاصل سي ، همدارنگه نبيان او شهيدان به هم د ذكر سوو خلكو د فضيلت په لېدو سره دا خواهش كوي چي د نورو فضيلتو سره سره دغه فضيلت هم هغوئ ته حاصل واى .

﴿۴۷۹۳﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ عِبَادِ

د حضرت عمر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله جل جلاله په بندگانو كي ځيني

اللّٰهِ لَأُنَاسًا مَا هُمْ بِأَنْبِيَاءَ وَلَا شُهَدَاءَ يَغْبِطُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ وَالشُّهَدَاءُ يَوْمَ

خلک داسي دي كه څه هم چي هغوئ نبيان او شهيدان نه وي مگر د قيامت په ورځ به د هغوئ په

الْقِيَامَةِ بِمَكَانِهِمْ مِنَ اللّٰهِ تَعَالَى قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ تُخْبِرُنَا مَنْ هُمْ قَالَ هُمْ

مرتبو او درجو ليدو سره ورته انبياء او شهداء حيرانېږي ، صحابه كرامو وويل: اې دالله رسوله ! هغه به كوم خلک وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

قَوْمٌ تَحَابُّوا بِرُوحِ اللّٰهِ عَلَى غَيْرِ أَرْحَامٍ بَيْنَهُمْ وَلَا أَمْوَالٍ يَتَعَاطَوْنَهَا فَوَاللّٰهِ

هغه خلک چي صرف د الله جل جلاله د روح (قرآن كريم) په سبب په خپل منځ كي مينه كوي د هغوئ په منځ كي نه خپلوي وي او نه د مالي راكړې وركړې معامله وي، په الله جل جلاله دي مي قسم وي د

إِنَّ وُجُوهَهُمْ لَنُورٌ وَإِنَّهُمْ لَعَلَى نُورٍ لَا يَخَافُونَ إِذَا خَافَ النَّاسُ وَلَا يَحْزَنُونَ

هغوئ مخونه به نور وي او دوئ به پر منبرونو د نور وي هغوئ به هغه وخت نه غمجن وي او نه

غمزده وي او نه به هغوئ په بيره كي وي

إِذَا حَزِنَ النَّاسُ وَقَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ: أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

هغه وخت چي نور خلک په بيره كي وي، ددې څخه وروسته رسول اللهﷺ دا آيت تلاوت كړ: (الا ان اولياء الله لاخوف عليهم ولا هم

يَحْزَنُونَ. رواه ابوداؤد وفي شرح السنة عن ابي مالك بلفظ المصابيح مع زوائد وكذا في شعب الايمان.

يحزنون) خبردار سئ ! د الله ﷻ پر دوستانو به نه بيره وي او نه به هغوئ غمجن وي . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۳\۷۹۹، رقم: ۳۵۲۷.

تشريح: انبياء او شهيدان به هم ورته حيرانيږي: په دې اړه د مخكني حديث تشريح مخته اېښودل پكار دي ، او يوه خاص خبره بايد په ذهن كي وي چي د انبياؤ څخه هغه نبي او پيغمبر مراد دی چي په خپل ژوند كي د يو عذر يا يو بل سبب په وجه په خپلو كي د ليدني موقع نه وي تر لاسه كړې او كوم چي د نفس محبت او ملګرتيا تعلق دی نو داسي هيڅ نبي او پيغمبر نه دی تېر سوی چي د الله ﷻ لپاره د خپل امت د خلكو سره مينه او تعلق نه لري او د ملګرتيا څخه محروم وي .

رُوح ، د راء په پيښ سره، دا په صل كي هغه شی ته وايي چي د هغه په ذريعه بدن ژوندی كيږي ، يا دا هم ويل كېدای سي چي هغه جوهر ته وايي چي د هغه په سبب ژوند ته بقاء تر لاسه كيږي او دلته د روح څخه مراد قرآن دی ، په قرآن كريم كي د روح معنی د قرآن هم راغلې ده لكه چي الله ﷻ فرمايي : (وكذلک اوحينا اليک روحا من امرنا) ، او په دې اعتبار سره قرآن كريم ته روح ويل ډېر مناسب دي لكه څرنګه چي د بدن د ژوند دار او مدار پر روح باندي دی همدارنګه د انسان د زړه دار او مدار پر قرآن كريم دی .

قرآن كريم د ميني او محبت سبّ ګرځول يا خو په دې اعتبار سره دی چي قرآن كريم يعني اسلام د انسانانو پيوست كولو ، په هغوئ كي د اتحاد او ميني پيدا كولو تر ټولو لويه ذريعه ده ، په دې اعتبار سره دی چي قران كريم د ژوند د نظام اساسي قانون دی او په هغه د عمل پيدا كېدو په وجه د ميني او موانست دولت تر لاسه كيږي ځكه چي د قرآن كريم لارښووني د ميني او موانست ذريعه او مؤمنانو ته د اتحاد او تعلق هدايت كونكې دی .

ځینو حضراتو د روح الله څخه مراد محبت اخیستی دی او د هغوئ په نزد پر محبت باندي د روح اطلاق په دې وجه مناسب دی چي محبت هم د انسان د زړه د حیات او د تازګي سبب دی ځکه محبوب ته جان من ویل کیږي.

د مشکوة په ځینو نسخو کي دغه لفظ د راء په زور سره دی یعني رَوح الله، نقل سوی دی چي د هغه معنی د رحمت او رزق ده، په هر حال د مقصد په اعتبار په معنی کي څه فرق نسته، مطلب د ټولو یو دی او هغه دا چي د الله ﷻ د رضا لپاره د یو بل سره مینه کول.

د مصابیح په الفاظو چي دغه روایت څرنګه نقل سوی دی هغه داسي دی:

عن ابي المالک الاشعري انه قال کنت عند النبي صلی الله علیه وسلم اذ قال ان الله عزوجل عبادا یسؤا بانبیاء ولا شهداء یغبطهم النبیون والشهداء بقربهم و مقعدهم من الله یوم القیامة فقال حدثنا منهم فقال هم عباد الله من بلدان شتی وقبائل شتی لم یکن بینهم ارحام یتواصلون ولا دینارا یتباذلون بما یتحابون بروح الله یجعل وجوههم نورا ویجعل لهم منابر من نور قدام عرش الرحمن

د حضرت ابومالک اشعري ﷺ څخه روایت دی چي زه یوه ورځ دنبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر وم چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ ځیني بندګان داسي دي که څه هم انبیاء او شهیدان نه دي مګر د قیامت په ورځ به د الله ﷻ په نزد د هغوئ مرتبه او مقام په لېدو سره انبیاء او شهیدان هم ورته حیرانیږي، (د دې په اورېدو سره یوه صحرائي وویل) تاسو موږ ته وښیاست چي هغه کوم خلک دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هغوئ د الله ﷻ بندګان وي چي د هغوئ تعلق د مختلفو ښارو او قبیلو څخه وي د هغوئ په مینځ کي هیڅ قرابت نه وي چي د هغه په وجه هغوئ د یو بل سره تعلق او مینه کولو باندي مجبور وي او نه هغوئ پر یو بل باندي خپل مال او روپۍ مصرفوي مګر هغوئ محض د الله ﷻ د روح یعني قرآن کریم په وجه په خپلو کي مینه لري، (د قیامت په ورځ به) د هغوئ مخونه د نور وي او تر عرش لاندي به د هغوئ لپاره د نور منبر کښېښودل سي (چي پر هغه به ناست وي).

﴿۴۷۹۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَبِيْ ذَرٍ يَا أَبَا ذَرٍ أَيُّ عُرَى الْإِيمَانِ أَوْثَقُ قَالَ اللَّهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ الْمُوَالَاةُ فِي اللَّهِ وَالْحُبُّ فِي اللَّهِ وَالْبُغْضُ فِي اللَّهِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ابوذر رضي الله عنه ته وفرمايل : (اې) ابوذر ! د ايمان كوم يو ښاخ زيات ټينګ دئ ؟ هغه وويل: الله ﷻ او دهغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل : يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره په خپل منځ كي دوستي ساتل او يوزي د الله لپاره د خلكو سره مينه او بغض ساتل . بيهقي. په شعب الايمان كي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٧/٧٠، رقم: ٩٥١٣،

د ناروغ پوښتنه

《٤٧٩٥》: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا عَادَ الْمُسْلِمُ اَخَاهُ أَوْ زَارَهُ قال الله تعالى طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا.

رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مسلمان چي د مسلمان ورور د ناروغۍ پوښتني يا ليدني ته ورځي نو الله تعالى فرمايي : ستا ژوند پاک سو او ستا تلل ښه سول او په جنت كي تا يو ځاى تر لاسه كړ . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ١٤/٣٢٠، رقم: ٢٠٠٨.

تشريح: په دنيا كي د خوشحالۍ او اطمينان تر لاسه كېدو تعلق چي د كومو شيانو سره دى هغه دادي چي قناعت او توكل په برخه سي، د الهي رضا سعادت تر لاسه سي ، په رزق كي بركته په زړه كي پراختيا راسي ، په عاداتو كي ښكلا او د علم د عمل توفيق په برخه سي .

 څرګنده دي وي چي دغه درې سره الفاظ (طيب، طاب او تبوات) د خير په توګه نقل سوي دي ، مطلب دادى چي هغه سړي ته د الله تعالى له خوا د ذكر سوو شيانو د تر لاسه كېدو زيرى وركول كيږي ، مګر دا هم كيداى سي چي دغه درې الفاظ د دعاء په توګه منقول وي په دغه صورت كي ددغه الفاظو معنى به دا وي چي ستا ژوند ته خوشحالي او راحت تر لاسه سي ستا پر لاره باندي تلل دي مبارک وي او تا ته دي په جنت كي لوړ مقام تر لاسه وي .

د چا سره چي دي مينه وي هغه ته دي وواييي

《٤٧٩٦》: وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ إِذَا أَحَبَّ الرَّجُلُ أَخَاهُ فَلْيُخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ. رواه ابوداؤد والترمذي.

دحضرت مقدام بن معدي كرب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د يو مسلمان وررور سره مينه كوي نو هغه دي د خپل ميني څخه خبر كړي . ابو داؤد او ترمذي.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۳۴۳، رقم: ۵۱۲۴، والترمذي ۴\۵۱۷، رقم: ۲۳۹۲.

تشريح: دغه حكم ځكه وركړل سوی دی چي هغه مسلمان ته دا معلومه سي چي فلانی سړی زما سره مينه لري نو هغه به هم مينه ورسره وكړي او د ميني او دوستۍ تعلق به ادا كوي او د هغه په حق كي به دعاء كوي.

﴿۴۷۹۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ نَاسٌ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د نبي كريم ﷺ سره ډير خلک ناست وه چي يو سړی تير سو

فَقَالَ رَجُلٌ مِمَّنْ عِنْدَهُ إِنِّي لَأُحِبُّ هٰذَا لِلّٰهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ناستو خلكو څخه يو سړي وويل زه ددغه سړي سره چي روان دئ يوازي د الله جل جلاله لپاره مينه كوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

أَعْلَمْتَهُ؟ قَالَ لَا قَالَ قُمْ إِلَيْهِ فَأَعْلِمْهُ فَقَامَ إِلَيْهِ فَأَعْلَمَهُ فَقَالَ أَحَبَّكَ الَّذِي

ايا تا دغه سړی د خپل ميني څخه خبر كړی دئ؟ هغه وويل :يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ورسه او هغه خبر كړه ، هغه ولاړ سو او هغه سړی يې خبر كړ چي هغه ورسره مينه كوي ،

أَحْبَبْتَنِي لَهُ قَالَ ثُمَّ رَجَعَ فَسَأَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِمَا قَالَ

هغه سړي ورته وويل ستا سره دي هغه ذات مينه وكړي چي د هغه د رضا لپاره تا زما سره مينه كړې ده ، د حضرت انس رضي الله عنه بيان دی كله چي هغه سړی راغلی

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكَ مَا احْتَسَبْتَ. رواه

نو رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وكړه چي هغه سړي په جواب كي څه وويل ؟ هغه سړي هغه الفاظ تكرار كړل كوم چي هغه ويلي وه ، ددې په اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : ته به د قيامت په ورځ د هغه چا سره يې چي مينه ورسره لري او تا ته به ستا د نيت بدله دركول كيږي .

البيهقي في شعب الإيمان وفي رواية الترمذي المرء مع من أحب وله ما اكتسب.

بيهقي او د ترمذي په روايت كي دا الفاظ دي چي انسان به د هغه چا سره وي د چا سره چي مينه لري او د هغه شي بدله به ورکول کیږي چي د خپل نیت په ذریعه يې ترلاسه کړی وي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦\٤٨٩، رقم: ٩٠١١، والترمذي ٤\٥١٤، رقم: ٢٣٨٦.

تشريح: د احتساب معنی د الله ﷻ څخه د ثواب امید درلودل دي او حسبه ددغه لفظ اسم دی او په اصل کي دغه لفظ د حساب څخه اخیستل سوی دی چي معنی يې د شمېرلو ده، مطلب دادی چي د الله ﷻ د رضا لپاره د چا سره مینه کول داسي کار دی که چیري د ثواب نیت وي نو په هغه حساب کي راځي یعني پر هغه اجر ورکول کیږي او الله تعالی محبت کونکو ته د هغوئ د نیت مطابق ثواب ورکوي.

يوازي د مسلمان سره دوستي کوئ

﴿۴۷۹۸﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ. رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه د نبي کریم ﷺ څخه واوریدل چي فرمایل يې: یوازي مسلمان خپل مصاحب (یعني ملګری) جوړ کړه او خپل خوراک یوازي په پرهیزګارانو باندي خوره. ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

تخريج: سنن ابي داود ٥\١٦٧، رقم: ٤٨٣٢، والترمذي ٤\٥١٩، رقم: ٢٣٩٥.

تشريح: د ارشاد د آخري جملې مطلب دا هم دی چي ته باید خپله روزي په حلال او جائز طریقه سره ترلاسه کړې چي هغه د نېک او پرهیزګاره مسلمانانو د خوراک وړ وي، او دا مطلب هم دی چي ته خپل خوراک یوازي متقي او پرهیزګارو مسلمانانو ته ورکوه چي د هغه خوراک په ذریعه هغوئ ته په عبادت او نېکو کارو کي طاقت ترلاسه سي، بدو خلکو ته خپل خوراک مه ورکوه چي د هغه په خوړلو سره د ګناه طاقت ترلاسه کړي.

رسول الله ﷺ مسلمانان د دین د دښمنانو او بدکاره خلکو د ملګرتیا او ناستي ولاړي څخه ځکه منع کړل چي د هغوئ سره د الفت او محبت قائمېدو سبب پیدا نسي او د هغوئ

د ملګرتیا په وجه د کفر او شرک جراثیم هغوئ ته منتقل نسي.

علماؤ لیکلي دي چي یوازي د متقي او پرهیزګاره خلکو ته د خوراک ورکولو تعلق یوازي د خوراک دبلني سره دی، د ضرورت او اړتیا صورت د دغه منع څخه مستثنی دی ځکه چي وږي او اړ کس ته د خوراک ورکولو لپاره هیڅ ډول امتیاز روا نه دی، دا خبره د دغه آیت کریمه (ویطعمون الطعام علی حبه مسکینا و یتیما و اسیرا) څخه هم ثابته ده، ځکه چي په دغه آیت کي د نورو اړو کسانو سره چي د کوم بندیانو ذکر سوی دی هغوئ به کافران وه نو معلومه سوه چي د اړتیا دفع کولو یعني د لوږي څخه د ساتني لپاره کافر ته خوراک ورکول هم جائز دي.

انسان د خپل ملګري په دین دئ

﴿۴۷۹۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب وقال النووي اسناده صحيح.

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: بنده د خپل ملګري پر دین وي، (یعني د خپل ملګري په مذهب یا سیرت باندي وي) نو انسان ته د ملګري جوړولو په وخت کي د دې خبري خیال ساتل پکار دي چي هغه څوک خپل ملګری جوړ کړي؟. ابوداؤد، بیهقي او ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن غریب دئ، نووي وایي د دې اسناد صحیح دي.

تخریج: مسند الامام احمد ۲\۳۰۳، وابوداود ۵\۱۶۸، رقم: ۴۸۳۳، والترمذي ۴\۵۰۹،...

تشریح: په حدیث کي چي د کومي دوستۍ ذکر سوی دی د هغه څخه مراد ریښتونې دوستي ده نه ظاهري دوستي، ځکه چي د ظاهري دوستۍ د ضرورت په وجه د هرچا سره استواء کیدای سي مګر ریښتونې دوستي یوازي د هغه خلکو سره پکار ده چي دهغوئ عقیده او نظر صالح وي او دهغوئ اعمالو او اعادات پاک وي، په دې اړه د قرآن کریم هدایت هم دادی چي: (یا ایها الذین آمنوا اتقو الله وکونوا مع الصادقین). اې مؤمنانو! د الله جل جلاله څخه وبېرېږئ او د رېښتونو سره اوسئ. امام غزالي رحمه الله فرمایلي دي: د حریص سره ناسته ولاړه د حرص ذریعه جوړېږي او د زاهد سره ناسته ولاړه له دنیا څخه بې شوقي پیدا کوي ځکه چي د ملګرتیا اثر

قبلول او د خپل ملكري مشابهت اختيارول د انساني طبيعت خاصه ده.

د حديث په آخر كي د مشكوة مؤلف چي كوم اوږد عبارت راوړى دى د هغه مقصد د هغه خلكو د خيال ترديد كول دي كوم چي دغه حديث ته موضوع وايي.

د ميني كولو طريقه

﴿۴۸۰۰﴾: وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نَعَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا آخَى الرَّجُلُ الرَّجُلَ فَلْيَسْأَلْهُ عَنِ اسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ وَمِمَّنْ هُوَ فَإِنَّهُ أَوْصَلُ لِلْمَوَدَّةِ. رواه الترمذي.

د حضرت يزيد بن نعامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي يو انسان د بل انسان سره ورورلي وكړي نو هغه ته پكار ده چي د هغه څخه د هغه نوم د هغه د پلار نوم د هغه د قوم نوم و پوښتي، ځكه چي دا معلومات مينه ټينګوي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۱۷، رقم: ۲۳۹۲.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د خداى جل جلاله لپاره مينه يا بغض

﴿۴۸۰۱﴾: عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ په لور تشريف راوړ او وه يې

أَتَدْرُونَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ قَائِلٌ الصَّلَاةُ وَالزَّكَاةُ وَقَالَ

فرمايل: تاسو ته معلومه ده چي د الله په نزد كوم عمل غوره او عزيز دى؟ يوه وويل لمونځ او

قَائِلٌ الْجِهَادُ قَالَ النبي صلى الله عليه وسلم إِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ عَزَّ

زكوة يوه وويل جهاد، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د الله جل جلاله په نزد تر ټولو غوره عمل د

وَجَلَّ الْحُبُّ فِي اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ. رواه احمد وروى ابوداؤد الفصل الاخير

الله ﷻ د رضا لپاره مينه كول او د الله ﷻ لپاره بغض كول دي . احمد او ابوداؤد يوازي د پاى فضيلت روايت كړى دئ .

تخريج: مسند الامام احمد ۱۴۶۱۵، و ابوداود ۶۱۵، رقم: ۴۵۹۹.

تشريح: په (والزكوة) د واو حرف د معنى په اعتبار د او پر ځاى استعمال سوى دى چي د مفهوم په اعتبار د الصلوة وروسته عبارت داسي دى وقال قائل الزكوة ، په حديث كي چي د رسول الله ﷺ د سوال او د صحابه كرامو جواب او بيا د رسول الله ﷺ د ارشاد جواب چي په كوم انداز كي ذكر سوى دى د هغه ځخه په ظاهره دا معلوميږي چي حب في الله او بغض في الله د لمانځه، زكوة او جهاد ځخه هم افضل دي حال دا چي حقيقت داسي نه دى ځكه لمونځ، زكوة او جهاد داسي اعمال دي كوم چي بېله شكه تر ټولو اعمالو افضل او غوره دى په دغه صورت كي چي دلته اشكال پيدا كيږي، ددې جواب دادى چي كوم څوک په حقيقي معنى كي د چا سره د الله ﷻ د رضا لپاره مينه او تعلق ساتي نو هغه به يقينا د انبياء كرامو او اولياء الله سره رېښتونې عقيده او مينه لري نو ښكاره خبره ده چي د هغوئ اتباع او پيروي به كوي په دې توګه چي لمونځ به هم كوي او زكوة به هم وركوي ، همدارنګه څوک چي د الله ﷻ د رضا لپاره د يو چا سره بغض كوي نو هغه به يقينا د دين د دښمنانو سره عداوت او دښمني لري او ښكاره خبره ده چي كله د هغوئ سره دښمني او عداوت كوي نو د هغوئ سره به جهاد في سبيل الله هم كوي ځكه نو د حب في الله او بغض في الله په ضمن كي ټول طاعات راغلل كه هغه لمونځ وي، زكوة وي او كه جهاد وي ، يو عمل به هم ددغه ځخه دباندي نه وي په دې اعتبار سره د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دادى چي د دين اصل مدار پر حب في الله او بغض في الله باندي دى كوم څوک چي دغه درجه تر لاسه كړي نو هغه ته ټول طاعات او عبادات اختيارول هيڅ مشكل نه دي ،

ددغه ارشاد مطلب دادى چي په قلبي اعمالو كي تر ټولو غوره عمل حب في الله او بغض في الله دى او په بدني اعمالو كي تر ټولو غوره عمل لمونځ ، روژه ، زكوة او جهاد دى، په دغه صورت كي هيڅ اشكال نه پيدا كيږي او يا دا مراد دى چي شريعت د كومو امورو اختيارولو حكم كړى دى په هغه باندي د عمل كولو ځخه وروسته د كومو كارو ځخه چي نفي سوې ده د هغو ځخه د اجتناب كولو ځخه وروسته حب في الله او بغض في الله تر ټولو غوره عمل دى او تر ټولو كامل طاعت دى ، ددې تائيد ددغه حديث ځخه هم كيږي كوم چي طبراني د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نقل كړى دى چي : (احب الاعمال الي الله بعد الفرائض ادخال السرور في قلب المؤمن) د فرضو ځخه وروسته چي كوم د الله ﷻ په نزد ډېر خوښ دى هغه د يو مؤمن د زړه د

خوشحالی څخه د کول دي.

«۴۸۰۲»: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحَبَّ عَبْدٌ عَبْدًا لِلَّهِ إِلَّا أَكْرَمَ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ. رواه احمد.

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم بنده چي د الله ﷻ د رضا لپاره د يو بنده سره مينه وکړي نو هغه د خپل پروردګار تعظيم او تکريم وکړ. احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۲۵۹\۵.

غوره خلک کوم دي

«۴۸۰۳»: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُءُوا ذُكِرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ. رواه ابن ماجة.

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روایت دئ چي هغې د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي زه تاسو ته وښيم چي په تاسو کي غوره خلک کوم دي؟ صحابه کرامو وويل: هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: په تاسو کي غوره خلک هغه دي چي د هغوئ په ليدو سره سړي ته الله ﷻ ياد سي. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۱۳۷۹\۲، رقم: ۴۱۱۹.

تشريح: د باب حفظ اللسان په دريم فصل کي دغه حديث د معنى او تشريح سره نقل سوى دى.

يوازي د الله ﷻ لپاره مينه کول

«۴۸۰۴»: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ عَبْدَيْنِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَاحِدٌ فِي الْمَشْرِقِ وَآخَرُ فِي الْمَغْرِبِ لَجَمَعَ اللَّهُ بَيْنَهُمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَقُولُ هٰذَا الَّذِي كُنْتَ تُحِبُّهُ فِيَّ. رواه البيهقي.

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوه بندګان چي د الله تعالى لپاره په خپل منځ كي مينه كوي او يو په هغوئ كي په ختيځ كي اوسي او دويم په لويديځ كي نو الله تعالى به د قيامت په ورځ هغوئ يو ځاى كړي ورته وه به فرمايي : دا هغه بنده دئ چي دده سره تا زما په خاطر مينه كول . بيهقي.

تخريج : البيهقي في شعب الايمان ٦\٤٩٢، رقم: ٩٠٢٢.

د دنيا او آخرت كاميابي

﴿٤٨٠٥﴾: وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ أَنَّهُ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أَدُلُّكَ

د حضرت ابو زرين ﷺ څخه روايت دئ چي هغه ته رسول الله ﷺ وفرمايل : زه تا ته د امر دين

عَلَى مِلَاكِ هٰذَا الْأَمْرِ الَّذِي تُصِيبُ بِهِ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ؟ عَلَيْكَ بِمَجَالِسِ

ريبنه وښيم ، چي ته د هغې په ذريعه د آخرت خير تر لاسه كوې ، ته دا اهل ذكر په مجلسونو كي

أَهْلِ الذِّكْرِ وَإِذَا خَلَوْتَ فَحَرِّكْ لِسَانَكَ مَا اسْتَطَعْتَ بِذِكْرِ اللَّهِ وَأَحِبَّ فِي اللَّهِ

كښينه او هر كله چي يوازي يې نو څومره چي كيدلاى سي د الله ﷻ په ياد كي خپله ژبې ته حركت وركوه يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره مينه كوه

وَأَبْغِضْ فِي اللَّهِ يَا أَبَا رَزِينٍ هَلْ شَعَرْتَ أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ زَائِرًا

او يوازي د الله ﷻ د رضا لپاره بغض ساته ، اې ابوزرين ! ايا ته پوهيږې چي يو مسلمان د خپل مسلمان ورور د ليدني په اراده د كور څخه وځي (نو څه كيږي)

أَخَاهُ شَيَّعَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ كُلُّهُمْ يُصَلُّونَ عَلَيْهِ وَيَقُولُونَ رَبَّنَا إِنَّهُ وَصَلَ

په هغه پسې اويا زره ملائكي وي چي د هغه لپاره دعاء او استغفار كوي او وايي اې پروردګاره! دغه بنده سره يې يوازي ستا لپاره ليدنه وكړه

فِيكَ فَصِلْهُ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تُعْمِلَ جَسَدَكَ فِي ذٰلِكَ فَافْعَلْ. رواه البيهقي.

ته دي په خپل رحمت او شفقت سره يو ځاى كړې، كه ته دا كولاى سې يعني د خپل مسلمان ورور د ملاقات لپاره نو همداسي كوه . بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ٦\٤٩٢، رقم: ٩٠٢٤.

﴿۴۸۰۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ سره وم چي وه يې فرمايل: په

فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَعُمُدًا مِّنْ يَاقُوْتٍ عَلَيْهَا

جنت کي د ياقوتو ستني دي چي د هغه سربيره د زبرجدو بالاخانې جوړي سوي دي د هغه

غُرَفٌ مِنْ زَبَرْجَدٍ لَهَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ تَضِيْءُ كَمَا يُضِيْءُ الْكَوْكَبُ الدُّرِّيُّ

بالاخانو دروازې خلاصي دي دا بالاخانې او ددې روښن دان روښانه دي او داسي ځليږي لکه ځرنګه چي ځلانده ستوري ځليږي،

فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَنْ يَّسْكُنُهَا قَالَ الْمُتَحَابُّوْنَ فِي اللّٰهِ وَالْمُتَجَالِسُوْنَ فِي اللّٰهِ وَالْمُتَلَاقُوْنَ فِي اللّٰهِ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان.

صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله! په دې کي به څوک اوسي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه خلک چي د الله جل جلاله لپاره مينه کوي د الله لپاره په خپل منځ کي کښيني (او د الله جل جلاله ذکر کوي)، او د الله جل جلاله د رضا لپاره په خپل منځ کي ليدنه کوي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ٦\٤٨٧، رقم: ٩٠٠٢.

==========

بَابُ مَا يُنْهٰى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ الْعَوْرَاتِ

(د منعه خبرو، تعلق پرېښودلو، دوستي پرېښودلو او عيب ويلو بيان)

د تهاجر معنى ده پرېښودل او پرېکول، او د تقاطع معنى هم دغه ده، په دې اعتبار سره د تقاطع لفظ په معنوي توګه د لفظ تهاجر وضاحت او د هغه د بيان لپاره دى او ددغه دواړو لفظو څخه مراد د يو مسلمان د بل مسلمان سره تر درو ورځو زيات سلام، خبري او راسه درسه

پرېښودل، د صحبت او ناستي ولاړي پرېښودل او اسلامي وروروليولي نظر انداز كول ، ددغه امورو منع علی الاطلاق نه ده بلكه په ځينو حالاتو كي او په ځينو قيودو سره ددې اختيارول څه گناه نه لري ځكه په ذكر سوي عنوان كي داسي وويل سول : ما ينهي عنه من التهاجر و التقاطع .

عورات د عورت جمع ده او په لغت كي عورت هغه شي ته وايي چي د شرم متقاضي وي او د هغه ظاهرول څوك نه خوښوي بلكه دا غواړي چي هغه شی پټ وي لكه څرنگه چي په يو سړي كي يو عيب او تاوان وي ، په دې اعتبار سره د عورت مطلب دی د يو چا عيب بيانول .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

تر درو ورځو زيات ناراضگي جائز نه ده

﴿۴۸۰۷﴾: عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ . متفق عليه

د حضرت ابو ايوب انصاري ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د يو مسلمان سړي لپاره دا جائز نه ده چي هغه تر درو شپو زيات (په خفه كېدو سره) يو مسلمان وروز پرېږدي يعني كه هغوئ يو بل ته مخامخ سي نو يو كس خپل مخ آخوا وگرځوي او بل دېخوا ، په دغه دواړو كي غوره هغه څوك دئ چي اول السلام عليكم ووايي (يعني خفگان ليري كړي) بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۹۲،رقم: ۶۰۷۷، ومسلم ۱۴\ ۱۹۸۴،رقم: ۲۵-۲۵۶۰.

تشريح: د درو ورځو د قيد په وجه دا ښودل مقصد دي چي د خفگان په وجه تر درو ورځو پوري يو ځای كېدل پرېښودل نو دا حرام نه دي ځكه چي په انسان كي د غيظ ، غضب، غيرت او حميت چي كومه ماده ده هغه په هر حال خپل اثر ظاهروي ځكه دومره وخت معاف سوی دی چي د انسان د هه جذباتو تسكين وسي او په دغه درو ورځو كي د خفگان او ناراضگی او نفرت جذبات هم ختم سي يا كم از كم سپک سي او صلح وسي .

په هرحال د حديث مراد دادی چي په اجتماعي توگه د يو ځای اوسېدو او ورځني معاملاتو په وجه په خپلو كي جگړه رامنځته كيږي او د يو بل څخه د شكايت پيدا كېدو په وجه

د خفګان او ناراضګۍ صورت پېښيږي د مثال په توګه يو سړی د چا غيبت وکړي او هغه ته بد او رد وو ايي يا د هغه شخصه د خيرخواهۍ اميد وو مګر هغه خيرخواهي ونه کړه نو په داسي صورتو کي که چيري په خپلو کي ناراضګي راسي او د ترک ملاقات نوبت راسي نو داسي خفګان او ترک ملاقات تر درو ورځو زيات نه دی پکار مګر که چيري ترک ملاقات د يو ديني معاملې په وجه وي لکه يو سړی د نفساني خواهشات غلام وي يا يو سړی بدعتي وي نو د هغه سره ترک ملاقات تر هغه وخته جائز دی تر څو چي هغه په توبه کولو سره سيده لار اختيار نه کړي او حق ته رجوع ونه کړي.

سيوطي رحمه الله د مؤطا په حاشيه کي د ابن عبدالبر رحمه الله څخه نقل کړي دي چي هغه وويل: د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی که چيري يو سړي ته دا بېره وي که زه فلاني سړي ته سلام ادا کړم او د هغه سره تعلق وساتم نو د هغه په وجه به ما ته ديني يا دنياوي تاوان پېښ سي او زما قيمتي وخت به په لايعني کارو کي ضائع سي نو هغه دي د هغه شخصه بېلوالی اختيار کړي او د هغه شخصه د ليري اوسېدو هڅه دي وکړي مګر دغه بېلوالی اختيارول په ښه انداز کي کېدل پکار دي دا نه چي د هغه غيبت دي وکړل سي پر هغه دي عيب وويل سي او د هغه سره دي کينه او عداوت ظاهر کړل سي، د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو په زمانه کي داسي ډيري پيښي دي چي په هغو کي مسلمانانو د ديني مصالحو سره سم د يو بل څخه تر درو ورځو زيات ترک ملاقات ثابت دی، په احياء العلوم کي د صحابه کرامو د يو ډلي په اړه نقل سوي دي چي په هغوئ کي ځيني تر مرګه پوري پر ترک ملاقات باندي قائم وه، دهغه درو صحابه کرامو پېښه ډېره مشهوره ده چي د تبوک غزا ته نه وه تللي او رسول الله ﷺ په هغوئ کي د نفاق پيدا کېدو د بيري څخه د ټولو مسلمانانو څخه بېل کړی وه تر دې چي ټولو صحابه کرامو او د هغه درو کسانو بي بيانو او خپلوانو ته هم د هغوئ سره د ترک ملاقات او ترک سلام حکم ورکړی وو،

په دغه حکم باندي پنځوس ورځي عمل جاري وو خپله د رسول الله ﷺ په اړه منقول دي چي رسول الله ﷺ تر يوې مياشتي پوري د خپلو بيبيانو سره يو ځای کېدل پرې ايښي وه، بي بي عائشې رضي الله عنها تر يو وخت پوري د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه سره ترک ملاقات اختيار کړی وو همدارنګه د حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه په اړه منقول دي چي هغه د خپل زوی بلال رحمه الله څخه د يو ديني معاملې په اړه دومره ناراضه سو چي د هغه سره يې خبري کول پرېښودل، خلاصه دا چي داسي ډيري پيښي نقل سوي دي چي د هغو څخه ثابتيږي چي په ديني معاملو کي خفګان او ناراضګي تر درو ورځو يات هم کېدای سي مګر شرط دا دی چي نيت صادق وي او په هغه

كي د څه نفساني خواهشانو او دنياوي غرض دخل نه وي .

بيا د سلام په ذريعه پيل وكړي : مطلب دادى چي په هغه دواړو كي كوم څوک د ناراضګۍ ختمولو لپاره مخكي سلام وكړي د هغه درجه به د دوهم په مقابله كي لويه وي او په دې كي دې ته هم اشاره ده چي په سلام كي مخكي كېدل د ترک ملاقات ګناه زائلوي او كم از كم ترک سلام خو ختمول پكار دي چي د اخوة اسلامي دا بنيادي حق ضائع نسي .

يو څو منعه خبري

﴿۴۸۰۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكُمْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل ځان وژغورئ

وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ وَلَا تَحَسَّسُوا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا

دبد ګماني څخه ، ځكه چي بد ګماني بدترين دروا غ خبره ده د چا دحال يا د يو خبري معلومولو كوښښ مه كوئ ، جاسوسي مه كوئ او مه جنګول كوئ ،

وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا. وفي رواية ولاتنافسوا. متفق عليه.

په خپل منځ كي حسد مه كوئ ، په خپل منځ كي بغض مه ساتئ، په خپل منځ كي غيبت مه كوئ او د الله جل جلاله ټول مسلمانان بندګان په خپل منځ كي ورونه جوړ سئ ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي په خپل منځ كي كينه مه كوئ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۴۸۴، رقم: ۶۰۶۶، ومسلم ۴\ ۱۹۸۵، رقم: ۲۸- ۲۵۶۳.

د لغاتو حل: تناجشوا: المراد به طلب الترفع والعلو على الناس. (لوړي تر لاسه كول).

تشريح: په دغه حديث كي چي د كومو شيانو څخه منع سوې ده د هغو د ټولني د انفرادي او اجتماعي ژوند سره تعلق دى، كه چيري دهغه خبرو څخه پرهيز وكړل سي نو په ټولنه كي به د خيرېدونكو ډېرو خرابيو څخه خلاصون تر لاسه سي .

بد ګماني ته د خبرو تر ټولو بد دروا غ فرمايل سوي دي ، كله چي يو څوک د يو چا په اړه بد ګماني كوي نو هغه دا فيصله كوي چي هغه سړى داسي او داسي دى او هغه سړى په حقيقت كي هم هغسي نه وي ځكه د هغه فيصلې ته به دروا غ ويل كيږي، ځرګنده دي وي چي د خبرو څخه

مراد هغه خبري دي چي نفس يې پيدا كوي او په حقيقت كي د شيطان له خوا په نفس كي اچول كيږي.

په دې اعتبار سره بد گماني ته بد دروغ ويل سوي دي يا دا چي هغه ته د بد دروغو نوم وركول د هغه خرابۍ زيات بيانول مقصد دي، په قرآن كريم كي داسي فرمايل سوي دي: (ان بعض الظن اثم)، په دغه الفاظو كي چي كوم ظن گناه گرځول سوى دى د هغه شخه د بد گماني مراد ده او څرنگه چي علماؤ وضاحت كړى دى چي د هغه شخه د بد گمانۍ په اړه منع نقل سوې ده د هغه شخه هغه بد گماني مرا ده كوم چي په ذهن كي كښېني او په هغه يقين وكړي، هغه بد گماني مراد نه ده چي محض د خيال په توگه په زړه كي تېره سي او ځينو علماؤ دا ليكلي دي چي بد گماني كونكى سړى هغه وخت گناه كار وي كله چي د هغه ذكر وكړي او هغه په ژبه ادا كړي، په هر صورت د هغه بد گمانۍ په موجب د گناه د كېدو شرط دا هم دى چي د هغه بد گمانۍ قائمولو لپاره يو معقول وجه او دليل نه وي يا د بد گمانۍ معقول وجه او دليل وي نو د بد گمانۍ نه كولو يو معقول وجه او دليل وي او دواړه دليلونه په خپلو كي متعارض وي مگر كه چيري د هغه بد گمانۍ صحيح ثابتولو لپاره يو داسي واضحه قرينه او معقول دليل وي چي د هغه د منلو شخه پرته بله چاره نه وي نو پر داسي بد گمانۍ باندي مؤاخذه نه كيږي او نه هغه ته په حقيقي معنى كي بد گماني ويل كيږي.

تحسس او تجسس (يعني پلټنه او جاسوسي)، دغه الفاظ په ظاهره يو مفهوم لري مگر علماؤ د دواړو په مينځ كي فرق ظاهر كړى دى او په دې اړه مختلف اقوال منقول دي، صاحب قاموس د جيم په فصل كي ليكلي دي چي د تجسس معنى د خبرو په پلټنه كي او سيدل او دغه لفظ د وجس شخه مشتق دى چي دهغه معنى ده د داسي پټو خبرو ساتلو والا چي ښه نه وي يا هغوئ د حاء په فصل كي ليكلي دي چي د حاسوس هم هغه معنى ده كوم چي د جاسوس ده، يا دا چي حاسوس په خاصه توگه هغه پټو خبرو لرونكي ته وايي كوم چي ښه وي،

ځينو حضراتو ليكلي دي چي د تجسس معنى ده: ښه خبرونه په هوښيارۍ او نرمۍ سره تر لاسه كول او د تحسس معنى ده هغه خبرونه د قوت حاسه په ذريعه تر لاسه كول لكه يو سړى چي د يو چا خبره په غلا اوري او ويني يې، ځينو حضراتو ويلي دي چي د تجسس معنى ده د نورو لپاره د بديو او عيبونو پلټنه كول او د تحسس معنى ده د نورو لپاره د خبر په لټون كي لگېدل او د تجسس معنى ده د ځان لپاره د يو خبر په پلټنه كي لگېدل، طيبي رحمه الله ويلي دي چي په دغه ارشاد كي تجسس مراد دى په خپل خپل ډول سره يا د يو چا په مرسته سره د نورو خلكو عيبونه او دهغوئ د ذاتي حالاتو او معاملاتو پلټنه كول او د تحسس معنى ده د يو چا د مرستي

څخه پرته په خپله پلټنه کول، په هر حال د حدیث مراد د خلکو د داسي احوالو او معاملاتو پلټنه کول او د داسي خبرو د پلټني څخه منع کول دي چي دهغو تعلق د غیبت ، خرابۍ او د کردار او احوالو د کمزورۍ سره وي نو ددغه منع وجه بالکل څرګنده ده او که د ښه خبري پلټني کولو او د ښه احوالو او معاملاتو پلټني کولو څخه هم منع مراد وي نو په دغه صورت کي ددغه منع وجه به دا بیانیږي چي کیدای سي د چا په اړه د ښه خبر تر لاسه کېدو وروسته په ځان کي د حسد جذبه پیدا سي یا طمع او حرص پکښي پیدا سي چي ښه شی نه دی نو احتیاط په دې کي دی چي د یو چا د ښه خبر په پلټنه کي لګېدل هم نه دي پکار .

ولا تناجشوا : دلته اصل لفظ د نجش دی چي د هغه اصل معنی د ښکار د راپارولو ده، ځینو حضراتو دا معنی بیان کړې ده چي یو چا ته د دوکې ورکولو لپاره د پلورنکي شي ډېر زیات تعریف کول یاد مصنوعي رانیونکي په جوړېدو سره د پلورونکي شي قیمت زیاتول چي د بل چا په لېدو سره هغه شی په هغه قیمت رانیسي یا د پلورونکي شي خرابي بیانول چي رانیونکی هغه پرېږدي او بلي خوا ته ولاړ سي، په عامه توګه علماؤ په حدیث کي دغه لفظ پر دغه معنی محمول کړی دی یعني په ذکر سوو طریقو کي په یوه داسي طریقه سره سودا خرابول ، ځینو حضراتو ددغه لفظ د اصل معنی د رعایت څخه په حدیث کي د ولاتناجشوا دا معنی مراد اخیستې ده چي یو څوک د یو چا پر بدۍ او دښمنۍ باندي مه پاروه .

ولا تحاسدوا : یو د بل سره حسد مه کوئ، مطلب دادی چي د بل چا سره د یو نعمت په لېدو سره د هغه د زوال خواهش مه کوه یا دا خواهش مه کوه چي هغه نعمت دده څخه ایسته سي او ما ته راسي .

ولا تباغضو : د یو بل سره د بغض نه کولو مطلب دادی چي د داسي اسبابو پیدا کولو څخه ځان وساتئ چي بغض او نفرت لازموي ، دغه وضاحت په دې وجه دی چي څرنګه محبت یوه داسي جذبه ده چي خپله پیدا کیږي همدارنګه بغض او نفرت هم پیدائشي دی چي په دغه جذبې پیدا کېدو یا نه پیدا کېدو کي د یو سړي اختیار نه وي مګر انسان د خپل ځان د داسي اسبابو څخه پر خوندي ساتلو باندي یقینا قادر کیدای سي چي د هغه څخه یو تر بله بغض او نفرت پیدا کیږي، ځینو حضراتو د ولاتباغضو معنی دا بیان کړې ده چي په شرعي احکامو او مسائلو کي د نفساني خواهشاتو په وجه په خپلو کي اختلاف او انتشار مه پیدا کوئ او خپل فکر او نظر په دین کي مه داخلوئ ځکه چي په دین کي بدعت اختیارول او د سیده لاري څخه ګمراه کېدل هغه اسباب دي چي د مسلمانانو په مینځ کي د یو بل سره بغض او نفرت پیدا کوي، مګر

۱۵ صحيح خبره داده چي په حديث کي د يو بل سره د بغض کولو د منع اصل مقصد د ميني او محبت مؤکد کوي او دميني او الفت ددغه حکم تعلق علی الاطلاق د مسلمانانو د ټول ژوند سره دی مگر کوم محبت او الفت چي په دين کي خلل اچوي په هغه صورت کي محبت جائز نسي کيدای بلکه دين ته تاوان رسونکي سړي سره بغض او نفرت کول به جائز وي .

خلاصه دا چي رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذريعه ټولو مسلمانانو ته هدايت فرمايلی دی چي هغوئ د الله ﷻ د کلمې لوړولو لپاره د محبت او اتحاد په زنځير کي منسلک وي چي د ارشاد الهي تقاضا هم ده لکه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي : (واعتصموا بحبل الله جميعا ولا تفرقوا) : او د الله ﷻ رسئ داسي ټينګه ونيسئ چي ټول په خپلو کي متفق ياست او په خپلو کي بې اتفاقي مه کوئ .

په دې کي هيڅ شک نسته چي محبت او الفت د اتحاد بنياد دی او بغض او نفرت د افتراق او انتشار ذريعه ده ، نو وفرمايل سول چي تاسو د يو بل سره بغض او نفرت مه کوئ .

ځينو حضراتو دا ليکلي دي چي د (لاتباعضوا) معنی داده چي تاسو د مسلمانانو په مينځ کي عداوت او دښمني مه پيدا کوئ ، په دغه صورت کي به د ذکر سوي منع تعلق د چغل خوري ځخه وي ځکه چي چغل خوري د فساد بنياد دی او د يو بل سره عداوت او دښمني پيدا کيږي .

ولا تدابروا : مطلب دادی چي په خپلو کي په يو بل پسي بد او رد مه واياست، طيبي رحمه الله ويلي دي چي د تدابر ځخه مراد تقاطع (ترک ملاقات) دی، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي د يو بل سره تعلق مه پرېږدئ ، ددغه معنی لفظي مناسبت د ذکر سوي جملې سره په دې توګه دی چي په تعلق قطع کونکو کي هر يو د بل ځخه شا ګرځوي او د اسلام ښودل سوي حقوقو ادا کولو ځخه ټېښته کوي .

وکونوا عباد الله اخوانا : مطلب دادی چي تاسو ټول د الله ﷻ بندګان ياست او په عبوديت کي برابر ياست، او تاسو ټول د اخوة په زنځير سره منسلک ياست نو ستاسو ددغه حيثيت تقاضا داده چي د يو بل په مينځ کي حسد، بغض او غيبت په ډول د بديو په حائل کولو سره په خپلو زړونو کي ښېګڼه والي او په خپلو صفتو کي انتشار مه پيدا کوئ بلکه پر خپل مرتبه عبوديت باندي په اتحاد او اتفاق سره اوسئ او په خپلو کي وروڼه وروڼه اوسئ .

ولا تنافسوا : يو د بل حرص مه کوئ، د تنافس لفظ په لغوي توګه د تحاسد معنی ته نژدې دی مگر احتمال دادی چي د تنافس معنی دنيا ته د ميلان او رغبت کول وي ددې تائيد ددغه روايت ځخه هم کيږي چي په هغه کي فرمايل سوي دي : ما ته اندېښنه ده چي پر تاسو باندي د دنيا

دروازې خلاصي سي او تنافس كول به پېل كړئ يعني تاسو به دنيا ته راغب سئ په دې اعتبار سره په ترجمه كي د تنافس معنی په خپلو كي د حرص كولو نقل سوې ده .

د عداوت بدي

(۴۸۰۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت دروازې خلاصيږي

يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا إِلَّا رَجُل

د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د او د هر بنده بخښنه كيږي په شرط د دې چي هغه د الله جل جلاله سره هيڅ شی نه وي شريک كړی او هغه سړی د دې بخښني څخه محروم وي چي

كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ أَنْظِرُوا هٰذَيْنِ حَتّٰى يَصْطَلِحَا . رواه مسلم

د يو مسلمان سره كينه او عداوت لري او ملائكو ته وويل سي چي دغه دواړو ته وخت وركړئ چي په خپل منځ كي صلح وكړي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۹۸۷\۱۴، رقم: ۳۵- ۲۵۶۵.

تشريح: د جنت دروازې خلاصيږي: مطلب دادی چي د جنت طبقې او درجې او يا د هغه بالاخانې په دغه دوو ورځو كي خلاصيږي ځكه چي په دغه دواړو ورځو كي د الله تعالى رحمت ډېر نازليږي چي د بندګانو د مغفرت باعث كيږي . (ملا علي قاري رحمه الله) .

شيخ عبدالحق رحمه الله ليكلي دي : د دروازو خلاصول په اصل كي د دې څخه كنايه ده چي په دغه دوو ورځو كي بندګان په ډېره بخښنه نازول كيږي د هغوئ ګناهونه او جرمونه معافيږي او هغوئ د ثواب او درجو په سعادت سره نازول كيږي مګر صحيح خبره داده چي د حديث الفاظ د هغه پر ظاهري معنی محمول كړل سي ځكه چي نصوص د هغه پر ظاهري معنی محمول كول واجب دي تر څو چي داسي څرګنده دليل موجود نه وي چي د هغه څخه د هغه ظاهري مفهوم پر ځای يو بل مطلب اخيستل كيدای سي .

تر دې چي هغوئ په خپلو كي صلح وكړي: د دې څخه څرګنديږي چي په دواړو كي د هر يوه مغفرت د دوئ پر صلح باندي موقوف دی كه څه هم په دوئ دواړو كي دواړه د يو بل سره عداوت لري يا يو كس عداوت لري او بل د عداوت څخه پاک وي .

﴿۴۸۱۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ

د حضرت ابو هريرة رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل: په هره هفته کي دوه واره د

فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ

بندګانو عملونه يعني د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ الله تعالی ته وړاندي کيږي او دهر مؤمن بنده بخښنه کيږي.

إِلَّا عَبْدًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ اتْرُكُوا هٰذَيْنِ حَتَّى يَفِيئَا. رواه مسلم

خو هغه بنده نه بخښل کيږي چي د خپل يو مسلمان وروړ سره عداوت لري د هغوئ په اړه ويل کيږي دوئ دواړو ته وخت ورکړئ چي په خپل منځ کي صلح وکړي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۱۹۸۷، رقم: ۳۶ - ۲۵۶۵.

مصلحت آميز درواغ

﴿۴۸۱۱﴾: وَعَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتَ عُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ

د حضرت ام کلثوم بنت عقبه بن ابيؓ معيط (رض) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ

دا واوريدل: هغه څوک درواغجن نه دئ چي په خپلو خبرو سره (د خلکو په منځ کي صلح وکړي) دواړو خواوو ته ښه خبره وکړي

خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا. متفق عليه. وزاد مسلم قالت وَلَمْ أَسْمَعْهُ تَعْنِي النَّبِيَّ

او ديوه کس څخه بل کس ته ښه خبر ورسوي. بخاري او مسلم، او د مسلم په روايت کي دا الفاظ زيات دي چي (ام کلثوم) وويل چي ما نه دي اوريدلي چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ كَذِبٌ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ

رسول الله ﷺ د درو ډولو درواغو څخه پرته د بل يو درواغو اجازه ورکړې وه

الْحَرْبُ وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَحَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا. وذكر حديث جابر ان الشيطان قد ايس في باب الوسوسة.

(۱) په جنګ کي (۲) د مسلمانانو په منځ کي د روغي راوستلو لپاره (۳) او د ښځي او خاوند يو تر بله په خپل منځ کي د ميني زياتولو لپاره، او د حضرت جابر ﷺ دا حديث ان الشيطان قد ايس، په باب الوسوسة کي ذکر دئ.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۹۹، رقم: ۲۶۹۲، ومسلم ۴\۲۰۱۱، رقم: ۱۰۱- ۲۶۰۵.

تشريح: ښکه خبره رسول: يعني صلح کونکي سړي په دوو ډلو کي د هر يوه له خوا بلي ډلي ته هغه خبره رسوي چي په حقيقت کي هغه ډله نه وي ويلې او هغه خبره داسي وي چي په هغه کي د دواړو په مېنځ کي د صلح او دوستي جذبات پيدا کوي د مثال په توګه د واړو ډولو ته ورسي او داسي ورته ووايي چي تاسو د هغه بلي ډلي سره ولي عداوت لرئ حال دا چي هغوئ ستاسو ډېر خيرخواه دي او ستاسو په حق کي د ښه خبري څخه پرته بل څه نه وايي، هغوئ سلام درته ويلی دی او ستاسو سره د دوستۍ د جذباتو اظهار کوي.

د جنګ په حالت کي د درواغو ويلو اجازه ده: ددې تعلق د داسي خبرو سره دی چي د هغه څخه د مسلمانانو د طاقت او قوت اظهار کيږي، د خپل لښکر د خلکو حوصله لوړيږي او د هغوئ زړونه قوي کيږي که چيري د دښمن د لښکر فريب خوړل ممکن وي که څه هم هغه خبري د حقيقت بالکل خلاف وي د مثال په توګه داسي وويل سي چي زموږ د لښکر شمېر دومره زيات دی چي د هغه په مقابله کي د دښمن د لښکر هيڅ حيثيت نسته او زموږ د لښکر د مرستي لپاره نور زيات کومک را روان دی يا د خپل دښمن په مخکي داسي وويل سي، خبردار سه چي ستا د ختمولو لپاره ددغه خوا څخه فلاني سړی را روان دی او هر کله چي هغه شا ته وګوري او د هغه فهم د مخ څخه واوړي نو د موقع په تر لاسه کولو سره حمله پر وکړل سي.

د ښځو او خاوند په خبرو کي د درواغو مطلب دادی چي د مثال په توګه خاوند ښځئ ته يا ښځه خاوند ته د خپل دومره زياتي ميني اظهار وکړي چي د حقيقت خلاف وي او ددې څخه مقصد دا وي چي په خپلو کي مينه او محبت زيات سي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

درې ځايه درواغ ويل

﴿۴۸۱۲﴾: عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ الْكَذِبُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ كذب الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ لِيُرْضِيَهَا وَالْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ وَالْكَذِبُ لِيُصْلِحَ بَيْنَ النَّاسِ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت اسماء بنت يزيد (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يوازي په درو وختونو کي درواغ ويل جائز دي: يو د سړي درواغ ويل د خپلي ښځي د رضا کولو لپاره، دويم په جګړه کي درواغ ويل او دريم د خلکو په منځ کي د صلح کولو لپاره درواغ ويل. احمد او ترمذي

تخريج: مسند الامام احمد ۶\۴۶۱، والترمذي ۴\۲۹۷، رقم: ۱۹۳۹.

تشريح: په دغه حديث کي يوازي د خاوند د درواغو ويلو اجازه ده، د ښځي د درواغ ويلو اجازه نسته حال دا چي په مخکني حديث کي د دواړو ذکر دی، ددې وجه يا خو داده چي راوي دلته د اختصار لپاره يوازي د خاوند په اړه ذکر وکړ او د ښځي ذکر يې حذف کړ يا خپله رسول الله ﷺ د اکثر او اغلب په اعتبار سره يوازي د خاوند ذکر فرمايلی وي ځکه چي په عامه توګه ښځي د خپل جهالت په ذريعه زياته بدګمانه وي ځکه د هغوئ د تسلي او خوشحاله کولو لپاره خاوند ته زيات ضرورت پېښيږي.

تر درو ورځو زيات خفګان مه کوئ

﴿۴۸۱۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَكُونُ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ مُسْلِمًا فَوْقَ ثَلَاثَةٍ فَإِذَا لَقِيَهُ سَلَّمَ عَلَيْهِ ثَلَاثَ مِرَاتٍ كُلُّ ذٰلِكَ لَا يَرُدُّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِإِثْمِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هيڅ يو مسلمان لپاره دا روا نه ده چي هغه تر درو ورځو زيات د خپل مسلمان ورور څخه خفه سي او هغه پرېږدي، هر کله چي هغه مسلمان کوم چي د ده څخه خفه دئ ورسره يو ځای سي نو هغه ته دي سلام وکړي که

هغه جواب ورنه کړي نو دويم وار دي ورته سلام وکړي اوس هم که هغه جواب ورنه کړي نو په دريم وار دي ورته سلام وکړي او که په دا وار هم هغه جواب ورنه کړ نو دده ګناه د هغه پر ذمه ده. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۲۱۵، رقم: ۴۹۱۳.

تشريح: مطلب دادی که چيري هغه سلام کونکي د سلام جواب نه ورکوي نو د ترک ملاقات ګناه به د هغه پر سر وي نو هغه به يوازي په خپله ګناه کي اخته وي يا د سلام کونکي ګناه به هم پر هغه وي خلاصه دا چي سلام کونکی خو د ترک ملاقات د ګناه څخه ووتی مګر د سلام جواب نه ورکونکی ير غاړه باندي به وي بلکه د سلام جواب نه ورکولو په وجه د سلام کونکي ګناه به هم پر هغه نويږي.

﴿۴۸۱۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ.

رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هيڅ يو مسلمان ته دا روا نه ده چي هغه د خپل مسلمان ورور څخه تر درو ورځو زيات ناراضه سي او د هغه سره ليده کاته ونه کړي، څوک چي تر درو ورځو زيات ناراضه پاته سي او په دغه دوران کي مړ سي نو دوږخ ته به ځي. احمد او ابوداؤد

تخريج: مسند الامام احمد ۲\ ۳۹۲، وابوداود ۵\ ۲۱۵، رقم: ۴۹۱۴.

د کال ناراضګي د قتل په ډول ده

﴿۴۸۱۵﴾: وَعَنْ أَبِي خِرَاشٍ السُّلَمِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ هَجَرَ أَخَاهُ سَنَةً فَهُوَ كَسَفْكِ دَمِهِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو خراش سلمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي څوک چي د خپل مسلمان ورور څخه تر يو کال پوري ناراض پاته سو او د هغه سره يې ليدنه ونه کړل نو هغه ګويا د هغه قتل وکړ. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۱۵، رقم: ۴۹۱۵.

تر درو ورځو وروسته خوشحاله سئ

(۴۸۱۶): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَحِلُّ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هيڅ يو مسلمان لپاره دا

لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَهْجُرَ مُؤْمِنًا فَوْقَ ثَلَاثٍ فَإِنْ مَرَّتْ بِهِ ثَلَاثٌ فَلْيَلْقَهُ فَلْيُسَلِّمْ

روا نه ده چي هغه د يو مسلمان وروز څخه تر درو ورځو زيات ناراض وي او د هغه سره ملاقات ونه کړي، يعني د درو ورځو تېرېدو څخه وروسته هغه ته پکار ده چي هغه خپل مسلمان ورور ته ورسي او ورسره يو ځای سي او هغه ته سلام وکړي

عَلَيْهِ فَإِنْ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ فَقَدْ اشْتَرَكَا فِي الْأَجْرِ وَإِنْ لَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِالْإِثْمِ، وَخَرَجَ الْمُسَلِّمُ مِنَ الْهِجْرَةِ. رواه ابوداؤد

که هغه د سلام جواب ورکړي نو د صلح په ثواب کي به دواړه شريک وي او که د سلام جواب ور نه کړي نو جواب نه ورکونکی به ګناه کار وي او د سلام کونکی به د ملاقات ترک کولو د ګناه څخه خلاص وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۱۴، رقم: ۴۹۱۲.

د صلح فضيلت

(۴۸۱۷): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ

د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته هغه عمل

بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّدَقَةِ وَالصَّلَاةِ قال قلنا قَالَ إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ هِيَ الْحَالِقَةُ. رواه الترمذي وابوداؤد وقال هذا حديث صحيح

ونه بنيم چي د هغه د ثواب درجه د روژې ، صدقې او لمانځه تر ثواب هم زياته ، موږ وويل: هو، اې دالله رسوله ! خامخا يې وښيه، رسول اللهﷺ وفرمايل : هغه د دوو مسلمانانو په منځ کي صلح کول دي څوک چي د دو مسلمانانو په منځ کي فتنه او فساد پيدا کړي هغه په دين کي خلل پيدا کونکی دئ . ترمذي، او ابوداؤد ، ترمذي ويلي دي د احديث صحيح دي .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۱۸، رقم: ۴۹۱۹، والترمذي ۴\۵۷۲، رقم: ۲۵۰۹.

د لغاتو حل: الحالقة: اى الماحية والمزيلة للمثوبات والخيرات، والمعنى يمنعه شؤم هذا الفعل عن تحصيل الطاعات والعبادات،

تشريح: په ظاهره داسي معلوميږي چي په (الصدقة ....الخ) کي د واو حرف د جمع لپاره دی ، په دغه صورت کي به مطلب داوي چي صلح کول تر دغه ټولو عبادتو افضل دی او دا هم کيدای سي چي حرف د واو د مفهوم په اعتبار د او په معنی کي وي په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي صلح کول د هغه عبادتو څخه افضل ده ، د حديث چي کوم مقصد دی يعني په خپلو کي د دښمني ليري کونکو په مينځ کي د صلح کولو ترغيب کول ددې سره سم اول قول زيات غوره دی.

ملا علي قاري رحمه الله د ځينو حضراتو دا قول نقل کړی دی چي په حديث کي صلح کولو ته تر روژې، صدقې او لمانځه افضل ويل سوي دي نو دلته فرض روژه يا فرض صدقه يا فرض لمونځ مراد نه دی بلکه نفل مراد دي .

ددې څخه وروسته ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي: زما وينا داده چي هسي خو الله جل جلاله ښه پوهيږي چي حقيقي مراد څه دی مگر د دوو ډلو په مينځ کي د دښمنۍ نوعيت که چيري دا وي چي د هغه په نيتجه کي د خلکوويني ، مال او سباب ضائع کيږي نو قياس وايي چي داسي دښمني ختمول او د دوو ډلو په مينځ کي صلح کول د ذکر سوو فرضو عباداتو څخه هم غوره دی ځکه چي اول خو دغه عبادت داسي عمل دی که يو وخت پاته سي نو د هغه قضاء راوړل کېدای سي حال دا چي د عداوت په نتيجه کي هلاکېدونکي ځانونه، تباه کېدونکي مال او اسباب او د بې عزتۍ او ناموس مکافات ممکن نه دي ، دوهم دا چي ددغه عبادتو تعلق د حقوق الله سره دی او د مذکوره تباهۍ تعلق د حقوقو العباد سره دی او په دې کي شک نسته چي په ځيني اعتبار سره د پروردگار په نزد د حقوق الله څخه زيات د حقوق العباد ارزښت دی ، ددغه حقيقت په وجه دا ويل زيات صحيح کيدای سي چي دغه جنس عمل ته پر هغه عبادتو باندي جزوي فضيلت په هر حال حاصل دی او ددې قرينه داده چي ويل کيږي : البشر خير من الملک والرجل

من المراة، يعني انسان تر ملائكو غوره دی او سړی تر ښځي غوره دی.
ذات البين: هغه حال ته وايي چي په هغه كي خلک يو تر بله سره اخته وي لكه بغض، عداوت، جګړه او داسي نور، او د اصلاح معنی د هغه احوالو درست كول په دې اعتبار سره به د اصلاح ذات البين مطلب دا وي چي كله خلک په خپل منځ كي د خرابو حالاتو ښكار وي د مثال په توګه هغوئ د يو بل سره په بغض او عناد كي په اخته كېدو سره او په خپلو كي په جګړې اخته كېدو سره خپل ځان يې په فتنه او فساد كي اچولی وي نو دهغوئ بغض او عناد دې په مينه او محبت بدل كړل سي او هغوئ ته د فتنې او فساد څخه په را ايستلو سره صلح ته راوستل سي، ددې پر خلاف فساد ذات البين دی چي هغه په حالقه سره تعبير سوی دی، حالقه د حلق څخه دی چي معنی يې د وېښتانو د خريلو ده او حالقه خريونكي ته وايي، دلته ددغه لفظ څخه مراد برباد ول او تباه كول دي، مطلب دا چي فساد ذات البين يعني د خلكو په منځ كي د افتراق او انتشار تخم كرل يو داسي عادت دی چي دين بربادوي او د ثواب تر لاسه كول بالكل ختموي، لكه څرنګه چي استره وېښتان له بېخه باسي، په هر حال ددغه ارشاد مقصد د خلكو په منځ كي صلح كول او د فتنې او فساد د ختمولو ترغيب وركول دي او خلک د افتراق او انتشار پيدا كولو څخه متنفر كول دي.

د حسد او بغض بدوالی

﴿۴۸۱۸﴾: وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الْأُمَمِ قَبْلَكُمُ الْحَسَدُ وَالْبَغْضَاءُ هِيَ الْحَالِقَةُ لَا أَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعَرَ وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت زبير ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مخكنيو امتونو ناروغيو په تاسو كي اثر كړی دی هغه ناروغي حسد او بغض دی چي بيخ ايستونكي دي، ددې څخه زما مراد د وريښتانو كښل نه دي بلكه ددين د بيخ كښل دي. احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الامام احمد ۱۱ / ۱۶۷، رقم: ۲۵۱۰.

حسد نيكي خوري

﴿۴۸۱۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ

وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ځان د حسد څخه وژغورئ ځکه چي حسد نيکي خوري لکه څرنګه چي اور لرګي خوري. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۲۰۸، رقم: ۴۹۰۳.

تشريح: د حديث ظاهري مطلب دادی چي څرنګه د اور او لرګي معامله چي اور لرګي سوځي او ختموي همدارنګه حسد هغه عادت دی چي انسان په خپل غيږ كي اخيستلو سره د هغه نيکۍ بربادوي.

معتزله دغه حديث د خپل مذهب دليل ګرځوي چي د ګناه کول عمل صالح باطل کوي او بدۍ نيکۍ ختموي، د دوئ د وينا مطلب دادی که يو مسلمان يو ګناه وکړي نو د هغه ښه اعمال محض د هغه ګناه په کولو سره برباديږي او د بدۍ خاصه داده چي هغه مخکنۍ نيکۍ له منځه وړي مګر موږ اهل سنت والجماعت دا خبره غلطه ګرځوو ، د دوئ وينا داده چي په بديو سره نيکۍ نه ختميږي مګر د نيکۍ خاصه داده چي هغه بدۍ ختموي لکه چي فرمايل سوي دي : (ان الحسنات يذهبن السيئات) بيله شکه نيکۍ بدۍ رژوي، او کوم چي د دغه حديث څخه د معتزله د استدلال سوال دی نو د اهل سنت والجماعت له خوا ويل کيږي چي په دغه ارشاد کي دا فرمايل سوي دي چي حسد نيکۍ خوري نو ددې مطلب په اصل کي دادی چي حسد د نيکۍ حسن او جمال زائل کوي لکه څرنګه چي په حديث کي فرمايل سوي دي : (الحسد يفسد الايمان کما يفسد الصبر العسل) يعني حسد په ايمان کي فتور پيدا کوي لکه څرنګه چي ايلوا (يو تريخ بوټی) شات بې خونده کوي،

ځينو حضراتو دا جواب ورکړی دی چي د حسد د نيکۍ خوړلو څخه مراد دادی چي حسد د محسود د مال ضائع کولو، د هغه ژوند تباه کولو او د هغه عزت ته پر تاوان رسولو باندي اماده کوي ، که چيري حسد کونکی دغه شيان عملا نه پوره کوي نو هغه ددې خبري اراده خامخا لري ، که نور هيڅ نه وي نو د غيبت په ذريعه د هغه عزت ته يقينا تاوان رسوي نو د حسد سزا به دا وي چي د قيامت په ورځ به د حاسد نيکۍ محسود ته ورکړل سي او دا به د محسود د هغه حقوقو بدله وي چي حاسد پر خپل غاړه اخيستي دي، لکه څرنګه چي په يو حديث کي فرمايل سوي دي : زما په امت کي حقيقي مفلس هغه سړی دی چي د قيامت په ورځ به په خپله عمل نامه کي لمونځ، روژه، زکوة او دشپې دبيدارۍ د ثواب په اخيستلو سره راسي مګر د هغه حالت به

دا وي چي هغه به په دنيا کي چا ته ښکنځل کړي وي ، پر چا به يې د زنا تهمت لګولی وي ، د چا مال به يې خوړلی وي ، د چا وينه به يې توی کړی وي څوک به يې وهلی وي نو دهغه ټولي نيکۍ به هغه خلکو ته ورکړل سي چي د ښکنځلو ، بهتان او نورو په ذريعه يې کړی وي ، نو په ذکر سوي حديث کي د نيکيو د بربادېدو څخه دا مراد دی ، يعني د قيامت په ورځ د خپلو نيکيو څخه محروم کېدل دي ، دا نه دی چي هغه نيکۍ د عمل نامې څخه ختمول مراد دي، دا مراد به داسي هم صحيح نه وي که د چا نيکۍ همدا رنګه ختم کړل سي او د عمل نامه څخه يې محوه کړل سي نو بيا به هغه د قيامت په ورځ چي د کومو اعمالو سره راځي حال دا چي ددغه حديث څخه دا خبره ثابته ده چي کوم څوک په دنيا کي نيک عملونه کړي وي نو هغه به د قيامت په ورځ د هغه اعمالو سره د حشر په ميدان کي حاضرېږي .

يو جواب دا هم ورکول کېږي چي هر بنده د خپل توان او صلاحيت سره سم په خپلو نيکيو کي اضافه کوي او د هغه په عمل نامه کي د ثواب شمېر زياتيږي، څرګنده ده چي کله بنده د نيکيو پر ځای خطاوي کوي نو هغه په عمل نامه کي د نيکيو او ثواب د زياتوب څخه محروم کېږي، په دې اعتبار سره فرمايل سوي دي چي حسد د حاسد د نيکۍ څخه ليري کولو سره ګويا د هغه نيکيو څخه محروم کوي چي هغه ته به د دغه خراب عادت څخه د پرهيز په صورت کي تر لاسه کېږي .

فساد مه پيدا کوئ

﴿۴۸۲۰﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِيَّاكُمْ وَسُوءَ ذَاتِ الْبَيْنِ فَإِنَّهَا الْحَالِقَةُ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل ځان د دوو مسلمانانو په منځ کي د فتنې او فساد پيدا کولو څخه وژغورئ ځکه چي دا کار دين تباه کوي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۷۲، رقم: ۲۵۰۸.

مسلمان ته تاوان مه ورسوئ

﴿۴۸۲۱﴾: وَعَنْ أَبِي صِرْمَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ ضَارَّ ضَارَّ اللّٰهُ بِهِ وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللّٰهُ عَلَيْهِ. رواه ابن ماجة والترمذي وقال هذا

حديث غريب.

د حضرت ابو صرمه ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي يو مسلمان ته تاوان ورسوي الله تعالى به هغه ته خامخا تاوان ورسوي ، او څوک چي يو مسلمان ورور په تكليف كي اخته كړي نو الله تعالى به هغه په تكليف كي اخته كړي . ابن ماجه او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۹۳، رقم: ۱۹۴۰، وابن ماجه ۲\۷۸۵، رقم: ۲۳۴۲.

تشريح:د شاق لفظ معنى دا هم بيان سوې ده چي كوم څوک د يو مسلمان سره عداوت او مخالفت كوي نو الله ﷻ به د هغه سره عداوت او مخالفت كوي يعني هغه به په عذاب كي اخته كړي .

مسلمان ته تاوان رسونكى

﴿۴۸۲۲﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَلْعُونٌ مَنْ ضَارَّ مُؤْمِنًا أَوْ مَكَرَ بِهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابوبكر صديق ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه څوک لعنتي دى چي يو مسلمان ورور ته تاوان ورسوي يا د يو چا سره چم وكړي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۲۹۳، رقم: ۱۹۴۱.

تشريح: مطلب دادى چي كوم څوک يو مسلمان ته په ظاهري توگه سره تاوان ورسوي او كه په پټه تاوان ورته ورسوي نو د الله ﷻ د رحمت څخه ليري گرځول كيږي .

د مسلمان عيب مه لټوئ

﴿۴۸۲۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَعِدَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنْبَرَ

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر منبر سربيره په لوړ آواز سره

فَنَادَى بِصَوْتٍ رَفِيعٍ فَقَالَ يَا مَعْشَرَ مَنْ أَسْلَمَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يُفْضِ الْإِيمَانُ

وفرمايل : اې مسلمانانو ! چي په ژبه سره مو ايمان راوړى دى او په زړه كي د ايمان اثر نه لرئ

إِلَى قَلْبِهِ لَا تُؤْذُوا الْمُسْلِمِينَ وَلَا تُعَيِّرُوهُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنْ

تاسو مسلمانانو ته تکلیف مه ورکوئ (هغوئ ته پیغور مه ورکوئ)، دهغوئ عیبونه مه لټوئ

يَتَبَّعَ عَوْرَةَ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ تَتَبَّعَ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَبَّعَ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ وَلَوْ فِي جَوْفِ رَحْلِهِ. رواه الترمذي.

ځکه چې څوک د یو مسلمان عیب لټوي الله تعالی د هغه عیب لټوي او د کوم سړي عیب چې الله تعالی ولټوي د هغه رسوایي څرګندوه ده الله تعالی به هغه رسوا کړي که څه هم چې هغه په خپل کور کې پټ ناست وي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۳۱، رقم: ۲۰۳۲.

تشریح: چې په ژبه یې اسلام راوړی وي: په دغه خطاب کې مؤمنان او منافقان دواړه شامل دي او تر دې مخکې یې دا وفرمایل چې د هغوئ زړونو ته ایمان نه دی رسیدلی یعنې د هغوئ زړونه د اصل ایمان یا د ایمان د کمال څخه منور نه دي نو ددې په ذریعه په خطاب کې فاسق هم شامل سوی دی، دا خبره ځکه صحیح معلومیږي چې په دغه ارشاد کې مخکې دا فرمایل سوي دي چې کوم څوک د خپل مسلمان ورور عیب لټوي نو ددې څخه دا څرګندیږي چې د رسول الله ﷺ خطاب ټولو مسلمانانو ته وو، که هغه کامل مسلمان وي یا منافق او فاسق وي، که چیرې خطاب یوازې منافقانو ته وای نو د مسلمان او منافق په منځ کې ورورولي نسته ځکه په دغه ارشاد کې به د خپل مسلمان ورور لفظ نه استعمالیدای، د طیبي رحمه الله علیه دغه قول اختیارول چې ددغه ارشاد مخاطب یوازې منافقین دي او یوازې پر هغوئ ددغه حدیث اطلاق کیږي دا د ظاهري مفهوم خلاف دی.

پېغور مه ورکوه: مطلب دادی چې یو مسلمان ته د هغه پر ګناه باندې پېغور او خبرداری مه ورکوئ کوم چې د هغه څخه مخکې سوی وي، که څه هم د هغه ګناه څخه توبه کول تاسو ته معلوم وي یا معلوم نه وي، مګر که چیرې یو سړی د ګناه کولو په حالت کې وي یا هغه ګناه کړې وي او د هغه څخه د توبې کولو مخکې په علم کې راغلی وي نو په دغه صورت کې هغه ته پر ګناه باندې پېغور او خبرداری ورکول پر هغه چا واجب دی کوم چې پر هغه باندې قادر وي او که هغه ګناه د حد او تعزیر وړ وي نو پر هغه باندې حد او تعزیر جاري کول واجب دي، ددغه صورت تعلق د پېغور ورکولو سره نه دی بلکه ددې شمېر به د امر المعروف او نهي عن المنکر څخه وي.

مه د هغه عیب لټوئ: یعنې د یو مسلمان کوم عیبونه چې تاسو ته معلوم نه وي د هغه په

لټه كي مه كېږئ او د هغه كوم عيبونه چي ستا په علم كي راغلي دي هغه د نورو په مخكي مه ظاهروه، د دې څخه ثابته سوه چي د يو مسلمان د عيبونو پلټنه كول يا د هغه عيبونه چي په خپل علم كي وي هغه دنورو په مخكي ظاهرولو څخه پرهيز كول واجب دی او كوم څوك چي داسي وكړي يعني د يو مسلمان عيب ښكاره كړي يا د يو مسلمان عيب دنورو په مخكي بيان كړي نو د هغه څخه خپل ځان ليري كول او نور خلک هم د هغه څخه ليري كول واجب دي.

الله ﷻ به د هغه عيب ولټوي: ددغه جملې مقصد ددې خبري خبرداری وركول دی چي كوم څوک په دنيا كي د يو مسلمان عيب بيانوي يا د يو مسلمان عيبونه دنورو په مخكي په بيانولو سره هغه رسوا كوي نو په آخرت كي د هغه سره همداسي معامله كيږي، په دې توګه چي الله ﷻ به هلته د هغه عيبونه د معافولو پر ځای د هغه يوه يوه بدی ښكاره كړي او د هغه ټول عيبونه به د مخلوق په وړاندي ښكاره كړي، لكه څرنګه چي هغه په دنيا كي يو مسلمان وړور رسوا كړی وو همدارنګه په آخرت كي به هغه خپله رسوا سي، ښكاره ده چي د آخرت رسوايي د دنيا تر رسوايي ډېره زياته ده، عطا ليكلي دي چي د يو چا د عيبو پلټنه كول په خپله تر ټولو لوی عيب دی.

امام غزالي رحمه الله ليكلي دي: عيب بيانول هغه عادت دی چي د بد ګمانۍ په نتيجه كي پيدا كيږي، كوم څوک چي د يو مسلمان په اړه بدګماني كوي نو هغه ځان په واک كي نسي كولای د هغه خواهش وي چي هغه په عيبو پسي ولګيږي او كله چي د هغه په علم كي يو عيب راسي نو بيا د هغه پرده لوڅوي، نو پكا ردي چي دغه خصلت يعني بدګماني كول ددې څخه خپل ځان وساتي چي د يو مسلمان عيب ويل او پرده لوڅول پر خپل غاړه نه واخلي، حقيقت دادی چي شريعت د يو مسلمان كردار د هغه ټولنيز حيثيت، د هغه شخصي وقار او د هغه ژوند په ټولنه كي د ذلت او رسوايي څخه د ساتني ډېر زور وركړی دی، همدا وجه ده چي ددې خبري په تاكيد سره حكم وركړل سوی دی كه چيري تاسو ته د يو مسلمان عيب معلوم سي نو هغه پټ كړئ او د خلكو په مخكي يې مه بيانوئ، او هيچا ته دا اجازه نسته چي د يو مسلمان ذاتي حالاتو ته توجه وكړي او د هغه د كمزورۍ په لټه كي سي،

ددې ارزښت ددې خبري څخه ظاهريږي چي د شريعت د يو مسلمان د عيبو پرده كولو حكم وركړی دی د هغه حد دادی كه چيري د يو چا په همسايه كي داسي ځای وي چي هلته شراب څښل كيږي او سازونه پكښي وهل كيږي نو هغه بايد په خپله د خپل سرای دروازه بنده كړي چي د هغه نظر په بل سرای كي پر غير شرعي كارو باندي ونه لګيږي او د هغه كور د خلكو

بدكاري د هغه په علم كي رانسي او د هغه سړي د سراى او د مذكوره سراى په منځ كي چي كوم ديوال حائل وي هغه ته په غوږ نيولو سره د هغه اواز اوريدو هڅه كول نه دي پكار چي په هغه سراى كي سروز وي او نه دا جائز دي چي د هغه خرابۍ د ليدو لپاره هغه كور ته ورننوځي، مګر كه چيري د هغه سراى او سيدونكى خپل بد كارونه خپله ظاهروي لكه په لوړ اواز سره سروز وايي يا شرابي خلك د شراپيانو په ډول شور كوي او د هغوئ اواز د هغوئ د شراب څښلو په شكل كي دباندي راوځي نو دا بيله خبره ده ، كه چيري هغه سړى د هغوئ د پلټني د مقصد څخه پرته همدارنګه د هغه كور ته ورسي او هغه خلك په شراب څښلو او سروز اوريدو سره ويني او هغه خلك د سروز سامان او د شرابو لوښي پټ كړي نو د هغه سړي لپاره دا جائز نه ده چي د هغوئ د لمني په آخوا كولو سره د هغه شيانو دليدو هڅه وكړي ، همدرانګه د شرابو د څښلو لپاره د هغوئ خوله وغيره بويول هم جائز نه دي او نه دا جائز دي چي د خپلو همسايګانو څخه پوښتنه وكړي چي د هغه په سراى كي څه كيږي .

د حديث په دغه الفاظو كي (ولم يفض الايمان الى قلبه) يعني د هغوئ زړو ته ايمان نه دى رسيدلى، په دغه جمله كي دې ته اشاره ده چي تر څو پوري د ايمان نور زړه روښانه كړى نه وي نو تر هغه وخته پوري د الله ﷻ معرفت نه تر لاسه كيږي او نه د هغه حقوق ادا كيږي او دا چي د زړه ټول روحاني نارو غيو علاج د الله ﷻ معرفت او د هغه د حقوقو پر ادا كولو باندي موقوف دى، كوم څوك چي د الله ﷻ معرفت تر لاسه كړي او د هغه حقوق ادا كوي نو هغه چا ته تكليف نه رسوي او نه څوك په تاوان كي اخته كوي او نه چا ته پيغور وركوي او نه د چا د حالاتو پلټنه كوي.

په ناحقه د چا بې عزتي

﴿۴۸۲۴﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنْ أَرْبَى الرِّبَا الِاسْتِطَالَةَ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ . رواه ابوداؤد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت سعيد بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تر ټولو لوى سود د مسلمان په ناحقه بې عزتي كول دي په ژبه سره . ابوداؤد او بيهقي په شعب الايمان كي

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۹۳، رقم: ۴۸۷۶، والبيهقي في شعب الايمان ۵\۲۹۷، رقم: ۶۷۱۰.

د لغاتو حل: الاستطالة: اى اطالة اللسان. (اوږد ژبى)

تشريح: مطلب دادی چي د يو شرعي حکمت څخه پرته او په ناروا توګه د يو مسلمان په اړه د خپلي ژبي څخه خراب الفاظ ايستل او همدارنګه د هغه عزت تر پښو لاندي کول يو داسي عادت دی چي د حرام کېدو او ګناه لازمېدو په اعتبار په نسبت د نورو سودو سخت سود دی، څرګنده دي وي چي په لغت کي د ربوا معنی د زياتېدو ده او په اصطلاح کي د ربوا مفهوم دادی چي د رانيولو او پلورلو او په پور کي واجب حق او اصل روپو څخه زيات اخيستل، نو د يو مسلمان په اړه داسي رويه اختيارول يا داسي الفاظ د خپلي خولې څخه ايستل چي د هغه مسلمان په اړه هغه ته هيڅ حق ونه رسيږي او نه د هغه تعلق د يو داسي معاملې سره وي چي په هغه کي داسي رويه اختيار سي يا دداسي الفاظو استعمالول په شرعي توګه اجازه وي يعني د خپل حق څخه زيات او په ظلم سره اخيستل وي په دې اعتبار سره د چا د بې عزتۍ لپاره بد کلامي ته په سود سره تشبيه ورکړل سوې ده او بيا دې ته اربی يعني تر ټولو لوی سود ويل سوي دي ځکه چي د يو مسلمان په نزد د هغه عزت او د هغه مال ته زيات حيثيت او قيمت وي او د مال او سامان په نسبت د عزت تاوان زيات تکليف ورکونکی او سخت وي.

د حديث شارحينو ليکلي دي چي د ناحق قيد ځکه لګول سوی دی چي په ځينو صورتو کي داسي رويه اختيارول او داسي خبره کول چي په هغه سره عزت مجروح کيږي، مباح ګرځول کيږي د مثال په توګه د يو سړي پر يو چا باندي حق (لکه پور او يا بل څه وي) او هغه يې حق نه ادا کوي نو صاحب حق ته اجازه ده چي هغه سړي ته د ظالم په ډول سخت الفاظ ووايي يا هغه بدنامه او بې عزته کړي، يا يو څوک د چا په حق کي شاهدي ورکوي نو پر هغه جرح کول او د هغه شاهد عيب بيانول صحيح دي، د داسي راويانو جرح کول هم دي يعني د محدثينو د راويانو عيبونه ظاهرول هم صحيح دي ځکه چي ددغه مقصد د حديث د صحت خوندي ساتل او د دين ساتنه کول دي همدارنګه خلک د تاوان او فساد څخه د ساتني لپاره د نکاح د پيغام ورکونکي صحيح احوال ظاهرول اود بدعتي او فاسق بدي او بې عزتي کول هم صحيح دي.

﴿۴۸۲۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا عرجَ بِي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (په معراج کي) الله تعالی زه

رَبِّي مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمُشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ

پورته بوتلم هلته ما داسي خلک وليدل چي د هغوئ نوکونه د مسو وه او په هغه نوکونو سره يې

خپل مخونه او سينې ګروولې (وينې كولې)،

فَقُلْتُ مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ قَالَ هٰؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ. رواه ابوداؤد.

د جبرائيل عليه السلام څخه ما پوښتنه وکړه دا کوم خلک دي؟ هغه راته وويل: دا هغه خلک دي چې د خلکو غوښې خوري (يعني غيبت کوي) او د هغوئ په عزت اخيستو پورې لګيدلي دي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۱۹۴، رقم: ۴۸۷۸.

تشريح: د حضرت جبرائيل عليه السلام د وينا مطلب دا وو چې دا هغه خلک دي چې د خلکو غيبت کوي د هغوئ په حق کې ناوړه الفاظ د ژبې څخه باسي او همدارنګه د خلکو عزت تر پښو لاندې کوي ددغه خلکو خپل مخونه او سينې شکول دې ته اشاره ده چې دغه خلکو د خپلو ورونو په بې عزتۍ کولو سره او په هغه خوشحاله کېدو سره د هغه ورونو سينې او مخونه مجروح او مغموم کړل نو د دوئ سزا داده چې اوس خپله په خپلو لاسو سره خپل سينې او مخونه زخمي کوي.

﴿۴۸۲۶﴾: وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ بِرَجُلٍ

د حضرت مستورد رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د يو مسلمان

مُسْلِمٍ أَكْلَةً فَإِنَّ اللّٰهَ يُطْعِمُهُ مِثْلَهَا مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ كُسِيَ ثَوْبًا بِرَجُلٍ

بدې او غيبت سره يوه ګوله وخوري (يعني په دغه ذريعه رزق تر لاسه کړي) الله تعالى به د هغه ګولې په ډول په هغه د دوږخ اور وخوري او څوک چې د يو مسلمان د اهانت او ذلت په بدله کې

مُسْلِمٍ فَإِنَّ اللّٰهَ يَكْسُوهُ مِثْلَهُ مِنْ جَهَنَّمَ وَمَنْ قَامَ بِرَجُلٍ مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ فَإِنَّ اللّٰهَ يَقُومُ له مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه ابوداؤد.

جامه واغوندي الله تعالى به د دوږخ جامه ور واغوندي، او څوک چې ودروي او يا خپله ودرېږي او خلکو ته د ښوونې لپاره خپل ښه والى اوروي د قيامت په ورځ به الله تعالى د هغه خرابي او کمزوري ښودلو او اورولو لپاره ودرېږي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۹۵، رقم: ۴۸۸۱.

تشريح: د أُكْلة معنی د ګولې ده، او په يوه نسخه کي دغه لفظ أكلة (د الف په زور سره) منقول دی چي د هغه معنی په يو وار په ماړه نس خوړل دي، د يو مسلمان دبې عزتۍ کولو سره يوه ګوله يا يو وار د خوراک مطلب دادی چي د يو سړي د خوشحاله کولو لپاره د هغه په مخکي د يو مسلمان بدي بيانول او د هغه په عوض کي د خوراک او څښاک سامان پيدا کول، د مثال په توګه يو سړی زيد دی چي د يو مسلمان سره عداوت لري او د هغه مسلمان د بدۍ په اوريدو سره ډېره خوشحاله کيږي نو يو بل سړی چي بکر دی د هغه د مزاج په پېژندو سره هغه ته ورځي او د هغه د خوشحاله کولو لپاره د هغه په مخکي د هغه مسلمان بد وايي يا د هغه عيبونه بيانوي او زيد د هغه په دغه حرکت سره خوشحاله کيږي او هغه ته روپۍ يا خوراک و څښاک ورکوي نو د داسي سړي په اړه فرمايل سوي دي چي کوم څوک د يو مسلمان بې عزتي د خپل ګټي او روزۍ ذريعه وګرځوي نو په آخرت کي به هغه ته د هغه روزۍ او ګټي په مثل د دوږخ اور خوړل وي.

لفظ د کسی په معروفه صيغه دی او په ژباړه کي ددې اعتبار سوی دی مګر په يوه نسخه کي دغه لفظ د مفعول په صيغه دی په دغه صورت کي به معنی داسي وي چي کوم چا ته د يو مسلمان د تحقير او سپکاوی په بدله کي جامه ور واغوستل سي، دغه معنی د مخکني عبارت سره زياته مطابق ده، ځينو حضراتو ويلي دي چي دغه لفظ د معرفه صيغې په کېدو سره د مخکني عبارت معنی به داسي وي چي کوم څوک د يو مسلمان د تحقير او سپکاوي کولو په بدله کي ځان ته جامې واغوندي.

ومن قام برجل مقام سمعة ورياء: د برجل په لفظ کي يوازي باء د تعديه لپاره ده او د رجل څخه مراد خپله هغه سړی کيدای سي او دهغه څخه پرته بل څوک هم، مطلب دادی که چيري يو سړی د خپل ځان د ښوونې لپاره خپل لويي بيان کړي او په خپل تعريف او توصيف کي رطب اللسان وي يا بل څوک په دې مامور کړي چي هغه د خلکو متاثره کولو لپاره د هغه تعريف او توصيف کوي نو الله ﷻ به د قيامت په ورځ د هغه د بدۍ په څرګندولو سره د خلکو په منځ کي د هغه د رسوايي سامان پيدا کړي.

ځينو حضراتو ليکلي دي چي په برجل کي د باء حرف د تعديه لپاره هم کيدای سي او د سببيت لپاره هم کيدای سي، که چيري د تعديه لپاره وي نو دا مطلب به وي چي کوم څوک د ښوونې او رياء په توګه د هغه د پرهيزګارۍ او ديندارۍ ډول وهي او د هغه زهد، عبادت او هغه بزرګۍ ته د دروغو شهرت ورکوي او په دې سره د هغه مقصد دا وي چي خلک د هغه

معتقد سي يا د هغه په حلقه کي په ګډون کولو سره د خپل ځان او زړه په ذريعه د هغه خدمت وکړي، او د هغه په پناه کي د خپل ځان او مال ګټه وي لکه څرنګه چي د ځينو بزرګانو طريقه ده چي د هغوئ د شهرت په پناه کي د ځان لپاره ګټه تر لاسه کوي، نو د داسي سړي په اړه فرمايل سوي دي چي الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه سړی د رسوايي پر ځای ودروي او ملائکو ته به حکم وکړي چي دد غه سړي په اړه اعلان وکړئ چي دی درواغجن دی ، ده محض د خپلي ګټي او ذاتي غرض لپاره يو سړي ته ناروا شهرت ورکړی وو ، ددې څخه وروسته به هغه په عذاب کي اخته کړل سي کوم چي د درواغجنو لپاره به وي.

او که چيري باء د سببيت لپاره وي نو مطلب به دا وي که چيري يو څوک د يو چا توجه تر لاسه کولو لپاره په خپله خپل ځان د سمعه او رياء پر مقام ودروي يعني خپل ځان ډېر زاهد ، متقي او صالح ظاهر کړي چي يو شتمن سړی د هغه معتقد سي او د هغه په ذريعه عزت او مال تر لاسه کړي نو دداسي سړي په اړه فرمايل سوي دي چي د قيامت په ورځ به الله ﷻ هغه په داسي ځای کي ودروي چيري چي به خلک د هغه رسواييويني يعني ملائکو ته به حکم ورکړل سي چي دا اعلان وکړئ چي دغه سړی ډېر رياکار وو ، د خلکو ځان ته مائل کولو او د مال تر لاسه کولو لپاره يې ځان متقي او زاهد څرګندوی ، بيا به په هغه عذاب کي اخته کړل سي کوم چي د رياکارو لپاره دی.

پر الله ﷻ ښه ګمان کوئ

﴿۴۸۲۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ. رواه احمد وابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر الله تعالى ښه ګمان ساتل د غوره عبادت څخه دی . احمد او ابوداؤد.

تخريج: مسند الامام احمد ۴۰۷\۲، وابوداود ۲۶۶\۵، رقم: ۴۹۹۳.

تشريح: مطلب دادی چي کومو اعمالو ته عبادات حسنه ويل کيږي په هغو کي يو غوره شی او غوره عبادت دا هم دی چي د الله ﷻ څخه نېک ګمان وساتل سي، نو ضروري ده چي عبادات ترک کړل سي څرګنده دي وي چي جاهل عام خلک دا ګمان کوي چي د الله ﷻ سره د حسن ظن مطلب دادی که چيري عبادتونه پرېښودل کيږي نو هغه دي پرېښودل سي مګر د الله ﷻ په ذات

باور کول پکار دي چي هغه کريم او غفور الرحيم دی چي تارک عبادت هم يقينا بخښي، دغه گمان ډېر دگمراهۍ سبب دی او د شيطان په جال کي د لوېدو نتيجه ده، علماوو ليکلي دي چي يو سړي دي عبادت کول پرېږدي او د معبود سره دي د حسن ظن دعوه کوي نو يقينا مغرور او مردود دی.

دا هم کېدای سي چي په حديث کي د نېک گمان تعلق د الله ﷻ پر ځای د مسلمانانو په اړه د خير د عقيدې درلودل او منجمله د عبادات حسنه څخه وي، يا دا چي د مسلمانانو په اړه نېک گمان کول يو داسي صفت دی چي په عباداتو کي حسن او کمال پيدا کوي او د ثواب درجه زياتوي، خلاصه دا چي کوم څوک عبادت کونکی او نېک وي نو هغه د نورو په اړه تل نېک گمان لري او بدگمان کونکی د بدکاره سړي څخه پرته بل څوک نسي کېدای.

بد گمان باشد همېشه زشت کار نامه خود خواند اندر حق يار

د يوې زوجه مطهره څخه ناراضه کېدل

﴿۴۸۲۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ اعْتَلَّ بَعِيرٌ لِصَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي د بي بي صفيې اوښ ناروغ سو او د بي بي زينب

وَعِنْدَ زَيْنَبَ فَضْلُ ظَهْرٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِزَيْنَبَ

سره د ضرورت څخه زياته سپرلۍ وه، رسول الله ﷺ بي بي زينب ته وفرمايل چي بي بي صفيې

أَعْطِيهَا بَعِيرًا فَقَالَتْ أَنَا أُعْطِي تِلْكَ الْيَهُودِيَّةَ فَغَضِبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

ته څپل اوښ ورکړه، بي بي زينب وويل ايا دې يهودۍ ته څپل اوښ ورکړم، رسول الله ﷺ پر

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهَجَرَهَا ذَا الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمَ وَبَعْضَ صَفَرٍ. رواه ابوداؤد وذكر حديث معاذ بن انس من حمى مؤمنا في باب الشفقة والرحمة.

دې خبره ناراض سو او د ذي الحجة، محرم، او د صفرې د مياشتي څو ورځي رسول الله ﷺ د هغې څخه بيلوالی غوره کړ. ابوداؤد او د معاذ بن انس حديث من حمى مؤمنا د شفقت او رحمت په باب کي بيان سوی دی.

تخريج: سنن ابي داود ۴/۸۱۴–۹، رقم: ۴۶۰۲.

تشریح: د بي بي صفيې ﷺ د نسب لړۍ پورته د حضرت هارون ﷺ سره يو ځای کېدل ځکه نو هغې ته د يو پيغمبر حضرت هارون ﷺ په اولاد کي د کېدو نسبي شرف هم تر لاسه وو، د بي بي صفيې ﷺ اول واده د يو يهودي ابوالحقيق سره سوی وو، د خيبر په جنګ کي ابوالحقيق ووژل سو او بي بي صفيه ﷺ په بنديانو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي راوستل سول، رسول الله ﷺ هغه ازاده کړه او د هغې سره يې نکاح وکړه، د رسول الله ﷺ ځينو بيبيانو هغه نه خوښول او خپله بي بي عائشه ﷺ هم د هغوي څخه وه، مګر رسول الله ﷺ د نورو بيبيانو په ډول د هغې سره هم برابر تعلق وو او د هغې حمايت او رعايت به يې کوی، يوه ورځ بي بي عائشې ﷺ په يو خبره باندي بي بي صفيې ﷺ ته يهوديه او بد و رد وويل، هغې رسول الله ﷺ ته شکايت وکړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ته عائشې ته ووايه چي ته د حضرت ابوبکر ﷺ لور يې او زه د پيغمبر د اولاد څخه يم. بي بي زينب ﷺ هم د رسول الله ﷺ زوجه مطهره وه، مخکي د هغې نوم بره وو او اول واده يې د عبدالله ابن زمعه سره سوی وو، کله چي د رسول الله ﷺ په نکاح کي راغلل نو رسول الله ﷺ د زينب نوم پر کښېښود.

د دغه حديث څخه يوه خبره دا معلومه سوه چي يو چا ته د مخکني ژوند پېغور ورکول او د هغه سپکاوی کول ډېر نامناسبه خبره ده، دوهمه خبره دا چي د رسول الله ﷺ د بي بي زينب په بد بيني د هغې څخه سخت ناراضه کېدل او تر زيات وخت پوري د هغې سره تعلق ترک کول ددې دليل دی چي د يو شرعي مصلحت سره سم د يو مسلمان يا مسلماني سره تر درو ورځو زيات هم ترک ملاقات کېدای سي، د مثال په توګه يو سړی يو بد کار وکړي نو د هغه د تاديب او تنبيه لپاره د هغه سره تر درو ورځو زيات تعلق پرېښودل جائز دي لکه څرنګه چي مخکي هم بيان سوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

په قسم هر وخت اعتبار کوی

﴿۴۸۲۹﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَجُلًا يَسْرِقُ فَقَالَ لَهُ عِيسَى سَرَقْتَ قَالَ كَلَّا وَالَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ فَقَالَ عِيسَى آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَكَذَّبْتُ نَفْسِي. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د بي بي مريمي زوی حضرت عيسى عليه السلام يو سړی پر غلا کولو وليدی ، حضرت عيسى عليه السلام ورته وويل تا غلا وکړل ، هغه ورته وويل هيڅکله نه ، قسم په هغه ذات چي د هغه پرته بل هيڅوک د عبادت وړ نه سته ، حضرت عيسى عليه السلام وويل ما پر خدای جل جلاله ايمان راوړ او خپل ځان مي درواغجن وګرځوئ . مسلم .

تخريج: صحيح مسلم: ۱۸۳۸\۱۴، رقم: ۱۴۹، ۲۳۶۸.

تشريح: ما په الله جل جلاله ايمان راوړ: يعني تا چي په خپل قسم کي د الله جل جلاله وحدانيت ذکر کړ دی زه پر هغه د خپل ايمان او اعتقاد اقرار کوم ، يا دغه جمله د مفهوم په اعتبار داسي ده چي تا د الله جل جلاله کوم قسم کړی دی زه په هغه باور کوم او خپل ځان په دې خبره کي درواغجن ګرځوم چي تا غلا کړې ده که څه هم زما دغه ويل په ظاهري حالت کي د غمازۍ په وجه وو ، دغه وضاحت ددغه احتمال سره سم دی چي کيدای سي چي هغه سړی يو شی د هغه د مالک څخه په پټه پورته کړی وي په دې توګه حضرت عيسى عليه السلام دا وګڼل چي هغه سړي غلا کړې وه مګر هغه اول خو د الله جل جلاله په قسم کولو سره د غلا څخه انکار وکړ ، دوهم دا چي پر هغه موقع يو داسي شرط تر لاسه نه سو چي د هغه د غلا د ثبوت لپاره او د غلا د سزا يعني حد جاري کولو لپاره په شرعي توګه ضروري وي ځکه حضرت عيسى عليه السلام د هغه سړي قسم ومنی او خپله خبره يې غلطه وګرځول.

شيخ عبدالحق رحمة الله عليه دا مطلب ليکلی دی چي زه تا ستا په قسم کي رېښتونی ګڼم او د خپل هغه ګمان څخه رجوع کوم چي ما ستا په اړه قائم کړی وو او په ذکر سوې خبره کي خپل ځان درواغجن ګرځوم ، ددې څخه معلومه سوه که چيري يو سړی پر يو خبره د الله قسم وکړي که څه هم هغه خبره د حقيقت څخه خلاف معلوميږي مګر پکار دي چي خپل ګمان او خپل معلومات غلط وګرځوي او د الله جل جلاله د نامه د تعظيم لپاره د هغه د قسم اعتبار وکړل سي .

حسد او مفلس

﴿۴۸۳۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَّكُوْنَ كُفْرًا وَكَادَ الْحَسَدُ أَنْ يَّغْلِبَ الْقَدَر . رواه البيهقي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نژدې ده چي فقر (مفلسي) د کفر حد ته ورسيږي ، او نژدې ده چي حسد پر تقدير الهي غالب راسي . بيهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ٥\٢٦٧، رقم: ٦٦١٢.

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دادی چي فقر، افلاس او غريبي داسي خراب شی دی چي ډېر واره انسان د هغه څخه په مجبوره کېدو سره د کفر حد ته رسيږي، کوم فقير او مفلس چي د صبر او استقامت په ضائع کولو سره په قلبي افلاس کي اخته سي نو هغه د الله ﷻ په ذات د اعتماد او باور لمن د لاسه ورکړي، د هغه نتيجه دا سي وي چي هغه ډېر د مايوسی په عالم کي د الله پر نظام باندي اعتراض کول پيل کړي، د تقدير الهي څخه په شکوه کولو سره د الله ﷻ پر فيصله او حکم باندي په هر حالت کي د راضي کېدو تقاضا شاته وغورځوي، يا د الله ﷻ په مخکي د لاس غزولو پر ځای د غير الله په مخکي د سوال لاس غزول پيل کړي او پرته د الله څخه بل څوک حاجت روا گڼل پيل کړي، يا کله چي هغه ويني چي اکثر کفار شتمن دي او د عيش ژوند تېروي او دهغوئ پر خلاف اکثر مسلمانان د افلاس او تنگدستۍ په ازمائش کي اخته دي نو هغه کفر ته د مائل کېدو څخه هم منع نه کوي او څرگنده ده چي دغه شيان انسان کفر ته رسوي

مگر حقيقت دادی چي فقر او افلاس په اصل کي د مسلمانانو لپاره د يو امتحان درجه لري، کوم خلک چي په دغه حقيقت پوهيږي او د مال او دولت او دنياوي ژوند په اعتبار د مفلس کېدو سربېره خپل زړه غني لري او پر تقدير الهي باندي صابر او شاکر کېدو سره په امتحان کي کامياب کيږي نو د هغه په حق کي هغه فقر او د ايمان د پرمختګ او د درجاتو ضامن جوړيږي نو کوم مسلمان چي په فقر او مفلسۍ کي اخته وي او ټول انساني تدابير، محنت او مشقت سربېره د تنگۍ د حالاتو څخه خلاصون نه تر لاسه کوي نو هغوئ ته پکار دي چي هغوئ خپل هغه حالت د الله ﷻ له خوا يو امتحان وګڼي او دا يقين وکړي چي دغه دنيا او ددنيا ټول تکليفونه او پرېشانۍ د مؤمن لپاره يو داسي وقفه حيات دی که په هغه کي صبر او استغناء او د الله ﷻ پر ذات باندي توکل په برخه سي نو کله نا کله په دنيا کي هم حالات بدلېدای سي او د آخرت فلاح او کاميابي خو يقينا په برخه کيږي او ددغه ځای ټول تکليفونه او پرېشانۍ د هغه ځای د بې پايه نعمتونو او لازواله راحتو بدليږي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر) دغه دنيا د مؤمن لپاره بنديخانه ده او د کافر لپاره جنت دی.

کوم مسلمانان چي ددغه بنديخانې تکليفونه او مصيبتونه په ورين تندي سره زغمي د هغوئ لپاره الله ﷻ په آخرت کي د بې پايه انعامو وعده کړې ده، په قرآن کريم کي الله ﷻ داسي فرمايلي دي:

لاَ يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُواْ فِي الْبِلاَدِ مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ لَكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْاْ رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلاً مِّنْ عِندِ اللّهِ وَمَا عِندَ اللّهِ خَيْرٌ لِّلأَبْرَارِ .

ژباړه : اې مؤمنه! تا دې د کافرانو په ښارو کې ګرځېدل په مغالطه کې نه واچوي ځکه چې دا د څو ورځو ژوند دی بیا د هغوئ ځای دوږخ دی او هغه ډېر خراب ځای دی مګر کوم خلک چې په هغوئ کې د الله ﷻ څخه بیرېږي د هغوئ لپاره باغونه دي چې لاندې یې ویالې بهیږي او هغوئ به په دغه باغو کې همېشه وي . دا به د الله ﷻ له خوا د هغوئ مېلمستیا وي او کوم شیان چې د الله ﷻ سره دي دا د نېکو بندګانو لپاره غوره دی .

نقل سوي دي چې ځینو صحابه کرامو به د کفارو او مشرکینو مال او دولت او د هغوئ راحت لیدی نود هغوئ پر ژبه به دغه الفاظ راتلل چې دغه خلک خو دخدای ﷻ دښمنان دي د دوئ حال خو ډېر ښه دی مګر موږ د تکلیف، سختۍ، مفلسۍ او لوږې وخت تېروو، پر دې خبره باندې ذکر سوی آیت نازل سو او مسلمانانو ته وښودل سول چې د دنیا دغه آرام او راحت څو ورځې دی چې ژر فناء کېدونکی دی مګر تاسو ته د آخرت آرام او راحت تر لاسه کېدونکی دی چې هغه لازوال دی او هیڅکله نه فناء کیږي، نو تاسو خلک د فناء کېدونکي آرام او د څو ورځو راحت غوښتنه مه کوئ بلکه د هغه نعمتونو امید کوئ چې د تل لپاره دي .

لکه څرنګه چې فقر او مفلسي په ځیني وختو کي د کفر حد ته رسیږي همدا رنګه د مال او دولت زیاتوب هم سړی ګمراه کوي، د شتمنۍ نشه انسان سرکښه کوي او د حد څخه زیات راحت یې په ګناه او معصیت کې اخته کوي ځکه ویل کیږي چې شتمني او مفلسي دواړه په معتدله توګه کېدل د انسان ژوند د ګمراهۍ څخه ساتلای سي ، او فقر او مفلسي یې د مایوسی او کفر حد ته د رسېدو څخه منع کوي او د ضرورت په اندازه مال تر لاسه کېدل یې د شتمنتوب د نشې څخه خوندي کوي چې دهغه په وجه د سرکښۍ او ګناه اندېښنه نه پاته کیږي نو دخیر الامور اوسطها اصول پر دغه دواړو باندي صادقیږي .

د حدیث دوهمه برخه: (او نژدې ده چې حسد پر تقدیر الهي باندي غالب سي) مطلب دادی چې که چیري یو داسي شی وي چې پر تقدیر باندي غالب کیږئ او دهغه د بدل ورکولو طاقت لري نو هغه به حسد وي او ځینو حضراتو دا مطلب بیان کړی دی چې حسد حاسد هغه ګمراه کونکي ګمان ته بیایي چې هغه تقدیر الهي هم بدلولای سي .

د عذر منل

﴿۴۸۳۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اعْتَذَرَ إِلٰى أَخِيْهِ فَلَمْ يَعْذِرْهُ أَوْ لَمْ يَقْبل عُذْرَهُ كَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ خَطِيْئَةِ صَاحِب مَكْسٍ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان وقال المكاس العشار.

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي خپل مسلمان ورور ته (پر يو قصور) باندي عذر وکړي او هغه مسلمان ورور يې عذر نه ومني نو پر هغه به دده دومره ګناه وي څومره چي د عشر اخيستلو والا ګناه ده. بيهقي.

تخریج: البيهقي في الشعب ۳۲۱/۶، رقم: ۸۳۳۸.

د لغاتو حل: مکس: ای صاحب عشر، والمراد اخذ مال الناس بالظلم (په ظلم د چا مال اخيستل.)

تشریح: د مکس معنی د محصول اخيستل دي، په دې اعتبار سره عُشر اخيستونکي ته مکاس ويل کيږي او په عامه توګه د صاحب مکس اطلاق پر هغه چا باندي کيږي چي د ظلم له موخي په ناحقه محصول تر لاسه کوي او د شريعت خلاف محصول اخيستل ډېره سخته ګناه ده، په يوه حديث کي فرمايل سوي دي چي صاحب مکس به جنت ته نه ځي، د عذر خواهي نه قبلونکی او د صاحب مکس په منځ کي د مشابهت وجه کيدای سي دا وي چي د مذکوره سړي په ډول صاحب مکس هم د محصول ورکونکي هيڅ عذر او دليل نه قبلوي که يو تجار څو واره ورته ووايي چي پر ما باندي محصول نه عائد کيږي يا زما سره د تجارت مال نسته بلکه دا امانت مال دی او دا چي زه يې پوروړی يم او محصول نه سم ادا کولای، مګر هغه د هيڅ هيڅ خبره نه مني او د هغه څخه په زور محصول اخلي.

د عذر نه قبلولو بدي او د هغه د ګناه په اړه نور حديثونه هم نقل سوي دي، طبراني په اوسط کي د بي بي عائشي ؓ روايت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (من اعتذر الی اخيه المسلم فلم يقبل عذره لم يرد علی الحوض). ژباړه: که يو څوک خپل مسلمان ورور ته عذر وکړي او هغه يې عذر قبول نه کړي نو د هغه حوض کوثر ته راتلل نه په برخه کيږي.

طبراني ؒ او نورو محدثينو د حضرت ابن عباس ؓ څخه دا روايت نقل کړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته وښيم چي په تاسو کي خراب سړی څوک دی؟ صحابه کرامو عرض وکړ چي هو، خامخا يې راوښيه، رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي خراب سړی

هغه څوک دی چې یوازې په یو پړا کې تم سي ، خپل غلام ووهي او محتاج سړی د خپل ورکړې څخه محروم کړي، بیا يې وفرمایل: ایا زه تاسو ته وښیم چې تر دغه سړي هم زیات خراب څوک دی؟ صحابه کرامو وویل: هو ، خامخا یې راوښیه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغه څوک چې د قصور کونکي سړي عذر نه مني ، او خطا نه معافوي ، بیا یې وفرمایل: ایا زه تاسو ته وښیم چې تر دغه سړي هم زیات خراب څوک دی؟ صحابهٔ کرامو وویل، هو خامخا يې راوښیه، رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه څوک چې د هغه څخه د خیر توقع نه وي او نه د هغه د فتنو څخه خلک خوندي وي.

حاکم رحمه الله علیه د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه دا روایت نقل کړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو د بل چا ښځو ته په بد نظر مه ګورئ نو ستاسو ښځې به د نورو خلکو د بد نظر څخه خوندي وي، ته د خپل پلار سره ښهٔ چلن کوه نو ستا زوی به ستا سره ښه چلن کوي او کوم څوک چې خپل مسلمان ورور ته یو عذر وکړي نو پکار دي چې د هغه عذر ومنل سي که څه هم د هغه عذر صحیح وي یا غلط وي، که چیري هغه د خپل مسلمان ورور عذر قبول نه کړي نو هغه دې په یاد ولري چې حوض کوثر ته بهٔ یې راتلل په برخه نسي (حاکم دغه روایت صحیح الاسناد ګرځولیدی)

===========

بَابُ الْحَذَرِ وَالتَّأَنِّيْ فِي الْأُمُوْرِ

(په کارونو کې د منعه او زنه کولو بیان)

حَذَر: د حاء او ذال په زور او د راء په جزم سره، معنی یې د ساتني، پرهیز کولو او بېداره اوسیدو ده، او حَذِر: د حاء په زور او د ذال په زېر سره، بیدار او مستعد سړي ته وايي.

د تاني معنی ده په یو کار کې د تلوار کولو پر ځای توقف او زنه کول او په ښه فکر او غور سره کول ، د ذکر سوي عنوان مطلب دادی چې انسان باید د خلکو د شر او ماحول د فتنو څخه ځان وساتي ، د هغه آفاتو او فتنو تعلق که د نیاوي تاوانو سره وي او که د دیني او اخروي تاوانو سره وي، همدارنګه پکار دي چې هغه په خپلو کارو او معاملاتو کې تل هوښیار او بیداره وي ، د تلوار څخه دې ځان وساتي ، حلم او وقار دې اختیار کړي ، په خپل هره اراده او عمل دې په ښه ډول فکر او غور وکړي او د هر کار انجام دې په نظر کې ولري .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

مؤمن دوه واره نه چیچل کیږي

﴿۴۸۳۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ. متفق عليه

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د یوه غار څخه مؤمن دوه واره نه چیچلِ کیږي (یعني مسلمان باید هوښیار وي د یو وار تاوان رسیدو وروسته باید دویم وار تاوان پورته نه کړي). بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۲۹، رقم: ۶۱۳۳، ومسلم ۱۴\۲۲۹۵، رقم: ۶۳ - ۲۹۹۸.

تشریح: دلدغ معنی د چیچلو ده، حُجر: سوري ته ویل کیږي چي د مار، لړم او نورو شیانو د اوسیدو ځای وي.

د حدیث مقصد دادی چي مؤمن هوښیار وي، د حق او انصاف غوښتونکی او د دین حامي او محافظ وي، د هغه شان دادی چي هغه عهد ماتونکي، سرکښ او ددین دښمن ته معافي ونه کړي، د الله جل جلاله په لاره کي او د الله جل جلاله لپاره د خپل غضب او انتقام څخه منع نسي، په وار وار د حلم او بردباري رویه اختیار نه کړي او دهغه په دوکه کي رانسي، څرګنده دي وي چي په دنیاوي معاملاتو کي فریب خوړل زیات ارزښت نه لري مګر ددین په معاملو کي هیڅکله فریب خوړل نه دي پکار.

علماؤ لیکلي دي چي رسول الله ﷺ په ذکر سوي ارشاد کي یو حکیمانه اصل ته اشاره کړې ده، حقیقت دادی چي هغه یو عظیم الشان تعلیم دی چي د هغه بنیاد د دین رعایت او حمایت او د دین د دښمنانو د شر او فساد بیخ ایستلو باندي دی.

د ذکر سوي ارشاد تعلق دا بیان سوی دی چي د رسالت په زمانه کي د عربو یو ډېر مشهور شاعر ابو غره وو، د هغه تعلق د کفارو د هغه طبقې سره وو چي د اسلام او مسلمانانو خلاف نفرت او عداوت کولو باندي مامور وو، هغه به د خپلو اشعارو په ذریعه د مسلمانانو بدي بیانول او د خپل قوم شریر خلک به یې مسلمانانو ته په تکلیف رسولو باندي اماده کول، کله چي د بدر جګړه د حق او باطل په منځ کي لومړی جنګ وسو او الله جل جلاله خپل لړ بندګانو ته د دین د دښمنانو باندي فتح ورکړه او د مکې ډېر کفار چي په هغو کي زعماء او سلاطین هم وه په

بندي جوړولو سره مدينې منورې ته راوستل سول نو په هغوئ کي بدبخته شاعر ابوغره هم وو، هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي پر خپلو بدو اعمالو باندي د ندامت اظهار وکړ او په عفوه غوښتني سره يې دا اقرار وکړ چي بيا به داسي بد عمل نه کوم، نو رسول الله ﷺ پر هغه بدبخته رحم وکړ او د عهد په وجه يې ايله کړ، مګر هغه ازلي بدبخته په ارامه نه کښېنست او خپل قوم ته په رسېدو سره يې خپل مخکنی رويه اختيار کړل، تر دې چي الله ﷻ هغه دوهم وار د احد په جنګ کي د بندي په حيثيت د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړ او هغه بيا هغه حربه استعمال کړل او د عفوي غوښتونکی سو، مګر رسول الله ﷺ هغه معاف نه کړ او قتل کړل سو، هغه وخت ځينو خلکو د هغه سفارش وکړ چي معاف يې کړئ مګر رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن د يوه سوري څخه دوه واره چيچل کيدای نسي.

دوې غوره خبري

﴿۴۸۳۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَشَجِّ عَبْدِ الْقَيْسِ إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللّٰهُ الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ. رواه مسلم

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د عبدالقيس قبيلې سردار ته وفرمايل: په تا کي دوې خبري دي چي الله تعالی هغه خوښوي: يو بردباري (ښه ګزاره) او دويم د فکر څخه وروسته کار کول. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۴۸، رقم: ۲۵- ۱۷.

تشريح: عبدالقيس د يوې قبيلې نوم دی، کله چي د دغه قبيلې خلک د رسول الله ﷺ د زيارت او ليدني لپاره مدينې ته راغلل او د مسجد نبوي مخته را ورسېدل نو رسول الله ﷺ يې وليدی او د ډېره شوقه يې د اوښانو څخه را وځغستل او په منډه د رسول الله ﷺ په خدمت کي راورسېدل او د رسول الله ﷺ سره يې د ميني او شوق ملاقات په بې قرارۍ سره اظهار وکړ، رسول الله ﷺ د هغوئ د بې قرارۍ په لېدو سره سکوت وفرمايه او هغوئ ته يې هيڅ ونه ويل مګر دا خلک چي د کوم عظيم المرتبت شخصيت او د خپل سردار يعني شيخ زير په قيادت کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوي وه او د هغه اصل نوم منذر وو د هغه کيفيت بالکل بېل وو هغه مخکي په خپل تم ځای کي پاته سو هلته يې د خپلو ټولو ملګرو سامان جمع کړ او د ټولو شيانو په ترلو سره په اطمينان سره ولمبېدی، غوره جامې يې واغوستلې او بيا په ډېر وقار سره

مسجد نبوي ته راغلی هلته يې دوه رکعته لمونځ ادا کړ ، دعاء يې وکړه او ددې څخه وروسته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، رسول الله ﷺ د هغه وضع ډېره خوښه سول او هغه ته يې ذکر سوي الفاظ وفرمايل .

په يوه روايت کي دا هم نقل سوي دي چي کله رسول الله ﷺ د هغوئ په مخکي د هغه دوو ښېګڼو بيان وکړ نو هغه عرض وکړ اې دالله رسوله ! په ما کي دغه دوې ښېګڼي دي ما د تکلف له موخي اختيار کړي دي او زما خود ساخته دي ، اې الله ! دغه دواړي ښېګڼي زما په فطرت کي پيدا کړې ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دغه دواړي ښېګڼي الله جل جلاله ستا په مزاج او فطرت کي اينبي دي ، (د دې په اورېدو سره) هغه وويل : د الله جل جلاله شکر او احسان دی چي هغه زه په دغه دوو ښېګڼو سره نازولی يم چي الله جل جلاله او د هغه رسول يې خوښوي ، يعني که چيري دغه دوې ښېګڼي زما خپل ساخته او په تکلف سره وای نو د هغه د زائل کېدو يا په دې کي د نقصان پيدا کېدو خدشه به وای مګر دا فطري دي او د الله جل جلاله راکړي دي ځکه زه اميد لرم چي دغه دواړي ښېګڼي په ما کي د تل لپاره پاته سي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په هر کار کي تلوار مه کوئ

﴿۴۸۳۴﴾ : عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيُّ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَنَاةُ مِنَ اللّٰهِ وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وقد تكلم بعض اهل الحديث في عبدالمهيمن بن عباس الراوي من قبل حفظه .

د حضرت سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په کارونو کي کرار والی (يعني د فکر څخه وروسته يو کار کول) د الله تعالی د لوري دي او په کارونو کي تلوار کول د شيطان د لوري دي . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ .

تخريج : سنن الترمذي ۴\ ۳۲۲، رقم: ۲۰۱۲.

تشريح : دغه حديث بيهقي په شعب الايمان کي مرفوع نقل کړی دی چي دهغه الفاظ دادی : (التاني من الله والعجلة من الشيطان) .

او تلوار د شیطان عادت دی: مطلب دادی چي په دنیاوي کارو کي غور او فکر نه کول د هغه پر انجام باندي د نظر کولو څخه پرته هغه پېل کول او د تلوار رویه اختیارول یو داسي عادت دی چي شیطان یې د وسوسو په ذریعه په انسان کي پیدا کوي چي د هغه څخه د هغه مقصد هغه د هغه کار خرابول او خپله هغه په پریشانیو کي اخته کول دي، ځینو حضراتو دا وضاحت کړی دی چي ددې څخه هغه امور مستثنی دي چي د هغه په خیر او برکت کي شک او شبه نه وي یعني په نیکو کارو کي تلوار کول د شیطان عادت نه دی ځکه چي الله ﷻ فرمایلي دي: (یسارعون في الخیرات).

ملا علي قاري رحمه الله وایي: کوم چي د عبادت او طاعت تعلق دی نو هغه دادی چي یو خو عبادت او طاعت ته تلوار اختیارول دي او بل هغه عبادت او طاعت کولو په وخت کي تلوار کول دي، څرګنده ده چي ددغه دواړو په منځ کي فرق دی، اول الذکر یو مطلوب او مستحسن شی دی او ثاني الذکر یو بد خصلت دی، دا خبره د مثال په توګه داسي ده چي یو د لمانځه لپاره تلوار کول دي او یو لمونځ ژر کول دي، د لمانځه لپاره تلوار کول دادی چي کله د لمانځه وخت سي نو د هغه په ادا کولو کي ځنډ نه کوي بلکه ژر ژر تیاري کوي او لمونځ پیل کوي، دغه کار نه یوازي دا چي په تلوار کي شامل نه دی چي د هغه خرابي بیان سوې ده بلکه دا یو غوره فعل دی او په لمانځه کي تلوار کول دادی چي کله د لمانځه وخت پیل سي نو هغه د لمانځه څخه د ژر فارغه کېدو لپاره د هغه په ارکانو او افعالو کي تلوار کوي، داسي کول یعني یو نېک کار ژر ژر کول بد کار دی، د ملا علي قاري رحمه الله د ذکر سوي الفاظو خلاصه داده چي د شوق په جذبې سره یو کار ته ور مخکي کېدل او د هغه ژر تر ژره کول ښه کار دی مګر په تلوار کول بد کار دی.

تجربه

﴿۴۸۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَلِيمَ إِلَّا ذُو عَثْرَةٍ وَلَا حَكِيمَ إِلَّا ذُو تَجْرِبَةٍ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: حلیم (بردباره) بنده هغه دئ چي لغزش یې خوړلی وي او حکیم هغه دئ چي تجربه یې تر لاسه کړې وه. احمد او ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دئ.

تخريج: مسند الامام احمد ۳\۶۹، وسنن الترمذي ۴\۳۳۲، رقم: ۲۰۳۳،

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دادی چي حلم او بردباري او د لحاظ جوهر په هر سړي کي وي چي هغه دوکه خوړلې وي، او د خطاو سره مخ سوی وي ګناه او معصيت يې کړی وي او په خپلو معاملو کي خلل او تاوان زغملی وي او د هوښيار کېدو څخه وروسته د ندامت درونډ بار يې پر اوږو اخيستی وي، څرګنده ده چي داسي سړی پوهيږي چي د چا د درد او تکليف او ګټي او تاوان څه ارزښت دی د چا عيبونه پټول د چا خطاوي معافول څومره ضروري دي ځکه چي هغه د نورو لپاره حليم او خيرخواه وي د خلکو د عيبو پرده کوي او که د چا څخه خطا وسي نو هغه معافوي.

حکيم هغه سړي ته وايي چي پوه، عقلمند او هوښيار وي، ځکه چي د حکمت معنی ده د هر شي حقيقت او اصليت پېژندل، او دتجربې مطلب دادی چي په کارو کي خبرتيا تر لاسه کول او د يو کار د کولو طريقه پېژندل نو وفرمايل سول چي چا ته د شيانو حقيقت تر لاسه سو د هر شي د ګټي او تاوان څخه خبر سو، د حالاتو او معاملاتو د نيکۍ او بدۍ څخه خبر سو نو هغه ته د حکمت دولت تر لاسه سو او هغه کامل حکيم سو.

او که چيري د حکيم څخه مراد طبيب او علاج کونکی واخيستل سي نو بيا هم مطلب څرګند دی چي يو سړی محض د علم طب په ويلو سره کامل طبيب او معالج نه کيږي بلکه دهغه لپاره تجربه او د علاج کولو تمرين هم ضروري وي.

د کار پای ته ګوره

﴿۴۸۳۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلاً قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصِنِيْ فَقَالَ خُذِ الْأَمْرَ بِالتَّدْبِيْرِ فَإِنْ رَأَيْتَ فِيْ عَاقِبَتِهِ خَيْرًا فَأَمْضِهِ وَإِنْ خِفْتَ غَيًّا فَأَمْسِكْ. رواه في شرح السنة.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي نبي کريم ﷺ ته وويل چي ما ته يو څه نصيحت وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: خپل کار په تدبير سره کوه که د هغه پای ښه درته معلوميږي کوه يې او که پای يې درته ګمراهي معلوميږي نو بيا يې پرېږده. شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۱۷۸، رقم: ۳۶۰۰.

پر ښو تلوار

﴿۴۸۳۷﴾: وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ الْأَعْمَشُ وَلَا أَعْلَمُهُ إِلَّا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ التُّؤَدَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ خير إِلَّا فِي عَمَلِ الْآخِرَةِ.

رواه ابو داؤد.

حضرت معصب بن سعد رضی اللہ عنہ د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په هر کار کي تاخير او زنډ غوره دئ مگر د آخرت په عمل کي نه، (يعني دنيکۍ کارونه سمدستي بايد وسي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۵۷/۵، رقم: ۴۸۱۰.

تشريح: مطلب دادی چي د نېکۍ او خير په کارو کي توقف او زنډ کول نه دي پکار بلکه هغه بايد سمدستي وکړل سي ځکه چي په نېک کار کي د زنډ کولو مطلب د ډېرو افاتو او کوتاهيو خطره اخيستل دي، ددې څخه پرته دنياوي کارونه داسي وي که چيري يو دنياوي کار کوي نو په پېل کي په عامه توګه د هغه انجام نه معلوميږي چي ايا د هغه کار انجام به په يقيني توګه ښه وي چي د هغه په وجه د هغه سمدستي کول به ضروري وي يا ښه به نه وي چي د هغه په باره کي زنډ وکړل سي نو دا تعليم ورکړل سوی دی چي په خپلو دنياوي معاملو کي توقف او زنډ اختيار کړي او د يو کار پېل کولو څخه مخکي په ښه ډول غور او فکر وکړي، ددې پر خلاف د دين د کارو انجام داسي نه دی چي د هغه علم نه وي ځکه نو په هغه کي د زنډ کولو ګنجائش نه وي، ددې څخه پرته په قرآن کريم کي دا حکم ورکړل سوی دی: (فاستبقو الخيرات وسارعوا الى مغفرة من ربکم): د نيکۍ او خير په کارو کي سبقت او تلوار کوئ او چابکتيا کوئ او بخښني ته چي ستاسو د پروردګار له خوا ده.

امام غزالي رحمة الله عليه د الله جل جلاله د ارشاد: (الشيطان يعدکم الفقر) په تفسير کي ليکلي دي چي د مؤمن لپاره مناسب دي چي څرنګه د هغه په زړه کي د الله په نامه د خپل مال خرڅ کولو داعيه پيدا سي نو هغه په نېک کار کي قطعا توقف او زنډ نه کوي ځکه چي کله يو څوک د الله په لاره کي خپل مال خرڅول غواړي نو شيطان د هغه په زړه کي دا وسوسه پيدا کوي که چيري خپل مال خرڅ کړې نو مفلس به سې همدارنګه هغه د فقر او مفلسۍ څخه بېروي او د صدقې او خيرات کولو څخه د منع کولو هڅه يې کوي نو د توقف او زنډ کولو په صورت کي کيدای سي چي په

وخت تېرېدو سره د شیطان په جال کي ولوېږي او د هغه نیکۍ څخه لاس پرېولي.

12 د یو بزرګ په باره کي نقل سوي دي چي نوموړی یوه ورځ په بیت الخلاء کي وو د هغه ځای څخه یې خپل شاګرد ته اواز وکړ چي زما د بدن قمیص په ایستلو سره فلاني سړي ته ورکړه، شاګرد ددې په اورېدو سره ورته وویل چي دا خبره تاسو د بیت الخلاء څخه د وتلو وروسته هم کولای سئ د دومره بې صبرۍ څه وجه ده، هغه ورته وویل: زما په زړه کي دا خواهش پیدا سو چي زه دغه قمیص فلاني حاجتمند کس ته ورکړم نو ما اراده وکړه چي زه سمدستي دغه نېکي وکړم ځکه چي زه پر خپل نفس باندي باور نسم کولای، معلومه نه ده چي د هغه اراده کله بدله سني او زه د دغه نیکۍ څخه محروم سم.

میانه روي

﴿۴۸۳۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَرْجِسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ السَّمْتُ الْحَسَنُ وَالتُّؤَدَةُ وَالِاقْتِصَادُ جُزْءٌ مِنْ أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ. رواه الترمذي.

د عبدالله بن سرجس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ښه خوی، تاخیر او میانه روي (ځان ساتل د افراط او تفریط څخه) د نبوت د څلیرویشتو اجزاوو څخه دي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي: ۴\۳۲۱، رقم: ۲۰۱۰.

تشریح: د میانه روۍ معنی ده په هر کال او هر حالت کي درمیانه لار اختیارول او د زیاتوب او کمۍ څخه ځان ساتل، لکه په مصرف کولو کي نه اسراف کول او نه بخل کول، بلکه درمیانه طریقه یعني سخاوت اختیارول، یا د همت او حوصلې د اظهار په وخت کي نه ډېر ځان ښودل او نه ډېر بزدله کېدل بلکه درمیانه شجاعت اختیارول، یا په اعتقادي او نظریاتي معاملاتو کي هم میانه روي اختیارولو مطلب دادی چي پر هغه عقیده باندي اعتماد وکړل سي او هغه نظریه خپل کړل سي چي ددین، دیانت او عقل په اعتبار معتدل ګڼل کیږي د مثال په توګه یوه عقیده د جبر ده او یوه عقیده د قدر ده، دغه دواړي عقیدې د افراط او تفریط حامل دي د دغه دواړو پر خلاف درمیانه عقیده هغه ده کوم چي د اهل سنت والجماعت ده،

همدارنګه دمیانه روۍ اختیارولو د حکم تعلق د معیشت سره هم دی او ددې درمیانه لاره داده چي د ژوند پر اړتیاوو باندي نه دومره زیات مصرف کړل سي چي د اسراف او عیش تر حده

پوري وي او نه دومره كم مصرف كړل سي چي په تنګۍ او تكليف كي اخته سي، بلكه ددغه دواړو په منځ كي اعتدال پيدا كړل سي لكه څرنګه چي په يوه حديث كي فرمايل سوي دي : (الاقتصاد في النفقة نصف المعيشة) : په مصرف كولو كي ميانه روي اختيارول نيمه سرمايه ده .

خلاصه دا چي د انساني ژوند په هر اړخ كي د ميانه روۍ اختيارولو حكم دى او دا هغه كمال دى چي انسان د هغه مراد او د هغه مقاصدو ته رسوي ځكه چي په منډه تلونكي رالويږي او په سست رفتار سره تلونكي تر شاته پاته كيږي، يوازي د اعتدال پر لاره باندي په تللو سره مقصد ته رسېدلاى سي ځكه الله تعالى پر ډېرو مواقعو باندي د اعتدال په لاره كي په اختيارولو سره حكم كړى دى او د ځينو شيانو د نامه په اخيستلو سره يې فرمايلي دي . لكه چي په يو ځاي كي ارشاد دى : (واقصد في مشيک) يعني په خپل چلن كي ميانه روي اختيار كړه او په يوه ځاى كي داسي فرمايي : (كلوا واشربوا ولا تسرفوا) خوراک كوئ او څښاک كوئ او اسراف مه كوئ.

ځينو عارفينو ويلي دي چي په علم او عمل كي د ميانه روى ډېر ارزښت دى او له دې كبله د مختلفو علمي او عملي آفاتو څخه ساتل كيداى سي، په علم تر لاسه كولو كي هم دومره بوختيا غوره ده چي د عمل څخه يې منع نه كړي او په عمل كي هم دومره بوختيا روا ده چي د علم تر لاسه كولو څخه يې منع نه كړي .

د نبوت د څليرويشتو اجزاوو څخه يو جز دى: په دې اړه شارحينو ليكلي دي چي يا خو دغه ټول شيان په يو ځاى كېدو سره د يوه جز درجه لري يا په دې كي هر يو شى يو جز دى او دهغه جزء مطلب دادى چي دغه ښېګڼي او صفات د هغه ښېګڼو او صفاتو څخه دي چي په هغو سره انبياء كرام عليهم السلام متصف وه، پاته سوه دا خبره چي د اجزاء نبوت د عدد دتعين څخه څه مراد دى؟ نو حقيقت دادى چي ددې مراد شارع عليه السلام بيانولاى سي، او د بيانولو مختلفي خبري كيږي چي د هغو حقيقت ته د نور نبوت څخه پرته هيڅ انساني فهم رسيدلاى نسي ځكه په دې باره كي هيڅ ويل كيداى نسي او دغه خبره الله ﷻ او د هغه رسول ته سپارل پكار دي .

﴿۴۸۳۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْهَدْيَ الصَّالِحَ وَالسَّمْتَ الصَّالِحَ وَالِاقْتِصَادَ جُزْءٌ مِنْ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنْ

النُّبُوَّةِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نيک عادت او طريقه ښه خوى او ميانه روي د نبوت د پنځه ويشتو برخو څخه ده . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۱۳٦\۵، رقم: ۴۷۷۱.

تشريح: د (هدي صالح) او (سمت صالح) په منځ کي فرق دادى چي د هدي تعلق د انسان د باطن سره دى ځکه د دې معنى د نېک سيرت سوې ده چي په نېکي سره هم تعبير کيداى سي او د سمت تعلق د انسان د ظاهري کردار سره دى ځکه د دې معنى د نېک چلن سره سوې ده ، او دې ته نېک چلن هم ويل کيږي، په چلن او طريقت کي د دغه دواړو هغه درجه ده کوم چي په شريعت کي د ايمان او اسلام ده، په دې اعتبار سره نېک خوى او نېک چلن دواړه په يوه ځاى کي چي په کومه معنى کي وي نو نور علي نور دى او د هغه په حقيقت کامل کېدو کي هيڅ شک نسته.

په دغه حديث کي ښېګڼو ته د نبوت د پنځه ويشت اجزاوو څخه يو جز ويل سوي دى حال دا چي په مخکني حديث کي د څلېروېشت عدد نقل سوى دى نو په دواړو روايتو کي دغه تفاوت او فرق يا خو د راوي په وهم او خطا کي د اخته کېدو په وجه دى يا په دې کي هم يو راز دى چي رسول الله ﷺ يو وخت د څلېرويشتو شمېر ذکر کړ او بل وخت يې د پنځه ويشت.

دا هم ويل کيږي چي مخکي خو رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي دغه ښېګڼي د نبوت د څلېرويشتو اجزاوو څخه يو جزء دى بيا رسول الله ﷺ د مهرباني له موخي د دغه ښېګڼو يوه درجه نوره زياته کړه او دا يې وفرمايل چي ښېګڼي د نبوت د پنځه ويشت اجزاوو څخه يو جزء دى يا دا چي په مخکني حديث کي د درو ښېګڼو ذکر سوى دى او د هغه په يو ځاى کېدو سره د څلېرويشتو اجزاوو څخه د يوه جزء درجه تر لاسه کوي او په دغه حديث کي چي د کومو درو ښېګڼو ذکر سوى دى د هغو په يو ځاى کېدو سره د نبوت د پنځه ويشت اجزاوو څخه د يوه جزء درجه تر لاسه کوي، په دغه صورت کي د دې ويلو ضرورت نه پاته کيږي چي دا د راوي په وهم او خطا کي د اخته کېدو نيتجه ده چي د هغه څخه په يوه روايت کي د څلېروشت عدد نقل سوى دى او په بل روايت کي د پنځه ويشت.

پټه خبره امانت ده

﴿۴۸۴۰﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الحديث ثُمَّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ . رواه الترمذي وابوداؤد.

د حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي يو څوك يو خبره وكړي او بيا شاوخوا ګوري نو هغه خبره امانت ده . ترمذي او ابوداؤد

تخريج: سنن الترمذي ۴\۳۰۱، رقم: ۱۹۵۹، وسنن ابي داود ۵\۱۸۸، رقم: ۴۸۶۸.

تشريح: مطلب دادی چي د هغه ، هغه خبره د اورېدونكو لپاره د يو امانت حكم لري نو هغه ته پكار دي چي هغوئ د هغه په امانت كي خيانت ونه كړي يعني څرګنده يې نه كړي .

مشوره كوونكى امين وي

﴿۴۸۴۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِاَبِيْ الْهَيْثَمِ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د ابو هيثم بن تيهان څخه پوښتنه وكړل

ابْنِ التَّيِّهَانِ هَلْ لَكَ خَادِمٌ قَالَ لَا فقَالَ فَإِذَا اَتَانَا سَبْيٌ فَأْتِنَا فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى

چي ستاسو سره غلام سته ؟ هغه وويل: يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : كله چي موږ ته غلامان راسي نو ته راسه، رسول الله ﷺ ته

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَأْسَيْنِ فَأَتَاهُ أَبُو الْهَيْثَمِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دوه غلامان راغلل ، ابو هيثم حاضر سو ، نبي كريم ﷺ هغه ته وفرمايل :

اخْتَرْ مِنْهُمَا فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اخْتَرْ لِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

په دغه دواړو كي يو واخله ، هغه وويل: اې د الله جل جلاله نبي! ته يې غوره كړه ، نبي كريم ﷺ ورته

الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ خُذْ هَذَا فَإِنِّي رَأَيْتُهُ يُصَلِّي وَاسْتَوْصِ بِهِ مَعْرُوفًا. رواه الترمذي.

وفرمايل : د كوم سړي څخه چي مشوره واخيستل سي هغه ته امين كېدل پكار دي (يعني هغه ته دي صحيح مشوره وركړي) ته دا غلام بوزه ، ما دی پر لمانځه كولو ليدلی دی زه تا ته وصيت كوم چي ته دده سره ښه چلن كوه . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي: ۴\۵۰۴، رقم: ۲۳۶۹،

تشريح: په يوه روايت کي دا هم نقل سوي دي چي کله ابو الهيثم ﷺ هغه غلام کور ته راوست نو خپلي ښځي ته يې وفرمايل چي رسول الله ﷺ ما ته دغه غلام راکړی دی او دده سره د نېک چلن او ښېګڼې وصيت يې کړی دی، نو د هغه ښځي وويل: کيدای سي په دغه وصيت باندي پوره عمل ونه کړلای سو نو دده سره ښه چلن دادی چي هغه ازاد کړه.

درې مجلسونه ښکاره کړئ

﴿۴۸۴۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَجَالِسُ

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مجلسونه

بِالْأَمَانَةِ إِلَّا ثَلَاثَةَ مَجَالِسَ سَفْكُ دَمٍ حَرَامٍ أَوْ فَرْجٌ حَرَامٌ أَوْ اقْتِطَاعُ مَالٍ

د امانت سره تړلي دي (يعني د مجلسونو آخري خبري د امانت په توګه ګڼل پکار دي) مګر درې ډوله مجلسونه (چي د هغه خبري د امانت په توګه نه دي ساتل پکار بلکه څرګندول يې ضروري دي) يو خو د ناجائز جګړې خبري، دويم د زناکارۍ د مشورې خبري او دريم په ناحقه د يو چا

بِغَيْرِ حَقٍّ. رواه ابوداؤد وذكر حديث ابي سعيد ان اعظم الامانة في باب المباشرة في الفصل الاول.

څخه په زور د مال اخيستلو د مشورې خبري. ابوداؤد، د ابو سعيد حديث ان اعظم الامانة په باب المباشرت لومړي فصل کي بيان سوی دئ

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۸۹، رقم: ۴۸۶۹.

تشريح: مطلب دادی که چيري د يو چا څخه دا خبره واورې چي زه د فلاني سړي د قتلولو اراده لرم يا د فلانۍ ښځي سره د بدکارۍ اراده لرم، يا د فلاني سړي څخه په زور مال اخلم نو د داسي خبري اورېدونکي ته پکار دي چي دا راز ونه ګڼي چي د هغه د پټ ساتلو حکم سوی دی بلکه هغه دي سمدستي ظاهر کړي يعني د هغه خبري څخه دي اړوند خلک خبر کړي چي هغه هوښيار سي او خپل ځان وساتي، همدارنګه د هغه مجلس د خبرو څرګندول هم جائز دي چي په هغه کي د دين د ملت او قوم ته پر تاوان رسولو باندي خبري او تجويز سوی وي دغه مطلب شيخ عبدالحق رحمة الله عليه ليکلی دی.

ملا علي قاري رحمه الله ددغه حديث په تشريح کي ليکلي دي چي د يوه مؤمن لپاره دا مناسب ده که چيري هغه په يو مجلس کي خلک پر يو بد کار وويني نو د هغوئ د بدکارۍ اوازه دي نه خپروي ، مګر درې مجلسونه داسي دي چي په هغو کي د کېدونکو خرابيو اوازه خپرېدای سي ، په هغو کي يو مجلس هغه دی چي په هغه کي د يو چا ناحقه قتل کيږي ، دوهم مجلس هغه دی چي په هغه کي يو پاک لمنه ښځه بې عزته کيږي، او دريم مجلس هغه دی چي په هغه کي د يو سړي پر مال باندي ناحقه قبضه کيږي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د عقل اهميت

﴿۴۸۴۳﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللهُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : کله چي الله تعالى پيدا کړ

الْعَقْلَ قَالَ لَهُ قُمْ فَقَامَ ثُمَّ قَالَ لَهُ أَدْبِرْ فادبر ثُمَّ قَالَ لَهُ أَقْبِلْ فَأَقْبَلَ ثُمَّ

عقل نو هغه ته يې وويل ولاړ سه ، نو هغه ولاړ سو ، بيا يې ورته وويل شا کړه ، نو هغه شا کړه ، بيا يې ورته وويل زما په لور مخ کړه ، نو هغه د الله جل جلاله په لور مخ کړ ، بيا يې

قَالَ لَهُ اُقْعُدْ فَقَعَدَ ثُمَّ قَالَ له مَا خَلَقْتُ خَلْقًا هُوَ خَيْرٌ مِّنْكَ وَلَا أَفْضَلَ مِنْكَ

ورته وويل کښېنه نو هغه کښېنستی، بيا يې عقل ته وويل ما هيڅ يو مخلوق داسي نه دی پيدا کړی چي ستا څخه افضل

وَلَا أَحْسَنَ مِنْكَ بِكَ آخُذُ وَبِكَ أُعْطِيْ وَبِكَ أُعْرَفُ وَبِكَ أُعَاتِبُ وَبِكَ الثَّوَابُ وَعَلَيْكَ الْعِقَابُ وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيْهِ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ. رواه البيهقي.

او غوره وي زه ستا په ذريعه (د بندګانو څخه) عبادت اخلم او ستا په ذريعه (بندګانو ته) ثواب ورکوم ، ستا په سبب زه پېژندل کيږم او ستا په سبب عتاب (ملامتيا) کوم ، ستا په ذريعه ثواب ورکوم او عذاب ورکوم، په دغه حديث کي ځيني عالمانو خبري کړي دي يعني دا يې موضوع (جوړ سوی) او د اعتبار نه وړ ګرځولی دی .بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\ ۱۵۴، رقم: ۴۶۳۲.

تشريح: د حديث د ظاهري مفهوم څخه دا معلوميږي چي الله ﷻ عقل د بدن سره پيدا کړی وو لکه څرنګه چي په قيامت کي د حساب او کتاب څخه وروسته مرګ د پسه په صورت کي راوستل کيږي او بيا هغه د جنت او دوږخ تر منځ ذبح کړل سي.

په قيامت کي د عقل سره سم بدله ورکول کيږي

﴿۴۸۴۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرَّجُلَ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړی دی

لَيَكُوْنُ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَالزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ حَتّٰى ذَكَرَ سِهَامَ الْخَيْرِ كُلَّهَا وَمَا يُجْزٰى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا بِقَدْرِ عَقْلِهِ. رواه البيهقي.

چي هغه لمونځ هم کوي، روژه هم نيسي، زکوة هم ورکوي، حج او عمره هم کوي تر دې چي د ټولو نيکو کارونو ذکر يې وکړ مګر هغه ته به د قيامت په ورځ د هغه د عقل سره سم بدله ورکول کيږي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۴\ ۱۵۵، رقم: ۴۶۳۷.

تشريح: په دغه حديثو کي د عقل څخه مراد هغه اعلی جوهر دی چي د هغه په ذريعه انسان د شيانو او اسبابو د حقيقت ادراک کوي، د دنيا او آخرت نيکي او بدي ورته معلومه سي د نيکۍ او بدۍ په منځ کي فرق کوي د نفس د آفاتو او ګمراهيو څخه پرهېز کوي، نېکه لار اختياروي او د الله تعالی قرب او اتصال تر لاسه کوي د ځينو عارفينو په کلام کي چي د کوم عقل معاد ذکر دی د هغه څخه دا عقل مراد دی، دغه اعلی جوهر چي په کوم سړي کي په کوم نوعيت او مقدار وي په هغه کي مذکوره اوصاف هم په هغه تناسب سره وي ځکه فرمايل سوي دي چي په کوم چا کي څومره عقل وي هغه ته به د قيامت په ورځ د هغه مطابق جزاء ورکول کيږي ځکه چي د الله تعالی له خوا د جزاء او انعام دار او مدار به محض د عبادت او طاعت پر مقدار نه وي بلکه د عبادت پر حسن او کمال به وي، او څرګنده ده چي په عبادت او طاعت کي د حسن او کمال کيفيت او کميت د عقل سره متعلق دی.

په دې اړه علماؤ بحث او اختلاف کړی دی چي ايا علم افضل دی که عقل؟ ځينو حضراتو علم افضل ګرځولی دی او ځيني حضرات وايي چي د علم په نسبت عقل افضل دی مګر که

چيري دا وويل سي چي د علم معنوي اطلاق هم پر قوت تميز او معرفت باندي وي چي د عقل ځخه رڼا تر لاسه کوي نو په دغه صورت کي د بحث او اختلاف ضرورت نه پاته کيږي ، په دې اعتبار سره دا خبره کيږي چي علم او عقل ته پر عمل او عبادت باندي فضيلت حاصل دی ، علماؤ ليکلي دي چي د صاحب عقل عالم يو رکعت لمونځ د نورو خلکو د زرو رکعتو ځخه افضل ګرځول سوی دی .

د تدبير ښه والی

﴿۴۸۴۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ لِيْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَاذَرٍ لاَ عَقْلَ كَالتَّدْبِيْرِ وَلاَ وَرَعَ كَالْكَفِّ وَلاَ حَسَبَ كَحُسْنِ الْخُلُقِ. رواه البيهقي.

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ابوذره ! د تدبير برابر هيڅ عقل نسته. او پرهيز او احتياط ځخه زيات هيڅ تقوا نسته او د خوش اخلاقۍ ځخه پرته هيڅ حسب نسته . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان: ۱۵۷\۱۴، رقم: ۴۶۴۶.

تشريح: د تدبير معنی ده د هر کار پر انجام باندي په نظر کولو سره د هغه لپاره فکر کول، نو عقل د تدبير په ډول نه دی، مطلب دادی چي هيڅ عقل د تدبير برابر کېدای نه سي ، يعني په ذکر سوې جمله کي د عقل ځخه مراد مطلق علم او ادراک دی ، د تدبير ځخه مراد عقل تدبير دی ، مطلب دادی چي کوم کار کيږي مخکي دي د هغه پر انجام فکر وکړل سي او په هغه کي چي کومي نيکۍ او بدۍ وي هغه دي وپېژندل سي .

د ورع معنی د پرهېزګارۍ ده چي تقوا هم ورته ويل کيږي، که څه هم د ځينو حضراتو په نزد د ورع او تقوا په مينځ کي فرق دی هغوئ وايي چي د ورع درجه د تقوا ځخه زياته ده په دې توګه چي د تقوا مطلب دی د حرامو شيانو ځخه پرهېز کول او د ورع مطلب دی د هغه شيانو ځخه هم پرهېز کول چي مکروه او مشتبه وي ، مګر صحيح دادی چي د تقوا او ورع دواړو يوه معنی ده او په عامه توګه ټول خلک دواړه الفاظ په يوه معنی کي استعمالوي ، پاته سوه دا خبره چي په حديث کي کوم دوه الفاظ د ورع او کف نقل سوي دي په هغو کي د ورع معنی د پرهېزګارۍ او د کف معنی د احتياط سوې ده نو ايا د دواړو په مينځ کي څه فرق دی؟ په ظاهره دا معلوميږي چي د دواړو په منځ کي هيڅ فرق نسته ځکه چي د ورع معنی د منع کېدلو او د کف معنی هم د

منع کېدو ده، په دغه صورت کي د حديث پر جمله (لا ورع كالكف) باندي اشکال واقع کيږي ځکه چي ددې لفظي معنی به داوي چي منع کېدل یا د منع کېدو برابر نه دي، څرګنده ده چي په دغه صورت کي د دغه جملې هيڅ معنی نه راوځي،

نو طيبي رحمه الله د دغه حديث په تشريح کي دا اشکال ظاهر کړی دی او بيا يې دا جواب ورکړی دی چي خلاصه يې داده چي دلته د کف معنی مسلمانانو ته د تکليف رسولو څخه يا په ژبه سره په لايعني خبرو کي د بوختيا څخه پرهېز کول دي او په ديني توګه هم په دغه دواړو شيانو کي د هر يو مفاسد او د هغوئ بدی ډېري زياتي وي ځکه د هغه مفاسد د مبالغې له موخي د بيانولو لپاره يې دا وفرمايل چي ورع يعني د حرامو شيانو څخه منع کېدل يو اعلی وصف دی، ددې څخه پرته دا خبره هم کيږي چي د ورع او تقوا لغوي معنی که څه هم د منع کېدو او پرهېز کولو دي مګر په شرعي توګه په مفهوم کي امتثال او اجتناب دواړه يو ځای داخل دي او که ددې مفهوم يوازي اجتناب يعني پرهېزګاري وي نو د فرمانبرداری د احکامو د ترک کولو څخه پرهېز کول به هم د هغه په مفهوم کي داخل وي ، نو د ورع او تقوا په مفهوم کي امتثال او اجتناب دواړه داخل دي او په دغه صورت کي به خلاصه دا وي چي د ورع او تقوا اصل مفهوم دادی چي کوم احکام ورکړل سوي دي د هغو پيروي دي وکړل سي که هغه د امتثال په توګه وي او که د اجتناب په توګه، کله چي دا خبره څرګنده سوه چي د ورع تعلق د دوو شيانو سره دی يعني د کومو کارو چي د کولو حکم سوی دی هغه اختيارول او د کومو کارو څخه چي منع سوې ده د هغو څخه منع کېدل دي او د کف تعلق يوازي د يوه شي يعني ممنوعاتو څخه منع کېدل دي نو ذکر سوی اشکال رفع سو، ددې څخه وروسته په دې مسئله پوهېدل پکار دي چي د هغه څخه د حديث د ذکر سوې جملې مفهوم نور زيات څرګنديږي چي د جانب اجتناب رعايت د جانب امتثال په نسبت زيات مقدم او زيات ضروري دی يعني شريعت چي د کومو شيانو څخه د منع کېدو حکم کړی دی د هغو څخه منع کېدل زيات مقدم او زيات ضروري دي په نسبت ددې خبري چي د کومو شيانو د اختيارولو حکم ورکړل سوی دی ،

علماؤ ليکلي دي که چيري يو سړی په امتثال کي فرض او واجباتو او سنت مؤکده باندي اکتفاء وکړي او نوافل ترک کړي مګر په جانب اجتناب کي ښه پابندي کوي يعني ټول حرام، مکروه او مشتبه شيانو څخه پرهيز کوي نو هغه سړی به منزل مقصود تر لاسه کړي يعني د معرفت، حقيقت او قرب الهي درجه به تر لاسه کړي ، ددې پر خلاف که چيري يو سړی په جانب امتثال کي ښه پابندي کوي يعني فرضونه، واجبات، او سنت مؤکده باندي هم عمل کوي او

ټول نوافل او مستحبات هم ادا ء کوي مګر د جانب اجتناب رعایت نه کوي یعني منع شیان کوي نو داسي سړی منزل مقصود ته نسي رسیدلای، ددې مثال داسي دی لکه یو سړی چي ناروغ وي او هغه پرهېز په پوره توګه کوي مګر دواء نه خوري نو هغه به ښه سي که څه هم هر څومره وخت واخلي ، ددې پر خلاف که چیري هغه دواوي خوري مګر پرهېز بالکل نه کوي نو هغه هیڅکله شفاء نه سي تر لاسه کولای بلکه ورځ په ورځ به ناروغه کیږي .

حسب او فضیلت د ښه اخلاقو برابر نه دی: حسب په اصل کي د ځان، پلار او نېکه فضائل او مناقبو ته وایي او د خپل کو رنۍ فخریه کارنامې بیانولو ته وایي ، نو په دغه جملې کي دا حقیقت څرګند سوی دی چي د انسان ذاتي فضیلت او بزرګي او د انسانیت اصل تقاضا داده چي په هغه کي ښه اخلاق وي او که چیري یو سړی د ښه اخلاقو د صفت څخه محروم وي که هغه په لکونو واره خپل مناقب شمېري او په لکونو واره د خپلو کارنامو اظهار کوي نو د هغه هیڅ حقیقت نسته ، څرګنده دي وي که چیري په ښه اخلاقو کي د خلق څخه مراد ټول باطن اوصاف وي نو څرګنده ده چي حسن اخلاقو ته به تر ټولو غوره او اصل فضیلت ویل کیږي او که چیري د خلق څخه مراد نرمي ، مهرباني وي لکه څرنګه چي په عامه توګه خوش خلقي دغه صفتو ته ویل کیږي نو په دغه صورت کي دا ویل چي حسب او فضیلت دخوش خلقي برابر نه دی د خوش خلقي فضیلت به د مبالغي په توګه بیانول وي .

د اهل تصوف په نزد د خوش خلقۍ فضیلت په دغه الفاظو کي بیانیږي چي په ورین تندي سره اوسېدل، خلک په ورکړي او بخښني سره برخمن کول او د الله مخلوق ته د تاوان رسولو څخه منع کېدل ، دا هغه صفتونه دي چي پر هغو د حسن خلق اطلاق کیږي ، دا د حسن بصري رحمة الله علیه قول دی ، یو لوی بزرګ وایي چي حسن خلق دادی چي د الله تعالی د مخلوق سره عداوت ترک کړل سي او د راحت او تنګۍ په دواړو حالاتو کي خلک خوشحاله وساتل سي ، او د سهل تستري رحمة الله علیه د قول مطابق د حسن خلق تر ټولو کمه درجه داده چي د مخلوق له خوا کومه زیاتي او سختي پېښه سي هغه و زغمل سي او د چا څخه بدله نه واخلي ، د ظالم په حق کي هم شفیق او مهربان وي او د هغه د مغفرت غوښتونکی وي .

په خرڅ کي میانه روي کول

﴿۴۸۴۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْاِقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيْشَةِ وَالتَّوَدُّدُ إِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ وَحُسْنُ السُّؤَالِ

نِصْفُ الْعِلْمِ. روى البيهقي الأحاديث الأربعة في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مصارف (اخراجات) کي ميانه روي نيم معيشت دی (يعني د ژوند نيمه سرمايه ده) او د انسانانو سره مينه کول نيم عقل دی او په علم تر لاسه کولو کي په ښه ډول سره سوال کول نيم علم دی . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان: ۵\۲۵۴، رقم: ۶۵۴۶ .

د لغاتو حل: التودد : اى التحبب الى المؤمنين الصالحين . (د مؤمنانو سره مينه کول)

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دادی چي خپل او د کورنۍ د اړتياوو په مصرف کي نه خو اسراف کول او نه تنګي کول بلکه ميانه روي اختيارول د ژوند نيمه سرمايه ده په دې توګه چي د انسان د معاشي ژوند دار او مدار پر دوو شيانو دی يو ګټه او دوهم مصرف، او د دواړو په منځ کي توازن د خوشحالۍ علامه ده او د معيشت د مستحکم کېدو ذريعه هم ده لکه څرنګه چي د ګټي توازن خرابېدل د خوشحالۍ خلاف او د معيشت د عدم استحکام سبب دی همدارنګه د مصارفو توازن که خراب سي نو نه يوازي دا چي خوشحالي مفقود کيږي بلکه د معيشت ټول غالب خرابيږي ، نو په مصارفو کي اعتدال او ميانه روي اختيارول د معيشت نيمه برخه سوه .

د حديث د دوهمي برخي مطلب دادی چي د نېکو خلکو سره د ميني اظهار کول او د هغوئ مينه په خپلو معاملاتو او احوالو کي د خير او برکت ذريعه ګڼل د هغه عقل نيمه برخه ده کوم چي د حسن معاشرت ضامن دی ګويا پوره عقلمندي داده چي انسان په يو کسب او محنت سره جائز روزي تر لاسه کوي او ددې سره په خپلو کي د ميني او مروت جذبات هم لري .

د حديث د دريمي برخي مطلب دادی چي په يو علمي مسئله کي په فکر سره او په ښه ډول سوال کول نيم علم دی ، کوم څوک چي په سوال کولو کي پوه وي هغه د هغه شی په اړه سوال کوي چي ډېر زيات ضروري وي او هغه په خپل علم کي د زياتوب خواهش مند وي او په دې سره هغه د پوښتنه کونکو شيانو په منځ کي فرق کولای سي چي د څه شي سوال وسي او د چا څخه سوال وسي، او کله چي هغه د خپل سوال جواب تر لاسه کړي نو د مسئلې په حل کي د هغه علم پوره سي ، په دې اعتبار سره د علم دوه ډوله سي يو سوال او دوهم جواب .

پاته سوه دا خبره چي په ښه ډول د سوال کولو مطلب څه شی دی، د ښه سوال اطلاق پر هغه سوال کيږي چي د هغه د ټولو اړخونو تحقيق او تنقيح سوې وي او په هغه کي چي څومره

احتمالات پيدا كيداى سي د هغو ټولو څخه خبر وي چي شافي او كافي جواب تر لاسه كړي او په جواب كي يو اړخ نيم پاته نسي ، همدارنګه سوال بذات خود د علم يوه ټوټه وي او پر هغه دا اشكال نه وارد كيږي چي سوال پر ناپوهۍ دلالت كوي نو سوال كولو ته نيم علم څنګه ويل سوي دي، بيا هم د ذكر سوي اشكال سره سم يوه خبره داهم كيږي چي كوم څوك په ښه فكر سره او په صحيح انداز كي سوال كوي د هغه په اړه دا ګڼل كيږي چي هغه يو داسي سړى دى چي د علمي ذوق حامل دى او په علم كي خپل يو برخه خامخا لري او ددې خبري خواهش مند دى چي خپل ناقص علم پوره كړي نو دهغه سوال ته نصف علم ويل به مناسب وي ، ددې پر خلاف كوم څوك چي بې فكر او په خراب انداز كي سوال كوي نو هغه د خپل سوال په ذريعه خپل د عقل پر نقصان او جهالت باندي دلالت كوي ، ددې په مثال كي يوه پېښه بيانيږي چي يو وار امام ابويوسف رحمة الله عليه په خپل علمي مجلس كي د يو شاګرد په پرله پسي پټه خوله كېدو سره هغه ته وويل كه چير يوه خبره دي په پوهه كي رانسي يا په يوه مسئله كي مشكل وي ئو د هغه په اړه پوښتنه كوه او مه شرمېږه، ځكه چي د يو خبره په پوښتنه كولو كي شرمېدل د علم څخه منع كېدل دي ، هغه وخت امام ابويوسف رحمة الله عليه د روژې په تعريف كي خبري كولې ، كله چي هغه وفرمايل چي روژه د صبح صادق څخه پيل كيږي او تر لمر لوېدو پوري ختميږي، نو هغه شاګرد سوال وكړ كه چيري لمر نه لويږي نو بيا به روژه تر كومه وخته وي، امام ابويوسف رحمة الله عليه د هغه د جاهلانه سوال په اورېدو سره ورته وويل ، پټه خوله سه ، ستا پټه خوله كېدل تر دې ډېر غوره دي چي خبري وكړې

خلاصه دا چي د سوال نوعيت او د سوال كولو انداز د سوال كونكي پر شخصيت او حالت باندي بذات خود دلالت كوي او دهغه د سوال په رڼا كي دا انداز راايستل مشكل نه وي چي دغه سړى بالكل جاهل دى يا د علم سره كار لري ، چي په كوم چا كي د علم او عقل رڼا وي نو د هغه سوال هم عالمانه او عاقلانه وي او كوم څوك چي بالكل جاهل وي د هغه د نورو خبرو په ډول د هغه سوال هم جاهلانه وي لكه څرنګه چي يو چا ويلي دي : كله چي يو جاهل خبره كوي نو د خره په ډول معلوميږي او كله چي پټه خوله وي نو د دېوال په ډول معلوميږي .

===========

بَابُ الرِّفْقِ وَالْحَيَاءِ وَحُسْنِ الْخُلُقِ

(د نرمۍ، حياء او ښه اخلاقو بيان)

رفق د عنف ضد دی او معنی يې د نرمۍ ده او د خپلو ملګرو په حق کي مهربان او نرم کېدل دي او د هغوئ سره په ښه ډول وړاندي کېدل او هر کار په اطمينان او ښه طريقه سره کول.

د حياء څخه مراد شرمنده او محجوب کېدل دي، او حياء په اصل کي د هغه کيفيت نوم دی چي پر يو انسان باندي د عيب او بدۍ د بيري په وجه خپرېږي ځکه ويل کيږي چي غوره حياء هغه ده چي نفس په هغه شي کي د اخته کېدو څخه منع کړي کوم چي شريعت خراب ګرځولی دی، د حضرت جنيد رحمه الله قول دادی چي حياء د هغه حالت او کيفيت نوم دی کوم چي الله تعالی د نعمتونو تر لاسه کېدو او د هغه نعمتونو د شکر ادا کولو په وجه په وحشت سره په زړه کي تر لاسه کيږي، او د حضرت رقاق قول دی چي حياء د هغه کيفيت نوم دی چي د بادار په مخکي درخواست او طلب يې منع کوي،

حسن خلق يعني ښه اخلاق، د ښه اخلاقو تر ټولو څرګند مطلب دادی چي د هغه شي اتباع او پيروي وکړل سي چي خاتم النبيين حضرت محمد ﷺ د الله ﷻ له خوا نړيوالو ته وړاندي کړي دي، يعني شريعت، اداب طريقت او احوال حقيقت او معرفت، کله چي دبي بي عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وسول چي الله ﷻ د رسول الله ﷺ په اړه فرمايلي دي چي: (وانک لعلی خلق عظيم) او بېله شکه ته د خلق عظيم پر مرتبه فائز يې، نو د رسول الله ﷺ هغه اخلاق څه وه کوم چي په خلق عظيم سره تعبير سوي دي؟ بي بي عائشې رضي الله عنها جواب ورکړ چي د رسول الله ﷺ اخلاق قرآن کريم دی، يعني په قرآن کريم کي نيک خصلتونه او اعلی اوصاف چي بيان سوي دي که د هغه تعلق د الله ﷻ د نافرمانۍ وغيره وي يا د مخلوق سره د بدو معاملو په اړه، رسول الله ﷺ به د هغه ټولو څخه پرهېز کوی، پاته سوه دا تباع د درجو خبره، نو څرګنده ده چي اتباع په اندازه د محبت او توفيق تر لاسه کيږئ يعني کوم څوک چي د رسول الله ﷺ په مينه څومره ډک وي او هغه ته د اتباع کولو څومره توفيق په برخه وي هغومره زياته اتباع به هم کوي او کوم چا ته چي د رسول الله ﷺ د مېني څومره کمه برخه تر لاسه وي او د اتباع کولو څومره کم توفيق يې په برخه سوی وي نو په هغه اتباع کي به هغومره وروسته وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د نرمۍ او مهربانۍ فضيلت

﴿۴۸۴۷﴾: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تعالى

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى

رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ وَمَا لَا يُعْطِي

مهربانه دی او مهرباني خوښوي، او په نرمۍ او مهربانۍ سره هغه شی ورکوي په سختۍ سره يې نه ورکوي ، اونه د نرمۍ او مهربانۍ څخه پرته د يو بلي خبري

عَلَى مَا سِوَاهُ . رواه مسلم وفي رواية له قال لعائشة عليك بالرفق واياك

والعنف والفحش ان الرفق لا يكون في شئ الا زانه ولا يَنْزِع من شئ الا شانه.

په وجه يې ورکوي. مسلم او د مسلم په يو بل روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ بي بي عائشې رضي الله عنها ته وفرمايل : نرمي پر ځان لازمه کړه د سختۍ او بي حيايي څخه ځان وساته ځکه چي په کوم شي کي نرمي وي نو هغه نرمي د هغه د ښکلا سبب وي او د کوم شي څخه چي نرمي وايستل سي نو هغه عيب داره سي .

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۰۰۳، رقم: ۷۷- ۲۵۹۳.

تشريح: الله جل جلاله نرم او مهربان دی او نرمي او مهرباني خوښوي، ددغه ارشاد په ذريعه دې ته اشاره سوې ده چي د الله جل جلاله نرمي او مهرباني خوښول خپله د بندګانو د ګټي لپاره وي چي په خپلو کي د نرمۍ او مهربانۍ معامله کول يوه داسي خوبي ده چي دهغه په ذريعه ټولنه مطمئن او د سکون څخه ډک ژوند تېرولای سي ، د کومي ټولني افراد چي په خپلو ټولو چارو کي د يو بل سره د نرمۍ او مهربانۍ چلن کوي ، يو بل د په سختيو او پرېشانيو کي د اخته کولو څخه ځان ساتي او يو تر بله معاملات د اسانۍ پر بنياد کوي او د هغه امورو تعلق د تجارت ، مزدورۍ او نورو شيانو سره وي يا ددې څخه پرته د ټولنيز ژوند سره وي نو دهغه ټولني هر فرد خپل ځان کامياب محسوس کوي او پر ټوله ټولنه باندي د الله تعالى له خوا خير او برکت او د هغه د نعمتو نزول کيږي نو : (و يعطى على الرفق ...الخ) يعني پر هغه نرمۍ او مهربانۍ

باندي هغه شی ورکول کیږي ...الخ، ددغه جملې په ذریعه نه یوازي دا ترغیب ورکول کیږي چي په خپلو امورو او معاملو کي نرمي او مهرباني اختیار کړئ چي مقصد ته ورسیږئ بلکه زیري هم ورکړل سوی دی چي کوم خلک د سختۍ پر ځای نرمي اختیاروي هغوئ ته الله تعالی اجر او ثواب ورکوي او په مقاصدو کي بریالیتوب ورپه برخه کوي.

په نرمۍ او مهربانۍ چي کوم شی ورکول کیږي ...الخ: دغه جمله د مخکني عبارت مفهوم په بل انداز کي بیانوي او مخکي خو نرمۍ او مهربانۍ ته پر سختۍ بالدي ترجیح ورکړل سوه او دا وفرمایل سول چي د الله تعالی له خوا د اجر او ثواب تر لاسه کولو نعمت چي په نرمۍ او مهربانۍ اختیارولو سره تر لاسه کیږي هغه د سختۍ په صورت کي نه تر لاسه کیږي، بیا مخته ددغه جملې په ذریعه دې ته اشاره وفرمایل سول چي نرمي او مهرباني پر خپل ضد سختۍ باندي نه بلکه د مقصد تر لاسه کولو او نورو اسبابو باندي هم ترجیح او فضیلت لري مگر که چیري دلته دا اشکال پیدا سي چي هغه اسباب د نرمۍ او مهربانۍ څخه وي نو د ترجیح او فضیلت سوال نه پیدا کیږي او که چیري د سختۍ څخه وي نو د نرمۍ او مهربانۍ فضیلت او ترجیح درلودل د ماقبل عبارت څخه څرگند سوي دي، د هغه څخه وروسته ددغه مفهوم بیا بیانولو څه ضرورت وو؟ ددې جواب دادی چي که څه هم په دواړو جملو کي په ظاهري توگه تفاوت دی مگر په حقیقت کي دغه دوهمه جمله د ماقبل عبارت د مؤکد کولو لپاره استعمال سوې ده او د دواړو جملو مقصد دا خبره په زیات ارزښت سره بیانول دي چي انسان باید خپل مقاصد لکه د روزۍ تر لاسه کول او نورو شیانو په طلب او سعي کي داسي رویه اختیار کړي چي نرمي، مهرباني او د یو بل سره د لحاظ معامله وي ځکه چي انسان ته د هغه مطلوب شي ورکونکي په حقیقت کي الله تعالی دی او نرمي او مهرباني د هغه په نزد غوره شی دی ځکه هغه د نرمۍ او مهربانۍ رویه اختیارونکي ته زیات ورکوي په نسبت د هغه چا چي د خپل مقصد په تر لاسه کولو کي د سختۍ رویه اختیاروي.

د نرمۍ څخه محروم

﴿۴۸۴۸﴾: وَعَنْ جَرِيرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يُحْرَمُ الرِّفْقَ يُحْرَمُ الْخَيْرَ. رواه مسلم.

د حضرت جریر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ وفرمایل: څوک چي د نرمۍ څخه محروم سو هغه د نیکۍ څخه محروم سو. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۴\۲۰۰۳، رقم: ۷۴- ۲۵۹۲.

تشریح: د جامع صغیر په روایت کي د خیر سره د کله لفظ هم دی نو د حدیث مطلب دا سو چي کوم څوک د نرمۍ او مهربانۍ څخه خالي وي نو هغه د ټولو شیانو څخه محروم کیږي، ددغه ارشاد مقصد د نرمۍ او مهربانۍ وصف بیانول او ددغه عظیم وصف د تر لاسه کولو ترغیب ورکول دي، او د سختۍ بدي بیانول او ددې خبره څرګندول دي چي نرمۍ او مهربانۍ د ټولو ښېګڼو د تر لاسه کولو سبب او ذریعه ده.

د حیاء فضیلت

﴿۴۸۴۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْإِيْمَانِ. متفق علیه.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي نبي کریم ﷺ د یو انصاري په خوا کي تیر سو چي خپل ورور ته یې د حیاء پر موضوع نصحیت کوی (یعني د ډیري حیا کولو څخه یې منع کوی)، رسول الله ﷺ هغه ته و فرمایل: پریږده ځکه چي حیاء د ایمان یوه څانګه ده. بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱\۷۴، رقم: ۲۴، ومسلم ۱\۶۳، رقم: ۵۹- ۳۶.

تشریح: هغه صحابي خپل ورور د زیاتي حیاء کولو څخه منع کوی او دا یې ورته ویل چي کوم څوک زیاته حیاء کوي هغه د رزق او علم څخه محروم کیږي، رسول الله ﷺ چي د هغه څخه دا واوریدل نو هغه یې منع کړ او وه یې فرمایل ته خپل ورور د حیاء کولو څخه مه منع کوه ځکه چي حیاء یو ډېر لوی وصف دی او د ایمان یوه څانګه ده.

طیبي رحمة الله علیه ویلي دي: د یعظ څخه مراد ینذر دی یعني هغه صحابي خپل ورور ویروی، امام راغب رحمة الله علیه ویلي دي: د وعظ معنی یو چا ته داسي خبرداری ورکول دي چي په هغه کي ېېرول هم وي، خلیل رحمة الله علیه دا بیان کړی دی چي وعظ د ښېګڼي داسي نصحت کولو ته وایي چي په هغه سره زړه نرم سي مګر صحیح خبره داده چي دلته په حدیث کي وعظ د عتاب په معنی کي دی لکه څرنګه چي په یوه روایت کي د یعظ پر ځای د یعاتب لفظ نقل سوی دی.

﴿۴۸۵۰﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اَلْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ، وفي رواية الحياء خير كله. متفق عليه

د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : حیا د خیر او نیکۍ څخه پرته بله خبره نه پیدا کوي، او په یو بل روایت کي داسي دي چي د حیاء ټول شکلونه ښه دي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۲۱، رقم: ۶۱۱۷، ومسلم: ۱\۶۴، رقم: ۶۰ - ۳۷.

تشريح: دلته یو سوال پیدا کیږي چي ډېر واره حیاء د ځینو حقوقو د ادا کولو لکه امر بالمعروف او نهي عن المنكر کي خلل اچوي نو ددې لحاظ څخه د حیاء ټول صورتونه غوره ګرځول څرنګه صحیح کیدای سي ؟ ددې جواب دادی چي کومه حیاء د اظهار حقیقت او د حق د ادا کولو څخه منع کوي هغه ته حیاء نه ویل کیږي بلکه هغه ته به عجز او بزدلي ویل کیږي چي یو ډول خرابي او تاوان دی، او که چیري هغه ته حیاء وویل سي نو مجازا ورته ویل کیږئ ځکه چي د شریعت په نظر کي حقیقي حیاء هغه ده چي د خرابۍ د ترک کولو باعث جوړ سي ، ددې څخه پرته دا خبره هم کیږي چي د حیاء زیات صحیح معنی داده چي د نفس د بدۍ څخه منع کېدل که هغه بدي طبعي وي یا شرعي وي او په شریعت کي چي کومه حیاء غوره ګرځول سوې ده د هغه صحیح پېژندل دادي چي نفس د هغه شیانو د اختیارولو څخه منع سي کوم چي شریعت بد ګرځولي دي که هغه حرام وي یا مکروه وي او ترک یې غوره وي نو د مذکوره سوال جواب دادی چي دغه کلیه : الحیاء کله حیاء، د هغه صورتو سره خاص دی کوم چي د حق تعالی د رضا مطابق وي .

حیاء د ټولو انبیاؤو تعلیم دئ

﴿۴۸۵۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ الاولى إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ. رواه البخاري.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د تیرو پیغمبرانو په کلام کي چي کومه خبره خلکو تر لاسه کړې ده (یعني داسي خبره چي په هغه کي تبدیل نه دی سوی یا د هغه حکم چي تر اوسه پاته دئ) هغه دا خبره ده چي هر کله تا شرم او حیاء پرېښودل نو

اوس چي دي څه زړه غواړي هغه کوه . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۲۳، رقم: ۶۱۲۰.

تشريح: (ان مما ادرک الناس ..الخ) مطلب دادی چي ذکر سوې خبره پر مخکنيو انبياؤ باندي د نازلېدونکي کلام څخه ماخوذ ده او د هغه حکم تر اوسه پاته دی ، نه منسوخ سوی دی او نه پکښي تغير او تبديل سوی دی .

څرګنده دي وي چي په ذکر سوې جمله کي د امر صيغه استعمال سوې ده چي فاصنع...الخ، يعني څه چي دي زړه غواړي هغه کوه نو ددې څخه حکم ورکول يا طلب مراد نه دی بلکه دغه امر د خبر په توګه دی ، ددې مطلب دادی چي کوم شی چي د بدو خبرو څخه منع کوي هغه حياء ده او هر کله چي څوک شرم او حياء پرېږدي او بې حيايي اختيار کړي نو بيا چي څه غواړي هغه دي کوي چي هغه ته په ګناه او بدي اختيارولو کي څه باک نه وي يا دا چي د امر صيغه د تهديد او توبيخ په توګه ده او ددې څخه مقصد دا خبرداری ورکول دي چي کله ته بې حيايي پيل کړې نو څه چي دي زړه غواړي هغه کوه مګر په ياد ولره چي هغه وخت ډېر ژر راتلونکی دی چي ته به دخپلو ټولو بدو اعمالو سزا تر لاسه کوې ، يعني دغه جمله داسي ده لکه څرنګه چي د (اعملوا ماشئتم) جمله ده .

نيکي او ګناه څه شي دي

﴿۴۸۵۲﴾: وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سِمْعَانَ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ فَقَالَ الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ. رواه مسلم.

د نواس بن سمعان ﷜ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د نيکۍ او ګناه په اړه پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : نيکي د ښه اخلاقو نوم دی او ګناه هغه شی دی چي ستا په زړه کي خلش (لړزه) پيدا کړي او ته دا بد وګڼې چي خلک ددې څخه خبر سي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۹۸۰، رقم: ۱۴- ۲۵۵۳.

تشريح: تردد پيدا کړه : مطلب دادی چي کله ته يو داسي کار وکړې چي پر هغه ستا زړه مطمئن نه وي بلکه د هغه په وجه په زړه او دماغ کي يو خنډ پيدا سي نو پوه سه چي ستا هغه کار غوره نه دی بلکه د ګناه باعث دی مګر څرګنده دي وي چي د هغه خبري تعلق د هغه چا سره دی چي د

هغه سينه الله ﷻ د اسلامي دولت لپاره خلاصه کړې وي او د هغه زړه د تقوا په نور سره ځلانده وي، د کار څخه مراد هغه اعمال او افعال نه دي چې د هغو خرابي شريعت څرګنده کړې ده او د هغه ګناه کېدل د شک څخه ليري دي بلکه ددې څخه مراد داسي فعل او عمل دی چې د هغه منع کېدل د شارع څخه په څرګنده توګه منقول نه وي او د هغه په اړه د علماؤ اختلاف وي او ته دا خبره نه خوښوې، دا د ګناه دوهمه پېژندنه بيان سوې ده مګر ددې تعلق هم د هغه خلکو سره دی چې نېک وي.

د ښه اخلاقو فضيلت

﴿۴۸۵۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنُ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا. رواه البخاري

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه څوک زما ډير خوښ دی چې هغه د ښو اخلاقو خاوند وي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰۲/۷، رقم: ۳۷۵۹.

تشريح: مطلب دادی چې په تاسو کي هغه څوک زما په نزد غوره دی چې نېک عادتونه ولري او د غوره عادتونو حامل وي په دې توګه چې دالله ﷻ حقوق هم ادا کوي او د بندګانو په حقوقو کي هم کوتاهي نه کوي.

﴿۴۸۵۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا. متفق عليه.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي تر ټولو زيات نيک بنده هغه دئ چې د هغه اخلاق ښه وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵۶۶/۱۰، رقم: ۲۵۵۹، ومسلم ۱۸۱۰/۴، رقم: ۶۸- ۲۳۲۱.؟

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د نرمۍ فضيلت او اهميت

﴿۴۸۵۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَنْ حُرِمَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ حُرِمَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. رواه في شرح السنة.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا ته چي د نرمۍ څخه برخه ورکړل سوه هغه ته د دنيا او آخرت خير ورکړل سو او څوک چي د نرمۍ څخه محروم کړل سو هغه د دنيا او آخرت د خير څخه محروم کړل سو. شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة: ۱۳\۷۴، رقم: ۳۴۹۱.

حياء د ايمان جز دئ

﴿۴۸۵۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَيَاءُ مِنَ الْإِيمَانِ وَالْإِيمَانُ فِي الْجَنَّةِ وَالْبَذَاءُ مِنَ الْجَفَاءِ وَالْجَفَاءُ فِي النَّارِ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حيا د ايمان يو جز دی او ايماندار به جنت ته ځي، او بي حيائي (پوچ ويل) د بدۍ څخه ده او بد کار به دوږخ ته ځي. احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الامام احمد ۳\۵۰۱، والترمذي ۴\۳۲۱، رقم: ۲۰۰۹.

خوش خلقي

﴿۴۸۵۷﴾: وَعَنْ رَّجُلٍ مِّنْ مُزَيْنَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا خَيْرُ مَا أُعْطِيَ الْإِنْسَانُ قَالَ اَلْخُلُقُ الْحَسَنُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان. وفي شرح

السنة عن اسامة بن شريك.

د مزينه قبيلې د يو سړي څخه روايت دئ چي صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! انسان ته چي کوم شيان ورکړل سوي دي په هغو کي غوره کوم شی دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :ښه اخلاق . بيهقي په شعب الايمان کي او په شرح السنه کي له اسامه بن شريک څخه روايت دی.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٥\٢٨١، رقم: ٦٦٦١.

بد خلقي

﴿٤٨٥٨﴾: وَعَنْ حَارِثَةَ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا

د حضرت حارثة بن وهب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ وَلَا الْجَعْظَرِيُّ قَالَ وَالْجَوَّاظُ الْغَلِيظُ الْفَظُّ. رواه ابوداؤد

جنت ته به بد اخلاقه، بد خويه او سخت ويونکی بنده نه ځي . ابوداؤد

في سننه والبيهقي في شعب الايمان وصاحب جامع الاصول فيه عن حارثة

او بيهقي په شعب الايمان کي، په جامع الاصول او په شرح السنة کي هم د حارثه څخه روايت

و كذا في شرح السنة عنه وَلَفْظُهُ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظِ الْجَعْظَرِيّ

دی چي الفاظ يې دادي : جنت ته به مغرور ، سخت او بد خويه بنده نه داخليږي او د مصابيح په

يقال الجعظري اَلْفَظُّ الْغَلِيْظُ وَفِيْ نُسَخِ الْمَصَابِيْحِ عَنْ عِكْرَمَةَ بْنِ وَهْبٍ وَلَفْظُهُ قَالَ وَالْجَوَّاظُ الَّذِيْ جَمَعَ وَمَنَعَ وَالْجَعْظَرِيُّ الْغَلِيْظُ الْفَظُّ.

نسخو کي د عکرمه بن وهب څخه روايت دی چي جواظ هغه دی چي مال يې يو ځای کړی وي مګر چا ته يې نه ورکوي او جعظري سخت او بد خويه بنده ته ويل کيږي .

تخريج: سنن ابي داود ٥\١٥١، رقم: ٤٨٠١، والبيهقي في شعب الايمان: ٦\٢٨٥، رقم: ٨١٧٣، والبغوي في شرح السنة ١٣\١٧٠، رقم: ٣٥٩٣، والبغوي في المصابيح ٣\٣٩٧، رقم: ٣٩٥٣.

تشریح: لکه څرنګه چي په مخکنيو عبارتو کي څرګنده سوه ، د ځينو روايتو څخه دا معلوميږي چي د جواظ او جعظري دواړو يوه معنی ده او د ځينو روايتو څخه دا مفهوم کيږي چي د جواظ معنی د متکبر ده او د جعظر معنی د بد اخلاقه ده مګر ددغه ټولو روايتو حاصل دادی چي دغه دواړه الفاظ په معنی او مفهوم کي يو بل ته نژدې دي او د دواړو په منځ کي زيات فرق نسته.

ملا علي قاري رحمه الله وايي : دا ويل زيات صحيح دي چي د جواظ او جعظري څخه مراد هغه ځوک دی چي بد اخلاقه او د سخت زړه خاوند وي چي نه پر هغه د نصيحت اثر کيږي او نه يې د خدای جل جلاله بيره د ګناهو څخه منع کوي، ځکه نو رسول الله ﷺ د داسي کس په باره کي وفرمايل چي هغه به جنت ته داخل نه سي، ددې قرينه هغه روايت دی چي خطيب رحمه الله د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه مرفوع نقل کړی دی چي: رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر شي لپاره توبه ده مګر د بداخلاقه لپاره توبه ګټوره نه ده ځکه هغه له يوې ګناه څخه توبه کوي نو تر هغه په لويه ګناه کي اخته کيږي ، (د دې نتيجه دا کيږي چي د هغه بداخلاقي او بد چلن پر خپل ځای قائم پاته وي) .

لا يدخل الجنة الجواظ ولا الجعظري : ددغه جملې څخه مخکي د لاء زائد راوستل دې ته اشاره کوي چي کوم ځوک په دغه دواړو خصلتو کي په يوه خصلت اخته وي نو هغه به جنت ته ولاړ نسي ، که هغه سړي د منافقانو څخه وي نو د هغه په جنت کي نه داخلول به پر مطلق معنی باندي محمول وي او که دهغه سړي تعلق د مؤمنانو سره وي نو بيا به ويل کيږي چي د هغه په حق کي دغه الفاظ چي هغه به په جنت کي نه داخليږي ددې مطلب دادی چي هغه به د خلاصون تر لاسه کونکو خلکو سره په پېل کي په جنت کي نه داخليږي .

خوش خلقي

﴿۴۸۵۹﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِنَّ أَثْقَلَ شَيْءٍ يُوضَعُ فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُلُقٌ حَسَنٌ وَإِنَّ اللَّهَ يُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيءَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح. و روی ابوداؤد الفصل الاول.

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم شيان چي به د قيامت په ورځ د مؤمن د اعمالو په تله کي ايښودل کيږي په هغو کي تر ټولو دروند شی به ښه اخلاق

وي ، او الله تعالی فحش ویونکی، پالتو ویونکی بد ایسي ، ترمذي ویلي دي دا حدیث حسن صحیح دئ

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۱۸، رقم: ۲۰۰۲، وابوداود ۵\۱۴۹، رقم: ۴۷۹۹.

تشریح: شیخ عبدالحق رحمه الله د بذي معنی په پالتو سره کړې ده مګر ملا علي قاري رحمه الله د دغه لفظ معنی په بد اخلاقه سره کړې ده او لیکلي يې دي چي د غه معنی د موقع مناسب ده ، هغه دا هم لیکلي دي چي په حدیث کي د اولي جملې په مقابله کي د وهمه جمله راوړل سوې ده د هغې څخه دا معلومېږي چي د قیامت په ورځ به د اعمالو په مېزان کي بد اخلاق ډېر بې وزنه شي وي.

﴿۴۸۶۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ قَائِمِ اللَّيْلِ وَصَائِمِ النَّهَارِ. رواه ابوداؤد

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي فرمایل يې : (پوره) مؤمن د خپلو ښه اخلاقو په وجه د شپې د عبادت کونکي او د ورځي د روژه نیونکي درجه ترلاسه کوي . ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۱۴۹، رقم: ۴۷۹۸.

تشریح: حضرت سهیل رحمه الله وايي: د ښه اخلاقو تر ټولو کمه درجه داده چي د خلکو له خوا رسیدونکی تکلیف وزغمل سي، دبدلې اخیستلو څخه پرهېز وکړل سي او نه یوازي دا چي د ظالم ظلم معاف کړل سي بلکه د هغه په حق کي د مغفرت او بخښني دعاء وکړل سي او پر هغه رحم او شفقت وکړل سي.

﴿۴۸۶۱﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقِ اللّٰهِ حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعْ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ. رواه احمد والترمذي والدارمي

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل : د الله جل جلاله څخه بیره کوه هر چیري چي يې، او د بدۍ څخه وروسته نیکي کوه ددې لپاره چي نیکي بدي لیري کړي ، او د خلکو سره په ښه اخلاقو معامله کوه . احمد، ترمذي او دارمي.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۱۵۳، والترمذي ۴\۳۱۲، رقم: ۱۹۸۷، والدارمي ۲\۴۱۵، رقم: ۲۷۹۱.

تشريح: د الله ﷻ ځخه وېرېږه : مطلب دادی چې الله ﷻ کوم کارونه پر تا واجب کړي دي هغه پر ځای کړه او دهغه فرمانبرداري کوه او د کومو شیانو ځخه چې یې منع کړې ده یعني دُ هر ډول بدی ځخه ځان ساته، دې ته تقوا ویل کیږي، تقوا ددین بنیاد دی چې د هغه په ذریعه د ایقان او معرفت مراتب او درجې تر لاسه کیږي، د تقوا تر ټولو ادنی درجه داده چې د شرک ځخه بېزاري اختیار کړل سي او تر ټولو اعلی درجه داده چې د الله ﷻ ځخه ماسوا د بل چا ځخه مخ واړول سي، ددغه دواړو درجو په منځ کي د تقوا نور مراتب دي چې په هغو کي ځینو ته پر ځینو غوره والی تر لاسه دی لکه ممنوعات پرېښودل یوه مرتبه ده، تر دې غوره مرتبه داده چې مکروهات هم پرېښودل سي، او تر دې هم غوره مرتبه داده چې کوم شیان مباح وي په هغو کي هغه شیان پرېښودل سي کوم چې غیر ضروري او بې ګټې وي.

ته چې هر ځای یې: مطلب دادی چې د الله ﷻ ځخه بېرېدل یعني د الله ﷻ په احکامو باندي عمل کول د یو خاص وخت او خاص ځای سره موقوف کول نه دي پکار بلکه ته چې هر ځای یې که په سفر کي یې او که په حضر کي یې، که دنعمتونو په حالت کي یې او که د مصیبت او تکلیفو په حالت کي یې، غرض دا چې په هر ځای کي او په هر حالت کي یې او هغه وخت او هغه ځای سره متعلق کوم احکام چې وي په هغه کونکي اوسه ځکه چې د الله ﷻ په نزد ستا هیڅ حالت هم پټ نه دی او هغه هیڅ وخت ستا ځخه غافل نه دی هغه چې ځرنګه ستا په ظاهري حالت خبر دی همدارنګه ستا په باطني حالت هم خبر دی نو ستا لپاره ضروري دي چې د هغه احکام پر ځای کړې او د هغه د معصیت ځخه پرهېز وکړې، نقل سوي دي چې یو وار حضرت داؤد طائي رحمة الله عليه د یو قبر سره تېرېدی چې الله ﷻ پر هغه په قبر کي دننه حالات منکشف کړل په دې توګه چې هغه واورېدل د قبر ځخه دننه یو آواز راوځي چې په هغه کي مړی وایي اې پروردګاره ! ما ستا لمونځونه نه دي ادا کړي؟ ما ستا زکوة نه دی ادا کړی؟ او ایا ما دا نه دي کړي، هغه مي نه دي کړي؟ یعني هغه چې په دنیا کي کوم نېک کارونه کړي وه هغه یې ټول یاد کړل، دهغه ددغه خبري په اورېدو سره ملائکو جواب ورکړ، هو، اې د خدای دښمنه! بېله شکه تا دغه ټول کارونه کړي دي مګر ایا دا حقیقت نه دی چې کله به ته یوازي وې نو هغه وخت به دي د الله ﷻ پر خوف ګناهو ته ترجیح ورکول او تا ددې خبري هیڅ لحاظ نه ساتی چې په دغه حالت کي هم ته د الله ﷻ په نظر کي یې.

که ستا ځخه یو بدي وسي : مطلب دادی چې انسان په هر حال انسان دی، دا ضروري ده که

د هغه ځخه يو ګناه نسي که د بشريت په تقاضا ستا ځخه يو ګناه وسي نو دهغه ځخه وروسته سمدستي نېک کار وکړه چي هغه نيکي دهغه ګناه اثرات ختم کړي ، پاته سوه دا خبره چي د نېک کار ځخه ځه مراد دی ، نو ددې ځخه توبه يا مطلق يو نيکي مراد ده ، يا دا چي هغه نيکي مراد ده چي د هغه ګناه او بدۍ ضد وي ، طيبي رحمه الله ويلي دي: انسان بايد د هغه دنېک کار په ذريعه د بدۍ اثرات ختمولو سره هيڅ وخت غافل پاته نسي ، د هغه ځخه چي کومه بدي سوې وي د هغه په بدله کي د هغه د جنس ځخه يو نېک کار ضرور وکړي د مثال په توګه د شراب ځښلو ګناه ځيني وسي نو د هغه په بدله کي دي حلال شيان د الله جل جلاله د رضا لپاره په خلکو وځښي ، که يو وخت په تکبر کي اخته سوی وي نو تواضع او انکساري دي اختيار کړي او که چيري سروزيې اوريدلی وي او دهغه خلکو سره يې ناسته ولاړه کړې وي چي په سروز اخته وي نو دهغه په بدله کي دي د قرآن کريم تلاوت واوري او د ذکر او نصيحت په مجلس کي دي کښيني ، همدارنګه دبخل تدارک دی د الله په لاره کي د خرڅ په ذريعه وکړي .

دا چي فرمايل سوي دي چي هغه نيکي بدي له منځه وړي، ددې ځخه مراد دادی چي الله جل جلاله د هغه نيکۍ په ذريعه يا خو دهغه بنده د زړه ځخه دبدۍ اثرات ختموي يا د اعمالو ليکونکو ملائکو د کتاب ځخه د هغه بدۍ محوه کوي او دغه محوه کول په هغه صورت کي کيږي کله چي د هغه بدۍ تعلق د حقوق العباد سره وي ، په دې توګه چي يو سړی د چا حق تلف کړي يا پر چا باندي ظلم وکړي نو دهغه د حق تلفۍ يا ظلم تدارک داسي کيږي چي د حق خوړونکي يا ظلم کونکي په عمل نامه کي چي کومي نيکۍ وي د هغه ځخه د هغه په اندازه نيکۍ صاحب حق ته ورکول کيږي ، دا بېله خبره ده چي الله جل جلاله په خپل فضل او کرم سره د نور اجر او انعام په ذريعه صاحب حق خوشحاله کړي او د هغه سړي په معافولو يې راضي کړي .

نقل سوي دي چي يو بزرګ وفات سو ، ځه وخت وروسته يو بل بزرګ هغه په خوب کي وليدی نو پوښتنه يې ځيني وکړه چي الله جل جلاله ستا سره ځرنګه چلن وکړ، هغه جواب ورکړ، په دې کي شک نسته چي الله جل جلاله زه په خپل فضل او انعام سره ونازولم او زه يې و بخښلم مګر حساب او کتاب را سره خامخا وسو ، تر دې چي دهغه ورځې په باره کي هم زما ځخه مؤاخذه وسوه چي زما روژه وه او دخپل يو دوست پر دوکان ناست وم کله چي د روژه مات وخت سو نو ما د غنمو د يوې ګونۍ ځخه د غنمو يوه دانه راپورته کړه او د هغه خوړل مي وغوښتل چي ناڅاپه احساس راته پيدا سو چي دغه غنم زما نه دی نو ما سمدستي هغه غنم پر هغه ځای وغورځوی ، او د هغه حساب هم راڅخه واخيستل سو چي د هغه غنم ماتولو د تاوان په اندازه زما نيکۍ زما ځخه

واخيستل سوي.

بيضاوي رحمة الله عليه ليکلي دي چي نيکی د کوچنيو ګناهو کفاره کيږي او په کبائرو کي د هغه ګناهو کفاره کيږي کومي چي پټي وي ځکه چي د الله جل جلاله دغه ارشاد (لنکفرن عنکم سياتکم) پر عموم باندي دلالت کوي او ذکر سوی حديث هم مطلق او عام دی، مګر کوم لوی ګناهونه چي ظاهر سوي وي او د حاکم او قاضي په نزد ثابت سوي وي پر هغو حد يعني د شرعي سزا نفاذ ساقط سوی نه وي او نه هغه په توبې سره معافيږي.

﴿۴۸۶۲﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ وَ بِمَنْ تَحْرُمُ النَّار عَلَيْهِ عَلَى كُلِّ هين لين قريب سهل. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن غريب.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ايا زه تاسو ته ونه ښيم چي دوږخ پر چا حرام دی؟ پر هغه چا چي نرم مزاج، نرم طبع، نزديکت کونکی او نرم خويه وي. احمد او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی.

تخريج: مسند الامام احمد ۱\۴۱۵، والترمذي ۴\۵۶۴، رقم: ۲۴۸۸.

تشريح: ايا زه درته ونښيم...الخ: دلته د مبالغې او تاکيد له موخي دواړه صورتونه يعني د هغه سړي پر اور باندي حرامېدل او د اور پر هغه سړي حرام کېدل ذکر سوي دي او د دواړو عبارتو خلاصه يوه ده يعني د هغه د دوږخ څخه خوندي کېدل ځکه په جواب کي د دوهم صورت پر بيان اکتفاء وسول، او په عامه توګه هم ويل کيږي چي د دوږخ اور پر فلاني سړي حرام دی.

﴿۴۸۶۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال الْمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيمٌ وَالْفَاجِرُ خِبٌّ لَئِيمٌ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: مؤمن نيکي کونکی، تيروتونکی او بزرګ وي، او فاجر چالاک، بخيل او بد اخلاق وي، احمد، ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۳۹۴، وابوداود ۵\۱۴۴، رقم: ۴۷۹۰، والترمذي ۴\۳۰۳، رقم: ۱۹۶۴،

د لغاتو حل: الخِب: اى لخداع (چمباز)

تشریح: د غر معنی د دوکه خوړونکي سړي ده، همدارنګه په صراح وغیره کي د غر معنی د بې تجربې زلمي لیکل سوې ده او خب معنی د هغه سړي ده چي دوکه ورکونکی او چالاک وي.

د حدیث مطلب دادی چي نېک سړی طبعا مطیع او فرمانبردار کېدو په وجه نرم مزاجه، شریف النفس او ساده لوح وي ځکه هغه د هر دوکه ورکونکي سړي څخه دوکه خوړلای سي، هغه د خلکو په مکر او فریب خبر نه وي او نه د مکر او فریب د خبرو او دوکو تحقیق کوي، او ددې وجه دا نه ده چي هغه جاهل او ناپوه وي بلکه ددې تر ټولو لویه وجه د هغه د مزاج نرمي، حلم، عفو او ښه اخلاق وي.

ځینو حضراتو د حدیث مطلب داسي بیان کړی دی چي نېک سړی حلیم القلب او ساده لوح وي ځکه هغه د خلکو په اړه تل نېک ګمان لري، د چا په سینه کي چي کینه وي په هغه خبر نه يې چي د هغه نیتجه دا سي چي کوم څوک د هغه په مخکي څه وایي هغه مني او دوکه خوري، یوه خبره دا هم ده چي د هغه په مخکي د آخرت معاملات او د نفس د اصلاح زیات اهمیت وي او دنیا معاملات د هغه په نظر کي ارزښت نه لري نو هغه د نفس اصلاح او د آخرت په کارو کي بوخت وي او د دنیا کارو ته زیاته توجه نه ورکوي ځکه نو که څه هم هغه په دنیاوي چارو کي دوکه خوري مګر د آخرت په معاملو کي هوښیار او کامل وي، د نېک مؤمن دغه حالت که څه هم دلته د تعریف په توګه بیان سوی دی مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ د خپل دغه ارشاد: (لا یلدغ المؤمن من جحر واحد مرتین) په ذریعه خبرداري هم فرمایلي دی چي د مؤمن لپاره مناسب نه دي چي تل غفلت اختیار کړي، پرله پسې دوکه خوري او د هوښیارۍ طریقه بالکل ترک کړي او دا خبره مخکي ښودل سوې ده چي: لا یلدغ المؤمن...الخ، په ذریعه مؤمن ته د کومي هوښیارۍ او بیدارۍ تلقین سوی دی دهغه تعلق د دنیا او آخرت دواړو سره دی که څه هم ځینو حضراتو یوازې د اُخروي معاملاتو سره خاص کړی دی.

د نېک سړي پر خلاف د فاجر یعني منافق خصلت دا بیان سوی دی چي دوکه بازي او مکاري د هغه په فطرت کي داخل وي، فتنه او فساد خپرول د هغه کار وي او د هغه په نزد چشم پوشي یو بې معنی شی دی ځکه هغه ژر دوکه نه خوري مګر دا چي یو سړی تر هغه هم زیات مکار او دوکه ورکونکی وي او هغه ته په دوکه ورکولو کي کامیاب سي، بیا هم که چیري هغه په ناپوهي کي دوکه وخوري نو هغه نه زغمي بلکه دبدلې اخیستلو هڅه کوي.

﴿۴۸۶۴﴾: وَعَنْ مَكْحُوْلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُؤْمِنُوْنَ

هَيِّنُونَ لَيِّنُونَ كَالْجَمَلِ الْآنِفِ إِنْ قِيْدَ انْقَادَ وَإِنْ أُنِيْخَ عَلَى صَخْرَةٍ اِسْتَنَاخَ.

رواه الترمذي مرسلا.

د حضرت مكحول رحمه الله څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن د هغه اوښ په ډول بردباره او نرم خويه وي چي د هغه په پزه کي مهار وي که هغه راکش کړل سي نو ورسره روان سي او که پر ډبره کښينول سي نو پر ډبره کښيني. ترمذي دا حديث مرسلا روايت کړی دئ.

تخريج: لم نجده عند الترمذي وري ابن ماجه ١٦\١، رقم: ٤٣.

تشريح: مطلب دادی چي مؤمن طبعًا فرمانبردار وي، هغه د شريعت اتباع کوي، د الله جل جلاله او د هغه د رسول احکامات څرنګه چي وي هم هغسي يې پر ځای کوي په هغه کي د خپلي خوا هيڅ دخول نه کوي او د هغه احکامو پر ځای راوړلو او د شريعت په اتباع کي چي کوم مشقت پيښيږي هغه په رضا او شوق سره زغمي. دا هم کيدای سي چي په دغه حديث کي د مسلمانانو هغه خاصيت بيانول مقصد وي چي په خپلو کي د يو بل اتباع او فرمانبرداري او د يو بل سره تواضع او انکساري اختيار کړي او د غرور او تکبر څخه ځان وساتي، په حقيقت کي دغه خصوصيت هم د احکام الهي په طاعت کي شامل دي.

د خلکو سره اوسېدل

﴿٤٨٦٥﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عن النبي اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُسْلِمُ الَّذِي يُخَالِطُ النَّاسَ وَيَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ أَفْضَلُ مِنَ الَّذِي لَا يُخَالِطُهُمْ وَلَا يَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمان چي په خلکو کي اوسي او د هغوئ پر تکليفونو صبر کوي تر هغه مسلمان غوره دی چي په خلکو کي نه اوسيږي او د هغوئ پر تکليفونو صبر نه کوي. ترمذي او ابن ماجه

تخريج: سنن الترمذي ٥٧٢\٤، رقم: ٢٥٠٧، وابن ماجه ١٣٣٨\٢، رقم: ٤٠٣٢.

تشريح: ددغه حديث څخه معلومه سوه چي د خلکو سره راشه درشه کول تر يوازيوالي غوره دي، زيات تابعين په دغه عامل وه او دغه شی د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د خپرولو،

یو د بله مرستي او ددین د اشاعت په اعتبار هم زیات کامل او زیات افضل دی ، پاته سوه دا خبره چي د یوازیوالي په اړه هم حدیثونه منقول دي ، د یوازیوالي غوره کېدل ثابت دي نو په دې اړه دا حقیقت په ذهن کي کښېښول پکار دي چي د دغه اختلاف تعلق د زمان او مکان او د خلکو د احوالو سره دی یعني په ځینو وختو کي او په ځینو ځایو کي د حالاتو تقاضا داده چي د هغوئ سره تعلق وساتل سي ، په داسي صورت کي د خلکو سره یو ځای کېدل تر یوازیوالي افضل دي ، بیا هم په دې اړه چي د کومي درمیانه لاري اختیارولو هدایت دی هغه دادی چي په ذهني توګه ضروري حالاتو څخه پرته په نورو وختو کي عوام الناس ددې څخه بېل اوسي مګر د خواصو یعني صالحینو او نیکانو سره دي همېشه تعلق وساتل سي او دهغوئ څخه دي یوازیوالي نه اختیارېږي ، مګر عوام الناس ته یوازیوالی نه اختیارول په هغه صورت کي ګټور دی کله چي باعث عمل علم یې ترلاسه کړی وی او دزهد او توکل هغه درجه یې په برخه سوې وي چي هلته په رسېدو سره انسان د مخلوق څخه بالکل بې نیازه کیږي او هیڅ ډول طمع او خواهش نه لري ځکه ځینو عارفینو ویلي دي چي یوازیوالي بېله علمه ذلت او رسوایي ده او بېله زهد او قناعت علت او خرابي ده ، نو کامل صوفیان لکه نقشبندیه او شاذلیه پر دغه طریقه عامل وه چي هغوئ به د خلکو څخه بېل هم اوسېدل او بیا به یې د هغوئ سره تعلق هم ساتی .

د غصې په واک کي کولو فضیلت

﴿۴۸۶۶﴾ : وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

حضرت سهل بن معاذ ﷺ د خپل پلار څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللّٰهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ

څوک چي پر خپله غصه واک تر لاسه کړي په داسي حال کي چي هغه په خپل غصه سره خپل خواهش پوره کولای سي نو

الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ. رواه الترمذي وابوداؤد وقال الترمذي

د قیامت په ورځ به الله تعالی هغه د مخلوق په مخکي را وغواړي او کومه حوره چي د هغه خوښه وي د هغه د خوښولو اختیار به ورکړي ، . ترمذي ،ابوداؤد ، او ترمذي ویلي دي دا حدیث

هذا حديث غريب ، وفي رواية لابي داؤد عن سويد بن وهب عن رجل من .

غريب دی، او ابوداؤد په يو بل روايت کي چي د سويد بن وهب په ذريعه او هغه د نبي كريم ﷺ

ابناء اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم عن ابيه قال ملا الله قلبه امناً و ايماناً و ذكر حديث سويد من ترك لبس ثوب جمال في كتاب اللباس .

د يو صحابي د زوی څخه دا الفاظ نقل کړي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى د هغه سړي زړه چي غصه په واک کي کړي د امن او ايمان څخه ډک کړي، د سويد حديث :من ترك لبس ثوب جمال، په كتاب اللباس کي بيان سوی دی .

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۳۷، رقم: ۴۷۷۷، والترمذي ۴\۳۲۶، رقم: ۲۰۲۱.

تشريح: الله ﷻ به هغه د مخلوق په مخکي را وغواړي، مطلب دادی چي الله ﷻ به د قيامت په ورځ د ټول مخلوق په منځ کي هغه سړي ته يو نېک شهرت ورکړي د هغه تعريف او توصيف به وکړي او پر هغه به د فخر اظهار وکړي او د هغه په اړه به اعلان وکړي چي دا هغه سړی دی چي په ده کي دومره لويه ښېګڼه وه .

پر غصې باندي د واک تر لاسه کولو صفت ته د دومره لوړ مقام ورکولو وجه داده چي غصه په اصل کي د نفس اماره د کيفيت نوم دی او چا چي خپل غصه وځپښل هغه ګويا خپل نفس ووژی ځکه پر غصه باندي د واک تر لاسه کونکو تعريف الله ﷻ هم په دغه الفاظو کي فرمايلی دی چي : (والكاظمين الغيظ والعافين عن الناس) او کوم څوک چي خپل نفس د هغه خواهش څخه منع کړي د هغه آخري ځای جنت دی او د هغه انعام حور عين دي، څرګنده دي وي چي دومره عظيم اجر محض پر غصې ځپښلو باندي تر لاسه کيږي نو دهغه سړي د مقام او مرتبې به څه اندازه وي چي محض پر غصې ځپښلو باندي اکتفاء ونه کړي بلکه د هغه سړي سره د عفو او احسان چلن هم وکړي ، امام ثوري رحمة الله عليه فرمايي: اصل احسان دادی چي ته د هغه سړي سره احسان وکړې کوم چي ستا سره بدي وکړي ځکه چي کوم چا ستا سره احسان کړی دی که چيري ته پر هغه احسان وکړې نو هغه ستا احسان نه دی بلکه بدله ورکول دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حياء تعريف

﴿۴۸۶۷﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ طَلْحَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ

لِكُلِّ دِينٍ خُلُقًا وَخُلُقُ الْإِسْلَامِ الْحَيَاءُ. رواه مالك مرسلا ورواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان عن انس وابن عباس.

د حضرت زید بن طلحة ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په هر دین او مذهب کي یو اخلاق وي او په دین د اسلام کي هغه اخلاق حیاء ده، مالک مرسلا روایت کړی دئ او ابن ماجه او بیهقي د انس او ابن عباس څخه روایت کړی دئ.

تخریج: موطا الامام مالک ۹۰۵/۲، رقم: ۹.

تشریح: دلته د حیاء څخه په هغه شي کي شرم او حیاء کول مراد دي چي په هغه کي حیاء کول مشروع دي، په کومو شیانو کي چي د حیاء کولو اجازه نسته لکه تعلیم و تدریس، امر بالمعروف او نهي عن المنکر، د حق د ادا کولو حکم ورکول او شاهدي ورکول ،نو په دغه شیانو کي شرم د حیاء کولو کي هیڅ فضیلت نسته.

د حدیث مفهوم دا معلومیږي چي د هر دین د خلکو یو وصف او خصلت وي او د مسلمانانو طبعي وصف او خصلت حیاء گرځول سوې ده، سره ددې چي حیاء هم د هغه اوصافو او خصائلو څخه ده چي د ټولو دینو او مذهبو په خلکو کي په مشترکه توگه تر لاسه کیږي مگر دغه وصف او حیاء په خاصه توگه پر مسلمان باندي غالب کړل سوې ده او د نورو مذهبو په خلکو کي دغه جوهر ډېر کم اېښودل سوی دی او ددې وجه داده چي حیاء نه یوازي دا چي په طبعي خاصیتونو او خصلتونو کي تر ټولو اعلی درجه لري بلکه دا هغه جوهر دی چي په دې سره د انسان اخلاق او کردار پوره کیږي او رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي: بعثت لاتمم مکارم الاخلاق، زه د ښه اخلاقو د پوره کولو لپاره دنیا ته را استول سوی یم، ځکه د دغه جوهر په ذریعه د ملت اسلامي اخلاق او اوصاف د کمال درجې ته رسول سوي دي او حقیقت دا دی چي یوازي په حیاء کي منحصره نه ده بلکه زموږ څخه په مخکي امتونو کي به ټول اخلاق او خصائل ناقص وه تر دې چي نبي کریم ﷺ دنیا ته تشریف راوړ او د رسول الله ﷺ په برکت سره په ملت اسلامي کي ټول اخلاق او خصائل کامل او مکمل کړل سول، ځکه د ملت اسلامي دغه خاصیت الله ﷻ په دغه الفاظو کي بیان کړی دی: (کنتم خیر امة اخرجت للناس) تاسو د نړیوالو لپاره تر ټولو غوره امت پیدا کړل سوي یاست.

ابن ماجه او بیهقي ذکر سوی روایت د حضرت انس او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما

څخه مرفوع نقل کړې دی لکه څرنګه چې د ظاهري اسلوبو څخه دا ګمان کیدای سي بلکه مرفوعا د رسول الله ﷺ د ارشاد په توګه نقل کړې دی او د ذکر سوي عبارت څخه په ظاهره دا معلومیږي چې په دغه دواړو یعني ابن ماجه او بیهقي کي هر یوه ددغه دواړو صحابه کرامو څخه دا روایت نقل کړې دی ، او دا هم کیدای سي چې په ذکر سوي عبارت کي د دواړو ذکر علی الترتیب وي یعني ابن ماجه دغه روایت د حضرت انس رضی الله عنه څخه او بیهقي د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل کړې دی مګر په جامع صغیر کي دغه حدیث د ابن ماجه په سند سره په روایت د حضرت انس او حضرت ابن عباس نقل سوی دی ، ددې څخه معلومیږي چې همدارنګه بیهقي هم دغه روایت د دواړو صحابه کرامو څخه نقل کړې دی .

حياء او ايمان

﴿۴۸۶۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْحَيَاءَ وَالْإِيمَانَ قُرَنَاءُ جَمِيعًا فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ . وفي رواية ابن عباس فإذا سلب أحدهما تبعه الآخر . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : حیاء او ایمان یو ځای اینبودل سوي دي یعني دا د یو بل سره تړلي دي په دوئ کي چې یو پورته کړل سي نو بل هم پورته کیږي ، او دابن عباس په یوه روایت کي داسي دي چې یو سلب کړل سي نو دویم هم ولاړ سي . بیهقي په شعب الایمان کي.

تخريج: البيهقي في الشعب ١٦/١٤٠، رقم: ٧٧٢٧.

تشريح: لفظ د قُرَناء د قرینې جمع ده ، په دې اعتبار سره دغه لفظ د هغه خلکو دلیل دی چې وایي چې د اقل جمع اطلاق پر دوو باندي هم کیږي ، په ځینو نسخو کي دغه لفظ د ماضي مجهول تثنیه په صیغه سره منقول دی .

د خوش خلقۍ اهمیت

﴿۴۸۶۹﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ كَانَ آخِرُ مَا وَصَّانِي بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ وَضَعْتُ رِجْلِيْ فِي الْغَرْزِ أَنْ قَالَ يَا مُعَاذُ أَحْسِنْ خُلُقَكَ لِلنَّاسِ .

۱۹

رواه مالك.

د حضرت معاذ رضي الله عنه څخه روايت دئ چي كله زه يمن ته تللى وم او پر آس سپريدو لپاره مي خپله پښه پر ركاب كېښښودل نو رسول الله ﷺ را ته آخري نصيحت وفرمايه چي اې. معاذه ! د خلكو سره ښه خوى (اخلاق) كوه ، مالك

تخريج: موطا الامام مالک ۲\۹۰۲، رقم: ۱.

د لغاتو حل: الغرز: اى موضع ركاب من رحل البغير كالركاب للسرج.

تشريح: رسول الله ﷺ په خپل ژوند مبارک كي حضرت معاذ رضي الله عنه د يمن قاضي جوړ كړى وو ، كله چي حضرت معاذ رضي الله عنه د خپل دندي تر سره كولو لپاره يمن ته روانېدى نو هغه وخت رسول الله ﷺ دغه الفاظ فرمايلي وه چي اې معاذ ! كيداى سي ته ما بيا ونه وينې، نو د معاذ رضي الله عنه ته ددې څخه وروسته د رسول الله ﷺ زيارت په برخه نسو ، هغه په يمن كي وو چي رسول الله ﷺ له دنيا څخه تشريف يووړ، په هر حال حضرت معاذ رضي الله عنه په ذكر سوي روايت كي د رسول الله ﷺ د وصيت ذكر كړى دى هغه په دغه موقع كي د هغه لپاره د رسول الله ﷺ اخري وصيت وو .

سيوطي رحمه الله وايي: دلته د خلكو څخه مراد هغه خلک دي كوم چي د ښه اخلاقو او نرمۍ مستحق وي ، او كوم چي د كافرانو ، فاسقانو او ظالمانو تعلق دى نو هغوئ د دغه دائرې څخه وتلي دي او د هغوئ سره د سختۍ ظاهرول په ښه اخلاقو كي داخل دي ځكه چي نه يوازې د هغوئ روزنه او تهذيب پر سختۍ باندي منحصر دي بلكه د هغوئ سره اختيارونكى د دغه رويې سره د نورو خلكو د حالاتو غوره والى هم تړلى دى ، ددې څخه معلومه سوه چي د سيوطي رحمه الله په نزد په دغه حديث كي د ښه اخلاقو څخه مراد نرمي او مهرباني ا و د عفو او بخښني رويه اختيارول دي .

﴿۴۸۷۰﴾: وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ حُسْنَ الْأَخْلَاقِ. رواه الموطأ. ورواه أحمد عن أبي هريرة .

د حضرت مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د ښو اخلاقو د پوره كولو لپاره را استول سوى يم . موطا او احمد .

تخريج: موطا الامام مالک ۲\۹۰۴، رقم: ۸.

د رسول ﷺ حُسن او اخلاق

﴿۴۸۷۱﴾: وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَظَرَ فِي الْمِرْآةِ قَالَ اَلْحَمْدُ للهِ الَّذِيْ حَسَّنَ خَلْقِيْ وَخُلُقِيْ وَزَانَ مِنِّيْ مَا شَانَ مِنْ غَيْرِيْ. رواه البيهقي في شعب الإيمان مرسلا.

حضرت جعفر بن محمد رحمه الله د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ به کله په هنداره کي وکتل نو فرمايل به يې: ټول تعريفونه الله جل جلاله لره دي هغه الله تعالى چي زما پيدائش يې ښه کړی دی زما اخلاق يې ښه جوړ کړي دي او په ما کي يې هغه شيان سم کړي دي چي زما په پرته کي عيب دار دي.، بيهقي مرسلا

تخريج: البيهقي في الشعب ۱۱۱۱۴، رقم: ۴۴۵۹.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو مقصد دادی چي څرنګه د ځينو کسانو په بدني تخليق کي يو عيب او نقصان وي، د مثال په توګه يو ګوټ د لاس، پښې يا ستر ګي څخه محروم وي، يا د يو چا پښه کږه وي يا يو بل اندام يې ناقص وي، همدارنګه الله جل جلاله په ما کي هيڅ عيب او نقصان نه دی اېښی بلکه زه يې د ټولو عيبونو او نقصانو څخه خوندي او سالم وساتلم، د ملا علي قاري رحمه الله د وضاحت څخه دا معلومېږي چي نقصان او عيب عام دی د دې تعلق که د بدني تخليق او زيږېدني سره وي يا د اخلاقو او کردار سره وي،

په هر حال دغه حديث د دې خبري څرګند دليل دی چي د هر انسان په مقابله کي د رسول الله ﷺ سيرت او صورت ډېر لوړ او ښه وو او څرنګه چي طيبي رحمه الله ويلي دي چي ذکر سوی حديث د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد: بعثت لاتمم حسن الاخلاق، يعني زه د ښه اخلاقو د پوره والي لپاره را استول سوی يم، وضاحت هم دی، د رسول الله ﷺ خپل حسن صورت او حسن سيرت باندي د الله جل جلاله حمد او د هغه شکر ادا کول، د حضرت داؤد عليه السلام او حضرت سليمان عليه السلام د هغه حمد او شکر په ډول دی چي په قرآن کريم کي الله جل جلاله داسي فرمايلي دي:

(وَلَقَدْ آتَيْنَا دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ عِلْمًا وَقَالاَ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي فَضَّلَنَا عَلَى كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِينَ ...)

او بېله شکه موږ داؤد او سليمان ته علم ورکړ او هغه دواړو وويل ټول تعريفونه هغه الله لره دي چي هغه موږ ته پر خپلو مؤمنو بندګانو باندي فضيلت را کړ.

د دغه حدیث څخه دا هم معلومه سوه چي په هنداره کي کتل مستحب دي او پر خپل ښه صورت او ښه سیرت باندي د الله ﷻ ثناء کول هم مستحب دي ځکه دغه دواړه نعمتونه د الله تعالی له خوا ورکول کیږي نو پر دې باندي د الله تعالی شکر ادا کول پکار دي، او پاته سوه دا خبره چي ظاهري حسن او ښکلا یو داسي شی دی چي هغه په هنداره لیدل کیدلای سي نو له دې امله په هنداره کي کتل او پر هغه شکر ادا کول خو په پوهه کي راځي مګر د هغه سره د حسن سیرت یا حسن خلق ذکر په پوهه کي نه راځي ځکه چي هغه یو پټ شی دی چي د هغه په هنداره کي لیدل ممکن نه دي ، ددې په جواب کي دا خبره کېدلای سي چي ښېله شکه حسن سیرت یو معلومېدونکی شی نه دی مګر د انسان ظاهري حال په هر حال د هغه د باطن ترجماني کوي او د یو بل چا په اړه ښاییي دا خبره صحیح نه وي مګر پر رسول الله ﷺ باندي دا خبره خامخا صادقیږي چي حسن صورت او حسن سیرت یو داسي څرګند عنوان دی چي د هغه په لېدو سره د باطن د احوالو ادراک کیدای سي نو په دغه مناسبت سره رسول الله ﷺ په حسن صورت سره د حسن سیرت ذکر هم وفرمایه، او که چیري دا سوال پیدا سي چي ایا د رسول الله ﷺ څخه پرته نورو خلکو ته هم دا حق رسیږي چي هغوئ د رسول الله ﷺ په پیروي کي په هنداره لېدو سره په ذکر سوې توګه حمد او ثناء وکړي یا داسي حمد او ثناء کول یوازي د رسول الله ﷺ سره خاص وو، او نور خلک دي پر هغه دعاء ویلو اکتفاء وکړي کوم چي په راتلونکي حدیث کي نقل سوې ده، ددې جواب دادی چي په دغه حدیث کي د حمد او ثناء او شکر کوم الفاظ چي ذکر سوي دي هغه هر مؤمن ویلای سي ځکه چي انسان په دې اعتبار چي هغه په ښه صورت سره پیدا سوی دی او هغه صاحب ایمان دی ښېله شکه د الله تعالی د مخلوق په مال، دین ، اخلاقو او اوصافو سره مزین وي بیا هم ځیني حضرات وایي چي رسول الله ﷺ د حمد او ثناء ذکر سوي الفاظ د خپل ذات په اړه فرمایلي وه او څرګنده ده چي د کوم حسن صورت او حسن سیرت وصف چي په کمال او نهایت سره د رسول الله ﷺ په ذات کي وو هغه په بل چا کي نسي کېدای ځکه نو د بل چا لپاره دغه الفاظ استعمالول مناسب نه دي ، کېدای سي د امت د ځینو افرادو له خوا داسي الفاظو استعمالولو ته جائز ونه ویل سي مګر د امت لپاره غوره داده چي هغه دعاء اختیار کړي کوم چي په راتلونکي حدیث کي نقل سوې ده .

د ښه اخلاقو دعاء

﴿۴۸۶۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

اَللّٰهُمَّ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَاحسنْ خُلُقِيْ . رواه أحمد

د حضرت عائشې ﷞ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ به فرمایل : اې الله ﷻ ! تا زما پیدائش په ښه ډول وکړ زما اخلاق هم ښه کړه . احمد.

تخریج: مسند الامام احمد ٦\٦٧.

تشریح: دغه دعاء یا خو رسول الله ﷺ په مطلق یو وخت کي کول یا په هنداره کي د خپل صورت په لیدو سره به یې کول ، لکه څرنګه چي جزري په حصن حصین کي صراحت کړی دی او د اول حدیث مطابق دا زیاته مناسبه ده او د رسول الله ﷺ دغه دعاء د امت د تعلیم او تلقین دپاره وه چي دامت خلک په خپل حق کي داسي دعاء وغواړي یا د دغه دعاء تعلق خپله د رسول الله ﷺ د ذات سره وو په دغه صورت کي به د رسول الله ﷺ مراد دغه طلب او درخواست وو چي خدایه! خپل دین کامل او خپل نعمتونه پوره کړې ، د دغه مراد قرینه داده چي د رسول الله ﷺ د اخلاقو مهذب کولو ذریعه قرآن کریم وو لکه څرنګه چي بي بي عائشې ﷞ فرمایلي دي چي د رسول الله ﷺ اخلاق قرآن وو ، نو د رسول الله ﷺ د خپل اخلاقو ښه کېدو دعاء کول او حقیقت قرآن نازلولو او دهغه د نزول پوره کولو طلب او خواست وو .

غوره خلک څوک دي ؟

﴿۴۸۷۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ قَالُوا بلى، قَالَ خِيَارُكُمْ أَطْوَلُكُمْ أَعْمَارًا وَأَحْسَنُكُمْ أَخْلَاقًا .رواه احمد.

د حضرت ابو هریرة ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا زه تاسو ته و نه ښیم چي په تاسو کي غوره کوم خلک دي ؟ صحابه کرامو وویل: ولي نه، رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي غوره هغه خلک دي چي د هغوئ عمرونه اوږده وي او د هغوئ ښه اخلاق وي . احمد.

تخریج: مسند الامام احمد ۲\۴۰۳.

تشریح: څرګنده ده چي د کومو خلکو اخلاق او طریقې پاکي او ښه وي او د هغوئ عمر زیات وي نو هغوئ به نیکي او عبادت ډېر زیات کوي چي د هغه په نتیجه کي به هغوئ ته فضائل او کمالات هم زیات تر لاسه کیږي ، د دې څخه معلومه سوه چي د مسلمان عمر اوږدېدل د هغه په

حق کي ډېر مبارک دي او په حقيقت کي د اوږده عمر سړی هغه دی کوم چي په ښکو کارو کي بوخت وي.

﴿۴۸۷۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا. رواه ابوداؤد والدارمي.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مؤمنانو کي پوره ايمان والا هغه خلک دي چي د هغوئ اخلاق ښه وي. ابوداؤد او دارمي.

تخريج: سنن ابي داود ۱۵\۶۰، رقم: ۴۶۸۲، والدرامي ۲\۴۱۵، رقم: ۲۷۹۲.

درې حق خبري

﴿۴۸۷۵﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَجُلًا شَتَمَ أَبَا بَكْرٍ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ ناست وو چي يو سړي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته بد او رد ويل پيل کړل،

يَتَعَجَّبُ وَيَتَبَسَّمُ فَلَمَّا أَكْثَرَ رَدَّ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ فَغَضِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

رسول الله ﷺ د هغه بد او رد اوريدل او تعجب يې کوی او تبسم يې کوی، هر کله چي هغه سړي زيات بد او رد وويل نو ابوبکر صديق رضي الله عنه د هغه د ځينو بدو جواب ورکړ، پر دې خبره رسول الله

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَامَ فَلَحِقَهُ أَبُو بَكْرٍ وَ قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَانَ يَشْتُمُنِي وَأَنْتَ

ﷺ ته غصه ورغلل نو ولاړ سو، ابوبکر صديق رضي الله عنه هم ورپسې ورغلی او وه يې ويل: اې د الله رسوله! هغه سړي ما ته بد او رد ويل او ته

جَالِسٌ فَلَمَّا رَدَدْتُ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ غَضِبْتَ وَقُمْتَ قَالَ كَانَ مَعَكَ مَلَكٌ يَرُدُّ

ناست وې مگر کله چي ما هغه ته د ځينو خبرو جواب ورکړ نو تاسو په غصه سواست او ولاړ سواست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل (هغه وخت) ستا سره يوه ملائکه وه چي هغه ته يې

عليه فَلَمَّا رَدَدْتَ عَلَيْهِ وَقَعَ الشَّيْطَانُ ثُمَّ قَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ ثَلَاثٌ كُلُّهُنَّ حَقٌّ مَا

جواب ورکوئ کله چي تا هغه ته جواب ورکول شروع کړل نو شيطان په منځ کي راولويدی ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : اې ابوبکر ! درې خبري دي او ټولي حق دي

مِنْ عَبْدٍ ظُلِمَ بِمَظْلَمَةٍ فَيُغْضِي عَنْهَا لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا أَعَزَّ اللّٰهُ بِهَا نَصْرَهُ وَمَا

(۱) يو خو دا چي پر کوم بنده ظلم وکړل سي او هغه صرف د الله تعالى د رضا لپاره پټه خوله پاته سي نو الله تعالى د هغه ډيره مرسته کوي

فَتَحَ رَجُلٌ بَابَ عَطِيَّةٍ يُرِيدُ بِهَا صِلَةً إِلَّا زَادَ اللّٰهُ بِهَا كَثْرَةً وَمَا فَتَحَ رَجُلٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ يُرِيدُ بِهَا كَثْرَةً إِلَّا زَادَ اللّٰهُ بِهَا قِلَّةً. رواه احمد.

(۲) دويم دا چي څوک د خپل طرفه د ورکړي دروازه خلاصه کړي او د هغه په ذريعه د خپلو خپلوانو او مسکينانو سره ښه چلن (بخشش)کوي نو الله تعالى د هغه په سبب د هغه مال زياتوي ،(۳): دريم دا چي چا د سوال دروازه خلاصه کړه (فقريې پيل کړی) او په دې ذريعه هغه خپل دولت زياتول وغوښتل نو الله تعالى ددغه سوال کولو په سبب د هغه مال نور هم کموي . احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۲/۴۳۶.

د لغاتو حل: عطية: اى صدقة. (خيرات)

تشريح: حيرانېدی او تبسم يې کوی: دلته د حيرت تعلق يا خو د هغه سړي د بدويني او په هغه کي د شرم او حجاب د کمۍ په وجه وو يا د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د صبر او تحمل او د هغه د رويې په وجه وو، او د تبسم تعلق د هغه فرق په وجه وو چي رسول الله ﷺ د هغه دواړو په منځ کي ليدی ، ددې څخه پرته د رسول الله ﷺ نظر د هغو دواړو په حق کي پر پيښېدونکي نتيجې باندي هم وو چي هغه سړی د خپل بد کلامۍ په وجه د عذاب وړ ليدی او ابوبکر صديق رضي الله عنه د هغه د صبر او تحمل په سبب د رحمت الهي د نزول وه .

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه هم د هغه د ځينو خبرو جواب ورکړ ، يعني هغه په دغه ځای کي د جواب په ورکولو سره پر رخصت او اجازه باندي عمل وکړ چي د يو عام سړي لپاره مناسب دي او هغه عزيمت يې ترک کړ چي د خاصو خلکو شان وي ، لکه څرنګه چي الله تعالى فرمايي : (جزاء سيئة سيئة مثلها فمن عفا واصلح فاجره على الله) ، د بدۍ بدله د بدۍ مطابق اخيستل کيږي مګر کوم څوک چي معافي وکړي او اصلاح وکړي نو د هغه اجر پر الله جل جلاله دی ، نو

حضرت ابوبكر صديق ﷺ كه څه هم د هغه سړي د ځينو خبرو په بدله اخيستلو سره او پر ځينو خبرو باندي په صبر كولو سره د دواړو اړخونو رعايت وكړ مگر د نبوت په نظر كي د هغه لپاره هغه مرتبه مطلوب ده كوم چي د هغه د شان صديقت مطابق وه ځكه هغه لره د هغه سړي د ځينو خبرو په جواب وركولو سره جزوي بدله اخيستل هم رسول الله ﷺ خوښه نه كړل.

او پر رسول الله ﷺ هغه كيفيت خپور سو كوم چي پر ناراضه سړي باندي خپرېږي، نو رسول الله ﷺ د هغه مجلس څخه ولاړ سو چي يوې خوا ته د حضرت ابوبكر ﷺ په رويه د ناخوښي اظهار هم وسي او بلي خوا ته د الله تعالى په دغه ارشاد هم عمل وسي چي (واذا سمعوا اللغو اعرضوا عنه)، يعني كه چيري هغوئ يو پالتو خبره واوري نو د هغه څخه مخ اړوي.

شيطان په مينځ كي راغلی: يعني رسول الله ﷺ دا څرگنده كړه چي كله تا خپله جواب وركول پيل كړل نو بيا شيطان ته ددخل كولو موقع تر لاسه سوه او هغه ملائكه چي ستا له خوا يې جواب وركوی آسمان ته ولاړه او ته په دې پوهيږي چي كله په يوه معامله كي شيطان راسي نو بيا څه نه كيږي، پر بې حيايي او بدۍ باندي د اماده كولو څخه پرته هغه نور څه كولای سي، نو زما سره بېره پيدا سوه چي د شيطان جال پر تا ونه لويږي او ته خپل مخالف څخه د بدلې په اخيستلو كي د حد څخه زيا توب ونه كړې او د هغه نتيجه دا سي چي ته چي مظلوم وې د ظالم پر ځای سې، حال دا چي پكار داده چي ته د الله ﷻ مظلوم بنده جوړ سې او ظالم بنده جوړ نه سې.

نرمي او مهرباني

﴿۴۸۷۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِأَهْلِ بَيْتٍ رِفْقًا إِلاَّ نَفَعَهُمْ وَلاَ يُحْرِمُهُمْ إِيَّاهُ إِلاَّ ضَرَّهُمْ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د كومي كورنۍ لپاره چي الله تعالى نرمي خوښه كړي نو د دغه په ذريعه ورته گټه رسوي او كومه كورنۍ چي د نرمۍ څخه محرومه كړي نو هغه ته د دې په سبب ضرر رسوي. بيهقي په شعب الايمان كي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۵\۲۵۲، رقم: ۶۵۵۷.

===========

بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ

(د غصې او تکبر بيان)

د غضب معنی د غصې کولو ده، او په حقيقت کي غضب يا غصه هغه طبعي کيفيت او حالت ته وايي چي د طبيعت او مزاج خلاف پيښېدونکې خبره باندي نفس را وپارېږي، او پر بدله اخيستلو باندي اماده سي او ناخوښه شيان او مغضوب عليه ته ميلان کوي چي د هغه څخه بدله واخيستل سي او د طبيعت خلاف راتلونکي صورت حال ليري کړل سي په دې وجه د غصې په حالت کي مخ سور سي او رګونه و پړسېږي همدارنګه د خوشحالۍ په حالت کي هم روح دباندي خوا ته ميلان کوي چي د هغه شي مخته راسي کوم چي د خوشحالۍ باعث جوړ سوی وي نو د غصې يا زياتوب په وخت کي د هلاکت خوف ځکه وي چي پر داسي موقع باندي روح په پوره توګه بالکل راوتل غواړي، ددې پر خلاف د غم يا خوف په حالت کي روح د ننه ځي چي د هغه په وجه مخ ژړ سي او بدن کمزوری سي په دغه حالت کي هم د هلاکت بېره وي ځکه چي روح پوره د ننه وي او مطلق يخ سي ددې څخه دا خبره څرګندېږي چي الله تعالی ته د غضب او غصې نسبت کول لکه څرنګه چي په يو ځای کي فرمايل سوي دي: (من لم يسال الله يغضب عليه) يعني کوم څوک چي د الله تعالی په وړاندي سوال نه کوي نو الله تعالی پر هغه په غصه کيږي، دغه ويل مجاز دی، د الله تعالی د غصه کېدو مطلب دادی چي د هغه بنده څخه ناراض کيږي او د هغه سره هغه معامله کوي لکه څرنګه چي يې يو پاچا د غصې په وخت کي د خپل رعيت سره کوي، يعني سزا ورکوي او عذاب پر نازلوي، د غضب ضد حلم دی او حلم په اصل کي د نفس او طبيعت د هغه سکون او استقلال نوم دی چي غوره شی ته نژدې د رسېدو او دغه مقصد او مراد د مخته اېښودو په وخت کي هم انسان نه بې قراره کيږي لکه څرنګه چي د وفد عبدالقيس سردار حضرت منذر رضي الله عنه په اړه دا روايت نقل سوی دی چي کله هغه د خپل وفد سره مدينې منورې ته راورسېدی نو د رسول الله ﷺ په لېدو سره يې د هغه اضطراب او بې قرارۍ اظهار ونه کړ لکه څرنګه چي د هغه د قوم نورو خلکو ظاهر کړه او ځکه نو رسول الله ﷺ هغه د حلم او وقار په ښېګڼو سره موصوف وګرځوی.

څرګنده دې وي چي د غضب او غصې هيڅ داسي خصلت نسته چي هغه ته بذات خود بد وويل سي بلکه په هغه کي خرابي هغه وخت راځي کله چي د هغه په وجه د حق لاره پرېښودل سي

او د شريعت د احكام پابندي ترک کړي نو کوم غضب او غصه چې د حق لپاره وي او دحق په لاره کې هغه ته محمود او مستحسن ويل کيږي، همدا وجه ده چې د طريقت او سلوک په لاره کې د رياضت او مجاهدې مقصد مطلق غضب او غصه ختمول نه وي بلکه هغه په واک کې ساتل او دحق تابع کول وي، او هسې هم قدرت ، غضب يو داسې قوت جوړ کړی دی چې د بدني نظام برقرار ساتلو ذريعه او د بقاء حيات سبب دی ځکه چې دغه قوت غضبيه وي چې مضرات او موذيات ځخه يې ساتي ، نباتات او جمادات نيست و نابود کولو باندې هر څوک ځکه قادر کيږي چې حق تعالی دغه دواړه د قوت غضبيه ځخه محروم کړي دي ، ددې پر خلاف حکمت كامله الهي په حيوانانو کې نه يوازې دا چې قوت غضبيه پيدا کړی دی بلکه د هغوئ ځيني بدني برخي يې د داسې آلاتو او وسائلو په توګه جوړ کړه چې په هغه سره تاوان او تکليف رسونکو ځخه د خپل ځانه دفاع وکړل سي لکه ښکر ، غاښ او داسې نور، په انسان کې که ځه هم دغه شيان نسته مګر هغه ته يې هغه عقل او تدبير ښودلی دی چې د هغه په ذريعه هغه د ضرورت او حالت مطابق داسې آلات او سامان جوړولای سي چې هغه د تاوان او تکليف رسونکو ځخه خوندي ساتل کيږي .

د کبر اصل معنی د لويي ده مګر دلته هغه کبر مراد دی چې د عجب يعني خود بيني او خود ستايي په نتيجه کې پيدا کيږي او خپل ځان په دې توګه لوی ګڼل او لوی ظاهرول چې دهغه په سبب پر خلکو فوقيت او غوره والی مقصود وي ، د حق قبلولو او د حق فرمانبرداری ځخه انکار کول او سرکښي ښکاره کولو ته تکبر او استکبار ويل کيږي، ځرګنده دې وي چې کبر او تکبر په هغه صورت کې بد دی کله چې هغه د واقعيت خلاف وي يعني که چيري يو څوک په خپل ذات کې د داسې اوصافو ، فضائلو او کمالاتو دعوه وکړي چې د هغه ځخه په حقيقت کې هغه خالي وي او په مصنوعي توګه خپل ځان په هغه فضائلو او کمالاتو سره متصف ظاهروي نو داسې کول به بد وي او که د يو سړي په ذات کې په حقيقت کې داسې فضائل او کمالات وي چې د هغه په وجه هغه خپل ځان د نورو ځخه غوره او لوړ ګڼي نو دا به بد نه وي او دا خبره هم بايد په ذهن کې وي چې د تکبر په مقابله کې تواضع ده چې د کبر او صغر په منځ کې د توسط او اعتدال لار ده ، کبر دا دی چې يو سړی د هغه اوصافو او فضائلو ځخه هم زياته دعوه وکړي کوم چې په ځان کې يې لري او صغر دا دی چې د خپل اصل مقام ځخه هم لاندې ولويږي او هغه چې د کوم شي دعوه په حقيقت کې لري هغه هم ترک کړي او ددغه دواړو په منځ کې تواضع ده چې د توسط او اعتدال مقام دی يعني نه خو ځان د هغه ځخه زيات لوی ګڼي او نه د حد ځخه لاندې

يې غورځوي بلکه په منځ کي يې ساتي ځکه چي د هر شي او هر حالت په ډول په دغه معامله کي هم اصل کمال توسط او اعتدال دی که څه هم د مشائخو او صوفيانو معمول دا راغلی دی چي کله به هغوئ په خپل نفس کي د تکبر غلبه ولېدل نو د هغه په زائلولو کي به يې دومره مبالغه کول چي د تواضع پر ځای به يې د صغر مقام اختيارولو هڅه کول چي نفس آخر الامر د تواضع پر مقام ودرېږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د غصې څخه پرهېز

﴿۴۸۸۷﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصِنِي قَالَ لَا تَغْضَبْ فَرَدَّدَ ذَالِكَ مِرَارًا قَالَ لَا تَغْضَبْ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړي نبي کريم ﷺ ته وويل: چي ما ته يو څه نصيحت وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: غصه مه کوه، هغه څو واره دغه وويل او رسول الله ﷺ هر وار په جواب کي دغه ويل چي غصه مه کوه. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱/ ۵۱۹، رقم: ۶۱۱۶.

تشريح: په هغه سړي کي د غصې ماده زياته وه، ځکه هغه چي څومره واره خواست وکړ چي ما ته نصيحت وفرمايه نو رسول الله ﷺ دغه جواب ورکړ چي غصه مه کوه، د رسول الله ﷺ معمول دا وو چي سوال کونکی به د کوم حالت او کيفيت حامل وو هغه ته به يې جواب د هغه حالت او کيفيت مطابق ورکوی او د هري ناروغۍ علاج به يې د هغه د احوالو په مناسبت سره کوی ځکه رسول الله ﷺ د هغه سړي په حق کي د غصې څخه د پرهېز حکم په وار وار ظاهرول مناسب وګڼل.

ځيني محققين وايي چي د غضب او غصې کيفيت په اصل کي د شيطاني وسوسو څخه پيدا کيږي چي د هغه په سبب انسان په ظاهر کي هم او په باطن کي هم د اعتدال د لاري څخه تيريږي او د شيطان په جال کي مونښلي، په دغه حالت کي هغه يوازي دا نه چي پالتو ويل پيل کړي او داسي افعال او حرکات کوي چي په شرعي توګه هم او په اخلاقي توګه هم ډېر خراب او نامناسب وي، بلکه په زړه کي کينه او بغض هم لري، ددې څخه پرته داسي نور ډېر شيان هم د هغه څخه صادريږي چي د بدو اخلاقو نښي وي او ډېر واره غصه کونکی سړی تر دغه درجې پوري مغلوب الغضب کيږي چي د هغه څخه کفر کيږي، د دغه حقيقت څخه دا خبره هم څرګنده

سوه چي غضب او غصه انسان د دين او دنيا په سخت تاوان كي اخته كوي ځكه رسول الله ﷺ د ذكر سوي سړي په وار وار عرض كولو سربېره يو نصيحت ورته وكړ چي غصه مه كوه او هر وار يې ددې تاكيد وفرمايه، رسول الله ﷺ هغه ته دغه تعليم وفرمايه چي د غصې تعلق د بدو اخلاقو سره دى او بد اخلاقي محض يوه خرابي نه ده بلكه ددې په وجه نوري ډېري خرابۍ پيدا كيږي او ډېر تاوانونه رامنځته كوي نو د غصې څخه په پرهېز كولو سره ښه اخلاق اختيار كړئ چي د دين او دنيا د سعادتونو ضامن دي.

په دې خبره هم بايد پوه سو چي شريعت د غصې علاج هم تجويز كړى دى چي د علم او عمل يا ظاهر او باطن مركب دى كه چيري داسي صورت رامنځته سي چي د غصې سبب وي نو په دغه صورت كي علمي يا باطني او قلبي علاج دادى چي په زړه كي دا تصور وكړي او په دې يقين ولري چي هيڅ كار د الله تعالى د ارادې او تقدير څخه پرته نه كيږي، هر څه چي كيږي د الله تعالى له خوا كيږي، ګڼه او تاوان ټول د هغه په اختيار كي دي، انسان خو په ظاهره يوه آله ده نو د چا له لوري چي يو تاوان او تكليف ورسيږي پر هغه غصه كېدل داسي دي لكه يو څوك چي پر چاقو يا چاړه باندي غصه كوي چي هغه ولي پرېكړ، ددې څخه پرته خپل نفس دې په دې پوه كړي چي الله تعالى څومره قادر دى د هغه غضب څومره سخت دى مګر ددې سربېره هغه معافي كوي، بندګان د هغه څومره مخالفت كوي او د هغه د احكامو څومره سركښي اختياروي مګر پر هغوئ خپل غضب نه نازلوي نو بيا ته د كوم ځاى څخه راغلى يې چي پر پزه مچ هم نه پرېږدې، دوهم علاج چي علمي يا ظاهري دى هغه دادى چي سمدستي اودس وكړي او اعوذ بالله ويل پيل كړي چي د اوبو يخوالى د غصې حرارت دفع كوي او نفس بلي خواته بوخت سي.

﴿۴۸۷۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پهلوان او طاقتور هغه كس نه دئ چي خلك راغوزار كړي بلكه قوي او پهلوان هغه دئ چي د غصې په وخت كي پر خپل ځان واك تر لاسه كړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۱۸، رقم: ۶۱۱۴، ومسلم ۴\۲۰۱۴، رقم: ۱۰۷-۲۶۰۹.

تشريح: ددغه ارشاد بنياد پر دا حقيقت دى كه چيري په اصل كي يو شى د انسان تر ټولو لوى

دښمن او د هغه په مقابله کي تر ټولو زيات طاقتور وي نو هغه خپله د هغه نفس دی، که چيري يو سړی لوی لوی پهلوانان راغوزاروي او خپل طاقتور دښمن لاندي کوي مګر پر خپل نفس باندي غالب کيدای نسي نو دا هيڅ کمال نه دی، اصل کمال دا دی چي انسان خپل نفس لاندي کړي چي دهغه اصل دښمن دی لکه چي فرمايل سوي دي: (اعدی عدوک التي بين جنبيک) ستا په دښمنانو کي تر ټولو لوی دښمن هغه دی کوم چي ستا د دوو اړخونو په منځ کي دی.

څرګنده دي وي چي د بدن قوت ظاهري او جسماني دی چي زوال کېدونکی او فنا کېدونکی دی ددې پر خلاف چي کوم قوت نفس لاندي کوي هغه ديني او روحاني دی چي د الله تعالی له لوري ورکول کيږي او تل باقي وي نو نفس وژل د وصف او کمال خبره ده حال دا چي د انسان لاندي کول هيڅ حقيقت نه لري.

مردي نه بقوت بازدست و زور کتف — بانفس اکر برائي دانم که شاطري

جنتي او دوږخي خلک څوک دي؟

﴿۴۸۷۹﴾: وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهَبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا

د حضرت حارثة بن وهب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه

أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ أَلَا

تاسو ته هغه خلک و نه ښيم چي جنتي دي؟ هر هغه کس چي ضعيف او کمزوری دئ او خلک يې ضعيف او کمزوری ګڼي (او پر هغه جبر او زياتي کوي) که هغه په الله جل جلاله قسم وخوري نو الله تعالی د هغه ريښتني کوي، او رسول الله ﷺ وفرمايل:

أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ. متفق عليه و في رواية لمسلم كل جواظ زنيم متكبر.

زه تاسو ته هغه خلک و ښيم چي دوږخيان دي، هر هغه کس چي په درواغ او پالتو خبره باندي سخته جګړه کوي، سخت مزاج، مال جمع کونکی، بخيل او تکبر کونکی وي، بخاري او مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي دوږخي دئ هر هغه څوک چي مال جمع کونکی حرامزاده او تکبر کونکی وي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸\ ۶۶۲، رقم: ۴۹۱۸، ومسلم ۱۴\ ۲۱۹۰، رقم: ۴۶- ۲۸۵۳

د لغاتو حل: جواظ: قيل السمين من التنعم وقيل الفاجر.

تشريح: په حديث کې د ضعيف څخه مراد هغه سړی دی چې نه خو متکبر وي او نه پر خلکو زور کونکی وي،

د متضعف په لفظ کې د عين زور مشهور دی او په ترجمه کې همدغه ملحوظ سوی دی، مګر ځيني حضرات يې د عين په زبر سره وايي په دغه صورت کې به ددغه لفظ معنی د متواضع، کمتر او نوم ورکي وي.

هر ضعيف جنتي دی: مطلب دا دی چې په جنت کې د کومو خلکو اکثريت وي هغه به دغه خلک وي، همدارنګه د بل ډول خلکو يعني چې هغوئ ته دوږخيانِ ويل سوي دي د هغو څخه هم دا مراد دی چې د دوږخيانو اکثريت به دغه خلک وي.

علماؤ د: (لو اقسم على الله) دا معنی بيان کړې ده چې که چيري هغه سړی د الله تعالی په لطف او کرم باندي په باور کولو سره د يو کار کولو يا نه کولو قسم وکړي نو الله تعالی هغه رښتونی کوي او د هغه باور پوره کوي يعني دهغه قسم نه ماتيږي بلکه پوره کيږي، دوهم دا که چيري هغه سړی د خپل پروردګار څخه د يو شي غوښتونکی وي او هغه ته په قسم ورکولو سره د خپل مراد پوره کولو دعاء کوي نو پروردګار د هغه د قسم لحاظ ساتي او دهغه مراد پوره کوي، دريم دا که چيري يو سړی د يو کار په باره کې په قسم کولو سره ووايي چې الله تعالی به دا کار وکړي يا دا به کار ونه کړي نو الله تعالی د هغه قسم رښتيا کوي يعني داسي کوي چې دهغه د قسم مطابق وي.

(زنيم): معنی بد، د زنيم اطلاق پر هغه چا کيږي چې خپل ځان يو داسي قوم يا ډلي ته منسوب کړي چې په حقيقت کې د هغه سره تعلق نه لري ځکه د زنيم معنی د ارموني کيږي، د عُتل او زنيم الفاظ په قرآن کريم کې هم راغلي دي او په ذکر سوې معنی کې ددغه الفاظو اطلاق پر وليد بن مغيره سوی دی چې د مکې په کفارو کې ډېر بد او د اسلام او پيغمبر سخت دښمن وو.

متکبر به دوږخ ته ځي

﴿۴۸۸۰﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ من خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ وَلَا يَدْخُلُ

الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ من خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ. رواه مسلم.

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د چا په زړه کي چي يوه ذره ايمان هم وي نو هغه به د همېشه لپاره په دوږخ کي نه وي او د چا په زړه کي چي يوه ذره تکبر وي هغه به جنت ته نه ځي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۹۳، رقم: ۱۴۸-۹۱.

تشريح: د ايمان څخه مراد اصل ايمان نه دی بلکه د ايمان ثمرات مراد دي چي په فضائلو او اخلاقو سره تعبير کيږي، که د هغه تعلق د ظاهر سره وي يا د باطن سره وي چي د نور ايمان او ظهور ايقان څخه صادريږي، او کوم چي د اصلي ايمان تعلق دی هغه د تصديق قلبي نوم دی ځکه په هغه کي نه زياتوب کيدای سي او نه کمي، په دې اعتبار هغه په اجزاوو کي ويشل کيدای نسي مګر د هغه شعبې او ښاخونه ډېر دي چي د اصل ايمان حقيقت او ماهيت څخه خارج دی لکه لمونځ، روژه، زکوة او داسي نور د اسلام ټول ظاهري احکام، لکه تواضع، ترحم او همدارنګه هغه ټول شيان چي د باطني اوصافو او خصائلو درجه لري. نو په دغه حديث کي فرمايل سوي دي چي: الايمان بضع و سبعون شعبة: يعني د ايمان څه باندي اوويا څانګي دي، ظاهره ده چي د ښاخونو او د هغه د اصل په منځ کي دومره ژور او نژدې تعلق دی چي ددواړو لپاره د لازم او ملزوم درجه لري مګر ددې سربېره د حقيقت او ماهيت په اعتبار هيڅ ښاخ د خپل اصل برابر کېدای نسي، همدارنګه اصل ايمان يو بېل شی دی او د اسلام ټول ظاهري احکام او باطني اخلاق او خصائل بېل حيثيت لري چي هغه د اصل ايمان حقيقت او ماهيت کي شامليدای نسي، د رسول الله ﷺ دغه ارشاد: الحياء شعبة من الايمان: حياء د ايمان يو ښاخ دی، د ذکر سوي قول دليل دی ځکه چي د ټولو علماؤ پر دې اتفاق دی چي حياء د ايمان په مفهوم کي داخله نه ده.

د حديث د دوهمي برخي مطلب دا دی چي يو سړي به تر هغه وخته پوري په جنت کي نه داخليږي تر څو چي د هغه په عمل نامه کي د تکبر ګناه موجود وي مګر کله چي هغه د تکبر او نورو خرابو خصلتونو څخه پاک سي نو هغه وخت به په جنت کي داخل کړل سي او دغه پاکي يا خو په هغه صورت کي تر لاسه کيږي چي الله تعالی هغه په عذاب کي اخته کړي او هغه عذاب د هغه ګناه پرېولي، يا الله تعالی په خپل رحمت سره هغه معاف کړي او هغه معافي د هغه ګناه ختم کړي، خطابي رحمه الله ليکلي دي: د حديث ددغه برخي دوه تاويلونه دي، يو دا چي د کبر څخه

کفر او شرک مراد دی او څرګنده ده چي د کفر او شرک پر کونکي باندي د جنت دروازې د تل لپاره بندي وي، دوهم تاویل دادی چي د کبر څخه مراد خپله معنی وي یعني خپل ځان د نورو خلکو څخه غوره او لوړ ګڼل او په غرور کي اخته کېدل، مګر د حدیث مطلب دادی چي متکبر سړی به تر هغه وخته پوري په جنت کي نه داخلیږي تر څو چي د الله تعالی رحمت ورته متوجه نسي کله چي الله تعالی یې په جنت کي داخلول وغواړي نو د هغه د زړه څخه به کبر لیري کړي یا هغه د کبر او د هغه د خیر نتوب څخه په پاکولو سره به یې په جنت کي داخل کړي.

د تکبر حقیقت

﴿۴۸۸۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا په زړه کي چي د

مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ فَقَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ

ذرې برابر تکبر وي هغه به جنت ته نه ځي، یو سړي وویل: هر څوک دا خوښوي چي د هغه ښه

ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنًا قَالَ إِنَّ اللّٰهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ. رواه مسلم.

جامه وي، ښه څپلۍ وي (ایا دا هم تکبر دئ) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل الله تعالی جمیل (ښکلی) دئ او ښکلا خوښوي او تکبر حق باطل کولو او خلک ذلیل او حقیر ګڼلو ته وایي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱۱/۹۳۱، رقم: ۱۴۷ - ۹۱.

د لغاتو حل: غمط: ای استحقار الخلق.

تشریح: د ذرې څخه یا خو کوچنی مېږی مراد دی چي د هغه په باره کي ویل کیږي چي داسي سل مېږیان په یو ځای کېدو سره د یوې اوربشي د وزن برابر وي، یا هغه رېزه او غبار مراد دی چي په هواء کي باریک معلومیږي او د رڼا په وخت کي ځلیږي.

یو سړي وویل: په دې اړه مختلف قولونه دي چي د یو سړي څخه کوم صحابي مراد دی، ځیني حضرات وایي چي هغه وخت کوم صحابي خبره کړې وه هغه حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه وو، ځیني حضرات عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه او ځیني حضراتو د ربیعه بن عامر رضي الله عنه نوم ذکر

کړی دی.

یو څوک دا خوښوي ...الخ: هغه صحابي چي دا سوال وکړ نو د هغه یو مطلب وو، هغه دا کتل چي کوم خلک غرور او تکبر کوي او د ځان څخه پرته هر څوک ذلیل او سپک ګڼي د هغه پر بدن غوره جامه وي د هغه په پښو کي غوره څپلۍ وي او د هغه جامې او نور شیان د اعلی درجې وي، کله چي هغه د رسول الله ﷺ ذکر سوی ارشاد واورېدی نو هغه ته ګمان وسو چي دغه شیانو خو د تکبر د نښو څخه نه دي په اعلی درجه جامو او څپلیو خو تکبر نه پیدا کیږي،

نو هغه پوښتنه وکړه که چیري یو سړی محض د خپل ذاتي خواهش او خوښي په وجه او د استطاعت پر بنا ښه ښه کالي اغوندي او اعلی درجه څپلۍ په پښو کوي او دده په خیال کي دا نه وي چي پر نورو باندي د خپل امارت او لوړوالي رعب واچوي، خلک ذلیل او سپک ګڼي او کبر کوي او د هغه سړي د دغه نیت علامه دا وي چي هغه څرنګه د خلکو په مخکي ښه جامې او نور شیان استعمالول خوښوي همدارنګه یوازي هم دغه شیان خوښوي نو ایا پر داسي سړي باندي هم د تکبر اطلاق کیږي؟ رسول الله ﷺ د خپل ذکر سوي جواب په ذریعه څرګنده کړه چي پر داسي سړي باندي د تکبر اطلاق نه کیږي بلکه د هغه ښه جامه اغوستل او ښه څپلۍ په پښو کول د هغه د تهذیب او ښکلا او د هغه د خوښي علامه ده چي د هغه څخه شریعت منع نه ده کړې، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د کبر حقیقت بیان کړ چي کوم کبر بد ګرځول سوی دی هغه په اصل کي د هغه کیفیت او حالت نوم دی چي انسان د حق لاري څخه واړوي یعني د توحید او عبادت الهي څخه یې بې پروا کړي د حق او صداقت څخه یې سرکښه کړي، حقیقت ته د رسېدو څخه یې منع کړي او د رښتیا قبلولو څخه یې منع کړي او مخلوق ذلیل ګڼي، ځینو حضراتو د بطر الحق معنی د جمال حق لیکلې ده.

الله جَلَّ جَلَالُهُ جمیل دی: مطلب دادی چي هغه په خپل ذات او صفاتو کي او په خپل افعالو او قدرت کي په اوصاف کامله سره موصوف دی او ټول ظاهري او باطني حسن د جمال د هغه د جمال عکس دی او جمال او جلال د هغه د پاک ذات خاصه ده، ځینو حضراتو د جمیل معنی د جمال بخښونکي بیان کړې ده، ځینو ویلي دي چي د جمیل معنی په اصل کي د جلیل ده، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي هغه د ټول نور مالک دی او ځینو حضراتو دا معنی هم بیان کړې ده چي هغه د خپلو بندګانو ښه کارساز دی.

درې لوې دوږخيان

﴿۴۸۸۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې کسان دي چي د

يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وفي رواية وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ شَيْخٌ زَانٍ وَمَلِكٌ كَذَّابٌ وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ. رواه مسلم.

هغوئ سره به الله تعالى د قيامت په ورځ نه خبره وکړي او نه به يې د ګناهونو څخه پاک کړي، او په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي چي نه به هغوئ ته وګوري او د هغوئ لپاره به دردناک عذاب وي: يو زنا کونکی سپين ږيری، دويم دروغجن پاچا او دريم غريب کبرجن. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱/۱۰۲، رقم: ۱۷۲-۱۰۷.

تشريح: د قيامت د ورځي څخه مراد د حشر ميدان دی، کله چي د الله تعالى د فضل، عدل، غضب، ناراضګی او رضا ظهور وي او د جنتيانو او دوږخيانو په اړه فيصلې کيږي.

(ولا يزکيهم) ددې يوه معنی هغه ده چي په ژباړه کي بيان سوې ده، کله چي الله تعالى د حشر په ميدان کي د خپل ټول مخلوقاتو په مخکي د خپل مؤمن او نېکو بندګانو تعريف کوي نو هغه وخت به دغه درې ډوله خلک د هغه تعريف څخه خارج کړل سي، او يوه معنی دا ده چي الله تعالى به دغه درې ډوله خلک د خپلي عفوې او بخښني په ذريعه د ګناهو څخه پاک نه کړي، (ولهم عذاب اليم) په دې اړه دوه احتماله دي، يا خو دغه جمله د دوهم روايت تتمه ده يا ددې تعلق د اصل حديث سره دی، او دغه دوهم احتمال زيات قوي او د باور وړ دی، خلاصه دا چي ذکر سوې خبري په اصل کي د الله تعالى د غضب او کبر او د هغه د ناراضګی څخه کنايه دي ځکه چي د يو سړي څخه ناراض او خفه وي نو هغه ته نه نظر کوي او نه د هغه تعريف کوي بلکه هغه په سزا او تنګي کي اخته کوي.

په حديث کي چي د کومو درو خرابيو په اړه وعيد بيان سوی دی هغه په هر حال کي بد او د عذاب وړ دي، که ددغه خرابيو کونکی د کومي درجي او د کوم حيثيت او د کوم عمر سړی وي مګر دلته ددغه خرابيو تعلق چي د کومو کسانو سره ذکر سوی دی د هغه په اعتبار ددغه خرابيو سختوالی زيات دی د مثال په توګه زنا يو ډېر خراب کار دی او کله چي دغه کار د هغوئ په حق کي هم ډېره لويه ګناه ده چي په طبعي توګه سره معذور هم وي نو د سپين ږيري په حق کي دغه

فعل زيات خراب دی ځکه چي هغه نه خو په طبعي توګه سره ددې احتياج لري او نه د هغه په طبيعت جنسي خواهش او د قوت مردي هغه غلبه وي چي ډېر واره ئې د عقل او شعور څخه بېګانه او د الله تعالى د ييري څخه غافل کوي، نو کوم سپين ږيری چي زنا کوي هغه ګويا پر خپلي زياتي بې حيايي او خبث طبيعت باندي دلالت کوي،

همدارنګه درواغ ويل د هر چا په اړه بد دي مګر د پاچا په حق کي ډېر زيات بد دي ځکه چي پر هغه د هيواد د انتظام او د رعيت د مصالحو او ساتني ذمه داري وي د هغه يو ادنى حکم د ټول هيواد پر نظم باندي اثر کوي که هغه درواغ وايي نو د هغه ددغه خرابۍ په وجه به ټول هيواد او د هيواد ټول خلک په مختلف ډول خرابيو او پرېشانيو کي اخته کيږي ، ددې څخه پرته کوم خلک چي درواغ وايي هغوئ په عامه توګه ددغه خرابۍ کول د خپلي يو ګټي تر لاسه کولو يا د يو تاوان د دفع لپاره کوي حال دا چي يو پاچا يا حاکم دغه مقصد په تر لاسه کولو بېله درواغ ويلو هم قادر دی نو دهغه درواغ ويل نه يوازي بې ګټي بلکه ډېر بد دي ، پر دې باندي تکبر هم قياس کيدای سي چي کوم شيان په عامه توګه انسان په غرور او تکبر کي اخته کوي لکه مال او دولت او داسي نور نو که هغه په يو سړي کي تر لاسه سي او هغه د هغه شيانو په وجه تکبر کوي که څه هم هغه سړي ته به هم بد وايو مګر د هغه تکبر کول به يو ډول په پوهه او فکر کي راتلونکې خبره وي ددې پر خلاف که چيري يو فقير او مفلس سړی تکبر کوي چي نه مال او دولت لري او نه عزت وغيره لري نو دهغه دغه فعل به ډېر خراب وي او دهغه په اړه ددې څخه پرته نور څه ويل کيدای سي چي هغه خبث باطن او د طبيعت په خرابۍ کي اخته دی.

ځينو حضراتو په (عائل مستکبر) کي د عائل لفظ څخه عيالدار مراد اخيستی دی يعني کوم خلک چي کوچنيان لري او دخپل خراب حالۍ په وجه د خپل متعلقينو د ژوند اړتياوو پر پوره کولو باندي قادر نه وي مګر ددې سربېره د تکبر له موخي د صدقې او زکوة مال قبلولو ته نه تياريږي ، د خلکو تواضع او مرسته نه قبلوي او همدارنګه هغه د خپل بچيانو د اړتياوو څخه په بې پرواه کېدو هغوئ په تکليف او هلاکت کي اچوي، نو داسي خلک په حديث کي د مذکوره وعيد مورد دي ، ځرګنده دي وي چي د الله تعالى پر ذات باندي توکل او باور او د غيرت سره سم خپل حالت پټول او دخلکو په مخکي د لاس غزولو څخه شرم او حياء کول يو بېل شی دی مګر د سختي اړتيا او احتياج سربېره کبر اختيارول او دتکبر له موخي د خلکو احسان نه قبلول يو داسي کار دی چي ډېر بد ګرځول سوی دی.

د شيخ زان په باره کي هم ځينو حضراتو ويلي دي چي دلته د شيخ څخه مراد محض واده

سوی سړی هم کیدای سي ، که هغه سپین ږیری وي او که ځوان وي، لکه څرنګه چي په دغه منسوخ التلاوت آیت : (الشیخ والشیخة اذا زنیا فارجموهما نکالا من الله والله عزیز حکیم) کي د شیخ څخه مراد واده سوی سړی دی نو د داسي سړي په حق کي د زنا زیات بد کېدل شرعا هم او عرفا هم بالکل څرګنده خبره ده ځکه د داسي سړي په ډبرو وېشتلو سره وژل واجب دي، همدارنګه د ملک کذاب په باره کي هم ویل کیږي چي دلته دملک څخه مراد غني او شتمن سړی هم کیدای سي نو د یو مفلس او غریب سړي درواغ ویل خو په یوه درجه کي معلومه خبره ده ځکه چي هغه دخپل مفلسۍ په وجه ډېر واره پر درواغ ویلو مجبور کیږي مګر غني او شتمن سړی د خپل مال او دولت په وجه داسي هیڅ اړتیا نه لري او هغه درواغ ویلو پرته هم خپل مقصد پوره کولای سي نو درواغ ویل د هغه په حق کي زیات خراب دي ،

د عائل مستکبر په باره کي هم یو قول دی چي دلته د عائل څخه یعني مفلس څخه مراد هغه سړی دی چي د فقیرانو او مسکینانو سره تکبر کوي نو د فقیرانو او مسکینانو سره تکبر کول ډېره بده خبره ده حال دا چي د مغرور شتمن سره په تکبر کولو کي څه حرج نسته ، ددغه جملې په باره کي هم صحیح خبره داده چي دلته د مفلس څخه مراد هغه سړی دی چي په کسب او مشقت کولو سره دخپل ځان او کورنۍ پر نس مړولو باندي قادر وي مګر ددې سربېره هغه د کبر او غرور له موخي کسب او ګټي د خپل شان بې عزتي ګڼي لکه څرنګه چي نن سبا په عامه توګه لیدل کیږي چي ښه تکړه او ټېنګ خلک په کار کولو او مزدوري کولو کي د ځان سپکتیا ګڼي، په دې کي شک نسته چي د داسي خلکو دغه طریقه یقینا د تکبر په معنی کي ده او دغه تکبر د شمتنو د تکبر څخه ډېر زیات خراب دی ځکه چي ددې بنیاد کبر، غرور او بې ځایه شان ښودل دي او دخپلي کورنۍ په تکلیف کي اخته کول دي ، په خاصه توګه په هغه صورت کي ددغه تکبر خرابي ډېره زیاته ده کله چي داسي سړی د خپل لاس په ذریعه خپل او د خپلي کورنۍ د رزق تر لاسه کولو پر ځای د پور جامې اغوندي او خپل ځان د دینداره او بزرګانو په شان جوړولو سره د ګوډ او شل په ډول کښیني او په ساده مسلمانانو باندي د خپل مصنوعي بزرګۍ رعب څرګندوي او د هغوئ پر اوږو بار ګرځي .

تکبر کول لکه شرک

﴿۴۸۸۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِيْ وَالْعَظْمَةُ إِزَارِيْ فَمَنْ نَازَعَنِيْ وَاحِدًا مِّنْهُمَا أَدْخَلْتُهُ النَّارَ . وفي

روايةٍ قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي : بزرګي زما څادر دی او عظمت زما ازار دئ نو څوک چي په دغه دوو کي يو شی زما څخه اخلي (يعني د ذات او صفات په اعتبار تکبر وکړي) زه به هغه د دوزخ په اور کي وغورځوم او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي زه به هغه د دوزخ اور ته وغورځوم. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۰۲۳، رقم: ۱۳۶- ۲۶۲۰.

تشريح: زما څادر او لونګ، دغه دواړه الفاظ الله تعالى د مثال په توګه فرمايلي دي او د دغه مثال مقصد دا څرګندول دي دغه دواړه صفتونه يعني لويي او عظمت يوازي زما د ذات سره تعلق لري چي په هغه کي هيڅوک زما برابر او شريک نسي کيدای لکه څرنګه چي د چا په جامه کي بل څوک نسي شريک کېدای، د الله تعالى ځيني صفات داسي دي چي په هغو کي څه برخه بندګانو ته هم ورکړل سوې ده او بنده مجازا په هغه صفاتو سره موصوف کيږي لکه جود، کرم، مهرباني او داسي نور، مګر ځيني صفات دي چي هغه يوازي د الله تعالى د ذات لپاره مخصوص دي او په هغه سره هيڅ يو بنده خپل ځان مجازا هم نسي موصوف کولای، دغه حقيقت د مثال په توګه بيان سوی دی لکه څرنګه چي يو سړی هغه جامې نسي اغوستلای کوم چي د بل چا پر بدن وي همدارنګه د کبريايي او حقيقي عظمت هيڅ بنده دعوه نسي کولای ځکه چي دغه دواړه صفتونه يوازي زما د ذات لپاره مناسب او مخصوص دي.

کبرياء او عظمت: دغه دواړه الفاظ په لغت کي يوه معنی لري يعني برزګي او لويي، مګر د حديث د ظاهري طرز څخه ددغه دواړو په منځ کي فرق معلوميږي چي يوه ته د څادر سره تشبيه ورکړل سوې ده او بل ته د لونګ سره، نو د دغه فرق مخته په ايښودو سره ځينو حضراتو ويلي دي چي کبرياء صفت ذاتي دی يعني د الله تعالى ذات کبير او متکبر دی که څه هم بل څوک دغه حقيقت و پيژني يا يې نه و پيژني، او د عظمت لفظ د الله تعالى هغه لويي بيانوي چي د هغه ظهور د هغه پر غير هم کيږي چي ټول مخلوق يې پيژني چي هغه داسي لوی دی نو دغه عظمت د الله تعالى صفت اضافي سو او ددغه ذاتي صفت د اضافي صفت څخه اعلى کېدل ضروري وي نو کبرياء ته په څادر سره تشبيه ورکړل سوه ځکه چي څادر تر لونګ اعلى وي او عظمت ته په لونګ سره تشبيه ورکړل سوې ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

تکبر نفس ته دوکه

﴿۴۸۸۴﴾: عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ حَتّٰى يُكْتَبَ فِي الْجَبَّارِينَ فَيُصِيبُهُ مَا أَصَابَهُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: یو کس چي همېشه ځان بزرگ او برتر ګڼي او د خلکو څخه لیري اوسي تر څو چي د هغه نوم په متکبرانو او سرکښانو کي لیکل کیږي او بیا (په نیا او آخرت کي) کوم مصیبت چي پر سرکښانو باندي راځي هغه ورته رسیږي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۱۸، رقم: ۲۰۰۰

تشریح: په (بنفسه) کي که چیري د باء حرف د تعدیه لپاره وي نو معنی به دا وي چي هغه خپل نفس پورته کوي او د ځان په لوړ مرتبه ګڼلو سره د خلکو څخه لیري او سیږي او خپل ځان د بل چا په مقابله کي بزرگ او لوړ ګڼي او که چیري د باء حرف د مصاحبت لپاره وي نو دا معنی به وي چي هغه د خپل نفس په دوکه کي په اخته کېدو سره کبر او غرور ته ور مخته کیږي، هغه ته عزت ورکوي او د هغه تعظیم کوي لکه څرنګه چي یو دوست د دوست تعظیم کوي تر دې چي هغه متکبر او مغرور سي.

د حدیث خلاصه داده چي کله یو څوک د خپل نفس په دوکه کي په لوېدو سره د خودبینۍ ښکار سي نو خپل ځان د خپلي اصلي مرتبې او مقام څخه په پورته کولو سره لوی مرتبې او مقام ته د رسېدو هڅه کوي، تر دې چي په تکبر او سرکښۍ کي په پوره توګه اخته سي او د هغه لپاره د دنیا او آخرت عذاب مقدر کیږي کوم چي د سرکښانو لپاره مخصوص دی.

د متکبر انجام

﴿۴۸۸۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

حضرت عمرو بن شعیب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ قَالَ يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ أَمْثَالَ الذَّرِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ

وفرمايل : د قيامت په ورځ به تكبر كونكي د خلكو په صورت كي د كوچني ميږيانو په ډول راجمع كړل سي (يعني د هغوئ شكل به د خلكو په ډول مگر په بدن كي به د ميږيانو په ډول وي)

الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ فَيُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ فِي جَهَنَّمَ يُسَمَّى بُولَسَ تَعْلُوهُمْ نَارُ

او ذلت او خواري به د ټولو خوا وو څخه را ګير كړي وي او هغوئ به د جهنم د يوې بندي خانې په لور چي د هغې نوم بولس دي وشړل سي د هغوئ سر بيره به د اورونو

الْأَنْيَارِ يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِينَةَ الْخَبَالِ. رواه الترمذي.

او روي او پر هغوئ به د دوږخيانو وينه او نو وچښل سي چي د هغه نوم طينة الخبال دئ. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۶۵، رقم: ۲۴۹۲.

د لغاتو حل: الذر: اى في الصغر والحقارة (سپكاوى). الانيار: اى نار النيران. ألخبال: الفساد.

تشريح: د كوچنيو ميږيانو په ډول: د اصل مفهوم په اړه د علماؤ اختلاف دى، ځيني حضرات وايي چي د ميږيانو تشبيه وركول په اصل كي كنايه ده چي تكبر كونكي خلك به د قيامت په ورځ د حشر په ميدان كي د ډېر ذلت او خوارى په حالت كي وي او ګويا هغوئ به د خلكو تر پښو لاندي داسي وي لكه څرنگه چي ميږيان مېده كيږي،

ددغه حضراتو يو دليل خو دادى چي د قيامت په ورځ به د مخلوق پاڅېدل او دهغوئ د اجسامو دوهم وار جوړېدل د هغه اجزاء اصل سره وي كوم چي هغوئ په دنيا كي درلوده، لكه څرنگه چي دا ثابته ده چي هغه سړى به د حشر په ميدان كي د خپلو اجزاوو او اندامو په پاڅېدو سره راځي چي پر هغه په دنيا كي د هغه بدن مشتمل وو او ظاهره ده چي د مېږي صورت او د هغه بدن د هغه بدن د اجزاوو اصلي حامل كيداى نسي ځكه په حديث كي في الصور الرجال، يعني د سړو په صورت كي الفاظ هم فرمايل سوي دي چي څرګنده سي چي دهغوئ شكل او صورت به د خلكو په ډول وي نه دمېږيانو په ډول او نه يوازي د حديث سياق پر دې دلالت كوي بلكه يغشاهم الذل الفاظ هم ددې قرينه دي چي د مېږيانو په ډول، څخه مراد ذلت او خواري ده نه دا مراد دى چي د هغوئ بدن به دمېږيانو په ډول وي مگر څرنگه چي شيخ عبد الحق محدث دهلوي رحمة الله عليه ليكلي دي : صحيح خبره داده چي حديث پر خپل ظاهري مفهوم باندي محمول دى يعني

تکبر کونکي به په حقیقت کي د مېږیانو په ډول را پورته کیږي مگر د هغوئ شکل او صورت به د سړو په ډول وي او دغه شی قطعاً د قیاس څخه لیري نه دی ځکه چي الله تعالی ته پر دې باندي پوره قدرت حاصل دی چي هغه په قیامت کي هغه اجزاء اصلي چي په هغه سره راپاڅي د یو میږي په صورت کي جمع کړي او هغه ته د میږي د جسم په ورکولو سره د پوره مخلوق په مخکي یې ذلیل او خوار کړي.

ملا علي قاري رحمه الله هم په دې اړه څو قولونه نقل کړي دي او بیا یې توربشتي رحمه الله ته په منسوب کولو سره دا بیان کړی دی چي موږ د دغه حدیث ظاهري معنی ځکه مراد نه اخلو چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: کله چي خلک د قیامت په ورځ په بیا را پاڅېدو سره د حشر میدان ته راسي نو د هغوئ جسم او بدن به د هغوئ پر اجزاوو مشتمل وي کوم چي په دنیا کي د هغوئ جسم وو، تر دې چي د هغوئ خاص اندام (ذکر) د پوست هغه برخه به هم ور سره لگېدلې وي کوم چي د سنت کېدو پر وخت پرې کیږي، یعني ټول خلک ناسنته راپاڅي، نو دا څرنگه ممکن ده چي د یو انسان د بدن ټولي برخي دي تر دې چي نوکان او وېښتان هم د یو میږي په جسد کي جمع سي.

په پای کي ملا علي قاري رحمه الله د توربشتي رحمه الله د ذکر سوي قول د مخالفینو په جواب کي نقل کړي دي او پر هغوئ د شک اظهار کولو سره خپل تحقیق یې دا لیکلی دی چي په دې کي هیڅ شک نسته چي کله خلک د خپلو قبرو څخه راپاڅي او د حشر میدان ته راسي نو هغه وخت به الله تعالی د نورو خلکو په ډول د تکبر کونکو بدن هم دوهم وار جوړ کړي هغوئ به هم خپل ټول اجزاء معدومه سره په خپل پوره بدن کي په را پاڅېدو سره راسي چي د هر یوه دوهم وار جسماني تخلیق قدرت په پوره توگه ثابت سي مگر بیا به دا خلک د حشر په میدان کي په ذکر سوي جسم او صورت بدل کړي یعني د هغوئ بدن بهٔ د مېږیانو په ډول سي او د هغوئ شکل او صورت به د خلکو په ډول ي او د بدن دغه تبدیلي به ځکه وي چي د هغوئ ذلت او هانت د پوره مخلوق په مخکي ظاهر سي، یا دا هم ویل کیږي چي کله مذکوره خلک د حساب کتاب ځای ته راسي او د هغوئ په مخکي د عذاب الهي نښې څرگندي سي نو هغه وخت به د هیبت او دهشت په سبب دومره کم سي چي د هغوئ بدن به د مېږیانو په ډول معلوم سي، او د دوږخیانو د خپل خپل حالاتو او گناهو په اعتبار به مختلف صورتونه لکه سپیان، خنزیران، خرو او د نورو په شکلو کي تبدیل کېدل د مختلفو منقولاتو څخه ثابت دي.

بَولس: د باء په زور، د واو په جزم او د لام په زور سره دی، په قاموس کي لیکلي دي چي

دغه لفظ د باء په پېښ ، د لام په زبر سره دی چې د بلس څخه مشتق دی او د هغه معنی د تحیر او ناامیدۍ وي ، د شیطان نوم ابلیس هم له دغه لفظ څخه مشتق دی.

د اورونو په او رکي: اور ته د اور نسبت داسې دی لکه د اور نسبت یو داسې شي ته چې اور یې سوځي، مطلب دادی چې اور به داسې وي چې هغه به خپله اور د لرګي په ډول سوځي.

په طینة الخبال کې د خبال لفظ د خاء په زور سره دی او لغوي معنی یې د فساد او خرابۍ ده او څرنګه چې د حدیث څخه څرګندیږي چې طینة الخبال د دوږخیانو د عصارې نوم دی او عصاره هغه نو او وینې ته وایي چې د دوږخیانو د زخمو څخه بهیږي.

ناحقه غصه شیطاني اثر دی

﴿۴۸۸۶﴾: وَعَنْ عَطِيَّةَ بْنِ عُرْوَةَ السَّعْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ وَإِنَّ الشَّيْطَانَ خُلِقَ مِنَ النَّارِ وَإِنَّمَا يُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عطیة بن عروة سعدي رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : غصه د شیطان د لوري ده او شیطان د اور څخه پیدا کړل سوی دئ او اور په اوبو سره وژل کیږي هر کله چې په تاسو کې چا ته غصه ورسي نو هغه دې اودس وکړي . ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۱۴۱، رقم: ۴۷۸۴.

تشریح: د یخو اوبو استعمالولو خاصیت دادی چې هغه غصه یخوي ، لکه څرنګه چې د عامي تجربې څخه ثابته ده او د یخو اوبو د استعمالولو غوره صورت اودس کول دي مګر په یخو اوبو څښلو کې هم دا خاصیت دی ، په دغه حدیث کې خو یوازې د اوداسه کولو ذکر دی مګر پکار دي چې کله غصه راسي نو اعوذبالله من الشیطان الرجیم دې ووایي (په یوه حدیث کې دا منقول دي چې په اعوذ باالله ویلو سره غصه ځي) ، بیا چې وګوري چې غصه ختمه سوې نه ده نو ولاړ دې سي او اودس دې وکړي او د الله تعالی لپاره دې دوه رکعته نفل ادا کړي.

د غصې علاج

﴿۴۸۸۷﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ قَائِمٌ فَلْيَجْلِسْ فَإِنْ ذَهَبَ عَنْهُ الْغَضَبُ وَإِلَّا فَلْيَضْطَجِعْ. رواه

احمد والترمذي.

د حضرت ابو ذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو چا ته غصه ورسي نو كه هغه ولاړ وي نو كښيني دي كه غصه يې ولاړه سي نو خير دئ كنه نو بيا دي پريوځي. احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الامام احمد ۱۵۲\۴، رقم: ۴۷۸۲.

تشريح: په شرح السنه كي ليكلي دي چي په داسي حالت كي د درېدو پر ځاى په ناسته كي دا حكمت دى چي په عامه توګه د غصې په وخت كي انسان بې واكه كيږي او كه چيري د غصې په وخت كي ولاړ وي نو ددې خبري زياته بېره وي چي هغه به يو داسي حركت وكړي چي د هغه څخه وروسته پښېيمانه وي او ظاهره ده چي د ناستي په صورت كي د يو حركت صادرېدل دومره په تيزي او اساني سره نه كيږي لكه څومره چي د ولاړي په صورت كي كيږي او د پروتي په صورت كي په دومره تيزي او اساني سره نه كيږي لكه څومره چي د ناستي په صورت كي كيږي مګر په دې اړه زياته صحيح خبره داده چي د غصې په وخت كي د خپل حالت داسي بدلول چي په هغه سره بدن او ذهن ته سكون ترلاسه سي، كه چيري ولاړ وي نو كښېني دي او كه ناست وي نو بيا دي پرېوځي، داسي كول د غصې او اشتعال د دفع لپاره غوره تاثير لري.

خراب بنده څوک دئ؟

﴿۴۸۸۸﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت اسماء بنت عميس ﷺ څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي

وَسَلَّمَ يَقُولُ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَخَيَّلَ وَاخْتَالَ وَنَسِيَ الْكَبِيرَ الْمُتَعَالِ بِئْسَ

خراب بنده هغه دئ چي ځان يې د نورو څخه غوره وګڼئ او تكبر يې وكړ او الله تعالى بزرګ او برتر يې هير كړ، او خراب

الْعَبْدُ عَبْدٌ تَجَبَّرَ وَاعْتَدَى وَنَسِيَ الْجَبَّارَ الْأَعْلَى بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ سَهَا وَلَهَا

بنده هغه دئ چي پر خلكو يې جبر او قهر وكړ او الله تعالى جبار او قهار يې هير كړ او خراب بنده هغه دى چي د دين كارونه يې هير كړل او يوازي د دنيا په كارونو كي بوخت سو او خراب بنده

وَنَسِيَ الْمَقَابِرَ وَالْبِلَى بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ عَتَا وَطَغَى وَنَسِيَ الْمُبْتَدَا وَالْمُنْتَهَى

هغه دئ چي هديرو او د بدن د وروستوالي خيال يې هير کړ او خراب بنده هغه دی چي هغه فساد پيدا کړ د حد څخه يې تجاوز وکړ او خپله ابتداء او انتهاء يې هير کړل

بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدُّنْيَا بِالدِّينِ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدِّينَ

او خراب بنده هغه دی چي دنيا والا وو ته په دين سره دوکه ورکړي، او خراب بنده هغه دی چي دين په شبهاتو سره خرابوي او خراب بنده هغه دی چي حرص او طمعه يې د دنيا په لور راو کاږي

بِالشُّبُهَاتِ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ طَمَعٌ يَقُودُهُ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ هَوًى يُضِلُّهُ بِئْسَ

،او خراب بنده هغه دی چي د نفس خواهش يې گمراه کوي او خراب بنده هغه دئ چي د دنيا

الْعَبْدُ عَبْدٌ رَغَبٌ يُذِلُّهُ. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان وقال ليس اسناده بالقوي وقال الترمذي ايضا هذا حديث غريب.

حرص او رغبت يې خوار او ذليل کړي، ترمذي او بيهقي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۴۵، رقم: ۲۴۴۸، والبيهقي في شعب الايمان ۱\ ۲۸۷، رقم: ۸۱۸۱.

د لغاتو حل: تخيل: اى تكبر و تجبر (لويي او ظلم)

تشريح: دغه حديث محض د ترمذي او بيهقي په ذکر سوو اسنادو منقول نه دی بلکه طبراني هم نقل کړی دی او په يو بل ځای کي بيهقي د نعيم ابن هماز څخه نقل کړی دی او حاکم هم په خپل مستدرک کي نقل کړی دی ، په دې کي شک نسته چي د طريقو زياتوب ضعيف حديث قوي کوي او هغه د حسن لغيره درجې ته رسوي چي په هغه سره د روايت مقصد پوره کيږي، تر څو چي د ترمذي سره تعلق دی چي دا حديث غريب دی نو څرگنده دي وي چي اول خو غرابت د صحت او حسن خلاف نه دی دوهم دا چي د ټولو محدثينو په نزد د اعمالو په فضائلو کي پر ضعيف حديث باندي هم عمل کيږي نو د وعظ او نصيحت پر موقع باندي دغه حديث ذکر کول او خلکو ته د دې څخه سبق تر لاسه کول په طريقه اعلى مناسب دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث　(دریم فصل)

د غصې زغمل

﴿۴۸۸۹﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تَجَرَّعَ عَبْدٌ أَفْضَلَ عِنْدَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ جَرْعَةِ غَيْظٍ يَكْظِمُهَا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ تَعَالَى. رواه احمد.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: بنده (د یو شي) غړپ نه چېښي چي د الله ﷻ په نزد د غصې د غړپ څخه غوره وي چي څوک یې د الله د رضا لپاره وچېښي (یعني که څوک غصه په قابو کي راولي دا د الله ﷻ په نزد ډېر زیات ثواب لري او ښه عبادت دی). احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۱۲/۱۳۸.

﴿۴۸۹۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالَى ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ قَالَ الصَّبْرُ عِنْدَ الْغَضَبِ وَالْعَفْوُ عِنْدَ الْإِسَاءَةِ فَإِذَا فَعَلُوْهُ عَصَمَهُمُ اللّٰهُ وَخَضَعَ لَهُمْ عَدُوُّهُمْ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ قَرِيبٌ. رواه البخاري تعليقا.

حضرت ابن عباس ﷺ د الله تعالی د دغه ارشاد (ادفع بالتي هي احسن) په بدۍ سره نیکي دفع کړه، په تفسیر کي فرمایي چي ددې څخه مراد د غصې په وخت کي صبر کول دي او د بدۍ په وخت کي معاف کول دي، بیا هر کله چي د غصې او بدۍ په وخت کي خلک صبر کوي او معافي کوي نو الله تعالی د هغه نفس د آفتونو څخه خوندي ساتي او د دوئ دښمنان به دوئ ته عاجز سي (داسي ګذاره به ورسره کوي) لکه د یو قریب. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸/۵۵٦، تعليقا.

تشريح: په روایت کي د آیت کریمه دغه ټوټه نقل سوې ده چي هغه په خپل سیاق او سباق سره داسي ده: (ولا تستوي الحسنة ولا السيئة ادفع بالتي هي احسن السيئة)، یعني د آیت تعلیم

دادی چي د بدۍ بدله بدي نه ده بلکه د بدۍ بدله نیکي ده ، که یو څوک ستا سره بدي وکړي نو ته د هغه سره نیکي وکړه ، د دغه آیت په تفسیر کي ابن عباس رضي الله عنه فرمايي چي بدي د نیکي په ذریعه دفع کړه ، د دې څخه مراد دادی چي کله غصه درسي نو صبر او تحمل اختیار کړه او که د چا څخه بدي او تکلیف در ورسیږي نو د هغه سره د عفو او معافي چلن کوه .

د قریب لفظ په اصل کي د حمیم تفسیر دی ، او دغه جمله د ذکرسوي آیت د دغه اخري برخي تفسیر دی : (فاذ الذي بینک وبینه عداوة کانه ولي حمیم) بیا به ناڅاپه ته وویني چي ستا او د کوم سړي په منځ کي عداوت وو هغه به داسي وي لکه یو نژدې ملګری چي وي .

غصه ایمان خرابوي

《۴۸۹۱》: وَعَنْ بَهْزِبْنِ حَكِيْمٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغَضَبَ لَيُفْسِدُ الْإِيْمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصَّبْرُ الْعَسَلَ. رواه البيهقي.

حضرت بهز بن حکیم رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غصه ایمان خرابوي لکه څرنګه چي صَبِر (یو تریخ بوټی) شات خرابوي. بیهقي.

تخریج: البیهقي في الشعب ۳۱۱\۶، رقم: ۸۲۹۴.

تشریح: د ایمان څخه کمال ایمان مرا ددی یا نور ایمان مرا ددی، او په دې کي هم څه شک نسته چي د هر واره د غصې سختوالی اصل ایمان هم ختموي ، نعوذ باالله من ذلک .

تواضع اختیار کړئ

《۴۸۹۲》: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَا أَيُّهَا النَّاسُ تَوَاضَعُوْا فَإِنِّيْ سَمِعْتُ

حضرت عمر رضي الله عنه پر منبر وفرمایل : اې خلکو ! تواضع او عاجزي اختیار کړئ ، ما اوریدلي دي

رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ تَوَاضَعَ للهِ رَفَعَهُ اللهُ فَهُوَ فِيْ نَفْسِهِ

د رسول الله ﷺ څخه څوک چي د الله جل جلاله د رضا تر لاسه کولو لپاره د تواضع څخه کار واخلي نو الله تعالی د هغه مرتبه لوړوي نو دی به په خپل زړه کي

صَغِيْرٌ وَّفِيْ أَعْيُنِ النَّاسِ عَظِيْمٌ وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللهُ فَهُوَ فِيْ أَعْيُنِ النَّاسِ

کوچنی وي خو د خلکو په سترګو (نظر) کي به لوی وي او څوک چي تکبر او غرور کوي الله تعالی هغه ذلیل کوي بیا د خلکو په نظر کي هغه حقیر او ذلیل سي

صَغِيرٌ وَفِي نَفْسِهِ كَبِيرٌ حَتّٰى لَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ كَلْبٍ أَوْ خَنْزِيرٍ. رواه البيهقي

که څه هم چي هغه په خپل نظر ځان لوی ګڼي تر دې چي بیا هغه د خلکو په نظر کي د سپي او خنزیر څخه هم زیات بدتر وي. بیهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ٦\٢٧٦، رقم: ٨١٤٠.

تشریح: مطلب دادی چي متکبر او مغرور سړی که څه هم خپل ځان لوی او عزتمند ګڼي او نورو ته هم خپله مصنوعي لويي او عزت ښيي مګر هغه د الله ﷻ په نزد ذلیل او حقیر وي او د خلکو په نظر کي هم ډېر بې حیثیته وي، ددې پر خلاف کوم څوک چي تواضع اختیاروي که څه هم هغه خپل ځان حقیر ګڼي او د خلکو په وړاندي هم خپل ځان بې حیثیته ظاهروي مګر د الله تعالی په نزد د هغه مرتبه ډېره لوړه ده او د خلکو په نظر کي هم د هغه ډېر عزت او وقعت دی.

خلک معافول

﴿۴۸۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُوسَى بْنُ عِمْرَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَا رَبِّ مَنْ أَعَزُّ عِبَادِكَ عِنْدَكَ؟ قَالَ مَنْ إِذَا قَدَرَ غَفَرَ. رواه البيهقي.

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: حضرت موسی بن عمران علیه السلام وویل: اې پروردګاره! ستا په بندګانو کي څوک ستا په نزد ډېر عزت ناک دی؟ الله تعالی ورته وفرمایل: هغه څوک چي د بدلې اخیستلو د قدرت سره خلک معاف کړي. بیهقي.

تخريج: البيهقي في الشعب ٦\٣١٩، رقم: ٨٣٢٧.

تشریح: یعني که چیري پر هغه یو څوک ظلم وکړي او هغه یې په تکلیف کي اخته کړ او هغه د بدلې اخیستلو توان درلودی مګر هغه یې معاف کړ، د حضرت موسی علیه السلام پر طبیعت باندي جلالي کیفیت غالب وو ځکه الله تعالی ددغه جواب په ذریعه هغه ته تلقین وکړ چي د عفو رویه اختیار کړه. د جامع صغیر په یوه روایت کي نقل سوي دي چي کوم څوک د بدلې اخیستلو توان لري او بیا هم د عفو لار اختیار کړي نو الله تعالی به د قیامت په ورځ هغه ته عفوه وکړي.

﴿۴۸۹۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ خَزَنَ لِسَانَهُ سَتَرَ اللهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ كَفَّ غَضَبَهُ كَفَّ اللهُ عَنْهُ عَذَابَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنِ اعْتَذَرَ إِلَى اللهِ قَبِلَ اللهُ عُذْرَهُ. رواه البيهقي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي خپله ژبه بنده وساتل الله تعالى به د هغه عيب پټ وساتي او چا چي خپله غصه بنده کړه الله تعالى به يې د قيامت په ورځ د خپل عذاب څخه وساتي او څوک چي د الله تعالى څخه د خپل ګناه معافي او بخښنه وغواړي الله تعالى د هغه عذر قبلوي. بيهقي

تخريج: البيهقي في الشعب ٦\٣١٥١، رقم: ٨٣١١٨٢٩٤.

درې شيان د نجات او درې شيان د هلاکت

﴿۴۸۹۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ مُنْجِيَاتٌ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: درې شيان خلاصون

وَثَلَاثٌ مُّهْلِكَاتٌ فَأَمَّا الْمُنْجِيَاتُ فَتَقْوَى اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ وَالْقَوْلُ

ورکونکي دي او درې شيان هلاکونکي دي، خلاصون ورکونکي شيان يو خو په ظاهر او باطن کي د الله تعالى څخه بيره ده، دويم د حق خبره کول

بِالْحَقِّ فِي الرِّضٰى وَالسَّخَطِ وَالْقَصْدُ فِي الْغِنٰى وَالْفَقْرِ وَأَمَّا الْمُهْلِكَاتُ فَهَوًى

په خوښي او ناخوښۍ دواړو حالتونو کي او دريم په شتمنتوب او فقر دواړو حالتونو کي ميانه روي اختيارول، او هلاکونکي شيان دا دي: د نفس هغه خواهش

مُتَّبَعٌ وَشُحٌّ مُّطَاعٌ وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ وَهِيَ أَشَدُّهُنَّ. روى البيهقي الأحاديث الخمسة في شعب الإيمان.

چي د هغه پيروي وکړل سي يعني هغه نفساني خواهش چي هغه پوره کړل سي، دويم هغه حرص

او بخل چي انسان د هغه غلام جوړ سي او دريم د سړي خپل ځان تر نورو خلكو بزرگ او ښه گڼل او دا ډير بد عادت دئ. بيهقي په شعب الايمان كي.

تخريج: البيهقي في الشعب ٦\٤٥٢، رقم: ٧٢٥٢.

تشريح: په خوښي او ناخوښي كي د حق خبري كولو مطلب دادی چي حقيقت بيانول او حق ويل د يو حكمت، گڼي، خوښي او ناخوښي د جذباتو پابندول نه دي پكار بلكه كه چيري د چا څخه راضي او خوشحاله وي نو د هغه په مخكي دي هم هغه خبره كوي كوم چي حق وي او كه د هغه څخه ناراضه وي نو په دغه صورت كي هم حق خبره كول پكار دي د مثال په توگه كه چيري د يو چا څخه يو گټه تر لاسه كول وي چي د نورو خلكو سره د هغه ظلم او فسق ثابت وي نو د هغه ناحق تعريف او د حقيقت خلاف خبره محض دد ې لپاره دي نه كوي چي د ذاتي گټي تر لاسه كولو په وجه هغه ځيني خوشحاله وي، همدارنگه كه يو صالح او بزرگ كس سره په يوه معامله كي اختلاف او د ناراضۍ صورت پيدا سي نو محض د خپل ذاتي ناراضي په وجه دي د هغه بدي نه بيانوي، خلاصه دا چي د چا څخه خوشحاله وي يا ناراضه وي په دواړو صورتو كي د استقامت پر لاره تلل پكار دي او د حق ويني فريضه دي په هيڅ حال كي تر شا نه غورځوي.

د ميانه روي اختيارولو مطلب دادی چي په مصرف كي دي نه دومره پراختيا كوي چي پر هغه د اسراف اطلاق وسي او نه دي دومره تنگي اختياروي چي فقر او مفلسي ځرگندېدل پيل سي، يا دا مراد دی چي د فقر او غناء په منځ كي اعتدال دي قائم كړي او د ميانه روۍ لار دي اختيار كړي لكه څرنگه چي علماء كرامو ويلي دي چي د حصول معاش په هڅه كي پر هغه حد باندي اكتفاء كول چي په هغه د ژوند اړتياوي تر لاسه كيږي، د غناء او فقر دواړو افضل دي.

د نفس خواهش چي د هغه پيروي وكړل سي: مطلب دادی چي خپل ځان د نفس د خواهشاتو داسي تابع كول چي د هغه هر خواهش پوره كول پيل كړي او هغه چي څه وايي او كومي خواته يې بيايي هغه خواته ځي نو دا يو داسي خصلت دی چي په هلاكت كي يې اچوي، دد ې پر خلاف د ايمان كامل كېدل پر دې خبره منحصر دی چي خپل نفس د فرمان حق او شريعت مصطفوي تابع جوړ كړي.

د بخل او حرص د غلام كېدو مطلب دادی كه څه هم بخل او حرص د انسان په طبيعت كي داخل دی او په دې وجه دا ممكن نه ده چي انسان د بخل او حرص د مادې څخه بالكل خالي وي مگر خپل ځان د بخل او حرص دومره غلام كول چي په هيڅ صورت كي هم د دغه شيانو څخه خوندي كېدل ممكن نه وي نو دا يو داسي خصلت دی چي انسان په اخروي تباهۍ كي اچوي.

د حدیث د اخري الفاظو مطلب دادی چي په هلاکت کي د اچونکو کومو درو شیانو ذکر سوی دی په هغو کي د ګناه او تاوان له موخي تر ټولو بد خصلت خودبیني ده چي د هغه په وجه انسان په تکبر او غرور کي اخته کیږي ځکه چي د نفس پیروي او د بخل او حرص غلامي دغه دواړه داسي خرابۍ دي که چیري یو څوک په دغه خرابیو کي اخته سي نو دهغه د جال څخه خپل ځان ایستل او د توبې لار اختیارول زیات نه مشکل کیږي مګر خود بیني یو داسي ناروغي ده که چیري یو چا ته لاحقه سي نو هغه د خپل بد کار او ښه کار احساس هم نسي کولای او نتیجه دا سي چي هغه پر خپل خراب کار باندي نه پښېمانه کیږي او د توبې د لاري څخه ډېر لیري سي لکه څرنګه چي بدعتي د بدعت په جال کي داسي ومونښلي چي د هغه څخه وتل اسانه نه وي نو بدعتي ته ډېر کم د توبې توفیق تر لاسه کیږي.

===========

بَابُ الظُّـــلْمِ (د ظلم بیان)

د ظلم لغوي معنی ده د یو شي بې موقع او بې محله ساتل یعني د کوم شي چي کوم ځای او کوم محل وي هغه د خپل محل پر ځای په بل محل کي اېښودل او دغه مفهوم هر هغه شي ته شامل دی چي د خپل د حد څخه تجاوز وکړي او هغه چي څرنګه واقع کیږي د هغه پر ځای تاوان بې ځایه او بې وخته واقع سي نو کوم شي ته چي په عامه اصطلاح کي زور او زیاتي ویل کیږي د هغه هم دغه معنی ده او په شریعت کي د ظلم دا معنی مراد ده ، مګر دا ویل کیږي چي د موقع او محل څخه شرعي موقع او محل مراد واخستل سي یعني په شرعي توګه د ظلم اطلاق پر هغه شي کیږي چي د خپل شرعي موقع او محل څخه بېله وجه شرعي تجاوز وکړي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

ظالم د قیامت په ورځ

﴿۴۸۹۶﴾: عَنِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق علیه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ظلم به د قیامت په ورځ د تاریکو سبب وي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۰۰، رقم: ۲۴۴۷، ومسلم ۴\۱۹۹۶، رقم: ۵۷- ۲۵۷۹.

تشريح: مطلب دادی چي ظالم به د قيامت په ورځ د حشر په ميدان کي داسي راګير سوی وي چي د هغه نور څخه به محروم وي کوم چي مؤمن ته ورکول کيږي او دهغه په اړه الله تعالی په قرآن کريم کي داسي فرمايلي دي : (نورهم يسعی بين ايديهم و بايمانهم) يعني د قيامت په ورځ به د مؤمنانو نور د هغوئ په مخکي او راسته خوا ته ځغلي چي د هغه په رڼا کي به هغوئ خپل منزل تر لاسه کوي.

ځيني حضرات وايي چي د ظلمات (تيارو) څخه د آخرت هغه تکليفونه او عذابونه مراد دي چي د قيامت په ورځ به دوږخيان په هغه کي اخته وي، په قرآن کريم کي هم په ځينو ځايو کي د ظلمات معنی په سختيو سره اخيستل سوې ده لکه په دغه آيت کي چي فرمايل سوي دي : (قل من ينجيكم من ظلمات البر والبحر)، ته ووايه چي تاسو ته د ځنګل او درياب د تکليفو او سختيو څخه څوک خلاصون درکوي.

ظالم ته وخت ورکول

﴿۴۸۹۷﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَيُمْلِي الظَّالِم حَتّٰى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ ثُمَّ قَرَأَ وَكَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ...الاية. متفق عليه.

د حضرت ابوموسی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی ظالم ته وخت ورکوي (يعني د هغه عمر اوږدوي چي دظلم پيمانه يې ډکه سي) بيا هغه داسي ونيسي چي نه يې پريږدي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ (وكذالك اخذ ربك.....) او ستا د پروردګار نيول داسي دي کله چي هغه کلي والا چي ظالم وي وه يې نيسي.... بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۳۵۴، رقم: ۴۶۸۶، ومسلم ۴\۱۹۹۷، رقم: ۶۱- ۲۵۸۳.

تشريح: په دغه حديث کي مظلومانو ته ډاډ ورکړل سوی دی چي هغوئ پر کېدونکي ظلم باندي صبر او استقامت اختيار کړي او دهغه ورځي انتظار دي وکړي کله چي د قانون قدرت ټېنګ لاس د ظالم پر غاړه وي او هغه ته د خپل ظلم سخته سزا ورکوي او په دغه ارشاد کي د ظالمانو لپاره سخت وعيد او خبرداری دی چي هغوئ د الله تعالی له خوا پر دغه مهلت مغرور نسي بلکه يقين دي وکړي چي په پای کي هغوئ ته د الله تعالی د سختي مؤاخذې سره مخامخ

کېدل دي او د خپل ظلم سزا به یقینا تر لاسه کوي، لکه څرنګه چي الله تعالی فرمایلي دي: (ولا تحسبن الله غافلا عما یعملون الظالمون...) او تاسو الله تعالی د هغه شي څخه غافل مه ګڼئ کوم چي ظالم یې اختیاروي.

د قوم ثمود کلی

﴿۴۸۹۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ان النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لما مر بِالْحِجْرِ قَالَ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي کله به رسول الله ﷺ د حجر (د قوم ثمود ځای) سره تیریدئ نو خلکو ته یې وفرمایل:

لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ أَنْ يُصِيبَكُمْ مَا أَصَابَهُمْ إِلَّا أَنْ

د دغه خلکو ځایونو ته مه ورځئ چي پر خپلو ځانونو یې ظلم کړی دی (او خپل پیغمبر حضرت صالح علیه السلام یې درواغجن ګڼلی دی) خو تاسو د دغه کنډوالو څخه عبرت تر لاسه کړئ

تَكُونُوا بَاكِينَ ثُمَّ قَنَّعَ رَأْسَهُ وَأَسْرَعَ السَّيْرَ حَتَّى أَجْتَازَ الْوَادِيَ. متفق عليه.

په ژړا ځیني وځئ داسي نه چي پر تاسو باندي هم باندي هغه مصیبت نازل سي کوم چي پر هغوئ نازل سوی وو، بیا رسول الله ﷺ په خپل څادر سره خپل سر مبارک پټ کړ او په تیزي سره ولاړئ تر څو چي د هغه شېلې څخه ووتئ. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۱۲۵، رقم: ۴۴۱۹، ومسلم ۴\۲۲۸۶، رقم: ۳۹-۲۹۸۰.

د لغاتو حل: الحجر: ای دیار ثمود قوم صالح. قنع: ای اطرق راسه ولم یلتفت یمینا ولاشمالا.

تشریح: حجر د هغه ځای نوم دی چیري چي د مشهور پیغمبر حضرت صالح علیه السلام قوم ثمود اوسیدی، د حجاز په شمالي سیمه کي چي د هغه نوم مدین دی یوه تاریخي شېله ده چي د هغې نوم وادي القری دی، په دغه شیله کي د تبوک څخه تقریبا پر څلور میله فاصله باندي دغه ځای واقع دی، په دغه شېله کي د ثمود قوم اوسیدی، دغه قوم په سرکښۍ کي د حد څخه تجاوز وکړ او د خپل پیغمبر حضرت صالح علیه السلام پر شرعي لار باندي د تللو پر ځای هغه یې درواغجن وګڼی، سخت تکلیفونه یې ور ورسول او د الله تعالی د حکم منلو څخه یې انکار وکړ نو پر هغه قوم باندي عذاب الهي نازل سو نو د هغه ټول کلي خلک تباه کړل سول چي د هغه تباهۍ اثار اوس هم موجود دي، کله چي رسول الله ﷺ د غزا لپاره د تبوک څخه تلی یا د غزا څخه په فارغه

كېدو سره بېرته راتلې نو په لاره کي رسول الله ﷺ پر هغه شپله تېر سو ، نو د دغه حديث تعلق دهغه وخت سره دی .

د رسول الله ﷺ پر خپل سر مبارک څادر اچول او د هغه ځای څخه په تلواره تېرېدل لکه څرنګه چي د يو ځای څخه يو بېرېدلی سړی په تلواره تېرېږي دا په دې وجه وو چي د رسول الله ﷺ نظر مبارک د هغوئ پر تباه سوو ځايو باندي ونه لوېږي او په حقيقت کي د رسول الله ﷺ دغه عمل د مسلمانانو د تعليم لپاره وو چي هغوئ د رسول الله ﷺ پيروي وکړي نو رسول الله ﷺ مخکي د قول په ذريعه خلک دې ته متوجه کړه او بيا يې د تاکيد په توګه د خپل فعل په ذريعه هم توجه ورکړه ، دا هم ويل کېدای سي چي د رسول الله ﷺ د هغه ځای څخه په تلوار تېرېدل ددې لپاره وو چي خپله پر رسول الله ﷺ باندي د الله تعالی د خوف غلبه ډېره وي او د عذاب الهي اثار د رسول الله ﷺ تر ټولو زيات لړزان کوی لکه څرنګه چي په يو ارشاد کي فرمايي : (انا اعلمکم باالله واخشاکم) يعني زه تر تاسو ټولو زيات د الله تعالی علم لرم او تر ټولو زيات د الله تعالی څخه بېرېږم .

په يوه روايت کي دا هم نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته په هغه ځای کي دا حکم ورکړی وو چي هغوئ دي ددغه ځای څخه خوراک او څښناک نه کوي .

په هر حال د حديث څخه دا ثابته سوه چي د الله تعالی د سرکښو بندګانو او ظالمانو په ځايو کي دي هستوګنه نه کېږئ او نه دي د هغوئ سيمه خپل هستوګن ځای جوړوي .

د ظالم څخه د نيکۍ اخيستل

﴿۴۸۹۹﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا چي

لَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ

پر يو مسلمان ورور څه حق وي نو پکار ده چي هغه مسلمان د هغه څخه هغه حق په دنيا کي معاف کړي ددې څخه مخکي چي هغه ورځ راسي چي په هغه کي به نه درهم څه پکار راځي او نه

دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فعمل عليه. رواه البخاري .

دينار، كه هغه ورته خپل حق معاف كړ نو غوره سوه كنه بيا د قيامت په ورځ كه د ظالم په اعمالو كي څه نيكي وي نو د هغه د نيكيو څخه به د هغه د ظلم برابر نيكي واخيستل سي او مظلوم ته به وركړل سي او كه نيكي يې نه وي نو د مظلوم د بديو څخه به هغه اندازه بدي واخيستل سي او د ظالم په حساب كي به واچول سي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۰۱، رقم: ۲۴۴۹.

تشريح: په آخرت كي د ظالم څخه د هغه ګناه به داسي اخيستل كيږي كه چيري د هغه په عمل نامه كي يو نيكي وي نو هغه به مظلوم ته وركړل سي او كه نيكي نه وي نو په دغه صورت كي به د مظلوم ګناه چي هغه په دنيا كي كړې وي پر هغه ظالم واچول سي نو د خپلي ګناه سزا به هم خوري او د مظلوم د ګناه په عذاب كي به هم اخته وي او مظلوم ته به د هغه ګناه څخه خلاصون وركړل سي چي د هغه په وجه هغه د سزا مستحق وو.

د حديث دغه الفاظ چي هغه به نه درهم لري او نه دينار: دغه الفاظ دې ته اشاره كوي چي كوم څوك پر چا باندي ظلم وكړي نو پر هغه واجب دي چي په هر حالت كي د هغه مظلوم يا حقدار هغه ظلم يا حق خامخا معاف كړي كه څه هم د هغه معافي په عوض كي روپۍ خرڅ كړل سي او په دنيا كي د معافۍ تلافي كېدل تر دې ډېر زيات غوره او اسان دي چي د عدم معافي په صورت كي د هغه نيكۍ واخلي يا د خپلو ګناهو نو بار پر هغه واچوي.

د هغه د ظلم يا واجب حق پر حقدار: په دې اړه صحيح خبره داده چي د كميت او كيفيت په اعتبار د هغه د نيكيو او ګناهو د مقدار تعين علم الهي ته حواله دی يعني هغه ښه پوهيږي چي د هغه نيكيو او ګناهو اخيستل او وركول به څرنګه او په كوم اعتبار وي بيا هم ابن ملك رحمة الله عليه ليكلي دي چي د كومو نېكيو او بديو اخيستل او وركول وي ، كيدای سي چي هغه نفس عمل وي چي هغه به د جواهرو په ډول په مجسم كولو سره وړاندي كړل سي او دا هم كيدای سي چي يو بل ته هغه نعمتونه يا عذاب وركړل سي چي د هغه نيكيو او بديو د جزا او سزا په توګه د الله تعالى له خوا ټاكل سوي وي.

حقيقي مفلس څوك دئ؟

﴿۴۹۰۰﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چي مفلس څوك دی؟

قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ فَقَالَ إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي

صحابه کرامو وويل: په موږ کي خو مفلس هغه څوک دی چي نه ورسره درهم وي او نه سامان او اسباب، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زما په امت کي مفلس هغه څوک دی

من يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا

چي د قيامت په ورځ يې د دنيا څخه يې د ځان سره لمونځ، روژه، زکوة وغيره هر ډول عبادتونه راوړي وي او په دې سره چا ته د ښکنځلو کولو، پر چا د تهمت لګولو،

وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَسَفَكَ دَمَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا

د چا د مال خوړلو، د چا په ناحقه وژلو او د چا په ناحقه وهلو ګناه هم راوړي وي نو هر مظلوم ته به د ظالم د نيکيو څخه نيکي ورکول کيږي

مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ. رواه مسلم.

او هر کله چي د هغه نيکۍ ختمي سي او د خلکو حقونه پاته سي نو د هغه حقدارانو بدۍ او ګناه به د هغه په حساب کي جمع کړل سي او بيا به هغه په دوږخ کي واچول سي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۹۹۷، رقم: ۵۹- ۲۵۸۱.

تشريح: په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي د بندګانو حقوق تر ډېرو لاندي کونکي ته به په آخرت کي نه معافي کيږي او نه به د هغه په حق کي شفاعت په کار راځي، مګر که الله تعالی د چا لپاره وغواړي نو هغه صاحب حق ته به د هغه د غوښتني سره سم خپل نعمتونه ورکړي او هغه به راضي کړي.

نووي رحمه الله وايي: د رسول الله ﷺ د ارشاد مبارک خلاصه داده چي په عامه توګه خلک مفلس هغه چا ته وايي چي هغه مال او روپۍ نه لري يا ډېري کمي وي مګر په حقيقت کي مفلس هغه څوک دی چي د هغه په اړه ذکر سوی دی نو په دنياوي مال او دولت څخه خالي سړي ته حقيقي مفلس نه ويل کيږي ځکه چي د مال او دولت افلاس عارضي دی چي په مرګ سره ختميږي بلکه ډېر واره په ژوند کي هغه افلاس په شتمنۍ بدل سي، ددې پر خلاف په حديث کي

چي د كوم افلاس ذكر سوى دى هغه تعلق د همېشه ژوند سره دى او په دغه افلاس كي اخته كېدونكى سړى به په پوره توګه هلاكيږي.

د قيامت په ورځ پوره حساب اخيستل كيږي

﴿۴۹۰۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ. رواه مسلم وذكر حديث جابر اتقوا الظلم في باب الانفاق.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د حقدارانو حقوق ادا كړل سي تر دې چي د بې ښكرو پسو لپاره به د ښكرورو پسو څخه بدله واخيستل سي. مسلم او د جابر حديث اتقوا الظلم په باب الانفاق كي تير سوى دى.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\۱۹۹۷، رقم: ۶۰- ۲۵۸۲.

د لغاتو حل: الجلحاء: التي لاقرن لها.

تشريح: مطلب دادى چي د حشر په ميدان كي به د الله تعالى عدل او انصاف تر دې حده وي چي د انسانانو د حقوقو بدله به اخيستل كيږي مګر حيوانان چي د انسان په ډول مكلف نه دي ګرځول سوي د هغوئ څخه به هم د حق تلفي بدله واخيستل سي، ځينو علماؤ ليكلي دي چي دغه قصاص يعني بدله داسي قصاص نه دى كوم چي د مكلف څخه اخيستل كيږي بلكه ددې څخه د مقابلې قصاص مراد دى.

مګر ملا علي قاري رحمه الله ليكلي دي چي دا د مقابلې قصاص ګرځول محل نظر دى او دا صحيح خبره نه ده، په دغه صورت كي به ويل كيږي چي ددغه قصاص څخه هم هغه قصاص مراد دى كوم چي د مكلف څخه اخيستل كيږي، مګر دلته دا سوال پيدا كيږي چي حيوان مكلف نه دى نو د هغه څخه به قصاص څرنګه اخيستل كيږي؟ ددې مختصر جواب دادى چي اول خو الله تعالى فعال لما يريد دى په دې اعتبار سره هغه دخپل مرضۍ مالک او پر خپل هر فعل باندي قادر او مختار دى نو: ولا يسال عما يفعل، يعني هغه چي څه كوي او څرنګه يې كوي د هغه څخه هيڅوک سوال كونكى نسته، دوهم دا چي دلته د پسه څخه د قصاص اخيستلو ذكر د بندګانو د خبرداري لپاره دى چي د هيڅا حق به ضائع نسي بلكه كوم څوک چي د چا حق خوري او د هغه سره ظلم وكړي نو د هغه څخه په د هغه حق او ظلم بدله حقدار او مظلوم ته ضرور

ورکول کیږي، دغه دوهم تاویل زیات ښه او زیات قابل فهم دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

که څوک بد درسره وکړي ظلم مه پر کوئ

﴿۴۹۰۲﴾: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَكُونُوا إِمَّعَةً تَقُولُونَ إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَحْسَنَّا وَإِنْ ظَلَمُوا ظَلَمْنَا وَلٰكِنْ وَطِّنُوا أَنْفُسَكُمْ إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَنْ تُحْسِنُوا وَإِنْ أَسَاءُوا فَلَا تَظْلِمُوا. رواه الترمذي.

د حضرت حذیفة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو (امعه) مه جوړیږی چي داسي ووایاست که خلک زموږ سره نیکي کوي نو موږ به هم ورسره نیکي کوو او که ظلم کوي نو موږ به هم ورسره ظلم کوو بلکه د ځان لپاره دا لازم کړئ که څوک درسره نیکي وکړي نو هم به ورسره نیکي کوئ او که درسره بدي وکړي نو تاسو ظلم مه کوئ. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۳۲۰، رقم: ۲۰۰۷.

تشریح: اِمَّعَة په اصل کي هغه چا ته وایي چي خپله رایه او عقل نه لري او بې فکره د نورو پر رایه او وینا باندي ځي، دلته په حدیث کي د دغه لفظ څخه هغه څوک مراد دی چي دا وایي چي خلک څرنګه چلن زما سره کوي هم هغسي چلن به زه هم د هغوئ سره کوم که هغوئ زما سره نیکي کوي نو زه به هم نیکي ورسره کوم او که هغوئ زما سره بدي کوي نو زه به هم د هغوئ سره بدي کوم، رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو داسي مه جوړیږئ ځکه چي دا د دین او پوهي خلاف خبره ده د نیکۍ بدله نیکي ده مګر د بدۍ بدله هم نیکي ده، کوم څوک چي ستاسو سره بدي وکړي نو تاسو د هغه سره نیکي کوئ یعني د هغه سره د احسان چلن کوئ ځکه چي د انتقام لپاره د ظلم او بدۍ لار پرېښودل احسان دی مګر دا هم کیدای سي که چیري خلک در سره بدي وکړي نو ته د هغوئ سره ظلم مه کوه، ددې څخه دا مراد دی که چیري یو څوک بدي درسره وکړي نو ته د هغه سره په مقابله کي د حد څخه تجاوز مه کوه بلکه د اعتدال په حد کي په اوسېدو سره د هغه څخه بدله واخله لکه څرنګه چي مشروع دي، یا د بدي کونکي څخه پر بدله اخیستلو باندي خپل ځان پابند مه جوړوه بلکه د هغوئ عفوه هم کوه یا د بدۍ بدله په نیکي ګرځولو سره د بدي کونکي سره احسان وکړه، څرګنده دي وي چي په دغه درو صورتو کي لومړی صورت هغه دی

چي هغه د عامو مسلمانانو مطابق قرار ګرځول كيږي، د دوهم صورت تعلق د هغه مسلمانانو سره دی چي د هغوئ شمېر په خواصو كي كيږي او دريم صورت چي تر ټولو اعلی درجه ده د هغه مسلمانانو سره متعلق دی چي هغوئ ته اخص الخواص ويل كيږي .

شيخ علي متقي رحمة الله عليه په يوه رساله كي ډېره عارفانه خبره كړې ده ، هغه فرمايي د دنيا او آخرت د ميني پېژندلو معيار دغه څلور شيان دي: ۱: پر كوم چا چي د دنيا محبت غالب سي نو هغه خلكو ته بېله وجه تكليف رسوي او پر ناحقه د هغوئ سره بدي كوي، ۲: كوم څوک چي د دنيا په محبت كي تر دغه درجې پوري اخته نه وي نو هغه چا ته په تكليف رسولو كي پېل نه كوي مګر كوم څوک چي هغه ته تكليف رسوي نو هغه د حد څخه د تجاوز كولو پرته هغه ته دومره تكليف رسوي كوم چي شريعت د بدلې په توګه جائز كړی دی ، ۳: د چا چي د آخرت محبت قوي وي او دنيوي محبت يې ضعيف وي نو هغه د هغه چا سره د عفوي معامله كوي چي څوک پر ده ظلم كوي ،۴: د چا چي د آخرت محبت ډېر زيات وي هغه د ظلم په مقابله كي احسان كوي او دا هغه درجه ده چي صديقانو او مقربينو ته تر لاسه ده .

د الله تعالی رضا تر لاسه كړئ

﴿۴۹۰۳﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى عَائِشَةَ أَنْ اكْتُبِي إِلَيَّ كِتَابًا تُوصِينِي فِيهِ

د حضرت معاوية رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه بي بي عائشې رضي الله عنها ته وليكل چي ما ته يو خط را وليږه او په هغه كي ما ته نصيحتونه وليكه

وَلَا تُكْثِرِي فَكَتَبَتْ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

چي زيات اوږده نه وي، بي بي عائشې رضي الله عنها په جواب كي وليكل پر تا دي سلام وي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ الْتَمَسَ رِضَا اللَّهِ بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ اللَّهُ مُؤْنَةَ النَّاسِ

څوک چي د الله تعالی رضا ولټوي او د خلكو د غضب او ناراضګۍ خيال نه ساتي نو الله تعالی يې د مرستي لپاره كافي دئ چي د خلكو د ضرر څخه يې ساتي، (يعني خلک هم د هغه څخه

وَمَنْ الْتَمَسَ رِضَا النَّاسِ بِسَخَطِ اللَّهِ وَكَلَهُ اللَّهُ إِلَى النَّاسِ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ.

رواه الترمذي.

راضي كوي) او څوک چي د خلكو رضا لټوي او د الله تعالى د غضب او ناراضګى پروا نه ساتي نو الله تعالى به دا سړى خلكو ته حواله كړي او پرتا دي سلام وي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۲۷، رقم: ۲۴۱۴.

تشريح: هغه خلكو ته سپاري: مطلب دادى چي كوم څوک د الله تعالى د خفګان څخه په بې پرواه كېدو سره د خلكو رضا او خوشحالى ته ترجيح وركوي نو الله تعالى هم د هغه څخه بې پروا كيږي او د هغه چاري خلكو ته سپاري يعني نه يوازي دا چي د هغه په دغه چارو كي مرسته نه كوي او د نورو د شر او فتنې څخه يې خوندي نه ساتي بلكه خلک پر هغه مسلط كوي چي هغه ته تكليف رسوي او پر هغه ظلم كوي، خلاصه دا چي د بندګانو په حق كي اصل شى د الله تعالى رضا ده كه الله تعالى راضي او خوشحاله وي نو مخلوق هم راضي او خوشحاله كيږي او كه د الله تعالى رضا په نظر كي نه وي نو بيا به نه الله تعالى راضي او خوشحاله وي او نه مخلوق.

ددغه روايت څخه دا معلومه سوه چي د خط په پيل كي هم سلام ليكل پكار دي او په پاى كي هم، په پيل كي سلام د ملاقات د سلام درجه لري او په پاى كي د رخصت د سلام قائم مقام دى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د ظلم څخه مراد شرک هم دئ

﴿۴۹۰۴﴾: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي كله دا آيت نازل سو (الذين آمنوا ولم يلبسوا....) كومو خلكو چي ايمان راوړ او خپل په ايمان كي يې ظلم ګډ نه كړ نو

بِظُلْمٍ شَقَّ ذَلِكَ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالُوا يَا رَسُوْلَ

دا هغه خلک دي چي د دوئ لپاره امن دى او دوئ سيده لاره پيدا كونكي دي، صحابه كرامو ته داخبره ګرانه بنكاره سوه، وه يې ويل: اې دالله رسوله !

اللهِ أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمُ نَفْسَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ ذَاكَ

په موږ كي به داسي څوک وي چي پر ځان به يې ظلم نه وي كړى ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د ظلم څخه دا مراد نه دى

انما هو الشرك اَلَمْ تَسْمَعُوْا قَوْلَ لُقْمَانَ لِابْنِهِ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ إِنَّ

بلکه شرک ځيني مراد دئ ، ايا تاسو د لقمان حکيم هغه نصيحت نه دئ اوريدلی چي هغه خپل زوی ته کړی وو (يعني دا چي اې بچيه ! د الله تعالى سره څوک شريک مه جوړوه) ځکه چي

الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ، وفي رواية لَيْسَ هُوَ كَمَا تَظُنُّونَ إِنَّمَا هُوَ كَمَا قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ. متفق عليه.

شرک ډير لوی ظلم دی ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دا خبره نه ده چي تاسو ګمان کړی دی بلکه د ظلم څخه مراد هغه دی چي لقمان خپل زوی ته ويلي وه . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۵۱۳، رقم: ۴۷۷۶، ومسلم ۱\۱۱۴، رقم: ۱۹۷- ۱۲۴.

تشريح: کله چي ذکر سوی آيت نازل سو نو صحابه کرامو ظلم پر ګناه حمل کړ يعني هغوئ دا وګڼل چي په دغه آيت کي مؤمنان مامون او هدايت يافته ګرځول سوي دي ددې څخه هغه مؤمنان مراد دي چي د هغوئ اعمال او ګناه د آميزش څخه بالکل پاک وي نو هغوئ د خپل ګمان مطابق د دغه آيت کريمه په نزول سره ډېر پرېشانه سول او رسول الله ﷺ ته يې وويل چي د دغه آيت په رڼا کي خو کېدای سي چي په موږ کي څوک مؤمن هدايت يافته او مامون وګرځول سي ځکه چي په موږ کي داسي کوم څوک دی چي د هغه څخه معصيت او ګناه نه وي سوې ، بيا رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په مخکي څرګنده کړه چي په دغه آيت کي د ظلم څخه مراد ګناه نه ده لکه څرنګه چي تاسو ګمان کړی دی بلکه شرک مرا د دی .

که چيري دلته دا سوال پيدا سي چي د ايمان سره د شرک مخلوط کېدل څرنګه ممکن دي ځکه چي ايمان د شرک ضد دی مګر د ايمان سره د ګناه مخلوط کېدل معلوم مه خبره ده ، او له دې کبله د صحابه کرامو ذهن دې خوا ته تللی وو چي د ظلم څخه مراد ګناه ده ، نو ددې جواب دادی چي د ايمان سره د شرک مخلوط کېدل د واقع په اعتبار صحيح دي ، ددې مثال د مکې مشرکين وه ، هغوئ که څه هم پر الله تعالى باندي ايمان درلودی مګر ددې سره يې بت پرستي هم کول، څرګنده دي وي چي د شرک دوه ډولونه دي يو شرک في الربوبية يعني په عبادت او تعظيم کي نور څوک هم خدايان ګرځول ، دغه ډول شرک په دنيا کي کم دی، دوهم شرک في الالوهية يعني

په عبادت او تعظم او د الله تعالی په خاصو صفاتو لکه خالقیت، رازقیت، او داسې نورو کې د الله تعالی سره بل څوک شریکول، دغه ډول شرک په دنیا کې ډېر دی، ځینې په نامه مسلمانان هم په دغه شرک کې اخته دي، په حدیث کې چې کوم شرک پر ظلم محمول سوی دی د هغه څخه هغه شرک مراد دی چې د هغه تعلق د دوهم ډول سره دی، ددې خبرې دلیل د قرآن کریم دغه آیت دی: (ومایؤمن اکثرهم بالله الا وهم مشرکون) او په هغوئ کې زیات داسې هم دي چې الله مني او شرک هم کوي.

ددې څخه پرته دا هم ویل کېږي چې د ایمان سره ظلم یعني شرک یو ځای کولو دا مراد دی چې په ژبه سره د ایمان اقرار وکړل سي او په زړه کې د شرک تیاره وي لکه څرنګه چې د منافقانو حال دی چې د هغوئ د ظاهري ایمان سره باطني شرک هم مخلوط کوي په دې توګه چې په ژبه سره خو د ایمان اقرار کوي او په ظاهر کې خپل ځان ته مسلمان وایي مګر په زړه کې ایمان نه قبلوي بلکه په هغه کې د هغه شرک او د اسلامي د دښمني جذبات وي.

ملا علي قاري رحمه الله ددغه حدیث په تشریح کې دا لیکلي دي چې: (ان الشرک لظلم عظیم) ځکه چې شرک یقینا ډېر لوی ظلم دی، دا استیناف تعلیل دی چې د هغه مراد دا څرګندوي چې شرک داسې ګناه ده چې ایمان بالکل ختموي، یعني ایمان او شرک په هیڅ حال کې یو ځای کېدا سي نسي لکه چې الله تعالی فرمایي: (ومن یکفر بالایمان فقد حبط عمله) ددې پر خلاف نور ټول ګناهونه داسې دي چې هغه دایمان خلاف وي، د ټول اهل سنت والجماعت دا مذهب دی چې د کفر او شرک څخه پرته هیڅ ګناه داسې نسته چې ایمان بالکل ختموي، حال دا چې معتزله، خوارج او نور اهل بدعت هره کبیره ګناه د ایمان خلاف ګڼي، کله چې ذکر سوی آیت نازل سو نو صحابه کرامو دا ګڼلې وه چې په دغه آیت کې کوم خلک مؤمن او هدایت یافته ګرځول سوي دي د هغو څخه هغه خلک مراد دي چې هغوئ خپل ایمان په ګناه سره ملوث کړی نه دی ځکه چې د شرک د ایمان سره مخلوط کېدل په پوهه کې راتلونکې خبره نه ده نو رسول الله ﷺ هغوئ ته څرګنده کړه چې په ځینو صورتو کې د ایمان سره د شرک یو ځای کېدل ممکن دي لکه یو څوک چې پر الله باندې ایمان راوړي او د هغه په عبادت کې غیر الله شریک کړي، ددې څخه دا خبره څرګندېږي چې په آیت کې د ایمان بالله مفهوم هغه وخت پوره کېږي چې ددې څخه د هغه لغوي معنی مراد دوي نه شرعي معنی ځکه چې په شرعي نقطه نظر سره ایمان د ټولو کمالیه صفاتو د الله تعالی لپاره ثابتولو او د هغه ذات د ټولو عیبو او نقصانو څخه پر پاکولو باندې مشتمل دی که نه نو په آیت کې ایمان پر معنی لغوي د محمول کولو په

صورت کي دا لازميږي چي د حقيقت په اعتبار ټول مشرکين او کفار ايمان لرونکي دي لکه څرنګه چي الله تعالى فرمايي: (ولئن سالتهم من خلقهم ليقولن الله...) مګر څرګنده ده چي په شريعت کي د داسي ايمان هيڅ اعتبار نسته ، اصل ايمان هغه دی چي د الله تعالى د ذات اعتراف او د هغه په صفاتو کي هيڅوک شريک نه ګرځولو باندي مشتمل وي نو الله تعالى د داسي فعل او عمل هم اجازه نه ده ورکړې چي د هغه څخه ظاهرا او صورتا د شرک ارتکاب کيږي لکه څرنګه چي په يو حديث قدسي کي د الله تعالى ارشاد دی .

اخيرت د دنيا لپاره مه خرابوئ

﴿۴۹۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْيَا غَيْرِهِ . رواه ابن ماجة.

د ابو امامه رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به د مرتبې په لحاظ بدترين هغه څوک وي چي هغه خپل آخرت د بل د دنيا لپاره ضائع کړی وي . ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۳۱۲، رقم: ۳۹۶۶.

تشريح: مطلب دادی چي د آخرت پر مفادو باندي د دنيا مفادو ته ترجيح ورکول ډېره غټه خرابي ده مګر دغه خرابي هغه وخت نوره زياته سخته سي کله چي د بل چا لپاره دنيا تر لاسه کړي او د هغه په وجه پر خلکو باندي په ظلم کولو سره خپل آخرت ضائع کړي لکه څرنګه چي ځيني مفاد پرسته خلک د ظالمانو مرسته او اعانت کوي .

شرک نه بخښل کيږي

﴿۴۹۰۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلدَّوَاوِيْنَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :عمل نامې پر

ثَلَاثَةٌ دِيْوَانٌ لَا يَغْفِرُ اللّٰهُ الْإِشْرَاكُ بِاللّٰهِ يَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ

درې ډوله دي : يو هغه عمل نامه چي هغه الله تعالى نه بخښي او هغه عمل نامه هغه ده چي په هغه کي د الله تعالى سره څوک شريک کړل سوی وي لکه چي الله تعالى فرمايي : (ان الله لا

أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَدِيْوَانٌ لَاّ يَتْرُكُهُ اللّٰهُ ظُلْمُ الْعِبَادِ فِيْمَا بَيْنَهُمْ حَتّٰى يَقْتَصَّ

يغفر ان يشرک به) الله تعالى شرک نه بخښي، دويم ډول عمل نامه هغه ده چي په هغه کي د انسانانو په خپل منځ کي ظلمونه درج دي، دا عمل نامه به الله تعالى همداسي پرېږدي په دې کي به يو د بل څخه قصاص واخلي او

بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ وَدِيْوَانٌ لَاّ يَعْبَأُ اللّٰهُ بِهٖ ظُلْمُ الْعِبَادِ فِيْمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللّٰهِ فَذَاكَ إِلَى اللّٰهِ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهٗ وَإِنْ شَاءَ تَجَاوَزَ عَنْهُ. رواه البيهقي.

دريم ډول عمل نامه هغه ده چي د هغې الله تعالى ته څه پروا نه سته (يعني خوښه يې خپله ده که يې بخښي او که بدله ځيني اخلي) په دې کي هغه مظالم او ګناهونه دي چي د الله او بندګانو تر منځ دي دا عمل نامه د الله تعالى په خوښه ده که يې خوښه وي عذاب ورکړي او که يې خوښه وي وه به يې بخښي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۶\۵۲، رقم: ۷۴۷۲.

د لغاتو حل: الدواوين: اى صحائف الاعمال.

تشريح: د دغه حديث څخه دا څرګنده سوه چي په دنيا کي بندګان کومي بدۍ او ګناهونه کوي په هغو کي چي دکومو تعلق د حقوق العباد سره وي لکه پر چا يې ظلم کړی وي د چا حق يې خوړلی وي د چا عزت ته يې تاوان رسولی وي او داسي نور، نو په آخرت کي به پر هغه ګناهو باندي په هر حالت کي مؤاخذه وي او د دغه مؤاخذې څخه هيچا ته خلاصون نه تر لاسه کيږي همدارنګه د کومو بديو او ګناهو تعلق چي د حقوق الله سره وي په هغه کي د شرک ګناه د بخښني وړ نه وي مګر د شرک څخه پرته نور ټول ګناهونه د الله تعالى پر مشيت باندي موقوف وي که هغه وغواړي نو پر ګناهو به عذاب ورکړي او که وغواړي په خپل فضل او کرم سره به يې وبخښي.

د مظلوم د ښېرا څخه ځان وساته

﴿۴۹۰۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاكَ وَدَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَإِنَّمَا يَسْأَلُ اللّٰهَ تَعَالٰى حَقَّهٗ وَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَمْنَعُ ذَا حَقٍّ حَقَّهٗ. رواه البيهقي

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مظلوم د ښيراوو څخه ځان وساتئ ځکه چي هغه د الله تعالى څخه يوازي خپل حق غواړي او الله تعالى د حقدار حق نه منع کوي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان٦\٤٩، رقم: ٧٤٦٤.

د ظالم مرسته

﴿٤٩٠٨﴾: وَعَنْ أَوْسِ بْنِ شُرَحْبِيْلٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ مَشٰى مَعَ ظَالِمٍ لِيُقَوِّيَهُ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ ظَالِمٌ فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْإِسْلَامِ. رواه البيهقي.

د حضرت اوس بن شرحبيل ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي څوک چي د ظالم ملگرتيا کوي ددې لپاره چي هغه ته قوت حاصل سي او هغه په دې پوهيږي چي هغه ظالم دئ نو هغه د اسلام څخه وځي . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان: ٦\١٢٢، رقم: ٧٦٧٥.

د ظالم انجام

﴿٤٩٠٩﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَجُلاً يَّقُوْلُ إِنَّ الظَّالِمَ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهُ فَقَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ بَلٰى وَاللهُ حَتّٰى الْحُبَارٰى لَتَمُوْتُ فِيْ وَكْرِهَا هَزْلاً لِظُلْمِ الظَّالِمِ. روى البيهقي الأحاديث الأربعة في شعب الإيمان.

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي هغه د يو سړي څخه دا واوريدل چي ظالم چا ته تاوان نه سي رسولای بلکه خپل ځان ته تاوان رسوي ، ددې اوريدو سره ابو هريرة ﷺ ورته وويل هو، قسم په خدای هم داسي ده تر دې چي حباري (مرغه) په خپل ځاله کي د ظالم د ظلم په سبب دنگر سي مړ سي . بيهقي په شعب الايمان کي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان٦\٥٤، رقم: ٧٤٧٩.

د لغاتو حل: الحباری: طیر مشهور (یو ډول مرغه)

تشریح: حباری د یو مرغه نوم دی چي سرخاب ورته وايي، ویل کیږي چي دغه مرغه د خپلي دانې او اوبو په پلټنه کي تر ډیره لیري پوري ځي، په عامه توګه د دغه مرغه ځاله په داسي ځای کي وي چي هغه د اوبو څخه د څو څو ورځو پر فاصله وي او هغه د خپلي ځالي څخه په دومره اوږده فاصله باندي ځي او په اوبو ښېښلو سره خپلي ځالي ته راځي، یو محقق لیکلي دي چي یو وار په بصره کي د سرخاب د نس څخه حبه الخضراء تر لاسه سوه چي هغه دانه یوازي په یوه سیمه کي تر لاسه کیږي او هغه سیمه د بصرې څخه د څو ورځو پر فاصله واقع ده.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه د ارشاد مطلب دادی چي د ظالم د ظلم آثرات پر نورو خلکو تر دې حده لویږي چي الله تعالی د هغه د نحوست څخه باران اورول بندوي او د اوبو د قلت څخه د خوراک او ښېښاک شیان نه تر لاسه کیږي نو انسان او حیوان د خوراک او اوبو نه تر لاسه کېدو په وجه مړه کېدل پیل سي تر دې چي د سرخاب په ډول مرغه هم په خپل ځاله کي په وچېدو وچېدو سره مړ سي چي د خپلي دانې او اوبو تر لاسه کولو لپاره تر لیري لیري سیمو پوري ځي، ددې څخه معلومه سوه چي د سرخاب په خپله ځاله کي په وچېدو سره مړ کېدل د وچ کالۍ علامه ده او ځکه د ظلم دنحوست اثراتو لپاره په خاصه توګه د سرخاب ذکر وسو ، کوم سړي چي دا ویلي وه چي ظالم په حقیقت کي خپل ځان ته تاوان رسوي نو د هغه مراد دا وو چي ظالم که څه هم په ظاهره مظلوم ته تاوان رسوي مګر په حقیقت کي د هغه تاوان هغه خپله ښکار کیږي ځکه چي د مظلوم تاوان خو داسي تاوان دی چي د هغه په بدله کي هغه ته الله تعالی د صبر مېوه ورکوي او ظالم څخه د هغه ظلم بدله اخلي حال دا چي د ظالم په برخه کي اخر الامر د خسران او تباهۍ څخه پرته هیڅ نسته ، نو حضرت ابو هریره رضی الله عنه هغه وخت د پېښېدونکي یو قرینې په وجه دا خبره په عمومیت سره بیان کړه چي ظالم د خپل ظلم په نتیجه کي په تاوان کي اخته کیږي، مګر د هغه د ظلم نحوست په یو صورت کي پر نورو خلکو هم اثر کوي ، اغلب داده چي حضرت ابو هریره رضی الله عنه کومه خبره بیان کړې ده هغه خپله د هغه قول نه دی بلکه دغه مضمون د یو حدیث دی چي حضرت ابو هریره رضی الله عنه به د رسول الله ﷺ څخه اوریدلی وي یا دا چي په یوه حدیث کي دا نقل سوي دي چي د باران نه کېدل د ظلم د نحوست اثر وي چي په باران نه کېدو سره حیوانانو ته خامخا تاوان رسیږي ځکه هغوئ د هغه حدیث څخه په استنباط کولو سره ذکر سوې خبره وفرمایل.

=========

بَابُ الْاَمْرِ بِالْمَعْرُوْفِ

(د نیکۍ حکم کولو بیان)

معروف په اصل کي د معرفت څخه مشتق دی ، چي معنی يې د پېژندني او حقیقت تر لاسه کولو ده، او ددې څخه مراد دادی چي هغه شیان چي د شریعت په ذریعه پېژندل سوي دي او د هغه اختیارولو حکم شریعت ورکړی دی، د معروف په مقابله کي منکر دی یعني هغه شیان چي د هغه شریعت سره تعلق نه وي او د هغه اختیارولو څخه شریعت منع کړې وي .

څرګنده دي وي چي امر باالمعروف او نهي عن المنکر د تعلیمات اسلامي یو خاص اصطلاح ده چي د هغه معنی ده خلکو ته د نیکیو حکم ورکول او د بدیو څخه منع کول، په دغه باب کي ددغه مضمون حدیثونه نقل کیږي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د امر باالمعروف طریقه

﴿۴۹۱۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهٖ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَذٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيْمَانِ . رواه مسلم .

د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چي یو څوک د شریعت خلاف یو کار وویني نو هغه دي په خپلو لاسونو سره بدل کړي که په لاسونو سره يې توان نه وو نو په ژبه سره دي يې منع کړي او که په ژبه سره يې هم د منع کولو توان نه وي نو په زړه سره دي يې بد وګڼي او دا تر ټولو کمزوری ایمان دئ . مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱\۶۹، رقم: ۷۸- ۴۹.

تشریح: د خرابیو د خپرېدو څخه د منع کولو او د هغه د بېخ کښلو ذمه داري چي پر اهل ایمان عائد کیږي د هغه پوره کولو لپاره درې درجې بیان سوي دي: لومړۍ درجه داده چي هره بدي دي د طاقت په ذریعه ختمه کړل سي په شرط ددې چي داسي طاقت ورته تر لاسه وي او که طاقت تر لاسه نه وي نو دوهمه درجه داده چي د هغه بدۍ فریضه دي په ژبه ادا کړل سي او

دریمه درجه داده که چیري د ژبې په ذریعه هم د بدۍ د بد ویلو او د هغه د ختمولو همت نه وي نو بیا په زړه سره دي هغه فریضه تر سره کړي یعني د شریعت خلاف یو کار په لېدو سره هغه دي په زړه سره بد وګڼي او د هغه د کونکي خلاف دي په زړه کي د عداوت او نفرت جذبات وساتي دغه درجه د ایمان تر ټولو کمزورې درجه ګرځول سوې ده ، ددې مطلب دادی چي کله اهل ایمان تر دغه درجې پوري کمزوري سي چي هغوئ د یوې بدۍ د دفع کولو لپاره د لاس او ژبې د طاقت څخه محروم وي نو پوه دي سي چي د ایمان لپاره تر ټولو کمزورې زمانه ده.

او که چیري اهل ایمان طاقتور وي نو هغوئ به یوه بدي د خپل قولي او فعلي طاقت په ذریعه محض په قلبي نفرت او انکار باندي اکتفاء نه کولای او یا د (ذلک اضعف الایمان) مطلب دادی چي کوم څوک یوه بدي محض په زړه سره پر بد ګڼلو باندي اکتفاء کوي نو پوه سئ چي هغه په اهل ایمان کي تر ټولو کمزوری کس دی ځکه که چیري هغه د دین په باره کي طاقتور او قوي وای نو یوازي د زړه پر نفرت به یې اکتفاء نه کولای بلکه د لاس او ژبي په ذریعه به یې د هغه بدۍ د ختمولو هڅه کولای، ددې تائید د حدیث څخه هم کیږي چي په هغه کي فرمایل سوي دي چي غوره جهاد د ظالم پاچا په مخکي د حق خبره کول دي او الله تعالی فرمایي : (ولا یخافون لومة لائم) او هغوئ د ملامتیا کونکو د ملامتیا څخه نه ویریږي .

ځینو علماؤ فرمایلي دي چي په حدیث کي مخکنی حکم (یعني د بدۍ په لاس سره ختمولو) تعلق د هغه اهل ایمان سره دی چي الله تعالی په طاقت او حکمراني سره نازولي وي یعني پاچا ، حاکم او داسي نورو ته د طاقت او حکمرانۍ لرونکو مسلمانانو دا ذمه داري ده چي هغوئ په خپل سیمه کي د خرابیو په سخته منع وکړي، دوهم حکم یعني د بدۍ په ژبه سره بدي بیانول او د نصیحت په ذریعه د ختمولو تعلق د علماؤ سره دی یعني دا د اهل علم او واعظینو فریضه ده چي هغوئ کومي خرابۍ وویني د خپل وعظ او نصیحت په ذریعه د هغه بدي بیان کړي او عوام د تلقین او نصیحت په ذریعه د هغه بدیو څخه منع کړي، او دریم حکم یعني د خرابیو او د هغوئ د کونکو پر خلاف په زړه کي د نفرت جذبه درلودل، نو ددې تعلق د عامو مسلمانانو سره دی ، پر عامو مسلمانانو واجب ده چي هغوئ د شریعت خلاف یو کار په لېدو سره محض د بې پروایي رویه اختیار نه کړي بلکه هغه کار په زړه سره بد وګڼي او د هغه د کونکي پر خلاف په زړه کي نفرت ولري .

ځیني حضراتو د حدیث د آخري برخي مطلب دا بیان کړی دی چي دغه شی یعني د یوې بدۍ په لېدو سره محض په زړه کي د هغه پر بد ګڼلو باندي اکتفاء کول د ایمان په مراتبو کي تر

ټولو كمزورې مرتبه ده، كه چيرې مسلمانان داسې شى وويني چې د هغه په ديني نقطه نظر سره بد كېدل په قطعي توګه ثابت او ظاهر وي او هغوئ هغه شى بد ونه ګڼي بلكه پر هغه د خپل اطمينان اظهار وكړي او هغه ښه وګڼي نو هغه مسلمان نه پاتې كيږي بلكه كافر كيږي .

دلته په دې خبره پوهېدل هم ضروري دي چې د امر باالمعروف او نهي عن المنكر حكم د نيكيو يا بديو د حيثيت تابع وي يعني كه يو شى د دې درجې وي چې د هغه اختيارول واجب وي نو د هغه د اختيارولو حكم وركول هم واجب دى او كه هغه شى مستحب وي نو امر باالمعروف به يې هم مستحب وي ، همدارنګه كه چيرې د شريعت خلاف يو كار د حرامو درجه ولري نو د هغه څخه منع كېدل يعني نهي عن المنكر واجبيږي او كه هغه شى د مكروه درجه ولري نو په دغه صورت كې به عن المنكر مستحب وي ، همدارنګه د امر باالمعروف او نهي عن المنكر د فريضې ادا كول په دې خبره مشروط دي چې د هغه په وجه د يو فتنې او فساد پيدا كېدو بېره نه نه وي د مثال په توګه دا څرګنده وي چې فلاني سړي ته د يو نېک كار د تلقين كولو په وجه فتنه راپورته كيږي يا يو سړى د خراب كار كونكى دى كه چيرې هغه د بدى څخه منع كړل سي نو د هغه نتيجه به د فتنې او فساد په صورت كې څرګنده سي نو په دغه صورت كې د هغه فريضې ادا كول قطعا ضروري نه دي .

همدارنګه يو شرط دا هم دى چې د امر باالمعروف او نهي عن المنكر د قبلولو ګمان هم وي كه دا ګمان وي چې كوم سړي ته د نيک كار كولو تلقين وكړل سي يا هغه د يو بد كار څخه منع كړل سي نو هغه به خبره ونه مني نو هغه ته د نيک كار حكم كول او يا د بد كار څخه منع كول به واجب نه وي مګر مستحسن دى چې د شعار اسلام اظهار وسي، امام نووي رحمة الله عليه د دې خلاف نقل كړى دى لكه چې مخته به راسي .

د حديث په الفاظو : (من راى منكم منكرا) كې د من لفظ په ذريعه د مذكوره حكم مخاطب چې كوم خلک ګرځول سوي دي په دې كې د ملت هر كس شامل دى، يعني د امر باالمعروف او نهي عن المنكر فريضه هر مسلمان ته ادا كول پكار دي كه هغه سړى وي يا ښځه وياو كه ازاد وي كه غلام وي، تر دې چې فاسق هم د دې امر ذمه دار دى، د دې څخه دا خبره هم څرګنده سوه چې د امر باالمعروف لپاره شرط نسته چې كوم څوک د يو نېک كار حكم كونكى وي هغه بايد اول خپله هم پر هغه نيكۍ باندې عمل كونكى وي او پرته د خپل عمل څخه د امر المعروف فريضه سرته رسول د هغه لپاره صحيح نه دي لكه څرنګه چې خپله خپل ځان ته پر نيكۍ باندې د عمل كولو تلقين وكړل سي كه په هغه كې يو واجب ترک وو نو د هغه په وجه بل

واجب ترک کول قطعا جائز نه دی دا بېله خبره ده چي کوم واجب ترک کيږي د هغه ګناه په هر صورت لازميږي،

په قرآن کريم چي دا فرمايل سوي دي : (لم تقولون ما لاتفعلون) يعني تاسو هغه خبره ولي کوئ چي خپله عمل نه په کوئ، نو ددغه آيت کريمه محمول امر باالمعروف او نهي عن المنکر منلو په صورت کي به دا ويل کيږي چي ددغه آيت مراد د ترک عمل څخه منع کول او پر هغه زجر او خبرداری دی نه دا چي نور خلک د نيکۍ د تلقين څخه منع کول مراد دي ، په دې خبره په نور زيات تفصيل سره داسي پوه سئ چي کوم څوک د نېکيو تلقين کوي او نورو ته د نېک عمل اختيارولو وايي مګر هغه خپله هغه نيکي او نيک عمل نه اختياروي نو دغه آيت کريمه داسي سړي خبرداری کوي چي دا خو صحيح ده چي ته نورو ته د نيکۍ او نيک عمل کولو نصيحت کوې مګر دا ډېره نامناسب خبره ده چي ته خپله هغه نيکي او نيک عمل نه اختياروې نو آيت کريمه دا خبره قطعا نه ثابتوي چي کوم څوک خپله نيک عمل نه اختياروي نو هغه نورو ته د نېک عمل اختيارولو تلقين نسي کولای په دې کي شک نسته چي د نيکۍ تلقين کونکی که خپله هم نيکي اختيار کړي نو تر دې به ښه خبره بله څه وي ځکه چي کوم عمل عمل نه کوي نو د هغه تلقين او نصيحت پر نورو باندي اثر نسي کولای .

امام نووي رحمه الله په شرح مسلم کي ددغه حديث په وضاحت کولو سره ليکلي دي چي په حديث کي د امر باالمعروف او نهي عن المنکر د فريضې د ادا کولو چي کوم ترتيب ذکر سوی دی هغه د قرآن، سنت او اجماع په ذريعه واجب دی ، په دې اړه د يو مسئلې اختلاف نسته مګر د ځينو روافضو سره اختلاف دی چي د هغو هيڅ اعتبار نسته ، کوم څوک چي د مذکوره ترتيب سره سم دغه فريضه تر لاسه کړي او مخاطب هغه قبوله کړي نو سبحان الله ، او که يې قبوله نه کړي نو هغه سړی به په هر حال د خپلي ذمه دارۍ څخه خلاص وي، ددې څخه وروسته پر هغه يو بل شی واجب نه دی ، علماؤ ويلي دي چي ددغه امر (امر بالمعروف او نهي عن المنکر) فرضيت د کفايه په توګه دی او کوم څوک چي ددغه فريضې د ادا کولو طاقت درلودلو سربېره دغه ذمه داري پرته د يو عذر څخه پوره نه کړي نو هغه ګناه کار کيږي، مګر په ځينو صورتو کي دغه امر فرض وي د مثال په توګه يوه بدي په يو داسي ځای کي ظاهريږي چي د يو سړي څخه پرته بل څوک نه په پوهيږي يا د هغه د ازالې قدرت د هغه څخه پرته بل څوک نه لري لکه خپله ښځه، يا لور يې يوه بدي کوي نو دهغه بدۍ د ختمولو ذمه داري په خاصه توګه پر هغه سړي باندي عائد کيږي .

امام نووي رحمه الله دا هم ليكلي دي چې د عدم قبوليت گمان د امربالمعروف او نهي عن المنكر واجب كېدل نه ساقط كوي، كه د چا دا گمان وي چې د فلاني سړي په مخكې د نيكۍ تلقين كول يا هغه د بد كار څخه منع بېكاره دى ځكه چې هغه امر باالمعروف او نهي عن المنكر نه قبلوي، نو په دغه صورت كي هم پر هغه واجب دي چې هغه سړي ته د نېک كار كولو حكم كوي او د بدۍ څخه يې منع كوي او ددې خبري قطعا پروا نه كوي چې د هغه خبره ومنل سي يا ونه منل سي، ځكه چې موعظت او نصيحت اول خو بذات خود ډيري گټي لري او په يو صورت كي كله نا كله اثر هم كوي لكه څرنگه چې په قرآن كريم كې فرمايل سوي دي: (فان الذكرى تنفع المؤمنين)، دوهم دا چې محض د دغه گمان په وجه چې مخاطب د تلقين او نصيحت څخه اثر نه اخلي د خپلي ذمه دارۍ څخه مخ اړول نه دي پكار بلكه دا حقيقت مخته ايښودلو سره د نېكيو خپرولو او د بديو ختمولو په هڅه كي بوخت كېدل پكار دي چې خلكو خو رسولان هم درواغجن گرځولي دي او دهغوئ موظعت او نصيحت قبلولو څخه يې انكار كړى دى نو ايا هغه پيغمبرانو او رسولانو د حقي خبري د پېژندني فريضه پرې ايښې وه ، قرآن كريم چې كومه خبره د رسول او پيغمبر په اړه فرمايلې ده هغه پر هر چا باندي صادقيږي چې د امر باالمعروف او نهي عن المنكر ذمه دار گرځول سوي دي يعني : (وما على الرسول الاالبلاغ المبين)، يعني د رسولانو كار دادى چې د الله احكام ورسوي منل او نه منل يې د نورو كار دى .

څرگنده دي وي چې دامر باالمعروف او نهي عن المنكر فريضه يوازي پر حاكم او مقتدر مسلمان باندي نه عائد كيږي او نه دا ضروري ده چې ددغه كار تر سره كولو لپاره حاكم دخپلي خوا احكام جاري كړي بلكه ددغه حق عامو خلكو ته هم رسيږي چې هغوئ د امربا المعروف او نهي عن المنكر كار سرته ورسوي ، او په داسي زمانه كي چې طاقت او حكومت لرونكي مسلمانان ددغه فريضې څخه بالكل بې پرواهي كوي ، په خاصه توگه د عامو مسلمانانو ذمه داري ده چې هغوئ دغه كار سرته ورسوي او په ټولو مسلمانانو كي زياته ذمه داري پر علماؤ او مشائخو باندي عائد كيږي ،

همدارنگه ددغه فريضې په ادا كولو كي خپل مخاطب يوازي عام مسلمانان نه دي گڼل پكار بلكه د خاصو په ډول حاكمانو او نورو ته هم په مناسب انداز كي د نېكيو تلقين كول پكار دي او هغوئ چې په كومو بديو كي اخته دي د هغوئ څخه منع كول پكار دي ، د پخوانۍ زمانې بزرگانو به يوازي عوامو خلكو ته د نېكيو تلقين نه كوى بلكه د پاچاهانو ، حاكمانو په مخكي به يې هم د امر باالمعروف او نهي عن المنكر فريضه سرته رسول، دا خبره هم بايد په ذهن كي

وي چې امر باالمعروف او نهي عن المنكر هغه چا ته كول پكا ردي چې دا علم لري چې هغه د كوم شي حكم وركوي يا د كوم شي څخه منع كوي د شريعت په اعتبار د هغه يو حيثيت او ارزښت وي تر څو چې د هغه شيانو تعلق دى چې د هغه فرض يا واجب كېدل يا د هغه حرام كېدل داسي ظاهر دي چې ټول مسلمانان هغه پېژني لكه لمونځ، روژه او داسي نور يا زنا، شراب او داسي نور، نو ددغه شيانو په اړه امر باالمعروف او نهي عن المنكر عام مسلمانان هم كولاى سي مگر كوم شيان چې داسي وي چې د هغو په اړه عام مسلمانان علم نه لري او كوم چې د اجتهاد سره تعلق لري نو عامو خلكو ته په هغه كي مداخلت كول نه دي پكار ځكه چې د يو داسي شي څخه د منع كولو يا د هغه د ناجائز گرځولو حق يوازي علماؤ ته تر لاسه دی، كه څه هم علماؤ ته په داسي شيانو كي يوازي د هغه شي د اختيارولو څخه منع كول پكار دي چې د هغه منع متفق عليه وي، په مختلف فيه مسئلو كي بايد منع ونه كړل سي په خاصه توگه د هغه حضراتو د مذهب مطابق چې وايي چې هر مجتهد مصيب (ښه پوهېدونكی) وي، په پای كي دا بيانول ضروري دي چې كوم خلك د امر باالمعروف او نهي عن المنكر ذمه داري تر سره كوي نو هغوئ بايد ددغه فريضې په ترسره كولو كي د ښه اخلاقو، نرمۍ او تهذيب لار اختيار كړي او هغوئ دغه امر يوازي الله تعالى د رضا لپاره وكړي نه د يو دنياوي غرض او مقصد لپاره، په دغه صورت كي پر مخاطب باندي خبره اثر هم كوي او الله تعالى ثواب هم وركوي، همدارنگه كله چې يو سړي ته نصيحت كول وي نو د خلكو په شتون كي دي هغه ته نصيحت نه كوي بلكه په يوازيوالي او په پټه دي هغه ته نصيحت وكړي ځكه چې د خلكو په شتون كي چا ته نصيحت كول نصيحت نه دی بلكه د هغه سپكاوی دی.

د الله ﷻ په حدودو كي سستي

﴿۴۹۱۱﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَثَلُ الْمُدْهِنِ فِي حُدُودِ اللَّهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا مَثَلُ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً فَصَارَ

د الله تعالى په ټاكل سوو حدونو كي سستي كونكي يا په دغه حدودو كي غورځيدلي كسان د هغه خلكو په ډول دي چې د ځای تر لاسه كولو لپاره قرعه اندازي وكړي ځيني خلك د كښتۍ

بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا وَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلَاهَا فَكَانَ الَّذِي فِي أَسْفَلِهَا يَمُرُّ بِالْمَاءِ

په لاندي برخه کي سي او ځيني په سربيره برخه کي، بيا کوم خلک چي د کبنتی په پورته برخه

عَلَى الَّذِينَ فِي أَعْلَاهَا فَتَأَذَّوْا بِهِ فَأَخَذَ فَأْسًا فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ السَّفِينَةِ

کي وي هغوئ ته د لاندي خلکو څخه تکليف وي ځکه چي هغوئ د اوبو اخيستلو لپاره لوړ ځي ، پورته خلک د دغه څخه تنگ سي او لاندي خلک د تلو راتلو څخه منع کړي نو د لاندي خلکو څخه يو سړي يوه ورځ تبر پورته کړي او د غواړي چي د کبنتی بيخ سوری کړي

فَأَتَوْهُ فَقَالُوا مَا لَكَ قَالَ تَأَذَّيْتُمْ بِي وَلَا بُدَّ لِي مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ

د نوري برخي خلک هغه ته راسي او ورته وه وايي دا ته څه کوې ؟ هغه وايي تاسو ته زما د تلو راتلو څخه تکليف وو او زه د اوبو تر لاسه کولو لپاره مجبور يم (په دې وجه د اوبو لپاره ما ته يو صورت پيدا کول پکار دي په داسي حالت کي دوه صورتونه کيدلای سي) چي يا خو دي خلک

أَنْجَوْهُ وَنَجَّوْا أَنْفُسَهُمْ وَإِنْ تَرَكُوهُ أَهْلَكُوهُ وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ. رواه البخاري.

دغه ماتونکی د کبنتی ماتولو څخه منع کړي او د هغه سړي سره دي خپل ځان د ډوبيدو څخه وژغوري يا دي هغه پر خپل حال پريږدي چي هغه هم هلاک سي او دوئ هم هلاک سي . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٥\ ٢٩٢، رقم: ٢٦٨٦.

د لغاتو حل: المدهن: اى المتساهل. (سستی کوونکی)

تشريح: په حديث کي د مُدهِن لفظ ذکر سوی دی، چي معنی يې د مداهنت کونکي ده، او د مداهنت مفهوم دا دی چي يو ځوک د طاقت او قدرت درلودلو سربېره د شريعت خلاف کار په لېدو سره د هغه د ختمولو او امر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضې تر سره کولو څخه منع سي، او دغه منع کېدل د شرم په وجه وي يا د دين د بې پرواهی په وجه وي يا د يو بل غرض په وجه وي ، څرگنده دي وي چي په لغت کي د مداهنت او مدارت يوه معنی ده مگر په شريعت کي د مدارت اجازه ده بلکه په ځينو وختو کي دا مستحسن گرځول سوی دی حال دا چي د مداهنت صريح منع ده ، په شرعي نقطه نظر سره د مدارت او مداهنت په منځ کي فرق دا دی چي د مدارت بنياد د دين حفاظت ، د وخت رعايت او د ظالمانو د ظلم پر ليري کولو باندي وي او د مداهنت بنياد د خپل ځان پر ساتني او د هغه د خواهشاتو پوره کول، د خلکو څخه د منافعت او گټي تر

لاسه کولو او د دین څخه د بې پرواهۍ وي.

د الله ﷻ په حدودو کې د غفلت او سستۍ کولو مطلب دادی چې الله تعالی د گناهونو کومې سزاوې ټاکلې دي د هغه سزاوو د طاقت او قدرت درلودلو سربېره په قائم او جارې کولو کې بې پرواهې او غفلت کول یا الله ﷻ چې کوم گناهونه د حد موجب گرځولي دي (لکه زنا او شراب څښل او داسې نور) نو ددغه شیانو کونکي ددغه گناهو څخه په منع کولو کې غفلت کول او امر باالمعروف او نهي عن المنکر فریضې ادا کولو څخه منع کېدل، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: لکه څرنگه چې په کښتۍ کې سپور یو سړی د کښتۍ ماتول پیل کړي او په کښتۍ کې سپاره نور خلک هغه داسې کولو څخه منع کړي نو کښتۍ به د غرقېدو څخه وژغورل سي او ټول مسافر به خوندي او سلامت سي، او که چیري نور مسافر هغه سړی د هغه عمل څخه منع نه کړي نو ددې نتیجه به دا وي چې نه یوازې هغه سړی بلکه هغه نور ټول مسافر به هم د هغه سړي د هغه حرکت په وجه غرق او هلاک سي، همدارنگه که خلک یو فاسق او بدکاره سړی د هغه د فسق او بدکارۍ د لارې څخه منع کړي نو هغوئ به د هغه فاسق او بدکار د نجات او فلاح باعث هم سي او خپل ځان به هم د عذاب الهي څخه خوندي کړي.

او که خلک هغه فاسق او بدکار پر خپل حال پرېږدي چې هغه همدارنگه په فسق او بدکارۍ کې اخته وي نو بیا نه یوازې دا چې هغه فاسق او بدکاره به تباه او هلاک سي بلکه هغه خلک به هم د خپل ځان په هلاکت او تباهۍ کې اخته کړي، کله چې د نړېوالو د بدو اعمالو او بدو کارو په وجه د الله تعالی عذاب نازلیږي نو د هغه په تباهیو کې به څه ناڅه ټول خلک اخته کیږي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (واتقوا فتنة لا تصیبن الذین ظلموا منکم خاصة) ، تاسو ځان د هغه فتنې څخه وساتئ چې په خاصه توگه به هغه خلک اخته نه کړي چې هغوئ ظلم کړی دی، بلکه ستاسو د سستۍ په وجه به تاسو هم اخته کړل سئ.

چې په قرعه اچولو سره په کښتۍ کې ناست دی...الخ: مطلب دادی چې هغه خلکو په کښتۍ په درجو کې ویشلې وې چې په هغه کې یوه درجه د کښتۍ په سربېره برخه کې واقع وې او دوهمه درجه د کښتۍ په لاندې برخه کې وې او په هغه دواړو درجو کې د ناستې لپاره د قرعه اندازۍ (پچه اچولو) طریقه اختیار کړې وې چې د کوم چا نوم په قرعه کې د کومې درجې لپاره راووځي هغه سړی په هغه درجه کې کښېني، څرگنده دې وي چې دغه قرعه محض د یو اتفاقي قید په توگه ده کنه نو په عامه توگه په کښتۍ کې د ناستې دغه طریقه رواج نه ده بلکه د ناستې او د درجو وېش د کښتۍ د مالک او ناظم کار دی چې هغه د کرایې او ټکټ په حیثیت او ترتیب

سره كوم ځوک چي چيري غواړي هلته ځای ورکوي ، يا كوم چا ته چي چيري ځای تر لاسه سي هلته كښېني، مگر كه چيري كښتۍ د يوه سړي د ملكيت پر ځای په مشتركه توگه د څو اشخاصو ملكيت وي او هغه اشخاص په هغه كښتۍ كي غواړي نو په دغه صورت كي دا كيدای سي چي هغوئ ټول د خپلي خپلي ناستي لپاره قرعه واچوي او د كوم چا نوم چي د كومي درجې او كوم ځای لپاره ووځي هغه هلته كښېني .

فكان الذي في اسفلها ....الخ: دلته د الذي لفظ استعمالول د مخكني لفظ بعض په مناسبت سره دی او په دې كي دې ته اشاره ده كه چيري په هغه برخه كي په ناستو ټولو كي يوازي يو سړي هم داسي وكړي نو د هغه په اړه هم دا حكم دی . هغوئ چي د اوبو اخيستلو لپاره پورتنۍ برخي ته راسي: دلته د اوبو څخه مراد د اكثرو شارحينو په نزد هغه عامي اوبه دي چي د څښلو لپاره استعماليږي او ځيني شارحين وايي چي دلته د اوبو څخه مراد تشي يا ډكي بولي دي چي په لاندي برخه كي يې يو ځوک په لوښي يا بل څه كي وكړي او بيا يې په درياب كي د غورځولو لپاره سربېره برخي ته راسي او هلته د خلكو د منځ څخه تيريږي ، په دغه صورت كي د هغه سړي په وجه سربېره برخي والا ته تكليف او ناخوښي محسوس كول يقيني خبره ده، په هر صورت خلاصه داده چي د لاندي برخي والا د اوبو راوړلو لپاره يا بولو غورځولو لپاره سربېره برخي ته راسي او د هغه په وجه هلته ناست خلک تكليف محسوس كړي او بيا د لاندي برخي څخه يو سړی د هغوئ تكليف او ناخوښي په لېدو سره د كښتي لاندي برخه ماتول پېل كړي چي د هغه ځای څخه اوبه تر لاسه كړي يا بولي او داسي نور شيان وغورځوي .

يو شارح د حديث تشريح دا بيان كړې ده چي نبي كريم ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه د الله تعالى په حدودو كي غفلت او سستي كونكي ته د هغه چا سره تشبېه وركړې ده چي هغه د كښتۍ په سربېرنه برخه كي وي او په گناه كي اخته سړي ته يې د هغه چا سره تشبېه وركړې ده كوم چي د كښتۍ په لاندي برخه كي وي او هغه په گناهو كي په مستغرق كېدو سره او د هغه نه پرېښودو ته د كښتۍ د لاندي سطحي د ماتولو په عمل سره تشبېه وركړه او د گناهو كونكی د هغه گناهو څخه په منع كېدو د كښتۍ سطح ماتونكي لاس نيولو او هغه كښتۍ د ماتولو څخه په منع كولو تعبير وركړ او د گناهو څخه د منع كولو فائده يې د هغه ټولو خلكو فلاح او كاميابي سره تعبير كړ چي د اوبو اخيستلو لپاره پورته راتلونكي منع كړي، يا ځوک چي د اوبو لپاره پورته راسي او هغوئ د پورته راتلو څخه منع كړل سي او د گناهونو څخه نه منع كونكی يې په هغه خلكو سره تعبير كړ چي ماتونكی پر خپل حال پرېږدي يعني هغه كښتۍ د ماتولو

څخه منع نه کړي او سستي کونکي يعني خلک د ګناهو څخه نه منع کونکو ګناه او د ګناهو کونکو انجام يې په دې سره تعبير کړ که چيري د کښتئ سربېره خلک کښتئ ماتونکی منع نه کړي نو هغه به خپل ځان هم او د کښتئ ماتونکي هم په هلاکت کي واچوي او اسلام يې ګويا په کښتئ سره تعبير کړ چي دوا ړه ډوله خلک يې په خپل لمن کي اخيستي دي.

په پای کي دا څرګندول ضروري دي چي په حديث کي منع کونکې ډله يې د جمعي په صيغه سره ذکر کړه چي د هغه په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي د ټولو مسلمانانو لپاره ضروري ده چي د هغه سړي د توان سره سم مرسته وکړي کوم چي خلک د ګناهو او بديو څخه منع کولو فريضه سرته رسوي او همدارنګه د ګناه کونکي ذکر د مفرد په صيغې سره سوی دی دې ته اشاره کوي چي د ګناه کونکی د خپل حيثيت په اعتبار ناقص دی که څه هم هغوئ په شمېر کي زيات وي.

بې عمله واعظ

﴿۴۹۱۲﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ فَيطحن

د قيامت په ورځ به يو سړی راوستل سي او هغه به په اور کي وغورځول سي د هغه کولمې به اور ته د ورتلو سره سمدستي د هغه د نس څخه د باندي راووځي او هغه پر خپلو کولمو داسي

فيها كَطحن الْحِمَارُ بِرَحَاهُ فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُولُونَ أَيْ فُلَانُ مَا

شاوخوا راګرځي لکه خر چي پر ژرنده راګرځي ، د دې په ليدو سره به دوږخيان پر هغه راټول سي او ورته وه به يې وايي اې فلانی سړيه!

شَأْنُكَ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ قَالَ كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ. متفق عليه.

دا ستا څه حال دئ؟ تا خو به موږ ته د نيکئ حکم راکوئ او د بديو څخه دي منع کولو ، او س دي په خپله دا حال دئ ، هغه به ورته په جواب کي وايي هو ، ما به تاسو ته د نيکئ امر کوئ مګر

خپله به مي په هغه عمل نه کوئ او تاسو به مي د بدو کارو څخه منع کولاست خو خپله به مي کول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۶\۲۳۱، رقم: ۲۲۶۷ ومسلم ۱۴\۲۲۹۰، رقم: ۵۱- ۲۹۸۹.

د لغاتو حل: اقتابه: ای امعاوه (کولمې يې)

تشريح: لکه څرنگه چي مخکي ښودل سوي دي چي هغه سړي ته به دغه سزا د عمل نه کولو په وجه ورکول کيږي نه په دې وجه چي کله هغه خپله عمل نه کوی نو دامر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضه يې ولي سرته رسول ، که چيري هغه دغه فرض پرې ايښی وای نو د مذکوره عذاب څخه به هم زيات سخت عذاب ورکول کيدای ځکه چي په دغه صورت کي به پر هغه د دوو واجبو د ترک کولو گناه وای.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

امر بالمعروف او نهي عن المنکر

﴿۴۹۱۳﴾: عَنْ حُذَيْفَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللّٰهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عذابا من عنده ثُمَّ لتدعنه فَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ، رواه الترمذي.

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم دئ په هغه ذات چي د هغه په لاس کي زما ساه ده تاسو امر په نيکيو او منع د بديو څخه کوئ کنه نو ډير ژر به الله تعالى پر تاسو عذاب نازل کړي دغه وخت به تاسو د الله تعالى څخه دعاء غواړئ او ستاسو دعاء به نه قبليږي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۰۶، رقم: ۲۱۶۹.

تشريح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب دا دی چي په دواړو خبرو کي به يوه خبره خامخا کيږي يا خو به د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضه سرته رسوي او يا که تاسو د هغه فريضې د سرته رسولو څخه غافل سئ نو الله تعالى به د مختلفو سختيو او مصيبتو په صورت کي خپل عذاب پر تاسو نازل کړي او هغه وخت به تاسو د هغه سختيو او مصيبتو د دفع لپاره د الله تعالى څخه دعاء غواړئ مگر ستاسو دعاء به نه قبليږي ، ددې څخه معلومه سوه چي نور عذاب او

مصائب د دعاء په برکت د دفع کېدو احتمال لري مګر د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر ترک باندې د الله تعالی له خوا چې کوم آفات او بلاوي نازلیږي هغه د دعاء په ذریعه هم د دفع کېدو احتمال نه لري ځکه چې د هغه د دفع لپاره دعاء نه قبلیږي.

بزاز او طبراني په کتاب اوسط کې د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه دغه الفاظ نقل کړي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په دوو خبرو کې د یوې خبرې کېدل ضروري دي یا خو به تاسو یقینا امر بالمعروف هم کوئ او د نهي عن المنکر فریضه به هم تر سره کوئ یا د دواړو د عدم ادائیګي په صورت کې یقینا الله تعالی به پر تاسو خراب خلک مسلط کړي او بیا ستاسو نیکان خلک به د هغه خرابو خلکو د فتنې او فساد او ظلم د دفع لپاره دعاء کوي او هغه به نه قبلیږي.

ګناه بده وګڼئ

﴿۴۹۱۴﴾: وَعَنِ الْعُرْسِ ابْنِ عَمِيرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الْأَرْضِ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا. رواه ابوداؤد.

د حضرت عرس بن عمیرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چې په مځکه کې ګناهونه وسي نو څوک چې په زړه سره هغه بد وګڼي که څه هم هغه هلته موجود وي نو د هغه سړي په ډول به وي کوم چې هلته موجود نه وي او څوک چې هلته موجود نه وي او هغه ګناهونه بد ونه ګڼي نو هغه د هغه چا په ډول دئ چې هلته موجود وي (یعني ګناهونه بد ګڼونکی د ګناه کارانو د ډلې څخه ایستل کیږي او ګناه بد نه ګڼونکی په ګناه کارانو کې ګڼل کیږي). ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۱۴\۵۱۵، رقم: ۴۳۴۵.

تشریح: د حدیث خلاصه داده چې ګناه په هر حال کې ګناه او بده ګڼئ که ستاسو په مځکې یو ګناه کیږي نو اول خو هغه د لاس او ژبې په ذریعه د ختمولو هڅه وکړئ او که په دغه دواړو کې د یوه تاوان هم نه وي نو بیا چې کومه اخري درجه ده هغه اختیار کړئ یعنې هغه ګناه بده وګڼئ او په زړه کې د هغه خلاف د نفرت جذبه ولرئ په دغه صورت کې ستاسو شمېر به د هغه خلکو په ډله کې وي کوم چې هلته موجود نه وي او د هغوئ په مځکې هغه ګناه نه کیږي، ددې څخه څرګنده سوه چې د حقیقي موجودتیا او نه موجودتیا تعلق د زړه سره دی نه د بدن او جسم سره، نو کوم څوک چې د خپلو سترګو په مځکې کیدونکې ګناه بده وګڼي او په زړه کې د هغه خلاف

نفرت ولري نو ګويا په حقيقت کي هغه په هغه ځاى کي موجود نه دى چيري چي هغه ګناه کيږي که څه هم په ظاهري توګه هلته موجود دى او که چيري يو سړى ګناه ګناه ونه ګڼي يعني هغه ګناه او د ګناه کونکى بد ونه ګڼي نو ګويا هغه په حقيقت کي په هغه ځاى کي موجود دى چيري چي ګناه کيږي که څه هم په ظاهري توګه هلته موجود نه دى .

د ګناهو څخه نه منع کول

﴿۴۹۱۵﴾: وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الْآيَةَ

د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه خلكو ته وفرمايل : اې خلكو ! تاسو دا آيت وایاست:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ فَإِنِّي

(يا ايها الذين آمنوا عليكم...) اې مؤمنانو ! د خپلو ځانونو ساتنه پر ځان لازم كړى هر كله چي تاسو پر هدايت ياست نو څوک چي ګمراه سوي دي هغه تاسو ته څه تاوان نه سي رسولاى، ما

سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا مُنْكَرًا فلم

د رسول الله ﷺ څخه (ددې آيت په اړه) اوريدلي دي چي فرمايل يې : اې خلكو ! هر كله چي تاسو د شريعت خلاف يو كار ووينئ

يُغَيِّرُوهُ يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابِهِ. رواه ابن ماجة والترمذي و صححه

او د هغه اصلاح او تبديلي كوښښ ونه كړئ نو نژدې ده چي الله تعالى تاسو په خپل عذاب كي اخته كړي ، ابن ماجه او ترمذي او صحيح يې بللى دى،

وفي رواية ابي داؤد إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ

د ابوداؤد په روايت كي دا الفاظ دي كله چي ظالم ووينئ او هغه د ظلم څخه منع نه كړئ نو نژدې ده چي الله تعالى هغه ټول په خپل عذاب كي ګرفتار كړي،

اللَّهُ بِعِقَاب و في اخرى له مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي ثُمَّ يَقْدِرُونَ

د ابوداؤد په يو بل روايت كي دا الفاظ دي چي په كوم قوم كي ګناهونه وسي او هغه قوم د هغه

عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا ثُمَّ لَا يُغَيِّرُونَ إِلَّا يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ وفي اخرى له مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي هُمْ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَعْمَلُهُ.

پر اصلاح قدرت لري او بيا يې هم اصلاح ونه كړي نو نژدې ده چې الله تعالى هغه په عذاب كې اخته كړي ، او دابوداؤد په يو بل روايت كې دا الفاظ دي چې كوم قوم ګناهونه وكړي او د ګناه كارانو شمير زيات نه وي او قوم د هغه ګناهونه منع ونه كړي نو الله تعالى به هغوئ په خپل عذاب كې اخته كړي .

تخريج: سنن ابن ماجه ۱۲\ ۱۳۲۷، رقم: ۲۰۰۵، والترمذي ۱۴\ ۴۰۶، رقم: ۲۱۶۸، وابوداود ۱۴\ ۵۰۹، رقم: ۴۳۳۸.

تشريح: د آخري روايت د الفاظو مطلب دادى چې كله د خرابو خلكو په مقابله كې د نيكو خلكو شمېر زيات وي او هغه نېک خلک د خپل كثرت سربېره پر هغه خرابو خلكو باندي واک تر لاسه نه كړي او هغوئ د ګناه د لارو څخه منع نه كړي نو هغوئ به يقينا د عذاب الهي مستحق ګرځول كيږي ځكه چې د هغوئ په اكثريت كې كېدل د بديو پر دفع كولو باندي د قدرت لرلو مترادف دى او د قدرت لرلو سربېره د بدېو د بيخ كښنلو هڅه نه كول يو داسي غفلت او تقصير دى چې پر هغه د الله تعالى عذاب نازليږي .

د ذكر سوي آيت په اړه دا وضاحت سوى دى چې دغه آيت د خپل حكم په اعتبار عام او مطلق نه دى بلكه ددې سره مخصوص او مقيد دى چې كوم خلک د وعظ، نصيحت او خبرداري سربېره د بدى، لار نه پرېږدي نو پر هغوئ د امر باالمعروف او نهي عن المنكر هيڅ اثر نه وي او هغوئ پر خپله اختيار كړي لار باندي مطمئن او خوشحاله دي لكه څرنګه چې په قيامت كې نژدې به د خلكو دغه حال وي ، نو د داسي خلكو په اړه مذكوره آيت وايي چې د داسي خلكو د بديو وبال هغه بندګانو ته هيڅ تاوان او ضرر نسي رسولاى كوم چې الله تعالى هدايت يافته كړي دي او د بديو د لارو څخه ليري اوسيږي، ددې تائيد ددغه روايت څخه هم كيږي چې په هغه كي نقل سوي دي چې يو وار دغه آيت د حضرت ابن مسعود ؓ په مخكي وويل سو او د هغه څخه يې ددې مطلب پوښتنه وكړه، نو هغه وفرمايل تاسو چې په كومه زمانه كي ياست هغه زمانه ددغه آيت محمول نه ده ځكه چې ستاسو د زمانې خلک خو نيكي خبري اوري او د هغو اثر قبلوي مګر په پاى كي يوه زمانه داسي راتلونكي ده كله چې د الله تعالى بندګان د امر

باالمعروف او نهي عن المنكر فريضه سرته رسوي نو خلك به د هغوئ خبري نه اوري نو دغه آيت د راتلونكي زمانې په اړه خبر وركوي همدارنګه د حضرت ثعلبه رضي الله عنه روايت چي مخته راځي پر دې دلالت كوي.

ځينو مفسرينو ليكلي دي چي په دغه آيت كي د هدايت يافته ځخه مراد هغه مؤمنان دي چي د بدو كارو ترديد او تغليظ كوي او دنهي عن المنكر فريضه سرته رسوي، په دې مناسبت سره ذكر سوى حديث ته د دغه آيت تفسير ويل كيداى سي، د ضرر ځخه مراد عام عذاب دى او د انفسكم ځخه مراد مسلمانان دي، تاسو خپل ځانونه لازم ونيسئ، د دې مطلب دادى چي تاسو خلك په خپلو كي د يو بل د اصلاح او هدايت كولو ذمه داري په پوره توګه سرته رسوئ كه تاسو په دې توګه عامل ياست او د يو بل د بديو ځخه په منع كولو سره د هدايت لار نيولي وي نو هيڅ ګمراهي به تاسو بې لاري نه كړي او د چا ګناه به تاسو ته تاوان نسي رسولاى.

ملا علي قاري رحمة الله عليه ليكلي دي د آيت مطلب دادى چي اې مسلمانانو! تاسو خپل ځان د ګناهو ځخه محفوظ وساتئ كه تاسو د ګناهو او بديو ځخه د خپل ځان ساتنه وكړه نو همدارنګه به هدايت يافته سئ او كه په يو وجه د امر باالمعروف او نهي عن المنكر د فريضې سرته رسولو ځخه عاجز پاته سئ نو بيا تاسو ته د دغه خلكو د ګمراهۍ عذاب هيڅ تاوان نسي رسولاى كوم چي د شريعت خلاف كارو او بديو په كولو سره ګمراه سوي وي.

﴿۴۹۱۶﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدَاللهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ فِي قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا عَلَيْهِ وَلَا يُغَيِّرُون إِلَّا أَصَابَهُمُ اللهُ منه بِعِقَابٍ قَبْلَ أَنْ يَمُوتُوا.

رواه ابوداؤد وابن ماجة.

د حضرت جرير بن عبدالله رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم ځخه دا اوريدلي دي په كوم قوم كي چي داسي كس موجود وي چي ګناه كوي او د هغه د ګناه ځخه په منع كولو دغه قوم قدرت لري او بيا يې هم نه منع كوي نو الله تعالى به يې د مرګ ځخه مخكي په خپل عذاب كي اخته كړي. ابوداؤد او ابن ماجه

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\ ۵۱۰، رقم: ۴۳۳۹، وابن ماجه ۲\ ۱۳۲۹، رقم: ۴۰۰۹.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي د الله تعالی هغه عذاب په دنيا كي نازليږي كه څه هم هغه په هر صورت كي وي، ددې څخه معلومه سوه چي امر باالمعروف او نهي عن المنكر ترك كولو په وجه په دنيا كي هم عذاب رسيږي او د آخرت عذاب خو هم وي چي هلته به رسيږي ددې پر خلاف د نورو گناهونو پر كونكو باندي په دنيا كي عذاب كېدل ضروري نه دي.

په اخيره زمانه كي په دين عمل كولو فضيلت

﴿۴۹۱۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ ثَعْلَبَةَ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالٰى عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ

حضرت ابو ثعلبة ﷺ د الله تعالى ددغه ارشاد (عليكم انفسكم......) په اړه فرمايي :

إِذَا اهْتَدَيْتُمْ فَقَالَ أَمَا وَاللّٰهِ لَقَدْ سَأَلْتُ عَنْهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په الله دي مي قسم وي ما د رسول الله ﷺ څخه ددغه آيت په اړه پوښتنه وكړه (يعني دا چي ددې سره سم زه د امر بالمعروف او نهي عن المنكر كار پريږدم)،

فَقَالَ بَلْ ائْتَمِرُوا بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنَاهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ حَتّٰى إِذَا رَأَيْتَ شُحًّا مُطَاعًا

رسول الله ﷺ وفرمايل :يا ، بلكه جاري يې وساته تر څو چي ته وويني چي د بخل اطاعت كيږي

وَهَوًى مُتَّبَعًا وَدُنْيَا مُؤْثَرَةً وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِي رَأْيٍ بِرَأْيِهِ وَرَأَيْتَ أَمْرًا لَا بد لَكَ

د خواهش نفس اتباع كيږي او دنيا ته پر آخرت ترجيح وركوي او هر عقلمند يې رايه غوره گڼي او چي ته دا ووينې چي د كومي خبري څخه دي خلاصون نه سته

منه فَعَلَيْكَ نَفْسَكَ وَدَعْ أَمْرَ الْعَوَامِّ فَإِنَّ مِنْ وَرَائِكُمْ أَيَّامًا الصَّبْرُ فَمَنْ صَبَرَ

نو ته خپل ځان لازم ونيسه (يعني خپل ځان وساته) او عوام پريږده ځكه چي ستا راتلونكى وخت به داسي وي چي په هغه كي به ته صبر كوې په دغه ورځو كي چي څوك صبر كوي

فِيهِنَّ قَبْضَ عَلَى الْجَمْرِ لِلْعَامِلِ فِيهِنَّ أَجْرِ خَمْسِينَ رَجُلًا يَعْمَلُونَ مِثْلَ

د هغه به دا كيفيت وي چي گويا هغه په خپل لاس كي سكروټه اخيستې ده ، په دغه ورځو كي چي څوك ددين په احكامو عمل كوي هغه ته به پنځوسو كسانو د عمل ثواب وركول كيږي،

عَمَلِهِ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْهُمْ قَالَ أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْكُمْ. رواه

الترمذي و ابن ماجة.

صحابه کرامو وویل: اې دالله رسوله ! د هغه پنځوسو کسانو د عمل ثواب چې په هغه زمانه کې وي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: یا، بلکه په تاسو کې د پنځوسو کسانو د عمل ثواب. (یعني د رسول الله ﷺ د وخت د خلکو ثواب) .ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۲۴۰، رقم: ۳۰۵۸، وابن ماجه ۲\۱۳۳۰، رقم: ۴۰۱۴.

تشریح: ورایت امرا لا بدلک: کله چې ته داسي شی ووینې چې د هغه څخه پرته چاره نه وي، مطلب دادی که چیرې د داسې خرابۍ زمانه وي چې هغه خوا ته د خواهش نفسي میلان کیږي او د خلکو په منځ کې راتلې او د هغوئ سره د اوسېدو په وجه د خلقت انساني پر بنا بې اختیاره په هغه بدې کې د اخته کېدو بېره وي نو په دغه صورت کې د هغه خلکو څخه لیرې والی اختیارول لازم دي چې د هغه بدۍ څخه خلاص سي، په ځینو حاشیو کې دا مطلب لیکلی دی چې د لابدلک څخه مراد د خپل عجز په سبب د نهي عن المنکر فریضي تر سره کولو څخه معذوره کېدل وي یعني که چیرې ته یو داسې بدي ووینې چې د هغه څخه د خلکو د منع کولو توان نه لرې او د هغه په وجه ته د نهي عن المنکر د فریضې ادا کولو څخه سکوت او مخ اړوې نو په هغه صورت کې ستا لپاره ضروري ده چې د داسې خلکو څخه بېلوالی اختیار کړې کوم چې په هغه بدۍ کې اخته دي، دغه معنی د کتاب د هغه نسخو د روایت مطابق ده چې په هغه کې لابدلک د هغه څخه پرته ستا لپاره څه چاره نه وي، پر ځای لایدلک، یعني لاقدرة لک علیه، یعني د هغه د منع کولو توان تا ته تر لاسه نه وي،

د ذکر سوي جملې مراد دا هم کیدای سي که چیرې تا ته داسې امر پېښ وي چې ستا لپاره ډېر ضروري وي او د سخت ارزښت حامل وي او د هغه په وجه ته د نهي عن المنکر فریضه تر لاسه کولای نسې په دې توګه که چیرې ته خپله توجه او خپل وخت د دغه فریضې په تر سره کولو کې ولګوې نو ستا هغه ضروري امر به فوت سي نو په دغه صورت کې ته د هغه خلکو څخه بېلوالی اختیار کړه کوم چې په بدیو کې اخته وي او د هغوئ د خرابیو منع کولو څخه ته معذور یې.

او د عامو خلکو د معاملو سره تعلق مه ساته: مطلب دادی چې کله ته خلک ووینې چې هغوئ په خرابیو کې اخته دي مګر ته د قدرت نه لرلو په وجه د نیکۍ د تلقین کولو او د بدۍ څخه د منع کولو څخه سکوت کول ضروري ګڼې نو په دغه صورت کې تا ته پکار ده چې د خپل ځان اصلاح ته متوجه سې او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د فریضې ادا کولو پر ځای

خپله خپل ځان د ګناهو او خرابیو څخه خوندي وساته او په نېکو کارو کي بوخت اوسه او د خلکو معاملات او حالات الله تعالی ته وسپاره که هغه وغواړي نو په خپل فضل او کرم سره به هغوئ پر سېده لار راولي کنه نو سخته سزا به ورکړي، د دغه حکم بنیاد پر دغه حقیقت دی چي الله تعالی یو سړی دومره ذمه دار ګرځوي څومره چي هغه توان لري.

لکه هغه چي په خپل لاس کي سکروټه اخیستې ده: دغه جمله په اصل کي د سختئ زغملو کنایه ده یعني په هغه زمانه کي پر دین باندي تلل او د دنیا څخه بې شوقي کول به اسانه کار نه وي بلکه دغه کار به دومره سخت وي لکه یو څوک چي په خپل لاس کي تو ده سکروټه ونیسي او بیا د هغه تکلیف وزغمي.

د حدیث د آخري برخي څخه مذکوره صفت یعني پر دین باندي د عمل کولو تکلیف زغمل او پر هغه صابر او شاکر اوسېدو کي پر صحابه کرامو باندي د اخرې زمانې د دینداره خلکو فضیلت ثابتیږي او ځکه ویل کیږي چي جزي فضیلت د کلي فضیلت خلاف کیدای نسي، ابوعمرو بن عبدالبر چي مشهور محدث دی په خپل کتاب استیعاب کي پر دغه مسئله بحث کړی دی او لیکلي یې دي چي دا ممکن ده چي په دغه امت کي د صحابه کرامو څخه وروسته یو داسي څوک پیدا سي چي د یو صحابي په ډول مرتبه ولري بلکه تر صحابي به هم زیات فضیلت لري، هغه د خپل دغه قول په دلیل کي هغه حدیثونه وړاندي کړي دي چي د هغو څخه دا خبره مفهوم کیږي مګر د علماؤ مختار قول ددې پر خلاف دی، څرګنده دي وي چي دغه اختلاف د هغه صحابه کرامو سره دی کوم چي د رسول الله ﷺ په لاس مبارک ایمان راوړ او بېرته خپل هیواد ته ولاړل او تر دې زیات د رسول الله ﷺ صحبت هغوي ته حاصل نه سو، او کوم چي د هغه صحابه کرامو د ذات تعلق دی چي هغوئ ته رسول الله ﷺ د طویل صحبت او ملګرتیا شرف حاصل دی چي شپه او ورځ به د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وه او هغوئ آثار او انوار صحبت جمع کړه نو د هغوئ ذات د دغه اختلاف څخه ماوراء دی چي د هغوئ په اړه د هیڅ عالم دا قول نسته چي د دغه امت یو فرد په هغه صحابه کرامو کي د یو چا مرتبې یا د هغه څخه زیات فضیلت درلودلای سي بلکه موږ د جمهورو علماؤ د قول مطابق بېله استثناء د صحابه کرامو په اړه دا وایو چي د شرف صحابیت مرتبه هر یو صحابي ته حاصله ده که څه هم هغه د رسول الله ﷺ په لاس مبارک ایمان راوړلو سره خپل هیواد ته تللی وي او که ټول عمر د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کي پاته سوی وي او دغه شرف بذات خود ددې درجې دی چي د هغوئ څخه پرته هیڅ کس هم په هغه مرتبه کي د هغوئ شریک کیدای نسي نو د دغه امت هیڅوک هم بېله

استثناء د يو صحابي مرتبې ته نسي رسيدلای ، په قوت القلوب کي ليکلي دي چي پر جمال مصطفی ﷺ باندي په لوېدونکي نظر سره هغه حقائق ښکاره کيږي او هغه مقام او مقصد تر لاسه کيږي چي نورو ته په کلونو قرنونو او رياضت سره هم نسي تر لاسه کيدای .

﴿۲۹۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي (يوه ورځ) رسول الله ﷺ ودرېدی په موږ کي

وَسَلَّمَ خَطِيبًا بَعْدَ الْعَصْرِ فَلَمْ يَدَعْ شَيْئًا يَكُونُ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا ذكره

د مازديگر د لمانځه وروسته د خطبې لپاره ، په هغه خطبه کي يې تر قيامت پوري د راتلونکو ټولو خبرو يادونه وکړه ،

حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ وَكَانَ فِيمَا قَالَ إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ

هغه خبري ياد وساتلې چا چي ياد وساتلې او هيري يې کړې چا چي هيري يې کړې، رسول الله ﷺ چي څه وفرمايل : په هغه کي دا هم وه چي دنيا خوږه ده او تازه ده

اللّٰهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا فَنَاظِرٌ كَيْفَ تَعْمَلُونَ أَلَا فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ

الله تعالی به په دې کي تاسو خليفه جوړ کړي بيا به گوري چي تاسو څنگه عمل کوئ ، خبردار! د دنيا څخه ځان وساتئ، او د ښځو څخه ځان وساتئ ،

ذَكَرَ أَنَّ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقَدْرِ غَدْرَتِهِ فِي الدُّنْيَا وَمَا غَدْرَ أَكْبَرَ مِنْ

ددې وروسته يې وفرمايل : دهر وعده ماتونکي سره به د قيامت په ورځ يو بيرغ وي چي د هغه د بې قولۍ سره سم به لوړ يا کښته وي

غَدْرِ أَمِيرِ الْعَامَّةِ يُغْرَزُ لِوَاؤُهُ عِنْدَ اسْتِهِ قَالَ لَا يَمْنَعَنَّ احدا منكم هَيْبَةُ النَّاسِ

دا به په دنيا کي دده د بې قولۍ په اندازه غټه يا کوچنۍ وي ، دغه بيرغ به د هغوئ مقعد (د انسان د شا خاص اندام) ته نژدې ودرول سي ، بيا يې وفرمايل : په تاسو کي دې د خلکو هيبت او خوف څوک د حق خبري کولو څخه منع نه کړي

أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ إِذَا عَلِمَهُ وفي رواية ان راى منكرا ان يغيره فَبَكَى أَبُو سَعِيدٍ و

هر کله چي د هغه حق خبري څخه خبر وي، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي هر کله په تاسو
کي يو څوک د شريعت خلاف يو کار ووينی نو د هیڅ بیره دي تاسو د هغه د اصلاح څخه منع نه
کړي (د دغه بیان څخه وروسته) ابو سعيد په ژړا سو

قَالَ قَدْ رَأَيْنَاه فَمَنَعَتْنَا هيبة الناس ان نتكلم فيه ثم قال أَلَا إِنَّ بَنِي آدَمَ

او وه يې ويل: ما د شريعت خلاف کار په خپلو سترګو سره وليدی او د خلکو د بيري د هغه په
اړه ما څه ونه ويل، رسول الله ﷺ وفرمايل: په ياد لرئ د آدم عليه السلام اولاد

خُلِقُوا عَلَى طَبَقَاتٍ شَتَّى فَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا وَيَحْيَا مُؤْمِنًا وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا

د مختلف طبقاتو څخه پيدا سوی دئ په دوئ کي ځيني هغه دي چي مؤمنان پيدا کړل سوي دي
هغه ټول ژوند د ايمان په حالت کي تيروي او پر ايمان يې خاتمه کيږي

وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا وَيَحْيَا كَافِرًا وَيَمُوتُ كَافِرًا وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا وَيَحْيَا

او ځيني پکښي هغه دي چي کافر پيدا کړل سوي دي ټول ژوند د کفر په حالت کي تيروي او پر
کفر يې خاتمه کيږي او ځيني پکښي داسي دي چي مؤمن پيدا سوي دي او ژوند تيروي

مُؤْمِنًا وَيَمُوتُ كَافِرًا وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا وَيَحْيَا كَافِرًا وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا قال وذكر

د ايمان په حالت کي مګر خاتمه يې پر کفر کيږي او ځيني پکښي کافران پيدا سوي دي د کفر په
حالت کي ژوند تيروي مګر پر ايمان يې خاتمه کيږي، ابو سعيد راوي وايي د دې څخه

الْغَضَبِ فَمِنْهُمْ من يكون سَرِيعُ الْغَضَبِ سَرِيعُ الْفَيْءِ فاحداهما بالاخرى

وروسته رسول الله ﷺ د غصې د ډولونو ذکر وکړ او وه يې فرمايل: ځيني کسان داسي دي چي
سمدستي په غضب سي مګر د هغوئ غصه ژر ختمه سي په دغه دوو خبرو کي يو د بل بدل دي
يعني ژر غصه راتلل بده خبره ده او ژر غصه تلل ښه خبره ده..

ومنهم من يكون بطئ الغضب بطئ الفئ فاحداهما بالاخرى وخياركم من

ځيني کسان داسي دي چي په ځنډ غصه کيږي او په ځنډ يې غصه ځي دا د يو بل بدل دي (يعني د
غصې په ځنډ راتلل ښه دي او وروسته يې ختميدل بد دي) او همداسي يوه بدي د يوې نيکی

سره په يو ځاى كيدو سره برابر سي، او رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي غوره كس هغه دئ

يكون بَطِيءُ الْغَضَبِ سَرِيعُ الْفَيْءِ وَشِرَارِكُمْ مَنْ يَكُوْنُ سَرِيعُ الْغَضَبِ بَطِيءُ

چي په زنډ غصه ورسي او ژر يې غصه ختمه سي او بد ترين خلک هغه دي چي ژر غصه ورسي او په زنډ ولاړه سي،

الْفَيْءِ قَالَ اتَّقُوا الْغَضَبَ فَإِنَّهُ جَمْرَةٌ عَلٰى قَلْبِ ابْنِ آدَمَ أَلاَ تَرَوْنَ إِلَى انْتِفَاخِ

ددې وروسته يې وفرمايل: د غصې څخه ځان وساتئ ځكه چي هغه د آدم عليه السلام د زوى په زړه يوه سكروټه وي تاسو نه وينئ هر كله چي د انسان غضب نازل سي

أَوْدَاجِهِ وَحُمْرَةِ عَيْنَيْهِ فَمَنْ أَحَسَّ بِشَيْءٍ مِّنْ ذٰلِكَ فَلْيَضْطَجِعْ وَلْيَتَلَبَّدْ بِالْأَرْضِ

نو د هغه د غاړې رګونه وپړسيږي او سترګي يې سرې سي هر كله چي تاسو غصه محسوسه كړئ نو پريوځئ او د مځكي سره جخت سئ.

قَالَ وَذَكَرَ الدَّيْنَ فَقَالَ مِنْكُمْ مَنْ يَكُوْنُ حَسَنَ الْقَضَاءِ وَإِذَا كَانَ لَهُ أَفْحَشَ فِي

ددې وروسته رسول الله ﷺ د پور او د پور د ولونو يادونه وكړه، چي په تاسو كي ځيني خو هغه دي چي په پور ادا كولو كي ښه دي مګر كله چي د هغه پر چا پور سي

الطَّلَبِ فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرٰى وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُوْنُ سيئ الْقَضَاءِ وَإِنْ كَانَ لَهُ أَجْمَلَ

نو په ادا كولو كي سختي او بد كلامي كوي په دې كي يو عادت د بل عادت بدل دئ، ځيني داسي دي چي په پور ادا كولو كي خراب دي خو كه د هغه پر چا پور سي نو په هغه كي نرمي

فِي الطَّلَبِ فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرٰى وَخِيَارُكُمْ مَنْ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ الدَّيْنُ أَحْسَنَ

كوي په دې كي يو عادت د دويم عادت بدل دئ مګر په تاسو كي غوره كس هغه دئ چي پر هغه پور وي نو په ښه ډول يې ادا كړي

الْقَضَاء وَإِنْ كَانَ لَهُ أَجْمَلَ فِي الطَّلَبِ وَشِرَارُكُمْ مَنْ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ الدَّيْنُ أَسَاءَ

او كه پر بل د هغه پور وي نو په نرمۍ سره يې غوښتنه كوي، او بد ترين كس هغه دئ چي په پور

الْقَضَاءَ وَإِنْ كَانَ لَهُ أَفْحَشَ فِي الطَّلَبِ حَتَّى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ عَلَى رُؤُوسِ النَّخْلِ

ادا كولو كي خراب او په خپله غوښتلو كي هم سخت او بد كلام وي،. د راوي بيان دئ چي رسول الله ﷺ په خطبه كي د نصيحت دا خبري كولې تر څو چي لمر د خرماوو د ښاخونو او

وَأَطْرَافِ الْحِيْطَانِ فَقَالَ أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا فِيْمَا مَضٰى مِنْهَا إِلَّا كَمَا بَقِيَ مِنْ يَّوْمِكُمْ هٰذَا فِيْمَا مَضٰى مِنْهُ. رواه الترمذي.

ديوالونو غاړي ته ورسيدئ (يعني د لمر لويدو وخت راغلئ) نو (رسول الله ﷺ) وفرمايل : خبردار! زمانه تيره سوې ده د هغې په مقابله كي يوازي دومره زمانه پاته ده څومره چي دا ورځ د ورځي نژدې پوره برخه تيره سوې ده او څو لمحې پاته سوي دي همداسي د دنيا حال دئ، د دنيا زياته برخه تيره سوې ده او اوس يو څو لمحې پاته دي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۱۹، ۴۲۰، رقم: ۲۱۹۱.

د لغاتو حل: است: اى دبره (د شا شرمگاه). الفيء: اى الرجوع من الغضب.

تشريح: دغه دنيا ډېره خوږه او شنه ده: مطلب دادی چي دغه دنيا د خپل متعلقاتو سره په ظاهره دومره خوندوره ده چي محض پر ظاهري حالت باندي خلكو ته په طبعي توگه سره ډېر مناسبت او هغه ته ميلان وي او دهغوئ په سترگو كي د دې حقيقت ډېر په زړه پوري او زرغون معلوميږي، ځيني حضرات وايي چي د اهل عربو په نزد كوم شی چي نرم او نازک وي او دخپل بقاء په وجه تر زيات وخت پوري نه پاته كيږي بلكه ژر ختميږي هغه ته خلق خضروات يعني شنكياوو سره مشابهت وركولو سره ورته خضراء وايي، په هر حال د حديث په دغه جمله كي دا حقيقت څرگند سوی دی چي دغه دنيا د مكر او تصنع ظاهري حسن او لذت څخه ډكه ده چي خلق پر خپل ظاهري حسن او جمال باندي عاشق كوي او خپل لذات او خواهشاتو ته يې مائل كوي حال دا چي دغه ټول خواهشات او خوندونه ډېر ژر فنا كيږي.

الله ﷻ تاسو په دغه دنيا كي خليفه گرځولي ياست: مطلب دادی چي په دغه دنيا كي تاسو ته كوم مال او دولت حاصل دی د هغه په اړه تاسو په دې حقيقت پوه سئ چي د دغه مال او دولت تاسو حقيقي مالكان نه ياست بلكه حقيقي مالک الله تعالی دی او تاسو يوازي د هغه په تصرف كي د خليفه او وكيل حيثيت لرئ، يا دا چي الله تعالی تاسو د هغه خلكو خليفه گرځولي ياست كوم چي ستاسو څخه مخكي په دغه دنيا كي وه او د هغوئ مال او جائيداد يې تاسو ته

سپارلی دی نو هغه دا گوري چي تاسو د خپل اموالو او املاكو په باره كي څه عمل اختيار وئ او په دې كي څرنگه تعريف كوئ، يا دا چي تاسو د تېرو خلكو د حال او انجام څخه څرنگه عبرت اخلئ او د هغوئ په پرې ايښي مالو او جائيدادو كي څرنگه تصرف كوئ.

تاسو د دنيا څخه ځان ساتئ: مطلب دادی چي تاسو د دنيا په دې حقيقت پوه سئ چي دا فنا كېدونكی شی دی او د دې هيڅ شي ته استحكام او دوام نسته نو بيا په دې پسي لگېدل ډېره نامناسب او د كم عقلۍ خبره ده نو تاسو د دومره دنيا تر لاسه كولو هڅه مه كوئ چي د ضرورت او اړتيا څخه زياته وي او اړتيا هم هغه چي په هغه سره د عزتمند ژوند بقاء ، د دين مرسته او په آخرت كي گټه تر لاسه سي.

همدارنگه د ښځو څخه ځان وساتي: مطلب دادی چي د ښځو د حسن او جمال او ناز او مكر څخه ځان وساتئ، داسي نه چي دغه شی مو د مال او دولت جمع كولو حرص او د دنيا زياتي تر لاسه كولو په شوق كي اخته كړي چي د هغه په وجه تاسو د علم او عمل د لاري څخه ليري سئ.

د امير عامه څخه مراد هغه سړی دی چي د مسلمانانو حالات او د هغوئ پر هيواد او ښار باندي غالب او حكمران سوی وي او عامو خلكو د علماؤ او پوهانو د رايي او مشورې څخه پرته هغه سړی خپل امير او حاكم منلی وي او د هغه مرستيالان وي.

د حضرت ابو سعيد رضی الله عنه ژړا له دې كبله وه چي موږ د حق كلمې ويلو په اړه هغه مرتبه ترک كړه كومه چي اعلی وه او هغه دا چي په هر حال كي حق خبره وكړل سي كه څه هم د هغه په بدله كي د سر تاوان وي ، څرگنده ده چي د هغه دغه احساس محض د هغه د كمال ايمان او د دين شدت احتياط باندي مبني وه كنه حقيقت دادی چي دغه مرتبه ترک كول د اسلامي تعليمات خلاف نه وه بلكه پر هغه حديثو باندي د عمل كولو په وجه وه چي د هغو څخه څرگندېږي چي اهل ايمان ته د كمزورۍ او عجز په صورت كي د حق كلمې ويلو څخه سكوت اختيارول جائز دي، په شرط د دې چي د دې په وجه د ځان او مال او عزت د هلاكت او تاوان بېره وي،

د دې څخه دا خبره ظاهره سوه چي كله د اسلام په ابتدائي زمانه كي د اكابرو صحابه كرامو په ډول عظيم انسانان چي د دين په باره كي ډېر سخت وه او د يقين او معرفت په دولت سره په پوره توگه برخمن وه كه هغوئ د دغه وصف او مرتبې سربېره د اهل باطل لكه يزيد او حجاج سفاک او داسي نورو د بيري څخه د اظهار حق قدرت نه درلودی نو زموږ په ډول مسلمانانو په اړه څه ويل كيدای سي چي د اهل ايمان ډېره كمزورې زمانه ده چي په هغه كي باعمله علماء او ايماني جرات او ايثار لرونكي راهبران ډېر كم دي او درياكاره مشائخو او صوفيانو كثرت دی

او په هغوئ اکثر ظالمان اميران او حاکمان مسلط دي ، په دې کي شک نسبته چي دغه زمانه د صبر او تحمل او يوازيوالي اختيارولو ده.

ځيني هغه دي چي مؤمن پيدا کيږي يعني د هغوئ زيږېدنه د مؤمن مور او پلار په کور کي وي يا په اسلامي ښار کي وي او په دې اعتبار هغوئ ته مؤمن ويل کيږي دا وضاحت ځکه کيږي چي کله يو سړی پيدا کيږي نو د پوهي عمر ته د رسېدو څخه مخکي هغه ته د ايمان نسبت نه کيږي دا بېله خبره ده چي علم الهي په اعتبار يا ددې څخه د راتلونکي زمانې د حالت په اعتبار هغه ته د ايمان نسبت وکړي همدارنګه ځيني خلک هغه دي چي کافر پيدا کيږي، ددې څخه مراد هغه خلک دي چي د کافر مور او پلار څخه پيدا کيږي يا د هغوئ زيږېدنه د کافرانو په سيمه او هيواد کي کيږي، په دې اعتبار د حديث دغه جمله د هغه حديث خلاف نه ده چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي: (کل مولود يولد على الفطرة) ځکه چي د دغه ارشاد : (کل مولود الخ) مراد دابنودل دي چي کوم څوک دغه دنيا ته راځي هغه په فطري توګه د هدايت او راستۍ قبلولو صلاحيت لري په شرط ددې چي يو داسي مانع نسي چي هغه د ګمراهۍ پر لار بوځي لکه څرنګه چي خپله د دغه حديث وروستني الفاظ : فابواه يهود انه ...الخ، پر دې دلالت کوي، څرګنده دي وي چي په ذکر سوي ارشاد کي د خلکو کوم ډولونه چي بيان سوي دي هغه دغالب او اکثريت په اعتبار دي کنه ځيني خلک داسي هم دي چي مؤمن پيدا کيږي د کفر په حالت کي ژوند تېروي مګر د هغوئ خاتمه د ايمان په حال کي وي همدارنګه ځيني هغه کسان دي چي کافران پيدا کيږي د ايمان په حالت کي ژوند تېروي مګر دهغوئ خاتمه پر کفر وي، کيدای سي چي دغه دواړه ډوله خلک ددې لپاره ذکر نه کړل سوه چي دلته حقيقي مقصد دا خبره څرګندول دي چي په هدايت کي او ګمراهۍ کي اصل اعتبار د خاتمې د حالت دی او دا خبره د ذکر سوو ډولو په بيانولو سره په اجمالي توګه په پوهه کي راځي.

پر بغل دي پرېوځي او د مځکي سره دي جوخت سي: د غصې راتلو په وخت کي د دغه حالت اختيارولو حکم ځکه ورکړل سوی دی چي دغه حالت په نفسياتي توګه د غصې دفع کولو غوره ذريعه ده ځکه چي د غصې په وخت کي د مځکي په لګېدو سره پر بغل باندي پرېوتل په سمدستي توګه دا احساس پيدا کوي چي زما حقيقت بس دومره دی چي زه د خاورو څخه پيدا يم او اخر به خاورو ته ورځم نو ما ته تکبر نه دی پکار بلکه د تحمل او انکسارۍ لاره اختيارول پکار دي.

﴿۴۹۱۹﴾: وَعَنْ اَبِي الْبَخْتَرِيِّ عَنْ رَّجُلٍ مِّنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَهْلِكَ النَّاسُ حَتَّى يُعْذِرُوا مِنْ أَنْفُسِهِمْ. رواه ابوداؤد.

حضرت ابوبختري رضی اللہ عنہ د نبي کريم ﷺ د يو صحابي څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: خلک به تر هغه وخته پوري نه هلاکيږي تر څو پوري چي په هغوئ کي د ګناه زياتي ونه سي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۴\۵۱۵، رقم: ۴۳۴۷.

تشريح: لفظ د (يعذروا) د ياء په پېښ، د عين په جزم او د ذال په زېر سره د اعزار څخه مشتق دی، په صراح کي ليکلي دي چي د اعذار معنی د ډېر ګناه کار او باعيب ده، همدارنګه په قاموس کي ليکلي دي چي: اعذر فلان، ای کثرت ذنوبه وعيوبه، يعني کله چي عرب داسي وايي چي اعذر فلان يعني فلاني سړي اعذر وکړ، نو ددې دا معنی ده چي د هغه سړي څخه ډېر ګناهونه او عيبونه صادر سول، د مفهوم په اعتبار د حديث په دغه جمله کي د اعذار لفظ د سلب عذر په معنی کي استعمال سوی دی يعني کله چي د يو سړي ګناه او عيبونه زيات سي نو بيا پر هغه د الله تعالی د عذاب نازلېدو او د خلکو له خوا د هغوئ د هغه ګناهو او عيبو څخه په منع کولو کي هيڅ عذر حائل نه پاته کيږي نو هغه سړی د خپلو ګناهو او عيبو د زياتوالي په سبب ګويا هغه عذر ختم کړ چي هغه د عذاب الهي څخه خوندي وساتي.

د اعذار لفظ صاحب عذر يعني د عذر کونکي په معنی کي هم استعماليږي او دا معنی هم د حديث د مفهوم سره مطابقت لري، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي خلک به تر هغه وخته پوري په هلاکت او بربادۍ کي نه اخته کيږي تر څو چي هغوئ د خپلو بديو په اړه د ليري تاويلونو او ناروا اعذار او معذرت کولو رويه اختيار نه کړي.

په ځينو روايتو کي دغه لفظ يعذروا، د ياء په زور سره منقول دی چي د هغه ماده اشتقاق عذر دی، او معنی يې د معذور ساتل دي، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي خلک به تر هغه وخته پوري په هلاکت کي نه اخته کيږي تر څو چي هغوئ خلک داسي معذور او مجبور نه کړي چي هغوئ په زياتو ګناهو کي په اخته کېدو سره هغوئ د ګناهو او بديو څخه منع نه کړي او نه پر هغوئ ملامتيا وکړي، په هر حال په درو سره صورتو کي د حديث خلاصه داده چي الله

تعالی خپل بندګان د دنيا په مصيبتو او آفاتو کي هغه وخت اخته کوي کله چي هغوئ په ګناهو او د شريعت خلاف کارو کي مصروف سي ، د احکام الهي نافرماني ډېره کوي او کله چي د الله تعالی نېک بندګان يې د هغه ګناهو او خرابيو څخه منع کوي نو د هغوئ اثر نه قبلوي بلکه په ډېره بې حسي او لاپرواهي سره پر خپل اختيار کړې لار ځي .

﴿۴۹۲۰﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ الْكِنْدِيِّ قَالَ حَدَّثَنَا مَوْلًى لَنَا أَنَّهُ سَمِعَ جَدِّي

د حضرت عدي بن عدي کندي رحمه الله څخه روايت دئ چي موږ ته زموږ يو آزاد سوي غلام بيان وکړ چي هغه زما د نيکه څخه دا اوريدلي دي چي

يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى لَا يُعَذِّبُ

ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي الله تعالی د يو قوم عوام د هغوئ د خواصو د ګناهونو

الْعَامَّةَ بِعَمَلِ الْخَاصَّةِ حَتّٰى يَرَوُا الْمُنْكَرَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ وَهُمْ قَادِرُوْنَ عَلٰى

په سبب په عذاب کي نه اخته کوي تر څو پوري چي د قوم ډير عوام دا کارونهويني چي د هغوئ په خپل منځ کي د شريعت خلاف کارونه کيږي او هغوئ د هغه په بندولو قادر وي

أَنْ يُّنْكِرُوْهُ فَلَا يُنْكِرُوْا فَإِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ عَذَّبَ اللّٰهُ الْعَامَّةَ وَالْخَاصَّةَ . رواه في شرح السنة.

او منع يې نه کړي ، هر کله چي دا خاموشي او بې پرواهي زياته سي (يعني د قوم عوام په پټه خوله ګناهونه ويني) نو الله تعالی عام او خاص ټول په عذاب کي اخته کوي . شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة: ۱۴\۲۴۶، رقم: ۴۱۵۵.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو خلاصه داده چي د قوم ځينو افرادو د هغوئ د بدو عملو او احکام الهي د نافرمانيو په وجه په عذاب کي اخته کوي او پاته کسان ځکه په عذاب کي اخته کوي چي هغوئ د قدرت درلودلو سربېره هغه ځيني کسان ولې نه منع کوي او د خرابيو د دفع کولو فريضه سرته نه رسوي .

د بني اسرائيلو د تباهي سبب

﴿۴۹۲۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لَمَّا وَقَعَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ فِي الْمَعَاصِي نَهَتْهُمْ عُلَمَاؤُهُمْ فَلَمْ يَنْتَهُوا فَجَالَسُوهُمْ

بني اسرائيل چي په ګناهونو کي اخته سول، په پيل کي د هغوئ علماؤ ودي څخه منع کول او کله چي هغوئ د منع کولو سره منع نه سول نو هغوئ هم د هغوئ په مجلسونو کي کښېنستل او

فِي مَجَالِسِهِمْ وَ اكَلُوهُمْ وَشَارَبُوهُمْ فَضَرَبَ اللّٰهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ

د هغوئ سره په خوراک او څښاک کي ملګري سول نو الله تعالى په هغوئ کي د ځينو زړونه د ځيني د زړونو سره ووهل (وتړل) او الله تعالى

فَلَعَنَهُمْ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ

د حضرت داؤد عليه السلام او حضرت عيسى عليه السلام په ژبه پر دوئ لعنت وکړی او دا لعنت د هغوئ د ګناه کولو او د حد څخه د تريدلو په سبب سوی وو،

قَالَ فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مُتَّكِئًا فَقَالَ لَا وَالَّذِي

د راوي بيان دئ چي (رسول الله ﷺ) تکيه لګولې وه کښېنستی وه يې فرمايل : په هغه ذات

نَفْسِي بِيَدِهِ حَتّٰى تَأْطِرُوهُمْ أَطْرًا. رواه الترمذي وابوداؤد وفي روايته قَالَ

دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده تاسو تر هغه وخته پوري د الله ﷻ د عذاب څخه خلاصون نه سئ تر لاسه کولائ تر څو پوري چي تاسو فاسقان او ظالمان د ګناهونو څخه منع نه کړئ. ترمذي او ابوداؤد، او په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي (رسول الله ﷺ)

كَلَّا وَاللّٰهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَيْ

وفرمايل (څرنګه چي ستاسو خيال دئ) داسي هيڅ کله نه ده په الله دي مي قسم وي تاسو به د ښو خبرو حکم ورکوئ او د ناروا وو څخه به منع کوئ خامخا د ظالم لاسونه ونيسئ

الظَّالِمِ وَلَتَأْطُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا او لَيَضْرِبَنَّ اللّٰهُ بِقُلُوبِ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ ثُمَّ لَيَلْعَنَنَّكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ.

او پر حق يې اماده کړئ او پر حق يې قائم کړئ کنه نو الله تعالى به په تاسو کې د ځيني زړونه د ځينو د زړونو سره وتړي او بيا به درباندي لعنت وکړي څرنګه چي پر بني اسرائيلو لعنت سوی وو.

تخريج: سنن ابي داود: ۴\۵۰۹، رقم: ۴۳۳۷، والترمذي ۵\۲۳۵، رقم: ۳۰۴۷.

تشريح: ددغه جملې معنى: (ضرب الله ...الخ) ، ملا علي قاري رحمه الله او شيخ عبدالحق رحمه الله دا سي ليکلې ده کوم چي مخکي ذکر سوه، مګر ملا علي قاري رحمه الله د ابن ملک رحمه الله دا نقل کړي دي چي په ببعض حرف کي باء د سببيت لپاره ده په دغه صورت کي د مذکوره جملې معنى به دا وي چي الله تعالى د ګناه کارو د نحوست په سبب د هغه خلکو زړونه هم تور کړه کومو چي ګناه نه ده کړې نو هغه ټول سخت زړه سول د حق او راستي د لاري قبلولو او اختيارولو صلاحيت په هغو ټولو کي ختم سو او په هغوئ کي هر يو د خير او رحمت څخه ليري سو او داسي ځکه وسول چي په هغوئ کي کومو خلکو د ګناه او بدۍ لار اختيار کړې وه هغوئ د خپلي بدۍ سزا تر لاسه کړه او چا چي ګناه نه وه کړې هغوئ يې ځکه اخته کړل چي د ګناه کارو سره ګډ سول او د هغوئ په اړه يې د سکوت او سستۍ رويه اختيار کړه.

د بې عمله واعظ حشر

﴿۴۹۲۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما د معراج په شپه ډير خلک

بِيْ رِجَالًا تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيْضَ مِنْ نَّارٍ قُلْتُ مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيْلُ قَالَ

وليدل چي د هغوئ شونډان د اور په غچيانو پريکيدل ما د جبرائيل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه دا کوم خلک دي؟ هغه راته وويل

هٰؤُلَاءِ خُطَبَاءُ مِنْ أُمَّتِكَ يَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَيَنْسَوْنَ أَنْفُسَهُمْ . رواه في شرح السنة والبيهقي في شعب الإيمان وفي روايته قال خطباء من أمتك

الذين يقولون ما لا يفعلون ويقرؤون كتاب الله ولا يعملون.

دا ستا د امت خطيبان دي چي خلكو ته به يې د نيكۍ هدايت كوئ او خپل ځان به يې هير وو ، شرح السنة او بيهقي په شعب الايمان كي، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي جبرائيل عليه السلام وويل : دا ستاسو د امت واعظان دي چي داسي خبري به يې كولې چي خپله يې عمل نه په كوئ هغوئ به د الله ﷻ كتاب قرآن كريم وايه مگر عمل به يې نه پر كوئ.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\ ۳۵۳، رقم: ۴۱۵۹، والبيهقي في شعب الايمان ۱۳\ ۲۸۳، رقم: ۱۷۷۳.

تشريح: دغه سزا بې عمله علماؤ ، واعظينو او مشائخو ته د هغوئ د بدعملۍ په وجه وركول كيږي لكه څرنگه چي الله تعالى فرمايلي دي : (اتامرون الناس بالبر وتنسون انفسكم...) ايا تاسو خلكو ته د نيكۍ تلقين كوئ او ځان هيروئ.

رسول الله ﷺ وفرمايل: ويل للجاهل مرة وويل للعالم سبع مرات: د جاهل لپاره يوه خرابي ده او د بې عمله عالم لپاره اووه خرابۍ دي، او په يوه مشهور حديث كي داسي فرمايل سوي دي چي : (اشد الناس عذابا يوم القيامة عالم لم ينفعه الله بعلم) : د قيامت په ورځ به تر ټولو سخت عذاب د هغه عالم وي چي هغه ته الله تعالى د علم څخه گټه و نه رسوي.

په الهي نعمت كي خيانت

﴿۴۹۲۳﴾: وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُنْزِلَتْ الْمَائِدَةُ مِنَ السَّمَاءِ خُبْزًا وَلَحْمًا وَأُمِرُوا أَنْ لَا يَخُونُوا وَلَا يَدَّخِرُوا لِغَدٍ فَخَانُوا وَادَّخَرُوا وَرَفَعُوا لِغَدٍ فَمُسِخُوا قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ. رواه الترمذي.

د حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (د حضرت عيسى عليه السلام پر قوم) د آسمان څخه دسترخوان نازل سو يعني ډوډۍ او غوښه او دا حكم وركړل سو چي هغوئ دي خيانت نه كوي (د ضرورت او خواهش څخه زيات دي نه خوري يا د بل برخه دي نه اخلي او نه دي يې ذخيره كوي (يعني كوم خوراک چي راسي هغه دي د دويم وخت لپاره نه ايږدي) مگر هغوئ خيانت وكړ او جمع كول يې يعني خوراک يې د دويمي ورځي لپاره اينبودئ (نو ددې په سزا كي) د هغوئ شكلونه مسخ كړل سو يعني بيزوگان او خنزيران ځيني جوړ سول. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي: ۵\۲۴۲، رقم: ۳۰۶۱.

تشريح: په ظاهره دا معلوميږي چي په هغوئ کي کوم سپين ږيري وه هغوئ د ببزوګانو په صورت کي تبديل کړل سوه او کوم چي ځوانان وه هغوئ د خنزيرانو په شکل سول.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د ظالم حاکم په وخت کي

﴿۴۹۲۴﴾: عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ

د حضر عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

تُصِيبُ أُمَّتِيْ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ مِنْ سُلْطَانِهِمْ شَدَائِدُ لاَ يَنْجُوْ مِنْهُ إِلاَّ رَجُلٌ

زما په امت کي به په آخري زمانه کي د هغه پاچهانو د لاسه مصيبتونه راسي او د هغه مصيبتونو او حکمرانانو د لاسه به يوازي هغه خلک خلاصون تر لاسه کړي

عَرَفَ دِيْنَ اللّٰهِ فَجَاهَدَ عَلَيْهِ بِلِسَانِهِ وَيَدِهِ وَقَلْبِهِ فَذٰلِكَ الَّذِيْ سَبَقَتْ لَهُ

چي د الله تعالی د دين څخه خبر وي هغه به په خپل ژبه، خپل لاس او خپل زړه سره د حق د اعلان لپاره جهاد کوي نو دا به هغه څوک وي چي د هغه نيکي او د نيکيو ثواب به مخکي وي

السَّوَابِقُ وَرَجُلٌ عَرَفَ دِيْنَ اللّٰهِ فَصَدَّقَ بِهِ وَرَجُلٌ عَرَفَ دِيْنَ اللّٰهِ فَسَكَتَ

او يو کس به وي چي د دين څخه به خبر وي او د دين تصديق به کوي او يو کس به وي د الله تعالی د دين څخه به خبر وي او پټه خوله به وي

عَلَيْهِ فَإِنْ رَأَى مَنْ يَّعْمَلُ الْخَيْرَ أَحَبَّهُ عَلَيْهِ وَإِنْ رَأَى مَنْ يَّعْمَلُ بِبَاطِلٍ أَبْغَضَهُ عَلَيْهِ فَذٰلِكَ يَنْجُو عَلٰى إِبْطَانِهِ كُلِّهِ. بيهقي

يعني هر کله چي د يو خير عمل ويني نو هغه به خوښوي او کله چي يو بد عمل ويني نو د هغه څخه به نفرت کوي دا کس به هم د خپل محبت او بغض پټ ساتلو په وجه خلاصون تر لاسه کړي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان: ٩٥\١٦، رقم: ٧٥٨٧.

تشريح: ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ يوې خوا ته د هغه زمانې په اړه وړاند وينه فرمايلې ده كله چې پر امت مرحومه باندې د ظالم او بدكاره حكمرانانو هغه سخت حالاتو څخه د خلاصون لار هم څرګنده سوې ده او هغه لاره د الله تعالى ددين علم تر لاسه كول، يقين او استقامت اختيارول، نيكي خپرول او د بدۍ ختمولو هڅه كول، دغه لار اختيارونكي خلك درې ډوله بيان سوي دي ، لومړی ډول هغه خلک دي چې د الله تعالى په دين باندې په پوره توګه پوهيږي او ددين په اړه ډيري سختي رويې اختياروي ، داسي خلک نه يوازي دا چې بدي په زړه كي بده ګڼي او د ژبه په ذريعه د تلقين او نصيحت فريضه سرته رسوي بلكه پر طاقت تر لاسه كېدو باندي دلاس په ذريعه هم جهاد كوي، او دظلم ختمولو لپاره كما حقه هڅه كوي، دوهم ډول خلک هغه دي چې په دين پوهېدو او د معرفت او يقين په اعتبار د اول قسم خلكو څخه كم وي ، داسي خلک د نيكۍ خپرولو او بدۍ ختمولو لپاره محض د ژبي او زړه په ذريعه اكتفاء كوي او دريم ډول خلک هغه دي چې د دين علم ډېر معمولي لري او د خرابيو خلاف په ژبه هم پته خوله وي او د شريعت خلاف كارونه په زړه كي په بد ګڼلو باندي اكتفاء كوي بلكه هغوئ د قلبي نفرت او عداوت په معامله كي هم دومره سخت او حساس نه وي څومره چې د هغوئ د ايمان تقاضا ده ځكه داسي خلک د يو بل حديث د الفاظ: (ذلك اضعف الايمان..) په ذريعه تر ټولو د كمزوري ايمان حامل ښودل سوي دي ، ذكر سوې درې ډوله خلک هغه دي چې عارف او ديندار ورته ويل كيداى سي مګر دغه درې ډوله خلک د خپلو خپلو مرتبو او خپل خپل حيثيت په اعتبار پر يو بل فضيلت لري او دهغوئ په درجو كي تفاوت دى ، د قرآن كريم د يو آيت په رڼا كي د دوئ درجې داسي ټاكل سوي دي چې د اول ډول تعلق لرونكو خلكو ته سابق، دوهم ډول سره تعلق لرونكو ته مقتصد يعني متوسط او دريم ډول خلک ته په ظالم سره تعبير كيږي ، هغه آيت دا دى :

ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ،

بيا دغه كتاب موږ د هغه خلكو لاس ته ورسوى چې موږ (د خپلي ټولي دنيا) د بندګانو څخه خوښ كړه بيا ځيني په هغوئ كي پر خپلو ځانو ظلم كونكي دي او ځيني پكښي ميانه روه او ځيني په هغوئ كي په نېكيو سره وړاندي تلونكي دي.

څرګنده دي وي چې دريم ډول خلكو ته ظالم په دې اعتبار ويل سوي دي چې هغوئ د دين

زيات معرفت نه درلودی او ددين زيات مختاط او حساس نه کېدو په وجه د کوتاهيو ښکار کيږي او همدارنګه د خپلو کوتاهيو په ذريعه پر خپل نفس ظلم کوي ، د ذکر سوي آيت د لومړنيو الفاظو څخه دا هم څرګنده سوه چي دغه درې ډوله خلک که څه هم په خپلو مرتبو او درجو کي فرق لري مګر په يوه خبره کي ټول مشترک دي چي دغه ټول د الله تعالی په دربار کي غوره بندګان ګرځول سوي دي.

د سوابق لفظ د سابقه جمع دی او سابقة هغه خصلت ته وايي چي اوليت او امتيازي حيثيت لري، لکه څرنګه چي ويل کيږي: له سابقة في هذا الامر، يعني ته په دغه معامله کي اوليت حاصل دی، يا هغه سړی په دغه معامله کي پر خلکو سبقت وړی دی، نو دحديث دغه جمله : (وذلک الذي سبقت له السوابق) ، مطلب دادی چي ذکر سوی سړی به د سابقين بالخيرات څخه وي په دې توګه چي هغه ددين او دنيا سعادتونو، اجر او ثواب د زيرو او د طاعاتو او عباداتو د توفيق په برخو کي به پر خلکو سبقت يوسي، ګويا په دغه جمله کي د الله تعالی د ارشاد : (السابقون السابقون) ته اشاره ده چي په هغه کي فرمايل سوي دي ، دا هغه خلک دي چي هغوئ د کمال و تکميل مراتب د علم او عمل درجات او دتعليم او تعلم خصوصيات په ځان کي جمع کړي دي او په دې اعتبار د هغوئ په اړه دا زېری دی چي : (اولئک المقربون) يعني دغه خلک د الله تعالی په دربار کي مقرب او مقبول دي.

ګناه کاران بد نه ګڼل

﴿۴۹۲۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْحَى اللّٰهُ عَزَّ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی حکم وکړ

وَجَلَّ إِلَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَنْ اقْلِبْ مَدِينَةَ كَذَا وَكَذَا بِأَهْلِهَا فَقَالَ

جبرائيل عليه السلام ته چي هغه فلانی ښار يا کلی چي داسي او داسي دئ سره د اوسيدونکو پر بل مخ واړوه ، جبرائيل عليه السلام وويل:

يَارَبِّ إِنَّ فِيهِمْ عَبْدَكَ فُلَانًا لَمْ يَعْصِكَ طَرْفَةَ عَيْنٍ قَالَ فَقَالَ اقْلِبْهَا عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ فَإِنَّ وَجْهَهُ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ. رواه البيهقي.

اې زما پروردګاره ! د هغه کلي په اوسيدونکو کي ستا يو بنده هم دئ چي هغه د يوې لحظې

لپاره هم ستا نافرماني نه ده کړې، الله تعالی به ورته وفرمايي چي پر هغه او پر هغوئ هم ځکه واړوه، ځکه چي د هغه مخ (د ګناه په ليدو سره) د يوې لحظې لپاره هم متغير سوی نه دئ. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦١\٩٧، رقم: ٧٥٩٥.

تشريح: د الله تعالی د ارشاد خلاصه دا وه چي بېله شکه زما دغه بنده هيڅکله زما نافرماني نه ده کړې او يو وخت يې هم د بدۍ لار نه ده اختيار کړې مګر د هغه دغه جرم څه کم دی چي خلکو د هغه په مخکي ګناه کول او هغه په داړ سره ورته کتل، خرابي خپرېدل او د الله تعالی نافرماني کېدل مګر هغه د بدۍ او نافرمانۍ په لېدو سره د هغه پر مخ هيڅکله داسي اثار پيدا نه سوه چي د هغه څخه دا معلومه سوه چي د هغه په زړه کي د هغه خرابيو کونکو خلاف د غيظ او غضب او نفرت جذبه وه، د يو ساعت الفاظ دې ته اشاره کوي که هغه سړي په خپل ټول ژوند کي يو وار هم د الله تعالی درضا لپاره د هغه خرابيو کونکو خلاف د غصې او نفرت اظهار کړی وای نو دهغه د ژوند په پاته برخو کي به د هغه د دغه کوتاهيو څخه معافي سوې وای.

د ګناهونو د زياتوالي ببره

﴿۴۹۲۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی به

عَزَّ وَجَلَّ يَسْأَلُ الْعَبْدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُوْلُ مَا لَكَ إِذَا رَأَيْتَ الْمُنْكَرَ فَلَمْ

د قيامت په ورځ د بنده څخه پوښتنه وکړي چي په تا هغه وخت څه سوي وه چي تا د شريعت خلاف کار وليدی

تُنْكِرْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيُلَقَّى حُجَّتَهُ فَيَقُوْلُ يَا رَبِّ

خِفْتُ النَّاسَ وَرَجَوْتُكَ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان.

او د هغه څخه دي خلک منع نه کړل، رسول الله ﷺ فرمايي چي هغه بنده ته به د الله جل جلاله د لوري دليل وښودل سي چي الله تعالی به ورته د هغه د بخښني اراده وفرمايي او هغه به وايي اې پروردګاره! زه د خلکو (د ظلم) څخه بيريدم او ستا د مغفرت اميد مي درلودئ. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٦١\٩١، رقم: ٧٦٧٦.

تشريح: د هغه بنده له خوا په مذکوره جواب کي به د خپل کوتاهۍ اقرار، د خپل عجز اظهار او

د رب کریم پر فضل او کرم باندي د خپل یقین او باور بیان وي او څرنګه چي بیهقي ویلي دي چي کیدای سي د حدیث تعلق د هغه چا سره وي چي د شریعت خلاف کارو کونکو د غلبې او جذبې څخه بیریږي او د هغوئ له خوا د خپل ځان د خوندي کولو توان نه لري، ددې څخه معلومه سوه که د خلکو د رعب په وجه یو سړی د امربالمعروف او نهي عن المنکر دنده سرته ونه رسوي نو هغه به د مؤاخذې مستحق نه وي، او د الله تعالی له خوا د هغه په حق کي د عفو امید کېدای سي مګر په هغه صورت کي دا سوال یقینا پیدا کیږي چي داسي سړی د شریعت په نظر کي معذور دی نو د قیامت په ورځ به نه خو د هغه څخه مؤاخذه وي او نه به هغه ته د تاویل او دلیل ویني ضرورت وي، ددغه سوال دفع کولو لپاره دا ویل مناسب دي چي ددغه حدیث تعلق د هغه چا سره دی چي هغه د یو عذر او مانع څخه پرته د ذکر سوي فریضې په سرته رسولو کي کوتاهي کړې وي او که الله تعالی د هغه دغه جزوي کوتاهي معافول وغواړي نو هغه ته د ذکر سوي تاویل او دلیل الهام وکړي چي هغه معذورت وکړلای سي.

﴿۴۹۲۷﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ الْمَعْرُوفَ وَالْمُنْكَرَ خَلِيقَتَانِ تُنْصَبَانِ لِلنَّاسِ

په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په قبضه کي د محمد ﷺ ساه ده چي مشروع عمل (د شریعت سره سم عمل) او غیر مشروع عمل به

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَمَّا الْمَعْرُوفُ فَيُبَشِّرُ أَصْحَابَهُ وَيُوعِدُهُمُ الْخَيْرَ وَأَمَّا الْمُنْكَرُ

د قیامت په ورځ په خپل شکل پیدا کړل سي او د خلکو په مخ کي به ودرول سي چا چي په هغو عمل کړی وي مشروع عمل به خلکو ته زیری واوروي او د انجام د خیر وعده به ورسره وکړي،

فَيَقُولُ إِلَيْكُمْ إِلَيْكُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُ إِلَّا لُزُومًا. رواه احمد والبیهقي في شعب الایمان.

او بد عمل به خلکو ته وایي زما څخه لیري سئ لیري سئ او دا خلک به د هغه څخه د بیلېدو قوت نه لري بلکه په هغو پوري به موښتي وي. احمد او بیهقي.

تخريج: مسند الامام احمد ۳۹۱\۱۴، لم نجده عند البيهقي.

تشريح: د حديث خلاصه داده چي انسان په دنيا كي كوم نيک عملونه وكړي هغه به د مرګ څخه وروسته په قبر كي هم په ښه پاک او خوشبويه صورتو كي ظاهر سي او د قيامت په ورځ د غوره شكل او صورت په اختيارولو سره د هغه سړي مخته راسي او هغه ته به د آخرت د لازوال سعادتونو زيرى اوروي ، ددې پر خلاف كه چيري يو څوک بداعمال اختيار كړي نو هغه اعمال به په قبر كي هم په خراب او بېرونكي صورت كي په راتلو سره هغه خفه كوي او د قيامت په ورځ به هم په خراب شكل او صورت كي د هغه مخته راځي او هغه به ورته وايي چي زموږ څخه ليري سه مګر هغه سړى به پر ليري كېدو باندي قادر نه وي يعني پر هغه خرابو اعمالو چي كومه سزا وركول كيږي د هغه څخه به تېښته كولاى نسي ، لفظ د تنصبان د مجهول كېدو په وجه د مؤنث صيغه ده مګر د مشكوة په يوه نسخه كي دغه الفظ د مذكر په صيغه نقل سوى دى او دا زيات مناسب دى ځكه چي د خليقة په لفظ كي د تاء حرف د تانيث لپاره نه دى بلكه د مبالغې لپاره دى او معنى يې داده چي دغه دواړه يعني عمل خير او عمل بد د مخلوقاتو څخه يو نوع ده چي د قيامت په ورځ به د خلكو په وړاندي د شكل او صورت په اختيارولو سره څرګنديږي .

==========

بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم

كِتَابُ الرِّقَاقِ

(د رقاق بيان)

رِقاق د رقيق جمع ده چي معنی يې د نرم او نري ده، دلته چي د کتاب کوم بابونه پېل کيږي هغه په کتاب الرقاق سره ځکه نومول سوي دي چي په دغه بابو کي هغه حديثونه نقل سوي دي چي زړه نرموي په طبيعت کي نرمي پيداکوي او د فکر او عمل قوائې داسي متاثروي چي د دنيا څخه به يې بې فکري او د آخرت سره به يې رغبت پيدا کيږي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

دوه نعمتونه

﴿۴۹۲۸﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ. رواه البخاري.

د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه نعمتونه دي چي د هغو په اړه خلک ډير په تاوان کي پراته دي (يعني د هغو قدر نه کوي) يو صحت او بل فراغت. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۲۹، رقم: ۶۴۱۲.

تشريح: په ذکر سوو نعمتو کي يو نعمت خو روغتيا ده يعني د ناروغيو څخه خوندي کېدل او دويم نعمت فراغت دی يعني د وختونو د غم، فکرونو او تشويشونو څخه خالي کېدل، په دنيا کي د داسي خلکو کمي نسته چي د خپل غفلت په وجه د دې دواړو نعمتونو قدر نه کوي او د هغو په باره کي په دو که کېدو سره هغه نعمتونه په مفته کي د لاسه ځيني ووځي، لکه يو سړی د رانيولو او پلورلو په معامله کي د يو چا څخه په دوکه خوړلو په خپل مال او سامان کي تاوان زغمي.

نو په دغه ارشاد کي پر هغو خلکو باندي د حسرت او افسوس اظهار دی چي د دغه نعمتونو يعني روغتيا او فراغت څخه ګټه نه ترلاسه کوي، په دې توګه چي نه خو په خپل روغتيا کي د دين او دنيا د خير او ګټې کار کوي او نه د فراغت وختونه په غنيمت ګڼلو سره په هغه کي د آخرت کارو ته متوجه کيږي، مګر کله چي د هغوئ صحت او روغتيا خراب سي، د دنيا

فکرونه ورته لاحق سي او د کاروبار غم د هغو وختونه په بېلا بېلو پریشانیانو او تشویشو کي اخته کوي نو هغه وخت د دغه نعمتونو یعني روغتیا او فراغت قدر ورته پیداسي او محسوسوي چي موږ څرنګه قیمتي وخت ضائع کړی ، او د دغه قول (النعمة اذا فقدت عرفت) د نعمت قدر هغه وخت کیږي کله چي هغه ځیني ولاړسي ، مصداق جوړسي .

ملا علي قاري رحمة الله عليه د دغه حدیث په تشریح کي لیکلي دي ، د دغه ارشاد مطلب دادی چي کوم خلک د دغه نعمتو حقیقي قدر نه کوي په دې توګه چي هغوئ د دغه نعمتونو د حاصلېدو په زمانه کي داسي کار نه کوي چي د هغه په آخرت کي محتاج وي او بیا چي هلته پښېمانه وي چي موږ په دنیا کي د خپل عمر ګران وختونه څرنګه ضائع کړل ، او د روغتیا او فراغت په وخت کي چي کوم نعمتونه موږ ته ترلاسه سوي وه د هغه د تلو مخکي موږ د هغه قدر نه وکړی حال دا چي هغه وخت دغه پښېماني هغوئ ته هیڅ ګټه نسي رسولای څرنګه چي الله تعالی فرمایي چي (ذالک یوم التغابن) او رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي په آخرت کي اهل جنت که څه ارمان او افسوس کوي نو پر هغه وختونو باندي به یې کوي په کوم کي چي دوئ الله تعالی نه وي یاد کړی او داغسي یې تېر کړی وي .

د دنیا او آخرت مثال

﴿۴۹۲۹﴾ : وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ وَاللّٰهِ مَا الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَ يَرْجِعُ. رواه مسلم

د حضرت مستورد بن شداد رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي ویل یې قسم په خدای د آخرت په مقابله کي د دنیا مثال داسي لکه څوک چي په دریاب کي ګوته غوټه کړي او بیا وګوري چي په ګوته کي یې څه شي راوړي دي . مسلم.

تخریج : صحیح مسلم: ۴\۲۱۹۳، رقم: ۵۵- ۲۸۵۸.

د لغاتو حل: اسک: ای صغیر الاذن او مقطوعها (هغه چي غوږونه یې کوچني وي یا نه وي.)

تشریح : مطلب دادی که یو سړی خپله ګوته په دریاب کي ډوبه کړي او بیرته یې راوکاږي نو هغه به ویني چي دغه ګوتي د سمندر څخه یو یا نیمه قطره اوبه راخیستي دي نو داغسي پوهېدل پکار دي چي د آخرت د زماني او د هغه د نعمتونو په مقابله کي د دنیا زمانه او د دنیا

ټول نعمتونه دومره لږ دي څومره چي د سمندر په مقابله کي د هغه ګوتي څخه اوبه څڅېدل ، مګر حقیقت خو دادی چي دا مثال هم د خلکو د پوهېدلو لپاره یې کنه او د متناهي او غیرمتناهي سره هیڅ نسبت نسي کېدای د اوبو هغه قطره چي د دریاب څخه دباندي راوتلې ده ، د خپلي کمترئ او بې وقعتي سره سره د دریاب سره څه نا څه نسبت خاماخا لري ، خو دنیا د آخرت سره په دومره اندازه نسبت هم نه لري .

ملا علي قاري رحمه الله لیکي ، د دې حدیث حاصل دادی چي انسان ته پکار ده چي د دنیا په فناکېدونکو نعمتونو او ارامتیاوو باندي مغروره نسي او نه د دغه پر سختیو او خوابدیو باندي ژړا او فریاد او شکایت وکړي ، بلکه د رسول الله ﷺ د تعلیم سره سم دي دا وائي چي :

اللهم لا عیش الا عیش الاخرة : اې الله تعالی ، اصل ژوند خو بس د آخرت ژوند دی

او دا حقیقت هر وخت تر نظر لاندي ساتل پکار دی چي دا دنیا مزرعة الآخرة یعني د آخرت کښت دی او د دې ځای ژوند بس یو ساعت دی نو دا یو ساعت د تېرولو لپاره د الله تعالی په ذکر کي اخته کېدل تر ټولو لویه عقلمندي ده .

دنیا یو بې حیثیته شی دی

﴿۴۹۳۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ قَالَ أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هٰذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ فَقَالُوا ما نُحب أَنَّهُ لَنَا بِشَيْءٍ قَالَ فَوَاللّٰهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذَا عَلَيْكم. رواه مسلم.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د یو مړ مرغومي سره تېر سو چي کوچني کوچني غوږونه یې وه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : دا مرغومی څوک په یوه درهم اخیستل خوښوي، خلکو وویل: موږ یې د هیڅ شي په بدل کي نه غواړو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: په الله تعالی دي مې قسم وي د الله تعالی په نزد دا دنیا تر دې هم زیاته ذلیله ده څومره چي ستاسو په نظر کي دغه (مردار مرغومی) ذلیل دئ. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۴\۲۲۷۲، رقم: ۲- ۲۹۵۷.

د لغاتو حل: اسک: ای صغیر الاذن او مقطوعها (هغه چي غوږونه یې کوچني وي یا نه وي.)

تشریح : رسول الله ﷺ د مېږي د مړه بچي د مثال په توګه په حقیقت کي دې ته خلک متوجه کړه چي دا دنیا هیڅ کله د دې وړ نه ده چي انسان د دې په محبت او غوښتنه کي د آخرت تاوان او ګټه

هېره کړي مګر اصل شی د آخرت محبت او غوښتنه ده ، د هغه ځای ژوند هم نه ختمېدونکی دی او د هغه نعمتونه هم لازواله دي نو د ژوند مقصود د آخرت محبت او غوښتل پکاردي نه د دنیا محبت او غوښتنه څکه فرمایل سوي دي :

حب الدنیا راس کل خطیئة: د دنیا محبت او غوښتنه د هري ګناه بېخ دی لکه چي ویل سوي دي :ترک الدنیا راس کل عبادة ، د دنیا څخه بې فکري د هر عبادت بنیاد دی او د دغه وجه داده ، چي د دنیا په محبت کي اخته کېدونکي په خپلو اعمالو کي مخلص او پاکیزه نه وي ، مګر د هغه هر کار د څه خرابي وجي او لالچ آمیز شی لري که څه هم هغه دیني او مذهبي کار ولي نه کوي ، د دې پر خلاف کوم سړی چي د دنیا څخه بې اعتنائي اختیار کړې وي د هغه په هر عمل کي اخلاص او پاکیزګي او د آخرت مفاد وي که څه هم هغه په څه دنیاوي کار کي اخته ولي نه وي ځکه یو عارف ویلي دي چا چي دنیا خپل خوښ او محبوب شی جوړ کړی هغه د ټولي دنیا مشائخ او مرشدین په یو ځای کېدو سره هم په راه راست باندي نسي راویستی او چا چي دنیا ته بې اعتنائي ، بې توجي خپله شیوه (طریقه) جوړه کړه هغه د ټولي دنیا مفسد او بدکار خلک هم نسي ګمراه کولای .

د مؤمن لپاره دنیا بندیخانه ده

﴿۴۹۳۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دنیا دمؤمن لپاره بندیخانه او د کافر لپاره جنت ده . مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۴\۲۲۷۲، رقم: ۱-۷۹۵۶.

تشریح : د بندي خانې مطلب دادی چي څرنګه یو سړی په بندیخانه کي بندي وي نو هلته د بندیتوب تکلیفونه زغمي او بېلابېل سختۍ زغمي همداسي د مؤمن لپاره دا دنیا هم ګویا یوه قیدخانه ده ، چي محنت ، سختۍ او تکلیفونه ورته راځي ،د منکراتو منهیاتو ، ممنوع او خلاف شرع امورونو څخه خپل ځان ساتل ورته پکاروي ، د نفس آزادي او بې راه روي ختمول وي او د طاعاتو او عبادتونو سختیاني زغمي ، یا دا چي مؤمن دا دنیا یو داسي ځای محسوسوي چیري چي تنګي او سختي وي او هلته وجود اختیارول هغه نه خوښوي د هغه هر

وخت دا خواهش وي ، چي هغه د تنگي او تياري د دنيا څخه ووځي او د عالم مملکوت وسعتونه خپل مقام جوړ کړي ، او دنيا د کافر لپاره جنت دی د دغه مطلب دادی چي کافر د خپل ژوند مقصد دنيا حاصلول غواړي ځکه هغه خپل ټول کوشش او خپل ټول جدوجهد د دنيا د نعمتونو او آسائشونو حاصولو کي تېروي او بيا هغه د دنيا په لذاتو او شهواتو کي داسي مصروف سي چي د هغه لپاره دا دنيا يوه عشرت ځای جوړه سي چي د هغې څخه وتل هغه نه مني.

ځيني حضرات وائي ، د حديث مراد دادی چي مؤمن ته په آخرت کي کوم اجر او ثواب ورکول کيږي او هلته چي په کومو نعمتونو او راحتونو سره نازول کيږي د هغه په وجه دا دنيا د هغه په حق کي گويا قيدخانه ده او کافر چي به په آخرت کي د کوم سخت عذاب سره مخامخ کيږي د هغه په وړاندي کي دا دنيا د هغه په حق کي گويا جنت دی ، د دې حاصل دادی چي مؤمن په دې دنيا کي که څه هم په څومره ناز او نواز سره وسيږي او هغه ته په دې دنيا کي که څه هم هر څومره راحتونه او آراميانی ترلاسه وي بيا هم هغه هيڅ نه دي ، ځکه چي هغه ته په آخرت کي کوم نعمتونه او راحتونه ترلاسه کېدونکي دي هغه د دې دنيا د نعمتونو ، راحتونو او آراميانو څخه ډېر زيات غوره او اعلی دي ، همداسي کافر په دې دنيا کي که څه هم هرڅومره تکليفونه آفتونه او سختياني برداشت کړي خو په آخرت کي به د هغه حال د دې دنيا د حال څخه هم بدتر وي، نقل سوي دي چي يو يهودي امام حسن رضی اللہ عنہ ته وويل چي ستاسو نيکه رسول الله ﷺ چي دا فرمايلي دي (الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر) نو د هغوئ دا قول زما او ستاسو پر حال باندي څنگه صادق راځي ځکه چي تاسو خو پر آس باندي سفر کوئ او په ډېري اسانی او ارامتيا سره ژوند تېروی هر کله چي زه په ناروغي کي اخته يم او په ډول ډول تکليفونو او فقر و فاقو کي راچاپېره يم ، امام حسن رضی اللہ عنہ چي کوم جواب ورکړ هغه همدغه وؤ ، کوم چي پورته نقل سوی دی .

د کافر د نيکی اجر

﴿۴۹۳۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَا

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی د

يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً يُعْطَى بِهَا فِي الدُّنْيَا وَيُجْزَى بِهَا فِي الْآخِرَةِ وَأَمَّا الْكَافِرُ

مؤمن د نيکی اجر نه ضائع کوي، په دنيا کي هم (د هغه د نيکی اجر) ورکوي او (په آخرت کي

هم، او كه كافر صرف د الله ﷻ د رضا لپاره نيكي كړې وي

فَيُطْعَمُ بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ بِهَا لِلّٰهِ فِي الدُّنْيَا حَتّٰى إِذَا أَفْضٰى إِلَى الْآخِرَةِ لَمْ يَكُنْ له حَسَنَةٌ يُجْزٰى بِهَا. رواه مسلم.

نو د هغه د نيكۍ اجر په دنيا كې ورکول کیږي او هر كله چې هغه آخرت ته ولاړ سي نو د هغه د هيڅ نيكۍ اجر به هلته نه وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۱۶۲، رقم: ۵۶- ۲۸۰۸.

تشريح: د دې ارشاد په ذريعه دا حقيقت ښكاره كړل سوی دی چې د آخرت خير او د هغه ځای د اجر او ثواب دارومدار په دنيا كې پر څه نيک کار باندې نه دی، مگر پر ايمان او عقيده باندې دی هغه نیک کارونه چې د الله تعالى د رضا لپاره کول کیږي او په هغه سره يقينا الله تعالى خوشحاله كيږي هر كله چې مؤمن يې کوي، نو هغه ته د هغه نيكو كارو په وجه په دې دنيا كې هم ښه بدله ورکول کیږي په دې توګه چې د هغه كاروبار معيشت او په رزق كې فراخي ترلاسه كيږي د هغه ژوند ته آرام خوشحالي د زړه اطمينان او دولت نصيب كيږي او بيا هغه د هر ډول آفاتو بلاوؤ او د خرابو عناصرو څخه ساتل کیږي او بيا چې هغه د دې دنيا د ژوند په پوره كولو سره آخرت ته رسيږي نو هغه ته هلته هم د هغه نيكو كارونو پوره پوره اجر او ثواب ترلاسه كيږي، د دې بل اړخ ته چې كافر ښک اعمال كوي چې په هغه سره الله تعالى خوشحاله كيږي لكه فقير او اړ كس ته ډوډۍ وركول د هغه مرسته كول د يتيمانو او كونډو ښځو سره ښه رويه او احسان كول او همداسې نور فلاحي او نامي كارونه نو د هغه ښه كارو پوره بدله هغه ته په دې دنيا كې وركول كيږي، كله چې په آخرت كې هغه د دې ښه كارو د څه اجر او ثواب ترلاسه كېدو حق داره نه وي.

پاته سوه دا خبره چې څنګه مؤمن ته په دنيا كې د خپلو نيكو كارونو بدله ښه ترلاسه كيږي همداسې آيا هغه ته په دنيا كې د خرابو كارونو سزا هم وركول كيږي نو د دې جواب به په اثبات كې وي چې الله تعالى خپل كوم بنده د آخرت د عذاب او سختيو څخه ساتل غواړي هغه ته د هغه د بدو كارو سزا په دغه دنيا كې وركوي، په يو دويم حديث كې نقل سوي دي چې مؤمن ته د هغه د بدو كارونو په بدله كې په دنيا كې د بېلابېل ډوله مصيبتونه، پرېشانياني او مصيبتونه راځي تر دې چې هغه آخرت ته وررسيږي نو د هغه په عمل نامه كې څه داسې بدي نه وي چې په

هغه سره هغه د عذاب حق داره وګرځول سي د دې تائيد د دې حديث څخه هم کيږي کوم چي احمد رحمه الله او ابن حبان رضي الله عنه نقل کړي دي او کوم وخت چي دا آيت کريمه : من يعمل سوء يجزبه. نازل سو نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه عرض وکړ، يا رسول الله ﷺ که داسي ده چي د بنده څخه کومه بدي هم صادره سي نو بيا خلاصون ترلاسه کوونکی سړی به څوک وي رسول الله ﷺ ورته وفرمايل الله تعالی دي تا وبخښي آيا ته غمجن کيږې نه آيا تا ته غم او تکليف نه در رسيږي، ايا ته ناروغه کيږې نه او ايا تا ته څه تکليف او ضرر نه رسيږي هغه عرض وکړ هو يا رسول الله ﷺ ده مبارک ورته وفرمايل نو ياد لره دا شی يعني ستا په څه تکليف مصيبت درد او غم کي اخته کېدل په اصل کي ستا په حق کي د هغي بدئ سزا او بدله ده کومه چي ستا څخه سوې ده.

د جنت او دوږخ پردې

﴿۴۹۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُجِبَتْ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ وَحُجِبَتْ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ. متفق عليه الا عند مسلم حفت بدل حجبت.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوږخ په شهوتونو سره پټ سوی دئ (يعني پر دوږخ د شهوتو پردې پرتې دي هر کله چي سړی د شهوت پرده وشکوي نو په دوږخ کي داخل سي) او جنت په سختيو او تکليفونو سره پټ سوی دئ. بخاري او مسلم، او د مسلم په روايت کي د حجبت پر ځای د حُفّت لفظ راغلی دئ چي معنا يې داده چي دوږخ او جنت شهوت او تکليفونو راګير کړی دی.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۲۰، رقم: ۶۴۸۷، ومسلم ۱۴\۷۱۷۴، رقم: ۱- ۲۸۲۲.

تشريح : مطلب دادی، چي هغه محنت سختي او پريشاني چي د عبادت د پابندي او نفساني خواهشاتو او د لذت څخه د پرهيز په وجه ګالل غواړي دا داسي دی لکه دا چي د جنت پرده ده او کوم شی چي د پردې شاته وي هغه ته د رسيدو لپاره مخکي پردي ته رسيدل او هغه پورته کول ضروري دي څکه جنت ته که رسېدل غواړې نو مخکي هغه پرده پورته که يعني د الله تعالی د احکامو اتباع او د نفس د خواهشاتو څخه پرهيز محنت او سختي برداشت کړه هر کله چي دا خبري اختيار کړي بيا چيري جنت ته رسېدل کيږي همداسي د نفس خواهشات او لذات ګويا د دوږخ پردې دي کوم سړی چي دا پردې ليري کوي يعني د نفس د اتباع او خواهش پرستئ

ارتكاب كوي هغه دوږخ ته رسيږي واضحه دي وي چي په حديث كي د شهوت كوم لفظ استعمال سوى دى د دې تعلق د نفس د هغه خواهشاتو او لذاتو سره دى چي د حرامو شيانو لكه د شراب نشه زنا غيبت وغيره ارتكاب كوي كنې تر څو پوري چي د مباح خواهشاتو او لذاتو تعلق دى هغه نه خو دوږخ ته د تلو باعث جوړيږي او نه يې په جنت كي د تلو څخه راګرځوي كه څه هم د نفس د مباح خواهشاتو او لذاتو اتباع هم بنده د قرب او ولايت څخه ليري كوي.

د حديث د ذكر سوي پورته وضاحت څخه دا خبره هم واضحه كيږي چي په يو روايت كي دا فرمايل سوي دي چي العلم حجاب الله يعني علم د الله تعالي پرده ده د دې څه معنى ده نو د دې جملې مطلب هم دادى چي علم ګويا د الله تعالى او بنده په منځ كي پرده ده كوم څوك چي علم حاصلوي هغه ګويا دغه پرده ايسته كوي او هر كله چي هغه پرده ايسته سي نو د الله ﷻ معرفت حاصل سي .

د مال او زر خاوند

﴿۴۹۳۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ

د حضرت ابو هريرة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هلاک سو بنده د دينار

وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِيصَةِ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ تَعِسَ

او بنده د درهم او بنده د څادر ، كه هغه ته دا شيان وركړل سي نو هغه خوشحاله او راضي وي او كه ورنه كړل سي نو ناراضه وي دا بنده هلاک

وَانْتَكَسَ وَإِذَا شِيكَ فَلَا انْتَقَشَ طُوبَى لِعَبْدٍ آخِذٍ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ

او ذليل سو او هر كله چي په پښه كي يې اغزى ننوزي نو هيڅوک دي يې نه څيني كاږي ، زيرى دى هغه بنده ته چي د الله ﷻ په لار كي

أَشْعَثَ رَأْسُهُ مُغْبَرَّةٍ قَدَمَاهُ إِنْ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ وَإِنْ كَانَ فِي

د خپل آس واګي نيولي ولاړ وي د سرو ويښتان يې ببر وي او قدمونه يې په ګرد وي ، كه هغه د لښكر پر ساتني وټاكل سي نو پوره ساتنه كوي

السَّاقَةِ كَانَ فِي السَّاقَةِ إِنِ اسْتَأْذَنَ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ وَإِنْ شَفَعَ لَمْ يُشَفَّعْ . رواه

البخاري.

او كه په لښكر كې تر شا و تاكل سي نو په پوره اطاعت سره په لښكر پسې وي، كه هغه د خلكو په محفلونو كې د شركت اجازه غواړي نو هغوئ اجازه نه وركوي (ځكه چې هغه دنيوي شان او شوكت نه لري) او كه د چا سفارش كوي نو شفارش يې نه قبليږي (ځكه هغه د خلكو په نظر حقير او سپك وي). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٨١، رقم: ٢٨٨٧.

د لغاتو حل: الخميصة: هي ثوب خز او صوف معلم. (يو ډول جامې). انتكس: اى صار ذليلا (ذليله سي). شيك: اى دخل شوك في عضوه (ازغى په جګېدل). الساقة: اى مؤخرة الجيش (د لښكر د پاى)

تشريح : (د دينار او درهم غلام) په دې وجه ورته فرمايل سوي دي چې د مال او دولت په اړه چې كوم شى بد دى هغه د هغه مال او دولت محبت او په دنيا داريځ كې اخته كېدل وي، نو دا خصلت يعني د مال او دولت او د دنيا په محبت كې راچاپېرېدل انسان د مال بنده جوړوي او د هغه د هر كوشش محور، د هغه د هر خواهش مركز او د هغه د هر كار او عمل بنياد يوائې مال او زر دي، د دې څخه واضحه سوه چې مالداري او دولتمندي په خپله څه مذموم شى نه دى ديو سړي سره كه هرڅومره مال وزر وي او هر څومره لوئ دولتمند وي كه هغه د هغه مال او دولت په مينه كې راچاپېره نه وي نو هغه ته به بدنه ويل كيږي.

په حديث كې د مال او دولت د تعلق سره د دينار او درهم ذكر دا رقم فرمايل سوى دى چې دا دواړه شيان چې هغه ته سره زر، سپين زر، روپۍ او پيسې هم ويل كيږي چې په رانيولو او خرڅولو كې د هغه اعتبار وي او د دې په وجه د ټولو روا او ناروا مقصدو تكميل كيږي، همداسي په اسباب معيشت كې يوائې د پټو (څادر) ذكر دى، چې په اصل كې (خميصه) هغه خط داره پټو ته وائي چې په هغه زمانه كې د لباس فاخره تر ټولو لوړ مظهر ګڼل سوى وو او د هغه په كارېدو سره په عامه توګه د تكبر، رعونت او د نمود و ښائستوب جذبه پيدا كېده او خلكو به هغه پټو ډېر خوښوى حتى د ځانه به يې نه جلا كوى نو د هغې زمانې دنياداره د هغه پټو د خواهش او غوښتني او د هغه په مينه كي دومره راچاپېره وه چې حتى هغوئ د هغه پټو غلامي اختيار كړې وه.

د نقش او انتقاش معنى ده، د پښې څخه ازغي كښل نو د (لهذا واذا شيك فلا انتقش) مطلب دادى چې كوم سړى د مال او دولت غلام جوړ سي چې نه خو هغه په ناروا او حرام سبب

سره ګټل او جوړول پریږدي او نه خپلي روپۍ او پیسې په اړمندو خلکو د الله تعالی په لار کي خرڅوي نو مسلمانانو ته پکار ده چي د هغه سره د مرستي او کومک څخه پرهیز وکړي او هر کله چي هغه په څه افت کي ومونبلي نو هیڅ څوک دي یې مرسته نه کوي او د دې خبري خیال ساتل پکار دی چي د پښې څخه ازغي کښل د مدد کولو تر ټولو کمتره درجه ده او د ټولو څخه د دغه کمتري درجې د کومک څخه هم منع کول د دغي خبري دلیل دی او که هغه ته تر دغه هم غټه پېښه راسي او د ډیرو زیاتو سختو حالاتو سره مخامخ سي نو د هغه مرسته نه کول به بطریق اولی جائز بلکه مطلوب دی.

دا خبره واضحه کول هم ضروري دي چي د حدیث د لفظ تعس دا ترجمه چي هغه سړی دي مړ سي الخ دا امر ظاهر دی چي د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد مطلب د داسي سړي په حق کي بددعا کول دي، نو ذکر سوې ترجمه د دغه مراد لاندي کتنه او د شارحینو د اتباع د نظر لاندي نقل سوې ده او که دا مطلب ځیني واخستل سي چي رسول الله ﷺ د دغه لفظ په وجه د هغه سړي په حق کي بددعا نه ده فرمایلې مګر د ده بدتر خصلت مذمت او خصلت اختیاروونکو ته یې دنیاوي او اخروي لذت او خواري او د هغه بد انعام په توګه د خبر ظاهر کړ نو په دې صورت کي به یې معنی دا وي چي هلاک سو هغه سړی الخ او دا مراد به هم د حدیث مغائر نه وي.

مالداري بنه شی نه ده

﴿۴۹۳۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

ان مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا

د خپل مرګ څخه وروسته چي زه ستاسو لپاره د کومو شیانو څخه بیریږم په هغو کي د دنیا تازګي او ښکلا دي چي (د فتوحاتو تر لاسه کولو وروسته) به تاسو ته راسي،. (ددې اوریدو

فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللهِ أَوَيَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ يُنْزَلُ

سره) یو سړي وویل: ایا ښېګڼه او خیر به د ځان سره بدي او شر هم راولي، ددې اوریدو سره رسول الله ﷺ پټه خوله تر څو چي زمونږ دا خیال سو چي پر رسول الله ﷺ وحي نازلیږي،

عَلَيْهِ قَالَ فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ وَقَالَ أَيْنَ السَّائِلُ وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ فَقَالَ إِنَّهُ لَا

د ابو سعید راوي بیان دئ (د وحي نازلیدو څخه وروسته) رسول الله ﷺ د خپل مخ مبارک څخه خوله وچه کړه بیا یې وفرمایل: پوښتنه کونکی چیرې دئ؟ ګویا هغه یې د تعریف وړ وګڼي، بیا یې وفرمایل:

يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ ما يَقْتُلُ حبطا أَوْ يُلِمُّ إِلَّا آكِلَةَ

نیکي د ځان سره بدي نه راولي (او ددې مثـــال دادئ) د سپرلي موسم چې شنګیا راشنه کوي (دا نیکي یا خیر دئ په دې کي هیڅ ډول بدي نسته) مګر د حیوان نس پړسیږي

الْخَضِرِ أَكَلَتْ حَتَّى امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا اسْتَقْبَلَتْ عَيْنَ الشَّمْسِ فَثَلَطَتْ

او وژني یې یا هلاکت ته یې نژدې رسوي (بدي په شنګیا کي نه ده د حیوان په کار کي ده یعني وابنه خورونکي حیوان دومره زیات وابنه وخوړل چې نس یې ډک سوا و) دواړي خواوي یې ایله سوې (یعني په شنګیا خوړلو کي یې د حد څخه تجاوز وکړ او د ضرورت څخه یې زیات خوراک وکړ چې د بدۍ او خرابي سبب سو) بیا (د حیوان دا عادت دئ چې نس پر دروند سي نو لمر ته کښني چې د لمر ګرمي یې نس نرم کړي) نرمي سوتي یې وکړې

وَبَالَتْ ثم عادت فاكلت وَإِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ فَمَنْ آخَذَهُ بِحَقِّهِ

او بولي یې وکړې (یعني د لمر ګرمۍ یې نس نرم کړ، بولي او مرداري ځیني ووتل) او بیا وروسته ولاړ سي او وابنه یې وخوړل (دغه حال دانسان دئ) چې مال په لاس ورسي نو په بې پرواهي یې مصرف کوي او په ګناهونو کي اخته سي) او د دنیا دا مال شین تازه او خوندور دئ ځوک چې دا په جایز طریقې سره تر لاسه کړي

وَوَضَعَهُ فِيْ حَقِّهِ فَنِعْمَ الْمَعُوْنَةَ هُوَ وَمَنْ اَخَذَهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ كَان كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ وَيَكُونُ شَهِيدًا عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

او په جائز طریقه یې مصرف کړي نو دا مال غوره مرستیال دئ او ځوک چې یې په ناجائزه طریقه تر لاسه کړي نو دا مال د هغه سړي په حق کي د هغه چا په ډول دئ چې خوراک کوي او نه مړیږي او دا مال به د قیامت په ورځ پر هغه شاهد وي یعني د هغه د اسراف شهادت به ورکوي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳۲۷\۱۳، رقم: ۱۴۶۵، ومسلم ۷۲۸\۲، رقم: ۱۲۳- ۱۰۵۲.

د لغاتو حل: الرخضاء: عرق يظهر عليه ﷺ عند نزول الوحي عليه (د وحي په وخت کي پر نبيﷺ خوله راتلل). يلم: اى يکاد ان يقتل. ثلطت: اى القت روثها رقيقا سهلا.

تشريح: د حديث د اولو جملو مطلب دادی چي ستاسو په اړه کي ماته ببره ده چي کله تاسو د دنيا ملکونه او ښارونه په آزادولو سره د خپل تسلط او اقتدار بېرغ پورته کوئ او د هغه په بدله کي تاسو ته د مال او دولت خوشحالي نصيبه سي نو دا شی به تاسو د عبادت او طاعت او د نيکو کارو د منع کولو کوشش کوي کټه رسونکي علوم يعني ديني علوم او فنونو څخه به مو بې پرواه جوړ کړي او د غرور شان و شوکت د اظهار او جاه و جلال سره د محبت په شان خرابئ په تاسو کي پيداسي د هغه لازمي نتيجه همدا وي چي تاسو به د آخرت د ژوند د فکر کولو او د مرګ لپاره د تياري کولو پر ځای په دنياوي امورو کي اخته پاته سئ.

بيا د څارلو ځای ته ولاړسئ په کبنتو کي څارل شروع کړئ يعني هرکله چي هغه حيوانان تر ضرورت زيات وخوري او په بد هضمئ کي اخته سي نو په خپلي طريقې سره د بدهضمئ علاج کوي او خپل نس په پاکولو سره بيا خوراک شروع کړي ، دا مثال د هغه سړي دی چي په انساني ضمير کي ګډ د حرص او خواهشاتو د غلبې په وجه ځيني وخت د اعتدال د لاري څخه په بدخواکېدو سره تر حد تيرېږي او بيا مرګ ته نژدې رسيږي مګر د خپل طرزعمل څخه ژر رجوع کوي او په مستقله توګه د بې اعتدالۍ او د ګناه پر لار قائم نه پاته کېدی مګر د هدايت د لمر رڼا د هغي لاري خواته متوجه کوي او د هغه د پښېمانۍ او توبې په ذريعه خپل ځان د بې اعتدالۍ او د ګناه د غلاظت (سختوالي) څخه په پاکولو سره ګويا خپل علاج کوي د دغه بل اړخ ته اول قسم چي د هغه حيوانانو نس په پړسېدو سره مړه کيږي په وجه بيان وفرمايلو د هغه سړي حالت ته اشاره کوي چي د نفس د خواهشاتو غلام جوړيږي پر ګناه باندي ولاړ وي او په دغه حالت کي مړ سي تر دې چي هغه ته توبه غوښتل هم نصيب نسي ، پر دغه دواړو ډولو باندي په غور کولو سره يو بل ډول مخ ته راځي چي د هغه تعلق د هغه سړي سره دی چي د سره څخه د ګناه لار نه اختيار وي او د نفس د خواهشاتو بندي نه جوړيږي مګر د دنيا څخه بې پرواه وي او خپله ټوله توجه د آخرت د مفادو خوا ته ګرځوي او يو ډول خلګ هغه دي چي په اصطلاحي توګه په ظالم سره نومول سوي دي ، نو اول ډول خلک هغه دي چي هغوئ ته مقتصد يعني ميانه رو ويل سوي دي او دريم ډول خلک هغه دي چي هغوئ ته سابق يعني په نيکي خپلولو کي مخکي خلک نو کوم سړی چي سابق وي هغه د سره څخه خپل لاسونه په ګناه نه لړي او کوم سی

چي مقتصد وي هغه خپل لاسونه په ګناه سره خو لړي مګر برته يې پرېولي او کوم سړي چي ظالم وي هغه لاس لړلی د دغه دنيا څخه ولاړ سي.

ذکرسوی مثال او د داغه سره سم د بيانولو وروسته رسول الله ﷺ وويل، دغه مال و زر ډېر شنه تازه نرم او زړه کشونکي دي دغه حقيقت خوا ته اشاره يې وفرمايله چي د دنيا مال و زر او د دغه محبت او د دغه د تعلق سره د انسانانو حالات او خيالات جلا وي، چي ځيني خلک خو هغه وي چي يوازې د اړتيا په اندازه د مال او اسباب په لاس راوړو ته کفايت کوي او د هغه د لاس راوړلو لپاره هم روا او صحيح وسائل او ذريعې اختياروي او د هغوئ سره چي کوم مال و زر روپۍ و پيسې وي هغه په ښه مصرفو خرڅوي او ځيني خلک داسي وي چي مال و دولت هر څه ګټي د هغوئ طمع په هيڅ اندازه قناعت نه کوي هغوئ نه يوازې دا چي تر ضرورت زيات مال و زر ټولوي مګر د هغه په لاس راوړلو کي د روا او ناروا په منځ کي هيڅ فرق نه کوي د سخت ترينو ګناهو ارتکاب کوي او د حرامو ذرائع په اختيارولو سره دولت راټولوي د دغه ماسيوا د هغوئ سره چي کوم مال و دولت او روپۍ پيسې وي هغه پر حقدارانو باندي نه خرڅوي کوم چي د الله تعالی د رضا باعث جوړېږي او د مال و دولت په اړه د هغوئ طمع د هغه سړي په رقم جوړوي چي خوري يې خو د طمعي د غلبې په وجې هيڅ کله نس يې نه مړېږي يا د هغوئ حالت د هغه سړي په ډول به سي چي د استسقاء مريض وي چي هيڅ وخت هم په اوبو نه اوبېږي او څومره اوبه چي څيښي هغومره تنده يې زياتيږي او نس يې پرسيږي.

د يو عارف په آند د دنيا مثال

د يو لوی بزرګ او عارف باالله خواجه عبيد الله نقشبندي رحمة الله عليه په اړه منقول دي چي هغه وويل: دغه دنيا دمار په ډول ده، کوم څوک چي د هغه دم پېژني د هغه لپاره د دنيا تر لاسه کول جائز دي مګر د نورو لپاره جائز نه دي، خلکو چي دا واورېدل نو وه يې ويل چي د دنيا دم څه شي دی؟ هغه ورته وويل: دد ې خبري علم درلودل چي د دغه دنيا مال او دولت د کوم ځای څخه او څرنګه حاصلوي او چيري يې مصرفوي.

﴿۴۹۳۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمرو بن عوف رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

فَوَاللّٰهِ لَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ وَلٰكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا

قسم په خدای زه ستاسو د فقر او مفلسی څخه نه بیریږم بلکه ددې څخه بیریږم چې دنیا به پر تاسو پراخه کړل سي لکه څرنګه چې پر هغه خلکو پراخه کړل سوې وه

كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ. متفق عليه.

چې ستاسو څخه مخکې تیر سوي دي بیا به تاسو د دنیا په لور رغبت کوئ یعني د دنیا په خوندونو کې به اخته سئ لکه څرنګه چې ستاسو څخه مخکې خلکو ددې رغبت وکړ او دنیا به تاسو هلاک کړي لکه څرنګه چې هغوئ یې هلاک کړ. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۳۱۹۱، رقم: ۴۰۱۵، ومسلم ۱۴\۲۲۷۳، رقم: ۶ – ۲۹۶۱.

تشریح: د مال و دولت هغه فراخي چې د دنیا عاشق یې جوړوي په طمع کې یې اخته کوي، د راټولو او یوځای کولو عادت کوونکې یې جوړوي انسان په اخلاقي او روحاني توګه تباه کوي او د اخروي هلاکت حق داره یې جوړوي ځکه رسول الله ﷺ د مسلمانانو د دنیاوي خوشحالئ، او د مالدارۍ څخه د خپلې بیرې اظهار وفرمایه، یا رسول الله ﷺ د دغه دنیاوي خوشحالئ په اړه د بیرې اظهار وفرمایه چې یو تر بله مخالفت او جګړې یواځې د دنیاوي اقتدار لپاره د جنګ او قتل قتال په بدله کې ترلاسه سي.

په ښکاره دا معلومیږي چې په دغه ارشاد کې د فقراء څخه مراد د هغه ټولو شیانو څخه خالي لاس کېدل دي چې د هغه یو انساني ژوند ته ضرورت وي چې پر هغه د دین د اړتیاوو تکمیل او بنیادي اسبابو معیشت انحاروي همداسې غناء یعني د دنیاوي فراخئ څخه مراد د دنیا د شیانو دومره ترلاسه کول دي چې د اندازې د کفایت او تر ضرورت زیات وي چې د هغه په وجه انسان د الله تعالی د عبادت او اطاعت څخه غافله سي او سرکښي خپله کړي.

د رزق په باره کې دعاء

(۴۹۳۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتًا وفي رواية كفافا. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله! ته د محمد ﷺ د اهل بیت او اولاد ته یوازې دومره رزق ورکړې چې خپل ځان وساتي او د بدن توان په هغه تر

لاسه کړي ، او په یوه روایت کي دي چي یوازي دومره رزق ورکړې چي د ژوندي پاته کېدلو لپاره یې بس وي . بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۸۳، رقم: ۶۴۶۰، ومسلم ۴\۲۲۸۱، رقم: ۱۸- ۱۰۵۵.

تشریح : د ملا علي قاري رحمة الله عليه سره سم د (آل) څخه مراد د رسول الله ﷺ اولاده او اهل بیت دی یا د امت هغه خلک ځیني مراد دي چي د رسول الله ﷺ رېښتیني تابعداره او خوښ دي او شیخ عبدالحق رحمة الله عليه لیکلي دي چي د آل څخه مراد د رسول الله ﷺ د امت ټوله خلک او تابع کوونکي مراد دي ځرنګه چي د لفظ (آل) د اصل معنی څخه دا مراد اخستل کیږي او که خاندان و عیال ځیني مراد کړه سي نو هم قیاس او دلالت بنیاد په جوړولو سره د خاندان و عیال ماسیوا د امت نور افراد هم په دغه دعا کي شامل ګرځیدل کیږي .

قوت د خوراک څیښاک هغه محدودي اندازې ته وائي چي ځان وساتي او په توګه د رزق بس وي کفاف د ژوند د بنیادي ضروریاتو هغي اندازې ته وائي چي د چا مخکي د سوال لاس غزولو څخه یې وساتي او ځیني حضراتو دا ویلي دي چي د قوت او کفاف په اصل کي د اول روایت د لفظ قوت وضاحت دی او د دغه لفظ په ذریعه دغه خوا ته اشاره کول مقصد دي چي اسباب معیشت او د ژوند د اړتیاوو پر کم ترینې اندازې باندي کفایت کول اولی دي ښکاره دي وي چي الله تعالی د رسول الله ﷺ دا دعا د خپلو هغو بندګانو په حق کي قبوله کړې ده څوک چي یې خپل محبوب جوړول.

دا خبره په ذهن کي ساتل پکار ده چي کفاف یعني د خوراک په اندازه کفایت څه متعین او آخري نه دي مګر د دغه مختلف صورتونه کېدای سي او د دغه فرق مدار اشخاص ، زمانه او د حالاتو عدم یکسانیت باندي دی مثلا یو سړی داسي وي چي د لږ خوراک عادت لري په دغه توګه چي هغه د دوو درو ورځو یا تر دغه زیاتو وږی پاته کېدای سي مګر یو سړی داسي دی چي په ورځ کي دوه یا درې واري د ډوډۍ خوړلو عادت لري یو سړی کم یا زیات عیال لري او یو سړی د سره کورنی نه لري همداسي ځیني وختونه داسي وي چي په هغه کي د خوراک څیښاک لږ اندازه هم کفایت کوي لکه د وچ کالی زمانه د تنګدستۍ حالت او کمزوري یا مرض راتلل د دغه بل اړخ ته خوشحالي او د قوت په حالت کي د خوراک څیښاک زیات خواهش وي اخر دا د کفاف اندازه منضبط کېدای نسي مګر د دغه دارومدار پر وخت حالاتو او اړتیاوو باندي وي کوم سړی چي په کوم حیثیت او کوم حالت کي وي د هغه په حق کي د کفاف اندازه د هغه سره سم وي البته مستحب او مطلوب دادی چي انسان ته د خپل خوراک څیښاک بس تر دغه اندازې

پوري ساتل پكار دي چي د ژوند د تېرولو لپاره ضروري او د بدن د قوت د ساتلو لپاره ضروري وي چي د هغه سره پر عبادت او اطاعت باندي قدرت حاصل وي او د ژوند معمولات مړه نسي.

په دغه حديث كي گويا مسلمانان په دغه امر كولو مقصود سوي دي چي هغوئ د ماش د لاس راوړلو د كوشش ضروريات د ژوند د دغه اندازې سره سم وساتي چي هغه ته قوت او كفاف وائي او تر ضرورت زيات د اسباب معيشت لاس ته راوړلو محنت او سختي برداشت نه كړي او د حد اعتدال څخه په تجاوز كولو سره او په طمع او كوشش كي په اخته كېدو سره خپل روحاني او اخلاقي ژوند كمزوری نه كړي.

علماؤ ليكلي دي چي تر فقر او غناء كفاف افضل دی كه څه هم په ځيني حالاتو كي غناء يعني د مال او دولت كثرت هم يو قسم فضيلت لري په شرط د دغه كثرت په وجه حاصليدونكې خوشحالي په هيڅ صورت كي هم په ديني گمراهئ اخروي نقصان او تاوان او د دنيا د ميني موجب جوړ نسي مگر خير او كاميابي او د عباداتو او اطاعاتو زيات تر په اختيارولو كي كومكي وي.

د انسان خلاصون

﴿۴۹۳۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا آتَاهُ. رواه مسلم.

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه چا خلاصون تر لاسه كړ چا چي اسلام قبول كړ او د ضرورت په اندازه رزق وركړل سو او الله تعالى ورته په هغه شي كوم چي ورته وركړل سوی قناعت وركړ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲\۷۳۰، رقم: ۱۲۵- ۱۰۵۴.

په مال كي د انسان درې برخي

﴿۴۹۳۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْعَبْدُ مَالِي مَالِي إِنَّمَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ مَا أَكَلَ فَأَفْنَى أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى وَمَا سِوَى ذٰلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: بنده وايي زما مال زما مال او حقيقت دادئ چي د هغه په مال چي څه د هغه دي هغه يوازي درې برخي دي يو خو هغه مال چي هغه وخوړ او ختم يې کړ، دويم هغه مال چي وا يې غوستی او زوړ يې کړی او دريم هغه مال چي د الله ﷻ په لار کي يې ورکړ او د آخرت لپاره يې ذخيره کړ، د دغه درو ډولو څخه پرته څه چي دي هغه به ټول خلکو ته پرېږدي او دی به ځيني ځي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۲۲۷۳\۴، رقم: ۴-۲۹۵۹.

تشريح: په دغه ارشاد کي دا حقيقت ښکاره سوی دی چي انسان په محنت کولو سره دنيا ګټي مال و دولت ترلاسه کوي او مځکه و جائيدا جوړوي بيا په هغه مځکه جائيداد او مال و دولت باندي فخر کوي خپل ځان يو ډير لوی سړی ګڼي او پر خلکو د مشرتوب کولو کوشش کوي مګر هغه دا خبره نه احساسوي چي اول خو د دغه مال و دولت او مځکي و بال ډير سخت دی او د دغه جواب ډير سخت دی دويم دا چي د ده سره څه مال و دولت مځکه و جائيداد دی دا د هغه ذات ته ډيره معمولي فائده وررسوي او دا شيان تر ډير کم وخته پوري د هغه سره پاته کېدونکي دي رسول الله ﷺ په غښي نفساني طريقې سره ښکاره وفرمايله چي په مال و دولت کي د انسان اصلي حصه او د هغه في الجمله بس دومره فائده وي چي هغه څه شيان خو په خوړلو سره ختم کي څه شيان په اغوستلو سره زاړه کي او که هغه ته توفيق وي نو يو څه شيان د الله تعالی په لار کي په خرڅولو سره د ځان لپاره د آخرت ذخيره جوړه کړي نور ټول مال و اسباب ټوله مځکه و جائيداد ټولي روپې و پيسې همداسي نور شيان د نورو لپاره پاته سي او دی له دنيا څخه رخصت سي.

په ذکر سوي پورته درو صورتو کي آخري يعني خپل مال د الله تعالی په لار کي خرڅول ښکله يو داسي شی دی چي انسان ته د هغه مال او دولت څخه تر ټولو ګران او د هميشه لپاره پاته کېدونکې ګټه رسوي او که د دغه اصلي ګټي لپاره مال و دولت تر لاسه کړي او هغه يو ځای کړي نو دا په يقين سره په پوهه کي راتلونکې خبره به وي کنه نو د دنيوي ګټو لپاره يې يو ځای کوي نو دا بې حقيقته خبره به وي د دغه ارشاد دا الفاظ (او اعطي فاقتني) په ذريعه د دې امر خوا ته اشاره فرمايل سوې ده چي مال و دولت جمع کول په حقيقت کي دا دي چي انسان ته د الله تعالی کوم مال و دولت ورکړي هغه د الله تعالی د خوشحالۍ لپاره مسکينانو او ضرورت مندانو ته ورکړي چي د هغه ثواب جمع کېږي او بيا د حاجت په ورځ د قيامت په ورځ په کار راسي.

د مړي سره تلونکي شيان

﴿۴۹۴۰﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ . متفق عليه.

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مړي سره درې شيان ځي دوه بيرته راځي او يو ورسره پاته کيږي : د کور خلک ، مال او عمل ورسره ولاړ سي خو راوګرځي د کور خلک او مال دده (يعني مړی) يوازي پريږدي او دوئ ځيني راسي او هغه (يعني د مړي) عمل ورسره پاته سي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\ ٣٦٢، رقم: ٦٥١٤، ومسلم ۴\ ٢٢٧٣، رقم: ۵- ٢٩٦٠.

تشريح : د اعمالو څخه مراد هغه ثواب او عذاب دی چي هر ښه او بد کار پر مرتب کيږي حاصل دادی چي انسان کله د دغه دنيا څخه ځي د آخرت اول منزل يعني قبر ته ورسيږي نو هلته به هغه مرحله شروع کيږي چيري چي عزيزان قريبان دوستان خپلوان مال و دولت دا ټول به پريږدي او يوائحي هغه اعمال ورسره پاته سي چي هغه په دنيا کي کړي وه شايد له دې وجهي څخه ويل سوي دي چي القبر صندوق العمل يعني قبر د اعمالو صندوق دی.

﴿۴۹۴۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَا مِنَّا أَحَدٌ إِلَّا مَالُهُ أَحَبُّ إِلَيْهِ من مال وارثه قَالَ فَإِنَّ مَالَهُ مَا قَدَّمَ وَمَالُ وَارِثِهِ مَا أَخَّرَ. رواه البخاري.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي څوک دی چي هغه ته د خپل مال څخه زيات د خپل وارث مال خوښوي ، صحابه کرامو وويل: اې دالله رسوله ! په موږ کي هيڅوک داسي نسته چي د خپل مال څخه زيات د وارث مال خوښوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دده مال هغه دی چي ده مخکي وليږی (يعني خيرات او

صدقې په ذريعه) او هغه د وارث مال دی چي ده د خپل مرګ څخه وروسته پرېښود (او واقعه داده چي خلک د ځان څخه وروسته پرېښودونکی مال چي د وارثانو دی زيات خوښوي). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١١\٢٦٠، رقم: ٦٤٤٢.

تشريح: مطلب دادی که خلک رښتيا هم دا خبره خوښوي چي د هغوئ سره کوم مال و دولت دی د هغه زياته زياته ګټه هغوئ ته وروسيږي نو پکار خو داده چي هغوئ دا مال و دولت دلته په دنيا کي د يوځای کولو او دلته د پرېښېدو پرځای په آخرت کي د کار د راتلو لپاره مخکي واستوي د هغه صورت دادی چي هغه خير و خيرات وکي او په ښه کارو کي يې په خرڅولو سره زيات ترين ثواب وګټي مګر په عامه توګه سره داسي چي خلک خپل مال و دولت او پيسې يوځای کوي خير و خيرات نه ورکوي او د حقدارانو د حق په ورکولو کي بخيل توب کوي او همداسي هغه د مخکي استولو پر ځای د وارثانو لپاره دلته په دنيا کي يې پرېږدي او ځيني ولاړسي چي د هغه څخه دا معلوميږي چي خپل مال و دولت د ځان لپاره نه خوښوي مګر د خپلو وارثانو لپاره يې ډېر زيات خوښوي بيا هم ښکاره دي وي چي د دغه ارشاد مطلب دا نه دی چي د کوم سړي سره څه مال و دولت او سرمايه وي هغه دي ټول د الله تعالی په لار کي خرڅ کي او د خپلو وارثانو لپاره دي هيڅ نه پرېږدي او ځيني ولاړسي مګر اصل مقصد د دغه خبري خواته ترغيب ورکول دي چي مالدار خلک په دغه بخيلتوب خپل شعار نه جوړوي او نه دي د مسکينانو د کومک څخه ډډه کوي بلکه د خپل مال و دولت او پيسو څه حصه دي د الله تعالی په لار کي خرڅوي د خپل مال و دولت څه حصه صدقه او په خيرات کولو او مسکينانو ته او د نيکو کارونو لپاره د وصيت کولو وروسته چي د هغه زياته حصه دريمه حصه ده نوره د وارثانو لپاره پرېښول افضل دي څرنګه چي په حديث شريف کي راغلي دي چي خپل وارثان مالداره پرېښول تر دغه غوره دی چي خپل ټول مال د الله تعالی په لار کي په خرڅولو سره د دنيا څخه ولاړسي او د هغه وارثان د خپلو اړتياوو لپاره د خلکو څخه غوښتنه او لاس غزونه کوي.

﴿۴۹۴۲﴾: وَعَنْ مُطَرِّفٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْرَأُ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ قَالَ يَقُولُ ابْنُ آدَمَ مَالِي مَالِي قَالَ وَهَلْ لَكَ يَا ابْنَ آدَمَ إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ. رواه مسلم.

حضرت مطرف رضی الله عنه د خپل پلار څخه روايت كوي چي زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سوم او هغه مبارک دغه وخت دا سورت تلاوت كوى (يعني الهكم التكاثر) چي د هغه معنا داده : اې خلكو تاسو د خپل مال په زياتوالى په خپل منځ كي د فخر په سبب د آخرت د خيال څخه بې پروا سوي ياست ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : د آدم عليه السلام اولاد وايي زما مال زما مال، حال دا چي اې د آدم زويه ! ستا په مال كي تا ته هيڅ په لاس نه درځي خو يوازي دومره چي تا وخوړى او ختم دي كړ او وادي غوستى او وه دي شكوى او خيرات دي كړ او د آخرت لپاره دي ذخيره كړ . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۲۷۳، رقم: ۳- ۲۹۵۸.

حقيقي غنا څه شي ده

﴿۴۹۴۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : غنا د اسباب او سامان په زياتوب نه ده بلكه غنا د زړه شتمنتوب دئ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۷۱، رقم: ۶۴۴۶، ومسلم ۲\۷۲۶، رقم: ۱۲۰- ۱۰۵۱.

تشريح : د زړه غني كېدل دادي چي څه حاصل شي وي پر هغه صبر وكړي د مال و دولت او مالدارئ څخه بې پرواه سي او د غني حوصلې او همت مالک وي چي نه خو په طمع كي اخته وي او نه د چا مخته د سوال لاس غزوي كوم سړى چي داسي وي چي د هغه زړه د مال و دولت په حاصلولو او يوځاى كولو كي بوخت وي او د ډير مال په غوښتنه او په طمعه كي اخته وي نو هغه په حقيقت كي فقير او ضرورت مند دى كه څه هم په ظاهره كي هر څومره مالداره ولي نه وي دا حقيقت شيخ سعدي رحمة الله عليه داسي بيان كړى دى :

تونگري بدل است نه بمال   بزرگي بعقل راست نه بسال

ځينو حضراتو داسي ويلي دي چي غني النفس (يعني د نفس د غني كېدو) څخه مراد دادى چي هغه ته علمي او عملي كمالات ترلاسه سي چي د هغه څخه ماسيوا د انسان روحاني او اخلاقي ژوند نه خو خوندي وي او نه هغه ته عظمت تر لاسه وي گويا اصل خوش بختي او د

دولتمندۍ دارومدار پر روحاني او عملي کمالاتو باندي دی نه چي د مال و سامان پر ده پر شت باندي لکه چي چا ویلي دي :

تونګري نه بمال است نزد اهل کمال   که مال تالب ګور است بعد از آن اعمال

او ځیني ارباب کمالو داسي ویلي دي

رضينا قسمة الجبار فينا   لنا علم وللاعداء مال

الله تعالی چي زموږ په قسمت کي څه لیکلي دي موږ په هغه راضي او خوشحاله یو زموږ لپاره د علم دولت دی او د دشمنانو لپاره دنیاوي مال دی .

فان المال يفني عن قريب   و ان العلم يبقي لا يزال

په دغه کي شک نسته چي دنیاوي مال ډېر ژر ختمېدونکی دی کله چي د علم دولت همیشه پاته پاته کېدونکی دی .

او دا خبره معلومه ده چي دنیاوي مال او سامان د هغه خلکو میراث دی چي د الله تعالی په نزد سخت شړل سوي دي لکه فرعون قارون او ټول کفار او فاسقان وغیره کله چي انبیاء علیهم السلام ، علماء او اولیاء میراث علم او د اخلاص دولت دي نو دنیاداره سړی په بښکاره مال و سامان تر لاسه کېدو خوشحاله کیږي او دینداره سړی د علم دولت په لاس نه راوړو سره خوشحاله او مطمئن کیږي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

پنځه نصیحتونه

﴿۴۹۲۴﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَأْخُذُ

د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک دئ چي واخلي

عَنِّي هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ فَيَعْمَلُ بِهِنَّ أَوْ يُعَلِّمُ مَنْ يَعْمَلُ بِهِنَّ قُلْتُ أَنَا يَا رَسُولَ

زما څخه دا کلمې او عمل په وکړي ، یا هغه چا ته یې وښیي چي عمل په وکړي، ما وویل: اې دالله رسوله ! زه یم،

اللهِ فَأَخَذَ بِيَدِي فَعَدَّ خَمْسًا فَقَالَ اتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ وَارْضَ

رسول الله ﷺ زما لاس ونیوی او داسي پنځه خبري یې وشمیرلې یعنی وه یې فرمایل : (۱) د

هغه شيانو څخه ځان وژغوره کوم چي الله ﷻ حرام کړي دي که ته د هغه څخه ځان وساتې نو ستا شمير به د غوره عبادت کونکو خلکو څخه سي

بِمَا قَسَمَ اللّٰهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ وَأَحْسِنْ إِلَى جَارِكَ تَكُنْ مُؤْمِنًا وَأَحِبَّ

(۲) کوم شی چي الله تعالی ستا په قسمت کي ليکلی دي په هغه راضي او شاکر اوسه که ته داسي وکړې نو ستا شمير به د دنيا په غني ترين خلکو کي سي (۳) د خپل همسايه سره ښه چلن کوه که ته داسي وکړې نو پوره مؤمن به سې (۴) کوم شی چي د ځان لپاره خوښوې

لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ تَكُنْ مُسْلِمًا وَلَا تُكْثِرُ الضَّحِكَ فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِكِ تُمِيتُ الْقَلْبَ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث غريب.

نو د خلکو لپاره يې هم خوښ کړه که ته داسي وکړې نو پوره مسلمان به سې (۵) او ډير مه خانده ځکه چي ډيره خندا زړه مړ کوي. احمد او ترمذي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: مسند الامام احمد ۳۱۰\۱۲، والترمذي ۴۷۸\۱۴، رقم: ۲۳۰۵.

تشريح : د حديث د اولو جملو څخه دا خبره ښکاره کيږي چي علم په خپله افضل او اشرف دی د يو سړي يواځي علم حاصلول د هغه د فضيلت دليل دی، هو که پر هغه باندي د علم پيدا کيدو دولت هم نصيب سي نو تر دغه د خوشبختئ خبره بله نسته چي د علم اصل مقصد تر لاسه کيږي مګر که يو عالم پر خپل علم باندي خپله خو عمل نه کوي البته د تعليم او تلقين په ذريعه د هغه علم نورو ته رڼا رسوي او د سيده لاري ښودلو فريضه منځ ته راوړي نو هغه ته په دغه صورت کي هم ثواب ترلاسه کيږي د دغه څخه دا هم معلومه سوه چي د بې علمه عالم خلکو ته د نيکئ او خير تلقين کول او د بدئ څخه راګرځول صحيح دي.

د محارم په مفهوم کي هر ډول ممنوع شيان اختيارول او د کومو شيانو د اختيارولو حکم چي سوی دی د هغه پرېښودل پکښي شامل دي نو ته محارم يعني د هغه شيانو څخه ځان وساته کوم چي شريعت حرام کړي دي د دغه مطلب دادی چي نه يواځي د منع سوو او حرامو شيانو څخه پرهيز وکړه بلکه شريعت چي د کومو شيانو د اختيارولو حکم کړی دی د هغه د پرېښولو څخه هم پرهيز وکړه.

د محارم څخه پرهيز کوونکي ته تر ټولو زيات عبادت ګزاره بنده په دغه اعتبار ورته فرمايل سوي دي چي د محارم څخه پرهيز کول هغه فرائض پوره کول دي کوم چي الله تعالی عائد کړي دي او ښکاره ده چي د فرائضو پوره کولو څخه افضل هيڅ عبادت نسته مګر عام خلک فرائض

پرېږدي يا هغه خوا ته كومه توجه وركوي او په نفلو كي مصروف اوسي او همداسي هغه ګويا اصول او بنياد خو ضائع كوي او فروعات او فضائل اختياروي مثلا ډير وخته داسي كيږي چي د روژې قضاء واجب وي خو هغه د دغه روژو د قضاء راوړلو خوا ته خو غافل وي البته د علم حاصلول په افضل عباداتو كي د مصروفه كېدو خوا ته ترجيح وركوي يا پر يو سړي باندي زكواة واجب دی د خلكو مالي حقوق پر هغه باندي ذمه وي خو هغه د زكوة او د بندګانو حقوق د ادا كېدو خوا ته خو څه توجه نه وركوي البته پر مسكينانو باندي خرڅول او د مسجدو او مدرسو جوړول يا دارقم نور په نافله كارو كي په پوره شوق سره خپل مال خرڅوي.
پر تقدير الهي باندي خوشحاله او مطمئن كېدل او پر خپل قسمت باندي صبر كوونكى او شكر كوونكى ډېره غټه مرتبه لري كوم سړي ته چي دا مقام ورپه نصيب سي هغه د حرص څخه پاك سي د زياتي غوښتني څخه خپله لمن راټولوي او د دولتمندئ په وجه د چا مخته لاس غزول نه بولي نقل سوي دي چي يو سړي د بزرګ سيد ابوالحسن شاذلي رحمة الله عليه څخه د كيميا په باره كي پوښتنه وكړه نو هغه جواب وركړ چي هغه كيميا په دوو خبرو كي پټه ده يو خو دا چي ته مخلوق د نظر څخه وغورځوه يعني د الله ماسيوا څوک د سختۍ پورته كوونكى وغيره مه ګڼه او د الله تعالى ماسيوا د بل چا سره خپل حاجت مه متعلق كوه او دويم دا چي د الله تعالى سره هم دا اميد مه متعلق كوه چي هغه تا ته د هغه شيانو ماسيوا څه نور هم دركړي كوم چي هغه ستا په قسمت كي ليكلي دي.
حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه وفرمايل اې انسانه په دغه خبره پوه سه چي كوم شى ستا په قسمت كي ليكل سوى دی هغه به په هر حالت كي تا ته رسيږي كه څه هم د غوښتني او سوال لار اختيار كړې يا هغه لار پرېږدې، او كوم شى چي ستا په قسمت كي نه دی ليكل سوى هغه تا ته هيڅ وخت نه ترلاسه كيږي كه څه هم د هغه په غوښتني كي ته هر څومره طمع وكړې او د هغه د لاس راوړو لپاره هر څومره كوشش محنت او سختي برداشت كړې نو تا ته چي څه ترلاسه سي پر هغه شكر وكړه او صبر پر وكړه په هر حالت كي حلال او جائز شى ترلاسه كول ضروري وګڼه او پر خپل قسمت باندي راضي او مطمئن اوسه چي رب ذوالجلال ستا څخه راضي او خوشحاله سي.
ته چي كوم شى د ځان لپاره خوښوې د دغه مطلب دادی چي د دين د بهترئ او خير كوم شى چي ته په خاصه توګه سره د ځان لپاره خوښوې هغه شى د نورو لپاره هم خوښوه تر دغه چي د كافر لپاره د بې ايمان او فاجر لپاره توبه او انابت خوښ كړه.

په عبادت کې زړه لګول

﴿۴۹۴۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ وَإِنْ لَا تَفْعَلْ مَلَأْتُ يدك شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ. رواه احمد وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاک فرمايي :اې د آدم زويه! ته خپل زړه په ښه ډول زما د عبادت لپاره مطمئن او فارغ کړه زه به ستا زړه د غنا څخه ډک کړم او فقر او اړتيا به درباندي بنده کړم که ته داسي ونه کړې نو زه به ستا لاسونه د بوختياوو څخه ډک کړم او ستا فقر او افلاس به هم بند نه کړم . احمد او ابن ماجه.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۳۵۸، وابن ماجه ۱۷\۱۳۷۶، رقم: ۴۱۰۷.

تشريح : مطلب دادی چي د فقر افلاس او تفکراتو وريځ يوائې په دغه توګه سره نه ختميږي چي خپل ټول وختونه د معاش په غوښتنه او د مال و دولت د لاس راوړو په کوشش او سختئ کي تېر کړې او هر ګړی په دنياوي کارو او مصروفياتو کي سرګردان اوسې مګر واقعه داده چي په دغه صورت کي ټولي پرېښانياني او سرګردانئ دي پر خپل ځای پاته وي کله چي د الله تعالی د عبادت لپاره خپل فکر و عمل وختونه د دنياوي تفکراتو او مصروفياتو څخه فارغ ساتل د حالاتو د کشائش ضامن هم دي او د الله تعالی ماسيوا د استغناء او بې نيازئ د حاصلېدو باعث هم ، دا خبره په نورو لفظو کي داسي بيان کېدای سي چي د الله تعالی خوا ته د متوجه کېدو پر ځای هر وخت د غم روزګار پريشاني پر ځان مسلط کولو او د غوښتني په لارکي ناروا محنت او په سختئ کي په ګډېدو سره خپل ځان په تکليف او غم کي د اخته کېدو په وجه د هغه اندازې څخه زيات د لاس راوړو څخه خو پاته سو کوم چي د ازله په قسمت کي ليکل سوي دي البته چېه اثر به دا خاماخا وي چي د الله ﷻ د عبادت په پرېښولو د زړه د استغناء او دولت څخه هم محرومه سو .

پرهيزګاري ښه ده

﴿۴۹۴۶﴾:وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ ذُكِرَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعِبَادَةٍ وَاجْتِهَادٍ وَذُكِرَ عِنْدَهُ آخَرُ بِرِعَةٍ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُعْدَلُ

بِالرِّعَةِ يعني الورع. رواه الترمذي.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ مخته په عبادت او طاعت کي د کوښښ ذکر وکړ او بل سړي د پرهيزګارۍ ذکر وکړ (رسول الله ﷺ) ورته وفرمايل: دا، (يعني په عبادت او طاعت کي کوښښ) د پرهيزګارۍ برابر مه ګرځوه. (يعني پرهيزګاري لوی شی دی.) ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۷۷، رقم: ۳۵۱۹.

د لغاتو حل: برعة: اى بورع عن حرام مع قلة عبادة.

تشريح: د ورع الفاظ په اصل کي د حديث حصه نه ده مګر د يو روايت کوونکي خپل قول دی چي هغه د دغه الفاظو په وجه د رعة وضاحت کړی دی چي د دغه لفظ څخه مراد ورع دی واضحه دي وي چي د ورع څخه مراد تقوی ده يعني د حرامو شيانو څخه ځان ساتل او د دغه په مفهوم کي عبادات واجبه ادا کول هم پکښي شامل دي د حديث حاصل دادی چي کوم سړی عبادتونه خو ډير کوي مګر د ګناهو د پرېښولو په معامله کي کمزوری وي نو هغه تر هغه سړي افضل نه دی چا چي پرهېزګاري اختيار کړې وي که څه هم د هغه عبادت او اطاعت ډير وي او په هغه کي زيات کوشش او اهتمام نه وي.

پنځه شيان غنيمت تر پنځو شيانو مخکي وګڼئ

﴿۴۹۴۷﴾: وَعَنْ عَمْرِوبْنِ مَيْمُوْنِ الْأَوْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عمرو بن ميمون اودي ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ يو سړي ته وفرمايل

وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ

چي پنځه شيان تر پنځو شيانو مخکي غنيمت وګڼه يعني (۱) ځواني مخکي تر سپين ږيرتوب

وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقْمِكَ وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ وَحَيَاتَكَ

قَبْلَ مَوْتِكَ. رواه الترمذي مرسلا.

(۲) روغتيا مخکي تر ناروغۍ (۳) غنا مخکي تر مفلستيا (۴) فراغت مخکي تر بوختيا (۵): او ژوند مخکي تر مرګ. ترمذي

تخريج: لم نجده عند الترمذي.

تشريح: اغتنم لفظ د اغتنام څخه مشتق دی چي معنی يې ده د غنيمت مال اخيتسل او غنيمت خو په اصل کي هغه مال ته وائي چي مسلمانانو د جنګ په کولو سره د جنګي کافرانو څخه حاصل کړی وي مګر د دغه لفظ اطلاق پر هغه شي باندي هم کيږي چي د دغه محنت او مشقت څخه بغير لاس ته راغلی وي.

د حديث خلاصه داده چي ځواني، روغتيا، شتمني، فراغت او ژوند داسي شيان دي چي تل نه وي، د ځوانۍ وروسته سپين ږيرتوب، د روغتيا وروسته ناروغي، د شتمنۍ وروسته محتاجي او د فراغت وروسته بوختياوي او د ژوند وروسته مرګ راتلل لازمي دي، ځکه ترڅو چي دغه شيان نه راسي نو غنيمت يې وګڼئ او په هغه کي د خپلي دنيوي او اخروي ښېګڼي او ګټي لپاره څه کولای سئ وکړئ.

انتظار کول

﴿۴۹۴۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ما ينتظر

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي يو سړی د

احدكم إِلَّا غِنًى مُطْغِيًا أَوْ فَقْرًا مُنْسِيًا أَوْ مَرَضًا مُفْسِدًا أَوْ هَرَمًا مُفَنِّدًا أَوْ

شتمنتوب انتظار کوي چي سرکښ کونکی شی دی يا د مفلسۍ انتظار کوي چي الله جل جلاله هيرونکی شی دی، يا د ناروغۍ انتظار کوي دي يا د سپين ږيرتوب انتظار کوي چي بنده بې حواسه او بې عقله کوي.

مَوْتًا مُجْهِزًا أَوِ الدَّجَّالَ فالدجال شَرُّ غَائِبٍ يُنْتَظَرُ أَوِ السَّاعَةَ وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ. رواه الترمذي والنسائي.

د مرګ انتظار کوي چي ناڅاپه او ژر راتلونکی دی، يا د دجال انتظار کوي چي خراب او غائب دی، يا د قيامت انتظار کوي چي سخت او تلخ حوادث دي. ترمذي او نسائي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۷۸، رقم: ۲۳۰۶، ولم نجده عند النسائي.

د لغاتو حل: مفندا: اى مبلغا صاحبه الى الفند وهو ضعف الراى.

تشريح: د حديث حاصل دا دی چي انسان ته فرصت او فراغت او د څه کولو موقع نصيب

کیږي هغه دا غنیمت نه ګڼي او داسي هغه ګویا د هغه وخت په انتظار وي کله چي هغه وخت دلاسه ځیني ووځي او داسي صورت راسي چي هغه د دغه خیرونو او خوش بختیو څخه محرومه کړي چي د هغه څخه په تیره زمانه کي برخمن کیداي سي مثلا یو سړی په غریبۍ او مجبوري کي اخته وي نو پکار خو داده چي هغه دا حالت د ځان لپاره غنیمت وګڼي او په دا پوه سي چي د مال و دولت په وجه چي کومي خرابئ پیدا کیږي د هغه څخه الله تعالی ساتلی دی او دا وخت دا موقع ورته په نصیب ده چي پر خپل اوسني حالت باندي د صبر لار په اختیارولو سره د الله تعالی صبرکوونکی بنده جوړ سم مګر د دغه پر ځای هغه د خپل د غریبۍ پر حالت د مال و سامان غوښتونکی سي د هغه نفس هغه د مالدارئ خوا ته راکښنوي او هغه ګویا د هغه مال و دولت خواهش لري چي د هغه په نشه کي سرکښه وي او د سیده لاري څخه یې راګرځوي همداسي الله تعالی چي کوم سړی په مال و دولت سره نازیږي هغه د دا خپل مالدارئ په حالت کي د شکر د ادا کولو څخه بې پرواه کیږي او هغه مال و دولت د خیر او ښېګڼي په کارونو کي د خرڅولو پر ځای آخوا دې خوا په خرڅولو سره د الله تعالی د دغه لوئ نعمت بې قدري کوي او په خپل دا کار کولو سره ګویا دی د غریبئ او مایوسئ خوا ته تلل غواړي چي په معاشي فکرو او خوابدیو کي په اخته کېدو سره د عبادت څخه غافل سي په دغه حدیث کي د نورو جملو مطلب هم قیاس کېدای سي.

ښکاره دي وي چي دا الفاظ انتظار کوي په اصل کي د هغه خلکو په حق کي د تنبیه په توګه دی چي د دین په کارو کي غفلت او سستي او په عبادت کي کوتاهي کوي ګویا هغوئ خبر کړه سوي دي چي تاسو د خپل رب عبادت او د خپل دین د خدمت لار به آخر کله اختیاروئ که تاسو د خپل دین خدمت او د خپل رب عبادت او اطاعت ونه کړی کله چي تاسو ته د لږ مصروفیاتو او د وخت د فارغ والي د بدن د طاقت او داسي نوري ښائستې موقعې په لاس درغلي دي نو بیا به هغه وخت څه وکې کله چي دا موقع په لاس نه درځي او د ډیر مصروفیاتو د بدن د کمزوري په وجه تاسو په پوره توګه سره قدرت لرونکي پاته نسی نو ایا تاسو د فائدې موقع په پرېښېدو سره د تاوان د وخت انتظار کوونکي یاست او د خپل تاوان د لاري انتظار کوی.

د دنیا بدوالی

﴿۴۹۴۹﴾: وَعَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ مَلْعُونٌ مَا فِيهَا إِلَّا ذِكْرُ اللّٰهِ وَمَا وَالَاهُ وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ. رواه

الترمذي وابن ماجة.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار! دنيا ملعونه ده او كوم شی چي په دنيا كي دننه دي هغه هم ملعون دي پرته د الله ﷻ د ذكر څخه او د هغه شي څخه كوم چي الله تعالى خوښوي او عالم او يا طالب علم . ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۸۵، رقم: ۲۳۲۰، وابن ماجه ۲\۱۳۷۷، رقم: ۴۱۱۲.

تشريح : د دغه ارشاد مقصد د دنيا څخه بې توجه كېدل او د دا تعليم وركول دي چي د دنيا كوم شيان چي الله تعالى يې نه خوښوي لكه ټول حرام او ناروا كارونه د هغه څخه پرهيز كوئ داسي نه چي د دغه شيانو د اختيارولو په وجه تاسو هم د رب العزت د دروازې څخه شړونكي وګرځول سئ او كوم شيان چي د الله تعالى په نزد ښه او خوش ترينه دي لكه ذكر الله نيک كارونه او تعليم و تعلم وغيره هغه اختيار كړئ چي تاسو هم د الله تعالى د دروازې قبول سوي وګرځول سئ د الله تعالى خوښ شيان عبادت او اطاعت او ټول هغه شيان ځيني مراد دي چي د الله تعالى د رضا باعث او د الله تعالى د نژدې والي ذريعه وي يا (ما والاه) چي د هغه معنى د الله تعالى خوښ شيان ، د دغه معنى ده هغه شيان چي د الله تعالى ذكر ته نژدې او د هغه مشابه وي لكه د انبياؤ اولياؤ او صلحاء حالات او د فضائلو ذكر او اعمال صالحه، يا دا معنى چي هغه شی چي د الله تعالى د ذكر تابع او د هغه د لوازمو او مقتضيانو څخه دي لكه د الله تعالى حكمونه او د امر و نهي اتباع او فرمانبرداري نو د(ما والاه) اوله معنى چي په ترجمه كي نقل سوې ده د مراد اخستو په صورت كي لفظ والاه ماده اشتقاق به ولي وي چي د هغه معنى د محبت او دوستئ ده د دويمي معنى اخستو په صورت كي به دا لفظ ګويا ولي څخه معنى متابعت (پيروي) وي، ليكن دا خبره دي په ذهن كي وي چي د دغه ټول وضاحت تعلق د دغه امر تسليم په كولو سره دی چي د ذكر الله څخه مراد د الله تعالى د نامه ورد دی څرنګه چي په عامه توګه سره د الله تعالى ذكر دا مفهوم ګڼل سوی دی او كه د الله تعالى د ذكر څخه مراد هر هغه كار خير وي چي د الله تعالى د رضا د هغه د نژدېكت او د هغه د عبادت په نيت سره كول كيږي نو د دغه معنى څخه ټول عبادتونه او طاقتونه به د الله تعالى ذكر په مفهوم كي داخل وي او بيا لفظ ماوالاه څخه به هغه شيان مراد وي چي د ذكر الله اسباب او ذرائع كېدو په وجه د هغه باعث معين او مددګار وي تر دغه چي په اندازه د كفاف خوراک څيښاک او د ژوند د ضرورتو شمير هم په دغه اسبابو كي وي په دغه صورت كي به وويل سي چي وروسته د عالم او متعلم ذكر به د تخصيص بعد تعميم په توګه وي.

د دنيا حيثيت

﴿۴۹۵۰﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةً. رواه احمد والترمذي وابن ماجة.

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه دنيا د الله جل جلاله په نظر كي د غوماشي د وزر برابر هم څه حيثيت درلوداى نو كافر ته به يې يوه ذره هم نه وركولاى. احمد ،ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۴۸۵، رقم: ۲۳۲۰، وابن ماجه ۲\ ۱۳۷۷، رقم: ۴۱۱۰، ولم نجده عند احمد.

تشريح: مطلب دادى كه د الله تعالى په نظر كي د دغه دنيا څه قدر هم وي نو د دغه دنيا كم ترين شى به هم د كافر نه نصيب كېدى ، ځكه چي كافر د الله تعالى دښمن دى نو ښكاره ده چي كوم شى هم څه قدر او وقعت لري او د وركولو والا هغه شى خپل دښمن ته هيڅ كله نه وركوي نو د دنيا د بې وقعت او ډير سپک كېدو وجه ده چي الله تعالى دا دنيا كافرانو ته وركوي ليكن خپلو بندګانو ته يې نه وركوي ځرنګه چي په يوه حديث كي دغه خوا ته داسي اشاره فرمايل سوې ده : ما رويت الدنيا عن احد الا كانت خيرة له: د دنيا د مال و جاه حق داره هغه سړى وي چي د هغه لپاره غوره وي .

او كفار و فاسقان چي په دنيا كي ډير خوشحاله موړ وينو نو د هغه يوه وجه دا هم ده چي د الله تعالى په نظر كي دغه دنيا د نيكو بندګانو لپاره ښه نه ګڼي مګر دا د كچرې په ډول د كفارو او فجارو مخ ته يې غورځوي چي د دغه څخه هغه ته نفرت دى په دا آيت كريمه كي دغه خوا ته اشاره سوې ده :

أَن يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِالرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ

ژباړه: كه دا خبره امېد ناكه نه واى چي ټوله خلک به يوه طريقه يعني كافران سي نو كوم خلک چي د الله تعالى سره كفر كوي موږ به د هغوئ لپاره د هغوئ د كورو چتونه هم د سپينو زرو جوړ كړو .

او د قرآن كريم په دغه آيت سره وما عند الله خير للابرار او رزق ربک خير و ابقي څخه هم دا خبره واضحه كيږي .

﴿۴۹۵۱﴾: وَعَنِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ فَتَرْغَبُوا فِي الدُّنْيَا. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په خپل کاروبار کي دومره مه مبتلئ چي هغه د دنيا په لور د رغبت سبب جوړ سي. ترمذي او بيهقي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۸۸، رقم: ۲۳۲۸، والبيهقي في شعب الايمان ۱۷\۳۰۴، رقم: ۱۰۳۹۱.

د لغاتو حل: الضيعة: هي البستان والقرية والمزارعة.

تشريح: د ضيعة څخه مراد دنياوي اسباب سامان او د ګټي ذريعې دي لکه صنعت او تجارت مځکه و جائيداد باغ کلي او داسي نور د حديث حاصل دادی چي د معاش د ترلاسه کېدو او د ګټي کومي ذريعې دي که څه هم هغه ذکر سوي شيان دي يا د هغه ماسيوا نور شيان وي په هغه کي داسي مصروفتيا اختيارول منع دي چي د هغه سره انسان د الله تعالى عبادت او د آخرت خوا ته متوجه پاته نسي مګر د زياتي غوښتني په حرص کي په اخته کېدو سره هر وخت په دنياوي جنجالو کي مصروف وي د دغه څخه دا خبره هم واضحه سوه چي په حديث کي ذکر سوی حکم د هغه سړي په حق کي دی چي د معاش د ترلاسه کېدو اسباب او په وسائلو کي راچاپېره وي او د الله تعالى خوا ته توجه او د هغه د ياد څخه بې پرواه وي او د الله تعالى حقوق او د بندګانو حقوق د ادا کولو څخه منع وي او که داسي نه وي نو بيا د ماش د ترلاسه کېدو اسباب او ذريعې اخيتارول او په حلال دنياوي کارو کي د مصروفيدو څه ممانعت نسته.

ښکاره دي وي چي د قرآن کريم دا آيت:

رِجَالٌ لاَّ تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلاَ بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلاَةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ

چي څرنګه دا معنى مراد ځيني اخيسته کېږي چي قرآن کريم د دغه الفاظو په ذريعه د هغه خلکو تعريف او ښائست والي فرمايلی دی په تجارت او خرڅلا کي مصروفيات ځکه نه اختياروي چي د آخرت د کارو خوا ته د هغوئ په متوجه کېدو کي هغوئ ته څه خنډ مخ ته رانسي، همداسي دا معنى هم مراد ځيني اخيسته کېږي چي په دغه آيت کي په اصل کي د هغه خلکو تعريف او تحسين فرمايل سوی دی چي په خپل تجارت وغيره کي د مصروفه کېدو سره د آخرت د کارو څخه غافل کېږي مګر په خپلي دنيا سره د خپل آخرت اصلاح او د کاميابۍ خوا ته هم متوجه وي او حقيقت دادی چي مؤخر الذکر معنى زيات ته مناسبه معلومېږي څرنګه چي د

واقام الصلوة و ایتاء الزکوة الفاظ د مناسبت څخه دا مفهوم کیږي.

د دنیا محبت د اخرت نقصان

﴿۴۹۵۲﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ دُنْيَاهُ أَضَرَّ بِآخِرَتِهِ وَمَنْ أَحَبَّ آخِرَتَهُ أَضَرَّ بِدُنْيَاهُ فَآثِرُوا مَا يَبْقَى عَلَى مَا يَفْنَى. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي خپله دنیا عزیزه او محبوبه گڼي دومره عزیزه چي د الله جل جلاله پر محبت غالبه سي هغه خپل آخرت ته تاوان رسوي او څوک چي خپل آخرت عزیز گڼي نو هغه خپل دنیا ته تاوان رسوي نو تاسو هغه شی اختیار کړئ چي همېشه پاته کیدونکی دی فنا کیدونکی شی پرېږدی. احمد او بیهقي.

تخریج: مسند الامام احمد ۴\۴۱۲، والبيهقي في شعب الايمان ۷\۲۸۸، رقم: ۱۰۳۳۷.

د مال غلام

﴿۴۹۵۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال لُعِنَ عَبْدُ الدِّينَارِ لُعِنَ عَبْدُ الدِّرْهَمِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د درهم او دینار پر عبادت کونکي باندي لعنت کړل سوی دئ. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\۵۰۷، رقم: ۲۳۷۵.

تشریح: د لعن معنی ده شړل د خیر څخه محروم کېدل او د الله تعالی د رحمت څخه لیري کېدل د حدیث مطلب دادی چي کوم سړی د مال و زر روپی و پیسو په مینه کي دومره راچاپېره سي چي د هغه په وجه د الله تعالی د عبادت او فرمانبرداری څخه لیري سي نو هغه گویا د مال و زر روپی و پیسو غلام دی او داسي سړی د ټولو ښېگڼو څخه محروم د الله تعالی د رحمت څخه لیري او محرومه دي.

حرص

﴿۴۹۵۴﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ. رواه الترمذي والدارمي.

حضرت كعب بن مالك رضی اللہ عنہ د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه وږي شرمښان چي په خپل منځ كي پريښودل سي دومره تاوان نه رسوي څومره چي د انسان حرص او د دولت حرص دين ته تاوان رسوي. ترمذي او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۰۸، رقم: ۲۳۷۶، والدارمي ۲\۳۹۴، رقم: ۲۷۳۰.

تشريح: دين ته يې د پسه سره تشبيه وركړې او حرص يې د شرموښ مشابه كړيدى. مطلب داسو كه دوه وږي شرموشان د بوزو په رمه كي پرېښودل سي نو هغوئ هم رمه دومره نه تباه كوي څرنګه چي د يو انسان حرص د هغه دين خراپوي او تباه كوي يې.

د حديث سند د مشكوة په نسخو كي داسي نقل سوى دى څرنګه چي پورته نقل سوى دى يعني عن كعب ابن مالك عن ابيه د دغه مطلب دادى چي دا روايت حضرت كعب ابن مالك رضی اللہ عنہ د رسول الله ﷺ څخه نقل كړى دي حال دا چي دا خبره صحيح نه ده او بربناء سوه او خطاء سند داسي نقل كړې ده ځكه چي د حضرت كعب رضی اللہ عنہ ابن مالك پلار ته د اسلام خوشبختي نصيب سوې نه وه او ښكاره ده چي د هغه د رسول الله ﷺ څخه څه نقلول څه معنى نه لري نو دا سند په صحيح توګه سره داسي دى عن ابن كعب ابن مالك عن ابيه يعني ابن كعب د خپل پلار حضرت كعب ابن مالك څخه روايت كوي په جامع ترمذي كي دا سند داسي نقل سوى دى او د مشكوة په ځينو نسخو كي هم داسي نقل دى نو د دغه حديث اصلي روايت كوونكى حضرت كعب ابن مالك رضی اللہ عنہ دي چي مشهور صحابي دى او د هغه صحابۀ رضي الله تعالى عنهم څخه دى كوم چي په غزوه تبوك كي نه وه ګډ سوي او د هغوئ قصه ډېره مشهوره ده.

د ضرورت څخه زيات سرايونه

﴿۴۹۵۵﴾: وَعَنْ خَبَّابٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا أَنْفَقَ مُؤْمِنٌ مِّنْ نَفَقَةٍ إِلاَّ أُجِرَ فِيهَا إِلاَّ نَفَقَتَهُ فِي هٰذَا التُّرَابَ. رواه الترمذي

وابن ماجه.

د حضرت خباب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : مسلمان چي څه نفقه کوي هغه ته د هغه ثواب ورکول کیږي پرته د هغه مصرف څخه چي دی یې پر خاورو باندي کوي (یعني پرته د ضرورت څخه کورونو جوړولو کي هیڅ ثواب نسته). ترمذي او ابن ماجه.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۵۶۲، رقم: ۲۴۸۳، وابن ماجه ۲\۱۳۹۴، رقم: ۴۱۶۳.

تشریح : د حدیث د آخري حصې مطلب دادی چي د یوځای او داسي نورپه جوړېدو کي چي څه خرچه کیږي هر کله چي هغه ځای د ضرورت څخه زیات وي کنې د خپل ضرورت په اندازه جوړول د ژوند په اړتیاوو کي ګڼل دي او د هغه په جوړتیا کي خرڅېدونکي پیسې نه ضائع کیږي همداسي د خیر ښېګڼي مکانات لکه مسجدونه ، مدرسې او همداسي د نورو ځایو په معامله کي د ذکر سوي حکم څخه مستثنی دي چي د هغه جوړول مستحب او ډیر ښه کار دی.

﴿۴۹۵۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّفَقَةُ كُلُّهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ إِلَّا الْبِنَاءَ فَلَا خَيْرَ فِيهِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د خرڅ کول ټول د الله جل جلاله په لاره کي دي مګر خرڅ کول پر سرای دوکان (بېله ضرورت) جوړولو کي هیڅ خیر (نیکي او ثواب) نسته. ترمذي او ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۵۶۱، رقم: ۲۴۸۲

تشریح : تر اړتیا زیات پر یو ځای خرچه کول اسراف دی او الله تعالی اسراف نه خوښوي د دغه پر خلاف پر بل ضروروت باندي الله تعالی ته د نږدې والي په خاطر چي څه خرڅولای سي په هغه کي د اسراف احتمال نه وي ځکه چي هغه خرڅ په خلکو باندي د خوړلو او د بخشش په ډول دی که څه هم هغه حق داره وي یا غیرحقداره او ښکاره ده چي دا دواړه شیان یعني خوړل او ورکول او په بخشش سره خوشحاله کیږي.

﴿۴۹۵۷﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا وَ نَحْنُ مَعَهُ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي یوه ورځ نبي کریم ﷺ د باندي راووتی موږ ورسره وو

فَرَأَى قُبَّةً مُشْرِفَةً فَقَالَ مَا هَذِهِ قَالَ أَصْحَابُهُ هَذِهِ لِفُلَانٍ رَجُلٍ مِنْ

چي يوه لوړه قبه (گنبد) يې وليدل او د سپکاوي په لهجه کي يې وفرمايل: دا څنګه ګنبد ده، صحابه کرامو وويل: دا فلاني انصاري جوړه کړي ده (ددې اوربدو سره)

الْأَنْصَارِ فَسَكَتَ وَحَمَلَهَا فِي نَفْسِهِ حَتَّى لَمَّا جَاءَ صَاحِبُهَا فسلم عَلَيْهِ فِي

رسول الله ﷺ پټه خوله سو او خبره يې په زړه کي وساتل ترڅو چي ګنبد جوړونکی راغلئ او رسول الله ﷺ ته يې په خلکو سلام وکړ،

النَّاسِ فَأَعْرَضَ عَنْهُ صَنَعَ ذَلِكَ مِرَارًا حَتَّى عَرَفَ الرَّجُلُ الْغَضَبَ فِيهِ

رسول الله ﷺ د هغه څخه مخ واړوی دا کار يې ډېر واره وکړی ترڅو چي هغه سړي د (رسول ﷺ) پر مخ د غصې اثار نښې و پېژندلې

وَالْإِعْرَاضَ عَنْهُ فَشَكَا ذَلِكَ إِلَى أَصْحَابِهِ وَقَالَ وَاللَّهِ إِنِّي لَأُنْكِرُ رَسُولَ اللَّهِ

او د رسول الله ﷺ د مخ ګرځولو سره ورته د رسول ﷺ د خفګان احساس وسو هغه صحابه کرامو ته شکايت وکړ او وه يې ويل: قسم په خدای داسي معلوميږي چي رسول الله ﷺ ما ته په

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا خَرَجَ فَرَأَى قُبَّتَكَ فَرَجَعَ الرَّجُلُ إِلَى قُبَّتِهِ

غصه دی، صحابه کرامو ورته وويل: رسول الله ﷺ پر دې لوري تشريف راوړی وو او ستا په ګنبد ليدو سره په غصه سو، هغه سړی ګنبد ته ورغلی

فَهَدَمَهَا حَتَّى سَوَّاهَا بِالْأَرْضِ فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ

او هغه يې ونړول ترڅو چي د ځمکي سره يې برابره کړه (ددې پېښي څخه وروسته) يوه ورځ بيا رسول الله ﷺ پر هغه لور تشريف راوړ

يَوْمٍ فَلَمْ يَرَهَا قَالَ مَا فَعَلَتْ الْقُبَّةُ قَالُوا شَكَا إِلَيْنَا صَاحِبُهَا إِعْرَاضَكَ

او ګنبد يې ونه ليدل نو وه يې فرمايل: هغه ګنبد څه سول؟ صحابه کرامو وويل: ګنبد کونکي موږ ته ستا د خفګان وويل: موږ د پېښي څخه خبر کړ

فَأَخْبَرْنَاهُ فَهَدَمَهَا فَقَالَ أَمَا إِنَّ كُلَّ بِنَاءٍ وَبَالٌ عَلَى صَاحِبِهِ إِلَّا مَا لَا يَغْنِي الا مَا لَا بُدَّ مِنْهُ. رواه ابوداؤد.

نو هغه گنبد ونړول، رسول الله ﷺ وفرمایل: خبردار! هر عمارت د هغه پر جوړونکي وبال دی (یعني د عذاب سبب دی) پرته د هغه عمارت څخه چي د هغه څخه پرته چاره نه وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۴۰۳، رقم: ۵۲۳۸.

د لغاتو حل: قبة: اي بناء عال (لوړه ماڼۍ)

تشريح: د وبال اصله معنی د وزني سختي او مکروه ده، د حدیث مطلب دادی چي کوم عمارت جوړيږي هغه په آخرت کي د خپل مالک لپاره د عذاب سبب جوړيږي مگر واضحه دي وي چي دا حکم د هغه عمارت په حق کي دی چي تر اړتیا زیات وي او د اظهار شان و شوکت او یوائي عیش و عشرت لپاره جوړ سوی وي کنې هغه عمارت چي د خپل ځان او د متعلقینو د وسېدو د ضروریاتو په اندازه وي یا کوم عمارت چي د ښېگڼي کارو لپاره وي لکه مسجدونه مدرسې او خانقاه و داسي نور نو هغه د ذکر سوي وعید څخه نفي سوي دي، همداسي هغه شی چي د انسان د بدن قوت د ساتلو لپاره د جامو او وسېدو په توگه د ژوند د ضروریاتو درجه لري په آخرت کي د څه گناه باعث نه جوړيږي.

بيقهي رحمه الله هم د حضرت انس رضي الله عنه څخه په طریقه د مرفوع دا روایت نقل کړی دی چي مسجد او خیر په کار کي د راتلونکو او نورو عمارتو ماسیوا هر عمارت به پر خپل مالک باندي د قیامت په ورځ گناه وي د دغه مطلب داهم دی چي داسي عمارت چي تر اوسیدونکو ضروریاتو څخه زیات او د شوشا لپاره وي همداسي طبراني رحمه الله د حضرت واثله رضي الله عنه څخه په طریقه مرفوع نقل کړي دي چي هر عمارت گناه ده ماسیوا د هغه عمارت چي بس دومره وي او په دغه فرمایلو سره د خپل ورغوي په ذریعه یې اشاره وفرمایله چي کوم مکان ډیر کوچنی او یوائي د اوسېدو د اړتیاو په اندازه وي هغه گناه نه ده او هر علم به د قیامت په ورځ گناه وي ماسیوا د هغه علم څخه چي په هغه عمل وکړه سي.

کفایت کول

﴿۴۹۵۸﴾: وَعَنْ أَبِي هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو هاشم بن عتبة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وصیت وفرمایه چي

وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا يَكْفِيكَ مِنْ جَمعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ فِي سَبِيلِ اللهِ. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة و في بعض نسخ المصابيح عن ابي هاشم بن عتبد بالدال بدل التاء وهو تصحيف.

د دنيا د ټولو مالونو څخه ستا لپاره يو خادم او د الله ﷻ په لار كي د سپرتيا لپاره يو سپرلۍ بس ده . احمد ، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او د مصابيح په ځيني نسخو كي عتبد (په دال سره) دئ چي دا تصحيف دئ ، تصحيف په ليكلو كي غلطي كولو ته وايي .

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۲۹۰، والترمذي ۴\ ۴۸۸، رقم: ۲۳۲۷، والنسائي ۸\ ۲۱۸، رقم: ۵۳۷۲، وابن ماجه ۲\ ۱۳۷۴، رقم: ۴۱۰۳، والبغوي في مصابيح السنة ۳\ ۴۲۳، رقم: ۴۰۲۷.

د انسان ضرورتونه

﴿۴۹۵۹﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ لِابْنِ آدَمَ حَقٌّ فِي سِوَى هَذِهِ الْخِصَالِ بَيْتٌ يَسْكُنُهُ وَثَوْبٌ يُوَارِي به عَوْرَتَهُ وَجِلْفُ الْخُبْزِ وَالْمَاءِ . رواه الترمذي.

د حضرت عثمان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ددغه شيانو پرته د آدم عليه السلام د اولاد پر هيڅ شي هيڅ حق نه سته ، د اوسيدو لپاره كور، د بدن پټولو لپاره جامه، وچه ډوډۍ او اوبه .ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۴۹۴، رقم: ۲۳۴۱.

تشريح : د حق څخه مراد هغه شى دى چي د الله تعالى د خوا د انسان لپاره واجب سوى دى او پر هغه باندي په آخرت كي د څه سوال و جواب معامله نه وي يعني الله تعالى چي د دنيا كوم شيان د ژوند د اړتياوو په توګه جوړ كړي دي هغه انسان په هغه اندازه تر لاس راوړلو او د هغه څخه د برخمن كېدو حقداره او ورته اجازت دى څومره چي د هغه اړتياوو لپاره بس وي كوم سړى چي دا شيان په حلالو ذريعو سره ترلاسه كوي او د اړتياوو په اندازه كفايت او قناعت پر وي د هغه څخه به په آخرت كي د دغه شيانو په باره كي هيڅ سوال نه كيږي ځكه چي د ضرورت

په اندازه شيان د هغه د لوازمو څخه دي چي د هغه څخه ماسيوا د انسان لپاره هيڅ چاره نسته هو د دغه ماسيوا نور شيان دي يا د دغه شيانو د اړتيا څخه زائد چي کومي اندازې دي هغه ټول د ژوند په لوازمو کي نه دي مګر په لذت نفس کي دي او د هغه په باره کي په آخرت کي په يقين سره غوښتنه او سوال به کيږي.

(جلف) د جيم په زير او لام په جزم سره د دغه څخه مراد دی بغير لع کتغه وچه ډوډی، په يو روايت کي دا لفظ جلف جيم په زور سره هم نقل دی چي جلفة يې جمع ده او د هغه معنی ده د وچي ډوډی ټوټه چي د هغه په وجه لوږه ايسته سي.

د الله جل جلاله او خلکو مينه حاصلول

﴿۴۹۶۰﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا أَنَا عَمِلْتُهُ أَحَبَّنِي اللّٰهُ وَأَحَبَّنِي النَّاسُ قَالَ ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللّٰهُ وَازْهَدْ فِيمَا عند النَّاسِ يُحِبُّكَ النَّاسُ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړی حاضر سو او عرض يې وکړ اې د الله رسوله! ما ته يو داسي عمل وښيه چي زه هغه وکړم نو الله تعالی او د هغه بندګان زما سره مينه وکړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل: د دنيا په لور رغبت مه کوه الله جل جلاله به د ر سره مينه وکړي او د هغه شي خواهش مه کوه کوم چي د خلکو سره وي خلک به ستا سره مينه کوي. ترمذي او ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۳۷۳، رقم: ۴۱۰۲، ولم نجده عند الترمذي

تشريح: يو شي ته د خواهش او ميلان نه کولو ته زهد وايي، او پوره زهد دادی چي د دنيا لذت د لاس ته راوړو باوجود د هغه څخه بې رغبتي اختيار کړه سي ځينو حضراتو ويلي دي د هغه سړي په باره کي د زهد تصور نسي کېدای چي نه مال و دولت لري او نه د جاه و حشم خاوند وي مګر د حقيقت د اعتبار څخه زاهد هغه سړی دی چي د مال و دولت او جاه و حشم خاوند کېدو باوجود د هغه د خوندو څخه ليري اوسي نقل سوي دي چي يو وار يو سړی حضرت ابن مبارک رحمة الله عليه ته يا زاهد په ويلو سره مخاطب سو نو هغه ورته وفرمايل چي زاهد خو بس حضرت عمر ابن عبدالعزيز رضي الله عنه وو چي د هغوئ لمن ته دنيا راتله، خو د دغه سره سره ده دنياوي خوندونه پرې ايښي وه او زمونږ سره چشي دي چي مونږ زهد خپل کړو حاصل دا چي په اصل کي زهد دادی چي د دنيا په خوندو کي د خوراک څښاک او اغوستلو سره سره په اندازه د ضرورت

صبر و کړل سي او بد خرڅي پر ښېنو دل سي.

﴿۴۹۶۱﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَامَ عَلَى

د حضرت ابن مسعود ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ پر ګوني (بوري) بيده سو، کله

حَصِيرٍ فَقَامَ وَقَدْ أَثَّرَ فِي جَسده فقَالَ ابن مسعود يَا رَسُولَ اللّٰهِ لو امرتنا

چي د خوب څخه راکښېنستی نو پر بدن مبارک يې نښي وې، ابن مسعود وويل: اې د الله رسوله! که تاسو حکم وکړی

ان نبسط لك ونعمل فَقَالَ مَا لِي وَلِلدُّنْيَا مَا أَنَا و الدُّنْيَا إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا. رواه الترمذي وابن ماجة.

نو موږ به تاسو ته فرش غوړولای او جامه به مو جوړولای، رسول الله ﷺ وفرمايل: د دنيا سره زما څه مطلب دئ؟ زما او د دنيا مثال داسي دئ لکه يو سپور چي د يوې درختي لاندي و دريږي د سايې څخه ګټه واخلي او بيا روان سي او درخته هلته پرېږدي. احمد، ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: مسند الامام احمد ۱\۳۹۱، والترمذي ۴\۵۰۸، رقم: ۲۳۷۷، وابن ماجه ۲\۱۳۷۶، رقم: ۴۱۰۹.

تشريح: په (مالي وللدنيا) کي حرف ما د نفي لپاره دی مطلب دادی چي نه خو زما د دغه دنيا سره څه الفت سته او نه د دغه دنيا زما سره څه مينه سته چي زه د دغه لپاره څه رغبت وساتم د دغه عيش و آرم وغوارم او د دغه د بې آرامئ څخه د ساتلو لپاره د آرام شيان لکه پستې بسترې او ډيري ښه جامې او د داسي نورو مالک جوړ سم او دا حرف ما استفهاميه هم مراد اخيستل کيږي ځرنګه چي په ترجمه کي د دغه خيال ساتل سوی دی او په هغه کي به د جملې مطلب داوي چي زما د دغه دنيا سره سم محبت نسته يا د دغه دنيا خوا ته زما رغبت او زما خوا ته د دغه دنيا رغبت او الفت څخه ماته کومه ګټه ترلاسه کيږي ځکه چي زه خو د آخرت غوښتونکی يم او دا دنيا د آخرت ضد ده.

د وني د سايې څخه د فائدې اخيستلو په ضمن کي په خاصه توګه سره د سپرېدو ذکر کول د هغه وني لاندي د درېدو وخت په لږ کېدو او ژر د هغه ځای څخه د تلو په وجه دی يعني په دغه خبره ټول پوهيږي چي د يوې وني د سائې څخه فائده اخيستونکی که څوک مسافر وي او هغه د خپل سواري څخه د تاکېدو په وخت کي د هغه وني لاندي ولاړوي نو هغه هلته تر زيات وخته

پوري نسي درېدای مګر د لږ وخت پوري د هغه سپرلی. په درېدو سره او بیا مخ ته ځي او د سپرلئ. مثال په بیانولو دغه خوا ته هم اشاره کول مقصد دی چي څرنګه د یو مسافر منزل چي مقصود یې لیري وي ، نو هغه د سفر په مینځ کي د څه هوسائي او آرام زیاته پروا کولو بغیر د ډیري لاري وهلو کوښښ کوي او دلته هلته نه درېږي خپل وخت نه بربادوي همداسي موږ هم په دغه دنیا کي د یوه مسافر په ډول یو چي زموږ منزل مقصود یعني آخرت ډیر لیري دی او د هغه لار د سختیو څخه ډکه ده نو موږ ته پکار ده چي موږ د آخرت د لاري وهلو زیات کوشش وکړو او هیڅ داسي شي ته مائله نه سو چي د منزل مقصود خوا ته زموږ په سفر کي خنډ جوړ سي.

د فخر وړ مؤمن

﴿۴۹۶۲﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَغْبَطُ أَوْلِيَائِي

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما په نزد زما په دوستانو

عِنْدِي لَمُؤْمِنٌ خَفِيفُ الْحَاذِ ذُو حَظٍّ مِنَ الصَّلَاةِ أَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهِ وَأَطَاعَهُ

کي د فخر وړ هغه مؤمن دی چي د دنیا د مال او خیال څخه به سپک وي او د لمانځه د اعتبار څخه خوش نصیبه وي یعني د خپل پروردګار عبادت په ښه ډول کوي

فِي السِّرِّ وَكَانَ غَامِضًا فِي النَّاسِ لَا يُشَارُ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافًا

او په پټه طریقه سره په طاعت الهي کي بوخت وي ، په خلکو کي ګمنامه وي د هغه په لور په ګوتو اشاره ونه کړل سي د هغه روزي یوازي د بسوالي د درجې وي

فَصَبَرَ عَلَى ذَٰلِكَ ثُمَّ نَقَدَ بِيَدِهِ فَقَالَ عُجِّلَتْ مَنِيَّتُهُ قَلَّتْ بَوَاكِيهِ قَلَّ تُرَاثُهُ.

رواه احمد والترمذي وابن ماجة

او پر هغه صابر او قانع وي، دديې ویلو سره رسول الله ﷺ د ګوتو په یو د بله وهلو سره اواز وکړی او بیا یې وفرمایل : د هغه په مرګ کي تلوار وسي پر هغه ژړېدونکي ښځي کمي وي او میراث یې کم وي، احمد ، ترمذي او ابن ماجه

تخریج: مسند الامام احمد ۵\۲۵۲، والترمذي ۴\۴۹۶، رقم: ۲۳۴۷، وابن ماجه ۲\۱۳۷۸، رقم: ۴۱۱۷.

تشریح : د حاذ معنی د سپرلی پر شا ده ، او د قاموس سره سم د خفیف الحاذ مطلب قلیل

المال والعیال دی یعني د خفیف الحاذ اطلاق پر هغه سړي باندې کیږي چې د زیات کور وعیال بوج او د مال و دولت گرانباري نه لري په صراح کې لیکلي دي چې د خفیف الحاذ معنی د سپک بوج ده یعني هغه سړی چې د زیات کور و عیال او د مال و دولت د فسادو څخه فارغه وي بهر حال په دواړو صورتونو کې داسې سړی چې د دنیوي فکرو او مصروفیتو څخه خالي وي او د زړه فراغت او وخت لري ځکه هغه د الله تعالی په عبادت او فرمانبرداري او د قوم په خدمت کې په ښه ډول مصروفه وي او د علاقو د ډوله هیڅ شی هم د هغه د عبادت او خدمت په لاره کې خنډ نسي جوړېدای.

د لمانځه څخه ډیر زیات برخمن کیږي، د دغه مطلب دادی چې هغه حضور قلب او مناجات مع الله سره لمونځ ډیر زیات ادا کوي او تر دغه زیات وخت د الله تعالی په عبادت کې تېروي ځکه چې د کور و عیال او دنیاوي جنجالو سره ډیر لږ تعلق لرونکی او د لږ مصروفیا په وجه نه یوائې دا چې هغه د لمانځه خوا ته متوجه وي مگر په لمانځه او عبادت کې هغه ته حضور قلب هم ډیر زیات ورته ترلاسه وي نو ربښتیا الله تعالی ته نژدې خلک د دنیاوي علائقو او تعلقاتو څخه لیري گرځي چې په لمانځه او د الله تعالی په عبادت کې زیات تر حضور قلب ترلاسه کړي.

په خلکو کې مشهوره دی په دغه کې دې خوا ته اشاره ده چې د هغه عبادت لپاره د خلکو په مابینځ کې سکونت نه پرېږدي مگر د هغوئ په مابینځ کې په پاته کېدو سره عبادت د دین او علم په خدمت کې په ارامه سره مصروفه وي او خپل ځان د عام شهرت څخه ساتي گویا د جملې څخه دا مراد نه دی نو هغه د عام شهرت څخه د ساتلو لپاره د خلکو د مابینځ څخه وځي او د ټولو څخه ځان ژغوري ځکه چې د عامو خلکو په مابینځ کې بود و باش پرېښودل او د هغه څخه لمن راټولول پر خپل ځای موجب شهرت دی او په دغه جمله کې دغه خوا ته هم اشاره ده چې د خلکو څخه مراد عوام الناس دي او د خواص یعني اولیاء او صلحاء په منځ کې د هغه متعارف کېدل چې د هغوئ همنشین وي د هغه د مذکوره مرتبې منافي نه دی دا خبره د وروستۍ جملې و لایشاء الیه الخ څخه هم فهمول کیږي.

د لقد بیده اصله معنی خو داده چې رسول الله ﷺ د خپلې ښتې گوتې بند او د خپلې درمیانۍ گوتې بند یې کنبکارږی چې د هغه څخه وتلی ژغ واورېده سو او حاصل دا چې څرنگه په عامه توگه سره د خلکو دا عادت وي هغوئ پر څه خبري باندې د حیرانتیا او تعجب لپاره یا د څه کار په کم وخت کې د بیانولو لپاره اوهو وائي چې فلانی کار بس داسې یودم وسو ، همدارنگه رسول الله ﷺ هم د مذکوره مؤمن حال بیان کړ چې هغه په دنیا کې د خپل ذکر سوي حالت او

كيفت سره ژوندى وي چي مرګ د هغه رشته بدن او روح څخه ورځي وروسته ختم کړي او هغه د فتنې او فساد څخه ډک سوى دى د دغه عالم څخه ډېر ژر سفر وکړي او د دغه ځاى د آفتونو څخه د هميشه لپاره خلاصي ترلاسه کړي يا دا مراد دى چي داسي مومن د دغه دنيا سره ډېر لږ تعلق لري او د آخرت شوق پر هغه زورور وي ځکه د وعده سوي وخت په راتلو باندي هغه په ډېر آسانئ او آرام سره ډېر ژر خپل ځان خپل پيدا کوونکي ته وروسپاري.

د دنيا سره د رسول الله ﷺ بې رغبتي

﴿۴۹۶۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَضَ عَلَيَّ رَبِّي

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى ما ته دا خبره

لِيَجْعَلَ لِي بَطْحَاءَ مَكَّةَ ذَهَبًا فَقُلْتُ لَا يَا رَبِّ وَلَكِنْ أَشْبَعُ يَوْمًا وَأَجُوعُ يَوْمًا

وکړه چي هغه زما لپاره د مکې ډبرې د سرو زرو جوړ کړي، ما عرض وکړ: يا، اې زما پروردګاره! زه خو دا غواړم چي يوه ورځ په ماړه نس وخورم او يوه ورځ وږى يم

فَإِذَا جُعْتُ تَضَرَّعْتُ إِلَيْكَ وَذَكَرْتُكَ وَإِذَا شَبِعْتُ حَمِدْتُكَ وَشَكَرْتُكَ. رواه احمد والترمذي

هر کله چي زه وږى يم ستا په لوربه عاجزي او زاري وکړم او تا به ياد کړم او هر کله چي په ماړه نس خوراک وکړم نو ستا تعريف او ستا شکر به ادا کړم. احمد او ترمذي.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۲۵۴، والترمذي ۴\ ۴۹۷، رقم: ۲۳۴۷.

تشريح: د رسول الله ﷺ لپاره د الله تعالى ذکر سوى وړانديز يا خو حسي او په ظاهري توګه سره وو يا معنوي يعني په باطني توګه سره او دا دويم مراد ډېر زيات صحيح معلوميږي په دغه صورت کي د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب به دا وي چي الله تعالى په دغه اړه کي زما سره مشوره وفرمايله او ما ته اختيار راکړه سو چي که څه هم ته په دغه دنيا کي فراخي او د دغه مال و زر فراواني خوښوې او که څه هم د دنيا څخه بې رغبتي په خپلولو سره د آخرت د توښې په فکر کي استول غواړې او د هغه ځاى د حساب او عذاب څخه د خلاصون لاره اختياروې نو ما دنيا ته لغته ورکړه او آخرت مي خوښ کړ.

بطحاء او ابطح هغه پراخه نالې ته وائي چي په هغه کي اوبه تيريږي او په هغه کي شګي او

ډېري يوځاى کيږي د سره زرو جوړلو څخه مراد دا وو چي د مکې په شاوخوا کي چي کومي نالى او د اوبو د وتلو لاري دي هغه ګرده د سرو زرو څخه ډکي کړل سي يا دا چي په دغه ويالـه کي کومي سنګريزې دي هغه په سرو زرو کي ګډي سوي دي او دا دويم مراد زيات صحيح معلوميږي ځکه چي په يو دويم روايت کي فرمايل سوي دي که ته غواړې نو الله تعالى به د مکې غرونه ستا لپاره په سرو زرو واړوي د حديث د آخري جملو حاصل دادى چي د الله تعالى د خوا څخه زما لپاره دنياوي فراخي او د خوشحالۍ د وړانديز سره سم ما د دنيا مال و زر ته لغته ورکړه او غريبي مي اختيار کړ چي يو ورځ په نس موړ يم او دويمه ورځ وږى يم او همداسي د صبر او شکر دواړو فضيلت ترلاسه کړم د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ګويا امت ته تعليم او تلقين وفرمايلو که څه هم دولتمندي هم د الله تعالى ډير لوئ نعمت دى مګر د دغه مصيبتونه هم ډير دي او انسان د دولتمندۍ په حالت کي زيات ګمراه کيږي نو فقر او صبر اختيارول زيات مناسب دى ځکه دا خبره واضحه سوه چي د دولتمندۍ په وړاندي فقر ډير افضل دى.

د دنيا اصل نعمتونه

﴿۴۹۶۴﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ مِحْصَنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبيدالله بن محصن ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا

څوک چي په داسي حال کي سبا کړي چي د خپل ځان د لوري په امن وي، بدن يې درست وي د يوې ورځي د خوراک سامان ورسره وي نو ګويا

حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا بِحَذَافِيرِهَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د هغه لپاره د دنيا نعمتونه جمع سوي دي او ټول دنيا هغه ته ورکړل سوې ده. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴۹۶۱۴، رقم: ۲۳۴۶.

تشريح: هغه د خپل ځان د خوا څخه بې بيري وي د دغه مطلب دادى چي هغه ته د خپل دښمن د خوا څخه د څه تاوان بيره نه وي يا دا چي د خرابو کارو څخه د ساتلو او د خپل لغزشونو څخه الله تعالى ته د توبې کولو په وجه هغه مصيبتونه بې بيري وي کوم چي د الله تعالى د عذاب په توګه نازليږي ښکاره دي وي چي لفظ سرب د سين په زير او راء په وړغندي سره يعني سرب زيات

مشهور دی چې نفس لار حال او زړه د دغه ټولو په معنی کي استعمالیږي که دلته په حدیث کي د دغه لفظ څخه دا ټول شیان مراد واخیسته سي نو دا هم د حدیث د منشاء سره سم به وي په دغه صورت کي مطلب به دا وي چې کوم سړی په داسي حال کي په صبا کولو سره ولاړیږي چې هغه ته د ذکرسوي شیانو په اړه کي د هیڅ تاوان څه بیره نه وي الخ، او ځینو حضراتو ویلي دي چې دا لفظ سین او راء دواړه په زور سره یعني سرب دی چې معنی يې د زیرزمیني ده یعني هغه سوری چې وحشي حیوانان لکه د موږک او داسي نور د اوسېدو ځای وي که دا قول صحیح ومنل سي نو دا معنی هم د حدیث د منشاء خلاف نه دی په دغه صورت کي به دا مطلب وي چې کوم سړی په داسي حالت کي سهار راولاړیږي چې د هغه د کور په غارو کي د موږکانو او ګېدړو وغیره د خوا څخه چې د زماني د آفاتو څخه نه دي هغه ته د څه تاوان رسولو څه بیره نه وي الخ.

د نس دري برخي

﴿۴۹۶۵﴾: وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ أُكُلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ فَإِنْ كَانَ لَا مَحَالَةَ فَثُلُثٌ طعام وَثُلُثٌ شراب وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ.

رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت مقدام بن معدي کرب رضي الله عنه څخه روایت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي: سړي بل هیڅ یو لوښی تر نس بد نه دی ډک کړئ هر کله چې نس ښه ډک کړي او د هغه څخه دیني او دنیوي خرابي پیداسي، د سړي لپاره یو څو ګولې بس دي چې د هغه ملا سیده وساتي، که ډکول ضروري وي نو پکار ده چې نس دري برخي کړي، په یوه برخه کي خوراک، په یوه برخه کي اوبه او دریمه برخه د ساه لپاره. ترمذي او ابن ماجه.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۵۰۹، رقم: ۲۳۸۰، وابن ماجه ۲\۱۱۱۱، رقم: ۳۳۴۹.

د لغاتو حل: اکلات: الاكلة اللقمة (ګولې)

تشریح: څرنګه چې طیبي رحمه الله لیکلي دي، د حدیث مطلب دادی چې د ډوډی په اړه کي تر هغه حد وانه وړي چې ملا ساتي یعني د بدن طاقت د ساتلو لپاره بس وي او دا هم د دغه لپاره

چي د الله تعالی احکام پر ځای راوړلو وس ولري هو که يو سړی پر دغه اندازه صبر نسي کولای او هغه تر دغه اندازې واوړي يعني په زياته اندازه کي د خوړلو خواهش لري نو هغه دي دومره وخوري چي د نس په درو حصو کي يوه حصه ډکه سي نوري پاته دوې حصې يوه حصه د اوبو لپاره او يوه حصه خالي پرېښول پکار دي د خپل خوراک په اندازه کي تر آخري اندازې اوښتل نه دي پکار .

ښکاره دي وي چي په دغه حديث کي خو نس مخکي د هغه فالتو لوښو په ډول يو لوښی ګرځول سوی دی چي د کور په اړتياوو کي په کار راځي او داسي اشاره فرمايل سوې ده چي نس يو بې حيثيته شی دی بيا دا ښکاره فرمايل سوي دي چي په لوښو کي هم دا نس ګويا تر ټولو خراب شی دی ځکه چي په عامه توګه سره ټول لوښي په هغه کارونو کي استعماليږي چي د هغه لپاره جوړ سوي وي همداسي د نس اصله موضوع داده چي په هغه کي خوراک بس په دومره اندازه ورواچول سي چي د بدن د قوت ساتلو لپاره ضروري وي او که هغه تر اړتيا زيات ډک کړل سي نو نه يواځي د هغه د اصل مقصد څخه به تجاوز کوي مګر د دغه په وجه داسي خرابئ پيدا کيږي چي دين و دنيا دواړو ته يې تاوان رسيږي په دغه اعتبار سره نس ګويا تر ټولو خراب لوښی سو .

د لوږي لس ګټې

لوږه په ښکاره توګه ډير بېرندوکی توری دی ، او د اوسني دنيا ډيره سنګينه مسئله ده او په دغه کي څه شک هم نسته که د لوږي تعلق د قوت لا يموت پوري د فقدان نه وي او يو انسان د وربشي د ډوډی څخه هم محرومه وي چي د هغه د ژوند لپاره نس ته رسېدل پکار دي نو ربنتيا هم لوږه د انسان لپاره د مرګ تر پيغام په کمه نه ده مګر که د لوږي څخه مراد کم خوړل يا وخته فوخته وي نو هغه لوږه هم زموږ د دغي دنيا د نقطه نظر سره که څه هم هرڅومره سنګينه مسئله وي خو په حقيقت کي د دغي لوږي چي کومي فائدې دي طبي او روحاني نقطه نظر نه دي د هغه د فائدې او اهميت څخه انکار نسي کېدای ځيني حضراتو دا فائدې په ډير جامعيت سره بيان کړي دي د يو لوړي درجې اسلامي محقق او عارف بالله شيخ ابو حامد رحمه الله ليکلي دي چي په لوږه کي لس فائدې پټې دي .

اول : دا چي زړه او ديد ته ئې صفائي ترلاسه کيږي ، ځکه چي د نس ډکېدل د طبيعت سست او کند ، قلب دروند او پر دماغ باندي د بخاراتو غلبه کوي .

دویم : دا چي په زړه کي رقت نرمي او پاکي راځي او په دغه وجه زړه د الله تعالی خواته متوجه وي . دریم : په طبیعت او مزاج کي انکسار پیدا کوي او د هغه تکبر ، لالچ او عشرت خوښي ختموي چي د سرکشۍ مبداء ده او په دغه کي هیڅ شک نسته چي د انسان نفس څومره انکسار خوښه وي د لوړي په حالت کي وي هغه انکسار د بل شي سره نه پیدا کیږي .
څلورم : دا چي د الله تعالی د عذابه آفتو او بلاو قدرت او اهل بلاء فراموش کیږي نه (معلومیږي نه) کوم خلک چي هر وخت نس ډک ساتي هغوئ نه خو لوږه محسوسوی سي او نه وږه یاد ساتی سي .
پنځم : دا چي د خوب غلبه کمه وي او د بیدارئ حالت پر خپور وي ځکه چي کوم سړی نس د ډوډی څخه ډک ساتي هغه او به هم ډیري څیشي ډیري او به چیښل د خوب د زیاتی سبب وي او د خوب زیاتي ګویا عمر فالتو کول دي او بنکاره ده چي عمر ډیر لوړ جوهر دی چي هغه الله تعالی د دغه لپاره نه دی راکړی چي هغه بېکاره تیر کړو مګر د انسان په حق کي یې راس المال جوړ کړی دی چي د دغه په وجه د خپل دیني او دنیاوي معاملاتو د صلاح او کامیابۍ کارونه وکړي د دغه ماسیوا خوب یو ډول مرګ دی نو پر ځان باندي خوب غالب ساتل ګویا عمر کمول دي .
شپږم : دا چي د عبادت او اطاعت پابندي او همیشګي ترلاسه کیږي ځکه چي کوم سړی چي زیات خوراک کوي د هغه د وختونو زیاته حصه د خوراک څیښاک په مصروفتیا کي تیریږي مثلا د هغه څه وخت خو بازار ته د سودا راوړلو او د خوراکي شیانو په رانیولو کي مشغوله کیږي څه وخت د خوراک په تیاري کي تیریږي ډیر وخت د ډوډی په خوړلو کي هم مصرفیږي او بیا د ډوډی خوړلو مخکي لاس مینځل او د خوراک څخه ورسوته د خولې پاکي او خلال کول او څو واري د اوبو لپاره د اوبو ځای ته تلل و راتلل او داسي په نورو کارو کي هم ډیر وخت تیریږي غرض دا دی چي ډیر وخت پکښي تیریږي او که دا وختونه د خوراک څیښاک د مصروفتیا څخه په ساتلو سره د عبادت ، اطاعت او په ذکر و مناجات کي تیر کړي نو ډیري زیاتي فائدې به ورته ترلاسه سي مشهور عالم او بزرګ سهل تستري رحمه الله وائي یوه ورځ ما حضرت علي جرجاني رحمه الله په ستو پوکلو ولیدی نو عرض مي وکړ حضرت ! داسي کومه وجه راغله چي تاسو ستو پو کوئ وه یې فرمایل: وروره څه پوښتني کوې ما یوه ورځ حساب ورته وکی معلومه سوه چي د یوې ډوډی د خوړلو په دوران کي دومره وخت تیریږي څومره چي اویا ځله په تسبیح ویلو کي ، ما سوچ وکړ چي داسي خو په ډودی خوړلو کي ډیر وخت تیریږي او دا وخت په ساتلو سره نور ضروري کارونه کېدای سي نو ما ډوډی خوړل پرېښول او څلوېښت کاله مي یوه ډوډی هم نه ده

خوړلې مگر د لوږې د سختي د کمولو لپاره وخت ناوخته ستو پوه کولو سره خورم .
اوم : دا چې د لږ خوراک په وجه د بدن صحت او روغتيا پرځاى وي او د ناروغيو څخه ساتل کيږي ځکه چې د ډيرو مرضو وجه زيات خوراک او ځيښاک وي او د ډير خوراک په وجه نه يواځې ناروغى پيدا کيږي مگر هغه د عبادت څخه هم راگرځول کيږي او په تشويش او فکرو کې اخته وي د هغه نتيجه داسې چې د وخت ډيره حصه حکيم او ډاکټر ته د تلو راتلو او علاج په معامله کې او په دوايانو اوداسې نور کې هم تيريږي او په دغه ټولو شيانو کې د کوم محنت سختي او پريښاني برداشت کول وي هغه تر دې ښه وي نو انسان چې يو څه خوري او وخت ناوخته بيت الخلاء ته ځي نو د دغه پريشانيانو څخه خلاصون ترلاسه کوي .
اتمه : دا چې د معاش د لاس ته راوړو کوښښ او د روزي د گټلو محنت او سختي زياته نه پريوځي ځکه کوم سړى چې د کم خوراک عادت پيدا کړي د هغه لپاره په لږ محنت سختي سره حاصل سوي شيان مال و اسباب هم بس کيږي .
نهم : دا چې ايثار و احسان او صدقه و خيرات کولو باندې په اساني سره قدرت ترلاسه کيږي يعنې د کم خوړلو په صورت کې چې کومه ډوډۍ بچت کيږي هغه غريب مسکين او فقير ته د صدقې په توگه ورکول زيات سخت نه وي او ښکاره ده چې صدقه او خيرات کونکى سړى به د قيامت په ورځ د خپلې صدقې او خيرات په سايه کې د الله تعالى په رحمت ونازول سي او دا حقيقت هم مخ ته راوړستل پکار دي چې انسان چې څه خوري او څيښي هغه گويا بيت الخلاء ته په تلو سره يوځاى کوي او څه چې په فقيرا و اړ سړي باندې خوري هغه د ځان لپاره د آخرت ذخيره کوي چې هلته به د الله تعالى په فضل و کرم سره افضله جزاء ورکول کيږي .
لسم : دا چې د لوږې د ذکر سوو فائدو څخه تر ټولو غټه فائده دا ده چې د دغه په وجه د هغه خواهشاتو او جذباتو بيخ کني کيږي کوم چې انسان هر ډول گناه ته راولاړوي او پر نفس اماره باندې غلبه او قابو ترلاسه کوي ځکه چې کم خوړل نفساني خواهش وژني او شهواني خواهشات کمزوري کوي او دا خبره د څه دليل محتاجه نه ده چې د دين ټولې خوشبختياني او خيرښېگڼې په دغه امر کې پټې دي چې انسان د خپل نفس مالک او په ده يعني نفس باندې قابو يافته وي او په هر ډول شقاوت او بدبختي په نفس کې پټه ده چې انسان د خپل نفس غلام جوړ سي او ځان ته په هغه قابو ورکړي .

د دنیا موړوالی

﴿۴۹۶۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلاً يَتَجَشَّأُ فَقَالَ أَقْصِرْ مِنْ جُشَائِكَ فَإِنَّ أَطْوَلَ النَّاسِ جُوْعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَطْوَلُهُمْ شِبْعًا فِي الدُّنْيَا. رواه في شرح السنة. وروى الترمذي نحوه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د یو سړي د نس اړړمی واوریده نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: خپل اړړمی بنده کړه ځکه چي د قیامت په ورځ به لویه لوږه لرونکی هغه سړی وي چي په دنیا کي بنه په ماړه نس خوراک کوي. شرح السنه او ترمذي هم داسي روایت کړی دی.

تخریج: البغوي في شرح السنة ۱۴\۲۵۰، رقم: ۴۰۴۹،، والترمذي ۴\۵۶۰، رقم: ۲۴۷۸.

تشریح: په حدیث کي چي د کوم صحابي د نس د آواز ذکر دی د هغه نوم وهب ابن عبدالله وو، او د هغه شمیر کم عمر والا په هغه صحابوؤ کي راځي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي لا بالغ سوی نه وو خپله د هغه بیان دی یوه ورځ ما ماته ډوډۍ وخوړه او په تېغ کولو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم رسول الله ﷺ راته وفرمایل کوم چي پورته نقل سوي دي په ذکر سوي ارشاد چي د ډکار کوم ممانعت فرمایل سوی دی د هغه مقصد څرنګه چي د حدیث د آخري حصې څخه واضحه کیږي د دومره زیات خوراک څخه منع کول دي چي په هغه سره نس تر اړتیا زیات ډک سي او د غټو غټو تېغو کولو باعث جوړ سي، نقل سوي دي چي حضرت وهب ابن عبدالله د رسول الله ﷺ د ذکر سوي ممانعت وروسته تر مرګه پوري هیڅ کله د نس تر مړېدو ډوډۍ نه وخوړه که د شپې به یې ډوډۍ خوړله نو د ورځي به ئې نه خوړه او که د ورځي به یې وخوړه د شپې به یې نه خوړه.

مال یوه فتنه ده

﴿۴۹۶۷﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عِيَاضٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً وَفِتْنَةُ أُمَّتِي الْمَالُ. رواه الترمذي.

د حضرت کعب بن عیاض رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي د

هر قوم او امت لپاره يوه فتنه وي او زما د امت فتنه مال دی. ،ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۱۴\۴۹۲، رقم: ۲۳۳۶.

د مال جمع كونكى

﴿۴۹۶۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُجَاءُ بِابْنِ آدَمَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د آدم عليه السلام اولاده به د

يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ بَذَجٌ فَيُوقَفُ بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ فَيَقُولُ لَهُ أَعْطَيْتُكَ وَخَوَّلْتُكَ

قيامت په ورځ داسي راوستل سي لكه د پسو كوچني بچيان، بيا به د الله جل جلاله په مخكي ودرول سي، الله تعالى به ورته فرمايي ما درته ژوند دركړی وو ما درته غلام، مينځي، مال او دولت

وَأَنْعَمْتُ عَلَيْكَ فَمَا صَنَعْتَ فَيَقُولُ رَبِّ جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ وَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ

دركړی وو او ما درباندي انعام كړی وو (يعني كتاب او رسول مي در استولي وه) نو تا څه كار وكړ؟ ابن آدم به ورته وايي اې پروردګاره! ما مال جمع كړ هغه مي په تجارت سره زيات كړ او

فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ كله فَيَقُولُ لَهُ أَرِنِي مَا قَدَّمْتَ فَيَقُولُ رَبِّ جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ

څومره چي به مي تر لاسه كړ تر هغه مي زيات په دنيا كي پريښود ما دنيا ته بيرته وليږئ چي دا ټول مال تا ته راوړم (يعني دنيا ته ولاړ سم هغه ټول مال خيرات كړم) بيا به الله تعالى پوښتنه وكړي كوم مال چي تا مخكي ليږلى دئ هغه وښيه، هغه به جواب كي ووايي اې پروردګاره! ما

وَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ كله كُلِّهِ فَإِذَا عَبْدٌ لَمْ يُقَدِّمْ خَيْرًا

فَيُمْضَى بِهِ إِلَى النَّارِ. رواه الترمذي و ضعفه.

مال جمع كړ زيات مي كړ او د هغه څخه زيات مي په دنيا كي پرېښود څومره چي وو ته ما دنيا ته بيرته وليږه چي زه هغه مال تا ته راوړم نو دا خبره به ښكاره سي چي دی داسي بنده دی چي د اخيرت لپاره يې هيڅ نه دي ذخيره كړي نو دی به د دوږخ په طرف واستول سي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۱۴\۵۳۴، رقم: ۲۴۲۷.

د لغاتو حل: البذج: ولد الضان، اراد بذلك هو انه و عجزه.

تشريح : طيبي رحمه الله ويلي دي چې په دغه حديث کي د انسان کوم حالت چې ذکر سوی دی چې کوم بنده ته د الله تعالى د خوا څخه ذکر سوي شيان او نعمتونه ترلاسه وي او هغه د هغه په وجه د آخرت د خير ترلاسه کولو څخه غافله سي نو د هغه مثال د هغه غلام په ډول دی چې هغه ته هغه مالک ډير مال و اسباب د دغه مقصد لپاره ورکړي چې د هغه په ذريعه تجارت وکړي او ډيره گټه وکړي خو هغه غلام د خپل مالک د رضاء او د هغه د حکم نافرماني وکي او هغه ټول مال فالتو کړي يا په داسي کاروبار او تجارت کي ومو بنلي چې د هغه حکم هغه ته نه وي سوی نو ښکاره ده چې هغه غلام به نه يوازي نااهل وګڼل سي مګر د سزا لائق به هم وګرځول سي همداسي هغه بنده هم په ډير تاوان کي وي او د عذاب حق داره به وګرځول سي.

ابو حامد رحمه الله ويلي دي ، دا خبره په ذهن کي ساتل پکار دي که څه هم هره نيکي هر لذت او هره خوشبختي تر دغه چې هر غوښتونکي شي ته نعمت ويل کېداى سي مګر حقيقي نعمت بس اخروي خوشبختي ده د دغه ماسوا بل شي ته خوشبختي ويل غلط دي ، مګر پر څه دنياوي شيانو باندي مجازا هم د خوشبختي اطلاق کول يعني هغه ته دنيوي خوشبختي ويل هم صحيح نه دي هو کوم دنياوي شيان چې د اخروي سعادت د ترلاس راوړو سبب او ذريعه وي او د هغه په لار کي په يو واسطې يا څو واسطو سره کومکي وي نو هغه شيانو ته نعمت ويل صحيح کېداى سي او دا هم له دې کبله چې هغه شيان يې حقيقي نعمت ته رسوي.

صحت او يخې اوبه

﴿۴۹۶۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ العبد يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ النَّعِيمِ أَنْ يُقَالَ لَهُ أَلَمْ نُصِحَّ جِسْمَكَ وَنُرْوِكَ مِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به د بنده څخه د نعمتونو په اړه لومړی چې کوم سوال کيږي هغه به دا وي چې ايا مونږ تا ته صحت نه وو درکړی او په يخو اوبو سره مو نه وې اوبه کړی . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۴۱۸، رقم: ۲۳۵۸.

تشريح : هسي خو هر شي د الله تعالى نعمت دی چې د هغه څخه انسان فائده اخلي مګر په دغه کي هم هيڅ شک نسته چې لوئ نعمت روغتيا او اوبه دي ځکه د قيامت په ورځ به تر ټولو

مخکې د دغه دوو نعمتونو په باره کې پوښتنه کيږي .
د يو لوئ بزرگ په باره کې نقل دي ، هغه خپل موريد ته وفرمايل چې اوبه يخوه بيا ئې څيښه ځکه چې يخې اوبه د الله تعالى شکر د زړه د اخلاص څخه اداء کوي او شيخ عبدالحق رحمه الله فرمائي ماته د خپل پلار په باره کې ياد دي هغه چې به کله يخې اوبه څيښلې نو بې هوښه به سو او کله چې به د لږ ځند وروسته هغه د بې هوښۍ وروسته خپل حالت ته راغلی نو وه به يې فرمايل: سبحان الله دا يخې اوبه هم څنګه شی دي او الله تعالى دا څومره جوهري جوړې کړې دي او همداسې عالم ذوق او د توحيد سره سم کلمات به ئې ارشاد وفرمايلې، پای يې دا چې اوبه په خپله خو ډير لوئ نعمت دی مګر يخې چې کوم کيف و لات او کومې فائدې لري د هغه په وجه د دغه نعمت درجه ډيره زياتيږي او عجيبه خبره داده قدرت اوبه داسې عزيز او ضروري شی جوړې کړې چې د ژوند دارومدار هم په دغه باندې دی مګر عامې ئې دومره کړې چې د دغه څه بيه نسته .
په دغه ځای کې يو خوندور حکايت بيانيږي چې يو بادشاه چيرې لار ځيني ورکه سوه يو ځنګله ته ورسېدی هلته تږی سو خو هلته د اوبو نوم هم نه وو د تندې سره د هغه خوابدتيا نوره ډېرېدله تر دې چې مرګ ته بالکل نژدې سو يودم د هغه مخ ته يوه ملائکه ښکاره سوه او پوښتنه ئې ځيني وکړه که زه اوبه درباندې وڅيښم نو ته به ماته څه شې راکړې بادشاه سمدستې ورته وويل خپل نيم ملک هغه غيبي انسان اوبه په وڅيښلې، د دغه وروسته د هغه بولې بندې سوې هغه که هر څومره غوښتل چې په څه رقم بولې وکړې خو نامراده سو او په سختې پرېشانۍ کې اخته سو آخر بيا هغه غيبي انسان ورته ښکاره سو ورته وئې ويل که زه ستا د دغه مرض علاج وکم او ستا بولې ايله سې نو ماته به ته څه انعام راکړې بادشاه ورته وويل نور نيم ملک به هم تاته درکړم د هغه علاج ئې وکړ او د بادشاه بولې ايله سوې بيا هغه غيبي انسان ورته وويل اې بادشاه سلامت ته خپل ملک خپله سنبال که ما ته د دغه ضرورت نسته مګر د خپلې بادشاهې حيثيت وګوره د لږ اوبو او بولو لپاره د ټول ملک او بادشاهې د قربانولو فيصله دې وکړه نو دومره بې حيثيته شی او د دغه پر ښکاره ښکلا باندې هيڅ غرور ونه کړې ،
په آخر کې يوه خبره دې په ذهن کې وي چې په ذکر سوې حديث کې روغتيا او اوبه دواړه نعمتونه يو ځای په ذکر کولو کې ګويا دې ته اشاره کول مقصد دی چې دا دواړه دومره عظيم الشان او ضروري نعمتونه دي چې ټول ملک او بادشاهي يوې خوا ته او دغه دواړه نعمتونه بلې خوا ته دي يعنې دا پر زيات دي .

پنځه نعمتونه

﴿۴۹۷۰﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزُولُ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَدَمَا ابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ عَنْ عُمْرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ

د قيامت په ورځ به د چا پښې حرکت نه کوي تر څو پوري چي د سړي څخه دا پنځه خبري ونه پوښتل سي د هغه څخه به پوښتنه وسي چي خپل عمر دي په کوم کار کي صرف کړ،

وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَا أَنْفَقَهُ وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

خپله ځواني دي په کوم کار کي ختمه کړه؟ مال دي څنګه وګټئ او څنګه دي خرڅ کړ؟ او کوم علم چي دي تر لاسه کړی وو د هغه سره سم دي کوم عمل وکړ. ترمذي. دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۵۲۹/۴، رقم: ۲۴۱۶.

تشريح : د حضرت ابودرداء په باره کي نقل سوي دي چي يوه ورځ هغه حضرت عويمر ته وفرمايل اې عويمر! په قيامت کي به ستا څه حال وي کله چي ستا څخه پوښتنه وسي چي آيا ته عالم وې که جاهل که ته دا جواب ورکړې چي زه عالم وم نو بيا ستا څخه دا پوښتنه کيږي چي تا کوم علم حاصل کړی وو د هغه موافق دي کوم کار وکړ او که ته دا جواب ورکړې چي زه خو جاهل وم نو پوښتنه به در څخه وسي چي ستا د جاهل پاته کېدو څه وجه وه او تا علم ولي نه وو حاصل کړی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

غوره والی په تقوا کي دئ

﴿۴۹۷۱﴾: عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ انك لست بِخَيْرٍ مِنْ أَحْمَرَ وَلَا أَسْوَدَ إِلَّا أَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوَى. رواه احمد.

د ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل: ته د سور او تور رنګ په سبب

غوره نه يې مگر که ته په تقوا سره غوره سوې (يعني د هر يوه سره تقوا هم ضروري ده) . احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۱۵۸.

تشريح : مطلب دادی چي انساني فضيلت او غوره والی پر ښکاره صورت ،رنګ او نسل-باندي موقوف نه وي مګر د دغه دارومدار پر ديني او اخلاقي کردار عظمت او تقوی باندي دی ښکاره دي وي چي په حديث کي يواځي د دوو رنګو سور و تور ذکر په دغه وجه سوی دی چي زيات خلک د دغه دوو رنګونو وي او زياته صحيح خبره داده چي د دغه دوو رنګونو والا مراد مالک او غلام دی اکثر داسي وي چي بادار د سور رنګ وي او غلام د تور رنګ وي.

طيبي رحمة الله عليه د حديث په وضاحت کي ويلي دي چي دلته د سره رنګ څخه مراد اهل عجم او د تور رنګ څخه مراد اهل عرب دي په هغه زمانه کي به اهل عربو عجم والا يعني غير عرب خلکو ته سره ويله ځکه چي د هغوئ په رنګ سور والی او سپين والی غالبه وه او اهل عرب ته به يې تور ويله ځکه چي د هغوئ رنګ به پوخ وو او په هغه به د تور والي غلبه وه.

او شيخ عبدالحق رحمة الله عليه ليکلي دي ، د حديث معنی داده چي د حقيقي فضيلت او لوړوالي تعلق د تقوی او نيکو کارو سره دی او د تقوی او نيک عمل څخه ماسوا هيڅ وصف او د خصوصيت خوا ته نسبت څه فضيلت نه لري څرنګه چي د الله تعالی ارشاد دی : ان اکرمکم عندالله اتقکم د الله تعالی په نزد په تاسو کي زيات عزت مند سړی هغه دی کوم چي په تاسو ټولو کي زيات متقي وي دا خبره دي په ذهن کي وي چي تقوی د خپل مراتبو او درجاتو د اعتبار څخه پر څو ډولو باندي مشتمله ده تر ټولو کم ډول يا تر ټولو کمه درجه داده چي په هر حالت کي د شرک جلي څخه پرهيز وکړي درمياني درجه يې داده چي د هر ډول ګناه هر ډول خرابئ هر ډول لهو ولعب او د شرک خفي څخه پرهيز وکړي او تر ټولو غټه درجه داده چي هر وخت د الله تعالی سره تعلق او مينه وساتل سي او په زړه کي د بل چا خيال رانسي.

د دنيا څخه زهد

(۴۹۷۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَا زَهِدَ عَبْدٌ فِي الدُّنْيَا إِلاَّ أَنْبَتَ اللّٰهُ الْحِكْمَةَ فِيْ قَلْبِهِ وَأَنْطَقَ بِهَا لِسَانَهُ وَبَصَّرَهُ عَيْبَ الدُّنْيَا وَدَاءَهَا وَدَوَاءِهَا وَأَخْرَجَهُ مِنْهَا سَالِماً إِلىٰ دَارِ السَّلاَمِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم بنده چي په دنيا کي زهد

اختيار كړي الله تعالى د هغه په زړه كي حكمت پيدا كړ د هغه ژبه يې گويا كړه هغه ته يې د دنيا عيبونه او د هغې ناروغي او د هغه ناروغيو درملنه وښودل او بيا يې هغه په سلامتي سره د دې دنيا څخه د دار سلام په لور بوتلى . بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۷\۳۴۷، رقم: ۱۰۵۳۲.

تشريح : د دارالسلام څخه مراد جنت دى او په دغه حديث كي دغه خواته اشاره ده چي باكمال حقيقي سلامتي بس دار آخرت او په جنت كي ترلاسه كيږي نقل سوي دي چي د يو عارف او درويش څخه خلكو پوښتنه وكړه چي ووايه ستا څه حال دى نو هغه جواب وركړ كه الله خوښه وي نو سلامتي ده په شرط د دې چي جنت ته به ورسيږم.

د كاميابي ذريعه

﴿۴۹۶۳﴾: وَعَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَخْلَصَ

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا زړه چي الله تعالى د

اللّٰهُ قَلْبَهُ لِلْإِيمَانِ وَجَعَلَ قَلْبَهُ سَلِيمًا وَلِسَانَهُ صَادِقًا وَنَفْسَهُ مُطْمَئِنَّةً

ايمان لپاره ځانگړى كړ هغه خلاصون ترلاسه كړ، الله تعالى د هغه زړه (د حسد او نفاق څخه) سالم وساتئ، د هغه ژبه يې ريښتوني جوړه كړه او نفس يې ور مطمئن كړ

وَخَلِيقَتَهُ مُسْتَقِيمَةً وَجَعَلَ أُذُنَهُ مُسْتَمِعَةً وَعَيْنَهُ نَاظِرَةً فَأَمَّا الْأُذُنُ فَقَمْعٌ

د هغه خوى عادت يې برابر كړى او د هغه غوږونه يې اوريدونكي جوړ كړل د هغه سترگي يې كتونكي جوړي كړي نو غوږونه يې پيپ دي لكه څرنگه چي د پيپ په ذريعه تيل بوتل ته اچول

واما الْعَيْنُ فمقرةٌ لِمَا يُوعَى الْقَلْبُ وَقَدْ أَفْلَحَ مَنْ جَعَلَ قَلْبَهُ وَاعِيًا. رواه احمد

كيږي او سترگي قائم ساتونكي دي چي د هغه زړه خوندي ساتي او البته هغه چا خلاصون ترلاسه كړ چي د هغه زړه د حق خبري لپاره محافظ جوړ كړل سو ، احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۱۴۷، والبيهقي في شعب الايمان ۱\۱۳۲، رقم: ۱۰۸.

د لغاتو حل: مفرة: اى محل قرار.

تشريح : د قمع معنى د قيف ده او قيف هغه نلكۍ لرونكي آلې ته وايي چي هغه د بوتلانو يا نورو شيانو په خوله كي په اېښودو سره لوښي وغيره ته بهېدونكى شى ور اچوي لكه تېل ، نو

غوړونه قيف دي د دې مطلب دادی چي څرنګه د قيف په ذريعه يو نرم شی بوتلانو وغيره ته ور اچوي همداسي غوږ هغه ذريعه ده چي حقه خبره د انسان زړه او دماغ ته رسوي په دغه توګه چي غوږ هغه خبره اوري او زړه هغه قبلوي.

او سترګه د هغه شي قائم او ثابت لرونکې وي الخ ، د دغه جملې مطلب دادی چي کوم شيان چي سترګه ويني زړه د هغه ظرف وي يا هغه شيان زړه خپل ظرف جوړوي چي هغه د سترګو په وجه زړه ته ننوځي ګويا څرنګه چي غوږ حقه خبره زړه ته رسوي همداسي په نظر راتلونکي حقائق د سترګو د لاري زړه ته ننوځي او په هغه کي دننه قائم او ثابت وي د حديث په آخري حصه کي ګويا د دغه دواړو شيانو نتيجه بيان سوې کوم سړي چي حقه خبره په اوريدو سره او د حق شيانو په ليدو سره خپل زړه ته يې واچوي او د هغه ساتنه ئې وکړه يعني بهر صورت پر حق باندي عامل وو نو هغه کامياب ګرځول کيږي.

کافرانو ته دنیا ورکول

﴿۴۹۷۴﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتَ

د حضرت عقبة بن عامر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي ته وويني

اللّٰهَ يُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا عَلَى مَعَاصِيهِ مَا يُحِبُّ فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ ثُمَّ تَلَا

چي الله تعالی بنده ته د هغه د ګناه سربيره غوره شی ورکوي نو دا يوازي استدراج دئ (درجه پر

رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى إِذَا

فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً فَإِذَا هُمْ مُبْلِسُونَ. رواه احمد

درجه بيول) بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ: (هر کله چي کافرانو هغه نصيحت هير کړ کوم چي هغوئ ته سوی وو نو موږ د هر شي دروازې پر هغوئ خلاصي کړې تر دې چي هغوئ په هغه شي چي هغوئ ته ورکړل سو خوشحاله سول نو موږ ناڅاپه را ونيول او هغوئ نا اميده سول). احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۱۴۵.

تشريح: په لغت کي د استدراج معنی ده درجه په درجه تلل لکه څوک چي پورته ځي او په زينو کي خيږي درجه په درجه ځي يو وار يوه زينه بيا دوهمه زينه او بيا دريمه زينه همداسي يوې بلې زينې ته پرله پسې خيږي او همداسي تر آخره پوري روان وي او ورسيږي او د بنده په

حق کي د الله تعالی استدراج دادی چي کله یو انسان په ګناه او مصیبت کي اخته سي نو هغه ته د دنیا خوشحاله کونکی نعمت ورکړي یا د هغه یوه خبره یا خواهش پوره کړي او بیا هغه د هغه پر حال پرېږدي چي هغه انسان دا ګمان وکړي چي دا زما په حق کي د الله تعالی د خوا څخه لطف او کرم دی نو په خپل حالت کي سست وي نه خو د خپلو بدو عملو څخه توبه کاږي او نه پر خپلو ګناهو باندي استغفار کوي او بیا یو دم د الله تعالی په عذاب کي راچاپېره سي نو دا ګویا د الله تعالی د خوا څخه هغه بنده درجه په درجه د عذاب خواته تلل وي څرنګه چي څوک درجه په درجه خیژي او بیا یو دم د هغه ځایه رالېله سي،

حاصل دا چي کوم ګناه کار یا کافر ته د دنیا ترقي یا خیر ترلاسه وي نو هغه ته دا ګڼل نه دي پکار چي الله تعالی ئې نازوي مګر دا حقیقت په ذهن کي ساتل پکار دي چي د هغه ټول دنیاوي ترقي او کامیابي په اصل کي هغه درجه په درجه هغه مرحلې ته رسوي چیري چي یودم د الله تعالی عذاب هغه تباه کوي که څه هم هغه وخت ډیر وروسته راسي.

د زهد خاوندان

﴿۴۹۷۵﴾: وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الصُّفَّةِ تُوُفِّيَ وَتَرَكَ دِينَارًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ كَيَّةٌ قَالَ ثُمَّ تُوُفِّيَ آخَرُ فَتَرَكَ دِينَارَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ كَيَّتَانِ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روایت دئ چي د اهل صفه څخه یو کس وفات سو او یو دینار ځیني پاته سو، رسول الله ﷺ وفرمایل: دینار یو داغ دئ، ابوامامه وایي چي یو څو ورځي وروسته د اصحاب صفه څخه یو بل سړی وفات سو هغه دوه دیناره پرېښودل نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه دیناره دوه داغونه دي. احمد او بیهقي

تخریج: مسند الامام احمد ۵\۲۵۲، والبيهقي في شعب الايمان ۵\۳۶۴، رقم: ۶۹۶۳.

تشریح: صفه والا: هغه غریب او کور نه لرونکي صحابه کرامو ته وایي چي په ځانګړي توګه د مسجد په صفه کي اوسېدل، صفه په اصل کي د مسجد نبوي سره متصل یو بام لرونکی ځای وو او په پېل کي کله چي د مسلمانانو قبله بیت المقدس وه دغه ځای د مسجد په توګه استعمالېدی مګر بیا کله چي قبله بدله سوه او کعبة الله قبله وګرځېدل نو دغه ځای پر خپل حالت باندي پرېښودل سو او د هغه په څنګ کي مسجد نبوي جوړ کړل سو،

د صحابه کرامو کومه مقدسه ډله چې په صفه کې اوسېدل هغه پر اویا یا اتیا کسانو باندې مشتمل وه، دغه شمېر به په مختلفو وختو کې کمېدی او زیاتېدی، او نه د دغه صحابه کرامو کورونه وه او نه د هغوئ سره مال او اسباب وه او نه یې کاروبار او کورنۍ درلودل، ځکه نو هغوئ پوره زهد اختیار کړی وو، او د الله تعالی پر ذات باندې په توکل په هغه ځای کې پراته وه او هر وخت به په ذکر، ریاضت، مجاهد او تلاوت کې بوخت وه او د رسول الله ﷺ احادیث به یې یادول، دغه حضراتو ته اضیاف الله (د الله ﷻ مېلمانه) ویل کېدل، کومو صحابه کرامو چې توان درلودی هغوئ به یې خدمت کوی او د هغوئ د اړتیاوو په پوره کولو کې به یې تر خپله وسه هڅه کول، ځینو ته به یې په ډېر عزت او احترام سره خوراک رسوی او څوک به یې د مېلمه په توګه خپل کور ته بوتله او په هغوئ کې ځینې حضرات داسې وه چې د رسول الله ﷺ په خاص عنایت او توجه برخمن کېدل او د رسول الله ﷺ سره به یې خوراک کوی او په دې وجه به کله نا کله د رسول الله ﷺ د داسې معجزاتو د صادر کېدو باعث هم جوړېدل چې لږ خوراک به په حېرانونکې توګه د ټولو لپاره بس سو، د مثال په توګه څو واره داسې سوې دې چې د شېدو یوه پیاله چې د یوه سړي لپاره هم د کافي کېدو صلاحیت نه درلودی د اعجاز نبوي په طفیل هغه ټول حضرات به یې په نس ماړه کړل، رسول الله ﷺ ته حکم الهي وو چې ته د دغه حضراتو په منځ کې اوسه نو رسول الله ﷺ به وخت ناوخته په خپل شرف سره نازول او هیڅ وخت به یې هغوئ ته د بې چارګۍ احساس نه ورکوی، رسول الله ﷺ به هغوئ ته فرمایل: تاسو خپل ځان یوازې او بې کسه مه ګڼئ زه ستاسو څخه یم او هغوئ ته به یې دا زیرې ورکوی چې په آخرت کې به تاسو زما سره یاست او زما سره به یو ځای جنت ته ځئ، مشهور صحابي حضرت ابو هریره ؓ هم د دغه صفه والا صحابه کرامو څخه وو، رضي الله عنهم اجمعین.

څرګنده دې وې چې د صوفیانو ډلې ته د زهد او توکل او له دنیا څخه ترک تعلق په اړه د اهل صفه سره مشابهت حاصل دی او که چیرې لفظ د صوفیه د صفه څخه مشتق ګرځول او دا ویل چې زهد او توکل اختیارونکې ته صوفي ویل د صفې په بنیاد دی، دا که څه هم غیر حقیقي خبره ده مګر په دې کې شک نسته چې په معنوي توګه د صوفیاء نسبت اهل صفه ته کیدای سي.

اوس حدیث ته راسئ، په اصل صفه کې د وفات کېدونکو حضراتو دینار پرېښودل او د رسول الله ﷺ وعید بیانول په دې وجه وو چې که څه هم د حاجت او اړتیا لپاره یو یا دوه دیناره اېښودل او جمع کول په شرعي توګه د ګناه سبب نه دی او نه یو داسې خبره ده چې غیر مناسب وګرځول سي بلکه یو سړی که د حقوق ادا کولو څخه وروسته پوره خزانه جمع کړي او د دنیا مال

او اسباب د ځان سره وساتي نو دې ته د شریعت خلاف نه وایي مګر دا چې یو سړی د مال او زر کوټه جوړه کړي چې نه د هغه زکوة ورکوي او نه د بل چا مالي حقوق ادا کوي نو بېله شکه دا منع دی مګر د دې حقیقت سربېره د دې څخه انکار نسي کیدای چې اهل زهد او تارکان دنیا چې دهر څه په پرېښودو سره د ټولو څخه د سترګو په بندولو سره او د اهل فقر محبت اختیارولو سره باب فقر او توکل باندې کښیني د هغوئ شان بېل دی د هغوئ سره د ضرورت څخه زیات دنیاوي مال او اسباب په حقیر مقدار کې کېدل هم نامناسب دي نو د رسول الله ﷺ مذکوره ارشاد ګویا د فقر او تجرد د هغه وعدې خلاف د سخت خبرداري په توګه دی چې د حقیقت حال سره مطابقت نه لري او غالبا په دې وجه راوي د دغه دواړو حضراتو په ذکر کې دا و نه ویل چې په اصحابو کې یو سړی وفات سو بلکه دا یې وویل چې د اصحاب صفه څخه یو سړی وفات سو ګویا هغه دغه دواړو صحابه کرامو ته د صفه نسبت په خاصه توګه وکړ چې دا څرګنده سي که چیري بل صحابي په خپله ترکه کې یو یا دوه دیناره پرېښودو سره وفات سي نو دا یو ضروري خبره نه وه مګر دا د اصحاب صفه څخه د دوو کسانو ذکر دی چې د هغوئ د شخصیاتو امتیاز زهد او فقر وو، نو د هغه اصحاب صفه په صحبت او معیت کې اوسېدل او ځان د هغوئ امتیازي خصوصیت حامل ګرځول د مطلق درهم او دینا جمع کولو خلاف دی.

ملا علي قاري رحمة الله عليه د دغه حدیث په وضاحت کې د یو بلې خوا څخه بحث کړی دی چې د هغه مفهوم دا دی چې رسول الله ﷺ د هغه دوو صحابه کرامو په اړه چې کوم وعید بیان کړ هغه د دې لپاره وو چې هغه دواړه صحابه کرام په اصل کې د هغه مسکینو خلکو (یعني اصحاب صفه) څخه وه چې د هغوئ د فقر او فاقې په وجه نورو خلکو به هغوئ ته خپل مال ورکوی او د الله لپاره به یې هغوئ خوراک او څښناک ورکوی همدانګه هغه دواړه حضرات یا خو د مال له موخي یا د حال له موخي په منزله د سائلینو وه او څرنګه چې معلومه ده چې د هیچا لپاره دا قطعا حلال نه دي چې د هغه سره د یوې ورځي په اندازه د خوراک او څښناک سامان وي نو هغه دي د سوال لاس نه غزوي ، نو هغه دواړو حضراتو د ځان سره دینار درلودی او د دې سربېره هغه شیان چې د خوراک او څښناک لپاره نورو خلکو د صدقې او خیرات په توګه هغوئ ته راوړل هغه ګویا د هغوئ په حق کې حرام وه.

همدارنګه دغه مسئله هم په ذهن کې ساتل پکار دي چې کوم څوک خپل ځان د فقر او مسکینانو په صورت کې ظاهر کړي د مثال په توګه زړې جامې اغوندي او په خراب حال سره اوسي یا د صوفیانو او مشائخو وضع اختیار کړي او د هغه سره مال وي او د دې سربېره د خلکو

د لاس څخه هغه شی اخلي او قبول کړي چي چا ته د صدقې او خیرات په توګه ورکولو لپاره وي او بیا هغه شی خوري او څښني یا په خپل مصرف کي یې راولي نو هغه شی به د هغه په حق کي حرام وي همدارنګه هغه سړی خپل ځان عالم او صالح او باشریعت ظاهر کړي او د حقیقت په اعتبار هغه داسي نه وي او خلک هغه ته د علم یا شرافت په وجه څه ورکړي نو د هغوئ ورکړی هغه شی به د هغه لپاره حرام وي.

نقل سوي دي چي مشهور بزرګ شیخ ابو اسحاق ګاندوئي رحمة الله عليه یوه ورځ فقیران پر داسي خوراک باندي ولېدل چي د مستحقینو لپاره تیار سوی وو، نو هغه فقیرانو ته یې وفرمایل: تاسو خلک حرام خورئ، هغه ټولو فقیرانو (د دې په اورېدو سره) د خوراک څخه خپل لاس را ایسته کړه، ددې څخه وروسته شیخ ورته وویل : دغه خوراک یوازي د داسي خلکو لپاره دی چي هغوئ هیڅ دنیاوي مال نه لري نو په تاسو کي چي کوم څوک داسي وي نو هغه دي دغه خوراک وخوري ، ددې څخه پرته بل څوک دي دغه خوراک نه خوري نو د هغه خوراک څخه ځینو وخوړل او ځینو ونه خوړل، ددې په لېدو سره شیخ وفرمایل: سبحان الله! خوراک خو یو دی مګر د ځینو خلکو لپاره حلال دی او د ځینو خلکو لپاره حرام دی، څرګنده سوه چي هغه شیان کوم چي محض د فقیرانو لپاره وي د هغه آمدني او د هغه وسائل هیڅ داسي سړي ته په خپل مصرف کي راوستل مطلقا حلال نه دي چي په شرعي توګه غني وي نو هغه سرایونه او خوني چي د فقیرانو او مسکینانو لپاره وقف دي نو داسي خلکو ته هلته مفت اوسېدل حرام دي څوک چي فقیر او مسکین نه وي لکه څرنګه چي علامه ابن همام رحمة الله عليه وضاحت کړی دی چي پر غني باندي حرام دی چي هغه د خانقا د وقف په حجرو کي مفت هستوګنه اختیار کړي نو دا قول د باور وړ ګڼل نه دي پکار چي د هغه خلاصه داده چي د حرمین شریفین او قاف د فقیر او غني هر یوه لپاره دي ځکه که دا خبره صحیح ومنل سي نو ددغه او قافو څخه غني ته ګټه اخیستل جائز نه دي او ددې سبب دادی چي زمونږ په نزد د غني په حق کي د یو شی وقف کول صحیح نه دی چي هغه غیر محصور وي.

د دنیاوي مال جمع کولو څخه لیري سه

﴿۴۹۷۶﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ اَنَّهُ دَخَلَ عَلٰى خَالِهِ اَبِيْ هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ يَعُوْدُهٗ فَبَكٰى

د حضرت معاویه رضي الله عنه څخه روایت دئ چي هغه د خپل ماما ابو هاشم بن عتبة عیادت (دناروغ پوښتني) ته ورغلی ، ابو هاشم په لیدو سره وژړل،

اَبُو هَاشِمٍ فَقَالَ مَا يُبْكِيكَ يَا خَالِ أَوَجَعٌ يُشْئِزُكَ أَمْ حِرْصٌ عَلَى الدُّنْيَا قَالَ

معاويه ورته وويل : ما ما ولي ژاړې؟ ناروغي په پريشانۍ کي اخته کړی يې يا د دنيا حرص؟

كَلَّا وَلَكِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهِدَ إِلَيْنَا عَهْدًا لَمْ آخُذْ بِهِ قَالَ

ابو هاشم وويل : په دې کي يوه خبره نسته بلکه د پريشانۍ سبب دا دئ چي رسول الله ﷺ موږ ته وصيت کړی وو چي په هغه ما عمل ونه کړلای سو، معاويه پوښتنه وکړه

وَمَا ذَالِكَ قَالَ سَمِعْتُهُ يَقُولُ إِنَّمَا يَكْفِيكَ مِنْ جَمْعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ فِي

هغه وصيت څه شی دئ.؟ ابو هاشم ورته وويل : ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي تا ته په مال يو ځای کولو کي يوازي يو خادم

سَبِيلِ اللّٰهِ وَإِنِّي أَرَانِي قَدْ جَمَعْتُ. رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجة

او د الله ﷻ په لار کي د جنګ لپاره يوه سپرلۍ بس ده او زما خيال دئ چي ما مال جمع کړی دی (يعني زيات). احمد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه

تخريج: مسند الامام احمد ۳\ ۴۴۴، والترمذي ۴\ ۴۸۸، رقم: ۲۳۲۷، والنسائي ۸\ ۲۱۹، رقم: ۴۵۳۷۲، وابن ماجه ۲\ ۱۳۷۴، رقم: ۴۱۰۳.

تشريح: د أراني لفظ د مفهوم په اعتبار د اظن په معنی دی يعني زه ګمان کوم، په ځينو نسخو کي دغه لفظ د همزه په زور سره دی چي معنی يې ده : زه وينم يا زه پوهيږم.

مال او منصب نه غوښتل

﴿۴۹۷۷﴾: وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ قُلْتُ لِأَبِي الدَّرْدَاءِ مَالَكَ لَا تَطْلُبُ كَمَا يَطْلُبُ فُلَانٌ فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أَمَامَكُمْ عَقَبَةً كَؤُودًا لَا يَجُوزُهَا الْمُثْقِلُونَ فَأُحِبُّ أَنْ أَتَخَفَّفَ لِتِلْكَ الْعَقَبَةِ.

د حضرت درداء د مور (رض) څخه روايت دئ چي ما د درداء پلار ته وويل په تا څه سوي دي چي ته د رسول الله ﷺ څخه مال او منصب نه غواړې لکه څرنګه چي فلانی او فلانی يې غواړي، د درداء پلار وويل : ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ستاسو مخته يو غونډۍ ده

چي پر هغه هغه خلک نه سي تيريدلاى كوم چي درروند باري وي ، په دې وجه زه دا خوښوم چي پر دغه باندي د ختلو لپاره (سپک) يم . بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵\۳۰۹، رقم: ۱۰۴۰۸.

تشريح: د سخت پړاو څخه مراد مرګ، قبر، حشر او په دې اړه پېښېدونکي سختياني دي، او د ګران بار څخه مراد هغه خلک دي چي د مال، دولت او دنياوي خوشحالي باريې پر اوږو پورته کړي وي د رسول الله ﷺ د ارشاد خلاصه داده چي دمؤمن دنياوي ژوند او د هغه ابدي قرارګاه (جنت) په منځ کي چي کومه فاصله ده هغه د يو سخت پړاو تېرېدو څخه وروسته قطع کېږي او څرګنده ده کوم څوک چي د يو سخت پړاو سره تېرېږي نو هغه د ځان سره بار نه ساتي او هر څومره چي سپک وي هغومره په اساني سره تېرېداى سي نو که چيري ته د خپل آخري منزل يعني جنت ته په اساني سره رسېدل غواړې نو خپل ځان د دنيا د مال او اسباب څخه سپک ساته چي ستا او د جنت په منځ کي چي کوم سخت پړاو دى د هغه په قطع کولو کي څه خنډ رامنځته نسي او ځکه ويل سوي دي : (فاذ المخفون و هلک المثقلون) يعني سپک بار وال خلک کامياب سول او درروند بار والا خلک هلاک سول.

د دنيا څخه پرهېزوکړئ

﴿۴۹۷۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ مِنْ أَحَدٍ يَّمْشِيْ عَلَى الْمَاءِ إِلاَّ ابْتَلَّتْ قَدَمَاهُ قَالُوْا لاَ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ كَذٰلِكَ صَاحِبُ الدُّنْيَا لاَ يَسْلَمُ مِنَ الذُّنُوْبِ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا يو څوک پر اوبو داسي تيريدلاى سي چي د هغه پښې لندې نه وي؟ صحابه کرامو وويل: يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دغه حال د دنيا دارو دئ چي د ګناهونو څخه خوندي کيدلاى نه سي . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۷\۳۲۳، رقم: ۱۰۴۵۷.

تشريح: پر چا چي د دنيا مينه غالبه سي نو هغه په هيڅ حالت کي هم د ګناهو څخه خوندي کيداى نسي او پر چا چي د دنيا مينه غالبه نه وي مګر په مال او دولت او دنياوي چارو کي اخته وي نو د هغه لمن هم په عامه توګه په ګناهو کي د لړل کېدو څخه خوندي کېداى نسي.

د ارشاد خلاصه د شتمنو کسانو ته سخت خبرداری ورکول او زهد ته شوق ورکول دي او

دا هم څرګندول مقصد دي چي په هر حالت کي د آخرت ګټه او تاوان ته د دنيا پر ګټه او تاوان باندي ترجيح ورکول پکار دي د دنيا د مال او دولت طلب کونکي ته دا احساس کافي دی چي د آخرت تاوان او خسران د فقر په نسبت په شتمنۍ کي زيات پټ دی او د فقر دا فضيلت کم نه دی چي فقيران چي هغوئ پر خپل فقر او مفلسي باندي صبر او قناعت اختيار کړی وي په جنت کي د شتمنو څخه پنځه سوه کاله مخکي داخليږي.

د پروردګار حمد او تسبيح

﴿۴۹۷۹﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت جبير بن نفير رضي الله عنه څخه مرسلا روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ مَا أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَجْمَعَ الْمَالَ وَأَكُونَ مِنَ التَّاجِرِينَ وَلٰكِنْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ

ما ته د وحي په ذريعه دا حکم نه دی راکړل سوی چي زه مال جمع کړم يا تجارت وکړم بلکه دا وحي راته سوې ده چي زه

سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِّنَ السَّاجِدِيْنَ وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتّٰى يَأْتِيَكَ الْيَقِيْنُ.

رواه في شرح السنة وأبو نعيم في الحلية عن أبي مسلم.

د خپل پروردګار حمد او تسبيح کوم، د سجده کونکو څخه سم او د خپل پروردګار عبادت کوم تر هغو چي مرګ راته راسي شرح السنة او ابو نعيم په الحلية کي د ابي مسلم څخه روايت کړی دی.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\۲۳۷، رقم: ۴۰۳۶،

تشريح: د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ دا څرګنده کړه چي ما ته خو د خپل رب له خوا دا حکم دی چي زه خپل وختونه په تسبيح، تحميد، عبادت او په خاصه توګه په لمانځه کي صرف کړم او د عمر تر پايه پوري همدا رنګه په اخروي کارو کي بوخت اوسم نو ما ته دومره فرصت چيري دی چي زه تجارتي کاروبار او نور دنياوي امورو ته توجه ورکړم او په هغو کي بوختيا اختيار کړم.

دنيا په روا طريقه تر لاسه کول

﴿۴۹۸۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د سوال (فقر

الدُّنْيَا حَلَالًا اِسْتِعْفَافًا عَنِ الْمَسْأَلَةِ وَسَعْيًا عَلَى أَهْلِهِ وَتَعَطُّفًا عَلَى جَارِهِ لَقِيَ

كولو) د ذلت څخه د ساتني لپاره، د كورني د مصرف او د همسايګانو سره د احسان كولو په نيت په جائز طريقه سره دنيا تر لاسه كړي

اللهُ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ مِثْلُ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَمَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا

نو د قيامت په ورځ به هغه د الله تعالى سره په داسي حال كي ملاقات كوي چي د هغه مخ به د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ په دول ځلا كوي او څوک چي په روا طريقه سره مال جمع كړي

حَلَالًا مُكَاثِرًا مُفَاخِرًا مُرَائِيًا لَقِيَ اللهُ تعالى وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان وأبو نعيم في الحلية.

اوكه د فخر او ريا په نيت يې تر لاسه كړي نو هغه به د الله تعالى سره په داسي حال كي يو ځاى كيږي چي الله تعالى به پر غضب ناک وي . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٧\٢٩٨، وابو نعيم في الحلية ٨\٢١٥.

تشريح: د فكر كولو او عبرت تر لاسه كولو خبره ده چي كله د زيات مال جمع كولو حرص پر يو بل باندي د فخر او نامه ښوونې لپاره د دنيا په ګټلو كي د حلالو ذرائعو او وسائلو اختيارونكي دا حشر دى نو د هغه خلكو به څه پاى وي چي مذكوره غير شرعي مقاصد په حرام وسائلو او ذرائعو سره مال او دولت تر لاسه كوي، رسول الله ﷺ په حديث كي د حرام مال ګټونكو ذكر دې ته په اشاره كولو سره نه دى فرمايلى چي دا كار د يو مسلمان هيڅ كله نسي كيداى چي اول خو هغه د مذكوره مقاصدو لپاره دنيا وګټي او بيا وسائل او ذرائع هم حرام او ناجائز اختيار كړي يا د داسي خلكو ذكر يې ددې لپاره ونه فرمايه چي د هغوئ بد انجام د حديث د انداز څخه په خپل څرګنديږي .

د خير او شر خزانې

(۴۹۸۱): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

هَذَا الْخَيْرَ خَزَائِنُ لِتِلْكَ الْخَزَائِنِ مَفَاتِيحُ فَطُوبَى لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللّٰهُ مِفْتَاحًا

دا خير (يعني ډير مال) خزانې دي او ددې خزانو كيلياني هم سته نو هغه بنده ته دي زيرى وي چې هغه ته الله تعالى د خير كولو او د شر بندولو كيلي جوړه كړې وي

لِلْخَيْرِ مِغْلَاقًا لِلشَّرِّ وَوَيْلٌ لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللّٰهُ مِفْتَاحًا لَلشَّرِّ مِغْلَاقًا لِلْخَيْرِ.

رواه ابن ماجة.

او هغه بنده ته دي هلاكت وي چې هغه ته الله تعالى د شر خلاصولو او خير بندولو كيلي جوړه كړې ده. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۱\۸۷، رقم: ۲۳۸.

تشريح: ذكر شوې معنى د شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله د اسعة اللمعات څخه ماخوذ ده، او ملا علي قاري رحمه الله د حديث وضاحت په دې توګه كړى دى چې په هذا الخير كې جنس خير (يعني هر ډول خير) مراد دى، او د خزائن څخه مراد د خير انواع كثيره دي يعني هغه خير مختلف انواع لري او هغه د الله تعالى د بندګانو په منځ كې داسې مخزون او مركوز كړل سوي دي لكه خزانې چې پټې اېښودل كيږي، لتلك الخزائن مفاتيح: د دغه خزانو كيلياني دي چې د مځكې پر مخ باندې د كائناتو په امورو كې تصرف او تسلط لپاره د الله تعالى د وكيل او نائب حيثيت لري، مفتاح للخير: د خير د كيلي څخه مراد د بندګانو هغه خير او نيكي اختيارول او خپرول دي كه هغه د علم او عمل اختيارول وي او كه د خپلو اونورو اخلاقو او احوالو د صالح كېدو په صورت كې وي يا خپل مال او روپۍ د الله تعالى په لاره كې د خرڅ كولو په صورت كې وي، او مفتاحا للشر: د شر د كيلي څخه مراد د خير لار بندول او د بدۍ لار خلاصول دي او د دغه بدۍ د لارې خلاصول كه د كفر او شرك، تكبر او سركښۍ، بدعملۍ او فتنې خپرونې په ذريعه وي يا د بخل او خپل مسلمان ورور سره د بد چلن كولو په صورت كې وي.

امام راغب رحمه الله وايي: خير هغه شي ته وايي چې هغه ته هر انسان شوق لري لكه علم، عقل، احسان، مهرباني او داسې نور، او همدارنګه هر هغه شى چې ګټه رسوي او كوم شى چې د خير ضد او دهغه برعكس وي هغه ته شر وايي، خير او شر كه څه هم د يو بل ضد او مخالف دي مګر كله ناكله په دواړو كې اتحاد ذاتي او فرق اعتباري هم وي يعني يو شى په دوو

اعتبارو سره خير او شر دواړو حامل کېدای سي چي د يوه سړي په حق کي خو هغه د خير ذريعه وي او د بل چا په حق کي هغه شی د شر او بدی سبب جوړ سي د مثال په توګه مال، چي هغه د يو سړي مثلا عمر په حق کي د خير ذريعه کېږي کله چي عمر هغه په جائزه طريقه سره حاصل کړی وي او په جائز مصارفو کي يې خرڅ کړي او هغه مال د بل چا لپاره مثلا زيد په حق کي د شر سبب جوړېدای سي کله چي زيد هغه مال په ناجائزه طريقه قبضه او تصرف وکړي.

همدارنګه د علم مثال هم دی چي علم په يوه وخت کي د ځينو خلکو د نسبت څخه د الله تعالی او بنده په منځ کي حجاب جوړېږي او پر هغه خلکو باندي د عذاب الهي سبب کېږي کله چي هغه خلک د هغه علم څخه د هدايت تر لاسه کولو پر ځای ضلالت او ګمراهي کي ولوېږي او هغه علم د نورو خلکو په حق کي دالله تعالی د معرفت او قربت او د ايمان او يقين ذريعه جوړېږي کله چي هغه خلک د هغه علم څخه هدايت تر لاسه کړي او د هغه پر صحيح تقاضا باندي عمل وکړي ، پر دې باندي نور عبادات هم قياس کېدای سي چي په هغو کي ځينو عبادتونه د عجب او غرور باعث کېږي کله چي د هغو اختيارونکي د ريا او نامه لار اختيار کړي او ځينو عبادتونه د ايماني او روحاني کيف او نورانيت باعث جوړېږي کله چي د هغه اختيارونکی د اخلاص او للهيت په جذبې سره برخمن وي، دنياوي شيان د مثال په توګه آس، د جنګ سامان او همدارنګه د نورو شيانو په اړه هم دا خبره ده چي کله دغه شيان د دښمن سره د جهاد کولو ذريعه جوړېږي نو د بنده جنت ته تللو وسيله کېږي او کله چي دغه شيان د فتنې او فساد خپرولو تر دې چي د الله تعالی د ډېر نېک او غوره بندګانو (لکه اولياء او انبياء) د قتل ذريعه جوړېږي نو د دې په وجه انسان د دوږخ ژوري درجې ته رسيږي.

د ضرورت څخه زيات سرای

﴿۴۹۸۲﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَمْ يُبَارَكْ لِلْعَبْدِ فِيْ مَالِهِ فَجَعَلَهُ فِي الْمَاءِ وَالطِّيْنِ. رواه البيهقي.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي د بنده په مال کي برکت وا نه چول سي نو هغه يې په اوبو او خاورو مصرف کړي. (يعني په بې ضرورته ځايونو جوړولو) بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۷\۳۹۴، رقم: ۱۰۷۱۹.

﴿۴۹۸۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اتَّقُوا الْحَرَامَ فِي الْبُنْيَانِ فَإِنَّهُ أَسَاسُ الْخَرَابِ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ځان ددې څخه وژغورئ چي حرام مال په عمارتونو جوړولو كي مصرف كړي ځكه چي دا بېخ د خرابۍ دی. بيهقي په شعب الايمان كي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان: ۱۷\ ۳۹۴، رقم: ۱۰۷۲۲.

تشريح: د ذكر سوي ارشاد څخه دا مفهوم اخيستل كېږي كه چيري په عمارتونو كي حلال مال ولګول سي نو د هغه څخه څه خرابي نه پيدا كيږي او ځينو حضراتو په عمارتو كي د حرام لګولو څخه پرهيز كوئ، دا مطلب بيان كړی دی چي د هغه حرام شيانو څخه پرهيز كوئ چي د عمارتونو په جوړولو كي پېښېږي ګويا په دې اعتبار سره حرام شی د ضرورت څخه زيات عمارت جوړول دي.

په (في البنيان) كي د في لفظ هغه معنی ده چي د مثال په توګه په دغه جمله كي چي په دغه زنځير كي دوه سيره اوسپنه ده، څرګنده ده چي ددغه جملې څخه دا مراد نسي اخيستل كيدای چي هغه زنځير د دوو سيرو اوسپني لوښی دی بلكه مفهوم به دا وي چي خپله زنځير د خالص دوه سيره اوسپني دی.

د خرابۍ څخه مراد د دين خرابي او د آخرت تاوان دی مګر دا هم كيدای سي چي خپله د عمارت خرابي مراد وي يعني دعمارت جوړول ددې خرابۍ او تباهۍ بنياد اېښودل دي، په هر حال كوم عمارت چي جوړيږي هغه به په پای كي بربادېږي لكه څرنګه چي ويل كيږي: لدوا للموت و ابنوا للخراب: يعني پيدا كوه د مړكېدو لپاره او عمارت جوړوه د خرابېدو لپاره.

ځينو شارحينو دا ويلي دي چي ددغه حديث دا مطلب هم كيدای سي چي په عمارتونو كي د حرام امورو او د ګناهو كولو څخه پرهيز كوئ يعني عمارتونه ددې لپاره مه جوړوئ چي په هغه كي فسق او فجور لپاره كښېنئ او د بدو خلكو سره مجلسونه كوئ او هغه د ناجائزو كارو مركز او اډه جوړ كړئ، ځكه چي په كوم عمارت كي د فسق او فجور بازار ګرم وي او د بدمعاشه خلكو مجلسونه كيږي نو هغه په پای كي تباه كيږي.

ملا علي قاري رحمه الله ددغه جملې: (ځكه چي په عمارتونو كي حرام مال لګول...الخ) په

اړه دوه احتماله بیان کړي دي یو دا چي دغه حدیث پر دې دلالت کوي چي د ضرورت څخه زیات حلال مال لګول جائز دي او دوهم احتمال دادی چي حدیث پر ذکر سوي جواز باندي دلالت نه کوي هغوئ لیکلي دي چي دغه دوهم احتمال د باب سره زیات مناسبت لري.

دنیا د چا ده

﴿۴۹۸۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عن رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال الدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَا دَارَ لَهُ وَمَالُ مَنْ لَا مَالَ لَهُ وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهُ. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عایشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دنیا د هغه چا کور دی چي د هغه (په آخرت کي) کور نه وي، او مال د هغه چا دی چي د هغه (په آخرت کي) مال نه وي او مال هغه څوک جمع کوي چي په هغه کي عقل نه وي. احمد او بیهقي

تخريج: مسند الامام احمد ۶۱\۷۱، رقم: ۱۰۶۳۸.

تشريح: مطلب دادی چي دغه دنیا فاني ده ځکه په دې کي تم کېدل او د خوشحالۍ ژوند اختیارول ممکن نه دي نو کوم څوک چي دنیا خپل کور وګڼي او د دغه ځای ارام او راحت د ژوند اصل خوشحالي وګڼي نو هغه داسي سړی دی چي ایا د هغه لپاره بل کور نسته، همدارنګه د (او مال دهغه سړي دی) د دې مطلب دادی چي کوم چا ته د دنیا. مال او اسباب حاصل وي او هغه د هغه مقصد اصلي یعني د خیر کارونه او د الله تعالی در ضا په امورو کي خرڅ نه کړي بلکه د دنیا په خوندونو او د نفساني خواهشاتو په پوره کول کي یې مصرف کړي نو د هغه هغه مال د مالیت د حکم څخه خارج دی ځکه چي هغه د خپل مال د اصلي مقصد څخه په انحراف کولو سره او هغه په غیر مقصود کي په خرڅ کولو سره ضائع کړ نو هغه د هغه سړي په ډول سو چي د هغه سره مال نه وي.

د مشکوٰة په ځینو حاشیو کي دا لیکلي دي چي د دغه ارشاد څخه مراد دادی چي د دنیا کور او د دنیا مال ډېر ژر فنا کېدونکی شی دی او د هغه هیڅ وقعت او حیثیت نسته ځکه هغه ته کور او مال ویل نه دي پکار، دا مراد هم د حقیقت په اعتبار د لومړي وضاحت څخه ماخوذ دی.

د حدیث یو مراد دا هم بیانیږي چي کوم څوک د دنیا کور خپل اصلي کور وګرځوي او په هغه مطمئن سي یا دا چي په دې ګمان سره دنیاوي مال او دولت جمع کړي چي زما سره څه دي

هغه تول باقي پاته كېدونكي او تل قائم پاته كېدونكي دي لكه څرنګه چي ارشاد رباني دی :
(ان الذين لا يرجون لقائنا ورضوا بالحيوة الدنيا واطمانوا بها) او په بل ځای كي فرمايي :
(يحسب ان ماله اخلده) نو هغه سړی به په اخرت كي په نعمتونو سره د نازولو مستحق نه وي.

مال او شتمني هغه څوک جمع كوي...الخ: مطلب دادی چي كوم څوک مال او شتمني ددې لپاره جمع كوي چي هغه ته دنيا عزيزه وي يا د هغه مال او دولت تل ساتلو نيت لري يا محض دنياوي لذت يا ددنياوي ګټو تر لاسه كول لپاره وي نو هغه سړی د عقل او پوهي حامل نسي ګرځول كيدای.

ملا علي قاري رحمة الله عليه ليكلي دي د حديث اجمالي مفهوم دادی چي دغه دنيا ددې وړ نه ده چي دا كور وګڼل سي هلته چي كوم سړی په آخرت كي د تر لاسه كېدونكي كور څخه محروم كېدل غواړي نو هغه دي دغه دنيا ددې وړ وګڼي همدارنګه ددغه دنيا دولت هغه سړي دولت ګڼي چي د آخرت دولت څخه محروم كېدل غواړي او خلاصه دا چي ددغه ارشاد مقصد دا احساس وركول دي چي د كومو خلكو لپاره په آخرت كي دار القرار او دهغه ځای بې پايه دولت مقرر دی د هغوئ په نظر كي دغه دنيا دومره حقيره او بې حيثيته ده چي ددغه كور او مال او دولت ته كور او مال نسي ويل كيدای.

شراب د ټولو ګناهو ټولګه ده

﴿۴۹۸۵﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په خطبه كي اوريدلي دي چي

فِيْ خُطْبَتِهِ اَلْخَمْرُ جِمَاعُ الْإِثْمِ وَالنِّسَاءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ وَحُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ

شراب چيښل د ګناهونو ټولګه ده او ښځي د شيطان جال دي او د دنيا مينه د هري ګناه سر دی،

كُلِّ خَطِيْئَةٍ قَالَ وَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ أَخِّرُوْا النِّسَاءَ حَيْثُ أَخَّرَهُنَّ اللهُ. رواه رزين. و روى اليهقي منه في شعب الإيمان عن الحسن مرسلا :حب الدنيا رأس كل خطيئة.

د حضرت حذيفه بيان دی چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا هم اوريدلي دي چي ښځي شا ته كړئ

لکه څرنګه چي الله تعالی هغوئ شا ته کړي دي(يعني په قرآن کريم کي د هغوئ ذکر د خلکو وروسته راغلی دی) . رزين، او بيهقي په شعب الايمان کي د حضرت حسن څخه مرسلا روايت کړی دی چي د دنيا مينه د ټولو ګناهونو ريښه ده .

تخريج: رواه رزين.

تشريح: طبراني د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه مرفوعا نقل کړي دي چي : (الخمر الفواحش واکبر الکبائر من شربها وقع علی امه وخالته وعمته) رسول الله ﷺ وفرمايل: شراب د بې حيايي ريښه ده او په لويو ګناهو کي يوه لويه ګناه ده کوم څوک چي شراب څښني نو هغه ګويا د خپل مور، خپل خاله او خپلي عمه سره بدکاري وکړه .

ويل کيږي چي يو سړي ته د بت په مخکي کي د سجدې کولو لپاره وويل سول نو هغه انکار وکړ ، بيا هغه ته د يو سړي د قتل لپاره وويل سول نو هغه ددې څخه هم انکار وکړ، بيا د يوې ښځي سره د زنا کولو لپاره ورته وويل سول نو هغه ددې څخه هم انکار وکړ ، بيا چي هغه ته د شراب څښلو لپاره وويل سول نو هغه شراب وڅښل نو هغه سړي ګويا شراب ونه څښل بلکه هغه ټولي بدۍ يې وکړې کومو ته چي بلل سوی وو او ده انکار ځيني کړی وو .

د دنيا مينه د هري ګناه بنياد دی: مطلب دادی چي د دنيا مينه انسان په ډول ډول خرابيو کي اخته کوي او هغه يې په منع شيانو او ګناهو اخته کوي، ددغه جملې مفهوم مخالف دادی چي ترک دنيا د هر عبادت سر دی يعني کوم څوک چي دنياوي لذات او نفساني خواهشاتو څخه بې تعلقه سي نو هغه په عبادت او طاعت کي بوخت سي او هر وخت د الله رضا مخته لري ، ځينو حضراتو ويلي دي کوم څوک چي ددنيا مينه اختيار کړي نو هغه ټول مرشدين او مصلحين پر سيده لار باندي نسي راوستلای او کوم څوک چي ترک دنيا خوښ کړي هغه د ټول دنيا مفسد او ګمراه خلک د سيده لاري څخه نسي اړولای .

طيبي رحمه الله ويلي دي: د حديث درې سره جملې ډيري جامع دي يعني د هغه په دائره کي اکثره ګناهونه راځي ځکه چي په دغه درو شيانو (يعني شراب، ښځه او ددنيا مينه) کي هر يو د ګناهو بنياد دی .

د بيري دوه شيان

﴿۴۹۸۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَخْوَفَ مَا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوه شيان دي چي د هغو زه پر

أَتَخَوَّفُ عَلٰى أُمَّتِيْ الْهَوٰى وَطُوْلُ الْأَمَلِ فَأَمَّا الْهَوٰى فَيَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ وَأَمَّا

خپل امت زیاته بیره کوم: یو د نفس غوښتنه، او دویم د عمر د اوږدوالي آرزو، د نفس غوښتنه یې د حق خبري کولو څخه منع کوي او

طُوْلُ الْأَمَلِ فَيُنْسِي الْآخِرَةَ وَهٰذِهِ الدُّنْيَا مُرْتَحِلَةٌ ذَاهِبَةٌ وَهٰذِهِ الْآخِرَةُ

د عمر د اوږدوالي آرزو آخرت څيني هيروي، دا دنيا کوچ کونکې او تلونکې ده او آخرت يې

مُرْتَحِلَةٌ قَادِمَةٌ وَلِكُلٍّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُمَا بَنُوْنَ فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَّا تَكُوْنُوْا مِنْ

مخته راتلونکی دئ او په دې کي د هر یوه زامن دي که تاسو کولای سئ نو تاسو

بَنِي الدُّنْيَا فَافْعَلُوْا فَإِنَّكُمُ الْيَوْمَ فِيْ دَارِ الْعَمَلِ وَلَا حِسَابَ وَأَنْتُمْ غَدًا فِيْ دَارِ

الْآخِرَةِ وَلَا عَمَلَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

ددنيا زامن مه جوړيږئ، داسي وکړئ چي نن تاسو دارالعمل کي یاست او په دنيا کي د عمل حساب نه سي اخيستل کيدلای مګر سبا به تاسو د آخرت په کور کي یاست هلته به عمل نه وي او حساب به وي، . بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۷\ ۳۷۰، رقم: ۱۰۶۱۶.

تشريح: دنيا په کوچ کولو سره تلونکې ده، مطلب دادی چي دغه دنيا د خپل ټول سامان سره داسي فناء ته روانه ده چي په دې کي اوسېدونکو ته دا احساس هم نه کيږي لکه څرنګه چي په کښتۍ کي ناست سړی د کښتۍ چلېدل نه محسوسوي د حديث دغه جمله او مابعد جمله په اصل کي د دنيا ډېر ژر تېرېدونکي او فنا کېدو مفهوم څرګندوي ځکه که چيري آخرت پر خپل ځای قائم وي او یوازي دنيا خپل سفر په جاري ساتلو سره هغې خوا ته ځي نو هم به دا پوره تېره سوې وي او خپل عمر به يې تمام کړی وي که څه هم د هغه سفر ته څه وقفه نوره تر لاسه سوې وي مګر کله چي صورت حال دادی چي يوې خوا ته آخرت را روان دی بلې خوا ته دنيا ور روانه ده نو ګويا هغه نقطه چيري چي ددنيا اختتام او د آخرت ابتداء کېدونکې د لاري په منځ کي به واقع سي او فاصله به ډېر ژر ختمه سي.

چيري چي د عمل حساب نه اخيستل کيږي: دا خبره د ظاهر په اعتبار او د فاسق او فاجر په

نسبت فرمایل سوې ده ، په يوه روايت كي دا فرمايل سوي دي چي (حاسبوا انفسكم قبل ان تحاسبوا) يعني د خپلو ځانو سره محاسبه وكړئ مخكي تر دې چي ستاسو څخه حساب واخيستل سي .

دنيا د عمل لپاره ده

﴿۴۹۸۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ ارْتَحَلَتْ الدُّنْيَا مُدْبِرَةً وَارْتَحَلَتْ الْآخِرَةُ مُقْبِلَةً

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي دنيا دېخوا شا كړې كوچ كونكې ده او آخرت دې خوا

وَلِكُلٍّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بَنُونَ فَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ وَلَا تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ

مخ كړې را روان دئ ، او په دوئ كي د هر يوه زامن دي تاسو د آخرت زامن جوړ سئ د دنيا زامن

الدُّنْيَا فَإِنَّ الْيَوْمَ عَمَلٌ وَلَا حِسَابَ وَغَدًا حِسَابٌ وَلَا عَمَلٌ. رواه البخاري في ترجمة باب.

مه جوړيږئ ځكه چي نن د عمل ورځ ده او حساب نه سته او سبا د حساب ورځ ده عمل به نه وي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۳۵.

تشريح: د ترجمة الباب څخه مراد د جامع بخاري د يو باب عنوان دى يعني امام بخاري رحمه الله دا روايت د خپل كتاب د يو باب په عنوان كي بېله اسناده د حضرت علي رضي الله عنه څخه موقوفا نقل كړى دى مګر د دې څخه مخكي د حضرت جابر رضي الله عنه كوم روايت چي نقل سوى دى د هغه څخه ثابتيږي چي حضرت علي رضي الله عنه د دغه روايت اصل مرفوع دى يعني دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دى ځكه چي حضرت علي رضي الله عنه كوم مضمون نقل كړى دى هغه دادى كوم چي د حضرت جابر رضي الله عنه په روايت كي نقل سوى دى .

دنيا بې دوامه مال دى

﴿۴۹۸۸﴾: وَعَنْ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ يَوْمًا فَقَالَ فِيْ

د حضرت عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ورځ په خطبه كي وفرمايل :

خُطْبَتِهِ أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا عَرَضٌ حَاضِرٌ يَأْكُلُ مِنْهُ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ أَلَا وَإِنَّ الْآخِرَةَ

خبردار! دنيا يو فاني سرمايه ده، ددې څخه نيک هم خوراک کوي او بد هم، او آخرت يو

أَجَلٌ صَادِقٌ وَيَقْضِيْ فِيْهَا مَلِكٌ قَادِرٌ أَلاَ وَإِنَّ الْخَيْرَ كُلَّهُ بِحَذَافِيْرِهِ فِي الْجَنَّةِ

رېښتونې وعده ده چې په هغه کې به هر ډول قدرت لرونکی پاچا حکم او فيصله کوي، خبردار! ټولې نيکۍ په خپلو انواعو او اقسامو سره په جنت کې دي،

أَلاَ وَإِنَّ الشَّرَّ كُلَّهُ بِحَذَافِيْرِهِ فِي النَّارِ أَلاَ فَاعْمَلُوْا وَأَنْتُمْ مِنَ اللهِ عَلٰى حَذَرٍ

خبردار! ټول شرونه په خپلو انواعو او اقسامو سره په دوږخ کې دي نو تاسو نيک عمل کوئ او د الله ﷻ څخه بيرېږئ

وَّاعْلَمُوْا أَنَّكُمْ مَّعْرُوْضُوْنَ عَلٰى أَعْمَالِكُمْ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهُ

وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهُ. رواه الشافعي.

او دا خبره ياد ساتئ چې تاسو به په خپلو اعمالو سره د الله ﷻ په مخ کې وړاندې کيږئ نو څوک چې د زرې برابر نيک کار وکړي د هغه جزا به تر لاسه کړي او څوک چې د ذرې برابر بد کار وکړي د هغه سزا به ويني. شافعي.

تخريج: ترتيب مسند الامام الشافعي ۱۴۸\۱، رقم: ۴۲۹.

تشريح: انكم معرضون على اعمالكم: د دغه جملې معنی که چيرې دا وکړل سي چې تاسو به د خپلو اعمالو مخکې وړاندې کړل سئ نو د دغه عبارت به سرچپه معنی مراد سي چې (د قيامت په ورځ به) ستاسو اعمال ستاسو مخکې حاضر کړل سي، يوه معنی دا هم کيدای سي چې تاسو به د الله تعالی په دربار کې د خپلو اعمالو سره د الله تعالی په مخکې وړاندې کړل سئ او د خپلو هغه اعمالو مطابق جزاء يا سزا به تر لاسه کړئ لکه څرنګه چې يو لښکر د جنګ د ميدان څخه راستنيږي نو هغه د خپل فرائضو د سرته رسوني سره د خپل امير په مخکې وړاندې کيږي او هغه امير د هغه لښکر د هر کس سپارل سوی کار ته ګوري او د هغه مطابق هر يوه ته انعام او سزا ورکوي.

﴿۴۹۸۹﴾: وَعَنْ شَدَّادٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَا

د شداد رضي الله عنه څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: اې

أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ الدُّنْيَا عَرَضٌ حَاضِرٌ يَأْكُلُ مِنْهَا الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ وَإِنَّ الْآخِرَةَ

خلکو ! دنيا يو غير قائم سامان دئ چي د هغې څخه نيک او بد دواړه خوراک کوي ، او آخرت

وَعْدٌ صَادِقٌ يَحْكُمُ فِيهَا مَلِكٌ عَادِلٌ قَادِرٌ يُحِقُّ فِيهَا الْحَقَّ وَيُبْطِلُ الْبَاطِلَ

يو رښتونی وعده ده چي په هغه کي به عادل او قادر پاچا حکم او پريکړه کوي (په خپل حکم او فيصله سره) حق ثابت کړي او باطل به ختم کړي ،

كُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ وَلَا تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا فَإِنَّ كُلَّ أُمٍّ يَتْبَعُهَا

وَلَدُهَا. رواه ابو نعيم.

تاسو د آخرت لپاره عمل کونکی جوړ سئ او د دنيا زامن مه جوړيږئ ځکه چي د هر مور اولاد هغې تابع وي . ابو نعيم .

تخريج: ابونعيم في الحلية ۱\۲۲٦.

تشريح: د حديث د آخري جملې مطلب دادی که چيري تاسو د دنيا زامن جوړ سئ يعني د دنيا غوښتونکي او د دنيا په مينه کي بوخت سئ نو دوږخ ته به ځئ ځکه چي د باطل ځای دوږخ دی او که چيري تاسو د آخرت زامن جوړ سئ نو جنت ته به ځئ ځکه چي د آخرت حق ځای جنت دی ، دا د ملا علي قاري رحمه الله د منقولاتو مفهوم دی ، شيخ عبد الحق رحمه الله د حديث په پای کي دا ليکلي دي چي سړی د آخرت زوی دی هغه د اخرت اتباع کوي او د هغه مطابق عمل کوي او کوم څوک چي د دنيا زوی وي هغه د دنيا پيروي کوي او د هغه لپاره کار کوي .

لږ مال ښه دی تر ډېر

﴿۴۹۹۰﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا طَلَعَتِ

د حضرت ابو درداء رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم وخت چي لمر راخيژي

الشَّمْسُ إِلَّا وَبِجَنْبَتَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ يُسْمِعَانِ الْخَلَائِقَ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ يَا

نو د هغه دواړو خواوو ته دوه ملائکي وي چي اعلان کوي او مخلوقاتو ته يې اوروي ، د هغوئ آواز ټول اوري مګر پيريان او انسانان يې نه اوري ، هغوئ دا اعلان کوي چي ای

أَيُّهَا النَّاسُ هَلُمُّوا إِلَى رَبِّكُمْ مَا قَلَّ وَكَفَى خَيْرٌ مِمَّا كَثُرَ وَأَلْهَى. رواهما أبو نعيم في الحلية.

خلکو! د خپل پروردګار د حکم په لوري رجوع وکړئ او په دې خبره پوه سئ چي کوم مال کم وي او کافي وي هغه د هغه مال څخه غوره دی چي زيات وي او سړی په لهو او لعب کي اچوي، (يعني د الله ﷻ د عبادت څخه يې منع کوي). ابو نعيم په حليه کي.

تخريج: ابونعيم في الحلية ۲۲٦/۱.

تشريح: د ملائکو ذکر سوی اعلان د پيريانو او انسانانو نه اورېدل، کېدای سي په دې وجه وي چي هغه فريضه د غيب پر خبرو ايمان راوړلو او عمل کولو لپاره جن او انس باندي عائد کړل سوې ده، داسي چي بې اثره نسي مګر دلته دا سوال پيدا کيدای سي چي دغه اعلان او ددې مضمون په اصل کي د انسان خبردار کولو لپاره دی او کله چي يې هغه نه اوري نو هغه به څرنګه خبردار سي؟ ددې مختصر جواب دادی چي ددغه خبرداري انحصار محض د خپلو غوږو سره نه دی بلکه پر دې هم دی چي هغه په خبرداري سره باخبر او مطلع سي،

نو دا خبره د مخبر صادق رسول الله ﷺ خبر ورکولو او ددې خبرداري مضمون بيانولو سره حاصليږي نو ذکر سوی مضمون کله چي ددغه حديث په ذريعه انسان ته ورسېدی نو هغه ددې څخه حقيقتا باخبر او مطلع سو، پاته سوه دا خبره چي په دغه خبرداري کي يوازي انسان ولي مخاطب کړل سو؟ جناتو ته خطاب ولي ور نه کړل سو، نو ددې وجه داده چي په دغه دواړو نوعو کي د مال او دولت زيات حريص او د عقبی څخه ډېر غافل دا يوازي انسان دی چي په دنيا پسي خپل خالق هيروي او د دنيا مال هغه د ذکر او عبادت الهي څخه منع کوي، نو انسان په خاصه توګه مخاطب کولو سره ويل سوی دی چي د عقبی انجام ته ستاسو دغه غفلت او بې پرواهي او د ذکر الله څخه ستاسو د دغه اعراض کولو لړۍ به تر کومه جاري وي، د خپل اخروي تباهۍ دغه لار پرېږدئ او راځئ د عبادت الهي په ذريعه دغه سيده لار خپله کړئ چي تاسو د آخرت ښه انجام ته ورسوي.

د خلکو حرص

﴿۴۹۹۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَبْلُغُ بِهِ قَالَ إِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ مَا قَدَّمَ وَقَالَ بَنُو آدَمَ مَا خَلَّفَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ او هغه دا حديث نبي کريم ﷺ ته رسوي چي کله يو ځوک مړ کيږي نو ملائکي پوښتنه کوي چي د آخرت لپاره يې څه وليږل او خلک دا وايي چي هغه څه پريښودل. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۷ / ۳۲۸، رقم: ۱۰۴۷۵.

اخرت نژدې دی

﴿۴۹۹۲﴾: وَعَنْ مَالِكٍ أَنَّ لُقْمَانَ قَالَ لِابْنِهِ يَا بُنَيَّ إِنَّ النَّاسَ قَدْ تَطَاوَلَ

د حضرت مالک ﷺ څخه روايت دئ چي لقمان خپل زوی ته وويل (اې) زويه ! د کوم شي

عَلَيْهِمْ مَا يُوعَدُونَ وَهُمْ إِلَى الْآخِرَةِ سِرَاعًا يَذْهَبُوْنَ وَإِنَّكَ قَدِ اسْتَدْبَرْتَ

وعده چي د خلکو سره سوې ده (يعني د بيا ژوندي کېدو او حساب ،کتاب ، ثواب، عذاب وغيره..) پر هغه ډير وخت تير سوی دئ ، حال دا چي خلک په تيزي سره د آخرت په لور روان دي ،او اې زويه ! د کومي ورځي څخه چي ته پيدا سوی يې د دنيا تر شا پرېښودونکی يې او د

الدُّنْيَا مُنْذُ كُنْتَ وَاسْتَقْبَلْتَ الْآخِرَةَ وَإِنَّ دَارًا تَسِيْرُ إِلَيْهَا أَقْرَبُ إِلَيْكَ مِنْ دَارٍ تَخْرُجُ مِنْهَا. رواه رزين.

آخرت په لور په تيزي سره تلونکی يې او هغه کور چي د هغه په لور روان يې تا ته د هغه کور څخه زيات نژدې دی د کوم څخه چي روان يې . رزين . (لقمان حکيم د داؤد ﷺ په زمانه کي وو دی په اصل کي حبشي مريی وو الله ﷻ حکمت ورکړی وو يعني په عقل سره به يې داسي خبري کولې چي د پيغمبرانو د حکم سره به برابري وې) .

تخريج: رواه رزين.

تشريح: دغه وخت پر هغوئ اوږد سو : مطلب دادی چي د قيامت راتلو ، د اخرت چارو او د هغه جهان د ژوند په اړه چي کوم خبر ورکړل سوی دی او د هغه چي کومه وعده سوې ده پر هغه يو اوږد وخت تېر سوی دی ځکه خلک دا خيال کوي چي په وعده پوره کولو کي زنډ سوی دی حال دا چي تاخير هيڅ نه دی سوی بلکه د دنيا سفر جاري دی او خلک هر ساعت بلکه هره لحظه هغه يوم موعود او آخرت ته مخکي کيږي چي د هغه خبر هغوئ ته ورکړل سوی دی لکه څرنګه

چي د کښتيو کاروان خپل منزل ته پر مخ روان وي او په ډکو کښتيو کي ناست خلک د لارې د تېرېدو احساس نه کوي ، دا خبره ددغه جملې (او کوم وخت چي ته پيدا سوی وې ...الخ) په ذريعه بيان سوې ده ، په دغه جمله کي که څه هم په خاصه توګه و حاضر مجلس ته خطاب سوی دی مګر په حقيقت کي ددې څخه مراد عام خطاب دی چي ددې خبرې مخاطب هر انسان دی.

د روايت د آخري جملې څخه دا خبره ثابته سوه چي کله يو سړی د يو ځای په پرېښودو سره ځي نو د هغه هر قدم د هغه ځای څخه ليرې کېږي او کوم ځای ته چي د هغه مخ وي هغه ته نژدې کېږي نو کوم انسان چي ددغه دنيا څخه ځي هغه د خپل زېږېدنې د ورځې څخه آخرت ته خپل سفر شروع کوي او د دنيا په شا ته پرېښودو سره ځي همدا رنګه ګويا هغه هره ورځ او هره لحظه د يو داسې مسافت په منځ کي دی چي هغه يې قطع کوي او هغه ته نژدې کېږي تر دې چي يوه ورځ به داسې راسي کله چي هغه مسافت پوره سي او هغه چي کومې خوا ته روان دی هلته به ورسېږي ، څرګنده دي وي چي د حضرت لقمان حکيم رحمه الله ددغه نصيحت مقصد د هغه غفلت پرده شکول دي چي هغه د امور اخرت څخه انسان بې پرواه کړی دی .

غوره انسان څوک دی

﴿۴۹۹۳﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي

أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ قَالَ كُلُّ مَخْمُومِ الْقَلْبِ صَدُوقِ اللِّسَانِ قَالُوا صَدُوقُ

څوک غوره دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : صاف زړه والا او رېښتوني ژبي والا ، صحابه کرامو وويل:

اللِّسَانِ نَعْرِفُهُ فَمَا مَخْمُومُ الْقَلْبِ قَالَ هو النقي التقي لَا إِثْمَ عليه وَلَا بَغْيَ وَلَا غِلَّ وَلَا حَسَدَ. رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان.

د ژبي رېښتنوالی خو موږ پېژنو ، د مخموم زړه څخه څه مراد دئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : مخموم زړه هغه دئ چي پاک وي ، پرهيزګاره وي هيڅ ګناه پکښي نه وي ، ظلم يې نه وي کړی د حد څخه نه وي تېر سوی او حسد پکښي نه وي . ابن ماجه او بيهقي.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۴۰۹ ، رقم: ۴۲۱۶ ، والبيهقي في شعب الايمان ۵\۲۶۴ ، رقم: ۶۶۰۴.

تشریح: د مخموم لفظ د خم څخه مشتق دی او معنی یې د څنډلو، د کچرو او ګندګۍ او نورو شیانو څخه مځکه او څاه پاکول دي، نو د مخموم څخه مراد هغه سړی دی چې د هغه زړه د غیر الله د ګرد څخه پاک وي او خراب اخلاقو او فاسد افکارو څخه پاک وي چې هغه ته سلیم القلب ویل کیږي او دهغه تعریف الله تعالی په دغه الفاظو کي فرمایلی دی: (الا من اتی الله بلقب سلیم) دغه مراد رسول الله ﷺ د لفظ نقي په ذریعه څرګند کړ نو د نقي معنی ده هغه څوک چې د هغه زړه او باطن د غیر الله دمیني څخه پاک وي او د تقي معنی ده د فاسد، پالتو افکارو او خیالاتو څخه ځان ساتونکی.

صحابه کرامو چې د رسول الله ﷺ څخه د مخموم القلب معنی و پوښتل نو د هغه یوه وجه دا کیدای سي چې هغه وخت د پوښتنه کونکو صحابه کرامو په ذهن کي دلفظ مخموم لغوي معنی محفوظ نه وي ځکه چې رسول الله ﷺ به کله نا کله داسي نادر الفاظ فرمایل چې صحابه کرامو به په عربي ژبه د پوره واک لرلو او فصاحت او بلاغت سره د اشنا کېدو سربېره د هغوئ فهم ددغه الفاظو معنی ته نسو رسیدلای، نو د رسول الله ﷺ څخه به یې د داسي الفاظو په باره کي پوښتنه کول، یا دا چې صحابه کرام د مخموم لفظ په معنی پوهېدل مګر قلب ته ددغه لفظ اضافت او د هغه مراد ورته معلوم نه وو، نو هغوئ پوښتنه وکړه او رسول الله ﷺ وضاحت وفرمایه دغه احتمال زیات صحیح معلومیږي.

څلور ګټوري خبري

﴿۴۹۹۴﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فِيكَ فلا عليك مَا فَاتَكَ الدُّنْيَا حِفْظُ أَمَانَةٍ وَصِدْقُ حَدِيثٍ وَحُسْنُ خَلِيقَةٍ وَعِفَّةٌ فِي طعمة. رواه احمد والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څلور خبري دي کله چې په تا کي پیدا سي نو ددنیا د فوت کیدو پر تا هیڅ غم نسته: د امانت ساتنه کول، ریښتونې خبره کول، ښه اخلاق او په خوراک کي احتیاط او پرهیزګاري. احمد او بیهقي

تخریج: مسند الامام احمد ۲\۱۷۷، رقم: ۶۶۵۲.

تشریح: مطلب دادی چې د کوم چا ژوند ددغه څلورو شیانو څخه معمور سي نو ګویا هغه د اخروي نعمتونو ښېګڼي او دنیوی د هغه نفس د روحاني عروج او کمال درجه تر لاسه کړه د هغه قلب

او باطن منور سو، او د ثواب آخرت او جنت د لازواله نعمتونو ذريعه هغه ته تر لاسه سوه، نو په دغه صورت کي که چيري هغه د دنيا د ټولو نعمتونو او ټولو مادي خواهشاتو او لذتو څخه محروم سي نو هغه ته هيڅ افسوس او غم کېدل نه دي پکار بلکه هغه ته پر دغه محرومي باندي يو ډول اطمينان کېدل پکار دي، که دنياوي نعمتونه او لذتونه ورته حاصل وي نو دهغه په وجه ديني معمولات او عباداتو او طاعاتو کي جمعيت او حضور قلب به د خلل او وحشت ښکار سوی وای او روحاني لطافت او نورانيت جمال به يې په مادي کثافت او ظلمت سره په گرد سوی وای.

د رښتيا ويلو او امانت فائده

﴿۴۹۹۵﴾: وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ بَلَغَنِيْ أَنَّهُ قِيْلَ لِلُقْمَانَ الْحَكِيْمِ مَا بَلَغَ بِكَ مَانَرٰى يَعْنِيْ الْفَضْلَ قَالَ صِدْقُ الْحَدِيْثِ وَأَدَاءُ الْأَمَانَةِ وَتَرْكُ مَا لَا يَعْنِيْنِيْ. رواه في الموطأ

د حضرت مالك رحمه الله څخه روايت دئ چي ما ته معلومه سوې ده چي د حضرت لقمان حکيم څخه دا پوښتنه وسول چي په کومه مرتبه موږ تا وينو هغه کوم شي ته دې ځای ته ورسولې؟ حضرت لقمان ورته وويل: د ژبي رېښتنوالی او امانت ادا کولو او د بې ګټې شي پرېښودلو، مؤطا.

تخريج: موطا الامام مالک ۱۲\۹۹۰، رقم: ۱۷.

تشريح: د دغه روايت څخه دا حقيقت څرګندېږي چي اصل حکمت او هوښياري رېښتيا ويل او نېک چلن دی، د انساني ژوند دغه دوه ستر شيان دي چي د هغه په اختيارولو سره لقمان حکيم رحمه الله خپلي عظيمي مرتبې ته رسيدلی وو.

حضرت لقمان حکيم رحمه الله څوک وو؟

لقمان حکيم رحمه الله چي د هغه حکمت او هوښياري نن هم ضرب المثل دی او د هغه نوم د علم او پوهي په توګه اخيستل کېږي چي د هغه څخه د دنيا لوی لوی حاکمان، لوی لوی فلاسفه فيضان تر لاسه کوي، نوموړی د مشهور پيغمبر حضرت ايوب عليه السلام خوريی وو او ځينو حضراتو د حضرت ايوب عليه السلام د خاله زوی ورته ويلي دي، د علماؤ په دې اړه اختلاف دی چي هغه خپله پيغمبر وو که يا، مګر دا خبره په اتفاق سره منل سوې ده چي هغه يو عظيم حکيم وو او د ولايت پر درجه فائز وو، منقول دي چي نوموړي د زرو پيغمبرانو په خدمت کي حاضري اختيار کړې ده او د هغوئ په مخکي يې د شاګردۍ شرف حاصل کړی وو، غالبا د هغه د دغه بې مثاله حکمت او پوهي يو لوی راز دا هم دی چي هغه ته د دومره زياتو پيغمبران د فيض تر لاسه کولو موقع په

برخه سوه، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه دغه روايت نقل سوی دی چي لقمان نه پيغمبر وو او نه پاچا وو بلکه يو تور رنګه غلام وو او پسونه يې پېول چي الله تعالی په خپل دربار کي مقبول وګرځوی او په حکمت او پوهي يې ونازوی او په خپل کتاب (قرآن کریم) کي يې د هغه ذکر وفرمايه.

د قيامت په ورځ

﴿۴۹۹۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَجِيءُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اعمال به الله جل جلاله ته

الْأَعْمَالُ فَتَجِيءُ الصَّلَاةُ فَتَقُولُ يَا رَبِّ أَنَا الصَّلَاةُ فَيَقُولُ إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ

حاضر کړل سي، لمونځ به وړاندي راسي او وايي به اې الله! زه لمونځ يم، الله تعالی به ورته فرمايي ته په خير يې،

فَتَجِيءُ الصَّدَقَةُ فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَنَا الصَّدَقَةُ فَيَقُولُ إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ ثُمَّ يَجِيءُ

بيا به صدقه راسي او عرض به وکړي اې الله زه صدقه يم، الله تعالی به ورته فرمايي ته په خير يې، بيا به راسي

الصِّيَامُ فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَنَا الصِّيَامُ فَيَقُولُ إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ ثُمَّ يَجِيءُ الْأَعْمَالُ

روژه او وايي به اې الله جل جلاله! زه روژه يم، الله تعالی به ورته فرمايي ته په خير يې، بيا به نور

عَلَى ذٰلِكَ يَقُولُ اللهُ تعالی إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ ثُمَّ يَجِيءُ الْإِسْلَامُ فَيَقُولُ يَا رَبِّ

اعمال راسي او داسي خپل تعريف به وکړي او الله تعالی به ورته په جواب کي فرمايي تاسو په خير ياست، بيا به اسلام راسي او وايي به اې الله جل جلاله!

أَنْتَ السَّلَامُ وَأَنَا الْإِسْلَامُ فَيَقُولُ اللهُ تعالی إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ بِكَ الْيَوْمَ آخُذُ

ته سلام يې او زه اسلام يم، الله تعالی به ورته فرمايي ته په خير يې، ستا په وجه به نن زه پوښتنه کوم

وَبِكَ أُعْطِي قَالَ اللهُ تعالی فِي كِتَابِهِ وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ

مِنۡهُ وَهُوَ فِي الۡآخِرَةِ مِنَ الۡخَاسِرِينَ. رواه احمد.

او ستا په وجه به ورکوم (ثواب او عذاب)، الله پاک خپل په کتاب کي فرمايي: (ومن يبتغ غير الاسلام....) څوک چي د اسلام څخه پرته بل دين اختيار کړي نو هغه دين به هيڅکله ځيني قبول نه کړل سي او په آخرت کي به د تاوانيانو څخه وي. احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۳۶۲.

تشريح: (تجئ الاعمال) مطلب دادی چي د قيامت په ورځ به نېک اعمال الله ﷻ ته وړاندي کړل سي او په دنيا کي چي کومو خلکو هغه اعمال اختيار کړي وي د هغوئ په حق کي به شاهدي ورکوي او دهغوئ شفاعت به کوي او کومو خلکو چي هغه اعمال ترک کړي وي د هغوئ خلاف به شکايت کوي، پاته سوه دا خبره چي د هغوئ د اعمالو د وړاندي کېدو به څه صورت وي نو يو قوي احتمال دادی چي هغه اعمال به په ښه صورتو کي په شکل ورکولو سره وړاندي سي چي الله تعالی به هغوئ ته ډېر پاک او غوره صورتونه ورکړي لکه څرنګه چي د ځينو حديثو او اثارو څخه مفهوم کيږي، يا دا چي د الله تعالی دغه قدرت په پوره توګه ثابت دی چي هغه بالذات وړاندي کړي او هغوئ ته د وينا قوت ورکړي.

شيخ عبدالحق رحمه الله د حديث په وضاحت کي ليکلي دي چي د لمانځه داسي تعارف وړاندي کوي چي زه لمونځ يم، دا په اصل کي ددې مفهوم حامل دی چي ای پروردګاره! ما ته چي ستا په دربار کي کوم عظمت او مرتبه تر لاسه ده چي تا ماته د خپل دين ستن فرمايلي دي او په خپل نزد دي په عزت او قرب سره نازولی يم، په دې اعتماد کولو سره باامېد قبوليت ستا د دربار په لطف او کرم کي د بندګانو په حق کي شفاعت کولو ته حاضر سوی يم او تا دا فرمايلي دي چي: (ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر) ځکه څرنګه چي زه په دنيا کي خلک د فسق او فجور څخه ليري کونکی وم همدا رنګه نن ورځ امېد لرم چي خلک ستا د عذاب څخه ليري کړم او ستا د غضب څخه يې وژغورم، نو الله تعالی به لمانځه ته وفرمايي: بېله شکه ته د خير او صلاح حامل يې، ګويا الله تعالی به د لمانځه شفاعت قبول نه کړي بلکه د هغه د شفاعت درخواست به موقوف کړي او د مذکوره ارشاد په ذريعه هغه توقف او التواء به ډېر بليغ او پاک انداز او حسن کلام په ذريعه ظاهر کړي، او ددغه ارشاد مفهوم په حقيقت کي دادی چي ای لمونځه! په دې کي شک نسته چي موږ ته د ډېري لوړي مرتبې ګرځولی يې او په تا کي مو فضل او شرف اېښی دی، دا يو حقيقت دی او پر خپل ځای دی مګر تر څو چي د شفاعت تعلق

دی نو دا يوه بله مرتبه ده چي تا ته تر لاسه نه ده بلكه دغه وصف او مرتبه هغه چا ته ورکړل سوې ده چي ستا او ستا د هم مثل عبادتونو بنياد دی او ټولو ښه صفات مجموعه ده يعني دين اسلام دلته يوه باريکه نکته ده او هغه دا چي پر مقام شفاعت باندي دربدل يعني د قيامت په ورځ د الله تعالی په دربار کي د بندګانو په حق کي شفاعت کوي يوازي هغه ذات ته لائق دي چي جامع کمالات دی لکه د حضرت محمد ﷺ ذات مبارک چي رسول الله ﷺ د ټولو اسماؤ او صفات الهي مظهر دی.

نو د شفاعت حق به يوازي د رسول الله ﷺ ذات ته حاصل وي د رسول الله ﷺ څخه پرته بل پيغمبر به د شفاعت د دروازې پر خلاصولو قادر نه وي، همدارنګه په اعمالو کي به هم يوازي هغه عمل د شفاعت وړ وي چي د ټولو صفاتو او کمالاتو جامع وي يعني اسلام، لکه څرنګه چي د حديث د آخري برخي څخه څرګنديږي چي د صدقې دغه تعارف وړاندي کول چي زه صدقه يم ددې مفهوم حامل به وي چي پروردګاره ما خپل دغه عزت او فضيلت په مرسته ستا په دربار کي د شفاعت کولو لپاره حاضره سوې يم چي په هغه سره تا د خپل لطف او کرم په طفيل نازولې يم او زما په حق کي دي فرمايلي دي چي: (الصدقة تطفئ غضب الرب) همدارنګه د روژې ددغه تعارف چي زه روژه يم دا مفهوم دی چي پروردګاره! زه هغه عبادت يعني روژه يم چي ددغه مخصوص صفت او حيثيت حامل ده چي تا د هغه خاص جزاء اينبي دي او ستا څخه پرته بل څوک يې نه پېژني او چا چي دا اختيار کړه او د هغه پوره حقوق يې ادا کړه نو د هغه د بخښني او په جنت کي د داخلولو وعده تا فرمايلې ده نو زه ددغه فضيلت او خصوصيت په وجه په اميد سره د قبوليت د شفاعت د درخواست لپاره حاضر سوی يم.

اسلام چي د خپل تعارف په اړه کوم انداز اختيار کړي هغه به د ذکر سوو نورو اعمالو د انداز څخه مختلف وي هغه ته به په باب شفاعت کي لوی دخل وي ځکه هغه به د خپل تعارف او خپل خواست پېل د حق تعالی په حمد او تعريف سره وکړي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ پر مقام شفاعت باندي درېږي نو مخکي به د الله تعالی حمد او تعريف بيان کړي، ددې څخه وروسته به د شفاعت درخواست وړاندي کړي نو اسلام د الله تعالی په حضور کي په وړاندي کېدو سره هغه ته به د هغه اسم مبارک (اسلام) په ذريعه بڼغ وکړي او خپل ځان به يو مطيع او فرمانبردار ذات ظاهر کړي او ددې څخه وروسته به د شفاعت درخواست وکړي.

دا هم کېدای سي چي په حديث کي د اسلام څخه مراد دين اسلام نه وي بلکه صفت رضا او تسليم او ترک اختيار مراد وي چي د الله تعالی د غوره او مقربو بندګانو د اعلی مراتبو څخه

دی لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي د حضرت ابراهيم ﷺ په اړه د اسلام ذکر په دغه مفهوم کي سوی دی چي وه يې فرمايل : (اذا قال له ربه اسلم قال اسلمت لرب العالمين) کله چي ابراهيم ﷺ ته د هغه رب وفرمايل چي تابعداري وکړه نو هغه وويل چي زه د رب العالمين تابعدار سوم.

دنيا يادونکي شيان پر پرېدئ

﴿۴۹۹۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ لَنَا سِتْرٌ فِيهِ تِمَاثِيل طَيْرٍ قَالَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يا عائشة حَوِّلِيهِ فَإِنِّي إِذَا رَأَيْتُهُ ذَكَرْتُ الدُّنْيَا. رواه احمد

د عائشې (رض) څخه روايت دئ چي زموږ پر يو پرده باندي د مرغانو عکسونه وه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اې عائشې دا بدله کړه ، ځکه چي کله زه دې ته ګورم نو دنيا را ته را ياد سي. احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۲۴۱/۶.

تشريح: رسول الله ﷺ د هغه پردې د بدلولو حکم چي په کوم انداز کي وکړ او د هغه کوم علت يې بيان کړ د هغه څخه دا څرګنديږي چي پر هغه پرده باندي کوم عکسونه وه هغه څرګند نه وو بلکه د هغو خطونه او نقشونه دومره کوچني او غير واضح وه چي پر هغو په حقيقي معنى کي د عکس اطلاق نه کېدی، يا دا چي د عکس لرونکي پردې دغه واقعه د هغه زمانې ده کله چي د عکس حرمت نازل او نافذ سوی نه وو.

په دغه حديث کي دې ته اشاره ده چي هغه اسبابو او شيانو ته کتل چي د هغه په ذريعه شتمن خلک د عيش او عشرت ژوند اختياروي ، د فقيرانو د قلب حلاوت او طمانيت باندي اثر کوي نو دعيش او عشرت شيان او دنيا ته مائل کونکي شيان نه يوازي دا چي اختيارول نه دي پکار بلکه هغو ته نظر کول هم نه دي پکار.

مختلف نصيحتونه

﴿۴۹۹۸﴾: وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عِظْنِي وَأَوْجِزْ فَقَالَ إِذَا قُمْتَ فِي صَلَاتِكَ فَصَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ وَلَا تَكَلَّمْ بِكَلَامٍ تَعْذِرُ مِنْهُ غَدًا وَاجْمَعْ الْإِيَاسَ مِمَّا فِي يَدَيْ النَّاسِ. رواه احمد.

د حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ څخه روايت دئ چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي

حاضر سو او عرض یې وکړ ما ته نصیحت وفرمایاست لنډ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هر کله چې ته لمونځ کوې نو په داسې ډول یې کوه چې د الله ﷻ څخه پرته ټول هر څه پرېښودونکې دې او هیڅ داسې خبره د ژبې څخه مه باسه چې سبا ته د هغې عذر خواهي کوې او کوم شی چې د خلکو په لاس کې وي د هغه څخه د نا امیده کېدو پخه اراده وکړه . احمد .

تخریج: مسند الامام احمد ۵\۴۱۲.

د لغاتو حل: اجمع الایاس: ای اعزم علی قطع الیاس.

تشریح: د رخصت کولو یوه معنی هغه ده کوم چې په ژباړه کې بیان سوه او کیدای سي چې د رخصت کولو څخه مراد حیات (ژوند) رخصتول وي یعني ته داسي لمونځ کوه چې هغه ستا د ژوند آخري لمونځ دی ، د مشائخو په وصیتونو او نصائحو کې دا هدایت منقول دی چې طالب ته پکار دي چې هغه په خپل هر لمانځه کې دا تصور وکړي چې دغه زما آخري لمونځ دی کله چې هغه په دغه تصور سره لمونځ کوي نو یقینا هغه لمونځ به په کامل اخلاص ، پوره ذوق او شوق سره ادا کوي .

د حدیث په آخري الفاظو کې دې ته اشاره ده چې د نورو پر مال او سامان باندې نظر کول او دهغوئ څخه امید کوي د قلبي فقر او افلاس علامه ده ، د زړه غني کېدل پر دې منحصر دي چې د خلکو سره کوم مال او سامان دی د هغه څخه خپل امید قطع کړل سي .

د پرهیزگار فضیلت

﴿۴۹۹۹﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ لَمَّا بَعَثَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت معاذبن جبل ﷺ څخه روایت دئ چې کله رسول الله ﷺ هغه ولیږئ

إِلَى الْيَمَنِ خَرَجَ مَعَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوصِيهِ وَمُعَاذٌ رَاكِبٌ

یمن ته نو نصیحتونه یې ورته کول ، معاذ پر سپرلی سپور وو

وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي تَحْتَ رَاحِلَتِهِ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ يَا مُعَاذُ

او رسول الله ﷺ پر پښو وو ، کله چې رسول الله ﷺ د نصیحت څخه فارغ سو نو ورته وه یې فرمایل : اې معاذ !

إِنَّكَ عَسَى أَنْ لَا تَلْقَانِي بَعْدَ عَامِي هٰذَا و لَعَلَّكَ أَنْ تَمُرَّ بِمَسْجِدِي هٰذَا و

د سبا کال څخه وروسته کیدای سي چي ته زما سره ملاقات ونه کړلای سې او کیدای سي چي ته زما د دغه مسجد یا

قَبْرِي فَبَكَى مُعَاذٌ جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ الْتَفَتَ

قبر سره تیر سې، ددې په اوریدو سره معاذ په ژړا سو او د رسول الله ﷺ د فراق په غم کي یې ډیر و ژړل، ددې وروسته رسول الله ﷺ مخ مبارک وګرځوی

فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهِ نَحْوَ الْمَدِينَةِ فَقَالَ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِي الْمُتَّقُونَ مَنْ كَانُوا وَحَيْثُ كَانُوا. رواه الاحاديث الاربعة احمد.

او د مدینې په لوري یې مخ کړ وه یې فرمایل: ما ته زیات نژدې هغه خلک دي چي پرهیزګار دي که هغه هر څوک وي او هر ځای وي. احمد

تخریج: مسند الامام احمد ۵\۲۳۵.

د لغاتو حل: جشعا: ای جزعا وفزعا (بیره)

تشریح: فاقبل لفظ د التفت وضاحت دی او د معاذ رضی الله عنه له خوا د رسول الله ﷺ د مخ مبارک ګرځولو وجه کېدای سي دا وه چي رسول الله ﷺ دا نه غوښتل چي هغه ژړا کونکی ووینې ځکه چي په دغه صورت کي د رسول الله ﷺ زړه مبارک نرم کېدی او لیري نه وه چي رسول الله ﷺ هم په ژړا سوی وای چي په هغه سره به د رسول الله ﷺ پر زړه مبارک د غم احساس سخت کېدی، او همدارنګه رسول الله ﷺ دغه حقیقت ته اشاره وکړه چي زما په دغه خبره سره ستا غمجن کېدل او ژړا پر ځای ده مګر زما دغه دنیا پرېښودل او د آخرت سفر اختیارول یوه یقیني خبره ده نو یوې خوا ته رسول الله ﷺ د خپل مذکوره فعل په ذریعه حضرت معاذ رضی الله عنه ته ډاډ ورکړ او هغه یې ددغه حادثې قبلولو لپاره تیا رکړ او بلي خوا ته دخپل ارشاد په ذریعه هغه خبرداری ورکړ چي ته دا وخت زما او مدینې څخه بېلیږې مګر وروسته ته به مدینه ووینې مګر زما لېدل به دي په برخه نسي، بیا رسول الله ﷺ دې ته هم اشاره وفرمایل چي دانبیاؤ او پرهیزګارانو په منځ کي د حقیقي ملګرتیا او قرب کیف به په هغه جهان کي تر لاسه سي چي دارالبقاء دی، هلته چي کوم څوک د چا ملګری سي هغوئ د تل لپاره د یو بل سره یو ځای وي نو کوم څوک چي دا غواړي چي هغه ته زما د تل ملګرتیا شرف تر لاسه سي او د آخرت په دائمي ژوند کي هغه ته هغه مرتبه

په برخه سي چي د هغه په وجه هغه ته زما شفاعت او قرب تر لاسه سي نو هغه ته پکار ده چي تقوا او پرهیزګاري اختیار کړي ځکه چي دا هغه لار ده چي پر هغه په تلو سره یو سړی زما قرب تر لاسه کولای سي.

که هغه هر څوک وي او هر ځای وي: لکه څرنګه چي په ژباړه کي وضاحت وسو ، ددغه جملې مطلب دادی چي کوم څوک زما نژدېوالی او زما ملګرتیا غواړي نو هغه ته لازم ده چي هغه متقي جوړ سي ، قطع نظر ددې خبري څخه چي هغه د کومي قبیلې او کوم قوم دی او کوم رنګ او نسل څخه دی او په کوم هیواد کي هستوګن دی، یو سړی په مکه او مدینه کي زما د ښار او زما د قبیلې او کورنۍ کېدو سرېېره زما نژدې کیدای نسي کله چي هغه پرهیزګاري اختیار نه کړي او یو سړی زما څخه د ډېر لیري والي په وجه او زما سره د یو نسلي او قرابتي تعلق نه کېدو سرېېره که هغه په بصره کي وي یا په کوفه کي ، په یمن کي وي یا په بل یو لیري هیواد کي وي زما ډېر نژدې کیدای سي کله چي هغه پر پرهیزګاري باندي عامل وي، په دغه مثال داسي پوه سئ چي یو خو حضرت اویس قرني رحمۃ اللہ علیہ وو چي هغه ته هیڅکله د رسول الله ﷺ زیارت په برخه نه سو او په یمن کي هستوګن دی مګر هغه د تقوا او پرهیزګارۍ درجه کمال ته رسیدلی دی نو هغه څومره عظیمه مرتبه تر لاسه کړه او رسول الله ﷺ څخه د لیري اوسېدو سرېېره د رسالت په دربار کي د څومره قربت او نژدېوالي حامل سو ، ددې پر خلاف بل هغه خلک وه چي د هغوئ شمېر د مکې او مدینې د معززو او اشرافو خلکو څخه وو ، د رسول الله ﷺ په ښار کي اوسېدل او د رسول الله ﷺ د قبیلې او کورنۍ څخه وه مګر تقوا یې اختیار نه کړه ځکه د رسالت په دربار کي د قرب د مقام څخه محروم سول بلکه رسول الله ﷺ ته د تکلیف او ضرر رسولو په سبب ډېر شقي او بدبخته وګرځول سول نو رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد په ذریعه حضرت معاذ رضی اللہ عنہ ته ډاډ ورکړ چي زموږ د ظاهري بېلوالي غم مه کوه بلکه تقوا اختیار وه ، که ته متقي یې نو په ظاهري اعتبار سره که څه هم زموږ څخه بېل یې مګر په معنوي توګه به زموږ سره یو ځای یې.

طیبي رحمۃ اللہ علیہ وایي: د رسول الله ﷺ ارشاد د حضرت معاذ رضی اللہ عنہ لپاره د تسلي په توګه وو او د هغه متوجه کول مقصد وو چي کله ته خپل فرائض پوره کولو سره د یمن څخه مدینې ته بېرته راسې او ما په دغه دنیا کي موجود ونه وینې نو هغه وخت دلته د هغه خلکو اقتداء او اتباع کوه چي د خپل تقوا ، طهارت او کمال دینداري په سبب ما ته تر ټولو زیات نژدې او قریب دي، بیا طیبي رحمۃ اللہ علیہ وایي: په دغه ارشاد کي د کومو خلکو د اقتداء او اتباع کولو حکم ورکول کیږي د

هغوئ څخه د کنايې په توګه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ذات مراد وو، چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته اول خليفه جوړېدونکی وو ، ددې خبرې تائيد د حضرت جبير ابن مطعم رضي الله عنه ددغه روايت څخه هم کيږي چې د هغه تعلق ددغه ډول يوې واقعې سره دی چې په هغه کې رسول الله ﷺ د ځان څخه وروسته د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه خلافت ته اشاره فرمايلې ده ، نو په هغه صورت کې منقول دي چې يوه ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کې راغلل او رسول الله ﷺ څخه يې په يوه مسئله کې پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ هغې ته وفرمايل ته بل وخت راسه، هغې ښځې وويل : اې دالله رسوله ! که چيري زه په داسي وخت کي راسم او تاسو (په دنيا کي) موجود نه ياست نو بيا څه وکړم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که ته داسي وخت راسې چې زه (په دنيا کي) نه يم نو بيا ته ابوبکر رضي الله عنه ته ورسه ، يعني رسول الله ﷺ په صراحت سره اشاره وفرمايل چې زما څخه وروسته به ابوبکر رضي الله عنه خليفه وي او هغه وخت به د مسلمانانو مقتدا او پېشوا وي.

په هر حال ددغه حديث مقصد دې ته متوجه کول دي چې خپل ټول ديني او دنياوي معاملات او ټول ملکي او شرعي امورو کي هر وخت د احتياط او تقوا خيال ساتل پکار دي، او په دې کي د ټول امت لپاره دا ډاډ هم دی چې کومو خلکو ته د رسول الله ﷺ زمانه او د رسول الله ﷺ د خدمت او صحبت شرف حاصل سوی نه دی که څه هم هغوئ هر څومره و روسته پيدا سوي دي که چيري هغوئ تقوا اختيار کړي نو هغوئ ته به د رسالت په دربار کي تقرب حاصل وي. اللهم ارزقنا هذه النعمة . آمين.

د شرح صدر علامې

﴿۵۰۰۰﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ تَلاَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ (فمن

يُّرِدِ اللهُ أَنْ يَّهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلاَمِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

يرد الله ان يهديه ......) الله تعالى چې چا ته د هدايت اراده وکړي د هغه سينه د اسلام لپاره خلاصه کړي ، بيا يې وفرمايل :

وَسَلَّمَ إِنَّ النُّوْرَ إِذَا دَخَلَ الصَّدْرَ انْفَسَحَ فَقِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ لِتِلْكَ مِنْ

کله چي نور په سينه کي داخل سي نو سينه پراخه سي، پوښتنه وسول اې دالله رسوله! د دې حالت څه نښه ده چي د هغه څرګندونه سي،

عَلَمٍ يُّعْرَفُ بِهِ قَالَ نَعَمْ اَلتَّجَافِيْ مِنْ دَارِ الْغُرُوْرِ وَالْإِنَابَةُ إِلٰى دَارِ الْخُلُوْدِ وَالْاِسْتِعْدَادُ لِلْمَوْتِ قَبْلَ نُزُوْلِهِ. رواه البيهقي.

رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، هغه نښه د دار الغرور (دنيا) څخه ليري کيدل او د آخرت په لور رجوع کول او د مرګ د راتلو څخه تر مخه د مرګ لپاره تياري کول دي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۳۴۲\۷، رقم: ۱۰۵۵۲.

تشريح: شرح صدر يعني د سينې خلاصېدل هغه نعمت دی چي د هدايت او په ټولو دنياوي او ديني چارو کي د خير ذريعه ده، دا څرنګه معلومېږي چي فلانی سړی د شرح صدر حالت ته رسيدلی دی د دې د پېژندني لپاره درې علامې بيان سوي دي: ۱-يو خو د دار الغرور (دنيا) څخه ليري والی يعني زهد او قناعت اختيارول چي دا ځای د مکر او فريب څخه ډک دی او شيطان د دې په ذريعه خلکو ته فريب ورکوي، ۲: دوهم دا چي له دنيا څخه په بې پروا کېدو آخرت ته همېشه متوجه او سېدل او هر وخت د هغه د خير او غوره والي خيال ساتل، ۳: دريم دا چي د مرګ راتلو څخه مخکي د مرګ لپاره تياري کول يعني د توبې او انابت په ذريعه د خپلو خطاوو او ګناهو څخه د بېزاري اظهار کول، په عبادت او نېکو کارو کي سبقت کول او خپل وختونه په طاعات الهي کي بوخت ساتل، په چا کي چي دغه درې خبري موجود سي نو پوهېدل پکار دي چي هغه ټول شرائع اسلام په پوره يقين او اخلاص سره قبول کړي دي او هغه مقام ته رسيدلی دی چيري چي د احکام الهي پر ځای راوړل پر مزاج او طبيعت باندي د مشکل کېدو پر ځای روحاني او جسماني کيف او لذت ورته رسوي،

څرګنده دي وي چي شرح صدر يعني د سينې خلاصېدو څخه مراد په زړه کي د حق استعداد او صلاحيت پيدا کيږي او د مؤمن زړه چي د نور هدايت څخه ډک وي هغه بذات خود د ډيري لوی مرتبې حامل دی تر دې چي د عرش رب سره تعبير سوی دی لکه څرنګه چي په يو حديث قدسي کي الله تعالی فرمايي: (لايسعني ارضي ولاسمائي ولکن يسعني قلب عبدي المؤمن) نه خو زما ځمکه ګنجائش لري او نه زما آسمان مګر زما د مؤمن بنده زړه زما ګنجائش لري.

دنيا ته دار الغرور يعني د دوکې کور ويل سوي دي ځکه چي بېله شکه دغه دنيا په مکر او

فريب کي اخته کونکې او دوکه ورکونکې ده او ددې څخه زيات هيڅ وعده ماتونکی نسته ، خلک ددې په مينه کي په اخته کېدو سره څه کوي او ددې د تر لاسه کولو لپاره څه کوي مګر اخر دا د هيڅا نه وي او هر يوه ته دوکه ورکوي، په قرآن کريم کي خبرداری ورکړل سوی دی : (ولا يغرنكم الحيوة الدنيا) د دنيا ژوند دي تاسو په دوکه کي اخته نه کړي، کوم چي د دنيا د حقيقت او ماهيت تعلق دی نو په دې کي هم څه شک او شبه نسته چي دغه دنيا د خرابی او فساد او غم او محنت کور دی که څه هم ددې ظاهري حالت د يو نعمت په ډول معلوميږي او ددې مثال د سراب دی چي په لمر کي د ځلانده کېدو په وجه تږی هغه اوبه ګڼي او هغه ته ور ځغلي مګر کله چي ور نژدې سي نو حقيقت ورته معلوم سي او پوه سي چي زه په دوکه کي اخته وم بالکل همدارنګه پاچا، اميران، شتمن او دنيادار خلک د دنيا د ظاهري ځلا په دوکه کي اخته کيږي او کله چي حقيقت مخته راسي نو سترګي يې خلاصي سي مګر وخت تېر سوی وي او د حسرت او تاوان څخه پرته هيڅ په لاس نه ورځي .

د مرګ راتلو څخه مخکي: ددې څخه مراد د حيات مستعار هغه وخت مراد دی چي په هغه کي انسان د څه کولو صلاحيت او قوت لري يعني د روغتيا زمانه او په آخر درجه کي هغه زمانه هم مراد کيدای سي چي کله د مرګ مقدمات ظاهر سي او د ژوند د خاتمې ظاهري اسباب پيدا سي او هغه د ناروغی زمانه ده مګر د عمر هغه برخه چي انسان بالکل بېکاره او ناکاره جوړ کړي يعني ډېر سپين ږيرتوب چي په دغه زمانه کي نه د علم او معرفت تر لاسه کولو توان پاته سي او نه د عمل کولو قدرت وي نو دغه وخت د بې ګټې حسرت او ندامت څخه پرته نور هيڅ په لاس نه راځي نو هوښيارتيا په دې کي ده چي ددغه زمانې څخه مخکي د آخرت د سفر لپاره د لاري توښه تياره کړل سي .

زهد حکمت راولي

﴿۵۰۰۱﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَأَبِيْ خَلاَّدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْعَبْدَ يُعْطٰى زُهْدًا فِي الدُّنْيَا وَقِلَّةَ مَنْطِقٍ فَاقْتَرِبُوْا مِنْهُ فَإِنَّهُ يُلَقَّى الْحِكْمَةَ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابو هريرة او ابو خلاد (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي تاسو ووينئ چي يو بنده ته په دنيا کي زهد (بې شوقي) او لږ ويل ورکړل سوي دي

نو د هغه نژديوالى تر لاسه كړئ ځكه چي هغه ته حكمت وركړل سوى دى . بيهقي په شعب الايمان كي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۴\۲۵۴، رقم: ۴۹۸۵.

تشريح: په ځينو روايتو كي راغلي دي چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي اې دالله رسوله! زيات هوښيار مؤمن څوک دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه مؤمن چي مرګ ډېر يادوي او د مرګ څخه وروسته ژوند لپاره ډېره تياري كوي .

په ذكر سوي حديث كي د حكمت لفظ نقل سوى دى ، دد غه لفظ څخه مراد نېكي كړني او نيک ويل دي او كوم بنده ته چي الله تعالى حكمت وركوي دده لوى فضيلت منقول دى لكه څرنګه چي په قرآن كريم كي فرمايل سوي دي: (ومن يؤتي الحكمة فقد اوتي خيرا كثيرا) چا ته چي حكمت وركړل سو نو هغه ته ډېر زيات خير وركړل سو .

په هر حال د حديث خلاصه داده چي كوم څوک له دنيا څخه بې شوقي اختيار كړي وي او د كم ويني په صفت سره متصف وي نو هغه يو داسي مخلص او كامل عالم دى چي الله تعالى د نيكيو او ريښتيا ويلو په دولت سره نازولى دى او هغه يقينا د مرشد او مقتداء د جوړېدو اهل دى چي هغه د بندګانو د تربيت او اصلاح او هدايت ذمه داري په پوره توګه سرته رسولاى سي، نو پر هر سړي باندي واجب دي چي د هغه اطاعت او خدمت وكړي د هغه صحبت او هم نشيني اختيار كړي او دهغه سره هم كلامي ولري، ځينو عارفانو ډېر ښه ويلي دي چي د الله تعالى صحبت اختيار كړئ كه تاسو پر دې قادر كېداى نه سئ نو د هغه چا صحبت اختيار كړئ كوم چي د الله تعالى سره صحبت لري، او څرګنده ده چي داسي سړى هغه څوک كېداى سي چي په هغه كي د كردار، احوالو، اقوالو، افعالو صحيح او د باور وړ كېدو هغه علامې تر لاسه سي كوم چي د انشراح صدر د علامو په توګه په مخكني حديث كي بيان سوي دي او د هغه حيثيت او شخصيت داسي ظاهر او ثابت سي چي د هغه صحبت پر ټولو ديني او دنياوي معاملاتو باندي د خير په صورت كي اثر كوي ، او خپل رفقاء او معتقدين په دنياوي لذتو څخه كناره كش او بې شوقه او تر اړتيا زيات طلب او خواهش څخه بې پرواه جوړوي او عقبى ته يې متوجه كوي ، داسي سړي ته نه يوازي عالم او عارف ويل كيږي بلكه د انبياء عليهم السلام صحيح وارث او خليفه ورته ويل كيږي، الله تعالى دي موږ ټول د داسي عارف باالله د زيارت او خدمت او د هغه د صحبت او ملګرتيا په ستر نعمت سره مشرف كړي . آمين .

==========

بَابُ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ وَمَا كَانَ مِنْ عَيْشِ النَّبِيِّ ﷺ

(د فقيرانو فضيلت او دنبي ﷺ د ژوند بيان)

فقراء د فقير جمع ده او معنى يې د مفلس، محتاج او غريب ده، د فضيلت څخه مراد د اجر او ثواب زياتوب دى نو د فقيرانو د فضيلت د بيان مطلب هغه حديثونه نقل کول دي چې د هغو څخه دا څرګنده سي چې کوم خلک د خپل غربت او مفلسي په وجه خپل او د خپلو متعلقينو د ژوند په سختۍ صبر او په سکون سره تيروي او د ټولو مشکلاتو مقابله په ډېر عزم او استقلال سره کوي او پر تقدير الهي باندي راضي او شاکر اوسي نو هغوئ ته څومره زيات اجر او ثواب تر لاسه کيږي او هغوئ به په آخرت کي څومره لويه درجه تر لاسه کوي.

د نبي کريم ﷺ د ژوند څخه مراد د رسول الله ﷺ د خوراک، څښباک، اوسېدو او ژوند تېرولو هغه معيار او طريقه ده کوم چې د غريبانو او فقيرانو وي او هغه ته کفاف (د ضرورت په اندازه) ويل کيداى سي، په عنوان کي د فقيرانو فضيلت او د رسول الله ﷺ د ژوند يو ځاى ذکر کولو او د دواړو سره متفق حديثونه او مضمون په يوه باب کي نقل کولو کي چې کوم خاص حکمت دى هغه دې ته اشاره کول دي چې د اکثرو انبياؤ او اولياؤ په ډول د رسول الله ﷺ د ژوند معيار هم د غريبانو او فقيرانو په ډول وو، مګر رسول الله ﷺ د خوشحالۍ ژوند اختيارولو د قدرت سربېره خپل ژوند يې داسي تيروى لکه څرنګه چې يې يو غريب او مفلس سړى تيروي، او د خپلو اړوندو کسانو کفالت به يې په داسي سختۍ سره کوى کوم چې د غريبانو خلکو معمول دى نو د غريب مؤمن فضيلت ثابتولو لپاره دا خبره ډېره کافي ده.

څرګنده دي وي چې په دې باره کي د علماؤ اختلاف دى چې صبر او رضا اختيارونکى غريب او مفلس زيات فضيلت لري که شکر ګزار غني او خوشحال سړى، ځيني حضرات وايي چې شکر ګزار غني زيات فضيلت لري ځکه چې د هغه په لاس کي اکثر هغه شيان په عمل کي راځي چې صدقه او خيرات او مالي انفاق او ايثار يعني زکوة او قرباني او نيکو کارو کي د خرڅ په صورت کي د الله تعالى زيات قرب تر لاسه کولو ذريعه وي، او په حديث کي هم د غنيانو په تعريف کي داسي راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ذلک فضل الله يؤتيه من يشاء، يعني دغه مال او دولت د الله تعالى فضل دى چا ته چې وغواړي ورکوي يې، او اکثر حضرات وايي چې صبر کونکى غريب او مفلس زيات فضيلت لري چې د هغه تر ټولو لوى دليل

دادی چي خپله د رسول الله ﷺ د ژوند معيار د غنيانو مطابق نه وو بلکه د غريبانو او مفلسو په ډول وو او په دې اړه چي کوم حديثونه نقل کيږي هغه ټول د دغه حضراتو د قول دليلونه دي مګر دا خبره دي په ذهن کي وي چي د دغه اختلاف تعلق په اصل کي د مطلق فقيرانو او غنيانو د حقيقت او ماهيت څخه دی او د دې اعتبار هم د وجوه پر مختلف کېدو باندي دی .

د يو چا په اړه کله خو غناء يعني شتمنتوب د بښګڼي باعث جوړېدای سي او کله د هغه فقير او مفلس کېدل د هغه په اړه کي غوره کېدای سي لکه څرنګه چي په يو حديث کي فرمايل سوي دي چي کله الله تعالی پر خپل يو بنده باندي مهربان سي نو هغه بنده ته هغه شی ورکوي چي دده په حق کي د صلاح او فلاح ذريعه وګرځيږي که هغه فقر وي که غني توب ، او که ناروغتيا وي که روغتيا وي ، دا حکم د هغه ټولو صفاتو دی کوم چي د يو بل ضد دي .

د حضرت شيخ المشائخ سيد محي الدين عبد القادر جيلاني رحمة الله عليه په اړه منقول دي چي يو چا پوښتنه ځيني وکړه چي: صبر کونکی مفلس غوره دی که شکر ګزار شتمن، نو ده وفرمايل : شکر ګزار فقير تر دواړو غوره دی ، نو موږ د جواب په ذريعه د فقر او افلاس فضيلت ته اشاره وکړه چي فقر او افلاس په حقيقت کي يو نعمت دی چي پر هغه شکر ګزار کېدل پکار دي نه دا چي هغه يو مصيبت او بلا دی چي پر هغه صبر وکړل سي ، شيخ عالم، عارف رباني او ولي الله حضرت عبد الوهاب متقي رحمة الله عليه به د خپل شيخ په باره کي ويل هغه چي تر څو پوري پر موږ باندي د فقر او افلاس اعتراف ونه کړ تر هغه وخته يې زموږ سره بيعت ونه کړ، نو وه يې فرمايل چي داسي وا ياست: الفقر افضل من الغناء، يعني فقر او افلاس تر غنا غوره دی ، کله چي موږ دغه خبره تکرار کړه نو هغه زموږ لاس په خپل لاس کي ونيوی او موږ يې مريدان کړو .

دلته په دې خبره پوهېدل ضروري دي چي د شريعت په اصطلاح کي د فقير هغه مفهوم نه وي کوم چي په عامه توګه معروف دی يعني سوالګر او خلکو ته لاس غزونکی، بلکه د دغه لفظ څخه مراد هغه سړی دی چي په عرف عام کي غريب ورته ويل کيږي او د مال او اسبابو څخه خالي لاس وي، د اسلام په مذهبي کتابو کي احکامو کي د داسي سړي لپاره په عامه توګه دوه لفظونه استعماليږي چي د نصاب مالک نه وي چي د هغه په وجه پر ده زکوة او سرسايه واجب کيږي يا هغه سړي ته فقير ويل کيږي چي د يوې ورځي د خوراک په اندازه سامان لري او تر دې زيات د هغه سره هيڅ نه وي او مسکين هغه دی چي هغه د يوې ورځي د خوراک په اندازه مال او اسباب نه لري او ځينو حضراتو د دې برعکس ويلي دي ، په هر حال په عنوان کي چي د فقراء لفظ استعمال سوی دی د هغه څخه فقير او مسکين دواړه مراد دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د الله ﷻ نیک بندګان

﴿۵۰۰۲﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُبَّ أَشْعَثَ مَدْفُوعٍ بِالْأَبْوَابِ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ډیر خلک داسي دي چي ډیر بیر سري او په ګرد لړلي وي او هغوئ د دروازو څخه په پوري وهلو ایسته کیږي كه هغوئ په الله قسم وخوري نو الله ﷻ د هغوئ قسم پوره کوي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۰۲۴، رقم: ۱۳۸- ۲۶۲۲.

تشريح: چي هغوئ د دروازو څخه ایستل کیږي: مطلب دا نه دی چي هغه خلک د الله تعالی لپاره د دنیا د ظاهري زینت او عزت د شیانو څخه لیري اوسي د هغوئ په اړه دا تصور هم نسي کیدای چي هغوئ به داسي کار وکړي چي په هغه سره ذلت تر لاسه سي بلکه د دغه جملې څخه مراد دادی چي د اولیاء الله روحاني عظمتونه د هغوئ په بد حالۍ کي پټ وي او د هغوئ ظاهر د هغوئ د باطن تر دې حده سرپوښ وي كه بالفرض هغوئ د یو چا کور ته ورتلل غواړي نو د خلکو په نظر کي د هغوئ قدر نه کېدو په وجه هغوئ د دروازې څخه منع کړل سي او سرای ته يې دننه نه پرېږدي، څرګنده ده چي هغوئ د دروازو څخه ایستل کیږي نو هغوئ د مجلسو او محفلو څخه په طریقه اولی منع کیږي، په دې کي حکمت دادی چي الله تعالی دا نه غواړي چي د هغوئ حقیقت پر خلکو ظاهر سي او هغوئ په داسي حالت کي اوسي چي خلک هغوئ ته مائل سي چي د هغوئ د الله تعالی څخه پرته د بل چا سره انس او رغبت نه وي نو په حقیقت کي الله تعالی پاک نفس بندګان د دنیادارو او ظالمانو پر دروازو باندي په دربدو او د هغوئ حرام مال خوړلو څخه خوندي ساتي لکه څرنګه چي یو سړی خپل ناروغ د مضري آب او هواء او تاواني فضاء څخه د ساتني هڅه کوي نو هغه خلک د خپل مولی د درد څخه پرته د بل چا پر دروازه حاضري نه ورکوي او د خپل کمال استغناء او بې نیازۍ په وجه د خپل پروردګار څخه پرته د بل چا په مخکي لاس نه غزوي.

او كه د هغوئ په الله قسم وکړي ... الخ: مطلب دادی كه چیري هغوئ پر الله باندي په باور کولو سره او د هغه په قسم کولو سره دا ووایي چي الله تعالی به فلانی کار وکړي یا فلانی کار

به ونه کړي نو الله تعالی د هغوئ قسم رېښتونی کوي په دې توګه چي د هغوئ د وینا مطابق هغه کار کوي یا یې نه کوي، لکه څرنګه چي په باب الدیت کي د دې متعلق یو روایت تېر سوی دی، خلاصه دا چي هغه خلک که څه هم د ظاهري حالت په وجه د شتمنو په نظر کي قدر او قیمت نه لري مګر په حقیقت کي د الله تعالی په نزد د هغوئ مرتبه دومره لوړه او د الله تعالی په دربار کي دهغوئ عزت او مقبولیت دومره زیات دی که هغوئ پر یوه خبره قسم وکړي نو الله تعالی هغه رېښتیا کوي او دهغوئ قسم پوره کوي یعني هغه خبره پوره کیږي.

ځان ښه بلل

﴿۵۰۰۲﴾: وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ رَأَى سَعْدٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ لَهُ فَضْلًا عَلَى مَنْ دُونَهُ فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ. رواه البخاري.

د حضرت مصعب بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دئ چي سعد د خپل ځان په اړه دا ګمان وکړ چي هغه ته پر نورو ښېګڼه تر لاسه ده، (رسول الله ﷺ د هغه د ګمان ماتولو لپاره) وفرمایل: تاسو ته یوازي د غریبانو او مسکینانو په وجه ستاسو د اسلام ددښمنانو په مقابله کي مرسته کیږي او تاسو ته رزق درکول کیږي. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۶\۸۸، رقم: ۲۸۹۶.

تشریح: حضرت سعد رضي الله عنه د ډېرو اوصافو او ښېګڼو خاوند وو، د مثال په توګه د مهرباني، سخاوت، او فیاضي په ډول اعلی صفتونه په هغه کي په پوره توګه موجود وه، د هغه په ذهن کي دا خبره پیدا سوه چي کوم خلک زما په ډول ځانګړتیا او ښېګڼه نه لري د هغوئ په نسبت زه د مسلمانانو زیات مرسته او اعانت کوم او په دې اعتبار د اسلام لپاره زما وجود زیات ګټور دی، د ذهن دغه خبره به هم پر ژبه راغلې وي نو رسول الله ﷺ ددغه ګمان څخه هغه منع کړ او څرګنده یې کړه چي ستا په دغه اندازسره فکر غیر مناسب دی تا ته پکار دي چي کوم خلک د توان او قوت او مال په اعتبار تر تا کم دي د هغوئ عزت کوه هغوئ کم او حقیر مه ګڼه او د هغوئ سره د تکبر رویه مه اختیاروه ځکه چي هغوئ مسکینان دي په هغوئ کي د خلوص او رېښتیا ججوهر وي پر هغوئ د الله تعالی خاص مهرباني وي او تاسو د هغوئ د دعاوو د برکتو څخه ګټه تر لاسه کوئ، الله جل جلاله د دوئ په سبب تاسو پر دښمنانو غالب کوي او ستاسو په رزق

كي بركت در كوي.

غريبانو ته د جنت زيري

﴿۵۰۰۴﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَكَانَ عَامَّةَ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينُ وَأَصْحَابُ الْجَدِّ

زه د جنت پر دروازو ودريدم (يعني د معراج په شپه يا په خوب كي) كوم خلك چي په جنت كي داخل سول په هغوئ كي زيات شمير د غريبانو وو، او شتمن مي وليدل چي

مَحْبُوسُونَ غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ. متفق عليه.

د قيامت په ميدان كي هغوئ تم كړل سوي دي مګر د كافرانو په باره كي حكم سوی وو په بيولو دوږخ ته ، بيا زه د دوږخ پر دروازه ودريدم او وه مي ليدل چي په دوږخ كي زيات شمير د ښځو وو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۵، رقم: ۶۵۴۷، ومسلم ۴\۲۰۹۶، رقم: ۹۳- ۲۷۳۶.

د لغاتو حل: الجد: اى ارباب الغنى من المؤمنين الاغنياء والامراء.

تشريح: د محبوسون معنى ده هغه خلك چي جنت ته د تللو څخه منع سوي وي، خلاصه دا چي په مؤمنانو كي كومو خلكو په دغه دنيا كي د شتمنۍ او عزت په وجه د عيش او عشرت ژوند تېر كړي وي نو هغوئ به جنت ته د تللو څخه تر هغه وخته پوري منع كړل سي تر څو چي د هغوئ څخه په ښه ډول حساب نه وا خيستل سي نو هغه وخت به هغه خلك د دې خبري څخه سخت غم محسوس كړي چي هغوئ ته په دنيا كي د مال او سامان زياتوب ولي تر لاسه سوی وو ، او هغوئ د خپل خواهشات نفس مطابق دنياوي لذاتو او عشرت څخه ولي برخمن سوي وه نو هغوئ به د عذاب مستحق وي او كه هغوئ محض هغه شيان اختيار كړي وي كوم چي حلال ګرځول سوي دي بيا به هم هغوئ د حساب او كتاب د مرحلو څخه په هر حال تېرېدل وي، حال دا چي فقيرانو او غريبان خلك به د دې څخه خلاص وي چي نه خو به د هغوئ څخه حساب اخيستل

کیږي او نه به هغوئ جنت ته د تللو څخه منع کیږي بلکه هغوئ به د شتمنو خلکو څخه څلوېښت کاله مخکي جنت ته ولاړ سي او د هغوئ د شتمنو خلکو څخه جنت ته مخکي تلل به د هغه نعمتو په عوض کي وي چي د هغو څخه په دنيا کي محروم سوي وه.

جنتيان او دوږخيان

﴿۵۰۰۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما په جنت کي وکتل نو زيات شمير غريبان مي وليدل او په دوږخ کي مي وکتل نو هلته زيات شمير د ښځو وو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۴۱۵، رقم: ۶۵۴۶، ومسلم ۴\ ۲۰۹۶، رقم: ۹۴- ۲۷۳۷

د غريبانو فضيلت

﴿۵۰۰۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ يَسْبِقُونَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا. رواه مسلم.

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: **فقراء مهاجرين به** څلوېښت کاله مخکي تر شتمنو په جنت کي داخل کړل سي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۲۲۸۵، رقم: ۳۷- ۲۹۷۹.

تشريح: د څلوېښتو کالو څخه مراد هغه وخت دی چي زموږ ددغه دنيا د شپې او ورځي په اعتبار د څلوېښتو کالو په اندازه دی او ددغه حديث د ظاهري مفهوم څخه دا څرګندیږي چي ددغه حديث تعلق په خاصه توګه د هغه فقيرانو سره دی چي د مهاجرينو څخه وه، همدارنګه د اغنياء څخه مراد هغه غنيان مهاجرين دي، پاته سوه دا خبره چي دلته د فقيرانو او غنيانو

مهاجرينو قيد ولي لګول سوي دي، نو ددې حقيقت د دوهم فصل د اول حديث څخه معلوميږي، او په جنت کي د فقيرانو مخکي د اخلېدو وجه به دا وي چي غنيان به د حساب د طوالت په وجه د حشر په ميدان کي تم وي حال دا چي فقيران به بېله حسابه په جنت کي په داخلېدو سره د هغه ځای سعادتونو او نعمتونو څخه برخمن کيږي.

﴿۵۰۰۷﴾: وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت سهل بن سعد ﷛ څخه روايت دئ چي يو سړي د رسول الله ﷺ سره نژدې تير سو،

وَسَلَّمَ فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهُ جَالِسٍ مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَشْرَافِ

رسول الله ﷺ د خپل نژدې ناست ملګري څخه پوښتنه وکړه ددې سړي په باره کي ستا څه رايه ده (کوم چي اوس تير سو)؟ هغه وويل: دا سړی د شريفو خلکو څخه دی،

النَّاسِ هَذَا وَاللّٰهِ حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ يُنْكَحَ وَإِنْ شَفَعَ أَنْ يُشَفَّعَ قَالَ فَسَكَتَ

او قسم په خدای ددې ور دی که يوې ښځي ته د نکاح پيغام ورکړي نو هغه به يې قبول کړي او حاکمانو ته که د چا سفارش وکړي نو سفارش به يې قبول سي، ددې اوريدو سره (رسول الله

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ مَرَّ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

ﷺ) پټه خوله سو بيا يو بل سړی د رسول الله ﷺ په خوا کي تير سو، رسول الله ﷺ د هغه ناست

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَذَا رَجُلٌ مِنْ فُقَرَاءِ

ملګري څخه پوښتنه وکړه دد غه سړي په اړه ستا څه رايه ده؟ هغه وويل: اې دالله رسوله!

الْمُسْلِمِينَ هَذَا حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ لَا يُنْكَحَ وَإِنْ شَفَعَ أَنْ لَا يُشَفَّعَ وَإِنْ قَالَ

دا سړی د مسلمانانو فقراؤ څخه دی ددې ور دی که چا ته د نکاح پيغام ورکړي نو پيغام به يې قبول نه کړل سي که چا ته سفارش وکړي نو سفارش به يې قبول نه سي که چا ته خبره وکړي نو

أَنْ لَا يُسْمَعَ لِقَوْلِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا خَيْرٌ مِنْ مِلْءِ

الْأَرْضِ مِثْلَ هَذَا. متفق عليه.

خبره به يې وانه وريدل سي ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : دا سړى تر هغه بل ډير غوره دئ كه څه هم چي د هغه په ډول خلكو څخه مځكه ډكه سي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۷۳، رقم: ۶۴۴۷.

تشريح: د هغه چا په ډول د ډكي مځكي څخه هم غوره دى...الخ: مطلب دادى كه ټول مځكه د هغه ډول خلكو څخه ډكه سي چي مځكي تېر سوي وه او د هغه تعريف تا وكړنو هغه سړى چي دخپل فقر او افلاس په وجه ستاسو په نظر كي دومره قدر نه لري د مرتبې او فضيلت په اعتبار ددغه ټول نړۍ د خلكو څخه غوره دى .

په څرگنده دا معلوميږي چي هغه وخت د رسول الله ﷺ سره كوم څوك ناست وو او رسول الله ﷺ د هغه دوو كسانو په اړه پوښتنه ځيني كړې وه هغه به خپله غني او شمتن سړى وو نو د هغه سره د ذكر سوي سوال او جواب د هغوئ په حق كي دا خبرداري وو چي غريب او نادار مسلمانانو ته هيڅكله د سپكاوۍ په نظر كتل نه دي پكار ځكه چي د الله ﷻ په نزد هغوئ ته چي كوم فضيلت حاصل وو هغه لويو لويو شتمنو كسانو ته هم حاصل نه وو .

كوم چي ددې خبري تعلق دى چي رسول الله ﷺ د شتمنو مسلمانانو په مقابله كي د غريب مسلمان فضيلت ولي بيان كړنو ددې وجه داده چي په عامه توگه د غريب مسلمان زړه ډېر صاف وي او د هغه په وجه هغه حق ډېر ژر قبلوي او د الله تعالى د احكامو پيروي زياته كوي ، ددې پر خلاف غني او شتمن خلک په عامه توگه په بې حسي او شقاوت كي اخته وي چي د هغه په وجه په هغوئ كي سركښي، بې نيازي او د تكبر ماده پيدا كيږي چي هغوئ د حق قبلولو او احكام الهي د پيروي څخه منع كوي او د داسي خلكو په اړه الله تعالى فرمايلي دي :

(سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ)،

او ددغه حقيقت اندازه د علماؤ شاگردانو او د صالحانو مريدان په لېدو كېداى سي چي په هغوئ كي كوم خلک غريب وي هغوئ د حق خبره ډېر ژر قبلوي او كوم خلک چي شتمن او مالداروي هغوئ په هره خبره كي حيله او حجت كوي.

د حديث د ظاهري مفهوم څخه دا څرگنديږي چي اول سړى هم د شتمنو مسلمانانو څخه وو نه دا چي كافر وو ځكه چي مفاضله يعني په خپلو كي د يو بل اخروي فضيلت څرگندولو تعلق د كفارو او مسلمانانو په منځ كي نسي كيداى او ددې وجه داده چي په كفارو كي هيڅا ته د خير نسبت نسي كيداى او څرگنده ده چي په كوم چا كي د خير څه وجود نه وي نو هغه ته د اخروي

فضيلت نسبت هم نسي كيداى ، ځينو علماؤ دا ويلي دي چي كوم مسلمان په خپله ژبه سره داسي ووايي چي : (النصراني خير من اليهودي) يعني عيسائي تر يهودي افضل دى نو دهغه په باره كي ببره ده چي هغه د كفر په دائره كي داخل سوى نه وي ځكه چي هغه ددغه جملې په ذريعه د خير وجود ثابت كړ چي په هغه كي د خير وجود نسي كيداى بيا هم پر هغه دكفر اطلاق په جزم (كلك والي) سره نسي كيداى ځكه چي په ځينو وختو كي د لفظ خير په ذريعه د اخروي سعادت پر ځاى د حق زيات نژدېوالي مفهوم هم اخيستل كيږي او كيداى سي چي په ذكر سوې جمله كي د خير لفظ په دغه مفهوم كي استعمال سوى وي.

د محمد ﷺ كورنۍ

﴿۵۰۰۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ . متفق عليه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي د محمد ﷺ كورنۍ هيڅكله دوې ورځي پرله پسې په ماړه نس د اوربشو ډوډۍ نه ده خوړلې تر څو چي رسول الله ﷺ وفات سو . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹\۵۴۹، رقم: ۵۴۱۶، ومسلم ۱۴\۲۲۸۲، رقم: ۲۲- ۲۹۷۰.

تشريح: د دوو ورځو پرله پسې څخه دا ښكاره سوه چي د رسول الله ﷺ او دهغه د كورنۍ معمول دا وو چي كه چيري يوه ورځ به يې په ماړه نس ډوډۍ وخوړل نو په دوهمه ورځ به وږي وه او دا په دې وجه وه چي رسول الله ﷺ د خوشحالۍ ژوند باندي د فقر او افلاس ژوند ته ترجيح وركړې وه او كله چي د الله تعالى له خوا رسول الله ﷺ ته د دنيا د خزانو وړانديز وسو او حكم وسو كه چيري ته غواړې نو د مكې غرونه به ستا لپاره د سروزرو كړم مگر رسول الله ﷺ ددې پر ځاى فقر او تنگدستي اختيار كړه او وه يې فرمايل چي زه دا غواړم چي يوه ورځ نس موړ كړم او په دوهم ورځ وږى يم په كومه ورځ چي خوراك وكړم نو په هغه ورځ د الله ﷻ شكر ادا كړم او په كومه ورځ چي وږى يم نو په هغه ورځ صبر وكړم.

د ذكر سوي حديث څخه د ځينو خلكو ددغه قول ترديد كيږي چي رسول الله ﷺ د خپل ژوند په آخري برخه كي شتمن سوى وو، كه چيري رسول الله ﷺ د خپل عمر په آخر كي په حقيقت كي غني سوى واى نو بيا د بي بي عائشې ﵂ ددغه ويلو څه معنى ده چي د رسول الله ﷺ د كورنۍ د رسول الله ﷺ تر وفات پوري دا معمول وو چي هغوئ هيڅكله پرله پسې تر دوو ورځو

پوري د اوربشو په ډوډۍ نس نه دی موړ کړی ، مګر په دې کي شک نسته چي د نبوت په آخره زمانه کي اسلام ته طاقت او غلبه تر لاسه سوه او مجاهدينو مختلفو سيمي فتح کړې نو په هغه صورت کي د مال غنيمت وغيره تاکل سوې برخه رسول الله ﷺ ته تر لاسه کېدل او لږ ډېر مال به راتلی مګر صحيح روايتونه شايد دي چي رسول الله ﷺ هغه مال هم د ځان لپاره نه ساتی بلکه څرنګه چي به راتلی هغه به يې د پروردګار په لاره کي مصرفوی او خپله به تل خالي پاته کېدی مګر د زړه غناء به يې نوره هم زياتېدل ، حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي د رسول الله ﷺ دا حالت وو چي پرله پسې څو څو شپې به يې په لوږه کي تېروی ، رسول الله ﷺ او اهل بيت ته د شپې خوراک نه تر لاسه کېدی او کله نا کله به د خوراک تر لاسه کېدو په صورت کي هم د رسول الله ﷺ پر دسترخوان کومه ډوډۍ وه هغه به د اوربشو وه .

ددغه حديث څخه څرګنده سوه چي زموږ د زمانې غريبانو او فقيرانو کي هيڅا دومره سخت ژوند نه دی تېر کړی او نه يې تېرولای سي څومره سخت ژوند چي به رسول الله ﷺ تيروی او همدارنګه د هغه ذات وو چي نه يوازي افضل البشر بلکه افضل الانبياء دی چي دهغه د سترګو مبارکو په اشاره د ټولي دنيا نعمتونه يې په پښو کي راتلل، نو د رسول الله ﷺ په دغه ژوند کي غريب او نادار مسلمانانو ته د لوی ډاډ او اطميمان سامان پټ پروت دی .

څرګنده دي وي چي د رسول الله ﷺ دومره د فقر او افلاس ژوند تېرول او د لوږي تکليف زغمل د اضطراري او مجبورۍ په وجه نه وو بلکه دا د خپل قصد او اختيار نتيجه وه چي رسول الله ﷺ د دنيا په لذتونو او نعمتونو سره څه کار نه وو ، پر قوت لا يموت باندي يې ګزاره کول او پر خپل او خپل کورنۍ پر اړتياوو يې د فقيرانو او مسکينانو اړتياوو ته ترجيح ورکول ځکه نو رسول الله ﷺ دومره سخت ژوند تېروی .

د نبي کريم ﷺ خوراک

﴿۵۰۰۹﴾: وَعَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ مَرَّ بِقَوْمٍ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ شَاةٌ مَصْلِيَّةٌ فَدَعَوْهُ فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَ وَقَالَ خَرَجَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الدُّنْيَا وَلَمْ يَشْبَعْ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ. رواه البخاري

حضرت سعيد مقبري د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت کوي چي ابوهريرة د يو ډلي په خوا کي تير سو چي مخته يې پوخ سوی پسه پروت وو ، ابوهريره رضي الله عنه ته هغه خلکو بلنه ورکړه خو هغه انکار وکړ

او وه یې ویل رسول الله ﷺ د دنیا څخه تشریف یووړ او هیڅکله یې د اوربشو ډوډۍ هم په ماړه نس ونه خوړل. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۵۴۹، رقم: ۵۴۱۴.

د لغاتو حل: مصلية: اى مشوية.

د نبي کريم ﷺ په کور کي

﴿۵۰۱۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّهُ مَشَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزِ شَعِيرٍ

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي ما رسول الله ﷺ ته د اوربشو ډوډۍ

وَإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ وَلَقَدْ رَهَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِرْعًا لَهُ بِالْمَدِينَةِ عِنْدَ

او ویلي کړې بوی ناکه وازګه یووړل، او نبي کريم ﷺ خپله زغره د مدینې د یو یهودي سره ګرو

يَهُودِيٍّ وَأَخَذَ مِنْهُ شَعِيرًا لِأَهْلِهِ وَلَقَدْ سَمِعْتُهُ يَقُولُ مَا أَمْسَى عِنْدَ آلِ

مُحَمَّدٍ صَاعُ بُرٍّ وَلَا صَاعُ حَبٍّ وَإِنَّ عِنْدَهُ لَتِسْعَ نِسْوَةٍ. رواه البخاري.

کړې وه او په هغه یې د کورنۍ لپاره اوربشې اخیستې وې، راوي وایي ما د انس څخه اوریدلي دي چي د محمد ﷺ کورنۍ سره به په ماښام کي نه یو صاع غنم وه او نه یو بله غله، حال دا چي د رسول الله ﷺ نهه (۹) بیبیاني وې. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۳۰۲، رقم: ۲۰۶۹.

د لغاتو حل: سنخة: اى متغيرة الريح لطول المكث (خراب سوی شی چي بوی یې کړی وي)

تشريح: د روایت د آخري الفاظو په ذریعه دا بیانول مقصد دي چي دا سي هیڅکله نه وه سوي چي رسول الله ﷺ خپل کورنۍ لپاره په یوه شپه کي د راتلونکي ورځي لپاره غله پرې ایښې وي سره ددې چي رسول الله ﷺ نهه بیبیاني درلودې او د هغوئ د اړتیا لپاره لږ غله د رسول الله ﷺ سره پاته کېدل پکار وو.

او کوم چي د یهودي څخه د رسول الله ﷺ د پور اخیستلو خبره ده نو ددې وجه په ظاهره دا معلومېږي که چیرې رسول الله ﷺ د مسلمان څخه پور اخیستی وای نو پر مسلمان به د رسول الله ﷺ حال څرګند سوی وای او هغه به د رسول الله ﷺ د اړتیاوو پوره کولو هڅه کولای حال دا

چي رسول الله ﷺ دا هيڅکله نه خوښول چي د رسول الله ﷺ د اړتياوو بار دي د مسلمانانو پر وږو وي او هغوئ رسول الله ﷺ ته يو څه ورکړي . مګر دا ويل زيات صحيح دي چي د رسول الله ﷺ د مسلمان پر ځای د يهودي څخه پور اخيستل په اصل کي ددې خبري د زيات تنزه او کمال احتياط په وجه وو چي رسول الله ﷺ د خپل امت د خلکو څخه د يو اجر او معاوضې غوښتونکی وي که هغه اجر او معاوضه د حقيقت په اعتبار وي بلکه محض صورتا وي لکه څرنګه چي د پور صورت دی که چيري رسول الله ﷺ د يو مسلمان څخه پور اخيستی وای نو پر هغه د اجر او معاوضې اطلاق نه کېدی مګر ممکن وه چي په يوه درجه کي د ګټي تر لاسه کولو په وجه پر هغه هم صورتا د اجر او معاوضې اطلاق کېدی ځکه رسول الله ﷺ احتياطا دا هم نه خوښول چي د يو مسلمان څخه د پور اخيستلو په صورت کي مالي ګټه تر لاسه کړي لکه چي دالله تعالی ارشاد دی : (قُلْ لاَ اَسْئَلُكُمْ مِّنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلاَّ عَلَى اللهِ) .

د رسول اللهﷺ د دغه کمال احتياط يو نظر زموږ د امام ابو حنيفة رحمه الله په ژوند کي هم تر لاسه کيږي د هغه په اړه نقل سوي دي چي د داسي سړي د دېوال د سوري څخه به يې هم ګټه نه اخيستل چي پر هغه به د هغه پور وو او د هغه دغه احتياط ددغه حديث په وجه وو چي : كل قرض جر منفعة فهو ربوا ، يعني کوم پور چي ګټه راوړي نو هغه سود دی .

د ذکر سوي حديث په ضمن کي يو سوال پيدا کيږي هغه دا چي په ځينو صحيح روايا تو کي دا ثابته ده چي رسول الله ﷺ دخپل ازواج مطهراتو د کفايت په اندازه د اړتياوو ځينو شيان د يوه کال لپاره ايښي وه ، حال دا چي دلته کوم حديث نقل کيږي ددې څخه د هغه برعکس ثابتيږي نو ددې جواب علماؤ دا بيان کړی دی چي حقيقت دا دی چي په شروع کي تر ډېره وخته پوري د رسول الله ﷺ په ژوند کي د فقر او فاقې غلبه وه او د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي هيڅکله به يې يو شی د بلي ورځي لپاره ذخيره کړی نه دی په کومه ورځ چي به څه تر لاسه سول هغه به د هغه ورځي په اړتياوو کي مصرف کېدل او د بلي ورځي لپاره به يې د قناعت او توکل څخه پرته هيڅ نه پاته کول ، مګر وروسته کله چي معاشي حالت غوره سو او په آمدني کي پراختيا وسول نو رسول الله ﷺ د خپلو ازواجو مطهراتو لپاره د يوه کال خوراکي مواد جمع کړي وه .

ځينو حضراتو په دغه دواړو روايتو کي په دې توګه مطابقت پيدا کړی دی چي په آل محمد کي لفظ دآل زيات دی لکه څرنګه چي د اهل عربو په بيان کي دا هم تر لاسه کيږي چي هغوئ د آل

فلان ويلو سره د هغه لفظ معنى د فلاني اهل بيت پر ځاى يوازي د هغه فلاني ذات مراد اخلي د مثال په توګه که چيري هغوئ داسي ووايي چي د آل زيد يعني د زيد د کورنۍ سره روپۍ نسته نو د دغه جملې څخه د هغوئ مراد داوي چي په خاصه توګه د زيد سره روپۍ نسته نو دا خبره د حقيقت څخه ليري نه ده چي کله هم دوې ورځي پرله پسې د اوربشو ډوډۍ په ماړه نس خوړل يا دراتلونکي ورځې لپاره دغلي وغيره نه جمع کولو خبره په خاصه توګه د رسول الله ﷺ د ذات مبارکه سره تعلق لري يعني داسي نه وي سوي چي خپله رسول الله ﷺ پرله پسې دوې ورځي په ماړه نس ډوډۍ خوړلې وي يا د خاص خپل ذات لپاره راتلونکي ورځي تر نيمايي پوري يې څه ايښې وي ، مګر که چيري رسول الله ﷺ کله نا کله داسي کړي وي نو د خپل ازواجو مطهراتو لپاره تر څو ورځو يا د کال خوراکي مواد د ضرورت په اندازه ايښې وي نو دا د دې خبري خلاف نه ده.

د دنيا طلب د مؤمن کار نه دی

﴿۵۰۱۱﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ

د حضرت عمر ﷛ څخه روايت دئ چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، دغه وخت

مُضْطَجِعٌ عَلٰى رِمَالِ حَصِيْرٍ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ فِرَاشٌ قَدْ أَثَّرَ الرِّمَالُ بِجَنْبِهٖ

(رسول الله ﷺ) د خرماوو پر چټائي په تکيه کولو پروت وو او په مينځ د رسول الله ﷺ او د هغه چټائي بل فرش نه وو

مُتَّكِئٌ عَلٰى وِسَادَةٍ مِّنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيْفٌ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ادْعُ اللّٰهَ فَلْيُوَسِّعْ

پر تيکه کولو پروته سره پر اړخ مبارک يې داغونه لګيدلي وه او د رسول الله ﷺ سر مبارک ته د پوست بالښت وو چي د خرماوو د پوستکو څخه ډک کړل سوی وو ، ما وويل: اې دالله رسوله! د الله ﷻ څخه سوال وکړه چي ستا سو امت ته پراخي

عَلٰى أُمَّتِكَ فَإِنَّ فَارِسَ وَالرُّوْمَ قَدْ وُسِّعَ عَلَيْهِمْ وَهُمْ لَا يَعْبُدُوْنَ اللّٰهَ فَقَالَ

او خوشحالي ورکړي ، د فارس او روم خلک خوشحاله جوړ کړل سوي دي ، حال دا چي هغوئ عبادت نه کوي ، رسول الله ﷺ راته وفرمايل:

أَوَفِيْ هٰذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ أُولٰئِكَ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ

اې دخطاب زويه ! ايا ته اوس هم په دې خيال کي يې (يعني تا ته ددې بصيرت نه دي درکړل سوی او ته تر اوسه پوري د حقيقت څخه ناخبريې) چي دا هغه خلک دي (يعني د روم او فارس) چي هغوئ ته په دنيا کي معاشونه ورکړل سوي دي).

الدُّنْيَا، وفي روايَةٍ اَمَا تَرْضٰى اَنْ تَكُوْنَ لَهُمُ الدُّنْيَا وَلَنَا الْاٰخِرَةَ. متفق عليه.

او په يوه روايت کي دي چي رسول الله ﷺ د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په جواب کي دا الفاظ وفرمايل: ايا ته په دې خبره راضي نه يې چي دوئ ته دنيا تر لاسه سي او موږ ته آخرت. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۱۱۴۱، رقم: ۲۴۶۸، ومسلم ۲\۱۱۰۵، رقم: ۳۰- ۱۴۷۹.

تشريح: پر تاټ باندي پروت وو: يعني هغه تاټ د رسول الله ﷺ بستره وه چي هغه پر کټ باندي په اچولو سره پر هغه پرېوتی، يا هغه تاټ به پر مځکه غوړېدلی وو او پر هغه ځيږ تاټ به يې ارام کوی او په ځينو عبارتو کي دا مفهوم دی چي د رسول الله ﷺ کوم تاټ وو هغه د خرما د رسيو څخه جوړ سوی وو لکه څرنګه چي کټ د رسيو څخه اوبدل کيږي.

رمال: د راء په پېښ او زور دواړه سره دی، او د رمل جمع ده او د مرمول په معنی کي استعمال سوی دی لکه چي مخلوق د خلق په معنی کي استعماليږي.

ليف: د لام په زير او د راء په جزم سره، د خرما پوستکي ته وايي، خلاصه دا چي د رسول الله ﷺ کوم بالښت مبارک وو هغه د پوست وو او په هغه کي د پمبوو پر ځای د خرما پوستکي وه، کوم خلک چي غريب وي د پمبوو بالښت جوړول د هغوئ په وس نه وي نو هغوئ د خرما د پوستکي څخه بالښت وغيره جوړوي.

حضرت عمر رضی اللہ عنہ چي د امت په اړه د مال د پراختيا او رزق د وسعت د دعاء لپاره رسول الله ﷺ ته کوم خواست وکړ د هغه وجه دا وه چي هغه ولېدل چي رسول الله ﷺ په فقر اختيارولو سره دومره سخت ژوند تېروي او خپل ځان يې په دغه حالت کي ساتلی دی نو هغه فکر وکړ که ټول امت په دغه فقر او مفلسۍ کي اخته سي او د ژوند غربت او ستونزي ورته پېښي سي نو ددغه امت هغه خلک کوم چي د ټېنګي عقيدې او مزاج نه وي ددغه سخت ژوند تاب نه راوړلای سي او د زغم نه وړ سختيو کي به اخته سي نو هغه د داسي خلکو لپاره دا وګڼل چي هغوئ ته مالي وسعت او پراختيا ورکړل سي.

مګر طيبي رحمہ اللہ وايي چي د حضرت عمر رضی اللہ عنہ اصل مقصد خپله د رسول الله ﷺ د ذات مبارک لپاره د مالي وسعت او پراختيا خواهش کول وو مګر هغه دا خبره د رسول الله ﷺ د شان

عظمت مناسب ونه ګڼل چي په خاصه توګه د رسول الله ﷺ لپاره ددغه ادنی او ناپاکه دنیا طلب ظاهر کړي لکه څرنګه چي په یو بل روایت کي منقول دي چي یو وار حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو وه یې لیدل چي رسول الله ﷺ په یو ډېره توده، تنګه او تیاره خونه کي پړیو ټاټ باندي پروت وو، هغه د خوني پر کونجانو باندي نظر واچوی نو وه یې لیدل چي د پوست دوې څلور ټوټې او یو دوه لوښي پراته دي، د رسول الله ﷺ د غربت په لیدو سره حضرت عمر رضي الله عنه په ژړا سو، رسول الله ﷺ پوښتنه ځیني وکړه چي اې ابن خطاب! ولي ژاړې، هغه وویل: اې دالله رسوله! ستاسو د حالت په لیدو سره ژاړم چي تاسو د الله جل جلاله د رسول کېدو سره په دغه حالت کي پراته یاست او قیصر او کسری څومره د ناز او عیش ژوند تېروي، ددې څخه وروسته د روایت هغه الفاظ دي کوم چي (اوفي هذا يا بن الخطاب) څخه تر پایه پوري دي چي په مخکني حدیث کي نقل سوي دي، د طیبي رحمه الله دغه وضاحت که څه هم حقیقت ته ډېر نژدې دی مګر خپله د حضرت عمر رضي الله عنه الفاظ: (فان فارس و روم قد وسع عليهم) سره سم لومړی وضاحت مناسب دی.

د اهل صفه غريبي

﴿۵۰۱۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ سَبْعِينَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ مَا

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي د اصحاب صفه څخه اویا کسان ما ولیدل چي په

مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَاءٌ إِمَّا إِزَارٌ وَإِمَّا كِسَاءٌ قَدْ رَبَطُوا فِي أَعْنَاقِهِمْ فَمِنْهَا مَا

هغوئ کي د یوه کس سره هم څادر نه وو، یوازي لنګ یا یوه شړۍ به ورسره وه چي په غاړو کي به یې زړېدل په هغو کي د ځینو لنګ به بیخي تر پنډۍ پوري وو او د ځینو تر بجلکو پوري د چا

يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الْكَعْبَيْنِ فَيَجْمَعُهُ بِيَدِهِ كَرَاهِيَةَ أَنْ تُرَى عَوْرَتُهُ. رواه البخاري

لنګ چي به پورته وو هغه به خپل لنګ په لمانځه کي په لاس سره ونیوئ چي شرمګاه یې ښکاره نه سي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱/ ۵۳۶، رقم: ۴۴۲.

تر ځان كښته ته كورئ

﴿۵۰۱۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي داسي كس

مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ وَالْخَلْقِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ. متفق

ويني چي د هغه څخه شتمن او ښكلي وي نو هغه ته پكار ده چي پر هغه چا هم نظر واچوي چي د هغه څخه د كمي درجې وي. بخاري او مسلم

عليه و في رواية لمسلم قَالَ انظروا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ فَهُوَ أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ.

او د مسلم په يو بل روايت كي دا الفاظ دي چي هغه چا ته وګوري چي ستاسو څخه د كمي درجې وي او هغه چا ته مه ګوري چي په مرتبه كي ستا څخه زيات وي او داسي كول ستاسو لپاره ضروري دي ددې لپاره چي تاسو هغه نعمت سپک ونه ګڼئ كوم چي الله تعالى تاسو ته دركړي دى.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۲۲، رقم: ۶۴۹۰، ومسلم ۴\۲۲۷۵، رقم: ۸-۲۹۶۳.

تشريح: د ټولني د افرادو د دنياوي مال او متاع، عزت او شان په اړه په خپلو كي د بغض، حسد حسرت او مايوسۍ څخه د ځان ساتني لپاره رسول الله ﷺ لويه نفساني طريقه تجويز كړې ده، دا د انسان فطرت دى چي دځان څخه زيات شمتن او د زيات حيثيت والا ويني نو په هغه كي داسي جذبات پيدا كيږي چي هغه نااميده، حسرت زده او تقدير الهي شاكي جوړوي، يا په هغه كي د حسد، عناد او ناروا مسابقت ماده پيدا كيږي چي د هغه په وجه هغه جائز او ناجائز ډول هڅه كوي او همدا رنګه په ټولنه كي د عجيبه ډول جنګ او تاواني ځغاستي پېل سي، نو رسول الله ﷺ ددغه صورت څخه د ساتني لپاره ذكر سوى هدايت وفرمايه، مطلب دادى چي كله يو څوک داسي يو سړى ويني چي د هغه څخه زيات شتمن وي د هغه څخه زيات ښه شكله او ښكلي وي او د هغه څخه زيات عزت او شوكت لري او تر هغه په ښه ځاى كي اوسيږي او هغه ددې حقيقت څخه ناخبره وي چي د هغه سړي حاصل شده ټولي دنياوي ښېګڼي په اصل كي د آخرت په اعتبار د هغه په حق كي د وبال درجه لري چي هغه به ددغه شيانو په وجه په آخرت

کي د مؤاخذې او عذاب مستحق وي نو هغه سړي ته پکار دي چي هغه چا ته وګوري چي د مال او متاع او دنياوي حيثيت په اعتبار د هغه څخه دکمي درجې وي مګر خپله عقيده او خيال په اعتبار په آخرت کي دعالي درجو مستحق دی، ددغه حديث د بين السطور څخه دا خبره څرګنديږي چي په ټولنه کي اکثره داسي کسان وي چي په اقتصادي توګه د اعتدال په حالت کي وي يعني نه خو دزياتي لوړي درجي حيثيت لري او نه د ډېري کښتني درجې سره تعلق لري، (په اصطلاح کي داسي خلکو ته درميانه طبقه) ويل کيږي، دا بېله خبره ده چي هغه حالت اعتدال يو ډول نوعيت نه لري بلکه داسي وي چي يو سړی د چا په نسبت معتدل حالت لري او يو څوک د چا په نسبت بل حالت لري نو کوم څوک چي د ځان څخه لوړ ته په کتلو سره د ځان څخه کم ته ګوري نو هغه به يقينا د ښه حالت حامل وي.

په دغه حديث کي دې ته هم اشاره ده که چيري فرضا يو څوک په هر حيثيت او هر اعتبار د خپلي ټولني پر ټولو خلکو باندي فضيلت لري نو د هغه لپاره دا مناسب نه دي چي هغه خلګو ته وګوري کوم چي د هغه څخه دکمي درجې حامل وي ځکه چي په دغه صورت کي ليري نه ده چي په هغه کي د تکبر، غرور او فخر ماده پيدا سي نو پر هغه دا واجب دي چي هغه څرنګه د الله تعالی د ورکړي نعمتونو شکر ادا کوي او خپل فضيلت د خپل کردار په ذريعه د تواضع، انکسارۍ او خدمت خلق ذريعه جوړوي، او کوم څوک چي داسي وي چي بل څوک د هغه څخه زيات مفلس او غريب وي نو هغه ته پکار ده چي هغه د الله تعالی شکر ادا کړي چي هغه زه ددنيا په وبال کي اخته نه کړم او ددنياداری د غمو څخه يې خوندي کړم، د حضرت شبلي رحمه الله په اړه منقول دي چي هغه به د شتمن په ليدو سره د ژبي څخه دغه الفاظ وتل: اې الله! زه ستا څخه په دنيا او آخرت کي د عفو او عافيت طلبګار يم.

د غربت او مفلسی، تنګی او سختی، فقر او فاقې تکليفونه د حقيقت په اعتبار د الله تعالی څومره لوی نعمت دی، ددې اندازه ددغه حکايت څخه کيدای سي چي يوه ورځ يو ډېر لوی بزرګ او ولي په خپل مجلس کي حاضرين د وعظ او نصيحت څخه مستفيد کول، چي يو ډېر مفلس او نادار سړی ودرېدی او شکايت کول يې پېل کړل چي حضرت! ما په دومره اوږده وخت کي نه د چا په مخکي او نه د چا په پټه څه خوړلي او څښلي دي او په ډېر اخلاص او استقامت سره د لوږي او تندي تکليفونه زغمم، هغه بزرګ ورته وويل: اې د خدای دښمنه! ته څومره درواغ وايې، تا ته معلومېدل پکار دي چي الله جل جلاله د سختي لوږي په تکليف کي خپل هغه بندګان اخته کوي چي د هغه رسول، نبي او ولي وي، که ته د داسي بندګانو څخه يې نو دغه

پټ راز به دي هيڅكله نه ظاهرولاى او د الله ﷻ دغه نعمت به دي د خلكو څخه پټ ساتلاى.

د دغه ټولو خبرو خلاصه داده چي مؤمن ته د سلامتي طبع او حُسن استقلال دولت تر لاسه سي او د هغه دين د هر ډول تاوان او خلل څخه خوندي وي نو بيا هغه نه د مال او متاع پروا كوي او نه د عزت او شوكت څخه د محرومۍ هغه ته افسوس وي، او په حال يا راتلونكي زمانه كي چي هغه ته د كومو مصيبتو او پرېشانيو مخ كول وي هغه د الله ﷻ له خو يو داسي نعمت ګڼلو سره چي هغه د آخرت په سعادتونو سره همكنار كونكي دي، په صبر او رضا او شكر او اطمينان سره برداشت كوي، منقول دي چي د امام غزالي رحمه الله يو مريد يو چا ووهی، او د بند په مصيبتو كي يې اخته كړ نو هغه امام غزالي رحمه الله ته شكايت وكړ، هغه ورته وفرمايل اې عزيزه! د الله تعالى شكر ادا كړه چي دومره د ر څخه ليري سوه كنه بلا خو تر دې په سخت صورت كي نازليږي، څو ورځي وروسته هغه مريد د نورو خلكو په قصه كي وموښتی چي هغوئ په يو ځاه كي بند كړ، هغه په يو ډول خلاصون تر لاسه كړ او د امام په خدمت كي حاضر سو او د پېښي شكايت يې ورته وكړ نو هغه جواب يې وركړ كوم چي يې مخكي وركړی وو، بيا ناڅاپه د يهودي په معامله كي وموښتی، هغه يهودي ورسره داسي چلن وكړ چي په يو زنځيريې وتړی او هره لمحه به يې تكليف وركوی، دا وار هغه مريد په سخت تكليف او اذيت كي ولوېدی او ډېر زهير سو چي د دنيا ټول مصيبتونه بس زما لپاره دي،

په پاى كي د هغه يهودي څخه هم خلاص سو او د امام غزالي رحمه الله په خدمت كي حاضر سو او كوم مصيبتونه چي ورته رسيدلي وه د هغو شكايت يې وكړ نو امام ورته د صبر او شكر تلقين وكړ، اوس خبره د هغه د زغم څخه وتلې وه نو د ډېري بې قرارۍ په حالت كي يې وويل، حضرت! تر اوسه چي د كومو تكليفو او مصيبتو سره مخ سوى يم تر دې سخت مصيبت هم سته؟ امام غزالي رحمه الله جواب وركړ: هو، تر دې هم سخت مصيبت سته او هغه دا چي ستا په غاړه كي د كفر طوق ولويږي، خلاصه دا چي د انسان لپاره د آفاتو او بلاګانو څه حد نسته كه يو څوك په يو آفت كي اخته وي نو يوازي دا چي هغه ته د هغه آفت او بلا په صبر او استقامت سره مقابله كول پكار دي بلكه د الله ﷻ شكر ادا كول هم پكار دي چي د هغه څخه هم سخت آفت او مصيبت كي اخته نسي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

جنت ته پنځه سوه کاله مخکې

﴿۵۰۱۴﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْفُقَرَاءُ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِخَمْسِ مِائَةِ عَامٍ نِصْفِ يَوْمٍ. رواه الترمذي

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: فقيران به جنت ته د شتمنو څخه پنځه سوه کاله ترمخه داخلېږي چې د قيامت نيمه ورځ ده، ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴۹۹\۴، رقم: ۲۳۵۳.

تشريح: د نيمي ورځي څخه مراد د قيامت نيمه ورځ ده، مطلب دا دی چې هغه پنځه سوه کاله به د قيامت د نيمي ورځي برابر وي او د قيامت د ورځي د اوږدوالي وخت او د دنياوي د شپې او ورځي په اعتبار به د زرو کالو برابر وي لکه څرنګه چې الله فرمايي: (وان يوما عند ربک کالف سنة مما تعدون)، پاته سوه دا خبره چې الله جل جلاله په قرآن کې په يو بل ځای کې فرمايلي دي: (في يوم کان مقداره خمسين الف سنة)، او ددې څخه معلومېږي چې د قيامت په ورځ به د پنځوس زره کالو برابر وي نو پوهېدل پکار دي چې اول آيت د عموميت حامل دی او دوهم آيت يو خاص نوعيت ته اشاره کوي يعني اصل خبره داده چې د دنياوي حساب په اعتبار د قيامت ورځ به د زرو کالو برابر وي او دا د اول آيت په ذريعه څرګنده سوې ده مګر هغه د قيامت ورځ به د سختيو ورځ وي او کوم خوک چې په دنيا کې د دين او هدايت څخه څومره ليري وي هغه ته به د هغه ورځي سختي هغومره زياته محسوس کيږي ځکه د کفارو په حق کې د هغه ورځي سختي به دومره زياتي وي چې د خپلي اوږدوالي او سختۍ په اعتبار به هغه ورځ هغوئ ته د پنځوس زرو کالو برابر معلومېږي، دوهم آيت دا مفهوم بيانوي چې د قيامت ورځ به کفارو ته د پنځوس زره کالو برابر معلومېږي لکه څرنګه چې د مؤمنانو او نيکانو لپاره به هغه ورځ راونغښتل سي او د زرو کالو برابر د هغه ورځي طوالت به هغوئ ته د يوه ساعت په اندازه معلومېږي، ددې تائيد ددغه آيت څخه هم معلومېږي:

(فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ فَذَلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ)

ددغه حديث په ضمن کې يو مشکل پيدا کيږي چې دغه حديث په ظاهره د هغه حديث خلاف دی چې په جنت کې د فقيرانو د اول داخلېدو وخت څلوېښت کاله ظاهروي، نو شارحينو

د دواړو حديثو په منځ كي د مطابقت پيدا كولو لپاره دا بيان كړى دى چي دا عين ممكن ده چي په وروستني حديث كي د اغنياء څخه مراد مهاجرين غنيان وي لكه څرنگه چي ددغه حديث په تشريح كي هم دې ته اشاره سوې ده ، په دغه صورت كي به د هغه حديث مطلب دا وي چي فقيران د هغه غنيانو څخه چي د هغوئ تعلق د مهاجرو صحابه كرامو سره دى څلوېښت كاله مخكي به په جنت كي داخليږي ، او دلته په دغه حديث كي د اغنياء څخه مراد هغه اغنياء چي مهاجرين به نه وي ، په دغه وضاحت سره د دواړو حديثو په منځ كي هيڅ تعارض نه پاته كيږي، مگر څرنگه چي د حديثو ځينو شارحينو ليكلي دي چي ددغه دواړو حديثو په منځ كي د ذكر سوي تعلق د ختمولو لپاره دا وضاحت زيات مناسب دى چي دواړه شمېره يعني څلوېښت او پنځه سوه څخه مراد تحديد نه دى بلكه مطلقا د هغه زماني فرق بيانول مقصد دي چي په جنت كي د داخلېدو په اړه به د فقيرانو او اغنياء په منځ كي وي،

نو ددغه فرق په ظاهرولو سره چي فقيران به جنت ته د اغنياؤ څخه مخكي ځي د تفنن له موخي پر يوه موقع خو څلوېښت كاله فرمايل سوي دي او پر بله موقع د پنځه سوه كاله الفاظ فرمايل سوي دي حال دا چي مقصد د دواړو يو دى يا دا چي مخكي به رسول الله ﷺ د وحي په ذريعه دا معلومه سوې وي چي جنت ته به فقيران تر اغنياء مخكي تللو وخت څلوېښت كاله وي نو رسول الله ﷺ د وحي مطابق څلوېښت كاله ذكر كړل مگر وروسته الله تعالى د رسول الله ﷺ له بركته د فقيرانو حال په خاصه توگه وفرمايه او د هغوئ د نوري تسلي لپاره دا خبر وركړ چي فقيران به جنت ته د غنيانو څخه پنځه سوه كاله مخكي داخليږي نو رسول الله ﷺ په دوهم وار د پنځه سوه كالو ذكر وكړ ، يا دا هم كېداى سي چي د دواړو حديثو په مفهوم كي چي كوم اختلاف معلوميږي ددې تعلق په اصل كي خپله د فقيرانو د ذات سره وي يعني ظاهره ده چي هر غريب او هر فقير مسلمان يو ډول نه وي بلكه ځيني فقيران داسي وي چي د صبر او شكر درجه لري او ځيني فقيران هغه دي چي په هغوئ كي د صبر او شكر ماده كمه وي نو د پنځه سوه كالو والا حديث تعلق د اول الذكر فقيرانو سره دى او د څلوېښتو كالو حديث تعلق د مؤخر الذكر فقيرانو سره دى ، دغه تاويل زيات مناسب هم دى او ددې تائيد د جامع الاصول ددغه عبارت څخه هم كيږي چي په هغه كي د دغه دواړو حديثو په منځ كي د مطابقت پيدا كولو لپاره دا ويل سوي دي چي په كوم حديث كي د څلوېښتو كالو ذكر دى د هغه څخه مراد دادى چي د دنيا لذتونو او نعمتونو خواهش لرونكى فقير به د حريص غني څخه څلوېښت كاله مخكي په جنت كي داخليږي او په كوم حديث كي چي د پنځه سوه كالو ذكر دى د هغه څخه مراد دادى چي د

دنیاوي لذتونو او نعمتونو څخه بالکل بې نیازه او زاهد فقیر به د شتمن غني څخه پنځه سوه کاله مخکې په جنت کې داخلیږي.

د مفلس او مسکین فضیلت

﴿۵۰۱۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: اې الله ما مسکین ولرې،

وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ لِمَ يَا رَسُولَ

مسکین مې وفات کړې او د حشر په ورځ مې د مسکینانو په ډله کې وپاځوه، بې بې عائشې رضي الله عنها پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! تاسو داسې ولې وفرمایل؟

اللهِ قَالَ إِنَّهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا يَا عَائِشَةُ لَا

رسول الله ﷺ وفرمایل دا ځکه چې مسکینان به جنت ته د شتمنو څخه څلوېښت کاله ترمخه داخلیږي، (رسول الله ﷺ) وفرمایل: اې عائشې!

تَرُدِّي الْمِسْكِينَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ يَا عَائِشَةُ أَحِبِّي الْمَسَاكِينَ وَقَرِّبِيهِمْ فَإِنَّ

هیڅ مسکین د خپلې دروازې څخه خالي لاس مه لیږه که څه هم چې د خرما یوه ټوټه وي، او اې عائشې! د مسکینانو سره مینه ساته او هغوئ ځان ته نژدې کړه چې

اللهَ يُقَرِّبُكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان رواه ابن ماجة عن ابي سعيد الى قوله زمرة المساكين.

الله تعالی دې د قیامت په ورځ ځان ته نژدې کړي. ترمذي او بیهقي.

تخريج: سنن الترمذي الموضع السابق رقم: ۲۳۵۲، والبيهقي في شعب الايمان ۱۷/ ۳۴۰، رقم: ۱۰۵۰۷.

تشريح: د مسکین لفظ د مسکنت څخه دی چې د هغه معنی د کمزورۍ او مفلسۍ ده، دغه لفظ د سکون او سکینة څخه هم مشتق ګرځول کېدای سي چې د هغه معنی د وقار، اطمینان او پر تقدیر الهي باندې د اقرار او قبول ده او دا خبره مخکې تېره سوې ده چې د شریعت په اصطلاح کې مسکین هغه سړي ته وایي چې د هغه سره هیڅ نه وي یا د ومره ورسره نه وي چې د

خپل كورنۍ ضروري اړتياوي په پوره كړل سي .
په ذكر سوي ارشاد كي د امت لپاره دا تعليم دی چي د فقرانو او مسكينانو فضيلت و پېژندل سي د هغوئ سره د ميني او همدردۍ چلن وكړل سي او د هغوئ سره قربت اختيار كړل سي چي د هغوئ بركت مسلمانانو ته ورسيږي او په دغه حديث كي د فقيرانو او مسكينانو لپاره دا ډاډ دی چي هغوئ دي د خپلو حالاتو د تنګۍ او سختۍ څخه نه نااميده كيږي بلكه د خپلو هغه لوړو دَرجو څخه دي خبر سي چي الله تعالى د دوئ لپاره ددغه فاني دنيا د زوال پذير نعمتو په عوض كي تل باقي كېدونكي جهان يعني د آخرت په ژوند كي وركړي دي .
پاته سوه دا خبره چي رسول الله ﷺ په خپل حق كي د مسكين كېدو دعاء كول څه مفهوم لري، نو په دې اړه دا ويل مناسب دي چي ددغه دعاء څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي الله ﷻ رسول الله ﷺ ته دومره روزي وركړي چي د ګزارې په اندازه وي او په هغه سره ژوند پاته سي او رسول الله ﷺ په دنياوي مال او دولت او د هغه په نعمتونو او لذتونو كي بوخت نه كړي ځكه چي د مال او دولت زياتوب د مقربينو په حق كي د سخت وبال درجه لري ، منقول دي چي يو مسلمان پاچا يو ځاى تلی چي په لاره كي د فقيرانو او مسكينانو پر يو ډله تېر سو ، هغه خلكو پاچا ته هيڅ توجه ونه كړه، پاچا ددې په لېدو سره سخت حيران سو ، هغه پوښتنه ځيني وكړه چي تاسو څوك ياست؟ هغوئ چي په جواب كي كومه خبره وكړه هغه خبره دلته نقل كول مقصود دي ، هغوئ وويل: موږ هغه خلك يو چي د هغوئ سره مينه د ترك دنيا سبب دی او د هغوئ سره عداوت د ترک عقبی سبب دی ، پاچا چي دا جواب واورېدی نو د هغوئ څخه د څه ويلو پرته مخته ولاړی او وه يې ويل چي موږ نه ستاسو مينه تر لاسه كولای سو او نه ستاسو سره د عداوت كولو توان لرو .
د رسول الله ﷺ د خپل ځان لپاره ذكر سوې دعاء كول او بيا د بي بي عائشې رضي الله عنها په پوښتنه د هغه دعاء دا توجيه كول چي زما مقصد هغه فضل او شرف تر لاسه كول دی كوم چي د قيامت په ورځ فقيرانو ته حاصل وي ، هغوئ به په جنت كي د شتمنو كسانو څخه څلوېښت كاله مخكي په جنت كي داخليږي ، دا وهم پيدا كوي چي فقيران به بېله استثناء د ټولو شتمنو څخه مخكي په جنت كي داخليږي كه څه هم هغه شتمن نبي وي مګر په دې اړه قوي خبره داده چي د رسول الله ﷺ ذكر سوې دعاء او د هغه توجيه كي د ذكر سوي ارشاد اصل مقصد يو خو محض د فقيرانو او مسكينانو فضل او شرف ظاهرول دي او دوهم خپله دا طلب او خواهش ظاهرول دي چي ما ته د انبياء عليهم السلام څخه مخكي په جنت كي د داخلېدو سعادت تر لاسه سي كه څه هم هغه

انبياء شتمن وي يا فقيران، نو د رسول الله ﷺ د ځان لپاره د فقر او فاقې د ژوند دعاء کول د غير انبياء فقيرانو څخه د وروسته پاته کېدو له بيري نه بلکه د هغه انبياؤ څخه د وروسته پاته کېدو په وجه وو چي د هغوئ ژوند د فقر او فاقې څخه معمور وو ، په دغه وضاحت سره ذکر سوی وهم دفع کيږي .

يا عائشة لا تردي المسکين...الخ: اې عائشې ﷺ هيڅ مسکين نا اميده مه لېږه...الخ، د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ بي بي عائشې ﷺ ته دا نصيحت وفرمايه چي يو مسکين او فقير د خپل حاجت په اخيستلو سره تا ته درسي نو هغه کم او سپک مه ګڼه ، هغه بې مراده مه استوه بلکه هغه سره په مينه او نرمي چلن کوه، د هغه پر حالت رحم کوه او څه چي موجود وي د هغه په لمن کي يې اچوه که څه هم هغه کم شی وي او که ستا سره هيڅ داسي شی نه وي چي د هغه په ذريعه ته د هغه سوال پوره کړلای سې نو په هغه صورت کي په ډېره نرمي سره معذرت ورته وکړه او په ښه انداز کي يې واستوه .

ابو الشيخ او بيهقي د حضرت عطا بن ابي رباح رحمة الله عليه څخه نقل کړې دی چي هغه د مشهور صحابي حضرت ابو سعيد ﷺ څخه دا واورېدل چي اې خلکو ! ستاسو تنګدستي او غريبي دي تا سو دې ته اماده نه کړه چي تاسو خپله روزي په ناجائز وسائلو او ذرائعو سره تر لاسه کول پېل کړئ يعني که چيري خدای ﷻ تاسو په مسکيني او مجبوری کي اخته کړي ياست نو تاسو پر خپل دغه حالت صابر او شاکر اوسئ او د حالاتو مقابله کوئ ، داسي نه وي چي د روزی تر لاسه کولو لپاره داسي ذرائع اختيار کړئ چي د شريعت خلاف وي او د انساني کردار د عظمت خلاف وي ځکه چي ما د رسول الله ﷺ په اړه دغه دعاء کول اوريدلي دي چي اې الله! ته ما ته د فقر او فاقې په حالت کي مرګ راکړې، د شتمنی په حالت کي مرګ مه راکوې او زما حشر د مسکينانو په ډله کي وکړې ، نو يقينا تر ټولو لوی بدبخته هغه سړی دی چي د دنيا د فقر او افلاس ښکار هم سي او د آخرت د عذاب مستحق هم وګرځي يعني څوک چي چي د مسکينی او مفلسی د بيري په ناجائزه طريقه د روزی حاصلولو کوښښ کوي نو تر هغه لوی بدبخته څوک کيدای سي چي هغه د خپل فقر او مفلسی په وجه د دنيا د نعمتو څخه هم محروم وي او د روزی تر لاسه کولو په لاره کي د حرام او ناجائزو کارو کونکی هم وي او په داسي کولو سره د آخرت د عذاب وړ وګرځي .

ملا علي قاري رحمة الله عليه د دغه روايت نقل کولو څخه وروسته ليکلي دي چي زه خو دا وايم که د دغه ارشاد څخه پرته بل يو دليل هم نه وي نو دا حديث د دې خبري ثابتولو لپاره کافي دی چي

صبر کونکی فقیر او مسکین د شکر گزار شتمن څخه افضل دی او ملا علي قاري رحمة الله عليه په دغه ځای کي د هغه دوو حدیثو ذکر هم کړی دی چي د فقر په اړه په عوامو کي ډېر مشهور دی چي په هغو کي يو حديث: (الفقر فخري وبه افتخر) دی، ملا علي قاري رحمة الله عليه ليکلي دي چي د حديثو حافظان لکه علامه عسقلاني او داسي نورو صراحت کړی دی چي دغه حديث بالکل بې اصله دی او ددې هيڅ سند نسته، دوهم حديث دا دی: (کاد الفقر ان يکون کفرا)، ددې په باره کي محدثينو وضاحت کړی دی چي دغه حديث اول خو په يقيني توگه ضعيف دی دوهم دا که چيري دا صحيح ومنل سي نو ددې محمول قلبي فقر او افلاس دی چي جزع و فزع شکوه او شکايت تضاد او قدر باندي د بې اطمينانۍ او دالله تعالی پر جوړ سوي قسمت باندي د اعتراض کولو باعث کيږي کنه تر څو چي د معاشي فقر او افلاس تعلق دی نو هغه يو داسي شی دی چي د الله تعالی له خوا د هغه بندگانو ته ورکول کيږي چي د هغوئ په اخرت کي لوړو درجو ته رسول غواړي ځکه په يوه روايت کي فرمايل سوي دي چي: الفقر شين عندالناس وزين عندالله يوم القيامة (ديلمي) ژباړه: فقر او مفلسي د خلکو په نظر کي يو عيب او خرابي ده مگر د قيامت په ورځ د الله تعالی په نزد زينت ورکونکی شی دی.

د کمزور برکت

﴿۵۰۱۶﴾: وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْغُونِي فِي ضُعَفَائِكُمْ فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ او تُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ. رواه ابوداؤد

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زما رضامندي تاسو په کمزورو کي و لټوئ (يعني هغوئ راضي ساتئ) ځکه چي ستاسو د کمزورو په برکت تاسو ته رزق درکول کيږي او ددښمنانو په مقابله کي ستاسو مرسته کول کيږي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود: ۷۳\۱۳، رقم: ۲۵۹۴.

تشريح: د کمزورو خلکو څخه مراد فقيران او مسکينان دي او په هغوئ کي د تلاش کولو مطلب د هغه خلکو مرسته او اعانت په ذريعه دهغوئ سره احسان او ښه چلن کول دي يا د کمزورو خلکو څخه مراد مظلوم خلک دي که څه هم هغوئ شتمن وي او مطلب د ظلم د پنجې څخه په وتلو کي د هغوئ هر ډول مرسته کول دي، خلاصه دا چي ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله صلى الله عليه وسلم دا څرگنده کړه که چيري تاسو زما د رضا او خوشحالۍ طلبگار ياست نو د خپل مرستي

او ښه چلن په ذريعه د هغه خلکو خوښي تر لاسه کړئ کوم چې په تاسو کي کمزوري او نادار دي.

او تنصرون: دلته داو لفظ د تنويع لپاره دی او ددې تائيد د هغه روايت څخه کيږي چې په هغه کي د او پر ځای د واو حرف دی مګر دا هم کيدای سي چې دلته د او حرف په ذريعه د راوي شک ظاهرول مقصد وي چې رسول الله ﷺ يا خو د ترزقون لفظ فرمايلی دی يا د تنصرون لفظ، نو په پورته ترجمه کي دغه احتمال مد نظر ساتل سوی دی.

ددغه خلکو په برکت دی کوم چې په تاسو کي کمزوري دي، مطلب دا دی چې داسي خلک چې کمزوري او نادار معلوميږي او هر ډول دنياوي طاقت او حيثيت څخه خالي معلوميږي د هغوئ وجود د پوره کائناتو لپاره د خير او برکت باعث او د هغوئ سره احسان او ښه چلن د ټولو خلکو د خير او غوره والي ضامن دی ځکه چې په دغه خلکو کي هغه لوی لوی اقطاب او اوتاد هم وي که څه هم د دنيادارو په نظر کي خپل اصل حيثيت سره متعارف نه وي مګر په حقيقت کي د ټول عالم د کائناتو نظام د دوئ په وجه استوار وي بلکه په ځينو حالاتو کي د مختلفو علاقو او سيمو نظم او انصرام په روحاني توګه د الله تعالی له خوا دوئ ته حواله وي د هغه خلکو تصرف د دوئ په لاس کي وي.

ابن ملک رحمه الله ددغه حديث په وضاحت کي ليکلي دي چې د رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد مطلب دا دی چې تاسو خلک که چيري ما تر لاسه کول غواړئ نو ما په خپلو کمزورو خلکو کي ولټوئ په دې توګه چې پر تاسو باندې د هغوئ حقوق دي د هغه حقوقو اداينه کوئ او د هغوئ په مرسته کي بوخت اوسئ ځکه چې زه د هغوئ سره په ځينو وختو کي په جسماني توګه يم او په زړه سره په ټولو وختو نو کي ورسره يم نو کوم څوک چې د هغوئ احترام وکړي نو هغه ګويا زما اکرام او احترام وکړ او کوم څوک چې هغوئ ته تکليف ورسوي نو هغه ګويا ما ته تکليف ورسوی، ددې تائيد ددغه حديث قدسي څخه هم کيږي چې الله تعالی فرمايي: من عادي لي وليا فقد بارزني بالحرب: يعني کوم څوک چې زما د ولي سره عداوت او دښمني اختيار کړي نو هغه ګويا زما سره د جنګ لپاره ميدان ته راغلی.

﴿۵۰۱۷﴾: وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُسَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَسْتَفْتِحُ بِصَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ. رواه في شرح السنة.

د حضرت اميه بن خالد بن عبد الله بن اسيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ به د فقيرانو او

مهاجرينو په بركت د الله تعالى څخه د فتح تر لاسه كولو دعاء كول. شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة: ۱۴\ ۲۶۴، رقم: ۴۰۶۲.

د لغاتو حل: صعاليک: جمع صعلوک وهو الفقير (فقر كوونكى)

تشريح: صعاليک د صعلوک جمع ده، لكه څرنګه چې د عصفور جمع عصافير ده، د صعلوک معنى د فقير، مسكين، كمزوري او ناداري ده.

ملا علي قاري رحمه الله د دغه حديث مطلب دا ليكلى دى چې رسول الله ﷺ به الله تعالى ته د فتح تر لاسه كولو درخواست كوى نو هغه به يې د فقيرانو او مهاجرينو په واسطه او د هغوئ د دعاء په ذريعه وفرمايه، د دې څخه وروسته هغه د ابن ملک څخه دا نقل كړي دي چې رسول الله ﷺ د الله تعالى څخه د فقيرانو مهاجرينو په واسطه اختيارولو سره د فتح خواست كوى په دې توګه چې رسول الله ﷺ به داسي دعاء كول: اللهم انصرنا على الاعداء بعبادک الفقرا المهاجرين. شيخ عبدالحق رحمه الله هم دا مطلب بيان كړى دى او بيا يې ليكلي دي چې دغه حديث د فقيرانو مسلمانانو هغه عظمت او فضيلت ظاهروي كوم چې رسول الله ﷺ د هغوئ لپاره ثابتوى نو رسول الله ﷺ دغه شرف يوازي فقيرانو او مسكينانو ته وركړ چې د هغوئ په بركت او وسيله جوړولو سره الله تعالى ته به يې د فتح او نصرت لپاره خواست كوى.

د فاسق دنيا مه غواړئ

﴿۵۰۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَغْبِطَنَّ فَاجِرًا بِنِعْمَةٍ فَإِنَّكَ لاَ تَدْرِيْ مَا هُوَ لاَقٍ بَعْدَ مَوْتِهِ إِنَّ لَهُ عِنْدَ اللّٰهِ قَاتِلاً لاَ يَمُوْتُ يَعْنِي النَّارَ. رواه في شرح السنة

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د هيڅ فاجر او فاسق نعمت او دولت باندي ارزو مه كوه ځكه چې تا ته نه ده معلومه چې د مرګ څخه وروسته به د هغه سره څه چلن كيږي؟ د فاجر لپاره د الله جل جلاله سره يو داسي قاتل دى چې نه مري، يعني د دوږخ اور. شرح السنه

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\ ۲۹۴، رقم: ۴۱۰۳.

د لغاتو حل: سنته: اى قحطه وشدة معيشته. (سختي او وچ كالي)

تشريح: يو داسي قاتل دى...الخ: يعني الله ﷻ د كفارو او فاسقانو لپاره يو داسي شى تيار كړى دى چي هغوئ ته به سخت عذاب وركړي ، هلاک به يې كړي او په ډول ډول عذابو كي به يې اخته كړي او د هغه شي شان دادى چي خپله هغه ته مرګ او فناء نسته بلكه تل به موجود وي يعني النار، دغه الفاظ د راوي دي چي دغه حديث د حضرت ابوهريره ﵁ څخه روايت كړى دى او د هغه نوم عبدالله ابن ابي مريم دى ، ګويا هغه ددغه الفاظو په ذريعه دا وضاحت كړى دى چي رسول الله ﷺ د لفظ قاتل په ذريعه كوم شي ته اشاره فرمايلې ده هغه د دوږخ اور دى .

د حديث خلاصه داده چي د داسي كافرانو او فاسقانو په لېدو سره چي زيات اولاد لري يا د زيات عزت او شوكت خاوندان وي يا په نورو دنياوي نعمتونو سره آباد وي نو په هغو قصد كول نه دي پكار او دغه خواهش ته دي په زړه كي ځاى نه وركول كيږي چي كاش داسي نعمتونه ما ته هم حاصل واى .

دنيا د مؤمن بنديخانه ده

﴿۵۰۱۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَسَنَتُهُ وَإِذَا فَارَقَ الدُّنْيَا فَارَقَ السِّجْنَ وَالسَّنَةَ. رواه في شرح السنة.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﵁ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دنيا د مؤمن بندي خانه او قحط دى هر كله چي هغه ددنيا څخه بېل سي نو د بندي خانې او قحط څخه خلاص سي . شرح السنة.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\۲۹۷، رقم: ۴۱۰۶.

تشريح: د بنديخانې او وچ كالۍ مطلب دادى چي مؤمن دلته د تنګۍ او سختۍ ښكار وي او په معاشي پرېشانيو كي ژوند تېروي او كه چيري يو مؤمن ته ددغه ځاى خوشحالي تر لاسه هم وي نو د هغه نعمتونو په نسبت كوم چي په آخرت كي تر لاسه كېدونكي دي دغه دنيا بيا هم د هغه لپاره د بنديخانې او وچ كالۍ د ځاى څخه زيات ارزښت نه لري ، يا دا مراد دى چي مخلص او عبادت ګزار مؤمن خپل ځان همېشه د طاعات او عبادتو مشقتونو او د رياضت او مجاهدې په سختيو كي بوخت ساتي ، عيش او راحت ته په خپل ژوند كي لار نه وركوي او هر ګړى ددې شوق لري چي ددغه محنت او مشقت څخه ډكي دنيا څخه په خلاصون تر لاسه كولو د دار البقاء

پر لار روان سي، په دې اعتبار دا دنيا دمؤمن لپاره د بنديخانې او د وچ کالي ـ وهلي ځاى څخه د کم صبر زمانه وي ، په يوه روايت کي داسي فرمايل سوي دي چي : لايخلو المؤمن من قلة او علة او ذلة وقد يجتمع للمؤمن الكامل جميع ذلک، داسي هيڅ مؤمن نسته چي يا خو دمال د کمي ـ يا ناروغي ـ، يا ذلت او خواري څخه خالي وي او په ځينو وختو کي په کامل مؤمن کي دغه ټول شيان جمع کيږي .

الله ﷻ خپل دوستان د دنيا څخه ساتي

﴿۵۰۲۰﴾: وَعَنْ قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ عَبْدًا حَمَاهُ الدُّنْيَا كَمَا يَظَلُّ أَحَدُكُمْ يَحْمِي سَقِيمَهُ الْمَاءَ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت قتادة بن نعمان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي الله تعالى د يوه بنده سره مينه کوي نو هغه ددنيا څخه وساتي لکه څرنګه چي تاسو خپل ناروغ د اوبو څخه ساتئ . احمد او ترمذي.

تخريج: لم نجده عند مسند الامام احمد. وسنن الترمذي ۴\ ۳۳۴، رقم: ۲۰۳۶.

تشريح: مطلب دادى چي څرنګه تاسو يو قريب په داسي ناروغي ـ کي اخته سي چي په هغه کي د اوبو استعمال سخت تاوان رسوي لکه استسقاء ، ضعف معده او داسي نور، او تا ته د هغه ژوند خوږ وي نو ته ددې خبري پوره هڅه کوې چي هغه ناروغ د اوبو د استعمال څخه ليري وي چي ژر روغ سي ، همدارنګه الله تعالى چي کوم بنده خپل محبوب جوړول او د هغه د آخرت د درجو لوړول غواړي نو هغه د دنياوي مال او دولت څخه ليري ساتي چي د هغه دين ته په تاوان رسولو او په عقبى کي د هغه په درجو کي د کمولو سبب جوړ سي .

اشرف رحمه الله هم دا ډول خبره کړې ده او ليکلي يې دي چي الله تعالى هغه بنده د دنياوي مال او عزت او ددغه ځاى هر داسي شى نه ورکوي چي د هغه دين او اخروي ژوند ته زينت او خوبي داغداره کړي ددې لپاره چي د هغه زړه دنيا او د شيانو د ميني او خواهش په حرص کي اخته نسي.

د مال کمي لوی نعمت دی

﴿۵۰۲۱﴾: وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اثْنَتَانِ يَكْرَهُهُمَا ابْنُ آدَمَ يكره الْمَوْتُ وَالْمَوْتُ خَيْرٌ لِلْمُؤْمِنِ مِنَ الْفِتْنَةِ وَيَكْرَهُ قِلَّةَ الْمَالِ وَقِلَّةُ الْمَالِ أَقَلُّ لِلْحِسَابِ. رواه احمد.

د حضرت محمود بن لبید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه شیان دي چي انسان يې بد ګڼي: یو مرګ حال دا چي مرګ د مؤمن لپاره تر فتنې غوره دی، او دویم د مال کمي، حال دا چي د مال کمي حساب لږوي (یعني حساب کموي). احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۴۲۷.

تشريح: د فتنې څخه مراد کفر او شرک دی او په ګناهو کي اخته کېدل دي، د ظالم او جابر خلکو پر داسي کار باندي مجبوره کول چي د اسلامي عقائدو او تعلیماتو خلاف وي او داسي حالاتو سره مخ کېدل چي په هغه سره دین او آخرت زخمي کیږي، حقیقت دا دی چي ژوند او د ژوندي اوسیدو ارزو خو په دغه صورت کي ښه ده کله چي د اللّٰه جل جلاله او د هغه د رسول فرمانبرداري وکړل سي، د طاعت او عبادت توفیق په برخه سي، پر صراط مستقیم باندي ثابت قدمي نصیب سي او تر ټولو زیات دا چي د دغه دنیا څخه د ایمان په سلامتۍ سره رخصت سي او که دغه شیان تر لاسه نسي او د ایمان سلامتي نصیب نسي نو بیا دغه ژوند د څه کار دی؟ د ظالمانو او جابرانو خلکو له خوا د جبر او اکراه په صورت کي که څه هم پر ایمان او عقیده باندي قائم وي مګر په ژبه سره داسي خبره ادا کول چي د ایمان او عقیدې مناسب نه وي نو دا هم یوه فتنه ده مګر که چیري د فتنې تعلق د یو دنیاوي مصائبو او د ژوند د سختو سره وي نو په داسي صورت کي د ژوند څخه نفرت او د مرګ ارزو به صحیح نه وي ځکه چي داسي فتنه د ګناهو کفاره او د اخروي درجو د لوړوالي سبب وي.

وقلة المال اقل للحساب: مطلب دا دی چي د دنیاوي مال او دولت کمي د عذاب څخه ډېر لیري او د هر مسلمان لپاره غوره دی او کوم مسلمان چي غریب وي هغه ته خوشحاله کېدل پکار دي چي الله تعالی زه د مال او دولت څخه ساتلی یم ګویا د آخرت د حساب او عذاب څخه يې ساتلی یم او څرګنده ده چي په دغه دنیا کي د عذاب او ناداری په وجه چي کومي سختی او پریشانی زغمل وي هغه د هغه سختیو او پریشانیو څخه ډېري کمي او اسانه دي چي د مال او

دولت د وبال په وجه په آخرت کي پېښېږي.

شیخ عبدالحق دهلوي رحمه الله پر دغه ځای د حکمت څخه ډکه یوه خبره کړې ده هغه هر طالب حق ته په مخاطب کولو سره ویلي دي چي اې زما عزیزه! دا ټولي د ایمان څانګي دي کوم څوک چي د شارع علیه السلام د ارشاداتو مطابق ایمان صحیح او سالم ساتي هغه یقینا پوهیږي چي شارع علیه السلام څه فرمایلي دي هغه برحق او عین صداقت دی او که هغه سړی عقل سلیم او صحیح تجربه لري نو هغه په دغه دنیا کي هم په دې خبره پوهیږي چي د مال او دولت تر لاسه کولو او جمع کولو او له دې سره د تعلق او میني ساتلو په اړه چي دکومو مصیبتو سره مخامخ کېدل دي او د څومره ذلت او خواري مخ کتل دي او څومره زیات محنت زغمل دي هغه ټول د فقر او افلاس د سختیو او پریشانیو څخه په هیڅ ډول کم نه دي، نو په دنیاوي توګه محنت او مشقت او د هر ډول ذلت او خوارۍ څخه د ساتني بلکه د نفس د پاکۍ او صفایي او د اخروي حساب د عذاب څخه د ساتني او د درجو دلوړوالي او رفعت انحصار پر دې خبره دی چي د مال او دولت کثرت څخه خپل لمن وساتل سي، د دې څخه قطع تعلق کولو سره او قدرت کفایت باندي په قناعت کولو سره عزت نفس، اخلاق او استقامت اختیار کړل سي.

د فقر لپاره تیاري

﴿۵۰۲۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه څخه روایت دئ چي یو سړي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کي

وَسَلَّمَ فقال إِنِّي لَأُحِبُّكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ إِنْ كُنْتَ صادقا فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ

وویل: چي زه ستاسو سره مینه لرم، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پوهیږې چي ته څه وایي؟ هغه وویل: قسم په خدای زما ستاسو سره مینه ده، دغسي یې درې واره وویل، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: که ته رښتیا وایې نو د فقر لپاره

تِجْفَافًا للفقر أَسْرَعُ إِلَى مَنْ يُحِبُّنِي مِنَ السَّيْلِ إِلَى مُنْتَهَاهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

تجفاف (صبر) تیار کړه ځکه چي څوک زما سره مینه کوي هغه ته فقر او مفلسي ژر رسیږي د هغه او بو څخه هم ژر چي د پر کښته لور ځي.

تخريج: سنن الترمذي ۴۹۸\۴، رقم: ۲۳۵۰.

تشريح: د تِجفَاف معنى ده د اوسپني زغره چي د جنګ په ميدان کي پر فيل يا آس اچول کيږي چي د هغه بدن د زخمي کېدو څخه وساتل سي لکه څرنګه چي زغره د سپاره مجاهد بدن د نېزي او توري د زخم څخه خوندي ساتي ، دلته په حديث کي د زغري په ذريعه صبر او استقامت ته اشاره کول مقصد دي لکه څرنګه چي د اوسپني زغره د فيل يا آس بدن ساتي همدارنګه صبر او استقامت اختيارول د فقر او فاقې ژوند سرپوش جوړوي، خلاصه دا چي د صبر او استقامت پر لار باندي په هر صورت تلونکى اوسه په خاصه توګه هغه وخت کله چي فقر او فاقه ستا ژوند راګير کړي چي تا ته مراتب او د درجو لوړي په برخه سي .

د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي کوم څوک د رسول الله ﷺ د ميني څخه پوره برخمن کيږي نو هغه ته فقر او فاقه ژر رسيدل او پر هغه د دنياوي آفاتو او مصيبتو نازلېدل يو يقيني امر دی ځکه منقول دي چي په دنيا کي کومو خلکو ته تر ټولو زيات آفات او سختيو سره مخامخ کېدل وي هغه انبياء عليهم السلام دي د هغوئ څخه وروسته درجه په درجه د هغه خلکو نمبر وي چي د عقېدې او عمل په اعتبار د اعلى مرتبې وي ، رسول الله ﷺ د هغه انبياء عليهم السلام څخه وو، نو رسول الله ﷺ هغه سړي ته څرګنده کړه که چيرې په حقيقت کي ته زما سره مينه لرې نو زما په اړه چي ستا مينه د کومي درجې وي د هغه درجې د دنياوي سختيو او پريشانيو به تا ته مخ کول وي ځکه دا اصول دي چي المرء مع من احب، کوم څوک چي د چا دوست وي نو د هغه په حالت کي به وي .

شيخ عبدالحق رحمه الله فرمايي: رسول الله ﷺ د خپل دغه ارشاد (د فقر لپاره زغره تياره کړه) په ذريعه د کنايې په توګه دا تلقين وفرمايه چي د فقر او فاقې پر وخت د صبر پر لار تللو ته تيار سه ځکه دا صبر دی چي د فقر او مفلسۍ د آفتونو او مصيبتونو زغملو طاقت ورکوي، د ديني او دنياوي هلاکت او تباهۍ څخه يې محفوظ ساتي ، د شکايت د لاري څخه يې ليري کوي او د غضب الهي څخه يې ژغوري، نوموړی وايي: ددغه حديث څخه دا حقيقت څرګنديږي چي د فقر او فاقې ژوند اختيارولو پرته او د رسول الله ﷺ پر حيات باندي د عمل کېدو پرته د رسول الله ﷺ د ميني دعوه کول بالکل ناروا او درواغ دي، ځکه چي په حقيقت کي اسوه نبوي اتباع او د رسول الله ﷺ مينه دواړه د يو بل سره لازم او ملزوم دي او د محبوب د اتباع او پيروۍ څخه پرته د ميني دعوه صحيح کيدای نسي : ان المحب لمن يحب مطيع، څرګنده دي وي چي د حب نبوي دا تر ټولو اعلى مرتبه ده چي د يو مسلمان د رسول الله ﷺ د

اسوه حيات كامله اتباع خپله وظيفه جوړول ددې خبري علامه ده چي هغه د رسول الله ﷺ دعوه په مينه كي بالكل ريښتوني او د درجه كمال حامل دي كه څه هم د ميني حقيقت او ماهيت دادی چي انسان د يو چا څخه را ايستل او د هغه د زړه د هغه محبوب ښېګڼو او د هغه ذات او صفات او د هغه شكل او صورت د تعريف او توصيف څخه معمور كېدل چي هغه خپل محبوب تر ټولو ښه لېدل او ګڼل پېل كړي چي څرنګه اوس وښودل سول د ميني د تكميل انحصار د محبوب كاملي اتباع او پيروي باندي دی كه باطني تعلق او ميني سره د عمل او اتبآع دولت هم نصيب سي نو اصلي او كامل مينه دغه ته ويل كيږي كنه نو محض په زړه كي د ميني كېدل او په ژبه سره د هغه اقرار كول مګر د عمل او اتباع په لاره كي د غفلت او كوتاهۍ ښكار كېدل د ميني د ناقص كېدو دليل دی لكه څرنګه چي د عمل څخه پرته ايمان درجه تكميل ته نه رسيږي .

د دعوت اسلام په لار كي

﴿۵۰۲۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ أُخِفْتُ فِي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د الله جل جلاله د دين په اظهار

اللّٰهِ وَمَا يُخَافُ أَحَدٌ وَلَقَدْ أُوذِيتُ فِي اللّٰهِ وَمَا يُؤْذَى أَحَدٌ وَلَقَدْ أَتَتْ عَلَيَّ ثَلَاثُونَ

وبيرول سوم او (زما څخه پرته) بل څوک دومره نه وو بيرول سوی او ما ته تكليف راكړل سو چي داسي تكليف هيچا ته نه وو وركړل سوی او البته ديرش

مِنْ بَيْنِ ليلة ويوم وَمَا لِي وَلِبِلَالٍ طَعَامٌ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ إِلَّا شَيْءٌ يُوَارِيهِ إِبْطُ

شپې او ورځي پر ما داسي تيري سوي چي زما او بلال لپاره خوراک نه وو ، هغه خوراک د هر ځيګر خاوند خوري خو يو ډير لږ دول شی چي

بِلَالٍ. رواه الترمذي وقال و مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ حِينَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

بلال په خپل څنګ كي پټ كړی وو . ترمذي، ترمذي ددې حديث معنا بيان كړې ده كوم وخت

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَارِبًا مِنْ مَكَّةَ وَمَعَهُ بِلَالٌ إِنَّمَا كَانَ مَعَ بِلَالٍ مِنَ الطَّعَامِ مَا يَحْمِلُ تَحْتَ إِبْطِهِ .

چي نبي كريم ﷺ د مكې څخه د باندي ولاړى نو د رسول الله ﷺ او بلال سره د خوراك د شيانو يوازي دومره وو چي بلال په څنګ كي پټ كړي وه دا په حقيقت كي د طائف پېښه ده هلته رسول الله ﷺ تريوې مياشتي پوري د اسلام د بلني په كار بوخت وو او سخت تكليفونه يې وزغمل.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۵۶، رقم: ۲۴۷۲.

تشريح: د حديث د لومړنيو جملو وضاحت طيبي رحمه الله هغه كړى دى كوم چي په ترجمه كي نقل سوى دى مګر صحيح خبره داده چي هيڅوك دومره په بېره او دهشت كي نه دى اخته سوى او دومره زياتو تكليفو سره بل هيڅوك مخ سوى نه دى ، ددې څخه د رسول الله ﷺ مراد دا دى چي د الله تعالى د دين په رسولو كي څومره په بېره او دهشت كي اخته سوى يم او څومره تكليفونه ما زغملي دي بل نبي او رسول نه دي زغملي، ددې تائيد ددغه حديث څخه هم كيږي چي په هغه كي رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ما اوذي نبي مثل ما اوذيت، څومره تكليف چي ما ته رسول سوى دى دومره بل هيڅ نبي او رسول ته نه دى رسول سوى، او ددې وجه داده چي په اصل كي د الله تعالى د دين په لاره كي تكليف رسېدل د هر سړي د همت ، حيثيت او مرتبې مطابق وي، د رسول الله ﷺ همت او حيثيت د ټولو څخه لوړ وو د رسول الله ﷺ مرتبه تر ټولو لوړه وه د رسول الله ﷺ صداقت او حقانيت تر ټولو زيات څرګند وو او د ايمان خپرولو او د خلكو پر سيده لار راوستلو آرزو او د هغه لپاره هڅه كول تر ټولو زيات د رسول الله ﷺ سره وو ځكه چي په دغه لار كي تر ټولو زيات تكليفونو سره مخ كېدل هم رسول الله ﷺ ته پېښ سوي دي.

ولقد اتت علي ..الخ: ددې څخه د رسول الله ﷺ د خپل فقر او فاقې د سختو ورځو ذكر چي په كوم انداز كي وفرمايه د هغه څخه يو خو سخت مصيبتو ته اشاره كول مقصد دي چي د هغه سره رسول الله ﷺ ته د سلام د دعوت په لاره كي مخ كېدل وه نو ظاهره ده چي د فقر او فاقې څخه زيات بل سخت تكليف نسي كېداى، او دوهم اصل مقصد د امت خلكو ته تعليم او تلقين وو چي د الله جل جلاله د دين په لاره كي كه لوى تكليف زغمل هم وي نو هغه په ښه ډول زغمل پكار دي او په هر صورت د استقامت پر لاره تلل پكار دي.

امام ترمذي رحمه الله چي دا ويلي دي چي (او هغه وخت د رسول الله ﷺ سره حضرت بلال رضي الله عنه وو) ددې څخه دا خبره څرګنديږي چي د رسول الله ﷺ د بيان سوي صورت حال تعلق د هغه وخت سره نه دى چي رسول الله ﷺ د مكې څخه د مدينې لپاره هجرت كړى وو ځكه چي هغه وخت د رسول الله ﷺ سره حضرت بلال رضي الله عنه نه وو، بلكه دا واقعه غالبا د هغه وخت ده چي د اسلام په پېل كي د مكې څخه طائف ته تشريف وړى وو ، د نبوت لسم كال وو او د شوال مياشت

وه چي د رسول الله ﷺ اکا ابوطالب وفات سو، او بیا درې ورځي وروسته یا پنځه ورځي وروسته ام المؤمنین بي بي خدیجه رضي الله عنها په حق ورسېده، دغه دواړې پېښي د رسول الله ﷺ لپاره سختي وې ځکه رسول الله ﷺ دغه کال ته عام الحزن یعني د غم کال وو وایه، د مکې قریش د مخکي څخه رسول الله ﷺ ته ډول ډول تکلیفونه ورکړي وه اوس د دغه دوو هستیو په خاصه توګه د ابوطالب د وفات څخه وروسته هغوئ ته د خپلو ظالمانه اعمالو او کارو موقع تر لاسه سوه نو هغوئ رسول الله ﷺ ته په تکلیف رسولو کي نور شدت اختیار کړ،

بلي خوا ته رسول الله ﷺ د اهل مکه د اسلام قبلولو څخه د ناامیدۍ په صورت کي وو نو په دغه کال یعني لسم هجري کال د شوال د میاشتي په پای کي رسول الله ﷺ د حضرت زید ابن حارث رضي الله عنه سره پر پښو د مکې څخه طائف ته تشریف یووړ او د طائف خلکو ته یې د حق کلمې دعوت ورکړ او پر له پسې یوه میاشت یې هغوئ ته تبلیغ وکړ، مګر هغوئ د رسول الله ﷺ یوه خبره نه ومنل او یوه سړي ته هم د حق قبلېدو توفیق ور نه کړل سو، بلکه ظالمانو خپل کوچنیان او بدمعاش خلک په رسول الله ﷺ پسي ولګول چي تکلیف ورته ورسوي نو هغه بدبختو په رسول الله ﷺ باندي ډبري اورول پیل کړل، د رسول الله ﷺ پښې مبارکي زخمي کېدلې او دومره ویني ځیني بهېدلې چي څپلۍ مبارکي یې په وینو ډکي سوې، رسول الله ﷺ چي به د زخمونو څخه په بې تابه کېدو ولوېدی نو هغه خلکو به د رسول الله ﷺ دواړه لاسونه ونیول او ولاړ به یې کړی رسول الله ﷺ به پر مخ تلی نو هغوئ به بیا په ډبرو ویشتی او په خوشحاله کېدو سره به یې لاسونه ټکول او په زوره به یې خندل، حضرت زید ابن حارثه رضي الله عنه چي به د کومي خوا څخه ډبره لېدل نو هغه خوا ته به ودرېدی او رسول الله ﷺ به یې ژغوری، تر دې چي د حضرت زید رضي الله عنه سر هم په ډبري ولګېدی او سخت زخمي سو، په دغه دوران کي الله جل جلاله د وریځي یوه ټوټه راولېږل چي پر رسول الله ﷺ یې سایه وکړه او بیا حضرت جبرائیل علیه السلام د یو بلي ملائکي سره راغلی او وه یې ویل چي پروردګار ستاسو د قوم ټولي خبري واورېدلي او ستاسو سره یې چي کوم چلند کړی دی هغه یې ولېدی زما سره هغه ملائکه ده چي هغې ته د غرونو خدمت حواله دی د الله پاک هغه ته حکم دی که چیري ته وایي نو د طائف شاوخوا غرونه به په خپلو کي وجنګوي او د هغه دواړو په منځ اهل طائف دي داسي سي لکه څرنګه چي د ژرندي دواړه پلونه دانې میده کوي مګر دا ممکن نه وه چي رحمت عالم ﷺ د انتقامي کاروایي اجازه ورکړي نو رسول الله ﷺ ددې اجازه ور نه کړه او داسي یې وویل: یا ارحم الراحمین! تاسو زه سخت زړه او د بدلي اخیستلو عادي نه یم جوړ کړی زه پر خلکو ستاسو د عذاب نازولو لپاره نه یم راغلی ما د

خپل قوم د هلاکولو او تباه کولو سبب مه جوړوې که دوئ نیست او نابود سي نو په دې سره ما ته څه تر لاسه کیږي مګر که چیري دوئ ژوندي وي نو امید دی چي کیدای سي د دوئ د نسلونو څخه هغه خلک پیدا سي چي په وحدانیت سره ستا عبادت کوي او ستا د دین بیرغ لوړ کړي، اې پروردګاره! دوئ زما د مرتبې څخه ناخبره دي ، د دوئ پر سترګو د جهل او ناپوهۍ پټۍ تړلي دي که ته دوئ ته بینایي ورکړې چي په هغه سره دوئ زما شان وویني نو امید دی چي په ایمان سره به مشرف سي . په پای کي یوه میاشت وروسته رسول الله ﷺ د طائف څخه راستون سو چي د فقر او فاقې او زخمو څخه یې بدن مبارک کمزوری سوی وو او ګوتي مبارکي یې وینو رنګ سوي وي مګر په ژبه مبارکه یې د ښېرا پر ځای د دعاء الفاظ جاري وه .

د طائف د سفر دغه پوره واقعه په تفصیل سره د تاریخ په کتابو کي ملاحظه کیدای سي دلته ددغه واقعې اجمالي ذکر سوی دی او هغه هم ددې لپاره چي د روایت په پای کي دې ته اشاره ده ، پاته سوه دا خبره چي په حدیث کي د رسول الله ﷺ د حضرت بلال رضی الله عنه ذکر دی حال دا چي په ذکر سوې واقعه کي د حضرت زید ابن حارثه رضی الله عنه ذکر دی نو په دغه دواړو کي هیڅ تضاد نسته ځکه اغلب داده چي حضرت بلال او حضرت زید بن حارثه رضي الله عنهما دواړه د رسول الله ﷺ سره وه مګر د تاریخ او سیرت په کتابو کي د حضرت زید ابن حارثه رضی الله عنه یادونه کیږي.

د نبي ﷺ پر نس مبارک ډبري

﴿۵۰۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي طَلْحَةَ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُوعَ فَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ فَرَفَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بطنه حَجَرَيْنِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو طلحه رضی الله عنه څخه روایت دئ چي موږ رسول الله ﷺ ته د لوږي شکایت وکړ او پر خپل نس مو یوه یوه ډبره تړلې وه خپل نسونه مو رسول الله ﷺ ته ښکاره کړل ، رسول الله ﷺ چي خپل نس ښکاره کړ نو پر هغه مبارک دوې ډبري تړلي وې . ترمذي ویلي دا حدیث غریب دئ.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۵۰۶، رقم: ۲۲۷۱.

تشریح: کله چي د لوږي سختي وي او نس بالکل خالي وي نو په دغه صورت کي پر نس ډبري تړل نس ، معدې او کولمو ته دومره تقویت ورکوي چي سړي خپل کار کولای سي او پر ناسته ولاړه باندي لږ قادر کیږي او کله چي د لوږي شدت تر دې زیات سي او په ډبرو هم ګزاره نه

کیږي نو بیا بله دبره پر وتړل سي ، پر رسول الله ﷺ باندي د لوږي شدت دومره زیات وو او هسي هم رسول الله ﷺ د زیات محنت او ریاضت عادي وو ځکه رسول الله ﷺ پر خپل نس مبارک دوې دبري تړلي وې.

﴿۵۰۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ أَصَابَهُمْ جُوعٌ فَأَعْطَاهُمْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَمْرَةً تَمْرَةً. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دئ چي دوئ لوږي په تکليف کړل نو رسول الله ﷺ يوه يوه خرما ورکړل. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۵۷، رقم: ۲۴۷۴.

تشريح: ددغه حديث څخه د حضرت ابوهريره ﷛ مقصد دا ښودل دي چي هغه پر صحابه کرامو باندي د فقر او فاقې او دخوراک او څښاک د تنگۍ دومره غلبه وه چي دپره واره به هغوئ په يوه يوه خرما اکتفاء کول.

صابر او شاکر څوک دی

﴿۵۰۲۶﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت عمرو بن شعيب ﷛ د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَصْلَتَانِ مَنْ كَانَتَا فِيهِ كَتَبَهُ اللّٰهُ شَاكِرًا صَابِرًا مَنْ نَظَرَ فِي

الله ﷺ وفرمايل: دوه عادتونه دي کوم چي په سړي کي پيدا سي نو الله تعالى هغه په شکر کونکي صبر کونکي خلکو کي ليکي: يو خو دا چي هر کله

دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَاقْتَدَى بِهِ وَمَنْ نَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ فَحَمِدَ

په ديني کارونو کي څوک د ځان څخه غوره ويني نو د هغه پيروي وکړي او په دنيا وي کارونو کي که څوک ويني چي د هغه څخه د لاندي درجې وي نو د الله تعالى تعريف وکړي

اللّٰهَ عَلَى مَا فَضَّلَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ كَتَبَهُ اللّٰهُ شَاكِرًا صَابِرًا وَمَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ

چي ده ته يې پر هغه ښېگڼه ورکړې ده ، الله تعالى دي په شکر کونکي کي ليکي ، او څوک چي په دين کي داسي کس ويني

هُوَ دُونَهُ وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَأَسِفَ عَلَى مَا فَاتَهُ مِنْهُ لَمْ يَكْتُبْهُ

چې دده څخه کم وي او په دنيوي لحاظ سره داسي کسان ويني چې دده څخه زيات وي او بيا هغه پر تير سوي شی د افسوس اظهار وکړي

اللَّهُ شَاكِرًا وَلَا صَابِرًا. رواه الترمذي و ذكر حديث ابي سعيد ابشروا يا معشر صعاليك المهاجرين في باب بعد فضائل القرآن.

نو الله تعالی هغه صابر او شاکر نه ليکي ، ترمذي ، د ابو سعيد حديث د فضائل قرآن څخه وروسته بيان کړل سو چې اې د فقراء مهاجرينو خوشحاله اوسئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۷۴، رقم: ۲۵۱۲.

تشريح: د مؤخر الذکر سړي نه شاکر او نه صابر ګرځولو سبب دادی چې د کومو دوو خصلتونو ذکر سوی دی په هغه کې يو صفت هم هغه اختيار نه کړ بلکه د هغه پر خلاف هغه دالله تعالی ناشکري وکړه او په ژبه او زړه سره د جزع او فزع او شکايت مرتکب سو .

په حديث کې فرمايل سوي دي چې الله ﷻ هغه څوک صابر او شاکر ګرځوي، مطلب دادی چې الله ﷻ هغه سړي کامل مؤمن جوړوي او ددغه آيت (ان في ذلک لايات لکل صبار شکور) څخه دا ثابتيږي چې د صابر او شاکر اطلاق پر هغه چا باندي کيږي چې کامل مؤمن وي .

په يوه حديث کې دا هم فرمايل سوي دي چې د ايمان دوه نصفه دي يو نصف صبر دی او يو نصف شکر دی ، يعني خپل ځان د خرابيو څخه منع کول په صبر سره تعبير سوی دی او د اندامو په ذريعه د طاعت کول د شکر مفهوم دی او څرګنده ده چې د بنده ژوند ددغه دواړو اجزاوو د تکميل څخه معموره وي نو هغه کامل مؤمن دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

پر فقر د صبر کونکي فضيلت

﴿۵۰۲۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْحُبُلِيِّ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو

د عبدالرحمن حبلي رضي الله عنه څخه روايت دی چې د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه يو سړي پوښتنه وکړه

وَسَأَلَهُ رَجُلٌ قَالَ أَلَسْنَا مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ أَلَكَ امْرَأَةٌ

چي ايا موږ د هغه فقراء مهاجرينو څخه نه يو چي هغوئ ته دا زيرى وركړل سوى دئ چي (هغوئ به د شتمنو څخه مخكي جنت ته ځي) ددې په جواب كي ما د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه دا واوريدل چي ايا ستا ښځه سته

تَأْوِي إِلَيْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ أَلَكَ مَسْكَنٌ تَسْكُنُهُ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَنْتَ مِنْ

چي ته د هغې سره اوسيږې ؟ هغه وويل :هو، بيا عبدالله پوښتنه وكړه ايا ستا كور سته چي ته په هغه كي اوسيږې ؟ هغه وويل هو، عبدالله ورته وويل بيا ته

الْأَغْنِيَاءِ قَالَ فَإِنَّ لِي خَادِمًا قَالَ فَأَنْتَ مِنَ الْمُلُوكِ قَالَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَجَاءَ

شمتن يې، هغه سړي ويل هو زما سره يو خادم هم سته، عبدالله ورته وويل بيا خو ته د پاچاهانو څخه يې، د ابو عبدالرحمن راوي بيان دئ چي

ثَلَاثَةُ نَفَرٍ إِلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو وَأَنَا عِنْدَهُ فَقَالُوْا يَا أَبَا مُحَمَّدٍ إِنَّا وَاللّٰهِ مَا

درې كسان عبدالله بن عمرو رضي الله عنه ته راغلل دغه وخت زه د هغه سره ناست وم هغوئ وويل اې عبدالله ! قسم په خداى

نَقْدِرُ عَلٰى شَيْءٍ لَا نَفَقَةَ وَلَا دَابَّةَ وَلَا مَتَاعَ فَقَالَ لَهُمْ مَا شِئْتُمْ إِنْ شِئْتُمْ

موږ پر هيڅ شي قدرت نه لرو نه خو زموږ سره خرڅ سته او نه سپرلۍ او نه سامان، عبدالله بن عمرو ورته وويل تاسو څه غواړئ ؟ كه تاسو دا غواړئ (چي زه د خپل لوري څخه څه دركړم)

رَجَعْتُمْ إِلَيْنَا فَأَعْطَيْنَاكُمْ مَا يَسَّرَ اللّٰهُ لَكُمْ وَإِنْ شِئْتُمْ ذَكَرْنَا أَمْرَكُمْ

نو بيا يو وخت راسئ زه به هغه شى دركړم چي د هغه انتظام الله تعالى وكړي، او كه تاسو غواړئ نو زه به ستاسو حالت

لِلسُّلْطَانِ وَإِنْ شِئْتُمْ صَبَرْتُمْ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

پاچا ته بيان كړم، او كه تاسو خوښوئ نو صبر وكړئ، ځكه چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي

يَقُوْلُ إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِيْنَ يَسْبِقُوْنَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ

بِأَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا قَالُوْا فَإِنَّا نَصْبِرُ لَا نَسْأَلُ شَيْئًا. رواه مسلم.

چي فقراء مهاجرين به د شتمنو څخه څلوېښت كاله مخكي جنت ته ځي، هغوئ وويل موږ به صبر كوو او هيڅ نه غواړو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\۲۲۸۵، رقم: ۳۷- ۲۹۷۹.

د فقراء مهاجرينو فضيلت

﴿۵۰۲۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ بَيْنَمَا أَنَا قَاعِدٌ فِي الْمَسْجِدِ وحلقة

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ په مسجد نبوي كي ناست وو او د فقراء

مِّنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِيْنَ قُعُوْدٌ إِذْ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَعَدَ

مهاجرينو حلقه جوړه سوې وه چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ او د فقراء مهاجرينو سره

إِلَيْهِمْ فَقُمْتُ إِلَيْهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُبَشَّرْ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِيْنِ

كښېنستی، زه ولاړ سوم او د فقراء مهاجرينو په لور متوجه سوم، نبي كريم ﷺ وفرمايل: فقراء مهاجرين ته هغه زيری رسول پكار دي

بِمَا يَسُرُّ وُجُوْهَهُمْ فَإِنَّهُمْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِأَرْبَعِيْنَ عَامًا قَالَ

چي د شتمنو څخه به د هغوئ مخونه تازه وي (يعني هغوئ به خوشحاله سي او هغه زيری دا دی چي) هغوئ به جنت ته تر شتمنو څلوېښت كاله تر مخه ځي، د راوي بيان دی چي

فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَلْوَانَهُمْ أَسْفَرَتْ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنِ عُمَرٍو حَتّٰى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُوْنَ

مَعَهُمْ أَوْ مِنْهُمْ. رواه الدارمي.

ما وليدل چي په دې اوريدو سره د فقراء مهاجرينو مخونه ځلانده سول، د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه بيان دی چي د فقراء مهاجرينو د خوشحاله كېدو سره ما په خپل زړه كي دا آرزو وكړل چي زه هم د دوئ سره وای، يا د دوئ وای، دارمي

تخريج: سنن الدارمي ۲\۴۳۷، رقم: ۲۸۴۴.

تشریح: په (بما یسرو وجوهم) کې د وجوه د لفظ څخه مراد یا خو ذات دی یا لکه څرنګه چې په ترجمه کې ددې لحاظ ساتل سوی دی، یا دا چې دغه لفظ په خپل اصلي معنی (مخ) کې استعمال سوی دی، په دغه صورت کې به معنی دا وي چې د هغوئ زړونه خوشحاله کړي او دهغه خوشحالۍ اثر د هغوئ پر مخونو ظاهر وي.

په (اکون معهم او منهم) کې د او حرف د تنویع لپاره دی او ددې مطلب هم بیان سوی دی یا دا چې دا یوازې د راوي شک ظاهروي چې حضرت عبدالله رضي الله عنه یا خو- ان اکون معهم- فرمایلي دي یا یې دا وفرمایل چې- ان اکون منهم-، یعني زما په زړه کې دا ارزو پیدا سوه چې کاش زه هم د فقیرانو مهاجرینو څخه یو وای.

د اوو خبرو حکم

﴿۵۰۲۹﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ أَمَرَنِي خَلِيلِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ أَمَرَنِي

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چې زما خلیل (رسول الله صلی الله علیه وسلم) ما ته د دغه اووه کارو حکم

بِحُبِّ الْمَسَاكِينِ وَالدُّنُوِّ مِنْهُمْ وَأَمَرَنِي أَنْ أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ دُونِي وَلَا أَنْظُرَ إِلَى

راکړ چې زه (۱) د مسکینانو سره مینه وساتم او هغوئ ته نژدې اوسم (۲) او دا حکم یې راکړ چې د ځان څخه د کمي درجې خلکو ته وګورم او پورته خلکو ته نه ګورم

مَنْ هُوَ فَوْقِي وَأَمَرَنِي أَنْ أَصِلَ الرَّحِمَ وَإِنْ أَدْبَرَتْ وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَسْأَلَ أَحَدًا

(۳) او دا حکم یې راکړ چې د خپلوانو سره خپلوي قائم وساتم که څه هم چې خپلوان یې وشکوي (۴) او دا حکم یې راکړ چې د هیچا څخه به د هیڅ شي سوال نه کوم،

شَيْئًا وَأَمَرَنِي أَنْ أَقُولَ بِالْحَقِّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَخَافَ فِي اللَّهِ لَوْمَةَ

(۵) او دا حکم یې راکړ چې رښتیا خبره به کوم که څه هم چې ترخه وي. (۶) او دا حکم یې راکړ چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کې به د چا د ملامتیا څخه نه بیریږم،

لَائِمٍ وَأَمَرَنِي أَنْ أُكْثِرَ مِنْ قَوْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ فَإِنَّهُنَّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ. رواه احمد.

(۷) او دا حکم یې راکړ چې ډېر لاحول ولاقوة الا باالله، وایم ځکه چې دا کلمې د هغه خزانې څخه دي کومه خزانه چې تر عرش الهي لاندي ده. احمد.

تخریج: مسند الامام احمد ۱۵۹\۵.

تشریح: په (فانهن) کي ضمیر شیخ عبدالحق رحمه الله ذکر سوو اوو خبرو ته راجع کړی دی لکه څرنګه چې د ترجمې څخه څرګنده سوه، مګر ملا علي قاري رحمه الله د دغه ضمیر مرجع یوازي اخري خبري یعني (لاحول ولاقوة الاباالله) ګرځولی دی او فرمایلي یې دي چې دغه الفاظ په اصل کي د هغه خزانې یوه برخه ده چې د عرش الهي لاندي محفوظ ایښودل سوې ده او تر معنوي خزانې پوري د هغه سړي څخه پرته د بل چا رسیدل نسي کیدای چې هغه ته د الله ﷻ له خوا د حول او قوة یعني قدرت او طاقت حاصل وي یا دا معنی ده چې دغه الفاظ د جنت د الفاظو څخه یوه خزانه ده، په دغه صورت کي د عرش الهي لاندي مفهوم به هم بالکل څرګند وي ځکه چې عرش تر ټولو لوړ جنت دی، ملا علي قاري رحمه الله ویلي دي چې کومو شارحینو د (انهن) ضمیر ذکر سوو اوو خبرو ته په راجع کولو سره دا ویلي دي چې دغه اووه خبري او عادتونه په هغه خزانه کي دي چې تر عرش الهي لاندي ده.

یو قول داسي دی چې د حقیقت څخه لیري دی ځکه د دغه قول د ثابتولو لپاره یو دلیل نسته، حال دا چې د انهن ضمیر یوازي اخري خبري یعني لاحول ته د راجع کولو تر ټولو لوی دلیل دادی چې صحاح سته او نور مسند کتابو کي په ډېرو طریقو سره دا روایت نقل سوی دی چې لاحول ولاقوة الاباالله د جنت د خزانو څخه یوه خزانه ده، پاته سوه دا خبره چې دغه الفاظو ته د جنت خزانه په کوم اعتبار ویل سوي دي نو په دې اړه د علماؤ مختلف قولونه دي ځینو حضراتو ویلي دي چې دغه الفاظو ته خزانه ځکه ویل سوي دي چې څرنګه خزانه د عام خلکو د نظرو څخه پټه وي همدارنګه دغه الفاظ دخپل حقیقت او رفعت په اعتبار د خلکو د نظرو څخه خوندي دي، یا دغه الفاظ ځکه په خزانې سره تعبیر سوي دي چې دا د جنت د ذخېرو څخه یوه ذخیره ده یا دا چې څوک د دغه الفاظو ورد کوي د هغه لپاره ډېري درجې او ثواب په جنت کي خوندي کیږي، په دې اعتبار سره دغه الفاظ یوه خزانه ده، حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په یوه روایت کي بیان کوي چې یوه ورځ د رسول الله ﷺ په مخکي ما دغه کلمه (لاحول ولاقوة الاباالله) وویل، نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه ایا ته د دغه الفاظو په حقیقي مفهوم هم پوهېږې؟ ما وویل: الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهیږي، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: د دغه الفاظو مطلب دادی چې د الله ﷻ د نافرمانۍ او ګناهو څخه ساتل یوازي د الله ﷻ پر مرسته منحصر دي او د

الله ﷻ په طاعت او عبادت باندي قادر کېدل يوازي د الله تعالى له خوا په ورکونکي قدرت او طاقت باندي منحصر دي.
مشائخ شاذليه قدس الله د هغه طالبانو او د معرفت او طريقت پيروانو ددغه الفاظو (لاحول ولاقوة الابالله) د ورد ډېر وصيت کړی دی او وايي چي د عمل په توفيق کي تر دې زيات معين او مرستيال بل هيڅ شی نسته.

ددنيا درې مرغوب شيان

﴿۵۰۳۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ مِنَ الدُّنْيَا ثَلَاثَةٌ الطَّعَامُ وَالنِّسَاءُ وَالطِّيبُ فَأَصَابَ اثْنَتَيْنِ وَلَمْ يُصِبْ وَاحِدًا أَصَابَ النِّسَاءَ وَالطِّيبَ وَلَمْ يُصِبِ الطَّعَامَ. رواه احمد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي د دنيا په شيانو کي درې شيان د رسول الله ﷺ خوښ وه، (۱) خوراک (۲) بيبياني (۳) او خوشبوئي، په دغه کي دوه شيان رسول الله ﷺ ته زيات تر لاسه وه (بيبياني او خوشبوئي) او دريم شی ورته تر لاسه نه سو (يعني خوراک). احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۱\۷۲.

تشريح: پر طعام باندي د نفي اطلاق د مبالغې په توګه دی چي د رسول الله ﷺ خوراکي ضرورت څومره لږ او د نه تر لاسه کېدو برابر وو، مخکي دا روايت تېر سوی دی چي رسول الله ﷺ تر وفات پوري پرله پسې دوې ورځي د اوربشو ډوډۍ هم په ماړه نس نه ده خوړلې، که څه هم د خوراک دغه تنګي او قلت خپله د رسول الله ﷺ اختيار کړده وو چي رسول الله ﷺ د ځان لپاره د تنګۍ ژوند او فقر ته ترجيح ورکړې وه او الله تعالى د خپل حبيب لپاره دا خبره خوښه کړه نو په دې کي بې شمېره حکمتونه پټ دي.

﴿۵۰۳۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُبِّبَ إِلَيَّ الطِّيبُ وَ النِّسَاءُ وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ. رواه احمد والنسائي و زاد ابن الجوزي بعد قوله حبب الى من الدنيا.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما لپاره خوشبوئي او بيبياني

محبوب ګرځول سوي دي او لمونځ خو زما د سترګو يخوالی جوړ کړل سوی دی. احمد، نسائي او ابن الجوزي د حبب څخه وروسته د من الدنيا لفظ زيات بيان کړی دی.

تخريج: مسند الامام احمد ۳\۱۹۹، والنسائي ۷\۶۲، رقم: ۳۹۴۱.

تشريح: زما د زړه سکون او نشاط په لمانځه کي اېښودل سوی دی: مطلب دادی چي ما ته کوم ذوق او لذت په لمانځه کي تر لاسه کيږي هغه په بل عبادت کي نه تر لاسه کيږي، پر رسول الله ﷺ باندي د لمانځه پر وخت د دغه لذت بېخودي او ذوق اثر وو چي کله به د لمانځه وخت سو نو د ډېر شوق په حالت کي به يې ويل: ارحنا يا بلال! يعني اې بلاله! ژر ولاړ سه او اذان وکړه چي زه لمونځ پيل کړم او د نورو امورو د بوختيا او تفکر څخه په خلاصېدو سره په مناجات حق کي بوخت سم.

د قرة لفظ يا خو د قر څخه مشتق دی چي د هغه معنی د قرار او اثبات ده او کله چي نظر ته د محبوب دېدار نصيب سي نو نه يوازي زړه ته قرار حاصل سي چي سترګي بيا بل چا لېدو ته نه رواداري کيږي بلکه زړه او دماغ ته د راحت او اطمينان دولت حاصل سي.

لکه څرنګه چي د محبوب د دېدار په صورت کي نظر پرېشان او زړه ناقرار وي نو د نظر او زړه د اقرار او سکون رسول الله ﷺ په قرة عيني سره تعبير کړيا دا چي لفظ د قرة په اصل کي د قر څخه مشتق دی چي د هغه معنی د يخوالي او لذت ده چي د يو عزيز شي او محبوب ديدار او مشاهدې په سرور کي سترګو ته تر لاسه کيږي. لکه څرنګه چي يو ناقابل نفرت شي په لېدو سره په سترګو کي بل بخري معلوميږي همدارنګه د خپل يو عزيز او محبوب په لېدو سره سترګو ته يخوالی محسوس کيږي ځکه زوی ته قرة العين ويل کيږي.

د روايت د آخري الفاظو مطلب دادی چي ابن جوزي رحمة الله عليه دغه حديث څرنګه نقل کړی دی په دې کي د شروع جمله داسي ده: حبب الي من الدنيا الطيب...الخ، يعني د دنيا کوم غوره شيان چي زما لپاره غوره جوړ سوي دي په هغو کي يو خو خوشبويي ده او دوهم ښځه ده، مګر دا خبره دي څرګنده وي چي د حديث هغه الفاظ کوم چي امام احمد او امام ترمذي په اتفاق سره نقل کړي دي زيات صحيح هغه دي کوم چي په پورته متن کي نقل سوي دي، طبراني په خپل درو سره معاجمو کي په خطيب تاريخ بغداد کي او ابن عدي په کامل کي هم دا روايت په دغه الفاظو سره نقل کړی دی او حاکم هم په خپل مستدرک کي همداسي نقل کړی دی او ويلي يې دي چي دغه حديث د مسلم د شرط مطابق صحيح دی مګر د هغه په روايت کي د جعلت الفاظ

نسته، د نسائي په روايت كي هم د من الدنيا الفاظ په يوه بله وجه منقول دي، د يوې بلې خبرې وضاحت هم ضروري دي چي د ناقلين حديث په نزد په دغه روايت كي د : حبب الي من الدنيا ، څخه وروسته د ثلث لفظ نقل كيږي نو څرنګه چي سخاوي رحمه الله نقل كړي دي چي د تحقيق او پلټنې سربېره دغه حديث په هيڅ كتاب كي ددغه روايت په دوران كي نسي تر لاسه كيداى مګر په كتاب احياء العلوم او د كشاف په تفسير سورة آل عمران كي دغه لفظ موجود دى ، شيخ ابن حجر رحمه الله او شيخ ولي الدين عراقي رحمه الله هم دا ليكلي دي چي د حديث په كوم كتاب كي هم دغه روايت دى د ثلث لفظ په هيڅ كتاب كي منقول نه دى نو دغه حديث په دغه الفاظو سره منقول سوى دى ددې په مفهوم كي هيڅ سوال نسته ، همدارنګه ددغه دواړو الفاظو يعني من الدنيا او ثلث څخه كه چيري يو لفظ هم شامل روايت وي بيا هم مفهوم بالكل څرګند دى مګر كه چيري دغه دواړو لفظونه يو ځاى شامل روايت وي نو په دغه صورت كي اشكال پيدا كيږي چي پر لمانځه باندي د دنياوي شي اطلاق څرنګه كيداى سي ، ځكه چي لمونځ دنياوي شى نه دى نو كوم ناقلين حديث چي په دغه دواړو الفاظو سره دا روايت بيانوي د هغوئ له خوا ددغه سوالو جواب وركول كيږي چي د دنيا څخه د رسول الله ﷺ مراد دغه عالم حيات دى يعني رسول الله ﷺ داسي وفرمايل چي په دغه دنيا كي درې شيان زما خوښ دي چي په هغو كي ځيني شيان خو طبعي او دنياوي امورو سره تعلق لري يعني خوشبو او ښځي او دريم شى يعني د لمانځه تعلق د ديني امورو سره دى .

په حديث كي د صلوة لفظ تقريبا د ټولو علماؤ په نزد پر لمانځه باندي محمول دى مګر د ځينو حضراتو قول دا هم دى چي په دغه حديث كي د صلوة د لفظ څخه پر نبي كريم ﷺ باندي درود او سلام مراد دى .

د الله ﷻ بندګان ارام نه كوي

﴿۵۰۳۲﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَعَثَ بِهِ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ فَإِنَّ عِبَادَ اللّٰهِ لَيْسُوا بِالْمُتَنَعِّمِينَ. رواه احمد.

د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هغه يمن ته وليږى نو دا نصيحت يې ورته وفرمايه چي خپل ځان د آرام او استراحت څخه وساته ځكه چي د الله ﷻ بندګان آرام او استراحت نه تر لاسه كول . (نه خوښوي). احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۲۴۳.

تشريح: د تنعيم مفهوم د نفساني خواهشاتو په تكميل كي زيات پابندي كول او د دنياوي لذتونو او نعمتونو په منځ كي اوسېدل او دخوراك او څښاك او د طبيعت او نفس دمرغوباتو حريص كېدل دي، خلاصه دا چي د راحت غوښتني او اسانۍ په شيانو كي لوېدل او د عيش او عشرت ژوند اختيارول د كافرانو، فاجرانو، غافلانو او ناپوهانو خلكو خاصه ده، د خاص بندګانو د داسي ژوند سره كار نه وي، الله ﷻ فرمايلي دي:

(ذَرْهُمْ يَأْكُلُواْ وَيَتَمَتَّعُواْ وَيُلْهِهِمُ الأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ)

ژباړه: ته دغه كافران پر خپل حال پرېږده چي هغوئ ښه وخوري او مزې وكړي او خيالي منصوبې هغوئ په غفلت كي واچوي او ژر به حقيقت ورته معلوم سي.

په بل ځاى كي فرمايي:

يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ

ژباړه: او كوم خلك چي كافران دي هغوئ عيش كوي او داسي خوري لكه څرنګه چي حيوانان خوراك كوي او جهنم د دوئ ځاى دى.

او په يو بل ځاى كي داسي فرمايي:

إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَلِكَ مُتْرَفِينَ

ژباړه: او دغه كافرانو تر دې مخكي (په دنيا كي) په ډېره خوشحالۍ او آرام ژوند تېروئ.

د قناعت فضيلت

﴿۵۰۳۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَضِيَ مِنَ اللّٰهِ بِالْيَسِيْرِ مِنَ الرِّزْقِ رَضِيَ اللّٰهُ مِنْهُ بِالْقَلِيْلِ مِنَ الْعَمَلِ. رواه البيهقي.

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چي د الله تعالى په لږ رزق راضي سي نو الله تعالى د هغه څخه په لږ عمل راضي سي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۳۹/۱۴، رقم: ۴۵۸۵.

په حلاله طريقه روزي

﴿۵۰۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

جَاعَ أَوِ احْتَاجَ فَكَتَمَهُ النَّاسَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَّرْزُقَهُ رِزْقَ سَنَةٍ مِّنْ حَلَالٍ. رواهما البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي وږی یا اړ وي او خپل حالت د خلکو څخه پټوي نو پر الله تعالی د هغه دا حق ثابت سي چي په حلاله طریقه د هغه د یو کال روزي ورکړي. بیهقي

تخریج: البیهقي في شعب الایمان: ۷\۲۱۵، رقم: ۱۰۰۵۴.

تشریح: د لوږي څخه مراد هغه لوږه ده چي د هغه زغمل ممکن وي او د خلکو څخه د هغه پټول جائز وي ځکه چي کومه لوږه د نه زغملو حد ته ورسیږي او د هغه په وجه د هلاکت بېره وي نو داسي لوږه پټول جائز نه دي ځکه علماؤ وضاحت کړی دی که چیري یو سړی په داسي حالت کي د لوږي په وجه مړ سي چي نه خو هغه د چا په مخکي د خپلي لوږي اظهار کړی وي چي د هغه په وجه د خوړلو او څښلو شی پیدا کړي او نه یې داسي شی خوړلی وي چي په هغه سره ژوند ژغورل کېدای سي او د مجبوری په حالت کي د کومو شیانو خوړلو اجازه چي ورکړل سوې ده که څه هم هغه مردار وي نو د هغه مرګ به د ګناه کار مرګ وي.

تقواداره او عیالداره مسکین

﴿۵۰۳۵﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ عَبْدَهُ الْمُؤْمِنَ الْفَقِيرَ الْمُتَعَفِّفَ أَبَا الْعِيَالِ. رواه ابن ماجة.

د عمران بن حصین رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی خپل هغه مؤمن بنده خوښوي چي فقیر ځان ساتونکی د حرامو او سوال څخه وي او عیالداره وي. ابن ماجه.

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\۱۳۸۰، رقم: ۴۱۲۱.

تشریح: مطلب دادی چي کوم مسلمان د عیالدار، مفلس او غریب کېدو سربېره خپل او د خپل کورنۍ د اړتیاوو پوره کولو لپاره د حرام او ناجائزو ذرائعو څخه پرهېز کوي او د خلکو په مخکي د لاس غزولو څخه پرهېز کوي نو هغه کامل مسلمان دی ځکه الله تعالی هغه خوښوي.

د حضرت عمر رضي الله عنه تقوا

﴿۵۰۳۶﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ اِسْتَسْقَى يَوْمًا عُمَرُ فَجِيْءَ بِمَاءٍ قَدْ شِيْبَ

د حضرت زيد بن اسلم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت عمر رضي الله عنه يوه ورځ اوبه وغوښتلې، اوبه ورته راوړل سوې چي

بِعَسَلٍ فَقَالَ إِنَّهُ لَطَيِّبٌ لٰكِنِّيْ أَسْمَعُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ نَعٰى عَلٰى قَوْمٍ شَهَوَاتِهِمْ

شات پکښې ګډ سوي وه، حضرت عمر رضي الله عنه وويل چي دا خو پاکي دي مګر زه د الله تعالى څخه دا اورم چي هغه پر يو قوم د نفس د خواهشاتو د پيروي کولو عيب لګولى وو،

فَقَالَ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا فَأَخَافُ أَنْ تَكُوْنَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا فَلَمْ يَشْرَبْهُ. رواه رزين.

وې فرمايل تاسو د خپلو خوندو او نعمتونو پوره پوره ګټه خپل په دنيا وي ژوند کي تر لاسه کړه، حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: زما سره بيره ده چي زموږ نيکي داسي نه وي چي د هغه ثواب ژر (په دنيا کي) راکړل سوي وي نو هغه خوږې اوبه يې ونه چښلې. رزين.

تخريج: رواه رزين.

تشريح: د حضرت عمر رضي الله عنه د وينا مطلب دا وو چي په عسلو کي اوبه ډېري خوندوري او ډېر لوى نعمت دى کوم چي يې نفس هم ډېر خوښوي نو که چيري زه دغه اوبه وڅښم نو ګويا يو لوى نعمت څخه به برخمن سم او نفس به دې سره خوشحاله کوم نو زما سره دا بېره ده چي دا زموږ د اعمالو صالحه اجر ونه ګرځول سي کوم چي موږ ته په دنيا کي تر لاسه سي او د آخرت لپاره هيڅ پاته نسي لکه چي د کافرانو په اړه ده چي د هغوئ د نېکو اعمالو اجر هغوئ ته يوازي د دنيا د نعمتونو په شکل کي ورکول کيږي او په آخرت کي هيڅ نه ورکول کيږي، څرګنده دي وي چي حضرت عمر رضي الله عنه د الله تعالى کوم ارشاد نقل کړى دى يعني:

(أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا)

دغه د يو آيت ټوټه ده، همدارنګه يو آيت دا هم دى:

(مَّنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَاءُ)،

يعني څوک چې د دنيا د ګټې اميد لري نو داسي سړي ته موږ په دنيا کې چې څومره غواړي او د څه لپاره يې غواړي په دنيا کي ورکړو، دغه دواړه آياتونه چې د کافرانو په حق کې دي مګر اصل اعتبار عموم د الفاظو دی د کوم څخه چې هر څوک عبرت تر لاسه کولای سي او خاص سبب لره اعتبار نسته.

د اسلام په شروع کې

﴿۵۰۳۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ مَا شَبِعْنَا مِنْ تَمْرٍ حَتّٰى فَتَحْنَا خَيْبَرَ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې موږ هيڅکله په ماړه نس خرماوي هم نه وې خوړلې تر څو چې موږ خيبر فتح کړ. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۴۹۵، رقم: ۴۲۴۳.

===========

بَابُ الْاَمَلِ وَالْحِرْصِ

(د حرص او آرزوګانو بيان)

د امل معنی د اميد درلودلو ده او د حرص معنی د آرزو او ارادې پراخول، د حرص تعلق د نېکو او بنو ارادو سره هم کيدای سي لکه څرنګه چې په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي: (ان تحرص علی هدهم)، او د حرص اطلاق د نفساني خواهشاتو پر زياتوب باندي هم کيږي چې يو خراب شی دی، په قاموس کي ليکلي دي چې تر ټولو بد حرص دادی چې تاسو خپله برخه هم تر لاسه کړئ او د بل د برخي طمع هم ولرئ، خلاصه دا چې نېک کارونه لکه د علم تر لاسه کول، د الله جل جلاله د دين لوړي، او نېکو اعمالو کي حريص کېدل يعني د آرزوګانو او ارادو پراخول د علماؤ په اتفاق سره ډېره ښه خبره ده ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: طوبی لمن طال عمره وحسن عمله، او رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل عمر په پای کي د دغه آرزو او ارادې اظهار فرمايلی وو که چيري زه تر سږ کال پوري ژوند پاته سوم نو د محرم په نهم تاريخ به خامخا روژه ونيسم، ددې پر خلاف د کومي آرزو او ارادې د پراختيا تعلق چې د دنياوي خواهشاتو لکه د مال او دولت جمع کولو او د عزت او شوکت تر لاسه کولو سره وي نو هغه ډېره بده خبره ده.

د عنوان د اول لفظ (امل) څخه که چيري دنياوي امور مراد وي يعني خوشحاله ژوند او محض دنياوي پرمختګ او داسي نورو اميدونو ، آرزوګانو او د خيالي منصوبو په پراختيا کي تر دې حده اخته کېدل چي د مرګ لپاره د مستعد اوسېدو او د آخرت د توبنه تيارولو څخه غافل سي، او دا شان د هغه خلکو کېدای سي چي د دين او اخرت څخه غافل وي لکه څرنګه چي الله تعالی فرمايي : (ذرهم ياكلوا و يتمتعوا ويلهم الامل) اې پېغمبره! ته دغه کافران پر خپل حال پرېږده چي هغوئ بنه خوراک کوي او ارام کوي او خيالي منصوبې هغوئ په غفلت کي واچوي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

انسان د هغه مرګ او د هغه غوښتني

﴿۵۰۳۸﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ خَطَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا مُرَبَّعًا

د حضرت عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي نبي کريم ﷺ يو څلور کونجه کرښه وکښل

وَخَطَّ خَطًّا فِي الْوَسَطِ خَارِجًا مِنْهُ وَخَطَّ خُطَطًا صِغَارًا إِلَى هَذَا الَّذِي فِي الْوَسَطِ

او د هغه څلور کنجه شکل په منځ کي يې يو بل خط وکښي چي شکل څخه د باندي وتلی وو بيا يې کوچني کوچني خطونه (کرښي) د مينځ په کرښه کي

مِنْ جَانِبِهِ الَّذِي فِي الْوَسَطِ فَقَالَ هَذَا الْإِنْسَانُ وَهَذَا أَجَلُهُ مُحِيطٌ بِهِ وَهَذَا

د هغه دواړو خواوو ته وکښل بيا يې وفرمايل : دا درمياني کرښه انسان دی او دا مربع د هغه مرګ دی چي د څلورو خواوو څخه يې راګير کړی دی او

الَّذِي هُوَ خَارِجٌ أَمَلُهُ وَهَذِهِ الْخُطَطُ الصِّغَارُ الْأَعْرَاضُ فَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَسَهُ هَذَا وَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَسَهُ هَذَا. رواه البخاري.

منځنی خط برخه د مربع څخه دباندي ختلې ده دا د هغه آرزو ده او په درمياني خط کي دواړو خواوو ته چي کوم کوچني کوچني خطونه دي هغه عوارض (آفات ، مصيبتونه ، ناروغياني وغيره) دي که د يوې پېښي څخه انسان وساتل سي نو بيا بله ده که د دويمې څخه وساتل سي نو

يا دوهمه ده (همداسي نوري) تر څو چي مرګ ورته راسي . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۳۵، رقم: ۶۴۱۷.

د لغاتو حل: خططا: اى خطوطا (کرښي). الاعراض: اى الافات والعاهات والبليات (ستونزي).

تشريح: د حديث خلاصه داده چي انسان د ليري ليري امېدونه لري او په دې وهم کي اخته وي چي د هغه امېدونه او غوښتني به کله پوره سي حال دا چي په حقيقت کي هغه د امېدونو څخه ډېر ليري او خپل مرګ ته ډېر نژدې کيږي چي نيتجه داسي سي چي هغه د خپلو امېدو منزل ته د رسېدو څخه مخکي د مرګ غېږ ته ورسيږي .

﴿۵۰۳۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ خَطَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطُوطًا فَقَالَ هٰذَا الْأَمَلُ وَهٰذَا أَجَلُهُ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذْ جَاءَهُ الْخَطُّ الْأَقْرَبُ . رواه البخاري.

د حضرت انس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ څو کرښي وکښلې (يعني يو څلور کونجه شکل يې جوړ کړ او يو خط يې د مربع د منځ څخه دباندي وکښي لکه د پورتني حديث) او وه يې فرمايل : دا کوم خط چي د مربع څخه وتلی دی دا د انسان خواهشات دي او دا خطر د انسان مرګ دی نو انسان داسي او سيږي چي ناڅاپه يې مرګ راګير کړي . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۶۳، رقم: ۶۴۱۸.

تشريح: د انسان خواهش دا وو چي هغه دغه کرښي ته ورسيږي چيري چي دهغه دنياوي آرزوي وې چي د هغه څخه ډيره ليري واقع ده مګر داسي کيږي چي ناڅاپه مرګ هغه راګير کړي او د خپلي آرزو تر لاسه کولو پرته له دې دنيا څخه رخصت سي .

مال او عمر

﴿۵۰۴۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ يشيب مِنْهُ اثْنَانِ الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ . متفق عليه

د حضرت انس ﷜ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : انسان سپين ږيری سي او دوه شيان په هغه کي ځوان وي يو د مال حرص او دويم د عمر حرص . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۳۹، رقم: ۶۴۲۱، ومسلم ۲\۷۲۴، رقم: ۱۱۵- ۱۰۴۷.

د لغاتو حل: يشب: اى ينمو ويقوي . (نما کوي او قوي کيږي.)

تشريح: دا حقيقت دی چي انسان هر څومره سپين ږيری سي په هغه کي ذکر سوی دوه خصلتونه نه کميږي بلکه د عمر سره سره دغه دواړه شيان زياتيږي او په ظاهره ددې وجه داده چي د انسان نفس که د عمل او عمل په ذريعه محفوظ او پاک نسي نو هغه د خپل خواهشاتو او خپل جذباتو په ګرفت کي وي او ظاهره ده چي د خواهشاتو او جذباتو تکميل چي د مال او عمر څخه پرته نسي کيدای، دوهم دا چي انسان د سپين ږيرتوب منزل ته ورسيږي نو په هغه کي د هغه نفساني خواهشات او جذبات په وجود کي هم هغسي قائم وي مګر هغه د قوت عقليه کوم قوت شهوانيه چي په واک کي لري هغه کمزوري کيږي ځکه چي هغه قوت شهواني محرکات دفع کولای نسي، په دې اعتبار سره دغه دواړه شيان په ځوان او قوي سره تعبير سوي دي.

﴿۵۰۴۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَزَالُ قَلْبُ الْكَبِيرِ شَابًّا فِي اثْنَيْنِ فِي حُبِّ الدُّنْيَا وَطُولِ الْأَمَلِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د سپين ږيری زړه همېشه په دوو خبرو کي ځوان وي يو ددنيا په مينه کي او بل د عمر په اوږدوالي کي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۳۹، رقم: ۶۴۲۰، ومسلم ۲\۷۲۴، رقم: ۱۱۴-۱۰۴۶،

دانسان لپاره عذر نه پاته کيږي

﴿۵۰۴۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْذَرَ اللّٰهُ إِلَى امْرِئٍ أَخَّرَ أَجَلَهُ حَتَّى بَلَّغَهُ سِتِّينَ سَنَةً. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه چا لپاره الله تعالی د عذر هيڅ موقع نه پريږدي چي د هغه په مرګ کي يې وخت ورکړ او د شپيتو کالو عمر يې ورکړ. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۳۸، رقم: ۶۴۱۹.

د لغاتو حل: الاعذار: ازالة العذر، والمعنى ان الله لم يترک للعبد في الاعتذار يتمسک به.

تشريح: مطلب دادی که چيري الله جل جلاله يو چا ته دومره اوږد عمر ورکړي او تر دومره اوږده وخت پوري هغه ته مهلت ورکړي او هغه ددې سربېره د توبې او انابت لار اختيار نه کړل او د ګناهو څخه منع نه سو نو اوس د هغه لپاره د عذره کومه موقع پاته ده چي د هغه په مرسته هغه په

قيامت كي د عفو او بخښني اميد ولري كه يو زلمي د ګناه او معصيت لار اختيار كړي نو هغه وايي چي كله زه د سپين ږيرتوب وخت ته ورسېږم نو د خپلو بدو عملو او ګناهو څخه به توبه وكړم او د خپل ژوند هغه برخه به د الله ﷻ په رضا او د هغه په عبادت كي مصرف كړم مګر كوم څوك چي د سپين ږيرتوب منزل ته رسيدلی وي او د توبې او انابت او عمل كولو آخري موقع د هغه د لاس څخه وځي نو هغه پر خپل بدعملۍ او ګناهو باندي څه وايي كه څومره بدنصيبه وي هغه خلك چي د عمر آخري منزل ته په رسېدو سره په خپلو بدو عملو او ګناهو باندي نادم او شرمنده نه وي او په دغه اخري مرحله كي هم كله چي مرګ د هغه راګېرولو ته بالكل تيار ولاړ وي هغوئ ته د خپل رحيم او كريم پروردګار د عفو او رحمت لمن نيولو توفيق نه كيږي.

د ځينو حضراتو د قول مطابق د دغه ارشاد معنی داده چي پر سپين ږيري سړي باندي د الله ﷻ له خوا دا واجب دي چي هغه د پروردګار په دربار كي عذر او توبه وكړي او په دې قطعا كوتاهي ونه كړي.

د انسان حرص او طمع

﴿۵۰۴۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى ثَالِثًا وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ وَيَتُوبُ اللّٰهُ عَلَى مَنْ تَابَ. متفق عليه.

د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه د چا سره د مال څخه ډكي دوې شيلې وي نو بيا به هم هغه د دريمي شيلې خواهش كوي او د چا نس كه يو شی ډكولای سي نو هغه د قبر خاوره ده. او الله تعالی د هغه چا توبه قبلوي چي توبه وكاږي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۵۳، رقم: ۶۴۳۶، ومسلم ۱۲\۷۲۵، رقم: ۱۱۸- ۱۰۴۹.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي د ګناهو څخه توبه قبلول د پروردګار شان رحمت دی او د هغه ګناهو تعلق كه د ظاهري بدعملو سره وي او كه د باطني خرابيو سره وي ځكه په حرص كي اخته كېدونكی سړی كه چيري په اخلاص سره د هغه خرابۍ څخه د خپل نفس د منع كولو عهد وكړي او خپل پروردګار ته توبه او استغفار كوي نو د هغه توبه قبليږي يا دا معنی ده چي الله ﷻ كوم څوك د دغه خرابۍ څخه پاكول غواړي نو هغه په خپل رحمت سره متوجه كيږي په دې توګه چي هغه ته د هغه خراب خصلت د ازالې توفيق او د نفس د پاكۍ طاقت

ورکوي.

په دغه حدیث کي دا خبرداری دی چي د انسان په فطرت کي د بخل ماده اېښودل سوې ده او دا بخل دی چي د حرص، امید او طمع باعث جوړېږي نو هر چا ته پکار ده چي د انفاق او ایثار په ذریعه د بخل عادت له منځه یوسي چي د حرص د تر لاسه کېدو موقع حاصله نسي.

په دنیا کي داسي اوسه لکه مسافر

﴿۵۰۴۴﴾: وَعَنِ بْنِ عُمَرَ قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعْضِ جَسَدِيْ فَقَالَ كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ وَ عُدَّ نَفْسَكَ مِنْ اَهْلِ الْقُبُوْرِ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د بدن یوه برخه ونیول او وه یې فرمایل: ته په دنیا کي داسي اوسه ګویا چي ته مسافر یې او خپل ځان په هغه مړو کي وشمېره چي په قبرو کي دننه دي. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۳۳، رقم: ۶۴۱۶.

تشریح: میرک رحمه الله وایي: دغه روایت بخاري ته منسوب کېدل محل نظر دی ځکه چي دلته کوم الفاظ نقل سوي دي هغه بعینه د ترمذي روایت سوي الفاظ دي او بخاري چي دغه حدیث په کومو الفاظو نقل کړی دی هغه مختلف دي.

او عابر سبیل: دلته د او حرف د تنویع لپاره دی لکه څرنګه چي په ترجمه کي ظاهر سوي دي یا دا چي دلته دغه حرف د بل په معنی کي استعمال سوی دی چي د ترقي لپاره راځي، په دغه صورت کي د پوره جملې ترجمه داسي ده چي ته په دنیا کي داسي اوسه لکه ته چي مسافر یې، په داسي خبره کي زیات زور پیدا کیږي او د دغه ارشاد مقصد چي کوم مفهوم بیانول دي هغه زیات څرګندیږي کله چي مسافر تر څو ورځو یا د لږ وخت لپاره یو ځای په تم کېدو سره د هغه ځای په شیانو کي څه ناڅه بوخت کیږي او د هغو سره څه ناڅه تعلق لرل هغه ته ضروري کیږي مګر کوم څوک چي پر لاره تېرېدونکی وي هغه بس پر مخ ځي د هغه خو د هغې لاري د شیانو سره هیڅ کار نه وي او نه په هلته دلته بوختیا کي د خپل وخت په ضائع کولو سره په سفر کي خنډ خوښوي..

د حدیث آخري برخه لږ تشریح ته اړتیا لري، او په دې اړه تر ټولو مخکي په دې پوهېدل

پکار دي چي د مرګ حقیقت څه شي دی؟ د بدن څخه د روح د تصرف منقطع کېدل د روح او بدن تعلق ماتېدل او د بدن د روح آله د کار د حیثیت څخه وتل د مرګ مفهوم دی، د بدن په مرګ سره روح معدوم او نابود کیږي نه، یوازي د هغه حیثیت او حالت بدل سي کوم چي د بدن سره د تعلق لرلو په صورت کي هغه ته حاصل وي، د مثال په توګه د بدن د مرګ سره د هغه بصارت د هغه سماعت د هغه وینا او همدارنګه د لاس او پښو او نورو اندامو هغه طاقتونه د هغه څخه سلب کړل سي چي د هغه په ذریعه روح پر بدن باندي خپل تصرف ظاهروي همدارنګه د هغه ټول کورنۍ، قریبان او دوستان د هغه څخه بېل کړل سي او د دنیا هغه ټول شیان د هغه څخه بېل کړل سي چي د بدن سره یې تعلق درلودی لکه کور، اسباب، مځکه، مینزي، غلامان، اسونه او نور ضروري او غیر ضروري شیان، نو په مړو کي خپل ځان شمېرل او د هغوئ مشابهت اختیارول ګویا دا مفهوم لري چي انسان جسماني علائق څخه حتی الامکان قطع تعلق اختیار کړي د هغه صورت دا دی چي اندامونه د بدن څخه د روح هغه تصرف ختم کړي چي د هغه په پنجه کي د حرام او مکروه کارو ارتکاب کیږي او په دې کي یقین ولري چي د دنیا کوم شیان زما په تصرف او اختیار کي دي د هغه ټولو حقیقي مالک الله تعالی دی د هغه په ملکیت سره زما هیڅ تعلق نسته او دا خبره د دې علامه وګڼي که چیري د دغه شیانو څخه یو شی هم د هغه سره پاته نسي نو څه غم ورسره نه وي او که یو شی ورته راسي نو خوشحاله نسي، همدارنګه خپل کورنۍ، قریبان او ملګري وغیره سره د تعلق او میني هغه جذبات منقطع کړي چي د هغه په وجه د حرام او مکروه شیان کیږي نو کوم څوک چي خپل ځان په دغه وصف سره متصف کړي نو هغه د دنیا څخه بې په بې تعلقۍ کي د مړو مشابه دی او د هغه شمېر به د مړو په حکم کي وي،

د دې څخه وروسته د هغه سړي د شان مناسب دا خبره ده چي د هغه ادابو او شرائطو لحاظ وساتي چي د هغه په سبب د هغه مړو مشابه کېدل صحیح وګرځول سي د مثال په توګه یو خو دا چي د الله ﷻ څخه پرته خپل هر مطلوب څخه بېزار سي لکه څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي، دوهم دا چي زهد اختیار کړي یعني دنیا، د دنیا محبت او د دنیا لذتونو څخه ځان لیري کړي لکه څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي، دریم دا چي د توکل پر لار باندي روان سي یعني د دنیاوي اسبابو ناروا قید څخه ازاد سي لکه څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي، څلورم دا چي پر قناعت باندي عامل سي یعني د نفساني خواهشاتو پیروي نه کوي لکه څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي، پنځم دا چي یوازي الله تعالی ته متوجه سي او پرته د الله ﷻ څخه بل چا ته نظر و نه کړي چي د الله ﷻ څخه پرته او د هغه مطلوب او محبوب بل مقصد نه وي لکه

څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي،
شپږم دا چي د صبر لار اختيار کړي يعني د رياضت او مجاهدې په ذريعه د نفس اماره ته قطع تعلق ورکړي لکه څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي، اووم دا چي د رضا پر لار باندي روان سي يعني د خپل نفس د خوشحالۍ د جال څخه په وتلو سره د حق سبحانه وتعالی د رضا په دائره کي راسي، احکام ازليه بېله چون وچرا ومني او خپل ټول امور پرته د اعتراض څخه د الله تعالی تدبير او اختيار ته وسپاري لکه څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي، اتم دا چي د ذکر څخه غافل نسي يعني د الله تعالی ياد او د هغه په ذکر کي خپله زړه او خپل ژبه بوخت وساتي او پرته د الله تعالی د ياد څخه د هغه د ذکر او خيال څخه ځان ازاد کړي لکه څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي، نهم دا چي مراقبه اختيار کړي يعني هر ډول قوت او سطوت او هر مقتدر طاقت څخه بې نيازه کېدو سره او د هغه په پرېښودو سره يوازي د احکم الحاکمين د طاقت او قدرت خيال وساتي او د هغه طاقت او قدرت د خپل ټولو امورو مالک او متصرف وګڼي لکه څرنګه چي د مرګ په صورت کي وي دغه صفات او کيفيات پيدا سي، نو پوهېدل پکار دي چي د مړو مشابهت ورته تر لاسه سو او په اهل قبور کي د شمېر کېدو حکم يې پوره سو او د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد: وعد نفسک من اهل القبور، دا مفهوم دی او دا معنی د دغه حديث ده چي په هغه کي فرمايل سوي دي: موتوا قبل ان تموتوا، يعني د مرګ څخه مخکي خپل مرګ اختيار کړه چي يو مرګ خو هغه دی چي ناڅاپه د روح او بدن تعلق منقطع کړي او يو مرګ هغه دی چي انسان د ذکر سوو صفاتو او کيفيات د صورت په اختيارولو سره خپل نفس اماره ووژني او همدغه مرګ ته اختياري مرګ ويل کېږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

مرګ ژر راتلونکی دئ

﴿۵۰۴۵﴾: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَرَّ بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَا وَ اُمِّي نُطَيِّنُ شَيْئًا فَقَالَ مَا هٰذَا يا عبدالله قُلْتُ شَيْئٌ نُصْلِحُهُ قَالَ الْأَمْرُ أَسْرَعُ مِنْ ذٰلِكَ. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يوه ورځ رسول الله ﷺ په دا سي حال کي موږ

ته راغلي چي زما او زما مور په خاورو سره يو ځای جوړوی ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې عبدالله دا څه کيږي ؟ ما وويل: موږ دا ځای جوړوو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : مرګ تر دې هم زيات ژر راتلونکی دی ،احمد او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی .

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۱۶۱، والترمذي ۴\۴۹۱، رقم: ۲۳۳۵.

تشريح: د ارشاد مطلب دادی چي د مرګ راتلل د دغه سرای د نړېدو او خرابی څخه ډېر مخکي متوقع دی ، تاسو د دغه سرای جوړېدل او سمول د دې لپاره کوی چي دغه ديوال او بام ستا په ژوند کي ونه نړيږي حال دا چي حقيقت دادی چي د دغه سرای د غرقېد و او خرابېدو څخه مخکي تاسو د مرګ غيږ ته رسيدای سي نو ستاسو لپاره د خپل عمل اصلاح ته متوجه کېدل د دغه سرای د جوړېدو څخه زيات غوره دی او په دې کي زړه لګول عبث دي .

په ښکاره دا معلوميږي چي حضرت عبدالله رضي الله عنه خپل سرای ته خاوره ورکول د سخت ضرورت په وجه نه وي کړي بلکه هغه د زياتي ښکلا لپاره داسي کړي وي .

مرګ په ياد لره

﴿۵۰۴۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُهْرِيْقُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به کله تشي بولي وکړلې

الْمَاءَ فَيَتَيَمَّمُ بِالتُّرَابِ فَأَقُوْلُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ الْمَاءَ مِنْكَ قَرِيْبٌ يَقُوْلُ مَا يُدْرِيْنِيْ لَعَلِّيْ لَا أَبْلُغُهُ. رواه في شرح السنة وابن الجوزي في كتاب الوفاء.

نو په خاورو سره به يې تيمم کوی نو ما به وويل: اې د الله رسوله ! او به خو نژدې دي ، رسول الله ﷺ به فرمايل : څه معلومه ده کيدای سي زه اوبو ته ونه رسيږم (يعني وفات سم) . شرح السنه او کتاب الوفاء.

تخريج: البغوي في شرح السنة: ۱۴\۲۳۲، رقم: ۴۰۳۱.

تشريح: يعني ما ته خو دا معلومه نه ده چي زما عمر څومره دی او هره لحظه مرګ متوقع دی ځکه زه بېرېږم چي د تشو بولو کولو څخه وروسته ما ته دومره وخت نه راکړل سي چي زه اوبو ته ورسېږم نو سمدستي تيمم کوم چي يو ډول طهارت به تر لاسه سي .

د انسان مرګ د هغه تر ارزو مخکې دی

﴿۵۰۴۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هٰذَا ابْنُ آدَمَ وَهٰذَا أَجَلُهُ وَوَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ قَفَاهُ ثُمَّ بَسَطَ فَقَالَ وَثَمَّ أَمَلُهُ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: دا انسان دی او دا د هغه مرګ دی، ددې فرمایلو سره یې خپل لاس مبارک څټ ته نژدې کښېښودی، بیا یې لاس مبارک وغزوی او د څټ څخه یې لیري کړ او وه یې فرمایل تر هغه ځایه پوري دده امیدونه دي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي: ۴۹۱/۴، رقم: ۲۳۳۴.

تشريح: دا ابن آدم دی، په دغه جمله کي رسول الله ﷺ مخاطبین د یو ظاهري ارشاد په ذریعه تصوراتي وجود ته متوجه کړل او دغه طرز (دا دهغه مرګ دی) یې هم اختیار کړ، دا خبره په وضاحت سره دا بیانیږي چي مخکي خو رسول الله ﷺ خپل مخته د مځکي پر یو کونج باندي یا په هواء کي د خپل لاس مبارک په ذریعه په اشاره کولو سره وښودل چي دغه ځای داسي تصور کړه چي دلته انسان دی بیا خپل لاس مبارک یې تر شا کړ او کوم ځای ته چي یې مخکي اشاره کړې وه د هغه بالکل نژدې ته لاس مبارک په اېښودو سره یې وفرمایل چي دغه ځای هغه مقام تصور کړی چیري چي د انسان مرګ دی، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک یوه لوېشت یا د ګوتو په پراختیا سره خپور کړی یا د بسط معنی داده چي رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک د هغه ځای څخه چیري چي رسول الله ﷺ مخکي اشاره کړې ده ډېر مخکي اوږد کړ او هلته په اشاره کولو سره یې وښودل چي دغه ځای هغه مقام تصور کړی چیري چي د انسان ارزو ده او همدارنګه رسول الله ﷺ دا طرز بیان او د اشارې په ذریعه خلک د غفلت د خوب څخه بېداره کړل او خبرداریې کړل چي د انسان مرګ هغه ته ډېر نژدې ولاړ دی کله چي هغه ارزوګاني او امېدونه چي په هغه پسي ګرځي د هغه څخه ډېري لیري واقع دي.

یو شاعر څومره ښه ویلي دي:

کل امري مصبح في اهله   والموت ادنی من شراک نعله

﴿۵۰۴۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَرَزَ عُوْدًا

د حضرت ابو سعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ خپل مخته یو لرګی ښخ کړي

بَيْنَ يَدَيْهِ وَآخَرَ إِلَى جَنْبِهِ وَآخَرَ أَبْعَدَ فَقَالَ أَتَدْرُوْنَ مَا هٰذَا قَالُوا اَللّٰهُ

بیا یې یو لرګی د هغه لرګي په څنګ کي او یو بل لرګی د هغه څخه لیري ښخ کړ بیا یې وفرمایل: تاسو پوهیږئ چي دا څه دي؟ صحابه کرامو وویل: الله ﷻ

وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ هٰذَا الْإِنْسَانُ وَهٰذَا الْأَجَلُ أُرَاهُ قَالَ وَهٰذَا الْأَمَلُ فَيَتَعَاطَى الْأَمَلَ فَلَحِقَهُ الْأَجَلُ دُوْنَ الْأَمَلِ. رواه في شرح السنة.

او د هغه رسول ښه پوهیږي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا (یعني لومړی لرګی) انسان دی او دا (دویم لرګی) چي په خوا کي یې دی مرګ دی، ابو سعید خدري وایي چي د دریم لرګي په اړه زما خیال دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل او دا امید دی، انسان په امیدو کي ګرفتار وي چي مرګ د خواهشاتو د ختمیدو څخه مخکي راسي. شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\۲۸۵، رقم: ۴۰۹۱.

دامت محمدیه عمر

﴿۵۰۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُمْرُ أُمَّتِي مِنْ سِتِّيْنَ سَنَةً إِلَى سَبْعِيْنَ سَنَةً. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما دامت عمر د شپیتو څخه تر اویا کالو پوري دی. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

تخريج: سنن الترمذي: ۴\۴۸۹، رقم: ۲۳۳۱.

تشريح: مطلب دادی چي دامت محمدیه د خلکو عمر د شپېته کالو او اوویا کالو په منځ کي دی، ظاهره ده چي رسول الله ﷺ دغه خبره د اکثرو خلکو په اعتبار فرمایلې ده کنه په دغه امت کي خو داسي خلک هم دي چي د هغوئ عمر شپېته کالو ته هم ونه رسیږي او داسي خلک هم دي چي د هغوئ عمر د اوویا کالو څخه زیات وي لکه څرنګه چي د راتلونکي حدیث څخه به څرګند سي.

﴿۵۰۵۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْمَارُ أُمَّتِي مَا بَيْنَ السِّتِّيْنَ إِلَى السَّبْعِيْنَ وَأَقَلُّهُمْ مَنْ يَجُوْزُ ذٰلِكَ. رواه الترمذي وابن ماجة و

ذکر حديث عبدالله بن الشخير في باب عيادة المريض.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت عمرونه د شپيتو او اويا کالو په منځ کي دي او داسي خلک ډير کم دي چي د هغوئ عمرونه تر دې زيات وي . ترمذي او ابن ماجه او د عبدالله بن شخير حديث د ناروغ د پوښتني په باب کي بيان سوی دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۱۷، رقم: ۳۵۵۰، وابن ماجه ۲\ ۱۴۱۵، رقم: ۴۲۳۶.

تشريح: په هر دور کي په امت محمدي کي داسي خلک ډېر لږ راغلي دي چي د هغوئ عمر د سلو کالو يا تر سلو زيات وي مګر خپله د رسول اللهﷺ د زمانې خلکو يعني صحابه کرامو کي هم داسي خلک تر لاسه کيږي چي هغوئ ډېر عمر درلودی د مثال په توګه حضرت انس ابن مالک رضي الله عنه د يوسل او درو کالو په عمر کي وفات سو .

بي بي اسماء بنت ابوبکر د سلو کاله وه د هغې حالت خو دا وو چي د عمر تر پايه يې غاښونه نه وه مات سوي او عقل او حواس يې خراب سوي نه وه ، تر دوئ دواړو زيات عمر د حضرت حسان ابن ثابت وو چي هغه د يو سل او شلو کالو په عمر له دنيا څخه رخصت سوی دی ، لومړني شپېته کاله يې د کفر په حالت کي او بيا وروسته شپېته کاله يې د ايمان په حالت کي تېر کړل ، تر ده هم زيات عمر د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه وو ، ويل کيږي چي کله هغه وفات کېدی نو هغه وخت يې عمر دوه نيم سوه کاله وو ، که څه هم په يوه روايت کي د دري نيم سوه کالو ذکر هم دی مګر مخکني قول صحيح دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

بخل او ارزو

﴿۵۰۵۱﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَوَّلُ صَلَاحِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ الْيَقِيْنُ وَالزُّهْدُ وَأَوَّلُ فَسَادِهَا الْبُخْلُ وَالْأَمَلِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

حضرت عمرو بن شعيب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې امت لومړنی نيکي يقين او زهد ده او لومړنی فساد يې بخل او آرزو

ده . بيهقي په شعب الايمان كي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۷\۴۲۷، رقم: ۱۰۸۴۴.

تشريح: د يقين څخه مراد پر دې خبره باندي كامل اعتقاد او يقين درلودل دي چي الله ﷻ رازق دی او د رزق رسولو متكفل او ضامن دی لكه څرنګه چي خپله الله ﷻ فرمايلي دي: (وما من دابة في الارض الا على الله رزقها) يعني د مځكه پر مخ داسي ساه لرونكی شی نسته چي د هغه رزق د الله ﷻ پر ذمه نه وي.

د زهد اختيارولو مطلب دادی چي د دنيا په مينه كي د اخته كېدو څخه ځان وساتي او د دنيا د نعمتونو او لذتونو څخه بې پرواهي وكړي ، خلاصه دا چي د دنيا او آخرت خير او كاميابۍ دار او مدار پر تقوا باندي دی چي په زهد او يقين سره حاصلېږي او د دنيا او اخرت د خرابۍ بنياد طمع او حرص دی چي د بخل او عمر د اوږدوالي په آرزو سره پيدا كېږي.

كله چي د الله ﷻ پر رزاقيت باندي پوره عقيده او يقين وي، نو د بخل ماده فساد نه خپروي ځكه چي د بخل سبب هغه بې يقيني وي چي د رزق رسېدو لپاره يې انسان پر خپل ځان خپروي يعني د هغه په زړه كي دا خيال پيدا كېږئ چي زما سره كوم مال او زر دي كه چيري ما دغه د انفاق او ايثار په صورت كي خرڅ كړل نو بيا سبا به د كوم ځای څخه خورم همدارنګه چي د زهد لار اختيار كړل سي نو په دنيا كي د پاته كېدو آرزو يعني د عمر اوږدوالی به ختم سي ځكه فرمايل سوي دي چي د دغه امت اول فساد بخل او آرزو دي ځكه چي دغه دواړه خصلتونه د الله ﷻ پر رزاقيت باندي د يقين او زهد ضد دي.

د يقين تعريف : دلته دا څرګندول ضروري دي چي د يقين اصل مفهوم څه شي دی؟ شيخ عبدالوهاب متقي رحمه الله په خپله رساله حبل المتين في تحصيل اليقين كي ليكلي دي چي د اعتقاد و جزم تر حد پوري رسيدل او د دليل او برهان په ذريعه دومره مضبوط مستند كېدل چي حق ثابت كړي د حكيمانو او متكلمينو په اصطلاح كي يقين ورته ويل كېږي مګر د صوفيانو په اصطلاح كي پر دغه مفهوم باندي د يقين اطلاق تر هغه وخته پوري نسي كيدای تر څو چي تصديق پر زړه باندي تر دې حده غالب نسي چي پر زړه باندي د هغه د تصرف او حكمرانۍ واک چلېدل پېل سي يا هغه زړه يوازي هغه شيانو ته مائل سي چي د شريعت مطابق وي او د هغه شيانو څخه منع سي كوم چي د شرعي احكامو خلاف وي د مثال په توګه د مرګ اعتقاد هر سړی لري او هغه عقيده نه يوازي د جزم تر حده پوري وي بلكه د دليل او برهان په ذريعه دومره ټېنګه

او مستند وي چي هغه مرګ يو يقيني حقيقت هم ثابتوي نو د حکيمانو او متکلمينو په نزد پر دغه عقيده باندي د يقين اطلاق کېداى سي مګر د صوفيانو په نزد هغه عقيدې ته په حقيقي معنى کي يقين نسي ويل کيداى او د هغه عقيدې حامل صاحب يقين نسي شمېرل کيداى تر څو چي د هغه پر زړه د مرګ ياد غالب نه وي او د مرګ احساس تر دې حده پر هغه متصرف نه وي چي هغه د طاعاتو د بوختيا او د ګناه د ترک په ذريعه هر وخت د مرګ لپاره تيار وي.

څرګنده دي وي چي څلور امور د يقين محل دى هسي خو ټول شيان د يقين متقاضي دي چي د هغه خبر رسول الله ﷺ ورکړى دى مګر د دغه ټولو شيانو اصل او بنياد کېدو په حيثيت هغه څلور امور د دې درجې دي چي پر هغه د هر سالک يقين ساتل په بنيادي توګه ضروري وي يو خو توحيد يعني دا چي عقيده درلودل چي څه واقع کيږئ د الله تعالى په قدرت سره واقع کيږي، دوهم توکل يعني پر دې خبره يقين درلودل چي الله تعالى د رزق رسولو متکفل او ضامن دى، دريم د جزاء او سزاء اعتقاد يعني دا يقين درلودل چي د هر عمل جزاء او سزاء ټاکل سوې ده او پر ټولو اعمالو باندي ثواب او عذاب مرتب کېدل لازمي امر دى او څلورم دا يقين درلودل چي الله تعالى د بندګانو ټول احوال او کيفيات او ټول حرکات او سکناتو څخه په پوره توګه خبر دى نو د توحيد په اړه به د يقين دا ګټه وي چي مخلوقات ته به رغبت او التفات نه لري، د الله جل جلاله څخه د رزق رسېدو په اړه د يقين ګټه به دا وي چي يا خو به د رزق د حصول په هڅه کي ميانه روي اختيار وي يا که چيري د افلاس او ناداري په صورت کي غذايي اړتياوي نه پوره کيږي نو څه تاسف او خوابدتيا به نه کوي، د اعمالو د جزا او سزا په اړه د يقين ګټه به دا وي چي د طاعات او عبادت بوختيا او د رضا په تر لاسه کولو کي زيات تر زيات سعي او کوشش به کوي او د ګناه او معصيت ژوند څخه به پرهيز کوي او د الله تعالى د عليم او خبير کېدو په اړه د يقين ګټه به دا وي چي د خپل ظاهر او باطن اصلاح ته به زيات متوجه وي، دا د شيخ عبدالوهاب د کلام خلاصه وه، اوس په پايکي دا ښودل ضروري دي چي د ذکر سوي تفصيل مطابق د الله تعالى رزاقيت رزق رسولو او الله تعالى چي د رزق ورکولو کومه وعده کړې ده پر هغه کامل توکل او اعتماد درلودل د روحاني او باطني مراتبو څخه يوه ډېره لويه مرتبه ده او سالک لره د حق د لاري دغه مرتبه اختيارولو پرته څه چاره نسته او په ټول عبادت او طاعت کي د قلبي فراغ او اطمينان انحصار پر دې مرتبه دى، قطب وقت ابو الحسن شاذلي رحمة الله عليه لويه عارفانه خبره کړې ده چي دوه شيان داسي دي چي په عامه توګه د الله تعالى او بنده په منځ کي د پردې په شان حائل کيږي يعني اول د رزق فکر، دوهم د مخلوق څخه بېره په دغه دواړو کي سخت حائل د رزق

فكر دى .

د امام اصمعي رحمه الله ځخه منقول دي چي هغه ويلي دي: ما د يو صحرايي په مخكي د سورة والذاريات تلاوت پېل كړ ، كله چي دغه آيت ته ورسېدم : (وفي السماء رزقكم وماتوعدون) نو هغه صحرايي چي په ډېر فكر سره زما تلاوت اورېدى ناڅاپه يې وويل چي بس يې كړه او بيا هغه خپلي اوښي ته متوجه سو او هغه اوښه يې ذبح كړه او د هغه د غوښو په پرېكولو سره يې په ټولو موجودو خلكو باندي وويشل ، ددې ځخه وروسته هغه خپله توره او غشي پورته كړه او هغه يې هم په ماتولو سره وغورځول او بېله ځه ويلو د هغه ځاى ځخه ولاړ سو ، ډېر وخت وروسته ما د بيت الله شريفي طواف كوى ناڅاپه مي د هغه صحرايي سره ملاقات وسو چي خپله يې طواف كوى او د هغه په لېدو سره زه حيران سوم د هغه بدن بالكل وچ سوى وو او رنګ يې ژړ سوى وو ، د هغه په لېدو سره ما سلام وكړ او هغه وويل هغه سورت بيا تلاوت كړه كوم چي تا په هغه ورځ ويلى وو، نو ما هغه سورت ويل پېل كړل او كوم وخت چي دغه آيت : (وفي السماء رزقكم) ته ورسېدم نو هغه يوه چغه وكړه او وه يې ويل (قد وجدنا ما وعدنا ربنا حقا) ددې ځخه وروسته هغه وويل نور ووايه، ما دغه آيت (فو رب السماء انه لحق) ووايه، هغه بيا يوه چغه وكړه او وه يې ويل اې الله پاک دى ستا ذات ، هغه كوم بدبخت دى چي هغه الله تعالى دومره غصه كړ چي هغه ته قسم كول پرېوتل، د هغه سرې دبدبختۍ ځه حد دى چي پروردګار ته په قسم كولو سره ددې خبري يقين وركول پرېوتل ، هغه صحرايي درې واره دغه جملې ادا كړې او په دې سره په حق ورسېدى .

حقيقي زهد ځه ته وايي

﴿۵۰۵۲﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ قَالَ لَيْسَ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا بِلُبْسِ الْغَلِيْظِ وَالْخَشِنِ وَأَكْلِ الْجَشِبِ إِنَّمَا الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا قَصْرُ الْأَمَلِ. رواه في شرح السنة

د حضرت سفيان ثوري رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي په دنيا كي زهد ددې نوم نه دى چي غټي جامې واغوستل سي او يا وچه ډوډۍ وخوړل سي بلكه زهد په حقيقت كي د آرزوګانو او اميدونو د كمۍ نوم دئ . شرح السنه.

تخريج: لم نجده .

تشريح: د غليظ ځخه مراد هغه ټوكر دى چي د هغه صورت ډېر غټ او بدرنګه وي ، او د خشن ځخه مراد هغه ټوكر دى چي ډېر سخت او ځيږ وي، جشب هغه خوراک ته وايي چي ډېر بدخونده

وي او ځینو ویلي دي چي بغېر کتغ ډوډۍ ته جشب وايي، د آرزوګانو او امیدونو د کمۍ مطلب دادی چي د دنیاوي شیانو حصول خواهشات او د عمر د اوږدوالي د خواهش په ختمولو سره بېله تاخیره توبه او انابت او علم او عمل لار اختیارول او هر وخت مرګ لپاره تیار اوسېدل دي.

د حضرت سفیان رحمه الله د ذکر سوې عارفانه قول مطلب دادی چي زهد د دنیا څخه د بې رغبتۍ او د بې شوقۍ هغه کیفیت دی چي پر انساني زړه باندي داسي خپور وي چي زړه د دنیا څخه بې زاره او آخرت ته راغب او متوجه وي، یعني د زهد مدار پر دې خبره نه دی چي د انسان زړه یعني بدن د دنیا جائز او مباح شیانو څخه ګټه تر لاسه کوي یا نه ځکه چي د هغه حقیقت په اعتبار د زهد په معامله کي دا دواړه برابر یعني یو سړی په بدني توګه د ښه جامو والا او ښه خوراک کېدو سربېره په قلبي توګه هر وخت آخرت ته راغب او متوجه پاته کیدای سي او یو سړی په بدني توګه د ښه جامو او ښه خوراک څخه بې زاره کېدو سره هم په قلبي توګه آخرت ته زیات متوجه او راغب نه وي، که څه هم د هغه جامې بې حیثیتي او سادګي او د خوراک د بدخوندۍ د چلن او طریقې په لاره کي د بنده استقامت او استواري باندي ډېر زیات اثر کیږي، خلاصه دا چي کوم سالک په بدني توګه سره د دنیا څخه پرهیز کوي مګر د هغه په زړه کي د دنیا مینه وي نو دا شی د هغه لپاره ډېر مهلک دی ددې پر خلاف که چیري هغه په بدني توګه د دنیا جائز او مباح نعمتونو او لذتونو څخه ګټه اخلي مګر د هغه زړه د دنیا د مینې څخه خالي او آخرت ته متوجه وي نو دا د هغه په اړه ډېره غوره ده.

پوهېدل پکار دي چي د زړه مثال د کښتۍ په ډول دی که چیري اوبه په کښتۍ کي دننه سي نو هغه نه یوازي دا چي کښتۍ بلکه په هغه کي ناست خلک هم ډوبوي مګر که چیري هغه اوبه د کښتۍ څخه دباندي او د هغه شاوخوا وي نو هغه کښتۍ روانوي او منزل ته یې رسوي ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: نعم المال الصالح للرجل الصالح، او په دې وجه د صوفیانو د یو ډلي په اړه منقول دي چي هغه حضراتو به داسي جامې اغوستلې لکه څرنګه چي په عامه توګه رواج وې بلکه ځنیو به د امیرانو په ډول جامې اغوستلې چي د هغوئ د باطن حال منکشف نسي.

﴿۵۰۵۳﴾: وَعَنْ زَيْدِبْنِ الْحُسَيْنِ قَالَ سَمِعْتُ مَالِكًا وَّسُئِلَ أَيُّ شَيْءٍ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا قَالَ طِيبُ الْكَسْبِ وَقِصَرُ الْأَمَلِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت زید بن حسین رحمه الله څخه روایت دئ چي د امام مالک څخه پوښتنه وسول چي په دنیا

كي زهد د څه شي نوم دئ ؟ هغه ورته په جواب كي وفرمايل : حلال كسب اختيارول او د اميدونو كمي . بيهقي په شعب الايمان كي .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۷/۴۰٦۱، رقم: ۱۰۷۷۹.

تشريح: دلته كسب د مكسوب په معنى كي استعمال سوى دى يعني د خوراک هغه شيان چي حلال او پاک وي ، خلاصه دا چي زهد د هغه شي نوم نه دى چي انسان د هغه شيانو د خوراک او څښاک او د هغه څخه د ضرورت په اندازه ګټه تر لاسه كولو څخه پرهيز وكړي كوم چي د هغه په حق كي حلال او پاک دي ځكه كه چيري د دغه شيانو څخه ګټه تر لاس كول د زهد خلاف واى نو الله تعالى به خپلو رسولانو ته دا نه فرمايلاى چي : (كلوا من الطيبات واعملوا صالحا) او نه به يې مؤمنانو ته دا حكم وركولاى چي : (يا ايها الذين آمنوا كلوا من الطيبات ما رزقناكم واشكروا لله ان كنتم اياه تعبدون) بلكه زهد دادى چي انسان ته په جائز ذرائعو سره كوم حلال او پاک شيان حاصل سي د هغه څخه د ضرورت په اندازه ګټه تر لاسه كړي او غير حلال او ناپاک شيانو څخه پرهيز وكړي همدا رنګه يو بل شى چي د هغه تعلق د زهد سره دى دادى چي انسان د ارزوګانو او اميدونو په بندي كېدو سره سست او اخرت څخه غافل نسي بلكه هر وخت اخرت ته متوجه وي او زيات نيک عمل كولو كي بوخت وي چي كوم وخت د اجل پيغام ورته راسي نو خپل ځان خپل پيدا كونكي ته پر حواله كولو باندي تيار وي دا هغه زهد دى چي د شريعت په نظر كي مطلوب دى چي انسان عاقبت انديښ جوړوي او آخرت ته يې متوجه كوي .

كه چيري دلته دا سوال پيدا سي چي د زهد سره د حلالي ګټي څه تعلق دى نو د دې جواب دادى چي امام مالک د خپل دغه قول په ذريعه د دې خيال ترديد كړى دى چي زهد محض د دغه شي نوم دى چي د دنيا څخه بې تعلقي اختيار كړل سي غټي جامې واغوستل سي او پر وچه ډوډۍ باندي اكتفاء وسي نو امام مالک دا خبره څرګنده كړې ده چي حقيقي زهد دا نه دى كوم چي تاسو په خپل ګمان كي ځاى وركړى دى بلكه د زهد حقيقت دادى چي الله ﷻ په جائزو طريقو سره تا ته حلال او پاک شيان دركړي دي هغه دي خوري او څښي او د هغو څخه دي ګټه تر لاسه كوي او د ضرورت په اندازه دي قناعت وكړي او د ضرورت څخه د زياتو شيانو اميد او د عمر د اوږدوالي آرزو مه كوئ لكه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي ، زهد اختيارول د دې شي نوم نه دى چي حلال شيان پر ځان حرام كړي او خپل مال او اسباب ضائع كړي بلكه زهد په اصل كي د دغه شي نوم دى چي كوم شى ستاسو په لاس كي دى تر دغه شيانو پر هغه زيات باور كوه كوم چي د الله تعالى په لاس كي دى .

بَابُ اِسْتِحْبَابِ الْمَالِ وَالْعُمُرِ لِلطَّاعَةِ

(د الله ﷻ د عبادت لپاره د مال او عمر سره مينه كولو بيان)

د استحباب معنى ده ښه ګڼل او خوښول، د مال معنى ده هغه شى چي د هغه خواهش وكړل سي، جمع يې اموال ده او مال په اصل كي د ميل څخه مشتق دى چي د هغه معنى د مائل كېدو، راغب كېدو ده نو دولت، اسباب او سامان او جائيداد وغيره ته مال ځكه ويل كيږي چي انسان دغه شيانو ته په طبعي توګه رغبت او ميلان لري، د عمر معنى د ژوند ده، په دغه باب كي هغه حديثونه نقل كيږي چي د هغو څخه معلوميږي چي د الله ﷻ د طاعت او عبادت لپاره د دين د خدمت لپاره او د اخروي فلاح او كاميابۍ لپاره د مال او دولت خواهش او طلب كول او د عمر د اوږدوالي آرزو كول جائز دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

الله ﷻ ته خوښ بنده څوک دى؟

﴿۵۰۵۴﴾: عَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ الْخَفِيَّ. رواه مسلم و ذكر حديث ابن عمر لا حسد الا في اثنين في باب فضائل القرآن.

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى متقي، غني او ګوشه نشين بنده خوښوي، مسلم. او د ابن عمر رضي الله عنه حديث لا حسد الا في اثنين په باب فضائل القرآن كي بيان سوى دى.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۲۷۷، رقم: ۱۱- ۲۹۶۵.

تشريح: متقي هغه سړي ته وايي چي د منع شيانو څخه پرهېز كوي يا دلته د متقي څخه مراد هغه سړى دى چي خپل مال او زر بېله ضرورته په عيش او تفريح كي نه خرڅوي، ځيني حضرات وايي چي د متقي څخه مراد هغه څوک دى چي د حرام او مشتبه امورو څخه كليةً پرهېز كوي او د هغه شيانو څخه هم پرهيز كوي چي د هغو تعلق د نفسي خواهشاتو او مباحاتو سره وي، د غني څخه مراد هغه سړى دى چي شتمن او مالدار وي او يا د زړه غني وي، مګر د دغه حديث

دلته په دغه باب کي نقل کول دا خبره ثابتوي چي د غني څخه مراد هغه څوک دی چي مال او دولت لري او دا خبره د زړه غني کېدو خلاف نه ده ځکه چي د غناء په باب کي هغه سړی اصل او کامل غنی دی چي ظاهري مال او دولت سره د زړه غنا هم ولري او د هغه په ذريعه د لاس د غناء هغه تقاضا هم پوره کوي چي په دنيا او آخرت کي د مراتبو او درجو د لوړتيا باعث جوړېږي،

په دغه صورت کي دا خبره په هغه ځای کي ويل کېدای سي چي دلته د غني څخه مراد په اصل کي شکر گزار شتمن دی، ځيني حضرات د دغه حديث څخه استدلال کوي چي شکر گزار شتمن تر صبرناک فقير افضل دی که څه هم دغه قول چي شاکر غني تر صابر فقير افضل دی يعني هغه قول خلاف دی کوم چي زيات د باور وړ گرځول سوی دی او هغه دا چي صابر فقير د شاکر غني څخه افضل دی، په دې اړه تفصيلي بحث مخکي تېر سوی دی.

د خفي څخه مراد يا خو کونج ناستی دی يعني هغه سړی چي د ټولو څخه د ترک تعلق په ذريعه يوازيوالي اختيار کړي او د خپل رب په عبادت کي بوخت اوسي يا دا چي په پټه توگه د خير او نيکۍ کونکی مراد دی، يعني هغه څوک چي د الله ﷻ د رضا لپاره نېک کارونه او خپل مال مصرف کولو کي داسي راز اختيار کړي چي بل چا ته د هغه علم نه وي، په دغه صورت کي د خفي اطلاق پر مفلس او غريب باندي هم کېدای سي او دوهم مراد زيات واضح دی، دغه لفظ په حاء مهمله سره يعني حفي هم روايت سوی دی چي د هغه څخه مراد هغه څوک دی چي د حق په معامله کي نرمي او مهرباني او احسان کوي مگر صحيح دا دی چي دغه لفظ خفي دی چي د هغه وضاحت مخکي تېر سوی دی.

دغه حديث د هغه خلکو دليل دی چي وايي د خلکو څخه بېلوالي اختيارول د هغوئ سره د تعلق او د هغوئ په منځ کي د اوسېدو څخه افضل دی مگر کوم حضرات چي د خلکو سره تعلق او دهغوئ په منځ کي اوسېدل تر ترک تعلق او بېلوالي افضل گرځوي هغوئ دا تاويل کړی دی چي بېلوالی غوره کېدل د هغه صورت سره خاص دی کله چي د فتنو زور وي او د خلکو سره تعلق او دهغوئ په منځ کي د هستوگني اختيارول د دين او آخرت پر معاملاتو باندي خراب اثر کوي او په ايمان او عمل کي تاثير کيږي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د عمر اوږدوالی

《۵۰۵۵》: عَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ قَالَ مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ قَالَ فَأَيُّ النَّاسِ شَرٌّ قَالَ مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَسَاءَ عَمَلُهُ . رواه احمد والترمذي والدارمي.

د حضرت ابوبکرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي یو سړي پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! کوم بنده غوره دئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هغه څوک چي عمریې زیات وي او عمل یې ښه وي، بیا یې پوښتنه وکړه او څوک خراب دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : د چا چي عمر زیات او عمل یې خراب وي . احمد، ترمذي او دارمي

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۴۰، والترمذي ۴\۲۸۹، رقم: ۲۳۳۰، والدارمي ۲\۳۹۸، رقم: ۲۷۴۲.

تشريح: د حدیث د ظاهري الفاظو څخه دا څرګندیږي چي ذکر سوی حکم د اغلب په اعتبار دی یعني ښه یا بد اعمال یې زیات وي نو هغه سړی به ښه یا بد ګرځول کیږي او که ښه او بد اعمال یې دواړه برابر وي نو بیا به هغه ته د یوې وجي خو ښه ویل کیږي او د یوې وجي به بد ویل کیږي که څه هم ددې خبري ثابتېدل نادر دي .

ژوند د ښه اعمالو سره

《۵۰۵۶》: وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ خَالِدٍ أَنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ

د حضرت عبید بن خالد رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ د دوو کسانو په منځ کي ورورولي قائمه کړې وه

فَقُتِلَ أَحَدُهُمَا في سبيل الله ثم مَاتَ الْآخَرُ بَعْدَهُ بجمعة او نحوها فصلوا

په هغوئ کي یو سړی د الله جل جلاله په لار کي ووژل سو د هغه څخه وروسته دویم هم (پر خپله بستره) مړ سو ، یوه اونۍ یا نژدې یوې اونۍ ته وروسته صحابه کرامو د هغه سړي د جنازې

عَلَيْهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا قُلْتُمْ قَالُوا دَعَوْنَا الله ان يغفر له

لمونځ وکړ، نبي کریم ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه وکړه چي تاسو په لمانځه کي څه وویل ؟
صحابه کرامو وویل: موږ د هغه لپاره دعاء وکړه چي الله ﷻ هغه و بخښي

ویرحمه ویلحقه بِصَاحِبِهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَيْنَ صَلَاتُهُ

او پر هغه رحم وکړي او هغه خپل ملګري ته ورسوي، (کوم چي شهید سوی دئ) ددې اوریدو
سره نبي کریم ﷺ وفرمایل د هغه هغه لمونځ څه سو

بَعْدَ صَلَاتِهِ وعَمَلُهُ بَعْدَ عَمَلِهِ او قال صیامه بعد صیامه لَمَا بَیْنَهُمَا ابعد مِمابَیْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ. رواه ابوداؤد والنسائي.

چي هغه د خپل ملګري د مرګ څخه وروسته کړی وو او هغه عمل یې څه سو چي د هغه څخه وروسته یې وکړ، یا رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمایل: د هغه روژې څه سوې چي د هغه څخه وروسته یې نیولې دي (یعني هر کله چي تاسو هغه ته د شهید برابر مرتبې ته د رسولو دعاء کړې ده نو د هغه ددې اعمالو ثواب څه سو یعني دده مرتبه دشهید څخه زیاته ده) بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي دننه د دوو کسانو په منځ کي چي کومه فاصله ده هغه ددې فاصلې څخه زیاته ده چي د آسمان او مځکي په منځ کي ده. ابوداؤد او نسائي.

تخریج: سنن ابي داود ۳\۳۵، رقم: ۲۵۲۴، والنسائي ۴\۷۴، رقم: ۱۹۸۵.

تشریح: د رسول الله ﷺ د ارشاد مطلب داوو چي دغه سړی د خپل ملګري د شهادت څخه وروسته څومره زیاتي ورځي ژوندی وو او په دغه ورځو کي یې کوم عبادات او اعمال صالحه وکړل د هغه په وجه د هغه مرتبه د شهید ورور او ملګري د مرتبې څخه هم لوړه سوې ده په دې وجه دلته دا سوال پیدا کیږي چي ورسته وفات کېدونکی د ذکر سوي سړي محض د هغه عباداتو او نیکو اعمالو په وجه چي هغه د یوې اونۍ په دوران کي کړي وه پر هغه سړي باندي څرنګه فضیلت تر لاسه کړ چي د هغه څخه مخکي په میدان جنګ کي شهید سوی وو او کله چي هغه د الله ﷻ په لاره کي او د دین د لوړتیا لپاره د شهادت درجه تر لاسه کړه او د شهادت جام یې په هغه زمانه کي نوش کړ کله چي رسول الله ﷺ په دغه دنیا کي تشریف فرما وو، د اسلام ابتدایي زمانه وه او د دین د مرسته کونکو هم کمي وه.

د دې جواب دادی چي هغه بل سړی د لومړي شهید سړي په مقابله کي زیات افضل ګرځول محض د هغه د نېکو اعمالو په وجه نه دی کوم چي د هغه یوې اونۍ په دوران کي کړي وه بلکه

اصل خبره داده چي هغه سړي هم د اسلامي لښکر يو فرد وو او د الله ﷻ په لاره کي د مرابط فرائض سرته رسول او د جنګ په ميدان کي د شهد کېدو صادق نيت يې درلودی نو دهغه د نيت دا ميوه هغه ته تر لاسه سوه چي هغه ته لکه چي د شهادت درجه ورکړل سوه چي د هغه په وجه هغه د خپل ملګري هم مرتبه سو او بيا هغه د خپل ملګري د شهادت څخه وروسته چي کوم نيک اعمال وکړل د هغه په وجه د هغه مرتبه نوره هم زياته سوه.

ضروري خبري

﴿۵۰۵۷﴾: وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو کبشه انماري ؓ څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چي

يَقُولُ ثَلَاثٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ فاما الذي اقسم

درې خبري دي چي پر هغو زه قسم خورم چي هغه حق دي او تاته زه يو حديث بيانوم ته هغه په ياد لره، هغه درې خبري چي پر هغه زه قسم اخلم دا دي

عليهن فانه مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا

(۱) دا چي د بنده مال د صدقې او خيرات کولو سره نه کميږي (۲) او پر کوم بنده چي ظلم وسي او هغه صبر وکړي

إِلَّا زَادَهُ اللّٰهُ عِزًّا وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ إِلَّا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ واما

الله تعالى د هغه عزت زياتوي (۳) او کوم بنده چي د سوال دروازه خلاصه کړه نو الله تعالى د هغه لپاره د فقر او مفلسۍ دروازه خلاصه کړي،

الذي أُحَدِّثُكُمْ فَاحْفَظُوهُ فقَالَ إِنَّمَا الدُّنْيَا لِأَرْبَعَةِ نَفَرٍ عَبْدٍ رَزَقَهُ اللّٰهُ مَالًا

تر دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم شي چي ما ذکر کړی وو او س زه هغه بيانوم دا هم په ياد لره: دنيا د څلورو کسانو لپاره ده: (۱) يو خو د هغه بنده لپاره چي هغه ته الله تعالى مال

وَعِلْمًا فَهُوَ يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ وَيَصِلُ رَحِمَهُ وَيَعْمل لِلّٰهِ فِيهِ بحقه فَهَذَا بِأَفْضَلِ

او علم ورکړ نو هغه مال خرڅ کولو کي د الله ﷻ څخه بيريږي د خپلوانو سره ښه چلن کوي او د

هغه مال څخه د مال د حق سره سم د الله تعالى په لاره كي خرڅ كوي د دې كس لويه درجه ده

الْمَنَازِلِ وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللهُ عِلْمًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالًا فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ يَقُولُ لَوْ أَنَّ

(۲): دويم د هغه بنده لپاره چي هغه ته الله تعالى علم ورکړ او مال يې ورنه کړ دا بنده ريښتوني نيت لري او دا آرزو لري كه چيري

لِي مَالًا لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلَانٍ فَأَجْرُهُمَا سَوَاءٌ وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللهُ مَالًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ

زما سره مال واى نو د فلاني په ډول به مي په نيكو كارونو كي مصرف كړي واى ده ته به هم د لومړني كس په ډول اجر تر لاسه كيږي او په ثواب كي به دواړه برابر وي (۳): دريم د هغه بنده لپاره چي الله تعالى مال ورکړى وي

عِلْمًا فَهُوَ يَتخبط فِي مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ لَا يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ وَلَا يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ

او علم يې نه وي ورکړى دا بنده د بې علمۍ په وجه خپل مال په خرابه طريقه سره خرڅ كوي نه خو په خرڅ كولو كي د الله ﷻ څخه بيريږي، نه د خپلوانو سره ښه چلن كوي او نه د خپل مال

وَلَا يَعْمل فِيهِ بحق فَهَذَا بِأَخْبَثِ الْمَنَازِلِ وَعَبْدٍ لَمْ يَرْزُقْهُ اللهُ مَالًا وَلَا

څخه د الله ﷻ حق ادا كوي، او نه د بندګانو حق ادا كوي، دا بنده د بدترينې مرتبې دي (۴): او څلورم بنده هغه دئ چي الله تعالى مال هم نه دى ورکړى او علم يې هم نه دى ورکړى، هغه

عِلْمًا فَهُوَ يَقُولُ لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ فِيهِ بِعَمَلِ فُلَانٍ فَهُوَ نيته وَوِزْرُهُمَا سَوَاءٌ. رواه الترمذي وقال هذا حديث صحيح.

وايي كه زما سره مال واى نو ما به د فلاني په ډول خرڅ كولاى (يعني په خراب كارونو كي) دا بنده د خپل نيت په سبب مغلوب دئ او د هغه ګناه د دغه دريم بنده د ګناه په ډول ده .. ترمذي ويلي دي دا حديث صحيح دئ .

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۸۷، رقم: ۲۳۲۵.

تشريح: دلته بايد نيت د عزم پر معنى محمول كړل سي ځكه چي انسان د ګناه پر محض خواهش او نيت باندي نه بلكه پر عزم باندي ماخوذ دى او په اصطلاحي توګه عزم دې ته وايي

چي د انسان په زړه كي د يوې ګناه كولو خيال او اراده پيدا سي او هغه ته هغه خيال او اراده پوره كولو كي د خپلي خوا هيڅ كسر نه پرېږدي مګر په خارجي توګه يو داسي مانع واقع سي چي دهغه په وجه د هغه ګناه كولو او هغه ته پر رسېدو باندي قادر نه وي كه هغه مانع نه وي او هغه ته قدرت تر لاسه سي نو هغه به بېله توقفه هغه ګناه وكړي، د مثال په توګه كه يو څوک زنا كول غواړي او هغه د خپل دغه خواهش په تكميل كي تر دې حده پوري هڅه او سعي وكړي كه چيري يو خارجي شی د هغه په لار كي خنډ پيدا نه كړي نو هغه به په زنا كي اخته سي نو د هغه دغه خواهش او ارادې دومره پخه اراده كولو ته به عزم ويل كيږي او هغه به پر دغه عزم باندي ماخوذ وي او هغه به د الله ﷻ په نظر كي ګناه كار ګرځول كيږي، ځكه چي عزم كه څه هم واقعتا زنا نه دی مګر څرنګه چي زنا يوه ګناه ده .

همدارنګه د زنا عزم هم يوه مستقله ګناه ده ، دلته مناسب ده چي په دې اړه لنډ بحث بيان كړل سي، نو پوهېدل پكار دي چي اول خو د شيطان وسوسه ده يعني بېله كسب او ارادې په زړه كي د ګناه خيال په خپله پيدا سي او تېر سي دې ته هاجس ويل كيږي او پر هاجس باندي مؤاخذه نسته، مګر هغه خيال كه چيري په زړه كي ځای ونيسي او په طبيعت كي د ننه ګردش كول پيل كړي نو هغه ته خاطر ويل كيږي خاطر هم ددغه امت په حق كي مرفوع او قابل معافي ګرځول سوی دی او پر هغه مؤاخذه نسته، او دا ددغه امت د خصائصو څخه دی، ددې څخه وروسته هم دی ، هم دادی چي د ګناه هغه خيال په زړه كي داسي كښېنيني چي د هغه ګناه كولو د قصد او ارادې او نيت صورت اختيار كړي ، په حسناتو كي د (هم) اعتبار كيږي چي د يوې نيكۍ محض نيت او د هغه قصد او اراده د پوره نيكۍ برابر ګرځول كيږي مګر په ګناهو كي د محض نيت او ارادې اعتبار نسته ، ددې څخه وروسته عزم دی چي د هغه وضاحت مخكي تېر سوی دی او څرنګه چي بيان سوی دی چي د عزم مؤاخذه سته .

د حديث په دغه جمله كي (ويعمل لله فيه بحقه) د فيه ضمير شيخ عبدالحق مال ته ګرځولی دی لكه څرنګه چي د ترجمې څخه څرګنديږي، مګر ملا علي قاري رحمه الله د فيه ضمير د مال پر ځای علم ته ګرځولی دی په دغه صورت كي ددغه جملې مطلب به دا وي چي هغه سړی ددغه علم تعلق سره او حقوق الله او حقوق العباد ادا كولو سره د هغه علم حق ادا كوي مګر ملا علي قاري ، ابن ملک ته په منسوب كولو سره دا قول هم ليكلی دی چي د فيه ضمير مال ته راجع دی نو شيخ عبدالحق دا قول اختيار كړی دی او شيخ دغه لفظ يتخبط ، داسي ليكلی دی چي هغه سړی چي هغه ته يوازي مال وركړل سوی دی او علم نه دی وركړل سوی دی دخپلي بې

علمي او بدعقلي په وجه دخپل مال او دولت په معامله كي هيڅ صحيح لار نه اختياروي او د ښه او بدو مصارفو په منځ كي د تميز نه كولو په وجه هغه آخوا ديخوا مصرف كوي د هغه نتيجه داسي چي د هغه مال زيات په هغه كارو كي مصرف كيږي كوم چي غير شرعي او ناخوښه حق وي، نو ما بعد الفاظ لايتقي فيه ربه څخه دا خبره څرګنديږي مګر ملا علي قاري رحمه الله ددغه جملې دا معنى ليكلې ده چي هغه سړى د مال او دولت په تر لاسه كولو كي د سختي بې اعتدالي ښكار كيږي ، هغه هر وخت په مال ګټلو او جمع كولو كي مصروف وي ، د هغه ناسته ولاړه، ګرځېدل او د هر حركت واحد محور د مال تر لاسه كول وي، ددې څخه پرته هغه د مال او دولت په اړه په ډول ډول حالاتو كي اخته كيږي چي كله خو بې پايه مصرف كوي او كله داسي بخل كوي چي بنيادي ضرورت او د حقوقو په ادا كولو كي هم بې احتياطي كوي .

د نيكو اعمالو توفيق

﴿۵۰۵۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ان الله تعالى اذا اراد بِعَبْدٍ خَيْرًا اسْتَعْمَلَهُ فَقِيلَ كَيْفَ يَسْتَعْمِلُهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ يُوَفِّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي الله تعالى د يو بنده سره د نيكۍ كولو اراده وكړي نو په هغه د نيكۍ كار كوي ، پوښتنه وسول اې د الله رسوله ! الله تعالى د نيكۍ كار څنګه په كوي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د مرګ تر مخه هغه ته د نيكو كارونو توفيق وركړي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۹۲، رقم: ۲۱۴۲.

تشريح: مطلب دادى چي پر كوم بنده باندي د الله جل جلاله كرم وسي نو هغه ته د مرګ څخه مخكي د توبې او طاعت او عبادت توفيق وركول كيږي چي د هغه په وجه د هغه د حسن سعادت او خاتمې بالخير سعادت تر لاسه كوي . دغه حديث د ژوندي او سېدو فضيلت او ارزښت ظاهروي چي په ژوند كي انسان د آخرت د خير او كاميابۍ لپاره څه ګټلاى سي .

د عاقل او عاجز فرق

﴿۵۰۵۹﴾: وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللهِ. رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: عاقل او احتیاط کونکی بنده هغه دئ چي خپل نفس ذلیل کړي او په خپل واک کي یې وساتي او د مرګ څخه وروسته (ژوند) لپاره عمل وکړي او عاجز (احمق) هغه دی چي د خپل نفس د خواهشاتو غلام وي او د الله تعالی د بخښني آرزو مند وي. ترمذي او ابن ماجه.

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۵۵۰، رقم: ۲۴۵۹، وابن ماجه ۲\ ۱۴۲۳، رقم: ۴۲۶۰.

تشریح: نووي رحمه الله لیکلي دي چي امام ترمذي او نورو علماؤ او محدثینو وضاحت کړی دی چي (من دان نفسه) په اصل کي د حاسبها په مفهوم کي دی یعني عقلمند هغه څوک دی چي په خپل دنیاوي ژوند کي خپل قول او فعل او خپل حالت خپله احتساب وکړي که هغه وویني چي د هغه په اعمالو، احوالو او کردار د نیکیو غلبه ده نو د الله جل جلاله شکر دي ادا کړي او که هغه ته د خرابیو غلبه معلومه سي نو د توبې په ذریعه دي خپل حالت سمولو ته متوجه سي، د خرابیو ازاله دي وکړي او په تېر ژوند کي چي کوم عبادت او اعمال صالحه فوت سوي دي د هغو تدارک دي وکړي، مخکي تر دې چي د آخرت په سخت عذاب کي اخته سي، په یوه روایت کي فرمایل سوي دي: (حاسبوا انفسکم قبل ان تحاسبوا) یعني د خپل ځان محاسبه وکړه مخکي تر دې چي په آخرت کي ستا محاسبه وکړل سي او الله جل جلاله فرمایلي دي: (ولتنظر نفس ما قدمت لغد) یعني نفس ته دا کتل پکار دي چي هغه سبا (آخرت) ته څه لیږلي دي.

د حدیث څخه یوه خبره دا معلومه سوه چي پوه مؤمن هغه دی چي په خپل ځان کي دومره طاقت ولري چي د هغه نفس د خپل خواهشاتو په فریب کي اخته نه کړلای سي او ناپوه مؤمن هغه دی چي دومره کمزوره او ناتوان وي چي د هغه نفس هغه د خپل خواهشاتو بندي جوړ کړي، دوهمه خبره دا معلومه سوه چي د ګناه او معصیت لار نه ترک کول د توبې او استغفار او عمل خیر په ذریعه خپل ژوند پاک نه جوړول او د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ د مرضی خلاف تلل او بیا امید درلودل چي الله جل جلاله د خپل رحمت دروازې پر خلاصي کړي او د دین او دنیا په کامیابی سره یې ونازوي او په ژبه سره دا ویل چي زما رب لوی کریم او رحیم دی هغه به ما وبخښي، جنت ته به مي ورسوي دا په اصل کي د نفس یو داسي فریب دی چي د هغه په ذریعه یې شیطان د

گمراهۍ څخه وتلو ته نه پرېږدي ، الله ﷻ فرمايي :

(مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ).

په يو بل ځای کي فرمايي:

(نَبِّیءْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ، وَ أَنَّ عَذَابِي هُوَ الْعَذَابُ الأَلِيمَ)

په يو بل ځای کي يې داسي څرگنده کړې ده چي :

(إِنَّ رَحْمَتَ اللهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ)،

او فرمايي:

(الَّذِينَ آمَنُواْ وَالَّذِينَ هَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِي سَبِيلِ اللهِ أُوْلَئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللهِ وَاللهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ)

ددغه آياتو خلاصه داده چي عمل نه کول او د بدۍ لار نه پرېښودل او د الله ﷻ د رحمت امېدوار کېدل بې گټې دی ، سيده لار داده چي د بدۍ لار پرېښودل سي اعتقادي او عملي ژوند په ديني او اخروي پاکۍ او سلامتي کي واچول سي او د هر نېک عمل په لاره کي کوتاهي ونه کړل سي او بيا د الله ﷻ د رحمت امېدوار هم اوسي او د هغه د عذاب څخه هم بيرېږي نو په دغه صورت کي د رحمت الهي استحقاق نصيب کيږي .

شيخ ابن عباد شاذلي رحمه الله ليکلي دي چي د عارف بالله علماؤ وضاحت کړی دی چي د الله ﷻ د رحمت په اړه هغه د درواغو اميد چي پر هغه ناروا اعتماد کولو سره انسان د عمل او عبادت لار ترک کړي نو هغه اميد د هغه د گناه او معصيت د ژوند بې باکه لاروی جوړ کړي نو دا په حقيقت کي اميد نه دی بلکه د نفس فريب او د شيطان دوکه ده ،

حضرت معروف کرخي رحمه الله فرمايي: بېله عمله د جنت طلب د گناهونو څخه يوه گناه ده د خداترسۍ او پاکۍ او عمل په ذريعه او تعلق اختيارولو پرته د شفاعت اميد د فريب يو ډول دی او د هغه ذات د رحمت اميدار کېدل چي د هغه اطاعت او فرمانبرداري نه کوي لوی جهالت او ناپوهي ده .

حضرت حسن بصري رحمه الله فرمايي: اې د الله بندگانو ! د هغه باطل او درواغو اميدو څخه ليري اوسئ چي د حماقت شېله ده او په هغه کي خلک لوېدلي دي ، قسم په خدای! الله ﷻ هيڅ بنده محض د هغه د آرزوگانو په وجه په دنيا کي په کاميابۍ سره نه نازوي او نه يې په آخرت کي

د خیر او فلاح مستحق گرځوي.

حضرت عمرو بن منصور رحمة الله علیه په خپلو متعلقینو کي یوه سړي ته لیکلي وه چي اې ناپوهه! ته د خپل عمر د اوږدوالي آرزو مند یې او ته د الله تعالی څخه دي خبري امید واریې چي هغه به ستا د بدوعملو سربېره تا په خپل رحمت سره ونازوي، په هوښ کي راسه دا څه د یخي اوسپني په ټکولو بوخت یې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د متقي لپاره دنیا بده نه ده

﴿۵۰۶۰﴾: عَنْ رَّجُلٍ مِّنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنَّا فِي مَجْلِسٍ

د رسول الله ﷺ په اصحابو کي د یو صحابي څخه روایت دئ چي موږ ناست وو چي رسول الله

فَطَلَعَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى رَأْسِهِ أَثَرُ مَاءٍ فَقُلْنَا يَا

ﷺ تشریف راوړ، د رسول الله ﷺ پر سر مبارک د اوبو علامه وه موږ وویل: اې

رَسُوْلَ اللهِ نَرَاكَ طَيِّبَ النَّفْسِ قَالَ أَجَلْ قَالَ ثُمَّ خَاضَ الْقَوْمُ فِي ذِكْرِ الْغِنَى

د الله رسوله! دا وخت موږ تاسو خوشحاله وینو، رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، راوي وایي ددې څخه وروسته خلک په خبرو کي بوخت سول او د شتمنتوب بحث یې پیل کړ (چي دا ښه شی دئ

فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا بَأْسَ بِالْغِنَى لِمَنْ اتَّقَى الله عزوجل

وَالصِّحَّةُ لِمَنْ اتَّقَى خَيْرٌ مِنَ الْغِنَى وَطِيبُ النَّفْسِ مِنَ النَّعِيمِ. رواه احمد.

که بد) رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د الله تعالی څخه بیرېږي د هغه لپاره شتمنتوب بد شی نه دئ او د متقي لپاره صحت او د دولت څخه غوره دی او خوشحالي د الله تعالی د نعمتونو څخه یو نعمت دی. احمد.

تخریج: مسند الامام احمد ۵\۳۷۲.

مال د مؤمن سپر دئ

﴿۵۰۶۱﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ قَالَ كَانَ الْمَالُ فِيْمَا مَضَى يُكْرَهُ فَأَمَّا الْيَوْمَ

د سفيان ثوري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي په پخوا زمانه كي به مال بد ګڼل كيدى ، مګر نن سبا

فَهُوَ تُرْسُ الْمُؤْمِنِ وَقَالَ لَوْلَا هٰذِهِ الدَّنَانِيْرُ لَتَمَنْدَلَ بِنَا هٰؤُلَاءِ الْمُلُوْكُ وَقَالَ

مال د مؤمن سپر دى ، سفيان وايي كه دا دنيا زموږ سره نه واى نو دغه پاچاهانو به ذليل او خوار كړي واى او سفيان دا هم وويل چي

مَنْ كَانَ فِيْ يَدِهِ مِنْ هٰذِهِ شَيْءٌ فَلْيُصْلِحْهُ فَإِنَّهُ زَمَانٌ إِنِ احْتَاجَ كَانَ أَوَّلَ مَنْ يَّبْذُلُ دِيْنَهُ وَقَالَ الْحَلَالُ لَا يَحْتَمِلُ السَّرَفَ . رواه في شرح السنة.

د چا سره مال وي هغه دي د هغه اصلاح وكړي (يعني د هغه د زياتولو تدبير دي وكړي او دضائع كېدو څخه دي يې وساتي)ځكه چي دا زمانه هغه زمانه ده كه په دې كي څوک اړ وي نو هغه تر ټولو لومړني سړى دئ چي خپل دين به ددنيا په بدل كي خرڅ كړي ،. حضرت سفيان ثوري وويل : حلال مال د فضول خرڅۍ څخه نه ضائع كيږي يعني په حلال مال كي اسراف مه كوئ . شرح السنه

تخريج: لم نجده.

د لغاتو حل: التمندل: اى اجعلونا مناديل او ساخهم وهي كناية عن الابتذال والمذلة للظلمة. (ذلت)

تشريح: حضرت سفيان ثوري رحمه الله د آخري قول مطلب دا بيان كړى دى چي كوم څوک په محنت او مشقت زغملو سره او په جائز وسائلو سره څه وګټي نو هغه دېر پاک مال وي نو هغه ته پكار دي چي هغه خپل هغه پاک مال په پالتو مصارفو كي ضائع نه كړي بلكه په كفايت شعاري او احتياط سره يې مصرف كړي او څه ناڅه د اندازه كولو هڅه هم وكړي او د هغه ساتنه وكړي چي د يو سختي اړتيا په وخت كي د چا محتاج نسي او د قلبي اطمينان او استغناء په وجه د خپل دين سلامتي ورته حاصل وي يا ددغه قول دا معنى ده چي په محنت او جائز وسائلو سره ګټلى مال دومره زيات نه وي چي په پالتو مصارفو كي ضائع كړل سي بلكه هغه لږ او مختصر وي چي په جائزو اړتياوو كي خپل د ژوند مشكلات په پوره كړي .

شپېته كاله عمر

(۵۰۶۲): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنَادِيْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به يو

مُنَادٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَيْنَ أَبْنَاءُ السِّتِّيْنَ وَهُوَ الْعُمُرُ الَّذِيْ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى أَوَلَمْ

اعلان کونکی اعلان وکړي چي د شپيتو کالو عمر والا خلک په کوم ځای کي دي ؟ او دا عمر هغه عمر دئ چي په دي اړه الله تعالی فرمايلي دي (ايا

نُعَمِّرْكُمْ... مَا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيْرُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

موږ تاسو ته داسي عمرونه درکړي نه وه چي په هغه کي نصيحت حاصلونکي نصيحت حاصل کړي حال دا چي تاسو ته بيرونکی هم راغلی وو) بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٧/ ٢٦٤، رقم: ١٠٢٥۴.

تشريح: د بېرونکي څخه مراد يا خو د الله ﷻ احکام او هدايات يعني قرآن کريم او د هغه رسولان دی يا ددې څخه مراد سپين ږيرتوب او مرګ دی ، خلاصه دا چي چا ته الله ﷻ دومره اوږد عمر ورکړی وي او آخرت ته د متوجه کېدو دومره زياتي مواقع يې په برخه کړي وي نو هغه ته د عقل او پوهي څخه په کار اخيستلو د خپل آخرت د خير او کاميابۍ لپاره څه ناڅه نه وکړای سي او د عمر دومره اوږد وخت په پالتو تېرولو سره له دنيا څخه ولاړ سي او که څوک داسي وکړي نو هغه ته به د قيامت په ورځ د سخت سوال او جواب سره مخ کېدل وي او هلته يو بل عذر غوښتونکی دده په کار نه راځي نو ددغه څخه ډېر بې عقل او دده څخه ډېر بدنصيب بل څوک کېدای سي .

د درو مسلمانانو مرګ

﴿۵۰۶۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ أَنَّ نَفَرًا مِنْ بَنِيْ عُذْرَةَ ثَلَاثَةً أَتَوْا

د حضرت عبدالله بن شداد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د عذره قبيلې درې کسان رسول الله ﷺ ته

النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمُوْا قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

راغلل او اسلام يې قبول کړ ، رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل : څوک سته

يَكْفِنِيْهِمْ قَالَ طَلْحَةُ أَنَا قَالَ فَكَانُوْا عِنْدَ طَلْحَةَ انا فكانوا عنده فَبَعَثَ النَّبِيُّ

چي د دوئ خبر واخلي، طلحه ﷺ وويل: زه به د دوئ خبر وکړم، دا درې سره د طلحه ﷺ سره وه
بيا رسول الله ﷺ يو لښکر وليږئ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْثًا فَخَرَجَ فيه أَحَدُهُمْ فَاسْتُشْهِدَ ثُمَّ بَعَثَ بَعْثًا

په هغه درو کسانو کي يو سړى په هغه لښکر کي ولاړئ او شهيد سو، بيا رسول الله ﷺ يو بل

فَخَرَجَ فِيهِ الاخر فَاسْتُشْهِدَ ثُمَّ مَاتَ الثَّالِثُ عَلَى فِرَاشِهِ قال قَالَ طَلْحَةُ

لښکر وليږئ په هغه کي دويم کس هم ولاړئ او شهيد سو، بيا هغه دريم سړى پر بستره مړ سو، د
راوي بيان دئ چي طلحه ﷺ وويل:

فَرَأَيْتُ هٰؤُلَاءِ فِي الْجَنَّةِ وَرَأَيْتُ الْمَيِّتَ عَلَى فِرَاشِهِ أَمَامَهُمْ وَ الَّذِي اسْتُشْهِدَ

ما دا درې سره (په خوب کي) په جنت کي وليدل، کوم سړى چي په بستره کي مړ سوى وو هغه
تر ټولو وړاندي وو، او کوم چي په دويم لښکر کي شهيد سوى وو

أَخِيرًا يَلِيهِ أَوَّلَهُمْ يليه فَدَخَلَنِي مِنْ ذَلِكَ للنبي صلى الله عليه وسلم وَمَا

هغه په هغه پسې وو او تر ټولو وړاندي چي کوم سړى شهيد سوى وو هغه په آخر کي وو، زما په
زړه کي دا شبه پيدا سوه او رسول الله ﷺ ته مي يادونه وکړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: په دې

أَنْكَرْتَ مِنْ ذَلِكَ لَيْسَ أَحَدٌ أَفْضَلَ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ مُؤْمِنٍ يُعَمَّرُ فِي الْإِسْلَامِ

لِتَسْبِيحِهِ وَتَكْبِيرِهِ وَتَهْلِيلِهِ. رواه احمد.

کي کومه خبره ستا لپاره د انکار وړ ده، د الله ﷻ په نزد د هغه مسلمان څخه زيات غوره هيڅوک نه سته چي په اسلام کي يې زيات عمر تر لاسه کړ او هغه د تسبيح، تکبير او تهليل زياته موقع تر لاسه کړل. احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۱\۱۶۳.

تشريح: څرګنده ده چي کوم چا وروسته شهادت تر لاسه کړ د هغه عمر د اول شهيد کېدونکي د عمر څخه زيات وګرځيدى او کله چي د هغه عمر زيات سو نو د هغه نېک اعمال هم زيات سول نو لومړى شهيد کيدونکى سړي څخه د دغه افضل او بنه کېدل د هيڅ شک محل نه سي کيداى،

پاته سوه دا خبره چي د خپلو دواړو ملګرو څخه وروسته پر خپله بستره باندي وفات سو نو د هغه عمر ګويا د هغه دواړو څخه زيات سو او په دې اعتبار د هغه عمل هم د هغه دواړو د عمل څخه زيات سو ځکه چي هغه د خپلو دواړو ملګرو څخه که څه هم هغوئ د جنګ په ميدان کي شهيدان سوي وه زيات افضل وګرځېدی مګر په دې اړه هغه توجيه په نظر کي ساتل پکار دي کوم چي په دوهم فصل کي د حضرت عبيدابن خالد رضي الله عنه د روايت په تشريح کي بيان سوې ده چي هغه ته دلته هم د ترجمې په دوران کي اشاره سوې ده چي هغه سړی شهادت نه وو تر لاسه کړی او د جهاد صادق نيت لرلو په وجه د شهادت حامل وګرځول سو .

د عبادت کونکي ژوند

﴿۵۰۶۴﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عُمَيْرَةَ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رسول الله صَلَّى اللهُ

د محمد بن ابي عميرة رضي الله عنه څخه روايت دئ دی يو صحابي وو چي ويلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم : که

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَّ عَبْدًا لو خَرَّ عَلَى وَجْهِهِ مِنْ يَوْمِ وُلِدَ إِلَى أَنْ يَمُوتَ هَرَمًا

يو بنده د زېږېدني د ورځي څخه تر سپين ږيرتوب او مرګ پوري د الله جل جلاله په عبادت او فرمانبرداری کي نسکور وي نو هغه به خپل دا عبادت

فِي طَاعَةِ اللهِ لَحَقَّرَهُ فِي ذَلِكَ الْيَوْمَ وَلَوَدَّ أَنَّهُ رد إِلَى الدُّنْيَا كَيْمَا يَزْدَادَ مِنَ الْأَجْرِ وَالثَّوَابِ. رواه احمد.

او فرمانبرداري د قيامت په ورځ حقير خيال کوي او دا ارمان به کوي چي هغه بيا دنيا ته ولاړ سي چي اجر او ثواب يې زيات سي .، احمد

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۱۸۵.

تشريح: مطلب دادی چي د عمر اوږدوالی د الله جل جلاله د پر لوی نعمت دی په شرط د دې چي د غه اوږد عمر هغه ضائع نه کړي بلکه د الله جل جلاله په طاعت او عبادت کي يې مصرف کړي نو عمر چي څومره زيات وي هغومره اعمال صالحه هم زيات وي او اعمال صالحه چي څومره زيات وي هغومره اجر او ثواب هم زيات تر لاسه کيږي چي د قيامت په ورځ به تر ټولو لويه سرمايه وي، الله جل جلاله دي موږ او تاسو ټولو ته اوږد عمر په ښکو اعمالو کي را په برخه کړي . آمين.

د عبادت کونکي د ژوند د غه ارزښت بيان سوی دی که چيري دا فرض کړل سي چي يو

سړی په دغه دنیا کي په پیدا کېدو سره یا دا چي په بالغ کېدو سره د الله ﷻ په عبادت او طاعت کي مصروف سي او د سپين ږيرتوب عمر ته په رسېدو سره تر وفات کېدو پوري په سجده او لمونځ کي مصروف وي او د هغه د ژوند هيڅ برخه په دنياوي کار کي صرف نسي نو هغه سړی هم د قيامت په ورځ د طاعت، عبادت او اعمال صالحه د اجر او ثواب د فضيلت او اهميت په لېدو سره د خپل دغه اوږد عمر ټول عبادات او طاعات کم ګڼي او ارزو به کوي چي ارمان! ما ته د عبادت او طاعت اراده او موقع په لاس راسي او ما دنيا ته بېرته ولېږي چي هلته زيات عمل وکړم او ډېر اجر او ثواب دلته راوړم .

==========

بَابُ التَّوَكُّلِ وَالصَّبْرِ

(د توکل او صبر بيان)

په لغت د وَکَلَ او اُوکُول لفظ دی، چي معنی يې د سپارلو، حواله کولو ده، ددغه لفظ اسم وکالت او رکالت دی او ددغه لفظ څخه توکل وتلی دی چي د هغه معنی د خپل عجز او بې چارګی ظاهرولو او نورو باندي د اعتماد او باور کول دي، ددغه اسم تکلان دی ، د شريعت په اصطلاح کي توکل دې ته وايي چي بنده خپله معامله الله ﷻ ته وسپاري ، خپل تدبير او سعي ترک کړي او خپل ذاتي طاقت او قدرت څخه په بې پرواه کېدو سره پر تقدير الهي باندي کامل اعتماد وکړي، يعني پر دې خبره يقين ولري چي خپل تدبير او سعي او ذاتي طاقت او قدرت د الله ﷻ مشيت او د هغه فيصله بدلولای نسي او دقسمت ليکل خرابولای نسي ، څه چي ليکل سوي نه دي هغه ظاهرېدای نسي.

د توکل تعلق پر ټولو امورو او معاملاتو باندي وي مګر اکثر ددې استعمال د رزق په باره کي کېږي او خبره داده چي د توکل اصل مفهوم دی هغه پر دې خبره باور کول دي چي الله ﷻ د بندګانو د رزق ضامن دی د رزق تر لاسه کولو لپاره جائز او حلال وسائل او ذرائع ترک کول که څه هم د توکل صحيح کېدو شرط نه دی مګر دا ضروري ده چي اصل اعتماد او باور پر هغه وسائلو باندي نه وي، د توکل تعلق په اصل کي د زړه څخه دی ، که چيري په زړه کي د الله ﷻ د ضامن کېدو يقين پوخ سي نو د توکل مفهوم پوره کېږي يعني د عمل اندامونه معطل کول او لاس او پښو غورځولو سره شل او ګډ جوړېدل د توکل صحيح کېدو لپاره نه وي او نه د حصول معاش لپاره ظاهري تدبير او سعي کول ددې خلاف دی پاته سوه دا خبره چي ځينو زاهدان او

درویش صفته خلک موقت حصول معاش ظاهري اسباب او وسائل ترک کوي نو دا عمل محض یو استثنائي حیثیت لري، او ددې څخه دهغوئ مقصد دا وي چي مقام توکل ثابت سي او نفس په زیات ریاضت او مجاهده کي مشغول سي او د امید نظر د اسبابو څخه منقطع سي او په دې امر پوره یقین حاصل سي چي ظاهري اسباب د رزق رسولو لپاره د شرط درجه نه لري.

ځینو حضراتو د توکل مطلب دا بیان کړی دی چي د بنده د الله ﷻ پر رزاقیت باندي د اعتقاد د یقین سبب او حصول معاش اسباب او د کسب او عمل د پابندیو څخه مطلق ازاد کېدل دي مګر د توکل هغه مقام دی چي په ابتدائي حالت کي اختیارول کیږي یا د ازاد کېدو څخه مراد دادی چي هغه بنده هغه اسباب او کسب او عمل سره د هر ډول قلبي تعلق او باور ختم کړي یعني په خپل زړه کي دا خیال هم پیدا نه کړي چي ظاهري اسباب او وسائل او کسب او عمل رزق رسولو لپاره حقیقي مؤثر او مسبب وي نو کوم بنده چي د توکل آخري مرحلې ته ورسیږي او ددې مقام منتهي سي د هغه اسباب او وسائل او عمل اختیارول د هغه په حق کي د توکل خلاف نه دی هغه ته د الله ﷻ پر رزاقیت باندي کامل یقین هغه وخت هم تر لاسه کیږي کله چي هغه د خپل ژوند لپاره په اسبابو او کارو کسب کي بوخت اوسي او هغه وخت هم د هغه په یقین کي د ذرې فرق نه راځي کله چي هغه دغه شیان بالکل ترک کړي، د مثال په توګه که چیري هغه د خرما نوی بوټی ولګوی او د خرق عادت په توګه یعني د عادت خلاف هغه بوټی سمدستي بار وکړي نو د الله ﷻ پر قدرت صناعي باندي د هغه یقین او او عقیده او په هغه صورت کي او په دغه صورت کي چي د خرما بوټی د عادت او معمول مطابق څو کاله وروسته میوه وکړي یو ډول وي بلکه حقیقت دادی چي کله یو جز د خپل دنیاوي اسبابو او وسائلو په ذریعه او د ظاهري عواملو په وجه منځته راځي نو په دغه صورت کي د صانع د کمال قدرت مشاهده زیات په یقین او اعتماد او زیات د تاثیر په انداز کي کیږي ځکه چي د اسبابو څخه پرته یعني د خرق عادت په توګه چي کوم شی مخته راځي په هغه کي محض هغه یو فعل وي کله چي د ظاهري اسبابو په ذریعه ظاهرېدونکی شی هر څومره ټینګ او مضبوط افعالو او حالت او هر څومره محکم احکام او قوانین قدرت مظهر وي، ددې څخه پرته یوه خبره دا هم په نظر کي ساتل پکار دي چي اسباب او وسائل ترک کول یا دغه شیان معطل او بېکاره ګڼل کوم چي الله تعالی د انسان لپاره پیدا کړي دي او کوم چي اختیارول د منشاء د قدرت خلاف نه دي، د صبر معنی ده منع کول د نفس د یو شي څخه، او په اصطلاح کي صبر دې ته وایي چي د نیکۍ او بدۍ په منځ کي د کشمکش په وخت کي خپل نفس پر دې خبره مجبوره کړل سي چي هغه نیکي اختیار کړي او د بدۍ

څخه منع سي.

شیخ نجم الدین کبري رحمه الله وایي: د صبر مفهوم دادی چي د ریاضت او مجاهدې په ذریعه د حظوظ نفس، لذات نفس د جال څخه وتل او نفس د هغه د غوره شیانو څخه پر منع کولو باندي بندول.

په عوارف کي لیکلي دي چي د صبر کوم اقسام دي په هغو کي تر ټولو اعلی قسم هغه صبر دی چي د الله ﷻ په اړه وکړل سي په دې توګه چي هغه ته متوجه کېدل او اخلاص وي، د هغه ذات او کمال قدرت کي استغراق وي او د نفس ټول خواهشات او خیالات منقطع کړل سي او بیا یې بیان وکړ چي صبر فرض دی او نفل هم، فرض صبر هغه دی چي د فرضو ادا کول او د حرامو شیانو ترک اختیارول وي او د نفل صبر چي کوم صورتونه دي په هغو کي څو دادي:

۱. پر فقر او مفلسي او سختیو باندي صبر کول.
۲. پر یو صدمه رسېدو باندي صبر کول.
۳. خپل مصیبتونه او پرېشانی پټول.
۴. د شکایت څخه پرهېز کول.
۵. باطني احوال او کرامت پټول.

څرګنده دي وي چي فرض او نفل دواړه ډوله صبر ډېر اقسام او صورتونه لري او ظاهره ده چي داسي خلک ډېر دي چي د صبر پر ټولو اقسامو باندي عمل کونکي نه دي.

لکه څرنګه چي مخکي بیان وسو چي د صبر ډېر اقسام دي او د هغه اطلاق پر ډېرو صورتو باندي کیږي مګر په عامه توګه د دې اطلاق په خصوصیت سره پر مصائبو او آفاتو او ناخوښه کارو باندي کیږي لکه څرنګه چي شکر یو وسیع المفهوم لفظ دی او د خپل اطلاق په اعتبار ډېر قسمونه لري مګر په خاصه توګه د دې استعمال د حصول نعمت او د رزق په دغه صورت کي کیږي.

د توکل او صبر په اړه یو څو ګټوري خبري

پوه سئ! کوم شیان چي د انسان لپاره د عبادت په لاره کي خنډ جوړیږي په هغو کي تر ټولو سخت خنډ د معاشي ژوند تفکرات یعني خوراک او د نورو اړتیاوو فکر او خیال دی، څرګنده ده چي انسان د خپل وجود او بقاء لپاره د کوم شیانو محتاج دی هغو ته د هغه د میلان او مطالبې یوه تقاضا ده. نو هغه پر ځای ویل کیږي چي زه د هر شي څخه منع سوم او زهد او تقوا مي اختیار کړل، د دنیا نعمتونو او لذتونو سره څه کار نه لرم مګر د هغه شیانو څه علاج وکړم چي زما د وجود او بقاء لپاره ضروري دي لکه خوراک، څښناک، جامې او داسي نور شیان، او

داهم بالکل څرګنده خبره ده چي دغه شیان په خپله نه حاصلیږي بلکه ددغه شیانو د تر لاسه کولو لپاره د کسب او عمل هڅي او دخلکو سره د تعلق اختیارول ضروري دي، نو شریعت د نفس د دغه مطالبې پوره کولو لپاره تر ټولو یقیني لار ښیي چي هغه ته توکل ویل کیږي ځکه چي توکل بذات خود هغه واحد قوي ذریعه ده که چیري پر هغه په صدق او اخلاص سره عامل سي نو د الله ﷻ له خوا د ژوند د اړتیاوو تکمیل په خپله پېل کیږي او ددغه لاري اختیارولو په وجه نه یوازي د نفس تشویش رفع کیږي بلکه د کمال ایمان درجه نصیب کیږي ، ددې پر خلاف توکل ترک کونکی ډېر سخت تفکرات ، وهمونو کي اخته کیږي چي د هغه نتیجه داسي چي نه هغه ته په سکون او اطمینان سره د طآعت او عبادت موقع نصیب کیږي او نه هغه په اطاعت او عبادت کي حلاوت او لذت نصیب کیږي او د روزۍ فکر او غم هغه دومره پریشان کړي چي هغه هیڅکله نیک عمل په یقین او قوت سره نه سي کولای ، نو د توکل اختیارول د هر چا لپاره ضروري امر دی چي ددې څخه پرته هغه اعلی مراتبو ته د رسېدو طاقت نسي درلودای لکه څرنګه چي یو اوږد حدیث مخته راځي په هغه کي فرمایل سوي دي چي کوم څوک دا خبره خوښوي چي هغه په خلکو کي تر ټولو زیات قوي وي نو هغه ته پکار ده چي دتوکل لار اختیار کړي او دتوکل مفهوم دادی چي الله ﷻ دخپل ټولو کارو وکیل او دخپل خیر په ضامن ګڼلو سره پر هغه باندي باور وکړل سي او په دې پوه سي چي الله ﷻ په قسمت کي څه لیکلي وي هغه هیڅکله معدوم کیږي نه ، او حکم الهي په هیڅ حالت کي نه بدلیږي ، که څه هم بنده یې غواړي یا یې نه غواړي او پر دې خبره یقین ولري چي الله ﷻ د بندګانو د روزۍ ضامن دی کله چي هغه پیدا کړي دي نو رزق به هم ورکوي ، الله ﷻ په خپله فرمایي : (وما من دابة في الارض الا علی الله رزقها) او په دې هم قسم کوي چي (فو رب السماء والارض انه لحق) .

نو د فکر کولو ځای دی چي کوم څوک د الله ﷻ پر ذات باندي ایمان لري او د هغه د وعدې د صداقت د جزو ایمان کېدو عقیده لري که هغه د هغه پر ضامن کېدو باندي عقیده ونه لري او د هغه پر وعده باور نه کوي نو د هغه ایمان چیري پاته کیږي او هغه څرنګه د الله ﷻ د بنده ویلو مستحق کیږي ، هر مؤمن ته پکار ده چي هغه دنیا او ددنیا مال او سباب یوه ظاهري وسیله وګڼي او ددې څخه نور زیات یې هیڅ ونه ګڼي او دایقین ولري چي حقیقي رزاق یوازي الله ﷻ دی هغه دومره د لوی قدرت مالک دی چي د هغه په نزد ظاهري وسائل او اسباب هیڅ اهمیت نه لري هغه توکل او اعتماد لرونکو ته بې سببه او وسیلې هم روزي رسوي لکه چي فرمایي : (ومن یتوکل علی الله فهو حسبه) .

همدارنګه د معاش تر لاسه کولو لپاره د وسائلو او کسب او عمل سره بوختيا د الله ﷻ له خوا د تاکل سوي نظام يوه لړۍ او د روزۍ رسولو يو ظاهري سبب وګڼي او پر هغه په زره سره اعتماد او باور نه کوي د الله ﷻ پر وعده باندې اطمينان لري او پوه سي که چيري کسب او کار نه کوم نو بيا هم الله ﷻ روزي را رسوي دا د توکل کمه درجه چي د ايمان لپاره ضروري ده او د عامو مسلمانانو مرتبه ده لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمايي : (وعلى الله فتوكلوا ان كنتم مؤمنين)

تر دې اعلى درجه د تسليم ده يعني د بنده خپل ټول معاملات الله ﷻ ته سپارل، د الله ﷻ په علم کفايت کول او په خپل زړه کي هيڅ ډول تردد نه درلودل دا د اولياء الله مرتبه ده .

د (وعلى الله فليتوكل المتوكلون) څخه دا خبره معلوميږي ، د دغه خبرو څخه دا نتيجه اخيستل نه دي پکار چي د معاش تر لاسه کولو لپاره اسباب او ذرائع اختيارول او په کسب او کار کي بوخت کېدل د توکل خلاف دي بلکه حقيقت دادی چي اسباب او ذرائع او کسب او کار هم د نظام قدرت يوه برخه ده او د الله له خوا تر يو حده پوري انسان د دغه شيانو مکلف هم ګرځول سوی دی مګر کوم شی چي د توکل خلاف دی هغه دادی چي د معاش تر لاسه کولو ظاهري اسباب او ذرائع او کسب او کار باندي په زړه سره اعتماد ونه کړل سي او نه دا وګڼي چي د رزق رسېدو حقيقي سبب دا شيان دی که چيري انسان کسب او کار نه کوي او محض پر الله ﷻ باندي په توکل کولو سره کښېني نو هغه ته رزق نسي رسيدلای ، دا عقيده او خيال د ايمان خلاف دی او دې ته شرک خفي ويل سوي دي نو کوم څوک چي اسباب او ذرائع اختيار کړي او په کسب او کار کي بوخت سي مګر د هغه باور يوازي پر الله ﷻ وي نو هغه سړی به هم يقينا د متوکلينو څخه وي که څه هم د توکل اعلى درجه داده چي بنده خپل لاس او پښې د ټولو اسبابو او ذرائعو څخه ليري کړي او په خپل ټولو معاملاتو کي پر الله ﷻ باندي اعتماد وکړي او خپل ټول امور هغه ته وسپاري په شرط د دې چي په هر حالت کي که تنګي وي که پراخي وي، د قوت ايمان په سبب پر الله ﷻ باندي د هغه کامل اعتماد يو ډول وي او د غير الله څخه اميد منقطع وي او په دې لاره کي که مصيبت ور پېښ سي نو هغه په صبر او رضا سره وزغمي او کوم څوک چي په دغه امورو پوره قادر نه وي نو د هغه په حق کي غوره داده چي هغه په زړه سره پر الله ﷻ په باور لرلو سره ظاهري اسباب او ذرائع اختيار کړي او د کسب او کار څخه منع کېدل قطع روا نه دي ځکه چي اکثر د انبياؤ او اولياؤ دا معمول راغلی دی چي هغوئ د معاش تر لاسه کولو لپاره ظاهري اسباب او ذرائع اختيار کړل او د کسب او عمل څخه منع نه سول چي کوم څوک د کسب او عمل په وجه په خپل ديني ژوند کي تاوان او خپل باطني احوالو کي تاوان ووينې نو د

هغه لپاره په هر صورت دا ضروري دي چي هغه د ټولو شيانو سره د تعلق منقطع کولو څخه وروسته ذکر او فکر او مجاهده کي بوخت و اوسي چي واصل بحق سي.

متوکل لره د داسي کار او ذريعې څخه منع کېدل چي د هغه څخه پرته کار کول قطعا ممکن نه وي او سنت الله ددې مطابق جاري وي دا هيڅکله روا نه دي بلکه حرام دي مثلا خوراک د لاس په ذريعه خوړل کيږي او سنت الله ددې مطابق جاري دی چي کوم څوک يو شی خوړل غواړي نو هغه په لاس سره پورته کړي او په خوله کي يې واچوي اوس که چيري يو سړی متوکل دا ګمان وکړي چي ددغه شي د خوړلو لپاره د لاس ذريعه اختيارول د توکل خلاف دی او په دې اميد ناست وي چي دغه شيان خپله په ولاړېدو سره زما خولې ته ولاړ سي نو زه به يې وخورم نو دا توکل نه دی بلکه دا به محض ليونتوب او حماقت وي د هغه په امورو کي توکل دادی چي په دې پوه سي چي الله ﷻ خوراک ددې لپاره پيدا کړی دی چي هغه وخوړل سي د ټولو خالق او رازق هم هغه دی او دا لاس د خوراک خوړلو سبب او ذريعه دی چي الله تعالی موږ ته راکړی دی بس لاس د خوړلو ظاهري ذريعه ګڼلو سره د خوړلو لپاره دي استعمال کړي مګر په زړه سره دي په دې اعتماد نه کوي او دا دي وګڼي چي د کومو خلکو لاس نسته د هغوئ کار هم په هر حال سرته رسيږي تر څو چي د يو داسي کار تعلق دی چي د هغه د سرته درسولو ذريعه که څه هم لاس دی مګر هغه دده داسي قطعي ذريعه نه ده چي د هغه څخه پرته کار سرته نه رسيږي لکه د سفر په دوران کي د سفر مصرف او د لاري توښه او داسي نور نو په داسي صورت کي لاسونه د ذريعې په توګه استعمالولو څخه منع کېدل روا کيدای سي ځکه چي داسي ممکن او کثير الوقوع دي چي کوم څوک مصرف او د لاري توښه د ځان سره نه اخلي د هغوئ سفر هم پوره کيږي مګر څرګنده دي وي چي د لاري مصرف اخيستلو سره تلل د توکل خلاف هيڅکله نه دی بلکه اصل اعتماد پر الله ﷻ باندي وي نه پر هغه مصرف او د سفر پر خرڅې باندي بلکه د ضرورت په اندازه د سفر د مصرف اخيستلو سره سفر کول سنت دي او د سلف د معمولاتو څخه ثابته ده مګر د حق تعالی پر ذات باندي د کامل اعتماد او باور په سبب د سفر مصارف نه اخيستل د متوکلين اعلی درجو څخه دي.

کوم څوک چي عيالدار وي او د هغه اهل او عيال پر تنګۍ باندي صبر نسي کولای او هغوئ ددې اجازه نه ورکوي چي هغه سړی دي د توکل په سبب يو کسب او عمل نه کوي او د حصول معاش د ظاهري اسبابو څخه دي منع سي نو د داسي سړي لپاره جائز نه ده چي هغه دي کسب او کار نه کوي او د ذرائعو څخه دې پرهيز کوي.

د خپل کورنۍ لپاره تر يوه کال پوري اود خپل ځان لپاره تر څلوېښت ورځو پوري د ضرورت په اندازه خوراکي توکي اېښودل د توکل خلاف نه دي مگر که چيري يو سړی د توکل له موخي خوراکي توکي د مخکي څخه په جمع کولو سره نه ايږدي او هر څه ترک کړي په شرط دديٰ چي پر الله ﷻ باندي د هغه پوره عقيده او اطمينان وي نو په يقين سره دا خبره ويل کيدای سي چي هغه د اعلیٰ درجې حامل دی .

څرګنده ده چي ددغه مرتبې تر لاسه کولو لپاره د لوی قوت او همت ضرورت دی نو کوم چاته چي دومره قوت او همت ميسر نه وي که هغه د خوراکي توکو نه جمع کولو په صورت کي طاعت او عبادت په اطمينان او سکون سره نسي کولای نو د هغه لپاره دا غوره ده چي دخپل کورنۍ خوراکي اړتيا لپاره غله جمع کړي .

د پريشانۍ او ناروغۍ شکايت نه کول، او کوم څوک چي طبيب او معالج نه وي د هغه په مخکي بېله ضرورته خپل مرض نه څرګندول د توکل لپاره شرط دی .

علماؤ دا هم ليکلي دي چي توکل هغه څوک کولای سي چي په توحيد پوه او زاهد صفته وي، دلته د توحيد څخه مراد دادی چي بنده په دې پوه سي چي ټول مخلوقات الله ﷻ پيدا کړي دي او په دې پوه سي چي د ټولو حقيقي محرک يوازي الله ﷻ دی، دده څخه پرته بل هيڅ ذات داسي نسته چي د هغه د حکم پرته يوه ذره هم وښوري ، او چيري چي کوم شی ځي او راځي د ټولو منبع او مصدر د هغه واحد ذات مرضي او مشيت دی ، د چا په زړه کي چي دغه خبره غالبه سي نو هغه ته بې اختياره توکل حاصليږي .

دا خو د توکل په اړه يو څو خبري سوې اوس د صبر په اړه پوهېدل پکار دي چي صبر يو داسي لار ده چي د هغه اختيارولو څخه پرته د هيڅ مؤمن لپاره چاره نسته ځکه د ايمان سلامتي او عبادت کي اطمينان او سکون سره د بوختيا انحصار پر صبر باندي دی ددې څخه څوک انکار کولای سي چي دنيا د اهل ايمان لپاره د افات او مصائبو يو کور څخه پرته نور هيڅ نه دی د مؤمن د ژوند هغه کومه لمحه ده چي په هغه کي هغه ته څه ناڅه بدني او روحاني اذيت او پريشاني مخ کېدل نه وي نو په دغه صورت کي پر هر مؤمن باندي واجب دي چي هغه د صبر لار اختيار کړي چي د هغه ايمان هم سلامت پاته سي او په طاعت او عبادت کي هم په اطمينان او سکون سره بوخت سي ځکه چي د زړه رنځ او د تاسف او حسرت په عالم کي عبادت په پوره کيف او نشاط سره ادا کېدای نسي ، ددې څخه پرته د صبر کونکي سره د دنيا او آخرت د بې شمېره شيانو او سعادتونو ورکولو وعده هم سوې ده د مثال په توګه د دښمنانو او مخالفينو په مقابله

کي او په نورو مهماتو کي فتح او کامیابي تر لاسه کیږي لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمایلي دي: (فاصبر ان العاقبة للمتقین)، دوهم د صبر په وجه بنده خپل مراد ته رسیږي لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمایي: (وتمت کلمة ربک الحسنی علی بني اسرائیل بما صبروا)، دریم دا د صبر او استقامت پر لار تلو سره د خلکو د قیادت او امامت درجه تر لاسه کیدای سي لکه چي فرمایي: (وجعلناهم ائمة یهتدون بامرنا لما صبروا)، څلورم صبر کونکی بنده د الله ﷻ له خوا په تعریف او توصیف سره نازول کیږي لکه چي فرمایي: (انا وجدناه صابرا نعم العبد انه اواب)، پنځم صبر کونکي بندګانو ته داسي زیری ورکولو حکم سوی دی لکه چي (ان الله یحب الصابرین)، شپږم کوم بنده چي صبر کوي هغه به په جنت کي په لوړو درجو کي وي لکه چي فرمایي: (اولئک یجزون الغرفة بماصبروا)، اووم صبر کونکو ته د الله ﷻ له خوا د سلام اعزاز او شرف ورکړل سوی دی لکه چي فرمایي: (سلام علیکم بما صبرتم)، اتم دا چي کوم بندګان صبر کوي هغوئ بې شمېره او زیات اجر او ثواب سره نازول کیږي لکه چي فرمایي: (انما یوفي الصابرون اجرهم بغیر حساب).

نو صبر دومره لوی فضیلت او دومره عظیم وصف دی چي پر دې باندي مؤمن ته همېشه اوسېدل پکار دي او ددغه وصف تر لاسه کولو ډېر ارزښت او غنیمت ګڼل پکار دي او صبر په اصل کي دادی چي خپل نفس د جزع څخه منع کړل سي او جزع دې ته وایي چي کله یو سړي ته پریشاني راسي نو پر هغه د اضطراب او خوف اظهار وکړل سي. او د هغه سختۍ او پریشانۍ څخه بطریق قطع او حکم د ګیلو د خلاصون اراده وکړل سي نو ددغه شیانو ترک کولو ته صبر ویل کیږي، د صبر وصف تر لاسه کولو ډېره ګټوره او نفسیاني طریقه داده چي کله داسي صورت پېښ سي چي د هغه په وجه نفس په اضطراب او بې قرارۍ کي اخته سي او په طبعي توګه غم او اذیت محسوس سي نو دا فکر کول پکار دي چي څه په قسمت کي لیکل سوي دي هغه به په هر حال کي پوره کیږي چي د هغه په وجه جزع کول یعني ژړاوي او شکایت کول قطعي بې ګټې شی دی چي په دغه خبرو سره په هغه صورت کي هیڅ تغیر او تبدیل نسي کیدای، ددې څخه پرته د صبر کوم ثواب چي تلف کیږي نو هغه نور زیات تاوان دی.

دا ښودل هم ضروري دي چي د خپل حیثیت او حالت په اعتبار د صبر څلور ډولونه دي، یو هغه صبر دی چي نفس ته د طاعت او عبادت او استقامت په محنت او مشقت کولو په صورت کي تر لاسه کیږي، دوهم هغه صبر دی چي د ګناهو څخه د پرهېز کولو په صورت کي اختیاریږي، دریم هغه صبر دی چي د دنیا د اړتیاوو څخه زیات شیانو څخه د قطع تعلق کولو په صورت کي

اختياريږي، او څلورم هغه صبر دی چي د دين او دنيا د يو آفت او مصيبت او سختی زغملو لپاره اختياريږي ، نو کوم څوک چي د صبر دغه څلور ډولونه اختيار کړي نو هغه د طاعت او عبادت په لار کي په سکون او استقامت سره روان دی ، د ګناهونو څخه به خوندي وي ، د دنيا د آفاتو او بلاوو څخه به سلامت او د آخرت د عذاب څخه به خلاصون تر لاسه کوي ددې څخه پرته ډېر زيات اجر او ثواب سره به نازول کيږي کوم څوک چي په ذکر سوو صورتو کي صبر اختيار نه کړي او د جزع او فزع لار اختيار کړي نو هغه د ټولو نعمتو څخه محروم کيږي اول خو په اطمينان او سکون سره عبادت نسي کولای او که يې وکړي نو د بې صبري ګناه هغه له منځه يوسي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

توكل كوونكي خلك

﴿۵۰۶۵﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ هُمُ الَّذِينَ لَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کي به اويا زره کسان بې حسابه جنت ته ځي او دا خلک وي چي نه به جادو کوي او نه بد فال اخلي ، يوازي پر خپل پروردګار به يې توکل وي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۰۵، رقم: ۶۴۷۲، ومسلم ۱\۱۹۸، رقم: ۳۷۱ - ۲۱۸.

دلغاتو حل: يسترقون: اى يطلبون الرقية مطلقا (دم كول)

تشريح: د اوويا زره د شمېر څخه مراد يوازي هغه خلک دي چي مستقل بالذات بېله حسابه په جنت کي داخليږي، په دغه شمېر کي هغه خلک شامل نه دي چي د هغه اوويا زرو خلکو د متبعينو په حيثيت سره د هغوئ سره جنت ته ځي، دا وضاحت ځکه سوی دی چي ددغه روايت د هغه بل روايت سره ټکر را نه سي چي په هغه کي ويل سوي دي چي بې حسابه جنت ته تلونکو هغه خلکو څخه هر يوه سره به د هغوئ اوويا زره متبعين هم وي.

دم نه کوي، دلته د دم څخه مراد يا مطلق دم ، درود او تعويذ وغيره دی يا ددې څخه مراد

هغه دم دى چې د قرآني كلمو او ماثوره دعاوو او اسماء الهي څخه پرته وي همدا رنګه بدفالي نه کوي، ددې څخه مراد دادى چې دجاهليت د زمانې د خلكو په ډول د مرغانو په الوتو، اواز كولو او نورو شيانو سره بدفال نه اخلي بلكه داسي كيږي چې : (اللهم لا طير الا طيرک ولا خير الا خيرک ولا اله غيرک اللهم لاياتي بالحسنات الا انت ولا يذهب بالسيئات الا انت).

د نهايې مؤلف ويلي دي چې ذكر سوي اوصاف د اولياء كاملين د خصوصياتو څخه دي چې هغه پاک نفس د دنيا اسباب او وسائل او د هغه متعلقاتو څخه بې اعتنايي كوي او له دنيا سره تعلق لرونكي هيڅ شي ته هم نه مائل كيږي او دا درجه ده چې د خواص لپاره مخصوص ده اودغه درجې ته د عامو رسېدل نسي كيداى مګر كوم چې د عوامو تعلق دى نو د هغوئ لپاره په دې كي څه حرج نسته چې هغوئ حلال اسباب او ذرائع اختيار كړي او د دواء وغيره په ذريعه علاج وكړي مګر په دې كي دا خبره بايد په ذهن كي وي چې كوم سړى د ناروغى په مصيبت اخته وي او هغه پر هغه ناروغى صبر وكړي بيا د دعاء په ذريعه د الله ﷻ له خوا د راحت منتظر او غوښتونكى وي نو يقينا هغه سړى به د الله ﷻ د خواصو څخه د شمېرل كېدو مستحق وي او كوم څوک چې پر هغه صبر كولو باندي قادر نه وي او هغه د ناروغى او مصيبت څخه د خلاصون لپاره ظاهري اسباب او ذرائع اختيارول غواړي نو هغه ته به ددې خبره اجازه وركول كيږي چې هغه په دعاء، تعويذ او نورو شيانو سره د خپلي ناروغى او مصيبت د دفع هڅه وكړي

خلاصه دا چې كوم څوک د خپل طبعي حالت او كيفيت او باطني حيثيت په اعتبار څرنګه چې وي د هغه په حق كي به د هغه مطابق فيصله كيږي ددې تائيد ددغه واقعې څخه هم كيږي چې كله حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه يو وخت خپل ټول مال او اسباب د الله ﷻ په لاره كي د صرف كولو لپاره د رسول الله ﷺ په خدمت كي وړاندي كړ، نو رسول الله ﷺ د هغه دغه وړانديز رد نه كړ ځكه چې رسول الله ﷺ ته د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په اړه معلومه وه چې په هغه كي د يقين او صبر وصف په درجه كماله موجود دى، ددې پر خلاف كله چې يو سړي د كوترې د هګۍ په اندازه سره زر راوړل او هغه وويل زما سره ددې څخه پرته هيڅ نسته دا د الله ﷻ په لاره كي د صرف كولو لپاره تاسو ته نذر كوم نو رسول الله ﷺ نه يوازي دا چې هغه زر قبول نه كړل بلكه د هغه څخه سخت ناراض سو تر دې چې هغه يې ووهى،

شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله دا ليكلي دي چې صحيح خبره دا معلوميږي چې په حديث كي د دم كوم ذكر سوى دى د هغه څخه د جاهليت د زمانې مشركانه دم مراد دى چې د هغه د كتاب او سنت سره هيڅ واسطه نسته او رسول الله ﷺ قطعا روا كړي نه دي ځكه چې د هغه دمو

ساخت او د هغه الفاظ او معناوي داسي وې چي هغه اختيارونکی په شرک کي اخته کېدی ، دا خبره چي د دم څخه مراد د جاهليت د زمانې دم مراد دی د حديث د الفاظو (لا يتطيرون) څخه هم څرګندېږي چي تطير يعني بدفالي اخيستل د جاهليت د زمانې د عربو خاص معمول وو لکه څرنګه چي د جاهليت د زمانې د مشرکانو د رواج او عاداتو څخه پرهېز کول د هر مسلمان لپاره ضروري دی همدارنګه د بدفالۍ څخه هم پرهېز کول لازم دی ، ډېر د افسوس خبره ده چي د نن ډېر مسلمانان هم د جهل او ناپوهۍ په وجه د بد فالۍ د اخيستلو په بدۍ کي اخته دي سره ددې چي د جاهليت د زمانې يو مشرکانه عادت دی او که ددې خبري څخه قطع نظر وکړل سي نو ددې څخه پرهېز کولو يوه لويه معقوله وجه دا هم ده چي بدفالي نه اخيستونکی د فضيلت حامل ګرځول سوی دی په دې وجه چي هغه هم په هغه خلکو کي شامل وي چي بې حسابه په جنت کي داخل کړل سي او د هغه څخه پرهېز يو اهم وصف دی چي د توکل په درجو کي شمېرل کيږي او ددې څخه لوړه درجه هغه ده چي د هر ډول علاج ، دم ، تعويذ او نورو تدبيرو د ترک کولو په وجه حاصليږي او د هغه مقصد حقيقي د توکل مقام ثابتوي او ظاهروي چي دتوکل متعارف مفهوم دلته بيانيږي او ځکه صوفيان د توکل وضاحت کړی دی چي د توکل مطلب دادی چي د الله تعالی پر رزاقيت باندي پوره اعتماد او باور په سبب کسب او عمل او اسباب مطلق ترک کول ، دا دوهمه او اوسطه درجه ده چي د خواصو مرتبه منل کيږي، ددغه مرتبې خلک د هغه اجر او فضيلت مستحق ګرځول کيږي چي د هغه ذکر په حديث کي دی بلکه ددې څخه پرته د يو عظيم الشان سعادت زيری ورکړل سوی دی چي (للذين احسنوا الحسنی زيادة) .

د دې څخه وروسته دريمه درجه هغه ده چي د هغه مقام د منتهی او مقربينو لپاره مخصوص وي ، ددغه خلکو په ظاهري نظر کي اسباب او ذرائع ساقط وي چي دهغوئ په نزد د هغوئ عدم او وجود دواړه برابر دي هغوئ که اسباب او ذرائع تر يو حده اختياروي نو محض د اظهار عبوديت او مشيت الهي د فرمانبردارۍ په توګه يې استعمالوي او ددې حيثيت څخه دهغوئ اسباب او ذرائع اختيارول د هغوئ په حق کي د عزيمت حکم لري دغه مرتبې ته د اخص الخواص مرتبه ويل کيږي او هغه انبياء او اولياء دي چي دخپل ذات په اعتبار فاني او د الله ﷻ سره باقي دي او د توکل دا تر ټولو آخري مرتبه هم ده او ددې اصلي حقيقت هم ، او کوم خاص بندګان چي دغه مرتبې ته ورسيږي د هغوئ فضيلت تر ټولو زيات او د هغوئ اجر تر ټولو لوی وي .

په ذکر سوې مسئله کي عالمګيري دا قاعده بيان کړې ده چي تاوان ، ضرر او تکليف ليري کونکي اسباب او ذرائع پر درې ډوله دي ، يو خو هغه چي د هغه مؤثر کېدل يقيني وي لکه اوبه

تنده، خوراک لوږه ليري کوي، دوهم هغه اسباب چي ظني وي لکه ښکر لګول، رګ وهل، او د طب نور قواعد، يعني د ګرمی څخه پيدا کېدونکو ناروغيو کي د يخو دواوو په ذريعه او د يخ څخه پيدا کېدونکو ناروغيو کي د ګرمو دوا په ذريعه علاج کول او دغه شيان په طبي نقطه سره د ظاهري اسبابو درجه لري او دريم هغه اسباب چي د موهوم ذريعه وي لکه بدن داغل، د دعاؤ په ذريعه دم او چُف کول، تعويذ او داسي نور شيان، نو کوم اسباب او ذرائع چي يقيني درجه لري هغه ترک کول نه يوازي دا چي د توکل لپاره شرط نه دي بلکه دا صورت په شرعي نقطه نظر سره هم حرام دی حال دا چي د هغه د ترک کولو په وجه د مرګ واقع کېدو بيره وي،

ددې پر خلاف د اسبابو او ذرائعو تعلق د موهوم حقيقت لري د هغه ترک کول د توکل شرط دی ځکه چي رسول الله ﷺ داسي اسباب او ذرائع ترک کونکي د متوکلينو په ډله کي شمېرلي دي، پاته سوه د هغه اسبابو او ذرائعو خبره چي ظني دي او د طبيبانو او حکيمانو په نزد د ظاهري اسبابو درجه لري نو هغه اختيارول يعني د طبي قواعدو سره سم علاج کول د توکل خلاف نه دی او د هغه ترک کول د يقيني اسبابو د ترک کولو په ډول منع نه دی، په ځينو احوالو کي او د ځينو اشخاصو په اړه هغه ترک کول افضل دي نو ظني اسباب د دوو درجو په منځ کي يوه معتدله درجه وي.

﴿۵۰۶۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ يوه ورځ نبي کريم ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل:

عُرِضَتْ عَلَيَّ الْأُمَمُ فَجَعَلَ يَمُرُّ النَّبِيُّ و مَعَهُ الرَّجُلُ وَالنَّبِيُّ و مَعَهُ الرَّجُلَانِ

زما مخته امتونه وړاندي کړل سول (يعني په خوب يا د کشف په حالت کي) ځيني پيغمبرانو د خپلو امتونو سره تيريدل پيل کړل يو نبي تير سو د هغه سره يو سړی وو، (يعني يوازي يو امتي يې وو) او بل نبي تير سو د هغه سره يوازي دوه خلک وه

وَالنَّبِيُّ و مَعَهُ الرَّهْطُ وَالنَّبِيُّ و لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ

او بل نبي تير سو د هغه سره يوه ډله وه او يو نبي تير سو د هغه سره يو سړي هم نه وو بيا ما يو لويه ډله وليدل چي د آسمان غاړه ځيني ډکه وه

فَرَجَوْتُ أَنْ يَكُونَ أُمَّتِي فَقِيلَ هَذَا مُوسَى فِي قَوْمِهِ ثُمَّ قِيلَ لِي انْظُرْ فَرَأَيْتُ

زما دا امید سو چي دا به زما امت وي مگر ما ته وښودل سول چي دا موسی علیه السلام او د هغه امت دئ، بیا ما ته وویل سول وگوره، نو ما

سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ فَقِيلَ لِي انْظُرْ هٰكَذَا وَهٰكَذَا فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ

یوه لویه ډله ولیدل چي د هغه څخه د آسمان غاړي ډکي وې بیا ما ته وویل سول راسته او چپه لوري ته وگوره نو ما یوه لویه ډله په خپل شا وخوا کي ولیدل چي د آسمان تر غاړه پوري خپره

الْأُفُقَ فَقِيلَ هٰؤُلَاءِ أُمَّتُكَ وَمَعَ هٰؤُلَاءِ سَبْعُونَ أَلْفًا قدامهم يَدْخُلُونَ

سوې وه ، بیا ما ته وویل سول دا ستا امت دئ او ددوئ څخه پرته او یا زره نور دي چي بې

الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ هُمُ الَّذِينَ لَا يَتَطَيَّرُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَكْتَوُونَ

حسابه به په جنت کي داخلیږي دا به هغه خلک وي چي نه بد فالي اخلي او نه به طلب د دم کوي او نه به پر خپل بدن داغ لگوي

وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ فَقَالَ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي

او یوازي پر الله ﷻ به يې توکل وي ، (ددې په اوریدو سره) عکاشه بن محصن ولاړ سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! ما ته دعاء وکړه چي الله تعالی ما هم ددغه خلکو څخه کړي نو

مِنْهُمْ قَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ

يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ. متفق عليه.

وه يې فرمایل : الله ﷻ دی هم ددغه ډلي څخه کړه، بیا بل سړی ولاړ سو عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! زما لپاره هم دعاء وکړئ ، رسول الله ﷺ وفرمایل : عکاشه ستا څخه مخکي سو . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۲۱۱، رقم: ۵۷۵۲، ومسلم ۱\۱۹۹، رقم: ۲۷۴، ۲۲۰.

تشريح: د نبي څخه مراد رسولان دی چي د الله ﷻ د دین رسولو او د خلکو پر سیده لار راوستلو لپاره دغه دنیا ته را استول سوي دي ، امام نووي رحمه الله وايي: د اوویا زره څخه مراد دا هم کېدای سي چي د رسول الله د امت څخه اوویا زره خلک هغه دي کوم چي ددغه خلکو څخه

پرته دي او ددې څخه دا معنی هم اخیستل کیږي چي ددغه خلکو څخه اوویا زره خلک داسي هم دي چي بې حسابه به په جنت کي داخل سي ، ددغه دوهمي معنی تائید د بخاري په روایت سوي دغه الفاظو کي هم کیږي : (هذه امتک ویدخلون الجنة من هولاء سبعون الفا)، یعني دغه ستا د امت خلک دي او په دوئ کي به اوویا زره هغه خلک وي چي بې حسابه په جنت کي داخلیږي.

نه خپل بدن ته داغ ورکوي: مطلب دادی چي خلک بېله ضرورت خپل د بدن یوې برخي ته داغ نه ورکوي ، یو دا چي یو داسي مجبوري وي چي د داغ کولو څخه پرته بله چاره نه وي نو دا بېله خبره ده د ضرورت او مجبوري لپاره داغل د ځینو صحابه کرامو څخه هم ثابت دي چي په هغوئ کي حضرت سعد بن ابي وقاص ﷛ هم دی چي په عشره مبشره کي شمېرل کیږي ، یا دا معنی وي چي هغه خلک مطلق داغل نه کوي که څه هم هغوئ ته هر څومره ضرورت وي ځکه چي هغوئ پر تقدیر باندي راضي او مطمئن وي هغوئ یوازي پر الله ﷻ باندي باور او اعتماد وي هغوئ د یو آفت او مصیبت د تدبر کولو پر ځای د هغه په وجه یو خاص لذت محسوس کوي او په دې خبره هغوئ ته پوره یقین وي چي فائده او تاوان رسونکی یوازي الله تعالی دی د هغه څخه پرته داسي هیڅ ذات او هیڅ شی نسته چي حقیقي مؤثر وي نو هغه خلک چي پاک نفس او پر مشهوره مرتبه باندي فائز وي او دهغوئ په نظر کي د هغوئ خپل وجود د عدم برابر وي او د نفس د لذتو او خواهشاتو په اعتبار هغوئ د فناء مقام اختیار کړی وي .

ځینو شارحینو داسي لیکلي دي چي نه خو خپل بدن ته داغ ورکوي ، معنی داده چي هغه خلک د بدن داغلو څخه پرهېز کوي مګر که چیري د یو ناروغۍ او تکلیف په وجه هغه داسي وکړي نو د هغه د فائدې او شفاء اعتقاده یوازي پر الله تعالی باندي وي نه محض پر داغلو .

ځیني حضرات وایي چي پر بدن باندي داغ کول د هغه اسبابو څخه دی چي وهمیه دي او په حدیث کي ددې منع منقول ده مګر که چیري د یو ناروغۍ او تکلیف د دفع لپاره یو حاذق معالج او ډاکټر داغل ضروري وګڼي او د هغه ګټور کېدل یقیني امر وي نو ددې اجازه هم سته.

نه دم کوي: دلته د دم څخه مراد افسون او جادو دی چي د هغه الفاظ او معنی د قرآن او احادیثو مطابق نه وي او د هغه په وجه په شرک کي د اخته کېدو بېره وي همدارنګه نه بدفالي کوي ، ددې مطلب دادی چي یو حیوان که هغه مرغه وي یا بل حیوان وي د هغوئ د الوتلو او آواز څخه هغه خلک بدفالي نه کوي .

خلاصه دا چي د کومو خلکو په اړه د ازیری ورکړی سوی دی هغوئ به بې حسابه په جنت کي داخلیږي او دا په اصل کي هغه خلک دي چي خپل ایمان او اعتقاد په اعتبار ډېر پاخه او

ټينګ وي چي هغوئ هيڅ داسي عقيده او عمل نه اختياروي چي د جاهليت د زمانې د عقائدو او اعمالو سره مطابقت او مشابهت لري .

دلته يو سوال پيدا کيږي چي د ذکر سوو خلکو په اړه د اوويا زره شمېر ذکر دی ، نو ايا د ابتداء څخه تر انتهاء پوري به په امت محمديه کي د داسي خلکو شمېر يوازي اويا زره وي؟ حال دا چي ددغه وصف خلک د ذکر سوي شمېر څخه ډېر زيات په يوه زمانه کي تر لاسه کيږي، ددې جواب دادی چي د اوويا زره څخه مراد خاص شمېر څرګندول نه دی بلکه د اوويا زره عدد استعمالولو واحد مقصد د داسي خلکو زياتوب ته اشاره ده .

د حديث د آخري برخي په اړه دا سوال پيدا کيږي چي رسول الله ﷺ د دوهم سړي خواست ولي قبول نه کړ، او د هغه په حق کي يې دعاء ولي ونه کړل ، ددې جواب دا ورکول کيږي چي دا د الله تعالی له خوا رسول الله ﷺ ته په هغه مجلس کي يوازي د يوه سړي په حق کي د دعاء کولو اجازه ورکول سوې وه او رسول الله ﷺ د عکاشه رضي الله عنه په حق کي دعاء کړې وه ځکه د هغه څخه وروسته د بل سړي د خپل باطني حيثيت او حالت په اعتبار ددغه مرتبې اهل او ددغه منزل مستحق نه وو ځکه رسول الله ﷺ د هغه په حق کي دعاء ونه کړل، مګر په دې اړه رسول الله ﷺ هغه ته په صراحت سره ونه فرمايل چي ته ددغه مرتبې او منزلت اهل او مستحق نه يې بلکه هغه ته يې يو عام جواب ورکړ او څرګنده يې کړه چي د عکاشه په حق کي د دعاء کولو سبب د هغه له خوا په دعاء کي التماس او سبقت دی ځيني حضرات دا هم وايي چي هغه سړی په اصل کي د منافقينو څخه وو او ظاهره ده چي د هغه دا حيثيت د رسول الله ﷺ په علم کي وو ځکه رسول الله ﷺ د هغه په حق کي دعاء ونه کړل .

مګر رسول الله ﷺ د اخلاقو او مروت له موخي هغه ته دا ونه ويل بلکه يو مجمل جواب يې ورکړ مګر ځيني نور حضرات وايي چي د عکاشه رضي الله عنه په حق کي دعاء کول په اصل کي د وحي خفي سبب وو چي په هغه کي رسول الله ﷺ ته د ذکر سوي دعاء کولو اجازه ورکړل سوې وه .

دا قول زيات صحيح دی ځکه چي په يو بل روايت کي بيان سوي دي چي په دغه موقع کي خواست کونکي بل سړي حضرت سعد بن عباده وو چي د سترو صحابه کرامو څخه دی .

دغه ارشاد پر دې دلالت کوي چي د نيکۍ لاري په اختيارولو کي سبقت کول پکار دي او اهل الله او بزرګانو ته په خپل حق کي د فلاح او سعادت د دعاء خواست کول پکار دی .

دمؤمن شان

﴿۵۰٦۷﴾: وَعَنْ صُهَيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجَبًا لِأَمْرِ

د حضرت صهيب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دمؤمن عجيبه شان دئ د

الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ له خَيْرٌ وَلَيْسَ ذَالِكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِمُؤْمِنٍ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ

هغه ټول كارونه نيكي دي او دا شان يوازي د مؤمن سره خاص دئ كه خوشحالي ورته تر لاسه

شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ. رواه مسلم.

سي د الله شكر كوي چي دا شكر د هغه لپاره نيكي ده او كه مصيبت ورته راسي نو صبر كوي او دا صبر هم د هغه لپاره نيكي ده. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۲۲۹۵\۱۴، رقم: ۶۴- ۲۹۹۹.

د لغاتو حل: سراء: اى نعماء وسعة عيش. (عيش او عشرت)

تشريح: مطلب دادی چي انسان په خپل ورځني ژوند كي يا خو د داسي صورت سره مخ كيږي چي هغه په تكليف او غم كي اخته كوي يا هغه په داسي حال كي وي چي په هغه سره خوشحالي محسوس كوي، ددغه دواړو حالتو څخه هيڅوك خالي نه وي، نو د مؤمن لپاره د غم او تكليف حالت د صبر تقاضا كوي او خوشحالي وركونكي حالت د شكر، څرګنده ده چي دغه دواړه شيان يعني صبر او شكر ډېر اعلى دی او د ډېر زيات اجر او ثواب باعث دي، همدارنګه مؤمن په هر حالت كي د اعلى مقام او مرتبې او ډېر زيات اجر او ثواب مستحق وي مګر دا خبره بايد په ذهن كي وي چي په ذكر سوي حديث كي دا فرمايل سوي دي چي دا خبره يوازي د مؤمن لپاره خاص ده نو په ظاهره د مؤمن څخه مراد د مؤمن زړه دی ځكه چي دا د كامل مؤمن شان دی چي هغه د تنګۍ او سختۍ، غم او تكليف په حالت كي صبر كوي او د خوشحالۍ په صورت كي شكر ګزار وي، ددې پر خلاف د غير كامل مؤمن حال داوي كه چيري هغه ته د خوشحالۍ اسباب تر لاسه سي نو هغه مغرور سي او د شريعت خلاف خبري پيل كړي او كه په تنګۍ او تكليف كي اخته سي نو جزع او فزع، شكايت او ناشكري كول پيل كړي، نو د هرمؤمن لپاره دا ضروري ده چي هغه په كوم حالت كي وي د هغه مطابق د خپل كيفيت جائزه واخلي او وګوري چي هغه د خپل فكر او خيال، قول او فعل په اعتبار ددغه حديث پر معيار پوره دی كه يا او يا د كامل مؤمن ويلو مستحق دی كه يا.

يو څو خاص هدايات

﴿۵۰۶۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قوي مؤمن (د عقيدې او

الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا

بدن د لحاظه) تر ضعيف مؤمن د الله تعالى په نزد غوره او محبوب دئ، او په هر مؤمن کي

يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَلَا تَعْجِزْ وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ

نيکي ده، نو کوم شی چي تا ته ګټه رسوي د هغه حرص کوه او د الله جل جلاله مرسته او توفيق غواړه او د مرستي غوښتلو څخه پاته مه راځه او هر کله چي يو مصيبت درته راسي نو داسي مه وايه

كَذَا وَكَذَا وَلَكِنْ قُلْ قَدَرَ اللّٰهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ.

رواه مسلم.

که ما داسي کړي وای نو داسي به سوی وای بلکه داسي وايه چي الله جل جلاله همداسي ليکلي وه، او الله جل جلاله چي څه غواړي هغه کوي ځکه چي د (که يا اګر) لفظ د شيطان کار خلاصوي او په زړه کي وسوسه پيدا کوي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲۰۵۲\۴، رقم: ۳۴- ۲۶۶۴.

تشريح: دا ويل که چيري دا فلانی تدبير مي کړی وای، او دا کار مي داسي کړی وای نو زه به د فلاني تاوان او مصيبت څخه ساتل سوی وای، داسي وينا ځکه منع ده چي داسي ويل بالکل لاحاصل دي او ددې هيڅ ګټه نسته، کوم شی چي څرنګه پېښ سي هغه همداسي نه دی بلکه د الله تعالى پر مشيت او د هغه د حکم او فيصلې مطابق پېښېږي چي هغه ته د تقدير ليک ويل کيږي لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي (قل لن يصيبنا الا ما کتب الله لنا)، ته ووايه چي موږ ته نه يوازي هغه څه رسيږي کوم چي د الله تعالى له خوا زموږ لپاره ليکل سوي دي، نو د (که چيري) لفظ ويل په هغه صورت کي منع دی کله چي ددې استعمال په يو داسي جمله کي وي چي دهغه مقصد د تقدير الهي سره معارض او مقابل وي او دا عقيده وي چي تقدير هيڅ شی نه دی د هر شي واقع کېدل د هغه ظاهري او مادي اسباب او وسائلو باندي

منحصر وی که چیري دا عقیده نه وي نو بیا ددې استعمال به منع نه وي لکه څرنګه چي په قرآن کریم کي داسي وارد سوي دي (لو کنتم في بیوتکم لبرز الذین کتب علیهم القتل).

په یو بل حدیث کي په باب الحج کي نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (لو اني استقبلت من امري ما استدبرت)، که ما ته د مخکي څخه دا معلومه وای، همدارنګه په نورو ډېرو روایتو کي هم د لو لفظ نقل سوی دی نو معلومه سوه چي د لو یعني که چیري لفظ د منع تعلق د داسي خبري سره دی چي د هغه ګټه نه وي او د تقدیر الهي معارض ثابتیږي مګر څرګنده دي وي چي ذکر سوی منع د نهي تنزیهي په توګه ده نه د نهي تحریمي په توګه او که د دغه لفظ استعمال په یو داسي جمله کي وي چي د هغه مقصد د طاعت او عبادت پر فوت کېدو باندي اظهار او تاسف وي یا هغه عبادت او طاعت څخه د خپلي معذورۍ او مجبورۍ اظهار د افسوس په توګه وي نو څه حرج نسته او په مختلفو حدیثو کي چي دا لفظ نقل سوی دی هغه پردغه مفهوم باندي محمول کیږي بلکه حقیقت دادی چي د عبادت او طاعت پر فوت کېدو باندي د افسوس اظهار کول د ثواب باعث هم دی او دا په هغه شیانو کي د شمېرلو وړ دی کوم چي مستحب دی.

امام رازي رحمه الله په خپل کتاب مشیخت کي د ابي عمرو څخه نقل کړي دي چي کوم څوک د خپل یو دنیاوي شي پر فوت کېدو باندي افسوس وکړي نو هغه د زرو کالو مسافت په اندازه دوږخ ته نژدې کیږي او کوم څوک چي خپل یو دیني عمل او اخروي شي پر فوت کېدو باندي افسوس وکړي نو هغه د زرو کالو د مسافت په اندازه جنت ته نژدې کیږي.

اَلْفَصْلُ الثاني (دوهم فصل)

پر الله جل جلاله پوره توکل کول

﴿۵۰۶۹﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَوْ أَنَّكُمْ تتوكلون عَلَى اللّٰهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ لرزقكم كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا. رواه الترمذي و ابن ماجة.

د حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه روایت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي فرمایل یې: که تاسو پر الله جل جلاله باور وکړی داسي باور لکه څرنګه چي د باور حق دی نو هغه به

داسي رزق درکوي لکه څرنګه چي مرغانو ته رزق ورکوي ، هغوئ په سهار کي وږي وځي او ماښام ته په ماړه نس راځي . ترمذي او ابن ماجه

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۹۵، رقم: ۲۳۴۴، وابن ماجه ۲\۱۳۹۴، رقم: ۴۱۶۴.

د لغاتو حل: خِماصا: اى جياعا (وږي)

تشريح: توکل دادی چي اول خو پر دې خبره پوره يقين وي چي د يو شي په وجود کي راوستونکی د الله تعالى څخه پرته بل څوک نسته او هر موجود که هغه ساه لرونکي وي يا غير ساه لرونکی وي ، يا د رزق حاصلېدل وي يا نه حاصلېدل وي ضرر وي که ګټه وي ، غربت وي او که مالداري وي، ناروغي وي او که روغتيا وي، مرګ وي که ژوند وي، غرض هر څه چي وي د ټولو مالک الله تعالى دی او ټول شيان د هغه له خوا دي بيا د دغه امر پخه عقيده وي چي د روزۍ ضامن بېله شکه الله تعالى دی او بيا په دغه يقين سره د حصول معاش سعي او هڅه کي په ښه توګه او مناسب او معقول صورت کي بوخت وي يعني کسب او ګټه کي ډېر زيات محنت او تکليف نه زغمي ، په حرص کي نه اخته کيږي ، د ضرورت څخه زيات د حاصلولو هڅه نه کوي او د ګټي په فکر کي غرق نسي چي د حلال او حرام تميز هم ونه کړای سي .

امام غزالي رحمه الله وايي: د چا چي دا ګمان وي چي توکل د کسب او کار ترک کولو نوم دی نو هغه لوی جاهل دی او د امام قشيري رحمه الله قول دی چي د توکل اصلي ځای زړه دی او د حصول معاش لپاره حرکت او عمل يو ظاهري فعل دی چي دتوکل خلاف نه دی په شرط ددې چي اصل اعتماد محض د الله تعالى پر ذات باندي وي څکه چي په حديث کي د مرغه سره تشبيه ورکړل سوې ده او هغه که څه هم د خپلي روزۍ په تلاش کي راوځي او په ټول جهان کي سرګردان ګرځي مګر د هغه اصل اعتماد پر الله تعالى وي نه د خپل طلب او هڅه باندي نو ددې څخه څرګنده سوه چي د انسان د معاش تر لاسه کولو لپاره پر معقول او مناسب طريقه باندي هڅه او سعي کول پر الله تعالى باندي د اعتماد او باور کولو خلاف نه دی لکه څرنګه چي الله تعالى فرمايي: (وکاين من دابة لاتحمل رزقها الله يرزقها وايا کم) يعني هيڅ حيوان خپل رزق نه پورته کوي بلکه الله تعالى هغه ته او تاسو ته هم رزق درکوي .

خلاصه دا چي د حديث مفهوم ددې څخه خبردار کول دي چي سعي او هڅه او کسب او عمل په حقيقت کي رزق رسونکي نه دی بلکه رزق رسونکی يوازي الله تعالى دی همدارنګه د حديث مقصد دا هم نه دی چي انسان دي د خپل رزق ګټلو لپاره د حرکت او عمل څخه منع کړل

سي ځكه چي پر الله تعالى باندي د توكل او اعتماد تعلق د زړه سره دی چي د اندامو ظاهري حركت او عمل مطلقا خلاف نه دی بلكه د توكل بركت خو داوي چي متوكل ته خپل رزق لپاره حركت كول هم نه پرېوځي بلكه د بل په حركت كولو سره هغه ته د الله تعالى له خوا رزق رسوي لكه څرنګه چي ددغه ارشاد رباني د عمومي مفهوم څخه څرګندېږي: (وما من دابة في الارض الا على الله رزقها).

كله چي د كارګه بچی د هګۍ څخه دباندي راووځي نو هغه بالكل سپين وي او د كارګه هغه بچی چي ډېر بد ورته معلومېږي د خپلو بچيانو په پرېښودو سره كارګه ځيني ولاړ سي او هغوئ يوازي پاته سي، بيا الله تعالى هغوئ ته مچان او مېږيان استوي چي هغه بچي يې په چڼ كولو سره خوري او روزنه مومي تر دې چي هغوئ لوی سي نو خپل رنګ بدل كړي او بالكل تور سي بيا څه وخت وروسته كله چي كارګه خپل بچيانو ته راسي او هغوئ تور ويني نو ورسره كښيني او د هغوئ روزنه كول پيل كړي، ددې څخه څرګنده سوه چي الله تعالى پرته د حركت او سعي څخه هم رزق رسوي، په دې كي ډېر حكايتونه بيانېږي مګر دا حكايت خو ډېر عجيب او غريب دی چي الله تعالى د روح قبض كونكي ملائكي عزرائيل عليه السلام څخه پوښتنه وكړه چي ايا د چا روح كښلو پر وخت تا ته پر چا رحم راځي؟، عزرائيل عليه السلام وويل: هو اې زما پروردګاره، په يو وخت كي ما ته ډېر رحم راغلی وو او دا دهغه وخت قصه ده كله چي يوه كښتۍ ماته سوې وه او د هغه خلك په اوبو كي غرق سوي وه مګر ځيني خلك د ډوبېدو څخه ژغورل سوي او د كښتۍ پر پاته تختو باندي پرېوتل او په هغوئ كي يوه ښځه هم وه چي پر يوه تخته باندي ناسته وه او خپل تی رودونكي ماشوم ته يې تی وركوی، كله چي ستا حكم وسو چي د هغه ښځي روح دي قبض كړل سي نو ما د هغه ښځي روح قبض كړ مګر پر هغه ماشوم مي ډېر رحم راغلی چي هغه په درياب كي پر يوې ماتي تختې باندي يوازي پاته سوی وو، الله جل جلاله وفرمايل: تا ته معلومه ده چي هغه ماشوم څه سو، ما هغه تختې ته د يوې جزيرې غاړې ته د رسېدو حكم وكړ چي هلته هغه ماشوم د سند پر غاړه وغورځوی او بيا مي يو زمری هغه ماشوم ته واستوی چي هغه خپل تی وركوی او د هغه ماشوم روزنه يې كول، كله چي هغه ماشوم لوی سو نو ما جنات وټاكل چي هغه ماشوم ته د خلكو د وينا او هستوګني تعليم وركړي تر دې چي هغه يو ځوان زلمی سو او بيا په عمل او فضل كي يې كمال تر لاسه كړ او د علماؤ په صف كي داخل سو، په دولت او امارت سره برخمن سو او په پای كي د سلطنت مرتبې ته په رسېدو سره د ټولي نړۍ پاچا او حكمران سو او بيا هغه خپل اصل حقيقت هېر كړ، هغه دعبوديت مرتبه او د ربوبيت

حقوق هير كړل هغه ته دا په ياد نسول چي الله تعالى هغه ذات دی چي هغه يې د درياب د څپو څخه ژوندی وساتي او په خپل قدرت سره يې د هغه روزنه وكړل او بيا يې دغه مرتبې ته راورسوي چي نن هغه د ټولي نړۍ پاچا دی، پوهيږئ چي هغه كوم څوك وو؟ هغه په دغه دنيا كي د شد اد په نامه سره مشهور سوی دی، په هر حال مؤمنانو ته دا هيرول نه دي پكار چي الله تعالى ډير رحيم او كريم دی هغه پر خپلو بندګانو باندي ډېر مهربان دی كله چي هغه خپلو دښمنانو ته رزق وركوي نو دا څرنګه كيدای سي چي خپل هغه بندګان دي هير كړي كوم چي د هغه محبوب او غوره دي.

د رزق حاصلولو لپاره خاص هدايت

﴿۵۰۷۰﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّهَا

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اي

النَّاسُ لَيْسَ مِنْ شَيْءٍ يُقَرِّبُكُمْ إِلَى الْجَنَّةِ وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ النَّارِ إِلاَّ قَدْ أَمَرْتُكُمْ

خلكو! هيڅ يو داسي شی نه سته چي تاسو جنت ته نژدې كړي او د دوږخ څخه مو ليري كړي مګر هغه چي د هغه ما تاسو ته حكم دركړی دئ

بِهِ وَلَيْسَ شَيْءٌ يُقَرِّبُكُمْ مِنَ النَّارِ وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ إِلاَّ قَدْ نَهَيْتُكُمْ

او هيڅ شی داسي نه سته چي تاسو دوږخ ته نژدې كړي او د جنت څخه مو ليري كړي مګر هغه شی چي د هغه څخه ما تاسو منع كړي ياست،

عَنْهُ وَإِنَّ الرُّوْحَ الْأَمِيْنَ وَفِيْ رِوَايَةٍ وَإِنَّ رُوْحَ الْقُدُسِ نَفَثَ فِيْ رُوْعِيْ أَنَّ نَفْسًا

او جبرائيل عليه السلام په بل روايت كي روح القدس زما په زړه كي دا خبره اچولې ده چي يو

لَنْ تَمُوْتَ حَتّٰى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا أَلاَ فَاتَّقُوْا اللّٰهَ وَأَجْمِلُوْا فِي الطَّلَبِ وَ لَا

سړی تر هغه وخته پوري نه مر كيږي تر څو پوري چي (په دنيا) كي هغه خپل رزق پوره نه كړي، خبردار! د الله ﷻ څخه ويريږئ او په رزق ترلاسه كولو كي د ميانه روۍ څخه كار اخلئ، او په

يَحْمِلَنَّكُمُ اسْتِبْطَاءُ الرِّزْقِ أَنْ تَطْلُبُوْهُ بِمَعَاصِي اللّٰهِ فَإِنَّهُ لاَ يُدْرِكُ مَا عِنْدَ

رزق رسيدو كي تاخير دی تاسو دې ته اماده نه کړي چي تاسو يې د ګناه په ذريعه تر لاسه کړئ

اللهِ إلاَّ بِطَاعَتِهِ. رواه في شرح السنة والبيهقي في شعب الإيمان إلا أنه لم يذكر وإن روح القدس.

ځكه چي هغه شئ كوم چي د الله ﷻ سره دي هغه د عبادت په ذريعه تر لاسه كيږي. شرح السنه، او بيهقي د روح القدس ذكر نه دی كړئ.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۴\۲۹۹، رقم: ۴۱۱۱، والبيهقي في شعب الايمان ۷\۲۹۹، رقم: ۱۰۳۷۶.

د لغاتو حل: الروع: الجلد والنفس، والمعنى انه اوحي الي وحيا خفيا. اجملو: ای احسنوا.

تشريح: د حديث د لومړنيو جملو مفهوم پر دې خبره دلالت كوي چي هغه ټولي خبري چي انسانيت ته ابدي ګټه رسونكي او تاوان دفع كونكي ذرائعو سره روشناس كوي يوازي د كتاب او سنت ځخه تر لاسه كېدای سي، كومي خبري او كوم شيان چي د كتاب او سنت د رڼا ځخه وتلي وي هغه د انسان د صلاح او فلاح سره اړه نه لري او په هغه كي خپل وخت صرف كول د خپل عمر بې ګټي ضائع كول دي.

لفظ د روح د ځان په معنى كي دی او ددې (روح) ځخه، جبرائيل او عيسى عليه السلام هم مراد اخيستل كيږي، دلته ددغه لفظ ځخه د حضرت جبرائيل عليه السلام ذات مراد دی او د هغه صفت امين په ذريعه بيانول يعني هغه ته روح الامين ويل د هغه د كمال ديانت داري په سبب دي چي د الله تعالى رسولانو ته علم او وحي رسولو كي د هغه خاص وصف دی همدا رنګه په روح القدس كي هغه ته دا قدس، پاكي نسبت د نجاست او كثافت ځخه د هغه د كمال طهارت او پاكۍ په وجه دی. لفظ د اجملوا د اجمال ځخه اخيستل سوی دی او معنى يې د روزی په لټه كي اعتدال اختيارول دي، مطلب دا چي تاسو د معاش په تر لاسه كولو كي په خپل كسب او عمل كي نيكي او ميانه روي اختيار كړئ او د معاش په طلب كي د ضرورت ځخه زيات تكليف غير مناسب خبره ده ځكه چي د الله تعالى له خوا تاسو د رزق د تكلابئ مكلف نه ياست ګرځول سوي لكه چي الله تعالى فرمايي: (وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون ما اريد منهم من رزق وما اريد ان يطعمون ان الله هو الرزاق ذو القوة المتين).

ما پيريان او انسانان ددې لپاره پيدا كړي دي چي هغوئ زما عبادت كوي زه د هغوئ ځخه د رزق غوښتونكى نه يم او نه دا غواړم چي هغوئ دي ما هير كړي حقيقت دا دی چي رزاق خو

یوازې الله تعالی دی او هغه ډېر زبردست او د قوت مالک دی.
په یو بل ځای کې داسې فرمایي: (وامر اهلک بالصلوة واصطبر علیها، لا نسئلک رزقا نحن نرزقک والعاقبة للتقوی). او خپل کورنۍ ته د لمانځه حکم کوه او پر دې صابر او قائم اوسه او موږ ستاسو څخه د رزق غوښتونکي نه یو (یعني موږ تاسو خپل او د نورو د روزۍ پیدا کولو مکلف نه یاست ګرځولي بلکه موږ تاسو ته روزي درکوو) او ښه انجام د هغه چا لپاره دی چې د الله ﷻ څخه ېیرېږي.
خلاصه دا چې د اجملوا لفظ په ذریعه چې کوم حکم ورکړل سوی دی د هغه مفهوم که چیرې هغه واخیستل سي کوم چې مخکې ذکر سو نو دا حکم به د اباحت لپاره وي او که دد غه لفظ دا معنی مراد واخیستل سي چې تاسو خپل رزق حلال او جائز وسائلو سره تر لاسه کوی نو په دغه صورت کې به دغه حکم د وجوب لپاره وي، ددې تائید د وروستني عبارت (ولایحملنکم..الخ) څخه هم کیږي، ددې مطلب دادی که چیرې د حصول معاش په لار کې خنډ پیدا سي او د رزق په رسېدو کې تاخیر محسوس کړې نو ددې په وجه مضطرب او بدخیاله مه جوړېږې او داسې هیڅکله نه وي چې د روزې تر لاسه کولو لپاره حرام او مکروه ذرائع اختیارول شروع کړې د مثال په توګه غلا، د چا مال خوړل، په امانت کې خیانت شروع کړې او که نور څه نه وي نو خپل سیادت او حیثیت او د خپل عبادت او دیانت په اظهار کولو سره دغه شیان د حصول رزق واسطه جوړ کړې یا دبیت المال په شان مراکز څخه خپل حق او حاجت زیات تر لاسه کولو کې کومه خرابي نه ګڼې او داسې نور، حقیقت دادی چې رزق په تاخیر سره هیڅکله نه رسیږي څه چې ورسیږي او کوم وخت چې ورسیږي دغه اصل رزق دی او دومره مقدر وي بیا دا چې د ګناه او معصیت په وجه په رزق کې نه وسعت کیږي او نه ژر رسیږي دومره تر لاسه کیږي او هغه وخت رسیږي چې په مقدر کې څومره اندازه او څه رسیدل لیکل سوي وي په دې سره پرته د ګناه او اضطراب نور هیڅ نه حاصلیږي او کوم رزق چې د ګناه په وجه رسیږي هغه حرام دی نو د حصول معاش په لاره کې اضطراب او بې ارامي او د ګناه او معضیت لار اختیارول په هیڅ ډول ګټور نه دی ددې څخه پرهېز کول پکار دي.
طیبي رحمه الله لیکلي دي چې د اجملوا په ذریعه چې کوم حکم ورکړل سوی دی د هغه مطلب دادی که چیرې مال ګټئ نو په ښه طریقه یې ګټئ یعني په هیڅ حال کې هم داسې ذریعه او طریقه مه اختیاروئ کوم چې د شریعت خلاف وي، د استبطاء لفظ په اصل کې د تاخیر کېدو په معنی کې استعمال سوی دی او د سین حرف د مبالغې د اظهار لپاره دی لکه څرنګه چې د قرآن کریم

په دغه الفاظو كي (ومن كان غنيا فليستعفف) كي استعفف په اصل كي د عف (منع كېدو) په معنى كي دى.

اصل زهد څه ته وايي

﴿۵۰۷۱﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الزَّهَادَةُ فِي الدُّنْيَا

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زهد د دنيا پرېښودلو، حلال

لَيْسَتْ بِتَحْرِيمِ الْحَلَالِ وَلَا إِضَاعَةِ الْمَالِ وَلَكِنَّ الزَّهَادَةَ فِي الدُّنْيَا أَنْ لَا

حرام گرځولو او د مال د ضائع كولو نوم نه دئ بلكه زهد دادئ چي څه ستا په لاس كي دي (يعني

تَكُونَ بِمَا فِي يَدَيْكَ أَوْثَقَ مِمَّا فِي يَدَيِ اللّٰهِ وَأَنْ تَكُونَ فِي ثَوَابِ الْمُصِيبَةِ إِذَا

مال او دولت) پر هغه توكل مه كوه بلكه پر هغه توكل كوه چي د الله جل جلاله په لاس كي دي، ترك دنيا (دنيا پرېښودل) دادي چي هر كله يو مصيبت درباندي راسي نو په هغه مصيبت كي ثواب

أَنْتَ أُصِبْتَ بِهَا أَرْغَبَ فِيهَا لَوْ أَنَّهَا أُبْقِيَتْ لَكَ. رواه الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب وعمرو بن واقد الراوي منكر الحديث.

غوښتونكى سه او دا خواهش لره چي دا مصيبت پاته وي (او ختم نه سي چي د دې ثواب تر لاسه سي). ترمذي او ابن ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى او عمرو بن واقد راوي منكر الحديث دى.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۹۳، رقم: ۲۳۴۰، وابن ماجه ۲\۱۳۷۳، رقم: ۴۱۰۰.

تشريح: حقيقي زهد څه شي دى او زاهد چا ته وايي، دا خبره رسول الله ﷺ په وضاحت سره بيان كړې ده، د دې ارشاد مطابق د دنيا څخه زهد اختيارول د هغه شي نوم نه دى چي محض د دنيا نعمتونه او لذتونه ترك كړل سي څكه چي داسي كول د هغه شيانو پر ځان حرامول دي كوم چي الله جل جلاله حلال كړي دي او دا خبره نه يوازي دا چي د حقيقي زهد او تقوا سره مناسبت نه لري بلكه بذات خود منع ده لكه څرنگه چي په قرآن كريم كي فرمايل سوي دي: (لاتحرموا طيبات ما احل الله لكم): هغه پاك شيان پر ځان مه حراموئ كوم چي الله جل جلاله حلال گرځولي دي.

د دې څخه پرته د رسول الله ﷺ څخه دا ثابته ده چي رسول الله ﷺ مرغوب او خوندور شيان

او د الله تعالی نازل کړي نعمتونو څخه پرهېز نه دی کړي بلکه کوم شی چي حاصل سوی دی د هغه څخه يې ګټه تر لاسه کړې ده او ظاهره ده چي د رسول الله ﷺ څخه زيات ته زهد او تقوا د بل چا نسي کيدای ، کوم په نامه صوفيان او جاهلان چي محض د لذتونو پر ترک د زهد او تقوا ګمان کوي ، د خوندورو خوراکو او مېوو وغيره څخه پرهيز کوي ، نوي جامي او داسي نور نعمتونه ترک کوي او دې ته د زهد او تقوا نوم ورکوي هغوئ په حقيقت کي په دې نه پوهيږي چي زهد څه ته وايي او د زاهد کېدو څه مطلب دی، همدا رنګه زهد او تقوا دا هم نه دي چي الله تعالی کوم مال او دولت ور کړی دی هغه همدا رنګه ضائع کړل سي يا هغه په غير مصرف کي خرڅ کړل سي د مثال په توګه دا فکر چي زما سره کوم مال دی د زهد او تقوا په لاره کي خنډ دی هغه واخلي او په درياب کي يې وغورځوي يا د فقير او غني ، مستحق او غير مستحق د تميز کولو پرته يې په خلکو کي وويشي .

خلاصه دا چي نه خو داسي د ظاهري زهد اعتبار دی او نه دا خبره د منلو وړ ده چي د دنيا د ظاهري مال او اسباب څخه خپل لاس بالکل خالي کړي او د يو شي ګټل او د ځان سره اېښودل د تقوا خلاف وګڼي مګر د معاشي ضرورت او احتياج پر وخت زړه غير الله ته متوجه کړي بلکه اصل مراد او اعتبار د زړه پر زهد دی چي زړه په هر صورت کي يوازي الله ﷻ ته متوجه وي او په هغه کي دنيا او د دنيا هيڅ شي سره مينه نه وي .

څه چي ستاسو په لاسو کي دي: ددې څخه مراد دادی چي دنياوي مال او اسباب ، هنر او کسب مادي وسائل او اسباب دي همدا رنګه څه چي د الله تعالی سره وي ددې څخه مراد دادی چي هغه شی د هغه ظاهري او باطني خزانو کي دی ، ددې جملې مطلب دادی چي ستا اصل اعتماد او باور د الله تعالی پر وعده باندي کېدل پکار دی چي هغه ستا سره د رزق درکولو او تا ته د خپلو نعمتونو رسولو په اړه کړې ده چي هغه تاسو ته داسي رزق درکوي او د داسي ځای څخه تاسو ته خپل نعمتونه درکوي چي تاسو د هغه ګمان هم نسي کولای ،

کوم شی چي تاسو په خپل سعي او تدبير سره تر لاسه کوئ او کوم مال وغيره چي تاسو د خپل کسب او عمل په ذريعه پيدا کوئ هغه دا مه ګڼئ چي واقعتا د هغه شي په تر لاسه کولو کي او د هغه مال په تر لاسه کېدو کي يوازي ستاسو د تدبير او سعي او کسب دخل دی بلکه دا يقين ولرئ چي تاسو ته څه راغلي دي هغه ټول په اصل کي د الله تعالی له خوا د هغه د وعدې مطابق راغلي دي که الله تعالی تاسو ته هيڅ درکول نه وغواړي نو تاسو چي په لکونو تدبيرونه او هڅي وکړي او هر څومره محنت او تکليف وزغمی نو ستاسو لاس ته هيڅ هم نه راځي ، دا خبره

هم باید په ذهن کي وي چي تاسو د ظاهري اسبابو او وسائلو په ذريعه څه چي وګټل او څه چي مو تر لاسه کړي دي او ستاسو کسب او عمل په نتيجه کي چي څه تاسو ته راغلي دي که هغه منصب وي يا مال او بل څه وي يا مځکه او جائيداد وي دغه ټول شيان د هغه نعمتونو او ګټو څخه زيات نسي کيدای کوم چي د الله تعالی په خزانه قدرت کي موجود دي او تر او سه تاسو ته نه دي تر لاسه سوي ځکه ستاسو سره چي څه دي هغه ټول تلف او فنا کيدونکي دي ددې پر خلاف کوم شيان او نعمتونه چي د الله تعالی په خزانو کي دي هغه ټول تل پاته کېدونکي دي، لکه چي الله تعالی فرمايي: (ما عندكم ينفد وما عند الله باق) کوم چي ستاسو سره دي هغه ټول فاني دي او کوم چي د الله تعالی سره دي هغه پاته کېدونکي دي.

د حديث د آخري برخي (وان تكون في ثواب المصيبة ..الخ) مطلب دادی چي زهد دا هم دی چي تاسو د دنيا راحت او آرام ته مه متوجه کيږئ او د دنياوي نعمتونو او خواهشاتو ارزو مه کوئ بلکه په دې پوه سئ چي د دنيا نعمتونه او لذتونه په اصل کي هغه آفات او بلاوو کي د اخته کېدو ذريعه دي کوم چي ديني او اخروي ژوند ته تاوان رسوي ، دا ځکه ضروري دي چي ستاسو زړه دنيا ته مائل نسي او ستاسو نفس د دنياوي شيانو سره انس او تعلق ونه لري ، کله چي يو دنياوي مصيبت او آفت کي اخته سئ نو هغه وخت د پرېشانه کېدو پر ځای هغه مصيبت او آفت ته خوش آمديد ووايا ست او د هغه په ذريعه د اجر او ثواب غوښتونکی سئ تر دې چي هغه وخت ستاسو په زړه کي هغه مصيبت ته دومره زيات رغبت او شوق وي چي هغه تر اوسه لاس ته راغلی نه دی او تاسو د هغه په انتظار کي ياست، څرګنده دي وي چي په دغه الفاظو (لو انها ابقيت) کي لفظ دابقيت په اصل کي د لم يصبه په معنی کي استعمال سوی دی او ددې جملې څرګند مفهوم لکه څرنګه چي ذکر سوی دی د اجر او ثواب په وجه هغه مصيبت ته ستاسو رغبت د عدم مصيبت د رغبت څخه زيات کېدل پکار دي.

په هر حال رسول الله ﷺ د زهد ذکر سوو دوو صورتو په بيانولو سره دا څرګنده کړه چي په يو سړي کي ددغه دواړو صفاتو کېدل د هغه په حق کي دا دليل دی چي هغه د زهد پر مقام فائز دی. دنيا او د دنيا شيان د هغه په نظر کي كالعدم او بوازي آخرت د هغه مطلوب او مقصود دي، ددې څخه څرګنده سوه چي هسي خو په ظاهره د زهد مفهوم دادی چي د دنيا څخه بې رغبتي وي ، دنياوي متاع او خواهشات لکه مال او دولت وغيره ترک کړل سي مګر رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايه چي د زهد مرتبه محض په دغه شي سره نه کامليږي تر څو چي د صبر او توکل مقام حاصل نه وي او آخرت ته رغبت او شوق تر دې حده ونه رسيږي چي په دغه دنيا کي

کوم مصيبتونه او بلاوي رسيږي هغه د آخرت د اجر او ثواب په ارزو کي محبوب او غوره جوړ سي او د هغه رسېدل د هغه د نه رسېدو څخه زيات مرغوب وي که دا مقام حاصل سي نو پوهېدل پکار دي چي د زهد صفت په پوره توګه پيدا سوی دی کنه په بل صورت کي محض د مال او دولت ترک کول او دنياوي لذتونو او نعمتونو څخه پرهېز کول ګويا خپل مال ضائع کول او د حلالو شيانو پر ځان حرامول دي.

يوازي پر الله ﷻ توکل کوئ

﴿۵۰۷۲﴾: وَعَنِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو ځل زه د رسول الله ﷺ سره پر سپرلۍ سپور وم،

يَوْمًا فَقَالَ يَا غُلَامُ احْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظْكَ احْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ وَإِذَا سَأَلْتَ

رسول الله ﷺ راته وفرمايل: اې هلکه! د الله ﷻ احکام امر او نهي خوندي ساته، الله تعالی به تا په خپل حفاظت کي وساتي او د الله پاک خيال ساته نو الله تعالی به خپل په وړاندي تر لاسه کړې، او هرکله چي ته د سوال اراده وکړې

فَاسْأَلِ اللّٰهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ

نو د الله تعالی څخه سوال کوه، او کله چي مرسته غواړې نو د الله تعالی څخه مرسته غواړه او دا خبره په ياد لره که ټول مخلوق راجمع سي

يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ لَكَ وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ

او تا ته ګټه رسول وغواړي نو هيڅکله به ګټه نه سي دررسولای مګر يوازي دومره څومره چي الله تعالی ستا په مقدر کي ليکلې وي او که ټول خلک راټول سي په دې چي

يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَيْكَ رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ. رواه احمد والترمذي.

تا ته ضرر ورسوي په يو شي سره نو ضرر به ونه رسوي تا ته مګر په هغه اندازه څومره چي الله ﷻ ستا په تقدير کي ليکلي دي، قلمونه پورته سوي دي او صحيفې وچي سوي دي، احمد او ترمذي

تخريج: مسند الامام احمد ۱۱/۲۹۳، رقم: ۲۵۱٦.

تشريح: نو تاسو به الله ﷻ خپل مخته مومئ: ددې معنی يو خو هغه ده کوم چې په ترجمه کې بيان سوې ده او د ځينو حضراتو مطابق معنی يې داده که چيرې تاسو د الله تعالی د حقوقو ادا کول يعني دهغه عبادت او طاعت او د هغه د احکامو پر فرمانبرداري باندې په پابندي سره عمل کونکی اوسيږئ نو تاسو به په خپل پناه او حفاظت کې ساتي او ستاسو سره به په معاملاتو کې مرسته کوي او ستاسو په مقصد او عزم کې به کاميابي درکړي ، يا دا چې په هغه صورت کې به تاسو د الله تعالی عنايت او مهرباني خپل مخته مومئ چې هغه به ستاسو په ټولو معاملاتو کې ستاسو رعايت کوي او قدم پر قدم به ستاسو مرسته او اعانت کوي .

يو مطلب چې د ډېر لوړ مقام ضامن دی دادی چې کله تاسو د الله تعالی د حقوقو ادا کول د هغه د اطاعت او عبادت پابندي او د هغه د رضا او خوښي په طلب کې بوخت او مستغرق سئ نو هغه وخت به ستاسو د معرفت نظر هغه خپل مخکې داسې مومې ګويا چې هغه ستاسو په مخکې موجود دی او تاسو د مقام احسان او کمال ايمان په منځ کې هغه مشاهده کوئ او بالکل داسې به محسوسوئ لکه چې تاسو هغه وينئ په دې حيثيت چې د الله تعالی څخه پرته هر شی ستاسو د نظر څخه بالکل معدوم او فناء سي نو همدارنګه به تاسو ته د مراقبې اصل کيفيت هم حاصل سي او مقام مشاهده به مو هم په برخه سي .

يوازې د الله ﷻ په مخکې د سوال لاس غزوئ: ځکه چې د ورکړې او بخښني ټولې خزانې د هغه سره دي او د دنيا او آخرت هر هغه نعمت او راحت چې بنده ته رسيږي او هره هغه بلا او مصيبت چې د هغه څخه بنده خوندي کيږي محض د الله تعالی په رحمت سره رسيږي يا دفع کيږي بيا د هغه رحمت يوازې رحمت دی چې نه په هغه کې د غرض آميزش دی او نه د يو علت دخل او سبب او هغه جواد مطلق او داسې غني دی چې نه د هغه سره د يو شي کمي ده او نه هغه محتاج کيږي نو يوازې هغه ذات ددې وړ دی چې خپله هر اميد د هغه سره وابسته کړل سي د هغه د عذاب څخه پرته د بل چا څخه خوف کول نه دي پکار ، په خپل هر مشکل کې او هر غم کې يوازې د هغه په حضور کې د مرسته التجاء کول پکار دي او په ټولو معاملاتو کې يوازې د هغه په حضور کې د مرستې التجاء کول پکار دي او په ټولو معاملاتو کې يوازې پر هغه اعتماد وکړل سي ځکه رسول الله ﷺ حکم وکړ چې څه غوښتل وي نو يوازې د الله تعالی څخه يې غواړئ د هغه څخه پرته د بل چا په مخکې د سوال لاس مه غزوئ ځکه چې بل څوک پر ورکولو يا نه ورکولو ، ګټه رسولو او تاوان ليرې کولو باندې قادر نه دی کوم ذات چې د ځان څخه د ګټې

رسولو یا تاوان لیري کولو او د خپل مرګ او ژوند مالک نه دی هغه چا ته کله ګټه رسولای سي او د تاوان څخه يې کله خوندي کولای سي، همدارنګه په ذکر سوي حکم کي دې ته اشاره ده چي په خپل هيڅ حالت او هيڅ وخت کي د الله تعالی په مخکي د لاس غزولو څخه منع کېدل نه دي پکار ځکه چي په يو حديث کي په وضاحت سره فرمايل سوي دي چي کوم څوک د الله تعالی په مخکي لاس نه غزوي پر هغه الله تعالی غضب کوي ددې څخه پرته د خپل خالق په مخکي لاس غزول په حقيقت کي د هغه په حضور کي د خپلي عاجزۍ او محتاجۍ اظهار کول دي چي د عبوديت شان دی، يو چا څومره ښه ويلي دي:

الله يغضب ان ترکت سواله وابناء آدم حين يسال يغضب

ژباړه: الله ﷻ هغه وخت غضب کوي چي تاسو دهغه څخه سوال نه کوئ او د آدم زامن هغه وخت غضب کوي کله چي څوک سوال ځيني وکړي.

او که ټول مخلوق په يو ځای کېدو سره تاته تاوان رسول وغواړي...الخ: مطلب دادی چي کله نفع او تاوان د الله تعالی له خوا دی او په هر حال کي هغه ته رجوع کيږي ځکه چي هغه ګټه رسونکی هم دی او تاوان رسونکی هم دی، او هغه ورکونکی هم دی او نه ورکونکی هم دی، د يو فرد سوال که د ټولي مځکي ټول مخلوق په يو ځای کېدو سره د الله تعالی د مرضۍ او حکم خلاف يو سړي ته تاوان يا ګټه رسول وغواړي نو دا هيڅکله ممکن نه ده چي هغه ته ګټه يا تاوان ورسوي، د الهيات په ځينو کتابو کي بيان سوی دی چي الله تعالی فرمايي: زما دي په خپل عزت او جلال قسم وي يقينا زه هغه سړي سره انقطاع کوم چي زما څخه پرته د بل چا سره خپل اميد وابسته کوي او د خلکو په نظر کي هغه ته د ذلت جامه اغوندم يعني د خلکو په مخکي هغه ذليل او خوار کوم هغه د خپل قرب څخه محروم کوم او خپل وصل يې څخه ليري کوم نو يقيني خبره داده چي زه هغه حيراني پريشاني او تکفراتو کي اخته کوم، ايا هغه سړی د خپل مشکلاتو او پريشانو په وخت کي زما څخه پرته د بل چا څخه اميد لري حال دا چي پريشاني او مشکلات زما په لاس کي دی زه الحي القيوم يم، هغه سړی د فکر او پريشانۍ په عالم کي دنورو دروازې ټکوي حال دا چي د ټولو دروازو کيلياني زما په لاس کي دي او هغه دروازې بندي دي نو زما دروازه هر هغه چا ته خلاصه ده چي ما ته راسي او زما څخه دعاء وغواړي.

قلمونه پورته سوي دي: ددې څخه مراد دادی چي کوم احکام صادرېدل هغه ټول ليکل سوي دي همدارنګه صحيفې وچي سوي دي ددې څخه مراد دادی چي تر قيامته پوري څه کېدونکي دي او د چا په حق کي څه پېښېدونکي دي هغه ټول د تقدير په کتاب کي دي او ليکل

سوي دي او هغه لیکنه وچه سوې ده اوس پر هغه قلم نه چلیږي او څه چې لیکل سوي دي د هغه څخه وروسته هیڅ نسي لیکل کیدای، خلاصه دا چې په دغه دنیا کي څوک راغلي دي او تر قیامته پوري چې څوک راځي د هغه د تقدیر او قسمت فیصلې په لوح محفوظ کي لیکل سوي دي او د دغه کار څخه فراغت هم سوی دی اوس د چا په حق کي هیڅ نسي لیکل کیدای نو د هر سړي تقدیر او قسمت د مخکي څخه لیکل یې د قلمو په پورته کولو او د صحیفو په وچېدو سره تعبیر کړي دي او په دې کي د مشابهت اړخ دادی چې څرنګه یو کاتب د کتاب په پوره کولو سره فارغ سي نو قلم کښېږدي او کتاب بند کړي همدارنګه کاتب تقدیر د ډېر مخکي څخه د مخلوق تقدیرونه لیکلي دي او هغه صحیفې چې په هغو کي تقدیرونه لیکل سوي دي د تل لپاره بند سوي دي په هغه کي اوس هیڅ تغیر او تبدیل، کمي او زیاتوب نسي کیدای.

د دغه کتاب په پیل کي دا حدیث تېر سوی دی چې الله تعالی تر ټولو مخکي کوم شی پیدا کړ هغه قلم وو بیا یې هغه ته وویل چې ولیکه! قلم وویل: څه ولیکم؟ ورته وویل سول چې تقدیر ولیکه، نو هغه هر څه ولیکل چې تر اوسه پوري واقع کېدونکي دي او تر قیامته پوري به واقع کیږي، که چیري دلته دا مشکل پیدا سي چې دغه روایت د قرآن کریم د دغه آیت (یمحو الله مایشاء) خلاف دی نو د دې جواب دادی چې دا محو او اثبات هم په اصل کي د هغه شیانو دی کوم چې مقدر سوي دي او د هغه د لیکلو څخه وروسته قلم اینښودل سوی دی او هغه صحیفې وچې سوي دي ځکه چې د قضاء یعني هغه کلي احکام او فیصلې چې د ازل څخه الله تعالی صادري کړي دي دوه ډوله دي یو قضاء مبرم (چې په هغه کي هیڅ تغیر او تبدیل ممکن نه دی) او دوهم قضاء معلق (چې په هغه کي تغیر او تبدیل ممکن دی) د دې څخه پرته د دغه محو او اثبات تعلق د لوح محفوظ او د الله تعالی د علم سره دی یعني دا خبره د مخکي څخه په لوح محفوظ کي لیکل سوي ده چې فلانی شی به داسي کیږي او دا خبره د الله تعالی په علم کي ده نو دا مفهوم د الله تعالی د محو او اثبات په نسبت کولو سره بیان سوی دی چې په حقیقت کي مقدر امور دي او تغیر نه ورته ویل کیږي او نه تبدیل.

ځیني حضرات وایي چې د الله ﷻ سره دوه کتابونه دي یو لوح محفوظ دی چې په هغه کي هیڅ تغیر او تبدیل نه کیږي او دوهم کتاب هغه دی چې په هغه کي ملائکي د بندګانو اعمال لیکي نو د محو او اثبات تعلق د دغه کتاب سره دی.

په هر حال په دغه ارشاد کي دا ترغیب دی چې بنده باید د الله تعالی پر ذات باندي توکل او اعتماد وکړي، پر الهي رضا باندي راضي او خپل تدبیر او سعي او ذاتي قوت او طاقت

حقیقي مؤثر هیڅکله و نه ګڼي ځکه چي راتلونکی هیڅ شی هم داسي نه دی چي د الله تعالی د حکم او فیصلې څخه وتلی او د هغه د قضاء او قدر مطابق نه وي چي کاتب تقدیر د مځکي او آسمان د پیدائش څخه پنځوس زره کاله مخکي لیکلي دي او د هغه شي واقع کېدل لیکل سوي دي هغه په هر حال کي او هر صورت کي واقع کیږي ،هغه نه د انساني حرکت او سکون نظام بندولای سي او نه سعي او تدبیر، نو که د خوشحالۍ په حالت کي پېښ سي یا د ضرر او تکلیف په حالت کي وي په هر صورت شکر ادا کول لازم دی او پر دې خبره په ښه دول پوهېدل پکار دي چي بنده خپل دښمن او مخالف خپل تکلیف او مصیبت او تاوان خلاف د الله تعالی د مرستي او نصرت په هغه صورت کي مستحق کیږي کله چي هغه د هغه شیانو په وجه پېښېدونکی غم او تکلیف باندي صبر وکړي او هیڅ حالت هم د خپل تقدیر او حالت شکایت ونه کړي.

حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رحمة الله علیه په خپل کتاب فتوح الغیب کي ډېره ښه خبره لیکلې ده چي د هر مؤمن لپاره لازم ده چي دغه حدیث د خپل زړه هنداره وګرځوئ او په خپلو ټولو حرکاتو او سکناتو کي د هغه مطابق عمل وکړئ چي په دنیا او آخرت کي سالم او محفوظ پاته سئ او په دواړو جهانو کي د الله تعالی د رحمت په سبب په عزت سره ونازول سئ.

په ځینو روایتو کي ددغه الفاظو (تجده تجاهک) څخه وروسته دا عبارت هم نقل سوی دی: (تعرف الی الله في الرخاء یعرفک في الشدائد فان استطعت ان تعمل لله بالرضاء في الیقین فافعل فان لم تستطع فان في الصبر علی ما تکره خیرا کثیرا واعلم ان النصر مع الصبر والفرج مع الکرب وان مع العسر یسرا ولن یغلب عسر یسرین).

یعني د خوشحالۍ په حالت کي د نعمت پېژندني او طاعت په ذریعه الله تعالی و پېژنئ د هغه د یاد څخه مه غافل کېږئ او د هغه شکر ادا کوئ که داسي کوئ نو ددې په بدله کي به یقینا الله تعالی تاسو ته د تنګۍ او سختۍ په حالت کي مرسته ورسوي یعني هغه به تاسو ته ددغه تنګۍ او سختۍ طاقت او ددې څخه د خلاصون لار درکړي که تاسو د یقین پر مرتبه په رضا سره د الله تعالی د رضا لپاره یو کار کولای سئ نو هغه یقینا کوئ (ځکه چي بېله شکه هغه ډېر لوی کار دی) او که تاسو یو داسي کار نه سئ کولای او د نعمت د شکر حق په پوره توګه نه سئ ادا کولای نو پوه سئ چي آفات او مصائب او د طبیعت خلاف پېښېدونکو امورو باندي صبر کول هم د نیکۍ او خیر ضامن دی (یعني اصل شی په هر حالت کي د الله تعالی شکر ادا کول دی ځکه چي د الله تعالی له خوا کوم شی پېښېږي نو هغه یقینا نعمت وي او که په ظاهري یا باطني اعتبار سره د هغه د لطف ضامن وي مګر که چیري یو سړی د شکر حق په پوره توګه اداء نه

کړلای سي نو پر پېښېدونکي سختي او تنګۍ باندي صبر کول پکار دي ځکه چي دا هم يو لوی فضيلت لري، او پوه سئ چي بنده ته د الله تعالى مرسته او نصرت په هغه صورت کي تر لاسه کيږي کله چي هغه پر اطاعت حق او ترک معصيت باندي صابر او ثابت قدمه پاته سي او پراختيا په اصل کي د هر تکليف او غم څخه وروسته وي يعني د هري تنګۍ او سختۍ څخه وروسته پراختيا راځي او د هر غم څخه وروسته د راحت دروازه خلاصيږي او بېله شکه په سختۍ سره خوشحالي او اساني هم ده يعني کله چي پر يو سړي باندي سختي او تنګي راځي نو د هغه څخه وروسته الله تعالى خوشحالي او اساني هم ورکوي او يوه سختي پر دوو اسانيو باندي غالبه کېدای نسي يعني که يو انسان په تنګۍ او سختۍ کي اخته وي نو هغه بايد پوه سي چي د هغه په عوض کي بهٔ دوې اساني تر لاسه کوي يوه خو په دغه دنيا کي چي الله تعالى د هري سختي څخه وروسته اساني پيدا کوي او دوهمه اساني په آخرت کي د اجر او ثواب په صورت کي ، لکه څرنګه چي د مسلمانانو د تاريخ څخه ثابته ده کله چي هغوئ په دنيا کي په تنګۍ او سختۍ کي اخته سوي دي او هغوئ په صبر او عزيمت سره هغه سختۍ او تنګۍ زغملي دي نو د هغه څخه وروسته هغوئ ته په دغه دنيا کي د قدرتي مرستي او نصرت په ذريعه فتح او کاميابي او عزت تر لاسه سوی دی او بيا په آخرت کي به د جنت قيمتي راحتونه او لوړي درجي تر لاسه کړي .

د انسان نيک بختي او بد بختي

﴿۵۰۷۳﴾: وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَعَادَةِ

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان نيک بختي داده چي

ابْنِ آدَمَ رِضَاهُ بِمَا قَضَى اللَّهُ لَهُ وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللَّهِ

څه الله تعالى د هغه لپاره مقدر کړي دي په هغه راضي سي او د انسان بد بختي داده چي هغه د الله څخه خير او نيکي غوښتل (استخاره) پريږدي

وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ سَخَطُهُ بِمَا قَضَى اللَّهُ لَهُ. رواه احمد والترمذي وقال الترمذي هذا حديث غريب.

او بد بختي داده چي الله تعالى د هغه په مقدر کي څه ليکلي دي په هغه ناخوښه وي . احمد، او

ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: مسند الامام احمد ١١ \ ١٦٨، رقم: ٢١٥١.

تشريح: د حديث د اولي برخي مطلب دادی چي د انسان سعادت او خير او د هغه د نېک بختۍ علامه داده چي هغه د الله تعالى څخه خير او نيكي غواړي د هغه په مخكي د سوال لاس غزوي او د هغه په دربار كي خپل عرض او مناجات وړاندي كړي او بيا پر خپل تقدير او قسمت باندي په هر صورت راضي اوسي او دا يقين لري چي ما ته هر څه پېښ سوي دي يا پېښيږي هغه ټول د الله تعالى د حكم او فيصلې مطابق دي چي هغه زما په مقدر كي ليكل سوي دي او په هر اعتبار زما سره غوره دي كه څه هم د الله تعالى څخه دخير او نيكۍ غوښتلو خبره د انسان د نيك بختۍ په ضمن كي نه ده كتل سوې بلكه وروسته عبارت چي په هغه كي د انسان د بدبختۍ ذكر سوی دی مد نظر وساتل سي نو معلومه به سي چي مراد دادی.

د الله ﷻ څخه د خير او فلاح غوښتني څخه پرهيز كول د انسان بدبختي ګرځول دا څرګندوي چي انسان بايد په هر وخت كي د خپل خير او غوره والي لپاره الله تعالى ته متوجه او د هغه څخه تل د خير غوښتونكی وي.

كله چي رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي د آدم اولاده بايد په هر هغه صورت كي پر قضاء او قدر الهي باندي راضي سي، نو ددې څخه دا وهم پيدا كېدای سي چي د ګناه څخه پرته د شريعت نور خلاف امورو په صورت كي هم هغه د قسمت په ليک ګڼلو سره په هغه راضي او مطمئن كېدل پكار دي نو دا رسول الله ﷺ څرګنده كړه چي انسان بايد هر وخت د الله تعالى څخه دخير او نيكۍ غوښتونكی وي چي هغه پاک ذات هغه د خير او نيكۍ پر لار روان كړي او هغه ته يوازي د غوره امورو اختيارولو توفيق وركړي او د بدۍ لار او د شريعت خلاف امورو څخه د هغه ساتنه وكړي، څرګنده دي وي چي په هر صورت كي او په هر حالت كي پر قضاء او قدر الهي باندي راضي كېدل ډېره لويه خبره ده او ددغه مقام نوم (افخم) يعني عظمی مرتبه ده.

دا خبره ښودل هم ضروري دي چي پر قضاء او قدر باندي راضي كېدل د خپل تقدير او قسمت خلاف ناراضګۍ ترک كول د انسان سعادت او نېک بختي ګرځول د دوو شيانو په وجه دي يو دا چي كوم څوک پر قضاء الهي باندي راضي وي هغه ته د زړه سكون او اطمينان په برخه كيږي او دا داسي شی دی چي ددې په وجه انسان خپل معاملات او كاروبار او په خاصه توګه د الله تعالى په طاعت او عبادت كي په ډېر سكون او اطمينان سره بوخت وي نو كوم څوک چي پر

تقدیر الهي عقیده نه لري یا د قسمت پر لیکنه باندي راضي نه وي نو هغه په ذره ذره مصیبت او پیښي باندي متفکر کیږي او په دې سره خپل مقاصد او معاملات، طاعت او عبادت کي د زړه او دماغ د سکون او اطمینان څخه محروم کیږي چي د غه مصیبت ولي راغلی فلانی حادثه ولې پیښه سوه او دا خبره داسي ولي و نه سول.

دوهمه دا چي دغه شی بنده په دې سبب د الله تعالی د غضب او غصې څخه ساتي چي هغه د الله تعالی د لیکلي تقدیر خلاف د خپل ناراضګۍ او د خپل غصې اظهار نه کوي او د تقدیر خلاف د خپل ناراضۍ او غصه داده چي هغه د هغه خبري ذکر وکړي او هغه شی په حق کي غوره وګرځوي کوم چي الله تعالی د هغه په مقدر کي نه دی لیکلی او ظاهره ده چي کوم شی الله تعالی د هغه په مقدر کي لیکلی دی هغه په یقیني توګه د هغه څخه غوره دی چي د هغه ښه او بد کېدو سره یقیني نه وي.

استخاره یعني د الله تعالی څخه د خیر او نیکۍ طلب کولو حقیقت دا دی چي په خپل ټولو معاملو او ټولو امورو کي د الله تعالی څخه غوره والی طلب کړل سي بلکه دا یقین او عقیده ولري چي انسان په دې نه پوهیږي چي د هغه په حق کي کوم شی ښه دی او کوم شی خراب دی دا یوازي الله تعالی دی چي د خپلو بندګانو په حق کي ښه او بد شی پېژني او په عامه توګه کیږي دا چي انسان یو شی په خپل حق کي ښه ګڼي مګر په حقیقت کي هغه شی بد وي یا یو شی د خپل ځان لپاره بد ګڼي مګر په حقیقت کي هغه شی د هغه په حق کي ښه وي لکه چي فرمایل سوي دي:

(عَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَعَسَى أَن تُحِبُّواْ شَيْئًا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ وَاللّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ)

ژباړه: (دا لیري خبره نه ده) چي تاسو یو شی په خپل حق کي بد ګڼئ مګر په حقیقت کي هغه ستاسو لپاره ښه وي او دا هم لیري نه ده چي یو شی تاسو په خپل حق کي ښه ګڼئ مګر په حقیقت کي هغه ستاسو لپاره خراب وي، یوازي الله ﷻ پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ، چي ستاسو په حق کي کوم شی ښه دی او کوم شی خراب دی.

کله چي دغه یقین او عقیده پخه سي نو بیا د هغه یقین او عقیدې په ذریعه دي مخته درجه اختیار کړي چي په دغه دنیا کي زموږ په ژوند کي څه واقع کیږئ هغه ټول د الله تعالی له خوا او د هغه د حکم او فیصلې مطابق دي او کوم شی چي د الله تعالی د حکم او فیصلې مطابق وي هغه د حقیقت او انجام په اعتبار د خیر او فلاح څخه پرته نور هیڅ نسي کیدای ځکه وارد سوي دي

چي : (الخير بيديک والشر ليس اليک) اې ربه! خير او کاميابي ستا په لاس کي ده او بدي تا ته منسوب کېداى نسي .

دا مستحب دي که چيري يوه ارزښتناکه دنيوي يا ديني معامله پېښه سي نو د هغه په اړه د عالمانو او مخلصينو سره د صلاح او مشورې وروسته استخاره وکړل سي يعني الله تعالی ته په حضور قلب سره متوجه کېدل او دخير او کاميابي دعاء دي وغواړي په استخاره کي کم از کم دادی چي داسي دعاء وکړل سي . (اللهم خرلي واختر لي فلا تکلني الى اختياري) : اې الله ! زما په حق کي خير وفرمايې او کوم شی چي زما لپاره غوره وي هغه اختيار کړې نو ما زما اختيار ته مه سپاره .

د استخارې پوره طريقه داده چي مخکي دي دوه رکعته لمونځ وکړي بيا دي د استخارې هغه دعاء ووايي چي مشهوره ده او ددغه کتاب په تېرو مخونو کي نقل سوې ده .

طبراني رحمه الله په اوسط کي د حضرت انس رضي الله عنه څخه دا مرفوع روايت نقل کړی دی چي : (ما خاب من استخار ولا ندم من استشار ولا عال من اقتصد) : هغه څوک نامراده کېداى نسي چي استخاره وکړي او هغه څوک شرمنده کيداى نسي چي مشوره وکړي او هغه څوک محتاج کېداى نسي چي ميانه روي اختيار کړي .

ځيني حکيمان وايي : چا ته چي څلور شيان ترلاسه سول هغه د څلورو شيانو څخه محروم کېداى نسي ، کوم چا ته چي د شکر مرتبه حاصله سوه هغه په نعمتونو کي د زياتوب څخه محروم کېداى نسي او کوم چا ته چي د توبې توفيق په برخه سو نو هغه د قبوليت څخه محروم کيداى نسي او کوم څوک چي د استخارې لار اختيار کړي هغه د خير څخه محروم کېداى نسي او کوم څوک چي مشوره ترلاسه کړي نو هغه صحيح خبري ته د رسېدو څخه محروم کيداى نسي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د رسول ﷺ توکل

(۵۰۷۳) : عَنْ جَابِرٍ اَنَّهُ غَزَا مَعَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَلَمَّا قَفَلَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه د رسول الله ﷺ سره د نجد په لور جهاد ته تللی وو ،

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَفَلَ مَعَهُ فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ

کله چي رسول الله ﷺ راغلی نو هغه هم ورسره راغلی ، (دغرمې په وخت) کي صحابه کرام يو

شيلې ته راورسيدل چې په هغه کې ډيرې درختې وې،

فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَفَرَّقَ النَّاسُ يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ فَنَزَلَ

رسول الله ﷺ هلته تم سو، صحابه کرام هم د سايې په لټه آخوا ديخوا تر درختو لاندې پريوتل،

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ سَمُرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ وَنِمْنَا نَوْمَةً فَإِذَا

رسول الله ﷺ د کيکر تر يوې غټې درختې لاندې ايسار سو او خپله توره يې پر درخته وزړول، او موږ د لږ ګړي لپاره بيده سو، ناڅاپه موږ واوريدل

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُونَا وَإِذَا عِنْدَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ إِنَّ هٰذَا اخْتَرَطَ

چې رسول الله ﷺ موږ غواړي او د رسول الله ﷺ سره يو صحرايي ناست دئ موږ چې راټول سوو نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: دغه صحرائي پر ما باندې زما توره راکښلې وه

عَلَيَّ سَيْفِي وَأَنَا نَائِمٌ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ فِي يَدِهِ صَلْتًا قَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي فَقُلْتُ

په داسې حال کې چې زه بيده وم، زه راويښ سوم وينم چې (د پوښه) راکښلې توره دده په لاس کې ده او ما ته وايي اوس به دې زما څخه څوک خلاصوي؟ ما ورته وويل:

اللّٰهُ ثَلَاثًا وَلَمْ يُعَاقِبْهُ وَجَلَسَ. متفق عليه وفي رواية ابي بكر الاسماعيلي في

الله تعالى به مې در څخه خلاص کړي، درې واره يې دا الفاظ وفرمايل، او هغه صحرايي ته رسول الله ﷺ هيڅ سزا ورنه کړل او کښېنستی، بخاري او مسلم، او ابوبکر اسماعيلي چې کوم

صحيحه فَقَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قَالَ اللّٰهُ فَسَقَطَ السَّيْفُ مِنْ يَدِهِ فَأَخَذَ رسول

روايت په خپل صحيح کې نقل کړی دئ په هغه کې دا الفاظ دي چې صحرائي توره په لاس کې وويل اوس به دې زما څخه څوک خلاصوي؟ (رسول الله ﷺ) ورته وفرمايل: الله تعالى (به مې در څخه خلاص کړي) ددې اوريدو سره د صحرائي د لاس څخه توره ايله سول، بيا رسول

الله صلى الله عليه وسلم السَّيْفَ فَقَالَ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي فَقَالَ كُنْ خَيْرَ آخِذٍ

الله ﷺ هغه توره پورته کړه او هغه صحرايي ته يې وفرمايل: اوس به تا زما دلاس څخه څوک خلاصوي؟ صحرائي وويل: ته غوره نيونکی سه،

فَقَالَ تَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنِّيْ رَسُوْلَ اللهِ قَالَ لاَ وَلٰكِنِّيْ أُعَاهِدُكَ عَلٰى أَنْ لاَّ

نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: ته ددې شاهدي وايې چې د الله ﷻ څخه پرته بل د عبادت وړ نه سته او دا چې زه د الله ﷻ رسول يم، صحرائي وويل: زه مسلمان کيږم نه بلکه ددې وعده کوم

أُقَاتِلَكَ وَلاَ أَكُوْنُ مَعَ قَوْمٍ يُّقَاتِلُوْنَكَ فَخَلّٰى سَبِيْلَهُ فَأَتٰى أَصْحَابَهُ فَقَالَ جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ هٰكَذَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَفِي الرِّيَاضِ.

چې نه به درسره جنګ کوم او نه به د هغه قوم سره ملګرى کيږم کوم چې ستاسو سره جنګ کوي، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ هغه صحرائي پرېښودى، هغه صحرائي خپلو ملګرو ته راغلى او ورته وه يې ويل: زه تاسو ته د يو غوره سړي څخه راغلى يم. په کتاب الحميدي او الرياض کې هم داسې راغلي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٩٦، رقم: ٢٩١٠. ومسلم ١\٥٧٦، رقم: ٣١١- ٨٤٣.

د لغاتو حل: قفل: اى رجع (راستون سو). العِضاة: الشجر الذي له شوک (ازغي لرونکې ونه). شجرة من الطلح: وهي العِظام في شجر الشوک. اخترط: اى سل. صلتا: اى مسلولا مجردا عن الغمد.

تشريح: نجد په لغت کې د ځمکې هغه برخې ته وايي چې د عامې سطحې څخه لوړه وي او هسې دا د جزيره عرب د يو خاص سيمې نوم دى او دغه سيمه يوه لوړه سطح ده ځکه دې ته د نجد نوم ورکړل سوى دى، په پخوانۍ زمانه کې نجد پر يو ډېره مختصره سيمه باندې مشتمل وو مګر په اوسنۍ جغرافيه کې د جزيره العرب ټولې وسطي سيمې ته نجد ويل کيږي چې د هغه اوږدوالى تقريبا اته سوه ميله او عرض يې تقريبا دوه سوه ميله دى، په شمال کې د بادية الشام د جنوبي سر څخه په شروع کېدو په جنوب کې وادي الدوارس يا الربع انحالي پوري او عرضا د احساء څخه تر حجاز پوري خپره سوې ده.

عضاه: د عضه جمع ده او ددې اطلاق پر هغه درختې باندې کيږي چې ازغي لرونکې وي، په مجمع البحار کې ليکلي دي چې عضاه د کيکر درختې ته وايي او کومه درخته چې د عضاه څخه لويه وي هغه ته سمره ويل کيږي.

د الله ﷻ څخه بيره او رزق

(۵۰۷۵): وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّيْ لَأَعْلَمُ آيَةً

لَوْ أَخَذَ النَّاسُ بِهَا لَكَفَتْهُمْ مَنْ يَّتَقِ اللهِ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًاوَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ. رواه أحمد وابن ماجه والدارمي.

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته يو داسي آيت معلوم دی که خلک عمل په وکړي نو هغه ورته کافي دی، (ومن يتق الله يجعل له مخرجا ويرزقه من حيث لا يحتسب) څوک چي د خدايه بيريږي نو الله د نجات لاره ور پيدا کوي او دداسي ځای څخه رزق ورکوي چي ګمان يې هم نه وي. احمد، ابن ماجه او دارمي.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۱۷۸، وابن ماجه ۲\۱۴۱۱، رقم: ۴۲۲۰، والدارمي ۲\۳۹۲، رقم: ۲۷۲۵.

تشريح: په حديث کي ذکر سوی پوره آيت دادی:

(وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا)

ژباړه: او کوم څوک چي د الله (جل جلاله) څخه بېرېږي نو الله تعالی د هغه لپاره د نجات لار پيدا کوي چي وهم او ګمان يې هم نه کيږي او کوم څوک چي په خپلو امورو او معاملاتو کي پر الله جل جلاله باندي توکل او باور کوي نو هغه په دواړو جهانو کي د هغه لپاره کافي دی بېله شکه الله تعالی خپل مراد ته رسېدونکی دی او بېله شکه الله تعالی د هر شي لپاره اندازه ټاکلې ده.

نو د (من يتق الله ...... حيث لايحتسب) پوري دې ته اشاره ده چي الله تعالی د هغه سړي لپاره د دنيا او آخرت د هغه ټول امور او معاملاتو کي کافي کيږي چي د هغه څخه بيريږي او څه چي د هغه په نزد ناخوښه وي په دې توګه چي هغه داسي ټولو شيانو څخه خوندي کولای سي.

(من يتوکل علی الله) دلته دا اشاره کول مقصد دي که چيري هغه پر الله تعالی باندي باور او اعتماد کولو سره د دنيا او آخرت د نعمتو غوښتونکی وي نو الله تعالی د هغه لپاره کافي کيږي په دې توګه چي هغه ته هغه نعمتونه ورکوي.

ان الله بالغ امره: بېله شکه الله تعالی خپل مراد ته رسېدونکی دی، ددې څخه مراد دادی چي هغه قادر مطلق خپل احکام او فيصلې جاري او نافذ کونکی دی يعني هغه ته د هر ډول حکم او فيصلې جاري کولو اختيار حاصل دی او هغه د خپل هر حکم او فيصلې نافذ کولو پوره طاقت او قدرت لري ګويا ددغه الفاظو په ذريعه پر الله تعالی باندي توکل کول او خپل ټولي چاري هغه ته د سپارلو وجوب څرګندول مرا ددی ځکه چي سړی په دې پوه سي چي رزق او دا

دول هر شي ته د تقدير الهي سره تعلق دی چي انسان د کوم شي خواهش او طلب لري هغه د حکم او فيصلې څخه پرته تر لاسه کېدای سي نو ددې څخه پرته بل چاره نسته چي انسان د قضاء او قدر په مخکي ځان تسليم کړي او د الله تعالی پر ذات باندي توکل او اعتماد وکړي.

رزق ورکونکی يوازي الله ﷻ دی

﴿۵۰۷۶﴾: وَعَنِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ أَقْرَأَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ. رواه ابوداؤد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ما ته دا آيت وښودی ﴿إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ﴾ زه رزق ورکونکی يم او طاقتور يم. ابوداؤد او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۲۹۰، رقم: ۳۹۹۳، والترمذي ۵\۱۷۶، رقم: ۲۹۴۰.

تشريح: (اني انا الرزاق) دا قرائت شاذه دی، د قرائت مشهور مطابق ددغه آيت الفاظ په اصل کي داسي دي: (ان الله هو الرزاق ذو القوة المتين) بېله شکه الله تعالی رزق ورکونکی دی او غالب طاقت والا دی، خلاصه دا چي کله رزق ورکونکی او غالب طاقت لرونکی يوازي الله تعالی دی نو بيا لازمه ده چي د هغه د ذات څخه پرته په بل چا باور ونه کړل سي او د خپل امورو کارساز او وکيل به د هغه څخه پرته بل څوک هيڅکله ونه ګڼل سي.

کسب کونکی ورور

﴿۵۰۷۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَخَوَانِ عَلَى عَهْدِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي دوه ورونه وه په هغوئ کي

وَسَلَّمَ فَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْآخَرُ يَحْتَرِفُ فَشَكَا

به يو د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضريدی او دويم به يو کسب کوی، شکايت وکړ

الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ. رواه

الترمذي وقال هذا حديث غريب.

کسب کونکي ورور رسول الله ﷺ ته د خپل دغه ورور (یعني دا یې وویل چي هغه یو کار نه کوي) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: شاید د هغه په برکت سره تا ته رزق درکول کیږي. ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

تخریج: سنن الترمذي ۴۹۶\۴، رقم: ۲۳۴۵.

د لغاتو حل: يحترف: ای یکتسب اسباب المعيشة.

تشریح: د رسول الله ﷺ د جواب مطلب دا وو چي ته دا گنه چي تا ته کوم رزق درکول کیږي هغه په حقیقت کي ستا د گټي په وجه دی مگر کیدای سي چي د خپل ورور سره د ایثار کومه معامله کوې او د هغه د معاشي اړتیاوو بار په زغملو سره هغه د غم او فکر څخه لیري ساتې نو د هغه د برکت په وجه تا ته هم رزق درکول کیږي نو په دغه صورت کي د شکایت کولو او پر هغه د احسان کولو موقع نسته.

ددغه حدیث څخه معلومه سوه چي علم او عمل او دیني خدماتو ته متوجه کېدل او د عقبی د تیاري لپاره د نیاوي بوختیاوي ترک کول جائز دي او دا حدیث پر دې هم دلالت کوي چي فقیران او په خاصه توگه د خپلو اړو قریبانو خبر اخیستل او دهغوي د اړتیاوو پوره کول په رزق کي د پراختیا او برکت باعث وي.

د توکل ښودنه

﴿۵۰۷۸﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

إِنَّ قَلْبَ ابْنِ آدَمَ بِكُلِّ وَادٍ شُعْبَةً فَمَنْ اتَّبَعَ قَلْبُهُ الشُّعَبَ كُلَّهَا لَمْ يُبَالِ اللّٰهُ بِأَيِّ وَادٍ أَهْلَكَهُ وَمَنْ تَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ كَفَاهُ الشعب. رواه ابن ماجة.

د انسان زړه په یو ځنگل کي یو ښاخ دی، بیا چي چا زړه د ټولو ښاخونو په لور متوجه کړ (یعني په هر ډول فکرونو کي یې بوخت کړ) نو الله تعالی ددې خبري پروا نه کوي که غواړي په یو ځنگل کي یې هلاک کړي او چا چي پر الله تعالی توکل وکړ او خپل کارونه یې الله ﷻ ته وسپارل نو الله تعالی د هغه ټول کارونه سموي. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۳۹۵، رقم: ۴۱۶۶.

پر خدای ﷻ باور

﴿۵۰۷۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ لَوْ أَنَّ عبيدي أَطَاعُونِي لَأَسْقَيْتُهُمُ الْمَطَرَ بِاللَّيْلِ وَأَطْلَعْتُ عَلَيْهِمُ الشَّمْسَ بِالنَّهَارِ وَلَم أُسْمِعْهُمْ صَوْتَ الرَّعْدِ. رواه احمد.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو رب فرمايي : كه زما بندګانو زما فرمانبرداري كولای نو ما به د شپې باران پر اورولای او د ورځي به مي لمر پر راخېژولای او د تالندي اواز به مي په دوئ نه اورېدلای . احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۲\۳۵۹.

د صبر او توكل يو واقعه

﴿۵۰۸۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ عَلَى أَهْلِهِ فَلَمَّا رَأَى مَا بِهِمْ مِنَ الْحَاجَةِ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي يو سړی خپل اهل او عيال ته راغلی هر كله چي دهغوئ حاجتونه او ضرورتونه يې وليدل

خَرَجَ إِلَى الْبَرِيَّةِ فَلَمَّا رَأَتْ امْرَأَتُهُ قَامَتْ إِلَى الرَّحَى فَوَضَعَتْهَا وَإِلَى التَّنُّورِ

نو د ځنګل په لور ولاړی آخوا چي د هغه ښځي وكتل (په دې اميد چي خاوند مي دباندي ولاړی يو څه غله به راوړي او ړه به يې كړم) نو هغه ولاړه سوه ميچني ته ورسيده هغه يې پر خپل ځای سمه كښېښنودل بيا د تنور په لور ولاړل

فَسَجَرَتْهُ ثُمَّ قَالَتْ اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا فَنَظَرَتْ فَإِذَا الْجَفْنَةُ قَدْ امْتَلَأَتْ قَالَ

هغه يې ګرم كړ بيا يې د الله ﷻ څخه دعاء وغوښتل چي اې الله ! موږ ته رزق راكړې، بيا هغې وليدل چي د ميچن شاوخوا د اوړو څخه ډک دئ

وَذَهَبَتْ إِلَى التَّنُّور فَوَجَدَتْهُ مُمْتَلِئًا قَالَ فَرَجَعَ الزَّوْجُ قَالَ أَصَبْتُمْ بَعْدِي

بیا هغه تنور ته ورغلل نو وه یې لیدل چې د ډوډۍ څخه ډک وو ، د راوي بیان دی چې په دغه دوران کې د هغې خاوند راغلئ او هغې ښځې ته یې وویل ایا تا ته زما د تلو څخه وروسته

شَيْئًا قَالَتْ امْرَأَتُهُ نَعَمْ مِنْ رَبِّنَا وَقَامَ إِلَى الرَّحَى فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ

یو څه د خوراک سامان تر لاسه سوی دئ ، ښځې ورته وویل هو زموږ رب دا انتظام وکړ ، ددې

فَقَالَ أَمَا إِنَّهُ لَوْ لَمْ يَرْفَعْهَا لَمْ تَزَلْ تَدُورُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه احمد.

پېښې ذکر نبي کریم ﷺ ته وکړل سو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل که هغه د میچني پل نه وای پورته کړی نو تر قیامته پورې به میچن ګرځېدل . احمد

تخریج: مسند الامام احمد ۲\۵۱۳.

د لغاتو حل: نوضعتها: ای هیاتها ونظفتها. سجرته: ای اوقدته.

تشریح: د ذکر سوي واقعې په صورت کې د الله تعالی د قدرت کارنامه څرګنده سوه هغه په حقیقت کې پر فقر او فاقه باندې صبر او د الله تعالی پر ذات باندې کامل اعتماد او توکل کولو نیتجه وه ، څرګنده دې وي چې دا واقعه د تیر امت د یو سړي نه ده بلکه د امت محمدي د یو فرد وه او د رسول الله ﷺ په زمانه کې پېښه سوې وه .

رزق د بنده طلب کوي

﴿۵۰۸۱﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ . رواه أبو نعيم في الحلية.

د حضرت ابودرداء رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل : رزق د بنده داسې طلب کوي لکه څرنګه چې مرګ د انسان طلب کوي . ابو نعیم.

تخریج: رواه ابونعیم في الحلیة۶\۸۶.

تشریح: مطلب دادی چې د رزق او مرګ دواړو رسېدل ضروري دي لکه څرنګه چې ددې خبرې هیڅ حاجت نه وي چې یو سړی خپل په مرګ پسې وګرځي او هغه پیدا کړي بلکه خپله مرګ هغه ته په هر صورت کې او په یقیني توګه راځي همدارنګه د رزق معامله ده چې په هغه پسې د ګرځېدو هیڅ اړتیا نسته بلکه کوم څه چې په مقدر کې لیکلي وي هغه په په هر صورت کې په

لازمي توګه رسيږي که څه هم په هغه پسي ونګرځي يانه ، ، مګر ددې مطلب دا هيڅکله نه دى چي د ګرځېدو په صورت کي رزق نه ترلاسه کيږي بلکه حقيقت دادى چي د رزق د حصول لپاره هڅه او پلټنه کول هم د تقدير الهي او نظام قدرت مطابق دى ، مګر کوم چي د قلبي اعتماد او باور تعلق دى هغه يوازي د الله ﷻ پر ذات کېدل پکار دي چي د رزق ضامن الله ﷻ دى ، همدارنګه که چيري د رزق په تر لاسه کېدو کي ځنډ او خنډ رامنځته سي نو د اضطراب او بې قرارۍ څرګندونه کول پکار نه دي او بيا ددغه عقيدې سره د خپل ضرورت او حاجت مطابق په معتدله او مناسبه طريقه د رزق د تر لاسه کولو پلټنه کول پکار دي چي اصلي رازق الله ﷻ دى مګر دا هم د عبوديت طريقه ده چي د خپل رزق تر لاسه کولو لپاره مناسبه هڅه او پلټنه وکړل سي.

ملا علي قاري رحمه الله د حديث په خاتمه کي ليکلي دي چي څرنګه انسان ته د هغه مرګ رسېدل يقيني دي همدارنګه د هغه رزق رسيدل هم يقينيني دي بلکه انسان ته د هغه رزق د مرګ څخه هم مخکي او ژر رسيږي ځکه چي کله د چا مرګ راځي نو هغه خپل رزق د هغه څخه هم مخکي تر لاسه کوي چي هغه خپل مقدر کي اخيستى وي ، که فکر وکړل سي نو د الله تعالى ددغه آيت کريمه :

(اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ)

څخه دا خبره ثابتيږي ، او ميرک رحمه الله د منذري رحمه الله څخه نقل کړي دي چي دا حديث ابن ماجه په خپل صحيح کي او بزار هم روايت کړى دى او طبراني هم په غوره سند سره نقل کړى دى چي د هغه الفاظ دادى : (ان الرزق ليطلب العبد اكثر مما يطلبه اجله) ، ددې څخه هم د ذکر سوي خبري تائيد کيږي.

ملا علي قاري رحمه الله دا هم ليکلي دي چي ابونعيم په خپل کتاب (حليه) کي مرفوعا دا خبره نقل کړې ده : (لو ان ابن ادم هرب من رزقه كما يهرب من الموت لادركه رزقه كما يدركه الموت) : که انسان د خپل رزق څخه داسي تښتي لکه څرنګه چي هغه د خپل مرګ څخه تښتي نو يقينا د هغه رزق به هم هغه داسي تر لاسه کوي لکه څرنګه چي د هغه مرګ هغه تر لاسه کوي.

د نبي ﷺ بې مثاله صبر

﴿۵۰۸۲﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْكِي نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ ضَرَبَهُ قَوْمُهُ فَأَدْمَوْهُ وَهُوَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ

وَجْهِهِ وَيَقُولُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ. متفق عليه.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ګويا زه اوس هم نبي کريم ﷺ ته ګورم چي هغوئ د يو نبي پېښنه بيانوي د هغه نبي ذکر چي خپل قوم ووهي په وينو يې رنګ کړ، هغه نبي به د خپل مخ څخه وينه وچول او ويل به يې اې الله ! زما قوم و بخښې دوئ زما د حقيقت څخه ناخبر دي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥١٤، رقم: ٣٤٧٧، ومسلم ٣\١٤١٧، رقم: ١٠٥- ١٧٩٢.

تشريح: لکه زه چي هغه وينم: ددې په ذريعه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا څرګنده کړه چي د رسول الله ﷺ ذکر سوې قصه بيانول ما ته په ياد دي او دا وخت هم د هغه وخت منظر زما د سترګو په مخکي دي.

زما قوم وبخښې، يعني دغه خلکو ته په دې معنى کي معافي وکړې چي دوئ زما سره کوم چلن کړى دى او کوم تکليف را رسولى دى د هغه په وجه دوئ په دغه دنيا کي په عذاب کي اخته مه کړې او نوم يې ورک مه کړې دا وضاحت ځکه ضروري دى چي د کفارو د بخښني او مغفرت دعاء په دې معنى کي هيڅکله جائز نه ده چي د هغوئ شرک او کفر معاف کړل سي او که هغوئ خپل کفر او شرک سره مړه سي نو د آخرت په عذاب کي اخته نسي دا خلک زما د حقيقت څخه خبر نه دي دغه الفاظ د هغه نبي د کمال او صبر، حلم او حسن اخلاق مظهر دى چي کوم خلک هغه ته سخت تکليف رسوي چي هغوئ په وينو رنګ کړى دى او کوم خلک چي خپل نبي ته په اذيت رسولو سره تر ټولو لويه ګناه کوي د هغه خلکو له خوا هغه نبي د الله تعالى په دربار کي دا عذر بيانوي چي دغه خلکو څه کړي دي محض په دې وجه يې کړي دي چي د الله تعالى او رسول په باره کي د دوئ پر زړه او دماغ باندي د جهل پردې پرتې وي، ددې څخه دا خبره معلومه سوه چي د خپل ناپوهۍ په وجه کيدونکې ګناه د هغه ګناه په نسبت سپکه وي کوم چي د علم او پوهي سربېره وکړل سي ځکه فرمايل سوي دي چي: (ويل للجاهل مرة وويل للعالم سبع مرات) د جاهل لپاره يوه رسوايي او خرابي ده او د عالم لپاره اووه رسوايي او خرابۍ دي.

شيخ ابن حجر عسقلاني فرمايي: زه دا نسم بنودلاى چي په حديث کي د کوم نبي ذکر دى، او د هغه سره څه قصه پېښنه سوې ده مګر په ځينو روايتو کي راغلي دي چي د حضرت نوح عليه السلام سره دا چلن سوى دى چي هغه خلک يې د هدايت لار ته بلل او د الله تعالى د حکم د اتباع تلقين يې کوى نو بدبختو به هغه وهى او دومره به يې وهى چي بدن به يې په وينو رنګ سو، د

زخمونو څخه به پر مخکه ولوېدی او په هغه حالت کي به تر ډېره وخته پوري پر مخکه پروت وو یا چي به یې توان پیدا سو نو ولاړ به سو او د دعوت په دنده کي به بوخت سو، ځیني حضرات وایي چي د هغه نبي څخه د رسول الله ﷺ ذات مبارک مراد وو چي رسول الله ﷺ خپله واقعه د اجمال او ابهام په توګه بیان کړل د غه قول زیات صحیح دی او د جنګ احد پر موقع د رسول الله ﷺ د مخالفینو په حق کي چي کومه دعاء وفرمایه د هغه د غه الفاظ منقول دي.

==========

بَابُ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ (د ریا او شهرت بیان)

ریاء د رویت څخه مشتق دی او په صراح کي لیکلي دي چي د ریاء معنی ده خپل ځان د خلکو په نظر کي ښه وړاندي کول او په عین العلم کي لیکلي دي چي د ریاء مطلب دادی چي د خپل عبادت او نیکۍ رعب اچول او د هغه په ذریعه د خلکو په نظر کي خپل قدر او عزت غوښتل، ددې څخه معلومه سوه چي د ریاء تعلق په خاصه توګه د هغه شیانو سره وي چي د عبادت او نیکۍ ظاهري عمل ورته وایي او کوم شیان چي د عبادت څخه نه وي لکه د مال زیاتوالي د علم او ذهانت اشعار په یادول، او دنشي ویشتلو مهارت او داسي نور، نو په هغه کي د ښوونې لپاره کیدونکي کار ته ریاء نه ویل کیږي بلکه هغه ته افتخار ویل کیږي، همدارنګه د نیکۍ او عبادت ظاهري اعمالو کي هم که چیري په دغه صورت کي خلکو ته د ښوونې لپاره وکړل سي کله چي د هغه مقصد د عزت طلب نه وي لکه څرنګه چي بعضو مشائخو خپلو مریدانو ته د تلقین او تعلیم، د خلکو زړونه نیک اعمالو ته مائل کولو او هغوئ اتباع او پیروي ته راغب کولو ځیني اعمال داسي کوي چي خلک هغوئ ووینی نو دې ته هم د حقیقت په اعتبار ریاء نه ویل کیږي که څه هم په ظاهر کي د هغوئ د غه عمل د ریا معلومیږي په دې وجه دا ویل سوي دي : (ریاء الصدیقین خیر من اخلاص المریدین) یعني د مشائخو او بزرګانو ریاء د مریدانو تر اخلاص غوره دی.

دا خبره باید په ذهن کي وي چي ریاء په اصل کي د هغه شي نوم دی چي د یو سړي په ذات کي واقعتا یو صفت او کمال وي او د هغه خپل د غه واقعي وصف او کمال د خلکو په مخکي ظاهر کړي او دا خواهش لري چي خلک یې په دغه وصف او کمال و پېژني چي د هغوئ په نظر کي قدر او عزت تر لاسه کړي، نو کوم څوک چي داسي وصف او کمال ځان ته په منسوب کولو

سره پر خلکو ظاهر کړي چې په حقیقت کې د هغه په ذات کې نسته نو دې ته به ریاء نه بلکه خالص کذب او منافقت ویل کیږي پر دې باندې په قیاس کولو سره دا ویل سوي دي چې غیبت د هغه شي نوم دی چې په یو سړي پسې د هغه تر شا هغه عیب ولګول سوي دي چې په حقیقت کې د هغه په ذات کې موجود وي او که هغه ته په منسوب کولو سره داسې عیب بیان کړل سي چې د حقیقت په اعتبار د هغه په ذات کې نه وي نو دې ته افتراء او بهتان ویل کیږي.

د رِیاء ډولونه

د ریاء (ځان ښوونې) مختلف ډولونه او صورتونه دي او په دغه ډولو کې تر ټولو زیات خراب او د ډېر نفرت وړ هغه ډول دی چې په هغه کې د الله تعالی د عبادت قصد او د حصول ثواب اراده قطعا نه وي بلکه واحد مقصد خلکو ته ښوونه او د هغوئ په نظر کې قدر تر لاسه کول وي لکه څرنګه چې د خاص ریاکارو طریقه وي چې کله د خلکو په منځ کې وي نو لمونځ کوي او مختلف ډول وظیفې او ذکر کې بوخت وي مګر کله چې یوازې وي نو نه د لمانځه سره کار لري او نه د وظیفو او ذکر سره بلکه ددغه بدبخته دا حالت وي چې هغه د خلکو سره په لمانځه کې بېله پاکۍ او بې اودسه دریږي د ریا دغه ډول تر ټولو بد دی او د الله تعالی د سخت قهر او غضب نازلېدو باعث دی او په دغه صورت کې کېدونکې هر عمل باطل دی بلکه ځینو حضراتو دا ویلي دي که چیرې هغه عمل فرض وي نو د هغه کول د فرض ادا کولو په حکم کې نه کیږي بلکه د هغه قضاء به واجب وي، دوهم ډول هغه صورت دی چې په هغه کې په یو نیک عمل کولو کې دواړه شیان وي یعنې اراده د ثواب هم وي او د ریا (ځان ښوونې) نیت هم وي مګر د ریاء اړخ غالب او د ثواب اړخ ضعیف وي په دې توګه که چیرې هغه عمل کونکی یوازې وي نو هغه عمل به نه کوی او د هغه قصد به د هغه عمل د صادرېدو باعث نه کېدی او که چیرې د هغه عمل ثواب هیڅ نه وي نو هم محض د ریاء کارۍ جذبه د هغه عمل اختیارولو باعث جوړېده، ددغه ډول هم هغه حکم دی کوم چې د اول ډول حکم دی، دریم ډول هغه صورت دی چې په هغه کې د یو نیک عمل اختیارولو کې دواړه شیان یعنې د ریا جذبه او د ثواب اراده برابر وي په دې توګه که چیرې هغه عمل په هغه دواړو شیانو کې د یو شي څخه خالي وي نو د هغه د اختیارولو څه داعیه به نه پیدا کېدل بلکه هغه عمل ته به رغبت په دغه صورت کې وای کله چې دواړه شیان یو ځای تر لاسه سوي وای ددغه ډول په اړه په ظاهره خو دا معلومیږي چې په دې کې ګټه او تاوان دواړه برابر وي مګر د احادیثو او آثارو څخه دا ثابتیږي چې دغه ډول هم بد دی او په دغه صورت کې کېدونکی عمل به د قبول وړ نه وي.

او څلورم هغه صورت دی چي په هغه کي د يو نيک عمل په اختيارولو کي د ثواب نيت او د الله تعالى د رضا تر لاسه کولو اراده راجح او غالب وي او په ظاهره دا معلوميږي چي دغه ډول نه خو محض باطل دی او نه په دې کي تاوان دی ، يا دا ويل کيدای سي چي ددغه صورت اختيار کېدونکی عمل د نيت او ارادې په اعتبار د ثواب او عتاب دواړو يو ډول باعث کيږي او په اراده او نيت کي چي څومره اخلاص يا عدم اخلاص وي د هغه مطابق به ثواب يا عتاب وي او په دغه صورت کي دا هم کيدای سي چي په قصد عمل کي د ريا چي کوم ګډون دی که چيري هغه د ثواب د ارادې او نيت څخه کم او ضعيف وي ، هغه کله پيدا سوی دی که د ريا کار ګډون د عمل په ابتداء کي سوی دی نو دغه صورت ته بهٔ زيات بد ويل کيږي او که د عمل په منځ کي پيدا سوی وي نو دا صورت به د اول صورت څخه کم بدی حامل وي او که دغه عمل د کولو څخه وروسته راغلی وي نو دا صورت به د دريم صورت څخه هم کم خراب ګرځول کيږي او ددې په وجه اختيارونکي عمل ته به باطل نه ويل کيږي .

ددې څخه پرته يو فرق دا هم بايد په ذهن کي وي چي د ريا هغه جذبه که د پاخه مقصد او عزم په صورت کي ښکاره سوې وي نو په هغه کي به زياته خرابي وي او که محض د يو خيال په صورت کي پيدا سوې وي او د هغه خيال تر حده پوري محدوده وي او مخته هيڅ ونه سي نو دغه صورت حال ته بهٔ يقينا زيات تاواني نسي ويل کيدای .

په هر حال حقيقت دا دی چي رياء يوه داسي جذبه ده چي د هغه څخه په پوره توګه خلاصون ډير مشکل دی او په هر حالت کي د حقيقي اخلاص تر لاسه کول ډير مشکل دي ځکه علماؤ ليکلي دي چي د چا د خولې څخه د خپل تعريف په اوريدو خوشحاله کېدل د رياء علامه ده ، همدا رنګه په يو ازيوالي کي څه عمل کول په وخت کي هم د رياء خيال راسي نو هغه ته بهٔ هم رياء ويل کيږئ الله تعالى دي موږ وساتي او په هر صورت اخلاص دي راکړي چي د هغه د مرستي او توفيق څخه پرته د هغه دولت تر لاسه کول ممکن نه دی .

علماؤ يو خاص صورت او حالت بل هم بيان کړی دی او هغه دا که چيري سړی يو نيک کار وکړي او په يو عبادت او طاعت کي مصروف وي او خلک هغه پر نېک کار او عبادت کولو ووينې نو هغه ته پکار دي چي هغه وخت په ځان کي په هغه خبره د خوشحالۍ جذبات پيدا کړي چي الله تعالى په خپل فضل او کرم سره هغه ته د نيک عمل توفيق ورکړ او د خلکو په نظر کي باعزته کړ چي د ګناهو او عيبو څخه يې پرده پوشي وفرمايل او نيک اعمال او اخلاق يې د هغه ښکاره کړل او د خوشحالۍ دغه جذبات سره دا نيت او قصد وکړي چي زما د نيک عمل په

اظهار سره د دين او طاعت چرچه وي نو خلک به دين ته راغب کيږي او په هغوئ کي به هم د نيکو اعمالو اختيارولو خواهش پيدا سي دا شی نه يوازي دا چي د رياء په حکم کي داخل نه دی بلکه دې ته محمود او مستحسن هم ويل کيږي لکه څرنګه چي په دې سلسله کي وارد سوو احاديثو څخه ثابتيږي.

څرګنده دي وي چي دا مسئله ډېره دقيقه او پېچيده ده او په ځان کي ډېر تفصيل او بحث لري که ددې تحقيق په زيات وضاحت سره غواړئ نو د اهل الله او عارفينو کتابو نه او د هغوئ اقوال او ملفوظاتو څخه لاربښوونه تر لاسه کول پکار دي په خاصه توګه د مشهور کتاب احياء العلوم په دې اړه غوره لاربښوونه کولای سي.

د سُمعَه مطلب : سُمعه د سين په پېښ او د ميم په جزم سره هغه کار ته وايي چي خلکو ته د اورولو ، شهرت تر لاسه کولو لپاره وکړل سي ، په عامه توګه ددغه لفظ استعمال په رياء سره کيږي لکه چي ويل کيږي فلاني سړي دا کار د رياء او سمعه يعني ښووني او اورونې لپاره وکړ، ګويا د رياکار تعلق د حاسه بصر (ښووني) سره وي او د سمعة تعلق د حاسه سمع (اورونې) سره وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

الله ﷻ زړه ته ګوري

﴿۵۰۸۳﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی ستاسو شکلونو او مالونو ته نه ګوري بلکه ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري . مسلم

تخريج : صحيح مسلم: ۱۹۸۷\۴، رقم: ۳۴ - ۲۵۶۴.

د شرک څخه بيزاري

﴿۵۰۸۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي تَرَكْتُهُ

وَشِرْكَهُ وفي رواية فانا منه بريئ هو للذي عمله. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي زه د شرکاء د شرک څخه بې پروا يم (يعني لکه څرنګه چي نور شريکان په شرکت راضي وي دغسي زه راضي نه يم)بلکه زه د شرکت څخه بيزاره يم ، څوک چي عبادت وکړي په هغه کي بل څوک زما سره شريک کړي نو زه هغه او د هغه شرک دواړه پرېږدم ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي زه د هغه سړي څخه بيزاره يم ، هغه سړی يا د هغه عمل د هغه چا لپاره دی چي د چا لپاره يې کړی دی . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲۲۸۹\۴، رقم: ۴۶– ۲۹۸۵.

تشريح: ددغه حديث ظاهري مفهوم دا خبره څرګندوي چي خاص د رياء په جذبه سره کيدونکی عمل باطل دی مګر د هغه عمل سره چي څه فوت سي په هغه کي د رياء اميزش او د هغه دخل وي مګر علماؤ ويلي دي چي دا حکم د هغه عمل په باره کي دی چي د رياء د دوو دولو سره تعلق لري چي يا خو د هغه عمل په اختيارولو کي د ثواب نيت نه وي يا د ثواب نيت خو وي مګر د رياء قصد پر هغه نيت غالب وي او دا هم ويل کيدای سي چي ددغه حديث اصل مقصد د الله تعالى لپاره د کيدونکي عمل د رياء د ګډون او د هغه د دخل څخه پاک ساتلو لوی اهميت بيانول او د هغه د امر څخه لاپرواهي اختيارونکو ته زيات خبرداری ورکول دی .

د ريا لپاره عمل

﴿۵۰۸۵﴾: وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللّٰهُ بِهِ وَمَنْ يُرَائِيْ يُرَائِيْ اللّٰهُ بِهِ. متفق عليه.

د حضرت جندب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي يو عمل دديې لپاره وکړي چي خلکو ته يې واوروي الله جل جلاله به د هغه عيب مشهور کړي او څوک چي د ريا لپاره بنه کار وکړي نو ريا کارو ته به الله تعالى جزا ورکړي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۳۵، رقم: ۶۴۹۹، ومسلم ۴\۲۲۸۹، رقم: ۴۸– ۲۹۸۷.

تشريح: ځيني حضرات وايي د حديث مطلب دادی چي کوم څوک يو نېک کار محض د شهرت او نامه لپاره کوي نو الله تعالى به په دغه دنيا کي د هغه عيبونه او خراب کارونه د خپل مخلوق په مخکي ظاهر کړي کوم چي هغه يې پټوي او د خلکو په نظر کي به هغه ذليل او رسوا کړي يا

دا چي الله تعالی بهٔ د داسي سړي فاسد نيت او خراب مقصد دنيا والا ته څرګندوي او د قيامت په ورځ به يې هم پر خپل مخلوق باندي څرګند کړي چي دغه سړی مخلص نه وو بلکه رياء کار وو، او ځينو علماؤ دا مراد بيان کړی دی چي کوم څوک خپل عمل خلکو ته ښيي نو الله تعالی بهٔ د قيامت په ورځ د هغه د نيک عمل ثواب يوازي هغه ته وښيي او ورکوي به يې نه، چي هغه افسوس زده پاته سي، يا دا مراد دی چي کوم څوک خپل دغه نيک عمل خلکو ته ښيي نو الله تعالی به د هغه د نيت مطابق د هغه عمل خلکو ته وښيي او ګويا د هغه عمل به هغه اجر او ثواب وي چي هغه ته په دنيا کي ورکړل سي او دآخرت د اجر او ثواب څخه به قطعا محروم وي.

ښه کار خپله ښکاره کيږي

﴿۵۰۸۶﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنَ الْخَيْرِ وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ وفي رواية ويحبه الناس عليه قَالَ تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ. رواه مسلم.

د حضرت ابو ذر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د هغه سړي په اړه ستاسو څه خيال دئ چي نيک کار کوي او خلک د هغه د کارونو تعريف کوي، او په يوه روايت کي د االفاظ دي چي خلک د هغه سره مينه کوي (ايا د هغه دا عمل ثواب لري) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل (دا تعريف کول) سمدستي زيری دی. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴/۲۰۳۴، رقم: ۱۶۶- ۲۶۴۲.

تشريح: د ژر تر لاسه کونکي زيری مطلب دادی چي يو سعادت او زيری خو هغه دی چي پاته دی او په آخرت کي بهٔ تر لاسه کيږي او يو سعادت او زيری دادی چي ژر يعني په دنيا کي به ورته تر لاسه سي، خلاصه دا چي هغه سړی د خپل عمل اصل ثواب په اخرت کي تر لاسه کولو څخه مخکي يو بل اجر او ثواب په دغه دنيا کي هم تر لاسه کوي چي خلک د هغه تعريف او توصيف کوي او خپل محبوب زړه او نظر يې جوړ کړ او د هغه په حق کي خلکو ته دا معامله ګويا ددې خبري زيری وي چي د هغه هغه عمل مقبول سو او هغه به په آخرت کي اجر او ثواب تر لاسه کوي

په هر حال رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذريعه دا څرګنده کړه چي د هغه سړي هغه عمل چي د هغه په وجه هغه د دنيا والاو په نظر قابل احترام او محبوب جوړ سوی دی رياء به ورته نه ويل

کيږي ځکه چي هغه ته د عزت او احترام او محبت په تر لاسه کولو کي د هغه د خپل قصد او اراده څه دخل نسته چي د هغه مطلب دادی چي هغه عمل اختيارولو کي د هغه نيت او د هغه قصد او اراده د الله تعالی درضا او ثواب اخرت څخه پرته بل هيڅ نه وه دا خو محض د الله تعالی فضل او کرم چي هغه سړی ته په دنيا کي هم د ذکر سوي سعادت په صورت کي اجر او ثواب ورکړي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د شرک او ريا په باره کي وعيد

﴿۵۰۸۷﴾: عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ بْنِ اَبِيْ فُضَالَةَ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد بن ابو فضاله رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

قَالَ إِذَا جَمَعَ اللّٰهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ نَادَى مُنَادٍ مَنْ كَانَ

د قيامت په ورځ چي الله جل جلاله خلک يو ځای کړي او دا ورځ داسي ورځ ده چي د هغه په راتلو کي هيڅ شک نه سته نو اعلان کونکی به اعلان وکړي چا چي په خپل هغه عمل کي چي هغه د الله

أَشْرَكَ فِي عَمَلٍ عَمِلَهُ لِلّٰهِ أَحَدًا فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهُ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ. رواه احمد.

جل جلاله لپاره کړی وي د الله جل جلاله څخه پرته بل څوک شريک کړی وي نو هغه ته پکار ده چي هغه د خپل هغه عمل ثواب د هغه شريک څخه وغواړي ځکه چي الله تعالی د شريکانو د شرک څخه بيزاره دی. احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ۳\۴۶۶.

تشريح: طيبي رحمة الله عليه وايي: په ليوم کي د لام حرف د جمع سره متعلق دی چي د هغه معنی ده کله چي الله تعالی ټول خلک د هغه ورځي لپاره جمع کړي چي د هغه راتلل يقيني دي او د هغه ورځي په راتلو کي هيڅ شک او شبه نسته او دا جمع کول به ددې لپاره وي چي هر يو ته د هغه شي مطابق جزاء او سزا ورکړي چي هغه په دنيا کي اختيار کړي وه په دې اعتبار د يوم القيامة مابعد الفاظ د تمهيد په توګه دي خو دا جمع ته هم ګرځول کيدای سي او ددې تائيد ددغه

روايت مطابق الفاظو څخه هم كيږي كوم چي په استيعاب كي نقل سو يدي : (اذا كان يوم القيامة يجمع الله الاولين والاخرين ليوم لاريب فيه ...الخ) په دغه صورت كي د ليوم لفظ به داسي مظهر كړل سي چي د مضمر پر ځاى واقع سوى وي او دا مفهوم ظاهر وي چي جمع الله الخلق يوم القيامة ليجزيهم فيه، يعني الله تعالى به د قيامت په ورځ ټول مخلوق جمع كړي چي په هغه ورځ ټولو ته جزاء او سزاء وركړي.

د رياكارۍ بدوالى

﴿۵۰۸۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ سَمَّعَ النَّاسَ بِعَمَلِهِ سَمَّعَ اللهُ بِهِ أَسَامِعَ خَلْقِهِ وَحَقَّرَهُ وَصَغَّرَهُ.

رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي ځوک چي خپل عمل ته شهرت وركړي (يعني خلكو ته يې وښيي) الله تعالى به د هغه د ريا عمل د خپل مخلوق غوږو ته ورسوي او هغه به ذليل او رسوا كړي. بيهقي

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۵/۳۳۱، رقم: ۶۸۲۲.

د لغاتو حل: اسامع: اى آذانهم (غوږونه)

د نيت اخلاص او عدم اخلاص

﴿۵۰۸۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د كوم سړي نيت چي د آخرت

الْآخِرَةِ جَعَلَ اللهُ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ

طلب وي الله تعالى هغه ته د زړه غنا وركوي د هغه پريشانۍ يو ځاى كړي او د زړه اطمينان وركړي، دنيا هغه ته راځي او هغه دنيا ذليله او خواره ګڼي

وَمَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الدُّنْيَا جَعَلَ اللهُ الفقر بَيْنَ عَيْنَيْهِ وَ شَتَّتَ عَلَيْهِ أَمْرَهُ وَلاَ يَأْتِيْهِ مِنْهَا اِلاَّ مَا كُتِبَ لَهُ. رواه الترمذي ورواه احمد والدارمي عن

ابان عن زيد بن ثابت.

او د چا نيت چي د نيا تر لاسه کول وي نو فقر د هغه په سترګو کي وي او دده کارونه به پاشلي وي او دنيا هغه ته دومره اندازه تر لاسه کيږي څومره چي الله تعالی د هغه لپاره تاکلې وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۵۴، رقم: ۲۴۶۵، ومسند الامام احمد ۵\۱۸۳.

تشريح: مطلب دادی چي د اعمالو نتائج او آثار مرتب کېدو دار او مدار پر نيت باندي دی او د کوم چا مقصد چي يوازي د آخرت مفاد وي او د خپل اعمال په اړه مخلص او صادق وي هغه د آخرت د سعادتونو او نعمتونو مستحق خو وي مګر په دغه دنيا کي هم هغه ته خپل ټول معاملات په ژوند کي اطمينان او عافيت تر لاسه کيږي او هغه ته د هغه رزق په ډېره اساني سره تر لاسه کيږي، ددې پر خلاف کوم څوک چي محض د دنيا طلب او عزت غواړي او خپل اعمال وسيله آخرت جوړولو پر ځای دنياوي مال او دنياوي نعمتونو وسيله ذريعه جوړوي هغه ته په اخرت کي خو به د هغه سزا ورکول کيږي مګر په دغه دنيا کي هم پر هغه دا ابدي عذاب وي چي هغه د اطمينان او سکون څخه محروم کيږئ هر وخت په ډول ډول پريشانيو او مختلفو فکرو کي سرګردان وي او هغه ته هغه رزق خامخا رسيږي کوم چي د هغه په مقدر کي دی مګر د هغه د حصول لپاره هم هغه ته سخت محنت او مشقت کول وي.

د اخروي مقصد لپاره ښه عمل

﴿۵۰۹۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ بَيْنَا أَنَا فِيْ بَيْتِيْ فِيْ مُصَلاَّيَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما وويل اې د الله رسوله! زه په خپل کور کي پر

إِذْ دَخَلَ عَلَيَّ رَجُلٌ فَأَعْجَبَنِيَ الْحَالُ الَّتِيْ رَآنِيْ عَلَيْهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

مصلا (جانماز) وم چي ما ته يو سړی راغلی او ددې په ليدو سره زه خوشحاله سوم چي هغه سړي زه پر لمانځه کولو وليدم (نو زما دا خوښي ريا ده که يا؟) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَكَ اللهُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ لَكَ أَجْرَانِ أَجْرُ السِّرِّ وَأَجْرُ الْعَلاَنِيَةِ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

ابوهريره! الله جل جلاله دي پر تا رحم وکړي تا ته به دوه برابر ثواب درکول کيږي يو په پټه توګه

دلمانځه کولو او دويم د لمانځه د اجر څرګندولو .. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۱۲، رقم: ۲۳۸۴.

تشريح: په ډرګنده دا معلوميږي چي حضرت ابوهريره رضي الله عنه په دې خبره خوشحاله سو چي هغه سړي هغه د لمانځه په حالت کي ولېدی نو د هغه سبب د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دا پاکه جذبه وه چي زما پر لمانځه کولو باندي په لېدو سره په هغه کي هم د هغه وخت د لمانځه تعلق زما د اتباع پيدا سي او هغه سړی به هم داسي لمونځ پېل کړي لکه څرنګه چي يې زه کوم يا د خوشحالی سبب دا وو چي د هغه د لمانځه حالت د هغه سړي تعلق د نيکی د لاري د اظهار او اعلان باعث سو او هغه سړي ته د هغه وخت لمانځه ته د راغب کېدو ذريعه سوه او څرنګه چي فرمايل سوي دي : (من سن سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها) ، کيدای سي هغه ته به دا توقع پيدا سوې وي چي کله چي دغه سړي لمونځ وکړي نو دهغه دلمانځه ثواب به ما ته هم تر لاسه سي مګر صحيح خبره داده چي دلته د حضرت ابوهريره رضي الله عنه خوشحاله کېدل د هغه طبعي خواهش د تکميل په اړه وو کوم چي د شريعت په نظر کي هم غوره دی يعني د هر انسان دا طبعي خواهش وي چي څوک يې ويني نو په ښه حالت کي وي، هيڅوک دا نه خوښوي چي هغه په خراب حالت کي ولېدل سي او څرګنده ده چي ددغه طبعي خواهش بنياد پر رياء او سمعه باندي نه وي بلکه د قلب سليم پر تقاضا او پاکی باندي وي نو دا خبره د ارشاد نبوي عين مطابق ده چي (من سرته حسنته و سائته سيئته فهو مؤمن) ،

او د الله تعالى ارشاد دی : (قل بفضل الله و برحمته فبذلک فليفرحوا هو خير مما يجمعون) نو دمؤمن شان دادی چي هغه د نېکو اعمالو او احوالو د توفيق پر حاصلېدو باندي خوشحاله کيږي لکه څرنګه چي يو غير مؤمن د ډېر زيات دنياوي مال په تر لاسه کېدو باندي خوشحاله کيږي ، يوه خبره دا هم کيدای سي چي د حضرت ابوهريره رضي الله عنه خوشحاله کېدل د هغه احساس د شکر په توګه وي چي دهغه سړي په ذريعه د مسلمانانو په منځ کي په عبادت او توفيق سره متعارف سو او د يو لمونځ کونکي په توګه و پېژندل سو او په هغه خلکو کي د شمېرل کېدو موقع ورپه برخه سوه چي دلمانځه په ډول اهم عبادت او د اسلام تر ټولو لوی رکن قائموي او يو مسلمان په دې خبره شاهد سو ، دغه تفصيل د حديث ددغه الفاظو (اجر السر واجر العلانية) مفهوم ته زيات نژدې دی .

د ریا کونکي دینداره په باره کې

﴿۵۰۹۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په آخره زمانه کې به داسي

رِجَالٌ يَخْتِلُونَ الدُّنْيَا بِالدِّينِ يَلْبَسُونَ لِلنَّاسِ جُلُودَ الضَّأْنِ مِنَ اللِّينِ

خلک پیدا سي چې د دین په ذریعه به د دنیا طلب کوي خلکو ته د ښودلو لپاره به د پسونو د پوست جامې اغوندي یعني د هغوئ جامې به د کمبل په ډول غټې وي

أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ وَقُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الذِّئَابِ يَقُولُ اللّٰهُ أَبِي يَغْتَرُّونَ

د هغوئ ژبې به د بورې څخه زیات خوږې او نرمې وي، مګر د هغوئ زړونه به د شرمښانو د زړونو په ډول وي، الله تعالی د هغوئ په اړه فرمایي ایا دا خلک ما ته دوکه راکوي

أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ فَبِي حَلَفْتُ لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولَئِكَ مِنْهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيمَ

فِيهِم حَيْرَانَ. رواه الترمذي.

یا زما په وخت ورکولو سره مغرور سوي دي زه په خپل قسم خوړلو سره وایم چې زه به پر هغوئ هم د هغوئ څخه بلا او فتنه مسلط کړم (یعني امیران) چې عقلمند او پوه بنده به د هغه د دفع کولو څخه عاجز او حیران پاته سي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\۵۲۲، رقم: ۲۴۰۴.

د لغاتو حل: یختلون: ای یطلبون (غواړي)

تشریح: یختلون: د خاء په جزم او د تاء په زېر سره، مطلب دادی چې هغه خلک به د هغه اعمالو په ذریعه چې د آخرت لپاره کیږي دنیا تر لاسه کوي یا دا چې هغه خلک به د دین په بدله کې دنیا ګټي، دین او اخروي مفاد او مصالح باندي به دنیاوي او مادي مفاد ته ترجیح ورکوي، صحیح معنی داده چې هغه خلک به د دین لباس اغوستلو سره نړېوالو ته دوکه ورکوي په دې توګه چې هغوئ د دنیا ګټلو لپاره خپل ظاهري اعمال او اخلاق داسي څرګندوي چې نړېوال به هغه ریښتوني عابد او زاهد ګڼي او د هغه سره به مینه کوي، او ساده مسلمانان به د هغوئ مریدان او معتقد کېدو سره د هغوئ مراد پوره کوي، دمثال په توګه هغوئ د لمانځه، روژې او نور

عباداتو پابند معلومیږي او د اورادو او ظائفو محفلونه به جوړوي ، خپل شاوخوا به د زهد او تقوا دېوالونه دروي ، غټې جامې به اغوندي، د دینداره کسانو شکل او صورت به اختیاروي او د هغوئ تحریر او تقریر به د دین او آخرت تلقین او تعلیم ، د مسلمانانو کته او همدردي څخه ډک معلومیږي مگر دغه ټول شیان به د صدق او اخلاص څخه خالي د ریاء او سمعه په توګه وي چي د هغه واحد مقصد به د مسلمانانو غولول او راجمع کول وي او یوازي خپل ذاتي ګټې تر لاسه کول به د دوئ مقصد وي .

نو د داسي خلکو د دغه ریاء کاره ژوند پر خلاف دا خبرداری بیان سوی دی چي دوئ دي هیڅکله په غرور کي نه وي چي د دوئ دغه دوکه به تل وي او دوئ به د خپل دغه ریاکارانه ژوند سزا په دغه دنیا کي نه خوري، الله ﷻ په قسم کولو سره فرمایي چي زه پر دغه خلکو باندي خامخا خوند وڅکم ، دوئ دي په یاد ولري چي زما غضب او قهر پر هغه خلکو باندي یقینا نازلیږي او زه به پر دوئ داسي امیران او حاکمان مسلط کړم او د دوئ به داسي خلک او ډلي ودروم چي د دوئ د ژوند کښتۍ په آفاتو او مصیبتو کي اخته کړي ، د دوئ د ریاکارانه ژوند پرده به وشکوم او دوئ به په داسي فتنو کي اخته کړم چي د خلاصون هیڅ لاره به نه وي او دوئ به خپل دغه شان او شوکت ، عزت او منصب ساتني لپاره څومره لاس او پښې وهي ، هغه قدرتي ذلت او رسوایي او د تباهۍ او بربادۍ خلقې به د دوئ چاپېره تنګي کړل سي او لوی لوی پوهان خلک به د هغه آفاتو او مصیبتو څخه د خلاصون ذریعه نسي تر لاسه کولای .

﴿۵۰۹۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تبارك

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله پاک فرمایلي دي ما یو

تَعَالَى قَالَ لَقَدْ خَلَقْتُ خَلْقًا أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السكر وَقُلُوبُهُمْ أَمَرُّ مِنَ

داسي مخلوق پیدا کړی دئ چي د هغوئ ژبي د بورې څخه زیاتي خوږې دي او د هغوئ زړونه د صبر (یو تریخ بوټی) څخه زیات ترخه دي ،

الصَّبِرِ فَبِي حَلَفْتُ لَأُتِيحَنَّهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيمَ فيهم حَيْرَان فَبِي يَغْتَرُّونَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

په خپل قسم خوړلو سره وایم چي زه به پر هغوئ فتنه نازل کړم داسي فتنه چي عقلمند او پوه سړی

به په هغه کي حيران وي، ايا دا خلک ما ته دوکه راکوي يا پر ما جرئت او زړه ورتيا کوي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۲۲، رقم: ۲۴۰۵.

د لغاتو حل: لاتيحنهم: الاناحة بمعنى التقدير، يقال اتاح الله لفلان كذا اى قدره. (مقدر کول)

د ميانه روۍ فضيلت

﴿۵۰۹۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ شِرَّةً وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةً فان صَاحِبُهَا سَدَّدَ وَقَارَبَ فَارْجُوهُ وَإِنْ أُشِيرَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ فَلَا تَعُدُّوهُ. رواه الترمذي

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په هر شي کي حرص او نشاط (خوشحالي) دي او په هري زياتۍ کي سستي ده، نو عمل کونکی که ميانه روي څخه کار واخلي او ميانه روي ته نژدې وو نو د هغه د خلاصون تر لاسه کولو اميد سته او که د هغه په لور په ګوتو سره اشاره وکړل سي نو تاسو هغه (صالح او عابد) مه شميرئ (يعني افراط او تفريط مه کوی بلکه ميانه روي کوئ او د هر چا چي په نيت کي د ځان مشهورتيا وي هغه ناکاره بنده دی). ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۴۸، رقم: ۲۴۵۳.

تشريح: د شرة معنی د نشاط، رغبت او په شوق کي اخته کېدل دي، دلته په حديث کي د دغه لفظ څخه مراد په يو شي کي افراط او په يو کار د حد څخه زيات بوختيا ده، او د فترة معنی د سستۍ او کمزورۍ ده، مطلب دا دی چي کوم عابدان خلک په پيل کي په اطاعت او عبادت کي د حد څخه زيات بوخت وي او وروسته سست او کمزوري سي او د هغه طاعت وغيره کم سي دا خبره په اصولي انداز کي داسي بيانيږي چي يو انسان يو شی اختيارول غواړي او يو کار پېل کوي نو په پيل کي ډېر زيات بوختيا ښيي او دومره په شوق او ذوق بلکه په حرص کي اخته کيږي چي د خپل طاقت څخه زيات محنت او مشقت او د خپل طاقت او ارزښت څخه زيات بوختيا اختياروي او بيا د هغه نتيجه داسي چي وروسته ډېر ژر سست او کمزوری سي او د خپل قصد په لار کي د ستړيا ښکار سي، که يو عابد او زاهد په خپلو اعمالو او اشغالو کي ميانه روي اختيار کړي او د افراط او تفريط د لاري څخه په ساتني د اعتدال پر لار چي هغه ته صراط

مستقيم ويل کيږي روان سي نو دهغه په اړه اميد کيداى سي چي د هغه خلکو څخه وي کوم چي په کامله توګه مراد تر لاسه کونکي دي مګر که چيري هغه د افراط پر لار روان سو او هغه په خپل عبادت ، طاعت او ديني اعمالو کي دې حد ته ورسيدى چي خپل ديني ژوند يې داسي وښودى چي هغه په عابد او زاهد سره مشهور سو او خلکو د هغه عبادت ، زهد او تقوا ته اشاره کول پيل کړل نو هغه ته توجه کول نه دي پکار او هغه نېک او صالح ګڼل نه دي پکار .

څرګنده دي وي چي د فارجوه او ولاتعدوه په ذريعه دغه دواړه ډوله خلک عافيت ته يو مبهم اشاره مقصد ده ځکه چي د يو سړي د اخروي انجام حقيقي علم يوازي الله تعالى ته کيداى سي او د هغه په اړه يو انسان اخروي فيصله نسي کولاى نو د مذکوره الفاظو په ذريعه دا حديث يوازي دا ښودل غواړي چي کوم څوک دميانه روۍ لار اختياروي او صحيح عمل کوي او د سيده لاري څخه نه آخوا کيږي نو په ظاهره دا اميد درلودل پکار دي چي د هغه عاقبت ښه سو او هغه به خلاصون تر لاسه کړي او که هغه داسي ونه کړي بلکه د افراط او تفريط پر لاره ځي او د دوکه بازۍ طريقه خپلوي نو په ظاهر کي هغه کامياب مه ګڼئ او د هغه شمېر په مخلصو ديندارو کي مه کوئ، پاته سوه د عاقبت خبره نو هلته انجام په دواړو صورتو کي غير واضح دى الله تعالى ښه پوهيږي چي خاتمه به په کوم حالت کي وي او آخرت کي به څه معامله وي .

حکم مستوري و هستي همه بر خاتمه است کس ندانست که آخر بچه حالت ګزرد

که څه هم د عاقبت په اړه دا اميد ساتل پکار دي چي د الله تعالى رحمت کوم چا ته د اطاعت او عبادت توفيق بخښلى دى او پر مستقيم لاره باندي روان کړى دى د هغه عاقبت بهٔ خامخا ښه وي او د هغه خاتمه به يقينا پر ايمان او اخلاص باندي وي دهغه د رحمت کامله دا دستور دى چي نېکان پر خرابه لاره ډېر کم روانوي ، اکثر داسي کيږي چي بدکاره هم په پاى کي د نيکۍ خوا ته راوستل کيږي .

ډېر شهرت خطر لري

﴿۵۰۹۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بِحَسْبِ امْرِئٍ مِّنَ الشَّرِ أَنْ يُشَارَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ فِيْ دِيْنٍ أَوْ دُنْيَا إِلاَّ مَنْ عَصِمَهُ اللهُ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان د بدۍ لپاره دومره

بس ده چي په دين او دنيا كي هر لوري ته په ګوتو سره ده ته اشاره وكړل سي پرته د هغه سړي څخه چي الله تعالى د دغه څخه خوندي كړى دى . بيهقي .

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ٥\٣٦٧، رقم: ٦٩٧٨.

تشريح: په دنياوي اعتبار سره مشهور كېدل خو ظاهر دي چي په آفتونو او فتنو كي د اخته كېدو او ايماني امن او سلامتيا د لاري څخه د لوېدو سبب دى مګر كه چيري يو سړى د خپل ژوند په اعتبار معروف وي نو هغه هم د خطري څخه خالي نه دى ځكه چي په دغه صورت كي د هغه د رياء كار كېدو ګمان كيداى سي او كيداى سي چي هغه د دغه شهرت په وجه د خپل قيادت او پيشوايي په طلب كي اخته سي او دا آرزو وكړي چي خلك هغه پېشوا او د خپل عقيدت او احترام مركز جوړ كړي او همدارنګه هغه د شيطان په لمسون او د نفس اماره د غلولو په وجه د هغه نفساني خواهشاتو په اتباع كي اخته كيدايسي چي د داسي موقعو په انتظار كي اوسيږي نو داسي بندګان كم وي چي هغوئ ته عوامي شهرت او ناموري حاصله سوې وي او هغوئ ددې په نيتجه كي د پيدا سوو خرابيو څخه خوندي سي مګر هغه بندګان خاص دي چي الله تعالى هغوئ خپل مقرب او محبوب جوړوي او هغوئ د صديقيت پر مقام فائزوي هغوئ د ټول عالم شهرت سربېره د دغه خرابيو څخه خوندي وي او د هغه وجه دا وي چي هغوئ پر دغه لوړه مرتبه باندي هغه وخت فائز كيږي كله چي د هغوئ د ظاهر او باطن څخه ټولي خرابۍ ختمي سوي وي او د هغوئ نفس په پوره توګه پاك سوى وي لكه څرنګه چي مشائخ وايي: (آخرما يخرج من راس الصديقين حب الجاه) . نو د انسان غوره والى په دې كي دى او د ايمان او كردار سلامتيا او ساتني په هغه صورت كي زياته ده كله چي هغه د يوازيوالي ژوند ته د شهرت پر ژوند ترجيح وركړي مګر دا چي الله تعالى يو څوك خوندي وساتي ، د حديث د دغه جملې څخه داخبره څرګنديږي چي د شهرت تاوان او د خرابۍ باعث كېدل د هغه لپاره دي چي د هغه پر ظاهر او باطن باندي د عزت ، اقتدار او شهرت خواهش وي صحيح بندګان د دغه خواهش څخه خوندي وي او د خپل ظاهر او باطن په اعتبار مخلص او پاك وي هغوئ د دې خبري څخه مستثنى وي ځكه چي عوامي مقبوليت او شهرت بذات خود خراب شى نه دى بلكه د الله تعالى هغه نعمتونه دي چي خپل هغه پاكو بندګانو ته يې وركوي كوم چي د دغه شيانو اهل او مستحق وي او د هغوئ په اړه هغه شيان د فتنې او خرابۍ باعث نه جوړيږي لكه څرنګه چي الله ﷻ په قرآن كريم كي د خپلو بندګانو خاص نسبت داسي فرمايلى دى چي : (واجعلنا للمتقين اماما) .

نقل سوي دي چي د حضرت حسن بصري رحمة الله عليه د بې پايه شهرت او مقبوليت په لېدو سره يو سړي هغه ته وويل چي ته خو په خلكو كي دومره مشهور سوى يې او حال دا دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چي (بحسب امرئ من الشر ...الخ)، حضرت حسن بصري رحمة الله عليه جواب وركړ چي ددغه ارشاد تعلق د هغه چا سره دى چي د دين په اعتبار بدعتي او د دنيا په اعتبار فاسق وي يعني كوم څوك چي په دنيا كي شتمني او مال لري او د هغه شمتني او دولت په وجه مشهور او معروف وي مګر په فسق او فجور كي اخته نه وي او د دين په اعتبار د كتاب او سنت پيروي كوي نو هغه سړى په دغه حكم كي داخل نه دى چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم ددغه ارشاد څخه څرګنديږي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د ريا د عمل بدوالى

﴿۵۰۹۵﴾: عَنْ أَبِي تَمِيمَةَ قَالَ شَهِدْتُ صَفْوَانَ وَأَصْحَابَهُ وَجُنْدَبٌ يُوصِيهِمْ

د حضرت ابو تميمه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي زه صفوان او د هغه ملګرو ته حاضر سوم دغه وخت جندب هغوئ ته وصيت كوى ،

فَقَالُوا هَلْ سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَالَ سمعت

دوئ وويل : ايا تا د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يو خبره اوريدلې ده ، جندب رضي الله عنه وويل : هو ما د رسول

رسول الله صلى الله عليه وسلم يَقُولُ مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

الله صلى الله عليه وسلم څخه دا اوريدلي دي چي څوك واوروي (يعني نيک اعمال د شهرت وركولو لپاره) نو الله تعالى به يې د قيامت په ورځ رسوا كړي

وَمَنْ شاق شق اللَّهُ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالُوا أَوْصِنَا فَقَالَ إِنَّ أَوَّلَ مَا يُنْتِنُ

او څوک چي پر خپل ځان مشقت واچوي نو د قيامت په ورځ به الله تعالى هغه په تكليف كي واچوي ، خلكو ورته وويل موږ ته نصيحت وكړه هغه ورته وويل : تر ټولو لومړى شى چي

مِنَ الْإِنْسَانِ بَطْنُهُ فَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يَأْكُلَ إِلَّا طَيِّبًا فَلْيَفْعَلْ وَمَنِ اسْتَطَاعَ

انسان مردار (چتمل) کوي او خرابوي يې د هغه نس دئ نو څوک چې قدرت لري چې حلال مال وکتي هغه دي داسي وکړي او څوک چې ددې توان لري چې

أَنْ لَا يحول بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجَنَّةِ ملْءِ كَفٍّ مِنْ دَمٍ أَهْرَاقَهُ فَلْيَفْعَلْ . رواه البخاري

د هغه او جنت په منځ کي پرده نه وي نو په ناحقه دي يو ورغوی قدر وينه هم نه تويوي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۲۸، رقم: ۷۱۵۲.

تشريح: د حديث د آخري خبرو مطلب دادی چي ناحقه وينه تويول يو داسي شی دی چي د هغه زياتېدل خو څه چي د يو څاڅکي په اندازه وينه هم وي نو د جنت څخه منع کونکی دی، نو دا خبره د عقل او پوهي څخه ليري ده چي داسي خراب او بد فعل دي وکړل سي چي نه يوازي د انسانيت خلاف وي بلکه په جنت کي د داخلېدو په دول عظيم او لوی سعادت څخه محروم کونکی هم وي.

په ظاهره دا معلومېږي چي د حضرت صفوان څخه مراد صفوان ابن سليم زهري دی چي دمديني منورې يو جليل القدر تابعي وو او دهغه شخصيت، علم او معرفت ، عمل ، زهد او تقوا يوه مثالي نمونه وه ، ويل کيږي چي هغه تر څلوېښتو کالو پوري خپل اړخ پر مځکه نوو لګولی او د عبادت يې دا حال وو چي د سجدو د زياتوالي په وجه د هغه په تندي کي سوری جوړ سوی وو د هغه په حالاتو کي دا ليکلي دي چي هغه د اميرانو او پاچاهانو څخه هيڅ انعام او اکرام نه قبلوی ، غرض دا چي د هغه ډېر زيات فضائل او مناقب بيانيږي.

ريا د شرک برابره ده

﴿۵۰۹۶﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ خَرَجَ يَوْمًا إِلَى مَسْجِدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه روايت دئ چي يوه ورځ هغه مسجد نبوي ته ورغلئ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قَاعِدًا عِنْدَ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

نو معاذ بن جبل يې د نبي کريم ﷺ د قبر سره ناست وليدئ چي

وَسَلَّمَ يَبْكِي فَقَالَ مَا يُبْكِيكَ قَالَ يُبْكِينِي شَيْءٌ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

دغه وخت يې ژړل، حضرت عمر رضی الله عنه پوښتنه وکړه اې معاذ! په تا څه سوي دي ولي ژاړې؟ معاذ ورته وويل: ما هغه خبره ژړوي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلې ده

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ يَسِيرَ

ما د رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي چي فرمایل یې: لږ

الرِّيَاءِ شِرْكٌ وَ مَنْ عَادَى لِلّٰهِ وَلِيًّا فَقَدْ بَارَزَ اللّٰهَ بِالْمُحَارَبَةِ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

ریا (هم) شرک دئ او څوک چي د الله ﷻ د دوست سره دښمني ساتي نو هغه ګویا د الله ﷻ سره جنګ او مقابله وکړه، الله تعالی

الْأَبْرَارَ الْأَتْقِيَاءَ الْأَخْفِيَاءَ الَّذِينَ إِذَا غَابُوا لَمْ يتفقدوا وَإِنْ حَضَرُوا لَمْ

نیک، پرهیزګاره او مخفي حال (یعني پټ) خلک خوښوي چي کله هغوئ د نظر څخه ورک سي نود هغوئ پوښتنه نه کیږي او کله چي موجود وي نو هغوئ نه بلل کیږي (او که و بلل سي) نو د

يُدْعَوْا وَلَمْ يقربوا قُلُوبُهُمْ مَصَابِيحُ الْهُدَى يَخْرُجُونَ مِنْ كُلِّ غَبْرَاءَ مُظْلِمَةٍ. رواه ابن ماجة والبيهقي في شعب الايمان.

ځان سره نژدې نه کښېنول کیږي د دغه خلکو زړونه د هدایت ډیوې دي او داسي خلک د هر تاریک ځای څخه څرګندیږي (یعني د دغه خلکو د استوګنې ځایونه وران وي او د څراغ لګولو طاقت هم نه لري)، ابن ماجه او بیهقي.

تخریج: سنن ابن ماجه ۲\۱۳۲۰، رقم: ۲۹۸۹، والبیهقي في شعب الایمان ۵\۳۲۸، رقم: ۶۸۱۲.

تشریح: لږ ریاء هم شرک دی، مطلب دادی که چیري ریاء د لږ درجې وي نو هغه هم یو لوی شرک دی یا دا چي لږ ریاء د شرک د ډولو څخه یو ډول دی، او دا شی په انساني فطرت کي داسي په پټه توګه ځای سوی دی چي ښه خلک او د پاخه ایمان والا هم په خپلو اعمالو کي د هغه په دخل نه پوهیږي او ډېر کم خلک د دې څخه محفوظ وي نو حضرت معاذ ﷺ د خپلي ژړا یو سبب خو دا وښودی چي پر ما ډېره خپره ده چي په نامعلومه توګه زما پر اعمالو باندي هم د دغه بدی سایه نه وي، دوهم سبب هغه اولیاء الله ته ایذاء رسول وښودل یعني هغه دا بیان وکړ چي اکثر اولیاء الله د خپل اصلي حیثیت او حقیقت په اعتبار د عام نظرو څخه پټ وي او خپل په ظاهري حالت کي هغوئ د یو ډېري معمولي درجې مسلمان معلومیږي د هغوئ په لېدو سره دا اندازه لګول مشکل وي چي هغوئ پر یو لوړ مقام باندي فائز دي او د الله ﷻ په نظر کي د هغوئ

ځومره لوی حیثیت دی لکه څرنګه چي په یو حدیث قدسي کي الله ﷻ فرمايي: اولیاي تحت قناي لا یعرفهم غيرهم.

څرګنده ده چي هيڅ انسان ددې څخه خالي نه دی چي هغه د یو مسلمان وورور سره کله هم داسي بدزباني ونه کړي چي دګناه باعث وي نو حضرت معاذ ؓ و ښودل چي زه ددې بيري څخه ژاړم چي داسي نه ما له یو مسلمان وورور سره قولا يا فعلا یوه داسي رويه اختيار کړې وي چي د هغه لپاره د اذيت ذريعه جوړه سوې وي او د هغه په وجه ما د الله ﷻ ناراضي اخيستې وي.

د ښکانو څخه مراد هغه خلک دي چي نيکي کوي او د نيکۍ مطلب د الله ﷻ عبادت کول او د هغه د مخلوق سره ښه چلن او احسان کول دي لکه څرنګه چي عارفانو ويلي دي چي د دين دار او مدار الهي احکام ترټولو د احترام وړ ګڼل او د الله ﷻ د مخلوق سره په شفقت او مينه ژوند کول.

د پرهېزګارو څخه مراد هغه خلک دي چي د هر ډول شرک څخه ځان ساتي که هغه شرک جلي وي يا شرک خفي وي، او هر هغه شي څخه پرهيز کوي چي د الله ﷻ او د هغه د رسول له خوا منع او حرام ګرځول سوی دی يا د شريعت په نظر کي ناخوښه وي.

د مخفي خلکو څخه د الله ﷻ هغه پاک بندګان مراد دي چي هغوئ په ظاهري وجه او د هستوګني په اعتبار په ډېر بد حالت کي وي او د معاشرې خلک، دنياداره خلک هغوئ ډېر کمزوري او سپک ګڼي مګر د خپل کردار او اخلاق په اعتبار پر ډېرو لوړو درجو باندي فائز وي يا هغه اهل الله مراد دي چي د دنيادارو د نظر څخه پټ وي او دهغوئ په منځ کي هستوګنه نه لري.

ان الله ...الخ: دغه جمله استيناف ده، ددغه جملې په ذريعه د ولي حقيقت بيانول مقصد دی مخکي خو د نيکۍ، پرهيزګارۍ او اخفاء د صفاتو په ذريعه د اولياء الله حقيقت بيان کړل سو او بيا د دنياوالو د تعلق سره د هغه اولياء درې احوال بيان کړل سو چي کله هغوئ يو خوا ته ولاړ سي او په سفر کي وي نو د يو تقريب او مجلس لپاره د هغوئ پلټنه نه کيږي او هيڅوک د هغوئ انتظار نه کوي، کله چي هغوئ موجود وي نو هغه مجلس او تقريب ته نه بلل کيږي او که هغوئ يو مجلس ته ورسي نو هغوئ ته اهل مجلس نه بلکه خپل نژدې يې هم نه کښېنوي او تر شا يو ځای ليري يې کښېنوي، دا ددغه روايت تفصيل دی چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي: (رب اشعث اغبر لا يعبا به لو اقسم على الله لابره).

يعني ځيني خلک داسي هم وي چي په ظاهره پريشانه او په ګرد لړلي وي او هغوئ ته هيڅوک حيثيت نسي ورکولای مګر د الله تعالى په نزد د هغوئ مرتبه دومره لوړه وي که هغوئ پر الله تعالى باندي په اعتماد کولو سره قسم وکړي نو يقينا الله تعالى د هغوئ قسم رښتيا او

پوره کوي.

د هغوئ زړونه د هدايت مشغلونه وي يعني هغه پاک نفس خلک د هدايت د لارې مشعل وي چې هغوئ د رهبرۍ او پيشوايي اهليت لري او د هغوئ اتباع کول د هدايت د لاري ضمانت دی نو هغوئ دد ې خبرې پوره ور دي چې د هغوئ لحاظ دي وکړل سي او هغوئ دد ې ور دي چې د هغوئ څخه د هدايت د لاري رڼا تر لاسه کړل سي.

تياره د تاريکي مځکي څخه راوځي، دد غه جملې په ذريعه دد غه خلکو د مفلسۍ ژوند او د دوئ خراب حالت ته اشاره سوې ده يعني دغه خلک دومره مفلس وي چې په خپل کور کي د څراغ لګولو لپاره هم هيڅ نه لري.

په دغه حديث کي دا خبرداری دی که چيري يو عالم، صالح او متقي سړی په ظاهري حالت سره خراب وي نو دهغه ظاهري خراب حالت څخه دو که خوړل نه دي پکار او دهغوئ تعظيم او اداب واحترام ترک کولو کي غلطي نه دی پکار ځکه چي د يو چا د ظآهر په لېدو سره څه اندازه لګېدای سي چي دهغه باطن صحيح دی که يا،

خاکساران جهان را بحقارت منګر توچه داني که درين ګرد سواري بآشد

دغه حديث دې ته هم اشاره کوي چي محض فقر، مفلسي او دنياوي بې حيثيتي فضيلت نه دی ترڅو چي د تقوا او پرهيزګارۍ او د باطن نورانيت تر لاسه نه وي، په پای کي دا خبره ښودل ضروري دي چي ولي په اصل کي هغه سړي ته وايي چي متقي او پرهيزګار وي لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمايلي دي: (ان اوليائه الا المتقون) يعني د الله ﷻ ولي هغه خلک وي چي متقي او پرهيزګار وي، په شرح عقائد نسفي کي ليکلي دي چي ولي هغه سړی دی چي د الله تعالی د ذات او صفاتو عرفان لري، د طاعت او عبادت پابند وي، دګناهو څخه پرهېز کوي او د نفساني خوندونو او خواهشاتو څخه ځان ساتي.

صدق او اخلاص

﴿۵۰۹۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا صَلَّى فِي الْعَلَانِيَةِ فَأَحْسَنَ وَصَلَّى فِي السِّرِّ فَأَحْسَنَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ هَذَا عَبْدِي حَقًّا. رواه ابن ماجة.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي بنده په ښکاره

لمونځ کوي نو په بنه ډول يې کوي او کله چې يې پټ کوي نو هم يې په بنه ډول ادا کوي نو الله تعالى فرمايي زما دا بنده رينښتونی دئ. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ١٢\١٤٠۵، رقم: ۴٢٠٠.

د رياکار په باره کې پيشګوئي

﴿۵٠٩٨﴾: وَعَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَكُونُ فِي

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

آخِرِ الزَّمَانِ أَقْوَامٌ إِخْوَانُ الْعَلَانِيَةِ أَعْدَاءُ السَّرِيرَةِ فَقِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ

په آخره زمانه کي به څو قومونه داسي وي چي په ظاهره به دوستان وي مګر په باطن کي به دښمنان وي ، پوښتنه وسول اې دالله رسوله !

وَكَيْفَ يَكُونُ ذٰلِكَ قَالَ ذٰلِكَ بِرَغْبَةِ بَعْضِهِمْ إِلَى بَعْضٍ وَرَهْبَةِ بَعْضِهِمْ من بَعْضٍ. رواه احمد.

دا به څنګه وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : دا به داسي وي چي په هغوئ کي به ځيني د ځينو سره غرض او مقصد ساتي او ځيني د ځينو څخه به په ويره کي وي . احمد.

تخريج: مسند الامام احمد ٥\٢٣٥.

تشريح: مطلب دا دی چي په آخره زمانه کي به په مسلمانانو کي هم داسي خلک کم نه وي چي د خپل دنياوي مقصد او ذاتي مفاد د تکميل لپاره به منافقت او رياء کاري اختيار وي او د صدق او اخلاص څخه به محروم وي نه به د هغوئ پر دوستي باور وي او نه به د هغوئ پر دښمني، د چا سره چي د هغه تعلق وي هغه ته به رغبت او التفات لري او د هغه په حق کي به د دوستي اظهار کوي او که يو غرض او ګټه په منځ کي نه وي نو بېګاره به سي بلکه د غرض او مقصد نه تر لاسه کېدو په صورت کي به پر دښمني او عداوت باندي ملا تړلی سي .

ددې څخه څرګنده سوه چي د شريعت دا حکم دی چي د مسلمانانو دوستي او دښمني يوازې د الله تعالى د رضا لپاره وي او ذکر سوي خلک د دغه مرتبې څخه تېر سوي دي ځکه چي د هغوئ دوستي او دښمني تعلق د الله تعالى د رضا پر ځای د ذاتي مقاصدو او فاسده اغراضو

سره وي حال دا چي هغوئ د خپل مقاصدو سره سم يو فرد يا ډلي ته رغبت او توجه كوي نو د هغوئ په اړه به دوستي او الفت ظاهروي او كله چي په يو وجه هغه فرد يا ډله ناخوښه كړي نو د هغوئ خلاف بغض او عداوت ظاهروي ، نه به دهغوئ د دوستۍ اعتبار وي او نه د دښمنۍ، ځكه چي د هغوي دوستي او عداوت دواړو بنياد د صدق او اخلاق پر ځای د ذاتي مقاصدو، خواهشاتو، ګټي او تاوان باندي وي .

د ريا لپاره لمونځ او روژه شرک دئ

﴿۵۰۹۹﴾: وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ اَوْسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَلَّى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ. رواه احمد.

د حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چا چي د ښوونې (ريا) لپاره لمونځ وكړ نو هغه شرک وكړ او چا چي د ريا لپاره روژه ونيول نو هغه شرک وكړ او چا چي د ريا لپاره خيرات وكړ هغه شرک وكړ، احمد .

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۱۲۶.

تشريح: خلاصه دا چي كوم كار د رياء لپاره وكړل سي هغه د شرک برابر دی كه څه هم شرک خفي ورته وايي ځكه چي د شرک جلي اطلاق علی الاعلان او په ډاكه پر بت پرستۍ باندي وي، يا ته سوه دا خبره چي رياء كاري په كوم اعتبار سره شرک خفي وي، نو پوه سئ چي رياء كونكی كوم كار كوي هغه په صدق او اخلاص سره د الله لپاره نه كوي بلكه د غير الله لپاره يې كوي او كله چي هغه يو نيک عمل د غير الله لپاره وكړي نو ګويا هغه بت پرستي وكړه كه څه هم هغه څرګنده بت پرستي نه وي مګر په پټه توګه د بت پرستۍ برابر ده، لكه څرنګه چي ويل سوي دي: كل ما صدک عن الله فهو صنمک .

ملا علي قاري رحمه الله وايي: دا حديث دې ته اشاره كوي چي د رياء دخل په روژه كي هم كيدای سي ، په دې اعتبار دغه حديث د هغه حضرات خلاف يو دليل دی چي وايي چي د رياء تعلق د روژې سره نسي كيدای او ددې سبب دا بيانوي چي د روژې دار او مدار پر نيت دی د كوم چا نيت چي صحيح نه وي د هه خوراک او څښناک څخه د منع كېدو هيڅ اعتبار نسته او ظاهره ده چي په نيت كي رياء يعني د ښوونې عمل دخل څرنګه كيدای سي مګر زموږ وينا داده

چي په دې کي شک نسته چي په حقيقي معنی کي رياء په روژه کي متصور کيدای نسي مگر دا هم يو حقيقت دی چي ډېره واره رياء د اشتراک په توګه وي يعني دا هم کيږي چي يو سړی د يو نيک کار او عبادت قصد او اراده ددې لپاره وکړي چي د الله تعالی رضا او خوښي ترلاسه کړي مګرد هغه سره د هغه په نيت کي دا خبره هم شامله وي چي د هغه نيک کار او عبادت په ذريعه هغه ته شهرت حاصل سي يا فلانی مقصد پوره سي چي د هغه تعلق د الله تعالی د رضا او خوښي سره نه وي او دا بېله خبره ده چي دواړه مقصدونه برابر وي يا په هغو کي يو غالب وي لکه څرنګه چي د باب په پيل کي په تفصيل سره بيان سوی دی ، څرګنده سوه چي په روژه کي هم د رياء دخل کيدای سي .

﴿۵۱۰۰﴾ : وَعَنْهُ أَنَّهُ بَكَى فَقِيلَ لَهُ مَا يُبْكِيكَ قَالَ شَيْئٌ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ

د حضرت شداد بن اوس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه يوه ورځ زيات وژړل ، پوښتنه ځيني وسول چي ولې ژاړې ؟ هغه وويل

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فَذَكَرْتُهُ فَأَبْكَانِي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

ما ته پر دې خبره ژړا راغلل چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ أَتَخَوَّفُ عَلَى أُمَّتِي الشِّرْكَ وَالشَّهْوَةَ الْخَفِيَّةَ قَالَ قُلْتُ يَا

زه د خپل امت د شرک او مخفي شهواتو څخه ببرېږم ، ما وويل: اې د الله رسوله !

رَسُولَ اللّٰهِ أَتُشْرِكُ أُمَّتُكَ مِنْ بَعْدِكَ قَالَ نَعَمْ أَمَا إِنَّهُمْ لَا يَعْبُدُونَ شَمْسًا

ايا ستاسو څخه وروسته به ستاسو امت شرک کوي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، خبردار! زما امت به د لمر عبادت نه کوي ،

وَلَا قَمَرًا وَلَا حَجَرًا وَلَا وَثَنًا وَلَكِنْ يُرَاءُونَ بِأَعْمَالِهِمْ وَالشَّهْوَةُ الْخَفِيَّةُ أَنْ

د سپوږمۍ عبادت به نه کوي ، د ډبرو (بتانو) عبادت به نه کوي او نه به د بتانو مخته سجده کوي مګر خپل نيک عملونه به خلکو ته ښيي ، او مخفي شهوت دا دی چي

يُصْبِحَ أَحَدُهُمْ صَائِمًا فَتَعْرِضُ لَهُ شَهْوَةٌ مِنْ شَهَوَاتِهِ فَيَتْرُكُ صَوْمَهُ . رواه

احمد والبيهقي في شعب الايمان.

په تاسو کي به څوک سهار کي روژه نيونکی ولاړيږي بيا به د نفسي خواهشاتو څخه يو خواهش ورته وړاندي سي، او هغه به روژه ماته کړي. احمد او بيهقي

تخريج: البيهقي في الشعب ۵\۳۲۳، رقم: ۶۸۳۰.

تشريح: ذكر سوي خواهش ته پټ خواهش په دې اعتبار ويل سوي دي چي هغه د روژې د نيت پر وخت د هغه په باطن کي پټ وو يعني هغه سړي چي د روژې نيت کړی وو هغه وخت هغه په خپل نفس کي دا خواهش پټ کړی وو که چيري نفساني تقاضا راغلل نو روژه به ماتوم.

څرګنده دي وي چي طيبي خو د خواهش مراد خوراک او څښناک ګرځولی دی لکه څرنګه چي بيان سول مګر صحيح خبره داده چي د پټ خواهش څخه مراد په نفساني خواهشاتو کي په خاصه توګه په نادرالوجود خواهش دی چي هر وخت نه پيدا کيږي بلکه پر يو خاص موقع باندي او په يو خاص وخت کي پيدا کيږئ او کله چي هغه خواهش را پورته سي نو هغه وخت د هغه د پوره کولو خواهش په طبعي توګه داسي غالب سي چي د هغه په لار کي ديو شرعي حکم د مخالفت خوف هم بنديز نه جوړيږي لکه څرنګه چي د روژې مثال بيان سوی دی چي الله ﷻ فرمايلي دي: (ولا تبطلوا اعمالكم)، مګر ددغه خواهش د تکميل لپاره روژه ماتونکی دا لحاظ نه ساتي چي زما ددغه فعل په وجه د الله ﷻ د حکم نافرماني کيږي، څرګنده دي وي چي د عبادت او طاعت له ډوله کوم کار پيل کيږي هغه لازميږي او د هغه پوره کول شرعا واجبيږي.

رياكاري د دجال تر فتنې خطرناكه ده

﴿۵۱۰۱﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي موږ د مسيح دجال ذكر كوئ چي رسول الله ﷺ

وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ فَقَالَ أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَا هُوَ أَخْوَفُ عَلَيْكُمْ

تشريف راوړ او وه يې فرمايل: ايا زه تاسو ته يوه بله داسي خبره و نه ښيم چي زما په نزد ستاسو

عِنْدِي مِنَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ فَقُلْنَا بَلَى يا رسول الله قَالَ الشِّرْكُ الْخَفِيُّ أَنْ

لپاره د مسيح دجال څخه زيات خطرناكه ده، موږ وويل: هو، اې د الله رسوله!، رسول الله ﷺ وفرمايل: شرک خفی،

يَقُومَ الرَّجُلُ فيُصَلِّي فَيَزِيْدُ صَلَاتَهُ لِمَا يَرَى مِنْ نَظَرِ رَجُلٍ. رواه ابن ماجة

چي بنده به د لمانځه لپاره دريږي او لمونځ کوي او په لمانځه کي زياتي کوي (يعني اوږد لمونځ کوي) يوازي ددې لپاره چي يو څوک يې پر لمانځه کولو ويني . ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ٢\١٤٠٦، رقم: ٤٢٠٤.

تشريح: د رياء خرابي ته د دجال د فتنې څخه زيات خوفناک او د خطرې څخه ډک ځکه فرمايل سوي دي چي د دجال د رواغجن کېدو او دهغه د فتنو ظاهرولو نښې او علامې ډيري دي او بالکل ښکاره دي چي د هر صاحب صدق او ايمان هغه څخه د خوندي کېدو لپاره کافي دي.

حال دا چي د رياء معامله ډېره پټه ده او د هغه خرابي او فتنې په هر عمل کي هر وخت نسي معلوميداى، همدا وجه ده چي ښه ښه خلک هم په دغه جال کي لوېږي.

رياكاري شرك اصغر دى

﴿٥١٠٢﴾: وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَخْوَفَ

د محمود بن لبيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم شي څخه چي زه

مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ قَالُوا يارسول الله وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ يَا

ستاسو لپاره ډير بيريږم هغه شرک اصغر (کوچنی شرک) دئ، صحابه کرامو وويل: اې د الله

رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الرِّيَاءُ. رواه احمد و زاد البيهقي في شعب الايمان يقول

رسوله! شرک اصغر څه شی دئ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ريا. احمد، او د بيهقي په روايت کي دا الفاظ دي چي د قيامت په ورځ

يَقُولُ اللّٰهُ لَهُمْ يَوْمَ يُجَازِي الْعِبَادَ بِأَعْمَالِهِمْ اذْهَبُوا إِلَى الَّذِينَ كُنْتُمْ تُرَاءُونَ فِي الدُّنْيَا فَانْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً وَّخَيْرًا.

الله تعالى ريا کارو ته وفرمايي تاسو هغه خلکو ته ورسئ چي هغوئ ته به په دنيا کي تاسو د خپلو اعمالو ښودنه کول او وګورئ چي د هغوئ څخه تاسو ته يو جزا يا خير رسيږي (که نه).

تخريج: مسند الامام احمد ٥\٤٢٨، والبيهقي في شعب الايمان ٥\٣٣٣، رقم: ٦٨٣١.

﴿۵۱۰۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ رَجُلاً عَمِلَ عَمَلاً فِيْ صَخْرَةٍ لاَّ بَابَ لَهَا وَلاَ كُوَّةَ خَرَجَ عَمَلُهُ إِلَى النَّاسِ كَائِنًا مَّا كَانَ.

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كه يو څوك په داسي ډبري كي (كبنيني) يو عمل وكړي چي په هغه كي نه دروازه وي او نه يو كلكين د هغه د عمل به خلكو ته خبر ورسيږي كه څه هم هغه عمل د هر ډول وي. بيهقي

تخريج: البيهقي في الشعب ۵\۳۵۹، رقم: ۶۹۴۰.

تشريح: صخره، په اصل كي لوى ډبري ته وايي مګر دلته ددغه لفظ څخه غار مراد دى او كيداى سي چي ددغه لفظ څخه ددغه اصل معنى يعني لويه ډبره مراد وي، په دغه صورت كي به ويل كيږي چي په ذكر سوي مفهوم كي دغه لفظ د مبالغې په توګه دى چي مفهوم يې دادى كه چيري دا فرض كړل سي چي يو سړى په ډبره كي دننه هم ننوځي او يو نيک كار كوي چي په هغه كي نه دروازه وي او نه كلكين وي او همدارنګه هغه ډبري ته په داخلېدو او راوتلو سره يې څوک ليدلاى سي چي دننه كوم څوک دى نو په دغه صورت كي هم دهغه سړي هغه نېک كار په خلكو كي مشهور كيږي.

ګوّة، يا ګوّة هغه سوري ته وايي چي په دېوال او بام كي وي، ځينو حضراتو ددغه لفظ دا تفصيل بيان كړى دى كه چيري هغه سوري دواړو خواوو ته خلاص وي نو هغه ته به ګوه ويل كيږي او كه دواړه خواوو ته خلاص نه وي ګوه به ورته ويل كيږي او دا هم ويل سوي دي كه چيري دغه لفظ د تاء په لفظ سره وي يعني كوة نو دهغه معنى به د هغه سوري وي چي تنګ او كوچنى وي او كه د تاء بغير يعني كو وي نو په دغه صورت كي يې معنى د هغه سوري ده چي پراخ او لوى وي، په دغه روايت كي دغه لفظ د تاء سره راغلى دى ځكه نو دلته يې معنى د هغه سوري ده چي كوچنى او دواړو خواوو ته خلاص وي، او د حديث د مفهوم په اعتبار دغه معنى مناسب هم ده.

په هر حال د حديث خلاصه داده چي نېک كار هر څومره پټ او يوازي وكړل سي او ددې هر څومره هڅه وكړل سي چي هغه نېک كار د خلكو په علم كي رانسي مګر بيا هم هغه په خلكو كي مشهور كيږي نو دا الله تعالى مصلحت كه خپله ددې تقاضا كوي چي د بندګانو نېک عمل چي

په صدق او اخلاص سره صادریږي پر خلکو باندي ښکاره سي چي یو بل ته د نیکي لاري اختیارولو ترغیب حاصل سي نو بیا ددې څخه ضرورت دی چي یو سړی د خپل نېک عمل ظاهرولو لپاره د ریاء څخه کار واخلي او د هغه د قبولیت او ثواب څخه محروم سي.

او یا د حدیث دا معنی ده چي مخلص بنده باید هغه نېک کارونه پټ کړي او په اخلاص تر لاسه کولو کي زیات احتیاط او هڅه وکړي ځکه چي د بندګانو نیک عمل داسي ځایو څخه هم ظاهریږي چي د هغه ځای څخه د ظاهرېدو دوئ خبر نه وي او د هغه په ښکار کېدو کي د هغه قصد او اختیار ته دخل هم نه وي.

الله ﷻ هر عمل ښکاره کوي

﴿۵۱۰۴﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ سَرِيْرَةٌ صَالِحَةٌ أَوْ سَيِّئَةٌ أَظْهَرَ اللّٰهُ مِنْهَا رِدَاءً يُعْرَفُ بِهِ.

د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا چي یو ښه یا بد عادت پټ وي نو الله تعالی هغه عادت په یوې نښي ښرګندوي چي په هغه نښي سره خلک د هغه شناخت کوي. بیهقي

تخریج: البیهقي في الشعب ۵\۳۵۹، رقم: ۶۹۴۲.

د نفاق بدي ډېره خطرناکه ده

﴿۵۱۰۵﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا أَخَافُ عَلٰى هٰذِهِ الْأُمَّةِ كُلَّ مُنَافِقٍ يَتَكَلَّمُ بِالْحِكْمَةِ وَيَعْمَلُ بِالْجَوْرِ. روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان.

د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه پر دې امت د هر منافق د شر څخه بیریږم چي خبري به عالمانه او حکیمانه کوي او کار به یې ظالمانه وي. بیهقي.

تخریج: البیهقي في الشعب ۲\۲۸۴، رقم: ۱۷۷۷.

تشریح: دا د هغه خلکو خصلت ښودل سوی دی چي خلکو ته د ښوولني لپاره ډېري ښه ښه خبري کوي مګر خپله په هغه عمل نه کوي او دې ته نفاق ویل کیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل: زه

د خپل امت په اړه د داسي خلکو د وجود او بد خصلت څخه بېربړم چي داسي نه دغه ډول خلک زما په امت کي پيدا سي او دغه بد خصلت په امت محمديه کي په پيدا کېدو سره مسلمانان په فتنه او فساد کي اخته کړي.

د ښه نيت اهميت

﴿۵۱۰۶﴾: وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ حَبِيْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت مهاجر بن حبيب ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى إِنِّيْ لَسْتُ كُلَّ كَلَامِ الْحَكِيْمِ أَتَقَبَّلُ وَلٰكِنِّيْ أَتَقَبَّلُ هَمَّهُ وَهَوَاهُ

الله تعالى فرمايي چي د حکيم هره خبره زه نه قبلومه زه د هغه اراده او نيت قبلوم که د هغه نيت

فَإِنْ كَانَ هَمَّهُ وَهَوَاهُ فِيْ طَاعَتِيْ جَعَلْتُ صَمْتَهُ حَمْدًا لِّيْ وَوَقَارًا وَإِنْ لَّمْ يَتَكَلَّمْ.

رواه الدارمي

او مينه زما د اطاعت وي نو زه د هغه په چوپتيا خپل (حمد) تعريف او وقار ګرځوم که څه هم هغه خبره ونه کړي. دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۱\۹۱، رقم: ۲۵۲.

د لغاتو حل: هواه: اى قصده المقرر في الاواخر. (هوډ او قصد)

تشريح: مطلب دادی چي د الله ﷻ په نزد محض د ويونکي ارزښت نسته، هلته دا خبره کتل کيږي چي خبره کونکی د پوهي او حکمت څخه قطع نظر په خپل نيت کي څومره مخلص دی که هغه د الله تعالى د اطاعت او فرمانبرداری په نيت او په زړه کي د الله ﷻ د احکامو محبت او عظمت ولري نو د هغه سکوت هم د علم او وقار افتخار او د الله تعالى په نزد مستحسن وګرځول سي، که چيري هغه په ژبه سره هيڅ ونه وايي نو هغه هم داسي ګڼل کيږي لکه چي د الله تعالى په حمد او ثناء کي بوخت وي که د هغه نيت د الله تعالى اطاعت او فرمانبرداري نه وي او د هغه په زړه کي د احکام الهي عظمت او مينه نه وي نو د هغه خبره لغو د توجه وړ نه ګڼل کيږي که څه هم د هغه الفاظ او معنى د علم او حکمت څخه ډک وي، ځکه چي په دغه صورت کي ما ته د دې څخه پرته نور هيڅ په پوه کي نسي راتلای چي هغه په رياء کي اخته دی او کومه خبره چي کوي نو د هغه مقصد خلکو ته ښوونه او د هغه په ذريعه شهرت تر لاسه کول دي.

بَابُ الْبُكَاءِ وَالْخَوْفِ (د ژړا او بيرې بيان)

د بُکاء معنی د ژړا او اوښکي بيولو ده، که چيري دغه لفظ د مد څخه پرته وي نو ددې اطلاق د يو غم په وجه يوازي پر اوښکو بهېدو باندي کيږي او که چيري دغه لفظ په مد سره يعني بکاء وي نو ددې اطلاق په اواز سره ژړا او اوښکو بيولو باندي کيږي او زيات مشهور په مد سره دی، څرگنده ده چي په عنوان کي ددغه لفظ عام مفهوم مرا ددی، چي معنی يې ژړا ده که په پټه خوله د اوښکو بيولو په صورت کي وي يا په لوړ آواز سره د ژړا په صورت کي وي، ددې څخه د تباکي لفظ وتلی دی چي د هغه معنی د ژړا صورت جوړول دي او هغه خبره چي په هغه ژړا راسي په مباد بيانولو سره په زوره ژړل، ابکاء هم ددغه لفظ څخه مشتق دی چي د هغه معنی د ژړولو ده.

د خوف معنی د بېرولو او دهشت اچولو ده، ددغه لفظ څخه اخافت او تخويف دی چي دهغه معنی د بېرولو ده، څرگنده دي وي چي خوف د يو خاص کيفيت او حالت نوم دی چي پېښيږي.

خلاصه دا چي د ژړلو او بېرولو څخه مراد د آخرت عذاب او د الله تعالی د عقاب او عتاب څخه بېرېدل او د هغه شيانو د بيرې څخه ژړا او زاري کول دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

ډېر ژړل کم خندل

﴿۵۱۰۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهٖ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا وَلَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا. رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ابو القاسم ﷺ وفرمايل: په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په لاس کي چي زما ساه ده که تاسو ته هغه شی معلوم سي کوم چي ما ته معلوم دئ نو تاسو به ډير ژاړئ او کم به خاندئ. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۱۹، رقم: ۶۴۸۵.

تشريح: په دغه ارشاد کي دامت لپاره دا خبرداری دی چي پر ځان باندي ژړا کول پکار دي او دهغه خبرو زيات تازه کول پکار دي چي د ژړا او غم باعث کيږي، دوهم خبرداری دادی چي د غافلانو او جاهلانو په ډول ډېر زيات خندل او راحت او ارام څخه پرهېز کول پکار دي که څه هم

د الله تعالی له خوا د عفو او مغفرت او دهغه پر رحمت باندي د امید کېدو په وجه في الجمله راحت اختیارول تر یوه حده ګنجائش لري.

اخروي انجام چا ته نه دی معلوم

﴿۵۱۰۸﴾: وَعَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ الْأَنْصَارِيَّةِ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لا أَدْرِي والله لا ادري وَأَنَا رَسُولُ اللّٰهِ مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ. رواه البخاري

د حضرت ام علاء انصارية (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمایل: اګر که زه د الله رسول یم مګر قسم په خدای په دې نه پوهیږم قسم په خدای په دې نه پوهېږم چي زما سره به څه معامله کیږي او ستاسو سره به څه؟ بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۱۴، رقم: ۱۲۴۳.

تشريح: د دغه حدیث ظاهري مفهوم دادی چي دهر چا عاقبت او معامله غیر معلوم ده، هیچا ته دا معلومه نه ده چي کوم څوک کوم عمل کوي او د هغه اخروي انجام به څه وي، مګر څرګنده دي وي چي نبیان او رسولان په خاصه توګه د سید المرسلین ﷺ د عاقبت په باره کي دا خبره نسي کیدای ځکه چي د دغه حضراتو په اړه داسي دلائل قطعیه منقول دي چي په څرګنده بنیي چي د انبیاؤ په خاصه توګه د رسول الله ﷺ د عاقبت په خیر کېدل یو یقیني امر دی نو د رسول الله ﷺ ارشاد چي زه په دې نه پوهیږم چي زما سره څه معامله کیږي او ستاسو سره به څه معامله کیږي، دې ته په هغه خاص نظر سره کتل پکار دي چي په هغه کي د غه حدیث ارشاد سوی دی او هغه دا چي یو صحابئ حضرت عثمان ابن مظعون چي د لوړي درجي صحابي وو هغه په مدینه کي وفات سو او خاص خبره دا چي په مدینه کي په مهاجرینو کي تر ټولو مخکي کوم صحابي وفات سوی دی هغه دغه صحابي وو، رسول الله ﷺ په خپل ذاتي څارنه کي د هغه د فن او ښخولو بندوبست وکړ، د هغه د جنازې سره یې دېر د عزت او اکرام معامله وکړه د هغه تندی یې مچ کړ او بیا یې د بقیع په هدیره کي خاورو ته وسپاری، په دغه وخت کي یوه ښځه چي دلته موجوده وه او د حضرت عثمان په اړه د رسول الله ﷺ دغه مینه او عنایت یې لیدی، هغې وویل: عثمانه! تا ته دي جنت مبارک وي، ستا عاقبت او انجام په خیر دی، هغه وخت رسول الله ﷺ د هغه ښځي خبرداری وکړ او ذکر سوی حدیث یې وفرمایه، نو د دغه حدیث مقصد په اصل کي د رسول الله ﷺ په مخکي د یو نامناسب خبري د ژبې څخه د ایستلو جرئت او پر بې

ادبي. باندي د مبالغې په توګه خبرداری کول دی .

په نورو الفاظو کي دا خبره داسي هم کیږي چي رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي ما ته نه ده معلومه چي زما سره به څه معامله کیږي ، نو ددغه الفاظو څخه رسول الله ﷺ مراد د هغه حقیقي معنی نه ده بلکه رسول الله ﷺ ددغه الفاظو په ذریعه د کنایې په توګه وفرمایل چي د چا د عاقبت په اړه یو یقیني خبري کولو سوال هم نه پیدا کیږي ، خپله زما معامله داسي ده که څه هم زه رسول یم او زما عاقبت په خیر کېدل یو یقیني امر دی مګر دعاقبت علم د غیب سره تعلق دی ځکه زه د ادب له موخي د خپل عاقبت په اړه هم وضاحت نسم کولای او دا نسم بنودلای چي په آخرت کي به زما سره څه چلن کیږي .

ددغه ارشاد مراد دادی که څه هم زه د الله ﷻ رسول یم مګر د یو چا د عاقبت او انجام په اړه ما ته هم معلومه نه ده چي کوم سړی به په دنیا کي کوم انجام ته رسیږي او په آخرت کي د کوم حال سره مخامخ کیږي ځکه چي د داسي احوالو تعلق د علم غیب سره دی او د غیب تفصیلي خبري د الله ﷻ څخه پرته بل چا ته معلومي نه دي که څه هم په اجمالي توګه دومره معلومه ده چي د انبیاوٗ عاقبت په خیر دی ، ملا علي قاري رحمه الله دغه احتمال ته صحیح ویلي دي .

یو احتمال دا هم بیانیږي چي د ذکر سوي ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي ما ته معلومه نه ده چي زه به له دغه دنیا څخه څرنګه رخصتیږم او زما مرګ به په کوم حالت کي واقع کیږي ، ایا پر خپل مرګ به مرم یا بل څوک به ما قتل کړي همدارنګه ما ته دا هم نه ده معلومه چي څرنګه په تېرو امتونو باندي د الله تعالیٰ عذاب نازل سوی وو همدارنګه پر تاسو هم یو هلاکونکی عذاب نازلېږي که یا .

صحیح خبره داده چي د رسول الله ﷺ ارشاد ددغه آیت: (لیغفرلک الله ما تقدم من ذنبک وما تاخر) د نازلېدو څخه مخکي دی، مګر د عاقبت په باره کي ابهام وو څه چي یقیني خبره نه سوه کېدای ددغه آیت د نازلېدو څخه وروسته دغه ابهام لیري سو او په یقین سره دا معلومه سوه چي د رسول الله ﷺ عاقبت په خیر دی .

دوه دوږخیان یې ولیدل

﴿۵۱۰۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته د دوږخ او ربنکاره سو

النَّارُ فَرَأَيْتُ فِيهَا امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ تُعَذَّبُ فِي هِرَّةٍ لَهَا رَبَطَتْهَا فَلَمْ

(یعني په معراج کي یا په خوب کي) ما په هغه کي د بني اسرائیلو یوه ښځه ولیدل چي هغه د
یوې پیشي په معامله کي په عذاب کېدل چي هغې تړلې وه نه به یې

تُطْعِمُهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ حَتّٰى مَاتَتْ جُوْعًا وَرَأَيْتُ

خوراک ورکوئ او نه به یې د هغې رسۍ خلاصول چي هغه د مځکي موږکان وغیره وخوري، تر
دې چي هغه (پیشي) دلوږي څخه مړه سوه ، او ما ولیدی

عَمْرَو بْنَ عَامِرِ الْخُزَاعِيَّ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ وَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ.

رواه مسلم.

عمرو بن عامر خزاعي چي خپل کولمې یې د دوږخ په اور کي کشولې او دی تر ټولو لومړنی
سړی وو چي د سائبو رسم یې کښېښی وو . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۲\۶۲۲، رقم: ۹- ۹۰۴.

د لغاتو حل: الخُشاش: حشرات الارض (د مځکي خزندې). قصبة: اي امعاءه (کولمې). السوائب: وهي
ناقة يسيبها الرجل عند بُرئه من المرض و قدومه من السفر .

تشریح: سوائب د سائبة جمع دی او سائبه هغه اوښې ته وایي چي د جاهلیت په زمانه کي د نذر
وغیره لپاره پرېښودل کېدل، د عربو دا عادت وو چي کله به یوې اوښې ټول بچیان ښځي راوړل
یا یو سړی به د لیري د سفر څخه راغلی یا مریض به روغ سو نو هغه به او ښه ازادول چي نه خو به
پر سپرېدی او نه به یې شیدې ځیني لوېشلې ، هر ځای چي به هغه ګرځېدل هیچا به د خپلو وښو
او اوبو څخه نه منع کول ، هغه خلکو به دغه کار د عبادت او د خپلو بتانو د رضا تر لاسه کولو
یوه ذریعه ګڼل، دغه رواج تر ټولو مخکي عمرو بن عامر خزاعي رواج کړی وو، علماؤ دا هم
لیکلي دي چي کوم څوک تر ټولو مخکي د بتانو د عبادت کولو رواج جوړ کړ او بت پرستي یې
د تقرب تر لاسه کولو ذریعه وګرځول هغه هم دغه عمرو ابن عامر خزاعي وو، په ځینو روایتو
کي دا نوم د عمرو ابن عامر پر ځای عمرو ابن لحی بیان سوی دی او په ظاهره دغه دواړه نومونه
د یوه سړي دي عامر خو د هغه د پلار نوم وو او لحی د هغه د نیکه نوم وو یا ددې برعکس وو
چي د پلار نوم یې لحی او د نیکه نوم یې عامر وو، نو په یوه روایت کي پلار ته نسبت کولو سره
او په بل روایت کي نیکه ته په نسبت کولو سره د هغه ذکر وکړل سو .

كرماني ليکلي دي چي د دغه حديث څخه ثرګندېږي چي ځيني خلک د اوس څخه په دوږخ کي اچول سوي دي او هلته عذاب تېروي، مګر دا هم ويل کيداى سي چي د دغه ارشاد تعلق د دې خبري سره وي چي رسول الله ﷺ د دوږخ هغه احوال منکشف کړل سو چي د قيامت په ورځ به پېښيږي او رسول الله ﷺ ته د هغه صورت وښودل سو چي د قيامت په ورځ به ذکر سوې ښځه او عمرو ابن عامر په دوږخ کي اچول کيږي او هغوئ به په داسي عذاب کي اخته کيږي.

د فسق او فجور عذاب

﴿۵۱۱۰﴾: وَعَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا

د حضرت زينب بنت جحش (رض) څخه روايت دئ چي يوه ورځ نبي کريم ﷺ په بيره کي زما

يوما فزعًا يَقُولُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ

کور ته تشريف راوړ او وه يې فرمايل: لا اله الا الله، د عربو لپاره افسوس دئ چي شر نژدې

مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هٰذِهِ وَحَلَّقَ باصبعيه الْإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا

راورسيدى نن د ياجوج ماجوج په ديوال کي دومره سورى سوئ دى، د دې فرمايلو سره (رسول الله ﷺ) د بټي ګوتي او نژدې ګوتي حلقه جوړولو سره وښودل (چي دومره سورى سوى دئ)

قَالَتْ زَيْنَبُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَفَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ نَعَمْ إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ. متفق عليه.

زينب ﷺ وويل: اې دالله رسوله! ايا موږ به هلاک کړل سو، حال دا چي په موږ کي نيک او صالح خلک هم سته، رسول الله ﷺ وفرمايل هو هر کله چي فسق او فجور زيات سي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۶\۳۸۱، رقم: ۳۳۴۶، ومسلم ۴\۲۲۰۸، رقم: ۲-۲۸۸۰.

تشريح: د شر څخه د رسول الله ﷺ مراد هغه فتنو، قتل او قتال ته اشاره کول مقصد وو چي د هغه پېل په راتلونکي کي کېدونکى دى او دهغه ښکار تر ټولو مخکي عرب کېدونکى دي نو قلب نبوت چي اهل اسلام افتراق او انتشار کي اخته کېدونکي د کومو واقعاتو ډېر مخکي ادراک کړى وو او د ذکر سوي ارشاد په ذريعه د هغه په اړه وړاند ويني سوې وه د هغه پيل د خليفه ثالث حضرت عثمان بن عفان ﷺ د شهادت په پېښه سره وسو، او د هغه لړۍ په څه ناڅه

صورت کي تر اوسه پوري جارې ده ، ځينو حضراتو دا مراد بيان کړی دی چي رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي کله اهل اسلام ته د اسلام د زياتېدونکي طاقت په سبب د دښمنانو په مقابله کي فتوحات حاصل سي پر نورو هيوادو باندي غلبه او اقتدار حاصل سي او دمال او دولت زياتوب وي نو دهغه يوه نتيجه به دا هم وي چي دخلکو خلوص او نيت کي به کمي راسي حکومت او اقتدار او مال به مينه او رغبت پيدا سي د دنيا طلبی، عزت غوښتني، مخالفت او افتراق په ذريعه به ټول ملت متاثر کړي .

حلقه يې جوړه کړې وه، يعني رسول الله ﷺ د خپلو ګوتو په ذريعه د حلقې په جوړولو سره وښودل چي په دغه ديوال کي دننه هيڅ سوری نه وو مګر نن په دې کي دومره لوی سوری دی لکه د دغه دوو ګوتو په ذريعه جوړه سوې حلقه ، څرګنده دي وي چي په دغه ديوال کي د سوري کېدل د قيامت د نژدې کېدو علامه ده لکه څرنګه چي د عرب په منځ کي د فتنې او فساد تخم وتل او د خرابيو خپرېدل هم دقيامت راتلو يو دليل دی ، ځيني حضرات وايي چي رسول الله ﷺ د ياجوج ماجوج د سوري کېدو خبره د هغه علاقې څخه د پورته کېدونکي يوې ستري فتنې او دهغه په نتيجه کي مسلمانانو ته رسيدونکي سخت تاوان ته اشاره وکړه، د تاريخ علم لرونکي پوهيږي چي رسول الله ﷺ کومي فتنې ته اشاره وفرمايل هغه د چنګيزيت په صورت کي د هغه سيمي څخه پورته سوه چي لوی لوی اسلامي حکومتو ته يې تاوان ورسوی تر دې چي د هلاکو په مشرتابه کي د تاتاري ترکو سيلاب اسلامي خلافت وبيوی ، خليفه معتصم باالله يې قتل کړ ، بغداد يې لوټ اوتباه کړ په لکونو مسلمانان يې شهيدان کړل او ټول ملت اسلامي يې د لوی لوی جهادونو سره مخ کړ .

د خبث لفظ د خاء او باء په زور سره د فسق او فجور، کفر او شرک په معنی کي دی او ځيني حضرات وايي چي ددغه لفظ معنی د بدکاري (زنا) ده، د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي په هر يو ځای کي اور ولګيږي نو هر شی سوځي که وچ وي او که لانده، هر څه ايري کړي ، حلال او حرام ، پاک او ناپاک کوم شی چي د هغه په شغلو کي راسي نو په سوځېدو سره خاوري سي، مؤمن او کافر ، موافق او مخالف د هيچا په منځ کي فرق نه کوي، کوم څوک چي د هغه په ګرفت کي راسي د ايرو کوټه جوړه سي او همدا رنګه د عذاب الهي معامله چي کله په يو هيواد يا يو سيمه کي او د مځکي پر کومه برخه د خرابيو دور سي ، بدکاري عامه سي ، د فواحشو کثرت سي او دفسق او فجور غلبه سي او دهغه په سبب د هغه ځای پر خلکو باندي عذاب نازليږي نو بيا د چا تخصيص نه کيږي ، بدکار او سرکښ خلک خو تباه کيږي مګر نيک او پاک

خلک هم د هغه په گرفت کي راځي، دا بېله خبره ده چي په قيامت کي به ټول مخلوق راپاڅول کيږي نو هغه وخت به د هر سړي سره د هغه د عمل مطابق چلن کيږي.

په يوه نسخه کي دغه لفظ د خ په پېښ او د ب په جزم سره يعني خُبث منقول دی، چي د هغه معنی د خواهش او فسوق دي، دا هم ويل کيږي چي د دواړو يوه معنی ده.

د خسف او مسخ عذاب

﴿۵۱۱۱﴾: وَعَنْ ابي عَامِرٍ أَوْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى

د حضرت عامر او يا ابو مالک اشعري (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي ما د رسول الله

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْخز وَالْحَرِيرَ

ﷺ څخه دا واوريدل چي زما په امت کي به ځيني قومونه داسي وي چي ريشم، شراب او

وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ إِلَى جَنْبِ عَلَمٍ يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ

سرودونه به حلال او جائز کړي او په هغوئ کي به ځيني قومونه د لوړو غرونو په لمنو کي استوګنه غوره کړي، د شپې په وخت کي به د هغوئ حيوانان (چي پيولو ته تللي وه) بيرته

لَهُمْ يَأْتِيهِمْ رَجُلٌ لِحَاجَةٍ فَيَقُولُونَ ارْجِعْ إِلَيْنَا غَدًا فَيُبَيِّتُهُمُ اللهُ وَيَضَعُ

راسي او يو سوال کونکی به هغوئ ته د يو حاجت لپاره راسي هغوئ به هغه ته وايي چي سبا راسه بيا به الله تعالی د شپې پر هغوئ خپل عذاب نازل کړي

الْعَلَمَ وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري وفي

، غر به پر ځينو کسانو را ولويږي او د ځينو صورتونه به مسخ کړي او بيزوګان او خنزيران به ځيني جوړ کړل سي چي تر قيامته. پوري به په دغه شکل او صورت کي وي. بخاري او د

بعض نسخ المصابيح الحر بالحاء والراء المهملتين وهو تصحيف وانما هو

مصابيح په ځينو نسخو کي بالحاء والراء المهملتين (حر) راغلی دئ او دا تصحيف دئ (يعني

بالخاء والزاء المعجمتين نص عليه الحميدي وابن الاثير في هذا الحديث

په ليکني کي غلطي ده) د حميدي او ابن اثير د بيان سره سم په دې حديث کي بالخاء والزاء المعجمتين ليکلئ دی

وفي كتاب الحميدي عن البخاري وكذا في شرحه للخطابي تروح عليهم سارحة لهم يأتيهم لحاجة.

د حميدي کتاب د بخاري څخه او داسي د خطابي شرح په بخاري کي تروح عليهم سارحة لهم يا تيهم لحاجة، الفاظ دي

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۰۱، رقم: ۵۵۹۰، والبغوي في المصابيح ۳\ ۴۵۳، رقم: ۴۱۱۳ ولم نجده عند الحميدي.

د لغاتو حل: الخز: نوع من الحرير (يو ډول ريښم). علم: اى جبل (غر). بسارحة: اى ماشية (پر پښو).

تشريح: يا د حضرت ابو مالک اشعري ﷛ څخه روايت دی، د دغه عبارت په ذريعه بخاري دا حديث نقل کولو سره دا شک او تردد ظاهر کړی دی چي دغه حديث يا خو ابو عامر اشعري نقل کړی دی چي د حضرت ابوموسی اشعري ﷛ اکا او د سترو صحابه کرامو څخه دی، يا دغه روايت بيانونکی حضرت ابو مالک اشعري ﷛ دی چي هغه ته اشجعي هم ويل کيږي، او دا هم يو مشهور صحابی دی مګر ځرګنده دي وي چي د يو حديث د راوي په حيثيت د صحابه کرامو په اړه دا ډول شک او تردد په هغه حديث کي د طعن موجب نه جوړيږي ځکه چي صحابه ټول ثقه او عدل والا دي نو هغه حديث چي د کوم صحابي څخه منقول دي صحيح به وي.

خَز : د خاء په زور او د زاء په شد سره، د هغه خاص جامې نوم دی چي په مخکي زمانه کي به د ريښمو او وړی څخه جوړېدل، هغه وخت دغه جامه ډېره استعمالېدل تر دې چي صحابه کرامو او تابعينو به هم اغوستل، علماؤ ليکلي دي چي په دغه حديث کي د خز په ذکر کولو سره د ذکر سوي جامې د استعمال چي کومه منع ظاهر سوې ده هغه کيدای سي په دې وجه وي چي د هغه جامې په اغوستلو سره د عجمو او غير ديندار او بت پرستانو مشابهت پيدا کيږي ، ددې څخه پرته هغه جامه د خپل جوړښت او قيمت په اعتبار يو داسي جامه وه چي شتمن، عيش پرست خلکو او اهل اسراف به استعمالول، دوهمه خبره دا هم کيږي چي ددغه حديث اصل محمول هغه خز دی که څه هم د رسول الله ﷺ په زمانه کي رواج نه وو مګر وروسته رواج سو، چي په هغه کي يوازي ريښم وي، په دې اعتبار د رسول الله ﷺ ارشاد د معجزې په توګه خبر

ورکول دی او ددغه مطلب منلو په صورت کي پر خز باندي د حریمه عطف د تعمیم بعد تخصیص د قبیلې څخه دی.

د معازف معنی د عود طنبوره او نورو سازونو ده او دغه لفظ عزف یا د معزف جمع ده، عزف او عزیف په اصل کي د جن اواز ته وایي او هغه مخصوص اواز ته هم وایي چي د شپې په ځنګل یا صحراء کي د شپېلیو مشابه اوربدل کېږي چي د هواء په اواز سره هم تعبیر کېږي.

د حدیث خلاصه داده چي په دغه صورت کي به داسي خلک هم پیدا سي چي د مختلفو شکونو او شبهو په پېدا کولو سره به بې ګټي تاویلو او لغو دلائلو په ذریعه هغه شیان حلال کړي کوم چي شریعت حرام ګرځولي دي د مثال په توګه ځیني علماء دا وایي چي د نارینوو لپاره خالص ریشم اغوستل په هغه صورت کي حرام دي کله چي هغه د بدن سره پیوست وي یعني د هغه جامې او بدن په منځ کي بل شی حائل نه وي که چیري ریشمنه جامه د ابري په توګه استعمال کړل سي چي د بدن سره لګېدلې جامه د وړیو وي او د هغه سربېره جامه د ریشمو وي نو ددې استعمال ګنجائش سته، دا بېله خبره ده چي ددغه قول تحقیق څه شي دی او دا کوم مراد څرګندوي مګر که چیري دا قول په بنیاد جوړولو سره د نارینوو لپاره مطلق ریشم اغوستل او استعمالول جائز وګرځول سي او خلک بېله تکلیفه حریر او دیباج په ډول د ریښمو جامې اغوستل پېل کړي نو دا به څرګنده ګمراهي وي، داسي سوي دي چي کله امیرانو او عوام او خاص خلک د ریشمو استعمال کوي او هغوئ ته به وویل سول چي د نارینوو لپاره حریر او دیباج حرام دي نو هغوئ به ویل که دا حرام وای نو فلاني عالم به دا خبره کړې وای او فلاني بزرګ به ولي د ریشمو جامه استعمالول، نو هغه خلک یو حرام شي حلال ګڼلو سره په سختي خرابۍ او ګناه کي اخته سول همدارنګه د مزامیر معامله ده، ځیني علماء او مشائخ چي سماع او مزامیر سره تعلق پاته سوی دی پر خپل ځای یو بېل بحث دی او د هغه تفصیل ډېر اوږد دی ددې خبري څخه قطع نظر چي د سماع او مزامیر سره د هغوئ تعلق په کوم حالت کي او کومو شرطو سره وو، مهمه خبره داده چي د هغوئ د غلط فعل په بنیاد جوړولو سره خلکو څومره ګمراهۍ خپرې کړي وي او ډول ډول د باجو شیطاني مجلسونه، د مجلس په سماع په نامه د شریعت حرام سوي شیان نه یوازي حلال کېږي بلکه هغه نعوذبالله د حصول ثواب ذریعه ګڼلو سره ګمراهي عامه کړل سوه.

څرګنده دي وي چي ابن ابي الدنیا ذکر سوی روایت د آلات لهو یعني مزامیر په بدۍ کي د حضرت انس رضی الله عنه څخه نقل کړی دی چي: یکونن في هذه الامة خسف وقذف ومسخ وذلک اذا

شربو الخمر واتخذت القينات وضربوا بالمعازف.

ددې مطلب هم دادی چي کله خلک دغه شيان په حلال گڼلو سره اختيار کړي نو د خسف او مسخ په ډول عذاب کي به اخته کړل سي.

نص عليه الحميدي ...الخ: ددغه عبارت په ذريعه د مشكوة مؤلف د حميدي او ابن اثير د دليل په توگه اختيارولو سره ددې تائيد وکړ چي لفظ د الحر د حاء په زور سره د كتابت غلطي ده او صحيح لفظ د الخز يعني په خاء او زاء سره دی، نو دچا دا گمان كول چي دغه لفظ په ح او ر سره صحيح دی د حقيقت خلاف دی مگر مؤلف د في هذا الحديث الفاظو په ذريعه دې ته اشاره کړې ده چي دهغه بحث يوازي د حديث په اړه دی چي د بخاري څخه دلته نقل سوی دی هسي الحر لفظ په يو بل روايت كي منقول دی چي ابوداؤد وغيره نقل کړی دی ، طيبي رحمه الله دغه حديث په خپل شرح کي ذکر کړی دی مگر د بخاري مشهور شارح علامه ابن حجر چي کومه خبره کړې ده هغه د مشكوة د مؤلف د قول خلاف ده هغه فرمايلي دي چي د بخاري په اكثرو روايتو کي دغه لفظ په ح او راء سره يعني الحر دی که دا خبره ومنل سي نو بيا به دا ويل كيږي چي پر خپل ځای باندي دواړه روايتونه صحيح دي.

تروح عليهم بسارحة: دلته سارحه د تروح فاعل دی او دا ددې خبري قرينه ده چي په اول روايت كي د بسارحة په لفظ كي د باء حرف زائد دی ، همدارنگه په دغه دواړو کتابو (حميدي او بخاري په شرح خطابي) كي ياتيهم لحاجة منقول سوي دي يعني ددغه دواړو کتابو نقل سوی حديث كي په دغه جمله كي د رجل لفظ نسته يا دا مطلب دی چي دغه دواړه هم د رجل لفظ نقل کی دی مگر د لحاجة څخه وروسته.

ددغه حديث څخه دا خبره معلومه سوه چي ددغه امت خلک هم په خسف او مسخ عذاب كي اخته سوي دي لکه څرنگه چي د تېرو امتو د سرکښو او بداعمالو په وجه هغوئ په دغه عذاب کي اخته کړل سو نو هغه احاديث چي ددې خبري په نفي کي منقول دي او د هغو څخه دا څرگنديږي چي پر امت محمديه باندي به دا ډول عذاب نه نازليږي هغه يا خو ددغه امت پر لومړنۍ زمانه باندي محمول دی او آخري زمانه د هغه د مفهوم څخه وتلې ده يا په اجتماعي توگه د پوره امت خسف او مسخ څخه نفي مراد ده نه په انفرادي توگه نه د ځينو افرادو پر نفي.

د الهي عذاب نزول

﴿۵۱۱۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَنْزَلَ

اللّٰهُ بِقَوْمٍ عَذَابًا أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ ثُمَّ بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي الله تعالى پر يو قوم عذاب نازلوي نو هغه عذاب هر هغه سړى راګيروي كوم چي په هغه قوم كي وي بيا به خلك د هغوئ د اعمالو سره را پورته كړل سي (يعني جزا او سزا به وركول كيږي). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۶۰، رقم: ۷۱۸۰، ومسلم ۴\۲۲۰۶، رقم: ۸۴-۲۸۷۹.

تشريح: مطلب دادى چي كله په يو قوم كي د الله تعالى نافرماني، سركښي ، فسق او فجور ، ظلم ، د الله تعالى د دين منونكو سره بغض او نفرت، تمسخر او استهزاء او هغه بدى د حد څخه زياتي خپري سي چي قهر الهي ته دعوت وركوي بيا د هغه په نتيجه كي پر هغه قوم د الله تعالى عذاب نازليږي نو هغه عذاب صالح او غير صالح ، نېک او بد كي هيڅ فرق نه كوي بلكه هر هغه څوک راګيروي چي د هغه قوم په منځ كي وي كه څه هم كله الله تعالى خپل نېک او صالح بندګان د هغه عذاب څخه خوندي كوي مګر د ټولو خلكو په هغه عذاب كي اخته كېدل دا معنى نه لري چي د اخروي انجام له موخي هغه ټول خلك يو حيثيت لري چي هلته په آخرت كي به هر سړى سره د هغه د اعمالو مطابق معامله كيږي، كوم چي نېک او صالح وي د هغه سره به نېک چلن كيږي او كوم چي بد او سركښ وي نو هغه به هلته هم په عذاب كي وي .

اصل اعتبار د خاتمې دى

﴿۵۱۱۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا مَاتَ عَلَيْهِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به هر بنده په داسي حالت كي پاڅول سي په كوم حال كي چي هغه مړ سوى وي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۰۶، رقم: ۸۳-۲۸۷۸.

تشريح: مطلب دادى چي كوم څوک په كوم حالت او حيثيت كي له دنيا څخه رخصت سي په هغه حالت كي به د قيامت په ورځ راپاڅي او د هغه اخروي انجام به د هغه مطابق وي ، كه د ايمان په حالت كي مړ سوى وي نو په ايماني حالت كي به راپاڅي ، كه د كفر په حالت كي مړ سوى وي نو د كفر په حالت كي به راپاڅي كه د طاعت او عبادت په حالت كي مړ سوى وي نو د

طاعت او عبادت په حیثیت کي به راپاڅي که د ګناه او معصیت په حالت کي مړ سوی وي نو د نافرمانه او ګناه کار په حیثیت کي به راپاڅي همدارنګه که چیري د الله تعالی د ذکر په حالت کي مړ سوی وي نو د ذاکر بنده په حیثیت کي به راپاڅي او که د ذکر الهي څخه د غفلت او بې پرواهي په حیثیت کي مړ سوی وي نو د غافل او لا پروا بنده په توګه به راپاڅي، غرض دا چي د قیامت په ورځ پاڅېدو او په آخرت کي د فلاح کېدو یا نامراده کېدو دار او مدار پر خاتمه باندي دی د چا په اړه هیڅ نسي ویل کیدای چي د هغه خاتمه به څرنګه وي لکه چي ویل سوي دي:

حکم مستوري و مستي همه بر خاتمه است　　　کس ندانست که اخر بچه حالت ګزرد

ځینو عارفینو ویلي دي چي کوم بنده د الله تعالی یاد او د هغه د حضورۍ او استغراق ملکه تر لاسه کوي او د هغه په زړه کي د ذکر الله جوهر وي نو د مرګ په وخت کي د سختۍ او شدت په سبب یا د ناروغۍ او اضطراب په وجه د هغه د استحضاري او استغراق کي هیڅ کمي او کوتاهي لار نه تر لاسه کوي نو دا شی د هغه په حق کي تاواني نه وي بلکه د بدن څخه د روح د بېلوالي وروسته د هغه حالت کیفیت بېرته راځي نو اصل خبره دا ده چي په ذکر الهي تعلق مع الله کي هغه ملکه او کمال حاصل کړل سي چي په هر صورت کي د خلاصون سرمایه ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي　　(دوهم فصل)

د انسان ناداني او غفلت

﴿۵۱۱۴﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا وَلَا مِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما د دوږخ د اور په ډول هیڅ شی نه دی لیدلی چي ددې څخه تښتیدونکي بیده دي او د جنت په ډول عجیبه شی مي نه دی لیدلی چي ددې طلب کونکی بیده دي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۱۴۷، رقم: ۱۶۳۳.

تشريح: مطلب دادی که چیري یو سړی خپل طاقتور دښمن د ځان لپاره تاواني او په هلاکت کي اخته کونکی ګڼي نو ظاهره ده چي هغه د هغه دښمن څخه غافل نسي او سیدلای او په اطمینان سره نسي بیده کېدلای بلکه هر وخت هوښیار وي او څومره چي ممکن وي د هغه څخه لیري تښتي مګر څومره عجیبه خبره ده چي د دوږخ اور چي خپل هلاکت، سختۍ او هولناکۍ

په اعتبار د لوی طاقتور دښمن څخه هم زیات هلاکت او تاوان رسونکی دی خلک د هغه څخه غافل وي او د هغه څخه د لیري تښتېدو هڅه نه کوي او که لیري تښتي نو عین د تښتېدو په حالت کي د خوب او غفلت ښکار سي څرګنده دي وي چي د دوږخ د اور څخه لیري تښتېدل او د هغه څخه د غفلت ښکار نه کېدل دادي چي انسان د خدا شناسۍ او خدا ترسۍ اختیار کړي، ګناه او معصیت پرېږدي، طاعت او عبادت لازم کړي.

همدارنګه د دوهمي برخي مطلب دادی که چیري یو سړی د یو غوره او محبوب شي طالب وي او هغه په پوره توګه تر لاسه کول غواړي نو ظاهره ده چي هغه د هغه شي د طلب او خواهش په لاره کي د غفلت او سستۍ څخه کار نه اخلي بلکه په هغه پسي ځغلي او ډېره زیات چي کوښښ او سعي کولای سي د هغه مطابق هغه شي ته ور ځغلی او هغه تر لاسه کول غواړي، مګر ډېره عجیبه خبره ده چي جنت چي د ټولو خوبونو، راحتونو، خوشحالیو او سعادتونو مرکز او مجموعه ده د هغه څخه انسان ډېره غافل دی، د هغه د تر لاسه کولو هڅه نه کوي او هغه ته نه ور ځغلي، څرګنده دي وي چي جنت تر لاسه کول او هغه ته ځغستل دادي چي د الله ﷻ او د هغه د رسول رضا پر هر شي باندي مقدم کړل سي، د بدۍ لار پرېښودل سي او د نیکۍ لار اختیار کړل سي او په طاعت او عبادت کي غفلت و نه کړل سي.

یو نصیحت یو ارزو

﴿۵۱۱۵﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي أَرَى مَا لَا

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه چي کوم شی وینم تاسو یې

تَرَوْنَ وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُونَ أَطَّتْ السَّمَاءُ وَحُقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ والذي نفسي

نه وینئ او کومه خبره چي زه اورم تاسو یې نه اورئ، آسمان اواز کوي او هغه ته د اواز کولو حق حاصل دئ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده

بيده مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعِ أَصَابِعَ إِلَّا و مَلَكٌ واضع جبهته سَاجِدا لله والله

په آسمان کي څلور ګوتي ځای هم داسي نسته چي هلته ملائکي الله ﷻ ته سر پر سجده نه وي

لَوْ تعلمون مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا وَ ما تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ

پرتې، که تاسو ته هغه خبره معلومه سي کومه چي ما ته معلومه ده نو تاسو به ډېر کم خاندئ او

ډیر به ژاړئ، او نه به د ښځو سره په بسترو کې خوند تر لاسه کړئ

عَلَى الْفُرُشَاتِ وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُونَ إِلَى اللهِ قَالَ أَبُو ذَرٍّ يَالَيْتَنِي كُنْتُ شَجَرَةً تُعْضَدُ. رواه احمد والترمذي وابن ماجة

او تاسو به د ځنګلو په لور په ژړا او فریاد وځئ، ددې حدیث بیانونکی ابوذر وویل کاش چې زه یو درخته وای چې پرې کړل سوې وای. احمد ترمذي، او ابن ماجه.

تخریج: مسند الامام احمد ۵\۱۷۳، رقم: ۲۳۱۲، وابن ماجه ۲\۱۴۰۲، رقم: ۴۱۹۰.

د لغاتو حل: اطت: ای صوتت. الصعدات: ای الصحاري. تجارون: ای تتضرعون الیه بالدعاء. تعضد: ای تقطع وتستاصل.

تشریح: د اُطت لفظ په اصل کې د اَطّ څخه مشتق دی چې دهغه معنی د آواز کولو، پالان، ځین وغیره ده، د اوښ د ستړیا په وجه بړ بړ کول په دغه حدیث کې د آسمان او مځکې څخه د آواز ختلو چې کومه خبره سوې ده د هغه مفهوم بالکل څرګند دی چې د ملائکو کثرت او دهغوئ د بار په وجه د آسمان څخه آواز خېژي لکه څرنګه چې د سپرلۍ حیوان د سپرلۍ د بار په وجه یو ډول اواز کوي یا یو تخت او پلنګ باندې چې زیات خلک کښیني نو هغه اواز کول شروع کړي، یا د آسمان څخه د آواز وتلو مطلب د آسمان د الله د خوف څخه ژړا او فریاد کول دي او ددې جملې مقصد دا خبرداری دی چې کله آسمان یو غیر ذي روح او منجمد شی دی او د مقدس ملائکو د قرارګاه حیثیت درلودلو سربېره د خوف الهي څخه ژړا او فریاد کوي نو انسان چې ساه لرونکی دی او د ګناه او معصیت چټلي لري هغوئ ددې زیات وړ دي چې د خوف الهي څخه ژړا او فریاد وکړي دا معنی د حدیث د اصل مقصد سره زیاته مناسب ده.

سرېر سجده پراته دي: ددې څخه مراد د ملائکو د الله تعالی په عبادت او پیروي کې بوخت کېدل دي، دا وضاحت ځکه ضروري دي چې هغه خبره هم ددغه جملې په مفهوم کې راسي چې په هغه کې دا ویل سوي دي چې هره ملائکه د الله تعالی په عبادت او تابعدارۍ کې بوخت ده، ځیني د قیام په حالت کې عبادت کوي، ځیني د رکوع په حالت کې او ځیني د سجدې په حالت کې وي، یا دا خبره هم کېږي چې رسول الله ﷺ د یو خاص آسمان ذکر فرمایلی دي او په هغه آسمان کې چې کومې ملائکې دي هغوئ ټولې د سجدې په حالت کې پرتې د الله تعالی عبادت کوي.

صعدات د صعد جمع ده او صعد د صعید جمع ده لکه څرنګه چې طرقات د طرق جمعه ده

او طريقه د طريق جمع ده، د صعيد لغوي معنی د خاورو او د مځکي د لوړي برخي ده او دلته په حديث کي ددې څخه مراد ځنګل دی.

کاش چي زه درخته وای: يعني د انسان کېدو په حيثيت سره د ګناهو څخه ځان ساتل مشکل دي او شيطان هر وخت ورپسي لګيدلی وي، معلومه نه ده چي کله دهغه په واک کي راسي چي په ګناه او معصيت کي يې اخته کړي چي د هغه په وجه د الله تعالی په ناراضي او عذاب کي ولويږي، نو حضرت ابوذر رضی الله عنه دا خواهش وکړ چي کاش زه انسان نه وای چي سبا د قيامت په ورځ په ګناهو لړلی نه راپورته کېدای او څرنګه چي يوه درخته پرې کيږي نو هغه ختم سي همدارنګه زه هم وای چي په پرېکولو سره غورځول سوی وای او په آخرت کي د شرمندګۍ او عذاب څخه ساتل سوی وای، څرګنده دي وي چي همدارنګه غمناک او دردناک ارزوګاني د نورو لويو لويو صحابه کرامو څخه منقول دي د مثال په توګه يو صحابي ويلي دي چي کاش زه پسه وای چي خلکو په پرېکولو سره خوړلی وی، بل صحابي وويل: کاش زه مرغه وای چي هغه چيري غواړي کښيني او چيري چي غواړي ولاړ سي هغه د څه فکر او شي په دباو کي نه وي، دغه ټول مقدس صحابه کرام هغه کسان وه چي هغوئ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کي د جنت زيری ورکړل سوی وو او د هغوئ عاقبت په خير کېدو کي هيڅ شک نه وو مګر کله چي ددغه پاکو حضراتو دغه احساس او فکر وو نو دنورو کسانو څه ويل کيدای سي، که څه هم د مخبر صادق صلی الله علیه وسلم وعده ده چي هر مؤمن به انشاء الله په بخښني او مغفرت سره ونازول سي او د هغه عاقبت به په خير وي مګر د بارګاه بې نيازي بېره ملا ماتوي، يو چا څومره ښه ويلي دي:

کیا کیا نہ اپنے زہد و اطاعت پہ ناز تھا بس دم نکل گیا جو سنا بے نیاز ہے

حكيمانه نصيحت

﴿۵۱۱۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَافَ أَدْلَجَ وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ غَالِيَةٌ أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللّٰهِ الْجَنَّةُ.

رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: څوک چي (په آخره شپه کي ددښمن دلوټ مار څخه بيريږي) هغه د شپې په اول کي کوچ کوي (يعني سفر کوي) او څوک چي د شپې په اول کي کوچ کوي هغه منزل ته رسيږي، خبردار! چي د الله جل جلاله سامان ډير

قيمتي دی خبردار ! د الله ﷻ سامان جنت دئ. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي: ۵۴۶\۴، رقم: ۲۴۵۰.

د لغاتو حل: ادلج: ای سار اول الليل (د شپې په لومړۍ برخه کي تلل).

تشريح: د منزل څخه مراد مطلوب او مقصد تر لاسه کول دي ، طيبي رحمه الله وايي: رسول الله ﷺ ددغه الفاظو په ذريعه د اخرت د مسافر مثال فرمايلی دی چي شيطان د هغه په سفر کي دی نفس او د هغه باطل ارزوګاني د هغه شيطان مرسته کونکي وي او همدارنګه هغه د هغه چا په ډول دی چي د هغه طاقتور او چالاک دښمن پر هغه باندي حمله کولو ته تيار وي او انتظار کوي چي د شپې آخري برخه سي نو په تياره کي به پر هغه حمله کوي او تباه کوي به يې نو که هغه هوښيار سي د هدايت پر لار د پيل څخه تلل پېل کړي او خپل اعمالو کي د نيت اخلاص پيدا کړي نو هغه يقينا د شيطان او دهغه د مکر او فريب څخه خوندي کيږي کنه نو هغه دومره چالاک دښمن دی که لږ غفلت وسي نو د خپل مرسته کونکو په راوستلو سره سمدستي پر هغه حمله کوي او په هلاکت کي يې اچوي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دې امر ته لارښوونه وکړه چي د آخرت په لور تلل ډېر مشکل دي او د هغه ځای نعمتونه او سعادتونه حاصلول ډېر مشکل دي په دغه لار کي لږ غفلت او سستي هم د منزل څخه ليري والی راولي تر څو چي زيات محنت او عمل ونه کړل سي نو هغه نعمتونه او سعادتونه په پوره توګه نسي تر لاسه کيدای، نو رسول الله ﷺ فرمايي: پوه سئ چي د الله تعالی مال ډېر قيمتي دی، ددغه جملې په ذريعه دې ته اشاره وفرمايل.

د حديث د اخري جملې مطلب دادی چي د الله تعالی مال يعني د جنت که قيمت وي او که هغه د يو شي په بدله کي تر لاسه کېدای سي نو هغه د خدای ﷻ څخه خوف او د نېکو اعمالو سرمايه ده که د الله تعالی جنت تر لاسه کول غواړئ نو د نيکۍ لار اختيار کړئ د بدۍ څخه ليري اوسئ او زيات نېک کارونه کوئ، دغه مفهوم ته الله ﷻ په قرآن کريم کي په دغه الفاظو اشاره وفرمايل : (والباقيات الصالحات خير عند ربک ثوابا وخير املا): او کوم اعمال صالحه چي پاته کېدونکي دي هغه ستا د رب په نزد د ثواب په اعتبار په زرهاوو درجه غوره دي او د امید په اعتبار هم په هزار واره غوره دي .

او فرمايي : (إِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ)
بېله شکه الله تعالی د مسلمانانو څخه د هغوئ ځانونه او دهغوئ مالونه ددې خبري په عوض کي رانيولي دي چي هغوئ ته به جنت تر لاسه کيږي .

د الله ﷻ ذکر او د الله ﷻ څخه بېره

﴿۵۱۱۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللَّهُ جل ذكره أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِي يَوْمًا أَوْ خَافَنِي فِي مَقَامٍ. رواه الترمذي والبيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى به وفرمايي: د اور څخه هغه سړی راوکاږئ چي زه هغه يوه ورځ هم ياد کړی يم يا پر يو ځای زما څخه بيريدلی دی. ترمذي او بيهقي،

تخريج: سنن الترمذي ۴\۶۱۳، رقم: ۲۵۹۴.

تشريح: د هغه سړي څخه مراد هغه مؤمن دی چي تر مرګه پوري په اخلاص سره پر ايمان قائم وي مګر د ګناهو او بد عملۍ په وجه په دوږخ کي اچول سوی وي.

او بيا يو وخت زما څخه بېرېدلی وي: يعني هغه د دنيا په ژوند کي په يو وخت کي په ګناه اخته کېدو سره محض زما د بيري په وجه منع سوی وي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي:

(وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى)

او کوم څوک چي په دنيا کي د خپل رب په مخکي د درېدو څخه وبېرېدی او نفس يې د حرام مال څخه منع کړ نو د هغه ځای به جنت وي.

طيبي رحمه الله وايي: ذکر الله يعني د الله تعالى د ياد څخه مراد هغه ذکر دی چي په هغه کي د ژبي سره زړه هم شريک وي چي هغه ته اخلاص وايي د اخلاص مطلب دی د زړه په اخلاص او نيت سره الله تعالى يو منل کنه هسي خو کافر هم په ژبه سره د الله ذکر کوي مګر ظاهره ده چي د هغه د ذکر هيڅ اعتبار نه وي ځکه چي د هغه زړه د الله تعالى د وحدانيت او صدق او اخلاص څخه خالي وي، ددې خبري تائيد د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد څخه هم کيږي چي: (من قال لااله الاالله خالصا من قلبه دخل الجنة): څوک چي د زړه په اخلاص سره لااله الاالله ووايي نو هغه به جنت ته ځي.

څرګنده دي وي چي د خوف الهي څخه مراد هغه خوف دی چي د هغه په وجه بنده خپل اندامونه د ګناهو څخه منع کوي او په طاعت او عبادت کي يې بوخت کوي، کنه نو د داسي

خوف هيڅ اعتبار نسته چي پيدا خو سي مگر د هغه پر اندامو باندي ظاهر نسي چي نه خو هغه د گناهو څخه منع کړي او نه په عبادت او طاعت کي بوخت سي، بلکه په حقيقت کي هغه ته خوف الهي نه ويل کيږي دې ته خو خبث نفس يعني يوه داسي وسوسه او يو داسي تحريک ويل کيږي چي د يو هولناک شي اسباب او آثار په ليدو سره پر طبيعت باندي خپور سي او هر کله چي هغه اسباب او اثار غائب سي نو پر زړه باندي غفلت خپور سي ، مشهور بزرگ حضرت فضيل ډېره حکيمانه خبره کړې ده چي کله ستاسو څخه پوښتنه وسي چي تاسو د الله تعالی څخه بيريږئ، نو ددغه سوال په جواب کي سکوت اختيارول پکار دي ځکه که چيري تاسو په جواب کي وواياست چي يا نو يقينا کافر به سئ او که وواياست چي هو نو ددې مطلب به دا وي چي تاسو درواغ وويل ، يعني حضرت فضيل دې ته اشاره وفرمايل چي په اصل کي د الله تعالی خوف هغه دی چي اندامونه په گناهو کي د ملوث کېدو څخه په قطعي توگه منع کړي .

په هر حال په دغه حديث کي دا زيری دي چي کوم مسلمان يو وار هم په اخلاص سره الله ياد کړي او يو وخت په حقيقي معنی کي د الله تعالی د عذاب څخه خوف وکړي نو آخر به د دوږخ د عذاب څخه خلاصون تر لاسه کړي بلکه الله تعالی که وغواړي نو په دوږخ کي به يې داخل نه کړي او د پيل څخه به يې په جنت کي واچوي بېله شکه : يغفر لمن يشاء ويعذاب من يشاء. د هغه صفت او شان دی .

د يو آيت تفسير

﴿۵۱۱۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ هٰذِهِ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ څخه ددغه آيت مطلب ما

الْآيَةِ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَهُمُ الَّذِينَ يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ

وپوښتی (والذي يؤتون......) يعني هغه خلک چي ورکوي څه چي ورکوي په داسي حال کي چي د هغوئ زړونه په بيره او لړزان کي وي، ايا دا هغه خلک دي کوم چي شراب چښي

وَيَسْرِقُونَ قَالَ لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيقِ وَلٰكِنَّهُمُ الَّذِينَ يَصُومُونَ وَيُصَلُّونَ

او غلا کوي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د صديق لوري! نه ، بلکه دا هغه خلک دي چي روژې نيسي ، لمونځ کوي

وَيَتَصَدَّقُونَ وَهُمْ يَخَافُونَ أَنْ لَا يُقْبَلَ مِنْهُمْ أُولَئِكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ. رواه الترمذي وابن ماجة.

او صدقه ورکوي او ددې سربيره هغوئ د الله ﷻ څخه بيريږي چي د هغوئ عملونه شايد قبول نه سي. دا هغه خلک دي چي په نيکو کارونو کي تلوار کوي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۳۰٦، رقم: ۳۱۷۵، وابن ماجه ۲\۱۴۰۴، رقم: ۴۱۹۸.

تشريح: په حديث چي کوم آيت ذکر سوی دی هغه دادی:

(وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ أُوْلَئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ).

ددغه آيت په اړه د حضرت عائشې رحمة الله عليها دا خيال وو چي په دې کي د کومو خلکو د بيري ذکر سوی دی د هغه څخه مراد هغه خلک دي کوم چي شراب څښبني، غلا کوي، او نوري بدي کوي ځکه چي د الله تعالی د عذاب څخه هغه خلکو ته بېره پکار ده چي د هغه نافرماني کوي او په بديو کي اخته وي، بې بي عائشې رحمة الله عليها په دې اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه، نو رسول الله ﷺ څرګنده کړه چي ستا دا خيال صحيح نه دی بلکه په حقيقت کي دغه آيت د هغه خلکو په اړه دی چي طاعت او عبادت کوي او ددې سربېره د الله تعالی څخه بېريږي او ددې تر ټولو لوی دليل خپله ددغه آيت آخري الفاظ دي.

څرګنده دي وي چي په ذکر سوي آيت کي دوه قرائتونه دي، په مشهور قرائت کي د قراء سبعه په قرائت کي د يؤتون لفظ دی چي د ايتاء فعل مضارع دی، همدارنګه لفظ آتوا د همزه په مد سره دی چي دايتا فعل ماضي دی او اعطاء په معنی د عطاء يعني د ورکولو په مفهوم کي استعماليږي، لکه څرنګه چي په ترجمه کي دا معنی استعمال سوې ده او په دوهم قرائت کي چي شاذ دی دغه لفظ ياتون ما اتوا، ويل کيږي چي د ايتان څخه مشتق دی او دهغه معنی د کار کولو ده، په دغه صورت کي به معنی دا وي چي هغه خلک چي کوي او څه چي کوي د هغوئ دا حالت دی چي دهغوئ زړونه په لړزه کي وي نو بي بي عائشې رضي الله عنها چي کوم سوال وکړ هغه ددغه دوهم قرائت سره زيات مناسب دی مګر نه يوازي دلته په مشکوة کي بلکه په اصل کتاب مصابيح کي هم دغه لفظ د اول قرائت مطابق نقل سوی دی، او دا زيات صحيح معلوميږي چي دغه لفظ د دوهم قرائت مطابق وي دا خو د طيبي رحمة الله عليه د منقولاتو خلاصه وه، چي هغه د تفسير

زجاج او کشاف څخه نقل کړی دی ، ملا علي قاري رحمة الله عليه په دې اړه چي څه ليکلي دي د هغه خلاصه داده که چيري دغه لفظ رسول الله ﷺ ته د قرائت شاذه مطابق منسوب کړل سي نو هم مراد به دا وي چي هغه خلک چي د طاعت او عبادت څخه څه کوي ګويا ددې څخه مراد هغه نه دی کوم چي بي بي عائشې رضي الله عنها ګڼلی وو، چي هغه خلک کوم چي معصيت او ګناه کوي، همدارنګه دا هم نسي ويل کيدای چي ددغه لفظ څخه عام عمل که هغه د طاعت وي يا د معصيت وي مراددی ځکه چي د آيت آخري الفاظ : (اولئک يسارعون في الخيرات) ددغه مراد تائيد نه کوي ،

خلاصه دا چي د رسول الله ﷺ ارشاد : (الذين يصومون ...الخ) د آيت د آخري الفاظو : (والذين ياتون ما اتوا) څرګند تفسير دی، ، که ددغه الفاظو تعلق په دواړو قرائتو کي د هر يوه سره وي بيا هم دا خبره کيږي چي په دغه دواړو کي د يوه قرائت مطابق په الفاظو کي ډول تغليب دی نو د مشهور قرائت تعلق د آيت چي څرنګه عمل کونکو ته اشاره کوي هغه مالي عبادت دی حال دا چي د قرائت شاذه مطابق ددغه آيت تعلق د بدني عبادت څخه څرګنديږي ددې څخه پرته يو قول دا هم دی چي د مشهور قرائت مطابق چي کوم الفاظ دي د هغه په تفسير کي داسي هم ويل کيدای سي چي هغه خلک کوم چي د خپل ځانو څخه هغه شی ورکوي چي طاعت او عبادت نه وي يعني محنت او مشقت زغملو سره لمونځ کوي، روژې نيسي او نور بدني عبادتونه کوي او د خپل مال څخه د الله تعالى په لار کي مصرف کوي، يعني زکوة ورکوي او صدقه کوي د هغوئ دا حال وي چي د هغوئ زړونه په بېره کي وي ، ددغه تفسير او وضاحت سره دواړه ډوله عبادتونه ددغه آيت په مفهوم کي داخليږي .

د الله جل جلاله ذاکرينو ته نصيحت

﴿۵۱۱۹﴾ : وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَهَبَ ثُلُثَا اللَّيْلِ قَامَ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا اللَّهَ اذْكُرُوا اللَّهَ جَاءَتِ الرَّاجِفَةُ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ . رواه الترمذي.

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هر کله به د شپې دريمه برخه تيره سوه نو رسول الله ﷺ به ولاړ سو او فرمايل به يې اې خلکو ! الله جل جلاله ياد کړئ، الله جل جلاله ياد کړئ ، زلزله راغلل او ددې څخه وروسته راتلونکې ده ، او ددې څخه وروسته مرګ راغلی سره د هغې چي په هغه

کي دي ، مرګ راغلی سره د هغه چي په هغه کي دئ . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۴۹، رقم: ۲۴۵۷.

تشريح: د خلکو په ذريعه رسول الله ﷺ هغه خلک مخاطب کړل چي په آرام خوب ببدہ وہ او د تهجد د لمانځه او ذکر الله څخه غافل وه ، رسول الله ﷺ هغوئ بېدار کړل چي هغه خلک په ذکر الله او تهجد کي بوخت سي نو په دې کي دې ته اشاره ده چي د شپې په آخري برخه کي ولاړېدل او په ذکر الله او نفلو کي بوخت کېدل مستحب مؤکده دي ، په يوه نسخه کي (اذکرو الله) الفاظ دري واره نقل سوي دي ، ګويا په دريم وار د دغه الفاظو مطلب دا وو چي د الله تعالی نعمتونه د هغه در کړي راحتونه او د هغه له خوا پېښېدونکي ضرر ياد کړي .

جاءت الرجفة: زلزله به راځي، په دې کي د قرآن کريم دغه آيت ته اشاره ده چي په هغه کي فرمايل سوي دي : (يوم ترجف الراجفة...الخ) او په دغه جمله کي جاءت د ماضي صيغه د هغه زلزلو راتللو (يعني د شپېلي پوه کولو) پر يقيني باندي استعمال سوې ده او مفهوم هغه دی کوم چي د ترجمې په ذريعه څرګند سوی دی ، يعني هغه وخت راتلونکی دی نو وخت غنيمت وګڼئ او طاعت او عبادت ته تلوار کوئ، په دغه ارشاد کي يوه باريکه نکته هم پټه ده او هغه دا چي خوب په حقيقت کي د مرګ حکم لري چي د لومړي شپېلي پو کولو اثر دی او وېښېدل په دوهم وار د شپېلي پو کولو په حکم کي دی نو دغه دواړه شيان (يعني خوب او وېښه) د قيامت علامې ته اشاره کوي او د قيامت د ياد باعث دي .

مرګ او قبر ډېر يادوئ

﴿۵۱۲۰﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلٰوةٍ فَرَأَى

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره تشريف راوړ او وه يې

نَاسًا كَأَنَّهُمْ يَكْتَشِرُونَ قَالَ أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ

ليدل چي ګويا خلک خاندي، رسول الله ﷺ وفرمايل : که تاسو د خوندونو فنا کونکی شی زيات يادوئ نو هغه به تاسو د دې (خندا) څخه منع کړي

عَمَّا أَرَى الموت فَأَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ

کوم چي زه اوس وينم ، او هغه مرګ دئ، نو تاسو د خوندو فنا کونکی شی هميشه يادوئ چي

مرګ دی، پېښه داده چې هیڅ داسي ورځ نه تیرېږي

يَوْمٌ إِلَّا تَكَلَّمَ فَيَقُولُ أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ وَأَنَا

چې په هغه کي قبر نه وايي چې زه د غربت کور يم، زه د يوازيوالي کور يم زه د خاورو کور يم او

بَيْتُ الدُّودِ وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ مَرْحَبًا وَأَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ

زه د چينجيانو کور يم، هر کله چې مؤمن بنده قبر کي ښخ کړل سي نو قبر ورته وايي ستا راتلل دي مبارک وي ته يو پراخ ځای ته راغلې

لَأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى

ته د هغه خلکو څخه يې چې پر ما ګرځېدل زما په نزد ته ډېر غوره وې، نن ورځ زه پر تا حاکم او قادر جوړ کړل سوی يم او ته مجبور زما په لور راغلی يې، نو ته به ډېر ژر زما

صَنِيعِيَ بِكَ قَالَ فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَإِذَا دُفِنَ

هغه نيک کار ووينې چې زه به يې ستا لپاره کوم ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا د هغه مؤمن لپاره قبر پراخه کړل سي څومره چې نظر کار کوي او د جنت لور ته به يوه دروازه خلاصه سي او هر کله چې

الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوِ الْكَافِرُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ

فاجر او يا کافر بنده ښخ کړل سي نو قبر هغه ته وايي نه دي ستا راتلل مبارک وي او نه قبر ستا لپاره پراخ ځای دئ ته په هغه ټولو خلکو کي چې پر ما ګرځېدل خراب وې،

مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ

نن زه پر تا حاکم جوړ کړل سوی يم او ته مجبور زما په لور راغلی يې ته به ووينې چې زه ستا سره

قَالَ فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حتى تختلف أَضْلَاعُهُ قَالَ و قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

څنګه خراب چلن کوم، ددې ويلو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا قبر هغه کنبېکاري تر دې چې د هغه پښتۍ د يوې څخه بلي خوا ته ووځي، ابو سعيد راوي وايي ددې څخه وروسته رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصَابِعِهِ فَأَدْخَلَ بَعْضَهَا فِي جَوْفِ بَعْضٍ قَالَ وَيُقَيِّضُ لَهُ سَبْعُون

الله ﷺ په خپلو ګوتو اشاره وکړه او يو د بله يې سره ننه ايستلې، ويلي دي رسول الله ﷺ چي بيا

تِنِّينًا لَوْ أَنْ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتْ الدُّنْيَا

پر دې کافر اويا ماران وتاکل سي داسي ماران که په هغو کي يو هم پر مځکه پوه کړي نو تر قيامته پوري به پر مځکه باندي شنګيا نه وسي ،

فَيَنْهَسنه وَيَخْدِشْنَهُ حَتَّى يُفْضَى بِهِ إِلَى الْحِسَابِ قَالَ وَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ

دا ماران به هغه چيچي تر څو چي دا بنده د حساب لپاره بوتلل سي ، د ابو سعيد راوي بيان دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ. رواه الترمذي.

قبر د جنت د باغونو څخه يو باغچه ده يا د دوږخ د کندو څخه يوه کنده ده . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۱۴/۵۵۱، رقم: ۲۴۶۰.

د لغاتو حل: يكتشرون: اى يضحكون (خاندي). هاذم: اى قاطع اللذات. ينهسنه: اى يلدغنه (چيچل).

تشريح: لذت فنا کونکی شی ډېر يادوئ: دا په حقيقت کي د غافلانو لپاره يو ډېر لوی او مؤثر نصيحت دی او په دې کي هيڅ شک نسته چي مرګ يادول غافل زړه ژوندی کوي، د شيخ عارف الله نورالدين علي متقي رحمه الله په اړه منقول دي چي هغه يو کښوڼه غوندي شی جوړ کړی وو او د مرګ لفظ يې پر ليکلی وو کله چي به يو څوک د هغه مريد سو نو هغه کښوڼه به يې د هغه مريد په غاړه کي اچول چي د هغه پر زړه باندي هر وخت دا خپور وي چي مرګ بالکل نژدې دی ليري نه دی، نو موږ په دغه طريقه سره د سالکين طريقت تربيت کولو مقصد وو چي هغه هيڅ وخت غافل نسي او په بيدارۍ سره په طاعت او عبادت کي بوخت وي، همدارنګه د يو ډېر نيک پاچا په اړه ليکل سوي دي چي هغه په خپله پاچاهي کي يو کس پر دې باندي ماموره کړی وو چي هغه هر وخت د هغه تر شا ولاړ وي او مرګ مرګ وايي، چي زړه د الله تعالى څخه د غافل کېدو موقع تر لاسه نه کړي او د هر ډول روحاني ناروغيو علاج يې کيږي .

فانه لم يات: ددغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ دا حکمت بيان کړی دی چي مرګ ډېر زيات يادول پکار دي، او زه د چينجيانو کور يم: يعني زه يو داسي ځای يم چي په هغه کي

راتلونکی اضسان د چینجیانو خوراک سي نو اې انسانه! ستا لپاره دا خبره څرنګه مناسب کېدای سي چي ته د خوراک او څښاک د شیانو د لذت پلټونکی یې او ستا خواهش یو داسي یو غوره خوراک او مشروبات په ذریعه جوړولو او لذّت رسولو کي بوخت وي چي هغه فنا کېدونکي دی او د حقیر چینجیانو خوراک کېدونکی دی، مګر کوم شی چي دلته ستا لپاره ګټور کېدای سي هغه یوازي نېک عمل دی که د ښه عمل سرمایه زما غېږ ته راسي نو یقینا تا ته به ګټه رسوي په دې وجه قبر ته د اعمالو صندوق ویل سوي دي ، ځینو حضراتو په قبر کي د پیدا کېدونکو چینجیانو په اړه دا تحقیق بیان کړی دی چي کله بدن خراب او دهغه د بدبویي څخه چینجی پیدا سي او هغه په بدن خوړلو سره ژوندی وي ، بیا چي کله هلته د هډوکو څخه پرته بل څه پاته نسي نو هغه چینجیان په خپلو کي یو بل خوړل پېل کړي تر دې چي په آخر کي یوازي یو چینجی پاته سي او بیا هغه د لوږي په وجه مړ سي ، علماؤ لیکلي دي چي په قبرو کي د چینجیانو خوراک کېدل او د مځکي د خوړلو څخه د انبیاؤ ، شهیدانو او اولیاء بدنونه خوندي وي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي : (ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء......)

او د شهیدانو په اړه د الله تعالی ارشاد دی : (ولاتحسبن الذین قتلوا في سبیل الله امواتا بل احیاء عند ربهم)، پاته سوه د هغه علماء چي هغوئ په اولیاء الله سره تعبیر کېږي نو کله چي شهیدانو ته دا فضیلت حاصل دی نو هغه علماؤ ته په درجه اولی حاصل دی ځکه چي دهغوئ د قلم رنګ د شهیدانو د وینو څخه غوره دی .

د فاسق څخه په فجور کي اکمل ترین کس ، یعني کافر مراد دی ددې قرینه مقابله لفظ مؤمن بنده دی او یوه قرینه د هغه په حق کي د قبر دا ویل هم دي چي ته زما په نزد د هغه ټولو خلکو څخه زیات خراب وې کوم چي پر ما باندي ګرځي ، ددې تائید د قرآن کریم د آیت څخه هم کېږي چي په هغه کي د فاسق څخه کافر مراد اخیستل سوی دی ، د الله تعالی ارشاد دی: (افمن کان مؤمن کمن کان فاسقا) ، ددې څخه پرته دا خبره هم باید په ذهن کي وي چي د قرآن او حدیث اسلوب او معمول دادی چي دبرزخ او آخرت په باره کي کوم حکم او فیصلې بیانیږئ نو د هغه دوه فریق وي یو خو مؤمن او دوهم کافر، او کوم چي د فاسق مؤمن تعلق دی نو د هغه په اړه سکوت اختیارېږي او دا سکوت اختیارول یا خو پر هغه باندي د پردې اچولو په وجه وي یا ددې لپاره چي هغه د خوف او رجاء په منځ کي وساتل سي چي د هغه مقصد د دغه دواړو مرتبو (یعني کفر او ایمان) په منځ کي پر یوه بېله دریمه مرتبه کول دي لکه چي معتزله وو غلط ګمان کړی دی .

پر هغه كافر باندي اوويا ماران مسلط كيږي: دلته د اوويا شمېر يا خو د تحديد لپاره دى چي په دغه تاكل سوي شمېر سره ماران پر هغه مسلط كيږي يا د عدد څخه كثرت مراد دى چي د هغه مقصد دا مفهوم ادا كول دي چي پر هغه باندي ډېر زيات ماران مسلط كيږي، د يو بل روايت څخه ددغه دوهم احتمال تائيد كيږي چي په قبر كي پر كافر باندي د عذاب كېدو په اړه منقول دى او په هغه كي فرمايل سوي دي چي پر كافر باندي د هغه په قبر كي نهه نيوي ماران مسلط وي.

داخرت بيري سپين ږيرى كړم

﴿۵۱۲۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ جحيفَةَ قَالَ قَالُوْا يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ شِبْتَ قَالَ شَيَّبَتْنِي سورة هُودٌ وَاَخَوَاتُهَا . رواه الترمذي.

د حضرت ابو جحيفة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي صحابه كرامو وويل: اې د الله رسوله ! تاسو سپين ږيري سواست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه سورة هود او ددې په ډول نورو سورتونو (چي په هغو كي د قيامت او عذاب ذكر دئ) سپين ږيرى كړم. ترمذي.

تخريج: الترمذي في الشمائل المحمديه ص ۲۵، رقم: ۴۱.

تشريح: يعني په سورة هود او داسي نورو سورتو كي د قيامت او آخرت د عذاب ډېر ذكر دى د هغه د مضمون په لېدو سره د خپل امت له خوا دا غم ما خوري چي معلومه نه ده زما د امت د خلكو به څه حشر وي، په دغه غم خوړلو سره زما دا حال سو يدى.

﴿۵۱۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ شِبْتَ قَالَ شَيَّبَتْنِي هُودٌ وَالْوَاقِعَةُ وَالْمُرْسَلَاتُ وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ. رواه الترمذي و ذكر حديث ابي هريرة لا يلج النار في كتاب الجهاد.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه وويل: چي اې د الله رسوله ! تاسو سپين ږيرى سواست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه سورة هود، سورة واقعه، سورة مرسلات، سورة نباء او سورة تكوير سپين ږيرى كړم، ترمذي، او د ابو هريرة رضي الله عنه حديث په كتاب الجهاد كي بيان سوى دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۱۴\۳۷۵، رقم: ۳۲۹۷.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د صحابه کرامو ډېر احتياط

﴿۵۱۲۳﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُونَ أَعْمَالًا هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعَرِ إِنْ كُنَّا نعد عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمُوبِقَاتِ يَعْنِي الْمُهْلِكَاتِ. رواه البخاري.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي تاسو داسي عمل کوئ چي ستاسو په نظر کي تر وريښتانو زيات نری دئ (يعني ډېر معمولي) مگر موږ به دا کارونه د رسول الله ﷺ په زمانه کي هلاکونکي کارونه شميرل. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۳۲۹، رقم: ۶۴۹۲.

تشريح: مطلب دادی چي تاسو خلک داسي داسي کارونه کوئ او داسي داسي شيان اختياروئ چي ستاسو په نظر کي ډېر معمولي وي او ډېر حقير وي او تاسو هغه په مکروهاتو کي شمېرئ مگر حقيقت دادی چي هغه کارونه او هغه شيان ډېر تاواني وي او لوي تباهی ته بېونکي وي ، د رسول الله ﷺ په زمانه کي به موږ خلکو داسي کارونه په هغه کارو کي شمېرل چي د اُخروي انجام په اعتبار په هلاکت کي اچونکي وه .

د کوچنيو کوچنيو گناهو څخه هم پرهيز کوئ

﴿۵۱۲۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا عَائِشَةُ إِيَّاكِ وَمُحَقَّرَاتِ الذنوب فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللّٰهِ طَالِبًا. رواه ابن ماجة والدارمي والبيهقي في شعب الايمان.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې عائشې ! خپل ځان د هغه گناهو څخه وساته چي هغه حقير او معمولي گڼل کيږي ځکه چي په دغه گناهونو سره د الله ﷻ د لوري يو مطالبه کونکی هم سته (يعني ملائکه). ابن ماجه، دارمي او بيهقي.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۴۱۷، رقم: ۴۲۴۳، والدارمي ۲\ ۳۹۲، رقم: ۲۷۲۶، والبيهقي في الشعب ۵\ ۴۵۴، رقم: ۷۲۶۱.

تشریح: مطالبه کونکي هم سته: مطلب دادی چي پر داسي گناهو باندي یو ډول عذاب تاکل سوی دی چي ددغه گناهو کونکي په خپل واک کي اخلي، یعني خپله هغه عذاب د الله تعالی ځخه د داسي خلکو د حواله کولو مطالبه کوي او الله تعالی د هغه مطالبه نه رد کوي، په دې اعتبار سره د طالبا په لفظ کي تنوین د اظهار تعظیم لپاره دی او د جملې په اعتبار د طالبا عظیما په مفهوم کي دی نو دا خبره د هیڅا لپاره مناسب نه ده چي هغه ددې ځخه غافل وي لکه څرنگه چي اکثر خلک داسي کوچني کوچني کارونه کوي چي د صغیره گناه په حکم کي وي او ډېر معمولي یې گڼي او هغه ته څه ارزښت نه ورکوي د هغه نتیجه داسي چي هغوئ د توبې او استغفار په ذریعه د هغه گناهو ځخه نه منع کیږي او نه د هغه په وجه په خوف کي اخته کیږئ او هغوئ ددې ځخه غافل وي چي پر یو کوچنی گناه باندي اصرار یعني هغه په وار وار کول او د هغه ځخه پرهېز نه کول صغیره گناه نه پاته کیږي بلکه د گناه کبیره په حکم کي راځي او هسي هم هره صغیره گناه د الله تعالی د عظمت او کبریائي په نسبت کبیره ده چي د هغه لږ برخه هم ډېره لویه جوړیږي ځکه الله تعالی کله گناه کبیره خو معاف کړي مگر پر صغیره گناه باندي عذاب ورکوي لکه څرنگه چي دهغه ددغه ارشاد: (ویغفر ما دون ذلک لمن یشاء) ځخه مفهوم کیږي ،او د قرآن کریم ددغه آیت:

(إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ)

مطلب دادی چي موږ ستاسو صغیره گناهونه ستاسو د هغه عبادتونو په ذریعه پرېولو کوم چي گناهونه رژوي مگر شرط دادی چي تاسو د گناه ځخه پرهېز کوئ که هغه صغیره گناه وي یا کبیره گناه وي، یعني په دغه آیت کي د شرط محض کبیره گناهو ځخه د ساتني نه دی لکه څرنگه چي د معتزله گمان دی بلکه ددغه شرط تعلق د مطلق گناه سره دی.

په یو بل روایت کي چي احمد او طبراني نقل کړی دی فرمایل سوي دي چي تاسو خپل ځان د کوچنیو گناهو ځخه هم وساتئ ځکه چي د کوچنیو گناهو مثال د هغه خلکو په ډول دی چي په یوه کنده کي کښېنته سي او هلته هغوئ د یوه یوه لرگي په جمع کولو سره یو ځای کړي او بیا خپله ډوډۍ پخه کړي همدارنگه د صغیره گناهو کونکی د کوچنیو کوچنیو گناهو په کولو سهر دومره وبال جمع کوي چي آخر د گناهو کښېنتي ډکه سي او هغه غرق سي او په دې کي شک نسته چي کله الله تعالی کوچني گناهو والا ونیسي نو هغه هلاکوي.

حضرت عمر رضي الله عنه حضرت ابوموسی رضي الله عنه ته څه وويل؟

﴿۵۱۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ لِي عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ هَلْ تَدْرِي

د حضرت ابو بردة بن ابي موسی رضي الله عنه څخه روايت دئ چي ما ته عبد الله بن عمر رضي الله عنه وويل ايا تا ته معلومه ده چي

مَا قَالَ أَبِي لِأَبِيكَ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ فَإِنَّ أَبِي قَالَ لِأَبِيكَ يَا أَبَا مُوسَى هَلْ يَسُرُّكَ

زما پلار ستا پلار ته څه ويلي وه؟ ما ورته وويل يا ما ته نه ده معلومه، عبد الله وويل: زما پلار ستا پلار ته ويلي وه چي اې ابو موسی! ايا دا خبره تا ته ښه معلومېږي چي

اَنَّ إِسْلَامَنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِجْرَتَنَا مَعَهُ وَجِهَادُنَا مَعَهُ

زموږ اسلام د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بعثت سره وو او زموږ هجرت د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو او زموږ جهاد د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو

وَعَمَلُنَا كُلُّهُ مَعَهُ بَرَدَ لَنَا وَأَنَّ كُلَّ عَمَلٍ عَمِلْنَا بَعْدَهُ نَجَوْنَا مِنْهُ كَفَافًا رَأْسًا

او زموږ ټول اعمال د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وه، چي زموږ د مال غنيمت په ډول دي (يعني ثابت او برقرار) او د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته چي کوم اعمال موږ کړي دي لکه د هغه څخه چي موږ

بِرَأْسٍ فَقَالَ ابوك لا ابي لَا وَاللهِ قَدْ جَاهَدْنَا بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

سر په سر خلاص سو نو زموږ لپاره دا بس ده، ستا پلار ددې په اوريدو سره زما پلار ته وويل: يا داسي نه ده قسم په خدای د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وروسته موږ جهاد وکړ،

وَسَلَّمَ وَصَلَّيْنَا وَصُمْنَا وَعَمِلْنَا خَيْرًا كَثِيرًا وَأَسْلَمَ عَلَى أَيْدِينَا بَشَرٌ كَثِيرٌ وَإِنَّا

موږ لمونځ وکړ، موږ روژې ونيولې او موږ ډير نيک عملونه وکړل او زموږ په لاس ډير خلک مسلمانان سول او اميد دئ چي موږ ته ددې عملونو ثواب تر لاسه سي، ددې اوريدو سره زما

لَنَرْجُو ذٰلِكَ قَالَ أَبِي وَلٰكِنِّي أَنَا وَالَّذِي نَفْسُ عُمَرَ بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنَّ ذٰلِكَ بَرَدَ

پلار ورته وويل: مګر زه په هغه ذات قسم خورم چي د هغه په لاس کي د عمر ساه ده زه دا خوښوم چي کوم اعمال موږ کړي دي هغه ثابت او برقرار دي

لَنَا وَأَنَّ كُلَّ شَيْءٍ عَمِلْنَا بَعْدَه نَجَوْنَا مِنْهُ كَفَافًا رَأْسًا بِرَأْسٍ فَقُلْتُ إِنَّ أَبَاكَ وَاللهِ كَانَ خَيْرٌ مِنْ أَبِي. رواه البخاري.

او كوم اعمال چي موږ د رسول الله ﷺ څخه وروسته كړي دي د هغو څخه موږ سر په سر خلاص سوو ، ددې اوريدو سره ما وويل قسم په خداى ستا پلار زما د پلار څخه غوره وو . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۲۵۴، رقم: ۳۹۱۵.

د لغاتو حل: بَرَد : اى ثبت ودام (ثابت قدمه سو).

تشريح: سر په سر خلاص سو : ددغه الفاظو په ذريعه حضرت عمر ﷛ د خپل دغه احساس اظهار وكړ چي موږ د رسول الله ﷺ څخه وروسته كوم اعمال اختيار كړل ، او كوم نيك كارونه چي مو وكړل الله ﷻ ښه پوهيږي چي هغه په كوم ډله كي اېښودل سوي دي ايا هغه قبول سول يا د قبول وړ ونه ګرځول سول، په دغه صورت كي زموږ آرزو غوره ده چي د هغه اعمالو څخه موږ ته نه ګټه ورسيږي او نه تاوان ، نه پر هغه ثواب راكړل سي او نه د عذاب سبب وګرځول سي، يعني كه چيري هغه اعمال زموږ لپاره د ثواب سبب نسي كيداى نو الله ﷻ دي وكړي چي هغه زموږ په حق كي د عذاب سبب هم جوړ نسي .

طاعت ناقص ما موجب غفران نشود راضيم گر مدد علت عصيان نشود

نوموږ چي كوم اعمال د رسول الله ﷺ په روزنه او ملګرتيا كي كړي دي او د هغه د قبوليت ګمان لرو نو كه چيري هغه ثابت پاته سي نو لوى سعادت دى او كوم اعمال چي موږ د رسول الله ﷺ څخه وروسته كړي دي او هغه د خپل نقص او خرابۍ څخه خالي نه دي كه چيري د هغه څخه موږ سرا وتن خلاص سو نو دا هم لوى غنيمت دى ، د حضرت عمر ﷛ ددغه احساس بنياد په اصل كي پر دغه حقيقت باندي وو چي اتباع كونكي د عمل او عمل په اړه په اخلاص كي د حجت او فساد خپله ذمه دار نه وي بلكه هغه د خپل متبوع د ذمه داري لاندي وي لكه څرنګه چي د هغوئ دلمانځه معامله ده، چي د هغه د لمانځه صحيح ادا كېدل د امام د لمانځه پر صحيح كېدو انحصار لري كه د امام لمونځ صحيح ادا نسي نو د مقتدي لمونځ هم صحيح ادا كيداى نسي همدارنګه د مقتدي د لمانځه فاسد كېدل د امام د لمانځه پر فاسد كېدو انحصار لري نو كوم اعمال چي د رسول الله ﷺ په صحبت او لارښوونه كي ادا سول د هغه صحت او خوبي سره ادا كېدل او درجه كمال ته رسېدل د شک او شبهې څخه وتلي دي همدارنګه كوم

عبادت چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته سوي دي د هغه د نیتونو د تغیر او د حالاتو د خرابۍ څخه متاثر کېدل د امکان څخه لیري نه دي ددې خبري اقرار خو د صحابه کرامو په نزد په دغه الفاظو کي کیږي چې کوم وخت رسول الله ﷺ له دنیا څخه رخصت سو نو موږ د رسول الله ﷺ پر قبر مبارک باندي د خاورو اچولو څخه وروسته خپل لاسونه څنډلي نه وه او د رسول الله ﷺ خاورو سپارلو کي بوخت وو چې موږ په خپلو زړونو کي یو لوی بدلون محسوس کړ.

ددې مطلب دا وو چې د افتاب نبوت په لوېدو سره پر پوره کائنات باندي تیاره خپره سوه، او دهغه صحابه کرامو زړونه یې هم متاثر کړل او هغوئ محسوس کړه چې موږ په زمانه رسالت کي د ایمان او اخلاص او یقین او اعتقاد کوم مقام باندي وو اوس د رسول الله ﷺ څخه وروسته هغه مقام نه دی راغلی که حضرت عمر رضي الله عنه دا وفرمایل چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته موږ کوم عبادتي اعمال وکړل د هغه څخه سر او تن خلاصېدل هم زموږ په حق کي لوی غنیمت دی نو هغوئ یقینا ډېره عارفانه خبره وفرمایه، څرګنده دي وي چې ددې خبري تعلق د پاکو نفسو سره دی چې جلیل القدر صحابه کرامو او د خپل ایمان او اعتقاد په اعتبار د ټول امت څخه افضل وه نو ظاهره ده چې د هغه خلکو په اړه څه ویل کیدای سي او د هغوئ به څه حال وي چې د هغه پاکو نفسو څخه هم وروسته دغه دنیا ته راغلل او د هغوئ طاعت او عبادت د غرور او ریاء څخه بالکل ډک وي، پرته ددې څخه چې الله جل جلاله پر چا باندي د خپل فضل او کرم سایه وکړي یعني بد خلک د خپلو نیکو بندګانو په ډله کي په حسن عاقبت سره ونازوي، ځینو عارفینو دا هم ویلي دي چې هغه ګناه او معصیت چې په بنده کي د ندامت، پښېماني او ذلت باعث سي هغه طاعت او عبادت څخه غوره دی چې په غرور او تکبر کي اخته کړي.

د روایت آخری شی یعني د حضرت ابوبرده رضي الله عنه دا قول (قسم په خدای ستا پلار زما تر پلار غوره وو) مطلب دا دی چې کله ستا پلار د دومره غوره کېدو او د زیاتو اعمالو او فضائلو سربېره د خوف او بیري پر دغه مقام وو نو په دې کي هیڅ شک نسته چې هغه زما تر پلار زیات غوره سو او د هغه مرتبه به زیاته لوړه وي یا دا مراد دی چې پر دې خبره تعجب دی چې ستا پلار سره ددې چې زما د پلار څخه افضل وو مګر هغه د اخرت په معامله کي دومره په بېره وو نو ددې څخه معلومه سوه چې د آخرت معامله ډېره نازکه ده.

د نهو خبرو حکم

﴿۵۱۲۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنِي رَبِّيْ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما پروردګار ما ته د نهو

بِتِسْعٍ خَشْيَةِ اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ كلمة الْعَدْلِ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضٰى وَالْقَصْدِ

(۹) خبرو حكم راكړى دئ (او هغه دادي): (۱): په ظاهر او باطن كي د الله جل جلاله څخه بيريدل (۲) د غصي او رضا مندى په حالت كي رښتيا ويل

فِي الْفَقْرِ وَالْغِنٰى وَأَنْ أَصِلَ مَنْ قَطَعَنِيْ وَأُعْطِيَ مَنْ حَرَّمَنِيْ وَأَعْفُوْ عَمَّنْ ظَلَمَنِيْ

(۳) په فقر او غنا كي ميانه روي كول (۴) څوک چي زما سره تعلق قطع كوي زه د هغوئ سره هم قرابت او خپلوي ساتم (۵) زه هغه سړي ته هم وركوم څوک چي ما محروم كوي (۶) څوک چي پر ما ظلم وكړي

وَأَنْ يَّكُوْنَ صَمْتِيْ فِكْرًا وَّنُطْقِيْ ذِكْرًا وَنَظَرِيْ عِبْرَةً وَآمُرَ بِالْعُرْفِ وَقِيْلَ بِالْمَعْرُوْفِ. رواه رزين.

زه د بدلې اخيستلو سربيره هغه معاف كړم (۷) زما پټه خوله دي غور او فكر وي (۸) زما وينا دي ذكر الهي وي (۹) او زما نظر دي عبرت تر لاسه كولو لپاره وي او زما پروردګار دا حكم كړى دئ چي زه امر بالمعروف او نهي عن المنكر وكړم. رزين.

تخريج: رواه رزين.

تشريح: د آخري الفاظو مطلب دادى چي په يوه روايت كي د بالعرف پر ځاى د باالمعروف الفاظ دي او د دواړو معنى يوه ده يعني ښه خبره.

پاته سوه دا خبره چي كله د امر باالمعروف ذكر سوى دى نو د نهي عن المنكر ذكر ولى ونه كړل سو، نو ددې وجه داده چي د امر باالمعروف لفظ عام دى چي د هغه په دائره كي د نهي عن المنكر مفهوم هم راځي حال دا چي يوازي د امر باالمعروف لفظ استعماليږي نو ددې څخه مراد پوره مفهوم وي يعني د نيكۍ حكم وركول او د بدۍ څخه منع كول (يعني د نيكۍ حكم وركول په حقيقت كي د بد ى څخه منع كول دي). څرګنده دي وي چي د رسول الله ﷺ د امر باالمعروف حكم فرمايل د مذكوره خبرو د حكم څخه پرته دى او دا حكم د جامعيت حامل دى چي ددې په دائره كي د خالق او مخلوق سره اړوند ټولي ښه خبري او طاعات راځي چي رسول الله ﷺ په تفصيل سره د ذكر كولو څخه وروسته په اجمالي توګه ذكر كړې.

د الهي بيري څخه ژړا

﴿۵۱۲۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوْعٌ وَإِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الذُّبَابِ مِنْ

د الله ﷻ هيڅ مؤمن بنده داسي نه وي چي د هغه د سترګو څخه د الله ﷻ په بيره کي اوښکي و بهيږي که څه هم چي هغه اوښکي د مچ د سر برابر وي

خَشْيَةِ اللّٰهِ ثُمَّ يُصِيبُ شَيْئًا مِنْ حُرِّ وَجْهِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ. رواه ابن ماجة.

بيا هغه اوښکي د هغه د مخ يو حصې ته ورسيږي خو دا چي الله تعالى پر هغه د دوږخ اور حرام کړي . ابن ماجه .

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۴۰۴، رقم: ۴۱۹۷.

==========

بَابُ تَغَيُّرِ النَّاسِ (د خلکو د حالاتو د بدلون بيان)

د تغير معنی دبدلون ده يعني د يوه حالت په پرېښودو سره بل حالت اختيارول، دلته په خلکو کي د تغير څخه مراد د مسلمانانو د هغه حالت بدلېدل دي کوم چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي وو، د رسو ل الله ﷺ په زمانه کي د اهل ايمان حالت دا وو چي هغوئ د دين پر لار په سختئ سره قائم وه ، د احکام سنت التزام وو، د حق پيروان وه ، د دنيا څخه بې شوقه وه، د شريعت غوره اعمال، نيک خصلتونه او ښه اخلاق د هغوئ عادت ثانيه وو ، د الله تعالى په لاره کي سينه سپر او سپدل د زړه د نورانيت او د باطن د پاکوالي په جوهر سره متصف وه .

مګر د رسول الله ﷺ څخه وروسته څرنګه چي زمانه تېرېدل د خلکو په حالاتو کي بدلون راتلی تر دې چي په آخره زمانه کي د هغوئ حالات او معاملات بالکل برعکس سول .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د خلکو قحطي

(۵۱۲۸): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا النَّاسُ كَالْإِبِلِ الْمِائَةِ لَا تَكَادُ تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً. متفق عليه.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: انسان د سلو اوښانو په ډول دي چي په هغو کي به ته يو د سپرلۍ وړ تر لاسه نه کړې. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۳۳، رقم: ۶۴۹۸، ومسلم ۴\۱۹۷۳، رقم: ۲۳۲- ۲۵۴۷.

تشريح: راحلة: هغه اوښ ته وايي چي روغ او توانا وي او د سپرلۍ لپاره ډېره ښه ګڼل کيږي، په دغه الفاظو کي د ت حرف د مبالغې د اظهار لپاره دی.

د حديث مطلب دا دی چي په دغه دنيا کي خلک خو ډېر دي لکه څرنګه چي اوښان ډېر وي مګر څرنګه چي په اوښانو کي د سپرلۍ او بار وړلو قابل يو څو اوښان وي همدارنګه د کار خلک چي د رسول الله ﷺ د کار او صحبت قابل وي او د صحبت حق ادا کولای سي او د هغه په نېک مقصد کي د هغه مرستيال ثابت سي ډېر کم وي، د رسول الله ﷺ زمانه په دې اعتبار تر ټولو غوره وه چي په هغه کي د کار خلک زيات وه بيا وروسته که څه هم د مخکي زمانې په نسبت د داسي خلکو شمېر کم وو مګر د راتلونکو زمانو په اعتبار هغه شمېر يقينا زيات وو، بيا دهغه څخه په وروسته زمانه کي د داسي خلکو شمېر که څه هم د دوهمي زمانې د شمېر څخه هم کم وو مګر د راتلونکو زمانو په اعتبار يقينا ډېر زيات وو.

په حديث کي د سل شمېر ذکر سوی دی چي د تحديد او تعين لپاره نه دی بلکه د کثرت د اظهار لپاره دی، خلاصه دا چي په خلکو کي داسي خلک وجود لري چي پر هغه د مخلص عالم باعمل اطلاق کېدای سي ځکه د هري زمانې ارباب حال دا وايي چي دا زمانه د قحط الرجال ده، د حضرت سهل تستري رحمه الله په اړه منقول دي چي هغه يوه ورځ په مسجد کي خلک ډېر ولېدل چي مسجد د ننه او دباندي ډک سوی وو نو وه يې فرمايل: کلمه ويونکي يقينا ډېر دي مګر په دوئ کي د مخلص خلکو شمېر ډېر کم دی دا مفهوم الله جل جلاله هم په قرآن کريم کي پر څو موقعو باندي بيان کړی دی.

د مسلمانانو په باره کي يو پيشګويي

﴿۵۱۲۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دخلوا جُحْرَ ضَبٍّ تبعتموهم قيل يَارَسُولَ اللّٰهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى قَالَ فَمَنْ. متفق عليه.

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو خلک به يقينا د هغو خلکو د طريقو پيروي کوئ کوم چي ستاسو مخکي تير سوي دي، لوېشت برابر د لويشت او لاس برابر د لاس تر دې که هغوئ د سمسارې په سوري کي ننوځي نو تاسو به هم په هغه کي ننوزئ، پوښتنه وسول اې دالله رسوله! (ايا ستاسو مراد) يهود او نصارا دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: (هغوئ نه نو) نور څوک؟ بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٤٩٥، رقم: ٣٤٥٦، ومسلم ٤\ ٢٠٥٤، رقم: ٦ - ٢٦٦٩.

تشريح: سنن د سنت جمع ده چي معنی يې د طريقې ده که هغه نېکه طريقه وي يا خرابه طريقه وي، دلته دد غه لفظ څخه د هغه خواهش پرست او دين مسخ کونکو خلکو طريقې مراد دي چي هغوئ دخپل نبي او پيغمبر تېرېدو څخه وروسته د خپل نفساني خواهشاتو او درواغجنو اغراضو لاندي خپل دين بدل کړ او دهغوئ نبي او پيغمبر هغوئ ته د الله کتاب پرې ايښی وو په هغه کي هغوئ تحريف وکړ او دهغه په احکامو او مسائلو کي يې بدلون وکړ، په ځينو نسخو کي دغه لفظ د سين په زور سره دی.

لوېشت د لويشت برابر او لاس د لاس برابر: مطلب دا وو چي په هر کار او هره معامله کي د هغوئ مکمله اتباع او پيروي کول او دهغوئ ټولي طريقې اختيارول.

په دنيا کي درجه په درجه ښه خلک کميږي

﴿۵۱۳۰﴾: وَعَنْ مِرْدَاسٍ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ قَالَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْهَبُ الصَّالِحُونَ الْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ و تبقى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ الشَّعِيرِ أَوِ التَّمْرِ لَا يُبَالِيهِمُ اللّٰهُ بَالَةً. رواه البخاري.

د حضرت مرداس اسلمي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نيک بخت خلک به

يو په بل پسې مړه کيږي او بيکاره خلک به پاته سي چي الله تعالى د اوربشو د پروړ يا د خرماوو د هډوکو په ډول د هغوئ پروا نه کوي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۴۴، رقم: ۴۱۵۶.

د لغاتو حل: حُفالة: اى نخالة. (پروړ، بوس). بالة: اى مبالاة. (د خرما مندکي)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

يو پيشګوئي چي صحيح ثابته سوه

﴿۵۱۳۱﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَشَتْ أُمَّتِي الْمُطَيْطِيَاء وَخَدمتهم أَبْنَاءُ الْمُلُوكِ أَبْنَاءُ فَارِسَ وَالرُّومِ سلط الله شِرَارُهَا عَلَى خِيَارِهَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي زما د امت خلک په تکبر سره ګرځي او خدمت وکړي د دوئ زامنو د فارس او روم د پاچاهانو د اولاد نو الله تعالى به دد ې امت خراب خلک پر ښو خلکو مسلط کړي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۵۶، رقم: ۲۲۶۱.

د لغاتو حل: المطيطياء: وهو مشي فيه التبختر ويروى بغير الياء الاخيرة وهو لفظ الجامع.

تشريح: دا حديث د رسول الله ﷺ د نبوت د دليلونو څخه يو دليل دی ځکه چي رسول الله ﷺ ددغه حديث په ذريعه د يوې داسي خبري خبر ورکړی دی چي په راتلونکې زمانه کي واقع کېدونکي وه او رسول الله ﷺ د وړاند ويني چي کومه خبره وکړه هغه حرف په حرف صحيح ثابته سوه، دا خبره د اسلامي تاريخ يو عين حقيقت دی چي مسلمانانو د فارس او روم سيمي فتح کړې د هغه ځای بې شمېره دولت يې د غنيمت په توګه تر لاسه کړ د هغه سيمو او ښارو خلک يې بنديان کړل او د پاچاهانو اولاد يې هم غلامان کړل او د هغوئ څخه يې د خدمت کار واخيست او همدارنګه په هغوئ کي دا احساس پيدا سو او د اخلاص پر ځای د عزت او منصب، مال او دولت مينه اختيار کړه، نو بيا الله تعالى پر هغوئ باندي هغه خلک مسلط کړل چي هغوئ حضرت عثمان رضي الله عنه شهيد کړ، تر دې چي بني هاشم چي تر پرونه پوري د مسلمانانو د قيادت او

سيادت امين ګڼل کېدل او د هغوئ خلافت او حکمراني پر ټوله نړۍ قائمه وه پر هغوئ يې د بنو اميه مسلط کړل او بنو اميه چي څه وکړل هغه د اسلامي تاريخ يو داسي تريخ حقيقت دی چي دلته بيانول يې مناسب نه دي.

د مطيطاء معنی ده د دواړو لاسو په ښورولو سره په تکبر تلل، د لغت په مشهورو کتابو، قاموس، صحاح، صراح او مشکوة په صحيح نسخو کي داسي دي مګر په مجمع البخاري او ددغه کتاب څخه وروسته په حواشي کي ليکلي دي چي دغه لفظ د دوهمي ط څخه وروسته هم په ياء سره منقول دی چي محذوف دی يعني مطيطا پر ځای مطيطی دی، ددې څخه معلومه سوه چي د دوهمي طاء څخه وروسته هم د ياء حرف دی بلکه په يوه معنی کي دا رواج هم دی.

قيامت به کله قائم سي

﴿۵۱۳۲﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النبي ﷺ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتُلُوا إِمَامَكُمْ وَتَجْتَلِدُوا بِأَسْيَافِكُمْ وَيَرِثَ دُنْيَاكُمْ شِرَارُكُمْ. رواه الترمذي.

د حضرت حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي تاسو خپل امام قتل نه کړئ او په خپل منځ کي يو بل په توره ونه وهئ او ستاسو د دنيا مالکان ستاسو شرير او بد خلک نه سي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۰۷، رقم: ۲۱۷۰.

د لغاتو حل: تجتلدوا: ای تتضاربوا.

د قيامت يوه نښه

﴿۵۱۳۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكُونَ أَسْعَدَ النَّاسِ بِالدُّنْيَا لُكَعُ ابْنُ لُكَعٍ. رواه الترمذي والبيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي په دنيا کي تر ټولو زيات نصيب خور او شتمن هغه کس نه سي چي احمق (بې عقله) وي او د بې عقل زوی وي. ترمذي او بيهقي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۲۷، رقم: ۲۲۰۹.

د عیش او راحت ژوند

﴿۵۱۳۴﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي مَنْ سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي

د حضرت محمد بن کعب قرظي رحمه الله څخه روایت دئ چي ما ته يو سړي بيان وکړ چي هغه د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه څخه اوريدلي وه

طَالِبٍ قَالَ إِنَّا لَجُلُوسٌ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَاطَّلَعَ

يعني حضرت علي رضي الله عنه وويل: موږ خلک په مسجد نبوي کي د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي

علينا مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ مَا عَلَيْهِ إِلَّا بُرْدَةٌ لَهُ مَرْقُوعَةٌ بِفَرْوٍ فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ

مصعب بن عمير راغلئ د هغه پر بدن هغه وخت يو څادر وو چي په هغه کي د پوست پیوند لګيدلی وو ، د هغه په ليدو سره

اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكَى لِلَّذِي كَانَ فِيهِ مِنَ النِّعْمَةِ وَالَّذِي هُوَ فِيهِ الْيَوْمَ

رسول الله ﷺ په ژړا سو (او وه يې فرمايل) : په يوه زمانه کي هغه (يعني مصعب) څومره خوشحاله وو او نن د هغه څه حالت دئ ،

ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ بِكُمْ إِذَا غَدَا أَحَدُكُمْ فِي حُلَّةٍ

بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه وخت به ستاسو څه حال وي چي په سهار کي يوه جوړه (جامې)

وَرَاحَ فِي حُلَّةٍ وَوُضِعَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ صَحْفَةٌ وَرُفِعَتْ أُخْرَى وَسَتَرْتُمْ بُيُوتَكُمْ

اغوندئ او په ماښام کي بله جوړه او ستا مخته د خوراک يوه پياله کښېښودل سي او بله پورته کړل سي ، او پر خپلو کورونو به داسي پردې واچوئ

كَمَا تُسْتَرُ الْكَعْبَةُ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مِنَّا الْيَوْمَ نَتَفَرَّغُ

لکه څرنګه چي پر کعبه اچول سوې ده ، صحابه کرامو وويل: اې د الله رسوله ! موږ به په هغه ورځ د نن څخه په غوره حال کي يو ځکه چي موږ ته به هغه وخت د عبادت لپاره ډير وخت تر لاسه

لِلْعِبَادَةِ وَنُكْفَى الْمُؤْنَةَ قَالَ لَا انتم الْيَوْمَ خَيْرٌ مِنْكُمْ يَوْمَئِذٍ . رواه الترمذي

سي او د محنت او بوختيا څخه به بې فکره يو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :يا، (داسي نه ده بلكه) نن ورځ تاسو د هغه ورځي څخه غوره ياست. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۵۸، رقم: ۲۴۷۶.

د لغاتو حل: لگم: اي لئيم.

تشريح: سيوطي رحمه الله په جمع الجوامع كي د حضرت عمر رضي الله عنه دا روايت نقل كړى دى چي يوه ورځ مصعب ابن عمير رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سو نو هغه وخت هغه د پسه د پوست يوه تسمه پر خپل ملا تړلې وه، رسول الله ﷺ چي هغه ولېدى نو د مجلس حاضرينو ته يې وفرمايل دغه سړي ته وګورئ چي دده زړه الله تعالى منور كړى دى، حقيقت دادى چي ما دده مور او پلار په داسي حال كي ليدلي دي چي دوى به ده ته يې ښه خوراك وركوى او ښه جامې به يې په اغوستلې، ما دده پر بدن يو داسي جامه ليدلې ده چي د دوو سوو درهمو په عوض كي يې رانيولې وه يعني دا هغه سړى دى چي خپل په تېر ژوند كي يې ډېر عيش او عشرت كړى دى، مګر د الله تعالى او رسول محبت دغه حالت ته رسولي دي چي اوس يې تاسو وينئ، د الله تعالى بې پايه رحمتونه دي نازل وي پر هغه جليل القدر صحابي باندي، چي د هغه نوم معصب ابن عمير رضي الله عنه دى، قريش الاصل دى، د لوړي درجې په صحابه كرامو كي شمېرل كيږي د مكې څخه يې هجرت وكړ د دنيا ټولو نعمتونو او راحتونو ته يې لغته وركړه او د رسول الله ﷺ په خدمت كي مدينې ته راغلى لكه څرنګه چي رسول الله ﷺ شهادت وركړى دى د اسلام څخه مخكي زمانه كي د مكې په لويو شتمنو كي وو، ډېري ښه جامې به يې وي او ښه خوراك بهٔ يې كوى، مګر كله چي مسلمان سو نو ټول عيش او عشرت يې پرېښود، د الله او رسول په عشق كي داسي رنګ سو چي د دنيا او د دنيا د شيانو څخه يې نفرت پيل كړ، زهد يې اختيار كړ نو كله چي دى د احد د غزا پر موقع په شهادت ورسيدى نو د شهادت په وخت كي د هغه عمر څلوېښت كاله وو يا تر دې څه زيات وو.

د حديث څخه په څرګنده دا معلوميږي چي د حضرت معصب رضي الله عنه په لېدو سره د رسول الله ﷺ په زړا كېدل د هغه د بدحالي په وجه د رحم او شفقت له كبله وو چي دا هغه سړى دى چي دخپل قوم ستركي په ده لوړېدلې ده، دعيش او ارام ژوند يې تېروى او اوس دغه حالت ته رسيدلى دى چي پر بدن باندي پېوند سوى څادر يې پر ځان چاپېره كړى دى او په څادر باندي خپل وخت تېروي مګر دا خبره د هغه واقعې خلاف معلوميږي چي د هغه ذكر مخكي هم په يوه

روایت کي تېر سوی دی چي یوه ورځ حضرت عمر ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او رسول الله ﷺ یې د بوټکو پر کټ پروت ولیدی چي د بټکو نښې د رسول الله ﷺ پر بدن مبارک لګېدلي وي نو هغه وخت په ژړا سو ، هغه د رسول اللهﷺ د شفقت څخه ډک ژوند د فارس او روم د پاچاهانو د ژوند سره مقایسه کړ چي د الله تعالی سرکښ او نافرمانه کېدو سربېره د عیش او عشرت ژوند تېروي ، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ حضرت عمر ﷺ ته وفرمایل چي ته تر اوسه د فکر او پوهي د دغه مقام څخه وراندي سوی نه یې ، د خدای بنده! ایا ته په دې راضي نه یې چي دغه پاچاهانو ته یوازي د دنیا نعمتونه حاصل سي او موږ د آخرت په نعمتونو او سعادتونو سره ونازول سو ، غوره داده چي د حضرت معصب ﷺ په لېدو سره د رسول الله ﷺ ژړا د خوښۍ پر ژړا باندي محمول کړل سي چي د خپل امت خلک د دنیا څخه په زهد اختیارولو عقبی ته متوجه دي ،

او که چیري دغه ژړا پر غم او حسرت باندي محمول کړل سي نو په هغه صورت کي به ویل کیږي چي د رسول الله ﷺ غم په اصل کي پر دې خبره وو چي زما د امت داسي خلکو ته د ژوند د اړتیا شیان هم تر لاسه نه دي چي یوازي د دغه دنیا لپاره ضروري نه دي بلکه په طاعت او عبادت کي هم معاون او مرسته کونکي دي، بلکه د ضرورت په اندازه جامه او نور شیان هم نه لري، د دغه تاویل تائید د رسول الله ﷺ د دغه الفاظو (کیف بکم اذا غدا ..الخ او انتم الیوم خیر منکم) څخه هم کیږي ځکه چي هغه مفلس او غریب سړی چي د ژوند اړتیا د کفایت په اندازه شیانو مالک وي د غني او شتمن سړي څخه غوره دی ، غني او شتمن سړی د مال تر لاسه کولو په هڅه کي د زیاتي بوختیا په وجه د طاعت او عبادت لپاره د قلبي او بدني سکون څخه لیري وي ، په دې اعتبار سره دغه حدیث په حقیقت کي پر دې خبره دلالت کوي چي صبر او استقامت اختیارونکي غریب او مفلس شکر ګزار تر شتمن زیات افضل دی نود صحابه کرامو په ډول خلکو تعلق چي د امت تر ټولو زیات په ایمان او عقیده ټینګ خلک وه چي د هغوئ په نسبت ایمان او عقیده کي ډېر زیات ضعیف دي د دې مؤید هغه حدیث هم دی کوم چي د یلمي په فردوس کي د حضرت ابن عمر ﷺ څخه مرفوعا نقل کړیدی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (مارویت الدنیا عن احد الا کانت خیرة له)، او ملا علي قاري رحمه الله د دغه روایت نقل کولو څخه وروسته یوه خاص خبره کړې ده چي (عن احدٍ) د هغه چا لفظ عام دی چي د دې مفهوم مؤمن او غیر مؤمن ټولو ته شامل دی نو په دوږخ کي د شتمن کافر په نسبت د فقر او مفلس کافر عذاب به سپک وي نو د دې څخه دا خبره څرګنده سوه چي کله په دغه فاني دنیا کي فقر او

افلاس كافر ته دا گټه ورسول نو هغه مؤمن ته به دارالقرار كي گټه ولي ونه رسوي چي په دنيا كي پر خپل فقر او مفلسۍ باندي صابر پاته سوی وي.

د فسق او فجور په وخت كي به پر دين قائمېدل مشكل سي

﴿۵۱۳۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب اسنادا.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يوه زمانه به پر خلكو داسي راسي چي په هغه كي به پر دين صبر كونكى د هغه سړي په ډول وي چي هغه په خپل موټ كي سكروټه اخيستى وي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى په اسنادو كي.

تخريج: سنن الترمذي ۴۵۶/۴، رقم: ۲۲۶۰.

تشريح: مطلب دا دى چي په آخره زمانه كي كله چي بدي عامه سي، فسق او فجور خپور سي او په ټولنه كي د بدكارو خلكو دومره غلبه سي چي د دين خبره كونكي او ديندار كسان به نه تر لاسه كيږي نو هغه وخت دين اختيارول او ثابت قدمي سره تلل به دومره سخت وي لكه څرنگه چي يو سړى په خپل لاس كي سكروټه ونيسي او د هغه پر تكليف باندي صبر وكړي.

ژوند كله ښه وي او مرگ كله

﴿۵۱۳۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي

أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ فَظَهْرُ

ستاسو اميران ستاسو غوره خلك وي او شتمن ستاسو سخيان وي او ستاسو كارونه په خپل منځ كي په مشورې سره كيږي نو هغه وخت به د

الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ

مځكي شا ستاسو لپاره د مځكي د نس څخه غوره وي (يعني ژوند به مو تر مرگ غوره وي) او

هر كله چي ستاسو اميران شرير او بد خلک وي او ستاسو شتمن

بُخَلَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

بخيل وي او ستاسو كارونه ستاسو د ښځو په لاس كي وي نو دغه وخت به ستاسو لپاره د مځكي نس د مځكي ترشا غوره وي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دئ.

تخريج: سنن الترمذي ۴۵۹\۱۴، رقم: ۲۲۶۶.

تشريح: مطلب دا دی چي هغه ټولنه ډېره بدبخته ده چي په هغه كي خلک خپل معاملات ښځو ته حواله كوي، حال دا چي ښځي د سړو په نسبت په عقل او دين دواړو كي كمزوري او د ناقص كېدو په وجه داسي صلاحيت نه لري ځكه فرمايل سوي دي چي: (شاوروا هن وخالفوا هن) يعني د ښځو سره مشوره كوئ مگر د هغوئ د رايي خلاف عمل كوئ، همدارنگه هغه سړي هم د ښځو په حكم كي داخل دی چي د هغه په ډول حال يې وي يعني پر كومو كسانو چي د مال غلبه وي چي په دې نه پوهېږي چي كوم شی دين ته تاوان رسوي او كوم كار د دين او شريعت خلاف دی د يو شي او د يوې معاملې څه انجام كيږي نو هغوئ هم يقينا د ښځو په ډول د عقل او دين دواړو په اعتبار كمزوري دي نو داسي سړي چي خپل مقتدا او رهنما جوړول او خپل اختيار هغوئ ته سپارل د ټوله ټولني د تباهي او خرابي سره مخامخ كېدل دي.

د حديث ظاهري طرز دا تقاضا كوي چي كله په اوله برخه كي دا فرمايل سوي دي چي تاسو خپل معاملات په مشوره سره فيصله كوئ نو په دوهمه برخه كي داسي فرمايل پكار وو چي ستاسي معاملات د اختلاف ښكار سي مگر د داسي فرمايلو پر ځای دا فرمايل چي ستاسو د معاملاتو واگي د ښځو په لاس كي وي، يعني دې ته اشاره كول دي چي په خپلو كي پيدا كېدونكي اختلاف او تنازعات په عامه توگه د ښځو تابع كولو او د هغوئ پر خبره د تللو په وجه كيږي.

د دنيا سره محبت او د مرگ څخه بېره

﴿۵۱۳۷﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ الْأُمَمُ

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د گمراه خلكو ډلي نژدې دي

أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا فَقَالَ قَائِلٌ وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ

چي په هغوئ کي ځيني خلک به ستاسو سره د جنګېدو او ستاسو د شان او شوکت ختمولو لپاره راوغوښتل سي لکه څرنګه چي خوراک خوړونکی يو ډله بله ډله د خوراک لپاره بولي ، ددې اوريدو سره صحابه کرامو کي يو چا پوښتنه وکړه ايا هغه خلک به په دې وجه پر موږ غلبه

يَوْمَئِذٍ قَالَ بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ وَلٰكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ وَلَيَنْزَعَنَّ

وکړي چي موږ به هغه وخت په شمير کم يو؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه زمانه کي به تاسو په ډير شمير کي ياست مګر داسي لکه څرنګه چي د درياب يا وياليو پر غاړه د اوبو ځګ وي (يعني تاسو به ډير کمزوري ياست)

اللّٰهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ وَلَيَقْذِفَنَّ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ قَالَ

ستاسو رعب او هيبت به د دښمنانو د زړونو څخه ووځي او ستاسو په زړونو کي به ضعف او سستي پيدا سي ،

قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا الْوَهْنُ قَالَ حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ. رواه ابوداؤد والبيهقي في دلائل النبوة.

يو چا وويل: اې د الله رسوله ! وهن (ضعف او سستي) څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د دنيا مينه او د مرګ څخه بيزاري . ابوداؤد او بيهقي.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۸۲، رقم: ۴۲۹۷.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

يو څو بدۍ او د هغو ګناه

﴿۵۱۳۸﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا ظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ إِلَّا أُلْقِيَ اللّٰهُ فِي قُلُوبِهِمُ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي په کوم قوم کي د غنيمت په مال کي خيانت پيدا سي نو الله تعالی د هغوئ په زړونو کي د دښمن رعب پيدا کړي

الرُّعْبُ وَلَا فَشَا الزِّنَا فِي قَوْمٍ إِلَّا كَثُرَ فِيهِمُ الْمَوْتُ وَلَا نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ

او په کوم قوم کي چي زنا کاري خپره سي نو په هغوئ کي مرګونه زيا تيږي او کوم قوم چي په تول کي کمي کوي

وَالْمِيزَانَ إِلَّا قُطِعَ عَنْهُمُ الرِّزْقُ وَلَا حَكَمَ قَوْمٌ بِغَيْرِ الْحَقِّ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الدَّمُ وَلَا خَتَرَ قَوْمٌ بِالْعَهْدِ إِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِمُ الْعَدُوَّ. رواه مالك.

نود هغوي رزق به پورته سي او کوم قوم چي ناحق حکم کوي نو په هغوئ کي به ويني تويول يعني وژل خپريږي او کوم قوم چي قول او وعده ماتوي پر هغوئ به دښمن مسلط کيږي. مالک.

تخريج: موطا الامام مالک ۱۲\۵۶۰، رقم: ۲۶.

د لغاتو حل: ختر: اى غدر (چم کول)

==========

بَابُ الْإِنْذَارِ وَالتَّحْذِيْرِ

(د بيرولو او نصيحت کولو بيان)

د مشکوة په صحيح نسخو کي د ذکر سوي عنوان پر ځای يوازي باب ليکل سوی دی، مطلب دادی چي دغه باب د تېرو بابو اړوند دی مګر ابن ملک رحمه الله دلته د باب ذکر سوی عنوان قائم کړی دی او موږ هغه نقل کړی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د خدای جل جلاله احکام

﴿۵۱۳۹﴾: عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عياض بن حمار مجاشعي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ورځ په خپله

قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ أَلَا إِنَّ رَبِّي أَمَرَنِي أَنْ أُعَلِّمَكُمْ مَا جَهِلْتُمْ مِمَّا عَلَّمَنِي

خطبه کي وفرمايل: خبردار! الله تعالى ما ته دا حکم کړی دی چي زه درته دا خبره ښيم چي تاسو ته نه ده معلومه: الله تعالى نن ما ته د کومو خبرو تعليم را کړی دئ

يَوْمِي هَذَا كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ

په هغو کي ځيني خبري دادي : (۱) الله تعالى دا فرمايلي دي کوم مال چي ما خپل يو بنده ته ورکړی دی هغه حلال دی (۲) او الله تعالى دا فرمايلي دي ما خپل بندګان د حق په لور مائل

وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ

کړي دي بيا هغوئ ته شيطانان راغلل او هغوئ يې د خپل دين څخه واړول ، او پر هغوئ يې هغه شيان حرام کړل کوم چي ما پر حلال کړي وه

لَهُمْ وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنْزِلْ بِهِ سُلْطَانًا وَإِنَّ اللَّهَ نَظَرَ إِلَى أَهْلِ

او شيطانانو هغوئ ته دا حکم ورکړ چي زما سره هغه شی شريک کړي چي د هغه په شريکوالي کي هيڅ دليل نه دئ نازل سوی (۳) او الله تعالى دا فرمايلي دي چي الله پاک د مځکي پر

الْأَرْضِ فَمَقَتَهُمْ عَرَبَهُمْ وَعَجَمَهُمْ إِلَّا بَقَايَا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَقَالَ إِنَّمَا

او سيدونکو نظر واچوئ نو عرب او عجم ټولو باندي غضب ناک سو (ځکه چي هغوئ مشرکان وه) مګر يوه ډله د اهل کتابو څخه (چي مشرکان نه وه) (۴) او الله تعالى وفرمايل چي ما

بَعَثْتُكَ لِأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيَ بِكَ وَأَنْزَلْتُ عَلَيْكَ كِتَابًا لَا يَغْسِلُهُ الْمَاءُ تَقْرَؤُهُ

(محمد ﷺ) ته په دې سبب پيغمبر راليږلې يې چي زه تا وازمويم او ستا سره ستا قوم هم وازمويم ، او ما تاته يو داسي کتاب درليږلی دئ چي هغه او به نسي خرابولای يعني چي په زړونو

نَائِمًا وَيَقْظَانَ وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أُحَرِّقَ قُرَيْشًا فَقُلْتُ رَبِّ إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي

کي خوندي وي چي ته به يې په خوب او ويښه کي ويلای سې. (۵) او الله تعالى ما ته حکم راکړی دئ چي زه قريش وسوځم (يعني د قريشو کفار تباه او برباد کړم) د دې حکم اوريدو سره ما وويل: قريش خو به زما سر ميده کړي

فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً قَالَ اسْتَخْرِجْهُمْ كَمَا أَخْرَجُوكَ وَاغْزُهُمْ نُغْزِكَ وَأَنْفِقْ

او د ډوډۍ په ډول به مي ټوټې ټوټې کړي ،وويل پروردګار ته هغوئ د وطن څخه وباسه لکه

ځرنګه چي يې ته د خپل وطن څخه ايستلي وې او د هغوئ سره جهاد وکړه موږ به ستاسو لپاره د جهاد سامان برابر کړو او په خپلو لښکر خرڅ کوه،

فَسَنُنْفِقَ عَلَيْكَ وَابْعَثْ جَيْشًا نَبْعَثْ خَمْسَةً مِثْلَهُ وَقَاتِلْ بِمَنْ أَطَاعَكَ مَنْ عَصَاكَ. رواه مسلم.

موږ به درته د خرڅ کولو انتظام وکړو تاسو د هغوئ په مقابله کي لښکر وليږئ موږ به دد ښمن د لښکر پنځه برابر توان سره ستاسو مرسته وکړو او کومو خلکو چي پر تا ايمان راوړ او ستا فرمانبردار دي هغوئ د ځان سره ملګري کړه او د هغه خلکو سره جګړه وکړه چا چي نافرماني او سرکښي کړې ده. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۹۷، رقم: ۶۳- ۲۸۶۵.

د لغاتو حل: نحلته: ای اعطيته. اجتالتهم: ای صرفتهم.

تشريح: حق ته مائل پيدا کړل: مطلب دادی چي الله تعالی هغه ټول خلک په داسي صلاحيت او استعداد سره پيدا کړل چي د قبول حق او طاعت په لاره کي به د هغوئ مرسته کونکي وي، په دغه ارشاد کي هغه (فطرت اسلام) ته اشاره ده چي د هغه په اړه فرمايل سوي دي (يعني هر کوچنی د اسلام په استعداد او صلاحيت سره پيدا کيږي) د دغه جملې مطلب دا نه دی چي هغه په حقيقت کي مؤمن او مسلمان پيدا سوی وي مګر وروسته د شيطان د ګمراهۍ په وجه کافر سي، يا د دغه جملې په ذريعه هغه عهد ته اشاره ده چي د ميثاق په ورځ د ټولو روحو څخه الله تعالی د خپل ربوبيت عهد اخيستی وو او ټولو دا اقرار کړی وو چي بېله شکه موږ ټول تا خپل رب منو، په عهد او اقرار کي د هغه خلکو روحونه هم وه چي دغه دنيا ته د راتلو څخه وروسته د شيطان د ګمراه کولو په وجه د خپل هغه عهد او اقرار څخه منکر سول، او د مؤمن کېدو پر ځای يې کفر او شرک اختيار کړ.

په خوب او وېښه کي: مطلب دادی چي داسي ملکه درکړل سوې ده چي قرآن کريم هر وخت ستا په ذهن کي حاضر وي او په هر حالت کي ستا نفس هغه ته متوجه وي نو ته نه د بيداری په حالت کي د هغه څخه غافل يې او نه د خوب په حالت کي، دا يوه محاوره ده چي کله يو سړی په يو خاص کار کي مهارت او ملکه لري او زيات په هغه کي بوخت وي نو ويل کيږي چي هغه په وېښه او خوب کي دا کار کوي، خلاصه دا چي قرآن د خوب په وخت کي هم ستا په زړه کي وي،

مگر ملا علي قاري رحمه الله وايي چي د رسول الله ﷺ د زړه مبارک په نسبت سره دا تاويل غير ضروري دی ځکه چي د رسول الله ﷺ زړه خو هر وخت بېدار وو ، دخوب په حالت کي به هم يوازي سترګي مبارکي بېده وې او پر زړه به يې هيڅ غفلت نه خپرېدی نو ددغه جملې مطلب دادی چي دخوب په حالت کي به هم د قرآن کريم څخه د رسول الله ﷺ تعلق نه قطع کېدی ، فرق يوازي دادی چي د ويښي په حالت کي به د رسول الله ﷺ پر ژبه او زړه دواړو باندي قرآن کريم جاري وو او د خوب په حالت کي به يوازي پر زړه باندي جاري وو ، د قرآن اعجاز دی چي کوم پاک نفسه خلک د کلام الله سره زيات تعلق لري نو دهغوئ ژبه د خوب په حالت کي هم تلاوت کوي لکه څرنګه چي د ډېرو بزرګانو په اړه منقول دي ، هغوئ ليدل سوي دي چي هغوئ بېده دي مګر پر ژبه يې د قرآن تلاوت جاري وي او تر دې زياته عجيبه واقعه هغه ده چي په ځينو کتابو کي منقول ده چي يو سړی به خپل شيخ سره هره ورځ سهار د قرآن لس آياتونه تلاوت کول ، کله چي شيخ وفات سو نو هغه سړي د خپل عادت سره سم سهار وختي را پورته سو د شيخ قبر ته حاضر سو او هلته يې لس آياتونه تلاوت کړل ، د تلاوت څخه د فارغه کېدو وروسته پته خوله سو چي ناڅاپه د قبر څخه د خپل شيخ اواز واورېدی چي دخپل ژوند د معمول مطابق هغه هم لس آياتونه تلاوت کړل ، ددې څخه وروسته هغه سړي دا خپل معمول جوړ کړي چي هره ورځ به سهار قبر ته تلی او لس آياتونه به يې تلاوت کول او د قبر څخه دننه به د خپل شيخ څخه هم د لس آياتو تلاوت اورېدی او دا لړۍ تر ډېره وخته پوري جاري وه ، يوه ورځ هغه دا پيښه خپل يو ملګري ته بيان کړل نو د هغه ورځي څخه د شيخ د تلاوت آواز اورېدل موقوف سول .

قريشو ته د اسلام دعوت

﴿۵۱۴۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ صَعِدَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله دا آيت نازل سو (وانذر عشيرتک الاقربين): و بيروه خپل نژدې خپلوان،

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفَا فَجَعَلَ يُنَادِي يَا بَنِي فِهْرٍ يَا بَنِي عَدِيٍّ

نو نبي کريم ﷺ د صفا غونډۍ ته وختی او په لوړ آواز يې قومونه را بلل چي اې بني فهرو!، اې

لِبُطُونِ قُرَيْشٍ حَتَّى اجْتَمَعُوا فَقَالَ أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا بِالْوَادِي

بني عديو !، د قريشو فرقو ته يې دعوت وركوى ، كوم وخت چي ټول خلك راجمع سول نو رسول الله ﷺ وفرمايل : كه زه تاسو ته دا ووايم چي دغه شيلې ته يو لښكر راكښته سوى دئ

تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوا نَعَمْ مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا

او پر تاسو حمله كول غواړي نو ايا تاسو به زما خبره رښتونې وګڼئ ؟ قريشو وويل هو ته همېشه زموږ په تجربه كي رښتونى ثابت سوى يې ،

قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ سَائِرَ

نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه د الله جل جلاله د لوري په بيرولو مامور سوى يم ، ستاسو په وړاندي سخت عذاب موجود دئ ، ددې اوريدو سره ابولهب وويل پر تا دي ټوله ورځ هلاكت

الْيَوْمِ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا

وي ايا تا ددې لپاره موږ راجمع كړي يو ، پر دې خبره باندي سورة نازل سو (تبت يدا ابي لهب) : د ابولهب دواړه لاسونه دي هلاك سي ،

كَسَبَ. متفق عليه. وفي رواية نادى يا بني عبد مناف انما مثلي ومثلكم

بخاري او مسلم ، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ قريش يو ځاى كړل او ورته وه يې فرمايل : اې د عبدمناف اولاده ! زما او ستاسو حال د هغه چا په ډول دئ

كمثل رجل راى العدو فانطلق يربا اهله فخشي ان يسبقوه فجعل يهتف يا صباحاه.

چي هغه دد ښمن لښكر ووينې بيا هغه خپل قوم دد ښمن څخه د ژغورولو لپاره پر يو غره باندي وخيژوي مګر بيا ددې بيرې څخه چي د ښمن د هغه ترمخه ونه رسيږي د هغه غره څخه دا ويل شروع كړي يا صباحاه (يعني د د ښمن څخه ځان وساتئ) بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۵۰۱، رقم: ۴۷۷۰، ومسلم ۱\۱۹۳، رقم: ۳۵۵ - ۲۰۸.

د لغاتو حل: يربا : اى يحفظ من العدو (د د ښمن څخه ساتنه). يا صباحاه: كلمة تقال لانذار امر مخوف (د يو داروونكي شي څخه بېرول).

تشریح: بطن په اصل کي نس ته وايي مګر د ډلي يا ښاخ په معنی کي هم استعماليږي چي د قبيلې لاندي درجه ده، د بطن څخه لاندي چي کومه درجه وي هغه ته فخذ وايي ، يعني په عربو کي د نسب لوړي درجي ته قبيله وايي ، د هغه څخه وروسته درجې ته بطن او د هغه څخه وروسته درجې ته فخذ وايي، قريش د قبيلې نوم دی چي د هغه مورث اعلی نضر بن کنانه وو، د نضر ابن کنانه څخه وروسته چي کوم ښاخونه وه هغه په بطن سره تعبير کيږي او بيا د بطون څخه وروسته ښاخو ته فخذ ويل کيږي ، په اصطلاحي الفاظو کي ددې خلاصه داسي ده چي قبيله په منزله د جنس ، بطن په منزله د نوع او فخذ په منزله د فصل دی .

د وادي (شيلې) څخه مراد د حجاز هغه خاص سيمه ده چي د مکې شمالي خوا ته تقريبا پر شپاړس ميله فاصله باندي واقع ده او هغه ته وادي فاطمه ويل کيږي، دا يوه نخلستاني سيمه ده او ددغه ځای مځکه زرغونه او د کرني وړ ده، ددغه شيلې يو پخوانی نوم مرالظهران هم دی ، د مکې او مدينې په منځ کي دغه پخوانی لار ددغه خوا څخه هم شمېرل کېدل .

د ابولهب دواړه لاسونه دي مات سي: دلته دلاسو ماتېدو او هلاکېدو څخه مراد د هغه د ذات هلاکېدل دي لکه څرنګه چي د قرآن کريم ددغه الفاظو : (ولا تلقوا بايديکم الی التهلکة) څخه ثابتيږي، چي په عربي کي د ذات هلاکت د لاسو په هلاکت سره هم تعبير کيږي، ځيني حضرات وايي چي د هغه د دواړو لاسو څخه مراد د هغه دواړه جهانه يعني دنيا او آخرت تباه او برباد سول، ځينو حضراتو دا تحقيق هم بيان کړی دی چي په خاصه توګه د هغه د لاسو ذکر ځکه سوی دی چي کله رسول الله ﷺ حاضرين د اسلام د دعوت په وړاندي کولو سره د الله ﷻ د عذاب څخه وېرول نو ابولهب هغه وخت يوازي پر ذکر سوې خبره اکتفاء ونه کړل بلکه هغه په خپلو لاسو ډبره پورته کړل او د رسول الله ﷺ ويشتل يې غوښتل .

عبدمناف د قريشو د هغه دوو ښاخو د جد اعلی نوم دی چي د رسول الله ﷺ د پيغمبر کېدو پر وخت تر ټولو مشهور مقتدر او غالب ښاخونه وه ،د عبد مناف دوه زامن يعني هاشم او عبدشمس چي کوم ښاخونه وه په هغوئ کي د يوه يعني د هاشم اولاد ته بنوهاشم ويل کيږي او دا د رسول الله ﷺ کورنۍ ده ، ددغه کورنۍ په ممتازو کسانو کي د رسول الله ﷺ څخه پرته حضرت علي رضی الله عنه او حضرت عباس رضی الله عنه هم دي ، د حضرت علي او حضرت عباس رضي الله عنهما څخه چي کومه لړۍ روانه ده (علوي) او هغه ته عباسي ويل کيږئ، د عبدمناف دوهم زوی عبدشمس وو د هغه ښاخ د هغه زوی اميه څخه وچلېدی او هغه کورنۍ بنواميه اهم اشخاصو کي حضرت ابوسفيان ، مروان او سيدنا عثمان غني رضی الله عنه دي .

صباحاه: دا يو داسي لفظ دی چي په عربو کي د يو خطرې په وخت کي د بيرې لپاره ويل کيږي او ددې اصل دادی چي لفظ د صباح د سهار څخه مشتق دی او په عامه توګه دښمن د سهار په وخت کي په حمله کولو سره چپاو راوړي ځکه چي د يو حملې د خطرې پر وخت چوکېدار او محافظ ددغه لفظ په ذريعه چغې وهي چي خلک د حملې د خطرې څخه خبر کړي او د مقابلې لپاره تيار سي، نو ددغه لفظ معنی دا کيږي چي اې خلکو! هوښيار سئ مخکي تر دې چي دښمن ستاسو د تباه کولو سره حمله وکړي، د خپل ساتني لپاره ددغه ځای څخه ووځئ يا د مقابلې لپاره تيار سئ، نو رسول الله ﷺ دخپلو قريشو په مخکي د ذکر سوي مثال په بيانولو سره دا وفرمايل چي زه هم تاسو د يو داسي عذاب د خطرې څخه خبروم چي تاسو به تباه او برباد کړي نو مخکي تر دې چي هغه عذاب نازل سي تاسو د اسلام په قبلولو سره د هغه عذاب څخه خپل ځانونه وساتئ.

﴿۵۱۴۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي کله دا آيت نازل سو (وانذر عشيرتک الاقربين): يعني خپل نژدې خپلوان ويروه،

دَعَا النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشًا فَاجْتَمَعُوا فَعَمَّ وَخَصَّ فَقَالَ يَا بَنِي كَعْبِ

نو رسول الله ﷺ قريش راجمع کړل، کله چي هغوئ يو ځای سول نو رسول الله ﷺ په خطاب کي تعميم وکړ او تخصيص هم (يعني د ليرې نيکه چي ټول پکښې شامل وه او په نامه د نژدې نيکه چي ځيني پکښې شامل وه را وه بلل) هغوئ يې مخاطب کړل او ورته وه يې فرمايل: اې د کعب

بْنِ لُؤَيٍّ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي مُرَّةَ بنِ كَعْبٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ

بن لؤی اولادې! خپل ځان ددوزخ داور څخه وساتئ، اې د مُره بن کعب اولاده! ځان ددوزخ

النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ شَمْسٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ أَنْقِذُوا

څخه وساتئ، اې دعبد شمس اولادې! ځانونه ددوزخ څخه وساتئ، اې د عبد مناف اولادې!

أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي هَاشِمٍ أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ

خپل ځان د اور څخه وژغوری، اې د هاشم اولادې! ځانونه خپل مو د دوزخ څخه وساتئ، اې د

عبد المطلب اولادې!

أَنْقِذُوا أَنْفُسَكُمْ مِنَ النَّارِ يَا فَاطِمَةُ أَنْقِذِي نَفْسَكِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ

ځانونه مو د دوږخ څخه وساتئ، اې فاطمې! خلاصه کړه ځان خپل د دوږخ څخه، ځکه چې زه د الله ﷻ د لورې د يو شي مالک نه يم،

مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّ لَكُمْ رَحِمًا سَأَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا. رواه مسلم. وفي المتفق عليه

البته پر ما ستاسو د خپلوۍ حق دئ چې زه يې د خپلوۍ په لوندوالي لوندوم. مسلم او په متفق

قَالَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ اشْتَرُوا أَنْفُسَكُمْ لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا وَيَا بَنِي

عليه حديث کې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اې د قريشو ډلې! خپل ځانونه (په ايمان راوړلو سره) رانيسي زه تاسو څخه د دوږخ اور نه سم ليرې کولای او اې

عَبْدِ مناف لَا أُغْنِي عَنْكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا يَا عَبَّاسَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ لَا أُغْنِي

د عبد مناف اولادې! زه ستاسو څخه د الله عذاب نه سم دفع کولای او اې عباس بن عبد المطلب

عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا يَا صَفِيَّةُ عَمَّةَ رَسُولِ اللّٰهِ لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا يَا

زه تا د الله ﷻ د عذاب څخه خلاصولای نه سم او اې صفيې! (د محمد ﷺ عمه) زه تا د الله ﷻ د عذاب څخه خلاصولای نه سم

فَاطِمَةُ بِنْتَ رَسُولِ اللّٰهِ سَلِينِي مَا شِئْتِ من مالي لَا أُغْنِي عَنْكِ مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا.

او اې د محمد لورې! فاطمې زما د مال څخه چې څومره غواړې وه يې غواړه مګر تا د الله ﷻ د عذاب څخه نه سم خلاصولای.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۱۹۲، رقم: ۳۴۸۰-۲۰۴.

د لغاتو حل: ببلالها: اى بصلتها والاحسان اليها (ښېګڼه او احسان).

تشريح: لُؤي: د لام په پېښ او د همزه په زبر سره دی مګر کله همزه په واو سره بدليږي او اخر يې د ياء په تشديد سره راځي، لوی د قريشو د جد اعلی نوم دی چې د غالب ابن فهم زوی وو، او دا هغه فهر دی چې د هغه په اړه د ځينو حضراتو وينا ده چې د قريش نضر ابن کنانه پر ځای د

هغه لقب وو او په دې اعتبار د قريشو د نسب لړۍ د ابتداء څخه د فهر په نامه كيږي ، ځکه دا دي وي چي قريش په اصل كي د القرش څخه وتلى دى چي د هغه معنى د تجارت ده، مګر ځيني حضرات وايي چي قريش په اصل كي د قرش څخه وتلى دى چي معنى يې د يو خطرناک ماهي ده چي هغه ته کلب البحر هم وايي، دغه ماهى په اوبو كي د ټولو حيوان په خپل غابښ سره د توري په ډول پريکوي.

مرة ابن كعب هم د قريشو د يو ښاخ د جد اعلى نوم دى ، د خپل ښاخ د نسب په لړۍ كي د عبدمناف نوم د عبد شمس مخكي راځي ځکه چي هغه د عبد شمس پلار وو مګر دلته په روايت كي د هغه ذكر د عبد شمس څخه وروسته سوى دى ، د رسول الله ﷺ د جد اعلى هاشم پلار هم عبدمناف وو .

اې د هاشم زامنو ! د دغه الفاظو په ذريعه رسول الله ﷺ خپل اکاګان او د اکا زامن ټول مخاطب کړل ، خلاصه دا چي رسول الله ﷺ د قريشو ټول ښاخونه جمع كړه او د اسلام دعوت يې وركړ او هغوئ يې د الله ﷻ د عذاب څخه وېرول تر دې حده چي خپل اولاد يې هم په هغه كي شامل كړ ، د رسول الله ﷻ د ځيګر ټوټه حضرت فاطمه رضي الله عنها چي د ټولو ښځو سرداره وه او پر هغې د دوزخ اور حرام دى هغه يې هم د الله ﷻ د عذاب څخه وېرول .

د يو شي مالک نه يم: مطلب دا دى كه چيري الله تعالى تاسو ته د عذاب دركولو اراده وكړي نو زه پر دې قادر نه يم چي تاسو د هغه د عذاب څخه وساتم ، يعني د رسول الله ﷺ دا فرمايل د الله تعالى د دغه ارشاد په بناء وو چي :

(قُلْ فَمَن يَمْلِكُ لَكُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا إِنْ أَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا) .

بلكه الله تعالى فرمايلي دي:

(قُل لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ) .

چي زه يې د خپلوۍ په لوندوالي لوندوم : دلته د لوندوالي څخه مراد قرابت ساتل دي او د هغه قريبانو سره احسان او ښه چلن كول دي، د دغه جملې خلاصه دا ده چي زه د خپلو قريبانو سره ښه چلن كوم د هغوئ مرسته او كومک كوم او هغوئ د ظلم او تاوان څخه ساتم .

په نهايه كي ليكلي دي چي بلال په اصل كي د بل جمع ده چي د هغه معنى د لوندوالي ده او عربو په داسي ځايو كي د لوندوالي اطلاق پر احسان او ښه چلن كولو باندي كوي، لکه څرنګه چي بيس يعني د وچوالي اطلاق پر قطع تعلق او بد چلن باندي كوي، او د دې وجه دا ده چي كله

هغوئ ولېدل چي ځيني شيان داسي دي چي دهغه برخي د لوندوالي په ذريعه د يو بل سره منسلک وي نو کله چي د وچوالي پيدا کېدل هغه برخي د يو بل څخه بېلي کړي نو هغوئ د استعارې په توګه لوندوالی په وصل يعني يو ځای کېدو او وچوالی په منقطع کېدو سره تعبير کړ.

رسول الله ﷺ چي ټول قريش او د هغوئ سره خپل خاندان او نژدې قريبان په کوم انداز کي د الله ﷻ د عذاب څخه وېرول هغه د الله ﷻ د حکم په تعميل کي او د مقصد د عظمت په لحاظ ډېر سخت او ډېر زور وو، او خپله خبره په زيات ازرښت سره د بيانولو په وجه وو چي الله ﷻ، رسول الله ﷺ ته د ېرولو حکم وکړ او رسول الله ﷺ د ټولو په جمع کولو سره وېرول، کنه نو په هغه مخاطبينو کي ډېر خلک داسي هم وه چي دهغوئ فضيلت او د هغوئ په جنت کي داخلېدل په ډېرو رواياتو کي ثابت دي ددې څخه پرته کله چي دخپل امت د نورو خلکو په حق کي د رسول الله ﷺ شفاعت کول او دهغه شفاعت قبلېدل يو يقني امر دی نو بيا خاص قريبان لکه حضرت عباس، بي بي صفيه، بي بي فاطمه او داسي نور د زيات شفاعت او خاص رحمت مستحق دي مګر څرنګه چي ښودل سوي دي چي دا وخت په هر حال ددې خبري متقاضي وو چي د ېرولو فريضه په زيات ارزښت سره ادا کړل سي او د الله ﷻ د بې نيازۍ خوف په هر صورت کي باقي وي ځکه رسول الله ﷺ ټولو مخاطبينو ته خاص قريبانو ته هم دا وفرمايل چي ستاسو خلکو هم د الله ﷻ د عذاب څخه پر ساتنه باندي قادر نه يم، ددې څخه پرته دا هم ويل کيدای سي چي د ېرولو دغه واقعه د مخکي ده حال دا چي ددغه خاص قريبانو فضيلت او د رسول الله ﷺ د شفاعت زيری وروسته وارد سوی دی.

زما د مال څخه څه چي غواړې وه يې غواړه: ددغه جملې په اړه ځينو حضراتو ته دا سوال پيدا سوی دی چي د رسول الله ﷺ اقتصادي ژوند د تنګۍ او مفلسۍ څخه ډک وو، د دې په لېدو سره دا ويل کيږي چي د رسول الله ﷺ سره مال چيري وو، په خاصه توګه د مکې د ژوند په وخت کي خو رسول الله ﷺ په سختو مصيبتو او مشکلاتو کي وو، په داسي صورت کي بي بي فاطمې ﷺ ته د رسول الله ﷺ ددغه فرمايلو څه مطلب کېدای سي چي د مال څخه څه غواړې زما څخه يې وغواړه زه هغه شی تا ته درکوم، مګر که چيري په فکر کي وکتل سي نو ددغه سوال هيڅ حقيقت نه پاته کيږي، اول خو په دې وجه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي: (ووجدک عائلا فاغنى) يعني موږ ته محتاج او مفلس ترلاسه کړې نو شتمن مو کړې، مفسرين وايي چي د شتمنتوب څخه مراد د حضرت خديجې ﷺ مال او دولت ته اشاره ده چي د هغې سره د نکاح وروسته د رسول الله ﷺ په واک او تصرف کي مال راغلی او رسول الله ﷺ چي څرنګه غوښتل

هغه مال او دولت يې مصرفوی، نو معلومه سوه چې هغه وخت رسول الله ﷺ بالکل خالي لاس نه وو، دوهم دا چې د مال اطلاق پر لږ مال او زيات مال دواړو باندي کيږي نو دا خبره د کوم ځای څخه معلومه سوه چې د رسول الله ﷺ سره هيڅ شی هم نه وو، او دريم دا چې د ذکر سوې جملې صحيح کېدل په هغه صورت کي ضروري دي کله چې رسول الله ﷺ سره هغه وخت مال موجود وو، د دغه جملې په ذريعه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چې کله ما ته مال او اسباب راسي او الله تعالی ما ته څه راکړل نو ته د هغه څخه چې څه غواړې وغواړه تا ته به يې درکړم مګر کوم چې د آخرت د خلاصون تعلق دی نو د هغه زما د ملکيت او قدرت سره هيڅ تعلق نسته او زه د دغه شي تا ته پر درکولو باندي قادر نه يم.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د محمدي امت فضيلت

﴿۵۱۴۲﴾: عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمَّتِي هَذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُومَةٌ لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الْآخِرَةِ عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا الْفِتَنُ وَالزَّلَازِلُ وَالْقَتْلُ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما امت امت مرحومه (رحمت کړل سوئ) دئ، په آخرت کي به پردوئ عذاب نه وي د دوئ عذاب په دنيا کي فتنې دي، زلزلې دي او قتل دئ. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۴۶۸، رقم: ۴۲۷۸.

تشريح: په اخرت کي به پر دوئ عذاب نه وي: مطلب دادی چې په اخرت کي به همېشنی عذاب يا سخت عذاب چې د کفارو او مشرکانو لپاره دی هغه به پر دغه امت نه وي بلکه د دغه امت عذاب دادی چې کوم خلک خراب اعمال کوي او د دين او شريعت پر لار نه ځي هغوئ ته به د سزا په توګه په دنيا کي په مختلفو فتنو، ناروغيو او ډول ډول ستونزو کي اخته کيږي، دا خبره د دغه آيت کريمه: (من يعمل منکم سوء يجز به) د مراد څخه هم څرګنديږي چې د هغه يادونه مخکي سوې ده او د حديث د الفاظو (عذابها في الدنيا ...الغ) څخه د دې تائيد کيږي.

ځينو حضراتو ويلي دي چې دا حديث په خاصه توګه د هغه مسلمانانو په اړه دی چې لوی

گناهونه نه کوي او دا هم ممکن ده چې ددغه حديث محمول د امت يو خاص ډله يعني صحابه کرام رضي الله عنهم وي، مظهر رحمة الله عليه ويلي دي چې دا حديث ډېر پېچېده دی ځکه چې ددې څخه دا مفهوم اخيستل کيږي چې د رسول الله ﷺ دامت هيڅ کس ته به په آخرت کې عذاب نه ورکول کيږي که هغه لوی گناه وکړي يا څه چې غواړي وکړي، او دا يوه داسې خبره ده چې د هغه په اړه د الله تعالی له خوا د لارښوونې او توفيق څخه پرته هيڅ نسې ويل کيدای، پرته ددې څخه چې دا تاويل وکړل سي چې دلته د امت څخه مراد هغه څوک دي چې د نورو احکامو د فرمانبردرای سره د رسول الله ﷺ پوره پيروي هم وکړي او دهغه شيانو څخه په پوره توگه پرهيز وکړي د کومو شيانو د اختيارولو څخه چې منع سوي دي.

د دوئ عذاب په دنيا کې...الخ: مطلب دادی چې زما د امت خلک د زمانې د کومو پېښو سره مخامخ کيږي لکه زلزلې، په مال کې تاوان، سيلابونه، تباهي، غلاوي، د مسلمانانو مال او عزت ته تاوان رسېدل يا داسې نور آفتونه او مصيبتونه نازليږي او دا ټول شيان د هغه خلکو د گناهو او بدو عملو کفاره کيږي او په آخرت کې د هغوئ د درجو د لوړتيا باعث کيږي، همدارنگه کوم قتل او قتال چې د هغوئ په منځ کې وي که د هغه صورت دا وي چې هغه مسلمانان د کفارو او د دين د نورو دښمنانو په لاس قتل کيږي نو ظاهره ده چې دهغوئ قتل کېدل خپله د شهادت موجب دی يعني هغه مسلمانانو ته د شهيد درجه تر لاسه کيږي چې دا يو ډېر لوی سعادت دی او که چيرې د هغه صورت دا وي چې مسلمانان په خپلو کې جنگيږي او د يو بل وينې بيوي نو کتل کيږي چې د هغوئ په خپلو کې قتل او قتال په څه وجه دی که داسې وي چې دواړې ډلې په يو داسې معامله کې جنگ کوي چې دهغه حيثيت په شرعي نقطه نظر سره څرگند نه وي او د اشتباه او تاويل په سبب دد واړو پر حق کېدل ثابت کيدای سي نو په دغه صورت کې به ويل کيږي چې دواړې ډلې پر سلامتيا باندې دي او په هغوئ کې يو ظالم نسې گرځول کېدای او که چيرې د هغوئ په خپلو کې جنگ کول او د يو بل وينه توېول د يو داسې معاملې په وجه وي چې د هغه حيثيت او حقيقت بالکل څرگند وي او يوه ډله پر ظلم باندې وي نو کومه ډله چې مظلومه وي هغه به معذور گرځول کيږي.

ځينو حضراتو دا هم ويلي دي چې د قبر عذاب ددغه امت د خصائصو څخه دی يعني مسلمانان د قبر په عذاب کې ځکه اخته کيږي چې د هغوئ په عمل نامه کې د گناه او معصيت چټلې پرېوللې سي او هغه مسلمان د قبر د عذاب په صورت کې د خپلو گناهو څخه پاک سي او د آخرت د عذاب څخه خلاصون تر لاسه کړي.

د مختلفو زمانو په باره کي پيشګوئي

﴿۵۱۴۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ عُبَيْدَةَ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو عبيده او معاذ بن جبل (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ هٰذَا الْأَمْرَ بَدَأَ نُبُوَّةً وَّرَحْمَةً ثُمَّ يَكُوْنُ خِلَافَةً وَّرَحْمَةً ثُمَّ مُلْكًا

دا امر (يعني دين) په نبوت او رحمت سره شروع سوی دئ بيا به د خلافت او رحمت زمانه وي

عَضُوْضًا ثُمَّ كَائِنٌ جَبَرِيَّةً وَعُتُوًّا وَفَسَادًا فِي الْأَرْضِ يَسْتَحِلُّوْنَ الْحَرِيْرَ

بيا به د ظالم پاچا دوروي او د هغه څخه وروسته دا کيدونکی دئ چي تکبر ، له حده تېرېدل او فساد في الارض به وي هغه وخت به خلک د ريښمينو جامو اغوستل حلال ګڼي، د ښځو

وَالْفُرُوْجَ وَالْخُمُوْرَ يُرْزَقُوْنَ عَلٰى ذٰلِكَ وَيُنْصَرُوْنَ حَتّٰى يَلْقَوا اللّٰهَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

شرمګاوي او شراب به جائزو ګرځوي او سربيره ددې چي هغوئ ته به رزق ورکول کيږي او د هغوئ مرسته به کيږي تر دې چي هغوئ به د الله ﷻ سره يو ځای سي . بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ۱۶\۵- ۱۷، رقم: ۵۶۱۶.

تشريح: د بدا لفظ پہ الف سره دی چي معنی يې د شروع کېدو ده، په ځينو نسخو کي دغه لفظ په همزہ سره دی چي معنی يې د پېل کېدو ده، په دغه صورت کي به ترجمه دا وي چي دغه امر يعني د دين اسلام ابتدائي زمانه د نزول وحي څخه پېل سوه او د ذات رسالت د دغه دنيا څخه د رخصتېدو تر وخته پوري وه .

په دغه ارشاد کي د اسلامي تاريخ د هغه زمانو په اړه وړاند وينه سوې ده چي د هغه څخه د مسلمانانو کاروان تېر سو يا تيريږي، اوله زمانه خو به هغه وي چي په هغه کي د دين اسلام پېل او د هغه ظهور سوی دی او د نزول وحي د وخت څخه په شروع کېدو سره د رسول الله ﷺ تر آخري ژوند پوري پاته وه، دغه زمانه د اسلام او مسلمانانو په حق کي د رحمت، نورانيت او خير زمانه وه ، د رسول الله ﷺ د شتون په وجه په دين کي شک او شبهات ، د مسلمانانو په نظرياتي او عملي ژوند کي د ګمراهۍ او ضلالت او په عام حالت کي د فتني او فساد پيدا کېدو بېره نه

وه د رسول الله ﷺ څخه وروسته چي کومه زمانه راغلل هغه د خلافت زمانه وه د رسول الله ﷺ د صحبت او ملګرتیا څخه په فیض تر لاسه کولو د ذات رسالت پناه یافته کسانو کي تر ټولو زیات افضل، تر ټولو زیات باعظمت او د ایمان او عمل په اعتبار تر ټولو زیات کامل انسان د رسول الله ﷺ نائب او خلیفه جوړ سو، د مسلمانانو اقتدار د هغه لاس ته راغلی او هغه د دین او ملت د معاملاتو والي او څارونکی جوړ سو، دد غه پاک نفسه حضراتو یو د بل پسي پر خلافت باندي متمکن پاته کېدو سره تر څومره ورځو پوري چي د مملکت او ملت نظم وچلېدی هغه په پوره زمانه کي یو وار د رحمت او نورانیت زمانه وه چي خلفاء راشدینو د الله تعالی د رحمت پر مسلمانانو سایه او دخیر او برکت د نزول بآعث جوړ سوی وو او دهغوئ په زمانه کي د نېکیو او خیر دور وو ، مسلمانان د اخلاص او ایثار او د عمل او کردار د پختیا نمونه جوړ سوي وه او د هغوئ په برکت دا مځکه په عامه توګه د سکون او اطمینان ځای وو ، هغه زمانه چي هغه ته د خلافت او رحمت زمانه ویل سوې ده پر دېرش کاله شپه او ورځ باندي مشتمل وه ،

په دغه دېرشو کالو کي نهه ویشتم نیم کاله څلور سره خلفاء راشدینو د مجموعي خلافت زمانه وه او د پاته شپږو میاشتو وخت هغه وو چي په هغه کي حضرت حسن رضی الله عنه پر خلافت باندي متمکن سو ، ددې تفصیل دادی چي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د وصال څخه وروسته په ربیع الاول یوولسم هجري کال کي خلیفه سو او په جمادي الثاني دیارلسم هجري کال کي وفات سو، حضرت ابوبوبکر صدیق رضی الله عنه په خپل مرض الموت کي د صاحب الرایه مسلمانانو په مشوره حضرت عمر فاروق رضی الله عنه خپل جانشین وټاکی نو حضرت عمر رضی الله عنه په جمادي الثاني دیارلسم هجري کال کي د خلافت دنده سنبال کړه او تر آخرذي الحجې درویشتم هجري کال پوري پر دغه منصب فائز وو، په اووه ویشتم ذي الحجه یو نصراني غلام ابولؤلؤ چي اصل نوم یې فیروز وو، پر نوموړي باندي د سهار د لمانځه د امامت په حالت کي په خنجر سره حمله وکړه او سخت یې زخمي کړ چي د هغه په وجه ژوندي پاته نه سو او پر اول د محرم اووه ویشتم هجري کال کي په وفات کېدو سره دفن سو، حضرت عمر رضی الله عنه په خپل آخري ورځو کي دغه جلیل القدر او غوره صحابه کرام لکه حضرت عبدالرحمن بن عوف، حضرت سعد ابن ابي وقاص، حضرت زبیر ابن عوام، حضرت طلحه، حضرت علي، حضرت عثمان رضي الله عنهم اجمعین ټاکلي وه چي دغه حضرات په خپلو کي په مشوره کولو سره یو خلیفه جوړ کړي نو دغه حضراتو د ډېر فکر او غور او مشورې څخه وروسته حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه خپل امیر او دریم خلیفه وټاکی ، د حضرت عثمان رضی الله عنه خلافت د محرم د میاشتي اووه

ويشتم هجري كال څخه شروع سو او تر ذي الحجې پنځه دېرشم هجري كال پوري وو، كله چي ددغه مياشتي په اتلسم تاريخ د باغيانو يو لوى ډلي حضرت عثمان ﷺ محصور كړ او په ډېره بې دردي سره يې شهيد كړ ، د حضرت عثمان ﷺ د شهادت څخه يوه اونۍ وروسته پر پنځه ويشتم ذي الحجې پنځه دېرشم هجري كال حضرت علي ابن ابي طالب ﷺ په لاس په مدينه منوره كي عام بيعت وسو او همدا رنګه هغه څلورم خليفه وټاكل سو او په ۱۷ رمضان ۴۰ هـ كال كي د هغه د خلافت دور ختم سو ، كله چي د عبدالرحمن ابن ملجم د زخمي كولو په وجه هغه وفات سو نو د حضرت علي ﷺ د وفات څخه وروسته خلكو د هغه د مشر زوى حضرت امام حسن ﷺ په لاس بيعت وكړ او د هغه خلافت قائم سو مګر د امير معاويه له خوا چي كومه لړۍ د حضرت علي ﷺ د زمانې څخه پېل سوې وه د هغه د وفات څخه وروسته نوره زياته سوه او كله چي د سياست او امامت پر مسئله باندي په مسلمانانو كي اختلاف زيات سو او د مخالف ډلو په منځ كي د وينې تويولو خطره زياته سوه نو امام حسن ﷺ د اميرمعاويه په حق كي د خلافت څخه د لاس اخيستلو فيصله وكړه نو تر دغه وخت پوري دغه زمانه تر ۴۱ هجري كال پوري دېرش كاله سوه ، او دا هغه زمانه ده چي په دغه حديث كي د خلافت او رحمت زمانه ورته ويل سوې ده او په دغه زمانه كي هغه خلفاء راشدين د رسول الله ﷺ د نائب او خليفه په حيثيت سره په اخلاص او ديانت سره او د رسول الله ﷺ پر اسوه حسنه مشعل راه وه او ددين اسلام خدمت يې سرته ورسوى، د مسلمانانو د مذهبي او سياسي قيادت او سياست ذمه داري يې په ښه ډول سرته ورسول او د اسلام بېرغ، عظمت او شوكت يې لوړ كړ.

ځكه دا خبره څرګنديږي چي دكوم خلافت فضيلت په دغه حديث كي بيان سوى دى چي په حقيقت كي د رسالت نيابت وو په دې كي د امير معاويه هيڅ برخه نسته چي دهغه د حكمرانۍ دور د هغه زمانې څخه جلا دى كوم ته چي د خلافت او رحمت زمانه فرمايل سوي دي.

د عض معنى دچيچلو ده او عضوض دعين په زور سره ددغه لفظ څخه وتلى دى چي دمبالغې صيغه ده او په يوه روايت كي ملكا عضوضا پر ځاى ملوكا عضوضا دعين په پېښ سره منقول دي چي د عض د عين په زېر سره جمع ده او د هغه معنى د شرير او بد اخلاقه ده ، مطلب دادى چي د خلافت او رحمت د زمانې څخه وروسته چي كوم دور راځي هغه به د ملوكيت دوروي او د داسي خلكو پاچاهي او حكمراني به وي چي د هغوئ په زړو كي به نه د الله تعالى خوف او نه د آخرت د مؤاخذې بېره وي و نه به د مخلوق سره د همدردۍ ، عدل او انصاف احساس وي ، ځكه هغه پر خپل مالک او د قوم پر خلكو ظلم كوي ، هغوئ په ناحقه سزاوو اخته

كوي او هغوئ ډول ډول په تكليف كوي ، مگر څرگنده دي وي چي دغه خبره د غالب او اكثريت په اعتبار سوې ده يعني زيات پاچاهان داسي وي ، او څرنگه چي پر شاذ او نادر باندي حكم نه كيږي چي (النادر كالمعدوم)، ځكه نو دا اشكال نه سي پيدا كېداى چي په حديث كي د خلافت راشده وروسته د حكمرانانو او پاچهانو د زمانې په باره كي چي څه فرمايل سوي دي ايا د هغه اطلاق پر دغه حكمرانانو باندي هم كيږي چي په عدل او انصاف ، مذهب او ملت په خدمت په پوره توگه ښكلي وه؟ د مثال په توگه د حضرت عمر ابن عبدالعزيز د حكمرانۍ وخت، هغه چي په كوم عدل او انصاف سره پاچاهي وكړه او د اسلام او مسلمانانو په حق كي يې څرنگه د خير او ښېگڼي سبب سو ددغه پر بنياد ورته عمر ثاني ويل سوي دي، خلاصه دا چي د خلافت راشده وروسته كومو كسانو چي پر مسلمانانو حكمراني وكړل او كوم كسان پاچاهان سول په هغوئ كي زيات داسي وي چي د هغوئ حكمراني د مذهب او ملت په حق كي گټوره ثابته سول او د خپل عوام لپاره يې د خير ، بركت او اطمينان باعث سول ، هغوئ استثنايي حكم لري.

د ظلم، زور، قهر، تكبر او فتنو زمانه به وي، مطلب دا دى چي په آخر كي كومه زمانه راسي هغه بهٔ د اسلام او مسلمانانو په حق كي زياته سخته وي نااهل خلک به د حكومت پر تخت ظلم او زياتي كوي ، هري خوا ته به لوټ ما راو دقتل بازار گرم وي، لكه څرنگه چي موږ په خپله زمانه كي وينو چي دغه وړاند وينه ټكي په ټكي صحيح ثابتيږي ځكه چي حكومت او اقتدار د داسي خلكو په لاس كي راغلى وي چي ظالمان او د دين څخه سر غړونكي دي او مسلمان هيوادونه چيري چي د مذهب او ملت د اصولو فرمانبرداري كول پكار دي هلته سركښ طاقتونه پر واک دي ، ظالمانو خلگو په زور او چم سره پر اقتدار قبضه كړې ده ، هغوئ نه د مشرتوب اصول او شرائط پوره كوي او نه د خپلو خلگو ديني او دنياوي ښېگڼو سره د هغوئ تعلق سته، هغوئ د خپل اقتدار ساتلو لپاره د فتنې او فساد تخم كري ، تباه كونكي فلانونه كوي، پر عامو خلگو ظلم كوي ، كوم خاص بندگان چي هغوئ ته سېده لار ښودل غواړي هغوئ ته ډول ډول تكليفونه وركوي ، پر دندو باندي د وړ او لائق كسانو پر ځاى خو د غرضه او نااهل خلگ ناست دي، علماء، صالحان او اكابر دين چي د هر ډول احترام او عزت مستحق وي ، نه يوازي دا چي هغوئ ته هيڅ توجه نه كيږي بلكه د مختلفو ذرائعو او اقداماتو په ذريعه د هغوئ سپكاوى كيږي او د امر بالمعروف او نهي عن المنكر په لاره كي له سختيو سره مخامخ كيږي .

او دا چي تقريبا ټولو مسلمانانو حكمرانانو د دين د دښمنانو پر خلاف د جهاد فريضه پرې ايښې ده مگر د خپلي حكمرانۍ له كبله او دملک په هوس كښي خپله د مسلمانانو خلاف

درېدلي دي او خپلي توري يې دهغوئ په وينو رنګي کړي دي او په دې وجه ځيني علماء دا وايي چې کوم څوک دغه حکمرانانو او پاچاهانو ته عادل وايي نو هغه کافر کيږي .

خلاصه دا چې د دغه حکمرانانو او پاچاهانو په وجه د مځکي پر مخ فتنې او فساد ورځ په ورځ زياتيږي تر دې چې تاريخ د داسي حکمرانانو د خرابو کارو څخه ډک دی چې د مسلمان کېدو سربېره د هغه ښارو د لوټولو او قتل عام باعث سوه چيري چې لوی لوی اولياء، صالحان او مشائخ وه، چيري چې کمزوري، ضعيف خلک او ښځي وې چې د هغوئ د قتلولو هيڅ د جواز وجه نه وه ، نور ظلم دا چې دهغه ښار خلکو د حنفيه ملت سره تعلق درلودی او په اهل سنت والجماعت کي شامل وه او دهغوئ قتل عام کونکي مدعی سطلنت ددې خبري اظهار کوی چې موږ دين او شريعت مرسته کونکي يو .

علماء کرام وايي که چيري مسلمان د دين د ښمنانو يوه داسي قلعه فتح کړي چې په هغه کي په زرګونو اهل حرب او دښمنان وي مګر په هغه زرګونو کي يو مجهول الحال ذمي هم موجود وي نو محض دهغه يوه ذمي په وجه په مفتوحه قلعه کي قتل عام کول هيڅکله صحيح نه دی ، هغه حکمران او پاچا به د حشر په ورځ څه جواب ورکوي چې هغه محض د خپل اقتدار او پاچاهۍ قائمولو لپاره د مسلمانانو قتل عام کړی دی او دهغوئ ښارونه او سيمي يې د سترګو په رپ کي برباد کړي دي .

دا خبره په ياد ولرئ چې زموږ د ناوړه او نااهله مسلمانانو حکمرانانو په وجه داسي داسي فتنې او فسادات ظاهر سول ، په اسلامي سلطنتو کي داسي تباهۍ وسوې او دومره ويني توی سوې چې د مځکي مخ ځيني پناه غواړي تر دې چې حرمين شريفين هم د دغه فتنې او فساد څخه خوندي نه سول او په دغه مقدسو ښارو کي دومره تباه کونکي واقعې څرګنده سوې چې قلم ته د بيانولو مجال نسته او دهغه تفصيل په تحرير کي راوستل ممکن نه دي .

الله تعالی د خپلو بندګانو او د خپل دين غوره کار ساز او د خپل نبي او دهغه د امت حامي او مرسته کونکی دی ، حقيقت دا دی چې راتلونکی هر کال هره ورځ بلکه هره لمحه د مخکي په نسبت بد تره تيريږي .

د شرابو په باره کي يو پيشګوئي

﴿۵۱۴۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دئ چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې فرمايل

إِنَّ أَوَّلَ مَا يُكْفَأُ قَالَ زَيْدُ بْنُ يَحْيَى الرَّاوِيُّ يَعْنِي الْإِسْلَامَ كَمَا يُكْفَأُ الْإِنَاءُ

يې : تر ټولو مخکې چې په اسلام کې کوم شی به واړول سي لکه څرنګه چې ډک لوښی اړول کیږي هغه به شراب وي (یعني په اسلام کې تر ټولو مخکې چې د خدای د کوم حکم خلاف

يَعْنِي الْخَمْرَ قِيلَ فَكَيْفَ يَا رَسُولَ اللهِ وَقَدْ بَيَّنَ اللهُ فِيهَا مَابَيَّنَ قَالَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اِسْمِهَا فَيَسْتَحِلُّونَهَا . رواه الدارمي.

ورزي به کیږي) پوښتنه وسول چې اې دالله رسوله ! دا به څنګه وي ؟ حال دا چې د شرابو په اړه د الله ﷻ احکام بیان سوي دي او ټولو ته څرګند ده ، رسول الله ﷺ وفرمایل : داسي به وي چې خلک به د شرابو دویم نوم کښیږدي او هغه به حلال وګرځوي . دارمي .

تخریج: سنن الدارمي ۲\۱۵۵، رقم: ۲۱۰۰.

د لغاتو حل: یکفا : ای قلبته واملته لافراغ مافیه .

تشریح: مایکفا : دغه لفظ په اصل کې د کفاء صیغه مجهول دی چې د هغه معنی د لوښي د اړولو ده، چې په هغه کې اوبه یا بل څه وي او هغه توی سي .

یعني د الاسلام لفظ د حدیث یو راوي زید بیان کړی دی او په هغه کې هم د الاسلام څخه مخکې د في لفظ وو چې د راوي څخه ساقط سوی دی ، په یو مجلس کې رسول الله ﷺ د شرابو ذکر او د هغه حکم بیان کړ چې رسول الله ﷺ په دغه وخت کې اول مایکفا ارشاد وفرمایه نو راوي هغه ارشاد څرګندولو لپاره د دغه جملې خپل الفاظ الخمر په ذریعه بیان کړ نو یعني الخمر، الفاظ هم د راوي دي چې دا مراد بیانوي چې په اسلام کې کوم شیان تر ټولو مخکې توی کړل سول هغه شراب دي، په هر حال د حدیث خلاصه داده چې کله په آخره زمانه کې د مسلمانانو په دیني ژوند کې ډېر لاندي والي (چپه والی) راسي او د مذهب سره د هغوئ تعلق کمزوری سي نو هغه وخت به حرام او ناجائز شیانو کې تر ټولو لومړی چې کوم شی چې په ډاګه کیږي او د اسلام د احکامو تر ټولو مخکې چې کوم حکم ساقط کیږي هغه شراب او د هغه حکم دی چې خلک به نه شراب څښنل اختیاروي بلکه په مختلفو بهانو او تاویلو په ذریعه به د هغه حلال او جائز ګرځولو کوشش هم کوي مثلاً د هغه د نامه په بدلولو سره به د یو داسي مشروب نوم ورکوي چې د هغه څښنل به جائز وي او هغه به په حقیقت کې شراب وي ، یا هغه به د نورو

اجزاوو لکه عسل، وریجي او نورو سره جوړوي او وایي چي په اسلام کي کوم شي ته خمر یعني شراب ویل سوي دي او د هغه څښل حرام دي هغه د انګورو او به دي چي په هغه سره نشه پیدا کیږي او د غه مشروب خو د انګورو څخه نه دی جوړ سوی ځکه نو د هغه څښل حرام نه دي حال دا چي هغوئ نه پوهیږي چي کوم شی نشه پیدا کوي هغه حرام دی او د خمر په حکم کي دی.

او هغه به حلال ګرځوي: ددې به دوه صورتونه وي یو خو دا چي هغه خلک به هغه واقعتا حلال ګڼل کیږي په دغه صورت کي به هغوئ کافر کیږي ځکه چي شریعت کوم شی په وضاحت سره حرام ګرځولی دی د هغه حلال ګڼل کفر دی ، دوهم صورت دا دی چي هغه به په حقیقت کي حلال نه ګرځوي بلکه داسي به څرګندوي او دا به ظاهروي چي موږ حلال شی وڅښئ په دغه صورت کي به پر هغوئ د کفر نه بلکه د فسق حکم لګول کیږي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د مسلمانانو د مختلفو زمانو .....

﴿۵۱۴۵﴾: عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت نعمان بن بشیر رضي الله عنه د حذیفة رضي الله عنه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَكُوْنُ النُّبُوَّةُ فِيْكُمْ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ تَكُوْنَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللّٰهُ تَعَالٰى

په تاسو کي به د نبوت وجود تر هغه وخته پوري پاته وي تر څو پوري چي الله تعالی غواړي بیا به الله تعالی نبوت پورته کړي

ثُمَّ تَكُوْنُ خِلَافَةٌ عَلٰى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ تَكُوْنَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللّٰهُ

او د هغه څخه وروسته به د نبوت پر طریقه خلافت وي تر څو پوري چي الله تعالی ته منظوره وي

تَعَالٰى ثُمَّ تَكُوْنُ مُلْكًا عَاضًا فَتَكُوْنُ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ تَكُوْن ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللّٰهُ

او د هغه څخه وروسته به چیچونکي پاچاهان قائم وي ، تر څو پوري چي الله تعالی ته منظور وي بیا به الله تعالی هغه هم پورته کړي

تَعَالٰى ثُمَّ تَكُوْنُ مُلْكًا جَبَرِيَّةً فَيَكُوْنُ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَّكُوْنَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا اللّٰهُ

بيا به د غلبې او تكبر حكومت قائم وي تر څو پوري چي د الله تعالى خوښه وي او د هغه څخه

تَعَالَىٰ ثُمَّ تَكُوْنُ خِلَافَةً عَلَىٰ مِنْهَاجِ نُبُوَّةٍ ثُمَّ سَكَتَ قَالَ حَبِيْبٌ فَلَمَّا قَامَ عُمَرُ

وروسته به د نبوت پر طريقه خلافت قائم سي (يعني د حضرت عيسى عليه السلام او امام مهدي حكومت به وي) په دومره فرمايلو سره رسول الله ﷺ پټه خوله سو ، د حبيب بن سالم د هغه حديث د يو راوي بيان دئ كله چي

بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ كَتَبْتُ إِلَيْهِ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ أُذَكِّرُهُ إِيَّاهُ وَقُلْتُ أَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنَ

عمر بن عبد العزيز خليفه سو نو ما ورته دا حديث وليكى او ور په ياد مي كړل او وه مي ويل چي ...... زما اميد دى چي تاسو هغه خليفه ياست

أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ بَعْدَ الْمُلْكِ الْعَاضِّ وَالْجَبَرِيَّةِ فَسَرَّ بِهِ وَأَعْجَبَهُ يَعْنِيْ عُمَرَ بْنَ عَبْدَ الْعَزِيْزِ. رواه أحمد والبيهقي في دلائل النبوة.

چي د هغه ذكر چيچونكي (يعني ظالم) پاچا او د تكبر د غلې د حكومت څخه وروسته راغلى دى ، عمر بن عبد العزيز په دې سره ډير خوشحاله سو او په دې تشريح سره هغه ډير خوشحاله سو . احمد او بيهقي په دلائل النبوة كي .

تخريج: مسند الامام احمد ۴\۲۷۳.

===========

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

كِـتَـابُ الْفِتَنِ

(د فتنو بيان)

فِتَن: د فتنة جمع ده لكه څرنګه چي محن د محنة جمع ده، د فتنة مختلفي معناوي دي د مثال په توګه امتحان، ابتلاء، نصيحت، عذاب، ناروغي، جنون، محنت، عبرت، ګمراه کول او ګمراه کېدل او يو شی خوښول او په هغه درېدل او دخلكو په رايه كي پر اختلاف باندي هم د فتنې اطلاق كيږي.

څرګنده دي وي چي د مشكوة هغه برخه چي ددغه ځای څخه شروع كيږي او ترپايه ده، دې ته د كتاب مؤلف د كتاب الفتن نوم وركړی دی او په دې كي يې مختلف بابونه قائم كړي دي، په ظاهره ددې وجه نه معلوميږي په خاصه توګه د فضائلو او مناقبو په كتاب الفتن كي د شاملولو معقول وجه نه معلوميږي، كه چيري دا وويل سي چي په دغه بابو كي د كومو پاكو كسانو يعني رسول اللهﷺ، خلفاء راشدين او اكابر صحابه كرامو فضائل او مناقب بيان سوي دي مورږ د هغوئ د عظمت او غوره والي او د هغوئ د بزرګي د اعتقاد لرلو مكلف او دغه اعتقاد د خپل عمل څخه د ثابتولو په امتحان كي اخته يو او په دې اعتبار دغه بابونه په كتاب الفتن كي شامل سوي دي نو دا خبره هم صحيح معلوميږي ځكه كه چيري ددغه اعتبار لحاظ وساتل سي نو په ټول كتاب كي چي منقول او مذكور دي هغه ټول ددغه قبيل څخه دي او په دغه صورت كي محض د كتاب الفتن تخصيص به لاحاصل وي، په هر حال الله ﷻ ښه پوهيږي چي دلته د مشكوة د مؤلف په ذهن كي څه خبره ده او هغه د كومي وجه د كتاب دغه برخي ته د كتاب الفتن نوم وركړی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

رسول اللهﷺ تر قيامته پوري د ظاهرېدونكو ټولو فتنو پېشګوئي فرمايلې ده

﴿۵۱۳۶﴾: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَامًا

د حضرت حذيفه ﷛ څخه روايت دی چي رسول اللهﷺ د خطبې فرمايلو لپاره ودريدی او

مَا تَرَكَ شَيْئًا يَكُونُ فِي مَقَامِهِ ذٰلِكَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا حَدَّثَ بِهِ حَفِظَهُ مَنْ
د دغه وخت څخه تر قيامت پورې چې څه کېدل وه د هغو ذکرېې وکړ چا چې ياد کړل هغه ياد
حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ قَدْ عَلِمَهُ أَصْحَابِي هٰؤُلَاءِ وَإِنَّهُ لَيَكُونُ مِنْهُ الشَّيْءُ
کړل، چا چې هېر کړل هغه هېر کړل، زما ملګرې په دې خبره باندې پوهېږي په دغه کې چې کوم
قَدْ نَسِيتُهُ فَأَرَاهُ فَأَذْكُرُهُ كَمَا يَذْكُرُ الرَّجُلُ وَجْهَ الرَّجُلِ إِذَا غَابَ عَنْهُ ثُمَّ إِذَا
رَآهُ عَرَفَهُ . متفق عليه
شى ظاهرېږي کوم چې ما هېر کړې وي نو چې هغه ووينم ما ته را ياد سي لکه څوک چې د مخامخ ياد ساتي هر کله چې هغه غائب سي بيا چې کله هغه ويني نو وه يې پېژني . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۴۹۴، رقم: ۶۶۰۴، ومسلم ۴\ ۲۲۱۷، رقم: ۲۳- ۲۸۹۱.

پر انساني زړه باندې د فتنو وار

﴿۵۱۴۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تُعْرَضُ
د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دى چې ما د نبي کريم ﷺ څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې :
الْفِتَنُ عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ
فتنې پر زړونو خپرې سي لکه څرنګه چې په بوريا کې هره نبنه جلا جلا وي په کوم زړه کې چې دغه فتنه ګډه سي په هغه کې يو تور ټکى ولګول سي
وَأَيُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ حَتَّى يَصِيرَ عَلَى قَلْبَيْنِ عَلَى أَبْيَضَ
او کوم زړه چې انکار وکړې د فتنې څخه نو په هغه زړه کې د سنګ مرمر په ډول سپينه نبنه وسي تر دې حده چې زړونه دوه قسمه سي تک سپين
مِثْلِ الصَّفَا فَلَا تَضُرُّهُ فِتْنَةٌ مَا دَامَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ وَالْآخَرُ أَسْوَدُ
د سنګ مرمر په مثل تر څو پورې چې ځمکه او آسمان موجود وي ده ته هيڅ فتنه تاوان نه سي

رسولای او دویم زړه د ایرو

مُرْبَادًّا كَالْكُوزِ مُجَخِّيًا لَا يَعْرِفُ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُ مُنْكَرًا إِلَّا مَا أُشْرِبَ مِنْ هَوَاهُ. رواه مسلم.

دلوښي په ډول دی هیڅ یو نیک کار نه پیژني او نه یو بد کار بد ګڼي مګر خواهش د نفس کوم چي په ده وچښل سي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۱۱/۱۲۸، رقم: ۲۳۱- ۱۴۴.

د لغاتو حل: نُکتت: اي نقطت واثرت (نقطه پیدا سي). مربادا: ای صار کلون الرماد (لکه رېګ داسي سي). مُجخیا: ای مائلا منکوسا.

تشریح: د فتنو څخه مراد بلاوي، افات او هغه شیان دي چي د انسان ذهن، فکر او بدن په تکلیف او تاوان کي اخته کوي مګر ځینو حضراتو د فتنو څخه مراد فاسد او ګمراه نظریات، باطل افکار او نفساني خواهشات ګرځولي دي.

لفظ د عودا درې ډوله نقل سوی دی، په یوه روایت کي د عین په پېښ او په دال مهمله سره دی او څرنګه چي د بل روایت څخه هم ثابته ده دا زیات مشهور دی په دغه صورت کي د حدیث د دغه جملې مطلب به دا وي چي په زړونو کي به فتنې داسي یو په بل پسې راځي لکه څرنګه چي د چټائي جوړونکی د هغه غاشې یو په بل پسې ایږدي، ځیني حضرات وايي چي د دغه تشبیه څخه مراد دادی چي هغه فتنې به پر زړه داسي اثر کوي او په هغه سره به داسي موښلي لکه څرنګه چي د چټایي لرګي په بدن پوري موښلي او د هغه پر بدن اثر وي، په دوهم روایت کي د غه لفظ د عین په زېر او په ذال سره دی یعني عوذا، په دغه صورت کي دغه لفظ د هغه فتنو څخه د الله تعالی په پناه کي معنا استعمال سوی دی لکه څرنګه چي د خبرو په دوران کي د کفر او معصیت کولو څخه وروسته نعوذ باالله یا معاذ الله ویل کیږي، په دریم روایت کي دغه لفظ د عین په زور او دال مهمله سره دی یعني عودا، ددې څخه مراد عود او تکرار دی، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي هغه فتنې به پر زړه په وار وار واقع کیږي، څرګنده دي وي چي په اول روایت کي خو دغه لفظ منصوب او مرفوع دواړه ډوله نقل سوی دی او په دوهم او دریم روایت کي یوازي منصوب منقول دی.

په اشربها کي د مشرب صیغه مجهول ده لکه چي ویل کیږي: اشرب فلان حب فلان، یعني

د فلاني سرې په زړه کي د فلاني مينه ځای سوې ده، يا د فلاني سرې په زړه کي د فلاني سرې د مينې فتنه ده يا د فلاني سرې پر زړه باندې د فلاني د مينې رنګ دی لکه څرنګه چي پر جامو باندې يو رنګ وي، د شرب اصل معنی د څښلو ده ځکه پر جامو باندې د رنګ کېدو مفهوم دا کېږي چي هغه جامه هغه رنګ څښي او هغه ته رنګ ورکوي نو کوم زړه چي دا فتنې قبولې کړي، ددې مطلب دادی چي په کوم کي کوږوالی وي او د هغه ميلان بدۍ ته وي په هغه کي فتنې ځای سي او ګويا هغه زړه هغه فتنې داسي قبولي کړي لکه څرنګه چي سپينه جامه يو رنګ سمدستي قبلوي.

نکتة داغ ته وايي او دهغه نښې په معنی هم دی چي د لرګي وغيره په ګروولو او مس کولو سره پر ځکه باندې پيدا کيږي او د نکته لفظ د نقطه په معنی کي هم استعماليږي او په خاصه توګه د هغه نقطې (داغ) په معنی کي استعماليږي چي په مخالف رنګه شي کي وي لکه په سپين شي کي تور داغ او په تور شي کي سپين داغ.

حتی تصير علی قلبين: دلته د تصير حرف په تاء سره هم دی او په ياء سره هم دی، که دغه لفظ په ياء سره وي يعني يصير وويل سي نو په دغه صورت کي به ضمير انسان ته راجع وي لکه څرنګه چي د سياق کلام څخه مفهوم کيږي او که چيري دغه لفظ په تاء سره يعني تصير وويل سي نو ددې ضمير به قلوب ته راجع کيږي چي صريحا هم مذکور دی.

مربادا: د ميم په پېښ او د دال په تشديد سره دی او معنی يې سپيره او تور رنګه ده، رمد هم د سپيره په معنی کي استعماليږي نو د ارمداد معنی د سپيره ده.

کله چي امانت د زړو څخه ووځي

﴿۵۱۴۸﴾: وَعَنه قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ رَأَيْتُ

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته دوې خبري بيان کړي دي، په

أَحَدَهُمَا وَأَنَا أَنْتَظِرُ الْآخَرَ حَدَّثَنَا أَنَّ الْأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ

هغو کي مي يوه ليدلې ده او د دويمې انتظار کوم، رسول الله ﷺ وفرمايل: امانت (يعني ايمان) د خلکو د زړونو په ريښو کي اچول سوی دی

ثُمَّ عَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ ثم عَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ وَحَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِهَا قَالَ يَنَامُ

بیا هغوئ (د ایمان په نور سره) قرآن کریم و پیژندی بیا هغوئ سنت وپیژندل ، ددې وروسته رسول الله ﷺ د ایمان د لوړیدو حدیث بیان کړاو وه یې فرمایل: انسان به د معمول سره سم بیده

الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الْأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ اَثَرِ الْوَكْتِ ثُمَّ

سي او امانت به د هغه د زړه څخه ووځي، او د ایمان د وکت په اندازه اثر به پاته سي بیا چي هغه

يَنَامُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ فَيُبْقَى أَثَرُهَا مِثْلَ اَثَرِ الْمَجْلِ كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلَى

دویم وار بیده سي نو د هغه د زړه څخه به د امانت پاته اثر هم ووځي او په زړه کي به یې د تناکي نښه پاته سي لکه د یو چا پر بدن چي تودې او به توی سي

رِجْلِكَ فَنَفِطَ فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ وَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ وَلَا

او هغه ځای تناکي سي چي په ظاهره را پړسیدلې او راختلې وي مګر د ننه خالي وي بیا (د داسي کیدو څخه وروسته) چي خلک سهار را کښیني نو په خپل منځ کي به حسب معمول رانیول او خرخول کوي او

يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الْأَمَانَةَ فَيُقَالُ إِنَّ فِي بَنِي فُلَانٍ رَجُلًا أَمِينًا وَيُقَالُ لِلرَّجُلِ

په هغوئ کي به یو کس داسي نه وي چي امانت ادا کړي (یعني شرعي حقوق ادا کړي، لور او خور ته برخه ورکړي) تر دې چي دا به وویل سي چي فلانی قبیله کي یو امین او دیانتدار کس

مَا أَعْقَلَهُ وَمَا أَظْرَفَهُ وَمَا أَجْلَدَهُ وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ . متفق عليه

دی او په هغه زمانه کي به یو سړي ته (چي په دنیا داري کي کمال لري) ویل کیږي چي څومره عقلمند او هوښیار دی او ښکلی دی او څومره چالاکه دی حال دا چي د هغه په زړه کي به د سپلني د دانې په اندازه ایمان نه وي، بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۳۳، رقم: ۶۴۹۷، ومسلم ۱\۱۲۶، رقم: ۲۳۰- ۱۴۳.

د لغاتو حل: الوكت: وهو الاثر اليسير كالنقطة في الشئ. (کوچنی داغ). المجل: وهو اثر العمل في اليد (تناکه). منتبرا: ای منتفخا.

تشریح: د امانت دار څخه مراد یا خو مشهوره معنی ده یعني د یو چا په حق کي یا د یو چا په ملکیت کي خیانت نه کول یا هغه ټولي شرعي ذمه داری، مراد دي چي پر هر سړي باندي عائد کیږي یعني ټول اسلامي احکام او تعلیمات منل او په هغه عمل کول او د امانت دا هغه معنی ده چي د قرآن کریم په دغه آیت : (انا عرضنا الامانة علی السموات والارض ...الخ) کي مذکور دی، بیا هم ددغه دواړو معناوو اصل او بنیاد ایمان دی ځکه په زیات وضاحت سره داسي ویل کیږي چي دلته د امانت څخه مراد ایمان دی لکه څرنګه چي خپله د حدیث د آخري الفاظو (وما في قلبه مثقال حبة من خردل من ایمان) څخه دا مفهوم اخیستل کیږي، همدا رنګه د حدیث دغه جمله: (ولا یکاد احد یودي الامانة) کي د امانت چي کوم لفظ دی هغه هم پر ذکر سوي وضاحت باندي مبني دی ، نو رسول الله ﷺ چي کوم دوه حدیثونه بیان کړل په هغو کي د اول حدیث خلاصه داده چي الله تعالی د انسانیت د هدایت او کامیابۍ لپاره ایمان او امانت نازل کړل او د هغه مورد یې قلب انساني وګرځوی چي مخکي د ایمان نور او جوهر د انسان په زړه کي دننه سو او راسخ او مستحکم سو چي هغه کتاب هدایت قرآن کریم او سنت نبوي باندي د عمل لار منور کړل نو انسان د نور ایمان په سبب لافاني تعلیمات او احکام و پېژندل کوم چي د کتاب الله څخه اخذ سوي دي او هغه احکام او مسائل که فرض وي، که واجب ، سنت او یا مباح وي یا حرام او مکروه وي، بیا دي نور د سنت نبوي حقیقت او صداقت څرګند کړ چي معمولات نبوي د کتاب الله تعلیمات او منشاء حق چي کوم وضاحت او تفسیر بیان کړ هغه بېله چون وچرا قبلولو سره د عمل لاره هواره کړل دلته دا خبره څرګنده سوه چي د الله تعالی له خوا د نور هدایت پیدا کېدل او د هغه په ذریعه انسانیت عامه نازول او د فلاح رسولو اراده فرمایل د کتاب الله نازلولو او رسولانو د را استولو څخه مخکي وه یعني مخکي خو الله تعالی نور هدایت پیدا کړ او دا اراده یې وکړه چي خپل بندګان ددغه نور هدایت په ذریعه د سعادت او خیر لوړ مقام ته ورسوي ددې څخه وروسته هغه خپل کتاب په دنیا کي نازل کړ او خپل پیغمبران او رسولان یې را واستول نو د انساني نسل څخه کوم ته چي د الله تعالی ددغه عنایت او هدایت مورد او محل نصیب سول هغه خوشبخته د کتاب او سنت څخه برخمن سول .

دلته یوه بله نکته هم بیانیږي هغه دا چي فرمایل سوي دي چي بیا هغوئ قرآن و پېژندی او بیا هغوئ سنت و پېژندی ، ددې په ذریعه د ایمان او امانت حیثیت او د هغه عظمت بیانول هم مقصد دي سره ددې چي الله تعالی نور هدایت یعني ایمان یې نازل کړ او په انساني زړو کي یې راسخ کړ مګر بیا د کتاب الله نازلولو او دخپل پیغمبر او رسول را استولو په ذریعه یې هم دا

مؤكد كړ ، په هر حال دا هغه حديث دی چي رسول الله ﷺ صحابۀ كرامو ته وفرمايه او حضرت حذيفه ﷺ وايي: ما ددې مصداق په خپلو ستر ګو سره هم ليدلی دی په دې توګه چي د رسول الله ﷺ زمانه او ملګرتيا كي صحابه كرامو ددغه ارشاد عين مصداق وه او دوهم حديث چي په هغه كي رسول الله ﷺ د امانت كم كېدو او پورته كېدو ذكر وفرمايه هغه د رسول الله ﷺ د زمانې مباركي څخه وروسته پر خلكو باندي صادقيږي .

سړی به بېديږي ...الخ: ددې څخه مراد يا خو حقيقتا بېده كېدل دي او يا دغه جمله د غفلت او كوتاهۍ څخه كنايه ده يعني د ياد الهي څخه غافل ، د آيات الهي څخه بې خبر، په قران كريم كي د تفكر څخه بې پروا او په اتباع سنت كي كوتاه وي، او دغه دوهم مراد زيات صحيح دی ځكه چي دا مخكنۍ جمله د وروستنۍ جملې مخالف مفهوم ددغه مراد متقاضي دی .

فيظل اثره مثل اثر الوكت: نو دامانت اثر يعني د نښان وكت د نښې په ډول سي ، دلته بايد په دې پوه سو چي د يو اثر هغه نښې ته وايي چي دهغه شي د علامت په توګه ظاهروي او د هغه شي څخه يو برخه د هغه په صورت كي باقي وي او د وكت د عكسي شي هغه داغ ته وايي چي د هغه شي د مخالف رنګ په صورت كي ښكاره سي لكه په سپين شي كي تور داغ ښكاره كېدل ، ځيني حضرات وايي چي وكت په اصل كي هغه سپين داغ ته وايي چي د سترګو په تور كي پيدا سي ، ددغه حديث ددغه جملې خلاصه داده چي د دين او شريعت له خوا غافل سي او د ګناهو كولو په وجه په زړه كي د ايمان نور كم سي او هغه غافل كېدونكي چي ددغه صورت حال څخه خبردار سي او د خپل زړه حالت او كيفيت كي غور او فكر وكړي نو دا به محسوس كړي چي په هغه كي د يو ټكي دمقدار څخه پرته د نور امانت څخه نور هيڅ پاته نه دي ، بيا چي دوهم وار بېده سي ددې په ذريعه دې ته اشاره سوې ده چي كله هغه د دين او شريعت څخه د غفلت په خوب بېده سي او ګناهونه كول يې زيات سي نو د زړه څخه به يې د نور د ايمان پاته برخه هم ووځي او هلته يوازي د نښې په ډول صورت پاته سي ، څرګنده دي وي چي د مجل په معنی تڼاكه كېدل او د كار كولو په وجه دلاس پوست سخت كېدلو ته وايي ، پر دې باندي د مجل اطلاق هم كيږي نو څرنګه چي انسان دبدن پر يو برخه باندي تڼاكه راوخيژي نو هغه كه څه هم سربېره ډكه معلوميږي مګر په حقيقت كي دننه د خرابو او چټلو اوبو څخه پرته بل هيڅ نه وي، همدارنګه دكوم سړي د زړه څخه چي د امانت هغه پاته اثر او نښه هم وايستل سي نو كه څه هم هغه په ظاهره بالكل صالح معلوميږي مګر په حقيقت كي په هغه كي دننه سعادت او خير رسونكی هيڅ شی نه وي ، د ذكر سوي وضاحت څخه دا معلوميږي چي وكت او مجل د نور

امانت د هغې برخه تمثيل دی چي په زړه کي پاته سي ، ددغه دواړو شيانو د مثال په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي په دغه زمانه کي د اسلام د نامه اخيستونکي په زړه کي د ايمان او دين ددغه کمزورۍ سربېره د هغوئ په زړو کي د ايمان او امانت نور څه نا څه پاته کيږي که څه هم هغه د وکت او مجل د نښې په ډول وي مگر ددغه وضاحت څخه يو سوال پيدا کيږي هغه دا چي د مجل نښه د وکت د نښې څخه زياته ژوره وي نو د کلام د طرز تقاضا داوه چي مخکي د مجل د نښئ ذکر راغلی وای او د هغه څخه وروسته د وکت د نښئ ذکر سوی وای، ځکه چي د وروسته درجې نښې د مخکي درجې د نښې څخه کمه وي ، ددې جواب دادی چي وکت که څه هم يوه لږ نښه وي مگر هغه په اصل کي د کم حيثيت والا نه وي ځکه چي مجل د بالکل ښکاره کېدو په وجه د سره هيڅ حيثيت نه لري مگر دا جواب زيات ټينگ نه دی .

يو شارح پر دغه بحث په بل انداز کي رڼا اچولې ده ، دهغه د منقولاتو سره سم ددغه دوهم حديث مطلب دادی چي د کوم اهل ايمان پر فکر او عمل باندي غفلت او بې حسي خپره سي او د گناه کولو په صورت کي د دين او شريعت سره د هغه تعلق ډېر کمزوری سي نو د هغوئ د زړو څخه امانت وځي، کله چي د هغه يوه برخه زائله سي نو دهغوئ د زړونو څخه د هغه نور هم زائل سي او دلته دوکت په ډول ظلمت او تياره پيدا سي او ددې مثال په يو شي کي د هغه مخالف رنگ ظاهر سي د مثال په توگه په سپين شي کي د سپين رنگ ظاهرېدل او کله چي د دين او شريعت په اړه غفلت او کوتاهي زياته سي او د گناهو کول د مخکي څخه هم زيات سي نو د نور امانت کومه برخه چي پاته سوې وه د هغه څخه نور زائل سي او ددې مثال داسي دی لکه پر بدن چي تڼاکه راوخېژي او دغه نښه دومره ژوره او سخته وي چي ژر نه زائليږي ، نو په دوهم وار چي په زړه کي کومه تاريکي پيدا کيږي هغه د اول وار پيدا کېدونکي تاريکۍ څخه زياته خپره او ژوره وي، د ذکر سوي صورت حال ددغه مثال په ذريعه بيانولو څخه وروسته يې وويل چي د انسان په زړه کي د ايمان او امانت د نور پيدا کېدل او بيا وتل يا په زړو کي د هغه نور ځای نيول او بيا د هغه د زائل کېدو څخه وروسته د تاريکۍ راتلل داسي تشبيه لري لکه څرنگه چي څوک د اور سکروټه پر خپلي پښې باندي ايږدي او سکروټه د پښې په سوځلو سره زائله سي او بيا پر سوځېدلي ځای باندي تڼاکه راوخيژي .

يو بل شارح دا ليکلي دي چي ددغه ارشاد څخه مراد دادی چي الله تعالی د خلکو په زړو کي د امانت نور پيدا کړ چي هغه په رڼا کي د فلاح او صلاح پر لار روان سي او د دين او شريعت پيروان سي مگر کله چي هغه خلک د هغه نعمت څخه بې پروا سي ، د دين او شريعت په اړه په

غفلت او کوتاهی کي لويږي او ګناهونه کول پېل کړي نو الله تعالی د سزا په توګه د هغه خلکو څخه دغه نعمت بېرته واخلي په دې توګه چي د هغوئ د زړونو څخه امانت وځي تر دې چي کله هغوئ د غفلت د خوب څخه بيدار سي نو محسوس کړي چي د هغوئ د زړه هغه حالت نه دی کوم چي د امانت په شتون کي وو مګر د هغوئ په زړو کي د هغه امانت نښه پاته وي چي کله د وکت په ډول وي او کله د مجل په ډول وي نو لفظ د مجل که څه هم مصدر دی مګر دلته د نفس تنها که مراد ده او دا يعني مجل د اولي مرتبې يعني وکت څخه د کمي درجې وي ځکه چي د وکت په ذريعه دې ته اشاره مقصد ده چي که څه هم امانت د زړه څخه وځي نو د نښي په صورت کي د هغه څه نا څه برخه پاته کيږي.

د حديث آخري الفاظ: حال دا چي د هغه په زړه کي د ذرې په اندازه ايمان نه پاته کيږي، دغه جمله دوه احتماله لري يا خو اصل ايمان نفي مراد ده يعني د هغه سړي به هيڅ ايمان نه وي، او يا د کمال ايمان نفي مراد ده چي دغه ارشاد د دغه برخي خلاصه داده چي خلک د هغه سړي د عقل او پوهي زيات تعريف کوي او دهغه په اړه د تعجب او تحسين اظهار کوي مګر د يو داسي سړي تعريف او توصيف نه کوي چي په هغه کي ډېر زيات علم او فضل وي او د عمل صالح په دولت برخمن وي، ددې څخه معلومه سوه چي اصل شی ايمان او د فکر او عمل پاکي ده که په يو سړي کي د ايمان او پاکۍ دولت نه وي که څه هم د دنيا ټول نعمتونه د هغه سره وي مګر د هغه هيڅ حقيقت نه وي که څه هم د دنيا خلک د هغه هر څومره تعريف او تحسين وکړي، او د هغه ښېګڼو او کاميابيو په وجه هغه هر څومره غوره وګڼي مګر تعريف او تحسين د هغه سړي په حق کي معتبر دی چي د ايمان او تقوا حامل وي.

کله چي فتنې ظاهري سي نو عافيت لټوئ

﴿۵۱۴۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَسْأَلُونَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ

د حضرت حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دی چي خلکو به اکثر د رسول الله ﷺ څخه د نيکۍ په اړه پوښتني کولې (يعني نيک کارونه او نيکي خبري به يې پوښتلې)

الْخَيْرِ وَكُنْتُ أَسْأَلُهُ عَنِ الشَّرِّ مَخَافَةَ أَنْ يُدْرِكَنِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا كُنَّا

او ما به د رسول الله ﷺ څخه د بديو او فتنو په اړه پوښتنه کول، په دې خيال چي زه په فتنه کي اخته نه سم، يوه ورځ حذيفه رضي الله عنه وويل: اې د الله رسوله! موږ

فِي جَاهِلِيَّةٍ وَشَرٍّ فَجَاءَنَا اللّٰهُ بِهَذَا الْخَيْرِ فَهَلْ بَعْدَ هَذَا الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ قَالَ

په جاهليت کي اخته وو او د بدۍ په زمانه کي وو بيا الله تعالى موږ ته دا خير عطا کړ (يعني اسلام) ايا ددې خير څخه وروسته هم يو بدي پېښېدونکې ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

نَعَمْ قُلْتُ وَهَلْ بَعْدَ ذٰلِكَ الشَّرِّ مِنْ خَيْرٍ قَالَ نَعَمْ وَفِيهِ دَخَنٌ قُلْتُ وَمَا

هو، ما وويل: ايا ددې بدۍ او خرابۍ څخه وروسته به هم خير وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل :هو، او په هغه خير کي خړوالى وي ، ما وويل:

دَخَنُهُ قَالَ قَوْمٌ يَسْتَنُّوْنَ بِغَيْرِ سُنَّتِيْ وَ يَهْدُوْنَ بِغَيْرِ هَدْيِيْ تَعْرِفُ مِنْهُمْ

هغه خړوالى به څه وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د خرابۍ څخه مراد هغه قوم دى چي زما د طريقې خلاف طريقه اختيار کړي او خلکو ته زما د لارې خلاف لار ښيي، ته به په هغوئ کي دين

وَتُنْكِرُ قُلْتُ فَهَلْ بَعْدَ ذٰلِكَ الْخَيْرِ مِنْ شَرٍّ قَالَ نَعَمْ دُعَاةٌ إِلَى أَبْوَابِ جَهَنَّمَ

هم ووينې او ددين خلاف کارونه هم، (يعني په هغوئ کي به د شرع سره سم او د شرعي خلاف دواړي خبري ووينې) ما وويل: ايا ددې خير څخه وروسته به هم بدي وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :هو، داسي خلک به وي چي د دوږخ پر دروازه به ولاړ خلک بلي (يعني څرګنده ګمراهي به خپروي)

مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوْهُ فِيْهَا قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صِفْهُمْ لَنَا قَالَ هُمْ مِنْ

څوک چي د هغه جهنمي دعوت قبول کړي هغوئ به جهنم ته بوزي ، ما وويل: اې د الله رسوله ! د هغوئ صفت حال کړئ، (يعني هغوئ به کوم خلک وي او څنګه به وي؟) رسول الله ﷺ وفرمايل: هغوئ به

جِلْدَتِنَا وَيَتَكَلَّمُوْنَ بِأَلْسِنَتِنَا قُلْتُ فَمَا تَأْمُرُنِيْ إِنْ أَدْرَكَنِيْ ذٰلِكَ قَالَ تَلْزَمُ

زموږ د قوم يا جنس څخه وي او زموږ په ژبو به خبري کوي ما وويل: که هغه زمانه پر ما راسي نو تاسو څه حکم راکوئ. (يعني که هغه خلک زما په ژوند کي ظاهر سي نو هغه وخت ما ته څه کول په کار دي؟) رسول الله ﷺ وفرمايل:

جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ وَإِمَامَهُمْ قُلْتُ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلَا إِمَامٌ قَالَ

د مسلمانانو ډله لازم ونيسه او د هغوئ د امام اطاعت کوه، ما وويل: که هغه وخت د مسلمانانو جماعت نه وي او امام هم نه وي نو څه وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الْفِرَقَ كُلَّهَا وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ بِأَصْلِ شَجَرَةٍ حَتَّى يُدْرِكَكَ الْمَوْتُ

ته د ټولو ډلو څخه بيل سه که څه هم چي تا ته د درختو په ريښو کي پناه تر لاسه سي، تر دې چي

وَأَنْتَ عَلَى ذَلِكَ، متفق عليه و في رواية لمسلم قال يَكُونُ بَعْدِي أَئِمَّةٌ لَا

مرګ در ته راسي، بخاري او مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي داسي دي چي رسول الله ﷺ داسي وفرمايل: زما څخه وروسته به امامان (خليفه ګان يا پاچاهان) وي، چي

يَهْتَدُونَ بِهُدَايَ وَلَا يَسْتَنُّونَ بِسُنَّتِي وَسَيَقُومُ فِيهِمْ رِجَالٌ قُلُوبُهُمْ قُلُوبُ

زما طريقه به خلکو ته نه ښيي او زما طريقه به نه اختياروي، او په هغوئ کي به ځيني خلک داسي ظاهر سي چي د هغوئ زړونه به

الشَّيَاطِينِ فِي جُثْمَانِ إِنْسٍ قَالَ قُلْتُ كَيْفَ أَصْنَعُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنْ أَدْرَكْتُ

د شيطانانو په ډول وي او صورتونه به يې د انسانانو په ډول وي، ما وويل: اې د الله رسوله! که زه دا زمانه تر لاسه کړم نو څه وکړم؟

ذَلِكَ قَالَ تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلْأَمِيرِ وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ وَأُخِذَ مَالُكَ فَاسْمَعْ وَأَطِعْ.

رسول الله ﷺ وفرمايل: امير چي څه وايي هغه اوره او د هغه اطاعت کوه که څه هم چي پر ملا وهل سې او ستا مال په زور واخيستل سي خو بيا هم اوره (حکم يې) او اطاعت يې کوه.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٦١٥، رقم: ٢٦٠٦، ومسلم ١٣\١٤٧٥، رقم: ٥١- ١٨٤٧.

د لغاتو حل: دخن: لايكون خيرا صفوا بل يكون مشوبا بكدورة وظلمة. (خيرن).

تشريح: علماؤ ويلي دي چي د شر څخه مراد فتنه او د اسلام په ارکانو کي سستي او کوتاهي واقع کېدل دي، د بدۍ غلبه، د بدعت خپرېدل دي، او د خير څخه مراد د دې برعکس معنی ده، موږ په جاهليت او بدۍ کي اخته وو: د دغه قول په ذريعه حضرت حذيفه ﷺ د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ څخه مخکي زمانې ته اشاره وکړه کله چي د توحيد لمر د جهالت پر وريځو خپور سوی وو، د نبوت او رسالت رڼا څرګنده سوې نه وه او پر احکام الهي باندي د عمل لار د نظرو

ښخه پټه وه .

في جاهلية وشر: دلته د شر لفظ عطف تفسيري دی چي ددغه لفظ په ذريعه د جاهليت وضاحت بيانول مقصد دي يا دا هم ويل کيږي چي په دغه جمله کي د شر لفظ د تخصيص په توګه استعمال سوی دی .

دخن: يعني خيرنتوب، او د دُخان معنی د دود ده، مطلب دادی چي څرنګه په فضاء کي خپور سوی دود پاک شيان خيرن کوي همدارنګه هغه وخت چي کوم خير مخته راسي هغه به د بدۍ او خرابۍ په ګرد لړلي وي ، په دې توګه چي د خلکو په زړونو کي به پاکي او خلوص نه وي کوم چي د اسلام په لومړنۍ زمانه کي وي او عقيدې په صحيح او اعمال به صالح نه وي ، د اميرانو او پاچاهانو نظم به د هغوئ پر عدل او انصاف باندي مبني نه وي کوم چي په مخکي زمانه کي وو، د مسلمانانو مشران به مخلص او ريښتوني خادم نه وي ، د بديو ظهور به وي ، بدعتونه به پيداسي ، بدکاره خلک به د نيکانو سره او اهل بدعت به د اهل سنت سره ګډ وډ سي .

ته به په هغوئ کي ديندراه هم وويني او بې دينه هم: مطلب دادی چي هغه خلک به په نيکۍ او بدۍ دواړو سره د ګډېدو په وجه د متضاد او مختلف اعمالو حامل وي د هغوئ په ژوند کي به د منکر يعني خرابو خبرو چلن هم وي او د معروف يعني ښو کارو دخل هم وي، نو دغه جمله هم هغه مفهوم څرګندوي کوم چي د مخکنۍ جملې (نعم وفيه دخن ويستنون بغير سنتي) ښخه مراد اخيستل سوی دی .

ځينو حضراتو وضاحت کړی دی چي په دغه اراشاد کي د اسلام او هدايت د رڼا ښخه وروسته پېښېدونکي کومي بدۍ ته چي اشاره سوې ده د هغه ښخه د بدۍ فتنه مراد ده کوم چي د حضرت عثمان ﷺ د شهادت پر وخت ظاهره سوې وه او بيا پېښېدونکي دوهم خير ته چي اشاره سوې ده نو د هغه ښخه مراد د حضرت عمر ابن عبدالعزيز ﷺ د خلافت زمانه وه، او منهم وتنکر يعني تاسو به په هغوئ کي ديندراه هم وويني او بې دينه هم ، دلته چي کومو خلکو ته اشاره سوې د هغه ښخه هغه اميران او پاچاهان مراد دي چي د حضرت عمر ابن عبدالعزيز ﷺ ښخه وروسته حکمرانان سول ، په هغوئ کي ځيني داسي حکمرانان تېر سوي دي چي په خپل ذاتي ژوند کي هم او خپل پاچاهي کي هم د کتاب او سنت په هدايت کي عادل او انصاف داره وه ، او په هغوئ کي ځيني داسي وه چي کله به يې نيک کارونه کول او کله به په نفساني خواهشاتو کي په لوېدو سره خراب کارونه کول ، هغه وخت به د هغوئ په مخکي د آخرت د مفادو او د آخرت لپاره د تياري جذبه نه وه بلکه د هغوئ اصل مفاد ذاتي مفاد پوره کول وو، او

په هر صورت کي د خپل اقتدار او خپلي حکمرانۍ پاته ساتل وو، ځيني حضرات وايي چي د اولي بدۍ څخه مراد هغه فتنه او فساد دی چي د حضرت عثمان غني ﷺ د قتل په صورت کي او دهغه څخه وروسته ظاهر سول او د ذوهم خير څخه مراد هغه صلح ده چي د حضرت امير معاويه او حضرت امام حسين ﷺ په منځ کي وسوه ، د دُخن يعني دود څخه مراد هغه افسوسناکه واقعې دي چي د حضرت معاويه په زمانه کي د ځينو اميرانو په ذريعه ظاهره سوې لکه په عراق کي د زياد فتنه او فساد .

چي د دوږخ پر درواز باندي په درېدو سره به خلک رابولي: يعني د هغه مفاد پرست او خود غرضه خلکو يوه ډله به وي چي خلک به د ډول ډول فريب او حرص د غلولو په ذريعه ګمراهۍ ته رابولي او هغوئ به د هدايت څخه ليري ساتي نو رسول الله ﷺ د ګمراهۍ د عوت ورکونکو دعوت ته او چا ته چي دعوت ورکول کيږي د هغوئ له خوا هغه دعوت قبلول يو داسي سبب ګرځولی دی چي د هغه په ذريعه به دعوت ورکونکی د عوت قبلونکی دوږخ ته واچوي همدارنګه هغه خلک به د هغوئ د مکر او فريب په ښکار کېدو سره دوږخ ته مخکي ولاړ سي او رسول الله ﷺ د مکر او فريب ټول اقسام او ټول صورتونه د دوږخ د دروازو قائم مقام ګرځولي دي .

ځينو حضراتو ويلي دي چي دلته کومو کسانو ته اشاره سوې ده چي هغوئ به خلک ګمراهي ته رابولي ، ددې څخه هغه د عزت، حکومت او اقتدار غوښتونکی مراد دي چي پر ملک او قوم باندي خپل واک قائمولو لپاره ډلي جوړي کړي او عامو خلکو ته په ډول ډول فريب ورکولو سره خپل چاپيره راجمع کړي چي دهغوئ د اجتماعي طاقت په ذريعه ملي سيادت او ملک باندي قبضه وکړل سي لکه څرنګه چي دخوارج او روافض په ډول ګمراه ډلي ددغه ناپاک مقصد لپاره پيدا سوي دي، حال دا چي دامارت ، سيادت، امانت او ولايت هيڅ شرط او خصوصيت به هم په هغوئ کي موجود نه وي، يوه خبره دا هم د وضاحت وړ ده چي فرمايل سوي دي چي هغوئ به د دوږخ پر دروازو په درېدو سره خلک ځان ته رابولي نو د دوږخ پر دروازو درېدل د مال په اعتبار فرمايل سوي دي يعني ګمراهي ته د رابللو کار به دا وي چي کوم خلک د هغوئ پر بلنه هغوئ ته ورځي هغوئ به د دوږخ د عذاب مستحق ګرځي ، همدارنګه ګمراهۍ ته د هغوئ بلني ته د دوږخ پر دروازو باندي په بلني سره تعبير سوي دي نو دغه ارشاد د اسلوب په اعتبار د قرآن کريم د دغه آيت په ډول دی :

(ان الذين ياكلون اموال اليتمى ظلما انما ياكلون في بطونهم نارا) .

د مسلم د روايت د آخري الفاظو مطلب دادی که چيري تاسو په داسي هيواد کي اوسئ چيري چي د مسلمانانو نظم او پاچاهي قائم وي او د مسلمانانو امير او امام موجود وي نو دهغه ځای په سياسي حالت کي ستاسو لپاره هر څومره سختي او تنګي وي او دهغه امير او امام له خوا ستاسو مال او ځان په اړه ظلم کيږي يا تاسو وهل کيږئ ا و ستاسو مال او اسباب په زور اخيستل کيږي تاسو دهغه امير او امام د بغاوت بيرغ هيڅکله مه پورته کوئ او دفتني او فساد دروازې هيڅکله مه خلاصوه بلکه د صبر او تحمل لار اختياروئ او په سختو حالاتو کي هم د وخت د امام په بغاوت کولو سره د دين او ملت منتشر کولو سبب مه جوړيږئ ، پاته سوه دا خبره که چيري هغه امير او امام د مشروع امورو د کولو حکم ورکړي نو په دغه صورت کي مسئله داده چي د هغه اطاعت دي وکړل سي مګر که چيري د مشروع امورو حکم ورکړي چي د هغه حکم په عدولي صورت کي ځان او خلکو ته تاوان رسوي يا په هلاکت کي د اخته کېدو نوبت راسي نو دا بېله خبره ده ، که چيري په دغه صورت کي هم د اولی اختيارولو جواز باقي دی يعني د حکم عدولي په صورت کي بېره ده نو دغير مشروع امر کول کېدای سي مګر که چيري يو سړی د سر په بايلني سره هم دغير مشروع امر کولو څخه انتظار وکړي نو دا به تر ټولو ښه خبره وي او ددې تر ټولو د لوی درجې اختيارولو جواز دی .

په پای کي د فاسمع واطع الفاظ چي دوهم وار فرمايل سوي دي ، ددې څخه دهغه حکم موکد کېدل مقصد دي چي ځان د امام د اطاعت څخه بېل نه کړل سي او د سرکښۍ او بغاوت په ذريعه په هيواد او ملت کي د انتشار فتنه خپره نسي .

د فتنو څخه مخکي خپل ديني ژوند مستحکم کړئ

﴿۵۱۵۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا أَوْ يُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا. رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (په نيکو) اعمالو کي تلوار کوئ او ددې فتنو د راتلو څخه مخکي چي د تاريکي شپې د ټکړو په ډول به وي چي (هغه وخت به) څوک په سهار کي د ايمان په حالت کي پورته کيږي او مابنام ته به کافر سي او په مابنام کي به مؤمن وي او سهار ته به کافر سي، خپل دين به د دنيا په لږ سامان خرڅ کړي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۱۰/۱، رقم: ۱۸۶- ۱۱۸.

تشريح: په نيکو اعمالو کي تلوار کوئ: ددغه لارښووني خلاصه داده چي ددغه تغير خوړونکي دنيا پر يوه رخ باندي قرار نسته او د وختي حالاتو تېرېدل يوې خوا ته نه وي اوس که داسي حالات دي چي دعقيدې او عمل رخ صحيح ساتلو کي مرسته کونکي جوړيږي نو وروسته داسي حالات هم پيدا کيداى سي چي د فکر او نظرياتو او عقيدې سفر پر صحيح خوا باندي په جاري ساتلو کي سخت خنډ پيدا کړي او داسي کم انسانان وي چي د هغوئ په اعماله صالحه کي خنډ نه پيدا کيږي نو کوم چا ته چي کومه موقع تر لاسه سي په هغه کي د ښه کار کولو او نېک عمل کولو تلوار دي کوي او ځومره اعمال چي کولاى سي وه دي يې کړي ځکه چي دا هيچا ته معلومه نه ده چي په راتلونکي وخت کي به څه فتنې راځي او بيا به د نيکو اعمالو اختيارولو موقع هم نه وي او يا فتنې په تياره شپو سره تعبير سوي دي ، مطلب دادى چي د راتلونکو فتنو په اړه چا ته داسي معلومېداى نه سي چي هغه به کله او ولي ظاهريږي او دهغه څخه د خلاصون لار به څه وي نو د هغه راتلونکو فتنو څخه مخکي د اعمال صالحه په ذريعه خپل ديني ژوند مستحکم جوړ کړی ، دراتلونکي وخت انتظار مه کوئ ځکه چي هغه وخت به د دين او شريعت تعلق د داسي سختو آفاتو او مصيبتو سره وي چي د نېک کار کولو موقع به نه تر لاسه کيږي هغه وخت به د خلکو ذهن، فکر او اعمالو باندي ځومره خراب اثر وي او هغه فتنې به ځومره ژر اثر کونکي وي دې ته اشاره فرمايل سوي دي چي د مثال په توګه سړى به په سهار کي پورته کيږي نو په ايمان به متصف وي مګر په ماښام کېدو سره به د کفر تيارو ته ورځي، پاته سوه دا خبره چي د کفر څخه مراد څه دی؟ نو کېداى سي چي اصل کفر مراد دي يعني هغه سړى په حقيقت کي د کفر په دائره کي داخل سي يا دا مراد دى چي هغه کفران نعمت يعني د نعمت ناشکري کونکى سي يا هغه دکافرانو مشابهت اختيار کړي يا دا چي هغه داسي کارونه پېل کړي چي يوازي کافريې کوي.

ځيني حضرات وايي چي د ذکر سوې جملې معنى داده چي د مثال په توګه يو سړی چي په سهار کي پاڅي نو هغه شی به حلال ګڼي کوم چي الله تعالى حلال ګرځولی دی او هغه شی به حرام ګڼي کوم چي الله تعالى حرام ګرځولی دی مګر په ماښام کېدو سره به د هغه ذهن او فکر او د هغه په عقيده کي داسي بدلون راسي چي هغه شی به حرام ګڼي کوم چي الله تعالى حلال ګرځولی دی او هغه شی به حلال ګڼي کوم چي الله تعالى حرام ګرځولی دی ، پر دې باندي د جملې دوهمه برخه يعني ماښام به مؤمن وي او سهار به د کفر په حالت کي وي، هم قياس کيداى

سي او خلاصه داده چي عام خلک به ددغه فتنو په وجه د دين او شريعت په معاملاتو کي تذبذب او تردد ښکار سي او په نامه پوهانو او عالمانو پسي تلل به پېل کړي ، مظهر رحمة الله عليه ويلي دي: د ذکر سوي صورت حال به څو وجي او اسباب وي يو خو دا چي په مسلمانانو کي به تفرقه ولوېږي او هغوئ به په مخالفو ډلو کي وويشل سي نو دهغوئ په منځ کي محض عصبيت او بغض وعناد په وجه به قتلونه وي او د دواړو ډلو خلک به د خپل مخالف ځان او مال ته تاوان رسوي او د يو بل ويني تويول به حلال ګڼي ،

دوهم دا چي د مسلمانانو حاکم به په ظلم او زور حکمراني نېولې وي هغه به د مسلمانانو ناحقه ويني تويوي ، دهغوئ مال به په زور اخلي ، زنا به کوي، شراب به څښي او نور خراب کارونه به کوي مګر د هغوئ ددغه څرګندو بدکاريو سربېره ځيني خلک به دا عقيده لري چي هغه حاکم او امير پر حق دی او داسي خلک به د بدي عقيدې په دغه فتنه کي اخته کونکي هغه په نامه علماء وي چي هغوئ ته علماء سوء ويل کيږي د هغوئ له خوا به د اميرانو د هغه کارو د جواز فتوا ورکول کيږي چي هغوئ به يې دمسلمانانو د ويني تويولو او حرامو کارو په صورت کي کوي، او دريم دا چي په عامو مسلمانانو کي به جهالت او د دين څخه د ناخبرتيا په وجه چي کومي خرابۍ خپريږي او د هغوئ څخه چي کوم غير شرعي کارونه کيږي لکه د رانيولو او پلورلو په معاملا کي او په نورو امورو کي د دين او شريعت د احکامو خلاف ورزي کول به حلال او جائز ګڼي، شيخ عبدالحق دا ليکلي دي چي مذکوره حال به په دې وجه پيدا کيږي چي خلک به دخپل اغراضو او منافعو له کبله د دنياداره اميرانو او شتمنو سره تعلق ساتي ، دهغوئ څخه د حاجت پوره کېدو په اميد به هغوئ ته ورځغلي د هغوئ ناسته ولاړه به عزت ګڼي نو ددې نتيجه به دا وي چي د هغوئ پيروان به دهغوئ تابع سي او د هغوئ د شريعت خلاف کارو کي به دهغوئ پر موافقت او تائيد کولو باندي مجبور وي .

سړی به په سهار کي د ايمان په حالت کي وي...الخ: ددې يوه معنی دا هم کېدای سي چي سړی به په سهار کي پاځي نو دخپل مسلمان ورور د ويني او مال ساتلو په سبب به د ايمان په حالت کي وي او هغه چي په ماښام کېدو سره د هغه عقيده بدله سي او هغه به دخپل مسلمان ورور وينه او مال حلال ګڼي او په دې وجه به هغه کافر وګرځول سي ، ددغه معنی اختيارولو په صورت کي د فتنو څخه مراد جنګ او قتال دی مګر ددغه جملې چي کومه معنی مخکي تېره سوې ده هغه د رسول الله ﷺ دارشاد سره زياته مناسب ده .

د فتنو د ظهور پر وخت عافیت و لټوئ

﴿۵۱۵۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيَكُونُ فِتَنٌ الْقَاعِدُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل: ډير ژر به فتني ظاهري سي

فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ

ددې فتنو په زمانه کي به ناست تر ولاړو غوره وي او ولاړ به تر روان غوره وي او تلونکی به د

السَّاعِي مَنْ تَشَرَّفَ لَهَا تَسْتَشْرِفْهُ فَمَنْ وَجَدَ مَلْجَأً أَوْ مَعَاذًا فَلْيَعُذْ بِهِ.

ځغستونکي څخه غوره وي، څوک چي ددغه فتنو په لور ګوري فتنه به يې ځان ته راکش کړي، څوک چي په دغه زمانه کي د پناه يو ځای ته تللای سي هغه دي هلته پناه تر لاسه کړي.

متفق عليه و في رواية لمسلم قَالَ تَكُونُ فِتْنَةٌ النَّائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْيَقْظَانِ

بخاري او مسلم، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ و فرمايل: فتنه به راسي چي په هغه کي به بيده کس تر وينښ غوره وي

وَالْيَقْظَانُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي فَمَنْ وَجَدَ مَلْجَأً أَوْ مَعَاذًا فَلْيَسْتَعِذْ.

او وينښ کس به تر ولاړ او ولاړ به تر ځغليدونکي غوره وي، نو څوک چي دغه وخت د پناه يو ځای تر لاسه کړي نو هلته دي پناه تر لاسه کړي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۶۱۲، رقم: ۲۶۰۱. ومسلم ۴\۲۲۱۲، رقم: ۱۰-۲۸۸۶.

د لغاتو حل: تشرف: ای نظر اليها. معاذا: ای موضعا او شخصا ملاذا يتخلص بالذهاب اليه بالعياذ به من الفتن.

تشريح: په فتنه کي ناست کسان تر ولاړو ځکه غوره دی چي د يو شي سره ولاړ سړی د هغه شي سره زيات نژدې وي چي هغه شیويني هم او اوري يې هم حال دا چي ناست خلک هغه شی نه ويني او نه يې اوري نو په فتنو کي ولاړ سړی د هغه د لېدو او اورېدو په وجه چي ناست سړی يې نه ويني او نه يې اورې عذاب ته زيات نژدې وي، کېدای سي چي په دغه جمله کي د ناست سړي

څخه مراد هغه سړی وي چي هغه په دغه زمانه کي د ظاهرېدونکي فتنې محرک نه وي بلکه د هغه څخه په ليري پاته کېدو سره په خپل ځای کي ناست وي او دباندي نه راوځي ، او د ولاړ سړي څخه مراد هغه څوک وي چي په هغه کي د هغه فتنې تعلق وي مګر په فتنې کي متردد وي، کوم څوک چي فتنو ته ګوري ...الخ: مطلب دادی که چيري يو سړی هغه فتنو ته متوجه کيږي او هغه ته نژدې ورځي نو د هغه توجه په هغه فتنو کي د هغه د اخته کېدو باعث کيږي نو د هغه فتنو څخه د ساتني او د هغه دجال څخه د خلاصون په صورت کي د دې څخه پرته نور هيڅ به نه وي چي د هغه فتنو څخه څومره زيات ليري او سېدل ممکن وي هغومره زيات ليري دي اوسي

﴿۵۱۵۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهَا سَتَكُوْنُ

د حضرت ابوبکره رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ډير ژر به فتنې يو په بل

فِتَنٌ اَلَا ثُمَّ تَكُوْنُ فِتْنَةٌ اَلْقَاعِدُ خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِيْ فِيْهَا وَالْمَاشِيْ فِيْهَا خَيْرٌ

پسي څرګنديږي او ياد لرئ چي بيا د دغه فتنو څخه يوه لويه فتنه پېښيږي په دغه فتنه کي به ناست سړی د تلونکي سړي څخه غوره وي او تلونکی به

مِنَ السَّاعِيْ اِلَيْهَا اَلَا فَاِذَا نَزَلَتْ اَوْ وَقَعَتْ فَمَنْ كَانَ لَهٗ اِبِلٌ فَلْيَلْحَقْ بِاِبِلِهٖ

د فتنې په لور د ځغستونکي څخه غوره وي ، خبردار ! کله چي دا فتنه واقع سي نو هغه څوک چي د هغه سره اوښان وي د خپلو اوښانو سره دې سي

وَمَنْ كَانَتْ لَهٗ غَنَمٌ فَلْيَلْحَقْ بِغَنَمِهٖ وَمَنْ كَانَتْ لَهٗ اَرْضٌ فَلْيَلْحَقْ بِاَرْضِهٖ

او څوک چي پسونه او بزې لري د هغو سره دې سي او د چا سره چي مځکه وي هغه دې د خپل مځکي سره پريوځي (يعني ټول کارونه دي پريږدي او يوازيوالی دی اختيار کړي) او په دغه شيانو کي دي بوخت سي ،

فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ مَنْ لَمْ يَكُنْ لَهٗ اِبِلٌ وَلَا غَنَمٌ وَلَا اَرْضٌ قَالَ

يو کس (ددې په اوريدو سره) وويل چي اې د الله رسوله ! د چا سره چي اوښان، پسونه او يا مځکه نه وي هغه دې څه وکړي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

يَعۡمِدُ إِلَى سَيۡفِهِ فَيَدُقُّ عَلَى حَدِّهِ بِحَجَرٍ ثُمَّ لِيَنۡجُ إِنِ اسۡتَطَاعَ النَّجَاءَ اللَّهُمَّ

هغه دي د خپل توري په لور متوجه سي هغه دي په ډبره وهلو وهلو سره وتکوي (يعني د هغې ثوکه دي پڅه کړي چي د جنګ خيال پيدا نه سي) او بيا هغه ته پکار ده چي د دغه فتنو څخه د خلاصون لپاره وتښتي که هغه ژر داسي وکړلای سي ، دديې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : اې الله !

هَلۡ بَلَّغۡتُ ثلثا فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيۡتَ إِنۡ أُكۡرِهۡتُ حَتَّى يُنۡطَلَقَ بِي

ما ستا احکام ستا بندګانو ته ورسول ، دريې واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمايل ، يو سړي عرض وکړ اې دالله رسوله ! که پر ما ظلم وکړل سي تر دې چي په دواړو ډلو کي زه د يوې ډلي

إِلَى أَحَدِ الصَّفَّيۡنِ فَضَرَبَنِي رَجُلٌ بِسَيۡفِهِ أَوۡ يَجِيءُ سَهۡمٌ فَيَقۡتُلُنِي قَالَ يَبُوءُ بِإِثۡمِهِ وَإِثۡمِكَ وَيَكُونُ مِنۡ أَصۡحَابِ النَّارِ . رواه مسلم .

صف ته بوتلل سم ، يا يو غشی راسي ما مړ کړي نو زما په اړه ستاسو څه خيال دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: ستا پر قاتل به خپله او ستا د دواړو ګناه وي او هغه سړی به په دوږخيانو کي وشميرل سي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۲۲۱۲، رقم: ۱۳– ۲۸۸۷.

تشريح: دعلماؤ په نزد دا يو اوږد بحث دی که چيري د انتشار يو فتنه را پورته سي او مسلمانان په دوو ډلو کي په وېشل کېدو سره په خپلو کي جنګ کول پېل کړي نو هغه وخت به د پاته مسلمانانو طرز عمل څه وي، د عالمانو د يو ډلي دا وينا ده چي د انتشار په صورت کي هيڅ مسلمان ته جائز نه ده چي هغه په قتل او قتال کي شريک سي نو په هغه کي د ګډون څخه پرهيز کول او د دواړو ډلو څخه جلاوالی اختيارول واجب دی ، ددغه حضراتو دليل ذکر سوی ارشاد او همدارنګه نور حديثونه دي ، مشهور صحابي حضرت ابوبکر ﷺ او د ځينو نورو صحابه کرامو مذهب هم دا وو ، د حضرت ابن عمر ﷺ قول دادی چي د قتل او جګړې پېل په خپله کول نه دي پکار که ثوک ويني تويوي نو دهغه دفع کول لازم دي ، د جمهور صحابه او تابعينو دا مذهب دی که چيري په مسلمانانو کي جګړه وسي او د يو بل خلاف قتل او قتال شروع کړي نو دهغه ډلي حمايت کول پکار دي کوم چي پر حق او انصاف باندي وي او کومه ډله

چي د ظلم او نا انصافۍ لار اختيار كړي وي يا د مسلمانانو د امام او سردار څخه د بغاوت كولو په وجه د ملي انتشار سبب جوړيږي د هغه خلاف جنګ كول پكار دى ځكه كه چيري داسي ونه كړل سي نو د فتنې او فساد بازار به ګرم سي او د بغاوت كونكو همت به لوړ سي،

ددغه مذهب دليل د الله تعالى دا فرمان دى : (وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا....الخ) نو آيت كريمه دا څرګندوي چي كله د مسلمانانو په دوو ډلو كي جګړه وسي نو د هغوئ په منځ كي صلح كول پكار دي او د دواړو ډلو هغه انتشار څخه د ليري كولو هڅه دي وكړل سي، كه چيري په هغه دواړو ډلو كي يوه ډله د حد څخه تجاوز كوي او په فتنه جاري كولو كي مصروف وي نو بيا د هغه ډلي پر خلاف بايد توره پورته كړل سي او د هغوئ سره جنګ وكړل سي چي پر حق لار باندي راسي .

《۵۱۵۳》: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ . رواه البخاري.

د حضرت ابوسعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه زمانه نژدې ده چي د مسلمان غوره مال به پسونه وي چي هغه د غرونو په لمن كي يا د باران اوريدو ځاى ته بوځي د فتنو څخه به وتښتي او خپل دين به وژغوري. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٦٩، رقم: ١٩.

د لغاتو حل: شعف: اى رؤوس الجبال (د غره څوكي)

تشريح: ددغه حديث مطلب هم دا تلقين كول دي چي كله داسي فتنې را پورته سي چي په هغه سره په مسلمانانو كي انتشار او د جنګ و جګړې وباء خپره سي او داسي ماحول پيدا سي چي په هغه كي د دين ساتل مشكل سي نو هغه وخت به د خلاصون لار دا وي چي يوازيوالى اختيار كړل سي او څومره چي ممكن وي خپل ځان د نړيوالو څخه جلا كړي لكه چي فرمايل سوي دي چي داسي حالت تر ټولو غوره صورت دادى چي يو مسلمان د يو څو پسو مالک وي او د هغه پسو په پېولو سره ځنګل، غر يا داسي ځاى ته ولاړ سي چيري چي د څر ځاى او اوبو پيدا كېدو ذريعه وي او هلته د پسو په پېولو سره د شېدو په صورت كي د حاجت په اندازه خوراک باندي

په قناعت کولو سره خپل ژوند تېروي ، ددې لپاره چې نه د دنيا د خلګو سره وي او نه دين ته په تاوان رسونکو فتنو کې اخته وي .

د فتنو پيشګوئي

﴿۵۱۵۴﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ أَشْرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُطُمٍ مِنْ آطَامِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ هَلْ تَرَوْنَ مَا أَرَى قَالُوا لَا قَالَ فَإِنِّي لَأَرَى الْفِتَنَ تَقَعُ خِلَالَ بُيُوتِكُمْ كَوَقْعِ الْمطرِ . متفق عليه

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د مدينې پر يو لوړ ځای وختی ، صحابه کرام يې مخاطب کړل او ورته وه يې فرمايل: تاسو هغه شی وينئ کوم چې زه وينم؟ صحابه کرامو وويل :يا، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه فتنې وينم، چې ستاسو پر کورونو داسي وريږي لکه څرنګه چې باران اوريږي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\۹۴، رقم: ۱۸۷۸، ومسلم ۱۴\۲۲۱۱، رقم: ۹- ۲۸۸.

د لغاتو حل: اطم: ای شاهق جبل او بناء مرتفع (د غره لوړه څوکه يا لوړه ماڼۍ)

تشريح: اطم: د غره څوکي، قلعه او لوړ ځای ته وايي ، او اطام يې جمع ده ، دلته د اطام څخه مراد مدينې منورې چاپېره هغه لوړ ځايونه او قلعې دي چې په هغه ځای کې يهوديان اوسېدل، رسول الله ﷺ يوه ورځ د هغه قلعه څخه د يوې قلعې بام ته تشريف يووړ او بيا يې ذکر سوی حديث ارشاد وفرمايه .

زه هغه فتنې وينم ...الخ: ددې وضاحت دادی چې الله تعالی خپل نبي ته هغه وخت چې هغه بام ته وختی د فتنو نژدې کېدل وښودل چې د هغه فتنو په اړه يې خبردار کړي او خلک په دې پوهېدو سره چې د هغه فتنو نازلېدل مقدر سوي دي د هغه څخه د ساتنې طريقه اختيار کړي او دا خبره د رسول الله ﷺ د معجزو څخه شمېرل کيږي چې رسول الله ﷺ کومه وړاند وينه فرمايلې وه هغه بالکل صحيح ثابته سوه .

يوه خاصه پيشګوئي

﴿۵۱۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَكَةُ أُمَّتِي عَلَى يَدَيْ غِلْمَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ. رواه البخاري.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت هلاکت به د قريشو د ځو ځوانانو دلاسه وي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٦١٢، رقم: ٢٦٠٥.

د لغاتو حل: الغلمة: الشبان، جمع غلام. (زلميان)

تشريح: په دغه حديث د امت څخه مراد صحابه کرام او اهل بيت دي، چي د امت تر ټولو غوره او افضل کسان وه، لفظ د غلمة د غلام جمع ده چي معنی يې د زلمي ده، په صراح کي ليکلي دي چي د غلام معنی د هلک ده او ځرګنده دي وي چي د غلام لفظ د غلم او اغتلام څخه اخيستل سوی دی چي د هغه معنی د جوش غلبه ده، په هر حال دلته د غلمة څخه مراد هغه کم عمره زلمي دي چي ناپوه او بې باکه وي، د مشرانو او بزرګانو ادب او احترام نه کوي او د عالمانو او پوهانو خلکو د عزت خيال نه ساتي نو رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي د قريشو کومو زلمو ته چي اشاره وفرمايل د هغه څخه د قريشو سره نسلي تعلق لرونکي د دين او ملت هغه بدخواه خلک مراد دي چي هغوئ د سلطنت او عزت تر لاسه کولو لپاره حضرت عثمان غني، حضرت علي، حضرت حسن او حضرت حسين رضي الله عنهم اجمعين شهيدان کړل اود هغوئ د هلاکت باعث سول، يا هغوئ هغه وخت په ملت کي د انتشار او ظلم فتنه پيدا کړل، په مجمع البحاري کي ليکلي دي چي حضرت ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په رڼا کي هغه خلک په تعين سره و پېژندل مګر دا حديث بيانولو وخت د فتنې له بيري د هغه خلکو نو مونه ځرګند نه کړل او هغه خلک د بني اميه عبد الله ابن زياد او د هغه په ډول نور کسان وه چي هغوئ تر دې حده د فتنې او فساد بازار ګرم کړ چي اهل بيت يې د بې پايه ظلمو ښکار کړل، د لوړي درجې مهاجر او انصار صحابه کرامو ته يې په لوی مظلوميت سره د خپل ځانو څخه لاس پرېولی او داسي ويني توی سوې چي ځمکه او آسمان رپېدل د دغه خلکو دغه د ظلم ډکي کارنامې د تاريخ په کتابو کي په تفصيل سره ذکر دي.

﴿٥١٥٦﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَقَارَبُ الزَّمَانُ وَيُقْبَضُ الْعِلْمُ وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ وَ يُلْقَى الشُّحُّ وَيَكْثُرُ الْهَرْجُ قَالُوا وَمَا الْهَرْجُ قَالَ الْقَتْلُ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زمانې به يو په بل پسې نژدې وي (د دنيا زمانه او د آخرت زمانه) او علم به پورته کړل سي او د فتنو به ظهور وي او بخل به واچول سي (يعني د خلکو په زړونو کي) او هرج به زيات وي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي هرج څه شی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: قتل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۱۸۲، رقم: ۸۵، ومسلم ۴\ ۲۰۵۷، رقم: ۱۱- ۲۶۷۲.

تشريح: زمانې به يو بل ته نژدې سي: ددې مطلب يا خو دادی چي هغه وخت به د دنيا زمانه د آخرت زمانه يو بل ته نژدې سي ، په دغه صورت کي به د قيامت نژدې کېدل مراد وي يا ددغه جملې څخه مراد د زمانو د خرابۍ تعلق دی يعني په هغه زمانه کي چي بدکاره خلک وي هغه به يو بل ته نژدې راسي يا دا مطلب دی چي خپله د زمانې اجزاء د بدۍ او خرابۍ په اعتبار هم يو بل ته نژدې او مشابه وي يعني يوه زمانه به د خرابۍ او بدۍ ماحول اخيستی وي او د هغه څخه وروسته به بيا دوهم زمانه همداسي وي، يا دا مطلب دی چي يوه داسي زمانه به راسي چي په هغه کي به حکومت تر ډېره وخته نه وي او مختلف انقلابونه او ډېر مختصر وخت کي به بدلېږي ، ځينو حضراتو دا مطلب بيان کړی دی چي په آخر کي کومه زمانه راځي په هغه کي به د خلکو عمرونه ډېر لږ وي او دا احتمال هم دی چي دغه جمله په اصل کي د گناهو په سبب د زمانې څخه د برکت ختمېدو کنايه ده يعني په آخره زمانه کي کله چي د گناهو زياتوب سي خلک بهٔ د دين او شريعت تقاضې او د الله او آخرت د بيري څخه په بې پروا کېدو د عيش او غفلت په ژوند کي ولوېږي نو د زمانې څخه به برکت ولاړ سي او د هغه د شپې او ورځي گردش به دومره تيز او د ورځي او شپې وخت به دومره مختصر محسوس کيږي چي د کلونو مخکي يوه واقعه به د پرون خبره معلومېږي او هر څوک د وخت د کمۍ شکايت کوی ددې تائيد ددې څخه هم کيږي چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي په آخره زمانه کي به وخت داسي تيرېږي چي کال به دمياشتي برابر، مياشت به د اونۍ په اندازه او اونۍ به د ورځي برابر معلومېږي .

علم به پورته کړل سي: مطلب دا چي په هغه زمانه کي باعمل او د حقيقي علم حامل علماء پورته کړل سي او همدارنگه حقيقي علم به ختم سي او د مختلف علمي فتنو تياره به داسې خپره سي چي د علماء حق او علماء سوء په منځ کي به امتياز کول مشکل سي او هري خوا ته به دا محسوس کيږي لکه د علم څراغ چي مړ سوی وي او د جهالت او ناپوهۍ تياره خپره سوې وي .

بخل به واچول سي: مطلب دادی چي په آخره زمانه کي به په خلکو کي د بخل خصلت ډېر پوخ سي او دا شی يعني د بخل خرابي به د يوې عامي وباء په ډول خپره سي او خلک به د هغه

بخل دومره تابع سي چي صنعت او حرفت ته به د خپل صنعتي شیانو جوړولو او پیدا کولو کي د بخل او تنګی. کول پیل کړي او د مال او تجارت خلک به خپل مال پټوي تر دې چي د ضروري شیانو د ورکولو څخه به هم انکار کول پیل کړي ، ددې څخه معلومه سوه چي بخل به عام کړل سي ، دلته په خلکو کي اصل بخل مراد نه دی ځکه چي اصل بخل خو د انسان په خلقت او طبیعت کي پروت دی او په دې اعتبار دا خبره د مخکي زمانې د خلکو په اړه نسي ویل کیدای چي په هغوئ کي د بخل وجود نه وو مګر ددې څخه دا نتیجه هم اخذ کیدای نسي چي اصل بخل د انسان په جبلت کي پروت دی ځکه نو هیڅوک ددغه عادت څخه پاک سوی نه دی ، حقیقت دادی چي الله تعالی چا ته وغواړي ددغه خصلت څخه یې په پوره توګه خوندی کولای سي .

او څرنګه چي ددغه آیت (ومن یوق شح نفسه فاولئک هم المفلحون) څخه څرګندیږي چي داسي پاک انسانان مخکي هم تېر سوي دي او س هم موجود دي او بیا به هم موجود دي، دا بېله خبره ده چي د زمانې د اثراتو په وجه د داسي پاکو کسانو شمېر په هره راتلونکې زمانه کي د مخکې زمانو په نسبت کم سي .

د هرج معنی ده په فتنه او فساد کي لوېدل او څرنګه چي په قاموس کي لیکلي دي چي کله دا ویل کیږي : هرج الناس: نو ددې معنی دا وي چي خلک په فتنو کي ولوېدل او قتل او اختلاط یعني وینې تویول، د نورو کارونو سره د ګډېدو په وجه د ښه او بد تمیز نه کولو په آفت کي اخته سي نو په دغه ارشاد کي د هرج څخه مراد په خاصه توګه هغه قتل او وینې تویول دي چي د مسلمانانو په منځ کي د انتشار او فتنې په صورت کي او د ښه او بد د نه تمیز په وجه خپره سي .

د فتنو د شدت پای

﴿۵۱۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په هغه ذات دي مي قسم وي

بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ يَوْمٌ لَا يَدْرِي الْقَاتِلُ فِيمَ قَتَلَ

د چا په واک کي چي زما روح ده دنیا به تر هغه وخته پوري نه فنا کیږي تر څو پوري چي پر خلکو داسي ورځ رانه سي چي په هغې کي به قاتل ته دا معلومه نه وي چي هغه مقتول ولي قتل کړ

وَلَا الْمَقْتُولُ فِيمَ قُتِلَ فَقِيلَ كَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ قَالَ الْهَرْجُ الْقَاتِلُ

وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ. رواه مسلم.

او نه به مقتول ته دا معلومه وي چي هغه ولي قتل كړل سو، صحابه كرامو عرض وكړ: داسي به څنګه وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هرج (يعني فتنه)، قاتل او مقتول به دواړه دوږخ ته ځي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\۲۲۳۱، رقم: ۵۶- ۲۹۰۸.

تشريح: مطلب دادى چي په هغه زمانه كي به د خلكو د زړه او دماغ څخه د فتنې، فساد او قتل احساس داسي ختم سي چي نه به قاتل پېژندل كيږي چي هغه د مقتول وينه ولي بهولې ده او نه به مقتول او د هغه ورثاء ته دا معلومه وي چي د هغه ځان د يو دنياوي غرض او مقصد لپاره يا د يو شرعي وجه پر بناء وژل سوى دى، داسي تياره به خپره سي چي شكوك او شبهات باندي به د انسان وينه بهيږي، ددې خبري سره به هيڅ غرض نه وي چي كوم څوك پر حق دى او كوم څوك پر ناحق دى، څوك چي څه غواړي هغه به كوي، د موجوده زمانې د حالت په لېدو سره څوك ويلاى سي چي د ذكر سوي صورت ظهور نه دى سوى.

د هرج په سبب: مطلب دادى چي د بې وجه قتل په وجه د جهالت او ناپوهۍ هغه تياره به دا وي چي پوره ماحول به د فتنې او فساد او بد امنۍ څخه ډك وي. د شرارت عروج به وي د اخلاقي قوانينو ګرفت به كمزورى سي، د ښه او بدو كارو تميز به ورك سي، حق او باطل به ګډ وډ سي، د زړه او دماغ څخه به د انساني وينې د ساتني احساس ختم سي.

دواړه به دوږخ ته ځي: ددې څخه معلومه سوه چي د نيت فتور به دومره عام سي چي په ظاهره مقتول او مظلوم سړى به هم په ځان كي د ظلم او طغيان فتنه پټه ساتي د هغه مقتول او مظلوم كېدل به په دې وجه نه وي چي هغه واقعتا د يو ظالمانه قتل ښكار سوى دى بلكه په دې اعتبار به وي چي هغه خطا سو او خپله د حملې كولو څخه مخكي دبل د حملې ښكار سو نو د ذكر سوي جملې مطلب دادى چي قاتل خو به دوږخ ته ددې لپاره ځي چي هغه واقعتا د قتل عمد ګناه كار دى او مقتول به ددې وجي دوږخ ته ځي چي هغه خپله هغه د هغه قاتل قتلول غوښتل او د هغه تباه كولو خواهش يې درلودى او سړى د يوې ګناه د ارادې په وجه هم ماخوذ كيږي ځكه هغه هم د دوږخ مستوجب ګرځول كيږي، مګر څرګنده دې وي چي دا حكم د جهالت خپرېدو او دحق او باطل په منځ كي د تميز ختمېدو په صورت كي دى مګر كه چيري د هغه مقتول څخه د ذكر سوي نيت او ارادې تعلق جهالت او ناپوهي او عدم تميز سره نه وي بلكه ددې څخه وي چي هغه د اشتباه په وجه په خطآ كي ولوېدى نو پر هغه باندي د ذكر سوي حكم اطلاق نه كيږي،

ددې وضاحت دادی چي هغه (مقتول) د خپل قاتل په اړه کوم عداوت او نفرت کوی او د هغه د قتل سره مقتول هم د عذاب مستوجب سو مگر که چيري هغه مقتول د جهالت او ناپوهی په وجه نه بلکه د دین له موخي د هغه سړي یعني د قاتل د قتل کولو اراده درلودل نو دغه ارادې ته هغه د دین او شریعت د خپل علم په رڼا کي غور او فکر کولو څخه وروسته او د نیت اخلاص سره رسیدلی وي نو که چیري د حقیقت په اعتبار هغه ارادې ته د هغه رسیدل غیر صحیح وي نو هغه محض د هغه ارادې په وجه د عذاب مستوجب نسي گرځېدای ځکه چي اجتهاد او صحیح نتیجې ته د رسېدو لپاره خطا کونکی سړی به عندالله ماخوذ نه وي ، څرگنده دي وي چي ذکر سوی ارشاد ددغه مشهور او صحیح مذهب دلیل دی چي کوم څوک د يو گناه نیت وکړي او پر هغه نیت قائم وي نو هغه به د گناه کار په حکم کي وي که څه هم هغه په خپلو اندامو او ژبه سره په عملي توگه هغه گناه ونه کړي .

د فتنو په ماحول کي پر دین باندي د قائم پاته کېدونکي فضيلت

﴿۵۱۵۸﴾ : وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِبَادَةُ فِي الْهَرْجِ كَهِجْرَةٍ إِلَيَّ . رواه مسلم

د حضرت معقل بن یسار رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د فتنو په زمانه کي به د عبادت دومره ثواب وي څومره چي زما په لور د هجرت ثواب دی . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\۲۲۶۸، رقم: ۱۳۰-۲۹۴۸.

تشريح: مطلب دادی چي د نبوت په زمانه کي د مکې د فتح څخه مخکې د دارالحرب څخه په هجرت کولو سره مدینې ته راتلونکي او د رسول الله ﷺ د ملگرتیا شرف لرونکي ته چي کوم ثواب تر لاسه کېږي هغه ثواب به هغه سړي ته هم حاصلیږي چي د فتنې او فساد د جهالت څخه د ځان ساتني لپاره د الله جل جلاله په عبادت کي بوخت او پر خپل دین باندي قائم پاته سي .

پر مظالمو صبر وکړئ او په دې پوه سئ چي راتلونکي زمانه به تر دې هم بدتره وي

﴿۵۱۵۹﴾ : وَعَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ قَالَ أَتَيْنَا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا

د زبیر بن عدي رضي الله عنه څخه روایت دی چي موږ انس بن مالک رضي الله عنه ته ورغلو او هغه ته مو د حجاج

نَلْقَى مِنَ الْحَجَّاجِ فَقَالَ اصْبِرُوا فَإِنَّهُ لَا يَأْتِي عَلَيْكُمْ زَمَانٌ إِلَّا الَّذِي بَعْدَهُ

د ظلمونو شکايت وکړ، هغه وويل: صبر کوئ ځکه چي راتلونکې زمانه به تر تيري سوې

شَرٌّ مِنْهُ حَتّٰى تَلْقَوْا رَبَّكُمْ سَمِعْتُهُ مِنْ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري

زمانې بدتره وي، تر دې چي تاسو د الله ﷻ سره يو ځای سئ دا خبره مي ستاسو د نبي ﷺ څخه اوريدلې ده. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۱۹–۲۰. رقم: ۷۰۶۸.

تشريح: په دغه حديث کي دا فرمايل سوي دي چي هره راتلونکې زمانه به د تېري زمانې څخه بدتره وي نو پر دې باندي په دغه صورت کي سوال پيدا کيږي چي کله د راتلونکي زمانې څخه مراد بېله استثناء هره زمانه وي، نو حجاج ابن يوسف د زمانې څخه وروسته د حضرت عمر ابن عبدالعزيز رحمه الله زمانه راغلل، يا وروسته به د حضرت عيسى او حضرت مهدي زمانه راځي نو ايا پر دغه زمانو باندي هم د ذکر سوي خبري اطلاق کيږي او بېله استثناء دا ويل به صحيح وي چي هره راتلونکې زمانه به د حجاج د زمانې څخه هم بدتره وي، مگر که چيري دا خبره په استثناء سره فرمايل سوې وي نو بيا سوال نه پيدا کيږي، د حديث شارحينو وضاحت کړی دی چي د راتلونکي زمانې د بد تر کېدو خبر ورکول د اکثر او اغلب په اعتبار دی يعني راتلونکو زمانو کي به اکثري زمانې داسي وي چي د تيري زمانې څخه به بدتري وي او راتلونکي زمانې څخه مراد د حجاج د زمانې څخه د دجال تر زمانې پوري ټولې زمانې دي چي د هغو څخه د حضرت عيسى او حضرت مهدي عليهما السلام زمانې مستثنى دی، د دې څخه پرته د دغه حديث اصل مقصد د امت خلکو ته ډاډ ورکول، پر ظلم او زور باندي د صبر کولو تلقين کول، د راتلونکو زمانو په اړه باخبر کول او دې ته راغب کول دي چي خپله زمانه په غنيمت ګڼلو سره زيات اخروي ګټې تر لاسه کولو کي بوخت سي، څه خبر چي په راتلونکي زمانه کي چا ته دومره موقع هم په لاس ورسي که يا.

ځينو حضراتو د دغه وضاحت سره مناسب ويلي دي چي د راتلونکو زمانو په اړه چي څه ويل سوي دي د هغه څخه د حضرت عيسى عليه السلام زمانه مستثنى ده پاته زمانې په څه ناڅه اعتبار سره د حالاتو مطابق د مخکي زمانې څخه د بدتر حالت حامل وي او د رسول الله ﷺ د زمانې څخه د ليري والي تقاضا هم داده چي زمانه څومره د رسول الله ﷺ د عهد مبارک څخه ليري کيږي هغومره به بدي او خرابي زياتيږي او د دې لړۍ د رسول الله ﷺ د رحلت څخه سمدستي وروسته پيل سوې وه، لکه چي تر صحابه کرامو پوري د خپل باطن پاکوالي او د نفس سربېره د

رسول الله ﷺ د تدفین وروسته د خپلو زړو په حالت کي تبدیلي محسوس کړې وه ، د مخکنیو ځینو بزرگانو په اړه لیکلي دي چي هغوئ بیان وکړ چي اول وخت په زړه کي د گناه خیال پیدا سو او بیا هغه خیال ولاړی نو ډېر وخت وروسته کله چي هغه خیال بیا راغلی نو اوس یې په اساني سره د دفع کولو نوم نه اخیستی ، د ډېر فکر کولو وروسته د دغه فرق وجه له دې پرته او رهیڅ په پوهه کي نه راغلل چي دغه ظلمت د نبوت د زمانې د نور څخه او د زیات بعد کېدو په وجه پیدا سوي دی ، ځکه د نبوت د زمانې د تېرېدو چي څومره وخت زیاتیږي د بدی تیاره په هغه اعتبار زیاتیږي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

رسول الله ﷺ تر قیامته پوري د پیداکېدونکو فتنو په باره کي خبر ورکړی دی

﴿۵۱۶۰﴾: عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ وَاللّٰهِ مَا أَدْرِي أَنَسِيَ أَصْحَابِي أَمْ تَنَاسَوْا وَاللّٰهِ مَا

حضرت حذیفه رضي الله عنه وایي چي په الله جل جلاله دي مي قسم وي زه نه سم ویلای چي زما د ملگرو څخه هیره سوې ده او که د هیریدلو اظهار کوي، (په حقیقت کي هیره ځیني نه ده سوې) قسم په

تَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَائِدِ فِتْنَةٍ إِلَى أَنْ تَنْقَضِيَ الدُّنْيَا

خدای رسول الله ﷺ د هیڅ داسي کس ذکر نه دی پرې ایښی چي تر قیامته پوري به د فتنو باعث

يَبْلُغُ مَنْ مَعَهُ ثَلَاثَ مِائَةٍ فَصَاعِدًا إِلَّا قَدْ سَمَّاهُ لَنَا بِاسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ وَاسْمِ قَبِيلَتِهِ. رواه ابوداؤد.

وي یعني د هغه فتنه پورته کونکی سړی چي د هغه د ملگرو تعداد تر درې سوه یا تر درو سوو زیات وي تر دې چي موږ ته یې د هغه ، د هغه د پلار او د هغه د قبیلې نوم وښودی . ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۱۴\۴۴۳، رقم: ۴۲۴۳.

تشریح: د فتنې اچونکي څخه مراد هغه سړی دی چي د فتنې او فساد باعث وي لکه هغه عالم چي په دین کي بدعت پیدا کړي ، د دین په نامه باندي په مسلمانانو کي د انتشار پیدا کولو سره د اسلام شوکت مجروح کړي او څرنگه چي هغه ظالم پاچا او امیر چي د مسلمانانو د قتل او قتال باعث وي .

د درو سوو قید ځکه لګول سوی دی چي کم از کم په دومره شمېر کي د خلکو جمع کېدل د هغه فتنې د خپرولو په اثر کولو او د دین او ملت ته د تاوان رسولو لپاره په عامه توګه کافي کېږي که د یو فتنې اچونکي پیروانو شمېر تر دې کم وي نو که څه هم هغه په انفرادي او جزوي توګه په فتنه اچولو کي کامیاب سي مګر په اجتماعي توګه د اثر کېدو قابل نه وي .

ګمراه کونکی قائد

﴿۵۱۶۱﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الْأَئِمَّةَ الْمُضِلِّينَ وَإِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه ابوداؤد والترمذي.

د حضرت ثوبان رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه د خپل امت لپاره چي د کومو خلکو څخه زیات بیرېږم هغه ګمراه کونکي سرداران دي او هر کله چي زما په امت. کي توره وچلیږي نو بیا به تر قیامت پورې نه بندیږي (یعني هر کله چي امت محمدیه کي قتل شروع سي نو تر قیامته پوري به شروع وي) . ابو داؤد او ترمذي

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۵۱، رقم: ۴۲۵۲، والترمذي ۴\۴۳۷، رقم: ۲۲۲۹.

تشريح: ائمه د امام جمع ده او امام د قوم او ډلي مشر او هغه سړي ته وایي چي خلک خپل قول یا فعل یا د عقیدې اتباع ته راوبولي نو ددغه ارشاد مقصد دا څرګندول دي چي د مسلمانانو اجتماعي او ملي حیثیت او د هغوئ دین ته تر ټولو زیات تاوان رسونکی چي کوم شی دی هغه د مسلمانانو قیادت او رهبري کونکو خلکو ګمراه کېدل دي ځکه چي په انفرادي حیثیت کي د یو سړي د ګمراه کېدو تاوان د هغه تر ذات پوري محدود وي مګر د قائد او مشر د ګمراهي تاوان او ضرر ټول قوم او ډله متاثره کوي .

کله چي زما په امت کي توره وچلیږي...الخ: مطلب دادی چي کله د یو بل خلاف د توري او طاقت دزمانې ابتداء وسي او د یو بل د مسائلو او معاملاتو د دین په رڼا کي د حل کولو پر ځای د تشدد او زور لار اختیار کړل سي نو بیا د طاقت ازمانیي تشدد د هغه فتنه تر قیامته پوري نه یخیږي او مسلمانان به یو د بل خلاف جنګیږي ، څرګنده دي وي چي رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذریعه په امت کي د وینې تویولو د ابتداء کېدو کوم خوا ته ارشاد فرمایلی دی د هغه مصداق د امیر المؤمنین حضرت عثمان غني رضی الله عنه د شهادت واقعه را منځته سوه نو په اسلام

كي تر ټولو مخكي چي مسلمان د مسلمان پر خلاف توره پورته كړه هغه دحضرت عثمان شهادت دی او بيا د هغه د شهادت څخه وروسته مسلمانانو د يو بل د ويني لړۍ پيل كړه چي تر ننه پوري باقي ده او څرنګه چي مخبر صادق ﷺ خبر وركړی دی چي د مسلمانانو دغه بدبختي به تر قيامته پوري جاري وي.

د خلافت راشده دوخت په باره كي پيشګوئي

﴿۵۱۶۲﴾: وَعَنْ سَفِينَةَ قَالَ سَمِعْتُ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْخِلَافَةُ

د حضرت سفينه (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي خلافت به

ثَلَاثُونَ سنة ثُمَّ يَكُونُ مُلْكًا ثُمَّ يَقُولُ سَفِينَةُ أَمْسِكْ خِلَافَةَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ

ديرش كاله وي بيا به دا خلافت په پاچاهي تبديل سي، ددې حديث راوي سفينه وايي چي حساب وكړل سي او وكتل سي نو د حضرت ابوبكر رضي الله عنه خلافت

اللهُ عَنْهُ سَنَتَيْنِ وَخِلَافَةَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَشْرَةً وَ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثْنَيْ عَشْرَةَ وَعَلِيٍّ سِتَّةً. رواه احمد والترمذي وابوداؤد.

دوه كاله، د حضرت عمر رضي الله عنه خلافت لس كاله، د حضرت عثمان رضي الله عنه خلافت دوولس كاله او د حضرت علي رضي الله عنه خلافت شپږ كاله وو. احمد، ترمذي، ابوداؤد.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\۲۲۰، وابوداود ۵\۳۶، رقم: ۴۶۴۶، والترمذي ۴\۴۳۶، رقم: ۲۲۲۶.

تشريح: د خلافت څخه مراد حق خلافت دی يا هغه خلافت مراد دی چي د الله جل جلاله او د هغه د رسول په نزد غوره او د هغه بنياد د قرآن او سنت هدايت او د دين او شريعت پر اتباع باندي وي نو ددغه خلافت صحيح مصداق د رسول الله ﷺ څخه وروسته اول خلافت دی چي هغه ته خلافت راشده ويل كيږي او دهغه وخت دېرش كاله وو.

شيخ عبدالحق دهلوي رحمة الله عليه په خپل شرح مشكوة كي د دغه روايت په نقل كولو سره د ملكا څخه وروسته عضوضا لفظ هم نقل كړی دی، مطلب دا سو چي رسول الله ﷺ دا وفرمايل: چي خلافت به په پاچاهي بدل سي يعني د خلاف دور ختم كېدو څخه وروسته د پاچاهۍ دور پيل سي او پاچاهي به هم د داسي خلكو وي چي دهغوئ د سختيو او ظلمو څخه به امن نه تر لاسه كيږي او دعدل او انصاف نظام او ددين د پيروۍ ماحول چي څرنګه پكار دی هم هغسي

جاري نه وي ، دا بېله خبره ده چي ددغه دور حکمرانان د تېرو خلفاؤ د جانشیني دعوه کولو په وجه مجازا د هغه پر پاچاهي باندي د خلافت اطلاق کوي او ځان ته خلیفه وایي او که څه هم هغوئ ته امیر المؤمنین ویل د حقیقت خلاف خبره نه وي ځکه چي د ظاهري قانون مطابق هغوئ د مسلمانانو په هر حال امیر او حاکم وي مګر حقیقي خلافت چي هغه ته اشاره سوې ده یوازي تر دیرشو کالو پوري به وي نو خلفاء راشدین چي دهغوئ دور د حقیقي خلافت مصداق وو پر دېرشو کالو باندي مشتمل دی .

په شرح عقائد کي ددغه حدیث اړوند یو سوال وارد سوی دی او هغه دا چي رسول الله ﷺ د خلافت دور دېرش کاله فرمایلی دی حال دا چي د خلفاء راشدینو څخه وروسته خلفاء عباسیه بلکه په بني امیه کي هم ځیني خلفاء لکه حضرت عمر بن عبدالعزیز پر خلافت باندي د مسلمانانو اتفاق راغلی دی نو ایا دهغه خلافت ته خلافت نه ویل کیږي ، ددې جواب دادی چي رسول الله ﷺ کوم خلافت ته اشاره فرمایلې ده د هغه څخه مراد دادی چي خلافت کامله چي په هغه کي د دین او شریعت او د عدل او انصاف ذره برابر ګډون نه وي دیرش کاله به وي ، ددې څخه وروسته د خلافت شکل او صورت کي به تبدیلي راسي مګر یوه زمانه به داسي هم راسي چي په هغه کي به ددغه خلافت طرز اختیار کړل سي ،په عامه توګه چي کوم خلافت قائمیږي هغه به یوازي په نامه خلافت وي دا په اصل اعتبار کي پاچاهي وي ، څرګنده دي وي چي د خلافت راشده څخه وروسته د بنو امیه حکمراني پېل سول چي هغوئ که څه هم د خلافت نوم ورکړ مګر په حقیقت کي هغه پاچاهي وه ، حضرت امیر معاویه ددغه دور اول حکمران دی د هغه حکمراني که څه هم د خلافت راشده په ډول د دین او ملت په حق کي د حقیقي خلافت نمونه نه وه مګر دهغه په خلافت او حکومت کي د پاچاهي هغه ټولي خرابۍ هم نه وې چي دهغوئ د جانشین دور حکومت کي پیدا سوې او هغوئ په خپل حکمرانۍ کي تر یو حده پوري د خلافت راشده پر طَریقې د ساتلو هڅه وکړه مګر دهغه څخه وروسته د بنو امیه اکثر حکمرانان د مسلمانانو د قتل او ویني تویولو خلاف دین او د ظلم او نا انصافۍ د ډېرو زیاتو مثالو څخه ډکه وه ددغه دور ابتداء د یزید ابن معاویه څخه وسوه، د یزید څخه وروسته د هغه زوی معاویه ابن یزید سو ، ولید بن عبدالمالک ، سلیمان بن عبدالمالک، حضرت عمر بن عبدالعزیز ، یزید بن عبدالمالک ، هشام بن عبدالمالک، ولید بن عبدالمالک ، ابراهیم بن ولید بن عبدالملک، مروان بن محمد بن مروان په ترتیب سره یو په بل پسي خلیفه او حکمران سول ، مروان ابن محمد ابن مروان د بنو امیه اخري حکمران وو ، ددې څخه وروسته خلافت د بنو امیه

ثخه ووتی او بنو عباس ته ورسیدی.

د حدیث راوي حضرت سفینه رضی الله عنه چي د دېرشو کالو کوم شمېر بیان کړی دی هغه تخمیناً دی او پر دې خبره مبني دی چي هغه کسور بیان نه کړل، صحیح روایات او مستند تاریخي کتابو کي د خلافت راشده دېرش کال وخت داسي بیان سوی دی چي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت زمانه دوه کاله او ثلور میاشتي وه، د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت زمانه لس کاله او شپږ میاشتي وه، د حضرت عثمان غني رضی الله عنه د خلافت زمانه ثو ورځي کم دوولس کاله وه او د حضرت علي مرتضی رضی الله عنه د خلافت زمانه ثلور کاله نهه میاشتي وه، همدارنګه د ثلورو خلفاء راشدینو مجموعي وخت یو کم دېرش کاله او اووه میاشتي کیږي او پنځه میاشتي چي پاته سوې هغه د حضرت امام حسن د خلافت زمانه ده نو حضرت امام حسن رضی الله عنه هم د خلفاء راشدینو ثخه سو.

د راتلونکي زمانې په اړه پیشګوئي

﴿۵۱۶۳﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَيَكُوْنُ بَعْدَ هٰذَا الْخَيْرِ شَرٌّ

د حضرت حذیفة رضی الله عنه ثخه روایت دی چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله! ایا د دغه خیر د زمانې ثخه وروسته به شر وي

كَمَا كَانَ قَبْلَهُ شَرٌّ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ فَمَا الْعِصْمَةُ قَالَ السَّيْفُ قُلْتُ وَهَلْ بَعْدَ

لکه داوس ثخه مخکي چي شر وو؟ (یعني ثرنګه چي د اسلام ثخه مخکي خرابي خپره سوې وه نو ایا د اوسني خیر د زمانې ثخه وروسته به هم د بدۍ زمانه راځي)، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هو، ما وویل بیا د هغه ثخه د خلاصید و ثه صورت دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: توره، ما وویل ایا

السَّيْفِ بَقِيَّةٌ قَالَ نَعَمْ تَكُوْنُ إِمَارَةٌ عَلَى أَقْذَاءٍ وَهُدْنَةٌ عَلَى دَخَنٍ قُلْتُ ثُمَّ

د توري ثخه وروسته (یعني د جنګ ثخه وروسته) به مسلمان پاته سي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو، سلطنت او حکومت به وي، چي د هغه بنیاد به پر فساد وي او د صلح بنیاد به پر خرابۍ وي، ما وویل: بیا به

مَاذَا قَالَ ثُمَّ يَنْشَأُ دُعَاةُ الضَّلَالِ فَإِنْ كَانَ لِلّٰهِ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةٌ جَلَدَ ظَهْرَكَ

څه وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې څخه وروسته به ګمراهي ته بلونکي خلک پيدا سي که هغه وخت يو څوک خليفه وي او هغه ستا ملا په درو ووهي ا

وَأَخَذَ مَالَكَ فَأَطِعْهُ وَإِلَّا فَمُتْ وَأَنْتَ عَاضٌّ عَلٰى جِذْلِ شَجَرَةٍ قُلْتُ ثُمَّ مَاذَا

و ستا مال هم واخلي نو هم ته د هغه اطاعت کوه (او که خليفه يا پاچا نه وي) نو د يوې درختي په بيخ کي کښينه (يعني د پناه ځای ونيسه) او هلته مړ سه، ما وويل: بيا به څه حال وي؟

قَالَ ثُمَّ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ بَعْدَ ذَالِكَ مَعَهُ نَهْرٌ وَنَارٌ فَمَنْ وَقَعَ فِي نَارِهِ وَجَبَ

رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا به دجال راوځي په داسي ډول سره چي د هغه سره به د اوبو وياله وي او اور، څوک چي د هغه په اور کي ولويږي

أَجْرُهُ وَحُطَّ وِزْرُهُ وَمَنْ وَقَعَ فِي نَهْرِهِ وَجَبَ وِزْرُهُ وَحُطَّ أَجْرُهُ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ مَاذَا

د هغه اجر ثابت او قائم سو او د هغه ګناهونه ليري سول او څوک چي د هغه په وياله کي ولويدی د هغه ګناه ثابته او قائمه سول او د هغه اجر ولاړی ، ما عرض وکړ بيا به څه حال وي ؟

قَالَ ثُمَّ يُنْتَجُ المهر فَلَا يُرْكَبُ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ، وفي رواية قَالَ هُدْنَةٌ عَلٰى

رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا به د آسپي بچيان پيدا سي او هغه به د سپرلۍ وړلا نه وي چي قيامت به قائم سي ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي هغه وخت به په ظاهر کي صلح وي

دَخَنٍ وَجَمَاعَةٌ عَلٰى أَقْذَاءٍ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ الْهُدْنَةُ عَلَى الدَّخَنِ مَا هِيَ قَالَ

او په باطن کي به خرابوالی وي او د خلکو اجتماع به په ناخوښي سره وي ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! پر خرابوالی باندي د صلح کيدو څه مطلب دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

لَا تَرْجِعُ قُلُوْبُ أَقْوَامٍ عَلَى الَّذِي كَانَتْ عَلَيْهِ قُلْتُ هَلْ بَعْدَ هٰذَا الْخَيْرِ شَرٌّ

د قومونو زړونه به پر هغه حال نه وي کوم چي مخکي وه، (يعني د خلکو زړونه به دومره نرم نه وي څومره چي د اسلام په پيل کي وه) ما عرض وکړ : ايا د نيکۍ څخه وروسته به بدي وي ؟

قَالَ فِتْنَةٌ عَمْيَاءُ صَمَّاءُ عَلَيْهَا دُعَاةٌ عَلٰى أَبْوَابِ النَّارِ فَإِنْ مُتَّ يَا حُذَيْفَةُ وَأَنْتَ

عَاضٌّ عَلَى جِذْلٍ خَيْرٌ لَكَ مِنْ أَنْ تَتَّبِعَ أَحَدًا مِنْهُمْ. رواه ابوداؤد.

رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، هغه یوه ړنده او کڼه فتنه ده، دغه فتنې ته به بلونکي خلک وي ګویا هغوئ د دوږخ پر دروازه ولاړ دي او خلک رابولي، نو اې حذیفه! دغه وخت ته دد رختي لاندي پناه جوړه کړه او هلته مړ سه، ته به دد ې څخه غوره یې چي ته په هغه خلکو کي د یوې ډلي پیروي وکړې. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۴\ ۴۴۴، رقم: ۴۲۴۴.

د لغاتو حل: اقذاء: هي ما يقع في العين والماء والشراب. جذل شجرة: اى اصلها (د وني رېښې).

تشریح: قتاده ﷺ وايي: رسول الله ﷺ چي د کومي فتنې د ژغورني ذریعه توره ګرځولې وه د هغه مصداق هغه خلک دي چي رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د خلافت په زمانه کي د اسلام څخه ګرځېدلي وه او دخپل ارتداد او بغاوت په ذریعه د یوې لوي فتنې باعث جوړ سوي وه مګر حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په ډېر تدبر او هوښیاري سره د هغوئ خاتمه وکړه او د طاقت په ذریعه یې هغوئ لاندي کړل.

اقذاء د قذي جمع ده او قذاة چي د هغه معنی خیري، چټلي او مرداري ده چي په سترګه، اوبو یا شربت وغیره کي ولویږي، رسول الله ﷺ وفرمایل چي هغه وخت به امارت او حکومت قائم سي او د مسلمانانو امیر او خلیفه به هم وي مګر خلک به اخلاص او ښه نیت سره دخپل هغه امارت او حکومت په اړه وفاداري نه لري بلکه دهغوئ په زړو کي به بغض او عداوت وي، لکه څرنګه چي د یو سړي په سترګه کي یو شی ولویږي نو که څه هم د دباندي څخه ښهٔ معلومیږي مګر دننه په هغه کي درد وي، همدارنګه هغه خلک که څه هم په ظاهر کي د خپل امارت او حکومت وفادار معلومیږي مګر دهغوئ دننه بهٔ دغیر وفادارۍ او مخالفت څخه ډک وي، قاضي ددغه جملې بله معنی بیان کړې ده او هغه دا چي هغه وخت به د مسلمانانو حکومت او امارت قائم وي مګر هغه امارت او حکومت به د ځینو بدعتیانو او مخالفانو په ذریعه خپل حیثیت خراب کړي.

هدنة دمصالحت په مفهوم کي دی او په اصل کي دد ې معنی د سکون او ارام ده، دخن د دخان په مفهوم کي دی چي د هغه معنی د دود ده، ددغه جملې: (هدنة على دخن) مطلب هم هغه دی کوم چي مخکي بیان سو چي هغه وخت به په خپلو کي د مخاصمت او مخالفت لرونکو ډلو په منځ کي چي کوم مصالحت وي هغه به پر فریب او نفاق باندي وي په دې اعتبار سره دغه

جمله د مخکنۍ جملې مؤکد ده او شارحینو بیان کړی دی چې د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد مصداق مصالحت او مفاهمت دی چې د امام حسن او امیر معاویه په منځ کې سوی وو او دهغه سره سم امام حسن د خلافت څخه په ایسته کېدو سره د ملک واک یې معاویه ته سپارلی وو او امیر معاویه خپل امارت او سیادت مستحکم کړی وو، ددې څخه معلومه سوه چې ځینو حضراتو په خاصه توګه مؤرخینو دا نتیجه اخذ کړې ده چې امیر معاویه د امام حسن رضی الله عنه سره صلح کولو څخه وروسته خلیفه سوی وو، په دې معنی کې صحیح نه ده چې امام حسن رضی الله عنه په حقیقت کې امیر معاویه د خلافت څخه زیات مستحق او اهل ګڼی ځکه هغه صلح کولو سره د هغه په حق کې د خلافت څخه استعفاء ورکړې وه بلکه حقیقت دادی چې د هغه وخت سیاسي عناصر د امام حسن رضی الله عنه کوم ډول ماحول جوړ کړی وو او ددغه دواړو عظیمو شخصیتو د منځني جنجال په وجه چې دین او ملت ته کوم تاوان رسېدونکی وو امام حسن رضی الله عنه د هغه څخه د ساتني لپاره صلح وکړه او خپل خلافت او حکومت ته یې پر دین او ملت باندي ترجیح ورکړه،

ګمراهي ته بلونکي خلک به پیداسي: مطلب دادی چې د مسلمانانو په امیرانو کي بهٔ د داسي خلک ډلي پیدا سي چې خلک به بدعت او ګناه ته مائل کوي او د بدۍ پر لار به یې روانوي، د یوې درختي په بېخ کي یې پناه اخیستې وه: ددغه جملې په ذریعه ددې تلقین کول مقصد دي چې داسي نازک حالت او داسي سخت ماحول کي تاته پکار دي چې د خلکو څخه بېلوالی اختیار کړې او خپل ځان د فتنې او فساد څخه د ساتني لپاره په یو داسي ځای کي خپل ژوند تېر کړې چې هلته ددغه فتنې اثرات نه وي تر دې که چیري تا ته ددغه نازک حالات او د فتنو څخه ډک ماحول څخه د لیري اوسېدو لپاره ځنګل ته د یو درختي په بېخ کي پناه اخیستل وي او هلته دومره سخت ژوند تېرول وي چې د وښو او لرګیو خوړلو نوبت راسي نو ددې څخه منع مه کوه، ځینو حضراتو ویلي دي چې په (والا فمت) تعلق د فاطعه سره دی چې په دغه صورت کي به مطلب دا وي چې د هغه امیر او پاچا له خوا ستا په حق کي هر څومره سخت حالات پیدا کړل سي ته دهغه د اطاعت او فرمانبرداری څخه مخ مه اړوه ځکه که چیري ته د هغه امیر او پاچا اطاعت نه کوې نو بیا به زیات سخت حالات کي به ستا مړ کېدل وي او په ځینو نسخو کي د فمت پر ځای قمت لفظ دی چې د قیام ماضي صیغه ده، په دغه صورت کي به مطلب داوي که چیري داسي نه وي یعني ته دهغه امیر او پاچا د ظلم په وجه د هغه اطاعت او فرمانبرداري څخه معذوریې نو بیا ووځه او لیري یو ځای په ځنګل کي د درختي لاندي پناه واخله.

چې دهغه سره به د اوبو ویاله وي او د اور کنده وي: په دې اړه ځینو حضراتو ویلي دي چې

دغه دواړه شيان حقيقي نه دي بلكه محض خيالي به وي او د هغه تعلق به د جادو سره وي يعني په ظاهره خو به داسي معلوميږي چي د دجال سره به د اوبو ويااله او داور كنده وي مگر حقيقت به د هغه څخه پرته بل څه وي، نو په راتلونكي عبارت كي په (فمن وقع في ناره) كي د دجال طرف ته د اور نسبت هم دا خبره څرگندوي چي دغه دواړه شيان جادو او طلمساتي وي، ځينو حضراتو ويلي دي چي د هغه سره د اوبو كومه ويااله وي هغه به د نتيجې او حقيقت په اعتبار اور وي او د اور كنده به په حقيقت كي اوبه وي، شيخ عبدالحق رحمة الله عليه د دغه جملې په تشريح كي ليكلي دي چي صحيح خبره داده چي دغه عبارت پر حقيقي معنى محمول وي يعني د هغه سره به په حقيقت كي د اوبو ويااله او د اور كنده وي مگر دا احتمال هم دى چي د دغه شيانو څخه مراد لطف او قهر دى يعني د اوبو د وياالې څخه مراد دادى چي د هغه سره به د خپلو اړوندو كسانو لپاره د راحت او شوق سامان وي او داور د كندي څخه مراد دادى چي هغه به د خپل مخالفينو لپاره بېرونكي سامان او د تكليف وركولو ذرائع وي، نو كوم څوک چي د هغه په اور كي ولويږي...الخ: مطلب دادى چي كوم څوک د دجال موافقت او تابعداري نه كوي نو هغه به په اور كي اچوي او ډول ډول تكليفونه به وركوي او كوم څوک چي د هغه په او ركي ولويږي نو هغه به پر دين باندي د ثابت قدمۍ او پر تكليفو باندي د صبر كولو په وجه ډېر اجر تر لاسه كړي او هغه چي مخكي گناهونه كړي وي هغه به پرېولل سي،

همدارنگه كوم څوک چي د دجال موافقت او پيروي اختيار كړي هغه به په اوبو كي واچوي يعني هغه ته به ډول ډول راحتونه او نعمتونه وركړي نو كوم څوک چي د هغه اوبو ته ولاړ سي نو هغه به د دنيا د راحت پر ځاى د دنيوي مينې په سبب پر هغه ايمان راوړي او د هغه پيروي كولو په وجه به په سخت عذاب كي سي او هغه چي مخكي كوم نېک كارونه كړي دي د هغه ټولو اجر به ضائع سي.

ثم ينتج المهر: د ينتج لفظ د انتج مجهول صيغه ده چي د انتاج څخه ده او د نتج معنى د حاملې خبر اخيستل دي تر څو چي هغه لنگه سي، او د انتاج معنى د ولادت وخت راتلل دي، علماء ليكلي دي چي دلته نتج په اصل كي د توليد په معنى كي استعمال سوى دى يعني خلک به د خپلو آسپو د بچيانو كېدو تدبير اختياروي او د بچي پيدا كېدو وخت به د آسپو څارنه او خدمت كوي لكه څرنگه دايي د يوې ښځي د لنگوالي پر وخت خدمت كوي، او د مهر معنى د بچي ده او كه چيري دغه لفظ په ة سره يعني مهرة وي نو د دې معنى د بچي ده همدارنگه د يركب معنى د سپرلۍ عمر ته رسيدل دي.

په هر حال دا چي فرمايل سوي دي چي خلک به د خپلو آسو څخه د بچي پيدا کېدو تدبير کوي چي هغه د سپرلۍ په کار کي راوستل سي مگر کله چي هغه آسپه بچي راوړي نو هغه بچي د سپرلۍ قابل سوي نه وي چي قيامت به راسي نو ددې څخه مراد د حضرت عيسی عليه السلام زمانې ته اشاره کول دي ځکه چي د حضرت عيسی عليه السلام د نزول د وخت څخه د قيامت تر ورځي پوري د آسونو د سپرلۍ موقع نه راځي او دا به په دې وجه وي چي په هغه زمانه کي به د کفارو وجود نه وي چي د هغوئ سره د جنگ کولو لپاره د اسانو د سپرلۍ ضرورت پېښ سي مگر دا مراد اخيستل او د ذکر سوي تاويل کول په هغه زمانه کي صحيح دي کله چي د آسونو سپرلۍ يوازي د جنگ تر ميدان پوري محدود وي او د آس اصل مصرف د کفارو په مقابله کي د جنگ لپاره وي، ظاهره ده چي په اوسنۍ حالت کي دا خبره زياته وزن داره نه معلوميږي ، يا د دغه جملې په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي د دجال ظاهرېدو څخه وروسته تر قيامت راتلو پوري به دومره وخت پاته سي لکه څومره وخت چي د يو بچي د پيدا کېدو څخه د هغه د سپرلۍ وړ کېدو پوري وي ، دغه وضاحت نه يوازي دا چي زيات صاف او قياس ته نژدې دی بلکه د هغه احاديثو د مفهوم مطابق هم دی کوم چي په دې اړه منقول دي .

د خلافت راشده وروسته د راتلونکو واقعاتو پيشګويي

﴿۵۱۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ كُنْتُ رَدِيفًا خَلْفَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پر خره سپور وم ،

يَوْمًا عَلَى حِمَارٍ فَلَمَّا جَاوَزْنَا بُيُوْتَ الْمَدِيْنَةِ قَالَ كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍ إِذَا كَانَ

کله چي موږ د مدينې د کورونو څخه مخکي ووتلو (يعني د مدينې څخه د باندي ولاړو) نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اې ابوذر! هغه وخت به ستا څه حال وي هر کله چي

بِالْمَدِيْنَةِ جُوْعٌ تَقُوْمُ عَنْ فِرَاشِكَ وَلَا تَبْلُغُ مَسْجِدَكَ حَتَّى يُجْهِدَكَ الْجُوْعُ

پر مدينه قحط (وچ کالي) راسي ته به د بسترې څخه نه سي پورته کېدلای او خپل مسجد ته به (دضعف له کبله) په مشکل سره رسېږې ،

قَالَ قُلْتُ اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ تَعَفَّفْ يَا أَبَا ذَرٍ قَالَ كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍ إِذَا

ما عرض وکړ : الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه وخت

پرهيزگاري اختيار کړه (يعني پر لوږه صبر کوه او حرام او مشتبه مال څخه ځان وساته)، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذر! هغه وخت به ستا څه حال وي کله چي

كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ مَوْتٌ يَبْلُغُ الْبَيْتُ الْعَبْدَ حَتّٰى اَنَّهُ يُبَاعُ الْقَبْرُ بِالْعَبْدِ قَالَ قُلْتُ

په مدينه کي د مرګ بازار ګرم وي او د سراى قيمت به د غلام د قيمت سره برابر وي، تر دې چي د قبر ځاى به د غلام په قيمت خرځيږي ما عرض وکړ

اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ تَصَبَّرُ يَا أَبَا ذَرٍ قَالَ كَيْفَ بِكَ يَا أَبَا ذَرٍ إِذَا كَانَ

الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ بنه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذر! هغه وخت صبر کوه (يعني پر هغه مصيبت صبر کوه تېښته مه کوه)، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذر! هغه وخت به ستا څه حال وي چي

بِالْمَدِيْنَةِ قَتْلٌ تَغْمُرُ الدِّمَاءُ أَحْجَارَ الزَّيْتِ قَالَ قُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ

په مدينه کي د قتل بازار ګرم وي چي د هغه وينه به مقام احجاز الزيت پټ کړي، ما عرض وکړ الله ﷻ او د هغه رسول بنه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل

تَأْتِيْ مَنْ أَنْتَ مِنْهُ قَالَ قُلْتُ وَأَلْبَسُ السِّلَاحَ قَالَ شَارَكْتَ الْقَوْمَ إِذًا قُلْتُ

نو خپل هغه امام ته ورسه چي د هغه ته تابع يې، ما عرض وکړ هغه وخت زه پر خپل بدن وسله وتړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: (که ته داسي کوې) نو ته به د هغه قوم په ګناه کي شريک سې،

فَكَيْفَ اَصْنَعُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ إِنْ خَشِيْتَ أَنْ يَبْهَرَكَ شُعَاعُ السَّيْفِ فَأَلْقِ نَاحِيَةَ ثَوْبِكَ عَلٰى وَجْهِكَ يَبُوْءُ بِإِثْمِكَ وَإِثْمِهِ. رواه ابوداؤد.

بيا ما عرض وکړ اې د الله رسوله! بيا زه څه وکړم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: که ته د توري د برېښنېدو څخه بيريږي نو پر خپل مخ د خپل جامې يوه برخه واچوه چي قاتل ستا ګناه او خپله ګناه د ځان سره يوسي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۴۵۸، رقم: ۴۲۶۱.

د لغاتو حل: احجار الزيت: اسم موضع بالمدينة (په مدينه منوره کي د يو ځاى نوم).

تشريح: تصبر د تفعل د باب څخه دامر صيغه ده او په يوه نسخه كي دغه لفظ د مضارع په صيغه سره منقول دی چي د امر په معنی كي دی، ددغه جملې خلاصه داده چي ستاسو پر هغه آفتو باندي صبر كول او د فرياد او ژړا څخه پرهيز كول پر تقدير الهي باندي راضي كېدل دي، او د مدينې څخه د تښتېدو هڅه نه كول دي، احجار الزيت د مدينې په شاوخوا كي د يو ځای نوم وو د هغه ځای مځكه ډېره ډبرينه وه او هغه ډبري هم دومره توري او ځلانده وي لكه د زيتون تيل چي په يو چا پوري ومو ړل سي، په دې مناسبت سره هغه ځای ته احجار الزيت ويل كيږي، رسول الله ﷺ ددغه ارشاد : اې ابوذر! هغه وخت به ستا څه حال وي كله چي په مدينه كي قتل عام وي...الخ، ددغه ارشاد په ذريعه د وړاند ويني هغه واقعې ته اشاره وكړه چي د مسلمانانو د قتل عام په صورت كي به په مدينه منوره كي پېښه سوه.

دغه واقعه د حرة په نامه مشهوره سوه ، په مستندو كتابو كي چي ددغه واقعې په تفصيل سره ذكر دی هغه دومره دردناک او خطرناک دي چي نه دهغه د بيانولو ژبه او قلم واک لري او نه څوک په اساني سره د هغه د ويلو او اورېدو توان راوړلای سي ، بيا هم په اجمالي توګه دومره ويل ضروري دي چي كله د بدبخت يزيد ابن معاويه فوج د كربلا په ميدان كي حضرت امام حسين رضي الله عنه په ډېره بې دردي سره شهيد كړ نو په ټوله اسلامي نړۍ كي غوغاء خپره سوه او د يزيد پر خلاف په عامو مسلمانانو كي د ډېر نفرت جذبات پيدا سول . نو د مدينې اوسېدونكو په اتفاق سره د هغه د خلافت او حكومت څخه د بېزارۍ اظهار وكړ او د هغه خلاف يې د جهاد اعلان وكړ ، كله چي يزيد ته دا معلومه سوه نو هغه د مسلم ابن عقبه په مشرتابه كي يو ډېر لوی لښكر د مدينې لپاره واستوی ، مسلم مدينې ته په را رسېدو سره د لويديځ حرة (يعني حرة الوهرة) له خوا پر ښار حمله وكړه ، كه څه هم د مدينې خلكو په ډېره زړه ورتيا سره د يزيد د فوج مقابله وكړه مګر اول خو د تربيت يافته فوج او نورو وسائلو د كمۍ په وجه او دوهم د مسلم ابن عقبه په ډول هوښيار او تجربه كار مشر مقابله يې ونه كړلای سوه او په دې وجه يې ماته وخوړل، بيا مسلم ابن عقبه او د هغه فوج په ښار كي په داخلېدو سره د قتل عام بازار ګرم كړ او د قتل عام دغه لړۍ تر څو ورځو پوري جاري وه په زرهاوو مسلمانان يې په ډېره بې دردۍ سره قتل كړل چي په هغو كي د صحابهٔ كرامو او تابعينو ډېر لوی مقدار هم وو ، د مقدس ښآر او مسجد نبوي حرمت يې تر پښو لاندي كړ، او نور د بيان نه وړ كارنامې يې وكړې ، يوازي دمدينې پر بربادۍ يې اكتفاء ونه كړل بلكه دهغه څخه وروسته د يزيد هغه فوج مكې ته روان سو چي دهغه ځای خلكو دمځكي څخه حضرت عبد الله ابن زبير رضي الله عنه خپل خليفه ټاكلی وو ،

يزيدي لښكر په مكه مكرمه كي هم ډېره تباهي وكړه او تر كعبې شريفي پوري يې ډېر تاوان ورسوی او په هغه كال يزيد مړ سو .

خپل هغه امام ته ورسه چي د هغه ته تابع يې،: ددې معنی داده چي هغه وخت كوم خلک ستا د دين او مذهب همنوا او ستا دخيالاتو او اعمالو موافق وي هغوئ ته ورسه ، او قاضي رحمة الله عليه ددغه جملې دا مراد بيان كړی دی چي تاسو خپلي كورنۍ او قريبانو ته ورسئ او دا چي په خپل كور كي كښېنيه، طيبي رحمة الله عليه ويلي دي چي ددې مطلب دادی چي هغه وخت ته خپل امام او امير ته رجوع وكړه د چا چي ته پيروي كوې ، دا مطلب زيات صحيح او د حضرت ابوذر رضي الله عنه ددغه جملې (ايا زه وسله وتړم) سره زيات مناسب دی .

نو ته به د هغه قوم په ګناه كي شريک سې: ددې مطلب د طيبي رحمة الله عليه د منقولاتو په رڼا كي دادی چي په داسي وخت كي كله چي فتنه او فساد خپور سي او د قتل بازار ګرم سي نو مسلح او وسله پورته كول په هغه جګړه كي ګډون كول او په فتنه كي شاملېدل دي نو ته مه اسلحه پورته كوه او مه د چا خلاف په جنګ كي ګډون كوه بلكه دخپل امام او مقتداء خلكو سره اوسه تر دې چي ته د صلح په لاركي كامياب سې مګر پر دغه وضاحت باندي دا سوال كيږي چي يوې خوا ته حضرت ابوذر رضي الله عنه ته دا حكم وركړل سو چي هغه خپل امير او امام سره اوسي چي يقينا هغه وخت هغه قتل او جګړه كي د يو ډلي حيثيت لري ،بلي خوا ته دا حكم وركړل سو چي هغه د قتل او جګړې څخه ليري اوسي نو د دواړو خبرو يو ځای كول څرنګه ممكن دي؟ ددې جواب ابن ملک رحمة الله عليه داسي وركړی دی چي د شريعت حكم خو دادی كه چيري يو سړی ناحقه او د ظلم له موخي داسي كول غواړي نو هغه وخت دفاع كول او د هغه فساد د طاقت په ذريعه د ختمولو هڅه كول واجب دي مګر كله چي رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي هغه وخت وسله پورته كول د فتنې د ډلي سره ګډون كول دي نو ددې اصل مقصد د فتنې خرابۍ واضح كول او د هغه د تباهۍ اثراتو خلاف خبرداری وركول دي ، بيا هم په دې اړه صحيح خبره داده كه چيري د ويني تويولو لپاره راتلونكی دښمن مسلمان وي نو د طاقت په ذريعه د هغه دفاع كول او دهغه سره جګړه كول جائز دي په شرط ددې چي د هغه سره د مقابلې په صورت كي د فتنې او فساد خوف نه وي او كه چيري هغه دښمن غير مسلم وي نو بيا په هره ممكن ذريعې سره د هغه مقابله كول او د هغه سره په هر صورت جګړه كول واجب دي .

نو پر خپل مخ د خپلي جامې يوه برخه واچوه: ددې مطلب دادی كه چيري جګړه كونكي خلک پر تا حمله وكړي نو ته دهغوئ سره جګړه مه كوه بلكه دهغوئ د حملې پر وخت ځان غافل

او غیر متعلق جوړ کړه چي تا ته د هغه حملې څخه بېره محسوس نه وي ، په دې سره دې ته اشاره ده چي ته د هغه خلکو سره په هيڅ حالت کي جنګ مه کوه او د هغوئ خلاف توره مه پورته کوه کله چي هغوئ ستا سره جنګ کول غواړي او ستا وژل غواړي بلکه ستا لپاره د کامیابۍ لار داده چي هغه وخت مظلوم سه او خپل ځان د هغوئ د لاسه شهید کېدو ته تیار کړه ځکه چي هغه خلک په هر حال مسلمانان دي او د مسلمان خلاف توره پورته کول جائز نه دي که هغوي تا قتل کړي نو دا به د هغوئ عمل وي او خدای ﷻ خپله د هغوئ سره بنه پوهیږي ، ځینو شارحینو لیکلي دي چي د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد اصل مقصد د مسلمانانو په خپلو کي د ویني تویولو خرابي او د هغه څخه د ځان ساتني فضیلت په زیات ارزښت سره بیانول دي که څه هم د خپل ځان څخه لاس پرېښودل وي مګر د یو مسلمان پر خلاف وسله پورته کول نه دي پکار ، کنه تر څو چي د مسئلې تعلق دی نو دا مخکي ښودل سوي دي چي د فتنې د ختمولو لپاره جنګ کول جائز دي که څه هم هغه مسلمان وي .

دا خبره څرګندول ضروري دي چي د حره پېښه په ۶۳ ھ کال کي پېښه سوه او د حضرت ابوذر ﷛ وفات د حضرت عثمان ﷛ د خلافت په آخري زمانه ۳۲ ھ کال کي سوی وو، نو پر رسول الله ﷺ باندي دا منکشف سوي وه چي دغه واقعه به په مدینه منوره کي راځي، دا نه وه منکشفه سوې چي دغه واقعه به کله پېښیږي نو رسول الله ﷺ ابوذر د هغه په اړه باخبر کړ او دا وصیت يې ورته وکړ که چیري دغه فتنه ستا په مخکي کي پېښه سي او ستا ژوند تر هغه وخت پوري پاته وي نو د صبر او ثبات لار اختیار کړه او په دغه فتنه کي هيڅکله ګډون مه کوه ، او کوم چي د لوږي د حالت او د زیاتو مرګونو د واقعې تعلق دی نو کېدای سي چي مدینې والا د دغه دواړو سره مخ سوي وي او د حضرت ابوذر ﷛ په ژوند کي دغه دواړي وړاند وینې هم پوره سوي وي لکه څرنګه چي په عام الرماد کي پېښېدونکي صورت حال څخه د دې تصدیق هم کیږي او دا هم احتمال لري چي د قتل عام په ډول دغه دواړي خبري هم د حضرت ابوذر ﷛ د وفات څخه وروسته ظاهري سوي وي .

د فتنو په ماحول کي د خلاصون لار

﴿۵۱۶۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

قَالَ كَيْفَ بِكَ إِذَا أُبْقِيتَ فِيْ حُثَالَةٍ مِّنَ النَّاسِ مَرِجَتْ عُهُوْدُهُمْ وَأَمَانَاتُهُمْ

(اې) عبد الله! ته به په هغه وخت کي څه کوې هر کله چي ته په بيکاره خلکو کي پرېښودل سې (يعني هر کله چي ته په خرابو خلکو کي ژوند کوې) د هغوئ عهد او امانتونه به مخلوط او غير

وَاخْتَلَفُوْا فَكَانُوْا هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ قَالَ فَبِمَ تَأْمُرُنِيْ قَالَ عَلَيْكَ بِمَا

مخلوط وي او په خپل منځ کي به اختلاف ساتي، ددې په ويلو سره رسول الله ﷺ د خپلو دواړو مبارکو لاسونو ګوتي په يو بل کي داخلي کړې او وه يې فرمايل: چي هغوئ به داسي يو د بل سره مخالف سي، عبد الله عرض وکړ (که زه هغه زمانه ووينم) نو تاسو ما ته څه حکم راکوئ،

تَعْرِفُ وَدَعْ مَا تُنْكِرُ وَعَلَيْكَ بِخَاصَّةِ نَفْسِكَ وَإِيَّاكَ وَعَوَامَّهُمْ . وَفِيْ رِوَايَةٍ

رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه شی اختيار کړه چي ته هغه حق ګڼې، او هغه شی پرېږده چي ته هغه بد ګڼې او خپل ځان لازم ونيسه (يعني يوازي خپل ځان سنبال کړه) او د عوامو څخه ليري اوسه (يعني د عوامو معاملاتو کي دخل مه کوه) او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي

إِلْزَمْ بَيْتَكَ وَامْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَخُذْ مَا تَعْرِفُ وَدَعْ مَا تُنْكِرُ وَعَلَيْكَ بِأَمْرِ خَاصَّةِ نَفْسِكَ وَدَعْ أَمْرَ الْعَامَّةِ. رواه الترمذي وصححه.

په خپل کور کي پروت اوسه، خپل ژبه په واک کي ساته، هغه شی اختيار کړه کوم چي ته ښه ګڼې او د هغه عوامو په معاملاتو کي هيڅ تعلق مه ساته. ترمذي.

تخريج: لم نجده عند الترمذي وهو في سنن ابي داود ١٤\٥١٣، رقم: ٤٣٤٣، بلفظ قريب.

د لغاتو حل: مرجت: اى فسدت.

تشريح: د حثالة معنى د وريجو، اوربشو او نورو شيانو د پوستوکو ده چي هغه ته سبوس وايي، همدارنګه د يو شي بېکاره او بې ګټي برخي ته هم خثاله وايي، نو د حثالة من الناس څخه مراد هغه خلک دي چي د انساني او اخلاقي قدرونو په اعتبار د ادنى درجې وي چي د انسانيت جوهر نه لرلو په سبب ډېر کښته وي او د دين او آخرت په اعتبار بالکل بې کاره او بې ګټې وي.

چي د هغوئ عهد او امانتونه به ګډ وډ وي: مطلب دادی چي هغه به بالکل بې اعتباره خلک وي د هغوئ د هيڅ عمل او هيڅ قول باور به نه وي د هغوئ په هيڅ معامله کي به د

استقلال نوم نه وي د هغوئ عهد او قول به وخت پر وخت په مختلف شکل او صورت کي بدليږي، د دين او ديانت د تقاضو څخه به بې پرواه وي او په امانت کي به خيانت کوي.

خپلي ګوتي مبارکي په يو بل کي داخلي کړې: يعني رسول الله ﷺ د دې پوهولو لپاره چي هغوئ به په خپلو کي څرنګه د يو بل په هلاکت پسي لګېدلي وي او د هغوئ د اختلاف او جګړو به څه صورت وي، رسول الله ﷺ د خپل دواړو لاسو ګوتي مبارکي په يو بل کي په ورکولو سره وموښلولې او د مثال په توګه يې څرګنده کړه چي څرنګه د دغه دواړو لاسو ګوتي د يو بل سره موښتي دي همدارنګه د هغوئ اخلاص او حيثيت به تر دغه درجې پوري موښتی وي او د هغوئ ديني معاملات او اعمال به دومره ګډ وډ وي چي امين او خائن، نيک او بد به معلومول ممکن نه وي.

څرګنده دي وي چي د دواړو لاسونو ګوتي په يو بل کي د ننه کول لکه څرنګه چي د يو بل اختلاف او جګړې په توګه ممثل بيانولو لپاره وي همدارنګه کله د دوو شيانو د ربط او اتصال ظاهرولو لپاره هم د دواړو لاسونو ګوتي په يو بل کي داخلولو سره ښودل کيږي لکه څرنګه چي دمال غنيمت په بيان کي هغه حديث تېر سوی دی چي په هغه کي رسول الله ﷺ د مال غنيمت د خمس د تقسيم اړوند بنوهاشم او د بنوعبدالمطلب ربط او اتصال او د هغوئ يو بل سره قربت ظاهرولو لپاره د تمثيل په توګه د خپل دواړو لاسو ګوتي په يو بل کي داخلولو سره وښودلې، پر دواړو صورتو باندي د دغه تمثيلي عمل اطلاق په معنوي توګه سره څه تضاد نه لري ځکه چي د تشبيک اصل معنی داده يعني يود بل مختلط کېدل، د دوو شيانو يو په بل کي داخلېدل په دواړو صورتو کي موجوديږي،

ځان د عامو خلکو څخه ليري ساته: مطلب دادی چي د فتنو څخه په ډک دور کي تر ټولو زيات ضرورت د خپل ځان د اصلاح او د خپل دين د ساتني دی نو هغه وخت تاسو هم د خپل دين او خپل اخروي خير د کارونو په تکميل او ساتنه کي بوخت اوسئ او د نورو خلکو له خوا په څه خيال او فکر کي مه لويږئ، دغه حکم په داسي ماحول کي د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر فريضه باندي د عمل نه کولو د اجازې په توګه دی کله چي د بدو او شريرو خلکو زياتوب او دهغوئ غلبه وي او صالح او نيک خلک ډېر کمزوري وي.

خپله ژبه په واک کي لره: مطلب دادی چي کله په ټول ماحول کي د بديو دور وي او د شرير او بدکاره خلکو اثرات غالب وي نو د ژبي څخه ښه خبره ايستل هم جرم جوړيږي نو تاسو هغه وخت د خلکو د احوالو او معاملاتو په اړه بالکل سکوت اختيار کړئ د يو چا د بدۍ يا نيکۍ په

اړه ژبه مه خلاصوئ چي ستا په خبره سره بدمنونکي خلک تکليف در نه کړي ، دلته يوه خاص خبره بايد په ذهن کي وي چي د فتنو څخه ډک دور کي يو حديث خو دادی او يو حديث مخکي تېر سوی دی چي حضرت حذيفه رضي الله عنه نقل کړی دی په دغه دواړو حديثو کي يو ډول تضاد معلوميږي او هغه دا چي په دغه حديث کي خو رسول الله ﷺ حضرت عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه ته دا اجازه ورکړې ده چي هغه په دغه فتنو کي هم دخلکو په منځ کي د هستوګني څخه پرهيز نه کوي او د نړيوالو څخه مکمل بېلوالي نه اختياروي او هغه ته يې دا حکم هم ورکړ چي هغه يوازي دخپل نفس تزکيه او اصلاح او د خپل ديني ژوند غوره کولو کي بوخت سي ، د عوام الناس د معاملاتو سره دي څه کار نه لري او دهغوئ د حالاتو او اعمالو په اړه دي هيڅ فکر نه کوي، ددې پر خلاف رسول الله ﷺ حضرت حذيفه رضي الله عنه ته دا حکم ورکړ چي هغه دي په داسي ماحول کي تعلق نه ساتي او د خلکو څخه د بېلوالي په اختيارولو سره دي يو ځنګل ته ولاړ سي .

ددغه دواړو حديثو دا ظاهري تضاد ليري کولو لپاره علماء ليکلي دي چي د يوه صورت لپاره دوه ډوله حکم په اصل کي د شخصي حالت د رعايت او مصلحت په اعتبار دی، رسول الله ﷺ په هغه دواړو کي هر يوه ته هغه حکم ورکړ چي د هغه د حالت او حيثيت مطابق وو چي په هغه کي د هغه اصلاح پټه وه.او په هغه عمل کولو سره هغه د خلاصون لار ترلاسه کولای سي لکه څرنګه چي د پير او مرشد او مصلح د اصلاح طرز وي چي هغه د خپل مريد د ذهن او مزاج مطابق هغه ته تلقين او هدايت کوي .

حضرت عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه چي د ډيري لوړي درجي صحابي دی ، دده پر ژوند باندي په نظر اچولو سره اندازه کيږي چي هغه د څومره عظمت او فضيلت خاوند وو ، نقل سوي دي چي هغه د زلميتوب په ورځو کي هم دومره عابد او زاهد وو چي د روژې ماتولو څخه پرته به يې پرله پسې روژې نېولې ، د شپې به يې خوب نه کوی بلکه په عبادت الهي کي به بوخت وو ، د دنياوي لذتو او خواهشاتو څخه دومره متنفر وو چي ښځي ته يې هم هيڅ ميلان نه درلودی، يوه ورځ د هغه پلار محترم حضرت عمرو بن عاص رضي الله عنه هغه رسول الله ﷺ ته راوست او د هغه د عبادت او رياضت حال يې ورته بيان کړ، رسول الله ﷺ د دومره سخت رياضت او دومره زيات عبادت څخه منع کړ او حکم يې وکړ چي بېله روژې ماتولو تر درو ورځو زياته روژه مه نيسه او د شپې دريمه يا شپږمه برخه کښېنه، او همدارنګه رسول الله ﷺ دا نصيحت هم ورته وکړ چي د خپل پلار د مرضى او منشاء همېشه خيال ساته ، د رسول الله ﷺ ددغه وصيت او نصيحت په وجه هغه د تفرقې او انتشار په سختو فتنو کي هم د خپل پلار څخه بېلوالی اختيار نه کړ چي د حضرت امير

معاویه، مشیر اعلی او وزیر وو، او څرنګه چي رسول الله ﷺ هغه ته حکم کړی وو چي هغه د خلکو د معاملاتو او حالاتو څخه په بې پروا کېدو د خپل ذات اصلاح او استقامت ته متوجه سي، کله چي د هغه پلار حضرت عمرو به هغه ته وویل چي ته زموږ سره د کېدو سربېره زموږ څخه بېل ولې اوسې، او زموږ په کارو کي ولي ګډون نه کوې، نو هغه به جواب ورکوی چي ستاسو په ښه کارو کي زه شریک یم مګر په هغه کارو کي ګډون کولای نسم چي زما په نزد د الله ﷻ او د هغه د رسول د مرضی او د ملي مفاد خلاف وي، مګر داسي هیڅکله ونه سو چي د لوی فتنې په وخت کي د هغه د زړه څخه د اهل بیت عزت او احترام په یو ډول کم سوی وي د هغه باطن د اهل بیت په محبت او عظمت سره منور وو.

د قیامت څخه مخکي د ظاهرېدونکو فتنو پیشګویي

﴿۵۱۶۶﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ

د حضرت ابوموسی اشعري ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي

د قیامت دراتلو څخه مخکي به فتنې رامنځته سي چي د توري شپې د ټکړو په ډول به وي (یعني په هر ساعت کي به فتنه پیدا کیږي) هغه وخت به سړی په سهار کي ایماندار پورته کیږي

كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ وَالْمَاشِي فِيهَا

او په ماښام کي به کافر سي او په ماښام کي به مؤمن وي او په سهار کي به کافر وي، (په دغه فتنو کي) ناست سړی به تر ولاړ سړي غوره وي او تلونکی به

خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي فَكَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ وَاضْرِبُوا

تر ځغلېدونکي غوره وي، هغه وخت ته خپل لیندۍ ماتي کړه او د لیندیو کښو نه خیري کړه،

سُيُوفَكُمْ بِالْحِجَارَةِ فَإِنْ دُخِلَ يَعْنِي عَلَى أَحَدٍ مِنْكُمْ فَلْيَكُنْ كَخَيْرِ ابْنَيْ آدَمَ.

توري په ډبرو ووهه بیا که څوک ستاسو څخه د چا وهلو ته ورسي نو هغه ته پکار ده چي هغه د آدم علیه السلام د دوو زامنو څخه د غوره زوی په ډول سي (یعني د هابیل په ډول...).

رواه ابوداؤد وفي رواية له ذكر الى قوله خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي ثُمَّ قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا قَالَ

ابو داؤد، او د ابو داؤد په يو بل روايت کي دي د (کرار تلونکي به تر ځغليدونکو غوره وي) ځخه وروسته دا الفاظ دي چي بيا صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي تاسو موږ ته څه حکم کوئ؟

كُونُوا أَحْلَاسَ بُيُوتِكُمْ . وفي رواية الترمذي ان رسول الله صلى الله عليه وسلم

رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو په خپلو کورونو کي پراته اوسئ، او د ترمذي په يوه روايت کي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ

قَالَ فِي الْفِتْنَةِ كَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ وَالْزَمُوا فِيهَا أَجْوَافَ بُيُوتِكُمْ وَكُونُوا كَابْنِ آدَمَ . وقال هذا حديث صحيح غريب .

د فتني په اړه داسي وفرمايل: چي تاسو په هغه فتنو کي خپل ليندۍ ماتي کړئ او د هغه کڅوني ځيري کړئ او په کورونو کي پراته اوسئ او د آدم عليه السلام د زوی (هابيل) په ډول سئ لکه زوی د آدم عليه ﷺ يعني د حضرت هابيل ﷺ په ډول چي خپل ورور ته يې وويل چي که ته ما وژني زه به دي ونه وژنم..

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۵۷، رقم: ۴۲۵۹، والترمذي ۴\۴۲۵، رقم: ۲۲۰۴.

د لغاتو حل: قسيكم: جمع قوس. احلاس البيوت: ما يبسط تحت حر الثياب والمعنى الزموا بيوتكم والتزموا سكوتم كيلا تقعوا في الفتنة التي بها دينكمن يفوتكم.

تشريح: چي د توري شپې د ټکړو په ډول به وي: مطلب دادی چي د مسلمانانو خپل منځي قتل او قتال په صورت کي هغه فتنې به دومره هيبت ناکه او سختي وي چي د دين او ملت مستقبل به زيات تاريک معلوميږي او هغه وخت به د نېک او بد په منځ کي امتياز کول داسي ناممکن سي لکه ځرنګه چي په تاريکه شپه کي د يو چا شناخت کول ممکن نه وي.

هغه وخت به سړی په سهار کي ايماندار پورته کيږي: مطلب دادی چي د خلکو په عقيدو، اقوالو او احوالو کي به ساعت په ساعت بدلون کيږي، د ډول ډول نظريې او عقيدې حامل به وي، کله به د يو چا يو حال وي او کله به يې بل حال وي، کله به پر ديانت باندي چليږي او کله به خيانت کوي، کله به پر سنت عمل کونکی وي او کله به د بدعت پر لار روان وي، په يو وخت کي به د ايمان او يقين په دولت برخمن وي او بل وخت به د کفر په تيارو کي لوېدلی وي، غرض دا چي په هر ساعت او هره لحظه کي به بدلون پيدا کېدل معلوميږي او ددې امر يقين کول به مشکل وي چي د يو سړي اصل کيفيت او حالت څه دی.

ناست به تر ولاړ غوره وي، ددغه جملې اصل مقصد دا څرګندول دي چې کوم څوک ددغه فتنو څخه څومره لیري وي دهغه لپاره به غوره وي ، ددغه جملې تفصیلي وضاحت په اول فصل کې تیر سوی دی .

د لیندیو کښونه څیري کړه: دغه حکم د اول حکم یعني خپل لیندۍ ماته کړه، مؤکد دی او مقصد په زیات ارزښت سره د بیانولو لپاره دی ، او ټینګار کوي او وایي چې د لینډیو ماتولو څخه وروسته که چیري دهغه کښونه پاته وي نو هغه څیري کړه ، دغه حکم د اول حکم د بیان او تاکید لپاره دی .

چې هغه د آدمؑ د دوو زامنو څخه د غوره زوی په ډول سي: مطلب دا چې څرنګه د آدم ؑ یو زوی هابیل د مظلومیت مرګ خوښ کړ مګر هغه د آدم ؑ د دوهم زوی یعني د خپل ورور قابیل د حملې جواب ورنه کړ او ټول ظلم یې پر ځان تیر کړ ، همدارنګه د فتنو په وخت کې که یو سړی پر تا حمله وکړي او ستا وژل غواړي نو ته د هغه هیڅ مقابله مه کوه او د هغه دلاسه مړ کېدل په صبر او ضبط سره ومنه، ځکه که چیري ته د هغه مقابله کوې نو د هغه په وجه به په فتنه کې نور زیات شدت پیدا سي او قتلونه به زیات سي نو هغه وخت د خپل حمله کونکی د مقابلې کولو څخه پرته شهید کېدل او مقابله نه کول ډېر غوره دي .

تاسو په خپلو کورونو کې پراته اوسئ: مطلب دادی چې څرنګه د یو ښه فرش لکه غالۍ وغیره لاندې یو ټاټ هوار وي نو هغه همېشه او هر وخت پر خپل حال پروت وي ، همدارنګه تاسو هم په خپلو کورو کې پراته اوسئ او د سرای څخه په راوتلو آخوا دېخوا مه ځئ ددې لپاره چې تاسو په دغه فتنه کې اخته نه سئ او د هغه اثرات ستاسو دین تباه نه کړي، خلاصه دا چې د فتنې څخه لیري اوسېدل د خلکو د معاملاتو او کارو څخه بې تعلقي اختیارول او بېلوالي کې د خپل دین ساتنه کول به هغه وخت د خلاصون غوره لار وي کله چې د مسلمانانو په منځ کې د قتل او قتال او انتشار فتنه خپره سي

د فتنو په وخت کې به تر ټولو غوره کس څوک وي؟

﴿۵۱۶۷﴾: وَعَنْ أُمِّ مَالِكٍ الْبَهْزِيَّةِ قَالَتْ ذَكَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دبي بي ام مالک بهزیه (رض) څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ د فتنو ډېر ژر راتلو یادونه

فِتْنَةً فَقَرَّبَهَا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَنْ خَيْرُ النَّاسِ فِيهَا قَالَ رَجُلٌ فِي مَاشِيَتِهِ

وفرمایل، ما عرض وکړ اې د الله رسوله! هغه وخت به په خلکو کي غوره سړی څوک وي؟
رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه سړی چي په خپلو حیوانانو کي اوسي

يُؤَدِّي حَقَّهَا وَيَعْبُدُ رَبَّهُ وَرَجُلٌ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ يُخِيفُ الْعَدُوَّ وَيُخَوِّفُونَهُ.

رواه الترمذي.

د هغه حق او زکوة وغیره ادا کوي او د خپل پروردګار عبادت کوي هغه سړی چي پر خپل آس باندي سپور سي هغه د اسلام دښمنان بیروي او دښمن هغه بیروي (یعني د فتنې پرښېښو د سره هغه د اسلام د دښمنانو سره جنګیږي). ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۱۰، رقم: ۲۱۷۷.

تشريح: بهزیه د باء په زور او دهاء په جزم سره، بني امراء القیس ته منسوب ده، بي بي ام مالک یوه صحابیه وه چي حجازیه هم ورته ویل کیږي او هغه یې نژدې پرښېښو دل: مطلب دادی چي رسول الله ﷺ د هغې د فتنې ذکر وفرمایه او ددې خبري څخه یې باخبر کړه چي هغه فتنه بالکل نژدې ده او راتلونکي ده، طیبي رحمة الله علیه ددې مطلب دا بیان کړی دی چي رسول الله ﷺ هغه فتنه په ډېر تفصیل او وضاحت سره بیان کړه او دا یو عام طرز دی چي کله یو سړی د چا په مخکي یو شی په تفصیل سره بیانوي او د هغه خصوصیات او علامات په زیات ارزښت سره څرګندوي نو هغه د مخاطب ذهن مشاهدې ته نژدې کوي نو هغه مخاطب یوازي په خپل ذهن او خیال کي ځای ورکوي بلکه هغه په خارج کي هم داسي محسوس کوي لکه هغه شی چي په خپل شکل او صورت سره د هغه بالکل نژدې موجود وي.

هغه سړی چي په خپلو حیوانانو کي اوسي: مطلب دادی چي د هغه فتنو په زمانه کي کله چي د مسلمانانو په منځ کي د قتل او قتال بازار ګرم سي نو کامیاب سړی به هغه وي چي د فتنو څخه په بې تعلقه کېدو سره په خپل جائز کاروبار کي بوخت سي او خپل معاملاتو ته متوجه وي پر دې به دهغه د کاروبار او معاملاتو په اړه چي د شریعت کوم حقوق عائد کیږئ د هغه په ادا کولو کي دي کوتاهي نه کوي او خپل پروردګار ته دي متوجه وي او دهغه په عبادت کي دي بوخت اوسي، دغه ارشاد د قرآن کریم ددغه آیت (ففروا الی الله وتبتل الیه تبتیلا، والیه یرجع الامر کله فاعبده، وتوکل علیه وما ربک بغافل عما تعملون) په رڼا کي وړاند وینه سوې ده.

هغه سړی چي پر خپل آس باندي سپور سي: مطلب دادی چي هغه سړی په هغه فتنه او

فساد کي د لوېدلو پر ځای خپل طاقت د هغه خلکو پر خلاف استعمالولو ته متوجه وي کوم چي د دين اسلام اصل دښمن او مخالف دي او د هغوئ سره په جنګ کولو کي ولګيږي دا شی نه يوازي دا چي د دين او ملت اصل خدمت کېدو په وجه د اجر او ثواب مستحق ګرځي بلکه د هغه فتنو څخه د ساتني ذريعه هم ثابتيږي.

د فتنې ذکر

﴿۵۱۶۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَكُونُ فِتْنَةٌ تَسْتَنْظِفُ الْعَرَبُ قَتْلَاهَا فِي النَّارِ اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنَ السَّيْفِ. رواه الترمذي وابن ماجه

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نژدې ده چي فتنه ټول عرب راګير کړي ددې مقتول به دوږخ ته ځي، په دغه فتنه کي به د زبان درازی فتنه (يعني خلکو ته بد او رد ويل او عيب ګيري کول) د توري چلولو څخه هم سخت وي. ترمذي او ابن ماجه

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۴۱۱، رقم: ۲۱۷۸، وابن ماجه ۲\ ۱۳۱۲، رقم: ۳۹۶۷.

د لغاتو حل: تستنظف: ای تستوعبهم.

تشريح: د هغه فتنې څخه مراد خپل منځنی قتل او قتال دی او هغه فتنه ده چي مختلفي ډلي به د حق او رښتنيا ثابتولو، د دين د بيرغ لوړولو او د حق او انصاف لپاره نه بلکه محض د اقتدار او عزت تر لاسه کولو لپاره د يو بل پر خلاف جګړه کوي او په خپلو کي به د قتل او قتال بازار ګرموي، لکه څرنګه چي په يو هيواد کي د خانه جنګۍ پر وخت کيږي چي خلک د يو پاک او ديني مقصد څخه پرته محض د ذاتي اغراضو او خواهشاتو په وجه د يو بل وينه تويول او يو بل ته تاوان رسول پيل کړي.

ددغه وضاحت څخه دا خبره څرګنده سوه چي د هغه فتنې مقتولين به دوږخ ته ولي ځي، نو دا خبره بالکل څرګنده ده چي کوم ځوک په خانه جنګۍ کي په اخته کېدو سره د لوټېدو لپاره جنګ کوي او د هغه جنګ په دوران کي ووژل سي نو هغه ته به شهيد نه ويل کيږئ او نه د هغه مرګ د دين او شريعت د تقاضي او د اسلامي احکامو خلاف د جنګ او جدل په صورت کي راځي نو څرنګه چي ناحق وينه بيونکی قاتل به دوږخ ته ځي همدارنګه هغه مقتول به هم د دوږخ د اور مستحق وي.

﴿۵۱۶۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَتَكُونُ فِتْنَةٌ صَمَّاءُ بَكْمَاءُ عَمْيَاءُ مَنْ أَشْرَفَ لَهَا اسْتَشْرَفَتْ لَهُ وَإِشْرَافُ اللِّسَانِ فِيهَا كَوُقُوعِ السَّيْفِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: نژدې ده چي د ګونګ، کڼه او ړنده فتنه به ظاهره سي څوک چي دغه فتنې ته نژدې سي يا دا ويني، فتنه هغه ويني او د هغې نژدې راسي نو په دغه فتنه کي به زبان د رازي د توري چلولو برابر وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۶۰، رقم: ۴۲۶۴.

تشريح: فتنې ته ګونګۍ او کڼه ويل د خلکو په اعتبار دي يعني هغه فتنه به دومره سخته او هيبتناکه وي چي عام خلک به هغه وخت حيران او سرګردان وي نه به څوک فرياد اوريدونکى وي چي هغه ته د خلاصون درخواست وکړل سي او نه به چا ته خلاصون ورکولای سي او نه به څوک داسي لار ښيي چي دهغه په ذريعه د هغه فتنې څخه خلاصون تر لاسه سي، يا دا مطلب دی چي د هغه فتنو په وخت کي به خلک حق او باطل او نيک او بد په منځ کي تميز نسي کولای، نصيحت اوريدل او په هغه عمل کول به نه خوښوي، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر خبرو ته به فهم نه کوي کوم څوک چي هغه نيکۍ ته رابولي او د ژبي څخه حقه خبره کوي نو هغه به په روحاني او بدني تکليفو اخته کوي او د هغه سره به ډېر تکليفي او د پريشانۍ چلن کوي.

کوم څوک چي هغه فتنه ويني...الخ: مطلب دادی چي کوم څوک هغه فتنو ته متوجه کيږي او د هغه خلکو ملګرتيا اختياروي چي د هغه فتنې باعث دي نو دهغه سړي د هغه فتنې څخه خوندي کېدل او د هغه د خرابو اثراتو څخه ساتنه بهٔ ممکن نه وي، ددې پر خلاف کوم څوک چي د هغه فتنو څخه ليري او بې تعلق سي نو هغه به کامياب سي.

زبان درازي به د توري چلولو په ډول وي: مطلب دادی چي هغه وخت به په خلکو کي تعصب او عداوت او پر حق نه قبلولو باندي اصرار زيات وي ځکه هغوئ به د چا د ژبي څخه يو داسي خبره اوريدل هم نه خوښوي چي د هغوئ د مرضۍ خلاف وي نو هغه په فتنه کي ژبه خلاصونکی ګوا د ويني تويولو دعوت ورکوي او دا خبره بالکل څرګنده ده چي د ځينو ژبو څخه وتلي الفاظ د خپل تاثير په اعتبار د توري څخه هم زيات سخت وار کوي، يو چا ډېر ښه ويلي دي:

جراحات السنان لها التئام ولا يلتئام ماجرح اللسان

ژباړه : د نېزې زخم جوړېدلای سي مګر د ژبې زخم هېڅکله جوړېدای نسي .

د يو څو فتنو په باره کې پيشګويي

﴿۵۱۷۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا قُعُودًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن عمر ﷛ څخه روايت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو،

وَسَلَّمَ فَذَكَرَ الْفِتَنَ فَأَكْثَرَ فِي ذِكْرِهَا حَتّٰى ذَكَرَ فِتْنَةَ الْأَحْلَاسِ فَقَالَ قَائِلٌ

رسول الله ﷺ د فتنو ذکر وکړ او ډېر زيات ذکر يې وکړ تر دې چې د احلاس د فتنې بيان يې وکړ ، يو سړي پوښتنه وکړه چې

وَمَا فِتْنَةُ الْأَحْلَاسِ قَالَ هِيَ هَرَبٌ وَحَرْبٌ ثُمَّ فِتْنَةُ السَّرَّاءِ دَخَنُهَا مِنْ

د احلاس فتنه څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه تښتېدل دي (يعني خلک به د يو بل د بيرې څخه تښتي) او جنګ کول دي ، او بيا به سراء فتنه وي (يعني د خوشحالی ، اسراف او عيش او عشرت فتنه) د دې فتنې تاريکي به د هغه سړي

تَحْتِ قَدَمَيْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يَزْعُمُ أَنَّهُ مِنِّي وَلَيْسَ مِنِّي وَإِنَّمَا أَوْلِيَائِي

د قدمو څخه راوځي چې زما د اهل بيت څخه به وي (يعني دا سړی به د فتنې باني وي) هغه سړی به دا خيال کوي چې هغه زما د خاندان څخه دی مګر په حقيقت کې به هغه زما څخه نه وي ،

الْمُتَّقُونَ ثُمَّ يَصْطَلِحُ النَّاسُ عَلٰى رَجُلٍ كَوَرِكٍ عَلٰى ضِلَعٍ ثُمَّ فِتْنَةُ الدُّهَيْمَاءِ لَا

دغه وخت به پرهيزګاران خلک زما دوستان وي ، بيا به خلک د هغه سړي پر لاس بيعت کوي چې د تشي سربيره د پښتی په ډول به وي (يعني غير مستقيم) همداسي به هغه (غير مستقل) وي . د دې څخه وروسته به د دهيماء فتنه وي (يعني توره او تاريکه فتنه)

تَدَعُ أَحَدًا مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ إِلَّا لَطَمَتْهُ لَطْمَةً فَإِذَا قِيلَ انْقَضَتْ تَمَادَتْ يُصْبِحُ

دا فتنه به زما په امت کې هيڅوک نه پرېږدي او هر څوک به په چپلاخه وهي ، بيا هر کله چې وويل سي چې فتنه ختمه سوه نو د هغې وخت به يو څه نور هم زيات کړل سي او د دې څخه

وروسته به دا فتنه او ږده سي،

الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا حَتَّى يَصِيرَ النَّاسُ إِلَى فُسْطَاطَيْنِ فُسْطَاطِ

سړی به په سهار کي مؤمن پورته کيږي او په ماښام کي به کافر وي، تر دې چي خلک به په دوو خيمو کي وويشل سي يوه خيمه به

إِيمَانٍ لَا نِفَاقَ فِيهِ وَفُسْطَاطِ نِفَاقٍ لَا إِيمَانَ فِيهِ فَإِذَا كَانَ ذَاكُمْ فَانْتَظِرُوا الدَّجَّالَ مِنْ يَوْمِهِ أَوْ مِنْ غَدِهِ. رواه ابوداؤد.

د ايمان وي چي په هغه کي به اتفاق وي او بله خيمه به د نفاق وي چي په هغه کي به ايمان نه وي هر کله چي دا سي واقعه راسي نو تاسو د دجال انتظار کوئ په هغه ورځ يا په دويمه ورځ. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۴۲، رقم: ۴۲۴۲.

د لغاتو حل: الدهيماء: اى الفتنة العظماء والطامة العمياء.

تشريح: د احلاس د فتنې څخه مراد دادی چي هغه فتنه به تر ډېره وخته پوري وي او د هغه اثرات به د امت خلک تر ډېر وخت پوري په مختلفو پريشانيو کي اخته کوي، څرګنده دي وي چي احلاس په اصل کي د حلس جمع ده او حلس هغه ټاټ ته وايي چي د يو ښه فرش لکه غالي وغيره لاندي پر مځکه اچول کيږي او هغه تل پر ځای پروت وي، يا حلس هغه شړۍ ته وايي چي د پالان لاندي د اوښ پر شا اچول کيږي، نو دغه فتنې ته د احلاس ويلو وجه داده چي څرنګه د ښه فرش لاندي ټاټ په ځانګړې توګه پر خپل ځای پروت وي او هغه نه ايسته کيږي، همدارنګه دغه فتنه هم په خلکو کي پرېښودونکې نه ده بلکه قائمه به وي او د هغه په خرابو اثراتو کي به تر ډېره وخته پوري خلک اخته وي، يا دا چي هغه فتنې ته د ظلمت او تياري په توګه د حلس سره تشبيه ورکړل سوې ده يا دا چي فتنې ته فتنه احلاس ويلو سره دې ته اشاره ده چي څرنګه ټاټ همېشه هوار وي او هغه د خپل ځای څخه نه ليري کيږي همدارنګه خلک هم بايد د هغه فتنې په دوران کي په خپلو کورو کي کښېنستل پر ځان لازم کړي او بېلوالی اختيار کړي.

فتنة السمراء: دغه لفظ په رفع سره دی او په دې اعتبار سره دغه لفظ پر هرب باندي عطف دی يعني کله چي د رسول الله ﷺ څخه دا پوښتنه وسوه چي د فتنه احلاس نوعيت او صورت به څه وي نو رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي هغه فتنه به د هرب او حرب په صورت کي وي د هرب او

حرب معنى مخکي په ترجمه کي ځرګند ه سوې ده يعني د يو بل سره دښمني او عداوت په وجه د يو بل څخه ليري تښتېدل او د چا مال لوټول، او دسرا معنى داده چي هغه فتنه به په دننه کي د اسلام بېخ کاږي يعني داسي خلک به پيداسي چي په ظاهر کي به د اسلام او مسلمانانو همدرد وي مګر په باطن کي به د اسلام او مسلمانانو بربادي غواړي او د خپل دغه ناپاک خواهش د پوره کولو لپاره به ډول ډول سازشونه کوي.

په نهايه کي ليکلي دي چي د سراء څخه ډېرين ميدان مراد دی ، په دغه صورت کي د فتنه سرا څخه به د حرا واقعې ته اشاره مراد وي چي د يزيد په حکومت کي سوې وه او د هغه په وجه د اهل مدينې قتل عام وسو ، په سوونو صحابه کرام او تابعين په شهادت ورسېدل او د حرم محترم سخته بربادي وسوه، دا معنى به په هغه صورت کي وي کله چي سراء د يتې په مفهوم کي واخيستل سي که چيري د غه لفظ د سرور په مفهوم کي وي نو په هغه صورت کي به دا معنى وي چي هغه فتنې داسي حالات پېدا کړل چي په هغه کي به د عيش او عشرت شيان زيات وي او خلک به د اسراف او تنعم په ذريعه په راحت او ارام کي ژوند تېروي او د الله تعالى او آخرت د ييري څخه به بې نيازه سي، يا دا چي د هغه فتنې په وجه به د اسلام او مسلمانانو شان او شوکت ته تاوان ورسيږي او ملت اسلاميه به په ډېره سخته تباهي کي اخته سي نو دا صورت حال به د اسلام او مسلمانانو د دښمنانو لپاره د خوښۍ سبب سي او په يوه نسخه کي فتنة السراء په نصب سره دی ، په دغه صورت کي به د دغه عطف پر فتنة الاحلاس باندي وي او دا معنى به وي چي رسول الله ﷺ د فتنه احلاس ذکر وفرمايه او د هغه وروسته يې د فتنه سراء ذکر وفرمايه، مګر هغه به زما د خپلو څخه نه وي: مطلب دادی چي هغه زما د اهل بيت څخه د کېدو هر څو مره ګمان لري او که څه هم د نسب او کورنۍ په اعتبار هغوئ په حقيقت کي زما د اهل بيت څخه وي مګر هغه به د خپل طريقو او خپلو افعالو په لحاظ زما د خپلوانو څخه يقينا نه وي ځکه که چيري هغه زما د خپلوانو څخه وای نو د مخکي پر مخ به د فتنې او فساد په ذريعه زما امت په تاوان کي نه اخته کېدی ، د دغه ارشاد نظير د الله تعالى دا قول دی چي (انه ليس من اهلک) يقينا هغه ستا د خپلوانو څخه نه دی، د دغه جملې مطلب دادی چي هغه سړی که څه هم د نسب په اعتبار زما د کورنۍ سره تعلق لري مګر د حقيقت په اعتبار هغه زما محبوب او له خپلوانو څخه نه دی ځکه چي زما محبوب او خپل يوازي هغه مسلمان کيدای سي کوم چي تقوا او پرهيزګاري اختيار کړي او هيڅکله داسي فعل او قول ونه کړي کوم چي اسلام او مسلمانانو ته د ذرې په اندازه تاوان رسولای سي ، د دې تائيد د مخکي جملې څخه هم کيږي .

چي د تشي سربېره د پوښتنې په ډول به وي: ددغه جملې په ذريعه د هغه سړي ذهني او عملي کوږتيا ته اشاره سوې ده چي څرنګه د تشي هډوکي د پښتنې پر هډوکو وخېژول سي نو هغه پښتنې به پر خپل ځای قائم پاته نسي او د پښتنې هډوکي د هغه جوړ نسي راتلای همدارنګه خلک که چيري د هغه سړي په لاس بيعت کولو سره هغه خپل امير ومني مګر په حقيقت کي هغه د امارت او مشرۍ وړ نه وي ځکه چي هغه بهٔ د علم او پوهي څخه محروم وي، د حکمرانۍ د قوانينو څخه به بې خبره وي ، د قوت فيصلې او د رايي په کمزورۍ کي به اخته وي، نو د هغه هيڅ حکم او فيصله به د محل او موقع مطابق نه وي او کله چي دا صورت حال وي نو د سلطنت او پاچهي ټول نظام به د انتشار ښکار سي.

بيا به د دهيماء فتنه څرګنده سي، په دې اړه دا څرګندول ضروري دي چي څرنګه د فتنة الاحلاس دواړه اعرابه يعني رفع او نصب ذکر سوي دي او په هغه کي د هر يوه مطابق معنی بيان سوې ده همدارنګه په فتنة الدهيماء کي هم د فتنې د لفظ دواړه اعرابه يعني رفع او نصب دي، دُهَيماء: د دال په پېښ او دهاء په زور سره په اصل کي د هيماء تصغير دی چي د هغه معنی تورولي ده او دلته د بدۍ په توګه استعمال سوی دی ، خلاصه دا چي د فتنه احلاس څخه وروسته چي کومه فتنه ظاهرېږي هغه به د خپل اثراتو د ظلمت او قتل وقتال د سختۍ په اعتبار د يو توري شپې په ډول وي او دهغه توري شپې تياره به هر سړی په تياره کي واچوي، همدارنګه د هغه فتنې تياره به دهر سړي پر دماغ او زړه باندي اثر کوي او دهر يوه پر فکر او عمل باندي به توره سايه خپره سي.

تر دې چي خلک به په دوو خېمو کي وويشل سي: مطلب دادی چي د زمانې خلک به په دوو ډلو کي وويشل سي يوه ډله به خاص د ايماندارو وي چي په هغوئ کي به کفر او نفاق نه وي. او بله ډله به خاص د کفر وي چي په هغوئ کي به د ايمان او اخلاص نوم نه وي، ځينو حضراتو دلته د فسطاط ترجمه د خيمې پر ځای دښار کړې ده يعني د هغه زمانې خلک به په دوو ښارو يا دوو هيوادو کي وويشل سي ، په يوه ښار يا يوه هيواد کي به يوازي مسلمانان او اهل ايمان وي او په يوه ښآر يا هيواد کي به خاص کافران وي. څرګنده دې وي چي فسطاط په اصل کي خيمې ته وايي مګر پر ښار باندي هم ددغه لفظ اطلاق کېږي. او په حديث کي ددغه لفظ استعمال په دې ډول چي ذکر خو د محل (د اوسېدو ځای) وي مګر مراد حال يعني د اوسيدونکو دحالت او کيفيت وي نو خلک به په دوو خيمو يا دوو ښارو کي وويشل سي.

خلاصه دا چي هغه وخت به د ټولي نړۍ خلک په څرګنده توګه پر دوو ډلو وويشل سي يوه

ډله به د اهل ايمان وي او يوه ډله به د اهل كفر وي او هغه دواړي ډلي چي هر ځاى او سيږي، دلته دا خبره بايد په ذهن كي وي چي دا فرمايل سوي دي چي يوه خيمه به نفاق وي او په هغه كي ايمان نه وي نو د هغه خيمې د خلكو څخه دايمان نفي يا خو د اصل په اعتبار ده يعني د هغه خيمې په خلكو كي به ايمان نه وي يا د كمال ايمان نفي مراد ده يعني د هغه خيمې خلك به داسي وي چي دظآهر په اعتبار به ايمان لري مگر د اهل نفاق په ډول اعمالو اختيارولو يعني د درواغ ويلو ، خيانت كولو او وعدې ماتولو وغيره په وجه به د مخلص اهل ايمان د ډلي څخه خارج وي۔

د دجال څرگندېدو په انتظار كي او سېدل: مطلب دادى چي كله فتنه دهيماء ظاهره سي نو پوه سه چي د دجال ظهور كېدونكى دى نو د هغه فتنې څخه وروسته بهٔ دجال ظاهر سي هغه وخت به حضرت مهدي عليه السلام په دمشق كي وي دجال به د دمشق ښار راگير كړي بيا به حضرت عيسى عليه السلام له آسمان څخه نازل سي او د جال به د هغوئ په مقابله كي داسي ويلي سي لكه څرنگه چي مالگه په اوبو كي ويلي كيږي ، حضرت عيسى عليه السلام به هغه په خپل نېزه سره قتل كړي او د هغه په مرگ سره به هغه ډېر زيات خوشحاله سي۔

طيبي رحمة الله عليه د دغه حديث په تشريح كي ليكلي دي چي فسطاط يا خو خيمې ته وايي چي په هغه كي خلك جمع كيږي ، د حديث د دغه آخري برخي څخه چي په هغه كي د فسطاط ذكر دى دا څرگنديږي چي دغه فتنه به په اخره زمانه كي ظاهريږي مگر علماؤ د مخكي ذكر سوو فتنو په اړه هيڅ نه دي ليكلي او وايي چي دغه فتنې به كله ظاهري سي او كوم واقعات به د هغه مصداق وي ، په خاصه توگه د فتنه سراء په اړه خو مكمل سكوت اختيار سوى دى او هغه ته هيڅا اشاره نه ده كړې چي په اهل بيت كي هغه كوم څوك دى چي هغه ته د دغه فتنې باني ويل سوي دي۔

د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه شهادت

دا خبره طيبي رحمة الله عليه ليكلې ده مگر په وروستنيو علماؤ كي شاه ولي الله دهلوي رحمة الله عليه په دغه حديث كي د ذكر سوو فتنو د مصداق تعين كړى دى ، هغه ليكلي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د فتنه احلاس په ذريعه چي كومي فتنې ته اشاره كړې ده هغه د حضرت عبدالله ابن زبير رضي الله عنه د شهادت په صورت كي ظاهره سوې ده كله چي هغه د يزيد ابن معاويه د خلافت د اعلان څخه وروسته د هغه د بيعت څخه په تېښته سره د خپل كورنۍ د مدينې څخه ووتى او مكې ته راغلى ، بيا چي په ۶۳ هـ كال كي يزيد ابن معاويه خپل خلاف د اهل مدينې د تحريک د ماتولو لپاره د

مسلم ابن عقبه په مشرۍ کې د شامیانو یو ډېر لوی فوج مدینې ته واستوی نو مسلم ابن عقبه هغه مقدس ښار ته په رسېدو سره لویه تباهي وکړه او د اهل مدینه قتل عام یې وکړه، دغه واقعه د حره په نامه سره مشهوره ده، مسلم د شامیانو د فوج سره د مکې پر خوا روان سو، که څه هم مسلم په خپله مکې ته ونه رسېدی ځکه چې په لاره کې مړ سوی وو مګر د هغه فوج د حصین ابن نمیر په مشرۍ کې مکې ته ورسیدی او هغه د یوې ورځې جنګ څخه وروسته د مکې محاصره وکړه، حصین ابن نمیر پر ابن قیس باندې د مچلوغې په نصب کولو سره پر کعبې شریفې د ډېرو برید پیل کړ، د دغه محاصرې او ډېرو ویشتلو په دوران کې یوه میاشت وخت تېر سو، اهل مکه د سختو تکلیفو او پریشانیو سره مخامخ سول، د اتفاق خبره ده چې په دغه دوران کې په دمشق کې یزید مړ سو او ابن نمیر ته د هغه د مرګ د خبر په را رسېدو سره محاصره پورته کړه او خپل فوج یې دمشق ته روان کړ، د دې څخه وروسته د حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه خلافت نه یوازې په ټول حجاز کې بلکه په عراق او مصر کې هم قائم سو، تر دې چې د یزید ابن معاویه د جانشین معاویه ابن یزید تقریبا دوولس میاشتې خلافت څخه وروسته کله چې هغه مړ سوی وو، نو حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه د ټولې اسلامي نړۍ خلیفه ومنل سو،

مګر بیا مروان په خپلو فلانونو او هڅو کې په کامیابه کېدو سره پر شام باندې قبضه وکړه او په دمشق کې یې د خلافت اعلان وکړ، د شام څخه وروسته مصر او عراق هم د حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه د خلافت څخه ووتې او په دغه دوران کې مروان ابن حکم مړ سو او د هغه زوی عبدالملک ابن مروان د هغه پر ځای سو، عبدالملک د سخت جنګې طاقت په ذریعه تقریبا د ټولو سیمو څخه د حضرت ابن زبیر رضي الله عنه خلافت ختم کړ او په پای کې یې د حجاج ابن یوسف په مشرۍ کې یو لوی لښکر مکې مکرمې ته واستوی او په ۷۳ هـ کال کې د رمضان په میاشت کې حجاج د مکې ښار محاصره کړ او پر کوه ابوقیس باندې د منجنیق په نصب کولو سره سنګ باري یې پیل کړل او د محاصرې او سنګ بارۍ دغه لړۍ تر ذي الحجې پورې جاري وه، په دغه وخت کې د مکې خلک له ډېرو مصیبتو او مشکلاتو سره مخامخ سول، د حج په ورځو کې تر څو ورځو پورې سنګ باري بنده سوه او د حج پر ختمېدو باندې بیا دغه لړۍ پیل سوه چې د هغه نښه خاص کعبه شریفه وه چیرې چې حضرت عبدالله ابن زبیر رضي الله عنه محصور وو،

او په آخري مرحله کې ابن زبیر رضي الله عنه د کعبې شریفې څخه په وتلو سره محض د خپلو څو ملګرو سره د شامیانو پر هغه عظیم لښکر باندې حمله وکړه او په ډېره مېړانه یې جنګ وکړ، کله چې هغه څو ملګري هم په یو یو کېدو سره پر کار سول او خپل د ښمن د څلورو خواوو څخه د

ډېرو او غشو باران شروع کړنو د دنیا دغه عظیم الشان او متقي انسان په ډېر مظلومیت سره د جماي الثاني په میاشت ۷۳ هـ کال کي داسي شهید سو چي هغه وخت د جنګ د مېدان د مېړاني ، زهد ، عبادت او شرافت څخه پر ته هیڅ انسان د هغه پر مړي باندي افسوس کونکی نه وو ، دا د حضرت عبد الله ابن زبیر رضي الله عنه د شهادت هغه دردناکه واقعه ده چي حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمة الله عليه د فتنه احلاس مصداق ګرځولې ده .

فتنه مختار

د فتنه سراء په اړه د حضرت شاه ولي الله صاحب وینا داده چي دغه فتنه هم د مختار د فتنې او فساد په صورت کي ظاهره سوې ده، مختار هغه سړی وو چي مخکي یې د فریب او مکر په ذریعه او بیا په جنګ کولو سره پر عراق باندي واک حاصل کړی وو او د خپلي دغه کاروایي لپاره یې د حضرت محمد بن الحنفیه د اجازې او د اهل بیت د تائید او نصرت دعوه کول، دغه واقعه هم د لږ تفصیل غوښتونکې ده، ددغه سړي اصل نوم مختار ابن عبیده ابن مسعود ثقفي وو ، په کوفه (عراق) کي اوسېدی او د شیعان علي څخه وو ، حضرت امام حسین رضي الله عنه چي د اهل کوفه په بلنه کوفې ته تلل فیصله کړه او مخکي یې خپل د اکا زوی مسلم ابن عقیل هلته واستوی چي هغه په پټه توګه په کوفه کي په کار کولو سره د خلکو څخه د هغه په نامه بیعت واخلي، نو مسلم ابن عقیل کوفې ته په رسېدو سره د هغه مختار ابن عبیده په ځای کي کښېنته سو ، بیا په دې اړه چي څه پېښ سول او د کربلا حادثه واقع سوه هغه ټول ډېر مشهوري واقعې دي ، په کربلا کي د حسین رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته په کوفه کي یو ډلې د توابین په نامه په وجود کي راغلل چي د هغو مشر سلیمان بن صرد وو ، دغه ډله د کوفې پر هغه ډلي باندي مشتمل وه چي دا یې ویل چي زموږ د خلکو د بې وفایي په وجه حضرت امام حسین رضي الله عنه په کربلا کي شهید سو او موږ د خپل هغه جرم په اقرار کولو سره تائب کېږو او عهد کوو چي ددغه جرم د تلافی په توګه د حسین د وینو بدله اخلو ، او هر هغه څوک به قتل کړو کوم چي د حسین رضي الله عنه په شهادت کي د ذرې په اندازه برخه اخیستې وي.

مختار ابن عبید د مخکي څخه د خپل مختلفو فلانو په ذریعه پر عراق باندي د قبضې کولو هڅه کول او ددغه مقصد لپاره د قاتلان حسین خلاف د خلکو جذبات را پارولو سره هغوئ را جمع کول ، ځکه هغه د توابین ډلي څخه د ګټي اخیستلو اراده وکړه او د ډلي خلکو او د هغوئ پیروانو په جمع کولو سره یې ورته وویل چي ستاسو مشر سلیمان خو د کم همت سړی دی د

جنګ څخه ځان ساتي ، نو امام مهدي محمد بن الحنفیه چې د حضرت امام حسین رضی اللہ عنہ ورور دی ، زه خپل نائب جوړولو سره را استولی یم چې تاسو خلک زما په لاس باندې بیعت وکړئ او د حسین د وینې د بدلې اخیستلو لپاره زما تر بیرغ لاندې را جمع سئ ، نو د کوفې هغه ټولو خلکو چې شیعان حسین ورته ویل کېده، ورته وویل چې د مختار په لاس بیعت کول شروع کړی هغه وخت پر عراق باندې د حضرت عبد الله ابن زبیر رضی اللہ عنہ قبضه وه او په کوفه کې هغه له عبد الله ابن زبیر له خوا والي وو هغه ته چې د مختار د کارنامو او د هغه د حقیقي ارادو علم وسو نو هغه د مختار په نېولو سره په بند کې بندي کړ مګر د توابین ډلې مشر سلیمان ابن صرد په هر حال په خپل جنګي تیاریو کې مصروف وو ، هغه د اووه لس زره لښکر سره د ابن زیاد پر خلاف د جنګ کولو لپاره ولاړی چې په کربلا کې د حضرت امام حسین رضی اللہ عنہ د شهید کولو د کاروایو ټولو ذمه دار وو، او د مروان ابن حکم له خوا په موصل کې د والي په حیثیت ټاکل سوی وو، بیا په عین الورده ځای کې د عبد الله ابن زیاد د فوج سره د هغه مقابله وسوه او تر څو ورځو جنګ کولو وروسته خپله سلیمان ابن صرد او د توابین ډلې ټول لوی لوی مشران ووژل سول. په لښکر کې چې کوم خلک پاته سول هغوئ په تېښته سره کوفې ته راغلل ، په کوفه کې مختار د بندیخانې څخه هغه خلکو ته د همدردی پیغام را واستوی او ډاډ یې ورکړ چې تاسو خلک غم مه کوئ که زه ژوندی پاته سوم نو د حسین رضی اللہ عنہ د وینو سره به ستاسو د مقتولینو د وینې بدله هم ضرور واخلم، دد یې څخه وروسته هغه په یو طریقه د جیل څخه یو خط د حضرت عبد الله ابن عمر رضی اللہ عنہ په نامه مدینې ته را واستوی چې په هغه کې دا درخواست وو چې عبد الله ابن یزید د کوفې والي ته په سفارش کولو سره ما د بندیخانې څخه خلاص کړي، نو حضرت عبد الله ابن عمر رضی اللہ عنہ د کوفې والي ته د سفارش خط ولیکی او والي د هغه د سفارش په تکریم کې مختار په دې شرط ایله کړ چې هغه به په کوفه کې هیڅ بې امني نه خپروي او په خپل کور کې به ناست وي، دغه مکار د بندیخانې څخه د راوتلو وروسته کوفې والا ته په خاصه توګه شیعان حسین ته دا ظاهره کړه چې دا زما روحاني طاقت او کرامت وو چې هغه د بندیخانې دروازې خلاصي کړې او زه راووتلم ، بلې خوا ته په یو وجه حضرت عبد الله ابن زبیر رضی اللہ عنہ ، عبد الله ابن یزید د کوفې د والیتوب څخه بر طرف کړ او د هغه پر ځای یې عبد الله ابن مطیع وټاکی، مختار هغه عزل او نصب هم خپل کرامت ظاهر کړ او د پخواني حاکم د کوفې د تللو څخه وروسته د ټولو پابندیو په ماتولو سره په ازاده توګه په خپل کاروایو کې مصروف سو هغه د مکر او فریب په ذریعه پر کوفه والا باندې د خپل روحاني بزرګۍ او کرامت داسې اوازه خپره کړه چې خلک د هغه مرید کېدل

پېل کړل او د هغه ډلي حيرانونکی پر مختګ وکړ، د ښار د هغه ډلي پرمختګ او د هغه د فلانو د تحريک څخه چي والي خبر سو او د دارالامارة (د ولايت مقام) څخه د هغه خلاف د کاروايي کولو تياري هم وسول مګر وخت تېر سوی وو او مختار په ډېره چالاکي سره د والي څخه وژغورل سو او په پټېدو سره يې خپل ډله په فوج بدله کړه، او پر کوفې باندي د قبضې کولو د منصوبې په تکميل کي بوخت سو، بلي خوا ته هغه محمد بن الحنفيه په پوره توګه په واک کي کړی وو، کله چي مختار د کوفې ځيني نور بااثره حضرات د قاتلان حسين خلاف را پارولو لپاره د خپل ځان سره يو ځای کول وغوښتل او د محمد بن الحنفيه د نيابت دعوه يې وکړه او هغه خلکو يو څو کسان د دغه دعوې د تصديق لپاره محمد بن الحنفيه ته واستول نو هغه وويل: هو مختار ته د حسين د ويني د بدلي اخيستني مو۫ر اجازه ورکړې ده، دغه تصديق مختار ته لوی طاقت ورکړ، په پای کي يوه ورځ د شپې په تياره کي د خپل ډلي د کسانو سره مسلح خروج اختيار کړ او د کوفې کوڅه په کوڅه کي جنګ پېل سو، د سختي مقابلې څخه وروسته حکومتي فوج ماته وخوړل او عبدالله ابن مطيع د کوفې والي په دارالامارة کي محصور سو، او بيا درې ورځي وروسته هغه په يو ذريعه د دارالامارة څخه په پټه تللو کي کامياب سو،

مختار پر حکومتي ځايو او بيت المال باندي قبضه وکړه او دکوفې د خلکو څخه يې د محمد بن الحنفيه په نامه بيعت اخيستل پېل کړل او پر ټول ښار باندي د هغه واک قائم سو، څو ورځي وروسته د کوفې خلک د مختار خلاف سول مګر مختار په ډېره چالاکي سره پر هغوئ واک ترلاسه کړ او په ټول ښار کي يې قتل عام وکړ او د کوفې هيڅ کور داسي پاته نه سو چي په هغه کي يو يا دوه کسان قتل سوي نه وي هغه د قاتلان حسين څخه هم بدله واخيستل او چا چي د کربلا په ميدان کي برخه اخيستې وه په هغوئ کي يې د هر يوه سر د بدن څخه جلا کړ، يوې خوا ته هغه پر کوفه باندي د واک ترلاسه کولو وروسته پر نورو سيمو باندي د قبضې کولو په کار بوخت وو او بلي خوا ته د حضرت علي ﷺ د خوف په راپورته کولو سره د خلکو د خپل غير معمولي روحاني طاقتونو معتقد جوړولو کي لګېدلي وه او په کرار کراره د نبوت دعوې ته ورسېدل، کله چي حضرت عبدالله ابن زبير ﷺ ته معلومه سوه چي مختار نه يوازي دا چي په کوفه کي قتل عام کوي او پر اهل کوفه باندي ظلم کوي بلکه د نورو سيمو په قبضه کولو کي هم بوخت دی، بلکه دا مشوره يې کړې ده چي ما ته جبرائيل امين وايي او د الله تعالى له خوا وحي راوړي او زه د نبي په توګه را استول سوی يم، نو هغه دده په ېېخ ايستلو کي زړه کول مناسب ونه ګڼل او خپل ورور مصعب ابن زبير ﷺ يې د بصرې والي وټاکی او د مختار د سر قلم کول يې

هغه ته حواله کړل، نو حضرت معصب د خپل فوج په راوستلو سره کوفې ته ولاړ، بلې خوا ته مختار ته چې ددغه فوج علم وسو نو هغه هم خپل لښکر د کوفې څخه را وایست، د دواړو لښکرو په منځ کې مدارا نامي کلي ته نژدې مقابله وسوه، ښه په زور سره جګړه وسوه، په پای کې مختار ماته وخوړل او کوفې ته وتښتېدی او په دار الاماره کې قلعه بند کړل سو، حضرت معصب ابن زبیر ﷺ کوفې ته په رسېدو سره دار الاماره محاصره کړ، مختار د سامان د کمی په وجه مجبوره سو او د قلعې دروازه یې خلاصه کړه او آخري مقابله یې وکړه مګر ژر قتل کړل سو او همدارنګه د کوفې دغه فتنه ختمه سوه.

د مروان قصه

په حدیث کې دا فرمایل سوي دي چې ددې څخه وروسته به خلک د داسې سړي پر بیعت اتفاق وکړي چې د پښتۍ د هډوکی سربېره د تشي په ډول به وي، نو حضرت شاه صاحب ددې مصداق مروان ابن حکم ګرځولی دی، د مروان ابن حکم د خلافت قصه که څه هم د مختار د فتنې څخه مخکې وه او کله چې د عبدالله ابن زبیر ﷺ فوج هغه په کوفه کې په وژلو سره د هغه د فتنې بېخ وایست نو هغه وخت مروان ابن حکم مړ سوی وو او د بنو امیه د خلافت جانشین عبدالملک ابن مروان ټاکل سوی وو، مګر که څه هم د دغه لفظي تقدیم او تاخیر سره یوازې په نظر کولو سره نفس حقیقت ته وکتل سي نو د حضرت شاه صاحب بیان سوی مصداق منلو کې څه خنډ نسته، دا مروان ابن حکم وو چې هغه د معاویه ابن یزید ابن معاویه د مرګ څخه وروسته پر ټوله اسلامي نړۍ باندې د حضرت عبدالله ابن زبیر ﷺ قائم سوی خلافت چیلنج کړ او د مختلفو سازشونو په ذریعه په دمشق کې پر خپل خلافت باندې د بیعت کولو لپاره خلک مجبور کړل، نو د بنو امیه څخه پرته د شام نور قبائل بنو کلب، عنان، طی او داسې نور د هغه خلافت باندې اتفاق وکړ او بیا د هغه وخت څخه د انتشار او فتنې لړۍ پیل سوه، چې هغه اسلام او مسلمانانو ته سخت تاوان ورسوی او ملي طاقت یې دومره منتشر کړ چې تر ډېره وخته پوري مسلمانان په خپلو کې په جنګ وه، او کوم قوت چې د دښمنان دین پر خلاف استعمالېدی هغه په مختلفو سیمو کې د خپل مسلمان ورور لپاره استعمالېدی،

مروان ابن حکم د عیار او چالاک کېدو سربېره د قوت فیصله، بصیرت او تدبر، استقلال او استحکام په ډول هغه اوصاف نه درلودل کوم چې د هیواد د سیاسي استحکام لپاره ضروري دي، ددې ټولو لوی مثال دادی چې په کومه زمانه کې د معاویه ابن یزید د وفات څخه وروسته

په دمشق کي د انتخاب خليفه په اړه اختلاف او په شام کي د بنو اميه مرسته کونکو هغه طاقتور او مقتدر قبائل بنوکلب او بنو قيد په منځ کي رقابتونه ظاهرېدل پيل سول نو مروان ددې په لېدو سره نه يوازي عراق بلکه د شام هم يوه لويه برخه چي د حضرت عبدالله ابن زبير خلافت يې منلی وو ، اراده يې کړې وه چي د مشق څخه په روانېدو سره د حضرت عبدالله ابن زبير ﷜ په خدمت کي حاضر سي او د هغه په لاس په بيعت کولو سره د هغه د خلافت وفادار سي بلکه هغه د سفر سامان هم سم کړی وو ، مگر په دغه دوران کي عبدالله ابن زياد د مشق ته راغلی ، کله چي هغه ته د مروان د دغه ارادې خبر وسو نو هغه مروان له دغه ارادې څخه منع کړ او په دې يې پوه کړ چي هغه د خلافت د اميدار په حيثيت بيعت اخيستل پيل کړل نو د مروان خلافت په اصل کي د عبدالله ابن زياد د هڅو نتيجه ده که څيري په مروان کي مستقل مزاجي، درايي پختيا او تدبر وای نو هغه به په هيڅ قيمت د ابن زياد رايه منلې نه وای او په خپله اراده کي به پوخ پاته سوی وای او دحضرت عبدالله ابن زبير ﷜ په خدمت کي به حاضر سوی وای او دهغه په وجه چي کومي فتنې پيدا سوي او ټول ملت چي په تاوان او ضرر کي اخته سو د هغه نوبت به نه راتلی .

د دهيماء فتنه

د دهيماء د فتنې په اړه د حضرت شاه صاحب وينا ده چي د دغه فتنې په ذريعه رسول الله ﷺ دترکو د دغه قبضې او واک وړاند وينه وفرمايل چي هغه اسلامي ښارونه برباد کړل او مسلمانانو ته يې سخت تباهي او تاوان ورسوی نو هغه وخت چا چي د ترکو حمايت وکړ او دهغوئ مرسته کونکي سول هغوئ د منافقانو په ډله کي وشمېرل سول او دا د اوومي پېړۍ د منځ واقعه ده کله چي د خلافت عباسيه آخري پيروان مستعصم باالله بن مستنصر باالله د بغداد پر تخت باندي واکمن وو ، دی ډېر بې همته، بې حوصلې او غيرمدبر خليفه وو ، هغه خپل وزير وزيرمؤئدالدين علقمي جوړ کړی وو چي ډېر متعصب او بدباطن شيعه وو ، پر علمي عهده باندي په فائز کېدو سره د خپلي عياري او چالاکۍ خليفه عضو معطل کولو سره خپله د سپين او تور مالک سوی وو د هغه د شروع څخه دا خواهش وو چي په څه طريقه د عباسيانو نوم او نښان ختم کړي او په بغداد کي د علويانو خلافت قائم کړل سي ، ددغه خواهش د پوره کولو لپاره هغه يو غير ملکي طاقت يعني تاتاريانو سره لار جوړه کړه او د چنگيز خان لمسي هلاکوخان ته يې دعوت ورکړ چي ته خپل فوج راوله او پر بغداد باندي حمله وکړه ، زه به په ډېره اساني سره تا ته د بغداد خلافت او د هغه تر واک لاندي نوري سيمي په واک کي درکړم،

هلاکو خان په پیل کي د هغه دعوت په قبلولو کي تامل وکړ، ځکه چي هغه د اهل بغداد د مېړاني او خلافت د هیبت څخه مرعوب وو مګر کله چي علقمي په مختلفو حیلو او فلانونو په ذریعه د بغداد د فوج ډېره لویه برخه د لیري لیري برخو او ښارو کي منتشر کړل او د پاته فوجیانو په ذریعه په ښار کي ځیني اقداماتو کولو سره د لوټ مار بازار ګرم کړ چي په هغه سره سخت انتشار خپور سو او هلاکو خان ته معلومه سوه چي د خلافت طاقت ډېر کمزور سوی دی او د خلیفه فوج د لوی حملې زغملو وړ نه دی، نو هلاکو خان د هغه د دعوت په قبلولو کي څه خنډ محسوس نه کړ، علقمي یو بل چال اختیار کړ هغه د بغداد د شیعه ګانو له خوا هلاکو خان ته په زیات شمېر کي پر بغداد باندي د حملې کولو دعوت باندي مشتمل خطونه واستول چي په هغه کي دا لیکلي وه چي زموږ بزرګانو وړاند وینه کړې وه او موږ ته یې خبر راکړی وو چي په فلاني کال کي به فلانی تاتاري سردار پر بغداد او عراق باندي قبضه وکړي او زموږ یقین دی چي هغه فاتح سردار ته یې ، دې خبري د هلاکو ارادې ته نور تحریک ورکړ ، بلي خوا د هلاکو خان په دربار کي یو شیعه نصر الدین طوسي د مخکي څخه موجود وو او د علقمي په ډول هم د عباسیانو د خلافت ختمولو پسي لګېدلی وو هغه هم د مختلفو ترغیباتو او حرص په ذریعه د هلاکو خان ارادې ته تقویت ورسوی.

هلاکو خان اول خو زبردست فوج بغداد ته واستوی چي د هغه مقابله د خلیفه د کمزوري فوج سره وسوه او په پیل کي دغه فوج ته کامیابي هم حاصله سوه، مګر په پای کي یې ماته وخوړل، او د تاتاریانو هره اوله دسته کامیابه سوه ، بیا د هلاکو خان یو ډېر لوی فوج پر بغداد باندي حمله وکړه او ښار یې محاصره کړ ، د ښار خلکو د هغه مقابله وکړه او تر پنځوس ورځو پوري تاتاریان یې ښار ته د ننه نه پرېښودل مګر د بغداد شیعه ګانو یو ازي دا چي په پټه توګه هلاکو خان د ځان لپاره د امن او تحفظ ضمانت تر لاسه کړی وو بلکه د ښار حالات او فوجي اطلاعات یې هم هلاکو خان ته رسول، بیا علقمي یو بل سازش وکړ هغه خلیفه ته وویل چي ما ستا لپاره د امن او تحفظ ضمانت حاصل کړی دی تاسو هلاکو خان ته ورسئ هغه به ستا سو سره په ډېر عزت مخامخ سي او په مفاهمت کولو سره به تاسو ته د بغداد او عراق حکمراني پرېږدي، خلیفه د علقمي په دوکه کي په راتللو سره د خپل زوی سره د ښار څخه په وتلو د هلاکو خان لښکر ته ورسیدی، هلاکو خان د خلیفه په لېدو سره وویل تاسو خپل آراکین سلطنت او د ښار علماء او فقهاء هم دلته راوغواړئ نو خلیفه هم ټولو ته حکم واستوی او هلته یې راوغوښتل، کله چي ټول خلک راغلل نو هلاکو خان د خلیفه په مخکي هغه ټول په یو یو کولو سره قتل کړل،

ددې څخه وروسته هلاكو خان خليفه ته وويل چي ته ښار ته پيغام واستوه چي د ښار خلک وسله كښيږدي او دباندي ووځي، خليفه دا پيغام هم ښار ته واستوی او د ښار خلک دباندي راووتل او تاتاريانو د هغوئ قتلول پيل كړل، دښار ټول خلک د لكونو په شمېر شهيدان كړل سو. د دباندي خندق د هغوئ په مړو ډک سو او بيا دومره وينه وبهېدل چي د هغه د كثرت څخه د درياء دجلې اوبه سرې سوې، تاتاري خلک په ښار كي ننوتل، ښځي او كوچنيانو پر سرو باندي قرآن كريم اخيستی راووتل مګر د تاتاريانو د توري څخه هيڅوک خلاص نه سو او هغه ظالمانو بغداد او د هغه شاوخوا كي خلک قتل كړل د بغداد په ښار كي يوازي څو خلک وه چي په ځاهانو او نورو پټو ځايو كي پټ سوي وه، او پاته هيڅ ژوندی شی يې نه پرېښود، په راتلونكي ورځ يعني نهم صفر ۶۵۶ھ كال كي هلاكو خان د خليفه مستعصم سره په بغداد كي داخل سو او د خلافت ماڼۍ ته په رسېدو سره يې د خليفه څخه د ټولو خزانو كيلياني واخيستلې، څومره خزانې چي وې هغه يې تر لاسه كړلې، بيا خليفه نظر بند كړل سو او تر ډېره وخته پوري وساتل سو، ددې څخه وروسته هلاكو خان د خليفه مستعصم د مستقبل په اړه د خپلو اراكينو سره مشوره وكړه نو ټولو رايه وركړه چي بايد ووژل سي مګر بدبخت علقمي او طوسي وويل چي نه توره دده په وينو رنګول نه دي پكار بلكه دی په نمده كي په نغښتلو سره په لغتو وهل پكا ردي نو دا كار علقمي ته حواله كړل سو او هغه خپل بادار مستعصم بالله په نمده كي په نغښتلو سره او پر يوې ستني باندي په تړلو سره دومره په لغتو ووهی چي د خليفه ساه وختل او بيا د هغه مړي پر مځكه اچولو سره د تاتاري سپاريانو په پښو سره مېده كړ او په دې لېدو سره خوشحاله كېدل چي زه د علويانو بدل اخلم، خلاصه دا چي د بدنصيبه خليفه مړي ته كفن او قبر هم په برخه نه سو او هم دارنګه د عباسيه كورنۍ د خلافت خاتمه وسوه، ددې څخه وروسته هلاكو خان شاهي كتابخانه هم نه پرېښودل په هغه كي بې شمېره كتابونه ذخيره وه هغه ټول كتابونه يې د دجلې سند ته وغورځول چي په هغه سره په سند كي يو بند غوندي جوړ سو او كرار كرار هغه ټول اوبو وبيول، د دجلې اوبه د بغداد او شاوخوا سيمو په وينو سرې سولې ، ټول شاهي محلونه يې وران كړل . مؤرخينو ليكلي دي چي هغه وخت د هلاكو خان د فوج په لاس چي په بغداد او شاوخوا سيمو كي كوم قتل عام وسو د هغه په نتيجه كي يو كروړ شپږ لكه مسلمانان قتل سول. غرض دا چي هغه عظيم الشان او هيبت ناكي بربادۍ چي د هغه مثال په تاريخ كي نسي لېدل كېدای او پر مسلمانان باندي يو داسي مصيبت راغلی وو چي خلكو د قيامت صغرۍ په نامه سره تعبير كړې دی، ددغه ستري پېښي تر ټولو عبرتناک اړخ دادی چي علقمي د

کوم علوي خلافت د قیام او د خپلي حکمرانۍ د خواهش لپاره د عظیم الشان تباهۍ او بربادۍ اسباب پیدا کړه او ټولي اسلامي نړۍ ته د سخت تاوان رسولو سبب سو هغه ته هیڅ په لاس نه ورغلل، هلاکو خان د هاشمي یا علوي خلیفه کولو پر ځای خپل سړی په عراق کي حاکم کړ، عقلمي ډېر چالونه و چلول، هلاکو خان ته یې ډېري زارۍ وکړې مگر هلاکو خان داسي چغه کړ لکه څرنگه چي سپی چغه کیږي، تر څو ورځو پوري علقمي به د غلامانو په ډول تاتاریانو ته ټیلۍ سمولې په پای کي د خپل منافقت او غدارۍ په عبرتناک حشر لېدو سره په ناکامۍ او ناامیدۍ ډېر ژر مړ سو، ددغه پېښي څخه وروسته بغداد دار الخلافه نه سو اود خلیفه مستعصم باالله څخه وروسته تر دروکالو پوري داسي وخت تېر سو چي په هغه کي د دنیا هیڅوک خلیفه نه وو.

د نبوي زمانې وروسته په عربو کي دراتلونکو فتنو پیشگویي

﴿۵۱۷۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ أَفْلَحَ مَنْ كَفَّ يَدَهُ. رواه ابو داؤد.

د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د عربو بد نصیبي ده چي فتنه نژدې راغلل، په فتنه کي به هغه سړی کامیاب وي چي خپل لاس بند کړي. ابو داؤد

تخریج: سنن ابي داود ۴\۴۴۹، رقم: ۴۲۴۹.

تشریح: طیبي رحمة الله علیه وایي: رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذریعه د عربو هغه فتنې ته اشاره وفرمایل چي د حضرت عثمان غني رضی الله عنه په خلافت کي پېښه سوه او هغه د مسلمانانو د منځني انتشار، خروج او بغاوت په صورت کي نه یوازي حضرت عثمان غني رضی الله عنه پر شهادت باندي مجبور کړ بلکه دا لړۍ وروسته د حضرت علي او حضرت امیرمعاویه د جگړې په صورت کي تر ډېرو ورځو پوري جاري وه، او مسلمانانو ته ډېر زیات تاوان پېښ سو، مگر د ملا علي قاري رحمة الله علیه وینا ده چي د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد مصداق د حضرت امام حسین رضی الله عنه خلاف د یزید ابن معاویه هغه کاروایي ده چي د هغه په نتیجه کي امام عالي مقام د کربلا په میدان کي شهید سو، د معنی په اعتبار د دغه قول زیات صحیح دی او حدیث ته نژدې دی، ځکه چي د حضرت امام حسین رضی الله عنه د شهادت پېښه یوه داسي فتنه وه چي د هغه په خرابۍ کي عرب او عجم هیڅ ته هم شک او شبه نسته.

د فتنو او فساد څخه ځان ساتونکی کس نیک بخت دی

﴿۵۱۷۲﴾: وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنَ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنِ إِنَّ السَّعِيدَ لَمَنْ جُنِّبَ الْفِتَنُ وَلَمَنْ ابْتُلِيَ فَصَبَرَ فَوَاهًا. رواه ابوداؤد.

د حضرت مقداد بن اسود رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوریدل چي هغه سړی بختور دی چي د فتنو څخه لیري وساتل سو، هغه سړی بختور دی چي د فتنو څخه لیري وساتل سو هغه سړی بختور دی چي د فتنو څخه لیري وساتل سو، او څوک چي په ازموینه کي واچول سو او هغه صبر وکړ نو هغه ډېر ښه کار وکړ. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۴\۴۶۰، رقم: ۴۲۶۳.

د لغاتو حل: فواها: المعنى هنا التلهف. (افسوس)

تشریح: د (واها) معنی دافسوس ده، او کله دغه لفظ د خوښۍ ظاهرولو لپاره هم استعمالیږي، که چیري دلته دغه لفظ د افسوس په معنی کي واخیستل سي نو ویل کیږي چي د فواها لفظ د مخکنۍ جملې یعني لمن ابتلی فصبر څخه بېل دی او د یو داسي جملې سره تعلق لري چي که څه هم په لفظو کي مذکور نه دی مګر د هغه مفهوم مراد اخیستل سوی دی نو په هغه صورت کي به ټول عبارت داسي وي چي د افسوس وړ دی هغه سړی چي د فتنو څخه خوندي نه سو او په فتنو کي صبر او ضبط اختیار نه کړي، همدارنګه په مخکنۍ جملې (لمن ابتلی فصبر) کي د لام لفظ مفتوح ګرځول کیږي او که چیري دلته د واها معنی د خوښۍ د اظهار وي نو په هغه صورت کي به واها د یو بیلي جملې د مفهوم لپاره نه وي بلکه دا به د مخکنۍ جملې (لمن ابتلی فصبر) سره یو ځای ګڼل کیږي، او د هغه جملې معنی به داسي وي چي د فتنو څخه خوندي کېدل او صبر اختیارول څومره ښه او د خوښۍ شی دی، ځینو محدثینو چي دلته په لمن ابتلی فصبر کي د لمن لام په زېر لیکلی دی او هغه ته یې د فواها متعلق ویلي دي نو ددې څخه دا ثابتیږي چي دلته د فواها لفظ د خوښۍ د اظهار په معنی کي استعمال سوی دی.

یو څو پیشګویاني

﴿۵۱۷۳﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَ السَّيْفُ

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي زما په امت کي

فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ

توره و چلیږي نو تر قیامته پوري به ددې لړۍ جاري وي او تر هغه وخته پوري به قیامت نه قائمیږي تر څو پوري چي زما د امت ځیني قبائل به

مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ وَحَتَّى تَعْبُدَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي الْأَوْثَانَ وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي

د مشرکانو سره یو ځای سي او د بتانو عبادت به پیل کړي ، زما په امت کي به زر

أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي

دیرش درواغجن نبیان پیدا سي او په هغوئ کي به هر یو سړی دا خیال لري چي هغه د الله جل جلاله نبي دي او حال دا دی چي زه خاتم النبیین یم زما څخه وروسته به هیڅوک نبي نه وي

وَلَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الْحَقِّ قَالَ ابْنُ عِيسَى ظَاهِرِينَ ثُمَّ اتَّفَقَا لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ. رواه ابوداؤد والترمذي.

او زما په امت کي به همېشه یو ډله پر حق وي او پر دښمنانو به غالب وي کوم خلک چي د دغه ډلي مخالفت کوي هغوئ ته به هیڅ تاوان نسي رسولای تر دې چي د الله جل جلاله حکم راسي (یعني قیامت راسي) یا هغه وخت راسي چي اسلام پر ټولو غالب سي . ابوداؤد او ترمذي.

تخریج: سنن ابي داود ۴\۴۵۱، رقم: ۴۲۵۲.

تشریح: د حدیث د اولي برخي مطلب دا دی که چیري یو وار د ځینو مسلمانانو په وجه زما په امت کي د قتل او قتال سیاست ته د عمل او دخل موقع حاصله سوه نو بیا به د مسلمانانو د یو بل خلاف د تشدد او د طاقت دغه لړۍ پیل سي چي تر قیامته پوري به ختم نسي او تل به زما د امت خلک په څه ناڅه صورت کي د خپلو صفونو پر خلاف جنګ کوي نو د رسول الله ﷺ دا فرمایل بالکل صحیح ثابت سول او د حضرت معاویه رضي الله عنه د زمانې څخه د مسلمانانو چي کومه جګړه پېل سوې ده د هغه لړۍ تر اوسه پوري جاري ده .

تر څو چي زما د امت ځیني ډلي د مشرکینو سره یو ځای نسي: د رسول الله ﷺ د دغه وړاند وینه یو څه خو د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته څرګنده سوه ، کله چي د حضرت ابوبکر

صدیق ﷛ د ابتدائي زمانې په خلافت کې د عربو څو قبائل د منافقینو په فریب کې په راتلو سره په ارتداد اخته سوه او د کفر او شرک د طاقتونو سره يو ځای سول، مګر د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ فراست او پوهې او فیصلې د هغه مرتدینو بېخ وایستی.

تر څو چې زما په امت کې ځینې قبائل د بتانو عبادت پیل کړي: دلته د بتانو عبادت که په حقیقي معنی کې مراد دې نو ویل کیږي چې کیدای سي په راتلونکي زمانه کې داسي وخت هم راسي، چې د مسلمانو څه طبقې د ایمان او اسلام د دعوې درلودلو سربېره په حقیقت کې د بتانو عبادت پیل کړي هسې خو په اوسنۍ زمانه کې هم د داسي مسلمانانو وجود په هر حال تر لاسه کیږي چې قبر پرستي وغیره صورت کې خپل تندی د غیر الله په مخکې پر سجده اېږدي او که چیري دا وویل سي چې په دغه جمله کې د بتانو د عبادت خبره پر خپل حقیقي معنی باندي محمول نه ده بلکه ددې څخه مجازي او معنوي صورت مراد دی نو بیا ددې محمول ډېر صورتونه کېدای سي چې په هره زمانه کې تر لاسه کیږي په هغه کې يو صورت د مال او دولت وغیره تر لاسه کول د خپل ژوند اصلي مقصد او د خپل امېدونو مقصد جوړوي، په دغه صورت کې ددغه ارشاد يو محمول هغه خلک دي چې دهغوئ په اړه فرمایل سوي دي: (تعس عبدالدینار وعبدالدرهم): د درهم او دینار غلام دې هلاک سي.

د خاتم لفظ د تاء په زبر او زور دواړو سره راځي او د انا خاتم النبیین جمله د نحوي قاعدې په اعتبار حال واقع سوې ده یعني د لانبي بعدي جمله د خپل لومړنۍ جملې یعني انا خاتم النبیین د تفسیر او وضاحت په توګه ده.

تر دې چې د الله ﷻ حکم راسي: دلته د الله ﷻ د حکم څخه قیامت مراد دی يا د دین داسي تسلط مراد دی چې د مځکې پر مخ د کفر هیڅ نوم او نښان پاته نسي او حتی یاتي ..الخ دغه جمله د لاتزال سره متعلق ده.

﴿۵۱۷۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

تَدُوْرُ رَحَى الْإِسْلَامِ لِخَمْسٍ وَثَلَاثِيْنَ أَوْ سِتٍّ وَثَلَاثِيْنَ أَوْ سَبْعٍ وَثَلَاثِيْنَ فَإِنْ

د اسلام ژرنده به پنځه دېرش یا شپږ دیرش یا اووه دیرش کاله چلیږي بیا که خلک هلاک سي (یعني اختلاف وکړي) نو هغوئ به د هغوئ پر لار روي کوم چې

يَهْلَكُوا فَسَبِيلُ مَنْ هَلَكَ وَإِنْ يَقُمْ لَهُمْ دِينُهُمْ يَقُمْ لَهُمْ سَبْعِينَ عَامًا قَالَ قُلْتُ أَمِمَّا بَقِيَ أَوْ مِمَّا مَضَى قَالَ مِمَّا مَضَى. رواه ابوداؤد.

هلاک سول او که د هغوئ دين باقي پاته سي نو بيا ددې لړۍ به تر اويا کالو پوري وي، ما وويل: دا اويا کاله به ددې کلونو څخه وروسته وي چي د هغې ذکر وسو يا ددې سره، رسول الله ﷺ وفرمايل: کومه زمانه چي تيره سوه د هغې څخه وروسته به وي (يعني د اسلام څخه وروسته). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۵۳، رقم: ۴۲۵۴.

تشريح: د اسلام ژرنده به ګرځي: د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي هغه زمانه چي په هغه کي به د دين نظام مستحکم وي د شرعي احکامو حکمراني به وي، د مسلمانانو ټول ديني او دنياوي معاملات به د قرآن او سنت مطابق چليږي او د دين او آخرت ژوند به د فتنې او فساد څخه خوندي او مامون وي، پر ۳۵ يا ۳۶ يا ۳۷ کالو به مشتمل وي، او ددغه زمانې ابتداء د هجرت د کال څخه ده، چي د اسلامي ملي او سياسي ظهور او دملکي فتوحاتو لړۍ به د هجرت د کال څخه پيل کيږي نو په دې کي هيڅ شک نسته چي د حضرت عثمان غني ﷺ د شهادت پېښه د اسلامي تاريخ هغه لومړنۍ فتنه ده چي په هغه کي د مسلمانانو ديني او ملي ژوند ته سخت تاوان ورسيدی او د اسلام سياسي طاقت د انتشار په وجه ډېر کمزور سو، دغه فتنه په ۳۵ھ کال کي ظاهره سوه، ددې څخه وروسته په ۳۶ھ کال کي جنګ جمل او په ۳۷ھ کال کي د جنګ صفين فتنې پېښې سوې چي د مسلمانانو ديني او ملي نظام او سياسي استحکام يې هلاک کړ او دهغه ډېر بد نتائج راووتل.

څرګنده دي وي چي په (لخمس وثلثين او ست و ثلثين او سبع و ثلثين) دلته د او حرف د تنويع لپاره يا د بل په معنی کي دی.

د ۳۵ يا ۳۶ يا ۳۷ کلو د تعين په اړه يو وضاحت خو هغه وو چي مخکي ذکر سو يعني که چيري ابتداء د هجرت د کال څخه وشمېرل سي او انتهاء د حضرت عثمان ﷺ شهادت او بيا جنګ جمل او جنګ صفين وګرځول سي نو په ترتيب سره د ۳۵، ۳۶ او ۳۷ واقعات دي، مګر په دې اړه يو احتمال دا هم بيانيږي چي رسول الله ﷺ دغه کلام په هغه کال فرمايلی وو کله چي د رسول الله ﷺ دژوند مبارک څو کاله پاته وه او که دا څو کلونه د خلفاء اربعه د خلافت سره يو

ځای کړل سي نو د دغه ټولو مجموعي وخت هغو مره کلو باندي مشتمل دی کوم چي رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي ظاهر کړ، یعني د دغه قول مطابق د ۳۵، ۳۶ او ۳۷ کلو ابتدائي کال خو به هغه ګرځول کیږي چي په هغه کي رسول الله ﷺ دغه حدیث ارشاد وفرمایه او د دغه کلونو اخري کال به د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت اخري کال وګرځول سي نو د دین د نظم د استقرار او تکمیل څخه که چیري دا مراد واخیستل سي چي په دغه ذکر سوو کلو کي به دین په پوره توګه محفوظ او مامون وي چي د بدعت او د فکر و جمال لغزش به نه وي او د هیواد او ملت هیڅ کار به د شارع د حکم خلاف نه وي نو بیا د ذکر سوو کلونو د تعین په اړه دا وضاحت مناسب دی،

او که د دین د استقرار او تکمیل څخه مراد دا واخیستل سي چي د ملک او ملت انتظام به د فتنې او فساد څخه پاک وي، د خلافت مسئله به په ښه چلن او اتفاق او اتحاد سره فیصله کیږي او د مسلمانانو په منځ کي به هیڅ اختلاف او عناد نه وي نو بیا به د مذکوره کلو په تعین کي هغه وضاحت مناسب وي چي مخکي نقل سوی دی، یو بل احتمال هم بیانیږي چي د ذکر سوو کلونو ابتداء د هغه څخه کیږي کله چي پر رسول الله ﷺ باندي د وحي نازلېدو لړۍ پیل سوې وه یعني د نبوت په اول کال، په دغه صورت کي د ۳۵ کلو د وخت اختتام د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په اختتام کیږي، دا احتمال په دې اعتبار قیاس ته نژدې معلومیږي چي رسول الله ﷺ څخه وروسته د دین او ایمان سلامتیا، د سنت اتباع، جماعتي اتحاد او تفاق د مسلمانانو په منځ کي محبت او د دین او ملت د اخلاقي او سیاسي استحکام په کومه زمانه کي چي ښه وو هغه د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما د خلافت زمانه ده، د حضرت عمر رضي الله عنه څخه وروسته د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کي یو دوه کاله وروسته چي کوم صورت حال پیدا سو او د دین او ملت د نظم او استحکام خلاف چي کومي پېښي څرګندي سوې هغه د دغه فتنو باعث جوړ سو.

بیا که خلک هلاک سي... الخ: مطلب دادی چي په ذکر سوو کلونو کي د دین او ملت اخلاق او سیاسي نظام کي د استحکام او استقرار څخه وروسته که خلک د خپل دیني او ملي معاملاتو د اختلاف ښکار سي د دین او آخرت په چارو کي سستي، کوتاهي او ګناه کول پیل کړي نو پوه سئ چي هغوئ پر هغه خطرناکه لار باندي روان سوي دي پر کومو باندي په تللو سره چي د تېرو امتو خلک د تباهۍ او بربادۍ ښکار سوي وه، نو د تېرو امتو خلک څکه تباه او برباد سول چي هغوئ کږتیا اختیار کړې وه د حق څخه لیري سوي وه، شرعي احکام او خپل ملي معاملاتو کي د اختلاف او انتشار ښکار سوي وه، پر خپل دین باندي په عمل کولو او د خپل

پیغمبر د تعلیماتو په منلو کې یې سستي او بې پرواهي اختیار کړې وه او د ګناه او معصیت څخه یې پرهیز نه کوی، ځرګنده دي وي چې کوم شیان د انسان دهلاکت او تباهۍ سبب جوړېږئ او د هغه په اختیارولو سره انسان په هلاکت کې لوېږي دلته هغه اسباب په هلاکت سره تعبیر سوي دي .

او که دهغوئ د دین نظام کامل او برقرار پاته سو ...الخ: مطلب دادی که چیري مسلمانانو د مخکي په ډول د خپل امیر او خلیفه پر اطآعت او فرمانبرداري باندي قائم وي ، احکام شریعت او دیني نظام برقرار وساتي او دهغه پر اتباع کولو باندي عامل وي او دملي اتحاد او اتفاق په ذریعه د اسلام شوکت لوړ کړي نود هغوئ د دیني او ملي ، سیاسي استحکام او برقرارۍ لړۍ به تر اویا کالو پوري جاري وي .

اوس دا سوال پیداکیږي چې د اوویا کالو د تحدید څخه مراد څه دی؟ نو ددې حقیقي مفهوم په وضاحت سره نسته ، بیا هم دا ویل کیدای سي چې د دیني او ملي نظام ، اخلاق او سیاسي استحکام په اړه چې کومه خبره مخکي سوې ده که هغه تر ۳۵ کاله یا ۳۶ یا ۳۷ کالو پوري قائم وي نو په دې اعتبار سره دا خبره ویل سوې ده چې د مسلمانانو ملي او ملکي چارو او سیاسي معاملاتو به د راتلونکي زمانې په نسبت په اوویا کالو کي زیات ښه وي،

په هر حال ددغه حدیث په تشریح کي شارحینو ډېر زیات بحث کړی دی او اوږدې خبري یې لیکلي دي، مګر د قابل اعتماد مختار مذهب او عقیدې سره سم د حدیث د الفاظو په رعایت کولو سره په لنډه توګه چې کومه تشریح تر لاسه کیږئ هغه دلته نقل سوې ده چې انشاء الله تعالی کافي به وي، مګر که چیري په اختصار سره د حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمة الله علیه هغه منقولات او فرمودات هم بیان کړل سي چې ددغه حدیث د تشریح تعلق لري نو دحدیث فرمودات او دهغه د مصداق څه نور وضاحت به وسي، نو د شاه صاحب مطابق د حدیث خلاصه او مصداق داسي څرګندیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وفرمایل چې دهجرت د زمانې څخه وروسته د اسلام پرمختګ او د مسلمانانو په حالاتو کي چې کوم استحکام پیدا سوی دی هغه به تر ۳۵ او یا ۳۶ کلو پوري همداسي چلیږي، او ټول دیني او ملي معاملات به په ښه ډول فیصله کیږي، بیا د اسلام په دائره کي که څه اضطراب واقع سي او د انتشار په وجه د مسلمانانو دیني او ملي معاملاتو کي خرابي پیدا سي نو ددغه خرابۍ پیل د ۳۵ھ کال څخه وسوه چې د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت پېښه رامنځته سوه، بیا په ۳۶ھ کال کي نوره خرابي واقع سي .

کله چې د ام المؤمنین بي بي عائشې رضي الله عنها او حضرت علي رضي الله عنه په منځ کي جګړه وسوه او هغه

ته جنګ جمل ويل کيږي، او ددې څخه وروسته په ۳۷ هـ کال کي حالات د واک څخه ووتل، اسلام او مسلمانانو ته سخت تاوان ورسيدی کله چي د حضرت علي او حضرت امير معاويه رضي الله عنهما په منځ کي ډېر سخت جنګ (د صفين جنګ) وسو، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي د مسلمانانو په ديني او ملي نظام کي ددغه خرابۍ واقع کېدو څخه وروسته او د باغيانو په غالب کېدو سره او د خليفه حق د مغلوبيت په وجه که خلک د ديني او ملي نظام تباه کولو والا هغه اعمال او اطوار اختيار کړي او هلاک سي نو هغوئ به پر هغه لار باندي د تللو په وجه هلاک سي پر کومه لار چي د تېرو امتو خلک تللي او تباه سوي دي، نود حضرت علي رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته داسي وسوه چي حضرت امام حسين رضي الله عنه ته په ډېره مجبورۍ سره د خپل خلافت څخه ليري کېدل پرېوتل او څرنګه چي هغه ته مغلوب کېدل پرېوتل چي دهغه نتائج په وړاندي راتلو سره د انتشار او اقتدار لپاره د يو بل خلاف د قتل او قتال په صورت کي ظاهر سول او که دخليفه برحق اقتدار او تسلط قائم پاته سوی وای او باغيانو ته د غالب راتلو موقع نه وای تر لاسه سوې نو دمسلمانانو ديني او ملي نظام به د راتلونکو زمانو په نسبت په ډېره ښه طريقه چليدی او دغه نظام به تر اوويا کالو پوري قائم وای.

د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت

د حديث په تشريح کي د درو داسي واقعاتو ذکر راغلی دی چي په اسلامي تاريخ کي ډېر روح لري او په خفه کونکي پايلو سره ياديږي، او هغه ته رسول الله ﷺ دمخکي څخه اشاره وفرمايل، دغه درې پېښي د حضرت عثمان رضي الله عنه شهادت، د جمل جنګ، او د صفين جنګ ضروري معلوميږي چي درې سره واقعاتو باندي په لنډه توګه رڼا اچول کيږي، تر ټولو مخکي د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت واقعه او د هغه حالات بيانيږي.

حضرت عثمان غني رضي الله عنه د اسلام دريم خليفه او د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څخه وروسته د مسلمانانو امير او حکمران وټاکل سو، د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت تر وخت پوري د مسلمانانو عام ديني او سياسي چاري د يو مستحکم خلافت لاندي په ډېره ښه طريقه چلېدلې او هغه عواملو او اسبابو ته د سر پورته کېدو موقع تر لاسه نه سوه چي د خلافت استحکام او ملي نظام د څه فتنې باعث سي، د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په لومړنۍ نيمه برخه کي هم هغه طريقه استواره وه مګر د هغه څخه وروسته ځيني داسي اندروني عوامل او اسباب پيدا سول او په هغه سره ځيني داسي بيروني فلانونه هم په حرکت کي راغلل چي په هغه سره د حضرت عثمان

حضرت عثمان ﷛ د خلافت استحکام په لړزه سو او دملک او ملت ديني او سياسي معاملاتو باندي د واک کمزوري سو.

څرنګه چي د حضرت عثمان ﷛ بې شمېره صفتونه وه نو په هغوئ کي يو وصف د حلم او معافي او په خاصه توګه د خپلو قريبانو د ښه چلن جذبه هم وه، هغه په اخلاص سره خپل قريبان پر عهد او منصب باندي فائز کړه چي هغوئ يې د هغه عهدې لپاره واقعتا او ديانتا اهل او مناسب ګڼل او هغوئ په ذاتي توګه ډېر شتمن وو ځکه د خپل مال او دولت په ذريعه دخپلوانو قريبانو خبر يې اخيستی او دهغوي مالي مرسته به يې کول، بلي خوا د مسلمانانو په ذهني او فکري حالاتو کي هم دزمانې تغيرات او پراخو احوالو کي د عام ګډون په اثراتو سره تر ډېره حده تبديلي راغلې وه نو په ځينو مسلمانانو کي او په خاصه توګه په هغه مسلمانانو کي چي نوي په اسلام کي داخل سوي وه او د پخواني قبائلي او علاقائي عصبت د ګرفت څخه په پوره توګه ازاد سوي نه وه، دا شکونه پيدا کېدل پېل سول چي امير المؤمنين دخپل خلافت په ذريعه د خپل قبيلې او خاندان خلکو ته ګټه رسوي، که څه هم داسي خلک تر اوسه ډېر کم وه او په عامو خلکو کي د حضرت عثمان ﷛ له خوا بدګماني او شکايت نه وو پيدا سوی مګر هغه وخت عبدالله ابن سبا دخپل مکر او سازش جال خپرول پېل کړل، عبدالله ابن سبا د صنعاء د ښار اوسيدونکی يو يهودي وو هغه دحضرت عثمان ﷛ په خلافت کي په دې لېدو سره چي مسلمانان د دنيا تر ټولو لوی فاتح قوم جوړ سوی دی او دغه قوم ته ډېر زيات مال تر لاسه سوی دی، عبدالله ابن سبا مدينې ته راغلی او په ظاهره په مسلمان کېدو سره اوسېدی، د هغه اصل مقصد محض د دولت او عزت تر لاسه کول نه وو بلکه هغه په خپل ذهن کي د مسلمانانو د طاقت کمزوري کول او د اسلام شان او شوکت ختمولو سازش هم په زړه کي وو، هغه په مدينه کي دخپلو سازشونو په پوره کولو کي بوخت سو، هلته چي کاميابي تر لاسه نسوه نو بصرې ته ورسيدی، په بصره کي هغه په مختلف مکر او فريب په ذريعه خلک خپل هم خيال جوړ کړه او د ډول ډول بدو عقېدو تبليغ يې پېل کړه، کله چي د بصرې والي ته د هغه دحالاتو او د هغه د اصل حقيقت علم وسو نو هغه چي پلټنه وکړه نو د هغه ځايه څخه د خپلو حاميانو د يو ډلي په پرېښودو سره کوفې ته راغلی چي هلته د مخکي څخه يو ډله د حضرت عثمان ﷛ او د هغوئ د عاملانو خلاف وو، دلته عبدالله ابن سبا ته د خپل سازش خپرولو زياته موقع تر لاسه سوه هغه يوې خوا ته د اسلام سره مخالفت وو او بلي خوا ته هغه د حضرت عثمان ﷛ سره ذاتي عداوت او عناد هم درلودی او د هغه څخه دبدلې اخيستلو خواهش يې درلودی.

څو ورځي وروسته هغه کوفه هم پرېښودل او بیا دمشق ته ولاړ، په دمشق کې د هغه چال زیات کامیاب نه سو او بیا مصر ته ورسېدی او هلته یې په زیاته هوښیاري او اطاعت سره کار پیل کړی او د یو منظم جماعت تنظیم یې وکړ، هغه اهل بیت او حضرت علي رضی الله عنه سره د تعلق دعوی هم کول نو ددغه فریب په ذریعه په مصر کې هغه ته کامیابي تر لاسه سوه او خلک د هغه تابع کېدل پیل سول، دلته په ناسته سره هغه د اسلامي سلطنت هغه ټولو علاقو سره رابطه قائمه کړه چیري چي هغه تللی وو او دخپل حامیانو ډله یې پرې ایښې وه، د خپلو هغه حامیانو په ذریعه یې خوا ته هغه مختلف سیمو څخه اهل مدینې ته دا شکایتونه ورسول چي د عثمان رضی الله عنه عامل او والي د خپلو سیمو پر خلکو باندي سخت ظلم کوي، بلي خوا ته هغه په عامو مسلمانانو کي د حضرت عثمان رضی الله عنه پر خلاف د ناراضګی او شکونو صورت حال پیدا کړ، کله چي حضرت عثمان رضی الله عنه په دې خبر سو نو هغه صورت حال ته توجه وکړه او خپل عاملین او مشران یې په جمع کولو سره مشوره ورسره وکړه چي کوم کسان ددغه انتشار کولو ذمه دار دي هغوئ دي پیدا سي او قتل دي سي، او د مجرمانو سره دي هیڅ رعایت نه کیږي، مګر حضرت عثمان رضی الله عنه دخپل مروت او حلم په وجه دا مشوره قبوله نه کړه او دا یې وفرمایل چي زه د قرآن او حدیث د حکم مطابق هیڅوک تر هغه وخته پوري وژلای نسم تر څو چي هغه په ډاګه مرتد نسي، او د هغه جرم ثابت نسي، غرض دا چي د معمولي تدبیرونو څخه پرته د فلانونو خلاف څه سخته کاروایي ونه سوه چي په هغه سره د هغوئ حوصلې نورې پورته سوې او د هغوئ ډېر زور په خپل تخریبي کارو کي مصروف وو، او په زیاتو سیمو کي په خاصه توګه په مصر کي د شور کونکو ډلي تیارې سوې چي هغوئ ته پر مدینه باندي د حملې کولو او د حضرت عثمان رضی الله عنه د قتلولو تربیت ورکړل سو.

بلي خوا ته د عبدالله ابن سبا خلکو د مختلفو سیمو د والیانو او کارکونکو پر خلاف چي کومي فرضي شکایتونه اهل مدینې ته استول، اهل مدینه هغه په صحیح ګڼلو سره د حضرت عثمان رضی الله عنه د هغه والي او عاملانو معزول کولو مطالبه کول مګر حضرت عثمان رضی الله عنه ته د پلټني او تحقیق څخه معلومېده چي ټول شکایتو نه فرضي دي ځکه هغه د والیانو او عاملانو پر خلاف هیڅ کاروایي ونه کړل، د دې نتیجه دا سوه چي خپله په مدینه کي د حضرت عثمان رضی الله عنه او د هغه د حکومت د بدګمانو او شکایتو یوه فضاء جوړه سوه او ځای پر ځای په خلیفه پسي خبري کېدل پیل سول، دا هغه زمانه وه چي د عبدالله ابن سبا ایجنټان ټولو اسلامي هیوادو او ټولو ښارو ته رسیدلي وو او د هغه د حامیانو ډلي هر ځای پیدا سوي وې کله چي هغه ولېدل چي د

هغه فلان آخري مرحلو ته رسيدلی دی او په ټولو سيمو کي د خلافت عثمانيه د بدګمانيو او شکايتونو جال خپور سوی دی او هر ځای د هغه د حاميانو زيات شمېر سوی دی نو هغه دهري سيمي څخه دخپل مسلح کسانو لوی شمېر د کوچنيو کوچنيو ډلو په شکل په پټه مدينې ته را واستوی او بيا څو ورځي وروسته مدينې والا ولېدل چي دباغيانو يو لويه ډله د نعره تکبير په ويلو سره په مدينه کي داخل سوي دي.

عبدالله ابن سبا د حضرت علي رضي الله عنه دميني او د هغه دخليفه جوړېدو په دعوه کولو سره چي کوم خلک چاپېره کړي وه په هغوئ کي يې د حضرت علي رضي الله عنه يو جعلي خط هم خپور کړی وو چي په هغه کي د باغيانو د حمايت اعلان وو نو باغيانو مدينې ته په رسېدو سره چي حضرت علي رضي الله عنه ته يې دمرستي خواست وکړ نو هغه ددې خبري څخه بالکل انکار وکړ چي ما ستاسو د حمايت کولو اظهار کړی دی او وه يې فرمايل چي ما هيڅکله تاسو ته خط نه دی ليکلی، حضرت علي رضي الله عنه دکودتاه کونکو د هغه سازشونو څخه دليري کولو ډېر هڅه وکړه ، نورو صحابه کرامو هم د معاملې سمولو هڅه وکړه ، حضرت عثمان رضي الله عنه د کودتاه کونکو په مطالبه د مصر والي هم معزول کړ مګر داصل تحريک مقصد محض شور کول او بغاوت خپرول وو، ځکه د کودتاه کونکو مشرانو د صورت حال پر معمول باندي راوستلو او د شور کمولو تدبيرونه ناکام سول، حضرت عثمان رضي الله عنه د مدينې منورې په کوڅو کي د کودتاه کونکو په زيات لېدو سره د مختلفو ښارو واليانو ته خطونه واستول او مرسته يې وغوښتل، او هغوئ د ښارو څخه سرکاري فوجونه د کودتاه کونکو د خاتمې لپاره روان کړل مګر هغه کودتاه کونکو د هغه فوج د راتلو څخه مخکي د حضرت عثمان رضي الله عنه د سرای محاصره وکړه.

دلته دا څرګندول ډېر ضروري دي چي په دغه صورت حال کي لوی دخل د مروان ابن حکم هم وو چي د حضرت عثمان رضي الله عنه د اکا زوی او دهغه وزير وو ، هغه د حضرت عثمان رضي الله عنه د حلم او بردبارۍ څخه په ناجائزه ګټه تر لاسه کولو دخپل بداخلاقي، جعل سازۍ او د عوامو د مخالف اقداماتو په ذريعه عامو مسلمانانو او په خاصه توګه اهل مدينه ډېر زيات په غصه کړي وه ، اهل مدينه ددغه موقع څخه دومره فائده تر لاسه کول غوښتل چي د مروان خلاف هغوئ هم د کودتاه کونکو سره شريک سول، مګر دهغوئ مطالبه يوازي د مروان د عهدې څخه په معزول کولو سره اهل مدينې ته د هغه د حواله کولو وه ، او که چيري حضرت عثمان رضي الله عنه دا مطالبه منلې وای نو کېدای سي کودتاه کونکو ته په خپل اصل مقصد کي زياته کاميابي نه وای سوې ځکه چي بيا به د مدينې خلکو د کودتاه کونکو حمايت پرې ايښی وای او دهغوئ مقابله به يې

کړې وای مگر د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ مروت دا ونه زغمل چي هغه مروان اهل مدينې ته په حواله کولو سره د هغوئ په لاس د هغه د وژني ننداره ووينې، په هر حال کودتاه کونکو زيات شور را پورته کړ تر دې چي د هغوئ سرای ته د اوبو ورتللو څخه هم پابندي ولګول سول او کله چي حضرت علي رضی اللہ عنہ او نورو جليل القدر صحابه کرامو ته معلومه سوه چي اوس کودتاه کونکي دحضرت عثمان رضی اللہ عنہ د سرای دروازې په ماتولو سره د هغه قتلول غواړي نو هغوئ ټولو خپل زامن په ډېره مېړانه سره د کودتاه کونکو په مقابله کولو سره د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ساتنه وکړه او په دروازې باندي ودرېدل ، ځيني کسانو د هغه د سرای د بام څخه ځارنه کول پېل کړه، کودتاه کونکو په دې فکر سره چي د دباندي څخه د سرکاري فوځونو د راتګ څخه مخکي ډېر ژر په يو طريقه سره د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ کار تمامول پکار دي ، دا چال يې وچلوی چي په پټه توګه د يو همسايه په سرای کي ورننوتل او پر دېوال باندي په اوښتلو سره د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ په سرای کي داخل سول هغه وخت چي د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ کوم ساتونکي وه په هغوئ کي ځيني بام ته په ختلو سره د باغيانو د کوښښ او نقل وحرکت ځارنه يې کول او ځيني پر دروازه ولاړ وه، په سرای کي يوازي حضرت عثمان رضی اللہ عنہ وو او د هغه زوجه محترمه بې بي نائله ، کودتاه کونکو په ننوتلو سره پر حضرت عثمان رضی اللہ عنہ توره وچلول چي هغه وخت د قرآن کريم کي په تلاوت کي بوخت وو ، د هغه بي بي سمدستي په وړاندي کېدو سره توره يې په لاس منع کړه چي دهغې ګوتي پرې سوې، بيا يې دوهم وار پر ورکړ چي په هغه سره حضرت عثمان رضی اللہ عنہ شهيد سو ، يو کودتاه کونکي په وړاندي کېدو سره په پښو ووهی چي په هغه سهر د حضرت پښتۍ ماتي سوې بيا ټول کودتاه کونکي د يو ستري غونډې په ډول په سرا يکي دننه حمله وکړه او دکور ټول سامان يې لوټ کړ او ډېره بربادي يې وکړه ، دغه المناکه واقعه د ذي الحجې پر ۱۸ ، ۳۵ھ د جمعې په ورځ رامنځته سوه، تر درو ورځو پوري د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ مړی بې ګور او کفن پروت وو ، پر ټول ښار باندي د کودتاه کونکو واک وو ، په پای کي ځينو حضراتو په هڅه کولو سره تر درو ورځو وروسته د شپې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ مړی مبارک بېله غسل ورکولو په جامو کي ښخ کړ ، د جنازې لمونځ حضرت جبير ابن مطعم رضی اللہ عنہ ادا کړ او د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ ددغه مظلومانه شهادت په ذريعه د هغه د خلافت دور ختم سو او بدبختو يهوديانو ته د يو تباه کونکي سازش د کامياب کېدو موقع تر لاسه سوه .

جنګ جمل

د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت څخه وروسته په مدينه کي د قاتلين عثمان رضي الله عنه او کودتاه کونکو دور وو، ځکه هغوئ تر ټولو مخکي اهل مدينه په اخطار ورکولو سره د انتخاب خليفه پر کار باندي اماده کړه، عبدالله ابن سبا په خپل ټول سازش او تحريک کي د حضرت علي رضي الله عنه نوم پورته کړی وو او د هغه د خلافت قائمولو په نامه يې خلک پر ځان راټول کړي وه ځکه په قدرتي توګه سره د کودتاه کونکو زيات شمېر د حضرت علي رضي الله عنه د خليفه کېدو حامي وه، که څه هم حضرت علي رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت څخه مخکي هم باغيانو ته د خپل تعلق انکار کړی وو او د هغوئ د مرستي خواست يې په لغته وهلی وو مګر کله چي کودتاه کونکو هغه ته اصرار وکړ، بلي خوا ته اهل مدينه هم په کثرت رايه سره په خپل اړه ولېدل نو هغه د خلافت بار سنبالولو لپاره تيار سو، بيا هم چي خلک به د بيعت لپاره د هغه په خدمت کي حاضر سول نو هغه به صفا ورته ويل چي تر څو اصحاب بدر ما خليفه ونه مني نو زه بيعت نه اخلم، ددې په اورېدو سره هغه خلکو تر څو چي ممکن وه د اصحاب بدر په جمع کولو سره د حضرت علي رضي الله عنه په خدمت کي راوستل او همدارنګه د هغوئ په لاس د خلافت بيعت وسو، د خليفه کېدو څخه وروسته حضرت علي رضي الله عنه ته چي تر ټولو مخکي د کومي مطالبې مخ وو هغه د حضرت عثمان رضي الله عنه قصاص وو، هغه د حضرت عثمان رضي الله عنه د زوجې محترمي څخه د قاتلانو په اړه پوښتنه وکړه نو هغې يوازي د دوو کسانو حليه (شکل) وښودی، مګر د هغوئ نومونه يې ونه ښودل، ظاهره ده چي حضرت علي رضي الله عنه بېله تشخيص او ثبوت تر لاسه کېدو پرته قاتلين عثمان ته څرنګه سزا ورکولای سوه ځکه د قصاص مطالبې په منلو کي خنډ پيدا سو، کله چي خلکو په خاصه توګه حضرت طلحه رضي الله عنه او حضرت زبير رضي الله عنه، حضرت علي رضي الله عنه ته پر دغه مطالبه اصرار وکړ نو حضرت علي رضي الله عنه وويل: زه به د قاتلين عثمان څخه خامخا قصاص اخلم او د حضرت عثمان رضي الله عنه په اړه به پوره انصاف کوم، مګر تر اوسه پوري د کودتاه کونکو زور دی او بلي خوا ته د خلافت زور په پوره توګه مستحکم سوی نه دی ځکه نو في الحال زه په دې اړه هيڅ نسم کولای.

د اطمينان او استحکام تر لاسه کېدو وروسته تر ټولو مخکي به دغه معاملې ته توجه کوم، بس د همدغه ځای څخه د حضرت علي رضي الله عنه پر خلاف د بدګمانۍ فضاء پيدا کېدل پيل سول، مسلمانانو په خاصه توګه بنو اميه ته يقين وسو چي د حضرت عثمان رضي الله عنه د قتل بدله نسي اخيستلای او قاتلان عثمان په خوند سره ګرځي، بلي خوا ته سبايانو ددې بيري څخه چي

حضرت علي ؓ د قتل عثمان په اړه موږ ته سزا را نه کړي په خپل سازش کي ولګېدل او هڅه کول يې پېل کړل چي خلافت ته استحکام نصيب نسي او ټول مسلمانان د يو بل خلاف په بدګماني او عداوت کي اخته سي.

ام المؤمنين بي بي عائشې ؓ د حج لپاره مکې تشريف وړی وو، د هغه ځای څخه مدينې ته په بېرته راتللو سره يې د حضرت عثمان ؓ د شهادت واقعه واورېدل او بيرته مکې ته راغلل، هغې ته د حضرت علي ؓ د خلافت خبر هم وسو، او دا هم ورته معلومه سوه چي حضرت علي ؓ قاتلان عثمان ته په سزا ورکولو کي تامل کوي نو کله چي هغه مکې ته راغلل او خلکو ته د هغې د ستنېدو حال معلوم سو نو هغوئ راغلل او د دې د سپرلی چاپېره جمع سول، هغې د مجمع په مخکي په تقرير کولو سره اعلان وکړ چي زه به خپله د حضرت عثمان ؓ بدله اخلم، د بني اميه ټول خلک او د مکې عثماني والي د هغې د حمايت اعلان وکړ، حضرت طلحه او حضرت زبير د مدينې څخه مکې ته راغلل نو هغوئ دواړه هم د بي بي عائشې ؓ سره سول، څه وخت په تياري کولو کي ولګېدل او بيا بي بي عائشه ؓ د خپل ټولو حاميانو سره بصرې ته روانه سوه چي د هغه ځای څخه د بنه مرستي په اخيستلو پر مخ ولاړه سي، په لاره کي ځيني خلک د هغې څخه جلا هم سول، خپله بي بي عائشې ؓ پر يو ځای باندي دا اراده وکړه چي د خپل ارادې څخه په منع کېدو سره بېرته ولاړه سي مګر د مسلمانانو پر جمع کېدو باندي چي د سازشيانو کوم خلک ټاکلي وه هغوئ داسي حالات پيدا کړه چي کاروان بيا پر مخ ولاړ سي، بصرې ته په نژدې رسېدو سره ام المؤمنين پړاو واچوی، که څه هم د بصرې امير د هغې د مرستي څخه انکار وکړ مګر عامو خلکو د هغې حمايت وکړ او د هغې په لښکر کي شامل سول.

بي بي عائشه ؓ د خپل لښکر سره امر بد ته را ورسېدل، د دې څخه وروسته د بصرې امير هم د خپل لښکر سره هلته راغلی او دواړه لښکر يو بل ته مخامخ سول د دواړو په منځ کي جنګ وسو او د بصرې فوج په ماته خوړلو سره وتښتېدی.

ام المؤمنين ؓ پر بصرې باندي قبضه وکړه. کله چي حضرت علي ؓ ته دا حال معلوم سو نو د يو لوی لښکر سره بصرې ته روان سو، بلي خوا ته پوهانو او د بصيرت خاوندانو د ام المؤمنين او حضرت علي په منځ کي د صلح کولو هڅه پېل کړل، ځ ام المؤمنين او حضرت علي دواړو زړونه پاک وه او دواړه پر خپل منځي جګړې باندي سخت خفه وه، ځکه کله چي صلح کونکو د دواړو پر خلاف د بدګمانی ليري کولو سره د صلح ميدان هموار کړ او صلح کول يقيني سول نو په دغه وخت کي عبدالله ابن سبا چي د حضرت علي ؓ په لښکر کي موجود وو

د خپل پخواني يهودي سازش سره سم متحرک سو او په کومه ورځ چي پر صلح نامې باندي امضاء کېدونکې وه د هغه ورځي په سهار د سپين والي د ښکاره کېدو څخه مخکي لښکر ناڅاپه د ام المؤمنين پر لښکر حمله وکړه او همدارنګه دواړه فوځونه په دغه بدګمانۍ کي په لوېدو سره چي مخالف فريق د صلح کوشش ته په لغته ورکولو سره د جنګ اراده کړې ده، دواړي خواوي په جنګ سوې مګر د دواړو خواوو څخه جذبات را پورته سوي وو ځکه د جنګ په ميدان کي د هغوئ راتګ د دواړو خواوو څخه د جنګ شعلو ګرمولو زيات سبب جوړ سو، سخت جنګ وسو او د جنګ ټول زور د بي بي عائشې ﷺ د اوښ شاوخوا وو، په دغه مناسبت دغه جنګ د جنګ جمل يعني د اوښ د جنګ په نامه يادېږي، د سازشيانو سازش به خلک ګرمول او د مسلمانانو توري به دخپلو وروڼو غاړي پرېکولې ، بي بي عائشې ﷺ د جنګ بندولو يو بل کوښښ هم وکړ مګر د عبدالله ابن سبا د خلکو په وجه هغه کوښښ هم ناکام سو، د ام المؤمنين اوښ د جنګ او قتل مرکز جوړ سوی وو، د څلورو خواوو څخه د بي بي عائشې ﷺ پر کجاوه باندي د غشو باران وو، اهل بصرې په پوره قربانۍ سره هغه غشو ته ځانونه ورکړل او د اوښ شاوخوا د مړو انبار ولګېدی ، په پای کي د حضرت علي ﷺ لښکر يو زور داره حمله وکړه او يو سړي په موقع تر لاسه کولو سره د بي بي عائشې ﷺ د اوښ پښې په توره ووهلې او په چغه وهلو سره اوښ پر سينه کښېناست، د اوښ په را لوېدو سره اهل بصره منتشر سول او جنګ ختم سو .

په دغه جنګ کي د بي بي عائشې ﷺ له خوا دجنګ کونکو شمېر دېرش زره وو چي په هغوئ کي نهه زره د جنګ په ميدان کي په کار راغلل ، ددې څخه وروسته په راتلونکي ورځ حضرت علي ﷺ په بصره کي داخل سو، د ښار ټولو خلکو د هغه په لاس بيعت وکړ او وروسته حضرت علي ﷺ د ام المؤمنين ﷺ په پوره ادب او احترام کولو سره د بصرې څخه روانه کړه او د دواړو ډلو په منځ کي صلح وسوه، دغه پېښه د ۳۶ هـ کال په منځ کي پېښه سوه او دا د يهوديانو د سازش دوهمه حمله وه چي په هغه سره اهل اسلام ته سخت تاوان ورسېدی .

جنګ صفين

حضرت امير معاويه ﷺ د حضرت عثمان ﷺ له خوا د شام هيواد والي ټاکل سوی وو، نوموړی د حضرت عثمان ﷺ سره کورنۍ او قرابتي تعلق هم درلود ، کله چي حضرت علي ﷺ د نورو هيوادونو او ښارو د خلافت عثماني ټاکل سوي واليان او عاملان برطرف کړل او خپل

معتمد خلک يې د هغوئ پر ځای کښېنول نو د حضرت امير معاويه د برطرفۍ فرمان هم صادر سو او د هغه د عهدې سنبالولو لپاره يې سهل ابن حنيف واستوی مگر ابن حنيف د لاري څخه را ستون سو او هغه د حضرت امير معاويه رضي الله عنه څخه د شام د والي توب په سنبالولو کي ناکام پاته سو، همدارنګه دا خبره رامنځته سوه چي حضرت معاويه د حضرت علي رضي الله عنه خلافت تسليم نه کړ او هغه د بنو اميه د معتمد کېدو په حيثيت سره د خون عثمان د قصاص پر مسئله باندي په ډېره ټېنګه د حضرت علي رضي الله عنه مخالف وو، په دغه وخت کي بيا يهوديانو د سبايانو په صورت کي د سازش جال خپور کړ او د حضرت علي رضي الله عنه او حضرت معاويه رضي الله عنه په منځ کي د اختلاف په پراختيا کي بوخت سول تر دې چي حضرت علي د حضرت معاويه خلاف د شام پر هيواد باندي د لښکر کشۍ اراده وکړه مگر په منځ کي د جنګ جمل واقعه پېښه سوه، د دغه جنګ څخه د فارغه کېدو وروسته د حضرت علي رضي الله عنه په مخکي تر ټولو لوی کار د شام هيواد په واک کي کول او د امير معاويه څخه بيعت اخيستل وو، نو هغه کوفه خپل دار الخلافه جوړ کړ او دغه مسئلې ته متوجه سو، او شام ته يې د لښکر کشۍ کار پېل کړ، بلي خوا ته امير معاويه ته دا معلومه سوه نو هغه د مقابلې لپاره تيار سو، د کوفې څخه د حضرت علي رضي الله عنه لښکر روان سو او د فرات پر سند باندي په پوري وتلو سره هغه خوا ته يې پړاو واچوی، بلي خوا ته د دمشق څخه د حضرت معاويه رضي الله عنه فوځ راووتی او د حضرت علي رضي الله عنه دلښکر دمقابلې لپاره روان سو مخکي د دواړو لښکرو د مقدمة الجيش په منځ کي مقابله وسوه ددې څخه وروسته دواړه فوځونه د جنګ مېدان ته په رسېدو سره د يو بل خلاف کمربسته سول، حضرت علي رضي الله عنه دخپل فوځ کمان کوی او حضرت امير معاويه دخپل فوج سپه سالار وو، بيا ځينو حضراتو دصلح هڅه پېل کړل مگر د سازشيانو جال دواړو خواوو ته خپور سوی وو ځکه دا کوښښ ناکام سو، ددې څخه وروسته مجبورا جنګ پېل سو، تقريبا تر يوه مياشت پوري د جنګ رخ انفرادي وو او د باقاعده جنګ څخه ډډه کېدل، ددې څخه وروسته تر يوې مياشتي پوري انفرادي جنګ هم معطل سو او په دغه وخت کي د صلح هڅي بيا پېل سوې مگر دصلح دغه دوهم کوښښ هم ناکام سو، په پای کي د صفر په اوله نېټه په ۳۷ ھ کي جنګ شروع سو او تر يوې اونۍ زيات ډېر سخت جنګ وسو

د حضرت علي رضي الله عنه د فوج پله درنه وه او د جنګ په اخري ورځ هغه مرحله هم راغلې وه چي حضرت امير معاويه په پوره توګه ماته خوړلې وه مگر په خاص وخت کي دامير معاويه خاص مشير د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه حکمت عملي سمدستي جنګ بندي وکړه، ددې څخه

وروسته دواړو ډلو دا فيصله وکړه چي د حکم ثالث په ذريعه د قرآن کريم په رڼا کي صلح وکړل سي، د امير معاويه ﷛ له خوا حضرت عمرو بن العاص ﷛ او د حضرت علي ﷛ له خوا ابوموسی اشعري ﷛ پر ثالث جوړولو باندي اتفاق وسو، که څه هم د هغه د ځينو اسبابو او عواملو په وجه د هغه تفصيل ډېر اوږد دی، دغه صلح کامیابه نه سوه او د حضرت علي او امير معاويه په منځ کي د دغه اختلاف لړۍ ختمه نه سوه مګر دا خطرناک جنګ چي د جنګ صفين په نامه مشهور سو د زياتي تباهۍ او ويني بهېدو څخه پرته بندي سي دغه جنګ مسلمانانو ته ډېر تاوان ورسوی او د اسلام شان او شوکت يې ډېر مجروح کړ. ويل کيږي چي د دغه جګړي په دوران کي په مجموعي توګه اوويا زره مسلمانان د جنګ په ميدان کي بوخت وه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

يوه واقعه او يوه پيشګوئي

﴿۵۱۷۵﴾: عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَرَجَ

د حضرت ابي واقد ليثي ﷛ څخه روايت دی چي کله رسول الله ﷺ د حنين غزا ته تشريف يووړ

إِلَى غَزْوَةِ حُنَيْنٍ مَرَّ بِشَجَرَةٍ لِلْمُشْرِكِينَ كَانُوا يُعَلِّقُونَ عَلَيْهَا أَسْلِحَتَهُمْ

نو د مشرکانو پر يو درخته تېر سو چي په هغې کي به مشرکانو خپل وسله زړول او د هغې نوم

يُقَالُ لَهَا ذَاتُ أَنْوَاطٍ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ اجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ كَمَا لَهُمْ ذَاتُ

(ذات انواط) وو، ځيني خلکو (چي نوی نوی يې اسلام راوړی وو) عرض وکړ اې د الله رسوله! زموږ لپاره هم يو ذات انواط وټاکئ لکه څرنګه چي د مشرکانو ذات نواط دی،

أَنْوَاطٍ فَقَالَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللهِ هٰذَا كَمَا قَالَ قَوْمُ

رسول الله ﷺ وفرمايل: سبحان الله دا خو تاسو داسي سوال وکړ لکه څرنګه چي د موسی عليه

مُوسَى اجْعَلْ لَنَا إِلٰهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَرْكَبُنَّ سُنَّةَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ. رواه الترمذي.

السلام قوم د هغه څخه کړې وو دوئ ويلي وه زموږ لپاره معبود مقرر کړه لکه دوئ لره چي معبودان وي، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده البته تاسو به د هغه خلکو پر لار ځئ کوم چي ستاسو څخه مخکي وه. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۱۴\۴۱۲، رقم: ۲۱۸۰.

تشريح: انواط د نوط جمع ده چي مصدر دی او معنی يې د زړولو ده، پر هغه درختي باندي وسله زړول کېدل ځکه د هغه نوم ذات انواط سو، او دا نوم د هغه خاص درختي وو،

چي ستاسو څخه مخکي تېر سوي دی: ددې څخه مراد د تېرو امتونو خلک يعني يهود او نصارى وغيره مراد دي، دحديث ددغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ د هغه خلکو په اړه د ناراضۍ او بې اطمينانۍ اظهار وکړ، که چيري تاسو خلک داسي خبري او کارونه کوئ نو څه عجيبه خبره نه ده چي دګمراهۍ او حد څخه په وړاندي کېدو سره پر هغه لار باندي ولاړ سي کوم چي تېرو امتونو اختيار کړې وه، او د الله ﷻ غضب وهلي بندګان ګرځول سوي وه.

د يو څو فتنو ذکر

﴿۵۱۷۶﴾: وَعَنِ بْنِ الْمُسَيَّبِ قَالَ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الأُولَى يَعْنِي مَقْتَلَ عُثْمَانَ

د حضرت بن مسيب رحمه الله څخه روايت دی چي لومړنۍ فتنه واقع سوه، يعني د حضرت عثمان

فَلَمْ تُبْقِ مِنْ أَصْحَابِ بَدْرٍ أَحَدًا ثُمَّ وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ الثَّانِيَةُ يَعْنِي الْحَرَّةَ فَلَمْ

رضي الله عنه قتل، نو په جنګ بدر کي ګډون کونکي صحابه کرامو کي هيڅوک پاته نه سو، بيا دويمه فتنه واقع سوه يعني د حره واقعه،

تُبْقِ مِنْ أَصْحَابِ الْحُدَيْبِيَةِ أَحَدًا ثُمَّ وَقَعَتِ الثَّالِثَةُ فَلَمْ تَرْتَفِعْ وَلِلنَّاسِ طَبَاخٌ. رواه البخاري.

په دې کي د هغه صحابه کرامو څخه هيڅوک پاته نه سو کوم چي په حديبيه کي شريک سوې وه، بيا دريمه فتنه واقع سوه او پورته نه سول تر څو پوري چي په خلکو کي قوت وو (يعني په هغه کي د صحابه کرامو او تابعينو طاقت ختم سو او په هغوئ کي يو سړی هم پاته نه سو). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۸۱-۸۲، رقم: ۷۱۲۱.

د لغاتو حل: طباخ: ای احد. هيڅوک.

تشريح: د (يعني) لفظ د هغه راوي دي چا چي دا روايت د حضرت ابن مسيب رحمه الله څخه نقل کړی دی، يعني هغه راوي ددغه لفظ په ذريعه وضاحت وکړ چي حضرت ابن مسيب رحمه الله د کومي فتنې ذکر وکړ د هغه څخه مراد کومه فتنه وه، (فلم يبق ...الخ) دغه الفاظ د ابن مسيب دي چي د هغه څخه مراد دادی چي اصحاب بدر د هغه وخت څخه په حق رسيدلي وه کله چي د اولي فتنې يعني ۳۵ھ کال کي د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت دردناکه پېښه سوې وه، او بيا په ۳۶ھ کي دوهمه فتنه يعني د حره د جنګ واقعه پېښه سوه نو تر هغه وخت پوري هيڅ بدري صحابي پاته نه وو، نو د ذکر سوي الفاظو مراد دانه دی چي اصحاب بدر د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت په فتنه کي وژل سوي وه، د دغه وضاحت څخه وروسته جمله هم پر دغه الفاظو باندي منطبق کول پکار دي او خلاصه دا چي د بدر په غزا کي د شرکت په برکت الله تعالى بدري صحابه کرام خوندي وساتل او هغوئ بيا د فتنې مخ ونه لېدی، په اصحاب بدر کي تر ټولو په پای کي چي کوم صحابي وفات سوی دی هغه حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه دی چي د حره د واقعې څخه څو کاله مخکي وفات سوی وو.

حره د مدينې شاوخوا سيمو ته وايي چي دهغه ځمکه سخته ډبرينه او توره وه، يزيد ابن معاويه له خوا چي کوم لښکر پر مدينې باندي حمله کړې وه د هغه جنګ پيل ددغه ځای څخه سوی وو، ددغه واقعې تفصيل په تېرو صفحو کي بيان سوی دی.

د طباخ معنی د ټينګوالي، قوت او چاغوالي دي، او کله دغه لفظ پر خپل برعکس معنی کي هم استعمالېږي د مثال په توګه ويل کيږي چي د فلاني سړي طباخ نسته يعني دهغه عقل نسته، په هغه کي خير نسته، د حديث د آخري جملې څخه مراد دادی چي کله هغه فتنه ظاهره سوه نو هغه وخت په خلکو کي يعني په تابعينو کي صحابي پاته نه وو، په ځينو حاشيو کي ليکلي دي چي ابن مسيب رحمه الله کومي دريمي فتنې ته اشاره وکړه د هغه څخه د ابن حمزه خارجي فتنه خروج مراد دي چي د مروان ابن محمد ابن مروان ابن الحکم په زمانه کي پېښه سوې وه، کرماني ليکلي دي چي ددغه فتنې څخه مراد د حضرت عبد الله ابن زبير رضي الله عنه او د اهل مکه خلاف دحجاج ابن يوسف هغه جنګ مراد دی چي دعبدالملک ابن مروان په زمانه کي په ۷۴ھ کي سوی وو، او د هغه په نتيجه کي د کعبې شريفي تخريب هم سوی وو، مګر دا مراد په هغه صورت کي صحيح کېدای نسي کله چي د حديث د آخري جملې مطابق دا وويل سي چي ددغه فتنې پر وخت په دنيا کي هيڅ صحابي موجود نه وو ځکه چي د حجاج بن يوسف د جنګ په وخت کي صحابه کرامو ډېر موجود وه، ځکه نو اول مراد صحيح دی.

بَابُ الْمَلَاحِمِ (دوژلو بيان)

ملاحم د ملحمة جمع ده چي معنی يې د سخت جنګ ده، او د اصل په اعتبار دغه لفظ د لحم څخه وتلی دی چي د غوښو معنی يې ده او د لحمة څخه مشتق دی چي د جامې په معنی کي استعماليږي او که چيري ماده اشتقاق يې لحم وګرځول سي نو د قتل او قتال يا ځای د قتال څخه په ملحمة سره تعبير په دې سبب وي چي قتل او قتال يا د جنګ په ميدان کي د مقتولين د غوښو ټوټې معلوميږي او که چيري دا ومنل سي چي د ملحمة لفظ د لُحمه څخه اخيستل سوی دی نو بيا به دا ويل کيږي چي په يو جنګ کي خلک په خپلو کي داسي موښتي وي لکه څرنګه چي جامه په بدن پوري موښتې وي ځکه قتل او قتال په ملحمة سره تعبير کيږي، مګر اوله خبره مناسب ده او د ملحمة لفظ د جنګ او لوی پېښي په معنی کي هم استعماليږي او په صراح کي ليکلي دي چي د ملحمة معنی د فتنې او لوی جګړې ده .

څرګنده دي وي چي په دغه باب کي د هغه جګړو ذکر دی چي د هغه تعلق په خاصه توګه د يو خاص ډلو سره او خاصو ځايو سره وي ځکه چي د هغه جګړو د يادوني لپاره دغه بېل باب قائم سوی دی او په باب الفتن کي د هغو يادونه نه ده سوې ځکه چي په باب الفتن کي د قتل او قتال په لحاظ چي کوم ذکر سوی دی هغه په عامه توګه دی او په اجمال سره دی .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

يو څو هغه شيان د کومو چي د قيامت څخه مخکي واقع کېدل ضروري دي

﴿۵۱۷۷﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نه به قائميږي

السَّاعَةُ حَتّٰى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ تَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ دَعْوَتُهُمَا

قيامت تر هغه وخته پوري تر څو چي دوې لوی ډلي په خپل منځ جګړه ونه کړي، د دغه ډلو په منځ کي به سخته جګړه وي او د دواړو به يوه دعوا وي (يعني دواړي ډلي به مسلماني وي)

وَاحِدَةٌ وَحَتّٰى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ قَرِيبٌ مِنْ ثَلَاثِينَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ

او قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي دجالان فسادي او چم بازه خلک

پیدا نسي چي پر الله ﷻ او رسول ﷺ باندي درواغ وایي د دوئ شمیر به د دیرشو نژدې وي

رَسُولُ اللّٰہِ وَحَتّٰی یُقْبَضَ الْعِلْمُ وَتَكْثُرَ الزَّلَازِلُ وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ وَتَظْهَرَ

په هغوئ کي به د هر یوه دا خیال وي چي هغه د الله رسول دی، او قیامت به تر هغه وخته پوري نه قائمیږي تر څو پوري چي علم پورته نه سي، ډیري زلزلې رانه سي او تر څو پوري چي زمانه نژدې رانه سي (یعني برکت د زمانې به ولاړ سي د خلکو عمرونه به کم سي) او تر څو پوري چي

الْفِتَنُ وَيَكْثُرَ الْهَرْجُ وَهُوَ الْقَتْلُ وَحَتّٰی یَكْثُرَ فِيكُمُ الْمَالُ فَيَفِيضَ حَتّٰی یُهِمَّ

فتنې ظاهري نه سي او تر څو پوري چي هرج یعني قتل واقع نه سي او تر څو پوري چي مال او دولت دومره زیات نه سي چي مال والا به د خیرات اخیستونکي په لټولو کي پریشانه سي

رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ وَحَتّٰی يَعْرِضَهُ فَيَقُولَ الَّذِي يَعْرِضُهُ عَلَيْهِ لَا

او کوم سړي ته چي صدقه ورکوي هغه به ورته وایي چي ما ته ددې حاجت او ضرورت نسته (د امام مهدي په زمانه کي به د خلکو سره دومره مال وي چي هیڅ محتاج به پاته نه سي چي د بل چا څخه زکوة قبول کړي)،

أَرَبَ لِي بِهِ وَحَتّٰی يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ وَحَتّٰی يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ

او قیامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي خلک په اوږده او پراخ عمارتونو فخر ونه کړي، او تر څو پوري چي یو سړی د یو قبر سره په تیریدو سره دا وو وایي چي

فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ وَحَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا

کاش! زه دده پر ځای وای، او تر څو پوري چي لمر د مغرب څخه راونه خیژي او خلک یې

النَّاسُ يَعْنِي آمَنُوا أَجْمَعُونَ فَذَلِكَ حِينَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ

ووینې نو ټول به ایمان راوړي خو دا به هغه وخت وي چي د چا ایمان راوړل به ګټه نه ورکوي تر

آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا، وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ

څو پوري چي هغه مخکي ایمان نه وي راوړی او نه به یو نیک کار کول ګټور وي تر څو پوري

چي د وړاندي څخه يې يو نيک کار نه وي کړی او البته قيامت به په داسي حال کي قائم سي چي

الرَّجُلَانِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا فَلَا يَتَبَايَعَانِهِ وَلَا يَطْوِيَانِهِ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ

دوو کسانو به د رانيولو او خرڅولو لپاره جامه خلاصه کړې وي او هغوئ به نه خرڅه کړې وي او نه به يې رانغښتې وي چي قيامت به راسي ، البته په داسي حال کي به قيامت قائم سي چي يو

انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ فَلَا يَطْعَمُهُ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهُوَ يُلِيطُ حَوْضَهُ

سړی به د خپلي اوښي شيدې لويشلې وي او هغه به يې څښلي نه وي چي په دغه وخت کي به قيامت راسي او البته په داسي حال کي به قيامت راسي چي يو سړی به د خپل حوض جوړونه

فَلَا يَسْقِي فِيهِ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلَا يَطْعَمُهَا.

متفق عليه .

کوي چي په هغه کي په خپلو حيوانانو باندي اوبه وڅښي او هغه به لا اوبه ورکړي نه وي چي په دغه وخت کي به قيامت راسي او په داسي حال کي به قيامت قائم سي چي يو سړی به خولې ته ګوله پورته کړې وي او هغه به ونه خوري سي چي قيامت به راسي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۸۱، رقم: ۷۱۲۱، ومسلم ۱\۱۳۷، رقم: ۲۴۸- ۱۵۷.

د لغاتو حل: لقحته: ای ناقة ذات لبن. (شېدې کوونکې اوښه). يلبط: ای يطين ويصلح. (سمونه)

تشريح : او د دواړو به يوه دعوه وي: مطلب دا دی چي په خپلو کي د جګړه کونکو ډلو به د دين دعوه وي او د هغه دواړو ډلو خلک به مسلمانان وي ، يا دا چي دواړي ډلي به مسلماني وي او پر حق به دعوه کوي او په هغوئ کي هره ډله بهٔ دا ګمان او عقيده لري چي د دين او ديانت په اعتبار بالکل پر صحيح لار دي .

علماؤ ليکلي دي چي په دغه ارشاد کي د کومو دوو ډلو ذکر سوی دی د هغوئ څخه دحضرت علي او حضرت امير معاويه رضي الله عنهما پيروي او ملګري مراد دي لکه څرنګه چي حضرت علي رضي الله عنه د امير معاويه رضي الله عنه د خلکو په اړه فرمايلي وه چي (اخواننا بغوا علينا) هغه هغوئ زموږ وروڼه دي چي زموږ پر خلاف بغاوت کوي، همدارنګه په يوه روايت کي دا هم نقل سوي دي چي په هغه زمانه کي د حضرت علي رضي الله عنه د لښکر يو سړي د حضرت معاويه رضي الله عنه د لښکر يو سړی بندي کړ او د حضرت علي رضي الله عنه په خدمت کي يې حاضر کړ، يو بل سړي د هغه په

بندي لېدلو سره د هغه پر حال افسوس وکړاو وه یې ویل چي زه بنه پوهېږم چي دا مسلمان دی ، حضرت علي رضي الله عنه چي دا واورېدل نو په ناخوښي سره یې وفرمایل : دا څه وایې دا سړی خو اوس هم مسلمان دی ، نو دغه حدیث د خوارجو قول باطل ثابتوي چي وایي د دواړو ډلو یعني حضرت علي او حضرت معاویه رضي الله عنهما د ډلو ملګري کافران دي ، همدارنګه ددغه حدیث په ذریعه د روافضو دا قول هم باطلیږي چي وایي د حضرت علي رضي الله عنه مخالفین کافران دي، د هغوئ شمېر به دېرشو ته نژدې وي: همدارنګه په یو حدیث کي تېر سوي دي چي د هغوئ شمېر به دېرش وي او دلته دهغوئ شمېر دېرشو ته نژدې فرمایل سوی دی نو کیدای سي چي وروسته کوم حدیث تېر سوی دی هغه دلته د نقل کونکي حدیث څخه وروسته وي ، یعني په دې اړه چي مخکي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کومه وحي راغلې وه او هغه ته د اجمال او ابهام په توګه کومه خبره معلوممه سوې وه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړل چي د هغوئ شمېر به دېرشو ته نژدې وي مګر بیا وروسته د دوهمي وحي په ذریعه دا شمېر مقید او متعین کړل سو نو ددغه وحي د راتلو څخه وروسته چي کوم حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړ په هغه کي یې وفرمایل چي د هغوئ شمېر به دېرش وي ، همدارنګه د دېرشو شمېر والا دغه حدیث د هغه روایت خلاف نه دی چي هغه طبراني د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل کړی دی چي: (لا تقوم الساعة حتى يخرج سبعون كذابا)، ځکه چي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه د روایت مقصد محض د هغه درواغجنانو کثرت ظاهرول دي او دهغوئ یو خاص شمېر یې نه دی بیان کړی یا دا چي د اوویا څخه دېرش به هغه وي چي د نبوت دعوه وکړي او پاته به درواغجن هم وي چي دنبوت دعوه نه کوي او یو احتمال دا هم دی چي د اوویا شمېر د هغه دېرش څخه پرته دی او همدارنګه د ټولو مجموعي شمېر سل دی.

تر څو چي علم پورته نه کړل سي: دلته د علم څخه مراد هغه خاص علم دی چي په شریعت کي ګټه ورکونکی علم ورته ویل کیږي او هغه د قرآن او حدیث او د هغه د متعلقاتو علم دی او هغه ته د دین علم هم ویل کیدای او دعلم د پورته کېدو څخه مراد د اهل سنت والجماعت د علماؤ د دنیا څخه رخصت کېدل دي کله چي علم حامل او علم رسونکي په دنیا څخه پورته کړل سي نو علم به هم له دنیا څخه پورته کړل سي نو د آخري زمانې د نښو څخه یوه نښه دا هم ده چي هغه وخت به مخلص او باعمله او حقیقي علماء رخصت سي او په دنیا کي به د جاهل او بې علم خلکو زیاتوب سي ځکه ویل سوي دي چي د عالم مرګ د عالم مرګ دی.

تر څو چي زلزلې ډېري نسي: دلته د زلزلو څخه مراد یا خو واقعي زلزلې دي چي د مخکي بنو رېدل او زلزلې به ډېري سي ، یا دلته د زلزلو لغوي معنی مراد ده چي د ډول ډول آفتونه او

بلاوي به نازل سي او نوي نوي پېښي به دانسان مال او ځان ته تاوان رسوي ،

تر څو چي زمانه نژدې نسي: ددې څخه د حضرت امام مهدي مبارکي زمانې ته اشاره کول مقصد دي هغه وخت به ټول د مځکي مخ د امن، او خوشحالۍ فضاء جوړه سي او د خلکو ژوند به په ډېر اطمينان او سکون سره تيرېږي ځکه د وخت رفتار به تېز معلومېږي او د مصيبت او سختۍ زمانه چي هر څومره مختصره وي مګر ډېره اوږده به معلومېږي لکه د عيش او آرام زمانه چي څومره اوږده وي بيا هم ډېره لنډه معلومېږي.

ويکثر الهرج وهو القتل: دلته د (هو القتل) الفاظ د راوي دي چي د هغه په ذريعه د هرج وضاحت سوی دی چي ددغه لفظ څخه مراد د قتل او قتال واقع کېدل دي چي د فتنو په سبب په وجود کي راځي.

حتی يهم رب المال: په دې اړه څو قولونه دي يو خو دا چي دغه لفظ د ياء په پېښ او دهاء په زېر سره ويل کيږي او رب د يهم د مفعول کېدو په وجه منصوب وګرځول سي، په دغه صورت کي د يهم فاعل به فقدان وي، او من يقبل الصدقت مضاف محذوف دی، دغه قول زيات مشهور دی او ددې مطابق معنی به دا وي چي هغه وخت کله چي زمانه نژدې سي د خلکو سره به د مال او دولت زياتوب سي چي دصدقې او خيرات مال اخيستونکی به نه وي چي د هغه سړي پيدا کول به سخت وي چي د صدقې او خيرات مال قبول کړي ، يعني يو شتمن او مالدار سړی به په فقير پسي ګرځي چي هغه ته د صدقې او خيرات مال ورکړي مګر په ټولنه کي به داسي خلک ډېر کم وي تر دې چي د هغه کس پيدا کول به ډېر سخت او د پرېشانۍ کار وي چي د صدقې او خيرات مال قبول کړي يعني شتمن سړی به په فقير او مسکين پسي ګرځي ددې لپاره چي د صدقې او خيرات مال هغه ته ورکړي مګر په ټولنه کي د مسکينانو او اړو کسانو د کمۍ په وجه به په ډېر مشکل سره هغه ته فقير او مسکين تر لاسه سي ، دوهم قول دا دی چي (يهم) د هم څخه او په معنی د قصد او ارادې دی د ياء په زور او دهاء په پېښ سره وويل سي او رب مرفوع وګرځول سي نو په دغه صورت کي به د رب المال د يهم فاعل وي او من يقبل د هغه مفعول ، همدارنګه د عبارت معنی به دا وي چي هغه وخت چي د قيامت زمانه نژدې سي ستاسو به مال او دولت دومره زيات سي تر دې چي يو شتمن به په يو داسي سړي پسي ګرځي چي هغه ته د صدقې او خيرات مال ورکړي.

او دريم قول دا دی چي د يهم لفظ فعل متعدي وي چي د هغه معنی د غمجن کېدو ده، په دغه صورت کي به د يهم لفظ د ياء په زور سره او دهاء په پېښ سره ويل کيږي او رب به منصوب

ګرځول کیږي، همدارنګه د هغه عبارت معنی به دا وي چي یو داسي فقیر او مفلس پیدا کول چي د صدقې او خیرات مال قبول کړي شتمن سړی به په غم کي اخته کړي.

تر څو چي دماڼیو په جوړولو فخر شروع نه سي: یعني خلک به محض د هستوګني د اړتیا لپاره یا د یو نیک مقصد لپاره لوی لوی ماڼي جوړوي بلکه هغه لوی لوی ماڼی به محض د خپل شان او شوکت د اظهار او فخر لپاره وي، تر دې چي هغوئ به د دغه مقصد پوره کولو لپاره د مسجدو او هدیرو د ورانولو څخه هم پرهېز نه کوي او د هغه پر ځای به د عیش او عشرت، سیر او تفریح مرکزونه او باغونه جوړوي.

او کله چي یو سړي پر قبر باندي تیرېږي: مطلب دادی چي یا خو په دیني معاملاتو کي د غم او کثرت په وجه یا د آفاتو د زیاتوب په وجه د قبرو په لېدو سره حساس زړونه او پر آخرت باندي یقین لرونکي خلک دا ویل پیل کړي چي کاش موږ په دنیا کي نه وای او په دغه قبرو کي پراته وای چي موږ دغه آفتونه او مصیبتونه نه وای لېدلي.

تر څو چي لمر د لویدیځ د خوا څخه را ونه خیژي: ددغه جملې وضاحت به په باب علامات بین یدي الساعة کي راسي، دلته یوازي دا ښودل کافي دي چي په کومه ورځ لمر د لوېدیځ څخه راوخیژي په هغه ورځ به د توبې دروازه بنده سي، ددې څخه وروسته بهٔ د چا توبه نه قبلیږي لکه څرنګه چي په خپله په حدیث کي فرمایل سوي دي.

او دهغوئ ایمان راوړل به ګټه نه ورکوي: ځیني حضراتو ددغه عبارت مفهوم دا بیان کړی دی چي کله لمر د لوېدیځ څخه راوخیژي نو هغه وخت به د توبې دروازه بنده سي نو هغه وخت یا د هغه وخت څخه وروسته به د چا ایمان راوړل چي تر دې مخکي یې ایمان نه وي راوړی او د یو چا نیکي کول چي تر مخه یې نیکي نه وي کړې هیڅ ګټه نه کوي.

څرګنده دي وي چي دلته د نیکۍ څخه مراد توبه ده یعني څرنګه چي په هغه ورځ د هغه سړي ایمان ګټه نه ورکوي همدارنګه په هغه ورځ به د هغه د ګناهو څخه توبه کول هم ګټه نه ورکوي، ددې څخه معلومه سوه چي په (او کسبت في ایمانها خیرا) کي د او لفظ د تنویع لپاره دی چي د هغه مطلب دادی چي رسول الله ﷺ لکه چي دا وفرمایل چي په هغه ورځ به نه د شرک څخه توبه کول په کار راځي او نه به د ګناهو څخه توبه کول ګټه کوي.

چي دوو کسانو به خپله جامه خلاصه کړې وي: دلته د دواړو خوا ته د جامو خلاصولو اضافت په دې اعتبار دی چي په هغوئ کي به یو سړی (پلورونکی) د هغه جامې مالک وي او هغه دوهم سړي چي (رانیونکی دی) هغه به د هغه جامې رانیونکي وي نو په دې اعتبار د جامې

اضافت هغه ته هم سوی دی .

د حديث د اخري برخي خلاصه داده چي قيامت به ناڅاپه راځي ، ټول خلک به په خپلو کارو کي بوخت وي چي ناڅاپه به د قيامت په پنجه کي راګېر سي، چا ته به دومره مهلت نه وي چي هغه د خوړلو لپاره ګوله په لاس کي پورته کړې وي هغه خولې ته يوسي ، څرګنده دي وي چي دقيامت ناڅاپه راتلو څخه مراد مخکي د شپيلۍ ناڅاپه پوکل دي چي په هغه اواز سره به ټول خلک مړه سي مګر مخکي به د قيامت ټولي نښي ووينې .

د ځينو قومو د جنګ پيشګوئي

﴿۵۱۷۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ وحَتّٰى تُقَاتِلُوا التُّرْكَ صِغَارَ الْأَعْيُنِ حُمْرَ الْوُجُوهِ ذُلْفَ الْأُنُوفِ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ. متفق عليه .

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به تر هغو پوري نه راځي تر څو پوري چي تاسو د هغه قوم سره جګړه ونه کړئ چي د هغوئ څپلۍ به د وريښتانو لرونکو پوست څخه وي او تر څو پوري چي تاسو د هغه ترکو سره ونه جنګيږې چي د هغوئ سترګي به کوچنۍ کوچنۍ ، سره مخونه او پيتي پزې وي، ګويا د هغوئ مخونه به د غبرګو پوستو د ډال په ډول وي .بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٠٤، رقم: ٢٩٢٨، ومسلم ١٤\٢٢٣٣. رقم: ٦٢- ٢٩١٢.

د لغاتو حل: المِجان: الترس. (سپر)

تشريح : د ترکو څخه مراد هغه خلک دي چي د هغوي نسب د يافث بن نوح څخه را روان دی ، ددغه خلکو د مورث اعلی نوم ترک وو ځکه نو دهغه ټول قوم ته ترک ويل کيږي، دا هغه قوم دی چي هغوي ته مګولين يا تاتاري هم ويل کيږي .

مَجَان: په اصل کي د مجن جمع ده چي معنی يې د سپر ده، ددغه قوم د خلکو مخونو ته د سپر سره تشبيه په دې اعتبار ورکړل سوې ده چي دهغوئ مخونه پلن وي او دهغوئ مخونه په ګولايي سره خپاره او د غوښو څخه ډک وي، مګر د هغوئ د مخونو ګولايي او دغوښو څخه په ډکېدو سره د سپر سره تشبيه ورکړل سوه چي د پوست څخه جوړ سوی وي .

﴿۵۱۷۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي

حَتَّى تُقَاتِلُوا خُوزًا وَكَرْمَانَ مِنَ الْأَعَاجِمِ حُمْرَ الْوُجُوهِ فُطْسَ الْأُنُوفِ صِغَارَ

تر څو پوري چي تاسو د خوز او كرمان سره ونه جنگيږي چي د عجميانو څخه دي، او د هغوئ مخونه به سره وي چيت پزي كوچني

الْأَعْيُنِ وُجُوهُهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ. رواه البخاري و في رواية له عن عمرو بن تغلب عراض الوجوه.

ستركي مخونه به يې غبرگ ډالونه وي د هغوئ څپلي به ويښتان لرونكي وي.. بخاري او د بخاري په يو بل روايت كي د عمرو بن تغلب دا الفاظ دي چي د هغوئ مخونه به پلن وي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۶۰۴، رقم: ۳۵۹۰.

د لغاتو حل: خُوزا: اى الجيل من الناس واسم لجميع بلاد خوزستان.

تشريح: خوز د هغه قوم نوم دى كوم چي په خوزستان كي اوسيږي، او كرمان د يو مشهور ښار نوم دى چي په ايران كي واقع دى.

د يهوديانو سره د فيصله كونكي جنگ پيشگوئي

﴿۵۱۸۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته

السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ حَتَّى يَخْتَبِئَ

پوري نه راځي تر څو پوري چي مسلمانان به د يهودو سره جنگ ونه كړي، مسلمانان يهود ووژني تر دې چي

الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ فَيَقُولُ الْحَجَرُ أَوِ الشَّجَرُ يَا مُسْلِمُ يَا

د ډبري لاندي يا د درختي شا ته به (يهودي) پټيږي او ډبره او درخته به دا وايي اې مسلمانه!

عَبْدَ اللّٰهِ هٰذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ إِلَّا الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ. رواه مسلم.

اې د الله بنده ! دې خوا ته راسه زما په خوا كي يهودي پټ سوى دى او قتل يې كړه خو غرقد درخته (به داسي نه وايي) ځكه چي دا د يهوديانو درخته ده. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲۲۳۹\۱۴، رقم: ۸۲– ۲۹۲۲.

تشريح : غرقد د يوې درختي نوم دى چي اغزي لرونكې ده، د مدينې د هديرې نوم جنت البقيع اصل نوم بقيع الغرقد ځكه دى چي چيري هديره ده مخكي دا د غرقد خطه وه ، خلاصه دا چي كله مسلمانان د يهوديانو خلاف فيصله كونكى جنګ كوي او پر هغوئ غلبه تر لاسه كوي نو هغه وخت به يو يو يهودي د درختو او ډبرو لاندي پټيږي چي د مسلمانانو د وهلو ځخه وساتل سي مګر د كومي ډبري او درختي لاندي چي پټ سي هغه به په چغه مسلمان ته وايي چي راسه او زما تر شا يهودي پټ سوى دى، مګر هغه وخت به غرقد يو داسي درخته وي چي دنورو درختو پر خلاف خپل شا ته پټ يهودي به نه ظاهروي بلكه هغوئ ته به پناه وركړي او مسلمانانو ته به د هغه معلومات نه ښيي.

پاته سوه دا خبره چي دنورو درختو پر خلاف د غرقد رويه داسي ولي ده ؟ نو كېداى سي چي د غرقد د يهوديانو سره يو خاص نسبت او تعلق وي چي د هغه حقيقت الله ﷻ او د هغه رسول ته معلوم دى. ځينو حضراتو ليكلي دي چي په دغه حديث كي د يهوديانو د عبرتناك حشر چي كومه وړاند وينه ذكر سوې ده، په اخره زمانه كي به د دجال ظاهرېدو ځخه وروسته دا وړاند وينه پوره سي ، هغه وخت به يهوديان د دجال د تابع او فرمانبردار كېدو په حيثيت او د هغه په مرسته د مسلمانانو پر خلاف جنګ كوي وروسته به مسلمانان د الله ﷻ په مرسته ديهوديانو فتنه د تل لپاره ختم كړي.

د يو قحطاني كس په باره كي پيشګوئي

﴿۵۱۸۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَخْرُجَ رَجُلٌ مِنْ قَحْطَانَ يَسُوقُ النَّاسَ بِعَصَاهُ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل : قيامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي قحطان څخه يو سړی پيدا نه سي چي په خپل لکړي سره به خلک پر يو طرف بيايي، بخاري او مسلم .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٤٥، رقم: ٣٥١٧، ومسلم ٤\٢٢٣٢، رقم: ٦٠ - ٢٩١٠.

تشريح : قحطان هغه قوم ته وايي چي په هغه زمانه کي د يمن څخه تر عمان پوري اباد وه، دغه قوم په اصل کي د ارفخشه بن سام بن نوح د اولاد څخه د هغه ښاخ نسل دی چي د هغوئ مورث قحطان وو، نو د دغه نسل خلکو ته قحطان ويل کيږي، د يمن خلک د دغه نسل سره تعلق لري .

چي خلک به په لکړه شړي: ددې څخه مراد هغه سړي مکمل تسلط او اقتدار دی چي خلک به د هغه اطاعت او پيروي کوي او هغه به په اتفاق سره خپل سردار ګڼي او هغه سړی به د جابرانه تسلط او تسخير په ذريعه هغه خلک داسي په واک کي کړي چي هيڅوک به د هغه د اطاعت څخه د ګرځېدو همت نسي کولای، او يو احتمال دادی چي دلته د شړلو څخه مراد په حقيقي توګه شړل دي يعني پر کومو خلکو چي غلبه تر لاسه کوي هغه به د خپل لکړي په ذريعه داسي شړي لکه څرنګه چي څاروي شړل کيږي، ځيني حضرات وايي چي په دغه حديث کي د کوم قحطاني سړي ذکر سوی دی هغه کېدای سي هغه سړی وي چي په راتلونکي حديث کي د جهجاه په نامه ياديږي .

﴿٥١٨٢﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَذْهَبُ الْأَيَّامُ وَاللَّيَالِي حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْجَهْجَاهُ، وفي رواية حتي يملك رجل من الموالي يقال له الجهجاه . رواه مسلم .

د حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل : شپه او ورځ (يعني زمانه) به نه تيريږي تر څو پوري چي پاچا به سي يو سړی چي د هغه نوم به جهجاه وي ، او په يوه روايت کي داسي دي تر هغو چي پاچا به سي يو سړی چي د غلامانو څخه به وي او جهجاه به ورته ويل کيږي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ٤\٢٢٣٢، رقم: ٦١ - ٢٩١١.

تشريح: موالي د مولی جمع ده چي معنی يې د غلام ده، لفظ د جهجان په ځينو نسخو کي په دوو هاوو سره منقول دی او په ځينو نسخو کي د آخري هاء څخه پرته جهجا منقول دی .

د کسرئ د خزانې په باره کې پیشګوئي

﴿۵۱۸۳﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَتَفْتَحَنَّ عِصَابَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ كَنْزَ آلِ كِسْرَى الَّذِي فِي الْأَبْيَضِ. رواه مسلم.

د حضرت جابر بن سمرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چې د مسلمانانو یو ډله به د کسرئ (د ایران پاچا) خزانه فتح کړي چې سپین محل کې به وي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۴\۲۲۳۷، رقم: ۷۸-۲۹۱۹.

تشریح: په آل کسرئ کې د آل لفظ زائد دی یا د دغه لفظ څخه د کسرئ کورنۍ او رعیت مراد دی، لفظ د کسرئ په اصل کې د خسرو معرب دی چې په هغه زمانه کې د فارس (ایران) د پاچا لقب خسرو خاقان، د مصر دپاچا لقب فرعون، دیمن د پاچا لقب قیل او دحبش د پاچا لقب نجاشي وو.

ابیض په اصل کې د یو محل نوم دی چې په مدائن کې واقع دی او هغه ته به اهل فارس سفید کوشک وایه، د دغه ښار د مسلمانانو کېدو څخه وروسته د دغه محل پر ځای مسجد جوړ کړل سو چې اوس هم موجود دی او رسول الله ﷺ د کسرئ د خزانې تر لاسه کولو لپاره چې کومه وړاند وینه فرمایلې وه هغه د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې پوره سوه او فاتح مسلمانانو هغه خزانه ښکاره کړه.

د روم او فارس د فتح پیشګوئي

﴿۵۱۸۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلَكَ كِسْرَى لَا يَكُونُ كِسْرَى بَعْدَهُ وَقَيْصَرٌ لَيَهْلِكَنَّ ثُمَّ لَا يَكُونُ قَيْصَرٌ بَعْدَهُ وَلَتُقْسَمَنَّ كُنُوزُهُمَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَسَمَّى الْحَرْبَ خَدْعَةً. متفق علیه.

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کسرئ به هلاک سي او د هغه څخه وروسته به هیڅ کسرئ پاته نه سي او البته قیصر (د روم پاچا) به هلاک سي او بیا به هیڅ قیصر نه وي او د دغه دواړو پاچاهانو خزانې به د الله جل جلاله په لار کې وویشل سي او رسول الله ﷺ د جنګ نوم دوکه او چم

اینبې دي. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۵۷\۶، رقم: ۳۰۲۷، ومسلم ۲۲۳۷\۱۴، رقم: ۷۶- ۲۹۱۸.

تشریح: کسری هلاک سو: دغه جمله خبریه ده ددې څخه دا مفهوم مراد دی چې ډېر ژر به د کسری هیواد تباه او برباد سي. ددې خبري ادا کولو لپاره د ماضي صیغه په دې اعتبار استعمال سوې ده چې ددې خبري واقع کېدل یو یقیني امر دی یا د ماضي صیغه استعمالول د دعاء او نېک فالۍ په توګه وو،

بل کسری به نه وي: یعني د رسول الله ﷺ په زمانه کي چي کوم کسری وو د هغه په اړه رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي بس دا آخري کسری دی او د هغه څخه وروسته به بل کسری نه وي.

څرګنده دي وي چي رسول الله ﷺ دا خبره هغه وخت وفرمایل کله چي رسول الله ﷺ ته دا خبره معلومه سوه چي رسول الله ﷺ پر دعوت اسلام باندي مشتمل خپل مکتوب د یو کسری قاصد په ذریعه استولی وو، هغه کسری د کبر له موخي په ټیرلو سره رېزه رېزه کړ.

و سمي الحرب خدعة: او رسول الله ﷺ د جنګ نوم دوکه او فریب کښېښنود، دغه جمله پر قال رسول الله.. الخ، باندي عطف ده یعني راوي د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کولو څخه وروسته دا وویل چي د سمي الحرب خدعة خلاصه داده چي رسول الله ﷺ دا زیری بیان کړ چي مسلمانانو ته به د قیصر او کسری پر هیوادو فتح تر لاسه سي او هغوئ ته به د هغوئ اموال او جائیداد او خزانو باندي قبضه تر لاسه سي نو د ټولو په ذهن کي دا خبره راغلې وي چي دغه شیان بېله جنګ څخه نه تر لاسه کیږي او جنګ یو داسي شی دی چي د دوکې او فریب محتاج دی ځکه رسول الله ﷺ خپل صحابه کرام خبردار کړل چي د جنګ په اړه په دغه وهم کي مه لویږئ چي جنګي تاکتیک او فریب، خیانت او بدخیانتي د ډول څخه دي بلکه دا حقیقت په ذهن کي ساتل چي د دښمنانو سره د جنګ په صورت کي د حکمت عملي په توګه داسي فریب او حیلې اختیارول ضروري وي چي په جنګ کولو او طاقت او مرسته تر لاسه کولو کي لوی دخل لري د مثال په توګه پر دښمن باندي د رعب اچولو لپاره دا ضروري وي چي د هغه پر ذهن باندي خپل طاقت د زیاتوب او د اسلحې د زیاتوب رعب واچوي،

ددغه مقصد لپاره فرضي کاروايي او درواغ رېښتیا بیانونو مرسته اخیستل کیږي، یا د جنګ په میدان کي د دښمن په سترګو کي د خاورو اچولو لپاره د جنګ د میدان څخه لیري او وروسته کېدل چي دښمن دا وګڼي چي مقابل د جنګ تاب نه درلودو په وجه د مېدان په پرېښودو سره تښتېدلی دی او کله چي دښمن په دغه غلط فهمۍ کي سي نو د یوې خوا څخه پر هغه حمله

کول او همدارنګه نوري ډېري کاروایاني داسي حیلې دي چي دهغو د جنګي حکمت عملي په توګه اختیارولو اجازه ده مګر څرګنده دي وي چي د عهد ماتولو په هیڅ حالت کي اجازه نسته، کله چي عهد او قول وکړل سي نو په هغه عمل په هر صورت ضروري دي ، او د معاهدې ماتول هیڅکله صحیح نه دي .

لفظ دخدعة که څه هم د خاء په پېښ سره نقل سوی دی او په زور سره هم، همدارنګه د دال په جزم او پېښ سره هم نقل کیږي او په زور ره هم ، مګر دغه لفظ د خاء په زور او دال په جزم سره زیات فصیح دی .

﴿۵۱۸۵﴾: وَعَنْ نَافِعِ بْنِ عُتْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَغْزُونَ جَزِيرَةَ الْعَرَبِ فَيَفْتَحُهَا اللّٰهُ ثُمَّ فَارِسَ فَيَفْتَحُهَا اللّٰهُ ثُمَّ تَغْزُونَ الرُّومَ فَيَفْتَحُهَا اللّٰهُ ثُمَّ تَغْزُونَ الدَّجَّالَ فَيَفْتَحُهُ اللّٰهُ. رواه مسلم.

د حضرت نافع بن عتبه رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما څخه وروسته به تاسو د جزیره عرب سره غزا کوئ او الله تعالی به هغه ستاسو په لاس فتح کړي بیا به تاسو د فارس سره غزا کوئ او الله تعالی به پر هغو هم فتح درکړي بیا به تاسو د روم سره جنګیږي پر هغو به هم الله تعالی فتح درکړي بیا به تاسو د دجال سره غزا کوئ او بیا به پر هغه هم تاسو ته الله تعالی فتح درکړي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۴\ ۲۲۲۵، رقم: ۳۸- ۲۹۰۰.

تشریح: د عربي نړۍ هغه خطه چي هغه په جزیرة العرب سره تعبیر کیږي د پخوانیو جغرافیه پوهانو مطابق نجد او حجاز (همدارنګه د دوو مقدسو ښارو لکه مکه او مدینې) ، یمامه، یمن او عروض باندي مشتمل دي، ددغه خطې په جنوب کي بحر عرب، په مشرق کي خلیج عربي او خلیج عمان ، په مغرب کي بحر احمر دی، ددې په شمال کي دریاء فرات بهیږي، ددغه خطې د هغه شمالي خشکۍ سر تر ډېره حده پوري پرېکوي او په دې وجه دغه خطې ته مجازا جزیرة العرب ویل کیږي کنه په اصل کي دغه خطه په جزیره نماء عرب سره نومول کیږي، هغه اهل عرب جزیره نما ته هم توسعا جزیره وایي .

د جزیره عرب سره جنګ کیږي: مطلب دادی چي دا وخت زما په ژوند کي د جزیره العرب کومي سیمي چي د اسلام د رڼا څخه محرومي سوي دي زما څخه وروسته دهغوئ تیاره هم

ختميږي ، ځيني سيمي به د تبليغ په ذريعه د كفر د تيارو څخه ووځي او پاته سيمو سره به تاسو جنګ كوئ، او د الله تعالى د مرستي او نصرت په ذريعه به فتح تر لاسه كوئ ، همدارنګه هر څلور خوا ته به د اسلام بيرغ لوړ وي او په ټوله جزيره عرب كي به يو كافر هم پاته نسي .

د دجال سره به جنګ كوئ: مطلب دادى چي دجال كوم وخت ظاهر سي نو په خپل طلسماتي طاقت او مكر و فريب په ذريعه به لوى شور جوړ سي او پر ځينو هيوادو به واک تر لاسه كړي مګر كله چي تاسو د هغه مقابلې ته راووځئ نو الله تعالى به هغه مقهور مغلوب كړي او كوم هيواد او سيمه چي د هغه په قبضه كي راغلي وي هغه به بيرته ستاسو په واک او قبضه كي راسي همدارنګه به دجال د حضرت عيسى عليه السلام په لاس مړ سي چي د مسلمانانو لپاره به د اسمان څخه راكښته سي . څرګنده دي چي په دغه ارشاد كي د رسول الله ﷺ خطاب صحابه كرامو ته دى مګر اصل مخاطب ټول امت دى .

هغه شپږ شيان چي د قيامت څخه مخكي واقع كيدل يې ضروري دي

﴿۵۱۸۶﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دى چي زه د تبوک په غزا كي د رسول الله ﷺ په

غَزْوَةِ تَبُوكَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ فَقَالَ اعْدُدْ سِتًّا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ مَوْتِي ثُمَّ

خدمت كي حاضر سوم ، هغه وخت رسول الله ﷺ د پوست په خيمه كي وو ، رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت مخكي تاسو شپږ شيان وشميرئ : (۱) لومړى زما مرګ (۲) بيا

فَتْحُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ ثُمَّ مُوتَانٌ يَأْخُذُ فِيكُمْ كَقُعَاصِ الْغَنَمِ ثُمَّ اسْتِفَاضَةُ

بيت المقدس فتح كول (۳) بيا عامه وبا چي په تاسو كي به د پسونو د ناروغۍ په ډول خپره سي

الْمَالِ حَتَّى يُعْطَى الرَّجُلُ مِائَةَ دِينَارٍ فَيَظَلُّ سَاخِطًا ثُمَّ فِتْنَةٌ لَا يَبْقَى بَيْتٌ

(۴) بيا د مال دومره زياتوالى كه يو سړى ته سل ديناره وركړل سي نو هغه به يې سپک ګڼي او پر هغه به ناراضه وي (۵) بيا د فتني ظاهريدل چي

مِنَ الْعَرَبِ إِلَّا دَخَلَتْهُ ثُمَّ هُدْنَةٌ تَكُونُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ بَنِي الْأَصْفَرِ فَيَغْدِرُونَ

د هغه څخه به د عربو هيڅ يو كور پاته نه سي (۶) بيا صلح چي ستاسو او د بني الاصفر تر مينځ

به وي، بيا به روميان خيانت (غدر) وکړي

فَيَأْتُونَكُمْ تَحْتَ ثَمَانِينَ غَايَةً تَحْتَ كُلِّ غَايَةٍ اثْنَا عَشَرَ أَلْفًا. رواه البخاري.

او ستاسو په مقابله کي به د اتيا بيرغو لاندي راسي چي په هغه کي به تر هر بيرغ لاندي دوولس زره کسان وي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٧٧، رقم: ٣١٧٦.

د لغاتو حل: مُوتان: اى وباء. (وباء). قُعلص الغنم: هو داء ياخذ الغنم فلايلبثها ان تموت. بني الاصفر: هم الروم (روميان). غاية: اى راية. (رايه او نظر).

تشريح: په بيت المقدس کي د مقدس لفظ د ميم په زور، د قاف په جزم او دال په زېر سره د مجلس وزن دی مگر د مشکوة په يوه نسخه کي دغه لفظ د ميم په پېښ، د قاف په زور او د دال په تشديد سره د معظم پر وزن منقول دی.

قعاص د څارويو يوې ناروغې ته وايي چي په عامه توگه د څارويو په سينه کي وي او هغه سمدستي هلاکوي، رسول الله ﷺ چي دلته د کومي عامي وباء وړاند وينه وفرمايل او هغه ته د څارويو ناروغي يعني قعاص سره تشبېه ورکړل دده ځخه مراد د طاعون هغه وباء ده چي د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په زمانه کي پيدا سوه او د هغه په وجه په درو ورځو کي اوويا زره کسان هلاک سول، هغه وخت به د مسلمانانو فوجي مرکز په عمواس کي وې چي بيت المقدس ته نژدې واقع يو ځای دی، په دغه مناسبت سره هغه وباء ته طاعون عمواس ويل کيږي، دا اول طاعون دی چي د اسلام په زمانه کي راغلی او د هغه په وجه دومره سخت ځاني تاوان وسو.

بين الاصفر روميانو ته ويل کيږي ځکه چي دغه خلکو د کوم نسل سره تعلق درلودی نو هغوئ د مورث اعلی روم بن عيص بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم، رنگ زړ او سپين ته مائل وو او دغه بدني رنگ په ټول کي تر لاسه کيږي.

غاية: هغه نښي يا بېرغ ته وايي چي دلښکر د مشر سره وي او په ځينو روايتو کي دغه لفظ د ياء پر ځای په ب سره يعني غابة منقول دی چي معنی يې د ځنگل ده، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي د نښو او بېرغو د زياتوب په وجه هغه لښکر ته د درختو سره تشبېه ورکړل سوې ده او دلښکر پر شمېر د ذکر کولو مقصد دلښکر زياتوب بيانول دی.

د رومیانو سره د جنگ او د دجال د قتل پیشګوئي

﴿۵۱۸۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ

د حضرت ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت تر راتګ مخکي

حَتَّى يَنْزِلَ الرُّومُ بِالْأَعْمَاقِ أَوْ بِدَابِقٍ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِمْ جَيْشٌ مِنَ الْمَدِينَةِ مِنْ

به رومیان مقام اعمق یا ابق ته راسي او د هغو مقابلې ته به د مدیني یو لښکر ولاړ سي چي په

خِيَارِ أَهْلِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ فَإِذَا تَصَافُّوا قَالَتِ الرُّومُ خَلُّوا بَيْنَنَا وَبَيْنَ الَّذِينَ سَبَوْا

هغه کي به د هغه وخت ښه خلک وي هر کله چي هغوئ د جنګ لپاره صف بندي وکړي نو رومیان به هغوئ ته وايي موږ د هغه خلکو سره جنګ کوو چي زموږ خلک يې بندیان کړي دي

مِنَّا نُقَاتِلْهُمْ فَيَقُولُ الْمُسْلِمُونَ لَا وَاللهِ لَا نُخَلِّي بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا فَيُقَاتِلُونَهُمْ

ستاسو سره جنګ نه کوو هغه خلک زموږ مقابلې ته راولیږئ، مسلمانان به په جواب کي ورته وایي قسم په خدای موږ داسي نه کوو موږ خپل هغه مسلمانان ورونه ستاسو مقابلې ته نه

فَيَنْهَزِمُ ثُلُثٌ لَا يَتُوبُ اللهُ عَلَيْهِمْ أَبَدًا وَيُقْتَلُ ثُلُثُهُمْ أَفْضَلُ الشُّهَدَاءِ عِنْدَ اللهِ

رالیږو بیا به مسلمانان د رومیانو سره په جنګ سي او په هغوئ کي به دریمه برخه مسلمانان د رومیانو څخه وتښتي، الله جل جلاله به د هغه تښتېدونکو مسلمانانو توبه هیڅکله قبوله نه کړي او دریمه برخه مسلمانان به شهیدان سي او د الله جل جلاله په نیز به دا غوره شهیدان وي

وَيَفْتَتِحُ الثُّلُثُ لَا يُفْتَنُونَ أَبَدًا فَيَفْتَتِحُونَ قُسْطَنْطِينِيَّةَ فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ

او فتحه به ورکړي دریمي برخي ته د دوئ چي الله تعالی به يې هیڅکله په فتنه کي اخته نه کړي بیا به مسلمانان قسطنطنیه فتح کړي او ددې څخه وروسته چي مال غنیمت ویشي

الْغَنَائِمَ قَدْ عَلَّقُوا سُيُوفَهُمْ بِالزَّيْتُونِ إِذْ صَاحَ فِيهِمُ الشَّيْطَانُ إِنَّ الْمَسِيحَ قَدْ

نو خپلي توري د زیتون پر درخته وزړوي نو شیطان به د هغوئ په منځ کي دا اعلان وکړي چي

خَلَفَكُمْ فِي أَهْلِيكُمْ فَيَخْرُجُونَ وَذَلِكَ بَاطِلٌ فَإِذَا جَاءُوا الشَّأْمَ خَرَجَ فَبَيْنَمَا هُمْ

ستاسو په نه شتون کي مسیح دجال ستاسو کورونو ته ورسیدی، ددې اوریدو سره به مسلمانان

د قسطنطنیه ښخه ووځي او دا خبره به درواغ وي ، د قسطنطنیه ښخه چي ووځي او مسلمانان شام ته ورسیږي نو دجال به خروج وکړي

يُعِدُّونَ لِلْقِتَالِ يُسَوُّونَ الصُّفُوفَ إِذْ أُقِيمَتْ الصَّلَاةُ فَيَنْزِلُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ

مسلمانان به ذهغه سره د جنګ لپاره تیار سي او خپل صفونه به سم کړي ، چي د لمانځه وخت به راسي او حضرت عیسی علیه السلام به د اسمان ښخه راکښته سي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّهُمْ فَإِذَا رَآهُ عَدُوُّ اللّٰهِ ذَابَ كَمَا يَذُوبُ الْمِلْحُ فِي الْمَاءِ فَلَوْ

او مسلمانانو ته به لمونځ ورکړي بیا چي د الله تعالی دښمن دجال حضرت عیسی علیه السلام ووینی نو دجال به داسي ویلي سي لکه ښرنګه چي مالګه په اوبو کي ویلي کیږي که

تَرَكَهُ لَانْذَابَ حَتَّى يَهْلِكَ وَلَكِنْ يَقْتُلُهُ اللّٰهُ بِيَدِهِ فَيُرِيهِمْ دَمَهُ فِي حَرْبَتِهِ . رواه مسلم .

حضرت عیسی علیه السلام هغه د لږ وخت لپاره نور پریږدي او قتل یې نه کړي نو هغه به ټول ویلي سي او په خپله به مړ سي مګر الله تعالی به یې د حضرت عیسی علیه السلام په لاس قتل کړي ، بیا به حضرت عیسی علیه السلام د خپلي نیزې وینه ټولو مسلمانانو ته وښیي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\ ۲۲۲۱، رقم: ۳۴– ۲۸۹۷.

د لغاتو حل: دابق: اسم موضع في المدينة. (په مدینه کي د یو ځای نوم). المسيح: الدجال.

تشريح: اعماق د مدینې په شاوخوا کي د یو ځای نوم وو ، همدارنګه وابق د مدینې د یو بازار نوم وو مګر یو قول چي زیات صحیح معلومیږي دادی چي په دغه حدیث کي د مدینې ښخه مراد د حلب ښار دی ، د شام په هیواد کي واقع دی او اعماق او وابق د حلب او انطاکیه په منځ کي د دوو ځایو نومونه دي نو په کتاب ازهار کي دا وضاحت سوی دی چي د مدینې ښخه مدینة النبي مراد اخیستل صحیح نه دي ځکه چي په حدیث کي د کومي زمانې د واقع کېدو په اړه وړاند وینه سوې ده هغه وخت به مدینه منوره د یو ډول تخریب کارۍ یا د یو اسلام دښمن د حملې ښخه بالکل محفوظ او مامون وي، ځینو حضراتو دا صحیح ویلي دي چي د مدینې ښخه مراد دمشق دی (چي الله تعالی به هغوئ هیڅکله معاف نه کړي) ددې ښخه دې ته اشاره کول مقصد دي چي د هغه خلکو مرګ به د کفر په حالت کي وي او هغوئ به هیڅکله د عذاب ښخه

خلاصون تر لاسه نه کړي ، (هغه مسلمانان به الله تعالی هیڅکله په فتنه کي اخته نه کړي) د دې مطلب دادی چي هغه مسلمانان به په کوم ایماني استقلال او عزیمت او اسلامي شجاعت ثبوت ورکړي د هغه انعام به هغوئ ته دا ورکول کیږي چي الله تعالی به هغوئ هیڅکله په یو آفت او مصیبت کي اخته نه کړي او نه به د ځان او مال د ازمائش سره مخامخ سي چي الله تعالی به هغه مسلمانان هیڅکله هم په غریبۍ کي اخته نه کړي ، نو دا د دې خبري زیری دی چي د هغه خلکو خاتمه به په خیر وي ، د قسطنطنیه په اړه زیات مشهور او صحیح قول دادی چي په اصل کي دغه لفظ قسطنطینیة دی مګر ځینو حضراتو قسطنطینة ته زیات صحیح ویلي دي، د مشکوة په اکثرو نسخو کي دغه لفظ داسي دی او په ځینو کي تر ټولو لوی ښارو کي یو لوی ښار ویل سوي دي ، دغه ښار قسطنطین پاچا ته منسوب دی چي هغه په ۳۳۰ کال کي اباد کړی وو او د دغه سلطنت پایتخت یې جوړ کړی وو اوس دغه ښار ته چي ابناء فاسفورس په غاړه واقع دی استنبول ویل کیږي او د ترکي هیواد یو ښار دی ، ترمذي وضاحت کړی دی چي دغه ښار د صحابه کرامو په زمانه کي فتح سوی وو او د تاریخي روایاتو مطابق په دوهم ځل دا ښار په ۱۴۵۳عیسوي کال کي د عثماني ترکو په ذریعه فتح سو ، تر اوسه پوري پر دغه ښار د مسلمانانو قبضه ده مګر د دغه حدیث څخه دا معلومیږي چي دغه ښار به یو وار د مسلمانانو د لاس څخه وځي او بیا به په آخري زمانه کي کله چي قیامت نژدې سي مسلمانان به دا فتح کړي او په هغه زمانه کي به د دجال ظهور وي.

فاذا جاء الشام: کله چي مسلمانان شام ته ورسیږي ، دلته د شام څخه مراد قدس دی چي هغه ته بیت المقدس ویل کیږي نو په ځینو روایتو کي د دې تصریح هم سته او هغه وخت به بیت المقدس د شام په شاوخوا کي وي اوس دا په فلسطین کي دی چي یو ځانګړی هېواد دی.

او د مسلمانانو امامت به کوي: مطلب دادی چي هغه وخت به لمونځ تیار وي ځکه حضرت عیسی علیه السلام به ټولو مسلمانانو ته لمونځ ورکړي او په هغه مسلمانانو کي به امام مهدي علیه السلام هم وي مګر په یوه روایت کي دادي چي هغه وخت به عیسی علیه السلام د امامت لپاره امام مهدي مخکي کړي او هغه ته به ووایي چي د دغه لمانځه اقامت ستا د امامت لپاره سوی دی ځکه ته لمونځ ورکړه ، په دغه خبره سره به د حضرت عیسی علیه السلام مقصد دې ته اشاره کول وي چي ته اوس د مسلمانانو امیر او امام یې ځکه نو ما ته ستا پیروي کول پکار دي نه دا چي ته به زما اتباع کوې او په ځانګړې توګه د امام او امیر جوړېدو لپاره نه یم را استول سوی بلکه زما راتلل یوازي ستا د مرستي او تائید لپاره دي نو حضرت مهدي علیه السلام به د هغه لمانځه امامت وکړي

مګر د هغه څخه وروسته امامت به حضرت عيسی علیه السلام کوي، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي په حديث کي دا فرمايل سوي دي چي (فامهم) او د مسلمانانو امامت به کوي، نو دا تغليبا ارشاد فرمايل سوی دی يعني وروسته به حضرت عيسی علیه السلام هغوئ ته لمونځ ورکوي نو په دې اعتبار سره د هغه د لمانځه په اړه هم وويل چي هغه د مسلمانانو امامت کوي يا دا چي امامت به کوي ددې مجازي معنی مراد ده يعني حضرت عيسی علیه السلام به هغه وخت د مسلمانانو امام (حضرت مهدي) ته د امامت لپاره ووايي.

﴿۵۱۸۸﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ إِنَّ السَّاعَةَ لَا تَقُوْمُ حَتّٰى يُقْسَمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي قيامت تر هغه وخته نه راځي تر هغو چي

مِيْرَاثٌ وَلَا يُفْرَحَ بِغَنِيْمَةٍ ثُمَّ قَالَ عَدُوٌّ يَجْمَعُوْنَ لِأَهْلِ الشَّامِ وَيَجْمَعُ لَهُمْ

ميراث ويشل کيږي، مسلمانان به د غنيمت د مال سره خوشحاله نه وي، ددې وروسته ابن مسعود رضي الله عنه ددې حقيقت شرح وکړه او وه يې ويل: د شام والا سره د جنګ لپاره به کافران لښکر

أَهْلُ الْإِسْلَامِ يعني الروم فَيَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُوْنَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا

جمع کړي (يعني روميان) بيا به مسلمانان يو ډله وټاکي د روميانو د مقابلې لپاره نو مسلمانان به راټول کړي داسي ډله چي تر هغو به د جنګ څخه نه راګرزي

غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُوْنَ حَتّٰى يَحْجُزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ فَيَفِيْءُ هٰؤُلَاءِ وَهٰؤُلَاءِ كُلٌّ غَيْرُ

چي غلبه تر لاسه کړي او د مرګ تر وخته پوري وجنګيږي يا به مړه کيږي يا به غازي کيږي، بيا به دواړې ډلي پر يو بل حمله وکړي تر دې چي پر دواړو لښکرونو به شپه راسي او دواړې ډلي به خپل خپل ځايو ته ولاړې سي او هيڅ يو ته به فتح تر لاسه نه سي

غَالِبٍ وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ ثُمَّ يَشْتَرِطُ الْمُسْلِمُوْنَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا

مګر د مسلمانانو هغه ډله چي مخکي ليږل سوې وه هغه به فنا سي بيا (په دويمه ورځ د مسلمانانو يو بله ډله به په دغه شرط سره) مخکي ورو ليږل سي او دواړې ډلي به د يو بل سره

غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُوْنَ حَتّٰى يَحْجُزَ بَيْنَهُمُ اللَّيْلُ فَيَفِيْءُ هٰؤُلَاءِ وَهٰؤُلَاءِ كُلٌّ غَيْرُ

مقابله وکړي تر دې چې شپه به په منځ کي حائله سي او دواړي ډلي به ولاړي سي په هغو کي به هیڅوک کامیاب نه وي

غَالِبٍ وَتَفْنَى الشُّرْطَةُ ثُمَّ يَشرطه الْمُسْلِمُونَ شُرْطَةً لِلْمَوْتِ لَا تَرْجِعُ إِلَّا

خو د مسلمانانو دغه ډله به هم فنا سي (په دریمه ورځ) بیا به د مسلمانانو یو ډله مخکي ولیږل

غَالِبَةً فَيَقْتَتِلُونَ حَتَّى يُمْسُوا فَيَفِيءُ هَؤُلَاءِ وَهَؤُلَاءِ كُلٌّ غَيْرُ غَالِبٍ وَتَفْنَى

سي او دواړي ډلي به په جنګ سي تر دې چې ماښام به سي او دواړي ډلي به ولاړي سي چې په هغو کي به هیچا ته فتح تر لاسه نه سي او د مسلمانانو هغه ډله به فنا سي

الشُّرْطَةُ فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الرَّابِعِ نَهَدَ إِلَيْهِمْ بَقِيَّةُ أَهْلِ الْإِسْلَامِ فَيَجْعَلُ اللَّهُ

چې مخکي لیږل سوې وه هغه به، په څلورمه ورځ به د مسلمانانو پاته فوځ د جنګ لپاره تیار سي او الله تعالی به هغو ته پر کفارو فتح ورکړي

الدَّبْرَةَ عَلَيْهِمْ فَيَقْتُلُونَ مَقْتَلَةً إِمَّا قَالَ لَا يُرَى مِثْلُهَا وَإِمَّا قَالَ لَمْ يُرَ مِثْلُهَا

دا جنګ به سخت وي، مسلمانان به ښه په نره جنګ وکړي او داسي به وجنګیږي چې تر اوسه پوري به یې داسي جنګ نه وي لیدلی

حَتَّى إِنَّ الطَّائِرَ لَيَمُرُّ بِجَنَبَاتِهِمْ فَمَا يُخَلِّفُهُمْ حَتَّى يَخِرَّ مَيِّتًا فَيَتَعَادُّ بَنُو

تر دې که یو مرغه د لښکر د شاوخوا څخه تیریدل وغواړي نو هغه به لښکر وروسته پرې نه ښودلای سي یعني د لښکر څخه به مخکي تللای نه سي چې پر مځکه به مړ را وغورځي بیا به

الْأَبِ كَانُوا مِائَةً فَلَا يَجِدُونَهُ بَقِيَ مِنْهُمْ إِلَّا الرَّجُلُ الْوَاحِدُ فَبِأَيِّ غَنِيمَةٍ

د یوه پلار زامن حساب سي چې په حساب سل نفره به وي په هغوئ کي به یوازي یو نفر ژوندی پاته وي، بیا به په کوم غنیمت سره هغوئ

يُفْرَحُ أَوْ أَيُّ مِيرَاثٍ يُقَاسَمُ فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ سَمِعُوا بِبَأْسٍ هُوَ أَكْبَرُ مِنْ

خوشحاله سي یا کوم میراث به په هغوئ کي تقسیم کړل سي (یعني کوم ځای چې د مړو دومره

شمیر وي هلته به د غنیمت مال سره او د میراث تقسیم سره چا ته خوشحالي تر لاسه سي)
مسلمانان به په داسي حال کي وي چي هغوئ ته به د یو سخت جنگ خبر راسي چي د دغه جنگ

ذَلِكَ فَجَاءَهُمُ الصَّرِيخُ إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَلَفَهُمْ فِي ذَرَارِيِّهِمْ فَيَرْفُضُونَ مَا

څخه به هم زیات سخت وي بیا به مسلمانان دا اواز واوري چي دجال د هغوئ په نه شتون کي د هغوئ اهل او عیال ته را رسیدلی دی، د دې خبر په اوریدو سره به هغوئ هر څه وغورځوي او

فِي أَيْدِيهِمْ وَيُقْبِلُونَ فَيَبْعَثُونَ عَشَرَةَ فَوَارِسَ طَلِيعَةً قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

د دجال په لور به متوجه سي او لس سپاره به مخکي ولیږي چي هغوئ د دښمن حال معلوم کړي،

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْرِفُ أَسْمَاءَهُمْ وَأَسْمَاءَ آبَائِهِمْ وَأَلْوَانَ خُيُولِهِمْ هُمْ

رسول الله ﷺ وفرمایل: مسلمانان چي کوم سپاره مخکي ولیږي د هغوئ او د هغوئ د پلرونو نومونه هم ما ته معلوم دي او د هغوئ د آسونو رنگ هم،

خَيْرُ فَوَارِسَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ يَوْمَئِذٍ أَوْ مِنْ خَيْرِ فَوَارِسَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ

يَوْمَئِذٍ. رواه مسلم

هغوئ به غوره سپاره وي یا هغه وخت به د مځکي پر مخ د غوره سپارو څخه وي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۴\۲۲۲۳، رقم: ۳۷- ۲۸۹۹.

د لغاتو حل: یتشرط: اي یهیؤن ویعدون. الدبرة: ای الهزیمة.

تشریح: شُرطة د فوځ هغه زړه وري ډلي ته وایي چي د لښکر مخته وي او خپل ځانونه د قربانولو لپاره د جنگ په میدان کي تر ټولو مخکي کړي، د یتشرط لفظ د دې څخه مشتق دی چي د باب تفعل څخه دی او دغه لفظ باب افتعال څخه هم نقل سوی دی، په هر حال دغه جمله (لا ترجع الا غالبة) په اصل کي د شرط للموت صفت دی مطلب دا چي د مسلمانانو لښکر کومه زړه وره ډله مخکي استوي هغوئ ته به هدایت کوي چي هغوئ په هیڅ حال کي هم د دښمن د مقابلې څخه و نه تښتي بلکه په سخت حال کي هم ټینګ د رېږئ تر دې چي د دښمن په فناء کولو سره کامیاب راستانه سئ او یا د خپلي قضاء غېږ ته ورسئ.

فیجعل الله الدبرة علیهم: دلته د دبر لفظ د ادبار اسم دی، په ځینو روایتو کي د دغه لفظ د

ابر هم منقول دی مګر د معنی په اعتبار په دواړو کي فرق نسته ځکه چي د دواړو معنی د ماتي ده.
فباي غنيمة: دلته د فاء حرف تفريعه يا فيصحه دی او طيبي ليکلي دي چي دغه جمله په نحوي ترکيب سره جزاء ده د شرط محذوف چي مخکي هم په مبهمه توګه وفرمايل چي قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو چي د ميراث وېش کېدل موقوف نسي او مسلمانان د غنيمت مال ته خوشحاله کېدل پرېږدي ، ددې څخه وروسته ددغه جملې وضاحت مخکي عبارت (عدو يجمعون ...الخ) دښمن يعني کافر به د اهل اسلام سره د جنګ لپاره د فوج او طاقت جمع کولو په ذريعه او ددې وضاحت مذکوره صفت يعني ډېر خوفناک جنګ کېدو او په هغه کي د دومره ځاني تاوان کېدو سره دا مقيد کړ چي ميراث به ځکه نه ويشل کيږي او مسلمانانو ته به د غنيمت په مال ځکه خوشحالي نه کيږي چي چيري ډېر ځاني تاوان سوی وي او ډېر خلک وژل سوي وي نو هلته ويشل چيري او خوشحالي چيري ده . د طليعه لفظ د کريمه پر وزن دی او ددې معنی د هغه سړي ده چي هغه د دښمن خبر راوړلو لپاره مخکي واستول سي نو د هغه لس سپارو څخه د فوځ د جاسوسانو هغه ډله مراد ده چي د دښمن حالت ، قوت او شمېر معلومولو لپاره د دښمن خوا ته استول کيږي .

د رسول الله ﷺ دغه ارشاد چي زه د هغوئ او د هغوئ د پلرو نومونه پېژنم، دا د اعجاز نبوت دليل دی يعني دا د رسول الله ﷺ معجزه ده چي په سوونو کلو وروسته واقع کېدونکي يو واقعې سره متعلق کسانو نومونه او دهغوئ د پلرونو نومونه او دهغوئ د اسونو رنګونه هم پېژني او دا خبره ددې دليل هم دی چي دالله تعالی علم دهر شي پر کليات او جزئيات باندي محيط دی او هغه چي د کوم شي په اړه څومره مناسب وګڼل هغومره علم يې خپل رسول ته ورکړ .

د جنګ څخه پرته د يو ښار د فتح کېدو پشګوئي

﴿۵۱۸۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هل سَمِعْتُمْ
د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا تاسو اورېدلی دی
بِمَدِينَةٍ جَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَرِّ وَجَانِبٌ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ
نوم د يو ښار چي د هغه يو طرف په وچه کي او يو طرف په درياب کي وي صحابه کرامو عرض وکړ:هو،رسول الله ﷺ اوريدلی مو دی،
قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَغْزُوَهَا سَبْعُونَ أَلْفًا مِنْ بَنِي إِسْحٰقَ فَإِذَا جَاءُوهَا

رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت څخه مخکي به د حضرت اسحاق علیه السلام د اولاد اویا زره کسان دد غه ښار د خلکو سره جنګ وکړي

نَزَلُوا فَلَمْ يُقَاتِلُوا بِسِلَاحٍ وَلَمْ يَرْمُوا بِسَهْمٍ قَالُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ

هر کله چي د حضرت اسحاق علیه السلام اولاد دغه ښار ته راسي نو ددې په شاوخوا کي به قیامت قائم سي او هغوئ به په وسلو سره جنګ نه کوي او نه به پر ښاریانو غشي اوروي هغوئ یوازي لااله الاالله والله اکبر وایي

فَيَسْقُطُ أَحَدُ جَانِبَيْهَا قَالَ ثَوْرٌ بن يزيد الراوي لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا قَالَ الَّذِي فِي

او د ښار د یوې خوا دیوال به ونړیږي ، ثور بن یزید راوي وایي زما خیال دی چي ابوهریرة رضی الله عنه دا هم ښودلی وه چي

الْبَحْرِ ثُمَّ يَقُولُوا الثَّانِيَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيَسْقُطُ جَانِبُهَا الْآخَرُ ثُمَّ

د دریاب خوا ته دیوال به ونړیږي بیا به دویم وار لااله الاالله والله اکبر وایي او د ښار دویم دیوال به ونړیږي بیا به

يَقُولُوا الثَّالِثَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ فَيُفَرَّجُ لَهُمْ فَيَدْخُلُوهَا فَيَغْنَمُوا

په دریم وار لااله الاالله والله اکبر وایي او د ښار لار به خلاصه سي او هغوئ به په ښار کي داخل سي او په ښار کي چي څه وي هغه به غنیمت کړي

فَبَيْنَمَا هُمْ يَقْتَسِمُونَ الْمَغَانِمَ إِذْ جَاءَهُمُ الصَّرِيخُ فَقَالَ إِنَّ الدَّجَّالَ قَدْ خَرَجَ فَيَتْرُكُونَ كُلَّ شَيْءٍ وَيَرْجِعُونَ. رواه مسلم.

بیا چي هغوئ د غنیمت مال ویشي نو یو نارې وهونکی به راسي او وایي به چي دجال راوتلی دی نو هغوئ به هر شی پریږدي او ددجال په لور به متوجه سي . مسلم. (ددې حدیث څخه معلومه سوه چي د دښمن سره د جنګ کولو لپاره لااله الاالله والله اکبر ویل هم غوره وسله ده).

تخریج: صحیح مسلم: ۱۴\ ۲۲۳۸، رقم: ۷۸- ۲۹۲۰.

تشریح: رسول الله ﷺ چي په دغه ارشاد کي د کوم ښار ذکر کړی دی د هغه په اړه د یو شارح دا

وینا ده چي هغه ښار په روم کي واقع دی او ځینو حضراتو ویلي دي چي په ظاهره دا معلومیږي چي د هغه ښار څخه قسطنطینه مراد دی چي د هغه د مسلمانانو په ذریعه فتح کېدل د قیامت د نښو څخه یوه نښه ده مگر احتمال دی چي هغه ښار د قسطنطنیة څخه پرته د بل ښار نوم دی، ځکه د قسطنطینیه فتح کېدل به د جنګ په ذریعه وي حال دا چي د ذکر سوي ښار د فتح ظاهري سبب یوازي د تهلیل او تکبیر نعره ښودل سوې ده.

د حضرت اسحاق علیه السلام د اولاد څخه مراد د شام خلک دي چي دهغوئ نسب د حضرت ابراهیم علیه السلام د دوهم زوی حضرت اسحاق علیه السلام څخه پېل کېږي او هغه خلک به مسلمانان وي، په دې اړه یو احتمال دادی چي د هغه په فتح کونکو خلکو کي د حضرت اسحاق علیه السلام د اولاده څخه پرته د حضرت اسماعیل علیه السلام د اولاد خلک هم وي چي د حجاز او سیدونکي به وي ، دهغوئ څخه پرته نور مسلمانان به هم شامل وي په دغه صورت کي به ویل کیږي چي د حضرت اسحاق علیه السلام د اولاد ذکر د اختصار لپاره پر نورو خلکو باندي د فوقیت ورکولو په وجه دی او دریم احتمال دادی چي د دغه ښار فتح کونکي خلک به یوازي د حضرت اسحاق علیه السلام د اولاد څخه وي.

د وسلې په ذریعه به جنګ نه وي ددې څخه وروسته بیا دغه ارشاد چي نه به د هغوئ خواته غشي غورځي، د تعمیم څخه وروسته د تخصیص ذکر په توګه دی چي د هغه مقصد د وسلې د نه استعمالولو تاکید دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د قیامت د نژدې کېدو هغه پېښي چي یو په بل پسي به ظاهر یږي

﴿۵۱۹۰﴾: عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمْرَانُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ خَرَابُ يَثْرِبَ وَخَرَابُ يَثْرِبَ خُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ وَخُرُوجُ الْمَلْحَمَةِ وفَتْحُ قُسْطَنْطِينِيَّةَ وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ. رواه ابوداؤد

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د بیت المقدس آبادي به د مدینې د خرابۍ او تباهي باعث سي او د مدینې خرابي به د فتنې او جنګ عظیم د پیدا کیدو او په واقع کي د راتلو سبب وي او د فتنې ظهور به د قسطنطینه د فتح سبب وي او د قسطنطینه فتح به د دجال د راوتلو سبب وي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۴\۴۸۲، رقم: ۴۲۹۴.

تشریح: د بیت المقدس ابادي د مدینې منورې د تخریب سبب په دې اعتبار گرځول سوی دی چي بیت المقدس او د هغه په سیمو کي به د غیر مسلمانانو غلبه سي او هغوئ به پر واکمن سي کله چي دغه دښمنان پر بیت المقدس باندي خپاره سي نو د هغوئ نظرونه به پر مدینه ولوېږي او ددغه پاک ښار د تخریب منصوبه به جوړه کړي چي دهغه په وجه به د مدینې منورې ټول خلک د خپل ښار څخه په وتلو سره د هغه دښمنانو سره په جنگ کي بوخت سي.. دلته په حدیث کي د مدینې منورې ذکر د هغه په پخواني نامه یثرب سره سوی دی ځرگنده دي وي چي یثرب په اصل کي د ثرب څخه مشتق دی چي دهغه معنی د هلاکت ده یا دا چي یثرب د مدینې یو کلی وو چي یثرب نامي سړي اباد کړی وو د هغه نوم به د ټول ښار لپاره استعمالېدی نو د رسول الله ﷺ د مکې څخه مدینې ته هجرت کولو پوري دغه ښار ته یثرب ویل کېدل، دهجرت څخه وروسته رسول الله ﷺ ددغه ښار نوم بدل کړ او دې ته مدینة الرسول ښا رویل پیل سول، دغه معنی د المدینة څخه هم ادا کیږي نو په عامه توگه دغه ښار المدینة ځکه ویل کیږي، دلته یو سوال کیږي چي مدینې ته د یثرب ویلو څخه منع فرمایل سوې ده نو بیا په دغه حدیث کي خپله رسول الله ﷺ یثرب نوم ولي استعمال کړ؟ ددې جواب دادی چي په دغه حدیث کي مدینې ته یثرب ویل د یثرب ویلو دمنع څخه د مخکي خبره ده، د حدیث خلاصه داده چي د کومو حوادثو او پېښو ذکر سوی دی هغه ټول د ذکر سوي ترتیب مطابق د قیامت نژدې به واقع کیږي او په هغه کي د هر یوه واقع کېدل به د دوهم د واقع کېدو علامه وي که څه هم د هغه واقع کېدل په تاخیر سره وي.

طیبي رحمه الله ویلي دي که چیري دا سوال پیدا سي چي دغه حدیث خو د فتح قسطنطنیه او د دجال دظاهرېدو علامه گرځول سوې ده حال دا چي مخکي کوم حدیث تېر سوی دی په هغه کي دا فرمایل سوي دي چي د مسلمانانو په منځ کي به شیطان ناڅاپه اعلان وکړي چي ستاسو په نه شتون کي دجال ستاسو کورونو ته رسیدلی دی او کله چي مسلمان دغه اعلان واوري او د دجال په لټه کي ووځي نو معلومه به سي چي هغه یو درواغ اعلان وو نو د دواړو حدیثو په منځ کي تضاد ولي دی؟ ددې جواب دادی چي په دغه حدیث کي د رسول الله ﷺ مقصد محض د قسطنطنیه فتح د دجال د راوتلو علامه گرځول دي کله چي قسطنطنیه فتح سي نو پوه سئ چي اوس به د دجال خروج وي د دجال خروج به ځرگنده وي او مسلمانانو ته به د هغه په اړه ځرگنده معلومه سي، په هر حال د اول حدیث څخه دا هم ثابتیږي چي د دجال خروج به د قسطنطنیه د فتح

ځخه وروسته وي، نو په حقیقت کي ددغه دواړو حدیثو په منځ کي هیڅ تضاد نسته، ددې ځخه پرته د شیطان د هغه درواغ اعلان تعلق به د دجال د خروج سره هیڅ نه وي بلکه هغه خو به هسي د درواغو اعلان ددې لپاره کوي چي مسلمانان په پریشاني او بې اطمیناني کي اخته کړي او هغوئ د غنیمت د مال ویشلو ځخه منع سي.

د جنګ عظیم، فتح قسطنطنیه او د دجال د خروج پیشګوئي

﴿۵۱۹۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَلْحَمَةُ الْعُظْمٰى وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ. رواه الترمذي وابوداؤد

د معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ ځخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د جنګ عظیم واقع کیدل د قسطنطنیه فتح کیدل او د دجال را وتل دا ټول به په اووه میاشتي کي وي. ترمذي او ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۴\۴۸۲، رقم: ۴۲۹۵، والترمذي ۴\۴۴۲، رقم: ۲۲۳۸.

تشریح: د جنګ عظیم ځخه مراد د ځینو په نزد هغه جنګ دی چي دهغه په اړه فرمایل سوي دي چي د جنګ په پای کي به خلک د خپلو قریبانو د ځاني تاوان معلومات وکړي چي په سلو کي به یو ژوندی پاته سوی وي او پاته به مړه سوي وي مګر صحیح قول دادی چي د هغه جنګ ځخه مراد هغه ښار فتح ده چي دهغه په اړه فرمایل سوي دي چي هغوئ به د اسماء الهي په برکت یعني د تهلیل او تکبیر د نعرې په ذریعه فتح کړي او د قتل وقتال نوبت نه راسي لکه ځرنګه چي د حضرت ابوهریره رضی اللہ عنہ په روایت کي تېر سول.

د ذکرسوو درو شیانو د واقع کېدو په اړه چي د اووه میاشتو وخت فرمایل سوی دی هغه د دوو ښارو او فتنه دجال ته د مسلمانانو د متوجه کېدو په اعتبار فرمایل سوي دي او کوم چي ددغه دواړو ښارو د فتح کېدو اعتبار دی نو ذکر سوی جنګ عظیم او د قسطنطنیه فتح کېدل یو په بل پسې پرته له ځنډ ځخه کیږي او ددغه دواړو وروسته به د دجال خروج کیږي.

﴿۵۱۹۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَ الْمَلْحَمَةِ وَفَتْحِ الْمَدِينَةِ سِتُّ سِنِينَ وَيَخْرُجُ الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ فِي السَّابِعَةِ. رواه ابوداؤد وقال هذا اصح.

د حضرت عبد الله بن بسر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : جنګ عظيم او د مديني د فتح په منځ کي به د شپږو کالو فاصله وي او په اووم کال به دجال راووځي . ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۸۳، رقم: ۴۲۹۶.

تشريح: د دغه حديث څخه ثرګنديږي چي جنګ عظيم، فتح قسطنطنيه او د دجال خروج دري سره واقعات به په اووه کاله کي دننه وي ، حال دا چي په اول حديث کي دغه وخت اووه مياشتي بيان سوی دی په دې اعتبار سره د دواړو حديثو په منځ کي سخت اختلاف دی نو دا خبره بايد په ذهن کي وساتل سي چي تعارض بالکل ثابت دی چي په يوه حديث کي په وضاحت سره د اووه کاله وخت بيان سوی دی او په بل حديث کي د اووه مياشتو وخت بيان سوی دی ، د دواړو حديثو په مفهوم کي مطابقت پيدا کول ممکن نه دي ، په دغه صورت کي علماؤ ته بله طريقه نسته چي د دغه دواړو حديثو حيثيت مخته په ايښودو سره هغه حديث راجح وګرځول سي کوم چي زيات صحيح دی، علماؤ او محدثينو ليکلي دي چي په اول حديث کي کلام سوی دی ځکه چي د هغه ځيني راويان د فن حديث په اصطلاح کي مجروح او مطعون دي او دغه دوهم حديث بالکل صحيح دی لکه ثرنګه چي خپله امام ابو داؤد وضاحت کړی دی، نو خلاصه دا سوه چي د ذکر سوو درو واقعاتو واقع کېدلو درمياني وخت د اووه مياشتي پر ځای اووه کاله صحيح دی.

《۵۱۹۳》: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ يُوشِكُ الْمُسْلِمُونَ أَنْ يُحَاصَرُوا إِلَى الْمَدِينَةِ حَتَّى يَكُونَ أَبْعَدَ مَسَالِحِهِمْ سَلَاحِ وَسَلَاحِ قَرِيبٌ مِنْ خَيْبَرَ. رواه ابو داؤد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ ډير ژر به مدينه کي به د مسلمانانو محاصره وکړل سي تر دې چي د هغوئ آخر حد به سلاح وي (سلاح خيبر ته نژدې يو ځای دی) . ابو داؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۴۹، رقم: ۴۲۵۰.

د لغاتو حل: مسالحهم: جمع المسلح: القوم الذين يحفظون الثغور من العدو. سلاح: اسم موضع اسفل خيبر (د خيبر لاندي يوه سيمه).

تشريح: د سلاح لفظ د سين په زېر سره دی مګر له دې کبله چي دغه لفظ اسم مؤخر دی او د دې خبر البعد دی نو دا د سين په پېښ سره هم نقل کيدای سي، د دې څخه پرته په يوه نسخه کي دغه لفظ په دوه زوره او په يوه نسخه کي د حاء په زور سره منقول دی، په هر حال دا د يو ځای نوم دی چي د خيبر سره دی او خيبر د مديني منورې څخه تقريبا پر شپېته ميله فاصله باندي دی.

د حدیث مطلب یا خو دادی چي کله په آخره زمانه کي د مسلمانانو د کمزورۍ او انتشار وخت وي نو د دین د دښمنانو حوصلې به دومره زیاتي سي چي هغوئ به د مدینې منورې د محاصره کولو او د هغه ځای د مسلمانانو نیولو هڅه کوي او دهغوي اقتدار به تر خیبر پوري راسي یا دا چي هغه وخت کله چي مسلمانان د دښمنانو د قبضې او تسلط څخه د وتلو لپاره د خپلو هیوادو او ښارو څخه په تېښته مدینې منورې ته راسي نو د مدینې او سلاح په منځ کي به جمع سي، یا دا چي هغه وخت به د نړۍ د شاوخوا څخه د تښتېدونکو مسلمانانو څخه ځیني مدینې ته راسي او ځیني به هغه وي چي ددغه مقدس ځای د ساتني لپاره د هغه شاوخوا خزې جوړي کړي او په هغه خزو کي به مقابله کوي نو په خزو کي چي تر ټولو لیري کومه خزه ده هغه بهٔ د سلاح په ځای کي وي، دغه معنی د حدیث د آخري الفاظو په مناسب زیاته صحیح ده.

د مسلمانانو او عیسایانو په باره کي پیشګویي

﴿۵۱۹۴﴾: وَعَنْ ذِي مِخْبَرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ذي مخبر رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي اې

سَتُصَالِحُونَ الرُّومَ صُلْحًا آمِنًا فَتَغْزُونَ أَنْتُمْ وَهُمْ عَدُوًّا مِنْ وَرَائِكُمْ

مسلمانانو! تاسو به ډېر ژر د روم سره د امن صلح وکړئ بیا تاسي او رومیان به په خپل منځ کي یو ځای سئ او یو بل دښمن سره به مقابله سئ

فَتُنْصَرُونَ وَتَغْنَمُونَ وَتَسْلَمُونَ ثُمَّ تَرْجِعُونَ حَتَّى تَنْزِلُوا بِمَرْجٍ ذِي تُلُولٍ

تاسو ته به مرسته درکړل سي تاسو به غنیمت حاصل کړئ او سلامت به اوسئ بیا به تاسو ټول راوګرزئ اویو داسي ځای کي به قیام وکړئ چي شین او اباد به وي او کوم ځای چي غونډۍ

فَيَرْفَعُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ النَّصْرَانِيَّةِ الصَّلِيبَ فَيَقُولُ غَلَبَ الصَّلِيبُ فَيَغْضَبُ

وي هلته به د نصرانیانو څخه یو سړی صلیب واخلي وه به دریږي او وایي به صلیب فتح حاصله کړه پر دې خبره به یو مسلمان غضبناک سي

رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَيَدُقُّهُ فَعِنْدَ ذَلِكَ تَغْدِرُ الرُّومُ وَتَجْمَعُ لِلْمَلْحَمَةِ وَزَادَ

او صلیب به مات کړي دغه وخت به رومیان وعده ماته کړي او د جنګ لپاره به لښکر جمع کړي

او ځيني راويانو په دغه حديث كي دا الفاظ زيات بيان كړي دي

بعضهم فَيَثُورُ الْمُسْلِمُونَ إِلَى أَسْلِحَتِهِمْ فَيَقْتَتِلُونَ فَيُكْرِمُ اللَّهُ تِلْكَ الْعِصَابَةَ بِالشَّهَادَةِ. رواه ابوداؤد.

چي مسلمانان به خپلو وسلو ته ور وځغلي او د نصرانيانو سره به وجنګيږي نو الله تعالى به د مسلمانانو دغه ډلي ته د شهادت بزرګي وركړي . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۴\۴۸۱، رقم: ۴۲۹۲.

د حبشيانو په باره كي يو لار ښوونه

﴿۵۱۹۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اتْرُكُوا الْحَبَشَةَ مَا تَرَكُوكُمْ فَإِنَّهُ لَا يَسْتَخْرِجُ كَنْزَ الْكَعْبَةِ إِلَّا ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ . رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو حبشيان پرېږدئ او د هغوئ سره هيڅ ډول جګړه مه كوئ تر څو پوري چي هغوئ تاسو ته څه نه وايي او په تاسو كار نه لري ځكه چي په راتلونكي زمانه كي به د كعبې خزانه يو حبشي راوكاږي چي د هغه پنډۍ به كوچنۍ كوچنۍ وي . ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود: ۴\۴۹۰، رقم: ۴۳۰۹.

تشريح: د حديث په پاى كي چي كومي خبري ته اشاره سوې ده د هغې تعلق د آخرې زمانې سره دى كله چي قيامت بالكل نژدې وي، هغه وخت به اهل حبشه ته غلبه حاصله وي او د هغوئ پاچا به د خپل لښكر سره پر كعبه شريفه باندي حمله وكړي او كعبة الله به ورانه كړي او د هغه خزانه به راوكاږي كومه چي د كعبې شريفي لاندي دفن ده، په حديث كي چي دكعبې د خزانې د را ايستونكي حبشي ذكر سوى دى د هغه څخه يا خو د حبشې پاچا مراد دى يا ټول لښكر مراد دى او د خزانې څخه مراد هغه ټوله خزانه ده چي په كعبه شريفه كي لاندي ښخ ده او ځينو حضراتو ويلي دي چي د خزانې څخه مراد هغه مال او اسباب دي چي د نذر په توګه هلته راځي او د كعبې شريفي خادم يې جمع كوي .

ځرګنده دي وي دلته چي فرمایل سوي دي چي یو حبشي به د کعبې شریفي خزانه راوکاږي دا په یو بل روایت کي داسي فرمایل سوي دي چي یو حبشي به کعبه شریفه تباه او برباد کړي نو دا خبره په قرآن کریم کي د الله ﷻ د ارشاد (حرما امنا) خلاص نه ده ځکه چي د حبشیانو په ذریعه د کعبې شریفي تخریب او تباهي دغه واقعه به د قیامت نژدې وي کله چي د مځکي پر مخ هیڅوک لاالٰه الاالله ویونکی پاته نسي او آمنا معنی داده چي کعبه شریفه به تر قیامته پوري په امن کي وي ، کله چي د مځکي پر مخ باندي هیڅوک لاالٰه الاالله ویونکی پاته نسي او قیامت راسي نو بیا به بل کوم شی پاته کیږي چي کعبه دي هم پاته سي ، هسي هم دا خبره پر ځای صحیح ده مګر ځینو حضراتو یو بل ځای وضاحت کړی دی او دې ته یې زیات صحیح ویلي چي الله تعالی کعبه شریفه امن والا ګرځولې ده نو ددې د غالب احوال په اعتبار یې ګرځولې ده یعني د کعبې شریفي اصل حقیقت دادی چي هغه به د تل لپاره د هر ډول تخریب او چټلي څخه خوندي وي مګر کله نا کله داسي هم کیدای سي چي یو داسي سخته واقعه پېښه سي چي په هغه سره داسي پېښه وسي ، او کعبې شریفي په تاریخ کي داسي پېښي مخکي هم سوي دي چي هغې ته تاوان رسول سوی دی لکه د حضرت ابن زبیر رضی اللہ عنہ په زمانه کي د عبدالملک ابن مروان د خلافت له خوا داهل مکې پر خلاف د حجاج بن یوسف د حملې په وخت کي د کعبې شریفي سخت تخریب وسو یا د قرامطه پېښه چي په هغه کي کعبې شریفي ته تاوان ورسیدی نو که چیري په راتلونکې زمانه کي هم د کعبې شریفي د تخریب واقعه پېښه سي نو هغه واقعه بهٔ د حرما امنا خلاف نهٔ وي یا دا هم ویل کیدای سي چي د حرم امن ګرځولو څخه مراد دادی چي الله تعالی اهل مکه ته حکم ورکړ چي کوم څوک دغه مقدس ښار او حرم ته ورسي زه بهٔ هغه ته امن او عافیت ورکوم او دلته د چا سره تعرض هم مه کوئ نو منقول دي چي کله دزندیقانو ډله د قرامطه مشر فساد او تباهي وکړي او د خلکو قتل او د ښار لوټ کولو څخه فارغ سي نو یوه ورځ به یو سړی وواییي چي د الله ﷻ دغه فرمان چیري دی چي (ومن دخله کان آمنا) ، په دغه وخت کي به الله ﷻ یو سړي ته د جواب ورکولو توفیق ورکړي او هغه به وواییي چي د قرآن کریم ددغه ارشاد دا مطلب نه دی چي یو څوک هیڅکله هم د کعبې شریفي په ورانولو کي کامیابه کیدای نسي بلکه ددغه فرمان مراد دا حکم ورکول دی چي کوم څوک په حرم کي داخل سو نو هغه ته به امن او عافیت ورکوم او په دې کي د لوټ مار او ظلم په ذریعه د چا سره تعرض مه کوئ.

﴿۵۱۹۶﴾: وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دَعُوا الْحَبَشَةَ مَا وَدَعُوكُمْ وَاتْرُكُوا التُّرْكَ مَا تَرَكُوكُمْ. رواه ابوداؤد

د رسول الله ﷺ د يو صحابي څخه روايت دی چې هغه وايي حبشيان پريږدئ تر څو پورې چې هغوئ تاسو ته څه ونه وايي او ترکان هم پريږدي تر څو پورې چې هغوئ ستاسو سره کار ونه لري. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۴\۴۸۵، رقم: ۴۲۰۲.

تشريح: دلته يو سوال پيدا کيږي چې په قرآن کريم کي دا حکم ورکړل سوی دی چې (قاتلوا المشرکين کافة) يعني ټول مشرکين ووژنئ هر ځای چې وي، نو په دغه حکم کي عموم دی چې د حبشيانو او ترکيانو په اړه رسول الله ﷺ دا ولي فرمايلي دي چې هغوئ پر خپل حال پرېږدئ يعني پر هغوئ حمله مه کوئ او دهغوئ پر هيوادو او ښارو باندي دحملې کولو څخه ډډه وکړئ، نو ددې جواب دادی چې د حبشيانو او ترکيانو معامله ددغه عمومي حکم څخه خارج او خاص ده ځکه چې د جغرافيايي حالت په اعتبار دغه دواړه هيوادونه د هغه زمانې د اسلامي طاقت د مرکز څخه ډيري ليري واقع وه او د اسلامي چاوڼۍ او د هغه هيوادو په منځ کي د ښتو يو داسي سخته لړۍ حائله وه چې هغه په عام حالاتو کي هم پرېکول د چا لپاره ممکن نه وو، نو رسول الله ﷺ په دې وجه مسلمانانو ته حکم ورکړ چې ددغه دواړو هيوادو پر خلاف هيڅ کاروايي مه کوئ او ددغه خلکو سره تر هغه وخته پوري تعرض نه کيږي کله چې هغوئ خپله پر تاسو حمله ونه کړي که هغوئ ستا پر خلاف جارحيت وکړي او د خپل فوځي قوت په جمع کولو سره د مسلمانانو پر ښارو باندي حمله وکړي نو په دغه صورت کي دهغوئ خلاف جنګ کول او د هغوئ سره جګړه کول فرض دي، يا دا خبره هم کيدای سي چې رسول الله ﷺ دا حکم ورکړی وي چې هغه د اسلام د ابتدائي زمانې واقعه ده کله چې د اسلام او مسلمانانو سره دومره طاقت او سامان نه وو چې د دومره ليري علاقو سره جګړه وکړي نو وروسته چې ذکر سوی آيت نازل سو او اسلام ته طاقت تر لاسه سو نو د رسول الله ﷺ دا حکم منسوخ وګرځول سو.

د ترکيانو په اړه يو پيشګويي

﴿۵۱۹۷﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَدِيثٍ يُقَاتِلُكُمْ

د حضرت بريدة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ددغه حديث په لړۍ کي چې د هغه پيل

قَوْمٌ صِغَارُ الْأَعْيُنِ يَعْنِي التُّرْكَ قَالَ تَسُوقُونَهُمْ ثَلَاثَ مِرَارٍ حَتَّى تُلْحِقُوهُمْ

دادی چي ستاسو سره به کوچنۍ سترګو والا يو قوم جنګيږي (يعني ترک) وې فرمايل: چي تاسو به هغوئ درې واره وتښتوئ تر دې چي تاسو به هغوئ

بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ فَأَمَّا فِي السِّيَاقَةِ الْأُولَى فَيَنْجُو مَنْ هَرَبَ مِنْهُمْ وَأَمَّا فِي

جزيره عرب ته ورسوئ، په لومړي وار هغوئ ته ماته ورکولو سره به په تيښته کي هغه خلک نجات تر لاسه کوي کوم چي وتښتي او

الثَّانِيَةِ فَيَنْجُو بَعْضٌ وَيَهْلَكُ بَعْضٌ وَأَمَّا فِي الثَّالِثَةِ فَيُصْطَلَمُونَ أَوْ كَمَا قَالَ.

رواه ابوداؤد

په دويم وار ماته ورکولو کي به د هغوئ ځيني خلک ووژل سي او ځيني به خلاصون تر لاسه کړي او په دريم وار ماته کي به د هغوئ خاتمه وسي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۴\۴۸۷، رقم: ۴۳۰۵.

د لغاتو حل: يصطلمون: اى يحصدون بالسيف. (په توره ريبل)

تشريح: د (يعني الترک) الفاظ د راوي دي که هغه صحابي وي يا تابعي وي، يعني يا خو خپله حضرت بريده رضي الله عنه يا د هغه ځخه روايت کونکي تابعي د (قوم صغار الاعين) په اړه د الترک وضاحت وکړ چي ددغه قوم ځخه مراد ترکيان دي.

جزيرة العرب: لکه ځرنګه چي مخکي ښودل سوي دي چي د هغه وخت په جغرافيايي نقشه کي د حجاز، يمامه او يمن سيمو ته جزيرة العرب په دې اعتبار ويل کېدل چي هغه تقريبا د ځلورو خواوو ځخه اوبو راګير کړې وه، د دغه سيمو په جنوب کي بحر عرب، په ختيځ کي خليج عربي او خليج عمان، په لويديځ کي بحر احمر او د هغه په شمال کي د فرات سند دی.

او کما قال: يا ددې په مثل يې وفرمايل، دغه جمله د حديث بيانولو ځخه وروسته په هغه صورت کي ويل کيږي کله چي حديث بيانونکی دا ګمان کوي چي د حديث معنی په پوره توګه همداسي ده مګر د حديث اصل الفاظ ما ته ياد نه دي، يعني دغه جمله د حديث د راوي پر احتياط باندي دلالت کوي.

د بصرې په اړه پیشګويي

﴿۵۱۹۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَنْزِلُ اناس

د حضرت ابوبكره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت خلک به يوې

مِنْ أُمَّتِي بِغَائِطٍ يُسَمُّونَهُ الْبَصْرَةَ عِنْدَ نَهْرٍ يُقَالُ لَهُ دِجْلَةُ يَكُونُ عَلَيْهِ جِسْرٌ

کښتي ځمکي ته ورسيږي چي د هغې نوم به بصره کښيږدي هغه بحر د دجلې سره نژدې واقع دی
پر دغه درياب به پل وي،

يَكْثُرُ أَهْلُهَا وَيَكُونُ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسلمين وَإِذَا كَانَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ جَاءَ بَنُو

د ښار (بصرې) د اوسيدونکو به لوی شمير وي او دا ښار به د مسلمانانو د ښارونو څخه وي هر
کله چي آخري زمانه سي

قَنْطُورَاءَ عِرَاضُ الْوُجُوهِ صِغَارُ الْأَعْيُنِ حَتَّى يَنْزِلُوا عَلَى شَطِّ النَّهْرِ فَيَتَفَرَّقُ

نو د قنطورا اولاد به دغه ښار والاوو سره د جنګ لپاره راسي د هغوئ مخونه به پلن او سترګي به
يې کوچنۍ وي دا خلک به د درياب پر غاړي تم سي

أَهْلُهَا ثَلَاثَ فِرَقٍ فِرْقَةٌ يَأْخُذُونَ فِي أَذْنَابِ الْبَقَرِ وَالْبَرِّيَّةِ وَهَلَكُوا وَفِرْقَةٌ

د ښار خلک به په درو ډلو کي وويشل سي، يوه ډله به د غوايانو لکۍ ټينګي ونيسي او ځنګل
ته به ولاړ سي دا ډله به هلاک سي او يوه ډله به

يَأْخُذُونَ لِأَنْفُسِهِمْ وَهلكوا وَفِرْقَةٌ يَجْعَلُونَ ذَرَارِيَّهُمْ خَلْفَ ظُهُورِهِمْ
وَيُقَاتِلُونَهُمْ وَهُمُ الشُّهَدَاءُ. رواه ابوداؤد

امن طلب کړي دا ډله به هم هلاک سي او يوه ډله به خپل کورنۍ او اولاد تر شا پريږدي او د
کفارو سره به وجنګيږي نو دوئ به شهيدان سي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود: ۴۸۷\۴، رقم: ۴۳۰۶.

د لغاتو حل: قنطورا: اسم ابي الترک (د ترکيانو د پلار نوم). تتميم وتذييل: لان اخذ اذناب البقر لايكون غالبا الا في البرية الخارجة عن المدينة التي يعبر عنها بالبحرية.

تشريح: بصره: د باء په زېر او زور دواړو سره او د صاد په جزم سره دی، او د غه لفظ د صاد په زېر او زور سره هم منقول دي، دجله: د دال په زېر او زور دواړو سره دی ، ددې سیمي مشهور سند دی چي دهغه پر غاړه مشهور ښار بغداد واقع دی.

حلبي په حاشیه شفاء کي لیکلي دي چي د بصرې لفظ د باء په زور، زېر او پېښ درې سره دی او دا هغه ښآر دی چي د حضرت عمر رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي عتبه ابن غزوان اباد کړی وو او په دغه ښار کي هیڅکله بت پرستي نه ده سوې.

په حدیث کي دبصرې څخه مراد بغداد دی

په حدیث کي چي د کومي پېښي وړاند وینه سوې ده په هغه کي صریحا بصره ذکر سوې ده مګر علماؤ لیکلي دي چي ددې څخه بغداد مراد دی او د بغداد مراد اخیستلو دلیل دادی چي د دجلې د سند ګزرګاه بصره نه دی بلکه بغداد دی او ددغه سند لاندي چي کوم پل ذکر سوی دی هغه هم په بغداد کي دی ، ددې څخه علماؤ د بغداد ښار د رسول الله ﷺ په زمانه کي داسي ښار نه وو لکه څرنګه چي اوس دی بلکه په هغه زمانه کي په دغه ځای کي ډېر کلي او سیمي وې چي د بصرې په شاوخوا کي شمېرل کېدی، او دهغوئ نسبت بصرې ته کېدی، رسول الله ﷺ د معجزې په توګه ددغه صحرایي سیمو په ښآر بدلېدو وړاند وینه وفرمایل، او د مستقبل په صیغه یې دا وفرمایل چي هغه به په اسلامي ښارو کي یو لوی ښار وي او پر ډېره ابادي به مشتمل وي، دا خبره محض د تاویل د درجې څخه نه ده بلکه ددې تر شا تاریخي دلیل هم دی ، په تاریخ کي دا نسته چي ترکیانو پر بصره باندي حمله کړې ده او دهغوئ او مسلمانانو په منځ کي د وژني هغه صورت پېښ سوی دی چي هغه ته رسول الله ﷺ په حدیث کي ارشاد وفرمایه ، مګر پر بغداد باندي د ترکیانو (تاتاریانو) حمله سوې ده چي د آخري عباسي خلیفه مستعصم بالله د زمانې واقعه ده چي د هغې تفصیل د تاریخ د کتابو څخه په اخیستلو سره موږ د مظاهر حق په آخري جلد کي هم بیان کړي دی، نو څرګنده سوه چي په حدیث کي د بصره ذکر محض په دې سبب دی چي د بغداد په نسبت بصره زیات پخوانی ښار دی او هغه کلي او ځایونه چیري چي بغداد جوړ سو او دغه عظیم ښار جوړ سو بصرې ته منسوب دی او دا هغه بصره ده چي وروسته هم د بغداد ښار څخه دباندي د یو کوچني ابادۍ په صورت کي وو او د ښار د هغه خوا دروازې ته ددغه قوم په مناسبت سره باب البصره ویل کېږي، نو رسول الله ﷺ د بغداد د ذکر لپاره ددغه ښار جزوي نوم ذکر کولو باندي اکتفاء وکړه یا دا چي دلته اصل مراد خو د بغداد

البصره دی مګر د مضاف په حذف کولو سره یوازې د بصرې پر ذکر باندې اکتفاء وسوه لکه څرنګه چې د قرآن کریم دغه آیت (واسئل القریة) کې الله تعالی یوازې د قریه ذکر کړی دی حال دا چې ددې څخه مراد اهل قریه دي.

په دغه صورت کې به د حدیث د اولې برخې خلاصه دا وي چې زما په امت کې به ځینې خلک د دجلې د سند پر غاړه پړاو واچوي او هغه ځای به خپل مرکزي ښار جوړ کړې تر دې چې هغه کوچنی ځای به په داسې ښار بدل سي چې د هغه شمېر به د مسلمانانو د لویو لویو ښارو او اسلامي مراکزو کې کیږي، او دا هغه ښار دی چې بغداد ورته ویل کیږي ، دلته باید دا خبره په ذهن کې وي چې په تاریخ کې بغداد ته کوم عظیمت او اهمیت حاصل سو او هغه څومره عظیم ښار سو د هغه و طرفته د اشاره کولو لپاره رسول الله ﷺ د امصار لفظ استعمال کړ ، امصار په اصل کې د مصر جمع ده او لوی ښار ته وایي او تر دې لاندې په ترتیب سره مدینه، بلده او قریه ورته وایي، د قنطورا څخه مراد د ترک قوم دی ، ددغه قوم وارث اعلی قنطورا وو ځکه ټول ترک قوم د قنطورا په اولاد سره تعبیر کیږي .

او دوهمه برخه چې د خپلو ځانو لپاره امان طلب کوي ، په دې اړه دا ویل کیږي چې ددغه وړاند وینې مصداق خلیفه مستعصم باالله او دهغه حوالي وه لکه څرنګه چې د مظاهر حق په مخکنې جلد کې تفصیل تېر سوی دی چې کله هلاکو خان د خپل بې امان فوج سره پر بغداد حمله وکړه نو خلیفه مستعصم بالله د خپل لواحقینو سره د هلاکو خان په خدمت کې په حاضرېدو سره د خپل ځان او د ښار د خلکو د امان طلب وکړ مګر هیچا ته امان تر لاسه نه سو او د خلیفه سره ټول هلاک او تباه سول اود هلاکو خان فوځیانو د یوه یوه کس په نیولو سره ووژل.

یو شارح لیکلي دي که چیرې دا خبره صحیح وي چې رسول الله ﷺ په دغه حدیث کې د بصرې د ذکر څخه بغداد مراد اخیستی دی ځکه چې په هغه زمانه کې موجود بغداد د بصرې په شاوخوا کلیو کې یو کلی وو او رسول الله ﷺ پر جزوي نوم باندې د ټول قوم په اطلاق سره ګویا د بغداد البصره ذکر پر ځای یوازې د بصرې پر ذکر اکتفاء وکړه نو په دغه صورت کې ویل کیدای سي چې د رسول الله ﷺ دغه وړاند وینه پوره سوې ده چې د رسول الله ﷺ د فرمایلو مطابق مسلمانانو د دجلې د سند پر غاړه بغداد ښار اباد کړ او هغه ته یې پرمختګ ورکړ، هغه د مسلمانانو د یولوی مرکزي ښار په جوړولو سره بیا ترکو پر هغه حمله وکړه او د هغه په نتیجه کې د اهل ښار تقریبا ټوله برخه د ترکو په لاس ووژل سول او که چیرې دا وویل سي چې په دغه حدیث کې د بصرې څخه مراد بغداد نه دی بلکه اوسنی د بصرې ښار مراد دی نو بیا به دا ویل

کیږي چي د رسول الله ﷺ ذکر سوې وړاند وینه تر اوسه پوره سوې نه ده او کېدای سي چي په راتلونکې زمانه کي ددغه ښار مسلمانان د ذکر سوي وړاندي ویني سره سم د یو دښمن د حملې ښکار سي ځکه کوم چي د تېري زمانې تعلق دی نو د تاریخ څخه دا ثابته نه ده چي پر بصره باندي د اسلام دښمن حمله کړې ده او د هغه ځای مسلمانانو ته یې تاوان رسولی دی لکه څرنګه چي په حدیث کي راغلي دي.

په هغوئ کي به اکثره ووژل سي چي د شهادت مرتبې ته به ورسیږي یعني ددغه ښار د مسلمانانو دریمه برخه به پر هغه خلکو باندي مشتمل وي چي غازیان في سبیل الله به وي او د هغه سخت طوفان د مقابلې کولو لپاره به په ډېره مېړانه سره میدان ته راسي او مخکي تر دې چي پر دښمن باندي حاوي او غالب سي د هغه سره په جنګېدو سره به د الله ﷻ په لار کي خپل سر ورکړي نو هغه خلک به شهیدان وي او د پوره شهادت مرتبه به تر لاسه کړي هغوئ چي کوم لږ پاته سي د هغوئ شمېر به ډېر کم وي، دلته یو بل شارح ویلي دي چي دغه حدیث د رسول الله ﷺ د معجزاتو څخه یوه معجزه ده ځکه هر څه داسي واقع سول څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمایلي وه لکه چي رسول الله ﷺ د ترکو دحملې وړاند وینه کړې ده هغه د صفر په میاشت ۶۵۶ هـ کي حرف په حرف پوره سوه، هغه وخت د تاتاري ترکو د هلاکو خان په مشری کي بغداد چي څرنګه تباه سو د مسلمانانو چي څومره خلک په بې دردۍ سره شهیدان سول، د ښار محلونه او سرایونه تر دې چي کتاب خانې او علمي مرکزونه وسوځل سول او د هغه د اور شعلو ټوله اسلامي نړۍ متاثره او کمزورې کړه نو هغه یوه داسي سانحه ده چي د هغه تفصیل بیانولو څخه ژبه او قلم قاصر دي.

د بصرې په اړه یو پشګوئي

﴿۵۱۹۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَنَسُ إِنَّ النَّاسَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: اې انس! خلک به ښارونه اباد

يُمَصِّرُونَ أَمْصَارًا وَإِنَّ مِصْرًا مِنْهَا يُقَالُ لَهُ الْبَصْرَةُ فَإِنْ أَنْتَ مَرَرْتَ بِهَا أَوْ

کړي په هغو کي به یو ښار وي چي هغه ته به بصره ویل کیږي که ته ددې ښار سره نژدې تیر سې

دَخَلْتَهَا فَإِيَّاكَ وَسِبَاخَهَا وَكِلَاءَهَا ونخيلها وَسُوقَهَا وَبَابَ أُمَرَائِهَا وَعَلَيْكَ

یا په ښار کي داخل سې نو هغه ځایونو ته مه ورځه د کوم ځای مځکه چي ښوره ده د هغه د خرماوو څخه ځان وساته او د هغه ځایونو د پاچاهانو او امیرانو دروازو ته مه ورځه،

بِضَوَاحِيهَا فَإِنَّهُ يَكُونُ بِهَا خَسْفٌ وَقَذْفٌ وَرَجْفٌ وَقَوْمٌ يَبِيتُونَ يُصْبِحُونَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ. رواه ابوداؤد.

د ښار پر غاړه اوسه یا دباندي تم سه چي بصرې ته نژدې یو ځای دی،(خو دغه ځایونو ته د ورتلو څخه ته منع کړل سوی یې) په دغه مځکه کي به ژوندی ور ننه ایستل سې پر دې به ډبري واوریږي او سختي زلزلې به پر راسي او یو قوم به وي چي په ماښام کي به ښه معلومیږي او سهار ته به بیزوګان او خنزیران ځیني جوړ سي. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود: ۴\۴۸۸، رقم: ۴۳۰۷.

د لغاتو حل: سباخ: ای ارض ذات ملح. (مالګینه مځکه). رجف: ای زلزلة شديدة (سخته زلزله).

تشریح: سِباخ د سبخة جمع ده چي معنی یې د هغه مځکي ده چي ښرنه وي، ویل کیږي چي سباخ د بصرې د هغه علاقې نوم هم دی چیري چي مځکه ښرنه ده، همدا رنګه د کلاء په اړه ویل کیږي چي دا هم د بصرې د ځینو ځایو نوم دی.

ضواحي د ضاحية جمع ده چي معنی یې د ښار د غاړي ده، او د ښار د نواحي کلي دی، ضاحية البصره د بصرې د یوه کلي نوم هم دی او ځینو حضراتو ویلي دي چي د ضواحي څخه مراد د بصرې غرونه دي، رسول الله ﷺ حضرت انس ﷺ ته د بصرې په نواحي کي د اوسېدو حکم ورکړی وو، دا په اصل کي د ښلوالي او کونج اختیارولو حکم دی.

د هغوئ شکلونه به د بېزوګانو او خنزیرانو په ډول وي: یعني هغه قوم به د الله تعالی د نافرمانۍ، سرکښۍ او ګمراهۍ په وجه په هغه عذاب کي اخته کیږي، ددغه قوم چي کوم خلق زلمي وي هغوئ به د بېزوګانو په صورت کي وي او کوم چي سپین ږیري وي هغوئ به د خنزیرانو په صورت کي سي، ددغه حدیث څخه دا معلومیږي چي د مسخ او خسف عذاب په دغه امت کي هم جائز الوقوع دی ځکه که چیري داسي عذاب واقع کېدل غیر ممکن وای نو د هغه څخه د ېرولو او د هغه د واقع کېدو د ځایو څخه د تللو منع به بالکل بې ګټې وي او په دې کي شک نسته چي په احادیثو کي دغه ډول عذاب د قدریه ډلي په اړه منقول دی او له دې کبله ځینو شارحینو ویلي دي چي په حدیثو کي دې ته اشاره ده چي ذکر سوي ځایونه به د فرقه

قدریه خلکو مسکن وي ځکه چي په دغه امت کي پر خلکو باندي کوم مسخ او خسف نازلیږي هغوئ به په اصل کي تقدیر الهي درواغ گڼونکي وي.

د کلاء لفظ د کاف په زور او د لام په شد او مد سره هم منقول دی او څرنگه چي مخکي وښودل سول چي دا په بصره کي د یو ځای نوم دی، یو شارح ویلي دي چي ددې څخه مراد د بصرې د ساحلې سیمي هغه ځای دی چیري چي کښتۍ دریږي، ځینو حضراتو ویلي دي چي د کلاء څخه مراد د بصرې هغه سیمه ده چیري چي د څارویو څرځایونه وي، ددې تائید ددې خبري څخه کیږي چي په ځینو نسخو کي دغه لفظ د لام د شد او مد څخه پرته منقول دی چي دهغه معنی د وښو او شنگیاوو ده، یو شارح لیکلي دي چي په دغه ځایو کي د مسخ او خسف نازلېدو وجه کیدای سي د هغه ځای د خلکو خباثت او سرکښي وي، همدارنگه دهغه ځای د خرماوو څخه د لیري اوسېدو مقصد د هغه ځای د خرماوو باغو ته د تللو څخه منع کول وي ځکه چي کېدای سي د هغه باغو ماحول او دهغه اثرات دین، ایمان او عزت ته د تاوان رسولو بېره وي او د هغه بازار د دیني احکامو څخه د غفلت او بې پرواهي په وجه بې ایمانه او دهغه ځای د شتمنو او حاکمانو په دروازو د ظلم او نا انصافۍ د چلن په وجه د هغه څخه د لیري کېدو حکم ورکړل سو.

څرگنده دي وي چي د مشکوة په اصل نسخه کي د رواه څخه وروسته خالي ځای دی، مطلب دادی چي د مشکوة مؤلف ته ددغه حدیث د صحیح ماخذ علم نه وي مگر جزري ددغه حدیث ماخذ په الفاظو سره نقل کړی دی (رواه ابوداؤد من طریق لم یجزم بها الراوي بل قال لا اعلم الا عن موسی ابن انس عن انس بن مالک) یعني دغه روایت ابوداؤد په داسي سند سره نقل کړی دی چي د هغه د یوه راوي په اړه هغه د بې یقینۍ اظهار کړی دی بلکه هغه راوي ته په اشاره کولو سره چي په هغه سند کي داخل دی ویلي دي چي زه دغه راوي نه پېژنم، مگر هغه ددغه حدیث د راوي موسی ابن انس ذکر کړی دی چي هغه د حضرت انس ابن مالک څخه نقل کړی دی نو دحدیث ماخذ ددغه راوي داسي بیانول پر ابهام او اشتباه باندي دلالت کوي، موسی ابن مالک انصاري د بصرې قاضي او د تابعینو څخه دی.

د بصرې د یو کلي د یو مسجد فضیلت

﴿۵۲۰۰﴾: وَعَنْ صَالِحِ ابْنِ دِرْهَمٍ يَقُولُ انْطَلَقْنَا حَاجِّينَ فَإِذَا رَجُلٌ فَقَالَ لَنَا

د حضرت صالح بن درهم رحمه الله څخه روایت دی چي موږ (د بصرې څخه مکې ته) د حج لپاره

ولاړو (کله چې مکې ته ورسیدو) نو موږ یو سړی ولیدی (یعني ابو هریرة) هغه زموږ څخه

إِلَى جَنْبِكُمْ قَرْيَةٌ يُقَالُ لَهَا الْأُبُلَّةُ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ مَنْ يَضْمَنُ لِي مِنْكُمْ أَنْ

پوښتنه وکړه ایا ستاسو د ښار یوې خوا ته د آبله په نامه یو ځای سته، موږ ورته وویل هو سته، هغه وویل په تاسو کې څوک د دې خبرې ذمه اخلي چې زما لپاره

يُصَلِّيَ لِي فِي مَسْجِدِ الْعَشَّارِ رَكْعَتَيْنِ أَوْ أَرْبَعًا وَيَقُولَ هَذِهِ لِأَبِي هُرَيْرَةَ

په آبله مسجد العشار کې دوه یا څلور رکعته لمونځ وکړي، او دا وو ایي چې د دې لمونځ ثواب دي ابو هریره ته ورسیږي

سَمِعْتُ خَلِيلِي اباالقاسم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللَّهَ عزوجل

ما د خپل ملګري حضرت ابو القاسم څخه اوریدلي دي چې الله تعالی به د قیامت په ورځ د

يَبْعَثُ مِنْ مَسْجِدِ الْعَشَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُهَدَاءَ لَا يَقُومُ مَعَ شُهَدَاءِ بَدْرٍ

مسجد العشار څخه شهیدان پورته کوي، او د بدر د شهیدانو سره به د دغه شهیدانو څخه پرته

غَيْرُهُمْ. رواه ابوداؤد وقال هذا المسجد مما يلي النهر. وسنذكر حديث

ابي الدرداء ان فسطاط المسلمين في باب ذكر اليمن والشام ان شاء الله تعالى

نور هیڅوک نه وي. ابوداؤد، راوي وايي په آبله کې دا مسجد په دریا فرات کې نږدې واقع دی او انشاء الله ډیر ژر د یمن او شام د ذکر په بیان کې به په ابوداؤد حدیث ان قسطاط المسلمين الخ بیان کړل سي.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۸۹، رقم: ۴۳۰۸.

تشریح: أبله د یو مشهور کلي نوم دی چې بصرې ته نږدې واقع دی، عشار د یو مسجد نوم دی چې په ابله کې واقع دی، د برکت او سعادت تر لاسه کولو لپاره خلک دغه مسجد ته د لمانځه کولو لپاره راځي.

د مسجد عشار شهداء په اړه دا وضاحت نه کیږي چې د دغه شهیدانو تعلق د تېرو امتو د خلکو سره دی یا د دغه امت د خلکو سره دی، په هر حال د دغه حدیث څخه د هغه شهیدانو د

عظمت او فضیلت اظهار کیږي چې هغوئ د بدر د شهیدانو هم پله او هم مرتبه دي نو معلومه سوه چې هغه مسجده دومره فضیلت او شرف لري چې په هغه کې لمونځ کول یقینا ډېر لوی فضیلت او ډېر لوی ثواب لري، ددغه حدیث څخه دا هم ثابتیږي چې په فضیلت لرونکو ځایو کې لمونځ کول او عبادت کول ډېر زیات فضیلت او سعادت لري.

او همدارنګه دا هم ثابتیږي چې د بدل عبادت (لکه لمونځ، روژه) ثواب چا ته بخښل جائز دي که هغه د ژوندي لپاره وي یا د مړه لپاره وي او د هغه ثواب هغه ته رسیږي، دا کثرو علماؤ دا مذهب دی، او مالي عبادات لکه صدقه، خیرات او داسې نورو ثواب بخښل د ټولو علماؤ په نزد جائز دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

حضرت عمر رضی الله عنه د فتنو د دروازې په خلاصیدو کې تر ټولو لوی خنډ وو

﴿۵۲۰۱﴾: عَنْ شَقِيقٍ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عُمَرَ فَقَالَ أَيُّكُمْ يَحْفَظُ

حضرت شقیق رضی الله عنه د حضرت حذیفه رضی الله عنه څخه روایت کوي چې موږ د حضرت عمر رضی الله عنه سره ناست وو، هغه زموږ څخه پوښتنه وکړه په تاسو کې چا ته

حَدِيثَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْفِتْنَةِ انا حفظ كَمَا قَالَ قَالَ

د فتنې په اړه د رسول الله ﷺ حدیث یاد دی؟ حذیفه وایي ما وویل: ما ته یاد دی بالکل حرف په حرف لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ بیان فرمایلی دی، حضرت عمر رضی الله عنه وویل:

هات إِنَّكَ لَجَرِيءٌ وَكَيْفَ قَالَ قَالَ قُلْتُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

بیان یې کړه ته (د حدیث په روایت کې) دلاوره او زړه وریې او څه چې رسول الله ﷺ فرمایلي

وَسَلَّمَ يَقُولُ فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَنَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَجَارِهِ يُكَفِّرُهَا

دي هغه او د فتنې کیفیت بیان کړه، حذیفه رضی الله عنه وایي ما عرض وکړ ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوریدلي دي چې د سړي فتنه د هغه اهل او عیال کې ده د هغه په مال کې ده د هغه په ځان کې ده د هغه په اولاد کې ده او د هغه په همسایه کې ده

الصِّيَامُ وَالصَّلَاةُ وَالصَّدَقَةُ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ فَقَالَ

او دا فتنه روژه ، لمونځ، صدقه، امر بالمعروف او نهي عن المنكر ليري كوي ، حضرت عمر

عُمَرُ لَيْسَ هَذَا أُرِيدُ إِنَّمَا أُرِيدُ الَّتِي تَمُوجُ كَمَوْجِ الْبَحْرِ قَالَ قُلْتُ مَا لَكَ وَلَهَا

رضي الله عنه وفرمايل زه د هغې فتنې په اړه پوښتنه نه كوم زما مقصد د هغه فتنې پوښتل دي چي د درياب د څپو په ډول به څپې وهي، حذيفه وايي ما وويل: اې امير المؤمنين ! د هغه فتنو سره ستا سو څه تعلق دی

يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا بَابًا مُغْلَقًا قَالَ أَفَيُكْسَرُ الْبَابُ أَوْ يُفْتَحُ

ستاسو او د هغه فتنو په منځ كي خو يوه دروازه حائله ده ، حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وكړه هغه دروازه به ماته كړل سي يا فتح كړل سي ،

قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ يُكْسَرُ قَالَ ذَلِكَ أَحْرَى أَنْ لَا يُغْلَقَ أَبَدًا قَالَ فَقُلْنَا لِحُذَيْفَةَ

حذيفه وايي ما عرض وكړ (خلاصه به نسي) بلكه ماته به كړل سي ، حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل : دا دروازه مناسب خو دا دی چي هيڅكله بنده نه كړل سي ، د شقيق راوي بيان دی موږ د حذيفه څخه پوښتنه وكړه

هَلْ كَانَ عُمَرُ يَعْلَمُ مَنِ الْبَابُ قَالَ نَعَمْ كَمَا يَعْلَمُ أَنَّ دُونَ غَدٍ اللَّيْلَةَ إِنِّي

ايا حضرت عمر رضي الله عنه ددې دروازې څخه خبر وو ، حذيفه وويل هو په دې خبره پوهيدی لكه څرنګه چي هر سړی دا خبره پيژني چي د سبا ورځي څخه مخكي به شپه راځي ،

حَدَّثْتُهُ حَدِيثًا لَيْسَ بِالْأَغَالِيطِ قَالَ فَهِبْنَا أَنْ نَسْأَلَ حُذَيْفَةَ مَنِ الْبَابُ

فَقُلْنَا لِمَسْرُوقٍ سَلْهُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ عُمَرُ. متفق عليه

ما حضرت عمر رضي الله عنه ته هغه حديث بيان كړ چي په هغه كي غلطي نسته ، د شقيق راوي بيان دی چي ددغه دروازې په اړه زه د حذيفه څخه د پوښتني كولو څخه بيريدم ځكه ما مسروق ته وويل چي ته پوښتنه ځيني وكړه هغه پوښتنه وكړه نو حذيفه رضي الله عنه ورته وويل هغه دروازه حضرت عمر رضي الله عنه دی . بخاري او مسلم

د لغاتو حل: نَهِبنا: ای فخشینا (موږ وېرېدو).

تشریح: ته د حدیث په روایت کولو کي ډېر زړه وریږ: د حضرت حذیفه رضی الله عنه په اړه د حضرت عمر رضی الله عنه دغه جمله د هغه څخه دناراضي احتمال هم لري او د هغه د تحسین احتمال هم لري، یعني یو احتمال خو دادی چي حضرت حذیفه رضی الله عنه د نورو صحابه کرامو په شتون کي دا دعوه کړې وه چي زه د رسول الله ﷺ حدیث بعینه یاد لرم، په دې اړه زما حافظه ډېره قوي او د باوروړ ده ځکه حضرت عمر رضی الله عنه ته د هغه خبره ناخوښه سوه نو هغه ددغه ناخوښۍ ظاهرولو لپاره وفرمایل چي ته خو عجیبه زړور یې، تا ته دداسي خبري کولو جرئت څرنګه وسو چي نه یې زه پېژنم او نه دلته موجود نور صحابهٔ کرام یې د پېژندو دعوه کوي، که چیري تا ته پر خپله حافظه باندي دومره ناز وي نو واوره چي رسول الله ﷺ څه فرمایلي وه، دا اول احتمال وو، دوهم احتمال دادی چي حضرت عمر رضی الله عنه ددغه جملې په ذریعه د حضرت حذیفه رضی الله عنه تحسین او تائید کړی وي یعني هغه دا وفرمایل چي زه ستا دد عوې تصدیق کوم ځکه چي زه ښه پوهېږم چي تا به د رسول الله ﷺ څخه په دغه امت کي د پیدا کېدونکو فتنو او ظاهرېدونکو خرابیو په اړه په ډېر جرئت سره سوالونه کول، نو تا ته به یقینا د فتنو په اړه د رسول الله ﷺ د ارشاداتو زیات علم وي او په دې اړه حدیث به په پوره توګه درته یاد وي موږ ته هغه حدیث واوروه چي رسول الله ﷺ فرمایلی وو.

د سړي فتنه دهغه په اهل او عیال کي ده...الخ: مطلب دادی چي الله تعالی انسان پیدا کړ او د هغه تعلق یې د مختلفو شیانو لکه اهل وعیال، مال او دولت سره قائم کړ بیا هغه ته یې د هغه شیانو حقوق ور وپېژندل او دهغه حقوقو ادا کولو ذمه دار یې وګرځوی او په یو ډول ازمائش کي یې واچوی، مګر د انسان غفلت او ناپوهي ده چي هغه د خپلي ذمه دارۍ د رعایت خیال نه ساتي او کوم حقوقو چي پر هغه عائد سوي دي د هغه په ادا کولو کي کوتاهي کوي، د دې سره اړوند شیانو په اړه چي الله تعالی هغه ته کوم حکم ورکړی دی د هغه خلاف ورزي کوي او د هغه شیانو په وجه نه یوازي د ګناه او منع کارو خیال پر خپل سر اخلي بلکه خپل ځان په مشقت او تکلیف کي اخته کوي نو په دغه صورت کي د انسان لپاره ضروري ده چي د هغه حقوقو په ادا کولو کومه کوتاهي د هغه څخه کیږي د هغه د کفارې لپاره دي نېک کار لکه لمونځ، روژه، صدقه، او داسي نور کوي، ځکه چي الله تعالی فرمایلي دي (ان الحسنات یذهبن السیئات) بېله شکه نیکۍ بدۍ رژوي.

زما مدعی ددغه فتنې څخه نه وه : یعني حضرت عمر رضي الله عنه چې د خلکو څخه پوښتنه وکړه چې په تاسو کې کوم چا ته د فتنو په اړه د رسول الله ﷺ حدیث یاد دی نو د هغه ددغه پوښتنه کولو دوه مفهوم کیدای سي، یو خو دا چې د فتنې څخه د هغه مراد هغه امتحان وو چې په هغه کې انسان د اولاد او مال په اړه اخته سوی دی لکه څرنګه چې په قرآن کریم کې فرمایل سوي دي : (ولنبلونکم بشئ من الخوف والجوع...الخ)، او دوهم دا چې د فتنې څخه د هغه مراد د قتل او قتال او انتشار وي ، د حضرت عمر رضي الله عنه د سوال تعلق ددغه دوهم مفهوم سره وو، یعني هغه د هغه حدیث په اړه پوښتنه کړې وه چې په هغه کې رسول الله ﷺ د قتل او قتال د فتنو او فساد ذکر کړی وو، مګر حضرت حذیفه رضي الله عنه دا وګڼل چې حضرت عمر رضي الله عنه د اول مفهوم سره اړوند حدیث په اړه پوښتنه کوي او ځکه د هغه مطابق حدیث یې بیان کړ ، حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل زما د پوښتنې مدعی فتنه نه ده زما مراد د هغه فتنې په اړه د رسول الله ﷺ حدیث اورېدل دی چې دقتل او قتال او په خپلو کې د یو بل خلاف د جګړې په صورت کې پر دغه امت باندې د توري وریځې په صورت کې راځي، او دهغه خراب اثرات مسلمانان په سخت مصیبت کې اخته کوي .

ستاسو او د هغه فتنو په منځ کې یوه بنده دروازه ده: د بندې دروازې څخه مراد د حضرت عمر رضي الله عنه وجود ته اشاره کول وو، لکه څرنګه چې د حدیث د آخري الفاظو څخه وضاحت هم کیږي نو د حضرت حذیفه رضي الله عنه د جواب مطلب دا وو چې تاسو د کومې فتنې په اړه پوښتنه کوئ هغه لیرې ده ځکه چې تر څو پوري په دغه امت کې ستا وجود وي هغه فتنه لار نسي تر لاسه کولای مګر کله چې تاسو ددغه دنیا څخه ولاړ سئ نو هغه فتنه به راسي او په امت کې به لار ترلاسه کړي ، هغه دروازه به ماته کړل سي یا خلاصه کړل سي: یعني هغه دروازه به دومره سخته او ټینګه وي چې بېله ماتولو به نه خلاصیږي یا به دومره سپکه وي چې په اسانۍ سره به خلاصه سي، څرګنده دې وي چې د یوې دروازې ماتولو او د هغه په خلاصولو کې فرق وي.

یوه دروازه خو هغه وي چې د هغه د ماتولو څخه پرته د تګ راتګ لار جوړول ممکن نه وي او کله چې هغه دروازه ماته سي نو بیا د هغه بندول ممکن نه وي ، ددې پر خلاف کومه دروازه چې خلاصه سي نو دهغې بندول ممکن وي ، دلته بنده دروازه د تمثیل په توګه بیان سوې ده او د هغه مقصد دا تشبیه ورکول دي چې دمثال په توګه که چیرې دوه کورونه وي چې د هغو په منځ کې یو دېوال وي او په هغه دېوال کې یوه بنده دروازه وي نو د هغه دېوال د یوې خوا کور د فتنې او فساد مسکن دی او د بلې خوا په کور کې د امن او عافیت هستوګنه ده او د هغه بندې

دروازې په وجه فتنه او فساد ته هيڅ لار نه تر لاسه کيږي چي د هغه امن او عافيت کور ته ورسي يا د هغه کور امن او سکون خراب کړي نو د حضرت عمر رضي الله عنه ژوند فتنو منع کونکي بندي دروازې په مثل سو او د هغه مرګ د هغه فتنو د دروازې خلاصولو په ډول سو، همدارنګه د هغه دروازې ماتولو ته د هغه په قتل سره او د هغه دروازې خلاصولو ته د هغه په قدرتي مرګ سره تشبيه ورکړل سوه.

د قسطنطنيې فتح کېدل د قيامت د نژدې کېدو نښه ده

﴿۵۲۰۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ فَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ مَعَ قِيَامِ السَّاعَةِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي قسطنطنيه به د قيامت سره نژدې فتح سي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۴۲، رقم: ۲۲۳۹.

==========